تسهیلات

پښتو شرح

مشکوٰة

تالیف مولانا شاه فیصل

تسهیلات

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com


Maktaba Tul Ishaat .com


تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات
پښتو شرح
مشکواة

تالیف - مولانا شاه فیصل فاضل دارالعلوم اسلامیه چارسده

دویم جلد (۲)

د شلو (۲۰) خصوصیاتو سره چې لس (۱۰) په کښې دا دی

① پېښوری پښتو سره بین القوسین د قندهاری پښتو د ګرانو ټکو اضافه
② د مشکاة د عربی او اردو متداولو ټولو شروحاتو مجموعه
③ په ترجمه کښې بین القوسین د مرقاة المفاتیح داضافی قیوداتو ترجمه
④ دحدیث هرې جملې ته اود هغې ترجمې د آسانتیا دپاره نمبرې ورکول
④ په فهقی اختلافی مسئلو کښې مدلل او آسان مباحث
⑤ د اوږدو احادیثو د متن او ترجمې تقسیم
⑥ دهرحدیث د صحاح سته وغیره څخه تخریج
⑦ د حل اللغات په عنوان سره د مرقاة المفاتیح څخه د مشکلو لغات حل
⑧ دقوله په عنوان سره دحدیث د هرې مشکلې جملې تشریح
⑨ دهرباب په اول کښې دهغې د احادیثو خلاصه
⑩ د کتاب په اول کښې د علوم الحدیث مفیده مقدمه

خورنکې
فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور
موبائل ۰۳۱۵-۹۵۹۵۷۱۷

Maktaba Tul Ishaat.com

د چاپ حقوق د ناشر سره محفوظ دي

د کتاب نوم تسهیلات شرح مشکواة

شارح مولانا پروفیسر شاه فیصل
فاضل وفاق المدارس، امدادالعلوم، جامعه اسلامیه چارسده
معاون مترجم:: عبدالکریم صدیقی

د ملاوید پتې

- جدید اسلامي کتب خانه خوست
- المصباح کتب خانه کابل
- روغانیوال کتب خانه جلال آباد
- رحیمي کتب خانه خوست
- حرم کتب خانه کابل
- دیني کتب خانه تیمرګره
- تاج کتب خانه صوابي
- مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزني
- مکتبه دارالاخلاص کابل
- مکتبه رحمانیه قندهار
- مکتبه رحمانیه کوټه
- الوري کتب خانه قندهار
- نعمت کتب خانه کابل
- مکتبه علمیه اکوړه ختک
- حقانیه کتب خانه ګردیز
- وطن دوست کتب خانه ګردیز
- اقرأ کتب خانه جلال آباد
- مکتبه معروفیه کوټه
- مکتبه عمریه چمن
- مکتبه عباسیه تیمرګره
- مکتبه امیر حمزه قندهار

اجمالی فہرست

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

د احاديثو د عنواناتو فهرست

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست اختلاف مذاهب

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

[۳] كِتَابُ الطَّهَارَةِ

دا کتاب د پاکۍ د مسائلو په بیان کښې دې

بَابُ فَضِيلَةِ الطَّهَارَةِ

د طهارت فضیلت

خلاصة الباب:

فيه ثمانية عشر حديثاً مشتملة على خمس مسائل

① كون الطهور من أعمال الإيمان: ۱، ۱۱، ۱۵۔

② ذكر فوائد الطهارة من حصول الجنة والمغفرة والحسنات والدرجات: ۵،۴،۳،۲، ۶،۱۲،۶ ، ۱۶۔

③ ذكر آثار الوضوء بسبب الطهور يوم القيامة: ۹، ۱۰، ۱۷، ۱۸۔

④ كون الطهور مفتاح الصلاة: ۱۳

⑤ الزجر على من لا يحسن الوضوء : ۱۴۔

د کتاب لغوی معنی: کتاب مصدر په معنی د مکتوب،

د کتاب اصطلاحی تعریف: په اصطلاح کښې د مسائل مستقله عنوان ته کتاب وئیلې شی لکه چه په در مختار کښې دی.

د کتاب مصداق: که مسائل د یو جنس نه وی نو هغه د لفظ کتاب نه شروع کولې شی ځکه چه کتاب مصدر دې او په لغت کښې د دې معنی د جمع کولو راځی. او جنس انواع ته شامل وی په دې وجه دداسې الفاظو استعمال کول کومه چه د جمع معنی لری د جنس مناسب دې.

دباب مصداق: که د مسائلو د نوعیت اعتبار اوکړې شی نو په اعتبار د نوع هغه مسائل د باب نه شروع کولې شی ځکه چه د باب معنی په لغت کښې د نوع راځی،

دفصل مصداق: که دمسائلو دخپل ماقبل نه دممتازکیدو اعتبار اوکړې شی نو هغه مسائل په لفظ د فصل سره شروع کولې شی، ځکه چه د فصل معنی په لغت کښې د بیلولو راځی، فقهاء او محدثین په خپلو تصنیفاتو کښې اکثرهم په دې طرز باندې روان وی.(فتح الملهم)

د مشکاة د ابتدائی کتابونو په مینځ کښې ربط: ① د کتاب العلم په شروع کښې د علامه عینی رحمه الله نه نقل کړې شوې دی چه په علم او عمل دواړو باندې د ترتب ثواب دپاره د ایمان ضرورت دې په دې وجه کتاب الایمان مقدم کړې شو.

② بیا په قول د علامه ابن العابدین د اعتقاداتو نه پس د امور دین مدار په آداب، عبادات، معاملات او عقوبات باندې دې او د دې تمام دپاره د علم ضرورت دې په دې

Maktaba Tul Ishaat.com

وجه د کتاب الایمان نه پس کتاب العلم راوړې دې

③ بیا کتاب الطهارة لره کوم چه د عباداتو نه دې آداب، معاملات، عقوبات باندې مقدم کړو، ځکه چه د انسان د پیدائش مقصد عبادت دې لکه چه د الله پاک ارشاد دې ﴿ وما خلقت الجن والانس الا ليعبدون ﴾ او مونځ د ایمان نه پس په مرتبه کښې په باقي عباداتو باندې مقدم کړو خو طهارة مفتاح الصلاة دې په دې وجه په کتاب الصلاة باندې کتاب الطهارة مقدم کړو. (فتح الملهم، عینی)

د طهارة لغوی معنی: طهارة مصدر دې په معنی د نظافت، مصدر چونکه اسم جنس کیدو سره قلیل او کثیر ټولو ته شامل دې په دې وجه مصنف رحمه الله طهارة لره واحد راوړې دې په دې کښې په حیثیت د اسم جنس هر قسم طهارت، اودس، غسل، تیمم، غسل ثوب و بدن وغیره شامل دې،

د طهارة شرعی تعریف: په اصطلاح د شرع کښې طهارت بدن، کپړې، مکان حدث، خبث او فضلات اعضاء لره د پاکولو نوم دې. او خبث نجاست حسی او معنوی دواړو ته شامل دې. دا په اودس باندې اودس کولو ته هم شامل دې. په دې شرط چه په اودس باندې دپاسه اودس ئې د تقرب (عبادت) په نیت سره کړې وی. ځکه چه هغه اودس کوم چه د تقرب په نیت سره اوکړې شی مطهر الذنوب (ګناهونو لره وینځونکې) وی. (فتح الملهم، التعلیق الصبیح)

د طهارت درې قسمونه: د شاه ولی الله رحمه الله په نزد د طهارت درې قسمونه دی.

① طهارة من النجاسة. دا بدن، جامه او مکان حدث ته شامل دې.

② طهارة من الاوساخ (د خیرو او فضله جاتو نه پاکیدل) لکه د نامئ نه لاندې ویښته صفا کول، نوکونه اخستل، د خیری وغیره نه بدن او جامې پاکول. دا دواړه طهارتونه د انسانی طبیعت په مقتضاء کښې دی چه د هغې نه یو قوم او ملت ته هم اختلاف او انکار نشته.

③ طهارة من الحدث او دا د عباداتو او د نیکئ د اصولو نه دی. بیا د دې طهارت دوه قسمونه دی.

د دریم قسم طهارت دوه قسمونه: ① طهارة عامه د دې تعلق د ټولو بدن سره دې لکه چه جماع، خروج منی وحیض و نفاس چه کوم طهارت اوکړې شی. دې ته طهارت کبری هم وئیلی شی او د دې مقابل حدث ته حدث اکبر وئیلې شی.

② طهارت خاصه چه د هغې تعلق د بدن د بعض اجزاء سره وی لکه د احد السبیلین نه د منی نه علاوه بول وبراز او د ریح په خروج سره طهارت دې ته طهارت صغری هم وئیلی شی او د دې مقابل حدث ته حدث اصغر وئیلې شی.

دمانځه دپاره د طهارت باطنی ضرورت: د مانځه دپاره د طهارت باطنی هم ضرورت دې.

لکه چه د الله پاک ارشاد دي ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّى وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّى﴾ دلته ئې د تزکیه باطن نه پس صلاة راوړلو.

د طهارت باطنی قسمونه: د طهارت باطنیه دیر اقسام دی:

① خپل اندامونه د گناهونو نه پاکول

② زړه د غلطو عقائدو نه پاکول او خیال لره د غیر الله نه اړولو سره توله په توله توجه الی الله ساتل، هم دا وجه ده چه د متوضی دپاره دا دعا ﴿اللهم اجعلنی من التوابین الخ﴾ مشروع ده چه د اوبو په ذریعه د طهارت بدن نه پس په توبې سره طهارت قلب هم راشی،

د دواړو طهارتونو د حصول نه پس د مانځه قابل جوړيدل: دواړو طهارتونه چه کله حاصل شی نو هله به بنده د الله پاک مخې ته د اودریدلو او د مناجات کولو لائق وی، لکه چه په التعليق الصبيح کښ د علامه ابن القيم رحمه الله نه نقل کړې شوې دی،

دحکم په اعتبار سره داودس دری قسمونه:

① فرض اودس، کوم چه د فرض جنازې د مانځه او سجده تلاوت دپاره وی.

② واجب اودس کوم چه د کعبې د طواف دپاره وی.

③ مستحب اودس، کوم چه د غيبت او دروغو، خندا او مړی ته د غسل ورکولو نه پس وی. (البحر الرائق)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۲۸۱] د پاکئ اهمیت

۲۸۱ - (۱)[۱]عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] «الطُّهُورُ شَطْرُ الْإِيمَانِ، [۳] وَالْحَمْدُ لِلَّهِ تَمْلَأُ الْمِيزَانَ، [۴] وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ تَمْلَآنِ - أَوْ تَمْلَأُ - مَا بَيْنَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ، [۵] وَالصَّلَاةُ نُورٌ، [۶] وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ، [۷] وَالصَّبْرُ ضِيَاءٌ، [۸] وَالْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْ عَلَيْكَ، [۹] كُلُّ النَّاسِ يَغْدُو، [۱۰] فَبَائِعٌ نَفْسَهُ فَمُعْتِقُهَا أَوْ مُوبِقُهَا») رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت ابو مالك اشعري رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل [۲] پاك اوسیدل نیم ایمان دي [۳] او الحمدلله ویل د اعمالو ترازو (تله) ډکوي [۴] او سبحان الله او الحمد لله یې ډکوي یا وې فرمایل چې هره یوه کلمه ډکوي هغه شي چې د آسمانونو او زمکو په مینځ کې دي [۵] مونځ نور دي [۶] صدقه دلیل دي [۷] صبر کول رڼا ده [۸] او قرآن ستاسو د پاره یا په تاسو دلیل دي [۹] هرسړي هرکله چې صبا کوي ایعني د اوده کیدو نه

(۱) اخرجه مسلم كتاب الطهارة باب فضل الوضوء (رقم:۱.(۲۲۳) والنسائى كتاب الزكاة باب وجوب الزكاة(رقم-۲٤۳) و اخرجه احمد فى المسند:-۳٤۲/۵ والترمذى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۵۱۷) والدارمى كتاب الطهارة/باب ما جاء فى الطهور(رقم-۶۷۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

وروسته راپاسي۱۰ نو خپل خان په خپل كارونو كې خرخوي (يعني لګوي) نو هغه خپل خان آزادوي يا هلاك كوي. (مسلم)

۱ وَفِي رِوَايَةٍ («لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ تَمْلَآنِ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ») ۲ لَمْ أَجِدْ هَذِهِ الرِّوَايَةَ فِي الصَّحِيحَيْنِ ۳ وَلَا فِي كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ وَلَا فِي (الْجَامِعِ) ۴. وَلَكِنْ ذَكَرَهَا الدَّارِمِيُّ بَدَلَ (سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلهِ)

ترجمه: ۱ او په يو روايت كې دي چې لااله الا الله والله اكبر هغه شي ډكوي چې د آسمانونو او زمكو په مينځ كې دي ۲ (صاحب مشكوٰة فرمايي چې) ما دا روايت نه په بخاري كې موندلې دې او نه په مسلم كې ۳ او نه كتاب حميدي او كتاب جامع الاصول كې ما دا روايت موندلې دې ۴ البته دارمي دا روايت په ځاي د سبحان الله والحمد لله ذكر كړي دي (نو د صاحب مصابيح دا روايت په فصل اول كې نقل كول درست نه شو).

حل اللغات: ① شَطْرُ: د نصف په معنى كښې دې يعنى نيم، ② تَمْلَأُ: د مضارع واحد مؤنث صيغه ده، ډكوى، ③ بُرْهَانٌ: أي حُجَّةٌ: دليل، حجت، ④ ضِيَاءٌ: رنړا ته وائى او نور هم رنړا ته وائى خو ضياء د نور نه زيات وى په دې وجه قرآن كښې شمس دپاره ضياء او قمر دپاره نور استعمال شوې دې. ⑤ يَغْدُو: السَّيْرُ أَوَّلَ النَّهَارِ: د ورځې په شروع كښې تللو ته وائى ددې ضد رَوَاح دې دورځې په آخر كښې تللو ته وائى. ⑥ فَبَائِعٌ: خرڅونكې دې، يعنى خپل ځان خرڅوى يا دَنيك عمل په بدله كښې ياد بدعمل په بدله كښې، ⑦ فَمُعْتِقُهَا: يعنى نيكى كولوسره دَدوزخ نه خپل ځان خلاصوى. ⑧ مُوبِقُهَا: أَيْ: مُهْلِكُهَا: يعنى دَبدئ په بدله كښې خپل ځان په هلاكت كښې غورزوى

تسهيلات:

قوله: الطُّهُورُ شَطْرُ الْإِيمَانِ:

اشكال: د دين اسلام خو ډير اعمال دى نو صرف طهارت ته نصف الايمان ځنګه اووئيلې شو؟

دا شكال جوابونه: ① په شريعت كښې اجر او ثواب دوه قسمه وى.

۱: اجر اصلى يعنى بنده د نفس عمل په ذريعه د الله پاک د قواعد او ضوابط مطابق چه د كوم اجر مستحق وى هغه اجر اصلى دې. ۲: اجر مضاعف هغه اجر كوم چه الله پاک خپل بنده ته د قيامت په ورځ صرف په خپل فضل او كرم د نعمتونو اتمام او د كثرت رحم په وجه باندې عنايت فرمائى. وذلك فضل الله يؤتيه من يشاء.

اوس هر عمل اودس، مونځ، روژه، ايمان، وغيره دپاره يو معين اجر اصلى دې، او يو د الله پاک كمال شفقت، وسعت رحمت او د زياتې مهربانۍ په وجه باندې اجر مضاعف دې كوم چه عارضى دې. اوس د اودس اجر مضاعف د عارضى ايمان د اجر اصلى معين نصف كيدې شى. د اودس د اصلى ثواب د ايمان د اصلى ثواب نصف كيدل. هم دغه شان د اودس عارضى ثواب د ايمان د عارضى ثواب نيم كيدل هرګز مراد نه دى ځكه چه فرع د اصل برابر نه شى كيدې. يا به دا جواب كولې شى چه ايمان د ماقبل ټولو ګناهونه ساقط

کوی هم دغه شان اودس هم، خو اودس بغیر د ایمان نه صحیح نه دې پس اودس په ایمان باندې د موقوف کیدو د وجې نه معنی شطر الایمان شو.

په جواب اعتراض: ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چه دا جواب د شوافع په دې قاعده باندې بناء دې چه ﴿ان الوضوء عبادة مستقلة تحتاج الی نية وهی لاتصح الامن اهل الايمان﴾ چه اودس یو مستقل عبادت دې کوم چه د نیت محتاج دې او عبادت صرف د اهل ایمان معتبر وی، خو زمونږ په نزد د کافر اودس هم صحیح کیږی ځکه چه زمونږ (د احنافو) په نزد په اودس کښې نیت شرط نه دې.

ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چه اظهر دا ده چه په ایمان صغائر او کبائر دواړو لره ساقطوی او په اودس سره صرف صغائر معاف کیږی.

② د ایمان نه دلته صلاة مراد دې لکه چه په یو موقع باندې په قرآن کریم کښې د ایمان نه صلاة مراد اخستلې شوې دې ﴿وما كان الله ليضيع ايمانكم﴾ (او الله پاک داسې نه دې چه ستاسو ایمان ضائع کړی ، پاره ۲ سورة بقره) دلته مفسرینو د ﴿ايمانكم﴾ تفسیر په ﴿صلاتكم الى البيت المقدس﴾ کړې دې. او مونځ د څه شرطونو او ارکانو د مجموعې نوم دې، او طهور د مانځه په شرطونو کښې د ډیر قوی شرط کیدو د وجې نه نصف صلاة دې ځکه چه صلاة د ارکان او شرائطو د مجموعې نوم دې.

③ د شطر نه نصف مراد نه دې بلکه مطلقا څه حصه یا جزء مراد دې لکه چه د الله پاک ارشاد دې ﴿فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ (واړوه مخ خپل د مسجد حرام طرف ته پاره ۲ سورة بقره) اوس طهور د ایمان د اجزاء او حصو نه مطلقا یو جزء شو. خو جزء هم جزء حقیقی نه بلکه جزء کمالی دې. او په بعض روایاتو کښې چه کوم د ﴿شطر الايمان﴾ په ځائې ﴿نصف الايمان﴾ راغلې دې هلته به هم د نصف نه مراد مطلقا څه حصه او جزء مراد کولې شی.

④ حافظ توریشتی رحمه الله فرمائی چه ایمان د طهارة عن الشرک نوم دې، څنګه چه طهور د طهارت عن الاحداث نوم دې د هغې نه یو د باطن د طهارت سره خاص دې یعنی ایمان او دویم د ظاهر طهارت یعنی طهارة عن الاحداث سره خاص دې.په دې اعتبار سره طهور ته نصف الایمان ونیلې شوې دې.چې دې کښې د ظاهر طهارت حاصلیږی.

⑤ د امام غزالی رحمه الله نه نقل دی چه دا حدیث طهارة ظاهره او باطنه دواړو ته شامل دې. ځکه چه په ظاهری صفایئ سره قلبی صفائی د اهم امور دین نه ده. بلکه د ټولو امور شرعیه دپاره موقوف علیه ده.

او د طهارت دپاره څلور مراتب دی : ۱: احداث او اخباث او د فضلاتو نه تطهیر. ۲: د جرائم او آثام نه د اندامونو تطهیر. ۳: د اخلاق ذمیمه نه د قلب تطهیر. ۴: د ماسوی الله نه د قلب تطهیر. بیا د دې مراتبو نه د هر یو دوه دوه قسمونه دی!

Maktaba Tul Ishaat.com

يو تخليه چه د هغې طرف ته په مراتب اربعه كښې په ﴿ ليطهر﴾سره اشاره كړې شوې ده. او يو تحليه يعنې ډولى كول. مقصد دا دې چه د مذكوره امور نه دې اندامونه خالى كړې شى او زړه دې د اخلاق ذميمه او غير الله نه خالى كولو سره د الله پاک په محبت او عظمت باندې ډولى كړې شى، هم دغه شان د تخليه او تحليه دواړو په مجموعې سره ايمان مكمل كيږى. او لفظ طهور كوم چه په حديث كښې دې هغه مراتب اربعه مذكور ته شامليدلو سره صرف په تخليه باندې دې كوم چه نصف ايمان دې. يا د طهارت په اجزاء كښې زيادتى او مبالغې لره د ظاهر كولو دپاره نصف الايمان راوړلې شوې دې په حقيقت كښې نصف كيدل مراد نه دى. (فتح الملهم، التعليق، اشعة اللمعات)

قوله: وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ تَمْلَأُ الْمِيزَانَ:

داعمالو په وزن اشكال: په حديث شريف كښې په دې جزء باندې او په ﴿ والوزن يومئذ﴾ باندې دا اشكال كيدې شى چه كلمات د هغه اعراضو نه دى كوم چه معدوم او فناء كيږى، يعنى د منطقيانو په اصطلاح كښې كلمات اعراض مستحيلة البقاء دى. بيا الحمد لله يا سبحان الله لكه چه په حديث كښې مذكور دى څنګه په ميزان عدل كښې قابل وزن شو؟

داشكال جوابونه:① د رسول الله ﷺ مقصود دا دې چه كه د دې كلماتو او اعمالو ثواب مجسم فرض كړې شى نو ميزان عدل به ډک شى.

② اعمال او اقوال اګرچه د دې عالم په اعتبار سره اعراض دى خو د آخرت په اعتبار سره اجسام او جواهر دى، لكه چه په يو روايت كښې دى چه جبريل عليه السلام ايمان او حكمت لره په يو لوښى كښې كيخودلو سره راوړل حال دا چه د دې عالم په لحاظ سره دا دواړه د اعراضو نه دى.

③ نصوص شرعيه د اعمالو د وزن متعلق ناطق دى په دې وجه بغير د چون وچرا نه منل پكار دى، د كيفيت وزن په تحقيق كښې نه دى لګيدل پكار د ايمان هم دا تقاضه ده.

زبان تازه كردن باقرار تو ::: نه انګيختن علت ازكار تو

پس امام غزالى رحمه الله فرمائى چه د دې جسد عنصرى سره چه ترڅو پورې د نفس تعلق دې تر هغه وخته پورې به ورته د حقائق امور انكشاف نه كيږى. چه كله د مرګ په ذريعه هغه لرې شى نو ټول حقائق يعنى د اعمالو د وزن كيفيت به معلوم شى﴿ فسوف ترى اذا انكشف الغبار﴾

④ د جمهورو علماء كرامو په نزد د صحائف اعمال وزن كول مراد دى، لكه چه قاضى بيضاوى ليكلې دى د ابن حبان وغيره روايت دې ﴿ ان الرجل يوتى به الى الميزان فينشرة عليه تسعة وتسعون سجلا * ﴾ يو سړې به ميزان عدل ته راوستلې شى د هغه مخكښې به يو كم سل

* لم أجده بهذا اللفظ نعم رأيت فى صحيحه حديثا بهذا المعنى : إن الله سيخلص رجل من أمتى على رؤوس الخلائق يوم القيامة فينشر عليه تسعة وتسعين سجلا

رجسټرې پرانستلې شي يعنى اعمال نامې،

⑤ قاضى بيضاوى رحمه الله د بخارى او مسلم نه يو روايت نقل کړې دې چه د هغې حاصل دا دې چه د اشخاصو وزن به کولې شى، روايت دا دې: ﴿ قَالَ عليه السلام إِنَّهُ لَيَأْتِي الرَّجُلُ الْعَظِيمُ السَّمِينُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يَزِنُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ ﴾ (رسول الله ﷺ اوفرمائيل: د قيامت په ورځ باندې به يو پيړ تازه سړې راوستلې شى چه د هغه وزن به د الله پاک په نزد د ماشى د وزر برابر هم نه وى، خو دا حديث غالبا د مرتبې د سپکوالى طرف ته اشاره کوى. بعينه د هغه سړى په ميزان کښې کيخودلو سره وزن کول مراد نه دى.

⑥ د شيخ ابوطاهر قزوينى رحمه الله نه منقول دى چه څنګه په دنيا کښې د حرارت او د برودت د تللو دپاره ترماميټر وى هم دغه شان به په آخرت کښې د اعمالو د وزن دپاره څه آله وى دا د الله پاک د قدرت نه بعيده نه ده. (فتح الملهم، بيضاوى) والله اعلم بالصواب.

قوله: وَالصَّلَاةُ نُورٌ:

د نور په مصداق کښې اقوال:

① مونځ به د قبر په تيرو کښې د رڼا کار ورکوى، د قيامت په ورځ باندې به رڼا جوړيدو سره رهنمائى کوى. لکه چه د الله پاک ارشاد دې ﴿ يسعى نورهم بين ايديهم وبايمانهم ﴾

② څنګه د رڼا په ذريعه انسان د خطراتو نه محفوظ وى هم دغه شان مونځ يو رڼا ده چه د هغې په ذريعه انسان د معاصى او منکراتو نه بچ کيږى، د الله پاک ارشاد دې ﴿ ان الصلاة تنهى عن الفحشاء والمنكر ﴾

③ د نور نه هغه امر مراد دې چه د هغې په ذريعه به د قيامت په ورځ مصلى هدايت مومى. يا د نور نه هغه داغ مراد دې کوم چه به د هغه په تندى باندې د کثرت سجود د وجې نه پيدا شى. يا مانځه ته په دې وجه نور اوئيلې شو چه هغه د اشراق انوار او د معارف او مکاشفات حق دپاره سبب دې کوم چه مصلى ته د مانځه په ذريعه حاصليږى.
(فتح الملهم، التعليق، الاشعة)

قوله: وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ:

د برهان په مصداق کښې اقوال:

① يعنى کله چه د قيامت په ورځ الله پاک سوال کوى چه مال مو چرته خرچ کړو نو صدقه به د دې خبرې دليل جوړ شى چه هغه د الله پاک په لاره کښې خپل مال خرچ کړو نو صدقه به د دې خبرې دليل جوړ شى چه هغه د الله پاک په لاره کښې خپل مال خرچ کړو.

② په صدقه کونکى باندې د قيامت په ورځ باندې څه خاص علامت وى کوم چه به په صدقه باندې دليل جوړيږى. يا به د مصدق دپاره په صدق ايمان باندې صدقه دليل او

Maktaba Tul Ishaat.com

برهان وی. ځکه چه صدقه کول خالص د الله پاک د رضا دپاره وی کوم چه د مصدق د صادق فی الایمان کیدو دلیل دې. منافق صدقه نه کوی ځکه چه هغه په خپل ایمان کښې رشتینې نه وی. (فتح الملهم)

قوله: وَالصَّبْرُ ضِيَاءٌ:

د صبر په مصداق کښې څلور اقوال: ① امام نووی رحمه الله فرمائی چه د صبر نه مراد هغه صبر دې کوم چه په شریعت کښې غوره وی، یعنی صبر په طاعت باندې، صبر د معصیت نه او صبر په مشکلاتو او مصیبتونو. او په دنیا کښې پیښیدونکې ډیر غمژن کونکی واقعات.

② دلته د صبر نه مرادلذات دنیا،اودمعاصی نه تکالیف شرعیه،په مصیبتونواو ازمینښتونو باندې تحمل او برداشت مراد دې. ځکه چه په دې امورو باندې صبر کولو سره انسان د معاصی په تیرو کښې داخلیږی لهذا په صبر کولو سره به ورته یو رنړا حاصلیږی کومه چه به ئې د ګناهونو په تیارهٔ کښې د حق خبرې طرف ته رهنمائی کوی.

③ استاذ ابو علی الدقاق رحمه الله فرمائی چه: صبر دا دې چه د الله پاک د طرف نه څه په تقدیر کښې وی په هغې باندې اعتراض اونکړی. خواظاهر مصیبت نه په طریقه د شکوی د صبر منافی نه دې. پس د سیدنا ایوب علیه السلام د ﴿ وانی مسنی الضر ﴾ وئیلو باوجود د هغوی په باره کښې الله پاک ارشاد اوفرمائیلو ﴿ انا وجدناه صابرا نعم العبد ﴾

④ د صبر نه مراد دلته صلاة دې ځکه چه صبر ته صلاة او صدقه چه د هغې نه زکاة مراد دې د دې دواړو نه پس ذکر کړې شوې دې په ﴿ واستعینوا بالصبر والصلاة ﴾ کښې هم د صبر نه صوم مراد کړې شوې دې. ځکه چه په صوم کښې خپل نفس لره په طاعاتو باندې ایسارول او د شهوت نه بچ کول مقصود دی.

د ضیاء په تفسیر کښې اقوال: ① یعنی د قبر په ظلمت کښې صبر د نور او رنړا کار ورکوی، ځکه چه کله مومن طاعات او دنیاوی مصائب او معاصی باندې د ضبط او تحمل نه کار واخلی نو الله پاک د هغې په بدل کښې د هغه په قبرکښې د تیرې په ځائې نور او رنړا پیداکړی.

② په زړه کښې په ئې نور پیدا کیږی بیا ئې په صبر باندې په طور د اجر د ضیاء ذکر اوفرمائیلو ځکه چه ضیاء د نور نه قوی ده لکه چه علامه زمخشری رحمه الله فرمائیلې دی. ﴿الاضاءة فوق الانارة﴾ او ضیاء د نور نه ابلغ هم دې، لکه چه د الله پاک ارشاد دې ﴿ جعل الشمس ضیاء والقمر نورا ﴾ او د صبر دپاره د رنړا قوی او ابلغ درجې ته په طور د اجراء په دې وجه ذکر اوفرمائیلې شو چه په جمله واجبات او ممنوعاتو کښې صبر د صلاة نه هم قوی دې او که د صبر نه صوم مراد وی نو په دې صورت کښې به وئیلې شی چه د صوم تعلق چونکه د ورځې سره دې په دې وجه د ورځې چه کومه رنړا قوی ده هغه ئې په طور د اجر ذکر اوفرمائیلو.

بعض اهل علم وئيلي دی چه د صوم په حالت کښې بنده د الله پاک د صفت عدم حاجت مشابه وی او دا د صلاة د اثر او نتيجې نه قوی نتيجه ده ځکه چه په صلاة سره تذلل او انکساری پيدا کيږی دا د صفات عبديت نه دې نه د صفات معبود نه، په دې لحاظ سره صوم د صلاة نه افضل دې په دې وجه د دې اجر ضياء دې. (فتح الملهم، التعليق)

قوله: وَالْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْعَلَيْكَ:

د قرآن حجت جوړيدو مفهوم: يعني که قرآن اولوستلې شو اودَ دې په تعليماتو باندې عمل اوکړې شو نوداد لوستونکی اودَعمل کونکی دَپاره دليل اوحجت دې چه هغه مؤمن مسلمان او دَ جنت مستحق دې ګنی هم دغه قرآن به په دغه بدعمله باندې دليل جوړيږی اودَ هغه خلاف به شکايت کوی نو هغه به ناکام شی.

[۲۸۲] ګناهونه معاف کونکی اعمال

۲۸۲-(۱)[۲] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-② («أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللّٰهُ بِهِ الْخَطَايَا ③ وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟) قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللّٰهِ! ⑤ قَالَ: (إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ ⑥ وَكَثْرَةُ الْخُطَى إِلَى الْمَسَاجِدِ ⑦ وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ فَذٰلِكُمُ الرِّبَاطُ»)

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ (صحابه مخاطب کړل او ورته ئې) وفرمايل ② آيا زه تاسو ته هغه شي ونه ښايم چې د هغه په وجه الله جل جلاله ستاسو ګناهونه لرې کړي ③ او د هغه په سبب (په جنت کې ستاسو) درجات اوچت کړي ④ صحابو رضي الله عنهم عرض وکړو هو يا رسول الله ﷺ، ⑤ حضور عليه السلام وفرمايل د مشقت په وخت (يعني په ناجوړتيا يا په سخته يخنئ کې) اودس پوره کول ⑥ د مسجد طرف ته (د کور ځخه د لرې کيدو په وجه) په کثرت سره قدمونه اخستل ⑦ او يو مونځ ځخه وروسته د دويم مونځ انتظار کول نو دا رباط دي.

حل اللغات: ① يَمْحُو اللّٰهُ: ورانوی، لرې کوی الله تعالی، مَحْوُ الْخَطَايَا كِنَايَةٌ عَنْ غُفْرَانِهَا: دلته محو کنايه ده د بخشش نه. ② إِسْبَاغُ: أَيْ: إِكْمَالُهُ: کامل طريقې سره اودس کولوته وائی. ③ الْمَكَارِهِ: دا جمع د مَكْرَهٍ ده، په معنی د مشقت او تکليف سره، أَيْ: فِي شِدَّةِ الْبَرْدِ: مکاره مکروه او ناخوښه ته وائی دلته ترې مراد يخنئ يا بيماری کښې اوبو سره اودس کول دی چه دا په انسان بد لګی. ④ الْخُطَى: د خُطْوَةٍ جمع ده، وَهِيَ مَا بَيْنَ الْقَدَمَيْنِ: (د دوه قدمونو په مينځ کښې مقدار ته خطوة وائی). ⑤ الرِّبَاطُ: په اسلامی سرحداتو باندې دَ کفر په مقابله کښې ځوکيدارئی ته رباط وائی.

---

(۱) اخرجه مسلم كتاب الطهارة باب فضل إسباغ الوضوء على المكاره (رقم-۴۱ - (۲۵۱)) و مالک باب انتظار الصلاة والمشى إليها(رقم-۵۵) واحمد فى المسند:۲/۲۷۷ والترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى إسباغ الوضوء(رقم-۵۱) والنسائى كتاب الطهارة/باب الفضل فى ذلک (رقم-۱۴۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو: دلته همزه د استفهام دپاره ده. او د لاكلمه د نفي دپاره ده، تنبيه دپاره نه ده ځكه چې ددې په جواب د بلى كلمه راغلې ده، او كوم چه په نفي باندې دليل دې.

په اعمال صالحه د ګناهونو په معاف كيدو كښې اقوال:

① امام الحرمين،امام نووي اونور فقهاء ﷺ فرمائي.چه په اعمال صالحه صرف صغائرمعاف كيږي.(١) حافظ ابن عبدالبر رحمه الله هم دا قول اختياركړې دې.(٢) قاضي عياض رحمه الله دا قول اهل سنت طرف ته منسوب كړې دې.(٣)

وجه دا ده.چه د كبائرو دمعاف كيدو دپاره اصل قاعده توبه ده.اګرچه ممكن ده.چه الله تعالى په خپل فضل او كرم سره بغيرد توبې نه ئې معاف كړي.

② دابن المنذر رحمه الله رائې دا ده.چه كيدې شي.صغائراوكبائرټول معاف شي. (٤)

ابن عبدالبر رحمه الله دخپلو بعضې معاصرينو نه هم دا نقل كړې.اوبيا ئې په هغوى باندې رد كړې دې.فرمائي.((وهذا جهل بين،وموافقة للمرجئة فيما ذهبوا إليه من ذلك وكيف يجوز لذي لب أن يحمل هذه الآثار على عمومها وهو يسمع قول الله تعالى ﴿يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا﴾ وقوله تبارك وتعالى ﴿وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ في آي كثيرة من كتابه(٥)

مطلب دا دې.چه داحاديثود عموم په وجه ددې خبرې قائل كيدل چه په دې سره به كبائر معاف شي.ښكاره جهالت دې.اودا دمرجئو مسلك دې.دغه شان دوى فرمائي

((ولوكانت الطهارة والصلاة وأعمال البر مكفرة للكبائر والمتطهر المصلي غير ذاكر لذنبه الموبق ولاقاصد إليه ولا حضرة في حينه ذلك أنه نادم عليه ولا خطرت خطيئة المحيطة به بباله لما كان لأمر الله عزوجل بالتوبة معنى ولكان كل من توضأ وصلى يشهد له بالجنة بإثر سلامه من الصلاة وإن ارتكب قبلها ماشاء من الموبقات الكبائر وهذا لا يقوله حد ممن له فهم صحيح وقد أجمع المسلمون أن التوبة على المذنب فرض والفروض لا يصح أداء شئ منها إلا بقصد ونية واعتقاد أن لا عودة فأما أن يصلي وهو غير ذاكر لما ارتكب من الكبائر ولا نادم على ذلك فمحال وقد قال رسول الله ﷺ الندم توبة وقال ﷺ الصلوات الخمس والجمعة إلى الجمعة كفارة لما بينهن ما اجتنبت الكبائر))(٦)

---

١) أوجزالمسالك(١٢٠/٢٩) الترغيب في الصلاة في رمضان)_
٢) التمهيد لما في المؤطاء من المعاني والأسانيد (٤٤/٤-٤٩) حديث تاسع لزيدبن أسلم (٦/١٧-١٠) حديث رابع لابن شهاب عن أبي سلمة)_
٣) شرح نووي على صحيح مسلم(١١/١٢١) كتاب الطهارة باب فضل الوضوء والصلاة عقبه)_
٤) أوجزالمسالك(١٢٠/٢٩)_
٥) التمهيد(٤٤/٤)_
٦) التمهيد(٤٤/٤، ٤٥)_

③ بعضي عالمان رحمهم الله فرمائی.چه په اصل کښې خو صغائرمراد دی.خوکیدې شی.چه دچا صغائر نه وی.یا ډیرې کمې وی.نوممکن ده.چه په کبائروکښې تخفیف اوشی.(¹) خوحقیقت دا دې.چه قاعده جدا څیزدې.اوعدل اواحسان جدا څیزدې.قاعده خو هم دغه ده.چه کله سړې توبه اوباسی.نومعافی کیږی ګنی نه کیږی.خودخسرودِ مهربانواو د شاهی احساناتو معامله جدا خبره ده.که الله تعالی سبحانه وتعالی دچا په نیکو اعمالو باندې دهغه د کبائرو معافی اوکړی.نوڅوك تپوس کولووالا شته؟ البته دا خبره شته.چه نیک عمل هم نیک عمل وی یعنی داسې نیک عمل وی.چه په هغې باندې الله تعالی خوشحاله شی.ګناهونه پرې معاف کیږی.خوپه دې اعتماد باندې داسې هرګز نه دی کول پکار،چه ګناه کوی.یا ګناه کوی.اوتوبه نه اوباسی.دا څومره د بې حیائې خبره ده.چه د رب کریم نافرمانی کوی.اوهغه ته دپښیمانتیا څټ نه ښکته کوی!!

قوله: إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ:

داسباغ درې درجات: د اسباغ معنی په لغة کښې د اتمام ده د دې درې درجې دی.

① **اتمام باستيعاب المحل** (د غسل دمحل راګیرول په وینځلو سره) یوکرت وینځل داواجب دی.

② تکرار الغسل ثلاثًا دا سنت دې خو امام نووی رحمه الله فرمائی چه په دریو باندې زیادت کول په اتفاق د علماء کرامو مکروه دې، د علامه ابن عابدین نه منقول دی چه په دریو باندې زیادت بدعت، او په فتاوی تاتارخانیه کښې هم داسې دی، په درمختار کښې دی چه که په دریو باندې اضافه د طمانیت قلب دپاره اوکړې شی نو په دې کښې څه حرج نشته، لکه چه د رسول الله ﷺ ارشاد دې ﴿ **دع ما يريبك الى ما لا يريبك** ﴾ چه د هغې مطلب دا دې چه چه د کوم عمل په کیدو یا نه کیدو کښې شك پیدا شی هغه دې تر هغه وخته پورې اوکړې شی ترڅو پورې چه شك ختمیدلو سره یقین او طمانیت حاصل شی. (فتح الملهم)

③ بله داچه دقیامت په ورځ د نوردزیادت دپاره دحد مقررنه لږزیات وینځل مستحب دی،

قوله: عَلَى الْمَكَارِهِ:

د مکاره درې صورتونه: د دې درې صورتونه دی:

① چه کوم وخت اوبه نه ملاویږی طلب کول راشی.

② د قیمت نه زیاتی اخستل راشی.

③ د یخنی یا بدنی تکلیف په وجه باندې د اوبو استعمال ګران وی. (فتح الملهم. فیض الباری)

---

¹) أوجز المسالك(۲۹۰/۱۲)_

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: وَكَثْرَةُ الْخُطٰى:

د كثرة الخطا په مفهوم كښې دوه اقوال:

① ددې څخه مراد مسجدته ډير تلل راتلل دی، مونځ دپاره يا هسې عبادت دپاره يا مسجد سره ئې محبت دې او بار بار تگ راتگ کوی.

② چې لرې علاقې څخه مونځ له راځی نو زيات قدمونه اخلی کوم سره چه په ثواب کښې اضافه کيږی.

قوله: وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ:

د انتظار دوه صورتونه: ① يعنی باجماعت يا منفردا مونځ لوستلو سره په جمات کښې په خپل ځائې باندې د بل مانځه دپاره انتظار کول.

② د جمات نه مونځ کولو سره اوځی مگر د هغه زړه د بل مانځه د حاضرئ دپاره په مسجد پورې معلق وی. لکه چه په يو روايت کښې راځی چه اووۀ کسان به الله پاک د قيامت په ورځ په خپل سوری کښې واخلی په داسې حال کښې چه بل به هيڅ سورې نه وی، په هغوی کښې يو سړې هغه دې چه د هغه زړه په جمات پورې معلق وی (اگر چه د هغه بدن د جمات نه خارج ولې نه وی).

قوله: فَذٰلِكُمْ:

د ..ذا .. اسم اشاره تحقيق: دلته په دې خبره پوهيدل پکار دی چې ذا اسم اشاره ده. او د کم ضمير د مخاطب په اعتبار سره راځی. که مخاطب مفرد دې نو ذالك راځی ، تثنيه وی نو ذلکما راځی او که جمع وی نو ذالکم راځی. ددې ترجمه داسې کيږی، دا چې کوم کار دې تاسو- يو يا دوؤ يا ټولو ته وايم . فذالکن زليخې وئيلی وو دا چې کوم کار دې تاسو ټولو ښځوته وايم ،نونبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې کهف تهکن يعنی دا عائشه څنگه ده تاسوته وايم.

قوله: الرِّبَاطُ:

د ثواب په اعتبار سره رباط: چونکه دې کس خپل ځان او خپل آس هلته پابند کړی دی يعنی تړی ئې دی. په دې وجه دا د رباط اصل مفهوم او مصداق دې. بيا په شريعت کښې ددې ډير زيات ثواب دې ، لهذا هغه ثواب دلته په دې انتظار کښې ناست بنده ته الله تعالی ورکوی. نودا دثواب په اعتبار سره رباط شو. اصل رباط خو په سرحداتو باندې وی.

۲۸۳-(¹)[٠] [١]وَفِي حَدِيثِ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ: [٢](«فَذٰلِكُمُ الرِّبَاطُ فَذٰلِكُمُ الرِّبَاطُ) رَدَّدَ مَرَّتَيْنِ»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ. [٣]وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ ثَلَاثًا.

(¹) اخرجه مالک کتاب قصر الصلاة فی السفر .باب انتظار الصلاة والمشی إليها(رقم-۵۵) والترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب فی إسباغ الوضوء(رقم-۵۲)

ترجمه: ① او د مالك بن انس رضي الله عنه په حديث كې ② نو دا رباط دي نو دا رباط دي دوه خله دي (مسلم) ③ او د ترمذي په روايت كې درې خله دي.

حل اللغات: ① الرِّبَاطُ: أي الجِهَادُ: په اسلامي سرحداتو باندې د كفر په مقابله كښې څوكيدارئ ته رباط وائي. ② رَدَّدَ: أَيْ: كَرَّرَ: تكرار ئې اوكړو، دوباره ئې اووئيل.

[۲۸۳] په ښه طريقه د اودس كولو لويه فايده

۲۸۳–( )[۳] ① وَعَنْ عُثْمَانَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ③ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهِ ④ حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهِ»: مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① عثمان رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② كوم سړي چې اودس وكړو او په ښه شان يې وكړو (يعني د هغې د سننو او مستحباتو د رعايت سره) ③ نو د هغه (صغيره) ګناه د هغه د بدن څخه وځي ④ تردې چې د هغه د نوكونو د لاندي څخه هم ګناه وځي. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ: يعنى په شان ئې اودس اوكړو، په ښه شان اودس څخه مراد دادى چې د فرائضو، سننو او مستحباتو پور اپورا خيال اوساتلې شي. او په دې كښې د هيڅ قسمه كراهت ارتكاب اونه كړى.

قوله: خَرَجَتْ خَطَايَاهُ:

د خروج په معنى كښې درې اقوال: ① چونكه خطايا د اجسام د قبيل نه دى په دې وجه امام نووى، ابن العربى نه په شرح د ترمذى كښې نقل فرمائيلي دى چه دلته په خروج د خطايا سره مجازا او استعارة معاف كيدل مراد دى ځكه چه خطايا اعراض او افعال دى او اعراض او افعال د دخول و خروج سره نه شى متصف كيدلې.

② علامه سيوطى رحمه الله فرمائى چه ظاهره دا ده چه خروج د خطايا دې په حقيقت باندې محمول كړې شى ځكه چه په ګناهونو سره په ظاهر او باطن كښې سياهى پيدا كيږى چه په هغې باندې ارباب احوال ومكاشفات خبريږى. او ترمذى، نسائى، ابن ماجة او حاكم هم د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه روايت نقل كړې دې چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو: إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا أَخْطَأَ خَطِيئَةً نُكِتَتْ فِي قَلْبِهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ (چه كله بنده ګناه كوى نو د هغه په زړه باندې يو تور داغ اولګولې شى) او د احمد بن خزيمه په روايت كښې دى ﴿ان الحجر الاسود سَوَّدَتْهُ خَطَايَا الْمُشْرِكِينَ﴾ (بيشكه حجر اسود د مشركانو ګناهونو تور كړې دې (چه كله به هغوى دا په خپلو لاسونو سره مس كولو) اوس په خروج د خطايا سره د اثر سواد خروج او زوال مراد دې.

(۱) اخرجه مسلم كتاب الطهارة باب خروج الخطايا مع ماء الوضوء (رقم-۳۳ - (۲۴۵)) واحمد فى المسند:-۱/۶۶

Maktaba Tul Ishaat.com

③ شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله فرمائی چه څنګه په عالم کښې اعراض مجسم کیدو سره محفوظ وی، هم دغه شان د الله پاک د قدرت نه هیڅ بعید نه دی چه زمونږ اندامونو او اوبو په ذریعه اعمال محفوظ پاتې شی. څنګه چه دا بعیده نه ده هم دغه شان ګناهونه کوم چه په انسان کښې موجود وی هغه د اندامونو نه په وخت د اودس خارج شی دا هم بعیده نه ده څکه چه هغه د اول نه په بدن کښې موجود اومحفوظ دی.(فتح الملهم ۲۰۹، التعلیق)

اشکال: ددې حدیث نه خو معلومیږی چه د اودس په ذریعه د ټول بدن نه ګناهونه ساقطیږی تردې چه د نوکونو د لاندې نه هم او د نورو احادیثو نه معلومیږی چه صرف د اودس په اندامونو سره ګناه ساقط کیږی لکه چه فرمائی (خرج من وجهه کل خطیئة نظر الیها الخ)

داشکال جواب: د سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما نه مرفوعا روایت دې چه (من توضأ وذکر اسم الله علیه کان طهورا لجمیع بدنه ومن توضأ ولم یذکر اسم الله علیه کان طهورا لاعضاء وضوئه *) دارقطنی او بیهقی دا روایت کړې دې. اګر چه په حدیث کښې بعض راویان متروک دی خو د کثرت طرق د وجې نه دا روایت قوی او قابل استدلال دې. (بذل المجهود)

قوله: مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهِ:

د تحت اظفار نه مقصد: دا دمبالغې په توګه استعمال شوې دې چې ګناهونه بالکل ختمیږی، تر دې چې د نوکونو د لاندې څخه هم اوزی. دا محاوره داشان ده لکه څنګه چې وائی: ستا تکبر ستا دپوزې څخه اوباسم.

د خطایا مصداق: ددې څخه صغیره ګناهونه مراد دی. کبائر د توبې نه بغیر نه معاف کیږی. څکه چې حدیث پاك کښې د (مالم یؤت کبیرة)قید په صراحت سره موجود دې. خو که د اودس په وخت کښې ئې توبه اوکړه نو معاف به شی ، که توبهَ ئې اونه کړه نو صغائر به ټول معاف شی . او کبائر به کمزوری پاتې شی .

د خطایا د اطلاق وجه: شریعت نصوص مطلق پریښودی دی. اود صغائر قید ئې نه دې ذکر کړې څکه چې دشریعت په نظر کښې د مسلمان شان دادې چې دده په ذمه دې یوه کبیره ګناه بالکل نه وی یا ده کبیره ګناه نه ده کړې. او یا که اوشی نو دې په هغې ډیر خفه وی او توبه اوباسی . لهذا د اودس په وخت کښې صغائر معاف کیږی کبائر نه.

اشکال: هرکله چې اودس سره ټول صغائر ګناهونه اووینځلې شی نو بیا مسجد ته په تللو او په نوافلو سره کوم ګناهونه معاف کیږی. حالانکه هلته هم د معافی ذکر دې؟

د اشکال جواب: دَصغائرو ارتکاب هر وخت کیدې شی.نونوروعملونو سره به هغه معاف کیږی. یا اودس نهٔ پس به په نورو عملونو سره دده درجات اوچتیږی. او اودس سره به

* اسناده ضعیف.

صغائر معاف كيږي. يا اودس سره څه خاص قسم ګناهونه معاف کيږي. او څه نور قسمونه ګناهونه به په مونځ سره معاف کيږي.

[۲۸۵] د ګناهونو په معاف کولو کښې د اودس کردار

۲۸۵-(۳)[۱] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-(۲)«إِذَا تَوَضَّأَ الْعَبْدُ الْمُسْلِمُ-أَوِالْمُؤْمِنُ-۳ فَغَسَلَ وَجْهَهُ خَرَجَ مِنْ وَجْهِهِ كُلُّ خَطِيئَةٍ ۴ نَظَرَ إِلَيْهَا بِعَيْنَيْهِ مَعَ الْمَاءِ أَوْمَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ ۵ فَإِذَا غَسَلَ يَدَيْهِ خَرَجَ مِنْ يَدَيْهِ كُلُّ خَطِيئَةٍ كَانَ بَطَشَتْهَا يَدَاهُ ۶ مَعَ الْمَاءِ أَوْ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ ۷ فَإِذَا غَسَلَ رِجْلَيْهِ خَرَجَ كُلُّ خَطِيئَةٍ مَشَتْهَا رِجْلَاهُ مَعَ الْمَاءِ أَوْمَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ ۸ حَتَّى يَخْرُجَ نَقِيًّا مِنَ الذُّنُوبِ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او ابوهريره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ هر کله چې يو بنده مسلمان ياموَمن د اودس اراده وکړي ۳ او خپل مخ وينځي نو د هغه ټول ګناهونه د هغه مخ په وينځلو سره ووځي ۴ چې هغه طرف ته يې سترګو کتلي وي په اوبو سره يا د اوبو د آخري قطري سره اوځی (يعني کوم ګناهونه چې يې سترګو سره کړي وي ورژيږي) ۵ بيا چې دواړه لاسونه وينځي نو د لاسونو ټول ګناهونه چې د هغه لاسونو نيولي وو د هغه د لاسونو څخه خارج کيږي ۶ داوبوسره يا د اوبو د آخري قطري سره اوځی (يعني کوم ګناهونه چې لاسونو کړي وي وژريږي) ۷ بيا چې دواړه پښې وينځي نو ټول ګناهونه چې هغه طرف ته يې پښې تللي وي د اوبو سره يا وي فرمايل د اوبو د آخري قطري سره اوځي ۸ تر دي چې هغه د ګناهونو څخه پاك شي. (مسلم)

حل اللغات: ① بَطَشَتْهَا: أَيْ: أَخَذَتْهَا: چه نيولی وی (لاسونو دده). ② قَطْر: څاڅکي، ③ مَشَتْهَا: أَيْ: مَشَتْ بِهَا إِلَى الْخَطِيئَةِ: چه ګناه طرف ته ئې پرې تلل کړي وی. ④ نَقِيًّا: أَی طَاهِرًا مِنَ الذُّنُوبِ: پاک صفا شی دګناهونونه.

تسهيلات:

قوله: نَظَرَ إِلَيْهَا بِعَيْنَيْهِ

د سترګو په تخصيص کښې دوه وجوهات: ① علامه طيبی رحمه الله فرمائی چه غوږونه اوخله دواړه هم په وجه يعنی مخ کښې داخل دی مګردَدې ذکرئی دلته اونه کړوحالاتکه دَدې نه هم ګناه کيږی صرف دَ سترګودګناه ذکرئی اوکړو ځکه چه سترګې په بدن کښې دَ زړه دَپاره دَټولونه لوئی جاسوس دی او دګناه په ارتکاب کښې دې ته امتيازی مقام حاصل دې. کله چه دَسترګوګناه په اودس سره اوينځلې شوه نو دَ باقی اندامونو مثلاً پوزې غوږونو اوژبې

(۱) مسلم كتاب الطهارة باب خروج الخطايا مع ماء الوضوء(رقم-۳۲ - (۲٤٤)) اخرجه دارمی كتاب الطهارة باب التسمية فی الوضوء (رقم-۷۱۸) ومالک كتاب الطهارة باب جامع الوضوء(رقم-۳۱) والترمذی كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی فضل الطهور(رقم-۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

گناه به په طريقه اولى سره خارجيږي.

④ دَ پوزې او دَ خلې گناه په مضمضه او استنشاق سره اوځي او دَ غوږونو گناه په مسح سره خارجيږي په دې وجه دلته صرف دَ ستر گو د گناه دَ خروج ذکر دې.

قوله: أَوْمَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ:

د کلمه ،،أَوْ،، په حيثيت کښې دوه اقوال:

① يعنې دَاوبو په آخرى څاڅکى سره گناه ختميږي. دلته اوشك دَ راوى دَپاره هم كيدې شى

④ او دَ تنويع دَپاره هم اخستلې شى.

قوله: حَتَّى يَخْرُجَ:

اشكال: چه دَټولو گناهونو نه پاك شونو بيا مشى الى المسجد اوصلوة دَ كوم څيز دَپاره كفاره جوړيږي؟

د اشكال دوه جوابونه: ① ممكن دى چه مونځ دكبائرو دَ پاره كفاره جوړ شى چه ورسره توبه يو ځائى شى يا مونځ دكبائر كمزورې كولو كار اوكړى يا دَ رفع درجات كار اوكړى.

④ ممكن ده بعضې قسم صغائر په اودس سره وينځلې شوې وى او بعضې به په مانځه سره اووينځلې شى.

قوله: نَقِيًّا:

د نقيا تركيب: دا حال واقع دې كه دَاودس په شروع كښې ئى بسم الله اووئيله ښه نيت ئى اوكړو نو پوره بدن به ئى پاك شى گنى دَاودس اندامونه به پاك شى لكه چه په بل حديث كښې راغلى دى.

[۲۸۶] د گناهونو په معاف كولو كښې د مونځ كردار

۲۸۶-(¹) [۵] [۱] وَعَنْ عُثْمَانَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] ((مَا مِنَ امْرِءٍ مُسْلِمٍ تَحْضُرُهُ صَلَاةٌ مَكْتُوبَةٌ [۳] فَيُحْسِنُ وُضُوءَهَا وَخُشُوعَهَا وَرُكُوعَهَا، [۴] إِلَّا كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا قَبْلَهَا مِنَ الذُّنُوبِ [۵] مَا لَمْ يُؤْتِ كَبِيرَةً، [۶] وَذٰلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ)) رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت عثمان رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم مسلمان چې د فرض مونځ وخت راشي [۳] نو په ښه شان اودس وكړي او په لمانځه كې ښه خشوع او ښه ركوع وكړي [۴] نو (د هغه دا لمونځ) د هغه گناهونو كفاره شي چې هغه د لمانځه څخه مخكې كړي وو [۵] په شرط د دې چې هغه گناه كبيره نه وي كړې [۶] او داسې هميشه كيږي (يعني هغه مونځ چې د گناهونو كفاره وه د څه زماني سره مخصوص نه دي دا فضيلت په هره زمانه كې قايم وي). (مسلم)

(¹) ومسلم كتاب الطهارة، باب فضل الوضوء والصلاة عقبه (رقم-۷ - (۲۲۸)

حل اللغات: ① تَحْضُرُهُ: أَيْ يَأْتِي وَقْتُهَا: یعنی دمونځ وخت راشی ② مَكْتُوبَةٌ: أَيْ: مَفْرُوضَةٌ: فرض مونځ. ③ فَيُحْسِنُ: بِأَنْ يَأْتِيَ بِفَرَائِضِهِ وَسُنَنِهِ: د ښائسته اودس نه مراد ددې فرائض او سنت وغیره دی چه ددې ټولو آدابو لحاظ اوساتی. ④ كَفَّارَةً: وَهِيَ مَا يَسْتُرُ الذُّنُوبَ: د کفاره نه مراد ګناهونه رژول او ختمول دی. ⑤ كَبِيرَةً: غټه ګناه. ⑥ الدَّهْرَ: زمانه

تسهیلات: قوله: وَخُشُوعَهَا:

د خشوع تعریف: یعنی ظاهری اوباطنی عاجزئی سره مونځ اداکړی، چه اندامونه په آرام وی اوزړه متوجې وی او نظرد سجدې په ځائی باندې ورښکته شوې وی.

قوله: وَرُكُوعَهَا:

د رکوع د تخصیص درې وجوهات: ① دَ رکوع ذکراوشو دَسجدې ذکراونه شو ځکه چه دَ رکوع نه پس سجده راځی نودَ خان له ذکر ضرورت نه وو

② قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه دَ رکوع په خاص توګه ذکرکول دَدې دَپاره ووچه دا دَ مسلمانانو یوخاص شعاردې.

③ رکوع دَ سجدې نه زیاته ګرانه وه په دې وجه ئی په خاص توګه داذکرکړه.

قوله: مَالَمْ يُؤْتِ كَبِيرَةً:

د مالم یؤت مفهوم: دادَ استثناء په ځائی کښې دې یعنی إلاالكبيرة دکبیره نه علاوه به ګناه معاف کیږی ځکه چه دکبائردَمغفرت دَپاره توبه کول ضروری دی.

په نیکو اعمالو د ګناهونو په معافی کښې اقوال: ① دکبائر او صغائر معامله په الله تعالی باندې پریخودل پکاردی اودَ احادیثو ظاهری الفاظ خپلول پکاردی.

② متقدمین علماء فرمائی چه دا معامله الله تعالی ته حواله ده

③ متاخرینودَ صغائراوکبائرفرق کړې دې ځکه چه په احادیثوکښې دَدې ذکر راغلې دې لهذا صغائرمعاف اوکبیره نه،

④ بعضو تطبیق کړې دې چه دَلغت په اعتبارسره ذنوب اوسیئات کښې فرق کول پکاردی یعنی ځنګه چه په لغت کښې ذنب هغه ګناه ته وائی چه دَ عیب سبب وی "الذنوب العيوب" او "الخطايا" هغه ګناه ته وائی چه دَصحیح برعکس غلطی وی. "معصيت" نافرمانئی ته وائی او "سيئات" دَ بدئی په معنی کښې دې. نودَټولونه دَاعلی درجې ګناه "المعاصی" دی دَدې نه پس په دوئم نمبرباندې "الاثم" دې اودَدې نه پس په دریم نمبر "السيئات" دی بیا په څلورم نمبر باندې "الخطايا" دی او په پنځم نمبر "الذنوب" دی. نوچه کوم لفظ په احادیثوکښې کوم ځائی راغلې دَهغې دَمفهوم په اعتبارسرمعنی مراداخستل پکاردی. که دَ صغيره لفظ وی نو

Maktaba Tul Ishaat.com

صغيره دي مراد واخستلې شي اوكه لفظ كبيره وي نو كبيره ګناه دي مراد واخستلې شي

قوله: وَذٰلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ:

د مذكوره جملې مفهوم: يعنی دَمانځه كفاره كيدل دَيو زمانې سره خاص نه دی اونه يو خاص فرض مونځ سره خاص دی بلكه ددَهرې زمانې دَپاره دی اودَهرفرض مونځ دَپاره دې.

[۲۸۷] دګناهونو په معاف کولو کښې داودس کردار

۲۸۷—( )[٦] [۱] وَعَنْهُ، [۲] أَنَّهُ «تَوَضَّأَ فَأَفْرَغَ عَلَى يَدَيْهِ ثَلَاثًا [۳] ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ، [۴] ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا [۵] ثُمَّ غَسَلَ يَدَهُ الْيُمْنَى إِلَى الْمِرْفَقِ ثَلَاثًا، [٦] ثُمَّ غَسَلَ يَدَهُ الْيُسْرَى إِلَى الْمِرْفَقِ ثَلَاثًا، [۷] ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ [۸] ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَهُ الْيُمْنَى ثَلَاثًا ثُمَّ الْيُسْرَى ثَلَاثًا [۹] ثُمَّ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَوَضَّأَ نَحْوَ وُضُوئِي هٰذَا.

ترجمه: [۱] او د حضرت عثمان رضي الله عنه په باره کې منقول دي [۲] چې هغه يو ځل اودس وکړو نو اول يې په خپلو لاسونو درې ځله اوبه واچولې [۳] او بيا يې درې ځله خله ووينځله او پوزه يې صفا کړه (يعني په پوزه کې د اوبو اچولو څخه وروسته يې پوزه سونږ کړه) [۴] بيا يې درې ځله مخ ووينځلو [۵] بيا يې درې ځله خپل ښي لاس تر څنګلو پورې ووينځلو (يعني د څنګلو سره) [٦] بيا يې درې ځله ګس لاس تر څنګلو پورې ووينځلو [۷] بيا يې په سر مسح وکړه [۸] بيا يې ښي پښه درې ځله ووينځله بيا يې ګسه خپه درې ځله ووينځله، [۹] بيا حضرت عثمان رضي الله عنه وفرمايل ما حضور صلى الله عليه وسلم په دغسې اودس کولو باندې ليدلي دي څنګه چې اوس ما اودس وکړو

حل اللغات: ① فَأَفْرَغَ: أَيْ: صَبَّ الْمَاءَ: اوبه ئې واړولې، ② تَمَضْمَضَ: خُله وينځل، أي تَحْرِيكُ الْمَاءِ فِي الْفَمِ: په خوله کښې اوبه خوزولو، شړپولو ته وائی. ③ اسْتَنْثَرَ: پوزه سونږ کول، هُوَ إِخْرَاجُ الْمَاءِ مِنَ الْأَنْفِ بَعْدَ الِاسْتِنْشَاقِ: پوزه کښې داوبو ا چولو نه پس واپس راويستلو ته انتثار وائی. استنشاق: پوزه کښې اوبه اچول، وَهُوَ جَذْبُ الْمَاءِ بِالنَّفَسِ إِلَى الْأَقْصَى: په ساه اخستلوسره اوبه راښکل چه د پوزې زيزمو يعنی ويخ ته اورسی دې ته استنشاق وائی، ④ الْمِرْفَق: څنګل،

[۱] ثُمَّ قَالَ: (مَنْ تَوَضَّأَ وُضُوئِي هٰذَا، ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ [۲] لَا يُحَدِّثُ نَفْسَهُ فِيهِمَا بِشَيْءٍ، [۳] غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ») [۴] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَلَفْظُهُ لِلْبُخَارِيِّ.

ترجمه: [۱] بيا يې وفرمايل کوم سړي چې زما د دې اودس پشان اودس وکړي [يعني د فرائضو او سننو او مستحباتو او د آدابو رعايت وکړي] بيا دوه رکعاته مونځ وکړي [۲] او په لمانځه کې د خپل زړه سره خبرې ونه کړي [يعني په پوره توجه سره مونځ وکړي] [۳] نو د

---

(۱) بخاری كتاب الوضوء باب: الوضوء ثلاثا ثلاثا(رقم-۱۵۹) ومسلم كتاب الطهارة . باب صفة الوضوء وكماله(رقم-۳ - (۲۲۶)) واحمد فى المسند:-۶۶/۱ والنسائى كتاب الطهارة/باب بأى اليدين يتمضمض؟باب الوضوء ثلاثا ثلاثا (رقم-۸۵)۲۸۷ - (وعنه) : أى: عن عثمان (أنه توضأ فأفرغ) : من الإفراغ عطف على سبيل البيان على المبين أى: صب الماء (على يديه ثلاثا) : أى: فغسلهما إلى رسغيه (ثم تمضمض) : أى: ردد الماء فى فمه :-(واستنثر) .

هغه ټول مخکني ګناهونه بخښل کيږي ④ (بخاري مسلم، ددې روايت الفاظ دبخاري دي.)

حل اللغات: ⑤ **لَا يُحَدِّثُ** : أيْ: لَا يُكَلِّمُهَا: خبرې اونه کړي، ددې نه مراد زړه کښې قصداً خيالات راوستل دي. ⑥ **مَاتَقَدَّمَ**: چه مخکښې ئې کړي وي (يعنى صغيره ګناهونه).

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ:

د سرپه مسح کښې په عدم تثليث باندې استدلال: دې حديث پاك کښې د اودس د اندامونو درې ځل د وينځلو ذکر راغلې دې. خو د مسح ذکر سره دريو ځلو ذکر نه دې راغلې. ددې نه معلومه شوه چې درې ځل مسح کول او په مسح کښې تثليث کول څه مسنون حکم نه دې. او هم دا د احنافو مسلك دې. ددې تفصيل به روستو راځي. دلاسونو او مخ په وينځلو کښې هيڅ اختلاف نشته دې. خو **مضمضه** او **استنشاق** کښې اختلاف دې، او کوم چه روستو راروان دې.

قوله: لَا يُحَدِّثُ نَفْسَهُ:

د يحدث په تاويل کښې دوه اقوال: ① که څه خبره د دې دوارو رکعتونو ترمينځه د هغه په زړه کښې راشي او هغه د دې نه اعراض کوي نو هيڅ باک نشته بلکه د کوم فضيلت چه ذکر کړې شوې دې هغه به هغه ته حاصل وي. دا په دې وجه چه الله پاک د دې امت نه هغه خواطر (د زړه وسوسې) معاف کړې دی. (الطيبى)

په فتح البارى کښې دی چه لفظ د ﴿ يحدث ﴾ د بنده د طرف نه په کسب (په خپل اختيار باندې زړۀ کښې څه خبره پيدا کولو) باندې دال دې. مطلب دا دې چه په دې شرط چه بنده په خپل اختيار او کسب سره څه خبره په زړه کښې رانولى او کومې وسوسې ئې چه په خپله په زړه کښې پيدا کيږى هغه د معفو عنها په درجه کښې دی.

② يرمادى په شرح العمدة کښې فرمائى چه د ﴿ لا يحدث ﴾ مناسب تاويل دا دې چه داسې خيالات رانولى کوم چه د مانځه سره متعلق نه وى.

اشکال: عمر رضي الله عنه په يو موقع باندې اوفرمائيل چه زه په مانځه کښې لښکر تياروم. دا د لښکر تيارول خو مانځه سره متعلق نه دې؟

د اشکال دوه جوابونه: ① امام ترمذى رحمه الله په کتاب الصلاة کښې د ﴿ اى بشيء من الدنيا ﴾ لفظ راوړې دې چه د هغې مطلب دا دې چه د دنيوى امورو متعلق څه خيال رانولى، د امور آخرت متعلق او په آيت کريمه کښې په تدبر او تفکر سره هيڅ باک نشته. او د سيدنا عمر رضي الله عنه د لښکر تيارول هم د اخروى امورو سره متعلق دى.

② علامه ابن تيميه رحمه الله فرمائى چه سيدنا عمر رضي الله عنه د امير المومنين کيدو د وجې نه امير

Maktaba Tul Ishaat.com

الجهاد هم وو نو د بعض وجوه په بناء هغوی د هغه مونځ کونکی په شان شو کوم چه د دشمن په مقابله کښې صلاة خوف لولی چه په هغه باندې حسب الامکان د دوه واجباتو د آدائیګئ حکم وی : یو صلاة، دویم جهاد، او دا بدیهی خبره ده چه د امن په حالت کښې چه کوم طمانیت قلب وی هغه د جهاد په حالت کښې نه شی کیدې. اوس که د جهاد د امورو د وجې نه په مانځه کښې څه نقص پیدا شی نو هغه به د کمال ایمان او کمال صلاة دپاره قادح نه وی. هم دا وجه ده چه په صلاة الخوف کښې په مقدار رکعات کښې تخفیف کړې شوې دې خو په دې تخفیف سره کوم چه د کمیت تخفیف دې د مانځه په کمال کښې هیڅ نقص نه راځی. هم دغه شان تخفیف کیفی یعنی د حضور قلبی په نقص سره به هم څه حرج نه راځی. بله دا چه د خلقو په احوالو کښې هم تفاوت دې، که د چا ایمان قوی وی نو هغه به په امور ضروریه کښې د تدبر او تفکر باوجود حاضر القلب فی الصلاة پاتې کیدې شی او بیا د عمر ﷺ متعلق به څه وائې.؟ (فتح الملهم، التعليق الصبيح)

[۲۸۸] په ښه طريقه سره اودس او دوه رکعته مونځ کولو سره د جنت وجوب

۲۸۸–( )[۷] ① وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② ((مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ، فَيُحْسِنُ وُضُوءَهُ، ③ ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، ④ مُقْبِلًا عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ، إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ)). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① عقبه بن عامر ﷺ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② کوم مسلمان چې اودس اوکړی او په ښه شان اودس وکړي ③ بيا ودريږي دوه رکعاته مونځ وکړي ④ په زړه او مخ سره متوجه کيدو سره [يعني ظاهر او باطن سره متوجه کيدو سره] نو د هغه د پاره جنت واجبيږي. (مسلم)

حل اللغات: ① رَكْعَتَيْنِ: دَدوو رکعتونه مراد تحية الوضوء اوتحية المسجد دی. ② مُقْبِلًا: د اسم فاعل صيغه ده د باب افعال نه، چه مخ کړې ئې وی، یعنی متوجه وی.

د راوي مختصر تعارف:

د حديث د راوی نوم حضرت عقبه بن عمرو انصاری ﷺ وو. کنيت ئې ابومسعود وو. په عقبه ثانيه کښې ئې اسلام قبول کړې وو. په جنګ بدر کښې ئې شرکت کړې دې هم دا خبره امام بخاری ﷺ وغيره محدثينو نقل کړې ده بعضو وئيلی دی چه دې په مقام بدر کښې وو. د دې وجې په بدری باندې مشهور شوې وو.

د نبی کريم ﷺ په زمانه کښې اود دغه شان د خلافة ثلاثه په دور کښې هم په مدينه کښې اوسيدلو. د حضرت علی ﷺ په زمانه کښې دوی کوفې ته منتقل شو. کله چه حضرت علی ﷺ د جنګ صفين دپاره روانيدلو نو دې ئې په کوفه کښې خپل نائب پريخودې وو.

[1] اخرجه مسلم كتاب الطهارة باب الذكر المستحب عقب الوضوء (رقم-۱۷ – (۲۳٤)) واحمد فی المسند:-٤/١٥٣

وفات: په ۴۰ هجری کښې وفات شوې وو بعضې حضراتو دامير معاويه رضي الله عنه په زمانه کښې د دوی وفات خودلې دې خو اول قول اصح دې.

مرويات: د دوی نه ۱۰۲ احاديث نقل دی.

تسهيلات: قوله: إِلَّاوَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ:

د وجوب جنت وضاحت: يعنی دَدې دوو رکعتو خاصيت دادې چه جنت به واجب شی ليکن په آخرت کښې فيصله په معجون مرکب باندې کيږی. نوصرف دې رکعتونوته به نه شی کتلې بلکه نور حسنات اوسيئات ملاوولوسره به په حد اوسط اوسِتلې شی اوبيابه فيصله کيږی. بهرحال دَخه دنياوی خيال نه پاکيدوسره دوه رکعته کول هم څه آسان کارنه دې. إلامن رزقه الله.

[۲۸۹] اودس کونکي او د جنت اته دروازي خلاصيدل

۲۸۹—(۱)[۸] [۱] وَعَنْ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ، -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ- صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] ((مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ [۳] فَيُبْلِغُ - أَوْ فَيُسْبِغُ - الْوُضُوءَ، ثُمَّ يَقُولُ: [۴] أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ - [۵] وَفِي رِوَايَةٍ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، [۶] إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ)). [۷] هٰكَذَا رَوَاهُ مُسْلِمٌ فِي صَحِيحِهِ، وَالْحُمَيْدِيُّ فِي أَفْرَادِ مُسْلِمٍ. وَكَذَا ابْنُ الْأَثِيرِ فِي جَامِعِ الْأُصُولِ،

ترجمه: [۱] عمر بن خطاب رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په تاسو کې چې کوم سړي اودس وکړو او هغه (د ښکلا) انتها ته ورسوي [۳] يا حضور ﷺ دا الفاظ وفرمايل او پوره اودس وکړي بيا اووائي [۴] أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، (زه د دې خبري شاهدي اداکوم چې د يو الله جل جلاله څخه ماسوا بل څوک د عبادت لائق نشته او محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دي) [۵] او په يوه روايت کې دي چې داسې اووائي أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، زه د دې خبري شاهدي اداکوم چې د يو الله جل جلاله څخه ماسوا بل څوک د عبادت لائق نشته هغه يو دي هيڅوک د هغه شريک نشته او د دې خبري شاهدي اداکوم چې محمد ﷺ د الله جل جلاله بنده او د هغه رسول دي، [۶] نو د هغه د پاره د جنت اته دروازي خلاصي شی په کومه دروازه چې د هغه زړه غواړي په جنت کې دي داخل شي، [۷] هم دغه شان ددې روايت کړې دې مسلم په خپل صحيح کښې او حميدی په افرادو د مسلم کښې او دغه شان ابن الاثير په جامع الاصول کښې

(۱) اخرجه مسلم كتاب الطهارة باب الذكر المستحب عقب الوضوء(رقم- (۲۳٤)) ابوداود كتاب الطهارة . باب ما يقول الرجل إذا توضأ (رقم-۱۶۹) والترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما يقال بعد الوضوء (رقم-۵۵) والنسائى كتاب الطهارة/باب الفضل فى ذلک(رقم-۱٤۸) ابن ماجه كتاب الطهارة وسننها/باب ما يقال بعد الوضوء(رقم-٤۷۰)باب ما يقال بعد الوضوء(رقم-٤۷۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۱] وَذَكَرَ الشَّيْخُ مُحْيِي الدِّينِ النَّوَوِيُّ فِي آخِرِ حَدِيثِ مُسْلِمٍ عَلَى مَا رَوَيْنَاهُ [۲] وَزَادَ التِّرْمِذِيُّ: «اللّٰهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ». [۳] وَالْحَدِيثُ الَّذِي رَوَاهُ مُحْيِي السُّنَّةِ فِي الصِّحَاحِ: («مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ») إِلَى آخِرِهِ [۴] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ فِي (جَامِعِهِ) بِعَيْنِهِ إِلَّا كَلِمَةَ (أَشْهَدُ) قَبْلَ (أَنَّ مُحَمَّدًا).

ترجمه: [۱] او امام نووي رحمه الله د مسلم د حديث په آخر كې چې هغه مونږ روايت كړي دي دا ذكر كړي دی [۲] چې ترمذي (په شهادتين باندې د دې دعا) دا الفاظ زيات ليكلي دي اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ (اې الله ما د توبه كونكو څخه جوړ كړې او پاكي كونكو كې مي شامل كړې) (يعني د مسلم روايت څنګه چې مونږ ذكر كړي دي هغه روايت امام نووي رحمه الله د مسلم په شرح كې نقل كړي دي او د هغې په آخر كې ئې وَزَادَ التِّرْمِذِيُّ الخ عبارت زيات كړي دي) [۳] او هغه حديث چې امام محي السنة په صحاح كې روايت كړي دي يعنى مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوْءَ الخ (چا چې اودس وكړو او ښه اودس يې وكړو تر آخره پورې) [۴] دا امام ترمذي رحمه الله په خپل جامع كې بعينه داسې نقل كړي دي مګر د اَنَّ مُحَمَّدًا څخه مخكې د اَشْهَدُ ذكر يې نه دی كړی.

حل اللغات: ① فَيُبْلِغُ: دا د إِبْلَاغٌ نه دې، د رسولو په معنى كښې دې، ددې نه په صحيح طريقه هر اندام ته اوبه رسول مراد دی. ② فَيُسْبِغُ: د إِسْبَاغٌ نه دې، أَيْ: إِكْمَالُهُ: كامل طريقې سره اودس كولو ته وائى ③ التَّوَّابِينَ: دا د اوب نه دې د دې معنى رجوع كول او د توبه كولوده يعنى د الله تعالى طرف ته رجوع كول او توبه كول. ④ الْمُتَطَهِّرِينَ: أَيْ مِنَ الْأَخْلَاقِ الذَّمِيمَةِ: ځان پاک ساتونكى خلق (چه ځان پاک ساتى د رذيله اخلاقو نه او د نورو ګناهونو نه).

تسهيلات: قوله: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِي:

په مختلفو دعاګانو كښې تطبيق: په دې حديث پاك كښې د اودس دوران كښې رواياتو كښې مختلفې دعا ګانې او مختلف الفاظ راغلى دی په كوم څخه چه په ظاهره د تضاد او اضطراب خيال پيدا كيږى. ليكن حقيقت دادې چې صاحب د مشكوة مختلفو رواياتو څخه مختلف الفاظ راغونډ كړى دى او اشاره ئې كړې ده چې كوم كس ددې دعاګانو څخه څه ونيل غواړى نوهغه ونيلى شى ځينو رواياتو كښې تقديم او تاخير سره ددې دعاګانو ذكر دې ځينو كښې د شهادتينو ذكر راغلې دې. ځينو كښې نشته دې. مطلب دا شو چې كوم كس كومه دعا اووائى نو سنت به ادا شى.

آخر كښې صاحب مشكوة په صاحب مصابيح باندې اعتراض كړې دې چې هغه كوم روايت په صحاح كښې ذكر كړې دې هغه دلته نشته دې ، بلكه په دې الفاظو سره دا حديث پاك ترمذى ذكر كړې دې.

قوله: فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ:

په اووه دروازو د داخليدو نه مقصد: په يودروازه به داخليږى خو داسې جنتيانو د تعظيم

اواکرام دپاره به اته دروازې بیرته کیږي کومې څخه چې دوئ غواړي نو داخلیدې شي

[۲۰] دمخولو په روښانه کیدو کښې داودس کردار

۲۰-()[۹] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-② «إِنَّ أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ. ③فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يُطِيلَ غُرَّتَهُ فَلْيَفْعَلْ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابوهریره رضي الله عنه راوي دي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل② د قیامت په ورځ به زما امت په داسې حال کې بللې شی چې د اودس په سبب به دهغوئ مخونه روښانه وي او اندامونه به یې ځلیږي③ نو په تاسو کې چې کوم سړې غواړي چې هغه د خپل مخ رڼا زیاته کړي نو هغه ته پکار دي چې هغه داسې وکړي (یعني اودس دي په ښه طریقې سره وکړي) (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① يُدْعَوْنَ: أَيْ: يُنَادَوْنَ: رابللي به شی (په نوم اخستلو سره). ② غُرًّا: دا د أَغَرّ جمع ده، وَهُوَ الْأَبْيَضُ الْوَجْهِ: سپین مخ والاته وائی. غرة اصل کښې هغه سپین داغ ته وائی کوم چې د آس په تندی باندې وی، بیا دَ هر روښانه او مشهور څیز دَپاره استعمال شوې دې. ③ مُحَجَّلِينَ: دا د تَحْجِيل نه ماخوذ دې، وَهُوَ الدَّوَابِّ الَّتِي قَوَائِمُهَا بِيضٌ: هغه څاروي چه خپې ئې سپینې وی دا اصل کښې په اسونو کښې وی او دا ډیر ښائسته وی. ④ آثَار: د اثر جمع ده، نښه، علامت. ⑤ يُطِيلَ: أَيْ: بِإِيصَالِ الْمَاءِ إِلَى أَكْثَرِ مِنْ مَحَلِّ الْفَرْضِ: اوږد والی نه مراد هر اندام د فرض مقدار نه زیات حد پورې وینځل دی.

تسهیلات: قوله: مُحَجَّلِينَ:

اودس د امت محمدی خصوصیت: څینو ددې حدیث څخه استدلال کړې دې چې اودس صرف ددې امت د خصوصیاتو نه دې. ځکه چې دا به د قیامت په ورځ ددوئ پیژندګلو وی خو علامه ابن حجر رحمه الله فرمائی چې دا خبره صحیح نه ده ځکه چې اودس په وړاندینی قومونو کښې هم وو. البته دا روښانه غره او بیاض الأقدام او حجل په دومره لوې کچ ددې امت خاصه ده

قوله: فَمَنِ اسْتَطَاعَ: دا جمله د حضرت ابوهریره رضي الله عنه دطرفه مدرج ده. او هغوئ به په دې باندې پخپله عمل کولو

د اطالت غره مفهوم: اطالت غره څخه مراد دادی چې اندام د هغې د مقرر حد څخه زیات اووینځلې شي. لکه لاسونه تر اوږو پورې اووینځلې شي. او پښې تر ځنګونونو پورې اووینځلې شي. دلته د اطالت غره څخه مراد درې ځلو څخه د زیاتو اوبو استعمال نه دې ځکه چې دا سراف دې کوم چه جائز نه دې.

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الوضو / باب فضل الوضو ولغرالمحجلون... رقم الحدیث ۱۳۶ ومسلم فی کتاب الطهارة/ باب استحباب اطالت الغره رقم الحدیث ۶۰۳

Maktaba Tul Ishaat.com

[۲۹۱] د اودس اندامونو ته کالي اچولي کيدل

۲۹۱-()[۱۰] ۱ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ «تَبْلُغُ الْحِلْيَةُ مِنَ الْمُؤْمِنِ حَيْثُ يَبْلُغُ الْوَضُوءُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ په جنت کې مومن ته به زيور ترهغه پورې رسي تر کوم خاې پورې چې د اودس اوبه رسيږي. (مسلم)

حل اللغات: ① تَبْلُغُ: دمضارع واحد مؤنث صيغه ده، رسيږی به، ② الْحِلْيَةُ: أَي: الْبَيَاضُ: حليه کالی ته وائی خو دلته ترې غره (سپينوالي) مراد دي.

تسهيلات: قوله: الْحِلْيَةُ:

د حليه مفهوم: مطلب داشوچه مسلمان ځومره زيات دَ اودس اندامونه دَ مقررې اندازې نه وړاندې وينځی هغه حصه به ښائسته او روښانه وی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۹۲] اودس د مؤمن د حفاظت سبب

۲۹۲-()[۱۱] ۱ عَنْ ثَوْبَانَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ (اسْتَقِيمُوا وَلَنْ تُحْصُوا ۳ وَاعْلَمُوا أَنَّ خَيْرَ أَعْمَالِكُمُ الصَّلَاةُ، ۴ وَلَا يُحَافِظُ عَلَى الْوُضُوءِ إِلَّا مُؤْمِنٌ) رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَه، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۱ حضرت ثوبان رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ نيغ اوسيږئ او د نيغ اوسيدو پوره طاقت به هيڅ کله ونه لرئ ۳ او پوه شئ چې ستاسو په اعمالو کې بهترين شي مونځ دي ۴ او د اودس حفاظت نه کوي مګر مومن. (مالك، احمد، ابن ماجه، دارمي)

حل اللغات: ① اسْتَقِيمُوا: أَي اتِّبَاعُ الْحَقِّ وَالْقِيَامُ بِالْعَدْلِ: يعنی دَ افراط اوتفريط نه پاك دَ اعتدال په لار نيغ اومستقيم اوسيږئ او په اعمال صالحه باندې قائم اودائم اوسيږئ ② وَلَنْ تُحْصُوا: أَيْ: لَنْ تُطِيقُوا أَنْ تَسْتَقِيمُوا حَقَّ الِاسْتِقَامَةِ: يعنی د نيغ اوسيدو پوره طاقت به هيڅ کله ونه لرئ ③ وَلَا يُحَافِظُ: أَيْ لَا يُوَاظِبُ: دلته د حفاظت نه مراد مواظبت يعنی هميشوالي دي.

(۱) اخرجه مسلم كتاب الطهارة باب تبلغ الحلية حيث يبلغ الوضوء (رقم-٤٠ - (٢٥٠) واحمد فى المسند:-٣٧١/٢ والنسائى باب كتاب الطهارة/ الفضل فى ذلك(رقم-١٤٩)

(۲) اخرجه مالك كتاب الطهارة باب جامع الوضوء(رقم-٣٦) وابن ما جه كتاب الطهارة وسننها باب المحافظة على الوضوء(رقم-٢٧٧) واحمد فى المسند:٢٨٢/٥ والدارمى كتاب الطهارة /باب ما جاء فى الطهور (رقم٦٨١)باب اختلاف الفقهاء (رقم-٦٥٥)

د راوي مختصر تعارف:

د حدیث د راوی نوم حضرت ثوبان (رضي الله عنه) کنیت ابوعبدالله وو. د یمن د مشهور خاندان حمیر سره ئې تعلق وو. دې غلام وو. نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل که ته خپل خاندان ته لاړشه او که غواړې زمونږ سره ئې ستاس شمار به په اهل بیتو کښې کیږی نو دوی اهل بیت سره شمار کیدو ته په خپل خاندان باندې ترجیح ورکړه (۱)

د نبی کریم ﷺ سره محبت: د نبی کریم ﷺ سره به همیشه دپاره اورسیدلو او د دوی خدمت به ورته د ځان نه زیات خوښ وو. په یوه موقع نبی کریم ﷺ فرمائیلی وو کله هم چاته لاس مه نیسئ ددې نه پس که د سورلئ نه به چابک پریوتلو نودهغې د راوچتولودپاره به ئې هم چاته نه وئیل(۲)

د نبی کریم ﷺ خدمت: د نبی کریم نه ئې ښه استفاده کړې ده د دې وجې حافظ ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی چه دوی ډیر احادیث یاد کړی وو. اود دې اشاعت ئې هم کړې دې.

تسهیلات: قوله: اسْتَقِيمُوا:

د استقامت په عظمت کښې اقوال:

① استقامت سره متعلق حضورپاك ﷺ فرمائیلی دی "شیبتنی هود وأخواتها"

② حضرت عمر رضي الله عنه فرمائیلی دی استقامت دې ته وائی چه "لا یروغون روغان الثعالب" یعنی دَ لومبړې په شان تیږونه نه وهی بلکه په حق باندې کلك شی.

③ حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه وغیره فرائض اعمال باندې کلك اوسیدو ته استقامت فرمائیلې دې

④ امام غزالی رحمه الله دې ته دَپل صراط نوم ورکړې دې هم دغه وجه ده چه صوفیاء کرام وائی "الاستقامة خیر فوق من الف کرامة"

قوله: "وَلَنْ تُحْصُوا"

د عدم احصاء مطلب: چونکه داکار ډیر مشکل وو په دې وجه حضورپاك اوفرمائیل. "ولن تحصوا" یعنی داکارستاسودَپاره ډیرګران دې که چرې تاسو دااونه کړې شو نودومره خو اوکړئ چه دوام علی الوضوء کوئ ځکه چه دادَمؤمن نښه ده او محافظت علی الصلوة دَپاره معاون دې.

دحدیث دويم مطلب: په دین باندې بغیردَ کمی زیاتی نه تګ کوئی اومکمل حقوق اداکوئی. دَاخلاقو استقامت وی اوکه دَعقائدوعبادات استقامت وی مګردامشکل دې محنت به کول پکار دی.

(۱) اسدالغابة (۲۴\۱٤)- (۲) مسند احمد(۲۷۷\۵)- (۳) الترمذی فی الزهد باب ما جاء فی طول العمر للمؤمن رقم، ۲۲۵۱،وکذا احمد،فی مسند الشامیین رقم، ۱۷۱۲۰) (٤)وفی مسند مکیین حدیث عبید بن خالد سلمی رقم ٥٤٩٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۲۴۳] اودس دپاسه اودس کولو باندې لس نیکۍ ملاویدل

۲۴۳-()[۱۲] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② «مَنْ تَوَضَّأَ عَلَى طُهْرٍ ③ كُتِبَ لَهُ عَشْرُ حَسَنَاتٍ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او ابن عمر رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② کوم سړي چې په اودس دپاسه بل اودس وکړي ③ نو د هغه د پاره لس نیکۍ لیکل کیږي. (ترمذي)

حل اللغات: ① طُهْرٍ: پاکوالي، ددې نه مراد اودس دي. ② حَسَنَاتٍ: دحسنة جمع ده، نیکو ته وائي.

تسهیلات:

قوله: مَنْ تَوَضَّأَ عَلَى طُهْرٍ:

په وضوء على الوضوء باندې د لس چنده ثواب ملاویدو شرط: دا د وضوء على الوضوء مسئله ده. په دې د لس چنده ثواب وعده شوې ده. خو په دې کښې دا شرط دی.

① چې اول اودس څخه څه عبادت اوکړی ② یا یو دنیاوی کار اوکړی او فاصله پیداکړی چې هغې سره حد فاصل پیدا شي. ③ او مجلس هم تبدیل شی، اوکه داسې نه وی نو یو مجلس کښې د اودس کولو نه پس څه نیك کار کولو نه بغیر اودس کول د اسراف په زمره کښې راځي. او دې ته صاحب فتح القدیر مکروه وئیلی دی.

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۴۴] اوس د مونځ کنجي

۲۴۴-()[۱۳] ① عَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② «مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ الصَّلَاةُ ③ وَمِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطَّهُورُ» رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ① حضرت جابر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② د جنت کیلي (چابي) مونځ دي ③ او د مونځ کیلي (چابي) اودس دي. (احمد)

حل اللغات: ① مِفْتَاحُ: ددې جمع مفاتیح راځي، چابي ته وائي، ② الطَّهُورُ: چه فتحې سره شی نو معنی ئې ده د اودس اوبه، اوچه ضمې سره شی نو معنی ئې ده پاکوالي.

---

(۱) اخرجه ترمذی والترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ باب الوضوء لکل صلاة (رقم-۵۹) وابوداود کتاب الطهارة ،باب الرجل یجدد الوضوء من غیر حدث (رقم-۶۲) وابن ماجه کتاب الطهارة وسننها/باب الوضوء علی الطهارة(رقم-۵۱۲)

(۲) اخرجه احمد فی المسند:-۳/۳۴۰

تسهیلات:

قوله: مِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُوْرُ:

د مفتاح الجنة سره د صلاة تشبیه: داتشبیه ده چه صلوة اومونځ دَ یوخزاني په شان دی او اودس دَدې دَپاره دَ کجنئ په شان دي اودغه شان جنت یوه خزانه ده اومونځ دَهغې کنجي ده. اوقاعده ده چه دبنده خزانه بغیردَ کنجئ نه نه شي کولاویدې. لهذا مونځ بغیردَ اودس نه ممکن نه دي اودَ جنت داخله بغیرد مونځ نه ممکن نه ده.

[۲۹۵] اودس کښې کمې کول مانځه کښې د خطا کیدو سبب

۲۹۵-(۱)[۱۴] [۱] وَعَنْ شَبِیْبِ بْنِ أَبِیْ رَوْحٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- «عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ [۲] أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ- صَلَّى صَلَاةَ الصُّبْحِ فَقَرَأَ الرُّوْمَ [۳] فَالْتَبَسَ عَلَیْهِ، فَلَمَّا صَلَّى، قَالَ: [۴] مَا بَالُ أَقْوَامٍ یُصَلُّوْنَ مَعَنَا لَا یُحْسِنُوْنَ الطُّهُوْرَ؟! [۵] وَإِنَّمَا یَلْبِسُ عَلَیْنَا الْقُرْآنَ أُولٰئِكَ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت شبیب بن ابي روح د حضور ﷺ په اصحابو ﷺ کې یو صحابي څخه روایت کوي [۲] چې رسول ﷺ یو ځل د سحر مونځ وکړو او په هغې کښې یې سورة روم اووئیلو [۳] حضور ﷺ ته اشتباه وشوه کوم وخت چې یې مونځ وکړو نو وي فرمایل [۴] خلقو له څه شویدي چې زمونږ سره مونځ کوي او په ښه شان اودس نه کوي [۵] او په دې وجه دا خلق په مونږ باندې په قرآن کې اشتباه راولی. (نسائي)

حل اللغات: ① فَالْتَبَسَ: یَعْنِي قِرَاءَتَهُ اشْتَبَهَتْ: قراءت کښې پرې اشتباه راغله یعنی شک ئې شو. ② مَا بَالُ: أَيْ: مَا حَالُ: څه حال دې، څه شوی دی. ③ لَا یُحْسِنُوْنَ: أَيْ: لَا یَأْتُوْنَ بِوَاجِبَاتِهِ وَسُنَنِهِ: د اودس ښانست والی نه مراد دهغې واجبات او سنت وغیره آدابو لحاظ ساتل دی. ④ یَلْبِسُ: أَيْ: یَخْلِطُهُ وَیُغَلِّطُهُ: خلط او اشتباه راولی، ګډ وډ کوی.

تسهیلات:

قوله: مَا بَالُ أَقْوَامٍ یُصَلُّوْنَ مَعَنَا لَا یُحْسِنُوْنَ الطُّهُوْرَ؟

دمقتدی اثر په امام: دې حدیث مبارك کښې دې طرفته اشاره ده چې د یو عمل کوم آداب او سنن وی هغه دغه عمل لره کامل ګرځوی او دا دبرکت سبب جوړیږی. ددې برکت اثر نه صرف د یو عامل ذات پورې محدود وی بلکه ددې اثر په نوروخلقو باندې هم پریوزی. لکه څنګه چې یو کس کښې څه کوتاهی یا قصور وی او دا د عالم د خپل ذات نه علاوه نورو دپاره هم ضرر وی. ددې نه دا معلومه شوه چې هرکله په سنتو او آدابو باندې عمل نه کیږی نو بیا به د فتوحاتو دروازې بندیږی.

(۱) اخرجه نسائی کتاب الافتتاح/باب القراءة فی الصبح بالروم (رقم-۹۴۷) واحمد فی المسند:-۳۶۳/۵

Maktaba Tul Ishaat.com

د مجلس اثر: حقیقت کښې دا حدیث مبارك د هغه خلقو دپاره یو عبرت دې کوم چې دبصیرت سترګې نه لري کوم چې ددې خبرې قائل نه دی چې صحبت کښې ګنی تاثیر هم وی او ددې نه دغه خلق منکر هم وی . نو دداسې خلقو دپاره د عبرت مقام دې سرور کائنات ﷺ ته اګر چې یوه مرتبه حاصله وه او قرآن چې دالله تعالی د تقرب ذریعه ده ، هم په دې وجه د یو ادنی امتی اثر په دوی ﷺ باندې اوشو. چې هغه نه د اودس په آدابو یا سنتو کښې څه کوتاهی یا قصور شوې وو. او ددې په وجه نبی کریم ﷺ قرآت کښې په متشابه کښې غلط شو. نو دداسې خلقو به څه حشر وی چې شپه ورځ د فسق وفجور په صحبتونو کښې ناست وی.

نو معلومه شوه چې خیر په دې کښې دې چې د فاسقانو اوفاجرانو صحبت ترك کول پکار دی او د علماء کرامو ، صوفیاء کرامو او نیك بندګانو په صحبت کښې ناسته پکار ده . او دې سره به په هغوی کښې دصحبت اثرات زیات شی. او دا مجالس د دین اودنیا د خیر خیګړې ضامن دې.

د روایت راوی: د روایت په شروع کښې راوی د هغه صحابی نوم نه دې ذکر کړې کوم نه چې دا حدیث پاك نقل شوې دې.خو میرك شاه رحمة الله علیه لیکلی دی چې هغه صحابی حضرت ابوذر غفاری ﷺ دې.

[۲۹] دایمان په کاملیت کښې د پاکۍ کردار

۲۹–(۱)[۱۵] ⑴ وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ قَالَ: ⑵ عَدَّهُنَّ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي يَدِي -أَوْفِي يَدِهِ ⑶ قَالَ: («التَّسْبِيحُ نِصْفُ الْمِيزَانِ، ⑷ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ يَمْلَؤُهُ، ⑸ وَالتَّكْبِيرُ يَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، ⑹ وَالصَّوْمُ نِصْفُ الصَّبْرِ، ⑺ وَالطُّهُورُ نِصْفُ الْإِيمَانِ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.

ترجمه: ⑴ او د قبیله بني سُلیم یو سړي راوي دي هغه وائی ⑵ چې رسول الله ﷺ زما په لاس باندې یا په خپل لاس باندې شمیر کړل ⑶ وې فرمایل سُبْحَانَ الله ویل (یعنې د دې ثواب) نیم ترازو (تله) ډکوي ⑷ او اَلْحَمْدُ لله (د سُبْحَان الله سره ویل) یا (فقط اَلْحَمْدُ لله) ویل پوره ترازو ډکوي ⑸ او الله اکبر هغه شي ډکوي چې د آسمان او زمکې په مینځ کې دي ⑹ او روژه نیم صبر دي ⑺ و پاك اوسیدل نیم ایمان دي، (ترمذي دا حدیث روایت کړي دي او ویلي یې دي چې دا حدیث حسن دي.)

حل اللغات: ① عَدَّ: شمیر ئې اوکړو، اوئې شمیرل. ② التَّسْبِيحُ: سبحان الله ونیل، ددې نه مراد یا نفس سبحان الله ونیل مراد دی چه دا به مجسم شی یا ددې ثواب مراد دې ③ الْمِيزَانِ: تله د میزان.

(۱) اخرجه ترمذی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۵۱۹) واحمد فی المسند:-۵/۳۶۳

تسهیلات:

قوله: التَّسْبِيحُ نِصْفُ الْمِيزَانِ:

په تسبیح باندې د نصف المیزان د اطلاق وجه: ځکه چه تسبیح دَ صفات سلبیه نه دَ تنزیه اوپاکئ نوم دې او صفات سلبیه دَ صفات ثبوتیه په مقابله کښې نصف دی. او الحمدلله دَ صفات ثبوتیه نه دې لهذا دَ دواړو په جمع کیدو سره تله ډکیږی.

قوله: وَالصَّوْمُ نِصْفُ الصَّبْرِ:

په صوم باندې د نصف الصبر د اطلاق وجه: په روژې سره د شهوت فرج او دَ شهوت بطن تولو مرغوباتو نه اختراز راځي لیکن صبر دَ دریو اجزاؤ دَ مجموعې نوم دې. یعنی صبرعلى الطاعة صبرعلى المصيبة او صبرعن المعصية. لهذا په صوم کښې دا ټول اجزاء نه وی بلکه دوه غټ اجزاء یعنی صبرعن شهوة البطن او صبرعن شهوة الفرج وی. نو په دې وجه صوم ته نصف صبر اووئیلې شو.

[۲۸۴] په اودس سره د اندامونو څخه د ګناهونو خارجیدل

۲۸۴-()[۱۲][۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ الصُّنَابِحِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ([۲] «إِذَا تَوَضَّأَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ فَمَضْمَضَ، [۳] خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ فِيهِ. [۴] وَإِذَا اسْتَنْثَرَ، خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ أَنْفِهِ [۵] وَإِذَا غَسَلَ وَجْهَهُ، خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ وَجْهِهِ، [۶] حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَشْفَارِ عَيْنَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبدالله صنابحي رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] هرکله چې مومن بنده د اودس اراده کوي او خُله وینځي [۳] نو ګناه د هغه دخُلې څخه خارجیږي [۴] او کله چې پوزه صفا کوي (سونګوي) نو ګناه د هغه د پوزې څخه خارجیږي [۵] او کله چې خپل مخ وینځي نو ګناه د هغه د مخ څخه خارجیږي [۶] تر دې چې د هغه د سترګو د بڼو د لاندې څخه هم ګناه وځي

[۱] فَإِذَا غَسَلَ يَدَيْهِ، خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ يَدَيْهِ [۲] حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِ يَدَيْهِ. [۳] فَإِذَا مَسَحَ بِرَأْسِهِ، خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ رَأْسِهِ حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ أُذُنَيْهِ. [۴] فَإِذَا غَسَلَ رِجْلَيْهِ، خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ رِجْلَيْهِ، [۵] حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِ رِجْلَيْهِ [۶] ثُمَّ كَانَ مَشْيُهُ إِلَى الْمَسْجِدِ وَصَلَاتُهُ نَافِلَةً لَهُ») رَوَاهُ مَالِكٌ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او هرکله چې خپل دواړه لاسونه وینځي نو ګناه د هغه د دواړو لاسونو څخه خارجیږي [۲] تر دې چې د هغه د دواړو لاسونو د نوکونو د لاندې څخه هم ګناه خارجیږي [۳] او هر کله چې د خپل سر مسح کوي نو ګناه د هغه د سر څخه خارجیږي تر دې چې د هغه د

(۱) اخرجه مالک کتاب الطهارة باب جامع الوضوء (رقم-۳۰) ابن ماجه کتاب الطهارة وسننها باب لا يقبل الله صلاة بغير طهور (رقم-۲۷۲) واحمد فی المسند:-۳۴۹/۴ والنسائی کتاب الطهارة/باب مسح الأذنين مع الرأس وما يستدل به على أنهما من الرأس (رقم-۱۰۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

دوارو غوږونو څخه هم ګناه وځي ④ او هر کله چې خپلي دواړي پښي وينځي نو ګناه د هغه د دوارو پښو څخه وځي ⑤ تر دي چې د پښو د نوکونو لاندي څخه هم وځي ⑥ او بيا د مسجد طرف ته تلل او د هغه مونځ د هغه دپاره په اعمالوکې زيات والي وي. (مالك نسائي)

حل اللغات: ① فَتَمَضْمَضَ: أَيْ: غَسَلَ فَمَهُ: يعني خُله ئې اووينځله. اصل کښي مضمضه (تَحْرِيكُ الْمَاءِ فِي الْفَمِ) خوله کښي اوبه شربولو ته وائي، ددې نه مراد د خلې په وينځلوکښي مبالغه کول دی. ② اسْتَنْثَرَ: هُوَ إِخْرَاجُ الْمَاءِ مِنَ الْأَنْفِ بَعْدَ الِاسْتِنْشَاقِ: پوزه کښي داوبو ا چولو نه پس واپس راويستلو ته انتثار وائي. ③ أَشْفَارِ: أَيْ: أَهْدَابِهِمَا: د سترګو د بڼړو نه.

تسهيلات:

قوله: حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ أُذُنَيْهِ:

د سر په مسح کښي د غوږونو تابعيت: دَ سر په مسح کولوسره چه کومه ګناه خارج شوه دَهغې لاز غوږاوخودلې شوه. معلومه شوه چه دواړه غوږونه دَسر په مسح کښي تابع دی. لهذادَدې دَپاره دَنوو اوبو راخستو ضرورت نشته. وړاندې دا مسئله راروانه ده.

[۲۹۸] د قيامت په ورځ د امت محمدی پيژندګلو

۲۹۸ - (۱۷)[۱] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - ② أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «أَتَى الْمَقْبَرَةَ ③ فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ ④ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ، ⑤ وَدِدْتُ أَنَّا قَدْ رَأَيْنَا إِخْوَانَنَا) ⑥ قَالُوا: أَوَلَسْنَا إِخْوَانَكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ ⑦ قَالَ: (أَنْتُمْ أَصْحَابِي، ⑧ وَإِخْوَانُنَا الَّذِينَ لَمْ يَأْتُوا بَعْدُ ⑨ فَقَالُوا: كَيْفَ تَعْرِفُ مَنْ لَمْ يَأْتِ بَعْدُ مِنْ أُمَّتِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دي ② چې يو وخت رسول الله ﷺ جنت البقيع مقبري ته د دعـايي مغفـرت د پاره تشريف راوړو (دلته رارسيدو سره) ③ حضور ﷺ وفرمايل اي د مومنانو جماعته په تاسو دي سلامتي وي (يعني اهل قبورو ته يې سلام اووئيلو او وي فرمايل) ④ مونږ هم انشاء الله ستاسو سره يو ځاي کيدونکي يو ⑤ او زه د دې خبري ارزولرم چې مونږ خپل وړونه ليدلي وې ⑥ صحابه رضي الله عنهم عرض وکړو يا رسول الله آيا مونږ ستاسو ورونه نه يو ⑦ حضور ﷺ وفرمايل تاسو خما صحابه يئ ⑧ او زما وروڼه هغه دي چې اوس لا دنيا ته نه دي راغلي ⑨ صحابه رضي الله عنهم عرض وکړو يا رسول الله ستاسو په امت کې چې کوم خلق لانه دي راغلي هغه به تاسو په قيامت کې څنګه پيژنې؟

حل اللغات: ① الْمَقْبَرَةَ: قبرستان، ددې نه مراد جنت البقيع د مديني مشهور قبرستان دی. ② دَارَ قَوْمٍ: دار منصوب دې د نداء په وجه، او دار نه مراد جماعت او اهل جماعت دی، د کور

[۱] اخرجه مسلم كتاب الطهارة باب استحباب إطالة الغرة والتحجيل فى الوضوء(رقم-۳۹ - (۲٤۹) واحمد فى المسند:-۲/۳۰ والنسائى كتاب الطهارة/حلية الوضوء(رقم-۱٥۰)

په معنی کښې هم راځی یعنی اې د مومنانو ډلې ③ لاحقون: یوځاې کیدونکی یو. ④ وَدِدْتُ أي تَمَنَّيْتُ وأَحْبَبْتُ: زه خواهش لرم، خوښوم،

① فقال: (أرأيت لو أن رجلاً له خيل غر محجلة، ② بين ظهري خيل دهم بهم، ③ ألا يعرف خيله؟) ④ قالوا: بلى، يارسول الله ⑤ قال: (فإنهم يأتون غرا محجلين من الوضوء، ⑥ وأنا فرطهم على الحوض»). رواه مسلم.

ترجمه: ① حضور ﷺ وفرمایل ما ته دا اوایئ: که د سړي سره د سپین تندي او سپین لاس پښنو والا اسونه وي ② او هغه د ډیرو تور آسونو سره یو ځاي شوي وي ③ نو آیا هغه به خپل آسونه پیژني؟ ④ صحابه ورضي الله عنهم عرض وکړو هو یا رسول الله ﷺ اد دې امتیازي اوصافو په بناء به یې! یقینا پیژني ⑤ حضور ﷺ وفرمایل هغوی به د قیامت په ورځ د اودس اثر د وجې سپین تندی او سپین لاسو پښنو سره راځي (نو په دې علامت سره به زه هغوی پیژنم) ⑥ او زه به په حوض کوثر باندې د هغوئ څخه مخکې ولاړ یم. (مسلم)

حل اللغات: ⑤ خَيْلٌ: اسونه، ⑥ غُرٌّ: دا د أغَرّ جمع ده، وَهُوَ الأَبْيَضُ الوَجْهِ: سپین مخ والا ته وائی. غرة اصل کښې هغه سپین داغ ته وائی کوم چې د آس په تندی باندې وی، بیا دَ هر روښانه او مشهور څیز دَپاره استعمال شوې دې. ⑦ مُحَجَّلِينَ: دا د تحجیل نه ماخوذ دې، وَهُوَ الدَّوَابُ الَّتِي قَوَائِمُهَا بِيضٌ: هغه څاروې چه خپې ئې سپینې وی دا اصل کښې په اسونو کښې وی او دا ډیر ښائسته وی ⑧ ظَهْرَيْ: مینځ، ⑨ دُهْمٍ بُهْمٍ: أي: سُودٍ: تک تور، یا داسې رنګ والا اسونه چه بل رنګ پکښې نه وی. ⑩ فَرَطُهُمْ: أي: مُتَقَدِّمُهُمْ: مخکښې نه به ولاړ یم، فرط هغه کس ته وائی چه د قافلې نه مخکښې لاړشی اود راتلونکې قافلې دپاره د اوبو وغیره انتظامات اوکړی.

تسهیلات:

قوله: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ:

د مړو سلام اوریدل: قبرستان کښې مړوباندې سلام کول ثابت دی اومسنون طریقه ده مړی سلام اوری په دې باندې نور څیزونه قیاس کول قیاس مع الفارق دې. دَ سماع موتی مطلق انکارکول تفریط دې او بالکل دَ هرې خبرې هروخت دَ اوریدلوعقیده لرل افراط دې. اعتدال دادې چه دکومو نصوصونه سماع ثابت ده هلته سماع ده اوچرته چه نشته نوهلته نشته. دَ سماع نصوص هم خلاف عقل دی. کوم چه په خپل مورد کښې بند دی په دې باندې نور اشیاء نه شی قیاس کولې.

قوله: وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّهُ

اشکال: دلته دا اشکال کیدې شی چې دا خو یقینی خبره ده چې مونږ ټول به مرو او په عالم برزخ کښې به د مړو سره یوځائې کیږو نوبیا دلته د ,,الا‌‌" کلمې راوړلوڅخه مطلب دې.څکه چې دا خو دَ استثناء دپاره ده.یعنی که دالله تعالی خوښه شی حالانکه الله تعالی خو دا قانون مقرر کړې دې چې ,,کل نفس ذائقة الموت،" یعنی هرساه لرونکې به مری.

Maktaba Tul Ishaat.com

داشکال جوابونه: امام نووی رحمه الله دعلماء کرامو نه ددې ډیر جوابونه نقل کړې دی!
① اظهر دا دې چه دا استثناء د شک دپاره نه ده، پس استثناء کله په امر غیر واجب کښې هم وی لکه د الله پاک ارشاد ﴿لتدخلن المسجد الحرام ان شاء الله﴾ حال دا چه الله پاک د شک نه بری دې. احمد بن یحیی رحمه الله فرمائی چه په دې آیت کریمه کښې استثناء د تادیب دپاره ده چه خلق په خپل کلام او خبرو کښې د دې د استعمالولو ادب زده کړی او رسول الله ﷺ چه کوم ﴿ان شاء الله بکم لاحقون﴾ فرمائیلې دې دا په طور د تبرک دې نه په طور د شک.
② ان شاء الله د متکلم (رسول الله ﷺ) عادت دې چه په کلام کښې حسن پیدا شی.
③ دا قبرستان کوم ته چه هغوی تشریف اوړلې وو په مدینه منوره کښې دې، چونکه رسول الله ﷺ ته په مدینه طیبه کښې د خپل وفات یقین نه وو او څنګه به وو چه دا د علوم غیبیه نه دې په دې وجه رسول الله ﷺ ﴿ان شاء الله﴾ اوفرمائیلو.
④ حرف د ان د ﴿اذا﴾ په معنی کښې دې کوم چه د یقین دپاره مستعمل دې.
⑤ چونکه د رسول الله ﷺ سره په دې وخت کښې بعض منافقین هم وو په دې وجه د هغوی په لحاظ رسول الله ﷺ ﴿ان شاء الله﴾ اوفرمائیلو. (فتح الملهم)

د راتلونکو خلقو د تمنا وجه: علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه د اصحاب قبور سره د راتلونکو خلقو د لیدلو خواهش په حقیقت کښې د تصور سابقین په وخت د تصور لاحقین د وجې نه پیدا شو. یا د رسول الله ﷺ عالم ارواح لره منکشف کړې شو.

قوله: قَالُوا: أَوَلَسْنَا إِخْوَانَكَ

د اخوان په مصداق کښې اقوال: ① علامه باجی رحمه الله فرمائی چه دلته د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه د اخوت نفی نه ده کړې شوې څکه چه د یو بل دپاره د اهل ایمان اخوت د قرآن کریم نه ثابت دې. ﴿انما المؤمنون اخوة﴾ بلکه صحابیت کوم چه د اخوة نه هم یو زائد مرتبه ده هغه ئې ذکر کړه، د قاضی عیاض د قول نه هم د دې تائید کیږی.
② امام نووی رحمه الله او قاضی عیاض رحمه الله فرمائیلې دی چه اخوت او صحبت دواړه اوصاف د صحابه کرامو رضی الله عنهم دپاره ثابت دی او کوم خلق چه د رسول الله ﷺ د نبوت د زمانې پورې دنیا ته نه دی راغلی د هغوی دپاره صرف اخوت ثابت دې.

قوله: أَنْتُمْ أَصْحَابِي:

یعنی تاسوخو زمونږ د رونړو کیدوسره سره ملګرې هم ئې اوروستو راتلونکی صرف رونړه دی دملګری کیدووصف په هغوی کښې نشته دې په دې وجه ئې "اخواننا" وئیلو "دهم بهم" یعنی تك تور.

[۳۳] د امت محمدی په پیژندګلو کښې د اودس کردار

۳۳—( ) [۱۸] [۱] وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «أَنَا أَوَّلُ مَنْ يُؤْذَنُ لَهُ بِالسُّجُودِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [۳] وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ يُؤْذَنُ لَهُ أَنْ يَرْفَعَ رَأْسَهُ، [۴] فَأَنْظُرُ إِلَى مَا بَيْنَ يَدَيَّ فَأَعْرِفُ أُمَّتِي مِنْ بَيْنِ الْأُمَمِ، [۵] وَمِنْ خَلْفِي مِثْلُ ذٰلِكَ، وَعَنْ يَمِينِي مِثْلُ ذٰلِكَ، وَعَنْ شِمَالِي مِثْلُ ذٰلِكَ

ترجمه: [۱] ابودرداء رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د قيامت په ورځ به په هغه خلقو کې د ټولو څخه مخکښي سړي زه يم چاته چې به د سجدې کولو اجازت ورکول شي [۳] او بيا به په هغه خلقو کې د ټولو څخه مخکښي سړي زه يم چاته چې به د سجدې څخه د سر پورته کولو اجازت ورکول شي [۴] نو زه به د هغه شي طرف ته ګورم چې زما مخې ته به وي (يعني د مخلوق مجمع) او زه به د امتونو په مينځ کې خپل امت پيژنم [۵] بيا به زه وروسته طرف ته داسې او خپل ښي او ګس طرف ته هم داسې ګورم [يعني څلور واړو طرفونو ته به د خلقو رش (ګڼه ګونه) وينم او په هغوئ کې به خپل امت پيژنم]

[۱] فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ تَعْرِفُ أُمَّتَكَ مِنْ بَيْنِ الْأُمَمِ [۲] فِيمَا بَيْنَ نُوحٍ إِلَى أُمَّتِكَ؟ [۳] قَالَ: هُمْ غُرٌّ مُحَجَّلُونَ مِنْ أَثَرِ الْوُضُوءِ، [۴] لَيْسَ أَحَدٌ كَذٰلِكَ غَيْرَهُمْ، [۵] وَأَعْرِفُهُمْ أَنَّهُمْ يُؤْتَوْنَ كُتُبَهُمْ بِأَيْمَانِهِمْ، [۶] وَأَعْرِفُهُمْ تَسْعَى بَيْنَ أَيْدِيهِمْ ذُرِّيَّتُهُمْ»). رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] يو صحابي عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ پدې ټولو امتونو کې به ته خپل امت څنګه پيژنې؟ [۲] چې د نوح عليه السلام د امت څخه به ستاتر امته پورې وی [۳] حضور ﷺ وفرمايل زما امت به د اودس د اثر د وجې سپين تندي او سپين لاس او پښې وي [۴] د دې امت څخه به ماسوا بل هيڅ امت داسې (امتيازي وصف سره) نه وي او زه به خپل امت داسې هم پيژنم چې زما د امت خلقو ته به د هغوئ اعمالنامې په ښي لاس کې ورکول شي [۶] او په دې وجه به يې هم شناخت کوم چه د هغوئ (کم کلنې) اولاد به د هغوئ په مخکې ځغلې. (احمد)

حل اللغات: ① تَسْعَى: منډې به وهی، ② ذُرِّيَّتُهُمْ: اولاد دهغوی، واړه بچی.

تسهيلات:

قوله: وَأَعْرِفُهُمْ أَنَّهُمْ يُؤْتَوْنَ كُتُبَهُمْ بِأَيْمَانِهِمْ:

اشکال: په آخرت کښې خومره کامياب مسلمانان اومؤمنان وی ټولوته به عمل نامه په ښی لاس ورکولې شی نو بيا دَدې امت دَ مؤمنانوڅه خصوصيت پاتې شو؟

داشکال جواب: سره دَدې چه دَ نورو امتونو کسانوته به هم عمل نامه په ښی لاس ورکولې شی مګر دې امت ته به په يوخاص شان اواعزازسره ورکولې شی هم دلته بيان شوې دې.

(۱) واحمد فی المسند:- ۱۹۹/۵

قوله: تَسْعَى بَيْنَ أَيْدِيهِمْ ذُرِّيَّتُهُمْ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال:

① دَهغوی مخې ته به لوبې کوي اومنډې به وهي دادَ فراخئي خوشحالئي او دَ نه ویریدو طرف ته اشاره ده کیدې شي چه دَنوروامتونوخلق دَخوشحالئ په دې کیفیت کښې نه وی.

② یعنی دَهغوی اولادبه دَهغوی نه روميې وړاندې وړاندې جنت طرف ته منډې وهی

[۱/۶] بَابُ مَا يُوجِبُ الْوُضُوءَ

دا باب د هغه څیزونو په بیان کښې دې چې اودس واجبوی

خلاصة الباب:

فيه ثمانية وعشرون حديثاً مشتملة على مسئلتين ،

المسئلة الأولى: ذكر موجبات الوضوء وأسبابه وهي ثمانية.

① الصلوة: ۱، ۲، ۱۳.
② خروج المذى: ۳، ۱۱.
③ أكل ما مسته النار: ۴، ۵.
④ خروج الريح: ۶، ۱۰، ۱۳.
⑤ النوم: ۱۴، ۱۵، ۱۶،
⑥ مس الذكر: ۱۷.
⑦ مس المرأة : ۲۵، ۲۶، ۲۷.
⑧ خروج الدم السائل من الجسد: ۲۸.

المسئلة الثانية: ذكر الأشياء الغير الموجبة للوضوء: ۷، ۸، ۹، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۲، ۲۱، ۲۳، ۲۴

الْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۳۰۰] د مانځه د پاره د اودس فرضیت

۳۰۰-(۱) [۱] ①عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②«لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ مَنْ أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابوهریره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② د بې اودسه مونځ نه قبلیږي ترڅو پورې چې اودس ونه کړي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①لَاتُقْبَلُ: ددې یو مطلب او معنی لا تصح ده ، دویم مطلب او معنی ئي (لایترتب علیه الثواب) ده دلته اوله معنی مراد ده ، یعنی اودس نه بغیر مونځ نه صحیح کیږی. ② أَحْدَثَ: أي: صَارَ

[۱] اخرجه البخاری فی صحیحه رقم الحدیث ۱۳۵ ومسلم فی صحیحه رقم الحدیث ۲/ ۲۲۵ وابوداود فی السنن رقم الحدیث ۶۰ والترمذی فی السنن رقم الحدیث ۷۶ واحمد فی المسند ۲/ ۳۰۳

ذَاأَحْدَثَ: چه بې اودسه شی.(دې نه یا خو حدث قبل الصلاة مراد دې یا حدث فی اثناء الصلاة.)

تسهیلات: قوله: لَاتُقْبَلُ صَلَاةٌ:

د قبول دوه معانی: قبول په دوه معنوکښې مستعمل دې

① یوقبول اصابت ② اوبل قبول اجابت

د قبول اصابت مطلب: دقبول اصابت مطلب دې ((کون الشئ مستجمعا لجمیع الشرائط والارکان)) په دې معنی دا د صحت مترادف دې . او د دې نتیجه په دنیاوی اعتبارسره فراغ الذمه ده.

د قبول اجابت مطلب: اودقبول اجابت مطلب دادې . د ((وقوع الشئ فی حیزمرضاة الرب سبحانه وتعالی)) یعنی دالله تعالی درضا دپاره دیوڅیز واقع کیدل. ددې نتیجه د آخرت ثواب دې .

د قبول اصابت مثال: په قرآن کریم او حدیث کښې لفظ دقبول په دواړو معنوکښې استعمال شوې دې . مثلاً معروف حدیث ((لایقبل الله صلوة حائض الابخمار))(¹) یعنی د بالغې ښځې مونځ بغیر د پړونی څخه جائز نه دې. کښې قبول اصابت مراد دې .

د قبول اجابت مثال: دویم په ((من شرب الخمرلم تقبل له صلوة اربعین صباحًا))(²) دې کښې قبول اجابت مرادې دې .

کومه معنی حقیقی ده؟: دې کښې اختلاف دې چه لفظ دقبول حقیقی معنی څه ده . حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه لفظ قبول د اجابت په معنی کښې حقیقت دې اوداصابت په معنی کښې مجازدې خو علامه عثمانی رحمه الله په " فتح الملهم " کښې دا د اصابت په معنی کښې حقیقت اواجابت په معنی کښې مجازګرځولې دې .

په حدیث الباب کښې مراده معنی: بیاقابل دغور خبره داده . چه دې حدیث کښې دقبول کومه معنی مراد ده .

① **توقف:** علامه تقی الدین رحمه الله ابن دقیق العید رحمه الله فرمائی چه د په حقیقت کښې په دواړو معنوکښې مشترك دې . اودیومعنی هم هیڅ قرینه نشته . د دې وجې مونږه له ددې حدیث په تشریح کښې توقف کول پکار دی.

② **قبول اصابت:** خود جمهورو په نزد دلته قبول اصابت مراد دی . دې صورت کښې علامه عثمانی رحمه الله په قول خو هیڅ اشکال نشته . ځکه چه ددوئ په نیز هم دا د دې لفظ حقیقی معنی ده . البته د حافظ ابن حجر رحمه الله په قول اشکال کیدې شی . چه معنی حقیقی پریخودې شوې ده . اوهغه قرینه دا ده . چه د ټول امت په دې خبره اجماع ده . چه مونځ بغیر دطهارت څخه صحیح اومعتبرنه دې

¹) ابوداود ۹٤۱۱ کتاب الصلوة باب المراة تصلی بغیر خمار

²) ترمذی ۱۶۱۲ ابواب الاشربه باب ماجاء فی شارب الخمر . اوکماقال صلی الله علیه وسلم)

Maktaba Tul Ishaat.com

③ **قبول اجابت:** خو د امام ترمذی رحمه الله دصنيع څخه داسې معلوميږي چه دلته دقبول نه مراد قبول اجابت اخلی ځکه چه ترکومې د قبول اصابت تعلق دې . نو ددوئ د دې په طهارت باندې د موقوف کيدو دپاره يو جدا باب په نوم د باب مفتاح الصلوة الطهور قائم کړې دې . ظاهره ده . چه دلته اصابت صلوة مراد دې . اوس که په حديث دباب کښې هم ددوئ په نزد قبول اصابت مراد شی . نوده به دا مکرر ابواب نه قائمول . په هرحال دجمهورو په نز دقبول اصابت مراد دې .

د مانځه دپاره د طهارت شرطيت: دا نکره تحت النفی ده .د دې وجې د عموم فائده ورکوی . حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی چه دا جمله د ((مامن احل فی الدار)) په قوت کښې ده . ددې مطلب دادې چه يو مونځ هم چه هر قسم وی بغير د طهارت څخه نه صحيح کيږی.د دې وجې دا حديث د جمهورو او د حنفيانو دليل دې . امام مالك رحمه الله نه يو روايت داهم دې . چه دې دطهارت څخه بغيرهم دسقوط ذمه قائل دې البته مونځ واجب الاعادة پاتې شو خو حقيقت کښې ددوئ داقول طهارت حقيقت په باره کښې دې نه دطهارت حکميه په باره کښې دينه معلومه شوله چه دمانځه دپاره طهارت حکميه په اجماع دامت شرط دې په هر صورت داحديث ددوئ خلاف حجت دې .

البته دجنازې د مونځ اوسجدة تلاوت په باره کښې اختلاف دې .

① د جمهورو مذهب دا دې چې د جنازې د مونځ اوسجده تلاوت دپاره طهارت شرط دې.

② دامام ابن جرير طبری رحمه الله اودعامر شعبی او ابن عليه مسلك دا دې چه د جنازې مونځ بغيرد اودس څخه صحيح دې . دغه شان د سجده تلاوت باره کښې دامام بخاری رحمه الله مسلك دابن جرير طبری رحمه الله عامر شعبی اوابن عليه سره مطابق دې.

امام بخاری ته د جنازې دپاره دعدم طهارت د قول نسبت: دا مسلك امام بخاری رحمه الله ته هم منسوب دې . خو دا نسبت صحيح نه دې . په حقيقت کښې خلقو ته دا مغالطه د دې خبرې څخه شوې ده.چه امام بخاری رحمه الله د مونځ د جنازې په باره کښې يوځائې ليکلې دی چه ((انما هودعاء کسائر الادعية)) دې څخه خلقو ته داغلط فهمی اوشوه چه د نورو دعاگانو په شان مونځ د جنازې هم بې اودسه کيدې شی . حال دا دې چه دامام بخاری رحمه الله دا منشاء نه وه بلکه دمانځه د جنازې حقيقت ښودل ئې مقصود وو

د جمهورو دليل: حديث د باب دجمهورو دليل دې . ځکه چه سجده تلاوت هم يوقسم مونځ دې چه دهغې دليل دادې . چه قرآن حکيم کښې دسجود په وئيلوسره پوره مونځ مراد اخستې شوې دې مثلاً ((ومن الليل فاسجدله وسبحه ليلاً طويلاً)) اود شپې په څه حصه کښې د هغه الله دپاره سجده کوه.(يعنی مونځ کوه) او اوږده شپه د هغه تسبيح وايه.

د عدم شرطيت طهارت دليل: ددوی استدلال په صحيح بخاری کښې دحضرت ابن عمر

ﷺ یو اثر دې چه تعلیقًا روایت شوي دي. چه هغې کښې دا الفاظ دي «سجد على غير وضوء»

جواب: خو ددې جواب دا دې چه دبخاری داصیلی په نسخه کښې د «سجدة على غير وضوء» په خائې «سجد على وضوء» راغلی دې. چه د جمهورو په مسلك صريح دليل دې.

په وخت د ضرورت د جنازې دپار تیمم: زمونږ حنفیانو په کتابونو کښې دی که جنازه حاضره شوه اوجماعت تیار دې سړی ویریږی که اودس کوی نو د جنازې مونځ په ترې فوت شی نو دپاره تیمم جائز دې.

د طهور لغوی معنی: بضم الطاء مصدر دې. اوبفتح الطاء اله ده دلته بضم الطاء راغلی دې. دې وجه نه معنی به د طهارت وی چه طهارت حقیقی اوحکمي دواړوته شامل دې

د فاقد الطهورين مصداق: ددې حدیث لاندې شارحین یوه دا فقهی مسئله ذکر کوی. یعنی د فاقد الطهورين. یعنی چه چا سره نه اوبه وی اونه داسې خیز وی چې په هغې باندې تیمم کیږی. نو هغه به څه کوی؟ دا صورت په زمانه قدیم کښې خوشاذو نادر وو. نو نن صبا ډیر پیښیږی. مثلاً یو سړې په هوائی جهاز کښې دې.

په جهاز کښې نه اوبه وی اونه هغه څه چې تیمم پرې روا کیږی.

① دامام ابوحنیفه رحمه الله مسلك دادې. چه داسړې دې مونځ نه کوی. بلکه روستو دې قضاء اوکړی.

② دامام احمد رحمه الله مسلك دا دې چه دغه وخت دې مونځ اوکړی او بیا پرې قضاء واجب نه ده.

③ دامام مالك رحمه الله مسلك دا دې چه داسې سړې څخه مونځ ساقط دې. نه په دغه وخت کښې مونځ کول ضروری دی اونه به روستوقضاء راوړی.

④ دامام شافعی رحمه الله نه دې باره کښې څلوراقوال مروی دی. یو د امام ابو حنیفه رحمه الله مطابق اودویم د امام احمد رحمه الله مطابق اوداعلامه مزنی اختیارکړې دې. دریم قول دادې چه «يصلى استحبابا ويقضى وجوبا» په هغه وخت کښې دې د مستحب په حیثیت مونځ اوکړی. او بیا به یې روسته قضاء راوړل واجب وی. اوڅلورم قول دادې چه «يصلى ويقضى وهوالاصح من اقواله» یعنی په هغه وخت کښې به هم مونځ کول فرض وی. او روسته به د هغې قضاء راوړل هم ضروری وی. اودا د وی په اقوالو کښې اصح قول دې.

⑤ امام ابویوسف رحمه الله اوامام احمد رحمه الله دافرمائی چه فاقد الطهورين خوبه دغه وخت صرف تشبه بالمصلين اوکړی یعنی دمونځ شکل به جوړکړی. قراءت به نه کوی اوروستوپرې قضاء لازم ده. د امام ابوحنیفه رحمه الله څخه هم دې قول ته رجوع ثابته ده.

مفتی به قول: اوداحنافو په نیز په دې فتوی ده. او دا قول فقهی اعتبار سره زیات مرجح

Maktaba Tul Ishaat.com

دې داځکه چه شریعت کښې ددې متعدد نظیرونه شته چه کله یو سړې د عبارت په حقیقت قادر نه وی نو هغه ته د تشبیه حکم شوې دې .
① مثلا یو ماشوم د رمضان په میاشت کښې بالغ شی یاکافر مسلمان شی یاحائضه پاکه شی . نو دوئ ته د باقی ورځ د امساك حکم دې چه کوم تشبیه بالصائمین دې .
② دارنګه چه د چا حج فاسد شی نو هغه ته حکم دې چه د دې باقی مناسك حج د نورو حاجیانو په شان اوکړی . چه تشبه بالحجاج ده .
استدلال: نو په به قیاس کولې شی اوفاقدالطهورین ته به د تشبه بالمصلین حکم ورکولې شی . او دا حکم د شریعت د قواعدو عین مطابق دې . او حدیث باب هم د احنافو تائید کوی . ځکه چه حدیث په رنړا کښې هر قسم مونځ بغیر د طهارته صحیح نه دې اودې اطلاق کښې د فاقدالطهورین مونځ هم داخل دې .
ددې حدیث لاندې دویمه فقهی مسئله چه بیانیږی هغه ،،مسئله البناء" ده .
① د احنافو په نیز که د مونځ په دوران کښې یومونځګذار ته حدث لاحق شی نوده لره جائز دی چه لاړشی اودس اوکړی . او واپس راشی او پخپله سابقه افعالو بناء اوکړی .
② د شافعیه وغیره په نیز دا صورت جائز نه دې
د شوافعو دلیل: حافظ ابن حجر رحمه الله د شافعیانو ترجمانی کوی او ددې حدیث څخه د احنافو خلاف استدلال کوی چه څومره وخت طهارت نه بغیر تیرشی دا به صلوة بغیر طهور وی . چه حدیث باب په بناء صحیح نه دې
جواب: ددې جواب دا دې چه اودس دپاره تلل دمانځه جزء نه دې هم دغه وجه ده چه بناء کوونکې به مونځ د هغه ځائې نه شروع کوی چه کوم ځائې څخه حدث لاحق شوې وو . که تلل راتلل د مانځه جزء وې . نو چه امام دې وخت کښې څومره مونځ کړې دې . د هغې د واپس کولو ضرورت به نه وو .
اشکال: په دې اشکال کیږی چه ذهاب وایاب چه دمانځه جزء نه شو نو دا عمل کثیر دې . اوپه عمل کثیر خومونځ فاسدیږی .دارنګه چه دا مونځ نه دې . نودې کښې د کلام اجازت ولې نشته؟
جواب: ددې جواب دا دې چه دې عمل کثیر سره دمونځ نه فاسدیدل اوپه دې دوران کښې د کلام ممنوع کیدل دواړه خلاف قیاس دی.اودا دواړه ددې راروان حدیث څخه ثابت دی.
د حنفیانو دلیل: دحضرت عائشه رضی الله عنها نه مرفوعًا او دارقطنی د حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه اودعبدالله بن عباس رضی الله عنهما څخه روایت کړې دې . یعنی ((**قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من اصابه قیئ اورعاف اوقلس اومذی فلینصرف فلیتوضأثم لیبن علی صلوته وهوفی ذلك لایتکلم**)) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی.کوم مونځګذار ته چې د مانځه په دوران کښې قئ ورغلل،یا یې

په پوزه وینه راغلە اوکړو یا تري مزی لاړه نو واپس دې شی اودس دې اوکړی او په خپل مونځ دې بناء اوکړی خو دې به په دې دوران کښې خبرې نه کوی.[1]

په دې حدیث اعتراض کیږی چه ددې حدیث ټول طرق ضعیف دی .

① د ابن ماجه روایت د اسماعیل بن عیاش عن ابن جریج حجاز طریق سره راغلې دې اود اسماعیل بن عیاش روایت که دغیر شامین څخه وی. هغه مقبول نه وی. او ابن جریر حجازی دې شامی نه دې

② اود عبدالرزاق په روایت کښې یو راوی سلیمان بن ارقم دې هغه متروك دې

③ د سنن دار قطنی د ابوسعید خدرې په روایت کښې ابوبکرالداهری ضعیف دې

④ اودابن عباس په روایت کښې عمر بن رباح ضعیف دې. ددې وجې داحدیث قابل استدلال نه دې. د دې اعتراض درې جوانه دی .

① دا حدیث په متعدد طرقو سره مروې دې اوچه ضعیف حدیث په متعدد طرقو سره مروی وی نو هغه حسن لغیره کیږی اوپه هغې باندې استدلال صحیح وی.

② د دې حدیث طرق موصوله اګر چه ضعیف دی . خو مصنف عبدالرزاق سنن دارقطنی او دابن ابی حاتم په علل الحدیث کښې هم دا حدیث د ابن ابی ملیکه څخه مرسلاً نقل کړې دې. او دا طریق سنداً هم صحیح دې .[2] لکه ابن حاتم په په علل کښې دارقطنی کښې په سنن کښې هم دې طریق مرسل لره صحیح ګرځولې دې .[3] دې نه علاوه دامام بیهقی رحمه الله دا حدیث ابن جریج عن ابیه په طرق سره مرسلاً روایت کړې دې [4]

اودا ئې صحیح ګرځولې دې اومرسل حدیث نه صرف زمونږ بلکه د جمهورو محدثینو په نزد استدلال صحیح دې .

③ د متعدد صحابه کرامو څخه د حدیث دا مضمون موقوفا ثابت دې کوم چې لاندې مونږ ذکر کوو.

① **دعلی رضی الله عنه اثر** : دارقطنی د حضرت علی قول نقل کوی . اوفرمائی ((حدثنا يزيد بن الحسن بن يزيد البزاز نا محمد بن اسماعيل الحسانی نا وكيع نا علی بن صالح واسرائيل عن ابی اسحق عن عاصم عن علی رضی الله عنه قال اذا وجد احدكم فی بطنه رزأ او قيئا اورعافا فلينصرف فليتوضأ ثم ليبن على صلوته مالم يتكلم)) [5]

---

[1]) لفظه للابن ماجه ۸۵\ کتاب الصلوة باب ماجاء فی البناء علی الصلوة)

[2]) رواه الدارقطنی أیضا عن ابن جریج عن ابیه مرسلا وقال أصحاب ابن جریج الحفاظ عنه یروونه عن ابن جریج عن أبیه مرسلا ۱۵۴\۱) _

[3]) علل الحدیث لابن ابی حاتم ۳۱\۱ مطبوعة بغداد سنه ۱۳۴۳ھ) _

[4]) رواه البیهقی ۲۵۶\۲) _

[5]) دارقطنی کتاب الطهارت باب فی الوضوء من الخارج من البدن کالرعاف والقئ والحجامة ونحوه)

Maktaba Tul Ishaat.com

امام دارقطني او ددوئ محشي علامه عظیم ابادي په دې سکوت کړې دې . او دا روایت بيهقي هم په درې طرقو سره ذکر کړې دې . اوددې په راوي عامر بن ضمره باندې ئې کلام کړې دې . خو حافظ ماردیني رحمه الله په الجوهر النقي کښې لیکلي دي .(۱) چه هم دا روایت په مصنف ابن ابي شيبه کښې په داسې سند سره راغلې دې. چه هغه على شرط الصحيح دې.

② د ابن عمر رضي الله عنهما اثر: دغه شان په بيهقي (۲) کښې دحضرت ابن عمر اثر مروي دې . «نافعاحدثهم ان عبدالله بن عمر كان اذا رعف انصرف فتوضأ ثم رجع فبنى على ماصلى ولم يتكلم» امام بيهقي رحمه الله ددې دنقل کولو نه پس فرمائي : « هذا عن ابن عمر صحيح»

③ د سلمان فارسي رضي الله عنه اثر: دغه شان امام بيهقي رحمه الله دحضرت سلمان فارسي رضي الله عنه . او دابن عباس نه هم داسې اثار نقل کړې دې دا آثار اګر چه موقوف دي . خو چه مسئله غير مدرك بالقياس بلکه خلاف قياس ده . د دې وجې داټول آثار د مرفوعه په حکم کښې دي. اوددې په رڼړا کښې بره مذکورحدیث مرفوع ته هم صحيح وئيلې شي .

[۳۰۱]بغير د طهارته مونځ نه قبليدل

٣٠١-(۳) [۲] ⓵وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ⓶ «لَا تُقْبَلُ صَلَاةٌ بِغَيْرِ طُهُورٍ ⓷ وَلَا صَدَقَةٌ مِنْ غُلُولٍ» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ⓵ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ⓶ بغير د طهارت څخه مونځ نه کيږي ⓷ او د حرام مال خيرات نه قبليږي. (مسلم)

حل اللغات: ① غُلُولٍ: أَيْ: مَالٌ حَرَامٌ: اصل کښې غلول خيانت في الغنيمت ته وائي خو دلته ترې حرام مال مراد دې.

تسهيلات:

قوله: وَلَا صَدَقَةٌ مِنْ غُلُولٍ:

د صدقې لغوي معنى: صدقه هغه څيز ته وائي کوم چې ته په فقيرانو او غريبانانو باندې خرچ کړې.دغه شان کومه چې ته د الله په لار کښې ورکړې.

د صدقې اصطلاحي تعريف: امام راغب فرمائي چې صدقه هغه ده کومه چې يو انسان د ثواب په نيت د خپل مال نه خرچ کړي.لکه زکاة خو په اصل کښې صدقه هغه څيز ته وائي

---

(۱) الجوهر النقي في الردعلى البيهقي)-

(۲) سنن بيهقي ابواب الصلوه باب من قال يبنى من سبقه الحدث على ما مضى من صلوته.

(۳) اخرجه مسلم كتاب الطهارة باب وجوب الطهارة للصلاة(رقم-۲ -(۲۲٤) وابن ماجه كتاب الطهارة وسننها باب لا يقبل الله صلاة بغير طهور (رقم-۲۷۲) واحمد في المسند:-۳۹/۲ وابود اود كتاب الطهارة ، باب فرض الوضوء (رقم-۵۹) والترمذي كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء لا تقبل صلاة بغير طهور(رقم-۱ ۱) والنسائي كتاب الطهارة /باب فرض الوضوء(رقم-۱۳۹)

چې د زړه د خوشحالۍ نه ورکړې شي.
د غلول لغوی معنی: غلول دباب دنصرنه مصدر دې .د په لغت کښې د اوښانو غلا ته وائی.
د غلول اصطلاحی معنی: د فقهاؤ په نیز دمال غنیمت څخه غلا کولو ته وائی.بیاد دې په مفهوم کښې وسعت راغلو.او اوس مطلقاً په هرامانت کښې خیانت ته غلول وائی . بعضې حنفي فقهاء وائی . چه دې حدیث کښې د غلول څخه مراد هره هغه ګټه ده . چه په ناجائز طریقه حاصل شوې وی
د حدیث مطلب: د حدیث مطلب دا دې چه د ناجائز ګټې څخه صدقه نه قبلیږی که دلته د قبول څخه قبول اصابت مراد شی نو دا حدیث به په دې صورت محمول وی چه کله د ناجائز آمدنی مالك معلوم وی . ځکه چه داسې صورت کښې صدقه بالکل صحیح نه ده . بلکه اصل مالك ته واپس کول واجب دی اوکه د قبول څخه قبول اجابت مراد شی . نو دې کښې به هغه صورت داخل وی . چه کله مالك معلوم نه وی . د حنیانو په نزد په داسې باندې صدقه کول واجب دی خو د صدقه کولو په وخت کښې به دثواب نیت نه ساتی . بلکه د فراغ الذمه نیت کول پکار دی .
د ناجائزه ګټې صدقه کول: دناجائز آمدنئ چه د هغې مالك معلوم نه وی دا صدقه کول واجب دی دا دامام ابوحنیفه رحمه الله مسلك دې .
دلیل: په سنن دارقطني کښې روایت دې چه دامام ابوحنیفه رحمه الله نه تپوس اوشو چه تادا حکم دکوم ځائې څخه مستنبط کړوچې د حرام مال صدقه کول واجب دی؟ نو امام صاحب اوفرمائیل چه (من حدیث عاصم بن کلیب)چې دا حکم ما د عاصم بن کلیب رحمه الله د روایت څخه مستنبط کړې دې.
دعاصم بن کلیب روایت: دعاصم بن کلیب حدیث امام ابوداوٗد په خپل سنن کښې روایت کړې دې [۱] چه یوې ښځې نبی کریم ﷺ ته دعوت ورکړو . دوی ﷺ غوښه اوچته کړه وې وې فرمائیل چه داسې معلومیږی چه چیلئ دمالك د اجازت څخه بغیر حاصل شوې دې تحقیق کولو باندې ښځې اووئیل چه ما د چیلئ اخستو دپاره سړې لیږلې وو . خو چیلې ورته ملاو نشو . ما د ګاونړی څخه چیلئ اخستل اوغوښتل نو هغه هم موجود نه وو د ده داجازت څخه بغیر دا چیلئ ماته راولیږله .دوئ چه دا واوریدل نوارشاد ئې اوفرمائیل((اطعمه الاساری)) دا قیدیانو باندې اوخروئ .
استدلال: د دې څخه معلومه شوه چه ملك خبیثه واجب التصدق دې. البته دثواب نیت په کښې نه دې کول پکار بلکه د ذمې د فراغت نیت به ساتې .
د علامه ابن قیم رحمه الله قول: علامه ابن قیم رحمه الله فرمائی چه دالله تعالی د رحمت څخه د

---

[۱] ابوداود ،کتاب البیوع باب فی اجتناب الشبهات) _

Maktaba Tul Ishaat.com

ثواب اميد هم اوساتي نو څه پرواه نشته

تطبيق: زمونږ مشائخ فرمائي چه حقيقت كښې دثواب دوه حيثيتونه دي . يو خود صدقه ثواب اوبل د اطاعت باري ثواب دلته به دصدقه ثواب خونه ملاويږي خو دده داطاعت ثواب به ضرورملاويږي . چه ده دالله تعالى حكم اومنلو اوپه خپله ئې د استعمالولو په ځائې نوروته وركړو دا د علماؤپه اقوالو كښې بهترين تطبيق دې .

[۳۰۲] په مذى وتلو سره د اودس ماتيدل

۳۰۲ ـ (١) [٣] ١ «وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ كُنْتُ رَجُلًا مَذَّاءً، ٣ فَكُنْتُ أَسْتَحْيِي أَنْ أَسْأَلَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِمَكَانِ ابْنَتِهِ ٤ فَأَمَرْتُ الْمِقْدَادَ، فَسَأَلَهُ، ٥ فَقَالَ: يَغْسِلُ ذَكَرَهُ وَيَتَوَضَّأُ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت علي كرم الله وجهه فرمايي ٢ چه ما به ته مذي زياته راتله ٣ د حضور ﷺ لور (بي بي فاطمه ﵂) زما په نكاح كې وه ځكه ماته د حضور ﷺ څخه د دې حكم په پوښتلو كې شرم راتلو (چې آيا په دي سره غسل واجبيږي كه اودس) ٤ ځكه ما دا مسئله د حضور ﷺ څخه دريافت كولو د پاره حضرت مقداد ﵁ مامور كړو هغه د حضور ﷺ څخه پوښتنه وكړه (چې يو داسې سړي دي په دي باره كې څه حكم دي) ٥ حضور ﷺ وفرمايل چه مذي وتلو باندې يوازي دمتيازو ځاي وينځي او اودس دي وكړي. (بخاري او مسلم)

حل اللغات: ① مَذَّاءً: أَيْ كَثِيرَ الْمَذْيِ: يعنى زياته مذى به راتله. وَهُوَ مَاءٌ رَقِيقٌ أَصْفَرُ يَخْرُجُ عِنْدَ الشَّهْوَةِ الضَّعِيفَةِ: مذى زيړ بخني د اوبو په شان يو تيڼكه ماده ده چه دَ ملاعبت دَ ښځې او محبوب دَ وجې نه يا د تذكر جماع په وخت كښې دَ شهوت دَ شوق دَ وجې نه خارجيږي. ② أَسْتَحْيِي : حيا مي كوله يعنى شرم راتلو(چه د مذى دحكم تپوس اوكړم)، ③ لِمَكَانِ ابْنَتِهِ: أَيْ: فَاطِمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا لِكَوْنِهَا تَحْتَهُ: ځكه چه دنبى ﷺ لور بى بى فاطمه ﵂ د حضرت على ﵁ په نكاح كښې وه.

تسهيلات:

قوله: كُنْتُ رَجُلًا مَذَّاءً: دَ مذى په خارجيدو سره صرف اودس ماتيږي په دې وجه اودس واجب اوغسل واجب نه دې. په دې كښې خو دَ ټولو اتفاق دې

دانسانى رطوباتو درې قسمونه: دانسان بدن نه چې كوم رطوبتونه خارجيږي هغه په درې قسمه دي.

① منى :هغه غليظه ماده چې د بچى د پيدائش سبب جوړيږي. دې سره غسل واجبيږي. هركله چې بدن څخه په شهوت سره اوځى.

(١) اخرجه بخارى كتاب الوضوء باب من استحيا فأمر غيره بالسؤال(رقم-١٣٢) مسلم كتاب الحيض باب المذى(رقم-١٧ - (٣٠٣)) واحمد فى المسند:- ٨٠/١

② مذی: دا هغه سپینې اوبه دی کومې چې د ملاعبت مع الزوجه په وخت خارجیږی. دې سره غسل نه واجبیږی. بلکه اودس واجبیږی. په منی او مذی کښې دا فرق دې چې منی شهوت ختموی او مذی شهوت زیاتوی.

③ ودی: دا هغه سپینې اوبه دی کومې چې متیازو څخه پس د ټینګ څاڅکی په صورت خارجیږی. دې سره هم اودس واجب کیږی. اوغسل نه واجبیږی.

د اودس په وخت کښې د محل د وینځلو په مقدار کښې مذاهب:

اختلاف په دې کښې دې چه دَ اودس په وخت څومره اندازې سره اندام مخصوصه وینځل پکاردی؟

① دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله په نیزپوره اندام مخصوصه وینځل دی.

② امام مالك ذکرمع الانثیین وینځل ضروری ګرځوی.

③ دَ جمهورو په نیزد موضع النجاسة په اندازې سره وینځل ضروری دی

د اول فریق دلیل: دوی د هغه روایت نه استدلال کړې دې په کوم کښې چه [واغسل ذکرك] الفاظ راغلی دی اودَ ذکر اطلاق په پوره باندې کیږی.

د دویم فریق دلیل: دوی دَ ابوداؤد شریف دَ هغه روایت نه استدلال کړې دې په کوم کښې چه دَ مذاکیر او انثیین ذکردې چه په جلد اول کښې ذکردې.

د دریم فریق دلیل: اصل قاعده او قانون د نجاست دَ ختمولوده نوچه ترکومې پورې نجاست دې هغه ځائی پورې وینځل واجب دی.

داول او دویم فریق د دلیل جواب: که دنجاست د ختمولو نه دَ زیاتی ذکر راغلې دې یا دَ انثیین ذکر راغلې دې نوهغه علاجاً او تبریداً دې چه زیاتې اوبه اچولو سره یخوالې راځی په کوم سره چه دَمذی ماده راوتل بندیږی. دا حکم دَ مسئلې په توګه نه دې بلکه دَعلاج په توګه دې. یا دا حکم استحبابی دې وجوبی نه دې.

قوله: لِمَكَانِ ابْنَتِهِ:

د نبی علیه السلام نه د نه تپوس کولو وجه: یعنی فاطمه رضی الله عنها زما په نکاح کښې وه اوس دَ حضورپاك په وړاندې دَ مذی، منی او ودی غوندې پټو خبرو ذکرکولو نه حیاء مانع وه. دَدې حدیث دَدې جملې نه یو لطیف اخلاقی تعلیم ملاویږی چه خوم له دَ سخر په وړاندې دَ شهوت سره متعلق خبرې چیړل مناسب نه دی.

قوله: فَأَمَرْتُ الْمِقْدَادَ: یعنی ما حضرت مقداد رضی الله عنه ته عرض اوکړو چه دا مسئله تاسو معلومه کړئی.

په روایاتو کښې تعارض: په دې حدیث او نورو احادیثو کښې تعارض دې څکه چه په یو

Maktaba Tul Ishaat.com

روایت کښې دی چه حضرت علی رضی الله عنه د حضرت مقداد رضی الله عنه ته د سوال کولو او مسئلې معلومولو دپاره اووئیل مګر په یو بل روایت کښې دی چه د حضرت عمار رضی الله عنه په ذریعه ئې د مسئلې تپوس اوکړو. په دریم روایت کښې دی چه حضرت علی رضی الله عنه پخپله د مسئلې تپوس اوکړو لکه څنګه چه د فصل ثانی حدیث نمبر(۳۱) کښې راځی.

د تعارض دفع کولو دوه طریقې: ①حضرت علی رضی الله عنه په مجلس کښې خبره اوکړه نوحضرت مقداد رضی الله عنه هم تپوس اوکړو او په مجلس کښې ناست حضرت عمار رضی الله عنه هم تپوس اوکړو نو روایتونه دوه شو اوحضرت علی رضی الله عنه په شروع کښې په وجه د حیاء بالواسطه تپوس اوکړو بیا د تسلئی حاصلولو دپاره ئې بغیرد واسطې تپوس اوکړو.

② روستو حضرت علی رضی الله عنه سوچ اوکړو چه په دینی مسائلوکښې که چرې حیاء مانع شوه نود ډیرو زیاتو مسئلو نقصان به اوشی په دې وجه ئې روستو پخپله تپوس اوکړو څکه چه [إن الله لا يستحي من الحق] حکم دې.

[۳۰۳] د اورپخ شوی څیز په خوراک د اودس نه ماتیدل

۳۰۳–(¹) [۴] ①(وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ②(«تَوَضَّئُوا مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ») (رَوَاهُ مُسْلِمٌ) .③قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ الْأَجَلُّ مُحْيِي السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللهُ ④هَذَا مَنْسُوخٌ بِحَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ.

ترجمه: ① ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي② چې کوم شي چې اور پوخ کړي وي د هغه دخوړلو څخه وروسته اودس کوئ. (مسلم) ③ امام محي السنة رحمه الله فرمايي ④ دا حکم د ابن عباس رضی الله عنه په هغه حدیث سره منسوخ دي

حل اللغات: ①مَسَّتِ النَّارُ: وَهُوَ الَّذِي أَثَّرَتْ فِيهِ النَّارُ: هرهغه څيز چه په اور پخ شوې وی.

۳۰۴–(²) قَالَ: ①«إِنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَكَلَ كَتِفَ شَاةٍ ②ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① چې حضور صلی الله علیه وسلم د بزي (چيلۍ) د لاس غوښه وخوړله② بيا يي مونځ وکړو او اودس يي ونه کړلو. (بخاري او مسلم)

حل اللغات: ①كَتِف: اوګه ②شَاةٍ: چيلۍ، بزه،

(¹) اخرجه مسلم كتاب الحيض باب الوضوء مما مست النار(رقم-(۳۵۲)) و اخرجه احمد فی المسند:-۲/۲۶۵ والترمذی كتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ باب الوضوء مما غيرت النار(رقم-۷۹) والنسائی كتاب الطهارة/باب الوضوء مما غيرت النار (رقم-۱۷۵)

(²) اخرجه بخاری كتاب الوضوء،باب من لم يتوضأ من لحم الشاة والسويق وأكل أبو بكر، وعمر، وعثمان، رضی الله عنهم، «فلم يتوضئوا(رقم-۲۰۷) ومسلم كتاب الحيض باب نسخ الوضوء مما مست النار(رقم-۹۱ - (۳۵٤)) و ابوداود باب في ترک الوضوء مما مست النار(رقم-۱۹۰)باب في ترک الوضوء مما مست النار(رقم-۱۹۰) واحمد المسند:-۱/۲۶۷

تسهیلات:

قوله: تَوَضَّئُوا مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ: کوم څیز چې په اور پوخ شوې د هغې په خوړلو سره اودس ماتیږی که نه؟ دې باره کښې د صحابه کرامو په زمانه کښې معمولی شان اختلاف وو.

د مما مست النار په خوراک سره نقض وضوء کښې مذاهب:

① په ممامست النارسره د اودس په باره کښې د ابن عمر، ابو موسی اشعری، ابوطلحه، عائشه، زید بن ثابت او ابوهریره په نیز اودس ماتیږی. خوعلامه نووی فرمائی چه اوس په دې خبره باندې اجماع مقرر شوې ده. چه ((وضوء ممامست النار)) واجب نه دې.

② دجمهورو په نیز د ((ممامست النار)) په خوراك سره اودس نه ماتیږی.

د نقض دلائل: کوم حضرات چې د نقض وضوء مما مست النار قائل دی د هغوی دلیل حدیث الباب دې. کوم چې ابوهریره رضی الله عنه بیان کړې دې. دغه شان د دوی دپاره هغه احادیث هم مستدلات کومو ته چې امام ترمذی رحمه الله په ((وفي الباب)) سره اشاره کړې ده. اومونږ لاندې په حاشیه کښې نقل کړی دی.

جوابونه: د جمهورو د طرفه د حدیث الباب او ددې پشان نورو احادیثو درې مختلف جوابونه ورکړې شوی دی.

① د ((وضوء مما مست النار)) حکم منسوخ شوې دې. او ددې دلیل ابوداود کښې د حضرت جابر رضی الله عنه روایت دې ((قال كان اخر الامرين من رسول الله صلى الله عليه وسلم ترك الوضوء مما غيرت النار)). ([1])

② د اودس حکم استحباب باندې محمول دې په وجوب باندې نه دې. ددې دلیل دادې چه حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه اودس هم ثابت دې او ترک وضوء هم او دا داستحباب شان دې.

③ په دې باب کښې وضوء څخه وضوء اصطلاحی مراد نه دې. بلکه وضوء لغوی ده. یعنی لاس، مخ وینځل، ددې دلیل د حضرت عکراش بن ذویب رضی الله عنه روایت دې چه په هغې کښې هغوئ د یوې ښځې واقعه بیانوی او فرمائی چه ((ثم اتينا بماء فغسل رسول الله صلى الله عليه وسلم يديه ومسح بيديه ومسح ببلل وجهه وذراعيه وراسه وقال يا عكراش هذا الوضوء مما غيرت النار)) ([2]) هم داشان مسندبزار عبدالرحمن بن غنم اشعری رضی الله عنه فرمائی چه ((قلت لمعاذ بن جبل هل كنتم لتوضون مما غيرت

[1]) ابوداؤد باب ترک الوضوء مما غیرت النار (۱۱\۲۸)-

[2]) جامع ترمذی المجلد الثانی کتاب الاطعمة باب ماجاء فی التسمية علی الطعام)-

Maktaba Tul Ishaat.com

النار قال لعمر اذا اكل احدنا طعاما مما غيرت النار، فغسل يديه وفاه فكنا نعد هذا وضوء))(۱)

③ امام بیهقی رحمه الله فرمائیلی دی (۲) چی په وضوء مما مست النار په احادیثو کښې تعارض دې او د تعارض په وخت کښې رجوع عمل د صحابؤ ته کولې شی.او صحابه کرامو به د مما مست النار څخه اودس نه کولو په بخاری کښې روایت دې ((اكل ابوبكر وعمر وعثمان لحما فلم يتوضؤا))(۳)

شیخ الاسلام محمد تقی مدظله العالی په درس ترمذی کښې فرمائی محدثینو او فقهاء کرامو دا درې توجیهات بیان کړی دی، په مجموعه روایاتو باندې د غور کولو څخه پس چې کومه خبره د احقر په پوهه کښې راځی هغه داده چه دا واړه توجیهات په یو وخت درست اوصحیح دی ،یعنی د وضو مما مست النار څخه اودس لغوی مراد دې اودا عمل مستحب وو واجب نه وو. یا اودس څخه به شرعی اودس واخستې شی نو بیا ددې استحباب هم منسوخ کړې شو.بیا ئې د دې هریو مراد اخستلو دپاره څه شواهد هم ذکر کړی دی.خوزمونږ د مدعی دپاره دومره تفصیل زما په خیال کافی دې.د دې وجې هغه شواهد نه ذکر کوم چې مفتی صاحب ذکر کړی دی.

د عدم نقض دلائل:

① ((عن جابر رضي الله عنه قال خرج رسول الله صلى الله عليه وسلم وانا معه ودخل على امراة)) الحديث د دې حدیث په آخر کښې دی چې نبی کریم صلى الله عليه وسلم غوښه اوخوړله اوبغیر داودس کولو څخه ئې د مازیګر مونځ اوکړو

② د سوید بن نعمان رضي الله عنه روایت دې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ستوان اوخوړل اوبیا ئې د مازیګر مونځ اوکړو او دس ئې اونکړو (۴) د دې څخه علاوه نور هم ګڼ روایات په عدم نقض باندې دلیل دی.

[۳۰۵] د اوښانو غوښې خوړلو نه پس د اودس عدم وجوب

۳۰۵-(۵) [۵] [۱] وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، [۲] «أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَتَوَضَّأُ مِنْ لُحُومِ الْغَنَمِ؟ [۳] قَالَ (إِنْ شِئْتَ فَتَوَضَّأْ، وَإِنْ شِئْتَ فَلَا تَتَوَضَّأْ) [۴] قَالَ: أَنَتَوَضَّأُ مِنْ لُحُومِ الْإِبِلِ؟ [۵] قَالَ: (نَعَمْ! فَتَوَضَّأْ مِنْ لُحُومِ الْإِبِلِ) [۶] قَالَ: أُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ؟ قَالَ: (نَعَمْ) [۷] قَالَ: أُصَلِّي فِي مَبَارِكِ الْإِبِلِ؟ قَالَ (لَا») رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر بن سمره رضي الله عنه وایي یوسړي د حضور صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه آیا

---

[1]) کشف الاستارعن زوائد البزارص۱۵۱/۱ ج/۱ رقم ۲۹۱).
[2]) سنن کبری للبیهقی باب ترک الوضوء مما غیرت النار(۱۵۵\۱)-
[3]) صحیح بخاری باب من لم یتوضا من لحم الشاة (۳٤\۱)-
[4]) صحیح بخاری باب من مضمض من السویق ولم یتوضا (۳٤\۱)-
[5] اخرجه مسلم کتاب الحیض باب الوضوء من لحوم الابل (رقم-۹۷ - (۳۶۰)) ،واحمد فی المسند:۸۶/۵

مونږ د بزې (چیلۍ) غوښه خوړلو څخه وروسته اودس وکړو؟ ۳ حضور ﷺ وفرمایل که ستا زړه غواړي نو اودس اوکړه که یې نه غواړې نو مه یې کوه ۴ بیا هغه سړي پوښتنه وکړه آیا د اوښ غوښه خوړلو څخه وروسته اودس وکړم؟ ۵ حضور ﷺ ورته وفرمایل هو د اوښ غوښه خوړلو څخه وروسته اودس اوکړه ۶ بیا هغه سړي پوښتنه وکړه آیا د بزو د اوسیدو په ځاي کې مونځ کوم؟ حضور ﷺ ورته وفرمایل: هو، ۷ بیا یې پوښتنه اوکړه آیا د اوښانو تړلو په ځاي کې مونځ کوم؟ حضور ﷺ ورته وفرمایل نه. (مسلم)

حل اللغات: ① لُحُومِ الْغَنَمِ: أَيْ: مِنْ أَكْلِهَا: دچیلۍ یا د اوښانو د غوښې نه مراد دهغې خوړل دی چه ددې دخوړلو نه پس د اودس څه حکم دې؟ ② مَرَابِضِ: دا د مَرْبِض جمع ده، وَهُوَ مَوْضِعُ رُبُوضِ الْغَنَمِ: د ګډو او چیلو د واسیدلو ځاۍ ته وائی، غوجل، کنډاو. ③ مَبَارِكِ: د مَبْرَك جمع ده. د اوښانو د اوسیدو ځاۍ، غوجل، باړ.

تسهیلات:

قوله: أَنَتَوَضَّأُ مِنْ لُحُومِ الْإِبِلِ؟: دَاوښ غوښه خوړلونه پس اودس واجبیږی که نه؟ په دې مسئله کښې دَ فقهاء کرامو اختلاف دې.

دَاوښ غوښې خوړلو نه پس د اودس په وجوب کښې مذاهب:

① دامام احمد بن حنبل رحمه الله په نیز دَاوښ دَغوښې دَاستعمال نه پس اودس کول واجب دې. هغوی فرمائی چه دَمامست النار حکم عام وواودَ لحوم ابل حکم خاص دې. دَدې دَ مامست النار سره هیڅ تعلق نشته دواړو کښې فرق دې. لهذا دَاوښ غوښه خوړلونه پس اودس واجب دې دَمامست النار والاحدیث منسوخ کیدوسره به دَ لحوم ابل والاحدیث نه منسوخ کیږی. دَاسحاق بن راهویه رحمه الله هم دغه مسلك دې. [المرقات: ۲/۴۲].

② دَجمهوروقول دې چه دَاوښ غوښه خوړلوسره اودس کول واجب نه دی.

داول فریق دلیل: حدیث الباب د دوی مستدل دې ځکه چې په دې کښې سائل ته نبی علیه السلام فرمائیلی دی چې د اوښ د غوښې خوړلونه پس اودس کوه.

داول فریق د دلیل دوه جوابونه: ① دا حکم په شروع کښې ووبیا مامست النار احادیث منسوخ کیدوسره داهم منسوخ شوځکه چه په دغه عموم کښې داهم داخل دې هیڅ فرق نشته دې.

② دلته اودس استحبابی مراد دې وجوبی نه دې. استحبابی اودس ځکه چه دَاوښ په غوښه کښې سخت دسومت، خراب بوئی او غوړوالي وی. په دې وجه اودس کول مستحب اوګرځولي شي.

قوله: فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ؟:

د ګډو په غوجل کښې د مونځ حکم: يعنې دَ چيلو په کنډاؤ کښې که چرته صفاځائي وي نوپه هغې کښې مونځ کول جائزدی که نه؟ حضورپاك اوفرمائيل جائزدې اودَ اوښانو په کنډاؤ کښې جائزنه دې.

د اوښانو اوګډو په غوجل کښې فرق: ① د اوښانواو ګډو د غوجل په حکم کښې دا فرق دې چه چيلۍ يومسکين ځناوردې دې سره نيزدې په مونځ کولو کښې دَتشويش هيڅ خبره نشته
② ګرې په تيته متيازې کوی نودَ څاڅکوپريوتلوويره هم نه وی بياهغه په کانړيزه زمکه کښې اوسيږي هلته متيازې په زمکه کښې جذب کيدوسره خوريږي نه دَ دې برعکس اوښ يو متوحش ځناوردې دې سره نيزدې مونځ کولو کښې به تشويش وي
③ هغه لکه دَ آسمان دَاوچتوالي نه متيازې کوی په کوم سره چه دَ څاڅکو پريوتلوخطره وي. دغه شان هغه په نرمه زمکه باندې اوسيږي نومتيازې جذب کيدو سره خوريږي.
④ متيازې زياتې هم وي. لهذا دَاوښانو په غوجل کښې دَ مونځ کولونه منع کړې شوې ده. اوهسې هم په عربو کښې دَ اوښانو کنډاؤ په ناپاکه ځائې کښې وو خلقو به پخپله هم هلته متيازې کولې.

[۳۰۶]صرف د هوا وتلو شک پيدا کيدو باندې د اودس نه ماتيدل

۳۰۶-() [۶] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ② («إِذَا وَجَدَ أَحَدُكُمْ فِي بَطْنِهِ شَيْئًا، ③ فَأَشْكَلَ عَلَيْهِ أَخَرَجَ مِنْهُ شَيْءٌ أَمْ لَا. ④ فَلَا يَخْرُجَنَّ مِنَ الْمَسْجِدِ حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هرکله چې په تاسو کې څوك په خيټه کې دننه څه محسوس کړی (يعني ګړګړ) ③ او په هغه دا خبره مشتبه وي چې څه شي خارج شو که نه ④ نو تر هغه وخته پورې دي اودس د پاره د مسجد څخه بهر نه وځي ترڅو پورې چې آواز وانه وري يا بوي محسوس نه کړی. (مسلم)

حل اللغات: ① بَطْنِهِ شَيْئًا: أَيْ كَالْقَرْقَرَةِ: ددې نه مراد په خيټه کښې د قُرقر، غرغُر آواز دې چه هوا په خيټه کښې تاؤ راتاؤ شي ② فَأَشْكَلَ: أَيِ الْتَبَسَ: شک شبهه ئې پيدا شي (چه هوا خارج شوه که څه چل اوشو) ③ صَوْتًا: أَيْ: صَوْتَ رِيحٍ يَخْرُجُ مِنْهُ: د آواز نه مراد باد وتل دی.

تسهيلات:

قوله: حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا:

---

(۱) اخرجه مسلم كتاب الحيض باب الدليل على أن من تيقن الطهارة، ثم شک في الحدث فله أن يصلي بطهارته تلک(رقم-۹۹ - (۳۶۲) وابوداود باب إذا شک في الحدث (رقم-۱۷۷) واحمد في المسند:۲/٤١٤

په خروج ريح سره په نقض وضوء کښې د آواز اوريدو او بوئې محسوسولو عدم شرطيت:
دا دوه څيزونه دَ نمونې او تمثيل په توګه ذکرکړې شوی دی په دې دوو کښې څه حصرنه دې، دغه شان په دې کښې هم حصر نشته چه دآواز اوريدل شرط دې يا بد بوئې راتلل شرط دې بلکه اصل مقصد يقين حاصليدل دی څکه چه ترکومې يقين نه وی راغلې چه واقعی هوا خارج شوې ده ترهغه وخته پورې دَ شك په بنياد فيصله نه دی کول پکار. نواصل څيزيقين راتلل دی ګنی که څوك کوڼ وی نو آواز به نه اوری يادَ چا قوت شامه خرابه ده په بوئی به نه پوهيږی نو ولې اودس به نی نه ماتيږی؟ خلاصه داچه په يقين راتلوسره به دَاودس دَماتيدوحکم لګولې شی بعضې غيرمقلدين په دې کښې نقصان کوی نوهغوی دَهوا خارجيدو نه پس هم دَ بدبوئی او دَ آواز انتظارکوی.

[۳۰۷] دپيو څکلو نه پس د خلې کنګالول

۳۰۷-(۱) [۷] ١ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ٢ «إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - شَرِبَ لَبَنًا فَمَضْمَضَ» ٣ وَقَالَ «إِنَّ لَهُ دَسَمًا» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او عبد الله بن عباس ﷺ راوي دي ٢ چې يو ځل رسول ﷺ شيدې (پې) وڅښلې او د هغه څخه وروسته يې خُله وينځله ٣ او وې فرمايل په شيدو کې غوړوالې وي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① فَمَضْمَضَ: أَيْ: غَسَلَ فَمَهُ: خُله ني اووينځله ② دَسَمًا: أَيْ زُهُومَةٌ: غوړوالي،

تسهيلات: قوله: إِنَّ لَهُ دَسَمًا:

مانځه کښې د شروع کولو نه وړاندې د خُلې نه د خوراک اجزاء لرې کول: ددې حديث څخه معلوم شو چې هر هغه څيز چه خله کښې انخلی نو ددې د ازاله دَ مونځ څخه وړاندې ضروری ده.ګنی د مونځ په حالت کښې به مونځ ګزار ددې خوند محسوسوی. څه حصه به خيټې ته لاړه شی نو دده شمير به هغه خلقو کښې اوشی کوم چې په مونځ کښې خوراك کوی او دا ناجائز دی. په دې وجه علماؤ ددې احتمال دَسومت دَ پاره په خله کښې اوبه اچول مستحب ګرزولی دی. يقينی اجزاؤ د ازالې دپاره خوخله کښې اوبه اچول ضروری دی،

د حديث د باب سره مناسبت: د دې حديث د دې باب سره مناسبت دا دې چې خله کښې اوبه اچول د اودس د اعمالو څخه يو عمل دې څکه چې خله کښې اوبه اچول داودس دَ مکملاتو او مستحماتو څخه دی ، په دې اعتبار سره دا حديث پاك په نواقض وضوء کښې ذکر کړې شوې دې.

(۱) اخرجه البخاري كتاب الوضوء باب: هل يمضمض من اللبن؟ (رقم-۲۱۱) ومسلم كتاب الحيض باب المضمضة من شرب اللبن (رقم-۹۵ - (۳۵۸))

Maktaba Tul Ishaat.com

[۳۰۸] په يو اودس پنځه مونځونه کول

۳۰۸ـ(۱) [۸] [۱] وَعَنْ بُرَيْدَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - صَلَّى الصَّلَوَاتِ يَوْمَ الْفَتْحِ بِوُضُوءٍ وَاحِدٍ، وَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ [۳] فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: لَقَدْ صَنَعْتَ الْيَوْمَ شَيْئًا لَمْ تَكُنْ تَصْنَعُهُ! [۴] فَقَالَ: (عَمْدًا صَنَعْتُهُ يَا عُمَرُ») رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت بريده ﷛ فرمايي چه د مکي د فتح په ورځ حضور ﷺ په يو اودس سره ځو لمونځونه وکړل . يعني په يو اودس سره يي پنځه لمونځونه وکړل او په موزو يي مسح وکړله [۲] په دي ليدو سره حضرت عمر ﷛ حضور ﷺ ته اوويل چي نن تا هغه شي وکړو چي مخکي دي هيڅ کله نه دي کړي [۳] حضور ﷺ ورته وفرمايل اي عمر ﷛ ما داسي قصداً کړي دي. (مسلم)

حل اللغات: ① الصَّلَوَاتِ: د صلوة جمع ده، ډير مونځونه (په دغه ورځ ئي پنځه مونځونه په يو اودس سره کړي وو) ② يَوْمَ الْفَتْحِ: أَيْ: يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ: يعني د فتح مکي په ورځ. ③ خُفَّيْهِ: دخف تثنيه ده. موزو ته وائي. ④ عَمْدًا: قصدا (چه تاسوته معلومه شي چه په يو اودس باندي ډير مونځونه اداکول مکروه نه دي).

دراوي مختصر تعارف:

نوم بريده ابوعبدالله کنيت دَ پلار نوم ئي مصيب بن عبدالله وو. کله چه رسول الله ﷺ مديني منوري ته اورسيدو نودي دَ حضور ﷺ په خدمت کښي حاضر شو نو رسول الله ﷺ هغه ته دَ اسلام دعوت ورکړو نوهغه زر مسلمان شو اوده سره دَ بنواسلم ۸۰ کسان مالداران دَ اسلام په حلقه کښي داخل شو. (۲)

په صلح حديبيه او بيعت رضوان کښي شامل وو. (۳) دَمکي دَ فتح په ورځ دي ورسره وو. (۴) تقريباً په ۱۶ غزوات کښي شريك شوي وو(۵) آخر لښکر کوم چه رسول الله ﷺ دَحضرت اسامه په مشرئی کښي جوړکړو په هغي کښي هم دي شريك وو (۶) دَ هغه په رګ رګ کښي دَ جهاد جذبه منوي وهلي فرمائيل به ئي دَ ژوند مزه دَاسونو په زغلولوکښي ده. (۷)

وفات: دَ يزيد په دورحکومت کښي ۶۳ھ کښي وفات شو.

مرويات: دَ هغوی نه دَ روايتو شمير ۱۶۴ دي، په يوحديث کښي بخاری اومسلم دواړه شريك دی او په باقي دوو کښي بخاری او ۱۱ مسلم شريف کښي منفرد دی. (۸)

تسهيلات: **قوله: يَوْمَ الْفَتْحِ:**

د لمعت په حاصليدو نقل کول: دي نه مراد فتح مکه ده اودَ شکراني په توګه صلوة فتح اته رکعته کولي شی کوم چه حضورپاك کله کړی دی.

(۱) اخرجه مسلم کتاب الطهارة باب جواز الصلوات کلها بوضوء واحد (رقم-۸۶ - (۲۷۷))

د عمر رضی الله عنه د سوال کولو دوه وجوهات:

① حضورپاك دَ هرمانځه دَپاره نوې اودس کولو اودې خل نی څو مونځونه په یواودس باندې اوکړل.

② حضورپاك په موزوباندې مسح اوکړه نودَحضرت عمر رضي الله عنه دَ سوال په جواب کښې حضور پاك اوفرمائیل ماقصداً داسې اوکړل چه دَامت دَپاره یوقانون جوړشی اودَ دین په امورو کښې وسعت راشی.

دهرمانځه دپاره په اودس کولو کښې مذاهب:

① دَ داؤدظاهری ویناده چه ضروری اوواجب دی په دوی باندې مذکوره حدیث حجت دې

② دَ جمهورو په نیز دَ هرمونځ دَپاره نوې اودس کول مستحب دی. که اول اودس وی او یو کس نوې اودس کول غواړی نوده ته به دَ مستحب ثواب ملاویږی

[۳۰۹] د نبي علیه السلام د خوراک نه پس خُله کنګالول

٣٠٩–()[٩] ١ وَعَنْ سُوَيْدِ بْنِ النُّعْمَانِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- ٢ «أَنَّهُ خَرَجَ مَعَ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَامَ خَيْبَرَ ٣ حَتَّى إِذَا كَانُوا بِالصَّهْبَاءِ -وَهِيَ مِنْ أَدْنَى خَيْبَرَ- صَلَّى الْعَصْرَ، ٤ ثُمَّ دَعَا بِالْأَزْوَادِ، فَلَمْ يُؤْتَ إِلَّا بِالسَّوِيقِ، ٥ فَأَمَرَ بِهِ فَثُرِّيَ، فَأَكَلَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَأَكَلْنَا، ٦ ثُمَّ قَامَ إِلَى الْمَغْرِبِ، فَمَضْمَضَ وَمَضْمَضْنَا، ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ»، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

ترجمه: ١ او سوید بن نعمان رضي الله عنه راوي دي ٢ چې دي د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د خیبر د فتح په کال په سفر لاړو ٣ کوم وخت چې مقام صهبا ته ورسیدل چې خیبر ته نزدې دې نو د مازیګر مونځ یې وکړو ٤ بیا حضور صلی الله علیه وسلم توښه (د لارې توښه) وغوښتله نو د ستوان څخه علاوه بل څه نه وو کوم چې حاضر کړې شو ٥ او د حضور صلی الله علیه وسلم په حکم سره هغه میده کړې شو بیا حضور صلی الله علیه وسلم او مونږ هغه وخوړل ٦ بیا د ماښام لمانځه د پاره ودریدلو حضور صلی الله علیه وسلم خله وینځله او مونږ هم وینځله او اودس مو ونه کړلو. (بخاري)

حل اللغات: ① عَامَ خَيْبَرَ: أَيْ: عَامَ غَزْوَةِ خَيْبَرَ: یعنی د غزوه خیبر په کال باندې. ② الصَّهْبَاءِ: وَهِيَ مِنْ أَدْنَى خَيْبَرَ: د خیبر نه راپه ښکته هغې ته نزدې یو ځای دې. ③- الْأَزْوَادِ: د زاد جمع ده، د سفر د لارې توښې (دخوراک څکاک) څیزونه، ④ السَّوِيقِ: وَهُوَ مَا يُجْرَشُ مِنَ الشَّعِيرِ وَالْحِنْطَةِ وَغَيْرِهِمَا: اوربشې غنم وغیره چه پاخه کړې شی او میده کړې شی هغې ته سویق وائی یعنی ستوان، ⑤ فَثُرِّيَ: أَيْ: بُلَّ: اصل کښې ثرى هغه شږې ته وائی کومه چه په خوړکښې د پورتنۍ ښکاره شږې لاندې وی، خو دلته دا مراد دی چه ثرید ترې جوړ کړې شو یعنی لامده کړې شو چه خوړلو ته آسان شی. ⑥ فَمَضْمَضَ: أَيْ: غَسَلَ فَمَهُ: خُله ئې اووینځله.

---

[1] اخرجه بخاری کتاب الوضوء باب: باب من مضمض من السويق ولم يتوضأ (رقم-٢٠٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات:

قوله: حَتَّى إِذَا كَانُوا بِالصَّهْبَاءِ:

د صهباء تعارف: دا خیبر سره نزدې د یو ځاني نوم دې. سویق ستوانو ته وائی ، یو څیز مثلاً دغنمو یا اوربشو یا دَ جوارو دانې اول وریتوی بیا دا میده کړی ، دې ته ستو وائی. فثري ، دا د تثریة څخه دې ، ثری لمدې خاورې ته وائی. دلته ستو په اوبو کنبې لوندول مراد دی، چې ددې خوراك آسان شی

الْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۰] په باد وتلو سره د اودس ماتیدل

۳۰-()[۱۰] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَا وُضُوءَ إِلَّا مِنْ صَوْتٍ أَوْ رِيحٍ» رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل[۲] اودس کول آواز یا بوی سره واجبیږي. (احمد ، ترمذي)

حل اللغات: ① صَوْتٍ: دلته د صوت نه مراد د خیتې نه د باد وتل دی په آواز سره، ② رِيحٍ: ددې نه مراد د باد وتلو بونی دې کوم چه دخیتې نه خارج شی.

تسهیلات:

قوله: لَا وُضُوءَ إِلَّا مِنْ صَوْتٍ أَوْ رِيحٍ:

داحصر اضافي دې یعنی په جمات کنبې دننه خو هم دغه حدث کیدې شی چه هوا دَ آواز سره یا بغیر دَ آواز نه خارج شی. یا دا حصر دَ یوسوال کونکی په جواب کنبې راغلې دې یعنی ما الحدث فی المسجد یا اباهریرة قال لا وضوء الا من صوت أو ریح.

[۳۱] د مذي په وتلو د اودس ماتیدل

۳۱-()[۱۱] [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «سَأَلْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنِ الْمَذْيِ، [۳] فَقَالَ: (مِنَ الْمَذْيِ الْوُضُوءُ، وَمِنَ الْمَنِيِّ الْغُسْلُ)». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت علي کرم الله وجهه فرمائی[۲] ما اد حضرت مقداد رضی الله عنه په واسطه سره) د حضور ﷺ څخه د مذي په بارهٔ کې معلومات وکړو[۳] نو حضور ﷺ وفرمایل په

---

(۱) اخرجه ابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب لا وضوء إلا من حدث (رقم - ۵۱۵) والترمذی فی السنن رقم الحديث ۷۴ واحمد فی المسند ۲/ ۴۷۱

(۲) اخرجه الترمذی كتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی المنی والمذی (رقم- ۱۱۴) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب الوضوء من المذی (رقم - ۵۰۴)

مذي وتلو سره اودس لازميږي او په مني وتلو سره غسل واجبيږي. (ترمذی)

حل اللغات: ① الْمَذْيُ: وَهُوَ مَاءٌ رَقِيقٌ أَصْفَرُ يَخْرُجُ عِنْدَ الشَّهْوَةِ الضَّعِيفَةِ: مذی زیړ بخني د اوبو په شان يو نرمه ماده ده چه دَ ملاعبت دَ ښځي يا د جماع د تصور په وخت کښي دَ شهوت دَ شوق دَ وجي نه خارجيږی. ② الْمَنِيُّ: منی هغه سپيني اوبه دی کومي چي ټينګي وی او د هغي په وتلو سره په بدن کښي سستی پيدا کيږی.

تسهيلات:

نوټ: د دي حديث وضاحت وړاندي تير شوي دي.

[۲۳] دمونځ کنجي

۲۳-()[۱۲] ①وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②(«مِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُورُ③ وَتَحْرِيمُهَا التَّكْبِيرُ④ وَتَحْلِيلُهَا التَّسْلِيمُ»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت علي کرم الله وجهه فرمائی چي رسول الله ﷺ وفرمايل② د مونځ کيلي (چابي) اودس دي③ د مونځ تحريم تکبير (يعني الله اکبر ويل) دي④ او د مونځ تحليل سلام ګرځول دي. (ابوداؤد، ترمذي، دارمي).

حل اللغات: ① تَحْرِيمُهَا: محرمات د مونځ، او دي ته تحريم ځکه اووئيلي شو چه دي سره په مونځ کښي خوراک ښناک او کلام وغيره د مونځ څخه بهر ټول جائز څيزونه حرام شی. ② تَحْلِيلُهَا: جَعْلُ الشَّيْءِ الْمُحَرَّمِ حَلَالًا: چه حرام څيز ورسره حلال شی هغي ته تحليل وائی، دي ته تحليل ځکه اووئيلي شو چه دي سره هغه ټول کارونه حلال شی کوم چه په مونځ کښي ده باندي حرام شوی وو لکه اکل، شرب، کلام الناس وغيره

تسهيلات:

قوله: وَتَحْرِيمُهَا التَّكْبِيرُ:

خبر باندي الف لام داخل کړي شوي دي مسند لره په مسند اليه کښي محصور کړي شوي دي. ددي حديث پاک دري اجزاء دی. اول جزء ﴿ مفتاح الصلوة الطهور ﴾ کښي هيڅ اختلاف نشته دي. نورو اجزاؤ کښي دفقهاء کرامو اختلاف ملاحظه کړئی

په تکبير سره د دخول في الصلاة فرضيت: په دي کښي اختلاف دي چي دخول صلوة دپاره چه کوم تکبير تحريمه دی آيا دا صرف دالله اکبر لفظ سره خاص دي. يا نورو الفاظ سره هم دخول فی الصلوة جائز دی. البته تکبير تحريمه د ټولو په نزد فرض ده، صرف نيت سره دخول نه صحيح کيږی. اګر چي ابن شهاب رحمه الله صرف نيت سره هم دخول فی الصلوة جائز

---

(۱) اخرجه ابوداودکتاب الطهارة، باب فرض الوضوء (رقم-۶۱) والترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء أن مفتاح الصلاة الطهور (رقم- ۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

ګنړی مګر د جمهورو په دې کښې هیڅ اختلاف نشته دې. اختلاف صرف د الفاظو په تخصیص کښې دې.

د دخول في الصلاة دپاره د الفاظو په تعیین کښې مذاهب:

① د امام مالك رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نیز دخول فی الصلوة دپاره صرف د الله اکبر لفظ خاص دې ددې څخه علاوه بل لفظ جائز نه دې، مذکوره حدیث پاك کښې حصر دې.

② د امام شافعی رحمه الله په نیز صرف دوه لفظونه الله اکبر او الله الاکبر سره جائز دی ، ددې څخه علاوه جائز نه دی ، هغوی فرمائی چې دَ الله الاکبر معرف باللام کیدو سره نور حصر رازی. نو دا هم جائز دی. څکه چې کبریائی کښې اضافه ده.

③ د امام ابویوسف رحمه الله په نزد الله اکبر ، الله الاکبر او الله کبیر ، او الله الکبیر دا څلور لفظونه جائز دی. ددې څخه علاوه جائز نه دی. هغوی فرمائی چې الله اکبرد صفت مشبه صیغه ده، او ددې معنی داده چې الله ډیر لوی دې. دا اسم تفضیل نه دې نو دا صیغه د کبریائی دپاره راغلې ده کومه چې دکبیر په معنی کښې ده. هر کله چې الله کبیر جائز شو نو ددې پشان نور الفاظ هم جائز شو ، کوم چې په ډیره کبریائی باندې دال دی.

④ د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزد هرهغه لفظ کوم چې کبریائی لره مستلزم وی هغه جائز دې. دې سره د تکبیر تحریمه فرض پورا کیږی ، خو خاص طور لفظ الله اکبر ونیل واجب دی ، لهذا کوم لفظ چې مشعر دَ تعظیم وی هغه جائز دی لکه الله أعظم ، یا الله عظیم وغیره الفاظ.

نوټ: د دلائلو په جوابونو کښې مونږ صرف د اول فریق د دلائلو جوابونه ورکوو.د باقی مذاهبو د دلائلو جوابونه څکه نه ورکوو.چې هغوی داول فریق سره په دغه دلائلو کښې شریک دی.نو چې د اول فریق د دلائلو جوابونه اوشو.نو د نورو مذاهبو د دلائلو جوابونه ورسره هم اوشو

داول فریق اول دلیل: ① د امام مالك رحمه الله اوامام احمد رحمه الله یو دلیل خو پورتنې حدیث دې کوم کښې چې حصر دې چې تکبیر تحریمه دپاره صرف الله اکبر خاص دی ،

د اول فریق د اول دلیل جواب: په ﴿ وتحریمها التکبیر ﴾ کښې د حصرچې کومه قاعده بیان شوې ده دا قاعده اکثریه ده ، قاعده کلیه نه ده . او علامه تفتازانی رحمه الله هم دا ذکر کړی دی، نوزید العالم کښې دا حصر نه دې چې په دنیا کښې صرف زید عالم دې. بلکه دا کله کله د اهتمام شان دپاره او کامل فرد دپاره بیانو دَ پاره هم راځی.

داول فریق دویم دلیل: ② د دوی بل مستدل دلیل ﴿ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴾ دې .په دې کښې د تکبیر حکم دې.اوتکبیر الله اکبر ته وائی.

داول فریق د دویم دلیل جواب: ﴿ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴾ خو د احنافو دلیل دې. ځکه چه په دې کښې د تعظیم حکم ورکړې شویدې دې چې تاسو لوني بیان کړنی ، په دې کښې د الله اکبر خصوصیت نشته دې.

داول فریق دریم دلیل: ⓷ نبی کریم ﷺ تول عمر په الله اکبر باندې مداومت کړې دې بل لفظ ئې نه دې ادا کړې

داول فریق د دویم دلیل جواب: مداومت سره وجوب ثابتیږی او د الله اکبر د تخصیص د وجوب خو مونږ هم قائل یو. تاسو دې ته فرض وائې. حالانکه دفرض د ثبوت دپاره د قطعی الثبوت او قطعی الدلالة نص ضرورت وی.

د احکامو په اعتبار سره د دلائلو څلور قسمونه: ځکه چې د احکامو په اعتبار سره دلائل هم څلور قسمه دی.

⓵ قطعی الثبوت قطعی الدلالة ، ددې ځخه فرض ثابتیږی.

⓶ قطعی الثبوت ظنی الدلالة،

⓷ ظنی الثبوت قطعی الدلالة دې دواړو دلائلو سره واجب ثابتیږی.

⓸ ظنی الثبوت ظنی الدلالة دې سره سنن مؤکده او مستحبات ثابتیږی.

ددې تفصیل داشان دې چې شارع که مداومت کړې دې مګر کله کله ئې ترك هم کړې دې نو دا سنت مؤکده دی او کله ئې اوکړل او کله ئې او نه کړل نو دا مستحب دی. او که په یو ځل ئی کړې دې نودا مباح دی،بیان دَجواز دپاره کله کله دمکروه تنزیهی ارتکاب هم کیږی خلاصه دا چه مذکوره حدیث خبر واحد دې په دې سره فرض نه ثابتیږی. دا تفصیل دَ هغه دلائلو او نصوصو په جانب اثبات کښې شو او په جانبِ نفی او عدم کښې په اول قسم سره حرام ثابتیږی اودویم اودریم قسم سره مکروه تحریمی ثابتیږی او په څلورم قسم سره مکروه تنزیهی وغیره ثابتیږی.

د دویم فریق دلیل: د شوافع حضراتو دلائل هم دا دی کوم چې د مالکیؤ او حنابلؤ دی، او په الله الاکبر هم د کبریائی اضافه ده نو دا هم جائز دی.

د دریم فریق دلیل: امام ابو یوسف رحمه الله هم د مالکیؤ او حنابلؤ په دلیل ځخه دنورو صیغو نفی کړې ده مګر اکبر دکبیر په معنی کښې دې، لهذا څلور صیغې به جائز وی ځکه چې کبیر جائز دې نو الکبیر او الاکبر هم جائز شو، ځکه چې دا په معنی کښې یو شان دی.

د دریم فریق د دلیل جواب: امام ابویوسف رحمه الله ته جواب دادې چه څنګه تاسو دَ الله اکبر په لفظ کښې تعمیم لفظی کولوسره څلور الفاظ جائز ګرځولی دی هغه شان تاسو تعمیم معنوی کولو سره هر هغه لفظ جائز اوګرځوئی کوم چه مشعر تعظیم وی. تعمیم لفظی مو چه اوکړو نومعنوی هم اوکړئی

Maktaba Tul Ishaat.com

د څلورم فريق دليل: د امام ابو حنيفه رحمه الله اول دليل ﴿وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّى﴾ دې چې دا تکبير تحريمه دپاره دې او د اسم ربه په لفظ کښې عموم دې ، نو کوم لفظ سره چې د رب تعظيم وی هغه به جائز وی. او دې سره به فرض پورا کيږی.

د تکبير تحريمه په حکم کښې مذاهب:

دلته د دې آيت څخه يوه بله مسئله پيدا کيږی.

① او هغه دا چې د احنافو په نيز تکبير تحريمه د صلوة رکن نه دې بلکه شرط دې ،

② د نورو ائمو په نيز خو تحريمه رکن د صلوة دې. شرط په خپل مشروط باندې مقدم وی او رکن داخل صلوة وی.

دلته آيت ﴿فَصَلَّى﴾ کښې فا د تعقيب مع الوصل دپاره راغلې ده. نو ﴿وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ﴾ بيل څيز دې او ﴿فَصَلَّى﴾ د دې څخه وروستو بيل څيز دې. نو تحريمه رکن نه شو بلکه خارج الصلوة دَشرط په درجه کښې شو.

قوله: وَتَحْلِيلُهَا التَّسْلِيمُ:

د خروج من الصلاة په الفاظو کښې مذاهب:

① د دريوارو امامانو او دَ جمهورو په نيز صرف په لفظ دَ سلام سره مونځ ګذار دَ مونځ نه خارجيدې شی ګنی مونځ نه کيږی. دَهغوی دليل هم دغه حديث او دا الفاظ دی.

② دَ امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز خاص لفظ سلام سره دَ مانځه نه وتل واجب دی او صنع مصلی سره عمداً دَ مانځه نه وتل فرض دی که هغه هر يو لفظ وی يا هريو عمل وی اودا وتل په حقيقت کښې دَ بل مونځ تيارې او کولودَ وجې نه فرض کيږی. مثلاً چا دَ مابنام مونځ دومره اوږد کړو چه دَ ماسخوتن وخت راغلو نو اوس وتل فرض دی دې دپاره چه دَ ماسخوتن مونځ اوکړی

داول فريق دليل: زيربحث حديث د دوی مستدل دې.څکه چې په دې کښې د تحليل دپاره صرف د سلام ذکر دې د بل څه ذکر نشته.

داول فريق د دليل جواب: دَ تکبير تحريمه په بحث کښې چه دَ کومو جوابونو ذکرکړې شوې دې هغه جوابونه دلته هم چليدې شی. بهرحال په سلام باندې د هميشه والي دَ وجې نه مونږ هم لفظ دَ سلام ته واجب وايو دَ فرض قاعده جدا ده.

د دويم فريق دلائل: ① دَ حضرت ابن مسعود رضی الله عنه دَ هغه حديث د دوی مستدل دې په کوم کښې چه حضورپاك هغوی ته اوفرمائيل [فإن شئت ان تقوم فقم] (رواه ابوداؤد).

② اعرابی ته دَ تعليم په وخت حضورپاك دَ فرض سلام ذکر اونه کړو.

۳۳-(¹) [۱] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْهُ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ.

ترجمه: [۱] او ابن ماجه دا حديث د حضرت علي رضی الله عنه او ابي سعيد څخه روايت کړي دي.

[۳۴] د پُسکي (بغير آوازه باد وتلو) د اودس ماتيدل

۳۴-(²) [۱۳] [۱] وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ طَلْقٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] («إِذَا فَسَا أَحَدُكُمْ فَلْيَتَوَضَّأْ، [۳] وَلَا تَأْتُوا النِّسَاءَ فِي أَعْجَازِهِنَّ») رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او علي بن طلق رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هرکله چې په تاسو کې څوك حدث وکړي (يعني بغير د آواز څخه هوا خني خارجه شي) نو هغه ته اودس کول پکار دي [۳] او تاسو د ښځو سره خلاف فطرت د هغوئ مقعد (يعني د لويو بولو په ځاي کې) جماع مه کوئ. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① فَسَا: أَيْ: خَرَجَ الرِّيحُ الَّتِي لَا صَوْتَ لَهُ مِنْ أَسْفَلِ الْإِنْسَانِ: د انسان د خيټې نه چه بغير د آواز نه کومه هوا خارج شي هغې ته وائي. ② لَا تَأْتُوا النِّسَاءَ: أَيْ: لَا تُجَامِعُوهُنَّ: يعني جماع ورسره مه کوئ. ③ أَعْجَازِهِنَّ: دا د عجز جمع ده، أَيْ: أَدْبَارِهِنَّ: دښځو شا طرف کوم چه د ولادت قابل نه دي، يعني مقعد.

تسهيلات:

قوله: إِذَا فَسَا أَحَدُكُمْ:

د هوا په خارجيدو د نقض وضوء دوه وجوهات: ① يعنى کله چې يقيني طور هوا خارج شي نو بيا اودس کوئي ځکه چې ممکن دی چې دې هوا سره دننه ذرات خارج شوی وی ② داخپله ګندګی ده کومې سره چې اودس ماتيږي.

د قبل او ذکر څخه په خروج ريح د اودس نه ماتيدل: که قبل او ذکر نه هوا خارج شي نو دې سره اودس نه ماتيږي مګر دا چې ښځه مفضاة وی بيا نه معلوميږی چې آيا دا هوا د قبل څخه راغلی ده که دبر څخه نو اودس به ماتيږي.

قوله: وَلَا تَأْتُوا النِّسَاءَ فِي أَعْجَازِهِنَّ:

د اغلام بازۍ ذکر کولو د باب سره مناسبت: ددې مسئلې دلته د ذکر کولو مناسبت دا دې چې کله د هوا خارجيدو سره د دبر ذکر راغلو نو نبی کريم ﷺ ددې مناسبت څخه ددې مهمې مسئلې باندې هم تنبيه اوفرمائيله.

(¹) اخرجه ابن ماجة كتاب الطهارة وسننها باب مفتاح الصلاة الطهور (رقم-۲۷۵)
(²) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة/باب من يحدث في الصلاة (رقم- ۲۰۵) والترمذى كتاب الرضاع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كراهية إتيان النساء في أدبارهن (رقم-۱۱۶۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۲۱۵] په خوب د اودس ماتیدل

۲۱۵ –() [۱۴] [۱] وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «إِنَّمَا الْعَيْنَانِ وِكَاءُ السَّهِ، [۳] فَإِذَا نَامَتِ الْعَيْنُ اسْتَطْلَقَ الْوِكَاءُ» رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او معاویه بن ابي سفیان رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] سترګې د سرین (کوناټو) سربند دي [۳] نو چه سترګي اوده شی نو سربند خلاص شي، (څکه خوب ته ناقض وضو ویل کیږي) (دارمي)

حل اللغات: ① الْعَيْنَانِ: أَيِ: الْيَقَظَةُ: عینان د عین تثنیه ده ددې نه مراد غړیدلي او بیداري سترګي دی، ② وِكَاءُ: مَا يُشَدُّ بِهِ الْكِيسُ: هغه تسمې ته وائی په کوم سره چه دَ تهیلئ، بوجئ خُله تړلې شی. ③ السَّهِ: أَيِ: حَلَقَةُ الدُّبُرِ: دُبر یعنی مقعد ته وائی، ④ اسْتَطْلَقَ: أَيِ: انْحَلَّ: خلاص شی (مزې یا خوله د بوجئ).

تسهیلات:

قوله: وِكَاءُ السَّهِ:

وائی چه "السه" په اصل کښې "سته" وو تاء حذف کړې شوه نو"سه" پاتې شو دَدې دلیل "استاه" دې چه هلته تاء موجود ده. بهرحال

مشکیزې سره د انسان د تشبیه وجه: "وکاء" سربند او دَ تهیلئ مزی ته وائی. دلته دَ انسان تشبیه یو مشکیزې سره ورکړې شوې ده دَ کوم مزې چه دَانسان سترګې دی. کله چه سترګې کولاوې نومشکیزه بنده وی اوکله چه سترګې کولاوشی نولکه چه غوټه کولاوشوه او مشکیزه غیرمحفوظ شوه. اودَ سرین مزې کولاویدوسره دَ هوا خارجیدو قوی احتمال پیدا کیږی سره دَدې چه خوب پخپله ناقض وضوء نه دې خو په خوب سره استرخاء مفاصل راځی اندامونه سست شی او استرخاء مفاصل موجب خروج هوا دې دَ هوا پته خونه لګی لهذا شریعت خوب دَ هوا خارجیدو قائمقام اوګرځولو اوس که هوا خارج شی اوکه نه صرف خوب دَ اودس ماتیدو نښه اوعلامت جوړشو.

په خوب سره د اودس ماتیدو کښې مذاهب:

د اودس من النوم په باره کښې اختلاف دې دې مسئله کښې علامه نووی رحمه الله اته ۸ او علامه عینی رحمه الله لس ۱۰ اقوال نقل کړې دی. خو حقیقت کښې ددې اقوالوخلاصه درې اقوال دی.

① مطلقًا ناقض دې که قلیل وی اوکه کثیردا قول د حضرت حسن بصری رحمه الله، امام زهری رحمه الله اود امام اوزاعی څخه منقول دې.

(۱) اخرجه الدارمی کتاب الطهارة/باب الوضوء من النوم(رقم-۷۴۹)

② نوم مطلقًا غیرناقض دي.دا مسلك د حضرت ابن عمر رضي الله عنه ، حضرت ابوموسی اشعري رضي الله عنه ، حضرت ابومجلز، حضرت حمید اعرج اوحضرت شعبه څخه منقول دي.

③ نوم غالب ناقض دي.اونوم غیرغالب غیرناقض.دا مسلك د ائمه اربعه اود جمهورو دي.په حقیقت کښې ددې دریم قول د قائلینو په دې خبره اتفاق دې چه نوم بنفسه ناقض نه بلکه د مظنه خروج ریح د وجې ناقض دې اومظنه خروج الریح د معمولي خوب څخه نه راپیدا کیږي.د دې وجې دا مسلك مختارشو چه نوم غیرغالب ناقض نه دې البته نوم غالب چه هغې سره انسان بې خبره شي او استرخاء د مفاصلو متحقق شي ناقض وضوء دې خوهرکله چې په حالت د نوم کښې د خروج ریح علم نشی کیدې.نو استرخاء مفاصل شرعًا د خروج ریح قائم مقام شو.لکه چه حدیث الباب کښې چې د ((اذا اضطجع استرخت مفاصله)) د دې الفاظوڅخه هم دامعلومیږي چه د حکم مداریه استرخاء د مفاصلو دې.د دې وجې که استرخت مفاصل سره هم د عدم خروج ریح یقین وي.نوبیابه هم ناقض وضوء وي.لکه څنګه چې سفرقائم مقام د مشقت شو او د قصرمدار په دې کینودې شو.

مطلقًا د نقض دلیل: دحضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دې چې ((العین وکاء السه فمن نام فلیتوضا))

یعني سترګې د مقعد د تړلوتار دې.نوځوک چې اوده شي نو اودس دې اوکړي.

په دې کښې صراحت دې چې مطلق خوب ناقض د اودس دې.([1])

جوابونه: دا روایت په درې وجوه سره ضعیف دي.

① دا روایت منقطع دې په دې کښې عبدالرحمن بن عائذ د علي رضي الله عنه څخه روایت کوي.حال دا چې د ده ملاقات د حضرت علي رضي الله عنه سره ثابت نه دې.

② په دې کښې دوه راویان بقیعه او وضین دواړه ضعیفان دي.

③ دا حدیث د صحیح حدیث سره معارض دې.هغه حدیث دا دې ((کان اصحاب النبي صلی الله علیه وسلم ینامون ثم یقومون ویصلون ولا یتوضؤون)) نودا قابل استدلال پاتې نشو.([2])

مطلقًا د عدم نقض دلیل: د دې مذهب د خاوندانو دلیل په دې باب کښې دویم روایت دې چې ((کان اصحاب النبي صلی الله علیه وسلم ینامون ثم یقومون ویصلون ولا یتوضؤون)) ([3]) د دې څخه صراحت سره معلومه شوه چې صحابه کرام به اوده کیدل اوبیا به ئې مونځ کولو او اودس به ئې نه کولو.که په خوب سره اودس ماتیدل نو دوی به ولې بغیر اودسه مونځ کولو.

جواب: ① د دې روایت د صحیح سند څخه معلومه ده چې صحابهٔ کرامو به د ماخوستن

[1]) ابوداؤد باب الوضوء من النوم)-
[2]) الترمذي باب الوضوء من النوم)-
[3]) الترمذي باب الوضوء من النوم)-

Maktaba Tul Ishaat.com

د مانځه انتظار کولو ((حتی تخفق رؤسهم))[1] تردې چې د هغوی سرونو به جوټه اووهله یعنې ښکته طرف ته به مائیله شو.د داسې قسم روایاتو څخه معلومیږي چې دلته د خوب څخه مراد د ملاستې خوب مراد نه دې بلکه په ناسته به اوده کیدل او په ناسته کښې چې مقعد په زمکه پورې وی.په اتفاق سره اودس نه ماتیږي.

اشکال: په دې باندې دا اعتراض کیږي چې چې حافظ ابن حجر په ((التلخیص الخبیر))[2] کښې ګنړ روایات نقل کړی دی په کومو کښې چې دی ((فیضعون جنوبهم)) یعنی هغوی به خپلې ډډې لګولې.نو دغه روایت په ناسته باندې حمل کول ټیك نه دی.

جوابونه: ① که ګنړ روایاتو ته نظر اوکړې شی نو په مسند ابویعلی او مسند بزار [3] کښې د دې تصریح ده چې ((فمنهم من یتوضأ ومن من لایتوضأ)) چې په دوی کښې به چا اودس کولو او چا به په کښې اودس نه کولو.یعنی څوك چې به ستونې سنغ اوده وو هغوی به اودس کولو.اوچې کوم به په ناسته اوده شوی وو یا به ئې لږ غوندې خوب اوکړو نو هغوی به اودس کولو اوهغوی به اودس هم نه کولو.

② خوب په نفس ناقض نه دې بلکه دا سبب البسبب دې.هغه داسې چې خوب د استرخاء مفاصل سبب دې.او استرخاء د مفاصل سبب د خروج ریح دې.اواسترخاء په ډوب خوب کښې خوښکاره کیږي په معمولی خوب کښې نه متحقق کیږي.

دنوم غالب د نقض اوغیر غالب دعدم نقض دلائل: ① د دې مذهب قائلینو چې کله دواړه قسمه روایاتو ته اوکتل چې د بعضې څخه نقض بالنوم معلومیږي اود بعضې څخه عدم نقض بالنوم معلومیږي.نو دوی دا نتیجه راوویستله چې نوم غیرغالب ناقض د اودس نه دې.اونوم غالب ناقض د اودس دې.په بل عبارت سره داسې اووایه چې نوم قلیل غیر ناقض او نوم کثیر ناقض دې.اودا د څلورو امامانو مذهب دې.

د قلیل او کثیر په تعریف کښې مذاهب:

بیا د نوم قلیل او نوم کثیر په تعریف کښې امامان د اجتهاد څخه کار اخلی.① امام شافعی د مقعد تمکین علی الارض د قلیل او کثیر دپاره حد مقرر کوی.یعنی که تمکین علی الارض باقی وی نو نوم قلیل دې اوکه

② احناف هئیت صلاة د قلیل او کثیر دپاره حد مقرر کوی.چونکه د مانځه په حالت کښې استرخاء د مفاصل نه وی نو نواودس پرې نه ماتیږي.اوپه خوب مضطجعاً اومستلقیاً کښې استرخاء د مفاصل وی نو ځکه پرې اودس ماتیږي.

[1]) ابوداؤد (۳۰۱۱)-

[2]) باب الاحداث، رقم الحدیث ۱۶۱ (ص.۳۳۵)-

[3]) مسند ابوعلی وبزار بحواله مجمع الزوائد باب فی الوضوء من النوم (۵۶۲۱۱)-

داحنافو په استرخاء مفاصل معیار گرځولو باندې دلیل: د احنافو استدلال په روایت الباب باندې دې په دې کښې نبی کریم ﷺ ابن عباس رضی الله عنه ته فرمائیلی دی ((ان الوضوء لا یجب الا علی من نام مضطجعا فانه اذا اضطجع استرخت مفاصله)) د دې حدیث څخه معلومه شوه چې په خو مضجعاً باندې اودس ماتیږي. اوسبب د نقض استرخاء د مفاصل ده. نو هر هغه خوب چې په هغې کښې استرخاء د مفاصل وی په هغې به اودس ماتیږي.

په روایت الباب باندې اعتراضات: په دې روایت باندې شپږ اعتراضات شوی دی په کومو کښې چې دوه امام ترمذی رحمه الله کړی دی اودرې امام ابوداؤد رحمه الله کړی دی.

اولنې اعتراض: امام ترمذی رحمه الله فرمائی چې دا روایت سعید بن ابی عروبه د قتده څخه نقل کړې دې خو ((ولم یرفعه)) یعنی قتاده د ابن عباس رضی الله عنه څخه موقوفا ذکر کړې دې.

داولنی اعتراض جواب: د دوی اعتراض صحیح نه دې. ځکه چې نقل کله په طور د روایت وی او کله په طور د فتوی وی. نو یو کوم ځائې کښې نقل په طور د رویت وی هغوی ئې مرفوع ذکر کوی. او په ځائې کښې چې ئې په طور د فتوی ذکر کوی نو هلته ئې موقوف ذکر کوی. اود دې ګڼړ مثالونه موجود دی. دلته هم داسې ده چې د سعید روایت د دې وجې موقوف دې چې هغه د فتوی په طور دې. اواو د ابوخالد مرفوع ځکه دې چې دا په طور د روایت دې.

دویم اعتراض: په دې سند کښې بعضې محدثینو ابوخالد ضعیف ګرځولې دې. د دې وجې دا حدیث ضعیف شو؟

د دویم اعتراض جواب: که بعضې محدثینو دې ضعیف ګرځولې وی خو نورو ډیرو د جرح اوتعدیل امامانو په مختلفو الفاظو کښې د دوی توثیق کړې دې. یحی به معین چې د جرح او تعدیل متشدد امام دې فرمائی ((لا بأس به)) ابوحاتم فرمائی ((صدوق)) امام احمد رحمه الله فرمائی ((لا بأس به)) امام حاکم فرمائی امامان د دوی د حفظ ګواهی ورکوی. نواب صدیق حسن خان فرمائی ابوخالد د ثقاتو څخه دې. امام شوکانی هم د دوی روایت تسلیم کړې دې. نیتجه دا شوه چې دومره امامانو په مختلفو الفاظو سره د د وی توثیق کړې دې. نو دا ثقه دې اود ثقه زیادت مقبول وی.

دریم اعتراض: امام ترمذی رحمه الله فرمائی چې سعیدبن ابی عروبه د قتاده او ابن عباس په مینځ کښې د ابوالعالیه واسطه نه ده ذکر کړې نو دا روایت منقطع شو.

د دریم اعتراض جواب: سعید بن ابی عروبه واسطه نه ده ذکرکړې خود دې مطلب دا نه دې چې د دې روایت ټول طرق ضعیف دی ځکه چې د ابوخالد په طریق کښې ابوالعالیه دې.

څلورم اعتراض: ابوداؤد رحمه الله اعتراض کړې دې چې دا روایت د ابوقتا ده مختلفو شاګردانو نقل کړې دې خو په هغوی کښې د دې اضافه نه ده کړې ((فانه اذا اضطجع استرخت

مفاصله)) دا صرف د ابوخالد زیادت دې.نودا روایت منکر شو.اومنکر ضعیف وی.
د څلورم اعتراض جواب: دې روایت ته منکر وئیل صحیح نه دی ځکه چې په منکر کښې دوه خبرې وی د راوی ضعف اود ثقاتو څخه مخالفت اودلته دواړه خبرې مفقود دی. ابوخالد ضعیف هم نه دې کمامراومخالفت هم نه کوی ځکه چې د قتاده نور شاګردان د دې زیادت څخه ساکت دی او دې ذاکر دې.اوپه ذکر او سکوت کښې څخه مخالفت نشته .نو دې ته منکر وئیل صحیح نشو.
پنځم اعتراض: ابوداؤد فرمائی چې د نبی کریم ﷺ په صحیح حدیث کښې کوم چې حضرت عائشې ﷞ نقل کړې دې فرمائی ((تنام عيناي ولاينام قلبي)) دلته په حدیث الباب کښې نې ((استرخت مفاصله)) ذکر کړې دې. که چرته د ((استرخت مفاصله)) زیادت صحیح وې نو پکار دا ده چې د عائشې ﷞ د روایت پشان ئې ((تنام عيناي ولاينام قلبي)) ئې ذکر کړې وې.
د پنځم اعتراض دوه جوابونه:
① د ((فانه اذا نام استرخت مفاصله)) جمله نبی کریم ﷺ د قانون کلی په طور سره ذکر کړې ده.ځکه چې د ((تنام عيناي ولاينام قلبي)) حکم صرف د نبی کریم ﷺ پورې خاص دې.دامت دپاره عام حکم نه دې.دامت فائده په دې کښې ده ((استرخت مفاصله))
② ((لاينام قلبي)) د عدم نقض دلیل نه دې بلکه مطلب دا دې چې د زړه د بیدارئ په وجه ما ته د خروج ریح وغیره علم کیږی نو ((لاتنام عيناي)) د نقض وضوء دلیل نه شو.بلکه د نبی کریم ﷺ دلته د علت بیانول مقصود دی.
شپږم اعتراض: امام ابوداؤد رحمه الله دا اعتراض کړې دې چې د قتاده د ابوالعالیه څخه صرف څلور روایات منقول دی ① يونس بن متى ② حديث ابن عمر فى الصلاة ③ القضاة ثلاثة ④ حدثنى رجال مرضيون منهم عمر ﷜ اوحدیث الباب د دغه روایاتو څخه نه دې.
د شپږم اعتراض جواب: د قتاده د ابوالعالیه څخه صرف د څلورو روایاتو دعوی صحیح نه ده بلکه د ابوالعالیه څخه د قتاده نور روایات هم منقول دی په جامع ترمذی کښې ((قال حدثنى ابى عن قتادة ان ابى العالية الخ)) (۱) بیا امام ترمذی رحمه الله فرمائی ((هذا حديث حسن صحيح)) دا پنځم روایت شو شپږم رُوایت په مسلم کښې دې ((قتادة عن ابى العالية)) (۲) او روایت الباب به اووم شی .نوپه څلورو کښې حصر صحیح نه دې.

[۱]) جامع الترمذی کتاب الدعوات باب ما يقول عند الکرب)-
[۲]) صحيح مسلم باب الاسراء برسول الله a)-

[۳۲] خوب موجب اودس

۳۱۶—( ) [۱۵] ① وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «وِكَاءُ السَّهِ الْعَيْنَانِ، ③ فَمَنْ نَامَ فَلْيَتَوَضَّأْ») رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. ④ وَقَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِي السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللّٰهُ: هٰذَا فِي غَيْرِ الْقَاعِدِ لِمَا صَحَّ:

ترجمه: ① او حضرت علي كرم الله وجهه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د كونټو سربند سترګي دي ③ نو كوم سړي چې اوده شي هغه ته پكار دي چې اودس وكړي. (ابوداؤد) ④ او امام محي السنة رحمه الله فرمايي چه دا حكم د هغه سړي د پاره دي چې ناست نه وي (بلكه په پروتي سره اوده شوي وي)

۳۱۷—( ) [۱] ① عَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «كَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَنْتَظِرُونَ الْعِشَاءَ ③ حَتَّى تَخْفِقَ رُءُوسُهُمْ، ثُمَّ يُصَلُّونَ وَلَا يَتَوَضَّئُونَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ ④ إِلَّا أَنَّهُ ذَكَرَ فِيهِ: يَنَامُونَ بَدَلَ: «يَنْتَظِرُونَ الْعِشَاءَ حَتَّى تَخْفِقَ رُءُوسُهُمْ».

ترجمه: ① خكه چې د حضرت انس رضی الله عنه خخه په صحيح طور ثابت دي چه هغه وفرمايل ② د حضور ﷺ اصحاب به د ماسخوتن د لمانځه په ناستې انتظار كولو ③ تر دې چې د خوب په سبب به د هغوئ سرونه ښكته شو په دې حالت كې به هغوئ ودريدل او مونځ به اوكړو اودس به يې نه كولو. (ابوداؤد، ترمذي) ④ خو ترمذي په خپل روايت كښې د يَنْتَظِرُونَ الْعِشَاءَ حَتَّى تَخْفِقَ رُءُوسُهُمْ په ځاي لفظ د يَنَامُونَ ذكر كړي دي.

حل اللغات: ① الْعِشَاءَ: أَيْ: صَلَاتَهَا: يعني د ماسخوتن مونځ، ② تَخْفِقَ: أَيْ: تَتَحَرَّكَ وَتَضْطَرِبَ: خوزيدل راخوزيدل به (يعني سرونو به ئې دخوب په وجه جوتې وهلې)

[۳۸] ستوني ستغ خوب كولو سره د اودس ماتيدل

۳۱۸—( ) [۱۶] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② («إِنَّ الْوُضُوءَ عَلَى مَنْ نَامَ مُضْطَجِعًا، ③ فَإِنَّهُ إِذَا اضْطَجَعَ اسْتَرْخَتْ مَفَاصِلُهُ») رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او ابن عباس رضی الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② اودس په هغه سړي لازميږي چې په پروتي سره اوده شي ③ خكه چې كوم وخت سړي اوده شي نو د هغه د بدن جوړونه سست شي (بيا د هوا خاريجيدو خطره وي) (ترمذي ابوداؤد)

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة/باب في الوضوء من النوم (رقم- ۲۰۳) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب الوضوء من النوم (رقم- ۴۷۸)

(۲) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة/باب في الوضوء من النوم (رقم- ۲۰۰) والترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب الوضوء من النوم (رقم-۷۸

(۳) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة/باب في الوضوء من النوم (رقم- ۲۰۳) والترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب الوضوء من النوم (رقم-۷۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

حل اللغات: ① مُضْطَجِعًا: چه ملاست وی، ② اسْتَرْخَتْ: أَيْ: فَتَرَتْ وَضَعُفَتْ: سست او کمزوری شی. ③ مَفَاصِلُهُ: جمع د مفصل ده، وَهُوَرُءُوسُ الْعِظَامِ: دهډوكو سرونو او جوړونو ته وائی.

تسهيلات:

قوله: الْوُضُوءَ عَلَى مَنْ نَامَ مُضْطَجِعًا

په روايتونو کښې تعارض: ددې حديث پاك ماقبل حديث سره تعارض راځی . ځکه چې ماقبل کښې مطلقا نوم لره ناقص وضوء اوګرځولې شو،او دې ځائې کښې اضطجاع والا مونځ لره ناقص وضوء ګرځولې کیږی؟

د تعارض جواب: اولنې حديث مبارك د عام مخصوص منه البعض د قبيل څخه دې.

اعتراض: ددې حديث مبارك نه حصر معلوميږی؟

د اعتراض جواب: دا حصر د معلول العلة د قبيل څخه دې ، يعنی چې په کوم خوب کښې علت اوموندلې شو نو هغه به ناقص وضو وی.

دحديث ضعف: حضرت ميرك شاه فرمائيلی دی چې دا حديث منكر دې ځکه چې ددې په راويانو کښې يو راوی يزيدالانی هم دې کوم چې كثير الخطاء او فاحش الوهم او د ثقه مخالف دې .

[۳۸] په مس د ذکر د اودس ماتيدل

۳۱۹ —() [۱۷] ① وَعَنْ بُسْرَةَ بنت صفوان بن نوفل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② ((إِذَا مَسَّ أَحَدُكُمْ ذَكَرَهُ، فَلْيَتَوَضَّأْ)) رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او بي بي بسره رضي الله عنها راوي ده چې رسول ﷺ وفرمايل ② په تاسو کې چې کوم سړي خپل ذکر (خاص عضو) ته لاس وروړي نو هغه ته پکار دي چې اودس وکړي. (مالك، احمد ، ابوداؤد ، ترمذي، نسائي، ابن ماجه، دارمي)

حل اللغات: ① مَسَّ: چه لاس وروړی، لاس اولګوی، ② ذَكَرَهُ: د سړی شرمګاه.

تسهيلات:

قوله: إِذَا مَسَّ أَحَدُكُمْ ذَكَرَهُ:

د مس ذکر په مسئله کښې د فقهاء کرامو اختلاف دې چې آيا دې سره اودس ماتيږی که نه؟ دفقهاؤ اومحدثينوپه مينځ کښې دامسئله معرکة الاراء ده چه مس الذکرموجب وضوء دې.اوکه نه ؟

---

(۱) اخرجه مالک کتاب الطهارة ، باب الوضوء من مس الفرج (رقم - ۵۸) والترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب الوضوء من مس الذکر (رقم - ۸۲) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب الوضوء من مس الذکر (رقم - ۴۷۹)

په مس الذكر د اودس په نقض كښې مذاهب:

① د دريو وارو ائمه كرامو په نيز مس ذكر ناقض وضوء دی. البته ددوئ په مينځ كښې ددې په كيفياتو كښې اختلاف دې. د شوافعو په نيز چې دا مس ذكر بلا حائل وی او بباطن كف وی. د امام مالك رحمه الله په نيز د **بشهوة** قيد ملحوظ دې البته دَ امام احمد رحمه الله په نيز هيڅ قيد نشته دې. د مس ذكر مطلب داشو چې عضو تناسل ته لاس وروړلو نو دې سره اودس ماتيږی. دجمهورو په نيز د مس فرج مسئله د ښځې دپاره دمس ذكر پشان ده او دې سره دښځې هم اودس ماتيږی.

② ائمه احناف فرمائی چې دخروج نجاست نه بغير اودس نه واجبيږی.

داول فريق دلائل: دوی د حضرت بسره رضی الله عنها په روايت استدلال كوی كوم كښې چې د مس ذكر نه پس د اودس كولو حكم دې. **اذامس احدكم ذكره فليتوضأ**

د دويم فريق دليل: د دوی مستدل د حضرت طلق بن علی رضی الله عنه روايت دې. ((**قال وهل هو الا بضعة منه**)) ائمه جمهور او ائمه احناف دواړه د يو بل په دلائلو باندې اعتراض كوی.

د اول فريق په دليل اعتراض: عروه رضی الله عنه دا حديث نيغ په نيغه د بسره رضی الله عنها څخه نه دې اوريدلې. بلكه د عروه او بسره په مينځ كښې مروا ن بن الحكم راوی دې يا د مروان څوك شرطی يعنی پوليس په مينځ كښې واسطه ده او دې مجهول دې. كه مروان په مينځ كښې دې نوحكومت ته د راتلو نه پس هغه ددې قابل نه دې چې د هغه نه روايت واخستې شی. او كه شرطی په مينځ كښې دې نو هغه د مجهول الحال كيدو نه علاوه بدحال هم دې لهذا دا روايت ناقابل استدلال دې.

د دويم فريق په دليل اعتراض: جمهورو د طلق بن علی رضی الله عنه په روايت باندې اعتراض كړې دې چې دا منسوخ دې ځكه چې د بسره روايت د حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه هم نقل شوې دې. اوحضرت ابوهريره رضی الله عنه په اوومه هجرئ كښې مسلمان شوې وو او طلق بن علی رضی الله عنه دَ اسلام قبلولو نه پس په اوله هجرئ كښې ملاقات كړې وو. او ددې نه پس مدينې منورې ته نه وو راغلې. نودمتأخر الاسلام راوی روايت د متقدم الاسلام راوی درروايت دپاره ناسخ جوړيږی. لهذا دَ طلق روايت منسوخ او د ابوهريره رضی الله عنه روايت ناسخ دې.

د دواړو رواياتو صحت: خو صحيح خبره داده چې دواړه حديثونه صحيح دی ، ابن حجر رحمه الله فرمائی چې دا دواړه حديثونه دَ حسن څخه دَ كمې درجې نه دی . د بسره رضی الله عنها روايت په څلوارو وجوهو سره منقول دې نو كوم كوم ته به ضعيف وائې. او دَ طلق بن علی رحمه الله حديث ته څه واضح دليل نه بغير منسوخ وئيل صحيح نه دی. ځكه چې ممكن ده چې د طلق بن علی ملاقات دوباره شوې وی. صرف تقدم اسلام دَ راوی د تقدم روايت دليل نشی جوړيدلې. د نسخ دې ضابطې لره كه يو خپله كړئی نو د بسره رضی الله عنها روايت به پخپله منسوخ

Maktaba Tul Ishaat.com

شی. ځکه چې بسره ﷺ مکه کښې اسلام قبول کړې وو او طلق بن علی ﷺ خو کاله پس په اوله هجری کښې په مدینه منوره کښې اسلام قبول کړې وو.لهذا د تقدم او تأخر خبرې به څه حیثیت نه وی.بلکه دا به ثابتول وی چې د اولې هجری څخه وروستو د طلق بن علی ملاقات نه وو شوې حالانکه طلق ﷺ په نهمه هجری سنة الوفود کښې نبی کریم ﷺ سره ملاقات کړې وو.اودا طبقات ابن سعد صریحًا ذکر کړی دی، دې تقریر څخه د محی السنة خبره هم ختمه شوه چې د طلق روایت منسوخ شوې دې. ددې پورته تقریر څخه معلومه شوه چې دواړه احادیثه صحیح دی نو اوس فیصله به د ترجیحاتو په بنیاد باندې کیږی ،

د طلق بن علی ﷺ د روایت وجوه ترجیح:

① قیاس ددې موافق دې. ځکه چې کله احادیثو کښې تعارض راشی نو قیاس ته رجوع کیږی. او قیاس وائی چې کله پورې د سبلین څخه د نجاست خروج نه وی شوې نو اودس نه واجبیږی. او دلته د سبلین څخه څه خارج شوی نه دی.

② د بسره روایت محتمل دې ځکه کیدیشی چې مس ذکر دمتیازو کولو کنایه وی او عربی کښې داسې اطلاق کیږی.

③ د طلق بن علی ﷺ روایت کښې علت ذکر شوې دې. یعنی ﴿هل هوالابضعة منه﴾ .

④ ترجیح بلکه تطبیق داشان دې چې دبسره په روایت کښې چه د وضوء ذکر راغلې دې هغه استحبابی اودس دې او ددې څخه احناف انکار نه کوی او د طلق بن علی ﷺ په روایت کښې چه د عدم وضوء ذکر راغلې دې هغه قاعده او ضابطه ده.

⑤ د طلق بن علی ﷺ روایت او هغې د علت په تائید کښې صحابه کرام څخه ډیر آثار وارد شوی دی

د طلق بن علی په تائید کښې آثار: ① حضرت علی ﷺ فرمائی ﴿ماأبالی مسسته أوطرف أنفی﴾

② حضرت ابن عباس دیو سائل په جواب کښې فرمائی ﴿أن كنت تستنجسه فاقطعه﴾

③ حضرت ابن مسعود ﷺ یو کس ته په جواب کښې فرمائی: ﴿الاقطعته ؟﴾ یعنی هرکله چې دا نجس دې او لاس لګولو سره اودس ماتیږی نو دا پرې کوی ولې نه؟

④ حضرت علی ﷺ څخه روایت کښې هم منقول دی ﴿ماأبالی أنفی مسست أوأذنی أوذکری﴾

⑤ حضرت ابن مسعود ﷺ داشان فرمائی ﴿وماأبالی ذکری مسست فی الصلوة أوأذنی أوأنفی﴾ بهر حال ددې تحقیق څخه د تیر شوی حدیث او د راتلونکی حدیث تشریح اوشوه.

دوه الزامی جوابونه: ① د بسره ﷺ په روایت باندې خو تاسو نیغ په نیغه عمل نه دې کړې ځکه چې په تاسو کښې ځینې د بباطن کف قید لګوی. او ځینې د بشهوة قید لګوی. نو تاسو کله په دې حدیث باندې عمل اوکړو؟

② ذکر په لاس مس کول که د اودس د ماتيدو باعث دی نو بيا هم دا ذکر د مونځ په دوران کښې دَ عورت غليظه يا پتون سره لګی، دې سره ولې اودس نه ماتيږی؟

[۳۲۰]به مس د ذكر د اوس نه ماتيدل

۳۲۰-() [۱۸] ①وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ②«سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ مَسِّ الرَّجُلِ ذَكَرَهُ بَعْدَ مَا يَتَوَضَّأُ. ③قَالَ: (وَهَلْ هُوَ إِلَّا بَضْعَةٌ مِنْهُ؟»). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ نَحْوَهُ. ④وَقَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِي السُّنَّةِ هَذَا مَنْسُوخٌ; لِأَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ أَسْلَمَ بَعْدَ قُدُومِ طَلْقٍ.

ترجمه: ① او طلق بن علي رضی الله عنه فرمايي② چه يو خل رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه چه د اودس څخه وروسته که يو سړي خپل ذکر مسه کړي (نو څه حکم دي؟)③ وي فرمايل هغه هم د سړي د غوښې يو ټکړه ده، ابوداؤد، ترمذي، نسائي، او ابن ماجه رحمه الله هم دغسې روايت کړي دي④ امام محي السنة رحمه الله فرمايي چه داحديث منسوخ دي ځکه چې ابوهريره رضی الله عنه د طلق بن علي رضی الله عنه د راتلو څخه وروسته اسلام راوړي دي.

حل اللغات: ① مَسِّ: چه لاس وروړی، لاس اولګوی، ② ذَكَرَهُ: د سړی شرمګاه. ③ بَضْعَةٌ: أَيْ: قِطْعَةُ لَحْمٍ: د غوښې يوه حصه او ټکړه، ④ قُدُومِ: واپس راتلو ته وائی.

د راوي مختصر تعارف:

نوم طلق دَ پلارنوم علی کنيت ابوعلی حنفی يمامی،

هغه ته طلق بن ثمامه هم وائی دَ مسلمانيدودَ پاره دَ يمامه دَ ډلې سره راغلې وو.

مرويات: دَ هغه نه څوارلس روايات نقل دی اوبعضې وائی په دې څوارلسوکښې يوروايت هم په بخاری اومسلم کښې نشته.

تسهيلات:

قوله: وَهَلْ هُوَ إِلَّا بَضْعَةٌ مِنْهُ

د مذکوره جملې مطلب: د نبی کريم ﷺ دجواب مطلب دادې چې څنګه لاس، پښه، غوږ او پوزه وغيره د بدن دغوښې ټکړې دی، همداشان ذکر هم د بدن د غوښې يوه ټکړه ده. او کله چې ددې نورو ټکړو او حصو په نيولو اودس نه ماتيږی نو بيا د ذکر په مسح کولو سره اودس ولې ماتيږی؟ لهذا ددې نه معلومه شوه چې مسح ذکر ناقض د اودس نه دې.

قوله: وَقَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِي السُّنَّةِ هَذَا مَنْسُوخٌ

د امام محی الدين د قول مطلب: د امام محی السنة رحمة الله عليه قول په اصل کښې د شوافع ترجمانی کوی. ددې مطلب دادې چې حضرت ابوهريره رضی الله عنه د طلق بن علی رضی الله عنه څخه

---

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة/باب الرخصة فى ذلك (رقم- ۱۸۲) والترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ترك الوضوء من القبلة (رقم-۸۵

Maktaba Tul Ishaat.com

د ير روستو ايمان قبول كړي دې ځكه چې حضرت طلق د هجرت څخه پس كله چې د مسجد نبوي تعمير شروع وو نو د نبي كريم ﷺ خد مت كښې حاضر شوي وو، اوحضرت ابوهريره رضي الله عنه په اوومه هجري كښې دغزوۀ خيبر په موقع اسلام كښې داخل شوي دي. ځكه د حضرت طلق بن علي رضي الله عنه دحضرت نبي كريم ﷺ څخه دا حديث اوريدل اول شوي وي او د حضرت ابوهريره اوريدل به رضي الله عنه روستووي. لهذا د حضرت طلق بن علي رضي الله عنه حديث منسوخ او د حضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث ناسخ شو. مظاهر حق (۱/ ۲۴۹)

[۲۲] دذكرپه مس كولو د اودس ماتيدل

۳۲۱–()[۱] وَقَدْ رَوَى أَبُو هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «إِذَا أَفْضَى أَحَدُكُمْ بِيَدِهِ إِلَى ذَكَرِهِ [۳] لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا شَيْءٌ فَلْيَتَوَضَّأْ» رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ وَالدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: [۱] او د ابوهريره رضي الله عنه څخه د رسول ﷺ دا حديث منقول دي [۲] چه هركله چې په تاسو كې د چا لاس ذكر ته ورسي [۳] او د لاس او د ذكر په مينځ كې څه شي حايل نه وي نو هغه ته پكار دي چې اودس وكړي (شافعي دار قطني رحمة الله عليه)

حل اللغات: ① أَفْضَى: أي: أَوْصَلَ: اورسيږي.

۳۲۲–()[۱] وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْ بُسْرَةَ، [۲] إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ: لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا شَيْءٌ.

ترجمه: [۱] او نسايي د بي بي بسره رضي الله عنها څخه دا روايت نقل كړي دي چې په هغې كښې د لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا شَيْءٌ الفاظ مذكور نه دي.

[۲۳] په مچه اخستلو (ښځې ښكلولو) سره د اودس نه ماتيدل

۳۲۳–()[۱۹] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُقَبِّلُ بَعْضَ أَزْوَاجِهِ [۳] ثُمَّ يُصَلِّي وَلَا يَتَوَضَّأُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي [۲] رسول ﷺ به خپلو بعضو بيبيانو څخه مچي (ښكل) اخسته [۳] او اودس كولو بغير (په اولني اودس سره) به يې مونځ كولو. (ابوداؤد، ترمذي، نسائي)

[۱] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: لَا يَصِحُّ عِنْدَ أَصْحَابِنَا بِحَالٍ إِسْنَادُ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ، وَأَيْضًا إِسْنَادُ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ عَنْهَا. [۲] وَقَالَ أَبُو دَاوُدَ: هَذَا مُرْسَلٌ، وَإِبْرَاهِيمُ التَّيْمِيُّ لَمْ يَسْمَعْ عَنْ عَائِشَةَ.

ترجمه: [۱] ترمذي ويلي دي چه زمونږ د علماؤ په نيز په هيڅ حال كښې د عروه سند د

---

[۱] اخرجه الدار قطني في السنن باب ما روى في لمس القبل والدبر

[۲] اخرجه النسائي في باب ترك الوضوء من ذلك

[۳] اخرجه ابوداود كتاب الطهارة/ باب الوضوء من القبلة (رقم- ۱۷۹) والترمذي كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب ترك الوضوء من القبلة (رقم-۸۶)

حضرت عائشي څخه او د ابراهيم تيمي سند هم د بي بي عائشي رضي الله عنها نه صحيح نه دي[۲] او ابوداؤد ويلي دي چې دا حديث مرسل دي ځکه چې ابراهيم تيمي د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه نه دي اوريدلي

حل اللغات: ①-يُقَبِّلُ: مچې به ئې اخستله، ښکلوله به ئې

تسهيلات:

قوله: يُقَبِّلُ بَعْضَ أَزْوَاجِهِ:

په مس د امراة سره په نقض وضوء کښې د فقهاؤ مذاهب:

دا مسئله هم اهمو اختلافي مسائلو کښې ده په مس د امراه اودس ماتيږي که نه؟

① احناف مس امراة ته مطلقًا غيرناقض وائي. مګر دا چې مباشرت فاحشه وي.(يعنی چې دواړه بربنډ وي او ملاقات اوکړي ځکه چې عام طور په داسې حالت کښې مذي اوخی نو دا مباشرت فاحشه قائم مقام د خروج مذي اوګرځولي شو.لکه څنګه چې په نوم کښې استرخاء د مفاصلو راځي اوپه استرخاء د مفاصلو سره خروج د ريح راځي نو ځکه نوم قائم مقام د خروج ريح اوګرځولي شو او د نقض وضوء حکم پرې شوي دي.)او ابن قدامه رحمه الله فرمائيلي دي چې د يو روايت مطابق دا د امام احمد مذهب هم دي

②دامام شافعي رحمه الله مفتی به قول په دې سلسله کښې دادې چه مس مراة مطلقًا ناقض ده که صغيره وي.اوکه کبيره که مس کونکې محرم وي اوکه غيرمحرم که په بشهوت سره وي اوکه بغيرشهوت تردې چه بعضې شوافع ليکی چه ((حتى اذالطمها او داوی جرحها انتقض وضوءه)) البته د شوافعو په نيز صرف يو شرط دې. چه دامس بلاحائل وي او ابن قدامه رحمه الله فرمائيلي دي چې د يو روايت مطابق دا د امام احمد مذهب هم دي

③ دامام مالک رحمه الله په نيز په درې شرطونو موجب وضوء دې.يو داچه کبيره وي ،دويم اجنبيه وي يعنی محرمه نه وي دريم دا چې مس په شهوت سره وي. او ابن قدامه رحمه الله فرمائيلي دي چې د يو روايت مطابق دا د امام احمد مذهب هم دي

د نقض وضو دلائل: په دې مسئله کښې هيڅ حديث نشته بلکه دنقض د قائلينو استدلال په قرآنی آيت باندې ﴿اولمستم النساء﴾ دې.د امام کسائی وغيره په روايت کښې ((لمستم النساء))راغلی دی.او د لمس اطلاق په لاس لګولو باندې کيږي او د دې دليل دا دې چې ابن مسعود اوابن عمر څخه هم دا تفسيرمنقول دې.اوعمر رضي الله عنه هم دې طرف ته مائل دې.

جواب: د حنفيانو دطرفه د دې استدلال څخه جواب دا دې چې ابن عباس رضي الله عنه د دې آيت په تفسير کښې فرمائی چې دلته د لمس څخه مراد جماع ده.د ابن عباس رضي الله عنه څخه علاوه

Maktaba Tul Ishaat.com

علی ،آبی بن کعب، مجاهد، طاؤس ،حسن بصری امام شعبی ،سعیدبن جبیر، او قتاده هم د دې تفسیر قائلین دی.

اعتراض: احنافوپه اکثرو مسئلو کښې د ابن مسعود رضي الله عنه په قول عمل کوی نو په دې مسئله کښې ولې ابن مسعود رضي الله عنه پریخود اود ابن عباس په قول عمل کوی.

جواب: دا د تفسیر باب دې او په تفسیر کښې د ابن عباس رضي الله عنه رائې د ابن مسعود رضي الله عنه نه اوچته ده ځکه چې ابن عباس رضي الله عنه ته نبی کریم ﷺ دعا کړې وه چې ((اللهم علمه التأویل))نو د دې وجې احناف د تفسیر په باب کښې د ابن عباس قول اختیاروی.

په آیت کښې د لمس نه مراد جماع کیدو باندې قرائن: د لاندینی قرائنو په بناء په آیت کښې د لمس نه جماع مراد ده لمس بالید مراد نه دې.

① د ((أَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ)) د جماع نه کنایه ده. ددې دلیل دا دې.چه دې آیت کښې اصل مقصود د تیمم بیان دې.اودابنودل مقصود دی.چه تیمم دحدث اصغراوحدث اکبر دواړو نه جائز دې. په ((أَوْجَآءَ أَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ)) سره د حدث اصغربیان اوشو اود حدث اکبردپاره ((أَوْ لٰمَسْتُمُ)) کنائی الفاظ استعمال شوی دی که ((أَوْ لٰمَسْتُمُ)) هم په حدث اصغرمحمول شی.نو دا آیت به د حدث اکبر د بیان نه خالی شی.

② أَوْ لٰمَسْتُمُ باب دمفاعله دې. داپه مشارکت دلالت کوی اومشارکت په جماع اوپه مباشرت فاحشه کښې کیدې شی.په صرف لمس یعنی لاس اوړل یا قبله کښې نه وی.

③ ترکومې چه د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه اوابن عمر رضي الله عنه وغیره د اثارونه د استدلال تعلق دې.نو اول خو د دوئ سندونه قوی نه دی.دویم دا چې دا آثار د صریح صحیح احادیثو معارض دی.نوپه دې وجه قابل د استدلال نه دی

⑤ د ټولونه اهمه خبره دا ده که د ملامسه یا د لمس نه مراد مس بالید وی.نو د حضرت نبی کریم ﷺ په حیاة طیبه کښې نه یو واقعه خوداسې ملاویدل پکار وو چه هغې کښې دوئ د مس امراة په بناء وضوء کړې وې یا د دې ئې حکم ورکړې وی.حال دا دې چه د احادیثو په پوره ذخیره کښې داسې یو روایت هم نه ملاویږی.

دعدم وجوب وضوء دلائل: په دې مسئله کښې د حنفیانو دلائل ډیر مضبوط دی هم دا وجه ده چې ډیرو اهل حدیثو په دې مسئله کښې د احنافو ملګرتیا کړې ده.صاحب د تحفة الاحوذی چې د احنافو په تردید کښې نه کوتاهی نه کوی.هغوی هم په دې مسئله کښې د احنافو مسلك اختیار کړې دې.دلائل ئې لاندې دی.

① په صحیحینو کښې د حضرت عائشه رضي الله عنها روایت دې چه زه دتهجدو په وخت دحضرت نبی کریم ﷺ وړاندې اوده وومه کله چې به دوی سجده کوله نو په لاس باندې د

اخوا كولو دپاره حركت راكړو نو مابه خپلې پښې راغونډې كړې. ددې په باره كښې دحافظ ابن حجر رحمه الله داوئيل چه مس په حائل سره وه.. نوځكه پرې اودس نه ماتيدل. دا تكلف محض دې

۲ سنن نسائي كښې هم د حضرت عائشه رضي الله عنها حديث دې ((عن عائشه رضي الله عنها قالت ان كان رسول الله ﷺ ليصلى وانى لمعترضة بين يديه اعتراض الجنازة حتى اذا اراد ان يوتر مسنى برجله)) (۱)

۳ حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې ((عن عائشه رضي الله عنها قالت فقدت رسول الله ﷺ ليلة من الفراش فالتمسته فوقعت يدى على بطن قدمه وهوفى المسجدوهما منصوبتان وهويقول اللهم انى اعوذ برضاك من سخطك)) (۲)

۴ دحضرت ابومسعودانصارى رضي الله عنه روايت روايت دې. ((ان اقبل الى الصلوة فأستقبلته امرأته فأكب عليها فتناولها فاتى النبى ﷺ فذكر ذلك له فلم ينهه))

اعتراض: ددې سند كښې ليث بن ابى سليم دې چه مدلس دې؟

جواب: د نورو احاديثوپه وجود كښې داخبره قطعامُضرنه ده. (۳)

۵ د حضرت ام سلمه رضي الله عنها روايت دې. ((قالت كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يقبل ثم يخرج الى الصلوة ولا يحدث وضوءً)) (۴)

اعتراض: ددې سند كښې يو راوى يزيدبن سنان الرهاوى چه امام احمد رحمه الله ، يحيى بن معين رحمه الله او ابن المدينى رحمه الله ورته ضعيف وئيلې دې؟

جواب: امام بخارى رحمه الله ، ابوحاتم او مروان بن معاويه دده توثيق كړې دې. په هرحال دې كثيررواياتو په وجود كښې داحنافو مسلك ارجح دې.

۶ دحضرت عائشه رضي الله عنها حديث الباب ((ان النبى ﷺ قبل بعض نساء ثم خرج الى الصلوة ولم يتوضاء))

[۳۲۳] د اورپوخ شوې څيز په خوړلو سره د اودس نه ماتيدل

۳۲۳-(۵) [۲۰] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: [۲] «أَكَلَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَتِفًا [۳] ثُمَّ مَسَحَ يَدَهُ بِمِسْحٍ كَانَ تَحْتَهُ، ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي [۲] چه رسول الله ﷺ د بزې (چيلۍ) د اوږې غوښه وخوړله [۳] بيا خپل لاس يې په ټاټ سره وچ كړو چې لاندې ځنې غوړيدلې وو بيا ودريدلو مونځ يې

(۱) نسائى ۳۸/۱ ترک الوضوء من مس الرجل امراته من غيرشهوة)
(۲) صحيح مسلم باب مايقال فى الركوع والسجود ۱۹۲/۱)
(۳) مجمع الزوائد ۲۴۷/۱ ((باب فيمن قبل أولامس)) ناقلا عن معجم طبرانى الاوسط
(۴) معجم طبرانى الاوسط)-
(۵) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة/ باب فى ترک الوضوء مما مست النار(رقم-۱۸۹) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب الرخصة فى ذلک (رقم-۴۸۸) (رقم-۴۸۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

وکړلو. (ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات: ① كَتِفًا: اوږې ته وائي. ② مِسْحٍ: أَيْ: كِسَاءٍ: ټاټ، پيړ څادر.

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى

د احنافو د مذهب تائيد: دې حديث هم د احنافو د مسلك تائيد کړې دې چې په اور سره پوخ شوی څيز خوړلو باندې اودس نه ماتيږی . او ددې حديث مبارك څخه دا هم معلومه شوه که د خوراك کولو څخه پس په لاسونو يا مخ باندې غوړوالی پاتې شی نو د هغې وينځل ضروري نه دی . مظاهر حق (۱/ ۲۵۱)

[۳۲۵] په اور پخ شوی څيز د خوراك نه پس اودس نه کول

> ۳۲۵—(١)[٢١] ١ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّهَا قَالَتْ: ٢ «قَرَّبْتُ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- جَنْبًا مَشْوِيًّا فَأَكَلَ مِنْهُ، ٣ ثُمَّ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ وَلَمْ يَتَوَضَّأْ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ١ او بي بي ام سلمه رضي الله عنها فرمايي ٢ چه ما نبي کريم ﷺ ته د بزي (چيلۍ) د سره کړي (وريته کړي) غوښي يوه حصه يوړه ٣ حضور ﷺ د هغې څخه خوراك وکړو بيا د لمانځه د پاره ودريدلو او اودس يي ونه کړلو. (احمد)

حل اللغات: ① قَرَّبْتُ: نزدې مې کړه يعنی ورته مې پيش کړه، ② جَنْبًا: أَيْ: ضِلْعًا: د ډډې هډوکي يعنی د پختۍ غوښه، ③ مَشْوِيًّا: وريته کړې، سره کړې غوښه.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۲۶] د وريته شوې چيلی د خوراك نه پس اودس نه کول

> ۳۲۶—(٢)[٢٢] ١ عَنْ أَبِي رَافِعٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ٢ «أَشْهَدُ لَقَدْ كُنْتُ أَشْوِي لِرَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بَطْنَ الشَّاةِ، ٣ ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ حضرت ابو رافع رضي الله عنه فرمايي ٢ چه زه په دې خبره قسم خورم چې ما به د حضور ﷺ د پاره د بزي (چيلۍ) د خيټې يعنی د خيټې دننه څيزونه (مثلًا زړه اينه وغيره) سره کول (پخول) [حضور ﷺ به د هغې څخه خوراك کولو] ٣ بيا به د لمانځه د پاره ودريدلو او اودس به يې نه کولو. (مسلم)

حل اللغات: ① أَشْهَدُ: أَيْ: أُقْسِمُ بِاللَّهِ: زه قسم کوم، ② أَشْوِي: وريت کول به مې، سره کول به مې، ③ بَطْنَ الشَّاةِ: دخيټې دننه څيزونه مراد دی يعنی زړه، اينه وغيره.

---

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء في أكل الشواء (رقم- ۱۸۲۹)
(۲) اخرجه مسلم کتاب الحيض باب نسخ الوضوء مما مست النار (رقم) ۹۴ - (۳۵۷)

[۳۲۷] د کټوئ پخ شوې غوښې خوړلو نه پس اودس نه کول

۳۲۷ ـ(۱) [۲۳] ① وَعَنْهُ، قَالَ: ② «أُهْدِيَتْ لَهُ شَاةٌ فَجَعَلَهَا فِي الْقِدْرِ، ③ فَدَخَلَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: (مَا هٰذَا يَا أَبَا رَافِعٍ؟) ④ فَقَالَ: شَاةٌ أُهْدِيَتْ لَنَا يَا رَسُولَ اللهِ! فَطَبَخْتُهَا فِي الْقِدْرِ. ⑤ قَالَ: (نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ يَا أَبَا رَافِعٍ!) ⑥ فَنَاوَلْتُهُ الذِّرَاعَ. ثُمَّ قَالَ: (نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ الْآخَرَ) ⑦ فَنَاوَلْتُهُ الذِّرَاعَ الْآخَرَ. ثُمَّ قَالَ (نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ الْآخَرَ)

ترجمه: ① او ابو رافع ﷛ راوي دي ② چې يوه ورځ ماته د تحفې په طور بزه راولېږل شوه نو ما د هغې غوښه د پخولو دپاره په کټوئ کې واچوله ③ (په دې کې) حضور ﷺ تشريف راوړو وې فرمايل ابو رافع دا څه دي؟ ④ ما عرض وکړو يا رسول الله ﷺ د بزې (چېلې) غوښه ده چې ما ته د هديې په طور راغلې ده ما په کټوئ کې پخ کړېده ⑤ حضور ﷺ وفرمايل ابو رافع يو لاس ماته هم را کړه ⑥ نو ما يو لاس د حضور ﷺ په خدمت کې پېش کړو بيا حضور ﷺ وفرمايل يو بل لاس راکړه ⑦ ما دويم لاس هم پېش کړو بيا حضور ﷺ وفرمايل يو لاس بل راکړه

① فَقَالَ لَهُ: يَا رَسُولَ اللهِ! إِنَّمَا لِلشَّاةِ ذِرَاعَانِ. ② فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: أَمَا إِنَّكَ لَوْ سَكَتَّ لَنَاوَلْتَنِي ذِرَاعًا فَذِرَاعًا مَا سَكَتَّ، ③ ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَتَمَضْمَضَ فَاهُ، وَغَسَلَ أَطْرَافَ أَصَابِعِهِ، ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى، ④ ثُمَّ عَادَ إِلَيْهِمْ، فَوَجَدَ عِنْدَهُمْ لَحْمًا بَارِدًا، فَأَكَلَ، ⑤ ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَصَلَّى وَلَمْ يَمَسَّ مَاءً». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ① هغه عرض وکړو يا رسول الله ﷺ د بزې (چېلې) خو دوه لاسونه وي (او هغه دواړه مې ستا په خدمت کې پېش کړل اوس بل لاس خو نشته) ② حضور ﷺ ماته وفرمايل اې ابو رافع! که ته چپ پاتې شوې وې نو ماته به دې لاس نه پس بل لاس راکولو ترڅو پورې چې ته چپ وې ③ بيا حضور ﷺ اوبه وغوښتلې او خله يې وينځله بيا د ګوتو بندونه يې ووينځل او ودريدلو او مونځ يې وکړو ④ بيا ابو رافع ته ورغلو او د هغه سره يې يخه غوښه وليده نو حضور ﷺ هغه وخوړله ⑤ د هغه ځځه وروسته مسجد ته يې تشريف يوړو او (د شکرانې) مونځ يې وکړو او اوبه يې مسه هم نه کړې يعنې نه يې اودس وکړو او نه يې خُله وينځله. (احمد)

حل اللغات: ① أُهْدِيَتْ: هديه کښې راکړې شوې دې، ② الْقِدْر: کټوئ، ③ فَطَبَخْتُهَا: پخ کړې مې ده، ④ نَاوِلْنِي: ماته راکړه، ⑤ الذِّرَاعَ: وهو مِنْ طَرَفِ الْمِرْفَقِ إِلَى طَرَفِ الْإِصْبَعِ: د څنګل نه تر ګوتو پورې هډوکې ته ذراع وائي يعنې د لاس غوښه (د څارو او ځناورو مخکينو دواړو خپو ته ذراع وائي) ⑥ سَكَتَّ: چپ پاتې شوې وې، خاموشي دې اختيار کړې وې، ⑦ لَمْ يَمَسَّ: لاس ئې يونړلو، يعنې لاسونه ئې اونه وينځل.

(۱) اخرجه احمد في المسند ۶/۳۹۲

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: ذِرَاعًا فَذِرَاعًا:

د معجزې د ظهور امکان: يعني زما په غوښتنه که تاسو چپ پاتې شوې وئ نو په معجزاتي توګه به دَ الله تعالى دَ طرف نه دَ ډيرو ذراع انتظام کيدلو مګر چه کله تاسو دَ ظاهري اسبابو تصريح اوتشريح شروع کړه نودَغيب دپردې کرشمه موقوف شوه.

قوله: وَلَمْ يَمَسَّ مَاءً:

د پخ شوی څيز په خوراک د عدم وضوء دليل:

يعني حضورپاك په دغه صورت کښې اوبوته لاس هم اونه لګولو ځکه چه دلته حضورپاك يخه غوښه اوخوړله په کوم سره چه په لاس پورې هيڅ هم نه وو لګيدلې نونه ئې لاس اووينځلواونه ئې اودس اوکړو داټول احاديث دَ جمهورودلائل دی چه په اورپورې لګيدلې څيز خوړلو ځکلوسره اودس نه ماتيږی.

۳۲۸ــ(¹) [١] وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ أَبِي عُبَيْدٍ [٢] إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ (ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ) إِلَى آخِرِهِ.

ترجمه: [١] او دا حديث دارمي هم روايت کړي دي [٢] خو ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ څخه تر آخره پورې يې نه دي ذکر کړي.

[۳۲۹] دپاکو څيزونوپه خوراك داودس نه ماتيدل

۳۲۹ــ(²) [۲۴] [١] وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] «كُنْتُ أَنَا وَأُبَيٌّ وَأَبُو طَلْحَةَ جُلُوسًا فَأَكَلْنَا لَحْمًا وَخُبْزًا، [٣] ثُمَّ دَعَوْتُ بِوَضُوءٍ، فَقَالَا: لِمَ تَتَوَضَّأُ؟ [٤] فَقُلْتُ: لِهَذَا الطَّعَامِ الَّذِي أَكَلْنَا. فَقَالَا: أَتَتَوَضَّأُ مِنَ الطَّيِّبَاتِ؟ [٥] لَمْ يَتَوَضَّأْ مِنْهُ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنْكَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] انس بن مالك رضي الله عنه فرمايي [٢] چه زه اوابي بن کعب رضي الله عنه او ابو طلحه رضي الله عنه ناست وو مونږ غوښه او ډوډۍ وخوړه [٣] (د خوراك څخه فارغيدو نه پس) ما د اودس د پاره اوبه وغوښتلي ابي ابن کعب رضي الله عنه او ابو طلحه رضي الله عنه اوويل ته اودس ولي کوي؟ [٤] ما ورته اوويل د دې طعام په وجه چې مونږ اوس خوړلي دي نو هغه دواړو اوويل آيا پاك څيزونه خوړلو سره اودس کوې [٥] په دې څيزونوخوړلوسره هغه چا اودس نه دي کړي چې ستاڅخه ښه دي (يعني حضور صلى الله عليه وسلم) (احمد)

حل اللغات: ① خُبْزًا: روټئ، ② دَعَوْتُ: أَيْ: طَلَبْتُ: اومې غوښتلې، ③ بِوَضُوءٍ: أَيْ: مَاءَ الْوُضُوءِ: د اودس اوبه مراد دی.

(¹) اخرجه الدارمی باب ما أكرم به النبی صلی الله علیه وسلم فی بركة طعامه (رقم-٤٥)
(²) اخرجه احمد فی المسند ٤/٣٠

[۳۳۰] د ښځې په مسه کولو او مچه کولو داودس نه ماتیدل

۳۳۰- () [۲۵] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، كَانَ يَقُولُ: ۲ قُبْلَةُ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ وَجَسُّهَا بِيَدِهِ مِنَ الْمُلَامَسَةِ. ۳ وَمَنْ قَبَّلَ امْرَأَتَهُ أَوْ جَسَّهَا بِيَدِهِ، فَعَلَيْهِ الْوُضُوءُ. رَوَاهُ مَالِكٌ، وَالشَّافِعِيُّ.

ترجمه: ۱ د ابن عمر رضی الله عنه په باره کې روایت دي چه هغه به ویل ۲ چه د سړي د خپلې ښځې ښځه مچې (ښکلول) اخستل او هغه په خپل لاس سره مسه کول دا هم ملامست دي ۳ او کوم سړي چې دخپلې ښځې ښځه مچې (ښکلول) واخسته یا هغه یي په لاس سره مسه کړه نو په هغه اودس واجب دي. (مالك رحمه الله وشافعي رحمه الله)

حل اللغات: ① قُبْلَةُ: ښکلول، مچی کول، ② وَجَسُّهَا: أي: مَسُّهَا: لاس ورته اوړل.

تسهیلات:

قوله: وَمَنْ قَبَّلَ امْرَأَتَهُ أَوْ جَسَّهَا بِيَدِهِ، فَعَلَيْهِ الْوُضُوءُ

نوټ: د دې مسئله تفصیل وړاندې حدیث نمبر (۳۲۳) کښې تیرشوې دې.

په مس د امراة سره په نقض وضوء کښې مذاهب:-

① دامام شافعي رحمه الله مفتی به قول په دې سلسله کښې دادې چه مس مراة مطلقًا ناقض ده که صغیره وی. اوکه کبیره که مس کونکې محرم وی اوکه غیرمحرم که په بشهوت سره وی اوکه بغیرشهوت تردې چه بعضې شوافع لیکی چه ((حتی اذالطمها او داوٰی جرحها انتقض وضوءه)) البته د شوافعو په نیز صرف یو شرط دې. چه دامس بلاحائل وی او ابن قدامه m فرمائیلی دی چې د یو روایت مطابق دا د امام احمد مذهب هم دې

② دامام مالك رحمه الله په نیز په درې شرطونو موجب وضوء دې. یو داچه کبیره وی ،دویم اجنبیه وی یعنی محرمه نه وی دریم دا چې مس په شهوت سره وی. او ابن قدامه m فرمائیلی دی چې د یو روایت مطابق دا د امام احمد مذهب هم دې

③ احناف مس امراة ته مطلقًا غیرناقض وائی. مګر دا چې مباشرت فاحشه وی. (یعنی چې دواړه برېنډ وی او ملاقات اوکړی ځکه چې عام طور په داسې حالت کښې مذی اوځی نو دا مباشرت فاحشه قائم مقام د خروج مذئ اوګرځولې شو. لکه څنګه چې په نوم کښې استرخاء د مفاصلو راځی اوپه استرخاء د مفاصلو سره خروج د ریح راځی نو ځکه نوم قائم مقام د خروج ریح اوګرځولې شو او د نقض وضوء حکم پرې شوې دې.) او ابن قدامه رحمه الله فرمائیلی دی چې د یو روایت مطابق دا د امام احمد مذهب هم دې

داول او دویم فریق دلیل: قرآنی آیت ((أَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ)) د دوی مستدل دې. د امام کسائی وغیره په روایت کښې ((أَوْ لَمَسْتُمُ النِّسَآءَ)) راغلی دی. او د لمس اطلاق په لاس لګولو باندې کیږی

(۱) اخرجه مالک فی الموطا کتاب الطهارة . باب الوضوء من قبلة الرجل امرأته (رقم-۶۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

او د دې دلیل دا دې چې ابن مسعود او ابن عمر څخه هم دا تفسیر منقول دې.او عمر رضی الله عنه هم دې طرف ته مائل دې.

داول اودویم فریق د دلیل جواب:–د حنفیانو دطرفه د دې استدلال څخه جواب دا دې چې ابن عباس h د دې آیت په تفسیر کښې فرمائی چې دلته د لمس څخه مراد جماع ده.د ابن عباس رضی الله عنه څخه علاوه علی ،آبی بن کعب، مجاهد ، طاؤس ،حسن بصری امام شعبی ،سعیدبن جبیر، او قتاده هم د دې تفسیر قائلین دی.

په جواب اعتراض:– احنافو په اکثرو مسئلو کښې د ابن مسعود رضی الله عنه په قول عمل کوی نو په دې مسئله کښې ولې ابن مسعود رضی الله عنه پریخود اود ابن عباس په قول عمل کوی.

د اعتراض جواب:–دا د تفسیر باب دې او په تفسیر کښې د ابن عباس رضی الله عنه رائې د ابن مسعود رضی الله عنه څخه اوچته ده ځکه چې ابن عباس رضی الله عنه ته نبی کریم ﷺ دعا کړې وه چې ((اللهم علمه التاویل)) نو د دې وجې احناف د تفسیر په باب کښې د ابن عباس قول اختیاروی.

د لمس څخه جماع مراد کیدو باندې قرائن:– د لاندینی قرائنو په بناء په آیت کښې د لمس څخه جماع مراد ده لمس بالید مراد نه دې.

① د((أَوْلَٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ)) د جماع څخه کنایه ده. ددې دلیل دا دې.چه دې آیت کښې اصل مقصود د تیمم بیان دې.اودابنودل مقصود دی.چه تیمم دحدث اصغراوحدث اکبر دواړو څخه جائز دې. په ((أَوْجَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الْغَآئِطِ)) سره د حدث اصغربیان اوشو اود حدث اکبردپاره ((أَوْلَٰمَسْتُمُ)) کنائی الفاظ استعمال شوی دی که ((أَوْلَٰمَسْتُمُ)) هم په حدث اصغرمحمول شی.نو دا آیت به د حدث اکبر د بیان څخه خالی شی.

② أَوْلَٰمَسْتُمُ باب دمفاعله دې. داپه مشارکت دلالت کوی اومشارکت په جماع اوپه مباشرت فاحشه کښې کیدې شی.په صرف لمس یعنی لاس اوړل یا قبله کښې نه وی.

③ ترکومې چه د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه اوابن عمر رضی الله عنه وغیره د اثاروڅخه د استدلال تعلق دې.نو اول خو د دوئ سندونه قوی نه دی.دویم دا چې دا آثار د صریح صحیح احادیثو معارض دی.نوپه دې وجه قابل د استدلال نه دی

⑤ د ټولوڅخه اهمه خبره دا ده که د ملامسه یا د لمس څخه مراد مس بالید وی.نو د حضرت نبی کریم ﷺ په حیاة طیبه کښې څه یو واقعه خوداسې ملاویدل پکار وو چه هغې کښې دوئ د مس امراة په بناء وضوء کړې وې یا د دې ئې حکم ورکړې وی.حال دا دې چه د احادیثو په پوره ذخیره کښې داسې یو روایت هم نه ملاویږی.

د دریم فریق دلائل: په دې مسئله کښې د حنفیانو دلائل ډیر مضبوط دی هم دا وجه ده چې ډیرو اهل حدیثو په دې مسئله کښې د احنافو ملګرتیا کړې ده.صاحب د تحفة الاحوذی چې د احنافو په تردید کښې څه کوتاهی نه کوی.هغوی هم په دې مسئله کښې د احنافو مسلك اختیار کړې دې.دلائل ئې لاندې دی.

① په صحیحینو کښې د حضرت عائشه رضی الله عنها روايت دې چه زه دتهجدو په وخت دحضرت نبی کريم ﷺ وړاندې اوده وومه کله چې به دوی سجده کوله نو په لاس باندې د اخوا کولو دپاره حرکت راکړو نو مابه خپلې پښې راغونډې کړې.ددې په باره کښې دحافظ ابن حجر رحمه الله داوئيل چه مس په حائل سره وه..نوځکه پرې اودس نه ماتيدل. دا تکلف محض دې

② سنن نسائی کښې هم د حضرت عائشه رضی الله عنها حديث دې ((عن عائشه رضی الله عنها قالت ان كان رسول الله ﷺ ليصلى وانى لمعترضة بين يديه اعتراض الجنازة حتى اذااراد ان يوتر مسنى برجله)) ([1])

③ حضرت عائشه رضی الله عنها نه روايت دې ((عن عائشه رضی الله عنها قالت فقدت رسول الله ﷺ ليلة من الفراش فالتمسته فوقعت يدى على بطن قدمه وهوفى المسجدوهما منصوبتان وهويقول اللهم انى اعوذ برضاك من سخطك)) ([2])

④ دحضرت ابومسعودانصارى رضی الله عنه روايت روايت دې.((ان القبل الى الصلوة فاستقبلته امرأته فاكب عليها فتناولهافاتى النبى ﷺ فذكرذلك له فلم ينهه))

اعتراض:- ددې سندې کښې ليث بن ابى سليم دې چه مدلس دې

جواب:- د نورو احاديثوپه وجود کښې داخبره قطعاً مضرنه ده. ([3])

⑤ د حضرت ام سلمه رضی الله عنها روايت دې.((قالت كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يقبل ثم يخرج الى الصلوة ولا يحدث وضوءً)) ([4])

په مذکوره دليل اعتراض: – ددې سند کښې يو راوى يزيدبن سنان الرهاوى چه امام احمد رحمه الله ، يحيى بن معين رحمه الله او ابن المدينى رحمه الله ورته ضعيف وئيلې دې

د اعتراض جواب: – امام بخارى رحمه الله ، ابوحاتم او مروان بن معاويه دده توثيق کړې دې.په هرحال دې کثيررواياتو په وجود کښې داحنافو مسلك ارجح دې.

⑥ دحضرت عائشه رضی الله عنها حديث الباب ((ان النبى ﷺ قبل بعض نساء خرج الى الصلوة ولم يتوضاء))

[۳۳] د خپلې ښځې په ښکلولو د اودس ماتيدل

۳۳–(^)[۲۶] ۱ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: كَانَ يَقُولُ: ۲ مِنْ قُبْلَةِ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ الْوُضُوءُ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ۱ ابن مسعود رضی الله عنه به فرمايل ۲ چه په سړي د خپلې ښځې مچي (ښکلولو) اخستو سره اودس لازميږي. (مالك رحمه الله)

[1] نسائى ۳۸\۱ ترك الوضوء من مس الرجل امرأته من غيرشهوة
[2] صحيح مسلم باب مايقال فى الركوع والسجود ۱۹۲\۱)
[3] مجمع الزوائد ۲۴۷\۱ ((باب فيمن قبل اولامس)) دناقلاً عن معجم طبرانى الاوسط
[4] معجم طبرانى الاوسط)–
(۵) اخرجه مالك فى الموطا كتاب الطهارة ، باب الوضوء من قبلة الرجل امرأته (رقم-۶۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۳۳۲] د ښځو د لمس په حکم کښې

۳۳۲-() [۲۷] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا. أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ إِنَّ الْقُبْلَةَ مِنَ اللَّمْسِ، فَتَوَضَّئُوا مِنْهَا.

ترجمه: ۱ ابن عمر ﷺ راوي دي حضرت عمر بن خطاب ﷺ وفرمايل ۲ چې مچي (ښکل) اخستل په لمس کښې داخل دي (چې په قرآن کښې مذکور دي) نو مچي (ښکل) اخستو څخه وروسته اودس کوئ.

تسهيلات:

قوله: فَتَوَضَّئُوا:

په تقبيل امرأة باندې د نقض الوضوء دليل: دا روايت اودې نه وړاندې دحضرت ابن مسعود ﷺ روايت اوهغې نه وړاندې دحضرت ابن عمر ﷺ روايت نه معلوميږي چه ښځې سره لاس لګولو باندې اودس لازم دې. شوافع دا دليل په توګه اخستې دې.

د احنافو جواب: احناف فرمائي چه اول خودا روايتونه موقوف دي او اقوال صحابه دي چه د مرفوع احاديثو مقابله نه شي کولې. بل داکه چرې داقوی اودا استدلال قابل اومنلې شي نوممکن ده چه مرفوع احاديث ددې دپاره ناسخ وی. دابن عباس ﷺ په مرفوع حديث کښې دی چه حضورپاك ﷺ فرمائيلی دی "ليس في القبلة وضوء" ([2]) تفصيل وړاندې تير شوې دې.

[۳۳۳] د هر قسم وينو بهيدو سره د اودس ماتيدل

۳۳۳-() [۲۸] ۱ وَعَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ تَمِيمِ الدَّارِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ «الْوُضُوءُ مِنْ كُلِّ دَمٍ سَائِلٍ». ۳ رَوَاهُمَا الدَّارَقُطْنِيُّ، وَقَالَ: عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ تَمِيمِ الدَّارِيِّ وَلَا رَآهُ، وَيَزِيدُ بْنُ خَالِدٍ، وَيَزِيدُ بْنُ مُحَمَّدٍ مَجْهُولَانِ.

ترجمه: ۱ عمر ابن عبد العزيز رحمه الله د تميم داري څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ چه په هره بهيدونکي وينې سره اودس لازميږي، ۳ دواړه روايتونه دار قطني نقل کړي دي او ويلي يي دي چې عمر ابن عبد العزيز رحمه الله نه خو د تميم داري ﷺ څخه اوريدلي دي او نه يي هغه ليدلي دي او د دې روايت دوه راويان يزيد ابن خالد او يزيد ابن محمد مجهول دي.

حل اللغات: ① سَائِلٍ: د اسم فاعل صيغه ده، بهيدونکي.

---

(۱) اخرجه الدارقطنی

۲) کذا فی مسند ابی حنیفه رحمه الله

(۳) اخرجه الدارقطنی

تسهيلات:

قوله: الْوُضُوءُ مِنْ كُلِّ دَمٍ سَائِلٍ:

په خروج من غير السبلين باندي د اودس په ماتيدوكښې مذاهب:

① د امام مالك رحمه الله مسلك دادې چې صرف د هغه نجاست خروج ناقض وضوء دې كوم چې په خپله هم معتاد وى اودده مخرج هم معتاد وى.لكه بول غائط .د دې وجې قى او رعاف د دوئ په نيز ناقض وضوء نه دى.ځكه چه ددې مخرج معتاد نه دې.اوكه سبيلين څخه بول براز ، منى .مذى ، ودى او ريح څخه علاوه بل څه څيز خارج شى لكه چنجې وغيره نو هغه هم ددوى په نيز ناقض نه دى.ځكه چه مخرج خو معتاد دې خوخارج معتاد نه دې البته دم استحاضه اگرچه خارج غيرمعتاد دې.خو د امام مالك رحمه الله په نيز دې سره اگرچه قياسًا وضوء نه ماتيږى.خودامرتعبدى په بناء دې ته وضوء ناقض وائى.

② د امام شافعى رحمه الله په نيز مخرج معتادكيدل خو ضرورى دى.خود خارج معتادكيدل ضرورى نه دى.د دې وجې كه په سبيلين غيرمعتاديعنى د بول اوغائط (غټ بول) څخه علاوه څه بل څيزخارج شى.نودادده په نيز ناقض دې.د دې وجې په غيرسبيلين سره ديونجاست خروج باندې نه د شوافعو اونه د مالكيانو په نيز اودس ماتيږى.

③ په قې اورعاف باندې دوضوء مسئله په يواصولى اختلاف متفرع ده.هغه داچه د احنافو په نيز چه يو نجاست دجسم دكومې حصې څخه هم خارج شى نودا ناقض وضوء دې كه دا خروج د نجاست عادى وى اوكه د بيمارئ د وجې وى.اوهم دامسلك دحنابلؤ اوامام اسحاق رحمه الله دې.

داول او دويم فريق اول دليل: ① د امام مالك رحمه الله او د امام شافعى رحمه الله استدلال دحضرت جابر رضي الله عنه په روايت څخه دې.كوم چې امام بخارى رحمه الله تعليقاروايت كړې دې [1] ((**ويذكرعن جابران النبى ﷺ كان فى غزوة ذات الرقاع فرمى رجل ـــــ بسهم فنزفه الدم فركع وسجد ومضى فى صلاته**)) ددې واقعې تفصيل امام ابوداؤد په مسند روايت سره كړې دې.([2])

استدلال: گورئ دا صحابى په غشې لگيدلې وو حضرت عبادبن بشر رضي الله عنه وو. وينې ترې تللې خو بيا هم مونځ ئې جارى ساتل كه چرته په وينه باندې اودس ماتيدل نو دوى به ولې مونځ جارى ساتل؟ هركله چې مونځ ئې جارى اوساتل نو معلومه شوه چې په وينه باندې اودس نه ماتيږى.

د اول دليل درې جوابونه: ① ددې جواب داوركړې شوې دې.چه دې واقعه كښې

---

[1] صحيح بخارى شريف كتاب الوضوء باب من لم يرالوضوء الامن المخرجين القبل والدبر) ــ

[2] سنن ابى داود باب الوضوء من الدم) ــ

Maktaba Tul Ishaat.com

دحضرت نبی کریم ﷺ تقریرثابت نه دې اوبغیر د دوئ د تقریر څخه د نورو احادیثو په مقابله کښې د صحابی فعل حجت نشی کیدې.

② **الزامی جواب:** که چرته د دې حدیث څخه په عدم نقض وضوء استدلال کیدې شی.نو بیادې څخه د وینې د طهارت هم استدلال صحیح کیدل پکاردی.ځکه چه د ابوداؤد د تصریح مطابق ده ته درې غشی لګیدلې وو.نو دا ممکن نه ده چه دده جامې به په وینونه وې ګنده شوې.

د الزامی جواب څخه د شوافعو جواب: د بعضې شوافعو دا وئیل هسې تکلف محض دې چه وینې دداري په شکل وتې وه.اونیغه په زمکه لګیدلې وه.اوپه جامونه وه لګیدلې.

دجواب تغلیط: د دې تاویل تردید په ابوداؤد کښې د ((فلمارأی المهاجرمابالانصاری من الدماء)) الفاظونه هم کیږی. چې مهاجر صحابی په انصاری صحابی باندې وینې لیدلې وې. په هرحال ((ماهوجوابکم عن نجاسة الدم فهوجوابنا عن انتقاض الوضوء))

③ **تحقیقی جواب:** دا جواب خوالزامی وو.ددې تحقیقی جواب دادې چه حضرت عباد ؓ د مونځ اود تلاوت په لذت کښې دومره مشغول وو. یا خودوئ ته د وینې وتلو هډو پته اونه لګیدله یاکه لیګیدلې هم وی.نو د خوند او لذت د غلبې په وجه ئې مونځ نه شو ماتولو. دادغلبه حال اوداستغراق کیفیت وو. د کوم څخه چې فقهی مسئله نشی مستنبط کیدې

د تحقیقی جواب تائید: ددې تائید د ابوداؤد په الفاظو سره کیږی.((قال ان کنت فی سورة اقرؤها فلم احب ان اقطعها)) د دې څخه علاوه چې په انتقاض وضوء کوم دلائل پورته بیان شوی دی. دا د قاعده کلیه حیثیت لری.کوم چې په دې واقعه جزئیه نشی قربانیدې.

داول او دویم فریق دویم دلیل: شوافع دویم استدلال دصحابوٴ اودتابعینو دبعض اثارونه کوی.لکه چه امام بخاری رحمه الله دحسن بصری رحمه الله ، ابن ابی اوفی رحمه الله ابن عمر ؓ او دطاؤس رحمه الله وغیره اثار تعلیقاً ذکرکړې دی.

د دویم دلیل درې جوابونه: ① ددې جواب دادې چه د صحابوٴ اود تابعینو اثار دواړو جانبینو ته دی.ګورئ نه چې په مصنف ابن ابی شیبه [۱] کښې دواړه قسمه آثارجمع شوی دی.د کوم څخه چې معلومیږی چې د حضرت ابوهریره ؓ ، حضرت ابن عمر ؓ ، حضرت حسن بصری رحمه الله او مجاهدوغیره دانتقاض وضوء قائل وو.دې وجې صرف د یوطرف داثارو څخه استدلال نشی کیدې

② دغه شان په عدم انتقاض وضوء باندې دال اثارو کښې ډیرو کښې داتاویل کیدې

[۱] مصنف ابن ابی شیبه باب إذا سال الدم اوقطر اوبرز فیه الوضوء) _

شی.چه داپه حالت د عذر محمول دي

④ لویه خبره داده.چه دصحابوْ اودتابعینو آثاراحادیث مرفوعه صحیحوْ مقابله نه شی کولې چه کوم داحنافو مستدل دي.

داول او دویم فریق دریم دلیل: دشوافعو یواستدلال بخاری شریف کښې د حضرت حسن بصری رحمه الله قول دې چه ((مازال المسلمون يصلون في جراحاتهم)) (1)

د دریم دلیل جواب: جواب دادې چه دلته دحضرت حسن بصری رحمه الله مراد هغه زخم دې.چه دکوم څخه چې وینه نه بهیږی.چه دهغې دلیل دادې چه مصنف ابن ابی شیبه کښې صحیح سند سره د حضرت حسن بصری رحمه الله نه مروی دي ((انه كان لايرى الوضوء من الدم الاماكان سائلا)) (2)والله اعلم وعلمه اتم واحكم

د دریم فریق اول دلیل:

① دحضرت ابودرداء رضي الله عنه حدیث الباب ((ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قاء فتوضأ فلقيت ثوبان في مسجد دمشق فذكرت ذلك له فقال صدق ان صببت له وضوء)) امام ترمذی رحمه الله ددې روایت چه کوم طرق نقل کړي دي هغه د حسین المعلم څخه مروی دي اوصحیح دي اوبعضې نورو طرقو کښې اضطرابات شته دي.خوداطریق بلاشبه قابل استدلال دې په دې وجه امام ترمذی رحمه الله فرمائی.((وقد جود حسين المعلم هذا الحديث وحديث حسين اصح شئ في هذا الباب))

اول اشکال: امام ترمذی رحمه الله د دې حدیث په سند باندې دا اعتراض کړې دې چې په دې کښې معمر یوه دا غلطی کې دې چې امام اوزاعی ئې په کښې ساقط کړې دې دویمه غلطی ئې دا کړې ده چې خالد بن معدان ئې ذکر کړې دې حالانکه هغه معدان بن ابی طلحه دي.

داول اشکال جواب: دا اعتراضات په هغه ځائې کښې قابل اعتراض وی کله چې یو روایت په یو سند سره نقل شوې وې اوکه په متعددو سندونو سره نقل شوې وې اوپه یو کښې راوی غلطی اوکړی نو په نورو سندونو باندې څه فرق نه پریوځی بلکه هغه دا روایت به هم په هغې باندې حمل کولې شی او دلته هم دا حدیث په متعدد سندونو سره نقل شوې دې په نورو کښې داغلطی نشته.

دویم اشکال: شوافع په دې حدیث دا اعتراض کړې دی.قاء فتوضاء کښې "ف" دسببت دپاره نه ده.بلکه دمطلق تعقیب دپاره ده.اودامکن ده.چه دوئ دخه بل حدث په بناء اودس کړی وی.

د دویم اشکال جواب: د دې جواب دادې چه داتاوئیل خلاف ظاهر دې دقی نه فوراً وضوء

(1) الصحیح البخاری باب من لم یرالوضوء إلامن المخرجين القبل والدبر) _
(2) باب اذا سال الدم أوقطر أوبرزففيه الوضوء) _

Maktaba Tul Ishaat.com

ذکرکول دلالت کوی چه راوی قی د اودس اوسبب گرځول غواړی نو ددې احتمال ناشی من غیر دلیل اعتبار نشته.

دریم اشکال: شوافعو په حدیث الباب دویم اعتراض داکړې دې.چې اصل کښې داحدیث قاء فافطر وو. یو راوی ته وهم اوشو اوده قاء فتوضاء روایت کړو ددې دلیل دادې چه مستدرك کښې هم دحسین المعلم په روایت د حضرت ابوالدرداء اود حضرت ثوبان دا حدیث په دې الفاظوراوړې دې.((ان النبی صلی الله علیه وسلم قاء فافطر فلقیت ثوبان فی مسجد دمشق فذکرت ذلك له فقال صدق انا صببت له وضوء)) ()

د دریم اشکال دوه جوابونه: ① چې کله د سند صحیح کیدل ثابت شو.نو دینه پس د وهم بدګمانی کول صحیح نه دی.واقعه داده.چه دواړه روایتونه په خپل خپل ځائې صحیح دی.قاء فافطر هم اوقاء فتوضاء هم ځکه چې مسند احمد په روایت کښې د افطر او اودس دواړو ذکر دې ((عن ابی الدرداء رضی الله عنه قال استقاء رسول الله ﷺ فافطر فاتی بماء فتوضاء)) ()

② که صرف د" فافطر" والاروایت واخستې شی.نو بیاهم زمونږ استدلال په دې حدیث کښې دحضرت ثوبان رضی الله عنه په دې جمله د((انا صببت له وضوء)) سره پوره کیږی.چې نبی کریم د قی نه پس اودس کړې دې.

د دریم فریق دویم دلیل: صاحب هدایه داحنافو دلیل کښې یو قولی حدیث نقل کړې دې.((الوضوء من کل دم سائل)) علامه جمال دین زیلعی رحمه الله ([3]) لیکی چه دا حدیث د حضرت تمیم داری رضی الله عنه څخه مروی دې اود د دوی د روایت تخریج امام دارقطنی رحمه الله کړې او داد((یزید بن خالد عن یزید بن محمد عن عمر بن عبدالعزیز عن تمیم الداری)) په طریق سره مروی دې.

اشکال: د تمیمی داری دا طریق په قول دامام دارقطنی رحمه الله ضعیف دې.یوخو د دې وجې چې یزید بن خالداویزیدبن محمد دواړه مجهول دی.دویم د دې وجې چې د عمربن عبدالعزیز رحمه الله سماع د حضرت تمیم داری نه نشته

دغه شان دا حدیث دحضرت زیدثابت رضی الله عنه سره هم مروی دې د دې تخریج ابن عدی په الکامل کښې کړې دې.دغه شان ددې روایت په سندباندې بعض حضرات دا اعتراض کوی.چه دې کښې یو راوی احمدبن الفرج دې چه ده ته ضعیف وئیلې شوې دې.

[1]) مستدرک حاکم باب الافطار من القی (۱۱\۴۲۶)-
[2]) مسنداحمد ۶\۴۴۹)
[3]) نصب الرایة ۱\۱۲۱) _

جواب: ددې جواب ظاهردې چه حافظ ابن عدی دده په باره کښې فیصله لیکلې ده.چه احمدبن الفرج اګرچه ضعیف دې خوده به همیشه لیکل اوروایت به ئې کولو دې وجه نه دې محدثینوقابل استدلال ګرځولې دې.او څوحضراتو دده توثیق هم کړې دې.ددې وجې دده حدیث قابل استدلال دې اوکم نه کم حسن ضروردې بیاددې روایت په تحسین دحضرت تمیم داری روایت ته هم تقویت حاصلیږی.

د دریم فریق دریم دلیل: ابن ماجه کښې د حضرت عائشه رضی الله عنها مرفوع روایت دې.((قالت قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من اصابه قئ اورعاف اوقلس اومذی فلینصرف فلیتوضأ ثم لیبن علی صلوته وهوفی ذلك لایتکلم.[1]) ددې حدیث په سند مفصل کلام ((باب ماجاء صلوة بغیرطهور)) کښې تیرشوې دې ((فلیراجع))

د دریم فریق څلورم دلیل: تقریبًا د صحاح په ټولوکتابونو کښې دحضرت فاطمة بنت ابی حبیش واقعه مذکوره ده.((عن عائشه رضی الله عنها قالت جاءت فاطمة بنت ابی حبیش الی النبی ﷺ فقالت یارسول الله ﷺ انی امرأة استحاض فلااطهر افادع الصلوة ؟ قال لا انما ذلك عرق ولیست بالحیضة فاذااقبلت الحیضة فدعی الصلوة واذاادبرت فاغسلی عنك الدم وصلی))ددې حدیث دابومعاویه په طریق کښې دا الفاظ هم شته ((توضئ لکل صلوة حتی یجئ ذلك الوقت([2]) دې کښې د وضوء دحکم علت دابیان شوې دې.((انماذلك عرق)) یعنی دادرګ څخه بهیدونکې وینه ده.دې څخه معلومه شوه چې خروج دم ناقض وضوء دې.

اشکال: دا حدیث اګرچې صحیح دې خو دا د حنفیانو دپاره صریح دلیل نشی جوړیدې څکه چې په دې کښې د قئ یا رعاف ذکر نشته باقی د اسحاضه په وینه د اودس ماتیدل خو د شوافعو په نیز هم منلې شوې دی.

جواب: د احنافو دپاره طریقه د استدلال دا ده چې دلته نبی کریم ﷺ محل معتاد او غیر معتاد د نقض وضوء دپاره مدار نه دې ګرځولې بس صرف د وینې وتل ئې مدار ګرځولې دې نو د احنافو استدلال صحیح شو چې د رعاف وینه اګرچې محل معتاد نه دې خو وینه ضرور ده.اود وینې په خروج سره اودس ماتیږی نو د رعاف په وتلو سره به هم ماتیږی..

[1]) ابن ماجة کتاب الصلوة باب ما جاء فی البناء علی الصلوة)
[2]) رواه الترمذی فی باب المستحاضة)-

Maktaba Tul Ishaat.com

[۲/۷] بَابُ آدَابِ الْخَلَاءِ

بیت الخلاء ته د تللو بیان

خلاصة الباب:

فیه تسعة وثلاثون حدیثاً مشتملة علی ثمانی عشرة مسئله۔

① ذکر الاستقبال والاستدبار نهیاً وجوازاً: ۱، ۲، ۱۳، ۳۵، ۳۷،

② النهی عن استعمال الیمین في الاستنجاء : ۲، ۶، ۱۳، ۱۴، ۳۵ ۔

③ عدد الأحجار المسنون: ۲، ۷، ۱۳، ۱۸، ۳۵۔

④ النهی عن الاستنجاء بالرجیع والعظم : ۲، ۱۳، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۳۵، ۳۹ ۔

⑤ الذکر قبل الوضوء وبعده: ۳، ۲۳، ۲۴، ۲۵، ۳۸۔

⑥ وجوب التحفظ من البول: ۴۔

⑦ النهي عن التخلی في بعض المواضع:۵، ۲۱۔

⑧ استعمال الماء بعد الخلاء أحیانا: ۸، ۲۶، ۳۳، ۳۴۔

⑨ نزع الخاتم المکتبو علیه اسم الله تعالی عند دخول الخلاء:۹۔

⑩ سنیة الإبعاد للخلاء ۱۰ ،

⑪ طلب المکان اللین والظرف للبول: ۱۱، ۲۸

⑫ عدم رفع الثوب قبل الدنو الی الأرض عند الخلاء: ۱۲

⑬ وجوب الاستتار عند الخلاء : ۱۸، ۲۲، ۳۶

⑭ النهی عن البول في الحجر : ۲۰

⑮ النهی عن البول فی المغتسل :۱۹۔

⑯ النهي عن التحدث عند الخلاء : ۲۲

⑰ النهی عن البول قائماً : ۱۹، ۳۰ ۔

⑱ نضح الفرج بعد الوضوء : ۲۷، ۳۱، ۳۲۔

د ادب اطلاقات: آداب د ادب جمع ده :

① په شرعی توګه باندې دَدې اطلاق په مستحب باندې هم کیږی.

② هرځیزته دَهغې جائز اومناسب مقام ورکولو باندې هم کیږی.

د ادب شرعی تعریف: ملاعلی قاری رحمه الله دَ ادب تعریف داسې کړې دې: "الاداب استعمال ما یحمد قولاً اوفعلاً" یعنی ادب دَهغه ځیزونو استعمال ته وائی دکوم استعمال چه بنه ګنړلې

شی که دَهغې تعلق افعالو سره وی اوکه اقوالو سره وی. په دې باب کښې دَهغه څیزونوتذکره کړې شوې ده چه دَاستنجاء په حوالې سره مکره اوممنوع دی اودَهغه څیزونوذکرهم کړې شوې دې چه په استنجاء کښې مستحب، محمود اومطلوب دی.

قوله: الْخَلَاءَ

د خلاء لغوی معنی: د خاء په فتحې او د مد سره د قضاء حاجت ځائې ته وائی، دې ته خلاء په دې وجه وائی چه د قضاء حاجت نه علاوه هغه ځائې خالی وی. خلاء په اصل کښې خالی ځائې ته وائی مجازا ددې استعمال دبیت الخلاء دپاره شروع شو. (العینی ج ۱ ص ۱۹۶)

د بیت الخلاء آداب: شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله فرمائی چه دبیت الخلاء ډیر آداب دی.

① استقبال قبله او استدبار قبله نه کول،

② په ښه طریقې سره طهارت حاصلول، پس په لوټو یا د درې کاڼړو نه په کمو باندې د استنجاء کولو نه ممانعت راغلې دې.

③ داسې ځائې کښې دقضاء حاجت کولونه ځان ساتل کوم چه د خلقو دپاره د تکلیف باعث وی، مثلاً د سوری والاد اونو د لاندې چه د هغې نه خلق په ګرمئ کښې سورې حاصلوی، په لارو او اوبو وغیره کښې ځکه چه دا ځایونه چه چرته په بول وبراز سره خپل ځان ته نقصان رسیږی. لکه په سوړو وغیره کښې ځکه چه دا ځایونه د مارانو وغیره استوګنه وی.

④ د ښه عادتونو اختیارول لکه ستر لره په ښی لاس باندې د مسح کولو نه احتراز کول.

⑤ په داسې ځائې باندې د قضاء حاجت کول چرته چه نورو ته ریح یا بد بوئی نه محسوسیږی یا د چرته نه چه ستر په نظر نه راځی.

⑥ خپل بدن او کپړې د نجاست نه بچ کول.

⑦ د وسوې ازاله کول، لکه چه د رسول الله ﷺ ارشاد دې: « فلا یبولن احدکم فی مستحمه فان عامة الوسواس منه (حجة الله البالغة)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

(؟) ابواب نمبرات جاری [۳۳۴] د قضاء حاجت په وخت قبلې ته د مخ کولو او شا کولو ممانعت

۳۳۴-( ) [۱] عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-۲ «إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ، وَلَا تَسْتَدْبِرُوهَا، ۳ وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ۴ قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِي السُّنَّةِ، رَحِمَهُ اللهُ: هَذَا الْحَدِيثُ فِي الصَّحْرَاءِ، وَأَمَّا فِي الْبُنْيَانِ فَلَا بَأْسَ لِمَا رُوِيَ

[1] اخرجه بخاری کتاب الصلوة باب قبلة أهل المدينة وأهل الشام والمشرق(رقم-۳۹٤) ومسلم كتاب الطهارة باب الاستطابة (رقم-٥٩ - (٢٦٤))

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [۱] ابو ایوب انصاري رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] چه هركله چې تاسو بيت الخلاء ته ځئ نو د قبلې طرف ته مخ مه کوئ[۳] بلکه شرق او غرب ته مخ او شا ساتئ، بخاري مسلم،[۴] امام محي السنة رحمه الله فرمايي چه دا د ځنګل حکم دي په آبادي کې په داسې کولو کې څه حرج نشته څکه چې نقل دي.

حل اللغات: ① الْغَائِطَ : فِي الْأَصْلِ الْمُطْمَئِنُّ مِنَ الْأَرْضِ: اصل کښې ژورې زمکې ته وائی خو د قضاء حاجت ځائ دپاره استعماليږي، بيا ددې استعمال د انسان د قضاء حاجت نه د فارغيدو دپاره هم اوشو يعني چه ذكر دحال وی او مراد تري محل وی. ② فَلَا تَسْتَقْبِلُوا: مخامخ مه كيني (په وخت دقضاء حاجت کښې)، ③ لَاتَسْتَدْبِرُوهَا: شاکړی مه کينئ (په وخت دقضاء حاجت کښې). ④ شَرِّقُوا أَوْغَرِّبُوا: أَيْ: تَوَجَّهُوا إِلَى جِهَةِ الشَّرْقِ أَوِالْغَرْبِ: يا مشرق طرف ته مخ کوئ يا مغرب طرف ته (په وخت دقضاء حاجت کښې).

تسهيلات: د دې حديث شرح راروانه ده.

[۳۳۵] د قضاء حاجت په وخت قبلې ته د شا کولو جواز

٣٣٥-(١) [١٠][۱] عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ:[۲] «ارْتَقَيْتُ فَوْقَ بَيْتِ حَفْصَةَ لِبَعْضِ حَاجَتِي، [۳] فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقْضِي حَاجَتَهُ مُسْتَدْبِرَ الْقِبْلَةِ مُسْتَقْبِلَ الشَّامِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] عبد الله بن عمر رضي الله عنهما فرمايي[۲] چه زه د خپل څه ضرورت د پاره د بي بي حفصې رضي الله عنها مكان ته وختم[۳] نو ما حضور ﷺ په بام (چت) په قضايي حاجت باندې وليدلو چې د قبلې طرف ته يې شا او د شام طرف ته يې مخ کړي وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① ارْتَقَيْتُ : أَيْ: صَعِدْتُ: اوختم، ② مُسْتَدْبِرَ: شاکړي ناست وو (په وخت دقضاء حاجت کښې). ③ مُسْتَقْبِلَ : مخ ئې ګرځولې وو، مخ کړې ئې وو، ④ الشَّامِ: أَيْ: بَيْتَ الْمَقْدِسِ: شام هغه ملک دې چرته چه بيت المقدس دې.

تسهيلات:

قوله: يَقْضِي حَاجَتَهُ مُسْتَدْبِرَ الْقِبْلَةِ مُسْتَقْبِلَ الشَّامِ: د غټ اودس ماتي او متيازو کولو په وخت کښې استقبال قبله او استدبار قبله کولو کښې د فقهاء کرامو اختلاف دې. مشهور او غير مشهور مسالك ټول اته دي.

د اودس ماتي په وخت کښې په استقبال او استدبارالی القبلة کښې مذاهب:

① **مطلقا عدم جواز:** استقبال اواستدبار دواړه على الطلاق ناجائز دی. که صحراء کښې وی. اوکه آبادئ کښې دا مسلك د ابوهريره رضي الله عنه ،حضرت ابن مسعود رضي الله عنه ،حضرت ابو

---

(١) اخرجه البخاری كتاب الوضوء باب التبرز فى البيوت(رقم-١٤٨) ومسلم كتاب الطهارة باب الاستطابة (رقم-٦٢ - ٢٦٦)

ايوب انصاري رضی اللہ عنہ، حضرت مجاهد رحمہ اللہ ، ابراهيم نخعي رحمہ اللہ ، امام اوزاعي رحمہ اللہ ، سفيان ثوري رحمہ اللہ ، امام بوحنيفه رحمہ اللہ ، امام ، محمدابن حزم رحمہ اللہ ، ظاهري او دابن قيم رحمہ اللہ دي. او دامام احمد رحمہ اللہ نه هم يو روايت داسې دې او داحنافو په نزد فتوى هم په دې ده.

② **مطلقا جواز:** استقبال او استدبار دواړه مطلقًاجائز دی.كه صحرا كښې وی اوكه آبادي دا مسلك د حضرت عائشه رضی اللہ عنہا ، عروه بن الزبير رضی اللہ عنہ ، او دامام مالك رحمہ اللہ داستاذ ربيعه الرآى او د داؤد ظاهري څخه منقول دې.

③ **په ابادئ كښې جواز او صحراء كښې عدم جواز:** صحراء كښې استقبال او استدبار دواړو ناجائز او آبادي كښې دواړه جائز دا مسلك د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہما ، حضرت عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہما ، عامرشعبي رضی اللہ عنہ ، امام مالك رحمہ اللہ ، امام شافعي رحمہ اللہ ، او داسحاق بن راهويه رحمہ اللہ دې. او دامام احمد رحمہ اللہ يو روايت هم ددې مطابق دې.

④ **استدبار مطلقا جائز او استقبال مطلقا ناجائز:** استقبال په هرصورت ناجائز او استدبار په هرصورت جائز دا د امام احمد رحمہ اللہ څخه يو روايت دې.بعضې اهل ظاهر ددې قائل دی. اود امام ابوحنيفه رحمہ اللہ يو روايت هم ددې مطابق دې (١)

⑤ **استقبال مطلقا ناجائز او استدبارابادئ كښې جائز اوصحراء كښې ناجائز:** استقبال په هرصورت ناجائز او استدبار په آبادئ كښې جائز او صحراء كښې ناجائز دا مسلك دامام ابويوسف رحمہ اللہ دې او دامام اعظم رحمہ اللہ يوروايت ددې مطابق دې.

⑥ **كعبې اوبيت المقدس ته مطلقا عدم جواز:** استقبال اواستدبار كعبې اوبيت المقدس ته مطلقًا ناجائزدې دا قول دمحمدبن سيرين رحمہ اللہ دې او د يوروايت مطابق ابراهيم نخعي هم ددې قائل دې.

⑦ **صرف د اهل مدينې دپاره مطلقا عدم جواز:** استقبال او استدبار دواړو ممانعت داهل مدينه سره مخصوص دې غيراهل مدينه دپاره دواړه جائزدی. داد حافظ ابوعوانه قول دې.

⑧ **استقبال او استدبار مطلقا مكروه تنزيهي:** استقبال استدبار مطلقًا مكروه تنزيهي دې دا د امام ابوحنيفه رحمہ اللہ يو روايت دې چه صاحب ((النهرالفائق شرح كنزالدقائق)) نقل كړې دې. حضرت شاه ولي الله صاحب رحمہ اللہ په مصفى اومسوى اومشهور حنفي عالم علامه نيموي رحمہ اللہ په آثارالسنن كښې دا اختيار كړې دې.(٢)

د اختلاف بنياد: دا اختلاف په اصل كښې د رواياتو په اختلاف بناء دې.دې باب كښې مختلف روايات دی.

---

(١) كمافي البذل عن العيني رحمہ اللہ ١١/١ ـ

(٢) آثارالسنن باب اداب الخلاء

Maktaba Tul Ishaat.com

① **دابوایوب انصاری ﷺ روایت:** اولنې روایت د حضرت ابوایوب انصاری ﷺ حدیث باب دې ((اذا اتيتم الغائط فلا تستقبلوا القبلة بغائط ولا بول ولا تستدبروها)) دا حدیث په اتفاق سره ،،اصح مافی الباب،، دې.

استدلال: ددې حدیث په عموم باندې حنفیانو ﷭ اوټولوعالمانو د عدم جواز مطلقا دپاره استدلال کړې دې. ځکه چه دې کښې حکم عام دې. د بنیان اود صحراء هیڅ تفریق په کښې نشته.

د جواز د قائلینو دلائل:

روایت د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ دې چه امام ترمذی ﷫ روایت کړې دې ((قال رقيت يوما على بيت حفصة ﷺ فرأيت النبي ﷺ على حاجته مستقبل الشام مستدبر الكعبة))[1]

ترجمه: [۱] حضرت عبدالله بن عمر ﷺ فرمائی چې زه د خپلې حضرت حفصې ﷺ په کوټه باندې ورواوختم.نو ما نبی کریم ﷺ په قضاء حاجت باندې اولیدل چې شام طرف ته یې مخ کړې وو.او کعبې ته یې شا کړې وه.

استدلال: په دې باندې دویم مذهب والاعلی الاطلاق په جواز استدلال کوی.دریم مذهب والاعلی الطلاق په جواز استدلال کوی. دریم.مذهب والاترې صرف په بنیان کښې په جواز استدلال کوی او څلورم مذهب والا ترې د استد بار په مطلقا جواز باندې استدلال کوی. پنځم مذهب والاترې په آبادئ کښې د استدبار په جواز استدلال کوی. اواتم مذهب والا ترې د استدبار په کراهت تنزیهی باندې استدلال کوی.

جوابونه: دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ د روایت تعلق دې نودا روایت اګرچه د حضرت ابوایوب ﷺ نه کم مرتبې والا دې خو بیا هم صحیح دې.خوددې په تشریح کښې څو احتمالات دی

① **اول جواب دا جزئ واقعه ده:** ځکه چه دایو واقعه جزئیه ده.د دې دپاره عموم نشته. نودا عامه قاعده نشی جوړیدې

② **دویم جواب په ښکاره الفاظو کښې د جواز تعلیم ولې نه وو؟:** د سوچ خبره ده.که په دې عمل د نبی کریم ﷺ منشاء د استدبار اجازت ورکول وو.نو دیو خفیه عمل په ذریعه د تعلیم ورکولو په ځاې به ئې په واضح الفاظو کښې د ټول اُمت وړاندې دا حکم بیان کړې وو.لکه چه د ابوایوب ﷺ په روایت کښې عام حکم شوې دې.دې څخه معلومیږی چه دې سره حضرت ابو ایوب ﷺ روایت خلاف څه تشریعی حکم لګول صحیح نه دی.

③ **دریم جواب د ابن عمر ﷺ لیدل تحقیقی نه وو:** دغه شان په دې موقع ظاهره ده.چه ابن عمر به قصداً دوئ نه وې لیدلې.بلکه اتفاقًا به پرې نظر پرویوتې وی.اودې کښې دغلطئ

[1]) كتاب الطهارة باب ماجاء من الرخصة في ذلك)

امکان زیات دی.

اول احتمال: رومبي احتمال خودادي چه نبی کریم ﷺ په اصل کښې مستدبر قبله نه وو. خودحضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ په لیدو په تقاضا دحیاء دوئ خپل هیئت بدل کړی وو. او ددې تبدیلۍ دوجه استدبار متحقق شوې دی.

دویم احتمال: دویم احتمال دادې چه دوئ پوره طریقې سره مستدبرنه وو. بلکه دکعبه څخه لږ منحرف وو. او حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ دلرې څخه ددې معمولی انحراف ادراك اونه کړې شو دددې تفصیل دا دې چه دې مسئله کښې داستقبال او استدبار مفهوم د مانځه داستقبال قبله څخه مختلف دې. فقهاؤ لیکلي دی. چه مانځه کښې عین قبله ته استقبال ضروری نه دې بلکه د جهت قبله استقبال کافی دې لکه علامه شامی چې لیکلی دی. که په مانځه کښې پنځه څلوېښت درجې د ښې طرف ته یا پنځه څلوېښت درجې گس طرف ته انحراف اوشی نوبیا هم مونځ کیږی. ددې په خلاف په مسئله الباب کښې د عین استقبال او استدبار مراد دې د وجې که دقبلې څخه معمولی انحراف هم اوشی نو کراهت ختمیږی. تردې چه فقهاؤ لیکلی دی. چه که یوسړې وجهًا مستقبل او فرجًا منحرف وی نو بیا کراهت نه پاتې کیږی اوس دا ممکن ده. چه د حضرت نبی کریم ﷺ انحراف دمعمولی قسم وی. ابن عمر رضی اللہ عنہ د مونځ په استقبال باندې قیاس کړې وی. اودا خیال ئې کړې وی. چه دلته هم د استقبال او استدبار مفهوم هم هغه دې.

دریم احتمال: دریم احتمال دا هم دې چه داد نبی کریم ﷺ خصوصیت وی. ددې تائید دې خبرې څخه هم کیږی چه دعلماءدیوجماعت په نیزچې دوئ کښې علامه شامی رحمہ اللہ اوابن حجر رحمہ اللہ هم داخل دې. چه د نبی کریم ﷺ فضلات پاك وو. د دې وجې بعیده نه ده چه دوئ ددې حکم نه مستثنی وی.

④ **څلورم جواب د صحراء او بنیان عدم فرق:** دلته دا خبرهم قابل غور ده. چه د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ په روایت کښې د بنیان اود صحراء هیڅ تفریق نه معلومیږی. د دې وجه دې څخه د شوافعو او مالکیانو استدلال پوره نه دې.

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ دویم روایت: دحضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ عمل راوړی. ((عن مروان الاصفر قال رایت ابن عمر رضی اللہ عنہ اناخ راحلته مستقبل القبلة ثم جلس یبول الیها فقلت یا ابا عبدالرحمن الیس قد نهی عن هذا قال بلی انما نهی عن ذلك فی الفضاء فاذا كان بینك وبین القبلة شی یسترك فلا باءس)) ([1])

استدلال: دا روایت په جواز في البنیان کښې استقبال الی القبله باندې صریح دلیل دې.

جوابونه: داحنافو طرف ددې روایت مختلف جوابونه ورکړې شوې دی.

د حسن بن ذکوان په وجه د حدیث ضعف: علامه سهارنپوری "بذل المجهود" کښې ددې دا

[1]) ابوداود، کتاب الطهارة باب کراهیه استقبال القبلة عند قضاء الحاجة)

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب ورکړې دې. چه دا روایت ضعیف دې ځکه ددې مدار په حسن بن ذکوان دې او دې یحیی بن معین ، امام نسائی ، ابن عدی،او امام احمد رحمه الله ضعیف ګرځولې دې خودا جواب تسلي بخش نه دې ځکه چه حسن بن ذکوان یو مختلف فیه راوی دې. دده په باره کښې د جرح او تعدیل د امامانو اراء مختلف دی. او ددوئ توثیق هم شوې دې.

د مذکوره روایت په قابل استدلال کیدو کښې اقوال:

① حافظ ذهبی رحمه الله په میزان الاعتدال کښې ددوئ په باره کښې مختلف اقوال نقل کړې دی. او روستو ئې دا فیصله کړې ده. چه ((انه صالح الحديث وارجو انه لابأس به)) حافظ ذهبی رحمه الله د نقدر جال په معامله کښې کامل مهارت لری.د دې وجې ددوی فیصله قابل قبول منل پکار دی.

② حافظ ابن حجر رحمه الله دا حدیث په ،،التلخیص الحبیر،،کښې حسن ګرځولې دی.او ابوداؤدپرې سکوت کړې دې. او امام دارقطنی رحمه الله په سنن دارقطنی کښې دا صحیح ګرځولې دې. اوفرمائیلی یې دی ((هذا صحيح كلهم ثقات))

③ ابن الجارود په المنتقی کښې ددې تخریج کړې دې. او دده باره کښې داخبره معروفه ده. چه دې صرف احادیث صحیح روایت کوی.

④ په احنافو کښې علامه نیموی رحمه الله په آثار السنن۱/۲۳ کښې دا حدیث حسن ګرځولې دې.اود داسې احادیثو ځخه احناف په کثرت استدلال کوی ددې وجې ددې درجې روایت مطلقا ناقابل استدلال ګرځول مشکل دی.

① صحیح جواب دادې چه دادحضرت ابن عمر رضي الله عنه خپل عمل اواجتهاددې.په احادیث مرفوعه کښې د دې تفریق هیڅ بنیاد مروی نه دې

② دغه شان د صحابی اجتهاد حجت نه دې خاص طور چه کله دده په خلاف د نورو صحابو آثار موجود وی.

③ ددې ځخه علاوه دحضرت ابن عمر رضي الله عنه دااجتهادپه فقهی اعتبارسهرمرجوح معلومیږی ځکه چه د استقبال قبله ممانعت په دې خبرې مرقوف دې.چه متخلی او دکعبه په مینځ کښې څه حائل موجود نه وی. نودا قسم استقبال خو صرف په حرم شریف کښې په ناسته کیدې شی.په بل ځائې کښې نه. ځکه چه څه ناڅه عمارت وغیره په مینځ کښې راځی.دې وجې ددې تقاضاء دا ده. چه صحراء وغیره کښې دې هم استقبال جائز شی اواستقبال او استدبار دې مکروه نه وی.او دا خبره پخپله د شوافعو د مسلك خلاف ده.

د دې ځخه د امام شافعی رحمه الله جواب: امام شافعی رحمه الله ددې جواب کښې دا فرمائی چه ددې حکم علت احترام کعبه نه ده بلکه احترام مصلین دې.

ه جواب عدم صحت: خودا خبره هم صحیح نه ده. اودا علت محل نظردې.

① ځکه چه تول احاديثو د ممانعت کښې لفظ د قبله دې چه دې ځخه ظاهرېږی چه دا حکم د احترام قبله په بنياد ورکړې کيږی.
② دويم که د احترام مصلين اعتبار اوشی نوبيا په هرسمت کښې هم د قضاء حاجت اجازت نه دی ورکول پکار.ځکه چه په هرسمت کښې د مصلين د وجود امکان شته.
③ دې ځخه علاوه که دا حکم صحيح اومنلې شی نو بيا هم د امام شافعي رحمه الله په مسلك ددې علت تطبيق نه کيږی.ځکه چه آبادئ کښې دمصلينو وجود د صحراء په نسبت زيات محتمل دې.نو آبادئ کښې دې هم استقبال قبله او استدبار جائز نه شی
د حضرت جابر رضی الله عنه ځخه روايت دې چه ترمذی او ابوداؤد کښې ذکر دې ((قال نهی نبی الله ان نستقبل القبلة ببول فرأيته قبل ان يقبض بعام يستقبلها)) (١) دې ځخه على الاطلاق جواز معلوميږی.که بنيان وی اوکه صحراء وی.
د ابان بن صالح په وجه د حديث ضعف: ددې جواب هم بعضې حضراتو دا ورکړې دې چه ددې سند کښې دوه رراويان متکلم فيه دی.يو" ابان بن صالح . حافظ ابن عبدالبر په "التمهيد " کښې ،،ابان بن صالح،،لره ضعيف ګرځولې دې.او بل ابن حزم په ،،المحلی،، کښې ابان بن صالح مجروح ګرځولې دې.
د ابان بن صالح د ضعف د قول عدم صحت: خومحققين فرمائی چه په ابان جرح ددې دواړو حضراتو غفلت دې. دوئ ځخه مخکښې چا په ده جرح نه ده کړې. ((کمافی بذل المجهود))
د محمد بن اسحاق په وجه د حديث ضعف: د دې روايت په رواتو کښې يو راوی محمد بن اسحاق دې.اودا هم متکلم فيه راوی دې. امام مالك رحمه الله خود ده باره کښې فرمائی ((لئن اقمت فيما بين الحجر وباب بيت الله لقلت انه دجال كذاب)) او د ده د ضعف په وجه دا روايت ضعيف دې.قابل استدلال نه پاتې کيږی.خو امام ابن همام صاحب دفتح القدير د امام مالك رحمه الله د خپل قول ځخه رجوع ذکر کړې ده.(٢)
د محمدبن اسحاق روايت ناقابل استدلال ګرځول قابل نظردی: ترکومې چه د محمدابن اسحاق تعلق دې په خپله احنافو دداسې ډيرو روايتونوځخه استدلال کړې دې.چه د محمد بن اسحاق ځخه مروی دی.شعبه دده باره کښې فرمائی ((اميرالمؤمنين فی الحديث))
د محمد بن اسحاق رحمه الله په باره کښې انصافی خبره: بعضې حضراتو ددوئ په باره کښې فيصله کړې ده. چه دده کوم روايت د "حدثنا" په صيغه وی. هغه مقبول او چه کوم په عن سره مروی دی يعنی معنعن وی.هغه مقبول نه دې.خودده باره کښې معتدله فيصله

(١) لفظه لابی داود کتاب الطهارة باب الرخصة فيه
(٢) تشريحات ترمذی

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت شاه صاحب رحمه الله کړي دي.هغه داده چه دده په حافظه کښې څه کمزورتيا وه.د عدالت په اعتبارسره قابل اعتماد دي.دې په رواة حسان کښې.دي. البته دي دتدليس عادي دی. د دې وجې دده عنعنه مشکوکه ده.

اشکال: هرکله چې د دوی عنعنه مقبوله نه ده.نو بيا خو د حضرت جابر رضي الله عنه دا روايت په طريقې د ،،عنعنه ،، د محمدبن اسحق څخه مروی دی..نو قابل استدلال پاتې نشو.

جواب: خودارقطني رحمه الله کښې هم دا روايت د تحديث په صيغه راغلې دی. (۱) هم دغه وجه ده چه امام ترمذي رحمه الله د "علل کبير" څخه نقل کړی دی.چه ((سألت محمدبن اسماعيل عن هذا الحديث فقال صحيح)) حافظ ابن حجر رحمه الله هم په ((تلخيص الخبير)) کښې په تفصيل سره ددې حديث تخريج کړې دې او دائې قابل استدلال ثابت کړې دي. (۲)

نتيجه د بحث: د سند په اعتبار سره هم دا حديث بالکيه ردکول صحيح نه دی.خو بيا هم په رواة باندې دکلام کيدو په بناء په سند کښې يوه درجه ضعف راغلو او د ناسخ دپاره دا ضروری ده چه دې دقوت په اعتبارد منسوخ سره برابر يا ده څخه زيات وی.اود حضرت ابوايوب رضي الله عنه حديث دده په مقابله کښې ډيرقوی دی.دې وجې دا د ده دپاره ناسخ نشی کيدې.دې څخه علاوه دلته هم هغه احتمالات موجود دی کوم چې د حضرت ابن عمر رضي الله عنه په روايتونوکښې بيان شوې دی.

دحضرت عائشې رضي الله عنها دليل: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه منقول دی چه ((ذکر عند رسول الله صلى الله عليه وسلم قوم يکرهون ان يستقبلوا بفروجهم القبلة فقال اراهم قد فعلوها استقبلوا بمقعدتي القبلة)) (۳)

دې حديث څخه د استدباراواستقبال په مطلقًا جواز باندې استدلال کولې شی

جواب: ددې جواب دا ورکړې شوې دې. چه ددې په سند او متن دواړو کښې کلام دې. حافظ ذهبي رحمه الله دا سندًا منکر ګرځولې دې. د دې څو وجوه دی.

① **د سند اضطراب:** يوروايت کښې سند دا دې ((عن خالد الحذاء عن عراك بن مالك عن عائشه رضي الله عنها)) دويم سند داسې دې.((عن خالد الحذاء عن رجل عن عراك عن عائشه رضي الله عنها)) دريم سند دا دې ((عن خالد الحذاء عن خالد بن ابی الصلت عن عراك عن عائشه رضي الله عنها))

د اضطراب څخه جواب: خوحقيقت دادې چه دا درې واړه اعتراضونه صحيح نه دی.ترکومې چه د اضطراب تعلق دې. دا محدثينو داسې رفع کړې دې.چه پورتنۍ درې

(۱) سنن دارقطني ۱\۵۸)

(۲) قال الحافظ فی التلخيص الحديث اخرجه احمد وابوداود والترمذی وابن ماجه وابن الجارود وابن خزيمه و ابن حبان والحاکم وزادابن حبان ويستدبرها .. وصححه البخاری فيما نقله عن الترمذی وحسنه هو والبزارو صححه ايضا ابن السکن .. والتعليق المغنی . ۱\۵۹) _

(۳) ابن ماجه کتاب الطهارة باب الرخصة فی ذلک فی الکنيف واباحته دون الصحاری)

طریقې ئې صحیح اوباقی ئې غلطې ګرځولې دی.

④ **د ابوالصلت جهالت:** ابن حزم خالدبن ابی الصلت مجهول ګرځولې دې.

د جهالت د اعتراض ځخه جواب: د خالد بن ابی الصلت د جهالت خبره چې ده.نو ډیرو محدثینو د ابن حزم ددې خیال تردید کړې دې چه دې مجهول دې اود ابن حزم په باره کښې دا مشهوره ده. چه دې په راویانو باندې د جهالت حکم لګولوکښې ډیره جلتې کوی. تردې چه ده ابن ماجه او امام ترمذی رحمه الله هم مجهول ګرځولی دی. د دې وجې د ده د تجهیل اعتبار نشته

③ **د عراک عدم سماع:** دعراك بن مالك سماع د حضرت عائشه رضی الله عنها ځخه ثابته نه ده. امام بخاری رحمه الله د دې تصریح کړې ده.

جواب: اګرچه امام بخاری رحمه الله تصریح کړې ده. چه د عراك سماع د حضرت عائشه رضی الله عنها ځخه ثابته نه ده. ځکه چه عراک بن مالک د حضرت عائشه رضی الله عنها هم عصر وو. او امام بخاری رحمه الله ددویٔ د سماع نفی د خپلو اصولو مطابق کړې ده.خودامام مسلم رحمه الله په اصولو د حضرت عائشه رضی الله عنها ځخه د دویٔ روایت صحیح دې.لکه چه امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح کښې په دې طریق سره متعدد روایات ذکرکړې دی. د دې وجې مذکوره اعتراضات صحیح نه شو.البته داخبره ده چه د خالدبن الصلت سماع دعراك ځخه نشته.

④ **د حدیث موقوف کیدل:** دغه شان ډیرو محدثینودا حدیث موقوف علی عائشه رضی الله عنها ګرځولې دې لکه ابن ابی حاتم د جعفر بن ابی ربیعه عن عراك عن عائشه په طریق سره دا حدیث مؤقوفًا نقل کړې دې.اودا خبره ثابته ده. چه د عراك په شاګردانوکښې جعفر بن ربیعه دټولوځخه زیات قابل اعتماد دې.د دې وجې به د هغوی روایت ته ترجیح وی.

خلاصه د سند د بحث: خلاصه دا چه دا روایت یا خو منقطع دې یا موقوف دې. ظاهره ده چه دې دواړو صورتونو کښې دا حدیث د حضرت ابوایوب رضی الله عنه د متصل صحیح مرفوع روایت مقابله نشی کولې.

دا کلام خو د حدیث په سند وو.

① **د عائشې رضی الله عنها د حدیث نسخ:** که په متن غور اوشی. نو ددې سیاق صفا بنائی. چه داحدیث د حضرت ابوایوب رضی الله عنه دحدیث ځخه مقدم دې ځکه چه دې حدیث کښې دا منقول دی. چه کله حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته ذکر اوشو. چه صحابه کرام استقبال بالفرج الی القبله مکروه ګنړی. نو دویٔ په دې تعجب اظهار اوکړو. که د ممانعت حکم د دې ځخه وړاندې وې.نود اظهار تعجب څه معنی نشته. د دې وجه دا حدیث منسوخ کیدې شی ناسخ نه.

② **د حدیث مصداق:** بعض حضراتود حضرت عائشه رضی الله عنها د حدیث دا جواب کړې دې. چه

Maktaba Tul Ishaat.com

دې حديث کښې د قضاء حاجت دوخت څه بيان نشته بلکه دعامومجلسونو بيان دې.اود ((استقبلوبمقعدتى القبلة)) کښې د مقعدڅخه مراد د نبی کريمﷺ دعام مجلس مقعد وی. نه چې د قضاء حاجت مقعد. ددې تشريح دا ده. چه د حضرت ابو ايوب انصاری رضی الله عنه دحديث څخه پس صحابه کرامو رضی الله عنهم په خپلو عامو مجالسو کښې هم د استقبال قبله اود استد بار قبله نه پرهيز شروع کړو. ددې غلوڅخه د بچ کيدو دپاره د خپل عام مجلس مخ ئې قبلې طرف ته د کولو حکم اوکړو. چه صحابه کرامو رضی الله عنهم ته ددې خبرې علم اوشی. چه د استقبال اواستدبار ممانعت صرف د قضاء حاجت د وخت سره خاص دی.د عامو مجلسونو حکم دانه دې.

د جواب عدم صحت: خودا جواب صحيح نه دې.

① ځکه چه د مصنف ابن ابی شيبه رحمه الله يو روايت کښې په دې حديث کښې صفاء د بيت الخلاء مخ اړولو ذکر دې. اګر چه دې روايت کښې يو راوی مجهول دې. خو په هرحال دا روايت په قياسی تاويلاتو مقدم دې.

② د دې څخه علاوه د دارقطنی د روايت څخه هم په دې جواب اشکال کيږی چه امام دارقطنی ديحيی بن مطر په طريق سره ذکر کړې دې. او په هغې کښې د غائط او بول تصريح ده. ددې الفاظ دادی. ((سمع رسول اللهﷺ بقوم يكرهون ان يستقبلوا القبلة بغائط اوبول الخ)) (۱) دې وجې د دې حديث ړومبې جواب صحيح دې.

د حضرت معقل رضی الله عنه روايت: د حضرت معقل بن ابی معقل الاسدی روايت دې چې ((نهانا رسول اللهﷺ ان نستقبل القبلتين ببول اوغائط)) دې څخه محمدبن سرين اود يوروايت مطابق ابراهيم نخعی رحمه الله هم په دې خبره استدلال کوی.چه دکعبې څخه علاوه بيت المقدس ته هم استقبال او استدبار مکروه دې.

جوابونه: ① د جمهورو د اړخه ددې جواب کښې د اوئيلې شوې دی. چه د قبلتينوڅخه مراد دواړه قبلې على سبيل البدليت دی نه چې على سبيل الجمعيت يعنی د دواړو استقبال او استدبار په يو وخت کله هم ناجائز شوې نه دې چه کله بيت المقدس قبله وه. نو هغې ته استدبار او استقبال ممنوع وو. اوچه کله کعبه شريفه قبله شوه. نو د دې د استقبال ممانعت اوشو.د راوی په قبلتينو سره تعبير کړې دې. ددې دليل دادې چه قبلتين د تثنيه صيغه ده اوپه يو وخت دوه قبلې کله هم نه دی.نو ضرور دلته به قبلتين على سبيل البدليت مراد وی.

② دويم جواب دا دې چه دا حديث خاص د اهل مدينه دپاره وو ځکه چه هلته بيت

۱) دارقطنی ۵۹\۱ کتاب الطهارة باب استقبال القبلة فی الخلاء)-

المقدس ته استدبار دکعبه استقبال لره او د بیت المقدس سره استقبال د کعبه استدبار لره مستلزم دي ځکه چه هلته کعبه په جنوب کښې ده.اوبیت المقدس په شمال کښې.نوکه مدینه کښې د بیت المقدس د استقبال اواستدبار اجازت اوشی نو پخپله دکعبې استقبال لازم راځی چه کوم ځائې دا صورت نه وی هلته به صرف دکعبه استقبال او استدبار مکروه وی. ځکه چه د ممانعت اصل مقصود هم دا دې.

د استقبال او استدبار د مسئلې خلاصه د بحث: په هرحال د حضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه روایت د ذکر شوو ټولو روایاتو په مقابله کښې ډیرزیات صحیح هم دې او صریح اومعلوم السبب هم.ددې په مقابله کښې ټول مخالف روایتونه د دې ځخه په سند کښې کمزوری دی. اومتون ئې محتمل د تاویلاتو دی.

د احنافو وجوه ترجیح: احناف په مذکوره ټولو روایاتوکښې د حضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه روایت ته ترجیح ورکوی او دا د خپل مذهب بنیاد ګرځوی او باقی ټولو روایتونو کښې تاویل کوی اوهم په دې روایت ئې محمول کوی د حضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه د روایت وجوه ترجیح لاندې لیکلی شوی دی.

① دا حدیث په اتفاق دمحدثینو ،،اصح مافی الباب،، دې.د سند په اعتبارسره د جواز په روایاتو کښې یو روایت هم د ابوایوب رضی الله عنه سند مقابله نه شی کولې.

② د حضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه روایت د یوقانون کلی حیثیت لری ددې په مقابله کښې نور ټول روایات واقعات جزئیه دی.د احنافو اصول دی چه دوی په روایات متعارضو کښې همیشه هغه روایت اختیاروی. چه په کوم کښې ضابط کلیه بیان شوی وی. په داسې مواقع باندې احناف په واقعاتو جزئیو کښې تاویل کوی.

③ د حضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه روایت قولی دې او مخالف روایات فعلی دی. اودا قاعده ده چه د تعارض په وخت په اتفاق سره قولی احادیثوته ترجیح وی.

④ د حضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه روایت محرم دې او د دې مخالف روایتونه مبیح دی.اودا هم قاعده ده. چه د تعارض په وخت محرم ته به په مبیح ترجیح وی.

⑤ د حضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه روایت واضح اومعلوم السبب دې نور روایات غیر واضح او غیر معلوم السبب دی ځکه چه هغې کښې ډیراحتمالات دی لکه چې تیر شو.

⑥ دحضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه حدیث اوفق بالقرآن دې ځکه چه دقرآن کریم څوآیتونه دتعظیم د شعائرالله په اهمیت دال دی. لکه ارشاد باری تعالی دې ﴿ذٰلِكَ وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللّٰهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ﴾ بیا خاص دکعبه تعظیم خو یومتفق علیه مسئله ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

⑦ د ابوايوب انصاري رضي الله عنه حديث مويد بالاحاديث الكثيره دې لکه ترمذي کښې (۱) د حضرت سلمان فارسي روايت ابوداؤد (۲) او ابن ماجه کښې (۳) د حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت ددې تائيد کړې دې. دا دواړه روايتونه سندا صحيح دی. دې څخه علاوه د حضرت ابوعوانه اوحضرت سهل بن حُنيف او حضرت سهل بن سعد څخه هم داسې روايات مروی دی کوم چه په مجمع الزوائد وغيره کښې کتلې شی (۴)

د دوی اسانيد اګرچه متکلم فيه دی. خو ددوئ په مويد کيدو کښې هيڅ شبه نشته دارنګه مختلف کتب احاديث کښې نور هم داسې احاديث مروی دی. چه په تائيد کښې راوړلې شی.

⑧ د حضرت ابوايوب رضي الله عنه حديث مؤيد بالقياس هم دې څکه چه صحيح ابن خزيمه او صحيح ابن حبان کښې روايت صحيح مرفوعه دې. ((من تفل تجاه القبلة جاء يوم القيامة وتفله بين عينيه)) (۵) نو چه کله دتوکلوممانعت دې نو دقضاء حاجت په وخت داستقبال قبله ممانعت به په طريق اولی وی.

قوله: وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْغَرِّبُوا:

د مذکوره خطاب مخاطبين: دا حکم دَ اهل مدينه او دبيت الله په جنوب اوشمال کښې داوسيدونکوسره خاص دې څکه چه دَ هغه ځائی نه بيت الله دَ جنوب طرف ته واقع دې اود مشرق اومغرب طرف ته بيت الله نه وی په خلاف زمونږ دَ ملکونو کوم چه مشرق کښې واقع دی داحکم دَدې ځائی دَپاره نه دې څکه چه دلته په مغرب کښې بيت الله واقع دې. او چه کوم ممالك چه دَ بيت الله په شمال او جنوب کښې واقع دی داحديث هغوی ته هم شامل دې. په شريعت کښې بعضې احکامات دَبعضې خلقو سره خاص راغلی دی داحکم هم دَدې قسم نه دې. داستقبال او استدبار داحکم دَ راجح قول مطابق د بيت الله سره خاص دې دَ بيت المقدس حکم داسې نه دې.

[۳۳۶] د استنجاء په وخت قبلې ته د مخ کولو ممانعت

۳۳۶-(۶) [۲] وَعَنْ سَلْمَانَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «نَهَانَا - يَعْنِي رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ لِغَائِطٍ أَوْبَوْلٍ» [۳] أَوْنَسْتَنْجِيَ بِالْيَمِينِ، أَوْأَنْ نَسْتَنْجِيَ بِأَقَلَّ مِنْ ثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ [۴] أَوْأَنْ نَسْتَنْجِيَ بِرَجِيعٍ

(۱) الترمذی کتاب الطهارة باب الاستنجاء بالحجارة ۱۲) _
(۲) ابوداؤد کتاب الطهارة باب کراهية استقبال القبلة عند قضاء الحاجة) _
(۳) ابن ماجة کتاب الطهارة باب الاستنجاء بالحجارة والنهی عن الروث والرمة) _
(۴) مجمع الزوائد کتاب الطهارة باب استقبال القبلة عند الحاجة) _
(۵) معارف السنن ۹۵۱۱ بحواله صحيح بن خزيمه وصحيح ابن حبان))
(۶) اخرجه مسلم فی صحيحه رقم الحديث ۵۷/ ۲۶۲ وابوداود فی السنن رقم الحديث ۷ والترمذی فی السنن رقم الحديث ۱۶

أَوْ بِعَظْمٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: [۱] او حضرت سلمان ﷺ فرمايي[۲] چه رسول ﷺ مونږ د دې څخه منع کړي يو چې مونږ د لويو يا ورو بولو په وخت د قبلې طرف ته مخ کړو[۳] او د دې څخه چې مونږ په ښي لاس سره استنجاء اوکړو او د دې څخه چې مونږ د دريو لوټو څخه په کم سره استنجاء وکړو[۴] او د دې څخه چې مونږ په سوټو يا هډوکو سره استنجاء وکړو. (مسلم)

حل اللغات: ① غَائِطٌ: إِلَى الْأَصْلِ الْمُطْمَئِنُّ مِنَ الْأَرْضِ: اصل کښې ژورې زمکې ته وائي خو د قضاء حاجت ځائ دپاره استعماليږي، بيا ددې استعمال د د انسان د قضاء حاجت نه د فارغيدو دپاره هم اوشو يعنى چه ذکر دحال وى او مراد ترې محل وى. ② بَوْلٌ : متيازې. ③ نَسْتَنْجِيَ : أَيْ قَطْعُ النَّجَاسَةِ: پليتى لرې کولو ته استنجاء وائي. ④ رَجِيعٌ : وَالْمُرَادُ الرَّوْثُ: دې نه مراد سوټې او خاشتړه وغيره دى "رجيع" دَ فعيل په وزن باندې دَ اسم مفعول "مرجوع" په معنى کښې دې، او رجيع په معنى د واپس کيدو سره ده، ځکه چه دا هم پاکى ګندګئ طرف ته واپس راولى.

تسهيلات:

قوله: أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ:

د مذکوره جملې وضاحت: په دې حديث کښې دَدريو اهمو خبروطرف ته اشاره کړې شوې ده اوپه دريوارو کښې دَ جداجدا حقوقوذکردې. دَدې نه په وړاندې جمله کښې دَاستقبال قبله مسئله ده دَدې تفصيل دې نه وړاندې تيرشو دې. په هغه جمله کښې دَحق الله بيان راغلو.

قوله: أَوْ نَسْتَنْجِيَ بِالْيَمِينِ: يعنى مونږ حضورپاك دَ دې نه منع کړو چه مونږ په ښى لاس باندې استنجاء اوکړو. په دې جمله کښې دَحق العبدذبيان ذکرراغلو او په دې کښې دَدويمې اهم مسئلې طرف ته اشاره ده چه ښې لاس په استنجاء کښې مه استعمالوئ. دَاهل ظواهر اوبعضې شوافع په نيزدَ ښى لاس استنجاء کولوسره به طهارت نه حاصليږى خودَ جمهورامت مسلك دادې چه دا ممانعت دَ ښى لاس دَ شرافت دَ وجې نه دې ګنى اصل مقصودخو صفائى حاصلول دى اوهغه په ښى اوګس دواړو لاسونوسره حاصليږى. شريعت ښې لاس دَ خوکارونودَپاره اوګس لاس دَ ناخوښه اومکروه کارونو دَپاره مقررکړې دې. نواستنجاء هم مکروه کاردې په ګس لاس سره کول پکاردى دې دَپاره چه خوراك کولووخت کښې انسان ته کرکه رانشى چه اوس نى دا لاس په ګندګئى ککړکړې وو او اوس نى دَ نورئى سره په خله کښې داخلوى. بهرحال اصل صفائى په هريولاس سره حاصليږى ښې لاس دَ استنجاء نه بچ کول ددې دَ شرافت دَ وجې نه دې.

قوله: أَوْ أَنْ نَسْتَنْجِيَ بِأَقَلَّ مِنْ ثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ: په دې جمله کښې دَحق النفس بيان راغلو او په دې کښې دَدريمې اهمې مسئلې طرف ته اشاره اوکړې شوه دکوم عنوان چه استنجاء

Maktaba Tul Ishaat.com

بالاحجار دې په دې کښې دَفقهاء کرامو اختلاف دې.

په استنجاء کښې د احجارو مسنون عدد کښې مذاهب:

په دې مسئله کښې دفقهاء اختلاف دې چه د استنجاء دپاره د لوټو څه عدد مسنون شته اوکه نه ؟

① د امام شافعی رحمه الله ، امام احمد رحمه الله او ابوثور او داهل ظاهرو په نیز استنجاء کښې انقاء او تثلیث احجار دواړه واجب دی

② دامام ابوحنیفه رحمه الله او د امام مالک رحمه الله په نیز صرف انقاء واجب ده . او تثلیث مسنون دې او ایتار مستحب دې.

د امام شافعی رحمه الله دلیل: امام شافعی رحمه الله دتثلیث په وجوب باندې دحدیث الباب څخه استدلال کوی . ځکه چه دې کښې ددریو کاڼونه دکم ممانعت راغلې دې

دتثلیث ذکر په احادیثو کښې ځکه راځی چه عموماً دې عدد سره انقاء کیږی.نو د دې وجې دکم عدد څخه ممانعت اوشوځوکه انقاء د دې څخه په کم عدد حاصله شی نوهم جائز دې.

① **د حنفیانو اول مستدل د ابوهریره رضی الله عنه روایت:** حضرت ابوهریره رضی الله عنه مرفوع حدیث دې ((من استجمر فليوتر من فعل فقد احسن ومن لا فلا حرج))[1] يعنى چوك چې (په استنجاء کښې) واړه کاڼړی استعمال کړی نو ناتکئ دې استعمالوی چا چې داسې اوکړو.نو ښه ئې اوکړو او چا چې اونکړو نو څه باك نشته. په دې کښې تصریح ده چې چه ایتار مستحب دې واجب نه دې.

د ابوهریره رضی الله عنه په روایت اول اعتراض: امام بیهقی رحمه الله په دې اعتراض کړې دې . چه دینه دایتار استحباب ثابتیږی نه د تثلیث؟

جواب: ددې جواب دادې چه ایتار عام دې او تثلیث خاص او دعام نفی د خاص نفی لره مستلزم وی .

د حنفیانو د جواب څخه جواب: امام بیهقی رحمه الله ددې دویم جواب دا ورکړې دې چه دې حدیث کښې د ایتار څخه مراد مافوق الثلث ایتار دې . او د دې دلیل دا دې چه د دې حدیث په آخر کښې په بعضې روایاتو کښې دا اضافه ده . ((فأن الله وتر يحب الوتر اما ترى السموات سبعًا والارضين سبعًا)) د دې حدیث څخه ثابتیږی چې په ذکرشوی حدیث کښې د ایتار په پریخودو کښې څه باك نشته.ځکه چې د وتر د لفظ صراحت راغلې دې.

---

[1] اخرجه ابوداود وغيره . معارف السنن ١١٥١١ بالاستنجاء بالحجارة ١٢) _

د بیهقی د جواب څخه دوه جوابونه:

① **اول جواب:** ددې جواب دا دې چه دا حدیث امام حاکم رحمه الله هم په مستدرك کښې نقل کړې دې . (۱) ددې ترلاندې حافظ ذهبی رحمه الله لیکی ((منکروالحارث لیس بعمدة)) چې دا منکر دې اوحارث څه قابل اعتماد راوی نه دې.نودا حدیث ضعیف شو.قابل استدلال پاتې نشو.

② **دویم جواب:** دویم جواب حافظ زیلعی رحمه الله په نصب الرایه کښې ورکړې دې .(۲) که د دې حدیث څخه استدلال صحیح وی نو هم د اووه آسمانونو د ذکر څخه دا نه لازمیږی . چه روستو دکوم ایتار ذکر راغلې دې . دې څخه مراد مافوق الثلث دې څکه چه که داسې وې نو بیا به دامنې چه په اووکانړو مسنون او مستحب دې.څکه چې هلته د اووه آسمانونو ذکر دې. حال دا دې چه د دې څوك هم قائل نه دی .

د ابوهریره رضی الله عنه په روایت دویم اعتراض: د ابوهریره رضی الله عنه په روایت دویم اعتراض دا شوې دې . چه دا حدیث علامه ابن حزم وغیره ضعیف ګرځولې دې څکه چه داد حصین الحبرانی الحمیری څخه منقول دې . او دې مجهول دې حافظ ابن حجر رحمه الله په تقریب کښې لیکلې دی . چه ” ((مجهول من السادسة)) او حافظ ذهبی رحمه الله په ” میزان“ کښې لیکی ((لایعرف من التابعین))

د دویم اعتراض څخه جواب: ددې جواب دا دې چه مذکوره حدیث یقینًا قابل استدلال دې.څکه چې نورو محدثینو د دې تصحیح کړې ده.

① ابوداؤد دا روایت کړې دې . او سکوت ئې پرې کړې دې .اود ابوداؤد سکوت دلیل د صحت دې.

② ابن حبان صحیح ګرځولې دې او په خپل صحیح کښې ئې تخریج کړې دې (۳)

③ پخپله حافظ ذهبی رحمه الله په ” تلخیص المستدرك کتاب الاشربة“ کښې دا حدیث صحیح ګرځولې دې.

④ پخپله حافظ ابن حجر رحمه الله فتح الباری ۲۰۲۱۱ کښې دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه د حدیث ترلاندې ((ومن لافلاحرج)) زیاتې ”احسن الاسناد“ ګرځولې دې

دجهالت عدم مضر کیدل: نوکه د حصین حبرانی جهالت مضروې نو دې حضراتو دا حدیث څنګه صحیح ګرځولې شو. نو یا خو د حصین جهالت قابل تحمل دې یا د دې متابعات موجود دی او په هرصورت د حدیث څخه استدلال صحیح دې .

(۱) مستدرك ۵۸۱ کتاب الطهارة من استجمر فلیوتر
(۲) نصب الرایه ۲۱۸۱۱
(۳) موارد الظمان ۶۲

Maktaba Tul Ishaat.com

۲ **د حنفيانو دويم مستدل د عائشې رضي الله عنها روايت:** ابوداوٗد ، ابن ماجه او دارقطني وغيره کښې د حضرت عائشه رضي الله عنها څخه مرفوعًا روايت دې «قالت ان رسول الله ﷺ قال اذا ذهب احدكم الى الغائط فليذهب معه بثلثة احجار يستطيب بهن فانها تجزء عنه» کله چې په تاسو کښې څوك غټې اودس ماتې دپاره لاړ شي نو ځان سره دې درې کانړي اوړي چې په دې باندې پاکي حاصل کړي.نو دا د ده دپاره جائز دي.[۱]

استدلال: په دې روايت کښې د «فانها تجزء عنه» جمله دا ښائي چه مقصود اصلي انقاء ده . او څه عدد مخصوص بالذات نه دې .نو چه کوم ځائې دتثليث حکم دې هلته منشاء دا ده . چه دا عدد انقاء دپاره کافي دې.

۳ **د حنفيانو دريم مستدل د ابو ايوب رضي الله عنه روايت:** په معجم طبراني کښې د حضرت ابوايوب انصاري رضي الله عنه څخه مرفوعًا د دې معنی يوبل حديث منقول دې «اذا تغوط احدكم فليمسح بثلثة احجار فان ذلك كافيه» علامه هيثمي رحمه الله په مجمع الزوائد کښې دا روايت نقل کوی[۲] اوليکي . «رجاله موثقون الا ان ابا شعيب صاحب ابي ايوب لم ار فيه تعديلا ولا جرحًا»

۴ **د حنفيانو څلورم مستدل د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت:** د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت په راروان باب کښې راځي .«قال خرج النبي ﷺ لحاجة فقال التمس لي ثلاثة احجار قال فاتيته بحجرين وروثة فاخذ الحجرين والقى الروثة وقال انها ركس»

استدلال: امام طحاوی رحمه الله د حنفيانو د مسلك دپاره هم د دې روايت څخه استدلال کړې دې يعني که درې ضروري وې نو بيا به دوی يو بل کانړې ضرور غوښتې وو .

دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه په روايت دومبې اعتراض: امام بيهقي رحمه الله فرمائي چه هم دا حديث په مسند احمد ، بيهقي ، دارقطني کښې د عن معمر عن ابی اسحاق عن علقمه عن عبدالله په طريقه راغلي دې.او د معمر په دې طريق کښې د «فانها ركس» څخه پس د نبی کريم ﷺ دا ارشاد مبارك هم شته . «ائتنى بحجر» [۳] يعني ماته بل کانړې راوړه چه دينه معلوميږی چه دوی ﷺ په دوه کانړوا کتفانه وه کړې .

د بيهقي رحمه الله د اعتراض څخه اول جواب: علامه عيني رحمه الله په عمدة القاری ، ، او حافظ زيلعي رحمه الله په "نصب الرايه" کښې د دې په جواب کښې فرمائي : چه دا زياتې چه کوم سند سره منقول دې هغه قابل اعتماد نه دې . ځکه چه د ابو اسحاق سماع د علقمه څخه ثابته نه ده . حافظ زيلعي رحمه الله فرمائي چه پخپله امام بيهقي رحمه الله په دې مقام خو په دې روايت

---

[۱]) لفظه لابی داود ۶\۱ کتاب الطهارة باب الاستنجاء بالاحجار. هذا اسناد صحيح)
[۲]) مجمع الزوائد ۲۱۱\۱ کتاب الطهارة باب الاستجمار بالحجر)
[۳]) دارقطني ۵۵\۱ . کتاب الطهارة باب الاستنجاء .۱۲) _

هيڅ كلام نه دې كړې دې. خو كتاب الديات باب الدية الخماس كښې صراحة ليكلې چه ابو اسحاق د علقمه څخه نه دی اوريدلې او دا خبره پخپله د ابواسحاق د اقرار او اعتراف څخه ثابت ده. د دې وجې دا حديث منقطع دې او قابل استدلال نه دې.(۱)

د ابو اسحاق دعدم سماع څخه اول جواب: حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری كښې د دې يو جواب خو دا وركړې دې چه كرابيسی تصريح كړې ده. چه ابواسحاق دا حديث د علقمه څخه اوريدلې دې (۲)

د سماع د ثبوت عدم صحت: خو ظاهره ده. چه د كرابيسی قول د ابواسحاق دخپل قول سره معارضه نشی كولې. په دې وجه دحافظ صاحب رحمه الله جواب صحيح نه دې.

د ابواسحاق دعدم سماع څخه دويم جواب: دويم جواب حافظ صاحب دا وركړې دې. كه سماع نه وی نو بيا هم دا حديث مرسل دې او مرسل د حنفيانو په نيز حجت دې. يعنی حنفيان په قرون ثلاثه كښې انقطاع موجب ضعف نه ګڼری.

د حافظ ابن حجر رحمه الله د دويم جواب عدم صحت: مفتی محمدتقی عثمانی مد ظله العالی فرمائی چې د حافظ ابن حجر رحمه الله دا جواب د دوی د جلالت قدرسره مناسب نه دې. ځكه چه مرسل د حنفيانو په نيز علی الاطلاق حجت نه دې بلكه د دې حجت دپاره څو شرطونه دی.

د صحت ارسال دپاره شرطونه: هغه شرطونه دا دی

① اول شرط دا دې چه كوم راوی ارسال كړې وی. هغه د ثقه څخه روايت كوی د ضعيف څخه روايت نه اخلی.

② دويم شرط دا دې چه په صيغه د جزم روايت اوكړی.په ،،عن،، وغيره سره ئې روايت نه وی كړې.

په مذكوره روايت كښې د شرط ثانی فقدان: او په دې روايت كښې ابواسحاق د "عن" صيغه استعمال كړې ده.اودا د جزم صيغه نه ده.

د معمر په طريق باندې د حنفيانو اعتراض: د امام بيهقی رحمه الله دمذكوره اعتراض چې د معمر په طريق كښې دا زيادت راغلې دی چې نبی كريم ﷺ اوفرمائيل ماته يو بل كاڼړې راوړه .نو د دې روايت څخه ثابته شوه چې نبی كريم ﷺ دريم كاڼړې راوړې دې. يو مضبوط جواب دا هم دې. چه د معمر ددې روايت په سند كښې شديد اضطراب دې. چه د دې تشريح به راتلونكې باب كښې راروانه ده. د دې اضطراب د رفع كولو دپاره امام ترمذی رحمه الله طريق د اسرئيل راجح ګرځولې دې. او امام بخاری رحمه الله د زبير طريق او پخپله

---

(۱) نصب الراية ۲۱۷/۱.
(۲) فتح الباری ۲۰۷/۱

Maktaba Tul Ishaat.com

حافظ ابن حجر رحمه الله هدی الساری کښې په اتم فصل کښې دا تصریح کړې ده .(۱) چه ددې حدیث صرف دوه طریق صحیح دی . باقی یو طریق هم صحیح نه دې .اود معمر په طریق کښې د «ائتنی بحجر» زیاتی منقول ده خو دا روایت د دې دواړو یعنی د اسرائیل او زبیر د طریق څخه بغیر دې نتیجه دا شوه چه په خپله امام بیهقی رحمه الله د اعتراف څخه دا خبره ثابته شوه چه د «ائتنی بحجر» والا طریق صحیح نه دی . اوکه دا طریق صحیح هم اوګرځولې شی . نو اصل د اضطراب رفع کولو څه ضرورت نشته خلاصه دا چه د معمر په طریق کښې د «ائتنی بحجر» زیاتې منقول ده . هغه فنی نقطه نظر سره قابل استدلال نه ده.

د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د روایت څخه دویم جواب: د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د روایت څخه یو جواب دا هم شوې دې.

که د " ائتنی بحجر" زیاتی والا روایت ثابت نه شی نو هم په حدیث الباب کښې دا احتمال شته . چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دغوشیانو دغورزولو څخه پس پخپله څه کانړې راغستې وی یا د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه ئې غوښتې وی .څکه چه عدم ذکر د یو څیز د هغې په عدم باندې دلالت نه کوی.یو څیز به موجود وی.خو د هغې ذکر به نه وی شوې.نوهرکله چې دا احتمال شته نو قاعده دا ده «اذجاءالاحتمال بطل الاستدلال» کله چې احتمال راشی نو استدلال باطل شی.

د دې جواب موزونیت: دااعتراض بلاشبه وزنی دی لکه ډیرو علماء حنفیانو دا اعتراض تسلیم کړې دې. حضرت شیخ الهند رحمه الله په ،،العرف الشذی،، کښې فرمایی . چه دې حدیث څخه د حنفیانو استدلال نه تامیږی. دې څخه علاوه صاحب د هدایه هم کیدې شی د دې وجې په دې مسئله کښې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت په دلیل کښې نه دې نقل کړې. بلکه د «من استجمر فلیوتر» حدیث څخه ئې استدلال کړې دې .

د دویم جواب څخه جواب: البته بعضې حضراتو ددې اعتراض جواب ورکولو کوشش کړې دې . چه دې کښې بهتر جواب دا دې چه «السکوت فی معرض البیان یقوم مقام النفی» چې په کوم ځائې کښې د بیان ضرورت وی نو هلته سکوت کول په مقام د نفی کښې قائمیږی. دلته دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه منشاء آداب استنجاء بیانول دی . نو که نبی کریم صلی الله علیه وسلم دریم کانړې راغوښتې وې نو ددې تذکره به ئې ضرور کولو . دارنګه سیاق د حدیث دا تقاضا کوی چه دا خائې داسې وو . چه هلته کانړی نه ملاویدل .د دې وجې حضرت عبدالله رضی الله عنه د سوتې یوه ټکره را اوچتوله . په داسې مقام باندې که دوئ د دریم کانړی دغوښتو اهتمام کړې وې نو ابن مسعود رضی الله عنه به ضرور د دې تذکره کوله .

---

(۱) هدی الساری مقدمة فتح الباری ۱۲/۱۰۸)

قوله: برجيع: په سوټوسره استنجاء ځکه ناجائز ده چه دا موجب تلويث دی او د پيريانو خوراك هم دي.

قوله: بعظم: هډوکی ته عظم وائی په هډوکی استنجاء جائزنه ده باخوبه دي وجه چه غوړوالي او د غوښې بوټئي ورسره لګيدلي هډوکی باندې صفائی نه شی حاصليدې اوکه اوچ او زوړ هډوکي وی نو دملاست د وجې نه يعنی زيږيدو د وجې نه صفائی نه شی حاصليدې اويا دنوکدار هډوکی د وجې نه د زخم لګيدو خطره ده خو په حديث شريف کښې دممانعت وجه داخودلي شوې ده چه دا د جناتو خوراك دې اوهم دغه ډير واضح دی.
په استنجاء کښې استعماليدونکې څيزونو اوډ نه استعماليدونکو څيزونو دپاره قاعده او ضابطه په دې عربی عبارت کښې ده. "كل هو طاهر قالع للنجاسة غير محترم" وړاندې دډې تفصيل کښې راتلونکې دې

[۳۳۴] بيت الخلا ته د داخليدو دعا

۳۳۴-(¹) [۳] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ يَقُولُ: [۳] اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به کله د اودس ماتي خاني ته داخل شو (يعني د داخليدو اراده به يې وکړه) نو دا دعا به يې ويله: [۳] اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ، اي الله جل جلاله زه ستا ځخه د خبيث او خبائث يعني نر او ماده جناتو ځخه پناه غوارم. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① الْخَلَاءَ: بيت الخلاء، د اودس ماتی ځای. ② الْخُبُثِ: د خبيث جمع ده، وَهُوَ الْمُؤْذِي مِنَ الْجِنِّ وَالشَّيَاطِينِ: ضرری جنات او شيطانانو ته وائی کوم چه مذکر وی ③ الْخَبَائِثِ: دخبيثة جمع ده، ضرری جنات او شيطانانو ته وائی کوم چه مؤنث وی.

تسهيلات:

قوله: إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ:

د بيت الخلاء د دخول ځخه وړاندې دعا کول:

يعنی کله چې يو کس بيت الخلاء ته د تللو اراده اوکړی نو دا دعا دې اووائی. او کسه پښه دې اول دننه کيږدی. اوکه په صحرا کښې وی نو کشفِ ثياب ځخه وړاندې دې دا دعا اووائی. البته ذکر قلبی هر ځائې جائز دې.

¹) اخرجه البخاری فی صحيحه رقم الحديث ۱۴۲ ومسلم فی صحيحه رقم الحديث ۱۲۲/ ۳۷۵ وابوداود فی السنن رقم الحديث ۴ والترمذی فی السنن رقم الحديث ۵ والنسائی فی السنن رقم الحديث ۱۹

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ:

د شیطانانو په ګنده ځایونو کښې جمع کیدل؛ د دوارو لفظونو ترجمه داده: (ای ذکورهم واناثهم) جنات طبعًا غلیظ ځایونه خوښوی او هم په د اسې ځایونو کښې راجمع کیږی. په دې وجه په داسې ځایونو کښې ددوئ څخه د بچ کیدو دپاره د دعا لوستلو تعلیم ورکړې شوې دې.

[۳۳۸] د قبر د عذاب سبب

۳۳۸–()[۴] وعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] «مَرَّ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِقَبْرَيْنِ، فَقَالَ: (إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ، [۲] وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ، أَمَّا أَحَدُهَا فَكَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنَ الْبَوْلِ–

ترجمه: [۱] او ابن عباس رضی الله عنهما راوي دي چه یو خل حضور ﷺ په دوؤ قبرونو باندې تیر شو نو (د هغوئ په لیدو سره) یې وفرمایل په دې قبرونو والو باندې عذاب نازلیږي [۲] او عذاب هم په څه لوي شي نه نازلیږي (چې د هغه څخه بچ کیدل مشکل وي) په هغوئ کې خو به یو د متیازو څخه ځان نه ساتلو،

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ: الْمُسْلِمُ لَا يَسْتَنْزِهُ مِنَ الْبَوْلِ [۲] وَأَمَّا الْآخَرُ فَكَانَ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ - [۳] ثُمَّ أَخَذَ جَرِيدَةً رَطْبَةً، فَشَقَّهَا بِنِصْفَيْنِ

ترجمه: [۱] او د مسلم د یو روایت الفاظ دا دي چې د متیازو څخه یې احتیاط نه کولو [۲] او دویم چغل خور وو، [۳] بیا حضور ﷺ د خورما یوه لونده (شنه) څانګه واخسته او هغه یې په مینځ دوه حصې کړه

حل اللغات: ① كَبِيرٍ: لوئي (مشقت او تکلیف والا عمل کوم نه چه ځان ساتل انسان ته مشکل وی).
② لَا يَسْتَتِرُ: ځان به ئې نه پټولو (یعنی د متیازو نه د بچ کیدو خیال به ئې نه ساتلو).

[۱] ثُمَّ غَرَزَ فِي كُلِّ قَبْرٍ وَاحِدَةً. [۲] قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! لِمَ صَنَعْتَ هَذَا؟ [۳] فَقَالَ: لَعَلَّهُ أَنْ يُخَفَّفَ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا») مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او په دوارو قبرونو یې یوه یوه حصه ښخه کړه [۲] په دې لیدو سره صحابو رضی الله عنهم پوښتنه وکړه یا رسول الله ﷺ تا داسې ولې وکړل؟ [۳] حضور ﷺ وفرمایل شاید په دې عمل سره د هغوئ په عذاب کې (تر هغه وخته پورې) څه تخفیف وشي ترڅو پورې چې دا څانګې وچې نه شي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ③ يَمْشِي: د تللو نه مراد یوبل ته بدې ردې خبرې اوړل راوړل دی چه دوه کسان خپل

(۱) اخرجه البخاری کتاب الوضوء باب امتشاط المرأة عند غسلها من المحیض(رقم-۳۱۶) ومسلم کتاب الطهارة باب الدلیل علی نجاسة البول ووجوب الاستبراء منه (رقم-۱۱۱ - (۲۹۲)والدارمی کتاب الطهارة/باب الاتقاء من البول (رقم-۷۶۶)

مینځ کښې وران شی. ③ اَلنَّمِيمَةِ: وهونَقْلُ كَلَامِ الْغَيْرِ لِقَصْدِ الْإِضْرَارِ: چغل خوری کول چه د یو کس خبرې بل ته د خفګان پیدا کولو دپاره رسوی. ⑤ جَرِيدَةً: أَيْ غُصْنًا: څانګه، لخته (دا د کجورې شنه لخته وه). ⑥ رَطْبَةً: لمده یعنی شنه، ⑦ فَشَقَّهَا: ماته ئې کړه، ټکړې ئې کړه، ⑧ غَرَزَ: ښخه ئې کړه، ⑨ يُخَفَّفَ: سپک شی یعنی کم شی (عذاب)، ⑩ مَالَمْ يَيْبَسَا: چه ترڅو پورې نه وی اوچ شوی دا دواړه لختې.

تسهیلات:

قوله: مَرَّ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِقَبْرَيْنِ:

د واقعه په وحدت او تعدد کښې اقوال: ① دا واقعه د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما اود حضرت جابر رضی الله عنه دواړو څخه مروی ده. د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په بعضې طرق کښې ددې خبرې تصریح ده. چه دا دواړه قبرونه په بقیع کښې وو. ٦

② اودحضرت جابر رضی الله عنه د روایت په بعضې طرق کښې دا تصریح ده.چه دا واقعه په سفر کښې راپیښه شوه

جابر رضی الله عنه فرمائی چې نبی کریم ﷺ د قضاء حاجت دپاره تشریف یوړلو نو او ما ورسره اوبه یوړلې خود قضاء حاجت دپاره ورته څه مناسب ځائې پیدا نشو.نو نبی کریم ﷺ دوو وونو ته اشاره اوکړې هغوی راتیټې شوې او نبی کریم ﷺ د هغې په پرده کښې قضاء حاجت اوکړو.د قضاء حاجت څخه پس نبی کریم سوچ اوکړو او سر ئې اوړقولو او وې فرمائیل د دې وونو څخه څانګې راکټ کړه اوبه دې قبر ئې اولګوه.ما ئې د حکم تعمیل اوکړو.کله چې ترې ما د دې عمل کولو تپوس اوکړو نو وې فرمائیل چې دوی ته عذاب ملاویدل.

تطبیق: علامه عینی رحمه الله اوحافظ ابن حجر رحمه الله ددې تعارض رفع کولو کښې فرمائی چه دادواړه واقعات جُدا جُدا دی.

د صاحب قبرین په اسلام او کفر کښې اقوال:

① ابوموسی مدینی رحمه الله په دې باندې جزم کړې دې چې دا دواړه کافران وو.

② محققین شارحین لکه حافظ ابن حجر، علامه عینی وغیرهما فرمائی چې دا دواړه قبرونه د مسلمانانو وو.

د اول قول دلائل: ① دحضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دې چې د بنی نجار قبیلې په دوو قبرونو باندې تیر شو کوم چې په جاهلیت کښې مړه شوی وو.نو د هغوی عذاب ئې واوریدل چې د بول څخه د ځان نه ساتلو او د چغلو کولو په وجه ورته ملاویدل.

جواب: دا حدیث ضعیف دې ځکه چې په دې کښې ابن لهیعه دې.اوهغه ضعیف راوی دې.ابوموسی مدینی هم د دې اقرار کړې دې.

② که چرته دا د مسلمانانو قبرونه وې نو نبی کریم ﷺ به د محدود وخت دپاره د هغوی د عذاب لرې کولو دپاره شفاعت نه کولو بلکه دهمیشه دپاره ئې به ئې د رفع عذاب شفاعت

Maktaba Tul Ishaat.com

کړې وو.

جواب: د ((لعله یخفف عنهما مالم ییبسا)) څخه رفع د عذاب مراد ده.څکه چې دلته داسې قرائن موجود دی.کومې چې ددې خبرې څخه انکاری دی چې دغه قبرونه دې د کافرانو وې.

د دویم قول دلائل:

① په ابن ماجه کښې د ابن عباس رضي الله عنه په روایت کښې دی ((بقبرین جدیدین)) د جدیدین څخه معلومیږی چې دا قبرونه نوی وو نو د مسلمانانو وو.د کافرانو نه وو (۱)

② په یو روایت کښې دی چې ((مر بالبقیع فقال من دفنتم الیوم ههنا))اودا معلومه ده چې په جنت البقیع کښې ټول مسلمانان وو کافران نه وو.(۲)

د ځانګې په وحدت اوتعدد کښې اقوال ؟:

① په یو روایت کښې دی چې نبی کریم ﷺ په قبرونو باندې دوه ځانګې ښخې کړې

② په بعضې روایاتو کښې دی چې نبی کریم ﷺ دوه ځانګې ښخې کړې.(۳)

تطبیق: د دواړه قسمه روایاتو په مینځ کښې تطبیق دا دې چې نبی کریم ﷺ یوه ځانګه راماته کړه او بیا ئې هغه په مینځ دوه کړه نو یوه ټوټه ئې په یو قبر ښخه کړه او بله په بل قبر چا چې نبی کریم په اول حالت کښې لیدلې دې نو هغه د یوې ځانګې ذکر کړې دې او چا چې په د ښخولو په وخت کښې لیدلې دې نو هغه د دوو ځانګې ذکر کړې دې.

قوله: وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ:

اشکال: دلته دحدیث د اول او آخر په مینځ کښې تعارض معلومیږی څکه چې په اول کښې دی ((انهما لیعذبان)) اووړیسې فرمائی ((وما یعذبان)) نو په اول کښې اثبات د عذاب دې اوعذاب عام طور د کبیره په ارتکاب سره ملاویږی اوپه آخر کښې نفی دعذاب ده.چې دوی ته د کبیره په وجه عذاب نه ملاویږی .او د دې تعارض د بخاری په روایت کښې زیات واضح دې.څکه چې هلته دی ((بلی وانه لکبیر))

جوابونه: ① نبی کریم ﷺ اول اوفرمائیل چې دا عذاب ورته په لویه ګناه کښې نه ملاویږی.خو چې څنګه نبی کریم ﷺ د دې څخه فارغ شو نو وحی راغله چې دوی ته عذاب په کبیره کښې ملاویږی.نو وې فرمائیل ((بلی وانه لکبیر)) (۴)

② د ،،انه،، ضمیر عذاب ته راجع دې چې دا عذاب سخت دې.ګناه ته نه دې راجع.

---

(۱) صحیح مسلم (۴۱۸\۱۲)-

(۲) احمد (۲۶۶۱۵) والطبرانی فی الکبیر رقم (۷۸۶۹)-

(۳) معارف السنن (۲۶۲\۱۱)-

(۴) ۳۵۰،۳۴\۱۱ کتاب الوضوء باب من الکبائر ان لایستتر من بوله)_

③ ابن العربی رحمه الله فرمائیلی دی چې اولنې کبیر په معنی د اکبر دې او دویم کبیر په خپله معنی باندې دې.یعنی د کفر په وجه ورته عذاب نه ملاوېږی کومه چې ګناه اکبره ده.بلکه که کبیره ګناه کښې ورته عذاب ملاوېږی.اوهغه دا چې د بولو څخه د ځان نه ساتلو په وجه عذاب ملاویدل دی.اود چغلئ خوړلو په وجه عذاب ملاویدل.

④ ومايعذبان في كبير في ظنهما وانه في نفسه لكبير یعنی د هغوی په ګمان کښې دغه لوئې ګناهونه نه وو خو د الله په نیز هغه لوئې ګناهونه وو.

⑤ ومايعذبان في كبير عند الناس وانه لكبير عند الله یعنی دغه ګناهونه د خلقو په نظر کښې لوئې نه دې خو د الله تعالی په نظر کښې لوئې ګناهونه دی.

⑥ دا څه داسې د مشقت ګناه نه وه چې د هغې څخه ځان ساتل ډیر ګران وو.یعنی بچ کیدل ترې آسان وو.خو انجام او نتیجه ئې سخته وه.

قوله: وَأَمَّا هَذَا فَكَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنْ بَوْلِهِ

د الفاظو اختلاف: دلته روایاتو کښې مختلف الفاظ راغلي دی. ((لايستره لايستنزه» لايستبرء لايستنزاواولايتقي)) د ټولویوه معنی ده.چه دې سړی به ځان د متیازو د څاڅکوڅخه نه ساتلو

د عدم ستر قول اود هغې تضعیف: د «لايستتر»معنی بعضې عالمانو دا هم بیان کړې ده.چه دمتیازو وخت کښې به ئې ستر دعورت نه کولو خو بهتره دا ده چه دا لفظ په نوروطرقومحمول شی او د عدم التحرز معنی واخستې شی.ددې تائید د هغه حدیث څخه هم کیږی. په کوم کښې کښې چې ارشاد دې ((استنزهوامن البول فان عامة عذاب القبرمنه))

د عذاب قبر څلور اسباب: د قبر دعذاب څلور اسباب دی.په کومو کښې چې دوه په دې حدیث کښې مذکور دی او دوه نور دی.

① چغلی کول　　② د بول څخه ځان نه ساتل

③ په کثرت سره د شرابو څکل　　④ د دنیا سره زیات محبت ساتل

د دې ګناهونو د عذاب قبر سره مناسبت:

علامه ابن نجیم رحمه الله [1] ددې دا نکته بیان کړې ده.چه طهارت عن البول عباداتو او طاعاتو ته رومبې قدم دې بل اړخ ته قبر دعالم آخرت رومبې منزل دې د قیامت منازلو کښې په رومبی منزل یعنی قبرکښې به د طهارت په ترك عذاب وی.ددې تائیدد معجم طبرانی دیومرفوع روایت نه هم کیږی.((اتقواالبول فانه اول مايحاسب به العبدفي القبر))[2]

[1]) البحرالرائق ۱۱٤۱۱
[2]) رواه الطبرانی باسناد حسن معارف السنن ۲۱۳۱۱)-

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: وَأَمَّا هٰذَا فَكَانَ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ.

د نمیمه تعریف: نمیمه وائی ((نقل کلام الغیر للاضرار والافساد)) یعنی د بل چا خبره د ضرر او د فساد دپاره بل چاته نقل کول. او که د یو خبره بل ته د اضرار او فساد دپاره نشی نقل کولې بلکه د اصلاح دپاره وی نو هغه نمیمه نه ده. لکه ځنګه چې د اصلاح بین الناس په موقع د یو خبره بل ته منتقل کولې شی. خو داصلاح په نیت نودا نمیمه نه ده بلکه عین ثواب دې.

قوله: ثُمَّ أَخَذَ جَرِيدَةً رَطْبَةً:

قبر باندې د قجورو څانګې بنخول: په بخاری کښې راغلی دی ((ثم دعا بجریدة فکسرها کسرتین فوضع علی کل قبر منهما کسرة))[1] اوبیا نبی کریم ﷺ دا هم اوفرمائیل ((لعله یخفف عنهما مالم ییبسا)) یعنی ترکومې پورې چې دا دواړه څانګې اوچې شوې نه وی نو امید لرم چې الله تعالی به د دې دواړو څخه عذاب کښې تخفیف اوکړی.

د څانګو د اوچیدو پورې د تخفیف عذاب مقید کولو وجه: نبی کریم ﷺ چې دا اوفرمائیل ترڅو پورې چې دا څانګې اوچې شوې نه وی نو کیدې شی د دوی څخه عذاب کښې تخفیف اوشی. عالمانو د دې وجه دا بیان کړې ده چې لوند څیز کښې حیات او ژوند وی او د الله تعالی تسبیح بیانوی. نو د دغه تسبیح په وجه الله تعالی د مرده څخه عذاب کښې تخفیف کوی.

قبرستان کښې د تلاوت جواز: د دې څخه دا مسئله هم معلومه شوه چې د قبر سره څوک تلاوت کوی نو په هغې سره به مرده ته فائده رسی که هغه په عذاب کښې اخته وی نو هغې ترې رفع کولې شی یا په کښې تخفیف کولې شی. ځکه چې هرکله د یوې څانګې د تسبیح په وجه په عذاب کښې تخفیف راځی نو د انسان په تلاوت سره خو په عذاب کښې تخفیف په طریق اولی سره راتلې شی.

په قبر باندې د څانګو لګولو په حکم کښې اقوال: ① د عالمانو یوه ډله د دې قائله ده چې په قبر باندې څانګې لګول د نبی کریم ﷺ خصوصیت دې. د بل چا دپاره دا جائز نه ده.
② دامام بخاری رحمه الله وغیره په نیز په قبر باندې د څانګې لګول جائز دی چې تخفیف د عذاب پرې اوشی. علامه شامی رحمه الله هم د دې د جواز تصریح کړې ده. حافظ عسقلانی رحمه الله شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله وغیره هم د دې سره متفق دی. د مولانا خلیل احمد سهارنپوری رحمه الله میلان هم د جواز طرف دې.[2]

داول قول دلیل: علامه ابن بطال او علامه مازری د دې وجه دا بیان کړې ده چې نبی

[1]) الصحیح البخاری کتاب الوضوء باب من الکبائر ان لا یستتر من بوله)-
[2]) نصر الباری شرح صحیح بخاری (۱۱/ ۱٤٤)-

کریم ﷺ ته د وحی په ذریعه دا علم ورکړې شوې وو.چې په دوی باندې عذاب قبر دې او وسره دا هم خودلې شوی وو چې د څانګو په لګولو سره به د دوی په عذاب کښې تخفیف اوکړې شی.خو بل چاته دا علم نشی کیدې چې صاحب قبر معذب دې او نه ورته د تخفیف عذاب علم کیدې شی.

د دویم قول دلائل: ① امام بخاری رحمه الله په مستقل باب کښې ذکر کړې دې او په هغې کښې ئې د مرور علی قبرین حدیث ذکر کړې دې.(۱)

② په بخاری کښې د بریده بن خصیف رضي الله عنه وصیت هم د دې حضراتو دلیل دې څکه چې هغوی دا وصیت کړې وو.چې زما په قبر به د څانګې ښخې کړې شی.

د مفتی شفیع رحمه الله فیصله:. حضرت مولانامحمدشفیع صاحب قدس سره په دې باب کښې قول فیصل دا بیان کړې دې.چه د حدیث څخه ثابتیدونکې څیزبه هم په هغه حدساتلې شی چې په کوم حد ثابت دې حدیث کښې یوځل یادوه څله ښاخ لګول ثابت دې دې څخه معلومیږی چه احیاناً داسې کول جائز دی. ((وعليه يحمل قول الشيخ سهارنپوری رحمه الله)) خودا چرته هم ثابت نه دی.چه د حدیث الباب څخه علاوه نبی کریم ﷺ د بل سړی په قبر داسې کړې وی.دغه شان د حضرت بریده رضي الله عنه څخه علاوه دبل صحابی څخه داسې منقول نه دی.چه دوی په قبرباندې ښاخونه لګول خپل معمول جوړکړې وی.تردې چه د حضرت ابن عباس رضي الله عنه اود جابر رضي الله عنه څخه هم چه کوم ددې حدیث راویان دی.(۲) دا منقول نه ده.چه دوئ دتخفیف عذاب دپاره دا طریقه اختیارکړې وی.دې څخه داخبره په واضح طور ثابتیږی چه دا عمل اګرچه جائزدې.خو د سنت جاریه اوعادت مستقله جوړولو څیزنه دې.((فالحق ان يعطى كل شئ حقه ولايجاوزعن حده وهوالفقه في الدين والله علم بالصواب))

په قبرونو باندې د ګولونواچولوعدم جواز: په څانګو باندې د ګولونو قیاس کول او په قبرونو باندې د ګولو کیخودل ټیک نه دی.څکه چې نبی کریم د دې مسئلې د حدیث الباب سره څه تعلق نشته .ددې د بطلان دپاره دا دلیل کافی دې چې عوام الناس د اولیاء کرامو په قبرونو باندې ګولونه ایږدی.حالانکه د تخفیف عذاب خو ګناهګارانو ته زیات ضرورت دې.

[۳۳۹] د دوؤ لعنتی څیزونو نه د څان ساتلو حکم

۳۳۹-(۳) [۵] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② ((اتَّقُوا اللَّاعِنَيْنِ) ③ قَالُوا: وَمَا اللَّاعِنَانِ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ ④ قَالَ: الَّذِي يَتَخَلَّى فِي طَرِيقِ النَّاسِ ⑤ أَوْ فِي ظِلِّهِمْ)) رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[۱] ((باب الجريد على القبر))

[۲] يعني الحديث المذكورفي الباب لاحديث بريده _

[۳] اخرجه مسلم كتاب الطهارة باب النهي عن التخلي في الطرق. والظلال (رقم-۶۸ - (۲۶۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [۱] ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] تاسو د دې دوو څيزونو څخه ځان ساتي چې د لعنت سبب دي [۳] صحابه رضي الله عنهم عرض وکړو يارسول الله ﷺ هغه څيزونه څه دي؟ [۴] حضور ﷺ وفرمايل يو خو دا دي چې يوسړي د خلقو په لار کې غټې اودس ماتې وکړي [۵] اويا دا چې يو سړي د خلقو د سايي په ځاي کې غټې اودس ماتې وکړي. (مسلم)

حل اللغات: ① اللَّاعِنَيْنِ: أَيْ: لِلَّذِينَ هُمَا سَبَبًا اللَّعْنَةِ: يعنی هغه دوه څيزونه کوم چه د لعنت دپاره سبب او ذريعه دی. ② يَتَخَلَّى: أَيْ: يَتَغَوَّطُ وَيَبُولُ: چه ډک اودس ماتې اوکړی او پليت ئې کړی. ③ فِي ظِلِّهِمْ: أَيْ: فِي مُسْتَظَلِّهِمْ: دخلقو سوری ته د کيناستلو ځاي، کوم سوری ته چه خلق د نمر نه بچ کيدو دپاره يا د ګپ شپ دپاره کيني.

تسهیلات:

قوله: اتَّقُوا اللَّاعِنَيْنِ:

افعالو ته د لعنت نسبت کولو وجه: يعنی هغه دوه کارونه چه دَلعنت دَپاره سبب اوذريعه جوړيږی لکه چه دا دواړه کارونه پخپله لعنت کونکی جوړيږی. په دې اعتبارسره حامل او باعث ته دَفاعل درجه ورکړې شوه ګنی په اصل کښې لعنت کونکی خوهغه خلق دی چه تکليف اوچتولوسره کنځلې او لعنت کولوَ کښې لګياشی نودا "اسنادالی غيرماهوله" جوړ شو. صاحب ازهار ليکلی دی چه لاعن په وزن دَ فاعل دَ ملعون په وزن دَ مفعول په معنی کښې دې.

قوله: فِي طَرِيقِ النَّاسِ:

د لارې څخه مراد: دې نه مرادعامه لارده په کوم چه خلق تيريږی اوځی راځی پرې که په ځنګل کښې يوه لار وی هغه مرادنه ده بل دې نه هغه لارمراد ده چه عام وی دَ چا په مملوک لارکښې بغيردَ اجازت نه قضاء حاجت حرام دې.

قوله: أَوْفِي ظِلِّهِمْ:

د سوری والاونې لاندې بول کولو ممانعت: دلته أوْدَ تنويع دَپاره دې اوظل دَ مستظل په معنی کښې دې يعنی دَ سوری والا ونې لاندې چرته چه خلق په سوری کښې کينی قضاءحاجت کول دَلعنت سبب دې. يعنی که څوك دغه سړی ته کنځلې کوی يا په هغه لعنت کوی نوداسړې دَدې مستحق دې.

په مذکوره حکم کښې تعميم: دَ سوری والا ونې نه علاوه دَميوه دارې ونې هم دغه حکم دې. بل دې نه هغه مقامات هم مراددی چرته چه خلق دَ نمرنه ګرموالې حاصلولو دَپاره يخنئی کښې کينی. يادَ عام مجلس لګولودَپاره کينی بل دَ اوبو تالاب يا پارك وغيره

دعاموخلقو خایونه تول مراد دی. بعضې علماؤ لیکلی دی په دې کښې هغه بیت الخلاء هم راځی په کوم کښې چه فلش سستم نه وی او اودس ماتې په کښې پروت وی په کوم سره چه نورو ته تکلیف رسی. اوکه مجبوری وی نو بیابه په دې کښې تخفیف د مجبورئی د وجې نه وی.

[۳۳۰]په ښي لاس د استنجاء کولو کراهت

۳۳۰-()[۶]وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-[۲]((إِذَا شَرِبَ أَحَدُكُمْ فَلَا يَتَنَفَّسْ فِي الْإِنَاءِ[۳]وَإِذَا أَتَى الْخَلَاءَ، فَلَا يَمَسَّ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ[۴]وَلَا يَتَمَسَّحْ بِيَمِينِهِ)) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت ابو قتاده رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] هرکله چې په تاسو کې څوك اوبه څکي نو د اوبو څکلو په لوښي کې دې ساه نه اخلي [۳] او هرکله چې اودس ماتي ته ځي نو په ښي لاس سره دې عضو مخصوص (ذکر) نه مسه کوي[۴] او نه دې په ښي لاس سره استنجاء کړي. (بخاري و مسلم)

حل اللغات: ① فَلَا يَتَنَفَّسْ: أي لَا يُخْرِجْ نَفَسَهُ: يعنی ساه دې نه اخلی، ② الْإِنَاءِ: لوښي، ③ الْخَلَاءَ: بيت الخلاء، د اودس ماتی ځای ④ فَلَا يَمَسَّ: لاس دې نه اوړی، ⑤ لَا يَتَمَسَّحْ: أي: لَا يَسْتَنْجِي: استنجاء دې نه کوی يعنی پلیتی دې نه لرې کوی.

تسهیلات:

قوله: فَلَا يَتَنَفَّسْ فِي الْإِنَاءِ:

په لوښی کښې د ساه اخستلو ممانعت: دې حديث پاك کښې دوه آدابه بيانيږی. اول دا چې کله يو کس اوبه څکی نو هغه ته پکار دی چې د اوبو څکلو دوران کښې په هغه لوښی کښې ساه نه اخلی کوم کښې چې دې اوبه څکی. که دې ساه اخستل غواړی نو لوښی دې د خلې نه جدا کړی او بيا دې ساه واخلی چې خلې يا پوزې نه څه څيز اوبه پريونځي

قوله: فَلَا يَمَسَّ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ:

په ښي لاس د ذکر مس کولو ممانعت: دويم څيز دا بيانيږی چې کله يو کس لوی اودس ماتی دپاره لاړشی نو هغه ته پکار دی چې نه په خپل ښی لاس خپل اندام مخصوصه مسح کړی او نه دې په ښی لاس استنجا کوی. ځکه چې په ښی لاس سره خوراك وغيره کيږی. او دا څيز د پاکوالی او صفائی خلاف دې چې کوم لاس سره خوراك وغيره اوکړی او بيا هم هغه لاس سره داسې اندامونوته لاس وراوړی چې هغې سره هغه گنده کيږی.مظاهر(۱/ ۲۵۸)

[۱] اخرجه البخاری کتاب الوضوء باب النهی عن الاستنجاء باليمين(رقم-۱۵۳) ومسلم کتاب الطهارة باب النهی عن الاستنجاء باليمين(رقم-۶۳ - (۲۶۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۳۳] په استنجاء کښې د ناتکی لوټو استعمالولو حکم

۳۳۱-()[۷] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] ((مَنْ تَوَضَّأَ فَلْيَسْتَنْثِرْ، [۳] وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ)) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې اودس کوي هغه ته پکار دي چې هغه پوزه هم سونړ کړي [۳] او کوم سړي (چې د اودس ماتي څخه وروسته په لوټي سره) استنجاء کوي هغه ته پکار دي چې طاق لوټي واخلي (يعني دري يا پنځه يا اووه). (بخاري و مسلم)

حل اللغات: ① فَلْيَسْتَنْثِرْ: پوزه دې سونړ کړی يعنی پوزه کښې ني چه کومې اوبه اچولې دی هغه دې اوباسی، يا دا مطلب چه: فَلْيُخْرِجِ الْمُخَاطَ مِنْ أَقْصَى الْأَنْفِ: د پوزې نه دې ګرينګ، قنړی وغيره سونړ کړی چه صفا شی. ② اسْتَجْمَرَ: دا د حجر نه دې په کاڼړی سره استنجاء کول يعنی خان پاکول مراد دی. ③ فَلْيُوتِرْ: أَيْ: ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ سَبْعًا: طاقت عدد دې استعمال کړی يعنی درې، پنځه وغيره.

تسهيلات: قوله: مَنْ تَوَضَّأَ فَلْيَسْتَنْثِرْ

د استنثار په تعريف کښې اقوال:

① استنشار پوزه کښې دننه اوبه راښکلو ته وائی چې پوزه ښه صفا شی.

② ددې نه مراد د پوزې نه ګرينګ وغيره راويستل دی.

د استنثار حکم: دا دامر صيغه وجوب دپاره نه ده بلکه استحباب دپاره ده. څکه چې د نبی کريم ﷺ په وړاندې عدم استنشار شوې وو. خو هغوی پرې انکار نه دې کړې.

د استنثار حکمت: بعضې حضراتو وئيلی دی چې شيطان د شپې په خوب کښې په خيشوم کښې وی. په دې وجه د پوزې صفا کولو حکم ورکړې شوې دې.

قوله: وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ

په استنجاء کښې د درې لوټو د استعمالو حکم: يعنی کله چې يو کس استنجا کوی نو طاق عدد کښې دې لوټې استعمال کړی. که هغه درې وی اوکه پنځه. دلته د ايتار حکم هم وجوب دپاره نه دې بلکه استحباب دپاره دې.

اشکال: استنجاء اول کيږی او دې نه روستو په پوزه کښې اوبه اچولې کيږی. خو دې ځائې کښې ددې الټه دی چې اول په پوزه کښې اوبه واچه بيا لاړ شه استنجاء وکړه.

د اشکال جواب: دا دواړه جملې جدا جدا دی. مطلب دادې چې کله اودس کوئی نو پوزه کښې په ښه طريقه اوبه اچوئی، او کله چې استنجاء کوئی نو لوټې طاق استعمالوئی.

(۱) اخرجه البخاری کتاب الوضوء باب الاستنثار فی الوضوء (رقم-۱۶۱) ومسلم کتاب الطهارة اب الإيتار فی الاستنثار والاستجمار (۲۲ - (۲۳۷) والدارمی کتاب الطهارة /باب فی الاستنشاق والاستجمار (رقم-۷۳۰)

[۳۴۲] په اوبو سره استنجاء کول

۳۴۲—(۱) [۸] ⓵ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ⓶ «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَدْخُلُ الْخَلَاءَ ⓷ فَأَحْمِلُ أَنَا وَغُلَامٌ إِدَاوَةً مِنْ مَاءٍ وَعَنَزَةً يَسْتَنْجِي بِالْمَاءِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⓵ حضرت انس ﷛ فرمايي ⓶ چې رسول الله ﷺ به اودس ماتي ته تشريف وړلو ⓷ نو زه او يوهلك (بلال ﷛ يا ابن مسعود ﷛) به د اوبو ډَك او وړه نيزه اخسته حضور ﷺ (به په لوټو سره د صفاي څخه وروسته) په اوبو سره استنجاء كوله. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ⓵ الْخَلَاءَ: أي الْمُتَوَضَّأُ لِخُلُوِّ الْإِنْسَانِ فِيهِ: د اودس ماتي ځاى چرته چه انسان خپله تقاضا او حاجت پوره كوى، خو دلته ددې نه مراد فضاء او صحرا ده. ⓶ إِدَاوَةً: أَيْ: مَطْهَرَةٌ وَهِيَ ظَرْفٌ مِنْ جِلْدٍ يُتَوَضَّأُ مِنْهُ: د اوبو لوښې كوم سره چه اودس چارانداام كولې شى دا به د څرمنې نه جوړ وو، يعنى لوټه، كوزه وغيره. ⓷ عَنَزَةً: نيغه چوكه چه په يو سركښې به ئې سوكه وه، د امسا نه به اوږده وه او د نيزې نه به وړه وه. د ضرورت دپاره به د مونځ په دوران كښې د سترې په طور اينبودلې كيده.

تسهيلات:

قوله: غلام: ددې څخه مراد حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ دې.

قوله: يَسْتَنْجِي بِالْمَاءِ:

په استنجاء كښې درې صورتونه:

⓵ ددې حديث پاك څخه معلومه شوه چې نبى كريم ﷺ كله اوبه استعمال كړى دى

⓶ كله ئې صرف لوټه استعمال كړې ده

⓷ كله ئې دواړه هم استعمال كړى دى. دلته د اوبو وضاحت دې ، باقى ټول جائز دى. البته جمع بين الماء والحجر افضل دى. بيا د اوبو استعمال افضل دې. او آخر كښې صرف لوټه ده. كوم خلق چې صرف په اوبو باندې استنجاء كول ناجائز ګنړى هغوئ په غلطئ دى.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۴۳] بيت الخلاء ته د داخليدو په وخت ګوتمه ويستل

۳۴۳—(۲) [۹] ⓵ عَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ⓶ «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ نَزَعَ

(۱) اخرجه البخاري كتاب الوضوء باب الاستنجاء بالماء (رقم-۱۵۰) ومسلم كتاب الطهارة باب الاستنجاء بالماء من التبرز (رقم-۷۰ - (۲۷۱)

(۲) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة . باب الخاتم يكون فيه ذكر الله تعالى يدخل به الخلاء (رقم ۱۹) والترمذى كتاب اللباس عن رسول الله صلى الله عليه وسلم / باب ما جاء فى لبس الخاتم فى اليمين (رقم- ۱۷۴۶) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها باب ذكر الله عز وجل على الخلاء، والخاتم فى الخلاء (رقم- ۳۰۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

خَاتَمَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالتِّرْمِذِيُّ، [۳] وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. [۴] وَقَالَ أَبُو دَاوُدَ: هَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ وَفِي رِوَايَتِهِ وَضَعَ بَدَلَ نَزَعَ.

ترجمه: [۱] حضرت انس رضي الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ چې به بيت الخلاء ته تشريف ورلو نو خپله ګوتکي به يې وېشكله، ابوداؤد، نسائي، ترمذي، [۳] اوترمذي وايي دا حديث حسن صحيح غريب دي [۴] او ابوداؤد وايي دا حديث منكر دي او د هغه په روايت كښې د لفظ نَزَعَ په ځاي لفظ وَضَعَ دي.

تسهيلات:

قوله: إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ نَزَعَ خَاتَمَهُ:

د نبي عليه السلام د ګوتمې نقش: دَ حضورپاك په ګوتمه كښې [محمد رسول الله] عبارت په داسې انداز سره ليكلې شوې وو چه پورته كرښه كښې لفظ الله وو بيا لفظ رسول وو اودَ تبولونه لاندې لفظ محمد وو. په دې وجه به حضورپاك دا دَ قضاء حاجت په وخت كښې كوزوله. دې نه معلومه شوه چه هرڅيز په كوم چه آيت ليكلې شوى وى يا دَ يو رسول يا فرښتې نوم وى يا قرآن يا دَ الله تعالى دَ نومونونه يو نوم وى دغه بيت الخلاء ته اوړل مكروه دى. اوكه دَ تعويذ په شكل كښې يو څيز پټ وى نودَ هغې حكم جدا دي.

قوله: وَقَالَ أَبُو دَاوُدَ: هَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ:

ابوداؤد دې حديث ته منكر وئيلى دى مګر علماء وائى چه دا حديث دَ دليل دَپاره صحيح دي.

قوله: وَفِي رِوَايَتِهِ وَضَعَ بَدَلَ نَزَعَ.

بعضې روايت كښې [وضع خاتمه] الفاظ راغلى دى په دې كښې څه فرق نشته دي.

[۳۴۳] د قضاء حاجت دپاره په صحرا كښې لرې تلل

۳۴۳ – (۱) [۱۰] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَرَادَ الْبَرَازَ انْطَلَقَ [۳] حَتَّى لَا يَرَاهُ أَحَدٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ چې به د اودس ماتي د پاره (په ځنګل كې) د تلو اراده وكړه [۲] نو دومره لرې به يې تشريف وړ ورلو چې چابه نه ليدلو. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① الْبَرَازَ: أي: لِقَضَاءِ الْحَاجَةِ: قضاء حاجت كولو دپاره فضاء، صحراء ته تللو نه كنايه ده.
② انْطَلَقَ: أَيْ: ذَهَبَ: تلو به.

تسهيلات:

قوله: إِذَا أَرَادَ الْبَرَازَ انْطَلَقَ حَتَّى لَا يَرَاهُ أَحَدٌ:

---

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة /باب التخلى عند قضاء الحاجة (رقم ۲) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب التباعد للبراز فى الفضاء (رقم- ۳۳۵)

د هغې اودس ماتي کنائي الفاظ: دا د قضاء حاجت نه کنايه ده دغې اودس ماتي لفظ چونکه ناخوښه دي لهذا په هره ژبه کښې خلق دا د کنايه په توګه استعمالوی بلکه د قضاء حاجت د وجې نه دغه ځائي نوم هم د کراهت په وجه بدليږی مثلاً اول د دې نوم تهتي وو هغه مکروه شو نو بيت الخلاء شو بيا طهارت خانه شو بيا سنډاس شو بيا باتهروم شو اوس واش روم روان دې.

براز دباء په کسره سره لوستل بعضو غلط ګرځولي دي چه دا د جنګ کولو په معنی کښې دي مګر هغه هم صحيح دي او فتحه زيات بهتر ده. د قضاء حاجت د پاره لرې تلل د حضورپاک د حياء او کريمانه اخلاقو حصه وه او په کور کښې بيت الخلاء نه وه.

[۳۳۵] د متيازو کولو د پاره د نرمې زمکې انتخاب

۳۳۵ـ() [۱۱] ⓵ وَعَنْ أَبِي مُوسَى -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ⓶ «كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ذَاتَ يَوْمٍ فَأَرَادَ أَنْ يَبُولَ، ⓷ فَأَتَى دَمِثًا فِي أَصْلِ جِدَارٍ فَبَالَ. ثم قَالَ: ⓸ (إِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يَبُولَ، فَلْيَرْتَدْ لِبَوْلِهِ») رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ⓵ ابو موسی رضی الله عنه فرمايي ⓶ چه يوه ورځ زه رسول الله ﷺ سره ملګري وم حضور ﷺ د ورو بولو کولو اراده وکړه ⓷ نو د يو ديوال په بيخ کې (يعني هغې ته نزدې) نرمې زمکې ته ورسيدو او متيازې يې وکړې بيا د بولو د فارغيدو څخه وروسته حضور ﷺ وفرمايل ⓸ هر کله چې په تاسو کې څوك د ورو بولو اراده وکړي نو هغه ته پکار دي چې د ورو بولو د پاره نرمه زمکه تلاش کړي (چې څاڅکي ورباندې ونه لګيږي) (ابوداؤد)

حل اللغات: ① ذَاتَ يَوْمٍ: په دې کښې ذات لفظ زايد دې مطلب يوم يعنی ورځ مراد ده، يا دا کنايه ده د خاص وخت نه، أَيْ: كُنْتُ يَوْمًا أَوْسَاعَةَ يَوْمٍ: يعني يوه ورځ يا د ورځې يو خاص وخت. ② دَمِثًا: أَيْ مَكَانًا لَيِّنًا سَهْلًا: نرمې او پستې زمکې ته وائی، ③ أَصْلِ: أَيْ: قَرِيبٌ مِنْهُ: د ديوال ويخ يعنی ديوال سره نزدې، ④ جِدَارٍ: ديوال، ⑤ فَلْيَرْتَدْ: أَيْ فَلْيَطْلُبْ: تلاش کوی دې.

تسهيلات: قوله: فَلْيَرْتَدْ:

د قضاء حاجت د پاره د نرم ځائي لټولو وجه: نرم ځائی لټول په دې وجه ووچه په بدن باندې څاڅکی پرینوځی یا د لورې نه متیازې خپو طرف ته رانه شی. په دې وجه به حضورپاك په همسا سره سخته زمکه راګروله چه نرمه شی بيا به ئې متيازې کولې.

اشكال: د بل چا ديوال سره متيازې کول جائز نه دی دې سره د بنياد جرړه اوبيخ خرابيږی حضور پاك څنګه کولې؟

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة، باب الرجل يتبوأ لبوله (رقم-۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

داشکال جواب: داعام ځائی وو ټولوخلقوبه دلته متیازې کولې یاکیدې شی چه دَ دیوال نه داخائی په فاصله باندې وو یادا جواب دې چه حضوریاك دَ فاصلې نه متیازې کولې.

[۳۳٦] د استنجاء په وخت زمکې ته په نښکته کیدو پرتوګ پورته کول

۳۳٦-() [۱] ①وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ②«كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا أَرَادَ الْحَاجَةَ ③لَمْ يَرْفَعْ ثَوْبَهُ حَتَّى يَدْنُوَ مِنَ الْأَرْضِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① انس رضی الله عنه فرمایي ② چې رسول ﷺ چې به د استنجاء اراده وکړه ③ نو ترڅو پورې چې (د ناستي دپاره) به زمکې ته نزدې نه شو نو جامه به یې نه پورته کوله. (ترمذي، ابوداؤد، دارمي)

حل اللغات: ① الْحَاجَةَ: أَيْ: قَضَاءَ الْحَاجَةِ: د حاجت نه مراد قضاء حاجت دې. ② يَدْنُوَ: أَيْ: يَقْرُبَ: چه نزدې شی (زمکې ته).

[۳۳۷] د قضاء حاجت په باره کښې د نبی علیه السلام تعلیمات

۳۳۷-() [۲] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ②(«إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ مِثْلُ الْوَالِدِ لِوَلَدِهِ، ③أُعَلِّمُكُمْ: إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ، وَلَا تَسْتَدْبِرُوهَا) ④وَأَمَرَ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ، وَنَهَى عَنِ الرَّوْثِ وَالرِّمَّةِ. ⑤وَنَهَى أَنْ يَسْتَطِيبَ الرَّجُلُ بِيَمِينِهِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② (د تعلیم اونصیحت په سلسله کې) زه ستاسو د پاره داسې یم ځنګه چې پلار د خوي د پاره وي ③ نو زه درته ښایم چې کله تاسو اودس ماتي د پاره ځئ نو د قبلي طرف ته مه مخ کوئ او مه شاکوئ ④ (د دي ځخه وروسته) حضور ﷺ (د اودس ماتي ځخه وروسته) په دریو لوټو سره د استنجاء کولو حکم وفرمایلو او ګوبر (یعني په ټول نجاستونو) او هډوکو سره د استنجاء کولو ځخه یې منع وفرمایله ⑤ او حضور ﷺ د دي ځخه هم منع وفرمایله چې هیڅوك دي په ښي لاس سره استنجاء نه کوي. (ابن ماجه، دارمي)

حل اللغات: ① الرَّوْثِ: أَيِ السِّرْجِينِ: سوټې، خاشنړه وغیره (ټول نجاسات مراد دی). ② الرِّمَّةِ: د رمیم جمع ده، أَيِ الْعِظَامُ الْبَالِيَةُ: زړو هډوکو ته وائی خو دلته ترې مراد ټول هډوکی دی. ③ أَنْ يَسْتَطِيبَ: أَيْ يَسْتَنْجِيَ: پاکی حاصلول یعنی استنجاء کول.

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة/باب کیف التکشف عند الحاجة (۱٤) والترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی الاستتار عند الحاجة (۱٤)

(۲) اخرجه ابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب الاستنجاء بالحجارة، والنهی عن الروث والرمة (رقم- ۳۱۳) وابوداود کتاب الطهارة، باب کراهیة استقبال القبلة عند قضاء الحاجة (رقم- ۸) والنسائی کتاب الطهارة/باب النهی عن الاستطابة بالروث (رقم- ٤۰)

تسهیلات:

قوله: إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ مِثْلُ الْوَالِدِ لِوَلَدِهِ

د پلار څخه د تشبیه ورکولو وجه: دا تشبیه ئې په دې وجه اوفرمائیله چې ددین په تپوس کولو کښې څوك ویره محسوس نه کړي او څه حیاء او نه کړي. بیباکه زما نه تپوسونه کوی اوخپل ضرورتونه پورا کوی. د نبی کریم ﷺ د هیبت او عظمت دومره زیات وو چې صحابه کرامو کښې دنبی کریمﷺ څخه د مسئلې دتپوس کولو جرات نه وو. خیرالتوضیح (۱/ ۳۴۴)

[۳۴۸] د اودس او خوراك دپاره د ښی لاس استعمالول

۳۴۸–()[۱۴] ①وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ②«كَانَتْ يَدُ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْيُمْنَى لِطُهُورِهِ وَطَعَامِهِ ③وَكَانَتْ يَدُهُ الْيُسْرَى لِخَلَائِهِ وَمَا كَانَ مِنْ أَذًى». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① بي بي عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي ② چه د رسول ﷺ ښي لاس به د اودس کولو او طعام خوړلو د پاره وو ③ او ګس لاس د استنجا او د هر مکروه کار د استعمال د پاره وو. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① لِخَلَائِهِ: أَيْ: لِأَجْلِ الِاسْتِنْجَاءِ فِي الْخَلَاءِ: ددې نه په بیت الخلاء کښې استنجاء کول مراد دی. ② أَذًى: أَيْ: مَا تَسْتَكْرِهُهُ النَّفْسُ الزَّكِيَّةُ: په طبیعت چه کوم څیزونه بد لګی هغه مراد دی لکه خراشکې، ګرینګ، پلیتی پاکول وغیره.

تسهیلات:

قوله: الْيُمْنَى لِطُهُورِهِ:

ښي لاس د ښه کارونه دپاره: اسلام یوجامع مذهب دې اودا کامل مکمل بلکه اکمل دَ ژوندیوه ضابطه ده. په دې کښې دَ ژوند دَهرې شعبې دَهرقسم مسائلوحل موجوددې. هم په دې سلسله کښې په ډیرواحادیثو کښې خودلی شوی دی چه دَ انسان دَښی اوګس لاس جداجدا فرائض دی. چنانچه حضرت عائشه صدیقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمائی دَ حضورپاك ښې لاس دَ خوراك څښاك اودَهرښه اومبارك کاردَپاره وو او ګس لاس ئې دَاستنجاء او هرهغه کاردَپاره ووچه ښه به نه شوګنړلې.

اسلامی احکام د انسانی فطرت مطابق: شریعت مطهره انسانی طبیعت سره مماثلت کړې دې ځکه چه طبعًا انسان په خوراك او اودس ماتی کښې فرق کول غواړی اوپوانسانی طبیعت دانه غواړی چه اوس ئی کوم لاس په اودس ماتی کښې ککړ کړې وو هم اوس هغه په خله کښې ورکولوسره دَخوراك خوند تباه کړی. په دې وجه ګس لاس ته دَ ناخوښئی دَ وجې نه دَ شیطان لاس وئیلې شوې دې یعنی دَ شیطان په خوښ کړې شووکارونوکښې دا

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة ، باب کراهیة مس الذکر بالیمین فی الاستبراء (رقم- ۳۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

لاس استعمالیږی. اوس متیازې اودس ماتې دَ پوزې صفائی اویوګنده څیز اوچتولوکښې به ګس لاس استعمالولې شی او ښې لاس دَ نورو خوکارونودپاره دې دې دَپاره چه دَهریواندام دَپاره جداجدا تقسیم کار وی. اوس چه دکوموخلقوطبیعت شیطانی شوې دې هغوی ګس لاس خوښوی او په خوراك څښاك او اودس ماتې کښې ئی یوشان استعمالوی. هغوی په ګنده اوښه کارونوکښې دَ ښې اوګس فرق نه کوی. شریعت دَانسانی شرافت دیرخیال ساتلې دې دَ رحمان ټول نظام دَ طهارت دې او رحمان هم دَدې حکم ورکوی اودَ شیطان ټول نظام دَ نجاست دې اوهغه خبیث هم دَدې حکم ورکوی

[۳۳۹] د قضاء حاجت تلو دپاره درې کانړې یالوټې ځان سره وړل

۳۳۹-(۱) [۱۵] ۞ وَعَنْهَا. قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۞ ((إِذَا ذَهَبَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْغَائِطِ فَلْيَذْهَبْ مَعَهُ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ ۞ يَسْتَطِيبُ بِهِنَّ فَإِنَّهَا تُجْزِءُ عَنْهُ)) رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۞ بي بي عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا روایت ده چې حضور ﷺ وفرمایل ۞ هرکله چې په تاسو کې څوك د اودس ماتي د پاره ځي نو هغه ته پکار دي چې د ځان سره درې کاڼي (یا لوټي) واخلي ۞ دابه کافي شي (یعني د اوبوضرورت نه پاتې کیږي) (احمد ابوداؤد نسائي دارمي)

حل اللغات: ① يَسْتَطِيبُ: أَيْ يَسْتَنْجِيْ: پاکی به حاصلوی یعنی استنجاء به کوی.

تسهیلات:

قوله: فَلْيَذْهَبْ مَعَهُ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ

په احجارو کښې د تثلیث په حکم کښې اختلاف: زمونږ په نزد تثلیث د احجار سنت دې. حالانکه د نورو حضراتو په نزد واجب دې.

قوله: فَإِنَّهَا تُجْزِءُ عَنْهُ

د عنه په ضمیر کښې دوه احتمالات:

① دعنه په مرجع که اوبه وی د دې تقدیری عبارت داشان دې ، ای من الماء ، اګر چې ما قبل کښې د اوبو ذکر نشته دې ، لیکن مفهوم د کلام په پوهه کښې راځی. خلاصه دا که اوبه وی نو استنجا به کوؤ ، او که اوبه نه وی نو زمونږ دپاره ثلاثه احجار کافی دی.

② دعنه مرجع که مستنجی وی او عن بمعنی لام وی ،نومطلب به داشی چې د استنجاء کوونکی مقصد چې حصول طهارت دې هغه به پورا شی .

قوله: فلیذهب:

د امر په محمل کښې اختلاف: ① د دې امر د احنافو په نزد استحباب دپاره دې.

---

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة ، باب الاستنجاء بالحجارة (رقم- ٤٠) والدارمی کتاب الطهارة/باب الاستطابة (رقم-٦٩٧)

④ د شوافع په نزد دا امر د وجوب دپاره دې ، يا دا معلول بالعلة دې ، يعنى هغه اجزاء چې استنجاء دپاره کافى شى.

[۳۵۰] په هډوکو او خاشنړو د استنجاء کولو ممانعت

۳۵۰-() [۱۶] ①وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②«لَا تَسْتَنْجُوا بِالرَّوْثِ وَلَا بِالْعِظَامِ، ③فَإِنَّهَا زَادُ إِخْوَانِكُمْ مِنَ الْجِنِّ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ: «زَادُ إِخْوَانِكُمْ مِنَ الْجِنِّ».

ترجمه: ① ابن مسعود رضی الله عنه روايت كوي چې رسول ﷺ وفرمايل ② تاسو خلق په گوبرو (خاشنړو) او هډوكو سره استنجاء مه كوئ ③ خكه چې هډو كې ستاسو د ورونړو جناتو غذا ده، ترمذي نسائي خو نسائي زَادُ إِخْوَانِكُمْ مِنَ الْجِنِّ الفاظ نه دي ذكر كړي.

حل اللغات: ① الرَّوْثِ: أي الْبَعْرِ: روث د اسونو خاشنړو ته وائى (خو تول نجاسات مراد دى). ② الْعِظَامِ: هډوكى، ③ زَادُ: توښه، د خوراک څکاک څيزونه. ④ بعرة د گډوبيزو او اوښانو پچو ته وئيلي كيږى. ⑤ سرقين د غوا ميښې فضلاتو ته وئيلي كيږى.

تسهيلات:

قوله: لَا تَسْتَنْجُوا بِالرَّوْثِ وَلَا بِالْعِظَامِ:

په خاشنړو د استنجاء ممانعت وجه: د آسونو فضلاتو (خاشنړو) سره د استنجاء كولو څخه د ممانعت يوه وجه خو په حديث پاك راغلي ده چې دا ستاسو د رونړو جناتو خوراك دې. په دې كښې دا وضاحت هم راغلي دې چه خاشنړو كښې دننه چې كومې دانې وى هم هغه جنات خورى.

اشكال: خينو احاديثو كښې راغلى دى چې سوېه د جناتو د څناورو خوراك او وابنه دى. نو دلته جناتو طرفته نسبت دادنى ملابست په وجه شوې دې ، دلته دا شبه كيدې شى چې كله دَ جناتو او دَ انسانانو شريعت يو دې نو بيا جناتو دپاره سوېه څنګه جائز شو كوم چه دا حرام څيز دې.

داشكال دوه جوابونه: ① دا په خينو رواياتو كښې راغلى دى چې كله دوئ سوېه پورته كړى نو دا ددوئ دپاره په كهجوره كښې بدل شى.

② هم په يو شريعت كښې د مختلفو اصنافو خلقو په حق كښې حكم بدليږى. لكه څنګه چې دسرودپاره د ريښمو كپړې حرامې دى. اودَ ښځو دپاره جائزدى. نو داشان جناتو دپاره سوېه جائز ده اودَ انسانانو دپاره حرامه ده. (قاله شيخ الهند محمود الحسن رحمه الله)

---

(۱) اخرجه الترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب كراهية ما يستنجى به (رقم -۱۸) والنسائى كتاب الطهارة/باب النهى عن الاستطابة بالعظم(رقم-۳۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: فَإِنَّهَا:

د ضمیر په مرجع باندې اشکال: ددې ضمیر په مرجع کښې کلام دې چې دا ضمیر مفرد ولې دې حالانکه سابق دوه څیزونه دي؟

داشکال درې جوابونه: ① ضمیر عظام طرفته راجع دې او عظام اګر چې جمع دې لیکن د طعام په معنی کښې دې. نو ضمیر راجع کول صحیح دی.

② دَ هر یو په اعتبار سره ضمیر راجع کړې شوې دې. یعنی د هر یو مذکور حکم دادې.

③ مرقات کښې چې ملا علی قاری رحمه الله کومه نسخه نقل کړې ده په هغې کښې د انها ضمیر مؤنث دې. [الکاشف]

قوله: وَلَا بِالْعِظَامِ:

په هډو کښې د استنجاء کولو د ممانعت وجوهات: هډوکی سره د استنجاء کولو نه دَ ممانعت وجوهات او شرح ددې باب په دویم حدیث کښې تیر شوی دی.

هډوکی د جناتو خوراک کیدو کښې احتمالات: ① د خینو روایاتو څخه معلومیږی چې جناتو دپاره په دې هډوکو باندې نوې غوښه پیدا کیږی. او هغه دوی خوری

② په خینو روایاتو کښې صرف دبوئی کولوذکر دې.

د کوئیلې خوراک کیدو مطلب: خینو روایاتو کښې د کوئلې هم ممانعت راغلې دې. لکه څنګه چې دمشکاة حدیث نمبر(۳۷۵)کښې دی. په هغې کښې کوئلې ته د جناتو رزق وئیلې شوې دې. نو ددې مطلب داشو چې ددې نه فائده پورته کوی. لکه دا په اخلی پخلی کښې ، اور بلولو کښې او رڼړا کولو کښې استعمالوی. نو رزقًا بمعنی انتفاعًا دې، جناتو هم څه عجیبه مخلوق دې.

په مایستنجی به کښې قاعده: هرهغه څیز چې جامد وی پاک وی نجاست لرې کولې شی ضرر نه رسوی او محترم نه وی اود بل چا حق ورپورې متعلق نه وی. استنجاء پې جائز ده. (کذا فی شرح نقایه لملا علي قاری رحمه الله جلد: ۱ ص: ۴۹)

[۳۵۱] په هډوکی استنجاء کولو سره د نبی علیه السلام دامتی نه بیزاره کیدل

۳۵۱-()[۱۷] ① وَعَنْ رُوَيْفِعِ بْنِ ثَابِتٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «يَا رُوَيْفِعُ! لَعَلَّ الْحَيَاةَ سَتَطُولُ بِكَ بَعْدِي، ③ فَأَخْبِرِ النَّاسَ أَنَّ مَنْ عَقَدَ لِحْيَتَهُ، ④ أَوْ تَقَلَّدَ وَتَرًا، ⑤ أَوِ اسْتَنْجَى بِرَجِيعِ دَابَّةٍ، أَوْ عَظْمٍ، ⑥ فَإِنَّ مُحَمَّدًا مِنْهُ بَرِيءٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت رویفع ابن ثابت رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② اي

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة ، باب ما ینهی عنه أن یستنجی به (رقم- ۳۶) والنسائی کتاب الزینة/باب عقد اللحیة (رقم-۵۰۶۷)

رويفع شايد زما څخه وروسته ستا ژوند دراز (اوږد) وي[۲] نو ته خلق خبردار کړه چې چا په خپله ږيره کې غوټه ولګوله[۳] يا په غاړه کې يې تار واچولو[۵] يا د حيوان نجاست (خاشنړه او پچو وغيره) او هډوکي سره يې استنجاء وکړه[۶] نو محمد ﷺ د هغه څخه بيزاره دي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① سَتَطُوْلُ: أي سَتَمْتَدُّ: اوږد به شي، دراز به شي. ② عَقَدَ لِحْيَتَهُ: ږيره کښې غوټې اچول ③ تَقَلَّدَ: غاړه کښې څه څيز رازوړندولو ته وائی. ④ وَتَرًا: أي: خَيْطًا: تار په کوم کښې چه تعويذ يا ګنګرو وغيره وی. ⑤ رَجِيع: وَالْمُرَادُ الرَّوْثُ: دې نه مراد سوتې او خاشنړه وغيره دی "رجيع" دَ فعيل په وزن باندې دَ اسم مفعول "مرجوع" په معنی کښې دې، او رجيع په معنی د واپس کيدو سره دی، ځکه چه دا هم پاکی ګندګی طرف ته واپس راولی. ⑥ بَرِيءٌ: ويزاره، بې تعلقه.

تسهيلات:

قوله: مَنْ عَقَدَ لِحْيَتَهُ:

د عقد لحيه په مفهوم کښې دوه اقوال: ① په جاهليت کښې دکافرانوعادت ووچه کوم سړی به واده کولو هغه به په ږيره کښې يوه غوټه لګوله. په دويم واده باندې به ئې دويمه غوټه لګوله دَدې نه منع کړې شو چه دادَ جاهليت يوبيهوده رسم دې اوهغوی سره مشابهت دې.
② په جاهليت کښې به خلقو ږيره راغونډه کړه دَ زنې لاندې به ئې تاؤکړې ساتله دَدې نه منع کړې شوځکه چه په ږيره کښې سنت طريقه دَدې کولاؤ پريخودل دی. نن صباد مسلمانانو اوسيکانو په ږيرو کښې هم دغه فرق دې او په دې تناظرکښې دَدې حکم يو عالمي حيثيت جوړيږی او دَ مسلمانانو تعارف په مسنون ږيرې سره کيږی.

قوله: أَوْتَقَلَّدَ وَتَرًا:

د وتر په مفهوم کښې دوه اقوال: ① دَدې يومطلب دادې چه په جاهليت کښې به خلقودَ بدنظر اومصيبت نه خان بچ کولودَپاره په غاړه کښې تارونه اومزی اچول اوتعويزونه او غوټې به ئې جوړولې دَاسونواو ماشومانو په غاړو کښې به ئې زوړندولې دَدې نه منع کړې شو ځکه چه په دې کښې
دَعقيدې دَ ضعف اوشرك قوی امکان وو اواهل شرك سره مشابهت هم وو.
② دَ وتر نه دَ ليندو هغه مزی مراد دی کوم چه به دَتسمونه جوړ وو اوهغه به ئې دَ اسونو په غاړوکښې دَ آفاتو لرې کولودَپاره اچول په دې کښې خالص شرك وو نو ځکه منع کړې شو.

قوله: فَإِنَّ مُحَمَّدًا مِنْهُ بَرِيءٌ:

د برائت مفهوم: يعنی دَهغه سړی نبی اکرم ﷺ او شريعت سره هيڅ واسطه نشته بلکه دَهغوی نه ويزاردی که چرې هغوی داجائزاوحلال ګنړی نوکافرشوګنی صرف په دې يوعمل

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې د رسول الله ﷺ نه ويزاره دی د پوره اسلام ويزاري مراد نه ده.

[۲۵۲] په بعضې کارونو کښې د کولو او نه کولو اختيار

۳۵۲-()[۱۸] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ② «مَنِ اكْتَحَلَ فَلْيُوتِرْ مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ، وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ، ③ وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ، مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ، وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ، ④ وَمَنْ أَكَلَ فَمَا تَخَلَّلَ، فَلْيَلْفِظْ، ⑤ وَمَا لَاكَ بِلِسَانِهِ فَلْيَبْتَلِعْ، مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ، وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ،

ترجمه: ① او ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② کوم سړي چې رانجه لګوي نو هغه ته پکار دي چې طاق سلاياني ولګوي چا چې داسې وکړل (يعنې طاق سلاياني يې ولګولې) ښه يې وکړل او چا چې داسې ونه کړل نو څه ګناه نشته ③ او کوم سړي چې استنجاء وکړي نو هغه ته پکار دي چې طاق لوټې استعمال کړي (يعنې درې يا پنځه يا اووه) چا چې داسې وکړل ښه يې وکړل او چا چه داسې ونه کړل نو هم څه حرج نشته، ④ او کوم سړي چې څه وخوري او کوم شي په غاښ صفا کولو (تومبلو) کې راووځي نو پکار دي چې هغه وغورځوي ⑤ او کوم شي چې په ژبې سره راوکاږي نو پکار دي چې هغه تير کړي چا چې داسې وکړل ښه يې وکړل او چا چې داسې ونه کړل نو څه ګناه نشته

① وَمَنْ أَتَى الْغَائِطَ فَلْيَسْتَتِرْ، ② فَإِنْ لَمْ يَجِدْ إِلَّا أَنْ يَجْمَعَ كَثِيبًا مِنْ رَمْلٍ فَلْيَسْتَدْبِرْهُ، ③ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَلْعَبُ بِمَقَاعِدِ بَنِي آدَمَ، ④ مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ، وَمَنْ لَا فَلَا حَرَجَ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او کوم سړي چې د اودس ماتي د پاره لاړ شی نو هغه ته پکار دي چې پرده وکړي ② که څه شي د پردي پيدا نه کې نو کم نه کم شګه (ريګ) جمع کولو سره د هغه ډيرې دي خپل وروسته کړي ③ ځکه چې شيطان د بني آدم د اودس ماتي اندامونو سره لوبې کوي ④ چا چې داسې وکړل نو ښه يې وکړل او چا چې داسې ونه کړل نو څه ګناه نشته. (ابوداؤد ابن ماجه دارمي)

حل اللغات: ① اكْتَحَلَ: رانجه ني اولګول ② فَلْيُوتِرْ: أَيْ ثَلَاثًا: طاق لګول، دلته د طاق لګولو نه مراد درې خله لګول دی. ③ فَلَا حَرَجَ: أَيْ لَا إِثْمَ: هيڅ باک او ګناه نشته. ④ اسْتَجْمَرَ: أَيْ: اسْتَنْجَى بِحَجَرٍ: چه استنجاء اوکړی په کانړی، لوټې سره، ⑤ فَقَدْ أَحْسَنَ: أَيْ: فَعَلَ فِعْلًا حَسَنًا: ښه کارئي اوکړو (ثواب به ورته ملاؤ شي)، ⑥ تَخَلَّلَ: په ګوته يا ډکی وغيره سره د غاښ نه دخوراک څه څيز راوښکل مراد دی. ⑦ فَلْيَلْفِظْ: أَيْ: فَلْيَرْمِ وَلْيَطْرَحْ: اودې غورځوی ⑧ لَاكَ: أَيْ: مَا أَخْرَجَهُ بِلِسَانِهِ: کوم څه خوراک چه په ژبه راؤباسی، ⑨ فَلْيَبْتَلِعْ: نو تيردې کړی يعنی اودې خوری ⑩ فَلْيَسْتَتِرْ: نو پرده دې اوکړی يعنی ځان دې پټ کړی. ⑪ كَثِيبًا: أَيْ: كُوْمَةً: ټوپ، ډهيرې، د شګو ډيرې او غونډئی مراد ده دې د پاره چه پرده

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة . باب الاستتار في الخلاء (رقم- ۳۵) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب الارتياد للغائط والبول (رقم- ۳۳۷)والدارمي كتاب الطهارة/باب في التستر عند الحاجة (رقم-۶۸۹)

اوشی. ⑫ رَمْلٌ: شګه، ⑬ يَلْعَبُ: لوبې کوی، ⑭ مَقَاعِدَ: د مقعد جمع ده، د کیناستو ځای ته وائی، دلته ترې دُبر یعنی شاته شرمګاه مراد دې.

تسهیلات:

قوله: مَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ:

د استنجمار درې معانی: ① استجمار د رمی جمرات دَپاره هم راځی

② په انګیټهٔ کښې دَعود اچولو او دَخوشبوکولو په معنی کښې هم راځی.

③ استجمار دَ استنجاء بالحجر په معنی کښې دې دلته ترې هم دا معنی مراد ده.

قوله: "لَاكَ"

په خُله کښې د پاتی پوټی دوه صورتونه:

① دغاښونو نه راویستلې شوې څیز دې نه خوری ځکه چه داپوټې دَغاښونو په بدبوئی کښې ککړ کیدوسره په زور بهر راویستلې شوې دې. خو خوراک ئې نه دې پکار.

② چې کوم پوټې په ژبه خوزولوسره راوباسی هغه دې خوری ځکه چې هغه پاک وی. اود پاک څیز په خوراک کښې څه قباحت نشته.

قوله: يَلْعَبُ:

د یلعب څخه مراد: یعنی شیطان دَ اودس ماتی کونکی په زړه کښې وسوسه اچوی چه ګوره شاته هغه راغلو دې راغلو او دَ نورو په زړه کښې وسوسه اچوی چه ګوره داځنګه برېنډ ناست دې.

[۳۵۳] په غسل خانه کښې د متیازوکولو ممانعت

۳۵۳-() [۱۹] ① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② «لَا يَبُوْلَنَّ أَحَدُكُمْ فِيْ مُسْتَحَمِّهِ، ③ ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيْهِ، أَوْ يَتَوَضَّأُ فِيْهِ، ④ فَإِنَّ عَامَّةَ الْوَسْوَاسِ مِنْهُ» رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ، ⑤ إِلَّا أَنَّهُمَا لَمْ يَذْكُرَا «ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيْهِ أَوْ يَتَوَضَّأُ فِيْهِ».

ترجمه: ① عبد الله بن مغفل رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هيڅوك دي په خپله غسل خانه کې متيازي نه کوي ③ چې په هغه کې بيا لمبيږي يا اودس کوي (يعني دا د عقل څخه خلاف ده چې د لمبيدو په ځاي کې متيازي وکړي او بيا هلته لمبږي يا اودس کوي) ④ ځکه چې په دي سره اکثره وسوسي پيدا کيږي. (ابوداؤد ترمذي نسائي) ⑤ ترمذي او نسائي ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيْهِ او يَتَوَضَّاءُ فِيْهِ الفاظ نه دي ذکر کړي.

حل اللغات: ① مُسْتَحَمِّهِ: اَلَّذِيْ يُغْتَسَلُ فِيْهِ: مُستحم دا د حَمِيم نه دي، ګرمو اوبو ته وائی، خو مراد ترې

---

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة ، باب في البول في المستحم (رقم- ۲۷) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب كراهية البول في المغتسل (رقم -۳۰٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

غسل خانه ده. ② عَامَّةَ الْوَسْوَاسِ: أَيْ: أَكْثَرُ وَسْوَاسِ الطَّهَارَةِ: یعنی په اودس او غسل وغیره کښې اکثر وسوسې (په دې وجه پیدا کیږي).

د راوي مختصر تعارف:

نوم عبدالله ابوسعید کنیت.په ۶هجری کښې مسلمان شوې اوپه کومه غزوه کښې چه ئې شرکت کړې وو هغه غزوه حدیبیه ده.(۳) په بیعت رضوان کښې هم شریك وو.(۴) خیبر، فتح مکه غزوه تبوك په دې ټولو غزواتوکښې شرکت کړې وو او بهادری ئې خودلې وه.

دَ رسول الله ﷺ په ژوندکښې خو په مدینه منوره کښې اوسیدو خوچه کله بصره آباده شوه نو دَ تعلیم او تربیت دَ پاره حضرت عمر رضي الله عنه بصرې ته اولیګلو اوترآخری عمر پورې هم هلته پاتې وو.(۵) دَ بدعاتو نه به ئې ترحده پورې کرکه کوله.دَ هغه خوئ په یوه موقع داسې اوونیل چه ما دَخپل پلارنه زیات بدعات بد ګڼړونکې بل څوك نه دې لیدلې.(۶)

وفات: په ۵۹ یا ۶۰ هجری کښې هم په بصره کښې په مرض الموت کښې اخته شو نو په آخری وخت کښې ئې یو څو وصیتونه اوفرمائیل:

① دَ غسل په اوبوکښې کافور ملاوول.

② کفن دَ دوو څادرو او یوقمیص نه زیات نه وي.

③ په غسل ورکولوکښې صرف صحابه کرام رضي الله عنهم دې وي.

④ جنازې پسې شاته اُور مه بلوئ.

⑤ ابن زیات دَ بصرې ګورنر دې په جنازه کښې شرکت نه کوي.

⑥ دَهغوی دا وصیت هم وو چه جنازه دې ابوبرزه اسلمی رضي الله عنه اوکړي نودَ وفات نه پس په دې ټولو وصیتونو باندې عمل اوکړې شو اوهم په بصره کښې خښ کړې شو(۷)

مرویات: دَ هغوی نه ۴۳ احادیث دَ احادیثو په کتابونوکښې ملاویږي.په څلوروکښې بخاري اومسلم دواړه متفق دي.په یوکښې امام بخاري او یوکښې امام مسلم منفرد دی.(۸)

تسهیلات:

قوله: فَإِنَّ عَامَّةَ الْوَسْوَاسِ مِنْهُ:

د عامة لفظ نحوی تحقیق: عامة د یو څیز لوې حصې یا پورا څیز ته وائی. عامة دا لفظ د حال په طور استعمالوی. او اضافت سره ددې استعمال نه منی. لیکن صاحب د شریعت افصح العرب ﷺ دا استعمال کړې دې . نو بیا عامة لره دخبرو کولو ګنجائش نشته دې.علامه تفتازانی رحمه الله دَ شرح مقاصد په خطبه کښې لیکلی دی چه حضرت عمر فاروق هم دا اضافت سره استعمال کړی دی.

قوله: الْوَسْوَاسِ مِنْهُ:

د وسواس په مصداق کښې څلور اقوال، ① قلبی وسوسه او حدیث النفس ته وئیلې کیږی.
② د یوقسم جنون دې کوم ته چې مالیخولیا وئیلې کیږی.
③ د دې څخه مراد نسیان او هیره ده
④ حضرت شاه انور شاه کاشمیری رحمه الله ددې ترجمه دجناتو چیرچاړ سره کړې ده.

په مستحم کښې اودس کولو په حکم کښې مذاهب:

① د ابن سیرین په نیز غسل خانه کښې مطلقًا متیازې کول جائز دی.
② او د څینې علماء کرامو په نیز مطلقًا مکروه دی.
③ دجمهورو په نیز په دې کښې تفصیل دې. که په غسل خانه کښې منفذ وی چې اوبه زر اوځی او زمکه پخه وی نو په دې کښې متیازې کول جائز دی. او که زمکه نرمه ا و کچه ده او متیازې وتلو دپاره لاره منفذ نشته نو په دې کښې متیازې کول مکروه تحریمی دی. څکه چې په بدن څاڅکی پریوزی.

محاکمه: محاکمه او فیصله کن خبره داده چې په کوم صورت کښې د څاڅکو پریوتلو اندیښنه وی نو هلته متیازې کول مکروه تحریمی او کوم ځائې کښې چې اندیښنه نه وی نو هلته مکروه تنزیهی دی. څکه چې حدیث پاك کښې د څه تفصیل نه بغیر ممانعت راغلې دې. نو څه نه څه کراهت څخه خارج نه دی. څکه چې دا موجب د نسیان دې. او دې ته تاثیر بالخاصه وئیلې کیږی چې ددې عمل اثر دادې ، اوس چې کله سبب ظاهر وی لکه چې د اوور اثر سیزل دی ، نو دې سبب طرفته نسبت کول جائز دی. او که سبب خفی وی نو دې طرفته نسبت کول جائز نه دی ، بلکه د شرك خطره ده.

په غسل خانه کښې متیازو کولو ته د شرک وئیلو توجیه: ((ربنا الله لا شریك له))دا جمله په مشکوة شریف کښې نشته دې. بلکه ترمذی شریف کښې ده. او دا ابن سیرین رحمه الله ددې روایت آؤریدونه پس ارشاد فرمائیلې ده ، مطلب دادې چې په غسل خانه کښې متیازې کول د وسوسې حقیقې سبب گرزول شرك دې. او زمونږ رب سره هیڅوك شریك نشته دې. اوس په دې کلام کښې صورةً دَ حدیث څخه معارضه ده. مگر په حقیقت کښې معارضه نه ده. څکه چې دا هډو جائز نه ده. بلکه صحابه کرامو او تابعینو صورةً معارضه هم نه ده برداشت کړې. اوداسې کس سره ئې بائیکاټ کړې دې.

دامام ابن سیرین د قول په توجیه کښې دوه اقوال:

① امام ابن سیرین رحمه الله ته شاید حدیث نه وو رسیدلې. په دې وجه ئې داسې اوفرمائیل،
② د دوئ د قول مطلب دادې چې که (بول فی المغتسل) لره مؤثره حقیقی اوګنړلې شی نو دا

Maktaba Tul Ishaat.com

شرك دي. او الله تعالى د شرك څخه پاك دي.

قوله: ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيهِ

كلمه د ثم دپاره د استبعاد: دې حديث پاك كښې دا ثم استبعاديه ده چې عجيبه خبره ده اول په دې كښې متيازې كوي. او بيا په دې كښې اودس هم كوي او غسل هم په كښې كوي. لكه څنګه چې آيت ﴿ ثُمَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ ﴾ كښې ثم د استبعاد او تعجب په مقام كښې استعمال شوې ده.

[٣٥٣] په سورو كښې د متيازو كولو ممانعت

٣٥٣—()[٢٠] ① وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَرْجِسَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ② «لَا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي جُحْرٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① عبد الله بن سرجس رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② په تاسو كې دي هيڅوك په يو سروي كې متيازې نه كوي. (ابوداؤد، نسائي)

حل اللغات: ① جُحْر: الْخَرْقُ فِي الْجِدَارِ وَالْأَرْضِ: په ديوال يا زمكه كښې چه كومه سوره وى هغې ته وائي.

د راوي مختصر تعارف:

نوم عبدالله دپلار نوم سرجس دي. قبيله مزنى سره ئى تعلق وو. هغه ته مخزومى هم وائى دبصرې اوسيدونكې وو. زيات تردهغوى احاديث هم په بصره كښې موندلې شي.

مرويات: دهغه نه ١٧ روايتونه نقل دى. د دې نه درې په مسلم شريف كښې دى. د نورو معلوماتو دپاره اوګورئى

① تلقيح لابن جوزى ② تقريب لابن حجر ③ ابن حزم فى سيرته وغيره

تسهيلات:

قوله: فِي جُحْرٍ: په سوره كښې دمتيازوكولو ممانعت څكه دې چه هلته ډيرخطرات دى مثلاً مار لړم وغيره د سورې نه راوځى تك هم وركولې شى بل په دې سورو كښې اكثرد پيريانو كورونه وى بياهغه په تكليف وركولوباندې راځى لكه چه حضرت سعدبن عباده رضي الله عنه نه هم دغه شان واقعه كښې پيريانو په غشى ويشتلې او شهيدكړې ئى وو او بيا په غائبانه توګه اووئيلې شو.

نحن قتلنا سيد الخزرج سعد بن عبادة رميناه بسهم فلم نخطئ فؤاده

يعنى مونږ د قبيله خزرج سردار سعدبن عباده قتل كړو مونږ هغه په داسې غشى اوويشتلوچه نيغ دهغه په زړه كښې ورخښ شو.

---

(1) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة ، باب النهى عن البول فى الجحر(رقم - ٢٩) والنسائى كتاب الطهارة/باب كراهية البول فى الجحر(رقم-٣٤)

[۳۵۵] د درې لعنتي ځیزونو څخه د ځان ساتلو حکم

۳۵۵ـ() [۲۱] [۱] وَعَنْ مُعَاذٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] ((اتَّقُوا الْمَلَاعِنَ الثَّلَاثَةَ [۳] الْبَرَازَ فِي الْمَوَارِدِ، [۴] وَقَارِعَةِ الطَّرِيقِ، وَالظِّلِّ)) "رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] حضرت معاذ رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] تاسو د درېو ځیزونو څخه ځان وساتئ چې د لعنت سبب دي: [۳] ① په ګودرونو باندې استنجاء (یعني متیازې یا غټ اودس ماتي کولو څخه) [۴] ② د لارې په مینځ کې ③ او په سایه (سورې) کې د متیازو او اودس ماتي کولو څخه. (ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات: ① الْمَلَاعِنَ: أَيْ: مَجَالِبَ اللَّعْنِ: کوم ځیزونه چه د لعنت سبب جوړیږی یعنی خلق به پرې لعنت وائی. ② الْبَرَازَ: أَيْ: التَّغَوُّطَ وَالْبَوْلَ: وړوکې یا غټ اودس ماتې کول. ③ الْمَوَارِدِ: د اوبو کوم ځای ته چه خلق ځی راځی یعنی ګودر یا چینه، ④ قَارِعَةِ الطَّرِيقِ: أَيْ: وَسَطِهِ: د لارې مینځ.

[۳۵۶] د قضاء حاجت په درمیان کښې د دوه کسانو په خبرو کولو د الله تعالی غصه کیدل

۳۵۶ـ() [۲۲] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] ((لَا يَخْرُجِ الرَّجُلَانِ يَضْرِبَانِ الْغَائِطَ [۳] كَاشِفَيْنِ عَنْ عَوْرَتِهِمَا يَتَحَدَّثَانِ، [۴] فَإِنَّ اللّٰهَ يَمْقُتُ عَلَى ذٰلِكَ)) رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُودَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] ابوسعید خدري رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] یو ځای دي دوه سړي د اودس ماتي د پاره داسې نه کیني [۳] چې دواړو خپل شرمګاوي خلاصي کړي وي او په خپل مینځ کې خبري کوي [۴] ځکه چې په دې سره الله جل جلاله غضب ناکه کیږي. (احمد ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات: ① لَا يَخْرُجِ: نه دې اوځی یعنی په صحرا کښې دې اودس ماتی د پاره نه کینی، ② يَضْرِبَانِ: ضرب في الارض أي ذهب: د تللو په معنی کښې دې، هر کله چې دې سره الغائط راغلو نو دا د يفعلان په معنی شو. أَيْ: يَفْعَلَانِ: یعنی اودس ماتی ته یو ځای کیناستل مراد دی. ③ الْغَائِطَ: ډک اودس ماتې کول. ④ كَاشِفَيْنِ: چه ښکاره کړې وی، بربنډ وی، ⑤ عَوْرَتِهِمَا: پټ د پردې ځایونه یعنی شرمګاهونه، ⑥ يَتَحَدَّثَانِ: خپل مینځ کښې ئې خبرې کولې ⑦ يَمْقُتُ: أَيْ: يَغْضَبُ: غصه کیږی.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة، باب المواضع التى نهى النبى صلى الله عليه وسلم عن البول فيها (رقم- ۲۶) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب النهي عن الخلاء على قارعة الطريق (رقم- ۳۲۸)
(۲) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة، باب كراهية الكلام عند الحاجة (رقم- ۱۵) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب النهى عن الاجتماع على الخلاء والحديث عنده (رقم- ۳۴۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: يَضْرِبَانِ الْغَائِطَ: خيني علماء كرامو يضربان د تللو په معنى كنبې اخلى. ليكن الغائط ئې للغائط منصوب بنزع الخافض منلې دې.نو معنى دا شوه چې دواړه يو ځائې اودس ماتې دپاره لاړل او شرمگاهونه ئې ښكاريدل او كيناستل.

قوله: يَتَحَدَّثَانِ: دا دالله تعالى د غضب موجب دى. په دې په څه زمانه كنبې سړى هم اخته وو. ليكن نن سبا خو په كلو كنبې ښځې هم يو ځائې كينى او خبرې كوى. او يو بل نه شرم نه كوى. دا ډيره د بې حيايئ خبره ده. او دالله تعالى غضب ته دعوت وركوى.

[۳۵۷] بيت الخلاء ته د داخليدو دعا

۳۵۷-()[۲۳] ①وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ②(«إِنَّ هَذِهِ الْحُشُوشَ مُحْتَضَرَةٌ، ③فَإِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ، فَلْيَقُلْ: ④أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت زيد بن ارقم رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② بيت الخلاوي د شيطانانو او د جناتو د حاضريدو ځايونه دي ③ په تاسو كې چې څوك كله بيت الخلاء ته ځي نو هغه ته پكار دي چې دا دعا كوي: ④ أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ، يعنى زه د خبيث نر او ماده جناتو څخه د الله جل جلاله پناه غواړم. (ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات: ① الْحُشُوشَ: د حَشّ جمع ده، وَهُوَ الْكَنِيفُ: اصل كنبې حَش د كجورو اونو يعنى باغ ته وائى چه خلقوبه پكنبې اودس ماتې كولو، بيا بيت الخلاء دپاره استعمال كړې شو. ② مُحْتَضَرَةٌ: أَيْ: بِحَضْرَةِ الْجِنِّ وَالشَّيَاطِينِ: يعنى گنده ځايونه دى، جنات او شياطين ورته راځى او انسانانو ته ضرر او تكليف رسوى، ③ الْخُبُثِ: د خبيث جمع ده، وَهُوَ الْمُؤْذِي مِنَ الْجِنِّ وَالشَّيَاطِينِ: ضررى جنات او شيطانانو ته وائى كوم چه مذكر وى. ④ الْخَبَائِثِ: دخبيثة جمع ده، ضررى جنات او شيطانانو ته وائى كوم چه مؤنث وى.

د راوي مختصر تعارف:

زيدنوم ابوعمر كنيت قبيله خزرج سره ئى تعلق وو. پلار ئى په وړوكوالى كنبې وفات شوې وو نودَهغه خپلوان تره حضرت عبدالله بن رواحه رضي الله عنه دَهغه پالنه اوكړه اوهم دا دَ حضرت زيد رضي الله عنه په اسلام كنبې دديخليدو ذريعه جوړه شوه. دَماشوموالى په وجه ئى په غزواتو كنبې شركت اونه كړې شو دَ ټولونه اول غزوه خندق وه چه په كنبې شركت اوكړو دې پخپله وائى چه ما په ۱۷ عزواتوكنبې شركت كړې دې. دَ رسول الله ﷺ په دربار

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة ، باب ما يقول الرجل إذا دخل الخلاء (رقم- ۶) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها باب الفطرة (رقم-۲۹۴)

کښې مقرب وو. کله چه به هغه بیمارشو نو حضور ﷺ به د هغه تپوس له تشریف اوړلو. یو ځل نی په سترګه دردوو رسول الله ﷺ د تپوس دپاره تشریف یوړو د صحت پوښتنې کولو نه پس نی تپوس اوکړو که دا بیماری دې باقی پاتې کیده نو څه به دې کول؟ عرض نی اوکړوصبر به مې کولواوډ اجر امیدوار به ووم. ونی فرمائیل که داسې دې کړې وې نو د الله تعالی په وړاندې به بې ګناه شوې وې. (مسند احمد)

وفات: ۶۸ھ کښې کوفه کښې وفات شو دا د مختار بن ابی عبید ثقفی دور وو.

مرویات: د هغه نه د روایاتو شمیر ۹۰ دې. د نورو معلوماتو دپاره اوګورئ ①طبقات ابن سعد ۱۰/۶ ②مسند احمد ۳۶۷/۴ ③اصابه ④اسد الغابة وغیره.

[۳۵۸]بیت الله ته داخلیدو نه وړاندې بسم الله وئیل

۳۵۸—(') [۲۴] [۱]وَعَنْ عَلِيٍّ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-[۲]((سَتْرُ مَا بَيْنَ أَعْيُنِ الْجِنِّ وَعَوْرَاتِ بَنِي آدَمَ إِذَا دَخَلَ أَحَدُهُمُ الْخَلَاءَ[۳] أَنْ يَقُولَ بِسْمِ اللّٰهِ)) . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَإِسْنَادُهُ لَيْسَ بِقَوِيٍّ.

ترجمه: [۱] او حضرت علي کرم الله وجهه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل[۲] هرکله چې یوسړي په پاخانه کې داخلیږي نو د جن (شیطان) د سترګو او د انسان د عورت په مینځ کې پرده دا ده [۳] چې بِسْمِ الله اووائي، دا حدیث ترمذي روایت کړي او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دي او د دې سند قوي نه دي.

حل اللغات: ①سَتْرٌ: وَهُوَ الْحِجَابُ: پرده، ②عَوْرَاتٍ: د عورة جمع ده، هغه ځایونه چه دهغې په ښکاره کولو انسان ته شرم ورځي یعنې شرمګاهونه.

[۳۵۹]بیت الخلاء څخه دوتلو نه پس غفرانک وئیل

۳۵۹—(') [۲۵] [۱]وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲]((كَانَ النَّبِيُّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-إِذَا خَرَجَ مِنَ الْخَلَاءِ قَالَ: غُفْرَانَكَ)) رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمایي[۲] چې رسول ﷺ چې به د اودس ماتي ځای څخه را وتلو نو فرمایل به یې غُفْرَانَكَ یعنی اې الله جل جلاله زه ستا د بخښش غوښتونکي یم. (ترمذي، ابن ماجه، دارمي)

حل اللغات: ①غُفْرَانَكَ: دا مفعول به دي د فعل مقدر دپاره یعنې: أي أَسْأَلُكَ غُفْرَانَكَ: زه ستانه معافی غوارم اې الله.

(۱) اخرجه الترمذی کتاب السفر/باب ما ذکر من التسمیة عند دخول الخلاء (رقم- ۶۰۶) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها باب ما یقول الرجل إذا دخل الخلاء (رقم- ۲۹۸)

(۲) اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما یقول إذا خرج من الخلاء (رقم-۷) وابوداود کتاب الطهارة . باب ما یقول الرجل إذا خرج من الخلاء (رقم- ۳۰) والدرامی کتاب الطهارة/باب ما یقول إذا خرج من الخلاء(رقم-۷۰۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: غُفْرَانَكَ: صاحب د كافيه وائى چې په داسي مقاماتو كښې د فعل حذف كول واجبيږى

سوال: ددې عمل نه پس داستغفار ضرورت ولې راپيښ شو. آيا دې بيت الخلاء ته لاړو او هلته ئې څه گناه اوكړه؟

دوه جوابونه: ① دخوراك كولو نه پس هضميدو اودس ماتى په ښه طريقه كيدلو سره انسان ته ډير راحت ملاويږى، نو په دې ډير شكر پكار دى. په دې لوئې شكر كښې د كوتاهى په وجه استغفار كوى چې كه د كوتاهى څه اثر پاتې شوى وى چې هغه ختم شى. يا بيت الخلاء كښې قلبى ذكر جارى وو ، په هغې كښې كه غيراختيارى طور سره څه بې ادبى شوې وى نو په هغې استغفار كوى.

② تر كومې پورې انسان په بيت الخلاء كښې وى نوهغه د شيطان په گوانډ كښې وى او دننه د ذكر كولو نه محرومه وى. نو پدې كوتاهى باندې استغفار كوى.

[۳۶۰] د قضاء حاجت نه پس اوبو سره استنجاء كول

۳۶۰-(۱)[۲۶] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا أَتَى الْخَلَاءَ أَتَيْتُهُ بِمَاءٍ فِي تَوْرٍ أَوْ رَكْوَةٍ، ③ فَاسْتَنْجَى، ثُمَّ مَسَحَ يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ، ④ ثُمَّ أَتَيْتُهُ بِإِنَاءٍ آخَرَ، فَتَوَضَّأَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَرَوَى الدَّارِمِيُّ وَالنَّسَائِيُّ مَعْنَاهُ.

ترجمه: ① ابوهريره رضی الله عنه فرمايي ② چې رسول ﷺ چې به اودس ماتي ته تلو نو ما به ورته په لوښي يا د څرمني په وركوټي لوښى كي اوبه راوړلي ③ حضور ﷺ به په هغې سره استنجاء كوله بيا به يې لاس په زمكه مږلو ④ بيا د دې څخه وروسته به ما (د اوبو) بل لوښي راوړو او حضور ﷺ به اودس كولو. (دارمي، نسائي)

حل اللغات: ① تَوْر: إِنَاءٌ مِنْ صُفْرٍ أَوْ حِجَارَةٍ: دَ پيتلو يا د كاڼړى لوښى او لوټې ته وائى. ② رَكْوَة: إِنَاءٌ صَغِيرٌ مِنْ جِلْدٍ: د څرمنې نه جوړشوې وړوكى لوخى ته وائى، كومې ته چه چهاگل وائى. ③ مَسَحَ: اوئې مږلو (لاس خپل).

تسهيلات:

قوله: فِي تَوْرٍ: "أو" دا لفظ دَ راوى دَ شك په بنيادديِ چه دَاوبوهغه لوښي دَ پيتلو وو كه دكاڼړى يا هغه دَ څرمن نه جوړشوې وو كوم ته چه چهاگل وائى دلته او دَتنويع دَپاره هم اخستې شى چه هغه لوښي دكوم يوقسم وو.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة . باب الرجل يدلک يده بالأرض إذا استنجى (رقم- ٤٥) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب من دلک يده بالأرض بعد الاستنجاء (رقم-۳۵۸) والنسائى كتاب الطهارة/باب دلک اليد بالأرض بعد الاستنجاء(رقم-٥١) والدرامى كتاب الطهارة/باب فيمن يمسح يده بالتراب بعد الاستنجاء(رقم-۷۰۵)

قوله: ثُمَّ مَسَحَ: يعني دَ بدبوئى لرې كولو دَپاره به دَاستنجاء نه پس رسول الله ﷺ په زمكه باندې لاس رابنكلو. داد امت دَتعليم دَپاره ووګنى دَحضورپاك په قضاء حاجت كښې بدبوئى نه وه.

قوله: بِإِنَاءٍ آخَرَ: علماؤ ليكلى دى چه كه استنجاء او چاراندام دَپاره جدا جدا دوه لوښى وى نو دابهتر اومستحب دى دلته هم دې طرف ته اشاره ده. يادا چه په رومبى لوښى كښې هم دومره اوبه وې په كوم سره چه به صرف استنجاء كيدلې شوه په دې وجه به دَ چاراندام دَپاره نوې لوښې راوړلې شو.

[۳۶] د اودس نه پس په شرمګاه باندې اوبه چړكاؤ كول

۳۳۶-() [۲۷] [۱] وَعَنِ الْحَكَمِ بْنِ سُفْيَانَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا بَالَ تَوَضَّأَ وَنَضَحَ فَرْجَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت حكم بن سفيان رضي الله عنه راوي دي [۲] چې رسول الله ﷺ به متيازې وكړلې نو اودس به يې كولو او په خپل عورت باندې به يې څاڅكي كول. (ابوداؤد نسائي)

حل اللغات: ① نَضَحَ: أَيْ رَشَّ: اوبه شيندلې، چړكاؤ ئې كړې اوبه، ② فَرْجَهُ: په خپل عورت باندې (يا په لنګ باندې).

تسهيلات:

قوله: وَنَضَحَ فَرْجَهُ: دَدې رومبې اوواضح مطلب دادې چه كله اودس اوكړئى نومخامخ دَ پرتوګ خختګ دې په دې باندې دَ اوبوچړكاؤ اوكړه چه دَمتيازود څاڅكى وسوسه نه راځى اوبه مزه مزه سرې شكى اووسواسى جوګړنه شى. نوچه كله دَده شك راځى چه دا لوندوالې دَمتيازود څاڅكى دې نوهغه به وائى چه دا خو چړكى دى كوم چه ما اوس اچولى دى. دا انتضاح دَاودس نه فارغيدونه پس دى په راتلونكواحاديثو كښې هم دَدې ذكر دې. دَ صوفياؤ په نيزدَدې نوم "بل السراويل" دې په دې عمل سره وسوسه ختميږى. بعضې په نضح سره په شرمګاه باندې دَ چړكاؤ كولو مطلب اخذ كړې دې، دې دَپاره چه په دې سره دَ متيازو څاڅكى بندشى. بهرحال كوموخلقوته چه په يقينى توګه دَ څاڅكى راتلو بيمارى ده هغه دې داسې نه كوى بلكه دَ څاڅكى دَ بنديدو دَ يقين پورې دې انتظار اوكړى.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة . باب الرجل يدلك يده بالأرض إذا استنجى (رقم- ۱۶۶) وابن ماجة كتاب باب ما جاء في الوتر بركعة (رقم) ۴۶۱ والنسائي كتاب الطهارة/باب النضح (رقم- ۱۳۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۳۳] د شپې په لوښي کښې د متيازو کولو جواز

۳۳-() [۲۸] [۱] وَعَنْ أُمَيْمَةَ بِنْتِ رُقَيْقَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «كَانَ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَدَحٌ مِنْ عَيْدَانٍ تَحْتَ سَرِيرِهِ [۳] يَبُولُ فِيهِ بِاللَّيْلِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت اميمه بنت رقيقه رضي الله عنها فرمايي [۲] چه د رسول ﷺ د لرگي يوه پيالي (کاسه) وه چې د حضور ﷺ د کټ لاندې به پرته وه [۳] حضور ﷺ به د شپې (د يخنۍ وغيره په بنا ياد تکليف او پريشاني په وجه به يې) په هغه کې متيازې کولې. (ابوداؤد نسائي)

حل اللغات: ① قَدَحٌ: د لرگي غټه پيالۍ، کاسه، ② عَيْدَانٍ: دا د عود جمع ده، وَهُوَ الْخَشَبُ: لرگي ته وائي، ③ سَرِيرٍ: کټ.

تسهيلات:

قوله: مِنْ عَيْدَانٍ: دا لفظ صاحب ازهار د عودنه اخستې دې يعنى دا پياله د يو لرگي نه جوړه شوې وه. علامه ميرك رحمه الله هم دغه وئيلي دي چه عيدان د عود جمع ده اود عودنه مراد لرگي دي. علامه طيبى رحمه الله فرمائى چه د لرگى د مختلفو اجزاؤ د وجې نه د جمع كلمه راوړلې شوې ده. په دې ټولو صورتونوكښې به عيدان د عين په كسرې سره وى. ملاعلى قارى رحمه الله فرمائى چه محققينوكومه خبره ليكلې ده هم دغه صحيح ده اوهغه داچه عيدان د عين په فتح سره دې كسره سره نه دې. چنانچه صاحب قاموس ليكلى دى عيدان په فتح سره د كهجورې اوږدې ونې ته وائى د دې مفرد عيدانه دې اوهم د دې د لرگى نه هغه پياله جوړه كړې شوې وه.

قوله: تَحْتَ سَرِيرِهِ: د دې قسم احاديثو باندې بعضې خلق شك كوى يانى عجيبه گڼړى حالانكه هغوى له داسوچ پكاردې چه د حضورپاك پوره دنيا دښمنه وه د حضورپاك ته د شپې په راوتلو كښې څومره خطره وه په دې وجه كه حضورپاك د متيازو كولوانتظام په خپل كوركښې د ننه اوكړو نو په دې كښې څه حيرانتياده. آيا نن صبا خلق په څومره اوچتو كمروكښې باتهروم نه جوړه وى؟ چرته چه متيازې نه بلكه غټ اودس ماتې كوى. بل د شپې په وتلوكښې د يخنئى څومره تكليف وو اود مارلړم د ټك وركولو ويره څومره يقينى وو اوكيدې شى چه دا معامله د بيمارئى د وخت وى نوبياخو څه خبره نشته. بهرحال د دې وجوهاتود وجې نه به د حضورپاك د كټ لاندې لوښې كيخودلې شو اوسحربه دامتيازې غورزولې شوې. صاحب مظاهرحق ليكلى دى چه چا په غلطئى سره دامتيازې يوځل

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة . باب فى الرجل يبول بالليل فى الإناء ثم يضعه عنده (رقم- ۲٤) والنسائى كتاب الطهارة . باب البول فى الإناء (رقم- ۳۲)

ځکلي وي نودَ هغه دَ بدن دَ خوشبوئی راتلله. دَ سرېر په لفظ نه ثابته شوه چه په کتې کښې اوده کیدل جائز دی حضورپاك کتې استعمال کړې دې اګرچه دا کله کله شوی دی.

[۳۳]په ولاړه د متیازو کولو ممانعت

۳۳-()[۲۹] [۱]وَعَنْ عُمَرَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: [۲]«رَآنِي النَّبِيُّ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-وَأَنَا أَبُولُ قَائِمًا، فَقَالَ: [۳](يَا عُمَرُ! لَا تَبُلْ قَائِمًا) فَمَا بُلْتُ قَائِمًا بَعْدُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. [۴](قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِي السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى: قَدْ صَحَّ).

ترجمه: [۱] او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه فرمايي[۲] چه حضور ﷺ يوه ورځ زه په ولاړه متيازو کولو باندې وليدم نو وي وفرمايل[۳] اي عمر رضی الله عنه! په ولاړه متيازې مه کوه، د هغه څخه وروسته ما هيڅ کله په ولاړه متيازې ونه کړلي، ابن ماجه ترمذي،[۴] امام محي السنة رحمه الله فرمايي د حضرت حذيفه رضی الله عنه څخه منقول دي چې حضور ﷺ د يوقوم ډيران (انبار) ته ورغلي او هلته يې په ولاړه متيازي وکړلي، بخاري او مسلم، ويل کيږي چې دحضور ﷺ دا فعل په ولاړه متيازي کول د څه عذر په بناء وو.

قوله: يَا عُمَرُ! لَا تَبُلْ قَائِمًا:

دعمر رضی الله عنه په ولاړه د متيازو کولو وجه: عربو به په ناسته متيازې نه کولې. او دې ته به ئې د ښځو عمل وئيلو. او د سړو اوچتوالې او شامت به ئې په دې کښې ګڼړلو چې هغوئ دې په ولاړه متيازې کوی. هم ددې اصولو لاندې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په ولاړه متيازې کولې. حضور اکرم صلی الله علیه وسلم چې دې اوليدو نو منع ئې کړو. حضرت عمر فاروق رضی الله عنه فرمائی چې بيا ټول عمر ما هيڅکله هم په ولاړه متيازې اونه کړې.

په ولاړه د متيازو کولو په کراهت کښې مذاهب:

په متفقه طور سره په ولاړه متيازې کول مکروه دی. خودمکروه په نوعيت کښې اختلاف دې.

① د خينې علماء کرامو په نيز مکروه تحريمی

② د خينو په نزد مکروه تنزيهی دی. ضابطه او قاعده داده أو که چرته دنبی اکرم ﷺ څخه په ولاړه دمتيازو کولو ذکر راغلې دی نو هغه به په عذر حمل کيږی. امام احمد رحمه الله څخه دَ جواز يو قول نقل دې، پورته چې کومه مسئله بيان شوه دا د جمهورو مسلك دې، حضرت شاه انورشاه کاشميری رحمه الله فرمائی چې په ولاړه متيازې کول اوس د کافرانو شعار دې لهذا دا حرام دی، مزيد تفصيل دې پسې حديث مبارك کښې اوګورئی.

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحديث ۱۰/ ۱۷ وابن ماجه فی السنن رقم الحديث ۳۰۵

Maktaba Tul Ishaat.com

[۳۶۴] په ولاړه د بولو کولو ثبوت

۳۶۴-(۱)[۰] ۱ عَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ «أَتَى النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سُبَاطَةَ قَوْمٍ، فَبَالَ قَائِمًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. قِيلَ: كَانَ ذَٰلِكَ لِعُذْرٍ.

ترجمه: ۱ د حضرت حذيفه رضى الله عنه څخه روايت دې فرمائى ۲ چې نبى عليه السلام د څه خلقو ډيران ته تشريف يوړلو نو په ولاړه ئې متيآزې اوکړې.

حل اللغات: ① سُبَاطَةُ: هِيَ المَزْبَلَةُ وَالْكُنَاسَةُ: ډيران، د خزلې او ګند غورځولو ځائې.

نوټ: ددې حديث وضاحت دې څخه وړاندې حديث نمبر ۳۴۳ کښې تيرشوې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۶۵] د نبى عليه السلام هميشه دپاره په ناسته متيازې کول

۳۶۵-(۲)[۳۰] ۱ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ۲ «مَنْ حَدَّثَكُمْ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَبُولُ قَائِمًا فَلَا تُصَدِّقُوهُ ۳ مَا كَانَ يَبُولُ إِلَّا قَاعِدًا». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۱ بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي ۲ کوم سړي چې دا حديث بيان کړي چې حضور ﷺ په ولاړې متيازې کولې نو هغه رښتيا مه ګڼئ ۳ حضور ﷺ به په ناسته متيازې کولې. (احمد، ترمذي، نسائي)

تسهيلات:

قوله: فَلَا تُصَدِّقُوهُ:

په حديثينو کښې تعارض: په دې روايت کښې او د حضرت حذيفه رضي الله عنه د سباطة قوم والا روايت کښې په ظاهره تعارض دې. په هغې کښې د حضرت نبى کريم ﷺ څخه په ولاړه د متيازو کولو عمل منقول دې. او د لته حضرت عائشه صديقه رضى الله عنها بالکل ددې نفى کوى؟

د تعارض درې جوابونه:

① حضرت عائشې رضى الله عنها د عادت متعلق فرمائيلى دى او د حضرت حذيفه رضي الله عنه

(۱) اخرجه البخارى كتاب الوضوء/باب البول قائما وقاعدا(رقم-۲۲٤) ومسلم كتاب الطهارة باب المسح على الخفين (رقم-۷۳ - (۲۷۳) وابوداود كتاب الطهارة ، باب البول قائما(رقم- ۲۳) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فى البول قائما (رقم- ۳۰۵) والترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الرخصة فى ذلك (رقم- ۱۳) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب فى البول قاعدا (رقم-۳۰۷) والنسائى كتاب الطهارة/باب الرخصة فى ترک ذلک (رقم-۱۸)

(۲) اخرجه الترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب النهى عن البول قائما (رقم- ۱۲) والنسائى كتاب الطهارة/باب البول فى البيت جالسا (رقم-۲۹) واحمد فى المسند ۶/ ۱۹۲

روايت د يو نادرې واقعې متعلق دې. او نادر د معدوم په حکم کښې وی
② حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها د خپلو معلوماتو او د کور د عادتونو او اعمالو متعلق فرمائيلي دی. نو هغه خو پخپل ځائې صحيح دی. او د حضرت حذيفه ﷺ د حديث پاك تعلق د بهرنی ماحول سره دې. هغه پخپل ځائې صحيح دې.
③ د حضرت حذيفه ﷺ روايت په استثنائی صورت باندې محمول دې او حضرت عائشه رضي الله عنها قاعده او کليه بيان کړې ده ، نو په دې کښې هيڅ تعارض نشته دې.

د نبی عليه السلام په ولاړه متيازو کولو کښې اقوال:

① نبی عليه السلام په ولاړه متيازې د بيان جواز دپاره کړې وو اګر چې کراهت تنزيهی وی ځکه چې د امت د سهولت دپاره کله کله نبی کريم ﷺ کراهت تنزيهی والاکار کړې دې چې هسې نه خلق ئې حرام او نه ګڼړی نو نبی کريم ﷺ دپاره کراهت هم نه وو.
② د نبی کريم ﷺ په ځنګون کښې تکليف وو نو په ناسته متيازې کول ورته مشکل وو ،
③ د ناستې ځائې نه وو نو مجبوری وه، ځينو وئيلی دی چې د نبی کريم ﷺ په ملا مبارکه کښې تکليف وو ، او ددې درد علاج په ولاړه متيازو کولو کښې وو. [الکاشف: ۵۸]

[۳۶۶] د اودس په باره کښې د حضرت جبريل هدايت

٣٦٦-() [١] [٣] وَعَنْ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] «أَنَّ جِبْرِيلَ أَتَاهُ فِي أَوَّلِ مَا أُوحِيَ إِلَيْهِ، [٣] فَعَلَّمَهُ الْوُضُوءَ وَالصَّلَاةَ، [۴] فَلَمَّا فَرَغَ مِنَ الْوُضُوءِ، [۵] أَخَذَ غُرْفَةً مِنَ الْمَاءِ، [٦] فَنَضَحَ بِهَا فَرْجَهُ» رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: [١] او زيد بن حارثه ﷺ د حضور ﷺ نه روايت کوي [٢] چې جبرايل ﷺ د ټولو نه د مخکښې وحي په موقع حضور ﷺ ته تشريف راوړو نو حضور ﷺ ته يې اودس کول وښودل بيا يې ورته مونځ کول وښودل [۴] بيا چې د اودس نه فارغه شو [۵] نو يو لپه اوبه يې واخستې [٦] او هغه يې په خپل عورت باندې (په کپړو) وشيندلې. احمد دارقطني.

حل اللغات: ① غُرْفَةً: لپه، چونګ، ② نَضَحَ: أَيْ رَشَّ: اوبه شيندلې، چړکاؤ ئې کړې اوبه، ③ فَرْجَهُ: په خپل عورت باندې (يا په لنګ باندې).

د راوي مختصر تعارف:

د راوی نوم اسامه کنيت ابومحمد لقب حب رسول الله د پلار نوم ئې زيد وو.د مور نوم ئې برکه و.د بعثت نه اووه کاله وړاندې په مکه کښې پيدا شوې وو.د دوی پلار د نبی کريم ﷺ متبنی (په ځوئی توب نيولی) وو.د دوی د مور تربيت هم نبی کريم ﷺ په ماشوموالی کښې کړې وو.د دې وجې هغه هم د نبی کريم ﷺ ډيره خوښه وه.

(۱) اخرجه ابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/بباب ما جاء في النضح بعد الوضوء (رقم- ۴۶۲) واحمد في المسند ۴/ ۱۶۱

Maktaba Tul Ishaat.com

د مکې په فتح کښې اسامه شریک وو.او د نبی کریم ﷺ سره سور وو.د حضرت بلال،عثمان بن طلحه رضي الله عنه سره حضرت اسامه هم خانه کعبې ته داخل شوی وو.(۲)

نبی کریم ﷺ د یوې نه زیاتې سریې د حضرت اسامه په امارت کښې لیګلې وې په دې کښې اهم سریه هغه وه په کومه کښې چه اکابر صحابه کرام رضي الله عنهم هم وو.او دا د نبی کریم ﷺ د ژوند آخری سریه وه.

د نبی کریم ﷺ د وفات نه پس حضرت عمر رضي الله عنه خو به هم حضرت اسامه سره ډیره مینه کوله او د خپل ځوئې عبدالله وظیفه ئې دوه نیم زره او د حضرت اسامه وظیفه ئې درې زره مقرر کړې وه او فرمائیل ئې چه نبی کریم ﷺ دې ستا نه زیات خوښول ځکه ما دده وظیفه پنځه سوه درهم زیاته مقرر کړې ده (۳)

دحضرت امیرمعاویه رضي الله عنه او حضرت علی رضي الله عنه په جنګ کښې دوی بیخی یو طرف ته وو.د چا طرفداری ئې نه وه کړې (۱)

علماء فرمائی چه د حضرت اسامه چه په دربار رسالت کښې کوم مقام وو.هغه بغیر داستثناء نه د بل صحابی نه وو.په یوه موقع باندې فرمائی چه اسامه زما د ټولو خلقو نه زیات خوښ دې (۲)

یوځل حضرت اسامه په درشل باندې راپرېوتلو او مخ ئې زخمی شو.نبی کریم ﷺ حضرت عائشې رضي الله عنها ته اوفرمائیل د ده وینه پاکه کړې هغه لږه کرکه غوندې اوکړه نو نبی کریم ﷺ په خپله وریاسیدل هغه ئې پاکه کړه او خپلې لیاړې ئې پرې اولګولې (۳)

وفات: د حضرت امیر معاویه رضي الله عنه د امارت په آخری زمانه کښې په ۵۴ هجری کښې په مدینه کښې وفات شوې وو.(۴) په دغه وخت کښې د دوی عمر شپېته کاله وو.

مرویات: د دوی نه ۱۲۸ روایات منقول دی په کومو کښې ۱۵ په بخاری اومسلم دواړو کښې دی او ددې نه علاوه په دوو دوؤ کښې بخاری او مسلم منفرد دی.

[۳٦۷] پر شرمګاه باندې دوسوسو دفع کولو د پاره اوبه شیندل

۳٦۷—(۲) [۳۲] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ «جَاءَنِي جِبْرِيلُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ! إِذَا تَوَضَّأْتَ فَانْتَضِحْ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، ۴ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَسَمِعْتُ مُحَمَّدًا - يَعْنِي الْبُخَارِيَّ - يَقُولُ: ۵ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْهَاشِمِيُّ الرَّاوِي مُنْكَرُ الْحَدِيثِ.

ترجمه: ۱ او ابوهریره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ ماته جبرایل علیه السلام راغې هغه اوویل اي محمد ﷺ ۳ کوم وخت چې ته اودس وکړې نو لږ شان اوبه په عورت

---

(۱) اصابه (۲۹\۱)- (۲)مستدرک (۵۹۶\۳)- (۳) طبقات ابن سعد (۴۳\۴)- (۴) استیعاب (۲۹\۱)-

(۲) اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی النضح بعد الوضوء (رقم- ۵۰) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/بباب ما جاء فی النضح بعد الوضوء (رقم- ۴۶۳)

باندې د وسوسو د دفع کولو د پاره) اوشيندی (اوپاشی) ترمذي، [۴] او امام ترمذي فرمايي دا حديث منکر دي او ما د محمد رحمه الله (امام بخاري رحمه الله) څخه دا اوريدلي دي [۵] چې د دې حديث راوي حسن بن علي هاشمي منکر الحديث دی

حل اللغات: ① فَانْتَضِحْ: أَيْ رُشَّ الْمَاءَ عَلَى الْفَرْجِ أَوِ السِّرْوَالِ: يعنی په عورت يا لنګ باندې معمولی شان اوبه چړکاؤ کوه.

[۳۶۸] د هر وخت متيازو نه کولو څخه روسته د اودس کولو عدم وجوب

۳۶۸–(۱) [۳۳] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «بَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَامَ عُمَرُ خَلْفَهُ بِكُوزٍ مِنْ مَاءٍ [۳] فَقَالَ: مَا هَذَا يَا عُمَرُ!) فَقَالَ: مَاءٌ تَتَوَضَّأُ بِهِ. [۴] قَالَ: (مَا أُمِرْتُ كُلَّمَا بُلْتُ أَنْ أَتَوَضَّأَ وَلَوْ فَعَلْتُ لَكَانَتْ سُنَّةً») رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي چه (يو خل) حضور ﷺ متيازي وکړلي حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د اوبو لوټه اخستو سره وروسته ودريدلو [۳] حضور ﷺ خني پوښتنه وکړه اي عمره رضي الله عنه دا څه دي؟ هغه عرض وکړو يا رسول الله ﷺ ستا د اودس د پاره اوبه دي [۴] حضور ﷺ وفرمايل ماته دا حکم نه دي شوي چې کله هم متيازي وکړم نو اودس دي هم وکړم که زه داسې اوکړم نو دا زما فعل به سنت اوګرځي. (ابوداؤد ابن ماجه).

حل اللغات: ① کُوز: لوټه، کوزه.

[۳۶۹] په اوبو باندې د استنجاء کولو فضيلت

۳۶۹–(۲) [۳۴] [۱] وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ وَجَابِرٍ وَأَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، [۲] «أَنَّ هَذِهِ الْآيَةَ لَمَّا نَزَلَتْ ﴿فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا وَاللهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ﴾ [التوبة: ۱۰۸] [۳] قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ! إِنَّ اللهَ قَدْ أَثْنَى عَلَيْكُمْ فِي الطُّهُورِ فَمَا طُهُورُكُمْ؟ [۴] قَالُوا: نَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ، وَنَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ وَنَسْتَنْجِي بِالْمَاءِ. [۵] قَالَ: فَهُوَ ذَاكَ فَعَلَيْكُمُوهُ») رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او ابو ايوب رضي الله عنه جابر رضي الله عنه او انس رضي الله عنه راويان دي [۲] چه کوم وخت دا آيت نازل شو فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا وَاللهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ (يعنی په مسجد قبا کې داسې سړي (انصار) دي چې دا خبره خوښوي چې ښه پاکي حاصله کړي او الله جل جلاله ښه پاکي حاصلونکي خوښوي) [۳] نو رسول ﷺ وفرمايل اي د انصارو جماعته! الله جل جلاله د پاکي په معامله کې ستاسو تعريف کړي دي ستاسو پاکي څه ده؟ [۴] هغوئ عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ مونږ د مونځ د پاره اودس کوو او جنابت (ناپاکي) څخه غسل کوو (څنګه چې نور

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة، باب الاستبراء (رقم- ۴۲) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب من بال ولم يمس ماء (رقم-۳۲۷)

(۲) اخرجه ابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب الاستنجاء بالماء (رقم - ۳۵۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

مسلمانان کوي) او (د لوټو څخه وروسته) په اوبو سره استنجاء کوو۵ حضور ﷺ وفرمایل وو (هغه پاکي هم دا ده) نو دا لازم ونیسي. (ابن ماجه)

حل اللغات: ① يَتَطَهَّرُوا: أي الْمُبَالَغَةُ فِي الطَّهَارَةِ: ښه پاکي حاصلوي. ② مَعْشَرَ: ډله، جماعت، ③ أَثْنَى: تعریف ئې کړې دې.

تسهیلات:

قوله: نَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ، وَنَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ وَنَسْتَنْجِي بِالْمَاءِ:

په اوبو سره د استنجاء کولو فضیلت: دَدې حدیث نه معلومیږي چه استنجاء بالماء افضل ده دَاستنجاء ټول درې صورتونه دي.

① چه صرف لوټي اوکانړې استعمالولو سره استنجاء اوکړې شي

② صرف اوبه استعمالولو سره استنجاء اوکړې شي.

③ لوټې او اوبه دواړه استعمالولو سره استنجاء اوکړې شي دَ فقهاؤ په نیز دادریواړه صورتونه جائز دي.

اګرچه بعضې مالکیه او سعیدبن المسیب ﷺ په اوبوسره صفائی ته ناجائزوئیلی دی مګر دَ جمهور فقهاؤ په نیزجائز او افضل ده ځکه چه په قرآن اوحدیث کښې دَدې تصریح موجودده اودَ حضورپاك نه په دې باندې همیشه والې ثابت دې اوس دَ فقهاء کراماو جمهورامت په نیزاوبه اولوټې دواړه یوځائی کولو سره دَ استنجاء صورت دَ ټولو نه غوره دې. او دَدیرواحادیثونه دا جمع ثابت ده. په تعددطرق سره په حدیث کښې قوت راځي. اودَ فقهاؤ په تعامل سره هم حدیث قوی کیږي دې نه پس په اوبوسره استنجاء افضل ده او بیاصرف دَ کانړې لوټو درجه ده

[۳۷۰] د قضاء حاجت باره کښې د نبی علیه السلام بعضې آداب

۳۷۰ ـ () [۳۵] ۱ وَعَنْ سَلْمَانَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ «قَالَ بَعْضُ الْمُشْرِكِينَ، وَهُوَ يَسْتَهْزِءُ: ۳ إِنِّي لَأَرَى صَاحِبَكُمْ يُعَلِّمُكُمْ حَتَّى الْخِرَاءَةَ. ۴ قُلْتُ: (أَجَلْ أَمَرَنَا أَنْ لَا نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ، ۵ وَلَا نَسْتَنْجِيَ بِأَيْمَانِنَا ۶ وَلَا نَكْتَفِيَ بِدُونِ ثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ ۷ لَيْسَ فِيهَا رَجِيعٌ وَلَا عَظْمٌ») رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَأَحْمَدُ وَاللَّفْظُ لَهُ.

ترجمه: ۱ او حضرت سلمان رضی الله عنه فرمایي۲ چه په مشرکانو کې یوسړي د مسخرو په طور دا اوویل۳ چې زه ستاسو سردار (یعني رسول ﷺ) وینم چې هغه تاسو ته هرشي ښایي تردي چې اودس ماتی لپاره د ناستي صورت هم، ۴ ما ورته اوویل هو حضور ﷺ مونږ ته حکم کړي دي چې د استنجاء (په وخت) دي مونږ مخ په قبله نه کینو۵ په خپل ښي لاس سره دي استنجاء نه پاکوو، ۶ د دریو کانړو (لوټو) څخه په کم دي کفایت ونه وکړو۷ او نه

(۱) اخرجه ابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب الاستنجاء بالحجارة، والنهی عن الروث والرمة (رقم - ۳۱۶)

دي په هغې کښې خاشنړه (سوټې) او نه هډوکي وي. (مسلم احمد)

حل اللغات: ① اَلْخَرَاءَةَ: اسْمٌ لِهَيْئَةِ الْحَدَثِ: داودس ماتی د پاره د کیناستو کیفیت ته وائی. ② أَجَلْ: أَيْ: نَعَمْ: آو. ③ بِأَيْمَانِنَا: د یمین جمع ده، ښی لاس. ④ لَانَكْتَفِيَ: مونږ کافي نه ګنړو. ⑤ رَجِيعٌ: أَيْ رَوْثٌ: سوټې، خاشنړه وغیره.

تسهیلات:

قوله: اَلْخَرَاءَةَ.:

دخراء لغوی تحقیق: د خاء په کسره او په راء مدسره او په نفس اودس ماتی باندې د دې اطلاق د تاء د حذف په وخت کیږی یعنی الخِراء والخراء. لیکن اکثر راویانو خاء مفتوح او راء بغیر د مدنه لوستلې ده یعنی خرا. په اصل کښې دا لفظ د مرغو ګند ګئی د پاره استعمالیږی مګر دلته د قضاء حاجت د پاره استعمال شوې دې. د دې لفظ نه وړاندې مضاف محذوف دې یعنی أدب الخراءة مطلب دا شوچه تاسو ته نبی ﷺ د اودس ماتی ادب ښائی د وړو وړو څیزونو تعلیم درکوی او د بدیهی څیزونو بغیر د ضرورت تعلیم درکوی. د دغه مشرك د طرف نه دا کلام د خندا او د مسخرو وو چه د اودس ماتی طریقه درته ښائی تاسونه خوئی ماشومان جوړ کړی دی.

قوله: قُلْتُ: أَجَلْ:

اشکال: دې مشرك په دین پورې خنداکولوسره اعتراض اوکړو اوحضرت سلمان رضی الله عنه "اجل" وئیلوسره دا تسلیم کړه آیادا جائزوه؟

داشکال جواب: حضرت سلمان رضی الله عنه د اسلوبِ حکیم په توګه جواب ورکړې دې کوم ته چه علم معانی والا مماشات مع الخصم او ارخاء العنان وائی دې د پاره چه هغه د جواب اوریدو د پاره پوره متوجه اوتیارشی. لکه چه سلمان فارسی رضی الله عنه اووئیل اې خناوره واوره دا تعلیمات آسمانی دی کوم چه مدرك بالعقل نه دی دا بدیهات نه دی تاسو بې وقوفان یئې دا د عقل په دائره کښې د راوستلو کوشش کوئی ګورئی مونږ ته نبی حکم راکړې دې چه مونږ د قبلې طرف ته د قضاء حاجت په وخت مخ نه کړو. دا حق الله دې بیاحکم دې چه په ښی لاس سره استنجاء مه کوئی دا حق النفس دې اوبیائی حکم راکړو چه په هډوکو اوسوټو سره استنجاء مه کوئی داحق الاخوان دې نو په دې تعلیم کښې حق الله، حق النفس او حق العباد دریواړه راغلل کوم چه مکمل شریعت دې دې پورې خنداکول حماقت دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

[۳۷۱] د متیازو څخه ځان ساتلو کښې احتیاط کول

۳۷۱-(۱) [۳۶] ۱ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ابْنِ حَسَنَةَ قَالَ: ۲ «خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۳ وَفِي يَدِهِ الدَّرَقَةُ ۴ فَوَضَعَهَا ثُمَّ جَلَسَ، فَبَالَ إِلَيْهَا ۵ فَقَالَ بَعْضُهُمْ: انْظُرُوا إِلَيْهِ يَبُولُ كَمَا تَبُولُ الْمَرْأَةُ،

ترجمه: ۱ عبد الرحمٰن ابن حسنه رضي الله عنه فرمايي ۲ چه يوه ورځ رسول الله ﷺ د کور څخه وتلو سره مونږ ته تشريف راوړو ۳ هغه وخت د حضور ﷺ په مبارك لاس کې ډال وو ۴ هغه يي خپل مخې ته په زمکه کيښودلو، بيا د هغې مخې ته په ناستې سره يي متيازي وکړلې ۵ په دې ليدو سره يو مشرك اوويل ده ته وګورئ داسې متيازي کوي څنګه چې ښځه متيازي کوي

حل اللغات: ① الدَّرَقَةُ: أَيِ التُّرْسُ مِنْ جُلُودٍ لَيْسَ فِيهِ خَشَبٌ وَلَا عَصَبٌ: داهغه ډهال ته وائی چه خالص د څرمن نه جوړوی په کوم کښې چه اوسپنه لرګي وغيره نه وی.

۱ فَسَمِعَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: (وَيْحَكَ! ۲ أَمَا عَلِمْتَ مَا أَصَابَ صَاحِبَ بَنِي إِسْرَائِيلَ ۳ كَانُوا إِذَا أَصَابَهُمُ الْبَوْلُ قَرَضُوهُ بِالْمَقَارِيضِ ۴ فَنَهَاهُمْ فَعُذِّبَ فِي قَبْرِهِ») رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ

ترجمه: ۱ دا خبره حضور ﷺ واوريده نو وي فرمايل په تا افسوس دي ۲ آيا ته هغه څه پيژني چې د بني اسرائيلو ملګري ته رسيدلي وو (يعني عذاب) ۳ بني اسرائيلو چې به متيازي کولې او د هغوئ جسم يا کپړو ته به متيازي لګيدې نو هغه به يي په قينچي سره پريکولې ۴ نو بني اسرائيلو څخه يو سړي (د دې حکم منلو څخه) خلق منع کړل نو هغه د قبر په عذاب کې مبتلا شو، (ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات: ② وَيْحَكَ: وَيْحُ كَلِمَةٌ تُقَالُ لِمَنْ تَرْحَمُ وَتَرْفُقُ بِهِ اهـ: وَيْحُ کلمه دَ بد دعا دَپاره ده خو دا هغه چا دپاره استعمالولې شی چاسره چه د مهربانئ او نرمئ معامله کول وی ③ أَصَابَ: رسيدلی وو (يعنی عذاب). ④ قَرَضُوهُ: أَيْ: قَطَعُوهُ: پريکول به ئې هغه ځائ (پليتی). ⑤ الْمَقَارِيضِ: د مِقْرَاضٍ جمع ده، وَهُوَ آلَةُ الْقَطْعِ: د پريکولو يوه آله ده، يعنی قينچی.

تسهيلات:

دحديث د بعضې جملو وضاحت:

① بَعْضُهُمْ: دې نه ياڅوك مشرك مراددي ياڅوك منافق وو دادويم واضح دې.

② كَمَا تَبُولُ الْمَرْأَةُ: ښځه په ناسته متيازې کوی څکه چه هغه په ولاړه متيازې نه شی کولې. په عربو کښې به سړو په ولاړه متيازې کولې اودابه ئی د سړو ننګه ګڼړله

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة . باب الاستبراء من البول (رقم-۲۲) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب التشديد في البول (رقم- ۳۴۶)

قوله: قَرَضُوْهُ بِالْمَقَارِيضِ:
د بنی اسرائیلو سخت احکام: دَ بنی اسرائیلو په سختو اوګرانو احکاماتوکښې یوحکم دا وو چه که چرې بدن سره نجاست اولګی نودبدن دغه حصه به څیرلې اوپرې کولې شوه اوکه کپړه به پلیته شوه نوهغه به ئی هم پرې کوله. په هغه زمانه کښې یوسړی ددغه حکم نه انکاراوکړو اوخلق ئی هم منع کړل نودا سړې دَدې بې احتیاطئی دَ وجې نه په قبرکښې په عذاب کړې شو څکه چه هغه دَمتیازونه نه بچ کیدو.
د مناسبت وجه: دلته دَنبی کریم ﷺ دَمتیازو کولوپه وخت په کیناستوباندې دَ اعتراض کونکی او دَ بنی اسرائیلو په سړی کښې څه مناسبت دې چه حضورپاك دَ هغه سړی مثال ورکړو؟ نواصل خبره داشوه چه ګورئی دَ بنی اسرائیلو یوسړی دَهغوی دَ شریعت دَیومعروف او ښه کاردَ بندولوکوشش اوکړو نودَهغه انجام څومره خراب شو چه په عذاب کښې راګیرشو. دغه شان ته هم دَ یونیك کارنه دَ بندولوکوشش کوې نوتاته به هم عذابَ قبراوشی څکه چه بې احتیاطی به کوې متیازې به دربورې لګی نوعذاب به درکولې شی

۳۴۲—()[۱]وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْهُ عَنْ أَبِي مُوسَى.

ترجمه: [۱] او نسايي دا حديث دعبد الرحمن څخه او هغه د ابو موسی څخه روايت کړي دي.

[۳۴۳] په آبادی کښې د متيازو کولو په وخت کښې قبلې ته د مخ کولو جواز

۳۴۳—() [۳۷][۱]وَعَنْ مَرْوَانَ الْأَصْفَرِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲]«رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ أَنَاخَ رَاحِلَتَهُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ، [۳]ثُمَّ جَلَسَ يَبُولُ إِلَيْهَا فَقُلْتُ: [۴]يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ! أَلَيْسَ قَدْ نُهِيَ عَنْ هٰذَا؟ [۵]قَالَ: بَلْ إِنَّمَا نُهِيَ عَنْ ذٰلِكَ فِي الْفَضَاءِ. [۶]فَإِذَا كَانَ بَيْنَكَ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ شَيْءٌ يَسْتُرُكَ، فَلَا بَأْسَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت مروان اصفر فرمايي [۲] ما (يووار) ابن عمر رضی الله عنه وليدلو چې خپل اوښ يي مخ په قبله کينولو [۳] بيا هغه کيناستلو او د اوښ طرف ته يي متيازي وکړلي ما (په دي ليدو سره) عرض وکړو اي ابو عبد الرحمن (دا د ابن عمر رضی الله عنه کنيت دي) [۴] آيا د داسې د قبلې طرف ته مخ کولو سره متيازي کولو څخه منع نه ده فرمايل شوي ؟ [۵] وي فرمايل نه بلکه په ځنګل کې دي څخه منع فرمايل شويده [۶] ليکن کله چې ستا او د قبلې په مينځ کې څه شي حائل وي نو بيا څه حرج نشته (ابوداؤد)

حل اللغات: ① أَنَاخَ: اوښ ئې کينولو، دا لفظ د اوښ کينولو دپاره استعماليږی ② رَاحِلَتَهُ: سورلی (اوښ)، ③ الْفَضَاءِ: أي: الصَّحْرَاءِ: صحراء، هوار خالي چرته چه وونې وغيره نه وی

(۱) اخرجه النسائی کتاب الطهارة/البول إلی السترة يستتر بها (رقم-۳۰)
(۲) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة، باب کراهية استقبال القبلة عند قضاء الحاجة (رقم- ۱۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: فَإِذَا كَانَ بَيْنَكَ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ شَيْءٌ يَسْتُرُكَ، فَلَا بَأْسَ:
دا دَ يو صحابي خپله رائې او دَ هغه عمل دې دَ مرفوع احاديثو دا روايت مقابله نه شي کولې تفصيل تير شوې دې.

[۲۷٤] د بيت الخلاء څخه د وتلو دعا

٣٧٣-(١) [٣٨] [١] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] «كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا خَرَجَ مِنَ الْخَلَاءِ قَالَ: [٣] الْحَمْدُ لِلهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنِّي الْأَذَى وَعَافَانِي» رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي [٢] چه نبي کريم ﷺ چې به د بيت الخلاء څخه وتلو نو د وتلو په وخت به دا دعا کوله: [٣] اَلْحَمْدُ لِلهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنِّي الْأَذَى وَعَافَانِي، (ټول تعريفونه الله جل جلاله لره ښايي چې زما څخه يې تکليف ورکونکې شې (يعني پاخانه) لرې کړو او ماته يې عافيت وبخښو. (ابن ماجه)

حل اللغات: ① أَذْهَبَ: بوتلي تلو، لرې ئې کړو. ② الْأَذَى: تکليف. ③ عَافَانِي: عافيت ئې راکړو ماته.

[۲۷۵] په بعضې څيزونو سره د استنجاء کولو کراهت

٣٧٤-(٢) [٣٩] [١] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] «لَمَّا قَدِمَ وَفْدُ الْجِنِّ عَلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالُوا: [٣] يَا رَسُولَ اللهِ انْهَ أُمَّتَكَ أَنْ يَسْتَنْجُوا بِعَظْمٍ أَوْ رَوْثَةٍ أَوْ حُمَمَةٍ، [٤] فَإِنَّ اللهَ جَعَلَ لَنَا فِيهَا رِزْقًا. فَنَهَانَا رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنْ ذَلِكَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي [٢] کوم وخت چې د جناتو جماعت د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو نو هغوئ عرض وکړو [٣] يا رسول الله ﷺ تاسو خپل امت منع کړئ چې هغوي په خاشنړه، هډوکي او سکرو سره استنجاء ونه کړي [٤] څکه چې الله جل جلاله په دې څيزونو کې زمونږ رزق پيدا کړې دې نو حضور ﷺ مونږ د دې څيزونو د استعمال څخه منع کړو. ابوداؤد

حل اللغات: ① قَدِمَ: راغې، حاضرشو ② وَفْدُ: جماعت، عزتمنده جرګه. ③ حُمَمَةٍ: أَيْ: الْفَحْمُ: سکاره، يا کوم لرګي وغيره چه اوسوزولې شي.

---

(١) اخرجه ابن ماجة كتاب الطهارة وسننها باب ما يقول إذا خرج من الخلاء (رقم-٣٠١)
(٢) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة، كتاب الطهارة، باب ما ينهى عنه أن يستنجى به (رقم- ٣٩)

[۳/۸] بَابُ السِّوَاكِ

دَمسواک بیان

خلاصة الباب:

فيه أربعة عشر حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① تاكيد أمر السواك: ۱، ۴، ۶، ۱۰، ۱۱، ۱۴۔

② مواضع استعمال السواك: ۱، ۲، ۳، ۷، ۱۴۔

③ فوائدالسواك: ۵، ۱۳۔

④ جواز استعمال سواك الغيرباذنه: ۸۔

⑤ دفع السواك أولاً إلى الكبير: ۹، ۱۲۔

د مسواک لغوی تحقیق: "مايدلك به الأسنان" عرب وائی ساك فاه يسوكه کله چه دَدې مفعول به مذکوروی نوساك فاه وائی او کله چه مفعول به مذکورنه وی نو استاك وائی سواک دکتاب په شان دې دکوم جمع چه هم سُوكٌ دَ کُتُبٌ په شان راځی اودَمسواک جمع مساويك هم راځی

د مسواک فضیلت: په احادیثوکښې د مسواک ډیر فضیلت راغلے دې په مسند احمدکښې روایت دې. ﴿أنه عليه الصلاة والسلام قال: صلاة بسواك أفضل من سبعين صلاة بغير سواك.﴾ مسواك سره يو مونځ د بې مسواکه مونځ نه يو په اويا درجې زيات ثواب لری.

د مسواک د استعمال مواقع: په لټون اوتتبع سره په پنځو ځايونوکښې د مسواک استحباب ثابت دې.(۱) چه غاښونه زيړوی.(۲) دخولې بوئې خراب وی.(۳) چه د خوب نه راببيدارشی (۴) چه اقامت اوشی.(۵) د اودس په وخت.

د مسواک صفتونه: پکار ده.(۱) چه مسواك نرم وی. (۲) او د ګوتې په اندازه غټ وی.(۳) يو لويشت اوږد وی. (۴) نيغ وی. (۵) چه غوټې په کښې کمې وی (۶) دترښې ونې وی.چه بلغم ختموی. (۷) سينه صفا کونکې وی. (۸) او خوراك زر هضم کوی.

د مسواک استعمالولو طریقه: د مسواك کولو طريقه دا ده.چه مسواك به په پلنوالی هم کوی.او په اوږدوالی هم.اوکه په يو اکتفا کول غواړی.نو صرف په اوږدو دے اوکړی.دا خبره ياد ساتئ چه د غاښونو پلنوالې د خولې اوږدوالے دې.(شرح نقايه)

د مسواک مسنونیت: فرمائی چه مسواك کول سنت دی.دليل دا دې.چه نبی عليه السلام د مسواك په استعمال باندې هميشوالے کړې دے.البته کله کله ئې پريخے دې.اوکه مسواك نه وی.نود نبی لاس په ګوته دے غاښونه اومګی.ځکه چه دا هم د نبی عليه السلام نه ثابت دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

د مسواک د عدم وجوب دلیل: او مواظبت مع الترک د سنتیت دلیل دي.او بغیر د ترک نه مواظبت دلیل د وجوب دي.او په ترک د مسواك باندي دلیل دا دے .چه نبی علیه السلام د یوکلي خلقوته د اودس اود مونځ تعلیم ورکړي وو.خوپه هغې کښې د مسواك استعمال منقول نه دي.که دمسواك استعمال واجب وے . نو نبی علیه السلام به ورته خامخا تعلیم ورکړي وو.(عنایه)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۳۷۶] د هر مانځه د پاره د مسواک استعمال

۳۷۶-()[۱] ۞عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:۞ "«لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُمْ بِتَأْخِيرِ الْعِشَاءِ۞ وَبِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۞ ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۞که ما په خپل امت باندې دا خبره ګرانه نه ګڼلاي نو مسلمانانو ته به مې دا حکم ورکړي وو چې د ماسخوتن مونځ په تاخیر سره کوي۞ او د هرلمانځه د پاره مسواك وهي (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① أَشُقَّ : أَيْ ثَقُلَ: که مشقت پرې نه جوړیدو، ګرانه ورته نه وي، ② الْعِشَاءِ: د ماسخوتن مونځ.

تسهیلات:

قوله: لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ:

اشکال: لولا دانتفاء ثاني دپاره راځي بسبب د وجود اول. حالانکه وجود اول یعني مشقت متحقق شوي دي؟

د اشکال جواب: ددې جواب دادې چې لولا سره به د خشیة عبارت محدوف منلي کیږي. بل دې خاني کښې

دویم اشکال: دویم اشکال دادې چې انتفاء ثاني متحقق شوي نه ده څکه چې د مسواك حکم ختم شوي نه دي بلکه په مسنون طریقې سره موجود دې. او د ماسختن د تاخیر حکم هم برقرار دې؟

داشکال جواب: ددې جواب دادې چې أمرتهم کښې دفرضیت او وجوبي طور سره دحکم نفي شوې ده او هغه نفي موجود ده مسواك کول نه فرض دی اونه واجب ترجمه دا شوه چې که چرې ماته ددې ویره نه وې چې امت به په مشقت کښې پریوزي نو ما به دَ مسواك

---

[۱] اخرجه البخاری کتاب الجمعة باب السواک یوم الجمعة (رقم-۸۸۷) ومسلم کتاب الطهارة باب السواک (رقم-۴۲-(۲۵۲) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها باب السواک (رقم- ۲۸۷) والترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی السواک (رقم- ۲۲)

حکم د فرض یا وجوبی طور سره ورکړي وي. لیکن چونکه د امت د مشقت فکر دي نو په دي وجه مي د مسواك د وجوب حکم ورنکړو. بلکه د مسنون طریقي حکم مي ورکړو. دا شان کلام په ماسختن کښې د تاخیر هم دي.

قوله: عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ:

د مسواك په حکم کښې مذاهب:-

① دامام اسحاق بن راهویه او داؤد ظاهری څخه یو قول دا منقول دي چې د مسواك استعمال واجب دي.

② دمسواك په شرعی حیثیت کښې لږ اختلاف دي.علامه نووی رحمه الله دمسواك په مسنونیت باندي دامت اجماع رانقل کړي ده. اود امام اسحاق رحمه الله او داؤد ظاهری **څخه یوقول د مسنونیت منقول دي.**

د اول فریق دلیل:- دحضرت رافع بن حدیج او عبدالله بن عمروبن حلحله روایت دي.((السواك واجب وغسل الجمعة واجب على كل مسلم ،)) رواه ابونعيم في كتاب السواك وذكره السيوطي في الجامع الصغير

د اول فریق د دلیل دوه جوابونه:- ①حافظ ابن حجر رحمه الله په " التلخیص الجبیر" کښې ددي حدیث دنقل کولو نه پس فرمائی ((اسناده واه)) **چې د دي حدیث سند کمزوري دي** نو دینه استدلال صحیح نه دي.

② علامه نووی رحمه الله لیکی چه امام اسحاق ته دوجوب دقول نسبت صحیح نه دي بلکه صحیح داده چه دي هم دجمهورو په شان دمسواک د مسنونیت قائل دي اوس صرف داؤد ظاهری پاتي کیږی ددوی باره کښې هم مشهوره داده چه دي دسنیت قائل دي اوکه بالفرض ددوی د وجوب قائل هم وی بیاهم دده اختلاف اجماع لره مضر نه دي.

اشکال:- په منیة المصلی کښې مسواک په آدابو کښې شمار کړي دي.او ته وائي چې د حنفیانو په نیز سنت دي.

د اشکال جواب:- په شرح د منیة المصلی کښې د دي دا توجیه کړي ده چې د ادب نه مراد طریقه مشروعه ده او دا سنتو ته هم شامله ده.

د مسواك د استعمال په زمان کښې مذاهب:-

بیاپه جمهورو کښې دا اختلاف دي چه مسواك سنت صلوة دي.اوکه سنت وضوء

① امام شافعی رحمه الله داسنت صلوة ګرځوی.ظاهریو نه هم داسې منقول دی.

② حنفیان دیته سنت وضوء وائی.

فائده د اختلاف:- ثمره داختلاف داسې را اوځی که یوسړی اودس او مسواك نې اوکړل او یومونځ نې اوکړو.او بیاهم په دغه اودس باندي دویم مونځ کول غواړی نو دامام شافعی رحمه الله په نزد به ده ته مسواك کول مسنون وی او دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد چونکه داسنت د اودس دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د دې وجې دوباره مسواك ته ضرورت نشته.

فائده:- ملاعلی قاری ﷫ فرمائی. امام شافعی ﷫ ((عندکل صلوة)) اصل ګرځولې دې اود تطبیق کوشش نې کړې دې یعنی دې دمونځ او د اودس دواړو په وخت مسواك مسنون ګرځوی احناف ((مع کل وضوء)) اصل ګرځوی او ((عندکل صلوة)) کښې تاویل کوی چه دلته مضاف محذوف دې ((عند وضوء کل صلوة)) او په دې باندې عقلی دلائل هم شاهددی.(۱)

د اول فریق دلیل:- امام شافعی ﷫ دحدیث دې نه استدلال کوی.((لولاان اشق علی اُمتی لامرتهم بالسواك عندکل صلوة))

د اول فریق د دلیل جواب:- حنیفان ددې جواب کښې وائی چه دلته یو مضاف محذوف دې یعنی ((عندوضوءکل صلوة)) په دې باندې نقلی دلائل دا دی.ځکه چې د دې دلیل دادې چه هم د دې روایت په بعضې طرقو کښې د ((عند کل وضوء)) الفاظ راغلی دی.نودغه روایات یو طرف ته د ((عند کل صلاة)) د روایاتو نه جواب هم شو او بل طرف ته د حنفیانو دلائل هم شول.

د دویم فریق دلائل: ① دحضرت ابوهریره ﷛ څخه هم دا روایت په مستدرك حاکم کښې په دې الفاظومروی دې.(۲) ((لولاان اشق علی امتی لامرتهم بالسواك مع الوضوء عندکل صلوة)) (۳) علامه نیموی ﷫ فرمائی.اسناده صحیح. (۴) هم داروایت حافظ ابن حجر ﷫ په تلخیص کښې ذکر کړې او په دې نې سکوت کړې دې نوددوئ په نزد دا حدیث قابل استدلال دې

② امام احمد نقل کړی دی. ((عن ابی هریرة ﷛ قال رسول الله ﷺ لولا اشق علی امتی لامرتهم عندکل صلوة بوضوء ومع کل وضوء بسواک)) () مجمع الزوائد. ۲۲۱\۱باب السواک) _

③ په معجم طبرانی کښې دحضرت علی ﷛ نه دا الفاظ مرفوعاً منقول دی.((لولاان اشق علی امتی لامرتهم بالسواك مع کل وضوء))

علامه نورالدین هیثمی مجمع الزوائد ۲۲۱\۱ باب فی السواک کښې ددې حدیث نقل کولونه پس لیکی ((رواه الطبرانی فی الاوسط وفیه ابن اسحاق وهو ثقه مدلس وقدصرح بالتحدیث واسناده حسن))

④ دینه علاوه دسنن نسائی دمسنداحمدد مستدرك حاکم دصحیح ابن خزیمه او دصحیح ابن حبان په هغه روایاتو سره دحنفیانو ﷫ استدلال دې چه هغې کښې د ((عندکل صلوة)) په ځائې ((عندکل وضوء، یامع کل وضوء)) الفاظ راغلې دی.

⑤ او عقلی دلائل دا دی یودا چه صلوة والاروایتونوکښې هرځائې د "عند" لفظ راغلې دې چه په مقارنت حقیقة دلالت نه کوی بلکه که دمسواك اوصلوة په مینځ کښې څه فصل وی نو بیاهم

(۱) آثارالسنن باب السواک ۲۹،۱۲۱))

(۲) ویویده مارواه احمدبن عن ابی هریرة ﷛ قال رسول الله ﷺ لولاان اشق علی امتی لامرتهم عندکل صلوة بوضوء ومع کل وضوء بسواک ۱۲ مجمع الزوائد. ۲۲۱\۱باب السواک) _

(۳) ۱۴۱\۱ کتاب الطهارة فضیلة السواک) _

(۴) آثارالسنن باب السواک ۲۹،۱۲۱))

د ((وعند كل صلوة)) اطلاق پرې كيږي.ددې په خلاف په وضوء والا روايتونو كښې په بعضوكښې لفظ د "مع" راغلې دې چه په مقارنت حقيقةً باندې دلالت كوي.

⑥ مسواك دپاكئ حاصلولويوه طريقه ده.يعنى ددې تعلق دطهارت سره دې لكه د نسائى دابن حبان او مسنداحمدپه روايت كښې دحضرت عائشه په سند سره دا الفاظ مروى دى ((السواك مطهرة للفم ومرضاة للرب)) (۱)

⑦ دمسواك مقصد هم تنظيف الاسنان دې چه د باب طهارت ځنې دې د دې وجې ظاهره دا ده چه مسواك سنت وضوء اوګرځولې شي.

⑧ كه دعين مانځه په وخت مسواك مسنون شي.نوكه دغاښونو نه د وينې راوتلوهم ويره وى.چه د حنيفويانو په نيزناقص وضوء ده خود شافعيؤ په نزد به هم ناخوښه وى.ځكه چه د نجاست خروج خو ددوئ په نزد هم ښه نه دې.

⑨ د روايتونونه داخبره چرته هم نه ثابتيږى چه نبى كريمﷺ مانځه ته داودريدو په وخت مسواك وهلې وى ددې وجوه په بناء دمسواك صحيح ځائې وضوء معلوميږى.

وجه د ترجيح: - دا خو د حنفيانو دلائل وو.اوس يوه توجيه د ترجيح هم ذكر كولى شي. په كوم ځائې كښې چې د صلاة لفظ راغلى دې نو هلته د عند لفظ راغلې دې .او چرته چې د وضوء لفظ راغلې دې نو هلته د مع لفظ هم راغلې دې .((مع)) په مقارنت دلالت كوى او((عند)) په مقارنت دلالت نه كوى.نوچا چې د وضوء په وخت كښې مسواک استعمال كړلو.نودا د عندصلاة منافى نه دې خوكه د صلاة دپاره ئې استعمال كړونو دا نشى وئيلې چې ده د اودس دپاره مسواک اوكړو.

د شاه انور شاه رحمه الله بهترينه فيصله: - د احنافواودشوافعؤ دا اختلاف دډيرې زمانې داسې په كتابونو كښې راروان دې خو حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائى چه دا صرف نزاع لفظي ده كه يوسړې په زوره اوداسه باندې مونځ كوى. نو دحنيفو په نزد ده لره مسواك كول مسنون دى.ځكه چه شيخ ابن همام په فتح القديركښې ليكى چه په پنځه مواقعو كښې مسواك كول مستحب دى.په دې پنځه مواقع كښې دوى قيام الى الصلوة هم ذكر كړې دې ((والاستحبات والسنية كلاهمامتقاربان لايخالف بينهمايكفى لرفع الخلاف هذا القدر)) دينه معلوميږى چه دواړوكښې په حقيقت كښې څه اختلاف نشته

د برش استعمال د مسواک ځائې ليسى كه نه؟ دلته يو بحث دادې چه موجوده زمانه كښې كوم برش رائج دې نوپه دې سره سنت ادا كيږى.اوكه نه ؟ ددې محققانه جواب دادې چه دلته دوه څيزونه جداجُدا دى يو سنت السواك.

دويم المسواك المسنون تركوم چه د سنت السواك تعلق دې فقهاء ليكى چه دا د مسواك مسنون په عدم موجودګئ كښې په جامه منجن يادګوتې په مرلو هم اداء كيږى .اګر چه د استعمال المسواك المسنون سنت نه ادا كيږى دا حكم ديو حديث څخه ماخوذ دې.

(۱) نسائى ۱/۱۱ه كتاب الطهارة الترغيب فى السواک) _

Maktaba Tul Ishaat.com

دليله:- امام دارقطني رحمه الله بيهقي او ابن عدى دحضرت انس رضي الله عنه نه دامرفوع حديث نقل کړې دې ((تجزى من الاصابع)) ([1])

حافظ ابن حجر رحمه الله په دې سند څه کلام کړې دې.خوورسره ئې د حافظ ضياء مقدسى دا قول هم نقل کړې دې.((لا ارى بسنده بأسا)) ([2])

نويه منجن يا په برش په شرط ددې چه ددې ريشې پاکې وى.دې سره سنت اداکيږى البته چه دکوم برش په ريشوکښې دخنزير ريشه وى دهغې استعمال حرام دې.خو د استعمال المسواك المسنون فضيلت صرف د زيتون پيلواو دنيم کيکر په مسواك حاصليږى د منجن يابرش په استعمال سره دا فضيلت نه حاصليږى دينه علاوه دغابښونو او داورو دپاره چه څومره مفيد مسنون مسواك دې دومره بل څيز نه دې.

[۲۷۷] کورته د داخليدو نه پس د مسواک استعمال

۲۷۷-(۲) [۲] ① وَعَنْ شُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: ② «سَأَلْتُ عَائِشَةَ بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ يَبْدَأُ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-إِذَا دَخَلَ بَيْتَهُ؟ ③ قَالَتْ: بِالسِّوَاكِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① شريح ابن هانئ راوي دي ② چي ما د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه چي حضور صلى الله عليه وسلم چي به خپل کورته تشريف راوړو نو ترټولو مخکې به يي څه کول ؟ ③ هغې وفرمايل د ټولو څخه مخکې به يي مسواك وهلو. (مسلم)

حل اللغات: ① يَبْدَأُ: شروع به ئې کوله.

د راوي مختصر تعارف:

نوم شريح کنيت ابوالمقدام، اصلا خويمنى دې ولې په کوفه کښې اوسيدو. دَامير المؤمنين حضرت على رضي الله عنه په دوستانوکښې وو. دې اکثرد خپل پلار نه روايت نقل کوى دَ رضي الله عنه او حضرت بلال رضي الله عنه نه هم روايت نقل کوى. يحيى بن معين رحمه الله وغيره ده ته ثقه وئيلى دى.

وفات: دَ ابوحاتم سجستانى په قول هغه ۷۸ھ کښې قتل کړې شوې وو. (تقريب) دَ هغوى نه دَهغه څوئ ابوالمقدام، شعبى او حکم بن عقبه رحمهم الله روايت نقل کوى.

تسهيلات:

قوله: إِذَا دَخَلَ بَيْتَهُ؟:

کورته د داخليدو په وخت کښې د مسواک استعمال: يعنى کورته په راتلوباندې دَټولونه ړومبې کاربه مسواك وو. دائى امت ته تعليم ورکړو چه په کورکښې داخليدونه پس خپلې

[1]) بيهقى ۱\۴۰ باب الاستياك بالاصابع)-
[2]) تلخيص باب السواك ۱\۷۰)-
[3] مسلم کتاب الطهارة باب السواک (رقم-۲۵۳) وابوداود کتاب الطهارة . باب فى الرجل يستاک بسواک غيره (رقم-۵۱) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها باب السواک (رقم- ۲۹۰) والنسائى کتاب الطهارة/باب السواک فى کل حين(رقم-۸)

بی بی سره دَ بنګلولوغیره موقع راتلې شي. که دَخلې نه نی بدبوئی خې نو داد نفرت سبب جوړیدې شي اونفرت دَبنځې خاوند په مینځ کښې دَ جداوالی ذریعه جوړیدې شي. په دې وجه کورته دَراتلو په وخت بـه مسواک کول پکاردی چه دَخلې نه دَبدبوئې راوتلو امکان باقی پاتې نه شي.

[۳۷۸] دتهجد د مانځه د پاره د مسواک استعمال

۳۷۸–() [۳] [۱] وَعَنْ حُذَيْفَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا قَامَ لِلتَّهَجُّدِ مِنَ اللَّيْلِ [۳] يَشُوصُ فَاهُ بِالسِّوَاكِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حذیفه رضی الله عنه فرمایې [۲] چې رسول الله ﷺ چې به د شپې د تهجد د لمانځه د پاره پاسیدو [۳] نو خپله خله به یې په مسواک سره مرله او وینځله به یې. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① يَشُوصُ: أي: يُدَلِّكُ أَسْنَانَهُ: مرل به نې غابنونه (چه پاک شي).

[۳۷۹] دلسو څیزونو په فطرت کښې شاملیدل

۳۷۹–() [۴] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "«عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ: [۳] قَصُّ الشَّارِبِ، [۴] وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ، وَالسِّوَاكُ، [۵] وَاسْتِنْشَاقُ الْمَاءِ، [۶] وَقَصُّ الْأَظْفَارِ، [۷] وَغَسْلُ الْبَرَاجِمِ، [۸] وَنَتْفُ الْإِبِطِ، [۹] وَحَلْقُ الْعَانَةِ، [۱۰] وَانْتِقَاصُ الْمَاءِ) - يَعْنِي الِاسْتِنْجَاءَ - [۱۱] قَالَ الرَّاوِي: وَنَسِيتُ الْعَاشِرَةَ إِلَّا أَنْ تَكُونَ الْمَضْمَضَةُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه رضی الله عنها روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] لس څیزونه د فطرت څخه دي یعنی د دین خبري دي [۳] ① بریتونه واړه کول [۴] ② ږیره اوږدول ③ مسواک وهل [۵] ④ په پوزه کې اوبه اچول [۶] ⑤ نوکونه پریکول [۷] ⑥ د ګوتوغیره بندونه وینځل [۸] ⑦ د ترخ ویښتان صفا کول [۹] (۸) د نامه لاندې ویښتان خریل [۱۰] ⑨ اوبه کمول یعنې په اوبو سره استنجاء کول [۱۱] ⑩ د راوي یعنی مصعب یا د زکریا بیان دي چې لسم شي زما څخه هیر شو ممکنه ده چې هغه خله وینځل وي. (مسلم).

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ «الْخِتَانُ» بَدَلَ «إِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ» [۲] لَمْ أَجِدْ هَذِهِ الرِّوَايَةَ [ص: ۱۲۲] فِي «الصَّحِيحَيْنِ» وَلَا فِي كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ [۳] وَلَكِنْ ذَكَرَهَا صَاحِبُ «الْجَامِعِ» [۵] وَكَذَا الْخَطَّابِيُّ فِي «مَعَالِمِ السُّنَنِ»:

---

(۱) اخرجه بخاری کتاب الوضوء باب السواک (رقم-۲٤٥) ومسلم کتاب الطهارة باب السواک (رقم-٤٥ - (۲٥٤) والنسائی کتاب الطهارة . باب السواک إذا قام من اللیل (رقم- ۲) وابوداود کتاب الطهارة . باب السواک لمن قام من اللیل (رقم-٥٥) وابن ما جة کتاب الطهارة وسننها باب السواک (رقم- ۲۸٦) وابوداود کتاب الطهارة . باب السواک لمن قام من اللیل (رقم-٥٥)

(۲) اخرجه مسلم تاب الطهارة باب خصال الفطرة (رقم-٥٦ - (۲٦۱) وابوداود کتاب الطهارة . باب السواک من الفطرة (رقم- ٥۳) والنسائی کتاب الزینة / من السنن الفطرة (رقم- ٥٠٤٠) والترمذی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی تقلیم الأظفار (رقم - ۲۷٥۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [۱] او په یو روایت کې دویم شي د ږیري اوږدولو په ځاي ختنه (سنتول) دی[۲] او صاحب مشکوٰة فرمایي ما دا روایت نه په صحیحین یعنی په بخاري مسلم کې پیدا کړي دي او نه په کتاب حمیدي کې چې د صحیحین جامع دی [۳] البته دا روایت صاحب د جامع الاصول په خپل کتاب کې ذکر کړي دي [۵] د غسي خطابي په معالم السنن کې

حل اللغات: ① الْفِطْرَةِ: انساني طبيعت اوخلقت، ② قَصُّ: أي إِحْفَاؤُهُ: کټ کول، کمول (چه شونډې ښکاره شي). ③ الشَّارِبِ: بريت، ④ إِعْفَاءُ: أَيْ تَوْفِيرُهَا: اوږدول د ږيرې، ⑤ اسْتِنْشَاقُ: وَهُوَ جَذْبُ الْمَاءِ بِالنَّفَسِ إِلَى الْأَقْصَى: په ساه اخستلوسره اوبه راښکل چه د پوزې زيزمو يعنی ويخ ته اورسی دې ته استنشاق وائی، ⑥ الْبَرَاجِمِ: مَفَاصِلُ الْأَصَابِعِ: دا دَ برجمة جمع ده دَ ګوتوپه پيوندونوکښې چه کومې کربښې دی هغې ته وانی. ⑦ نَتْفُ: أَيْ قَلْعُ: د بيخه ويستل، ⑧ الإِبِطِ: أَيْ شَعْرِهِ: د ترخ ويخته، ⑨ حَلْقُ: خريل، ⑩ الْعَانَةِ: د نامه (ناف) نه لاندې ويخته. ⑪ انْتِقَاصُ الْمَاءِ يَعْنِي الِاسْتِنْجَاءَ: يعنی په اوبو سره استنجا کول.

تسهیلات:

قوله: الْفِطْرَةِ:

د فطرت په معنی کښې درې اقوال: ① انسانی فطرت، خلقت او طبيعت دې.
② سنن الدين دې. دَدې لفظ يوه معنی د دين طريقې دی.
③ سنن الانبياء دې. يعنی دَهغوی په خلقت کښې داخل وو نوزمونږ په خلقت کښې هم داخل دې. يعنی دالس خصلتونه انسانی طبيعت او فطرت دې. داځيزونه انسانی هيئت باقی ساتی ګنی دَ انسان هيئت به غيرفطری شی.

قوله: قَصُّ الشَّارِبِ:

د بريتانو کټ کولو طريقه: تولو الفاظو دَحديث نه دَ بريتو کټ کولو کمولوطرف ته اشاره ملاوېږی دَ خرولو ارشاد نه ملاوېږی سره دَدې چه فتاویٰ عالمګيری دې ته جائزوئيلی دی. بريت بالکل صفاکول اصل سنت دې دَ شونډو برابرو ښته اخستل هم جائز طريقه ده.

قوله: وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ:

د ږيرې پريښودو وضاحت: دادَ باب افعال نه اعفاء دَمعاف کولوپه معنی کښې دې يعنی معاف کولوسره دی ښه پريږدی او کټ کولو او خرولوسره دې نه چيړی. دَ ږيرې دَ اوږدولو څه حدنشته آوکه مخ نی وړوکې وی او دَ صلحاؤ په نيزمخ بدې لګی نو ږيره دومره کمول جائز دی چه بدې نه ښکاری. ليکن دَ يوموټی نه کمول جائزنه دی. دَ يوموټی پورې کمول دَحضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه ثابت دی ګنی په احاديثوکښې دَ اوږدولوحکم دې. ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات کښې ليکی چه ږيره کمول دَعجميانو عمل دې او نن صبا دَ ډيرو زياتو مشرکانو فرنګيانو يهودو هندوانو اوملحدانو خلقو شعار جوړ شوې دې اودَ طائفه

قلندریه دا شعارجوړشوې دې د کوم چه دین سره هیڅ واسطه نشته.
د ږیرې حکم: اود ښځوکه چرته ږیره راغله نود هغې خرول مستحب دی. ږیره ساتل واجب دی دې ته د سنت ونیلو مطلب دادې چه په سنت طریقه سره ثابته ده. رسول الله ﷺ او هرنبی اوهرصحابی ږیره ساتلوباندې همیشه والې کړې دې کوم چه د وجوب دلیل دې.
قوله: وَقَصُّ الْأَظْفَارِ:
دنوکانو کټ کولو مستحب طریقه: یعنی نوکونه پرې کول یوفطری عمل دې کوم خلق چه نوکونه اوږده وی دا د غیرفطری اوغیرانسانی فعل مرتکب دی. نوکونه پرې کول په هره طریقه جائزدی لیکن بهترطریقه داسې ده چه د ښی لاس د مسواکې ګوتې نه شروع کړی دکچې ګوتې پورې دې پرې کړی اوبیادې غټه ګوته دې پرې کړی د ګس لاس د کچې نه شروع کولوسره د غټې ګوتې پورې پرې کړی. بعضو وئیلی دی چه دښی لاس غټه ګوته پریږدی اود ګس لاس د مسواکې ګوتې نه دې شروع کړی دغټې ګوتې پورې دې پرې کړی او په آخره کښې دې د ښی لاس په غټه ګوته باندې ختم کړی. او په خپوکښې د ښې خپې د کچې ګوتې نه واخله د ګسې خپې دآخرې پورې دې پرې کړی داعام اورائج طریقه ده.
قوله: وَغَسْلُ الْبَرَاجِمِ:
د براجم په حکم کښې نور ځیزونه: دا حکم هرهغه ځائی ته عام دې چرته چه خیرې جمع کیږی. مثلاً د غوږ نه چاپیره اودې دننه حصه، پوزه او په دې کښې دننه چه کوم خیری جمع کیږی یا د بدن باقی حصوکښې چرته چه خیرې جمع کیږی ټول په دې کښې داخل دی.
قوله: وَنَتْفُ الْإِبِطِ:
د ترخ ځه د ویختو لرې کولو طریقه: سنن الانبیاء دې. یعنی دهغوی په خلقت کښې داخل وو نوزمونږ په خلقت کښې هم داخل دې. نتف د راویستلو په معنی کښې دې لهذا دالفظ ښائی چه د ترخ ویښته په چاړه سره نه دی صفاکول پکار ځکه چه په دې سره ویښته ګنړیږی اوخنګلی کیږی اوبیابدبوئی پیداکیږی. په ګوتوسره د شروع نه چه ددې عادت جوړکړې شی بیادا ویښته په آسانئی سره راویستې شی
قوله: وَحَلْقُ الْعَانَةِ:
د نامه نه لاندې ویښتولرې کولو طریقه: یعنی دنامه نه لاندې ویښته خرول ابن ملك (چه یوفقیه دې) فرمائی چه دنامه نه لاندې ویښتوکښې خرول سنت دی په بل څه طریقه سره صفاکولوکښې به سنت نه اداکیږی بعضو بال صفا او په نوره سره صفاکولوته هم جائز وییلی دی مګر په قینچی سره پرې کول جائزنه دی. د سړودپاره په اوسپنه باندې خرول د قوت باه سبب دی اود ښځودپاره دنامه نه لاندې ویښته په ګوتو راویستل بهتر دی په دې

Maktaba Tul Ishaat.com

سره دَهغوی شهوت کنټرول کیږی خوهغوی بال صفا اونوره هم استعمالولی شی مګر دَهغوی دَپاره خرول خلاف سنت دی.

د ترخ ویښته وغیره لرې کولو دپاره مسنون موده: دَ مسلم شریف روایت کښې دی چه حضورپاك دَ صحابه کرامودَپاره دَ بریت صفا کولو نوکونه پرې کولو دَ ترخ ویښته صفاکولو اودَ نامه نه لاندې ویښته صفا کولودَپاره دَ زیات نه زیات څلویښت ورځې وخت مقررکړې وو نودَپوره امت دَپاره هم دغه تعلیم دې علماؤ داترتیب خودلې دې چه هره هفته دې صفائی حاصلوی ګنی پنځلس ورځوکښې دې حاصله کړی ګنی په څلویښت ورځو کښې دې حاصل کړی دې نه زیات وخت لګول مکروه تحریمی دی.

په لسو څیزونو کښې د ابراهیم علیه السلام امتحان اخستل: بعضې روایاتو کښې راغلی دی چه دا لس څیزونه هغه وودکوم په ذریعه چه الله تعالی دَحضرت ابراهیم علیه السلام امتحان اخستې وو دکوم طرف ته چه په دې آیت کښې اشاره ده ﴿ وَإِذِ ابْتَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ ﴾ نودادَحضرت ابراهیم علیه السلام سنت وو اودَ ټولو انبیاء کرامو سنت وو اودَ امتونو دَ فطرت حصه جوړه شوه.

۳۸۰ـ( )[۰][۱] وَعَنْ أَبِي دَاوُدَ، بِرِوَايَةِ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ.

ترجمه: [۱] د ابو داود په حوالي سره د عماربن یاسردروایت څخه نقل کړي دي.

الْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۸۱] مسواك او د الله تعالی رضا

۳۸ـ( )[۵] [۱] عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] " «السِّوَاكُ مَطْهَرَةٌ لِلْفَمِ [۳] مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ» " رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ وَأَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ وَالنَّسَائِيُّ، وَرَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِي صَحِيحِهِ بِلَا إِسْنَادٍ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه رضي الله عنها روایت کوي چې رسول صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] مسواك وهل د خلي د پاکي سبب دي [۳] د پروردګار د رضا باعث دي. (شافعي، احمد دارمي نسائي) او امام بخاري رحمه الله دا حدیث په خپل صحیح جامع بخاري کې بغیر د سند څخه نقل کړي دي.

حل اللغات: ① مَطْهَرَةٌ: مصدر میمی دې په معنی د اسم فاعل سره، أَيْ: مُطَهِّرٌ لِلْفَمِ: خُله پاکونکې، ② مَرْضَاةٌ: مصدر میمی دې په معنی د اسم فاعل سره، أَيْ مُحَصِّلٌ لِرِضَا اللَّهِ تَعَالَىٰ: د الله تعالی د رضا حاصلونکې.

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة . باب السواک من الفطرة (رقم- ۵۴) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها باب الفطرة (رقم-۲۹۴)

(۲) اخرجه النسائی کتاب الطهارة . باب الترغیب فی السواک (رقم- ۵) والدارمی کتاب الطهارة/باب السواک مطهرة للفم (رقم-۷۱۱)

[۳۸۲] د څلورو څيزونو د سنة الانبياء ښخه کيدل

۳۸۲-(۱) [۶] ① وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② «أَرْبَعٌ مِنْ سُنَنِ الْمُرْسَلِينَ: ③ الْحَيَاءُ - وَيُرْوَى الْخِتَانُ - ④ وَالتَّعَطُّرُ، وَالسِّوَاكُ، وَالنِّكَاحُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① ابو ايوب رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② څلور څيزونه د رسولانو د طريقې څخه دي ③ ① حياء کول (په يوروايت کې) ختنه کول روايت دي [يعني په دي روايت کې خو الْحَيَاءُ لفظ دي او په بعضې روايتونو کې د دې په ځاي الْخِتَانُ لفظ راغلي دي] ④ ② خوشبو لګول ③ مسواک وهل ④ نکاح کول. (ترمذي)

حل اللغات: ① سُنَنِ: جمع د سنة ده، طريقه، ② الْمُرْسَلِينَ: د اسم مفعول صيغه ده، راليږلی شوی يعنی انبياء کرام. ③ الْحَيَاءُ: حياء، شرم کول (هغه کارونه چه دهغې په کولو باندې انسان شرميږی او په معاشره يا په شرع کښې بد ګنړلې کيږی). ④ الْخِتَانُ: سنت کول. ⑤ التَّعَطُّرُ: أَيِ التَّطَيُّبُ بِالطِّيبِ: خوشبو لګول.

[۳۸۳] د خوب څخه وروسته د مسواک استعمال

۳۸۳-(۲) [۷] ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَا يَرْقُدُ مِنْ لَيْلٍ وَلَا نَهَارٍ فَيَسْتَيْقِظُ ③ إِلَّا يَتَسَوَّكُ قَبْلَ أَنْ يَتَوَضَّأَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي ② حضور ﷺ چې به کله د شپې او ورځې دخوب څخه وروسته پاڅيدلو ③ نو اودس کولو څخه مخکې به يې مسواک وهلو. (احمد، ابوداؤد)

حل اللغات: ① لَا يَرْقُدُ: أَيْ: لَا يَنَامُ: نه به اوده کيدو.

[۳۸۴] د مسواک وينځل

۳۸۴-(۳) [۸] ① وَعَنْهَا قَالَتْ: ② «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَسْتَاكُ، فَيُعْطِينِي السِّوَاكَ لِأَغْسِلَهُ ③ فَأَبْدَأُ بِهِ فَأَسْتَاكُ، ثُمَّ أَغْسِلُهُ وَأَدْفَعُهُ إِلَيْهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي ② چې رسول الله ﷺ به مسواک وهلو بيا به يې ماته راکولو چې زه هغه ووينځم ③ نو ما به د حضور ﷺ څخه مسواک اخستو سره اول به مې په هغې سره خپله مسواک کولو بيا به مې ووينځلو او حضور ﷺ ته به مې ورکولو (ابوداؤد)

حل اللغات: ① فَأَبْدَأُ: اول به ما استعمالولو، ② أَدْفَعُهُ: ورکولو به مې نبی عليه السلام ته.

---

(۱) اخرجه الترمذی کتاب النکاح عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی فضل التزویج، والحث علیه (رقم-۱۰۸۰)

(۲) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة . باب السواک لمن قام من اللیل (رقم-۵۷)

(۳) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة . . باب غسل السواک (رقم-۵۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۸۵] په دوو کسانو کښې مسواک مشر ته ورکول

۲۸۵–(۱) [۹] ① عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«أَرَانِي فِي الْمَنَامِ أَتَسَوَّكُ بِسِوَاكٍ، ③ فَجَاءَنِي رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنَ الْآخَرِ، ④ فَنَاوَلْتُ السِّوَاكَ الْأَصْغَرَ مِنْهُمَا، ⑤ فَقِيلَ لِي: كَبِّرْ، فَدَفَعْتُهُ إِلَى الْأَكْبَرِ مِنْهُمَا» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابن عمر رضی الله عنهما راوي دي چې یوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمایل ② چه ما خپل ځان په خوب کې ولیدلو چې زه مسواک وهم ③ (په دي دوران کې) دوه سړي ماته راغلل په هغوئ کې یو سړي د بل څخه لوي وو ④ ما په هغوئ کې هغه کشر ته د مسواک ورکولو اراده وکړه ⑤ خو ماته اوویل شو چې مشر ته مسواک ورکړه نو ما په هغوئ کې مشر ته مسواک ورکړلو. (بخاري او مسلم)

حل اللغات: ① كَبِّرْ: أَيْ: قَدِّمِ الْكَبِيرَ فِي السِّنِّ: یعنی مخکښې هغه کس ته ورکوه چه هغه په عمر کښې زیات وی.

تسهیلات:

قوله: أَرَانِي:

د پیغمبر د خوب حکم: یعنی ما خپل ځان په خوب کښې اولیدو. د انبیاؤ علیهم السلام خوب هم وحی وی. نو کوم عمل چې هغوئ په خوب کښې اوکړو هغه د امت دپاره شریعت جوړیږی.

مسواک مشر ته ورکول: نوګویا چه مسواک د اعزاز او اکرام یو سبب دې. نو نبی علیه السلام مشر لره دا اکرام ورکړو. ددې حدیث پاك نه پس راتلونکې د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها حدیث نمبر(۲۸۸) کښې داشان یوه قصه په بیداری کښې راتلل مذکور دی او هغې کښې نبی کریم ﷺ ته د وحی په ذریعه حکم اوشو چې مسواک دې مشر کس ته ورکړه.

د مسواک فضیلت: دې حدیث پاك نه پس په ډیرو احادیثو کښې د مسواك ډیر زیات ترغیب ورکړې شوې دې. حدیث نمبر(۲۸۶) کښې ﴿لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ أُحْفِيَ مُقَدَّمَ فِيَّ﴾ الفاظ راغلی دی، احفاء پټ اړولو ته وائی. نبی کریم ﷺ فرمائی چې جبرائیل امین علیه السلام په مسواک باندې دومره زور ورکړو چې په مسواک مسواک کولوماسره ویره پیدا شوه چې په خله کښې مخکښې حصې نه پټ وانړوم، فې، په فم کښې یولغت دې، په شدسره خلې ته وائی.

---

(۱) اخرجه البخاری کتاب الوضوء باب دفع السواک إلی الأکبر (رقم-۲۴۶) ومسلم کتاب الرؤیا باب رؤیا النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۱۹ - (۲۲۷۱)

[۳۸۶] د جبريل عليه السلام بار بار د مسواک حکم کول

۳۸۶—() [۱۰] ①وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «مَا جَاءَنِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَطُّ إِلَّا أَمَرَنِي بِالسِّوَاكِ ③ لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ أُحْفِيَ مُقَدَّمَ فِيَّ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ① ابي امامه رضي الله عنه وايي چه رسول ﷺ وفرمايل ② چې كله به هم جبرائيل علیه السلام ماته راتلو نو ماته به يې د مسواك كولو حكم كولو ③ (تر دې چې) زما سره دا خوف شو (چې د مسواك زياتي سره) زه چرته د خپلي خلي مخكې حصه ونه خيرم. (احمد)

حل اللغات: ① قَطُّ: كله هم ② خَشِيتُ: أي خِفْتُ: زه ويريدم. ③ أُحْفِيَ: أي اَسْتَأْصِلَ: دا د احفاء نه دې، د بيخه ختمولو ته وائي. ④ مُقَدَّمَ فِيَّ: أي لِثَتِي: د خلي مخكښې حصه يعنى اوري.

[۳۸۷] د نبي عليه السلام خپل امت ته د مسواک تاکيد

۳۸۷—() [۱۱] ①وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «لَقَدْ أَكْثَرْتُ عَلَيْكُمْ فِي السِّوَاكِ» رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چه رسول ﷺ وفرمايل ② ما تاسو ته د مسواك په شان كې ډير څه بيان كړيدي. (بخاري)

[۳۸۸] د مسواک په ورکړه کښې مشر ته ترجيح ورکول

۳۸۸—() [۱۲] ①وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَسْتَنُّ وَعِنْدَهُ رَجُلَانِ، ③ أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنَ الْآخَرِ، ④ فَأُوحِيَ إِلَيْهِ فِي فَضْلِ السِّوَاكِ أَنْ كَبِّرْ، ⑤ أَعْطِ السِّوَاكَ أَكْبَرَهُمَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي ② چې رسول ﷺ مسواك وهلو او دوه سړي ورسره وو ③ چې په هغوي كښې يو د بل څخه مشر وو ④ نو د مسواك په فضيلت كې حضور ﷺ ته دا وحي وشوه چې لوي (مشر) مقدم اوساته ⑤ او په هغه دوارو كې مشر ته مسواك وركړه. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① يَسْتَنُّ: أي: يَسْتَاكُ: مسواك ئې وهلو. ② كَبِّرْ: أي: قَدِّمِ الْكَبِيرَ فِي السِّنِّ: يعنى مخكښې هغه كس ته وركوه چه هغه په عمر كښې زيات وى.

---

(۱) اخرجه ابن ماجة كتاب الطهارة وسننها باب السواك (رقم- ۲۸۹)

(۲) اخرجه البخاري كتاب الجمعة باب السواك يوم الجمعة (رقم-۸۸۸) والنسائى كتاب الطهارة . باب الترغيب فى السواك (رقم- ۶) والدارمى كتاب الطهارة /باب فى السواك (رقم-۷۰۸) ۳۸۷ - (وعن أنس قال: قال رسول الله - صلى الله عليه وسلم -:

(۳) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة . باب فى الرجل يستاك بسواك غيره (رقم- ۵۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۳۸۹] د مسواک مونځ بغیر مسواک مونځ څخه یو په اویا درجې زیات ثواب لرل

۳۸۹-(۱) [۱۳] ١ وَعَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ «تَفْضُلُ الصَّلَاةُ الَّتِي يُسْتَاكُ لَهَا ٣ عَلَى الصَّلَاةِ الَّتِي لَا يُسْتَاكُ لَهَا سَبْعِينَ ضِعْفًا». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: ١ او بي بي عائشه رضي الله عنها راویه ده چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ هغه مونځ چې د هغه د پاره مسواک ووهل شي (یعني د اودس په وخت کې) ٣ په هغه مونځ چې د هغه د پاره مسواک نه وي وهل شوي اویا ۷۰ درجې فضیلت لري. (بیهقي)

حل اللغات: ① تَفْضُلُ: أَيْ: تَزِيدُ فِي الْفَضِيلَةِ: یعنی په فضیلت اوثواب کښې زیاتیږي. ② ضِعْفًا: أَيْ مِثْلَ الْعَدَدِ الْمَذْكُورِ: یعنی د مذکوره شمیر دوچند ته ضعف وائی (په کسرې سره).

[۳۹۰] هر مانځه ته د فرض په حیث د مسواک د استعمال حکم ورکولو اراده کول

۳۹۰-(۲) [۱۴] ١ وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: «لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي ٣ لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ ٤ وَلَأَخَّرْتُ صَلَاةَ الْعِشَاءِ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ.

ترجمه: ١ ابوسلمه دزید بن خالد الجهني رضي الله عنه څخه روایت کوي ٢ چې ما د رسول ﷺ څخه اوریدلي دي چه که ما دخپل امت د پاره دا ګران نه ګڼلای ٣ نو هغوی ته به مې د هر لمانځه د پاره د مسواک وهلو حکم ورکړي وو (یعني دا اعلان به مې کړي وو چې د هر لمانځه په وخت مسواک وهل واجب دي) ٤ او ما د ماسخوتن په لمانځه کې تر دریمې حصې د شپې پورې تاخیر کولو.

١ قَالَ: فَكَانَ زَيْدُ بْنُ خَالِدٍ يَشْهَدُ الصَّلَوَاتِ فِي الْمَسْجِدِ ٢ وَسِوَاكُهُ عَلَى أُذُنِهِ مَوْضِعَ الْقَلَمِ مِنْ أُذُنِ الْكَاتِبِ ٣ لَا يَقُومُ إِلَى الصَّلَاةِ إِلَّا اسْتَنَّ، ثُمَّ رَدَّهُ إِلَى مَوْضِعِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، ٤ وَأَبُو دَاوُدَ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ: «وَلَأَخَّرْتُ صَلَاةَ الْعِشَاءِ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ». ٥ (وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: ١ د راوي بیان دي چې د دي څخه وروسته زید بن خالد رضي الله عنه به چې کله د لمانځه د پاره راتلو ٢ نو مسواک به یې په غوږ کې ایښي وو څنګه چې کاتب په غوږ کې قلم ایږدي ٣ هغه چې به کله مونځ ته ودریدلو نو سمدستي مسواک به یې وهلو او بیابه یې په غوږ کې ایښودو. ابوداؤد ترمذي، ٤ ابوداؤد لَأَخَّرْتُ صَلَاةَ الْعِشَاءِ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ الفاظ نه دي ذکر کړي ٥ او ترمذي ویلي دي چې دا حدیث حسن صحیح دي.

حل اللغات: ① أَشُقَّ: أَيْ ثَقُلَ: که مشقت پرې نه جوړیدو، ګرانه ورته نه وي.

---

(۱) اخرجه احمد فی المسند ۲۷۲/۶ والبیهقی فی شعب الایمان

(۲) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحدیث ۲۳ وابوداود کتاب الطهارة، باب السواک (رقم-۴۷)

[۴/۹] بَابُ سُنَنِ الْوُضُوءِ

دَاودس دَ سنتو بيان

خلاصة الباب:

فيه خمسة وثلاثون حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① سنن الوضوء: ۱، ۲، ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳،۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۳۴، ۳۵۔

② التثليث في الوضوء: ۳، ۴، ۵، ۲۳، ۲۸، ۲۹، ۳۰۔

③ الزجر لمن لا يراعي حقوق الوضوء: ۶، ۱۰، ۲۴، ۲۵، ۳۴۔

④ التنشيف بعد الوضوء: ۲۶، ۲۷۔

⑤ الوضوء لكل صلوة: ۳۱، ۳۲۔

د سنت نه مراد: علامه طيبي رحمه الله فرمائي چه دلته دَ سنن الوضوء په عنوان سره صرف دَاودس سنت مراد نه دي بلکه دلته دَ حضورپاك اقوال افعال اوتقريرات ټول مراددي. اوکه هغه سنت وي که فرض وي، لکه څنګه چه دَ فرض اوواجب باره کښې هم کله کله راځي چه په سنت کښې داسې راغلي دي حالانکه هلته صرف سنت مراد نه وي بلکه په سنت طريقې سره ثابت دَ شريعت حکم مراد وي لهذا په دې باب کښې به سنت فرائض او آداب او استحباب ټول بيانيږي. [الکاشف: ۲/۷۱]

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۳۹] دخوب څخه پس بغير وينځلو په لوښي کښې د لاس داخلولو کراهت

۳۹-(۱)[۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ [۳] فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا، [۴] فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دې فرمائي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد فرمائي: [۲] کله چې تاسو کښې څوك دَ خوب نه پاسي (نوهغه له پکار دی چې) [۳] خپل لاس

(۱) اخرجه البخاري كتاب الوضوء باب الاستجمار وترا(رقم-۱۶۲) ومسلم كتاب الطهارة باب كراهة غمس المتوضئ وغيره يده المشكوك في نجاستها في الإناء قبل غسلها ثلاثا(رقم-۸۷ - (۲۷۸) وابوداود كتاب الطهارة ، باب في الرجل يدخل يده في الإناء قبل أن يغسلها (رقم- ۱۰۵) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب: الرجل يستيقظ من منامه، هل يدخل يده في الإناء قبل أن يغسلها (رقم-۳۹۳) ومالك في الموطا كتاب الطهارة باب وضوء النائم إذا قام إلى الصلاة(رقم- ۹) والنسائي كتاب الطهارة ،تأويل قوله عز وجل: {إذا قمتم إلى الصلاة فاغسلوا وجوهكم وأيديكم إلى المرافق} [المائدة: ۶](رقم - ۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ اوبو لوښی کښې نه وهی ترکومې پورې چه هغه دَ مړوندونو پورې درې ځل او نه وينځی[۴] دا ځکه چه ده ته نه ده معلومه چه تېوله شپه دَ ده لاس کوم کوم ځائی پاتې دې.
(متفق عليه)

حل اللغات: ①فَلَايَغْمِسْ: نه دې وهی، نه دې داخلوی (لاس)، ②لَايَدْرِي: أَيْ: لَايَعْلَمُ: پته ورته نشته، نه دې خبر، ③بَاتَتْ: شپه تيره کړې ده.

تسهيلات:

قوله: فَلَايَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ:

د خوب ځخه پس په لوښی کښې د لاس داخلولو ممانعت: دلته دَاودس دَ آدابونه يوادب دا خودلې شوې دې چه کله اوده شئی اوراپاسئی نودَ اوبوپه لوښی کښې دَ لاس وهلونه وړاندې درې ځل لاسونه وينځئی بغيردَ وينځلو نه په کښې لاس مه وهئی. اوس دا لاس وينځل واجب دی يا سنت دی په دې کښې داتفصيل دې چه که په لاس باندې دَ ګندګئی لګيدويقين يا غالب ګمان وی نوبيالاس وينځل واجب دی اوکه صرف شك اواحتمال وی نو لاسونه ويځل مسنون يا مستحب دی.

په لوښی کښې د دلاس داخلولو ځخه وړاندې دلاس په وينځلو کښې مذاهب:

دې کښې اختلاف دې چه دغسل اليدين دا حکم دکومې درجې دې

① امام اسحاق رحمه الله او داؤد رحمه الله ظاهری دا د وجوب دپاره ګرځوی او علامه ابن قدامه په المغنی کښې دامام احمد رحمه الله داقول نقل کړې دې.چه ددوئ په نزد داحکم وجوبی دې.

② خوامام شافعي رحمه الله دې حکم ته علي الاطلاق مسنون وائی

③ امام مالك رحمه الله علي الاطلاق مستحب

④ دحنفيانو په نزد دې مسئله کښې تفصيل دې. کوم چه علامه ابن نجم په البحرالرائق کښې بيان کړې دې.که په لاسونود نجاست لګيدو يقين وی نو غسل اليدين فرض دې. اوکه ظن غالب وی نو واجب اوکه شك وی نو مسنون او که شك نهَ وی نو مستحب دې.

داختلاف مدار: په اصل کښې جمهورو دلته د نجاست وهم د حکم علت ګرځولې دې.د دې وجه د حکم مدارپه دې دې.او ددې وجه ددوئ په نزد دشپې او د ورځې څه تفصيل شته اونه داحکم دوجوب دپاره دې.ځکه چه وهم سره وجوب نه ثابتيږی ددې په خلاف امام احمد رحمه الله دعلت مستنبط کولوپه ځائې دحديث د ترمذی په ظاهری الفاظوعمل کوی.ددې وجه دوئ دشپې اودورځې تفصيل اوکړو.اوحکم ئې دوجوب دپاره ګرځولې دې

په اوبو کښې د لاس داخلو ځخه پس د دغه اوبو په حکم کښې مذاهب:

دلته يوه مسئله داده.که يو سړې په دې حکم عمل اونه کړی او دبيدارېدونه پس لاسونه

دوینځلونه بغیر په لوښې کښې ورننه باسی نو ددې څه حکم دې ؟

① دحضرت حسن بصری رحمه الله نه منقول دې چه دلوښې اوبه به مطلقاً نجس شی.
② دامام احمد رحمه الله په نزد که اوبه کثیروی نونجس به نه وی اوکه قلیل وی نونجس به وی.
③ دامام شافعی رحمه الله په نزد اوبه خوبه نجس نه وی.خومکروه به وی.
④ دامام مالك رحمه الله په نزد به اوبه بلاکراهت پاکې وی
⑤ د حنفیانو په نزد هم هغه تفصیل دې.چه کوم ماقبل بیان شو.

د خوب څخه پس د لاس د وینځلو په حکمت کښې دوه اقوال:

① علامه نووی رحمه الله دامام شافعی رحمه الله اود نوروفقهاؤ نه نقل کړی دی.چه دغسل الیدین نه پس استیقاظ من منامه د حکم پس منظر دا دې چه اهل عربوبه عموماً لنګ اغوستو اوملك ګرم وو خوله به ډیره وه اوعام د استنجاء بالحجارة رواج وو نو .دغه زمانه کښې زیات احتمال وو.چه د اوده سړی لاس څه مقام نجس ته اورسیږی ګنده شی.د دې وجه دا حکم اوشو د دې تقاضا دا ده چه کوم سړی استنجاء بالماء کړې وی.یاپرتوګ ئې اغوستې وی نو ده دپاره داحکم نه دې.

② خوعلامه ابوالولیدباجی مالکی رحمه الله فرمائی.چه دې معامله کښې داهل عراقوقول ډیر ښه دې چه په اصل کښې دا حکم دطهارت په ځائې دنظافت سره تعلق لری.یعنی که دلاس د نجس کیدو احتمال نه وی. نو بیا هم د اوده کیدونه پس لاس وینځلونه بغیر لوښې ته ننویستل د نظافت خلاف دی.اوشریعت کښې دطهارت سره نظافت هم مطلوب دې.ددې وجه دا حکم صرف د دغه زمانې سره مخصوص نه وو.بلکه ټولو انسانانو ،ټولو زمانو اوټولوعلاقو دپاره دا حکم عام دې.

[۲۹۲] د خوب څخه وروسته دريٍ واره پوزه سونړول

۲۹۲-(۱)[۲] ①وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ②«إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ ③ فَلْيَسْتَنْثِرْ ثَلَاثًا ④فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَبِيتُ فِي خَيْشُومِهِ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ".

ترجمه: ① دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دې فرمائی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائی: ② کله چې تاسو کښې څوك دَ خوب نه پاسی [او دَ اودس اراده اوکړی] ③ نو درې ځل دې (پوزه کښې اوبه واچوی) پوزه دې صفا کړی ④ ځکه چه دَ ده دَ پوزې په سپیږمو باندې شیطان شپه تیروی. (بخاری و مسلم)

حل اللغات: ① فَلْيَسْتَنْثِرْ: پوزه دې سونړ کړی یعنی پوزه کښې ئې چه کومې اوبه اچولې دی هغه دې اوباسی، ② يَبِيتُ: شپه تیروی، ③ خَيْشُومِهِ: أي أَقْصَى أَنْفِهِ: په پوزه کښې دننه حصه.

(۱) اخرجه البخاري بدء الخلق باب صفة إبليس وجنوده(رقم: ۳۲۹۵) ومسلم كتاب الطهارة باب الإيتار في الاستنثار والاستجمار(۲۲ - (۲۳۸) والنسائيكتاب الطهارة ، باب الأمر بالاستنثار عند الاستيقاظ من النوم (رقم- ۹۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۲۹۲] د نبي عليه السلام د اودس طريقه

۲۹۳-(۱) [۰] [۱] «وَقِيلَ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ: [۲] كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَتَوَضَّأُ؟ [۳] فَدَعَا بِوَضُوءٍ [۴] فَأَفْرَغَ عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَ يَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ، [۵] ثُمَّ مَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلَاثًا [۶] ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا ثُمَّ غَسَلَ يَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ،

ترجمه: [۱] او د حضرت عبد الله بن زيد بن عاصم رضي الله عنه څخه پوښتنه وشوه [۲] چې رسول ﷺ به څنګه اودس کولو [۳] (په دې اوريدو سره) حضرت عبد الله رضي الله عنه د اودس اوبه راوغوښتې (کوم وخت چې اوبه راوړل شوې) [۴] نو هغه په دواړو لاسونو باندې اوبه واچولې او هغه يې تر مړوندونو پورې دوه دوه ځله وينځل [۵] بيا يې خله وينځله او اوبه اچولو سره يې پوزه صفا کړه درې ځله [۶] بيا خپل مخ يې درې ځله ومينځلو بيا خپل دواړه لاسونه يې دوه دوه ځله تر څنګلو پورې ومينځل

حل اللغات: ① فَدَعَا: أَيْ طَلَبَهُ: راؤ ئې غوښتلې، ② وَضُوءٍ: أَي مَا يَتَوَضَّأُ بِهِ: د اودس اوبه مراد دي. ③ فَأَفْرَغَ: أَيْ: صَبَّ الْمَاءَ: راوانې رولې اوبه، ④ الْمِرْفَقَيْنِ: د مرفق تثنيه ده، څنګل ته وائي،

[۱] ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ بِيَدَيْهِ، فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ، [۲] بَدَأَ بِمُقَدَّمِ رَأْسِهِ، ثُمَّ ذَهَبَ بِهِمَا إِلَى قَفَاهُ، [۳] ثُمَّ رَدَّهُمَا حَتَّى رَجَعَ إِلَى الْمَكَانِ الَّذِي بَدَأَ مِنْهُ، [۴] ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ». رَوَاهُ مَالِكٌ، وَالنَّسَائِيُّ. وَلِأَبِي دَاوُدَ نَحْوُهُ ذَكَرَهُ صَاحِبُ الْجَامِعِ.

ترجمه: [۱] بيا دواړو لاسونو سره يې د سر مسح وکړله (داسې چې) دواړه لاسونه يې د مخې طرف څخه شاته بوتلل او شا طرف څخه يې مخې ته راوستل [۲] يعنې هغه د خپل سر د مخکې جانب څخه شروع وکړه او دواړه لاسونه يې تر څټ پورې بوتلل [۳] بيا هغه ګرځولو سره هغه ځاي ته يې واپس راوستل د کوم ځاي څخه يې چې شروع کړې وو [۴] او بيا دواړه پښې يې ومينځلې، (مالك، نسائي، ابوداود)

حل اللغات: ⑤ قَفَاهُ: دهغه څټ.

[۲۹۳] د نبي عليه السلام اودس نقل کول

۲۹۴-(۲) [۰] [۱] وَفِي الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ: «قِيلَ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ: [۲] تَوَضَّأْ لَنَا وُضُوءَ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۳] فَدَعَا بِإِنَاءٍ، فَأَكْفَأَ مِنْهُ عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَهُمَا ثَلَاثًا [۴] ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفٍّ وَاحِدَةٍ. فَفَعَلَ ذٰلِكَ ثَلَاثًا [۵] ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا، فَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا [۶] ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ

---

(۱) اخرجه البخاری كتاب الوضوء باب مسح الرأس كله (رقم-۱۸۵) ومسلم كتاب الطهارة باب فى وضوء النبى صلى الله عليه وسلم (ررقم-۱۸ - (۲۳۵) وابوداود كتاب الطهارة . باب صفة وضوء النبى صلى الله عليه وسلم (رقم- ۱۱۸) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/بباب ما جاء فى مسح الرأس (رقم- ۴۳۴) ومالک كتاب الطهارة باب العمل فى الوضوء (رقم- ۱) والنسائى كتاب الطهارة/باب صفة مسح الرأس(رقم-۹۸)باب صفة مسح الرأس (رقم- ۹۸)

(۲) اخرجه البخاری كتاب الوضوء باب مسح الرأس كله (رقم-۱۸۵) ومسلم كتاب الطهارة باب فى وضوء النبى صلى الله عليه وسلم (ررقم-۱۸ - (۲۳۵) وابوداود كتاب الطهارة . باب صفة وضوء النبى صلى الله عليه وسلم (رقم- ۱۱۸)

فَاسْتَخْرَجَهَا، فَغَسَلَ يَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ، ۷ ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا، فَمَسَحَ بِرَأْسِهِ، ۸ فَأَقْبَلَ بِيَدَيْهِ وَأَدْبَرَ، ۹ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ، ۱۰ ثُمَّ قَالَ: هٰكَذَا كَانَ وُضُوءُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»

ترجمه: ۱ او په بخاري او مسلم کې دا روایت داسې دي چې حضرت عبد الله بن زید بن عاصم رضي الله عنه ته اوویل شو ۲ چې څنګه به رسول الله ﷺ اودس کولو هغسي ته زموږ په مخکې اودس اوکړه ۳ نو عبد الله بن زید رضي الله عنه د اوبو لوښي راوغوښتي او لوښي چې راوړل شو نو هغه یې را کوږ کړ او د هغه څخه یې خپلو دواړو لاسونو باندې اوبه واچولي هغه یې درې خله ومینځل ۴ بیا یې لاس په لوښي کې دننه کړو او د هغې څخه یې اوبه راوښکلي بیا هغه په یوه لپه خله وینځله او په پوزه کې یې اوبه واچولي دیوه ورغوی څخه دغسې هغه درې خله وکړل ۵ بیا هغه خپل لاس په لوښي کې اچولو سره راؤښکلو اومخ یې درې خله وینځلو ۶ بیا هغه خپل لاس په لوښي کې اچولو سره راوایستلو اودواړه لاسونه یې ترڅنګلوپورې دوه دوه ځل وینځل ۷ بیا هغه خپل لاس په لوښي کې اچولو سره راؤښکلو او د سر مسح یې (داسې) وکړله ۸ چې خپل دواړه لاسونه یې د مخکې څخه د وروسته طرف ته کش کړه بیا د وروسته څخه یې د مخکې طرف ته راوستل ۹ بیا یې خپلې دواړې پښې تر بجلکو (ګیټو) پورې ومینځلې ۱۰ بیا یې وفرمایل د حضور ﷺ دغسې اودس وو،

۱ وَفِي رِوَايَةٍ: «فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ، ۲ بَدَأَ بِمُقَدَّمِ رَأْسِهِ، ثُمَّ ذَهَبَ بِهِمَا إِلَى قَفَاهُ، ۳ ثُمَّ رَدَّهُمَا حَتَّى رَجَعَ إِلَى الْمَكَانِ الَّذِي بَدَأَ مِنْهُ، ۴ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ». ۵ وَفِي رِوَايَةٍ: «فَمَضْمَضَ ۶ وَاسْتَنْشَقَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلَاثَ بِثَلَاثِ غَرَفَاتٍ مِنْ مَاءٍ». ۷ وَفِي رِوَايَةٍ أُخْرَى: «فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفَّةٍ وَاحِدَةٍ، فَفَعَلَ ذٰلِكَ ثَلَاثًا». ۸ وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ: «فَمَسَحَ رَأْسَهُ ۹ فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ مَرَّةً وَاحِدَةً، ۱۰ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ. ۱۱ وَفِي أُخْرَى لَهُ: فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ مِنْ غَرْفَةٍ وَاحِدَةٍ».

ترجمه: ۱ او د بخاري او مسلم په یو روایت کې داسې دي چې (د مسح د پاره یې) خپل دواړه لاسونه د مخکې څخه وروسته طرف ته بوتلل بیا د وروسته څخه د مخکې طرف ته یې راوستل ۲ یعنی د خپل سر د مخکني حصې څخه یې مسح شروع کړه او لاسونه یې ترڅټ پورې بوتلل ۳ بیا د څټ د طرف څخه یې هلته راوستل د کوم ځای څخه چې مسح شروع کړې وه ۴ بیا یې خپلې پښې ومینځلې، ۵ د صحیحینو په یو بل روایت کې داسې دي چې خله یې وینځله ۶ اویو لپه سره یې په پوزه کې اوبه واچولي دغسې یې درې ځله وکړل، ۷ اوپه بل روایت کې داسې دی چې په خله او پوزه کې یې دیوه ورغوی څخه اوبه واچولی اوداکاریې درې ځله وکړی ۸ اود بخاري دیو روایت الفاظ دا دي او د سر مسح یې وکړه (داسې چې) ۹ خپل دواړه لاسونه یې د مخکې څخه وروسته طرف ته بوتلل او د وروسته څخه یې مخکې طرف ته راوستل او داسې یې یو ځل وکړل ۱۰ بیا دواړه پښې یې

Maktaba Tul Ishaat.com

تر بجلكو پورې ومينځلي،⑪ د بخاري د يو بـل روايت الفـاظ دا دي نو خله يې وينځله او پوزه يې صرف په يوه لپه درې خله سونږ (صفا) كړه.

حل اللغات: ①فَأَكْفَأَ: اى أَمَالَ: راتونې كړو، راوانې ړولو، ②كَفٍ: اى غُرْفَةٍ: لپه، چونګ، ③الْكَعْبَيْنِ: د كعب تثنيه ده، د خپو ګيټې.

تسهيلات:

قوله: وَاسْتَنْثَرَ ثَلَاثَ: يعنى درې ځل دې په پوزه كښې اوبه وا چوى او سونږ دې كړى، دې ته استنشاق هم وائى. په مضمضه او استنشقاق كښې د فقهاء كرامو اختلاف دې.

قوله: " إِذَاتَوَضَّأْتَ فَانْتَثِرْ "

داستنثار معنى: استنثارد ((نـثرة)) څخـه مـاخوذ دې د پـوزې پـورتنۍ حصه، انتشـار حركت وركولو ته وائى. او استنثار د ساه په ذريعه اوبو راويستلو تـه وائـى كـه پـه دې كـښې د لاس مدد وى او كه نه وى البته د امام مالك رحمه الله څخه يو روايت دې چې د لاس دمدد څخه بغير استنثار كول صحيح نه دى ځكه چې په دې كښې تشبه بالحيوانات ده نو د ګس لاس څخه مدد اخستل پكار دى.()

قوله: وَإِذَا اسْتَجْمَرْتَ

د استجمار معنى: د استجمار اطلاق په درې څيزونو باندې كيږى.

① استنجاء بالحجارة يعنى په كانړى استنجاء كول.

② استجمار من المجمرة يعنى د انګيټۍ څخه سكروټكه اخستل.

③ د جمر ويشتل دلته اولنۍ معنى راجح ده.

د مضمضه اواستنشاق په حكم كښې مذاهب:

① **د دواړو وجوب:** اول مسلك دابن ابى ليلى رحمه الله ، عبدالله بن مبارك رحمه الله ، امام احمد رحمه الله او دامام اسحاق رحمه الله دې. هغه دا چه مضمضه او استنشاق دواړه په اودس اوغسل دواړو كښې واجب دى.

دلائل: ①د قائلين بال وجوب دليل حديث باب په دې كښې داستنشار سره صيغه د امر راغلې ده. دې څخه دمضمضه وجوب هم ثابتيږى. لعدم القائل بالفصل

② دغه شان د مضمضه په وجوب باندې استدلال د يوبل روايت څخه هم دې. چه ابوداؤد كښې د لقيط بن صبره نه مروى دې. ((اذاء توضأت فمضمض)) يعنى كله چې اودس كوې نو مضمضه كوه. په دې كښې د مضمضه امر دې امر دپاره د وجوب وى.

[1]) فتح البارى (۱|۳۰۵)۔

دویم مذهب په اودس او غسل کښې د دواړو سنتیت: دویم مسلك داامام مالك رحمه الله او داامام شافعی رحمه الله دې چه مضمضه او استنشاق دواړه په اودس او غسل دواړوکښې سنت دی.

دلائل: ① ددوی مستدل دحضرت عائشې رضي الله عنها داحدیث دې ((عشر من الفطرة)) (۱) یعنی لس څیزونه د انبیاء فطرتی دی یعنی د هغوی سنت دی بالخصوص د حضرت ابراهیم علیه السلام اوپه هغې کښې مضمضه اواستنشاق هم شمار شوې دی.دغه شان دحضرت عمار بن یاسر روایت دې ((قال ان رسول الله قال ان من الفطرة المضمضة والاستنشاق الحدیث)) حدیث دې.

② دغه شان ابوداؤد کښې روایت دې.چه نبی کریم ﷺ یوصحابی ته اوفرمائیل ((توضأ کما امرك الله)) اوقرآن کریم کښې الله تعالی د مضمضه او استنشاق حکم چرته هم نه دې کړې د څخه معلومه شوه چه دا واجب نه دی.شوافع او مالکیان په حدیث باب کښې صیغه د امر په استحباب حمل کوی

دریم مذهب په اودس او غسل کښې د دواړو فرضیت: دریم مسلك ابن العربی رحمه الله دا هم ذکر کړې دې چې د ابوثور رحمه الله په نیز مضمضه په اودس او غسل دواړو کښې فرض ده.

دلائل: ① د نبی کریم ﷺ ارشاد دې ((اذا توضأ احدکم فلیجعل فی انفه ماء ثم لیستنثر)) (۲) یعنی کله چې په تاسو کښې څوك اودس کوی نو په پوزه کښې دې اوبه واچوی اوبیا دې د پوزې څخه اوبه راؤباسی.دلته د ((لیجعل)) د امر صیغه ده او امر دپاره د فرضیت او وجوب وی.

② د نبی کریم ارشاد دې ((اذا استیقظ احدکم من منامه فلیستنثر ثلاث مرات فان الشیطان یبیت علی خیاشمه وفی روایة خیشومه)) (۳) یعنی نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی کله چې په تاسو کښې څوك دخپل خوب څخه رابیدار شی نو په پوزه کښې دې درې ځله اوبه واچوی ځکه چې شیطان دده په پوزه کښې شپه تیروی.

③ دریم دلیل د لقیط بن صبره حدیث دې کوم چې وړاندې د «وفی الباب» په حاشیه کښې تیر شوې دې.

د فرضیت او وجوب د دلائلو څخه جوابونه: د وجوب دلائل په دوه قسمه دی یو دا چې نبی کریم حکم کړې دې دویم دا چې نبی کریم ﷺ په دې دواړو باندې مواظبت او همیشوالې کړې دې.د اول څخه جواب دا دې چې په هر ځائې کښې االامر د وجوب دپاره نه وی بلکه کله د اباحت دپاره وی لکه (ق) ((وذا حللتم فاصطادوا)) اوکله چې استحباب دپاره وی لکه

---

(۱) کمافی روایة عائشه رضی الله عنها فی ابی داود ۸/۱ باب السواک من الفطرة)

(۲) الصحیح البخاری (۱|۲۸)-باب الاستجمار وترا صحیح مسلم (۱|۱۲۴) باب فی الایتار والاستجمار)-

(۳) صحیح بخاری ومسلم

Maktaba Tul Ishaat.com

((فکاتبوهم ان علمتم فیهم خیرا)) (ق) لندا دا چې امر په یوویشتو معانیو راځی لکه څنګه په اجمل الحواشی کښې په تفصیل سره موجود دی نو دلته هم امر د وجوب دپاره نه دې بلکه د استحباب اور نستیت داپره دې.باقی دوه خبره چې نبی کریم ﷺ په دې دوارو باندې مواظبت کړې دې نو مونږ د دې منکر یو څکه چې ترك ثابت دې.کله په حدیث هغه کس کښې چې په مانځه کښې قصر کړې وو نو نبی کریم ورته اوفرمائیل ((توضأکما امرك الله فاغسل وجهك ویدیك الحدیث)) په دې حدیث کښې د مضمضه او استنشاق ذکر نشته معلومه شوه چې دا دوارو وجب نه دی که داسې وه نو خامخا به ئې په دې حدیث کښې ذکر کړې وو.(¹)

څلورم مذهب په اودس کښې د دوارو مسنونیت اوپه غسل کښې وجوب: څلورم مسلك د حنفیانو او دسفیان ثوری رحمه الله وغیره دې د دوی په نیزد مضمضه اواستنشاق په اودس کښې سنت اوغسل کښې واجب دې د اودس په باب کښې دحنفیانو دلیل هم هغه دې.کوم چې د امام شافعی رحمه الله دې.دغه شان د حنفیانو په مسلك باندې نور مضبوط دلائل هم شته.

د حنفیانو دلائل:

① **اختلاف الحکم باعتبار الظاهر والباطن:** په اودس اوغسل کښې د فرق وجه دا ده چې په قرآن پاك کښې د اوس په باره کښې ((فاغسلوا وجوهکم)) راغلی دې او د غسل په باره کښې ((وان کنتم جنبا فاطهروا)) راغلی دی او د خولې او پوزې دوه حیثیتونه دی یو د خارج حیثیت او دویم د داخل حیثیت د داخل حیثیت دلیل دا دې چې که په پوزه کښې قنډ وی یا په خوله کښې بلغم وی او هغه تیر شی نوپه دې باندې روژه نه ماتیږی.دغه شان چې خوله بنده وی او مخامخ څوك ګوری نو د پوزې او خولې دننه حصه نه ښکاری د دې دوارو څخه معلومه شوه چې د پوزې او خولې د داخل په حکم کښې دی.او د خارج حیثیت دلیل دا دې چې که په خوله کښې اوبه واچولې شی نو روزه نه ماتیږی یا په پوزه مخامخ طرف ته کړې شی نو په مواجهت سره په نظر راځی د دې دوارو خبرو څخه معلومیږی چې خوله او پوزه دخارج په حکم کښې دی.نو په په غسل کښې چونکه مبالغه زیاته وه نود دې وجې دا مونږ په خارج په حکم کښې داخل کړل او واجب مو ورته اووئیل او په اودس کښې چونکه مبالغه نشته نو ددې وجې مودا دواړه دخارج په حکم کښې داخل کړل.اوسنت مو ورته اووئیل.

② **اختلاف د حکم په اعتبار د کیف اوکم:** دغسل په باب کښې حضرت ګنګوهی رحمه الله د ﴿وَإِن كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا﴾ باندې استدلال کړې دې.په دې کښې دمبالغه صیغه استعمال شوې ده.ددې مطلب دې.چه د غسل طهارت دې د اودس د طهارت څخه زیات وی.

¹) جامع الترمذی (۱|۴۰)-

اوس دا زياتې به ياد كيف په اعتبار سره وى يا به د كم په اعتبار سره وى. د كيف په اعتبار سره زياتې په شريعت كښې نشته نوخامخاد به دا مبالغه كم كښې وى
بيا دكم زياتې په دوه قسمه دې يودا چه په تعداد د غسل كښې اضافه اوشي.او دويم دا چه اعضاء مغسولو كښې اضافه اوشي.دغسل د تعداد اضافي ته هم لارنشته.ځكه چه حديث كښې دى.((من زاد على هذا فقد تعدى وظلم)) نو زياتې به په اعضاء مغسولو كښې وى بيادډې هم دوه صورتونه دى يو دا چه دكومو اعضاء غسل په وضوء كښې بالكل نشته. داپه غسل كښې اووينځلې شى.لكه سينه اوخيټه وغيره.او دويم داچه دكومو اعضاؤ غسل په اودس كښې مسنون دې هغه په غسل كښې واجب اوګرځوې.لكه مضمضه او استنشاق ددې قسم د مبالغې تقاضاداده.چه مضمضه اواستنشاق په غسل كښې واجب شى.

④ **مرسل ابن سيرين** رحمه الله: امام دارقطنى رحمه الله (١)د محمدبن سرين رحمه الله داروايت نقل دې.((قال امر رسول الله صلى الله عليه وسلم بالاستنشاق من الجنابة ثلاثا)) ددې سند صحيح دې لكه چه امام دارقطنى رحمه الله هم تسليم كړې دې.اومرسل زمونږ په نيز حجت دې اوبالخصوص د محمدبن سيرين رحمه الله مراسيل خوقوى ترمراسيل دى.لكه علامه ابن تيميه رحمه الله چه په منهاج السنة كښې ليكى ((ومحمدبن سيرين رحمه الله من اورع الناس فى منطقه ومراسيله من اصح المراسيل)) دغه شان د محمدبن سيرين رحمه الله مراسيل شوافع هم قبلوى(٢) دې حديث كښې من الجنابة قيد واضح طور سره دا ښائى چه د مضمضه او استنشاق حكم د جنابت په حالت كښې وو.دې د اودس د حكم څخه اعلې دې اوچه كله داخبره متفق عليه ده.چه وضوء كښې مضمضه اواستنشاق كم ازكم سنت دى.نو غسل كښې به دې ته واجب وئيلې شى.

④امام دارقطنى رحمه الله په خپل سنن كښې(٣) دابوحنيفه رحمه الله عن ابن راشدعن عائشه بنت عجرو په طريق سره نقل كړى دى.چه دحضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه تپوس اوشو چه دجنب څخه مضمضه او استنشاق هيرشو نو دده څه حكم دې نو ابن عباس رضي الله عنه جواب وركړو. ((يمضمض ويستنشق ويعيد الصلوة)) د حضرت ابن عباس رضي الله عنه دا فتوى دحنفيانو په مسلك صريح دليل دې.

د دارقطنى اعتراض:امام دارقطنى رحمه الله په دې دا اعتراض كړې دې.چه ((عائشة بنت عجرو لاتقوم بها الحجة))

جواب: خودامام دارقطنى رحمه الله دا اعتراض د احنافو رحمهم الله دپاره مُضر نه دې ځكه چه دحضرت عائشه بنت عجروپه باره كښې دا اختلاف دې.چه داصحابيه وه.اوكه نه ؟

(١) سنن دارقطنى ١١٥١١ باب ماروى فى المضمضه والاستنشاق فى غسل الجنابة
(٢) ((كما صرح به النووى فى مقدمه شرح المهذب)-
(٣) باب ماروى فى المضمضة والاستنشاق فى غسل الجنابة (١٦١١١)-

Maktaba Tul Ishaat.com

((کمانقله الذهبی فی میزان () الاعتدال والحافظ فی لسان المیزان)) ([۲]) که داصحابیه اومنلې شي.نو بیا خو هیڅ اشکال نشته ((لان الصحابة کلهم عدول)) اوکه تابعیه شي نو بیا هم ددې د ثقه کیدواوقابل اعتماد کیدو دپاره داخبره کافي ده چه امام ابوحنیفه رحمه الله صرف دې څخه روایت نه دې کړې.بلکه دې مسئله کښې نې ددویٔ په روایت د خپل مسلك بنیاد ایښې دې امام دارقطنی رحمه الله امام شافعی رحمه الله.حافظ ذهبی رحمه الله یاحافظ ابن حجر رحمه الله ددې په باره کښې زیات نه زیات داوئیلې شي.چه ددې حال معلوم نه دې.خوامام ابوحنیفه رحمه الله براه راست دعائشه بنت عجروڅخه سماع کړې ده.د دې وجې چې دوی څومره ددې څخه واقف کیدې شي.بل څوك ترې نشي واقف کیدې نو که د نورو حضراتوپه نیز دا مجهوله وی نو دا د امام ابوحنیفه رحمه الله خلاف نه دې.دې څخه علاوه علامه عثماني رحمه الله په اعلاء السنن کښې فرمائی.چه حافظ ذهبی رحمه الله په تجرید ۳۰۲۱۱ کښې لیکلې دی.چه دامام ابوحنیفه رحمه الله څخه علاوه دعائشه بنت عجرد څخه حجاج بن ارطاة هم روایت کوی.اوقاعده داده چه دکوم کس څخه دوه کسان روایت کوی.نو دده جهالت مرتفع کیږی دارنګه یحي بن معین عائشه بنت عجرد لره معروف ګرځولې ده لکه چې فرمائی. ((لهاصحبة)) ددې وجوهاتو په بناء دا دلیل څه محل داعتراض نه دې.

⑤ اصحاب سنن دحضرت علی رضی الله عنه معروف حدیث روایت کړې دې.((تحت کل شعرة جنابة فأغسلوا الشعروانقوا البشرة)) ([۳]) اوپه پوزه کښې هم ویخته وی د دې وجې دا هم واجب الغسل وی او چه کله استنشاق واجب شی.نو مضمضه هم ((واجب لعدم القائل بالفصل))

⑥ نبی کریم ﷺ په غسل کښې په مضمضه او استنشاق مواظبت من غیرترك کړې دې. اودا دلیل د وجوب دې

اعتراض په مواظبت: که په دې دا اعتراض اوشی چه داسې مواظبت خو په وضوء کښې هم ثابت دې.

جواب: نوددې جواب دا دې.چه دا مواظبت په اخبار آحادو ثابت دې نوکه دې مواظبت سره مضمضه اواستنشاق په وضوء کښې واجب اوګرځولې شي.نو دابه زیادت شی په کتاب الله باندې په اخبار احادسره څکه چه دوضوء اعضاء مغسوله خپله کتاب الله متعین کړې دی.په خلاف دغسل چه دې کښې دواړه واجب ګرځولوسره په کتاب الله هیڅ زیادت نه راځی.څکه چه کتاب الله کښې دغسل مفصل طریقه نشته.بلکه صرف د

[۱]) قال الذهبی قلت روی عنها ابوحنیفة رحمة الله علیه و روی عثمان بن ابی راشدعنهااویقال لها صحبة ولم یثبت ذلک میزان الاعتدال) _

[۲]) راجع ۲۲۷\۱۱ فانه ذکرمنشاء الغلط فی القول لصحابیتها) _

[۳]) کمافی الترمذی مرفوعا تحت باب ماجاء ان تحت کل شعرة جنابة) _

((فاطهروا) حکم شوې دې.او ددې لفظ څخه دوجوب تائید کیږی.د دې وجې دا اخبارآحاد به ددې تفسیر شی.نه دې لره ناسخ اونه په دې زیاتې.

د اودس په طریقه کښې د سر دمسحې حکم: دحضرت عبدالله بن زیدبن عاصم ﷺ نه تپوس اوکړې شو چه رسول الله ﷺ به څنګه اودس فرمائیلو (دې اوریدوسره) حضرت عبدالله ﷺ د اودس اوبه راؤغوښتې (کله چه اوبه راغلې نو) هغوی په دواړو لاسونو باندې (اوبه) واچولې اوهغه ئی (د مړوندونوپورې) دوه خل اووینځل بیا ئی خله کښې اوبه واچولې او بیائی پوزه سونړکړه درې درې خل اوبیائی خپل مخ درې خل اووینځلو بیائی خپل دواړه لاسونه تر څنګلوپورې دوه خل اووینځل بیائی په دواړه لاسه د سر مسح اوکړه (داسې چه) دواړه لاسونه ئی دمخې نه شاته بوتلل اودشانه ئی مخې ته راؤړل یعنی هغه دخپل سرد وړاندې طرف نه شروع اوکړه اودواړه لاسونه ئی د سټ د قوتی پورې یوړل بیائی هغه (راتاؤ کړل) هم هغه ځائی ته ئی واپس راوړل دکوم ځائی نه چه ئی شروع کړې وه. بیائی دواړه خپې اووینځلې. (مالك نسائی ابوداؤد)

په بخاری اومسلم کښې روایة الباب: اوپه بخاری اومسلم شریف کښې دا روایت داسې دې چه حضرت عبدالله بن زیدبن عاصم ﷺ ته اووئیلې شو چه څنګه به حضورپاك اودس کولوهغه شان ته زمونږ په وړاندې اودس اوکړه. حضرت عبدالله بن زید ﷺ (داوبو لوښې راؤغوښتلو (کله چه داوبولوښې راغلونو) هغه ئی ټیټ کړو په خپلو لاسونوباندې ئی اوبه واچولې درې خل ئی اووینځل. بیائی لاس په لوښی کښې داخل کړو دهغې نه ئی اوبه راوستې بیا ئی (هم په هغې) یوچونګ سره خله اووینځله اوپه پوزه کښې ئی اوبه واچولې دغه شان هغه درې درې خل اوکړه. بیا هغه خپل لاس په لوښی کښې داخل کړو اوبه ئی راؤویستې اودرې خل ئی مخ اووینځلو. بیا هغه خپل لاس لوښی کښې داخل کړو اوبه ئی راویستلې اود سرمسح ئی (داسې) اوکړه چه خپل دواړه لاسونه ئی د مخې نه شاته بوتلل اوبیائی د شانه مخې ته راوړل اوبیائی دواړه خپې دګیټوپورې اووینځلې بیائی اوفرمائیل د رسول الله ﷺ دغه اودس وو.

د صحیحینو بل روایت: اود بخاری اومسلم په یوروایت کښې داسې دی (دمسح دپاره) ئی خپل لاسونه د وړاندې نه روستویوړل اوبیا ئی د شانه مخې ته راوړل یعنی دخپل سرد وړاندې حصې نه ئی (مسح) شروع کړه او(لاسونه) ئی د سټ دقوتی پورې یوړل اوبیائی ددغه ځائی نه هغه ځائی ته راوړل دکوم ځائی نه چه ئی (مسح) شروع کړې وه اوبیائی خپلې خپې اووینځلې. د صحیحین په یوبل روایت کښې دی چه خله کښې ئی اوبه واچولې پوزه کښې ئی اوبه واچولې اوپوزه ئی درې خل سونړکړه په دریوچونګونوسره. د یوبل روایت الفاظ داسې دی پس خله کښې ئی اوبه واچولې اوپه پوزه کښې ئی اوبه واچولې

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه شان ئې درې ځل اوکړه. دَ بخاري دَ روايت الفاظ دادي چه دَ سرمسح ئې اوکړه (داسې چه) خپل دواړه لاسونه ئې دَ مخې نه شاته يوړل اودَ شانه ئې مخې ته راوړل اودائي يوځل اوکړه بيائې دواړه خپې دَ کيټوپورې اووينځلې. هم دَ بخاري دَ يوروايت الفاظ دادي پس خله کښې ئې اوبه واچولې پوزه ئې سونړکړه درې ځل صرف په يوچونګ سره.

قوله: فَمَسَحَ بِرَأْسِهِ:

د سرد مسحې فرضيت: دَ سردَ مسح حکم دَ قرآن کريم نه ثابت دې دَدې په فرضيت کښې دَچا اختلاف نشته البته په مقدارکښې اختلاف شته چه څومره حصه فرض ده. په دې کښې دَ څلورو واړو ائمه حضراتو اختلاف داسې دې.

د مسح په مقدار کښې مذاهب:

د مسح په مقدار مفروضه کښې د امامانو اختلاف دې بعضې علمانو د لسو څخه زيات اقول نقل کړی دی خو مشهور مذاهب درې دی.

① استيعاب جميع الراس فرض دې دا د امام مالك اوامام احمد مذهب دې.دامام احمد رحمه الله څخه نور اقوال هم نقل دی.

② مسح داقل الراس فرض ده اګرکه يو ويخته يا دوه يا درې ويخته وی.دا دامام شافعي رحمه الله مسلك دې.البته په مرقات کښی دی چې د امام شافعي رحمه الله مشهور مذهب دا دې چې په درې کوتو باندې په نوی اوبه سره کول فرض ده.

③ د څلورمې حصې مسح فرض ده. دا دامام ابوحنيفه رحمه الله مذهب دې.البته بيا د حنفيانو رحمهم الله په نيز ربع الراس او مقدار ناصيه يو څيز دې صرف په تعبير کښې فرق دې او د بعضو په نيز لکه امام ابن الهمام رحمه الله وغيره په نيز دا دواړه مختلف مقدارونه دی.

د ټول سر د مسحې د فرضيت دلائل:

اول دليل: دالله تعالی قول ((وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ) په دې کښې باء زائده ده .تقدير به داسې وی((وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ)) نو د پوره سر مسح فرض ده.

جوابونه: ① باء ته زائده وئيل خلاف الاصل دې او د سخت ضرورت څه بغير په قرآن پاك کښې د زيادت قول صحي نه دې او دلته ضرورت نشته چې باء ته زائده اووايوځکه چې باء د الصاق دپاره هم کيدې شی

② مسح فعل متعدی دې دا په استيعاب محل باندې دال نه دې که باء زائده وی او که غير زائده وی.

دويم دليل: لکه څنګه چې په مسح .بنې د((وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ)) حکم دې.دغه شان په تيمم کښې هم د ((وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ)) حکم دې.نو لکه څنګه په تيمم کښې استيعاب فرض دې

دغه شان په مسح د راس کښې هم استيعاب فرض دې.حاصل دا دې چې هغوی د سر مسح په مسح دتيمم باندې قياس کړې ده.

جوابونه: ① دا قياس مع الفارق دې ځکه چې اودس اصل دې او تيمم فرع ده او قياس الاصلی علی الفرع باطل دې.

② په تيمم کښې استيعاب د وجه او يدين د دې آيت په وجه ثابت نه دې چې دا د مسح د راس دپاره مقيس عليه شی بلکه په تيمم کښې استيعاب په احاديث کثيره سره ثابت دې.د دې په مقابله کښې د تيمم په باب کښې داسې څه حديث نشته چې هغه په مسح د بعض وجه باندې دلالت کوی په خلاف د مسح راس ځکه چې داسې دلائل شته چې د هغې څخه مسح په بعض الراس معلوميږی.

دريم دليل: دوی مسح د راس په عضاء مغسوله باندې قياس کوی.لکه څنګه چې په اعضاء مغسوله کښې استيعاب فرض دې.دغه شان به په مسح د راس کښې هم استيعاب فرض وی.

جواب: امام طحاوی وغيره جواب ورکړې دې چې په مغسول او ممسوح کښې نسبت مفقود دې نو دا قياس مع الفارق شو.البته په مسح د راس او مسح خف کښې مجانست شته او مسح خف کښې په بعضې باندې په اتفاق سره اکفتاء کولې شی نو دغه شان به په مسح د راس کښې هم په بعضې باندې اکتفاء کول جائز وی.(۱)

څلورم دليل: داقبال او ادبار احاديث د استيعاب په فرضيت باندې دلالت کوی.کوم چې وفي الباب لاندې په حاشيه کښې تيرشوی دی.

جوابونه: ①علامه عينیؒ فرمائيلی دی څنګه چې د استيعاب احاديث دی دغه شان د اکتفاء بمسح بعض الراس هم ثابت دی کحديث مسلم عن ابی مغيرة الخ (۲)نو چې د داسې قسم احاديثو څخه د استيعاب جمع الراس د قائلينو څه جواب وی هغه زمونږ جواب دې د احاديثو د استيعاب جميع الراس.

② صرف په عمل بالاستيعاب سره فرضيت نه ثابتيږی. او د مسنونيت مونږ هم قائل يو.

د اقل ما يصدق عليه اسم المسح د فرضيت دلائل: د دې مذهب د قائلينو سره نه مرفوع حديث فعلی يا قولی شته اونه څه اثر د صحابیؓ البته دوی څه ضعيف دلائل ذکر کوی.

اول دليل: په ،،برؤسکم،، کښې د تبعيض دپاره ده.نو د بعضې سر مسح کافی ده ((ولو شعرة اوشعرتين اوثلاث شعرات))

جوابونه: ① د باء تبعيض ذکر نه امام سيبويه کړې دې او نه دنحواماما‌نو،نو دعربو په

---

(۱) الطحاوی باب فرض المسح علی الراس (۱|۲۸)-
(۲) اخرجه مسلم باب المسح لی الخفين (۱|۱۳٤)-

Maktaba Tul Ishaat.com

کلام کښې دا ثابته نه ده.

② که مونږ دا اومنو چې باء دپاره د تبعیض ده نومسح د بعضې سر به فرض وی اودا بعضې مجمل دې د دې بیان په احادیثو کښې شته اوپه هغې کښې د مقدار الناصیه ذکر دې.دغه شان په څه مرفوع حدث کښې مسح اقل من الناصیه ثابته نه ده.

دویم دلیل: آیت دمسح مطلق دې نه ې مجمل ځکه چې د مسح معنی معلومه ده و محل یعنی راس هم معلوم دې او آله د مسح یعنی لاس هم معلوم دې.نو بیا اجمال د کومې راغې؟او مطلق د فرد واحد په موجود کیدو سره موجود یږی.نو په شعر واحد به مسح کول هم کافی وی.

جواب: دا مجمل دې مطلق نه دې.((كماسيأتي بيانه في حديث الناصية))

د مقدار الناصیه د فرضیت دلائل:

اول دلیل: عن مغيرة وفيه «ومسح الناصية» الحديث معلومه شوه چې د ټول سرمسح فرض نه ده.دغه شان په شوافع باندې هم رد اوشو.ځکه که اقل من الناصیه جائز وه نو په یو روایت کښې خو به د هغې ذکر وو.

دویم دلیل: ((عن انس وفيه ومسح مقدم راسه ولم ينقض العمامة)) یعنی د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دې چې نبی کریم ﷺ د سر په مخکېنۍ حصه باندې مسح اوکړه او پټکې ئې اونه سپړده.

دریم دلیل: عن عثمان بن عفان رضی الله عنه وفيه ثم مسح مقدم راسه بيده مرة واحدة الى ان قال فمن السائلون عن وضوءرسول الله ﷺ فهذا وضوءه))[1]

څلورم دلیل: عن بلال مرفوعاً وفيه مسح على الخفين وناصيته الحديث[2]

پنځم دلیل: ((وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ)) مجمل دې او حدیث دنصایه د دې دپاره بیان دې.مجمل په دې طریقه دې چې ((مسحت بالحائط)) څخه مسح د بعض حائط مراد ده او په وامسحوابوجوهكم کښې مسح د کل مدخول باء مراد ده نو کله مدخول د باء بعضې مراد وی.ی اوك کله کل مراد وی.اوس دلته اجمال دې په مقدار د راس کښې چې بعضې راس مراد دې که کل راس مراد دې نو د دې اجمال تفصیل او وضاحت حدیث دناصیه اوکړو.

د مسح على الراس په تثلیث کښې مذاهب:

① دملاعلی قاری دقول مطابق د امام ابوحنیفه رحمه الله، امام مالك رحمه الله، امام احمد رحمه الله، امام اسحاق رحمه الله، سفیان ثوری رحمه الله او دجمهورو مسلك دادې. چه مسح راس دې صرف یو خل

---

[1]) اخرجه مسلم باب المسح على الخفين (١|١٣٤ وسكت عليه)-

[2]) مسند سعيد بن منصور من طريق ابى مالك الدمشقى قال حدثت عن عثمان الخ وايضا بمثل هذه الرواية رواه ابوداؤد (١|١٦)-

[3]) اخرجه البيهقى فى سنن الكبرى باب إيجاب المسح بالراس وإن كان متعمما وقال البيهقى هذا اسناد حسن (١|٦٢)-

او کړې شی .

۲ خو امام شافعی رحمه الله داعضاء مغسوله په شان په مسح کښې هم د تثلیث سنیت قائل دې . اګرچه امام ترمذی رحمه الله دامام شافعی رحمه الله قول هم دجمهورو سره نقل کړې دې . خو کتب شافعیه کښې مسلك مختار هم دتثلیث دې کیدې شی چه یو قول غیر مشهورئې دجمهورو مطابق هم وی او امام ترمذی رحمه الله هم دانقل کړې وی . بعضې حضراتو امام مالك او امام احمد رحمه الله هم د امام شافعی رحمه الله سره شمار کړې دی .

په هرصورت حدیث دباب احنافو رحمهم الله دلیل دې . دې ځخه علاوه نور هم ډیراحادیث په مسح مرة دلالت کوی امام ترمذی رحمه الله فرمائی ((وقد روی من غیر وجه عن النبی صلی الله علیه وسلم انه مسح براسه مرة))

د تثلیث دلیل: دامام شافعی رحمه الله استدلال دحضرت عثمان رضی الله عنه په یوروایت دې په هغې کښې دوئ دنبی کریم صلی الله علیه وسلم د اودس حکایت کوی او فرمائی . ((مسح راسه ثلاثا)) (۱)

جواب: البته دجمهورو دطرفه ددې جواب دا دې چه دا حدیث شاذ دې ځکه چه ددې یو حدیث ځخه علاوه د حضرت عثمان رضی الله عنه ټول روایات صرف دیوځل په مسح دلالت کوی لکه چه په امام ابوداوٗد دثلاثا په حدیث په دې الفاظو سره رد کړې دې . ((احادیث عثمان الصحاح کلها تدل علی مسح الراس انه مرة فانهم ذکروا الوضوء ثلثا وقالوا فیها ومسح راسه ولم یذکروا عددا کما ذکروا فی غیره)) اوکه بالفرض دحضرت عثمان رضی الله عنه دثلاثا روایت صحیح تسلیم کړې شی . نو بیا هم داپه بیان د جواز محمول کیدې شی . لکه احنافو کښې هم بعضې محققینو تثلیث ته جائز وائی . اګرچه بعضې حضراتو مکروه او بدعت ګرځوی او ددې وجه صاحب دهدایه دا بیان کړې ده . چه که درې ځله په ماء جدید سره مسح اوشی نو دا به مسح نه وی بلکه غسل به شی . دې ځخه واضحه ده چه که داسې تثلیث اوشی چه حد غسل ته اونه رسی نو داسې تثلیث به د احنافو په نیز جائز وی . بلکه دامام اعظم رحمه الله یو روایت چه دحسن بن زیاد ځخه مروی دې . هغه دتثلیث په استحباب دلالت کوی . خو صاحب دهدایه دارد کړې دې.

د ربیع د روایت ځخه جواب: ترکومې چه تیرشوی باب کښې دحضرت ربیع روایت تعلق دې چه هغې کښې د ((مسح براسه مرتین)) الفاظ دی . داغالبًا داقبال او دادبار په دوه حرکتومحمول دې چه حقیقت کښې مسح مرتین نه ده . بلکه د استیعاب راس یوه طریقه ده . لکه مستدرك حاکم ، صحیح ابن خزیمه او صحیح ابن حبان کښې کومه طریقه چه د حضرت ابن عباس رضی الله عنه ځخه مروی ده هغه ځخه هم ددې تائید کیږی . لکه روایت کښې دی چه ړومبې ددواړه لاسونو درې ګوتوسره په وسط راس کښې ادباراوکړو . بیائې باقی دوه

---

(۱) ابوداود کتاب الطهارة باب صفته وضوء النبی صلی الله علیه وسلم) ـ

Maktaba Tul Ishaat.com

دوه ګوتو سره جانبينو کښي اقبال اوکړو .

د مسح مرة دلائل: ① د مسح مرة دليل حديث الباب دی.په دې کښې په صراحت سره موجود دی چې نبی کريم ﷺ يوځل په سر باندې مسح اوکړه.

② دمسح مرة تائيد د قياس څخه هم کيږي هغه داسې چه مسح علی الخفين او مسح علی الجبيرة هم مرة کيږي . ددې تقاضاده . چه مسح الراس هم مرة وی.

قوله: فَأَقْبَلَ بِيَدَيْهِ وَأَدْبَرَ: دَدې جملې لفظی ترجمه داشان ده چه دَ سر دَ شاته طرف نه ئی وړاندې طرف ته مسح کولوکښې لاس راوړو اوبيا ئی دَ وړاندې طرف نه شاته لاس يوړو.

د مقدم او مؤخر په اعتبار سره په مسح کښې مذاهب:

① په هرحال ددې حديث مطابق د جمهورو مسلك دادې.چه دمسح راس ابتداء دمخ نه کول مسنون دی.

② حضرت وکيع بن الجراح دروستونه ابتداء مسنون وائی.

③ ددې دواړو مسلکونو په مينځ مينځ کښې يودريم مسلك د حضرت حسن بن صالح دې د دوئ په نيز د وسط راءس څخه دَ مسح ابتداء مسنون ده.

د مؤخر الراس څخه د ابتداء دليل: ① ددوئ دليل راتلونکې باب کښې دحضرت ربيع بنت معوذ رضي الله عنها روايت دې په هغې کښې تصريح ده.چه ((بداء بمؤخر راسه ثم بمقدمه))

د وسط الراس څخه د ابتداء دليل: ① ددوئ استدلال ابوداؤدکښې هم دحضرت ربيع بنت معوذ رضي الله عنها يوبل روايت دې چه هغې کښې ((مسح الراس کله من قرن الشعر)) الفاظ دی.([1])

د ربيع بنت معوذ رضي الله عنها د روايتونو څخه جوابونه: ① دجمهورو دطرفه ددې روايتونو په جواب کښې ونيلې شوی دی.چه د حضرت ربيع رواياتونه په دې باب کښې مضطرب دی لکه مسند احمدکښې دوئ څخه د مسح مختلف کيفيات منقول دی.دې باره کښې بعضې حضرات خودا وائی.چه اصل کښې دا تعارض د راويانو د وهم د وجې پيدا شوې دی.اوخبره داسې وه .چه د اقبال او د ادبارپه تفسير کښې راويانوته غلط فهمی راغله.د دې وجې هريود خپل فهم مطابق تغبير نقل کړو.خوحضرت ګنګوهی رحمه الله دا جواب ناخوښنه کړې دې.

② حضرت ګنګوهی رحمه الله چه په حقيقت کښې حضرت نبی کريم ﷺ دحضرت ربيع وړاندې دجواز دپاره په مختلف کيفياتو سره مسح کړې وه.اوترکومې چه دجواز تعلق دې.نو جمهورهم دټولو دجواز قائل دی اختلاف صرف په افضليت کښې دې او په دې لحاظ سره د عبدالله بن زيد روايت راجح دې کوم چې د جمهورو رحمهم الله د مسلک ښکاره دليل کيدو

[1])باب صفة وضوء النبی صلی الله عليه وسلم) _

سره سره د امام ترمذی د تصریح مطابق اصح ما في الباب هم دي حال دا چه د حضرت ربیع حدیث د دې په مقابله کښې مرجوح دې د دې وجه غالباً دا ده چه په دې کښې عبدالله بن محمد بن عقیل نومې راوی متکلم فیه دې

دخټ د مسحې په حکم کښې اقوال:

① په احنافو کښې بعضې حضرات دې ته سنت او بعضې مستحب وائی.

② قاضی خان لیکلی دی چه دَ څټ مسح نه سنت ده او نه مستحب

③ بعضو دې ته سنت وئیلی دی او وکله چه دَ فقهاؤ په اقوال کښې اختلاف پیداشو نو اوس دَ نه کولونه مسح کول بهترشو.(قاضی خان ج۱ص۱۷)

④ علامه نووی رحمه الله وغیره دې ته بدعت وئیلې دې علامه ابن تیمیه او ابن قیم لیکلی دی چه په دې باره کښې څه حدیث صحیح ثابت نه دې لیکن دَاحنافو بعضې علماء او دَ شوافع هم ډیرزیات علماء دَ څټ مسح ته سنت یا مستحب وائی.

⑤ نواب صدیق حسن خان صاحب غیرمقلد "بدورالاهله ص۲۸" کښې لیکلی دی چه دَمسح رقبه حدیث ته غیرصحیح وئیل صحیح نه دی ځکه چه دَ مسح رقبه روایات تعددطرق دَ وجې نه دَ استدلال قابل دی. دَ احنافو په کتابونوکښې داليکلی دی چه دَ حلقوم (مرۍ) مسح بدعت دې اودَ څټ مسح جائزده

قوله: مِنْ كَفَّةٍ وَاحِدَةٍ

د مضمضې او استنشاق په افضله طريقه کښې مذاهب:

په مضمضه او استنشاق کښې پنځه طریقې منقول دی هره یوه طریقه جائزه خو اختلاف په افضلیت دې کښې دې.

① شوافع څلورمه طریقه خوښه کړې ده جائزتولې دی.

② احنافو پنځمې طریقې ته افضل او راجح وئیلی دی.

دمضمضې او استنشاق پنځه طریقې:

① اول طریقه دا چه یوچونګ اوبه په لاس کښې واخلی او په یوځل خله او پوزه کښې درې ځل اوبه واچولې شی یعنی هم دَ یوچونګ څه اوبه خله کښې او څه پوزه کښې درې ځل واچولې شی.

② دویمه طریقه داچه هم په یو چونګ اوبوسره اول په خله کښې دَدې څه حصه درې ځل واچولې شی اوبیا باقی حصه درې ځل په پوزه کښې واچولې شی.

③ دریمه طریقه دا ده چه یوچونګ سره درې ځل مضمضه اوکړې شی بیا په دویم چونګ سره درې ځل استنشاق اوکړې شی.

④ څلورمه طریقه کومه چه په شوافع کښې خوښه کړې شوې ده هغه داده چه په یوچونګ

Maktaba Tul Ishaat.com

سره اول مضمضه او استنشاق اوکړې شي بیا دویم چونګ سره مضمضه اواستنشاق اوکړي اوبیا دریم چونګ واخلي اومضمضه اواستنشاق اوکړي.

⑤ پنځمه طریقه داده چه جداجدا په دریوچونګونوسره مضمضه اوکړي اوبیا جداجدا درې چونګه واخلي او استنشاق اوکړي لکه چه په شپږو چونګونوسره دواړه کارونه اوشي دا طریقه دَاحنافو خوښه کړې شوې ده.

داول فریق دلیل: زیربحث حدیث کښې "من کف واحدة" الفاظو څخه دوی استدلال کړې دې چه په دې کښې په غرفات کښې دَ وصل بیان دې نو څلورمه طریقه دَدې بهترین مصداق دې.

داول فریق د دلیل دوه جوابونه: ① په یو چونګ سره مضمضه اواستنشاق دَجوازدَبیان دَپاره دې نوجائزنی مونږ هم منو اودَ شوافع په نیزفصل هم جائزدې

② دې حدیث څخه مراد دا دې چه مضمضه اواستنشاق کښې ئې یولاس استعمال کړو دَ یولاس په چونګ سره کار اوچلوئی دَ مخ په شان دواړه لاسونه مه استعمالوئی.

د دویم فریق دلیل: دَعبدالله بن زید ﷛ روایت دې. "قال رأيت النبي ﷺ مضمض واستنشق من كف واحد فعل ذلك ثلاثا" (رواه الترمذی) بل طرف ته په ابوداؤد کښې هم دا الفاظ دی صحابی فرمائی "فرأيته يفصل بين المضمضة والاستنشاق" (ص۱۹)

② په زیرنظرحدیث الباب کښې هم دَ ثلاث غرفات الفاظ موجوددی کوم چه دَ احنافو واضح دلیل دې.

③ دَ قیاس تقاضاهم دغه ده څکه چه دَ اودس دَ ټولو اندامونودَپاره جدا جدا اوبه اخستلوسره درې ځل استعمالولې شی نودَ خلې او دَ پوزې هم دغه شان حکم پکاردی.

[۲۹۵] دبیان جواز دپاره هر اندام یو یو ځل وینځل

٢٩٥-()[٣] ①وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ②«تَوَضَّأَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مَرَّةً مَرَّةً ③لَمْ يَزِدْ عَلَى هَذَا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① د ابن عباس ﷠ څخه روایت دې② چه رسول الله ﷺ اودس اوکړو ټول اندامونه یې یو یو ځل ووینځل③ په دې یې زیادت ونه کړو. (بخاري)

(۱) اخرجه البخاری کتاب الوضوء باب الوضوء مرة مرة (رقم-۱۵۷) وابوداود کتاب الطهارة . باب الوضوء مرة مرة (رقم - ۱۳۸) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فی الوضوء مرة مرة (رقم- ٤۱۱) والترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الوضوء مرة مرة (رقم - ٤۲) والنسائی کتاب الطهارة/باب الوضوء مرة مرة (رقم-۸۰) والدارمی کتاب الطهارة/باب الوضوء مرة مرة (رقم-۷۲٤)

تسهیلات: قوله: لَمْ يَزِدْ عَلَى هٰذَا:

هر اندام یو ځل وینځل: تولو نه بهتر او افضل اودس هغه دې کوم کښې چې درې ځل اوبه هر اندام دپاره استعمال کړې شی. که اوبه کمې وی یا د بدن حالت یا مکان او مقام یا د بیان جواز دحالت تقاضا ددې نه دَ کم وی، نو بیا دوه دوه ځل اوبه استعمالول جائز دی. اوکه حالات څه داسې قسمه وی چې دیو ځل نه د زیاتو ګنجائش نشته دې نو یو ځل هم کافی دی. ا ودس صحیح کیږی. راتلونکو احادیثو کښې هم دا مسئله بیان شوې ده.

[۳۹۲] د بیان جواز دپاره هر اندام دوه ځله وینځل

۳۹۲-()[۴] ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - ۲ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ اودَ حضرت عبدالله بن زید رضی الله عنه نه روایت دې ۲ چه رسول الله ﷺ دوه دوه ځل اودس اوکړو (یعنی دَ اودس اندامونه ئې دوه دوه ځل اووینځل) (بخاری)

د راوي مختصر تعارف:

نوم عبدالله کنیت ابومحمد، دَ قبیله خزرج سره ئې تعلق لرلو. دَپلارنوم زیداودَمورنوم ئې ام عماره وو. دَهجرت نه پس مسلمانه شوې. دَبدرنه علاوه په ټولو غزاګانو کښې شریک شو. هم ده مسیلمة الکذاب په توره سره قتل کړې وو. وحشی په غشی باندې وهلې وو.(۲)

: ۶۳هـ کښې شهیدشو. هغه وخت دَدوی عمر ۷۵ کال وو. دَهغه دوه نور نومونه په کتابونو کښې ملاویږی. ۱خلاد ۲ علی.

مرویات: دَ هغه نه یوڅو روایتونه نقل دی. دَ هغه نه روایت نقل کونکوکښې عباد بن تمیم. سعیدبن مسیب، یحیی بن عماره، واسع بن حیان، عبادة بن حبیب وغیره دی.

دَنورو حالاتودپاره اوګورئی ۱اسدالغابة ۱۶۸/۳ ۲بخاری شریف۵۹۹/۲ ۳مسند احمد ۳۸/۴، ۴۰، ۱وغیره.

[۳۹۷] هر اندام درې درې واره وینځل

۳۹۷-()[۵] ۱ وَعَنْ عُثْمَانَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - «أَنَّهُ تَوَضَّأَ بِالْمَقَاعِدِ، ۲ فَقَالَ: أَلَا أُرِيكُمْ وُضُوءَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ؟ ۳ فَتَوَضَّأَ ثَلَاثًا ثَلَاثًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

---

(۱) اخرجه البخاری بخاری کتاب الوضوء باب الوضوء مرة مرة (رقم-۱۵۸) وابوداود کتاب الطهارة . باب الوضوء مرتین(رقم- ۱۳۶)والترمذیکتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ب باب ما جاء فی الوضوء مرتین مرتین (رقم- ۴۳)

(۲) اسدالغابه ۱۶۸/۳.(۲) البخاری فی الأشربة باب شرب اللبن بالماء وباب الکرع فی الحوض)

(۳) اخرجه مسلم کتاب الطهارة باب فضل الوضوء والصلاة عقبه (رقم-۷ - (۹ -۲۳۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [۱] اودَ حضرت عثمان رضي الله عنه باره کښې روايت دې چه هغوی په مقام مقاعد کښې اودس اوکړو [۲] او وئی وئیل چه آیا تاسو ته دَ رسول الله ﷺ اودس اونه ښایم؟ [۳] چنانچه هغوی درې درې ځل اودس اوکړو (یعنی هغوی دَ اودس اندامونه درې درې ځل وینځلو) سره اوخودل چه حضورپاك به داسې اودس کولو (مسلم)

حل اللغات: ① أَلَا أُرِيكُمْ: آیا اونه ښائم تاسو ته.

تسهیلات: **قوله:** بِالْمَقَاعِدِ:

مسجد نبوی نه بهر خبرو اترو او ناستې دپاره یو ځائې وو ، دهغې نوم مقاعدوو. داحضرت عمرفاروق رضي الله عنه جوړ کړې وو چې خلق په مسجد کښې خبرې اونه کړې.

[۳۹۸] دپښو وینځلو د فرضیت دلیل

۳۹۸–(١) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: [۲] "«رَجَعْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ مَكَّةَ إِلَى الْمَدِينَةِ [۳] حَتَّى إِذَا كُنَّا بِمَاءٍ بِالطَّرِيقِ [۴] تَعَجَّلَ قَوْمٌ عِنْدَ الْعَصْرِ فَتَوَضَّئُوا وَهُمْ عُجَّالٌ [۵] فَانْتَهَيْنَا إِلَيْهِمْ وَأَعْقَابُهُمْ تَلُوحُ لَمْ يَمَسَّهَا الْمَاءُ [۶] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ، أَسْبِغُوا الْوُضُوءَ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] اودَ حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روایت دې [۲] چه مونږ د رسول الله ﷺ سره دَ مکې نه مدینې منورې ته واپس راؤګرځیدو [۳] تردې چه کوم وخت مونږ اوبوته راؤرسیدو کوم چه په لار کښې وو [۴] نوځه خلقو دَ مازیګردَ مونځ دپاره اودس کولو کښې تادی اوکړه اوهغه خلق ډیر تادی کونکی وو. [۵] نوچه کله مونږ هغه خلقو ته اورسیدو نو چه اوموکتل نو دَ هغوی پوندې پرقیدلې (یعنی اوچې پاتې شوې وې ځکه چه) هغې ته اوبه نه وې رسیدلې. [۶] (دغه اوچو پوندو ته په کتلوسره) حضورپاك اوفرمائیل ویل (خرابی) ده دَ پوندو دپاره د اور نه، اودس پوره کوئی. (مسلم)

حل اللغات: ① عُجَّالٌ : د عَاجِل جمع ده، جلتی کونکی، تادی کونکی ② فَانْتَهَيْنَا: أَيْ: وَصَلْنَا: اورسیدو مونږ، ③ تَلُوحُ: أَيْ: تَظْهَرُ يُبُوسَتُهَا: اوچ والې دخپو نې صفا ښکاریدو، ④ وَيْلٌ: أي الهلاك: هلاکت، اوعذاب، ⑤ أَعْقَابٌ: أَيْ: لِأَصْحَابِهَا: اعقاب پوندو ته وائی، دلته ترې مراد د اصحاب الاعقاب یعنی انسان مراد دې. ⑥ أَسْبِغُوا: أَيْ: أَتِمُّوهُ: یعنی اودس کامل طریقې سره کوئ.

تسهیلات:

قوله: وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ:

[1] اخرجه مسلم كتاب الطهارة باب وجوب غسل الرجلين بكمالهما(رقم-٢٦ - (٢٤١) وابوداود كتاب الطهارة ، باب في إسباغ الوضوء (رقم- ٩٧) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب غسل العراقيب (رقم- ٤٥٠) والنسائی كتاب الطهارة/باب إيجاب غسل الرجلين (رقم-١١١)

د رجلینو په غسل کښې مذاهب:

① شیعه امامیه او روافضو وائی چه وظیفۀ رجلین صرف مسح ده غسل نه دې. بعضو دا مسلك ابن جریر طبري رحمه الله طرف ته منسوب کړې دې لیکن ابن جریر طبري دوه دی یوسنی دې یوشیعه دلته سنی مرادنه دې اوکه چرې ابن جریر سنی هم وی نودَهغه کلام په دې مسئله کښې صریح نه دې صرف په کلام کښې وهم دې. په دې مسئله کښې دَ پوره امت مخالفت کړې دې اوونیلی ئی دی

② ټول اهل سنت ټول صحابه کرام تابعین او ټول فقهاء اوصلحاء اوعلماء سلفًا وخلفًا په دې باندې متفق دی چه وظیفۀ رجلین په اودس کښې غَسَل دی اودَعدم تخفف په حالت کښې په خپه باندې مسح کول بالکل جائزنه دی.

د اول فریق اول دلیل:

① آیت الوضوء ﴿ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ﴾ کښې دَجروالا قراءت نه استدلال کړې دې چه دَجر په صورت کښې دا په "رؤسکم" باندې عطف دې یعنی په سرباندې هم مسح کوئی او په خپوباندې هم مسح کوئی. شیعه وئیلی دی چه "أرجلکم" کښې دَ نصب والا قراءت بنزع الخافض دې یعنی "أرجلکم" دَ نصب په صورت په حقیقت کښې "بأرجلکم" وو دَ باء اخوا کولو دَوجې نه نصب راغلو.

د اول فریق دویم دلیل: ② دَ ابن عباس رضي الله عنهما قول دې دکوم الفاظ چه کم وزیات داسې دی "لایدل کلام الله إلا بالمسح وأبی الناس الا الغسل" بعضو دا الفاظ نقل کړی دی "أمرالله بالمسح وأبی الناس الاالغسل"

د اول فریق دویم دلیل: ③ دغه شان شیعه دَحضرت علی رضي الله عنه نه څه اقوال هم نقل کوی.

د دویم فریق دلائل: ① دَاودس آیت د دوی مستدل دې لیکن هغوی ﴿ وَأَرْجُلَكُمْ﴾ کښې دَ نصب والا قراءت اخلی کوم چه ﴿ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ﴾ باندې عطف دې او په وینځلوباندې واضح دلیل دې.

② زیربحث حدیث دَ دوی مستدل دې په کوم کښې چه دَخپې پونده اوچه پاتې کیدو باندې سخت وعیدراغلې دې نو معلومه شوه چه دَ خپو وظیفه په مکمل توګه وینځل دی.

③ دَحضرت عمروبن عبسه رضي الله عنه یورروایت د دوی مستدل دې چه په حقیقت کښې دَ آیت الوضوء تفسیردې. حضرت عمروبن عبسه رضي الله عنه فرمائی چه دَ رسول الله ﷺ نه مې دَاودس باره کښې پوښتنه اوکړه نوحضورپاك دَجواب په ضمن کښې اوفرمائیل "ثم یغسل قدمیه الی الکعبین کما أمرالله تعالی" (رواه ابن خزیمه وابوعوانه) دَدې روایت نه په واضحه توګه معلومه شوه چه دَالله تعالی حکم ﴿ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ﴾ نه غسل او وینځل مراددی

Maktaba Tul Ishaat.com

④ دویم فریق دَدې نه هم استدلال کړې دې. چه دَحضورپاك نه په پوره ژوند کښې کله هم په برېنډو خپوباندې مسح ثابت نه ده نه صحابه کرامو داسې کړې دی بلکه دټولو عمل غسل وو لکه چه داسې اجماع ده په کوم کښې چه اختلاف نه شی کیدې.

داول فریق د اول دلیل اول جواب: په آیت کښې چه کوم دَجرقراءت راغلې دې دا جرجوار دې یعنی دَ یوې کلمه په ګاونډ دَ کیدودَ وجې کله کله دَهغې اعراب دویمې کلمې ته ورکولې شی نو په آیت کښې برؤوسکم کښې جرور نو وأرجلکم هم دَ دې ګاونډ دَوجې مجرور اولوستلې شو دادَ لفظونو په اعتبار سره دَ مسح سره دې لیکن دَ معنی په اعتبارسره دا مغسول سره دې.

دجر جوار شواهد: ① په کلام دَعربوکښې دَ جرجوار اعتبارشته. چنانچه عبدالرسول لیکی:

ګاہے میشود مجرور از بہر جوار   ہم ازیں جائز دعامہ جرارجل شدروا

یعنی کله کله یواسم دَ جرجواردَ وجې نه مجرور کیږی په دې وجه دَعام علماؤ په نیزوارجلکم کښې جر راغلې دې. جرجواردَ قرآن عظیم نه هم ثابت دې لکه ﴿ عَذَابُ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴾ الیم دَ عذاب صفت دې چه مرفوع کیدل پکاروو مګر دَ یوم دَ ګاونډدَ وجې نه مجرورشوې دې.

② اولکه ﴿ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيطٍ ﴾ چه محیط دَ جرجواردَوجې نه مجروردې. بل "جُحْرُضَبٍّ خَرِبٍ" "مَاءُشَنٍّ بَارِدٍ" دغه شان په حدیث کښې "مَنْ مَلَكَ ذَارَحِمٍ مُحْرَمٍ" دلته محرم دَ جرجواردَ وجې نه مجروردې.

③ دَ عربو او دَ عربیت مشهورشاعر امرأالقیس وائی:

کأن ثبیرًا فی عرانین وبله   کبیر أناس فی بجاد مزمل

دلته مزمل دکبیراناس صفت دې دامرفوع کیدل پکاروومګر دَ بجاد دَ ګاونډدَ وجې نه مجرور شوې دې. **اعتراض:** عبدالرسول چه مشهور نحوی دې هغه دلته اعتراض کړې دې چه جرجوار په سلسلهٔ معطوفات کښې ممنوع دې او دلته په آیت کښې وارجلکم معطوف دې.

د اعتراض جواب: صاحب روح المعانی دَدې جواب ورکړې دې چه دَ عبدالرسول دا وینا غلطه ده ځکه چه دَعربو په محاوره کښې دَدې څو مثالونه موجود دی. پخپله په قرآن کریم کښې ﴿وحورعین﴾ په سلسله دَ معطوفات کښې جرجوار سره راغلې دې. پوره کلام داسې دې [ولحم طیرمما یشتهون وحورعین] (سورة واقعه آیت: ۲۲). دلته دَ کسائی، حمزه او عاصم په قرأت کښې په حورعین کښې حور مجرور دې، دجر جوار په وجه مجرور دې اودَدې ګاونډی دَ لحم کلمه ده چه دَ مخکښې نه مجرور راروانه ده. په باقی قرأتونو کښې دا مرفوع دې.

د اول فریق د اول دلیل دویم جواب: دَعبدالرسول دَدې اشکال دَ وجې نه ابن حاجب رحمه الله یوه بله لار اختیار کړې ده هغوی لیکلی دی "وارجلکم" په اصل کښې دَ فعل محذوف دَ وجې نه منصوب دې اصل عبارت داسې دې "وامسحوابرؤسکم واغسلواارجلکم". هغه فرمائی چه دا دَ قبیل علفتهاتبناوماءباردا نه دې چه دَ موجوده عامل نه علاوه اصل عامل محذوف دې ځکه چه موجوده عامل سره معنی صحیح نه پاتې کیږی یعنی ما په اوښه باندې ګیا او یخې اوبه اوخوړلې حالانکه اوبه څکلې شی خوړلې نه شی لهذا دَ معنی صحیح کښې کولو دَپاره به مناسب فعل محذوف منلې کیږی او هغه سقیتهاماءباردا دې یعنی سقیتهاماءباردا

د اول فریق د اول دلیل دریم جواب: جمهورامت دریم جواب داورکړې دې چه دَ نصب په صورت کښې "واغسلوا" فعل مقدردې اودَ جر په صورت کښې به داسې وینا کولې کیږی چه قرآن دَ حالت تخفف صورت بیان کړې دې یعنی که موزه نی اچولې وی نوبیامسح کافی ده لیکن "الی الکعبین" چه کوم تحدید کړې دې دَهغې په رڼاکښې دا جواب کمزورې دې ځکه چه په مسح کښې کعبین پورې هیڅ قیدنشته اوقرآن مقیددې معلومه شوه چه دَمسح صورت نشته.

د اول فریق د دویم دلیل جواب: دَ اهل جرح وتعدیل او دَ محدثینووینا ده چه دا روایت دَ ځان نه جوړشوې دې کوم چه شیعه ګانوجوړکړې دې دکوم چه هیڅ اعتبارنشته یادَ صحیح احادیثو په مقابله کښې داهیڅ هم نه دی.

د اول فریق د دریم دلیل جواب: دَحضرت علی رضی الله عنه طرف ته منسوب روایات هم دَ ثبوت درجې ته نه رسیږی یا هغه په حالت تخفف یعنی دَموزې اچولوحالت باندې محمول دی یادَ وضوءعلی الوضوء په صورت کښې دی.

مجموعی جواب: شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې په حواله دَ طحاوی دَ خپو مسح او غسل متعلق لیکی چه په آیت کښې نصب اوجردواړه قراءتونه دی اومستندهم دی اوپه دواړو کښې تعارض دې. کله چه داقسم تعارض وی نودَ دواړو حکم ساقط کولوسره دَحدیث طرف ته رجوع کیږی اواحادیث مشهوره کثیره هم دَ غسل رجلین حکم ورکړې دې لهذا غسل متعین دې مسح ناجائزده. امام طحاوی رحمه الله فرمائیلی دی که دَ مسح حکم دَ محدودزمانې دَپاره ووهم نوهغه بیا منسوخ شوې دې. علماؤ لیکلی دی چه غسل رجلین الله تعالی مسح سره کیخودلو چه دَ خپو وینځلو په وخت په اوبوکښې دَاسراف نه دَ بچ کیدلواحساس ورکړې شی ځکه چه خلق په خپو باندې زیاتې اوبه اچوی. [اشعة المعات: ۱/۲۳۶]

بهرحال دَ احادیث صحیحه صریحه دومره لویه ذخیره موجود ده بیادَ نبی کریم او صحابه کرامو دائمی اجماعی عمل موجوددې اوبیا تابعینو فقهاء کرامو اودَ امت محمدیه دا

Maktaba Tul Ishaat.com

متفقه موقف موجود دي دَدې باوجود شیعه روافض په خپوباندې په مسح کولوباندې کلك شوی دی. دادَهغوی لویه گمراهی ده او په دې سره دَهغوی هغه مونځونه هم بیکاره شو چه هغه خلق ئې کله ناکله کوی.

قوله: وَيْلٌ: داکلمه دَهلاکت دَ بددعاء دَپاره راځی. بعضو وئیلی دی چه په دوزخ کښې دَ یوخاص وادئی نوم دې.

قوله: لِلْأَعْقَابِ:

د پوندو د خاص کولو دوه وجوهات: ① دادَعقب جمع ده پوندې ته وائی دلته ئې پونده دَامر واقعه دَ وجې نه خاص کړې ده چه پوندې اوچې پاتې شوې وې

② یا په دې وجه چه پوندې په عام توګه باندې اوچې پاتې کیږی. دَدې الف لام دَ استغراق عرفی دَپاره دې یعنی دَ ټولې دنیادَ پوندو دَپاره بددعاء نه ده بلکه چه کومې پوندې اوچې پاتې شوې وې دَهغوی دَپاره بددعاء ده.

دمضاف حذف: دلته مضاف محذوف دې یعنی دَ اوچوپوندودَمالك دَپاره ويل او سختی اومشقت اوهلاکت دې.

[۳۹۹] په سر د مسحې کول

۳۹۹–()[۷] ① وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «إِنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَوَضَّأَ فَمَسَحَ بِنَاصِيَتِهِ وَعَلَى الْعِمَامَةِ وَعَلَى الْخُفَّيْنِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او مغیر بن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي ② چه رسول ﷺ اودس وکړو نو د خپل تندي د ویښتانو دپاسه او په لنګوټه باندې او په موزو باندې ئې مسح وکړه. (مسلم)

حل اللغات: ① نَاصِيَتِهِ: تندې، خو دلته د ناصیه نه مراد قدر الناصیه دې یعنی د تندی دمقدار برابر ئې په سر مسح اوکړه، (کوم ته چه احناف د سر د څلورمې حصې مسح وائی). ② الْعِمَامَةِ: پټکې، پګړی، ③ الْخُفَّيْنِ: د خُف تثنیه ده، موزې ته وائی.

تسهیلات:

قوله: وَعَلَى الْعِمَامَةِ: په دې روایت کښې **مسح على الناصية** سره **مسح على العمامة** ذکرهم راغلې دې په دې وجه دَفقهاء کرامو په مینځ کښې دَ **مسح على العمامة** په مسئله کښې اختلاف راغلو.

په مسح على العمامة کښې مذاهب:

① دامام احمد رحمه الله، امام اوزاعی رحمه الله، امام اسحاق او وکیع بن الجراح مذهب دادې.

[1] اخرجه مسلم کتاب الطهارة باب المسح على الناصية والعمامة (رقم-۸۳ - (۲۴۷) والنسائی کتاب الطهارة/باب المسح على العمامة مع الناصية باب المسح على العمامة مع الناصية (رقم- ۱۰۷)

چه په مسح علی العمامه اکتفاء جائز ده.

② دامام شافعی رحمه الله په نزد په مسح علی العمامه خواکتفاء صحیح نه ده . خو په سربانديې په مقدارفرض مسح کولو نه پس سنت استیعاب په عمامه اداکیدې شی . قاضی ابوبکربن العربی رحمه الله داقول امام ابوحنیفه رحمه الله ته هم منسوب کړې دې . خوشاه صاحب رحمه الله فرمائیلی دی چې د ډیرتلاش باوجود دا روایت ماته معلوم نشو.

③ داحنافو اودمالکیو په نزد سنت استیعاب هم په مسح علی العمامه نه اداء کیږی .

په قائلینوده جواز کښې هرې دلي: ① مسح علی العمامه مطلقاً جائزه ده برابره ده که عمامه ئې په طهارة تړلې وی اوکه بغیرطهارة که مضبوطه ئې تړلې وی اوکه غیرمضبوطه.د دوی استدلال په ذکرشوي څلوراحادیثودې په کوم کښې چې څه قید نشته.

② امام احمددا شرطونه لګوی چې مضبوطه ئې تړلې وی اوتحت الحنك يې تړلې وی اود عمامه پلونه هم وی.که په دې کښې یو شرط هم نه وی نو بیا د د دې پرانستل آسان دی په دې به مسح نشی کولې.

③ ابوثور رحمه الله مسح علی العمامه دپاره طهارة شرط ګرځولی چې عمامه به يې داودس په حالت کښې تړلې وی.دغه شان د ابوثور په نیز د مسح علی العمامه هم لکه د مسح علی الخفین دپاره توقیت دې.

د جواز المسح على العمامة دلائل: ① يوروايت حديث الباب کښې دې کوم چې د ابن مغيره څخه روايت دې.

② دحضرت بلال رضي الله عنه روایت دې.چه امام ترمذی رحمه الله هم ددې باب په آخرکښې تخریج کړې دې . ((عن بلال رضي الله عنه ان النبي صلى الله عليه وسلم مسح على الخفين والخمار))

③ د حضرت ثوبان دروایت څخه روایت دې ((قالت بعث رسول الله ﷺ سرية فأصابهم البرد فلما قدموا على رسول الله ﷺ امرهم ان يمسحوا على العصائب العمائم، والتساخين، جمع تسخان بمعنى الخف)) [ابوداؤد باب المسح على العمامه]-

④ د حضرت عمروبن امیه ضمری څخه روایت دې . دینه دمسح علی العمامه ثبوت ملاویږی ([1]) . دا مذکوره څلور واړه حدیثونه سنداً صحیح دي .

دعدم جواز دلائل: ① قرآنی آیت ((وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ)) دې طریقه د استدلال دا ده چې د مسح علی العمامه احادیث اخباراحاد دی . په دې سره په کتاب الله زیاتي ممکن نه دي

اشکال: ثبوت د مسح علی الخفین هم اخبار آحاد دی.نوبیا په هغې باندې څنګه په کتاب الله باندې زیادت کولې شی.؟

---

[1] الصحيح البخاري باب المسح على الخفين) _

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: په خلاف دمسح علی الخفین چه اول خو پخپله دقرآن کریم دقراۃ د جرځخه دیته اشاره کیږی . دویم ددې احادیث معنی متواتر دی . د دې وجې دې سره په کتاب الله زیاتې ممکن دې .

دجوازمسح علی العمامة د دلائلو ځخه جواب: ترکومې چه دحدیث دباب اودمسح علی عمامه دنورو احادیثو تعلق دې . دجمهورو دطرف نه ددې جوابونه حافظ ابن عبدالبردا ورکړی دی.

د سند په اعتبار سره ضعف: چې د مسح علی العمامة ځلور روایات دی.① عمروبن امیه ② ثوبان ③ مغیره بن شعبه ④ بلال .دا ټول روایات ضعیف دی.اود بخاری د روایت په باره کښې یې فرمائیلی دی چې مونږ ((الاجوبة من المسائل المستغربه من البخاری)) کښې دا ناقابل حجت ثابت کړې دې.

دمتن په اعتبارسره ضعف: دا خو د دې روایاتو په سند بآندې کلام وو.د دې په متن باندې هم کلام شوې دې.

① په بعضې روایاتو کښې ((مسح علی الخفین والعمامة)) راغلی دی.
② په بعضې کښې د عمامه سره د ناصیه هم ذکر دې.
③ په بعضې کښې د طرف العمامة ذکر دې
④ په بعضې کښې د وضع الید علی العمامه ذکر دې.

② **تسلیمی جواب:** که ددې صحت تسیلیم کړې شی نو بیا جواب دا دې چې چې په دې کښې د ناصیه ذکر هم شته او د ناصیه زیادت د ثقاتو دې.اود ثقاتو زیادت معتبر وی نو په ناصیه باندې مسح ثابته شوه صرف په عمامه بآندې ثابته نشوه بلکه ورسره په ناصیه هم ثابته شوه.اوهرکله چې مفروض مسح ده نوبیا په عمامه باندې مسح کول ځنګه صحیح کیدې شی.

③ په عمامه باندې مسح کول به ئې د عذر په وجه کړې وی د زکام یا د پټی په وجه به ئې په عمامه باندې مسح کړې وی د دې تائید د بلال رضی الله عنه د روایت ځخه هم کیږی چې نبی کریم ﷺ په خمار باندې مسح اوکړه اود خمار ځخه مراد د ښځو پړونی نه دې بلکه ددې ځخه مراد د زخم پټی ده.یا هغه کپړه کومه چې د تیل لګولو نه پس په عمامه یا ټوپۍ باندې د تیلو ځخه د حفاظت په غرض په سر بآندې کیخودې شی.

④ دمسح علی العمامه روایات احتمال د تاویل لری اودحافظ زیلعی رحمه الله دقول مطابق چه په کومو روایتونو کښې دمسح علی العمامة ذکردې . هغه مختصردی .اصل کښې ((مسح علی ناصیته وعمامته)) وو چه ددې مختصرشکل صرف علی عمامته جوړشو. لکه په بعضې

روایاتوکښې د «علی ناصیته» تصریح شته دې.پخپله امام ترمذی رحمه الله فرمائی ((وذکر محمد بن البشار فی هذا الحدیث فی موضع اخر انه مسح علی ناصیته وعمامته))
دحضرت بلال رضی الله عنه په روایت کښې هم په بعضې طرق کښې دناصیه ذکر راغلې دې .
دارنګه دحضرت جابر رضی الله عنه دراتلونکې حدیث نه هم ددې تائید کیږی .چې دې کښې عمار بن یاسر رضی الله عنه فرمائی چه ماته ددې ټولو روایاتو په بناء داخبره صحیح معلومیږی . چه دوی کله هم په خالی عمامه مسح نه ده کړې . د دې وجې اوس به دمسح علی العمامه ټولو روایاتو دامحمل وی . چه حضرت نبی کریم ﷺ د سر مقدارمفروض مسح اوکړه . او دینه پس ئې په عمامه لاس راښکو اوداعمل دبیان دجواز دپاره وو .
⑤ حضرت نبی کریم ﷺ دمسح راس نه پس عمامه صحیح کړه.او راوی د نبی کریم ﷺ دا عمل مسح علی العمامه اوګنړله خوداجواب کمزورې دې . ځکه چه دادثقه راویانو په فهم باندې دبدګمانۍ حیثیت لری اودمسح علی العمامه روایات دمتعدد صحابه کرامو ځخه مروی دی اوددې ټولو په باره کښې داخیال سوء ظن دې .
⑥ دا واقعه د وضوء علی الوضوء ده.اوپه وضوء علی الوضوء کښې توسع وی.اعضاء مغسولۍ ته هم پوره اوبه رسول ضروری نه وی.نوپه ممسوحه کښې به په طریق اولی ضروری نه وی.
⑦ امام محمد(۱)په یوبلې طریقې سره دمسح علی العمامه روایاتو جواب ورکړې دې .هغه لیکی ((بلغنا ان المسح علی العمامة کان فترك)) مولاناعبدالحی لکهنوی رحمه الله لیکی چه دامام محمد رحمه الله بلاغات مسندی دی. که داخبره صحیح وی . نو خبره بالکل صفاکیږی . اودمسح علی العمامه داحادیثو بهترین جواب جوړیږی چه مسح علی العمامه منسوخ شوې ده . داد مسح علی العمامه دبحث لب لباب وو . په دې موضوع دټولو نه مفصل اوشافی بحث په اعلاء السنن (۱/۸۱تا۸۷)- کښې شوې دې .

[۴۰۰] په اودس کښې د ښې طرف ځخه شروع کول

۴۰۰-(۲) [۸] ①وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ②«كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ فِي شَأْنِهِ كُلِّهِ: ③فِي طُهُورِهِ وَتَرَجُّلِهِ وَتَنَعُّلِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

اود حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی② چه رسول الله ﷺ به ترخپله وسه پورې خپل ټول کارونه په ښی لاس باندې شروع کول خوښول③ (مثلاً) په خپل طهارت کولو کښې، خپله ګمنزه کولو کښې اوخپلې څپلئی اچولو کښې. (بخاری و مسلم)

(۱) موطاء امام محمد باب المسح علی العمامة والخمار ۱۲ ـ
(۲) اخرجه بخاری کتاب الصلوة باب التیمن فی دخول المسجد وغیره(رقم-). اخرجه مسلم کتاب الطهارة باب التیمن فی الطهور وغیره (رقم-۶۷ - (۲۶۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

حل اللغات: ① التَّيَمُّنَ: دا د يُمن نه دې، په لغت کښې برکت ته وائی او ددې ضد الشّوم راځی، او تَيَمُّنَ وائی: الاِبْتِدَاءُ فِي الْأَفْعَالِ بِالْيَدِ الْيُمْنَى: په کارونو کښې د ښی اړخ نه شروع کول (مثلا په اندامونو کښې ښې لاس، ښئ خپه وغیره مخکښې کول). ② شَأْنِهِ: أَيْ: فِي أَمْرِهِ: یعنی په خپلو کارونوکښې، ③ تَرَجُّلِهِ: أَيِ امْتِشَاطِهِ الشَّعْرَ: ویښته ګومنځ کولوکښې، ④ تَنَعُّلِهِ: أَيْ: لُبْسِ نَعْلِهِ: پیزار، پنړې په خپو کولوکښې (دغسې په موزو، جامو وغیره اغوستلو کښې).

الْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۰۱] د خپل ښی طرف څخه شروع کول

۳۰۱- (۱) [۹] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِذَا لَبِسْتُمْ وَإِذَا تَوَضَّأْتُمْ ③ فَابْدَءُوا بِأَيَامِنِكُمْ»" رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

او حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو ② کله چه تاسو (لباس وغیره) اغوندئې یا اودس کوئ ③ نو د خپل ښی طرفنه شروع کوئی. (احمد و ابوداؤد)

حل اللغات: ① أَيَامِنِكُمْ: وَهُوَ بِمَعْنَى الْيَمِينِ: دا په معنی د یمین سره دې ښی اړخ ته وائی.

[۳۰۲] په اودس کښې د بسم الله نه وئیلو حکم

۳۰۲- (۲) [۱۰] ① وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«لَا وُضُوءَ لِمَنْ لَمْ يَذْكُرِ اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

او حضرت سعیدبن زید رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو ② کوم سړی چه د (اودس په وخت) د الله تعالی نوم وانخستلو د هغه اودس اونه شو (ترمذی، ابن ماجه)

حل اللغات: ① لَا وُضُوءَ: أَيْ: كَامِلًا: یعنی کامل اودس نې اونه اوشو.

۳۰۳- (۳) [۰] ① وَرَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

او احمد او ابو داؤد داحدیث د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه

۳۰۴- (۴) [۰] ① وَالدَّارِمِيُّ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، ② وَزَادُوا فِي أَوَّلِهِ: «لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَا وُضُوءَ لَهُ»".

---

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة،باب فی وقت صلاة الظهر(رقم-۴۰۱)باب فی الانتعال (رقم - ۴۱۴۱)

(۲) اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی التسمیة عند الوضوء (رقم- ۲۵) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فی التسمیة فی الوضوء (رقم-۳۹۸)

(۳) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة ، باب فی التسمیة علی الوضوء (رقم-۱۰۱) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فی التسمیة فی الوضوء (رقم-۳۹۹)

(۴) اخرجه الدارمی کتاب الطهارة/باب التسمیة فی الوضوء (رقم-۷۱۸)

او دارمي دَ ابن ابو سعید خدري رضی الله عنه نه اوهغوی دَ خپل پلار نه روایت کړې دې. [۲] بله دا چه دغه خلقو دَ خپل روایت په شروع کښې دا الفاظ زیاتي ذکرکړي دی چه دَ هغه سړي مونځ نه کیږي چا چه اودس اونه کړو.

د راوي مختصر تعارف:

نوم سعید، ابوالاعور کنیت دَ پلار نوم زید اودَمور نوم فاطمه بنت لعجه وو.

اسلام قبولول: دَ حق په لټون کښې یو یهودي عالم له اورسیدو هغه اووئیل که چرې ته دَ الله تعالی په غضب کښې راتلل غواړې نوزمونږ مذهب حاضر دې. هغه وئیل چه ته دَ دین حنیف اتباع اوکړه. دغه شان یو بل یهودي عالم ورته اووئیل دې نه پس هغه سره دَ خپلې ښځې دَ اسلام په دائره کښې داخل شو. دَ هغه ښځه دَ حضرت عمر رضی الله عنه حقیقي خوروه دَ کومې نوم چه فاطمه رضی الله عنها وو.

دَ غزوه بدر نه بغیر په ټولو غزواتوکښې بهادري خودلې وه. حضرت سعید رضی الله عنه په دنیاوي سازوسامان او عزت سره مستغني وو صرف په مقام عقیق (مدینې په نواح کښې) جائیداد باندې وخت تیرولو. په آخره کښې حضرت عثمان غني رضی الله عنه په عراق کښې هغه ته یوجاګیر ورکړې وو اودې په عشره مبشره کښې شامل دې کومو ته چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په دنیاکښې دَ جنت زیرې اورولې وو. او دَ جاهلیت په زمانه کښې چه به چا خپله لور ژوندئې خښول غوښتل نودَ هغې په بچ کولو کښې به ئې امداد کولو او چه کله به یوظالم پلار دَ خپلې لور په حلق کښې چاړه ورتاوهله نو په خپل کفالت کښې به ئې اخستله اودَ خوانیدو نه پس به ئې دَ هغې پلارته وئیل که زړه دې غواړي نو واخله یا ئې ماسره پریږده.

وفات: مدینې سره نیزدې مقام عقیق کښې دَ جمعې په ورځ چه عمر ئې تقریبًا اویا کاله وو دَ دې دنیانه لاړو. حضرت سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه ورته غسل ورکړو حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه جنازه اوکړه او مدینې ته راوړلې شو او ښخ کړې شو.

مرویات: دَهغه نه ۴۸ روایتونه نقل دی په دوو احادیثوکښې بخاري اومسلم متفق دی په یوکښې امام بخاري رحمه الله منفرد دې باقي دَ احادیثو په نورو کتابونوکښې دَهغوی احادیث موجود دی.

تسهیلات:

قوله: لَاوُضُوءَلَهُ: په دې باندې ټول امت متفق دې چې د اودس په شروع کښې بسم الله وئیل مستحب دی. او یوخوښ فعل دې، اګرچې دبسم الله په قانوني حیثیت کښې اختلاف دې.

داوس په اوس کښې د تسمیه په حکم کښې مذاهب:

وضوء کښې د تسمیه څه حیثیت دې؟ په دې باره کښې دفقهاؤ لږ اختلاف دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

① احناف رحمهم الله شافعیه مالکیه اوحنابله د څلور وارو نه یو روایت دسنیت دې او یود استحباب حنفیانو کښې صاحب هدایه داستحباب روایت ته ترجیح ورکړې ده. او د شافعیوْ او دمالکیه په نزد اصح داده چه تسمیه فی الوضوء سنت ده دحنابلوْ په دوه روایتو نوکښې استحباب روایت ته علامه ابن قدامه چه دفقه حنبلی مستندترین راوی دې ترجیح ورکړې ده.

② امام اسحاق بن راهویه او بعضې اهل ظاهر وائی چه وضوء کښې تسمیه واجب ده.ددوی په نزدکه ده قصداً تسمیه پرېښودله نود وضوء اعاده واجب ده.البته که نسیاناًپاتې شوه نومعاف ده.

د دوی دلیل: د دوی دلیل حدیث الباب دې.په دې کښې نفی علیه السلام ښکاره فرمائیلی دی چې چا تسمیه اونه وئیله نو د هغه اودس نه کیږی.

د دې دلیل جوابونه:

① **د حدیث ضعف:** دتسیمه وجوب په یوقوی روایت سره هم ثابت نه دې اوحدیث دباب دخپلوټولواسانیدو سره ضعیف دې لکه چه دامام احمد رحمه الله قول پخپله امام ترمذی رحمه الله نقل کړې دې.چه ((لااعلم فی هذا الباب حدیث له اسناد جید)) ددې وجه داده چه اول خو د حدیث باب مدار په رباح بن عبدالرحمن دې اوحافظ ابن حجر رحمه الله مجهول ګرځولې دې.(۱) دارنګه حافظ رحمه الله دامام ابوزرعه او ابوحاتم قول هم نقل کړې دې.چه دوی هم رباح ته مجهول وئیلې دې.

اشکال: په دې اشکال کیدې شی.چه امام ابن حبان په کتاب الثقات کښې درباح ذکر کړې دې.

د اشکال جواب: خو ددې جواب دا دې چه علامه سیوطی رحمه الله په تدریب الراوی کښې تصریح کړې ده.(۲) چه د امام ابن حبان اصطلاح د جمهورو محدثینونه جدا ده.او هغه دا که یو سړی نه څوك ثقه روایت کوی.نودوې دده د جهالت سره دې ثقه ګرځوی .ددې وجه د یو راوی د ابن حبان په کتاب الثقات کښې د ذکرکیدو څخه دا نه لازمیږی.چه دا راوی به په نفس الامرکښې هم ثقه وی.

حدیث باب کښې دویم ضعف په دې بناء دې چه دې کښې ابوثقال المری راغلې دې او علامه هیثمی رحمه الله په مجمع الزوائد"(۳) کښې لیکی چه ((قال البخاری فی حدیثه نظر))

ددې تفصیل څخه دامعلومه شوه چې داحدیث ضعیف دې اوضعیف سره وجوب نه ثابتیږی.

---

(۱) التلخیص الحبیر ۱\۸٤
(۲) تدریب الراوی نوع (۱) الکلام علی صحیح ابن حبان (۵۳\۱) _
(۳) مجمع الزوائد اوآخرباب فرض الوضوء ۱\۲۲۸) _

② **د اودس په روایاتو کښې د تسمیه عدم ذکر:** ډیرو صحابه کرام﷜ د نبی کریمﷺ وضوء په پوره تفصیل سره بیان کړې دې.دې کښې چرته هم دتسمیه ذکرنه ملاویږی.که تسمیه واجب وې نو دې احادیثوکښې به ددې ذکر ضرور وو.

③ **د تسمیه څخه نیت مراد اخستل:** ابن عربی ﷫ په عارضة الاحوذی کښې او ابوداؤد په خپل سنن کښې د ربیعة الرائي قول نقل کړې دې چې دلته د تسمیه نه مراد نیت دې.اوچې د حدیث په الفاظو غور اوکړې شی هم دا ترې معلومیږی. ځکه چې ((لمن لم یذکر اسم الله)) فرمائیلی دی ((لمن لا یسم الله))ئې نه دی فرمائیلی مطلب دا دې چې څوك یاد نکړی د الله تعالی نوم او یادول د زړه کار دې کوم ته چې نیت وئیلی شی.

ابن عربی فرمائی چې ذکر مقابل د نسیان دې.او په نسیان او ذ کر کښې تقابل تضاد دې.او د تقابل تضاد قاعده دا ده چې د دواړو متضادینو محل یو وی.اود نسیان محل قلب دې نو د ذکر محل چې د نسیان مقابل دې هغه به هم قلب وی.او په قلب کښې نیت وی نو په حدیث کښې به د ذکر څخه مراد نیت وی.تسمیه به نه وی.

④ جمهور په حدیث باب کښې نفی په نفی کمال حمل کوی نه په نفی دجواز((کما فی قوله علیه السلام لا صلوة لجار المسجد الا فی المسجد)) ([1]) د جمات سره چې د چا کور نزدې وی د هغه مونځ په کور کښې نه کیږی.یعنی کامل مونځ ئې نه کیږی.اوکه وې کړل نو مونځ صحیح دې.

دغه شان په حدیث الباب کښې هم تاویل کولې شی.

اشکال: دلته دا اعتراض کیدې شی چې کلمه د ،،لا،، په نفی د جنس کښې حقیقت دې.اوپه نفی د کمال کښې مجاز دې.اواصل په الفاظو کښې دا دې چې په حقیقی معنی کښې استعمالیږی نه چې په مجازی معنی کښې اوچې ترکومې پورې حقیقی معنی متعذره نه وی نو مجاز ته صیرورت نشی کولې.یا د مجازی معنی اخستو باندې څه قرینې موجوده وی.

د اشکال جواب: آو دلته بعضې قرائن موجود دی کوم چې په دې دلالت کوی چې دلته ،،لا،، د نفی کمال دپاره ده.

د نفی الکمال قرائن:

① **تسمیه د ټول بدن د طهارت سبب:** دارقطنی ﷫ بیهقی کښې دحضرت ابوهریره﷜ وغیره نه مرفوعًا روایت کړې دې. چه ((من توضأ فذکر اسم الله علی وضوئه کان طهورًا لجسده قال ومن توضأ ولم یذکر اسم الله علیه کان طهورًا لاعضائه)) ([2])

[1]) (دارقطنی ۱\۱کتاب الصلوة باب الحث لجار المسجد علی الصلوة فیه الامن عذر ۱\۴۲۰)

[2]) دارقطنی ۱\ ۷۴، ۷۵ باب التسمیة علی الوضوء وسنن کبری بیهقی ۱\۴۴ باب التسمیة علی الوضوء)) راجع لحقیق هذا الحدیث حاشیة الکوکب الدری ۱\۴۲ والتلخیص للحافظ ۱\۷۶ سنن الوضوء) _

Maktaba Tul Ishaat.com

۲ د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی.((قَالَ رسول الله ﷺ من توضأ وذكر اسم الله تطهر جسده كله ومن توضأ ولم يذكر اسم الله لم يطهر الا موضع الوضوء)) (۱) دینه معلومه شو.چه بغیردتسمیه هم وضوء معتبر دي

استدلال: دلته په حدیث کښې د دې صراحت دې چې د الله نوم وانخلي نو صرف د اودس اندامونه ئې پاك شو.یعنی اودس ئې اوشو.

الاشکال: په دې اعتراض کیږي.چه داحدیث ضعیف دې ځکه چه دحضرت ابوهریره رضی الله عنه په دې حدیث کښې مرداس بن محمد دخپل پلار نه روایت کوی او دادواړه ضعیف دی او دا روایت بیهقی او دارقطنی دابن عمرنه هم روایت کړې دې.دې کښې ابوبکرالداهری متروك دې او دده په باره کښې وئیلې شوی دی.چه دې د خپل ځان ځخه حدیثونه جوړوی.بیهقی او دارقطنی دارروایت د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه ځخه هم روایت کړې دې.دې کښې یحیی بن هاشم سمسارمتروك دې او هم دا حدیث دعبدالملك بن حبیب عن اسمعیل بن عیاش عن ابان په طریق سره مرسلاً مروی دې خودا یوضعیف ترین مرسل دې اومصنف ابن ابی شیبه ۳۱۱ کښې هم دا الفاظ د حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه نه مرفوعًا مروی دی.خودې کښې لیث بن ابی سلیم اوحسن بن عماره متکلم فیه دی .د دې وجه نه داروایت ضعیف دې.

د اشکال جواب: خوددې جواب دادې چه څنګه حدیث باب ضعیف سره دتعدد طرق په بناء قبول کړې شو داسې دا حدیث هم د تعدد طرق په وجه د حسن لغیره په مرتبه شو.

۳ **دحمد عدم وجوب:** علامه نیموی رحمه الله دحضرت ابوهریره رضی الله عنه ځخه مرفوع حدیث روایت کړې دې. ((قَالَ قَالَ رسول الله ﷺ يا اباهريرة رضی الله عنه اذا توضأت فقل بسم الله والحمد لله فان حفظتك لا تبرح تكتب لك الحسنات حتى تحدث من ذلك الوضوء)) (۲) علامه هیثمی ددې حدیث ذکر کولو نه پس فرمائی. ((اسناده حسن)) دا حدیث په استحباب کښې صریح دې ځکه چه دې کښې د الحمدالله وئیلوهم حکم ورکړې شوې دې.چه ددې د وجوب څوك هم قائل نه دی.(۳)

۴ **د باقی اذکارو عدم وجوب:** علامه عثمانی په خپل مسلك ددې حدیث مرفوع نه استدلال کړې دې (۴) چه علامه علی المتقی رحمه الله په کنز العمال (۵) آداب الوضوء کښې د امام مستغفری رحمه الله دکتاب الدعوات په حواله نقل کړې دې

---

(۱) بیهقی ۴۵\۱
(۲) اثارالسنن للنیموی ص.۳۰ ناقلا عن معجم الصغیر للطبرانی)-
(۳) مجمع الزوائد ۲۲۰\۱ باب التسمیة عندالوضوء)-
(۴) اعلاء السنن ۴۴\۱)-
(۵) کنز العمال ۷۲\۱)_

عن البراء مرفوعًا مامن عبد يقول حين يتوضأ بسم الله ثم يقول لكل عضو اشهد ان لا اله الا الله وحده لاشريك له واشهد ان محمدًا عبده ورسوله ثم يقول حين يفرغ اللهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين الافتحت له ثمانية ابواب الجنة يدخل من ايها شاء فان قام من فوره ذلك فصلى ركعتين يقرأ فيهما ويعلم مايقول من صلوته كيوم ولدته امه ثم يقال له استأنف العمل)) مستغفری رحمه الله دي حديث ته حسن غريب وئيلي دي.دي حديث كښي ئي تسميه سره دنورو انكار مسنونه سره موجب فضيلت ګرځولي دي.دا نور اذكار په اتفاق واجب نه دی.د دي وجي تسميه هم واجب نه ده.بلكه مستحب اومسنون ده.

⑤ **په خبر واحد وجوب عدم ثبوت:** د حنفيانو داصولُ مطابق د تسميه په عدم وجوب يواصولی دليل دا دي چه د تسميه ثبوت په اخبار احادو سره شوي دي.اوددي په ذريعه په كتاب الله زيادت نشی كيدي.

⑥ **نفی د ثمر:** حضرت مدنی رحمه الله فرمائيلی دی چي د ابوحنيفه رحمه الله نه د حديث يوه بهترينه توجيه منقول ده هغه دا چي يو وضوء ده كوم چي د وضاءت څخه ماخوذ دي.اويو طهور دي كوم چي د طهارت نه ماخوذ دي.د مانځه دپاره طهارت شرط دي وضاءت شرط نه دي.لكه څنګه چي نبی كريم ﷺ ((لاتقبل صلاة بغيرطهور)) فرمائيلی دی ((بغيروضوء)) ئي نه دی فرمائيلی.د طهارت معنی ازاله الحدث ده كوم چي د مانځه شرط دي.او وضوء په معنی د وضاءت دي يعنی د اندامونو پرقيدل كوم چي شرط نه دي.څكه چي دا د آخرت د امور څنی دي.نو د حديث مطلب دا شو چي د قيامت په ورځ به د متوضی اندامونه نه پرقيږی كه تسميه ئي نه وی وئيلي باقی طهارت خو پرې حاصليږی.لكه چي په دي حديث كښي د آخرت په باره كښي خبره ده د دنيا په باره كښي نه ده.خلاصه دا شوه چي په دي كښي نفی د شرط نه ده بلكه نفی د ثمر ده. (١)

⑦ **بې اودسه د سلام جواب وركولو عدم جواز:** امام طحاوی رحمه الله په نفی دوجوب تسميه باندي د حضرت مهاجربن قنفذ په روايت استدلال كړي دي ((قال رأيت النبی صلی الله عليه وسلم وهو يتوضأ فسلمت عليه فلم يرد علی فلما فرغ من وضوءه قال انه لم يمنعنی ان اردعليك الا انی كنت علی غيرطهر)) (٢)

وجه الاستدلال: وجه داستدلال داده.چه وعليكم السلام كښي صراحة دالله نوم شته. ددي سره دوی ﷺ دا ترك كړو.نو بسم الله چه دي كښي صراحة دالله تعالی نوم نشته.دا دوئ د بې اودسئ په حالت كښي څنګه وئيلي شی؟

اشكال: په دي اشكال كيږی .چه دي روايت نه خود تسميه عندالوضوء كراهت معلوميږی

---

(١) تشريحات ترمذی (١|١٥٣)-

(٢) اخرجه النسائی فی باب ردالسلام بعدالوضوء واخرجه ابوداود وابن ماجة وابن حبان وصحيح فی صحيحه والحاكم فی المستدرک باختلاف فی اللفظ ، معارف السنن (١|١٥٦) _

Maktaba Tul Ishaat.com

حالانکه ددې څوك هم قائل نه دی .

۵ اشکال جواب: ددې جواب حضرت شاه صاحب ﷫ دا ورکړې دې.چه د امام طحاوی ﷫ اصل مقصددا دې.چه ددې روايت څخه عدم وجوب خو معلوم شو پاتې شو ددې مسنون او مستحب کيدل.نو داد دې روايت څخه نۀ معلوميږی.بلکه ددې د اثبات دپاره نورو روايتونه شته دې.

[۴۰۵] د اودس د بعضې اعمالو حکم

۴۰۵–()[۱۱] ۱ وَعَنْ لَقِيطِ بْنِ صَبِرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ۲ «قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَخْبِرْنِي عَنِ الْوُضُوءِ. ۳ قَالَ: أَسْبِغِ الْوُضُوءَ، وَخَلِّلْ بَيْنَ الْأَصَابِعِ، ۴ وَبَالِغْ فِي الِاسْتِنْشَاقِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ صَائِمًا» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ، ۵ وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ إِلَى قَوْلِهِ: بَيْنَ الْأَصَابِعِ.

اود حضرت لقيط بن صبره ﵁ نه روايت دې فرمائی ۲ چه ما عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ ماته دَ اودس باره کښې خبر راکړه. ۳ حضورپاك اوفرمائيل ته اودس پوره کوه، په ګوتو کښې خلال کوه ۴ اوکه چرې ستا روژه نه وی نو پوزې ته په ښه شان سره اوبه رسوه. ‹ابوداؤد ، دارمي› ۵ نسائی، ابن ماجه او دارمی دا حديث بين الاصابع پورې روايت کړې دې.

حل اللغات: ① أَسْبِغْ: أَيْ: أَتِمَّ فَرَائِضَهُ وَسُنَنَهُ: يعنی کامل اودس کوه د فرائضو او سنتو پوره خيال ساته. ② خَلِّلْ: د لاسونو اود خپو د ګوتو په مينځ کښې خلال کوه، ③ بَالِغْ: مبالغه کوه يعنی په ښه شان اوبه رسوه، ④ الِاسْتِنْشَاقِ: پوزه وينځل، د پوزې زيزمو يعنی ويخ ته اوبه رسولو ته استنشاق وائی.

د راوی مختصر تعارف:

نوم لقيط دَ پلار نوم عامر بن صبره بن عبدالله بن مثفق. ده ته لقيط بن صبره وائی يعنی نيکه طرف ته ئی نسبت کيږی. دَ بنو مثفق وفدسره راغلې وو هغه وخت مسلمان شو.

مرويات: دَ هغه نه يوڅو روايتونه نقل دی امام بخاری ﷫ خودَده نه په خپل تاريخ کښې روايت نقل کړې دې خو په صحيح کښې هيڅ روايت نه دې اخستې دغه شان امام مسلم ﷫ هم دَ ده روايت نه دې نقل کړې دَ ده نه اصحاب سنن روايات اخستی دی.

تسهيلات:

قوله: أَخْبِرْنِي عَنِ الْوُضُوءِ.:

دسوال مقصد: دې صحابی ﵁ د اودس دمکملاتو اودَ آدابو باره کښې سوال اوکړو ځکه چې نفس اودس خو ددوئ دپاره يو معروف عمل وو. هم دا وجه ده چې نبی کريم ﷺ په جواب کښې دَ اودس مکملات او محسنات بيان اوفرمائيل.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة . باب فى الاستنثار (رقم- ۱٤۲)وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/المبالغة فى الاستنشاق والاستنثار(رقم- ٤۰۷) اخرجه الترمذى كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية مبالغة الاستنشاق للصائم (رقم-۷۸۸) والدارمى كتاب الطهارة/باب فى تخليل الأصابع (رقم-۷۳۲)

قوله: خَلِّلْ بَيْنَ الْأَصَابِعِ:

د لاسونو د گوتو په خلال كښې مذاهب:

دگوتو نه دلته پښې او دلاسونو گوتې مراد دی. حديث پاك كښې د دواړو ذكر دې.

① د امام مالك رحمه الله او ځينې نورو فقهاء كرامو قول دې چې خلال د پښو د گوتو سره خاص دې لاسونو د گوتو خلال نشته، ځكه چې دلاسونو په گوتو ارتوالی زيات دې په دې وجه په كښې د خلال ضرورت نشته دې. داشان كه د پښو خلال هم پريښودې شی نو پرواه نشته.

② دجمهورو په نيز د پښو او لاسونو د گوتو خلال سنت دې.

اشكال: كه خلال سنت وی نو بيا خو ځينو احاديثو كښې ددې په پريښودلو وعيد ولې راغلې دې د هغې نه اندازه كيږی چې خلال واجب دې.؟

داشكال جواب: ددې جواب دادې كه چرې گوتو كښې فراختيا وی نو خلال سنت دې او كه د پښو گوتې خپلوكښې مضبوطې نښتې وی نو بيا خلال واجب دې. او هم ددې په پريښودلو وعيد راغلې دې چې په مينځ كښې څه ځائې اوچ پاتې نشی. نو وعيد په اوچوالی باندې دې.

[۴۰۶] په اودس كښې د گوتو خلال كول

۴۰۶-()[۱۲] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِذَا تَوَضَّأْتَ فَخَلِّلْ بَيْنَ أَصَابِعِ يَدَيْكَ وَرِجْلَيْكَ» " ③ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ نَحْوَهُ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① اودَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو ② كله چه تاسو اودس كوئی نودَ خپلو لاسونو په گوتو او دخپلو خپو په گوتو كښې خلال كوئی. ③ (ترمذی او ابن ماجه هم دا شان روايت كړې دې اوترمذی وئيلی دی چه دا حديث غريب دې).

قوله: فَخَلِّلْ بَيْنَ أَصَابِعِ يَدَيْكَ وَرِجْلَيْكَ:

د پښو د گوتو دخلال طريقه: د پښو په گوتو كښې د خلال كيفيت دادې چې د كس لاس كچنا(وړه) گوته دې د ښی پښې دَ كچې گوتې په مينځ كښې داخله كړی او ترتيب سره دې د كسې پښې وروكې گوتې پورې مكی او د لاسونو خلال دادې چې د دواړو لاسونو گوتې دې يو بل كښې وركړی او خلال دې اوكړی.

(۱) اخرجه الترمذی كتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب فی تخليل الأصابع (رقم- ۳۹) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب تخليل الأصابع (رقم- ۴۴۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

[٤٠٧] د ګس لاس په لنډه ګوته خلال کول

٤٠٧-(١)[١٣] ① وَعَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، «قَالَ: ② رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ ③ يُدَلِّكُ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ بِخِنْصَرِهِ.» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او د حضرت مستورد بن شداد رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی ② چه ما رسول الله ﷺ اوليدلو کوم وخت ئې چه اودس کولو ③ نو د خپلو خپو ګوتې ئې (د ګس لاس) په کچه ګوته مږلې (يعنی د خپو د ګوتو په مينځ کښې به ئې د ګس لاس په کچې ګوتې سره خلال کولو). (ترمذی، ابوداؤد، ابن ماجه)

حل اللغات: ① يُدَلِّكُ: أَيْ يُخَلِّلُ: د مږلو نه مراد خلال کول دی. ② بِخِنْصَرِهِ: کچه ګوته، نرئ ګوته.

د راوي مختصر تعارف:

نوم ئې مستورد د پلار نوم شداد د قبيلې فهری قرشی سره ئې تعلق لرلو د هغوی شمير د کوفې په خلقو کښې کيږی بيائې په مصرکښې سکونت اختيار کړې وو(٢) دا عجيبه اتفاق دې چه په کومه ورځ رسول الله ﷺ د دنيانه تشريف يوړودې هغه وخت ډير وړوکې ووخودې نه باوجود هغوی د رسول الله ﷺ نه احاديث اوريدلی دی او د دوی نه اووه احاديث روايت دی. څلور احاديث د اهل مصر نه اودوه د اهل لکوفه نه مسلم شريف کښې د هغوی نه روايت موجوددې خوبه بخاری کښې د هغوی نه هيڅ روايت نقل نه دې.

[٤٠٨] په اودس کښې د ږيرې خلال کول

٤٠٨-(٣)[١٤] ① وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ أَخَذَ كَفًّا مِنْ مَاءٍ، ③ فَأَدْخَلَهُ تَحْتَ حَنَكِهِ، ④ فَخَلَّلَ بِهِ لِحْيَتَهُ، ⑤ وَقَالَ: هٰكَذَا أَمَرَنِي رَبِّي». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او د حضرت انس رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ به کله اودس کولو نو يو چونګ اوبه به ئې واخستلې ③ بيا به ئې هغه د زنې لاندې رسولې ④ او په دې سره به ئې په خپله ږيره مبارکه کښې خلال کولو ⑤ او بيا به ئې فرمائيل چه زما پروردګار (د وحی خفی په ذريعه) ماته هم دغه شان حکم فرمائيلې دې. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① كَفًّا: لپه، چونګ، ② حَنَكِهِ: أَيْ تَحْتَ الذَّقْنِ: د خنې لاندې ځائ ته وائ.

تسهيلات:

قوله: فَخَلَّلَ بِهِ لِحْيَتَهُ:

---

(١) اخرجه الترمذی كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب ما جاء أن مفتاح الصلاة الطهور (رقم- ٣) وابوداود كتاب الطهارة . باب غسل الرجلين (رقم- ١٤٨) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/بباب تخليل الأصابع (رقم- ٤٤٦)

(٢) اسدالغابه).(٢) مسلم فی أول كتاب الزهد).

(٣) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة . باب تخليل اللحية (رقم- ١٤٥)

د ږیرې په خلال کښې مذاهب:

① دَامام شافعی رحمه الله امام احمد رحمه الله او اکثر علماؤ په نیز په ږیره کښې خلال کول سنت دی.
② امام مالك رحمه الله دَ مستحب قول اختیار کړې دې.
③ امام مزنی رحمه الله او په یو قول کښې امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چه دا خلال واجب دې.
④ دَائمه احنافو په نیز دَ ږیرې خلال دَ راجح قول مطابق سنت دې

تولو احادیثو ته په کتوسره دا خبره مخې ته راځی چه دَ ږیرې خلال یوښه کار دې او حضور پاك په دې عمل کړې دې.

اوس دا مسئله زیر بحث ده چه دَ ږیرې څه حکم دې آیا وینځل دی که دَدې مسح کول دی؟

د ږیرې په وظیفه کښې مذاهب:

① جمهور وبغیر دَ څه تفصیل نه فرمائیلی دی چه دَ ږیرې وینځل په اودس کښې واجب دی
② احنافو په نیز د ګورې ږیرې د پاسه وینښتو باندې او به بیول فرض دی جرړو ته او به رسول واجب نه دی او د رنګې ږیرې څرمنې ته او به رسول واجب دی.

د ږیرې دوه قسمونه او دهر یو حکم: ① کمه ږیره هغه وی په کوم کښې چه څرمن ښکاری دَ کمې ږیرې حکم دا دې چه دَدې دَ جرړو پورې او به رسول واجب او ضروری دی.
② ګنړه هغه وی په کوم کښې چه دَ مخ څرمن نه ښکاری. او دَ ګنړې ږیرې دا حکم دې چه دَدې جرړو ته او به رسول ضروری نه دی دَ پاسه وینځل فرض دی او دَ ږیرې چه کوم وینښته لاندې زوړند وی دَ هغې وینځل ضروری نه دی او نه مسح کول ضروری دی

د ږیرې د خلال د پاره د نوې اوبو را خستلو حکم: البته خلال کول او دَ خلال دَ پاره نوې او به اخستل ضروری نه دی دَ اودس سابقه او به کافی دی. دَ خلال په مسئلې سره په ضمنی توګه دا خبره بالکل واضح شوه چه په شریعت کښې دَ یوموټې نه دکمې ږیرې وجود نشته دې ځکه چه په خشخشی ږیره کښې څنګه خلال کیدې شی ځکه چه دَ ږیرې دَ خلال کیفیت داسې دې چه دَ وینځلو نه پس دَ لاس ګوتې دَ ږیرې لاندې دا خلولو سره پورته راؤچتولې شی.

[۴۰۹] د نبی علیه السلام په ږیره کښې خلال ول

۴۰۹ – ()[۱۵] [۱] وَعَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: [۲] أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُخَلِّلُ لِحْيَتَهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او دَ حضرت عثمان رضی الله عنه نه روایت دې [۲] چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به (دَ اودس کولو په وخت) په خپله ږیره مبارکه کښې خلال کولو (ترمذی، دارمی)

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ باب ما جاء فی تخلیل اللحیة (رقم- ۳۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

[٤١٠] د نبی علیه السلام د اودس طریقه

۴۱۰-()[۱۶] ① وَعَنْ أَبِي حَيَّةَ قَالَ: ② «رَأَيْتُ عَلِيًّا تَوَضَّأَ فَغَسَلَ كَفَّيْهِ حَتَّى أَنْقَاهُمَا، ③ ثُمَّ مَضْمَضَ ثَلَاثًا وَاسْتَنْشَقَ ثَلَاثًا ④ وَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا، وَذِرَاعَيْهِ ثَلَاثًا ⑤ وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ مَرَّةً، ثُمَّ غَسَلَ قَدَمَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ، ⑥ ثُمَّ قَامَ فَأَخَذَ فَضْلَ طَهُورِهِ فَشَرِبَهُ وَهُوَ قَائِمٌ ⑦ ثُمَّ قَالَ: أَحْبَبْتُ أَنْ أُرِيَكُمْ كَيْفَ كَانَ طَهُورُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او د حضرت ابوحیه رحمه الله نه روایت دې فرمائي ② چه ما حضرت علي رضي الله عنه په اودس کولو اولیدو. نو هغوی خپل لاسونه اووینځل تردې چه هغه ئې پاک کړل. ③ بیائې درې غرغرې اوکړې، درې ځل ئې په پوزه کښې اوبه واچولې، ④ درې ځل ئې خپل مخ اووینځلو. درې ځل ئې خپل لاسونه ترڅنګلوپورې اووینځل، ⑤ یو ځل ئې د سر مسح اوکړه او خپلې دواړه خپې ئې تر ګیټو پورې اووینځلې. ⑥ بیا اودریدو او د اودس نه پاتې شوې اوبه ئې په ولاړه باندې اوڅکلې ⑦ او بیائې اوفرمائیل چه ما دا خوښ کړل چه تاسو ته دا اوښایم چه د حضورپاک اودس څنګه وو. (ترمذي، نسائي)

حل اللغات: ① أَنْقَاهُمَا: أَيْ: أَزَالَ الْوَسَخَ عَنْهُمَا: خیرې ئې ترې لرې کړې یعنی پاک ئې کړو. ② اسْتَنْشَقَ: پوزه کښې ئې اوبه واچولې، ③ ذِرَاعَيْهِ: أَيْ: يَدَيْهِ مِنْ رُءُوسِ الْأَصَابِعِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ: دواړه متې یعنی د ګوتو نه تر څنګلو پورې.

[۴۱۱] د نبی علیه السلام د اودس نقل کول

۴۱۱-()[۱۷] ① وَعَنْ عَبْدِ خَيْرٍ «قَالَ: ② نَحْنُ جُلُوسٌ نَنْظُرُ إِلَى عَلِيٍّ حِينَ تَوَضَّأَ ③ فَأَدْخَلَ يَدَهُ الْيُمْنَى فَمَلَأَ فَمَهُ، فَمَضْمَضَ ④ وَاسْتَنْشَقَ وَنَثَرَ بِيَدِهِ الْيُسْرَى، فَعَلَ هَذَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، ⑤ ثُمَّ قَالَ: مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى طَهُورِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهَذَا طَهُورُهُ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او د حضرت عبد خیر رحمه الله نه روایت دې فرمائي ② چه مونږ ناست وو د حضرت علي رضي الله عنه اودس کولو ته مو کتل. ③ نوهغوی د لوښي نه په ښي لاس سره اوبه واخستې او په خله کښې ئې واچولې او غرغرې ئې اوکړې، ④ او په پوزه کښې ئې اوبه واچولې او په ګس لاس باندې ئې پوزه سونږکړه. دغه شان ئې درې ځل اوکړل. ⑤ بیا ئې اوفرمائیل چه د چا دپاره دا خبره د خوشحالۍ وی چه هغه د رسول الله ﷺ اودس اوګوری نو (هغه دې اوګوری چه) د حضورپاك اودس داسې دې (یعنی حضورپاك به داسې اودس کولو) (دارمی)

حل اللغات: ① فَمَلَأَ: ډکه ئې کړه (خُله) یعنی خله کښې ئې اوبه واچولې، ② فَمَضْمَضَ: أَيْ: حَرَّكَ الْمَاءَ فِي فِيهِ: په خُله کښې ئې اوبه اوړقولې یعنی خُله ئې اووینځله، ③ اسْتَنْشَقَ: أَيْ: أَدْخَلَ الْمَاءَ فِي أَنْفِهِ:

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ باب ما جاء فی تخلیل اللحیة (رقم-۳۱)
(۲) اخرجه النسائی کتاب الطهارة/باب بأی الیدین یستنثر(رقم-۹۱)



په پوزه کښې ئې اوبه واچولې، ④ نَثَرَ: أَيْ: أَخْرَجَ الْمُخَاطَ وَالْأَذٰى مِنْ أَنْفِهِ: پوزې نه ئې اوبه وغیره راویستل، یعنی پوزه ئې سونړ کړه، ⑤ سَرَّهُ: أَيْ: جَعَلَهُ مَسْرُوْرًا وَأَحَبَّ: خان خوشحالوی، خوښوی.

[۴۴] په خله او پوزه کښې اوبه اچول

۴۴-(۱) [۱۸] ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، «قَالَ: ۲ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفٍّ وَاحِدٍ، فَعَلَ ذٰلِكَ ثَلَاثًا». رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ او د حضرت عبدالله بن زید ﷺ نه روایت دې فرمائی ۲ چه ما رسول الله ﷺ ته اوکتل چه حضورپاک هم په یو چونګ سره غړغړې اوکړې او په پوزه کښې ئې اوبه واچولې اوداسې ئې درې ځل اوکړل. (ابوداود، ترمذی)

[۴۴] د سر او غوږونو مسح کول

۴۴-(۲) [۱۹] ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا ۲ «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَسَحَ بِرَأْسِهِ، وَأُذُنَيْهِ: ۳ بَاطِنَهُمَا بِالسَّبَّاحَتَيْنِ، ۴ وَظَاهِرَهُمَا بِإِبْهَامَيْهِ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۱ او د حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې فرمائی ۲ چه رسول الله ﷺ د خپل سر او دواړو غوږونو مسح اوکړه ۳ او د غوږونو دننه حصې مسح ئې په خپلو د شهادت ګوتو سره ۴ او د ظاهري حصې مسح ئې په غټو ګوتو سره اوکړه. (نسائی)

حل اللغات: ① السَّبَّاحَتَيْنِ: وَهُمَا السَّبَّابَتَانِ: مسواکي ګوتې ته وائي. (په زمانه دجاهلیت کښې به خلقو دکنځلو په وخت دا ګوته داشارې په طور استعمالوله ځکه به ئې ورته سبابه وئیل، اسلام دا نوم خوښ نه کړو ددې په ځائ ئې مسبحه استعمال کړو ځکه چه په دې سره تسبیح وئیلې کیږي.
② إِبْهَامَيْهِ: تثنیه د ابهام ده متّه ګوته.

[۴۴] د نبی علیه السلام د سر د مسحې طریقه

۴۴-(۳) [۲۰] ۱ وَعَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، «أَنَّهَا رَأَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ ۲ قَالَتْ: فَمَسَحَ رَأْسَهُ مَا أَقْبَلَ مِنْهُ وَمَا أَدْبَرَ، ۳ وَصُدْغَيْهِ وَأُذُنَيْهِ مَرَّةً وَاحِدَةً».

ترجمه: ۱ او د حضرت ربیع بنت معوذ ﷺ نه روایت دې ۲ چه هغې رسول الله ﷺ په اودس کولو اولیدلو. ۲ چنانچه هغه فرمائی چه حضورپاک د خپل سر په وړاندینی حصه باندې، شاتنې حصې باندې ۳ او په سنړو او په غوږونو باندې یو ځل مسح اوکړه

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة، باب صفة وضوء النبى صلى الله عليه وسلم (رقم- ۱۱۹)
(۲) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة، باب صفة وضوء النبى صلى الله عليه وسلم (رقم- ۱۱۹) اخرجه النسائى كتاب الطهارة/باب مسح الأذنين مع الرأس وما يستدل به على أنهما من الرأس(رقم-۱۰۲) والترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب مسح الأذنين ظاهرهما وباطنهما (رقم- ۳۶)
(۳) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة، باب فى الرجل يدخل يده فى الإناء قبل أن يغسلها (رقم- ۱۲۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ: «أَنَّهُ تَوَضَّأَ [۲] فَأَدْخَلَ أُصْبُعَيْهِ فِي جُحْرَيْ أُذُنَيْهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ [۳] وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ الرِّوَايَةَ الْأُولَى، وَأَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ الثَّانِيَةَ.

ترجمه: [۱] او په يو روايت كښې دي چه حضورپاك اودس اوكړو [۲] چنانچه (دَ مسح دپاره) ئې خپلې دواړه ګوتې دَ خپلو دواړو غوږونو په سورو كښې داخل كړې. (ابوداؤد) [۳] ترمذی اول حديث او احمد ابن ماجه دويم حديث روايت كړې دې.

حل اللغات: ① صُدْغَيْهِ: مَا بَيْنَ الْأُذُنَيْنِ وَالْعَيْنِ: د غوږونو او سترګو په مينځ كښې حصې ته وائى كوم ځائ چه ويښته راخيژى. ② جُحْرَيْ: أَيْ: صِمَاخ: د غوږونو سورو ته وائى.

[۴۱۵] په نوواوبو سره د سرمسح كول

۴۱۵—() [۲۱] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، «أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ، [۲] وَأَنَّهُ مَسَحَ رَأْسَهُ بِمَاءٍ غَيْرِ فَضْلِ يَدَيْهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، [۳] وَرَوَاهُ مُسْلِمٌ مَعَ زَوَائِدَ.

ترجمه: [۱] او دَ حضرت عبدالله بن زيد رضي الله عنه نه روايت دې چه ما رسول الله ﷺ په اودس كولو اوليدلو. [۲] حضورپاك دَ خپل سر مسح په هغه اوبو سره اوكړه كومې چه دَ لاسونو نه بچ شوې نه وې (يعنى نوې اوبه اخستو سره ئې مسح اوكړه) ترمذی [۳] او مسلم دا روايت په زيادت سره نقل كړې دې (په كوم كښې چه دَ نورو اندامونو دَ اودس دَ وينځلو هم ذكر دې).

تسهيلات:

قوله: بِمَاءٍ غَيْرِ فَضْلِ يَدَيْهِ:

د سر دمسحې دپاره نوې اوبه راخستل: يعنى حضرت نبى كريم ﷺ د سر مسح دپاره نوې اوبه راواخستې او دلاس په لوندالى باندې ئې اكتفاء اونه كړه.

د مغسول اندام څخه پاتې شوې اوبو باندې مسح كولو كښې مذاهب:

① د جمهورو په نيز د مغسول اندام څخه پاتې شوو اوبو باندې د سر مسح كول جائزنه ګڼرى بلكه نوې اوبه راخستل ضرورى ګڼرى.

② د احنافو امامانو په كتابونو كښې دا مسئله موجوده ده چې د يو اندام وينځلو نه پس په لاس چې كوم لوندالى پاتې شى هغه د يو اندام د مسح دپاره كافى دى، د نوې اوبه راخستلو ضرورت نشته دې. خو كه په لاسونو سره يې د يو اندام مسح كړى وى نو بيا ددې نه پس د لاس دَ لوندالى د بل اندام د مسح دپاره كافى نه دې. ددې وجه داده چې دمسح نه پس د لاس لوندالى اوبه مستعمل كيږى. او دا دوباره نشى استعمالولې. او په وينځلو

(۱) اخرجه الترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أنه يأخذ لرأسه ماء جديدا (رقم- ۳۵) وابوداود كتاب الطهارة . باب فى الرجل يدخل يده فى الإناء قبل أن يغسلها (رقم- ۱۲۰) ومسلم كتاب الطهارة باب فى وضوء النبى صلى الله عليه وسلم (ررقم) ۱۹ - (۲۳۶)

سره چې کوم لوندالې پاتې کیږی هغه د مستعملو اوبو په حکم کښې نه دی. ځکه چې مستعمل هغه وی چې په یو اندام باندې په استعمال کښې اوبهیولې شی.

د اول فریق دلیل: زیربحث حدیث داول فریق دلیل دې. ځکه چې په دې کښې صراحت دې چې نبی علیه السلام د سر د مسحې دپاره نوې اوبه استعمال کړی دی.

د دویم فریق دلیل: امام ترمذی رحمه الله داحدیث هم دا شان ﴿بماء غیر فضل یدیه﴾ نقل کړې دې لیکن دې سره ئې دا هم ذکر کړی دی چې دابن لهیعه روایت کښې د ﴿غیر فضل یدیه﴾ الفاظ دی. دهغې مطلب دا شو چې د لاسونو نه بچ شوې اوبه نبی کریم ﷺ د سر دمسح دپاره استعمال کړی دی. که دا روایت صحیح شی نو دا به د احنافو دلیل جوړ شی.

احتیاطی خبره: لیکن امام ترمذی رحمه الله اووئیل چې ددې روایت نه وړاندې روایت زیات صحیح دې. ځکه چې هم هغه مشهور دې. (لمعات) بهر حال که نوې اوبه واخستې شی نو هغه به زیات بهتر وی چې د اختلافی صورت نه سرې بچ شی. [اشعة اللمعات: ۲۴۲/۱]

[۳۸] غوږونه د سر په حکم کښې

۳۸-(۱) [۲۲] ⟨۱⟩ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، ⟨۲⟩ «ذَكَرَ وُضُوءَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ⟨۳⟩ وَكَانَ يَمْسَحُ الْمَاقَيْنِ، وَقَالَ: الْأُذُنَانِ مِنَ الرَّأْسِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ. ⟨۴⟩ وَذَكَرَا: قَالَ حَمَّادٌ: لَا أَدْرِي: (الْأُذُنَانِ مِنَ الرَّأْسِ) ⟨۵⟩ مِنْ قَوْلِ أَبِي أُمَامَةَ أَمْ مِنْ قَوْلِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: ⟨۱⟩ او دَ حضرت ابوامامه رضی الله عنه نه روایت دې ⟨۲⟩ چه هغوی د رسول الله ﷺ د اودس کولو ذکر اوکړو نو وئې وئیل چه ⟨۳⟩ حضورپاك به دَ سترګو ګوټونه هم مږل او وئیل ئی چه دواړه غوږونه هم سر کښې داخل دی. (ابن ماجه، ابوداؤد، ترمذی) ⟨۴⟩ او ابو داؤد اوترمذی ذکرکړی دی چه حماد وئیل چه زه دا نه پیژنم چه [الأذنان من الرأس] (یعنی دواړه غوږونه په سر کښې داخل دی) ⟨۵⟩ دَ ابو امامه رضی الله عنه خپل قول دې یا دَ حضورپاك ارشاد ګرامی دې.

حل اللغات: ① الْمَاقَيْنِ: د مَأْق تثنیه ده، طَرَفُ الْعَيْنِ الَّذِي يَلِي الْأَنْفَ وَالْأُذُنَ: د سترګو ګوټونو ته وائی.

تسهیلات:

قوله: الْأُذُنَانِ مِنَ الرَّأْسِ: په اودس کښې دَ غوږونوڅه حکم دې آیا مسح کول دی که وینځل دی نو دَدې باره کښې هم دَعلماؤ مختلف رائې دی:

(۱) اخرجه ابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/بباب الأذنان من الراس (رقم- ٤٤٤) وابوداود كتاب الطهارة، باب فى الرجل يدخل يده فى الإناء قبل أن يغسلها (رقم- ١٣٤) والترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب ما جاء أن الأذنين من الراس (رقم- ٣٧) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/بباب ما جاء فى القصد فى الوضوء وكراهية التعدى فيه (رقم- ٤٢٢) وابوداود كتاب الطهارة، باب الوضوء ثلاثا ثلاثا (رقم- ١٣٥)

Maktaba Tul Ishaat.com

د غوږونو په وظیفه کښې مذاهب چې دا مسح ده که غسل ؟:

① بعضې فقهاء حضرات مثلاً امام زهری رحمه الله ، قاضی ابوشریح او داؤدظاهری اذنین په اعضاء مغسولهٔ کښې شماری او دغوږونو ظاهراوباطن دواړه د مخ سره وینځل ضروری ګرځوی

②اوامام حسن بن صالح او امام شعبی رحمه الله په نیزدغوږونوباطن اعضاء مغسولهٔ کښې دې چه دادمخ سره وینځل واجب دی.د غوږونو ظاهریعنی روستئ حصه اعضاء ممسوحۀ کښې ده.چه دا راس سره مسح کول پکار دی.(١)

③دائمه اربعۀ په نیز د اذنینووظیفه مسح ده نه غسل

د غوږونو د وینځلو دلیل: ((حدیث عائشة رضی الله عنها انه ﷺ کان یقرا فی سجود القرآن سجد وجهی للذی خلقه وصوره وشق سمعه وبصره)) په دې کښې د ((سمعه)) ضمیر وجه ته راجع دې.نوسمع وجه ته منسوب شوه نو د دې حکم به هم د ((وجه))وی.اود مخ وظیفه غسل دې نو غوږونه به هم وینځلی شی.

جواب: دا روایت په دې خبره دلالت نه کوی.چې ((اذن)) د ((وجه)) څخه دې.بلکه د دې په خلاف ((حتی تخرج من اذنیه))مذکوره روایت په دې دلالت کوی چی (اذن) د(راس)څخه دې.دغه شان په راروان باب کښې ((الاذنان من الراس))زیاد صریح دې په دې خبره چې غوږونه د راس څخه دی.نوحکم به ئې هم د راس وی چې مسح ده نه چې د وجه چې غسل دې.

دغسل اومسح د جمع کولودلیل: دحضرت علی رضی الله عنه عمل دې حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمائی چې حضرت علی رضی الله عنه اوبه راغوښتلې اوبیا ئې اوفرمائیل آیا تاسو ته د رسول الله ﷺ اودس اونه ښایم اوبیا ئې اودس اوکړو اوپه هغې روایت کښې دی چه د غوږونو مخکې حصه ئې د مخ سره اووینځله.(٢)

د غوږونو د مسحې دلائل: ①حدیث الباب د جمهورو دلیل دې ځکه چې په دې کښې په صراحت سره دی چې نبی کریم ﷺ د غوږونو په ظاهر اوپه باطن دواړو باندې مسح اوکړه.

② په راروان باب کښې حدیث دې چې ((الاذنان من الراس)) یعنی غوږونه د راس څخه دی.دلته بیان د خلقت نه دې بلکه د حکم دې چې کومه وظیفه د راس ده هغه به د غوږونو هم وی نو معلومه شوه چې د غوږونو مسح کول سنت دی.

---

(١) من نیل الاوطار،١٣٢/١ باب تعاهدالماقین ، ١١٠١٤ باب ان الاذنین من االراس ١٢) _
(٢) رواه البخاری باب حکم الاذنین فی وضوء الصلاة (١|٢٨)-

[۳۱۷] په اودس کښې هر اندام درې ځله وينځل

۳۱۷ـ() [۲۳] [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُهُ عَنِ الْوُضُوءِ، [۳] فَأَرَاهُ ثَلَاثًا ثَلَاثًا. ثُمَّ قَالَ: "هٰكَذَا الْوُضُوءُ، [۴] فَمَنْ زَادَ عَلَى هٰذَا فَقَدْ أَسَاءَ وَتَعَدّٰى وَظَلَمَ» ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَرَوَى أَبُو دَاوُدَ مَعْنَاهُ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو بن شعيب رحمه الله د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه روايت کړې دې. [۲] هغوی وائی چه يو کلی وال د حضورپاك په خدمت کښې حاضر شو او د حضورپاك نه ئې د اودس د کيفيت تپوس اوکړو. [۳] چنانچه حضورپاك هغه ته د اودس اندامونه درې ځل وينځل او اخودل او وئې فرمائيل چه (کامل) اودس داسې دې. [۴] لهذا چاچه په دې باندې زيادت اوکړو (يعنی د دريو ځلو نه ئې زيات اووينځل) هغه بد اوکړل او تجاوز ئې اوکړو او ظلم ئې اوکړو. (نسائی، ابن ماجه) او ابو داؤد هم د دې مطلب حديث شريف روايت کړې دې.

حل اللغات: ① أَسَاءَ: أَيْ: بِتَرْكِ السُّنَّةِ: بد ئې اوکړل يعنی سنت ئې پريخودل، ② تَعَدّٰى: تجاوز ئې اوکړو، د حد نه تيرشو، زياتې ئې اوکړو.

تسهيلات:

قوله: فَمَنْ زَادَ:

اشكال: اطالت غره خومطلوب اومقصود دې حالانکه دلته زيادت فی الوضوء گناه اوظلم خودلې شوې دې؟

د اشكال جواب: د دې حديث مطلب دادې چاچه د دې په تبليغ کښې زياتې اوکړو ياکمې ئې اوکړو نو هغه ظلم اوکړو. چاچه د دې خلاف عقيده اولرله هغه ظلم اوکړو ياچا چه د اودس په مراتبوکښې زياتې اوکړو يعنی د دريو ځلونه ئې زيات اووينځل نو هغه ظلم اوکړو. "اساء" يعنی د ترك سنت د وجې نه هغه گناه اوکړه خراب کارئې اوکړو.

[۳۱۸] په دعا کښې غلو ممانعت

۳۱۸ـ() [۲۴] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُغَفَّلِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَهُ يَقُولُ: [۲] «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْقَصْرَ الْأَبْيَضَ عَنْ يَمِينِ الْجَنَّةِ. قَالَ: أَيْ بُنَيَّ سَلِ اللَّهَ الْجَنَّةَ وَتَعَوَّذْ بِهِ مِنَ النَّارِ، [۳] فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۴] إِنَّهُ سيكون فِي هٰذِهِ الْأُمَّةِ قَوْمٌ يَعْتَدُونَ فِي الطُّهُورِ وَالدُّعَاءِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

---

(۱) اخرجه النسائی کتاب الطهارة/باب الاعتداء فی الوضوء (رقم-۱۴۰)

(۲) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة/باب الإسراف فی الماء (رقم- ۹۶) وابن ما جة کتاب الدعاء /باب کراهية الاعتداء فی الدعاء (رقم- ۳۸۶۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: ۱ او دَ حضرت عبد الله بن مغفل رضي الله عنه نه روايت دې چه هغوی خپل ځوئی نه واوريدل چې دا دعا يې کوله ،۲ اې الله زه تانه دَ جنت په ښی طرف کښې سپين محل غوارم. ۳ نوهغوی اووئيل اې زما ځويه ته دَ الله تعالى نه جنت اوغواړه او دَ (دوزخ) دَ اور نه پناه اوغواړه ۴ ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلې دې چه فرمائيل، زر به په دې امت کښې داسې خلق پيدا شی چه په طهارت او دعا کښې به غلو کوی. (احمد ، ابن ماجه، ابوداؤد)

حل اللغات: ① الْقَصْرَ: محل، ماڼۍ، ② يَعْتَدُونَ: أي يَتَجَاوَزُونَ عَنِ الْحَدِّ الشَّرْعِيِّ: يعنى د شرعی حد نه به نې تجاوز کولو.

تسهيلات:

قوله: الْقَصْرَ الْأَبْيَضَ:

دقصر ابيض دنياوی مصداق: دَ سپين محل ترجمه په انګريزی ژبه کښې وائټ هاؤس ده. دا لفظ آئنده دَ مشکوة شريف په دويمه حصه کښې هم راغلې دې. هلته دَفارس دَ بادشاه کسرىٰ محل اودَهغه دَ خزانودَ فتوحاتوذکردې. دَ مدائن په فتوحاتوکښې په ايوان کسرىٰ کښې "القصرالأبيض" هم فتح شوې وو. (مشکوة صفحه ۴۶۶)

قوله: قَوْمٌ يَعْتَدُونَ:

په اودس کښې د اعتداء صورتونه:

① په طهارت کښې تجاوزدادې چه دَ دريوځلونه زيات اووينځلې شی
② ډيرزياتې اوبه دَ اسراف دَ حده پورې توئی کړې شی
③ په وينځلوکښې دومره مبالغه اوکړی چه شك او وسوسې ته خبره اورسی. داټول په طهورکښې تجاوز دې

په دعا کښې د تجاوز صورتونه:

① او په دعاکښې تجاوزدادې چه يا خوډيره اوږده اوغوښتلې شی
② يا دَ تکلف سره په دې کښې وزن اوسجع اوتصنع الفاظ راوړلې شی
③ قيدونه لګولوسره تعين اوکړې شی لکه څنګه چه په دې حديث کښې سپن محل او دَ جنت دَ ښی طرف قيودات دی
④ داسې دعا اوغوښتلې شی دَ کوم قبليدل چه محال وی مثلاً يوغريب شاړ اوکلی وال دَ بادشاه جوړيدو دعا غواړی داټول دَ تجاوز صورتونه دی.

[۳۱۹] د اودس د شیطان څخه د ځان ساتلو حکم

۳۱۹-() [۲۵] ۱ وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ۲ "«إِنَّ لِلْوُضُوءِ شَيْطَانًا يُقَالُ لَهُ: الْوَلْهَانُ ۳ فَاتَّقُوا وَسْوَاسَ الْمَاءِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ ۴ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ؛ ۵ لِأَنَّا لَا نَعْلَمُ أَحَدًا أَسْنَدَهُ غَيْرَ خَارِجَةَ، وَهُوَ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ عِنْدَ أَصْحَابِنَا.

ترجمه: ۱ اود حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل ۲ چه د اودس یو شیطان دې کوم ته چه ولهان وئیلې شی. ۳ لهذا د اوبو د وسوسې نه بچ شی. (ترمذی، ابن ماجه) امام ترمذی رحمه الله فرمائیلی دی چه دا حدیث غریب دې اود محدثینو په نیز د دې سند قوی نه دې ۵ ځکه چه مونږ ته نه ده معلومه چه خارجه (یو راوي) نه علاوه بل چا د دې سند بیان کړې وی او هغه (خارجه) زمونږ د محدثینو په نیز قوی نه دې.

حل اللغات: ① الْوَلْهَانُ: د وَلِهَ يَوْلَهُ وَلْهَانًا نه حیرانیدو او عقل ختمیدو ته وائی، دې شیطان ته ولهان ځکه وائی چه دې دخلقو په عقل کښې د اوداسه متعلق فطور او وسوسې پیدا کوی. ② وَسْوَاسَ الْمَاءِ: د اوبو وسوسه دا چه اوبه اندام ته پوره اورسیدې اوکه نه؟ یا دا اندام مې څو خله وینځلې دې

تسهیلات: **قوله: الْوَلْهَانُ:**

دولهان په موصوف کښې دوه احتمالات: ① ولهان دهغه شیطان نوم دې کوم چې د اودس په اوبو کښې د اسراف کولو دپاره حاضریږی. دا لفظ خو یا پخپله ددې شیطان صفت دې چې خلقو لره وسواسی او شکی جوړولو کښې سرګردان ګرځی

② یا حقیقت کښې په وسوسه کښې خو انسان پریوځی نو، ولهان دهغه شکی انسان صفت دې. خومجازی طور ددې نسبت شیطان طرفته کړې شوېدې. ځکه چې دشیطان په لمسولو باندې هغه کس په وسوسه کښې پریوتې دې.

[۳۲۰] د اودس څخه وروسته د مخ وچول

۳۲۰-() [۲۶] ۱ وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ مَسَحَ وَجْهَهُ بِطَرَفِ ثَوْبِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ اود حضرت معاذبن جبل رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی ۲ چه ما رسول الله ﷺ اولیدلو چه کله به حضورپاك ﷺ اودس کولو نود خپلې کپړې په ګوټ به ئې مخ اوچولو. (ترمذی)

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب کراهیة الإسراف فی الماء (رقم- ۵۷) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/بباب ما جاء فی القصد فی الوضوء وکراهیة التعدی فیه (رقم- ۴۲۱)

(۲) اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب المندیل بعد الوضوء (رقم- ۵۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: مَسَحَ وَجْهَهُ بِطَرَفِ ثَوْبِهِ

داودس اندامونه په تولیه باندې اوچولو کښې د روایاتو تعارض:

① ځینې روایاتو کښې داوس څخه پس په تولیه وغیره باندې ځان اوچول ثابت دی.
② ځینې روایاتو کښې راغلی دی چې نبی کریم ﷺ د کپړې داستعمال نه انکار اوفرمائیلو

د اودس اندامونه په تولیه باندې اوچولو کښې مذاهب:

① دَ امام شافعی رحمه الله څخه درې اقوال زیات مشهور دی. یو قول دادې چې کپړا استعمالول او اوبه اوچول مستحب دی. او دویم قول دادې چې دا مکروه دی. دریم قول دادې چې په یخنۍ کښې استعمالول پکار دی او ګرمۍ کښې نه دی استعمالول پکار.
② آئمه احناف کښې ځینو دا د اودس په آدابو کښې شمیر کړی دی. ځینې وائی چې دا مستحب دی. او ځینو ورته صریح مباح وئیلی دی.

د احنافو او دَ جمهورو معتمد قول دادې چې د اودس نه پس کپړا استعمالول صرف مباح دی، مستحب کیدو دپاره هیڅ یودلیل نشته دې. او په مکروه باندې هم څه دلیل نشته دې.

تطبیقی قول: دا یو طبعی معامله ده. څه تشریعی حکم نه دې. ګرمۍ کښې ددې ضرورت نه وی، او یخنۍ کښې یې وی. چاته چې په څه کښې آسانتیاوی هغه صورت دې خپل کړی.

[۳۲۱] داودس څخه وروسته لوانده اندامونه اوچول

۳۲۱ــ(۱) [۲۷] ①وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: ②«كَانَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خِرْقَةٌ ③ يُنَشِّفُ بِهَا أَعْضَاءَهُ بَعْدَ الْوُضُوءِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ ④ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ بِالْقَائِمِ، وَأَبُو مُعَاذٍ الرَّاوِي ضَعِيفٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ.

ترجمه: ① ودَ حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی ② چه رسول الله ﷺ سره یوه کپړه وه ③ په کومې سره چه به نی دَ اودس نه پس خپل لامده اندامونه اوچول. (ترمذی) ④ او امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه دا حدیث قوی نه دې او دَدې یو راوی ابو معاذ دَمحدثینو په نیز ضعیف دې.

حل اللغات: ① خِرْقَةٌ: کپړه، تولیه، ② يُنَشِّفُ: اوچول به نې (اندامونه).

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۲۲] د نبی علیه السلام درې قسمه اودس

۳۲۲ــ(۲) [۲۸] ①عَنْ ثَابِتِ بْنِ أَبِي صَفِيَّةَ، قَالَ: ②قُلْتُ لِأَبِي جَعْفَرٍ هُوَ مُحَمَّدٌ الْبَاقِرُ ③ حَدَّثَكَ جَابِرٌ: «أَنَّ النَّبِيَّ

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب المندیل بعد الوضوء (رقم - ۵۳)
(۲) اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ باب فی الوضوء مرة، ومرتین، وثلاثا (رقم-۴۵) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فی الوضوء مرة مرة (رقم- ۴۱۰)

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ مَرَّةً مَرَّةً، وَمَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ، وَثَلَاثًا وَثَلَاثًا؟ قَالَ: نَعَمْ.» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ثابت بن ابی صفیه رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی [۲] چه ما د حضرت جعفر صادق رحمه الله پلار ته د کوم نوم چه محمد باقر رحمه الله دې اووئیل [۳] چه تاسو ته حضرت جابر رضی الله عنه دا حدیث بیان کړې دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو یو خل (کله) دوه دوه خل او (کله) درې درې خل اودس کړې دې؟ هغوی اوفرمائیل چه هو. (ترمذی، ابن ماجه)

[۴۲۳] هر اندام دوه خله وینځل

۴۲۳-(۱) [۲۹] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [۲] «إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ، وَقَالَ: هُوَ نُوْرٌ عَلَى نُورٍ».

ترجمه: [۱] او د حضرت عبدالله بن زید رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی [۲] چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دوه دوه خل اودس اوکړو (یعنی د اودس اندامونه ئې دوه دوه خل اووینځل) او بیانې وفرمائیل چه دا د نور د پاسه نور دې.

[۴۲۴] په اودس کښې هر اندام درې واره وینځل

۴۲۴-(۲) [۳۰] [۱] وَعَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ ثَلَاثًا ثَلَاثًا [۳] وَقَالَ: "هٰذَا وُضُوْئِي وَوُضُوْءُ الْأَنْبِيَاءِ قَبْلِي، وَوُضُوْءُ إِبْرَاهِيمَ» [۴] رَوَاهُمَا رَزِينٌ، وَالنَّوَوِيُّ ضَعَّفَ الثَّانِيَ فِي: شَرْحِ مُسْلِمٍ"

ترجمه: [۱] او د حضرت عثمان رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی [۲] چه رسول الله صلی الله علیه وسلم درې درې خل اودس اوکړو [۳] او بیانې اوفرمائیل چه دا زما او زما نه د مخکښې انبیاء کرامو اودس دې او د حضرت ابراهیم علیه السلام اودس دې. [۴] (دا دواړه احادیث رزین روایت کړی دی او امام نووی رحمه الله په شرح مسلم کښې دویم حدیث ته ضعیف وئیلې دې).

[۴۲۵] د هر مانځه د پاره اودس

۴۲۵-(۳) [۳۱] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ لِكُلِّ صَلَاةٍ، [۳] وَكَانَ أَحَدُنَا يَكْفِيهِ الْوُضُوءُ مَا لَمْ يُحْدِثْ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی [۲] چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د هر (فرض) مونځ د پاره اودس کولو [۳] او زمونږ د پاره به یو اودس ترهغه وخته پورې کافی کیدلو

---

[۱]) اخرجه رزین

[۲]) اخرجه رزین

[۳]) اخرجه البخاری کتاب الوضوء باب الوضوء من غیر حدث(رقم-۲۱٤) وابوداود کتاب الطهارة، باب الرجل یصلی الصلوات بوضوء واحد (رقم ۱۷۱) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب الوضوء لکل صلاة والصلوات کلها بوضوء واحد (رقم- ۵۰۹) والترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب الوضوء لکل صلاة (رقم-۶۰) والنسائی کتاب الطهارة/باب الوضوء لکل صلاة (رقم-۱۳۱) والدارمی کتاب الطهارة/باب الوضوء لکل صلاة (رقم-۷٤۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترکومې چه به اودس نه ماتيدلو. (دارمی)

حل اللغات: ① مَالَمْ يُحْدِثْ: دا د احداث نه دي، بې اودسه کيدو ته وائي.

[۳۲۶] د هر مانځه دپاره اودس کول

۳۲۶—(۱) [۳۲] ① وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حِبَّانَ، قَالَ: «قُلْتُ لِعُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ: ② أَرَأَيْتَ وُضُوءَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ لِكُلِّ صَلَاةٍ طَاهِرًا كَانَ أَوْ غَيْرَ طَاهِرٍ، عَمَّنْ أَخَذَهُ؟ ③ فَقَالَ: حَدَّثَتْهُ أَسْمَاءُ بِنْتُ زَيْدِ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ حَنْظَلَةَ بْنِ أَبِي عَامِرٍ الْغَسِيلِ حَدَّثَهَا ④ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أُمِرَ بِالْوُضُوءِ لِكُلِّ صَلَاةٍ طَاهِرًا كَانَ أَوْ غَيْرَ طَاهِرٍ،

ترجمه: ① او د حضرت محمد بن يحيى بن حبان رحمه الله نه روايت دي فرمائي ② چه ما د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما خوئي حضرت عبيدالله رضي الله عنه ته اووئيل ② چه ماته دا اووايه چه آيا حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه به د هر مونځ دپاره اودس کولو که هغه به په اودس کښې وو اوکه بې اودسه به وو او هغوی دا عمل د چا نه حاصل کړې وو؟ ③ حضرت عبيدالله رضي الله عنه اووئيل چه حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه ته حضرت اسماء بن زيد بن خطاب رضي الله عنهما داحديث بيان کړو چه حضرت عبدالله بن حنظله ابی عامر الغسيل رضي الله عنه هغوی ته دا حديث بيان کړو ④ چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د هر مونځ دپاره داودس حکم ورکړې شوې وو که هغوی به په اودس کښې وو اوکه بې اودس به وو.

حل اللغات: ① الغَسِيلِ: دوی ته غسيل ځکه وائی چه دوی په جنګ احد کښې د جنابت په حالت کښې شهيد شوې وو او فرشتو ورته غسل ورکړې وو.

① فَلَمَّا شَقَّ ذٰلِكَ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ أُمِرَ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ، ② وَوُضِعَ عَنْهُ الْوُضُوءُ إِلَّا مِنْ حَدَثٍ. ③ قَالَ: فَكَانَ عَبْدُ اللّٰهِ يَرَى أَنَّ بِهِ قُوَّةً عَلَى ذٰلِكَ، ④ فَفَعَلَهُ حَتَّى مَاتَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ① کله چه د حضورپاك دپاره دا ګران شو نو د هرمونځ په وخت کښې ورته د مسواك حکم ورکړې شو ② او اودس موقوف کړې شو (يعني د هرمونځ د پاره تازه اودس کول واجب پاتې نه شو) ترکومې پورې چه اودس مات نه شی. ③ حضرت عبيدالله رضي الله عنه اوفرمائيل چه د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه داخيال وو چه په ما کښې د هر مونځ د پاره د تازه اودس کولو طاقت شته ④ نو هغوی هم په دې باندې تر مرګه پورې عمل اوکړو. (احمد)

حل اللغات: ② شَقَّ: مشکل او ګران شو ③ حَدَثٍ: يعنی بې اودسه کيدل.

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة، باب السواك (رقم-٤٨)

[۴۲۷] په اودس كښې د اسراف ممانعت

۴۲۷-(۱) [۳۳] ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، ۲ «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِسَعْدٍ وَهُوَ يَتَوَضَّأُ ۳ فَقَالَ: مَا هٰذَا السَّرَفُ يَا سَعْدُ ۴ قَالَ: أَفِي الْوُضُوءِ سَرَفٌ؟! ۵ قَالَ: "نَعَمْ! وَإِنْ كُنْتَ عَلَى نَهْرٍ جَارٍ» رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ او د حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ﷺ نه روايت دې ۲ چه (يوځل) رسول الله ﷺ په حضرت سعد ﷺ باندې تيريدو او هغه اودس كولو (او په اودس كښې ئې اسراف هم كولو) ۳ حضورپاك (دا كتلو سره) اوفرمائيل "اې سعد دا څه اسراف (زياتې) دې؟" ۴ حضرت سعد ﷺ عرض اوكړو چه آيا په اودس كښې هم اسراف شته؟ ۵ حضورپاك اوفرمائيل هو "اګرچه ته په جارى نهر كښې اودس ولې نه كوې" (احمد، ابن ماجه)

حل اللغات: ① السَّرَفُ: بِمَعْنَى الْإِسْرَافِ: اسراف يعنى زياتې اوبه استعمالول، يا د شرعى حد نه زيات خله وينځل.

[۴۲۸] د بسم الله څخه بغير د اودس حكم

۴۲۸-(۲) [۳۴] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَابْنِ مَسْعُودٍ وَابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ۲ «مَنْ تَوَضَّأَ وَذَكَرَ اسْمَ اللهِ ۳ فَإِنَّهُ يُطَهِّرُ جَسَدَهُ كُلَّهُ ۴ وَمَنْ تَوَضَّأَ وَلَمْ يَذْكُرِ اسْمَ اللهِ ۵ لَمْ يُطَهِّرْ إِلَّا مَوْضِعَ الْوُضُوءِ»".

ترجمه: ۱ او حضرت ابو هريره، حضرت ابن مسعود او حضرت ابن عمر ﷺ د رسول الله ﷺ نه روايت كوى چه حضورپاك اوفرمائيل ۲ كوم سړى چه اودس اوكړو او د الله تعالى نوم ئې واخستو (يعنى بسم الله) وئيلوسره ئې اودس شروع كړو ۳ نوهغه خپل ټول بدن (د ګناهونو نه) پاك كړو ۴ اوچاچه اودس اوكړو او د الله تعالى نوم ئې وانخستو ۵ نوهغه صرف د اودس اندامونه پاك كړل".

[۴۲۹] اوداسه كې ګوتمۍ ته حركت وركول

۴۲۹-(۳) [۳۵] ۱ وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ وُضُوءَ الصَّلَاةِ ۳ حَرَّكَ خَاتَمَهُ فِي أُصْبُعِهِ». رَوَاهُمَا الدَّارَقُطْنِيُّ، وَرَوَى ابْنُ مَاجَهُ الْأَخِيرَ.

ترجمه: ۱ وحضرت ابو رافع ﷺ بيان كوى ۲ چه رسول الله ﷺ به د مانځه د پاره اودس كولو ۳ نو د خپلې ګوتې ګوتمه به ئى هم تاووله او خوزوله به ئې (دا دواړه احاديث دارقطنى روايت كړى دى او ابن ماجه صرف دويم حديث نقل كړې دې).

(۱) اخرجه ابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/بباب ما جاء فى القصد فى الوضوء وكراهية التعدى فيه (رقم- ۴۲۵) واحمد فى المسند ۲/ ۲۲۱

(۲) اخرجه الدارقطنى، كتاب الطهارة، باب كل طعام وقعت فيه دابة ليس لها دم.

(۳) اخرجه ابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب تخليل الأصابع (رقم- ۴۴۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

حل اللغات: ① حَرِّكْ: خوزوله به ئې، دا تحريك او خوزول سنت اومستحب امر دې. ② خَاتَمٌ: ګوتمه.

تسهيلات:

قوله: وُضُوءَ الصَّلَاةِ:

دمانځه په اودس کښې مبالغه کول: يعنی دَمانځه دَپاره به چه کله حضورپاک اودس کولونو بنه مبالغه به ئې کوله اودَ دې نه علاوه دَ جمات داخليدو يا تلاوت يا سجده دَتلاوت وغيره دَ پاره به ئې چه اودس کولو نودومره مبالغه به ئې نه کوله په دې صورت کښې به دَ الصلاة لفظ قيد احترازی جوړشی.

قوله: حَرِّكْ خَاتَمَهُ:

دګوتمې خوزولو دوه صورتونه: علامه ابن همام رحمه الله په زادالفقير کښې ليکلی دی

① که ګوتمه کولاؤ وی نودې ته حرکت ورکول سنت دی

② که چرې تنګه وی نودَدې تاوول اوحرکت ورکول واجب دی دې دَپاره چه لاندې ځائی اوچ پاتې نه شی.

د حديث نه بعضې مستنبط مسائل:

① دَدې حديث دَحکم لاندې په بدن کښې چه دَ اودس دَاندامونه سره کوم يوڅيز هم لګيدلې وی هغې ته حرکت ورکول ضروری دی که هغه ګهړئی وی يا بل څه بنګړې وغيره وی.

② دَاودس په اندامونوکښې چه کوم ځائی سوری وی لکه دَ بنځوپوزه نو په دې کښې کالی ته حرکت ورکولوسره اوبه رسول ضروری دی.

③ دغه شان دَ غوږ په سورو کښې دَ غسل په وخت په بنځو لازم دی چه دننه اوبه اورسوی او دَ غوږوالوله دې بنه حرکت ورکړی.

[۱۰/۵] بَابُ الْغُسْلِ

د جنابت د غسل بيان

خلاصة الباب:

فيه تسعة عشر حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① أسباب وجوب الغسل وعدم وجوبه: ۱، ۲، ۳، ۶، ۱۰، ۱۱، ۱۷.

② كيفية الاغتسال: ۴، ۵، ۷، ۱۴، ۱۵، ۱۸، ۱۹.

③ مقدار ماء الغسل: ۸.

④ حكم الاغتسال من إناء واحد: ۹

⑤ الاحتياط في الغسل: ۱۲، ۱۳.

⑥ الاستتار عند الغسل: ۵، ۱۶.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۳۳۰] په نفس دخول باندې د غسل وجوب

۳۳۰-(۱)[۱] ①عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«إِذَا جَلَسَ أَحَدُكُمْ بَيْنَ شُعَبِهَا الْأَرْبَعِ ثُمَّ جَهَدَهَا، ③فَقَدْ وَجَبَ الْغُسْلُ وَإِنْ لَمْ يُنْزِلْ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①حضرت ابو هريره رضي الله عنه راوى دي چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو ② "كله چه په تاسو كښې يو سړې د ښځې د څلورو ښاخونو په مينځ كښې كينى بيا كوشش اوكړى (يعنى جماع اوكړى) ③ نويه هغه باندې غسل واجب شواګرچه منى اونه څى" (بخارى و مسلم)

حل اللغات: ① شُعَبِهَا الْأَرْبَعِ: أَيْ: يَدَيْهَا وَرِجْلَيْهَا: د ښځې لاسونه اوخپې مراد دى، ② جَهَدَهَا: أَيْ: جَامَعَهَا: كوشش اوكړى يعنى جماع اوكړى. ③ لَمْ يُنْزِلْ: انزال نه وى شوې يعنى منى نه وى وتلې.

[۳۳۱] په خروج منى سره د غسل وجوب

۳۳۱-(۲)[۲] ①وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «إِنَّمَا الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ. ③قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِي السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللّٰهُ: هٰذَا مَنْسُوخٌ.

(۱) اخرجه البخارى كتاب العلم باب: إذا التقى الختانان (رقم-۲۹۱). ومسلم كتاب الحيض باب نسخ الماء من الماء ووجوب الغسل بالتقاء الختانين (رقم-۸۷ - (۳۴۸)

(۲) اخرجه مسلم كتاب الحيض باب إنما الماء من الماء (رقم-۸۰ - (۳۴۳) وابوداود كتاب الطهارة/باب فى الإكسال (رقم- ۲۱۷) والترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى المرأة ترى فى المنام مثل ما يرى الرجل (رقم- ۱۲۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [۱] حضرت ابو سعید رضی الله عنه وائی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو [۲] اوبه دَ اوبو نه دی (یعنی منی وتلوسره غسل واجبیږی) (مسلم) [۳] او امام محی السنة رحمه الله وائی چه دا حکم منسوخ دې.

حل اللغات: ① اَلْمَاءُ: أَيْ: وُجُوبُ اسْتِعْمَالِ الْمَاءِ، وَهُوَ الْغُسْلُ: ددې اول ماء نه مراد د غسل اوبه یعنی غسل دې. ② مِنَ الْمَاءِ: أَيْ: مِنْ أَجْلِ خُرُوجِ الْمَاءِ الدَّافِقِ وَهُوَ الْمَنِيُّ: او دَ دویم ماء نه مراد دنطفې او منی اوبه دی. (یعنی واجبیږی غسل په وتلو د منۍ سره.)

[۳۳۲] په احتلام کښې دمنی په وتلوسره د غسل وجوب

۳۳۲–()[۰] [۱] وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا: [۲] "إِنَّمَا الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ فِي الِاحْتِلَامِ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، [۳] وَلَمْ أَجِدْهُ فِي "الصَّحِيحَيْنِ".

ترجمه: [۱] او ابن عباس رضی الله عنهما اوفرمائیل [۲] چه "اوبه دَ اوبونه دی" دا حکم دَ احتلام دپاره دې [۳] او ماته دا روایت بخاری او مسلم کښې نه دې ملاؤ شوې. (ترمذی)

تسهیلات:

قوله: إِنَّمَا الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ:

د حدیث مفهوم: ددې حدیث پاك په الفاظو کښې حصردې چې غسل صرف په هغه صورت کښې فرض دې چې کله منی خارج شی. د خروج منی نه بغیر غسل واجب نه دې. که نطفه غائبه شوې وی او که نه او که التقاء ختانین وی اوکه نه وی ، که د منی انزال شوې دې نو غسل شته دې گنی غسل نشته دې.

داکسال مفهوم: ددې مسئلې عنوان اکسال هم دې. اکسال د کسل څخه دې چې معنی ئې سست کیدل دی. مطلب دا چې کله انزال اوشی نو ذکر سست شی گنی نه . او په دې زیر بحث مسئله کښې د اکسال مطلب دادې چې یو کس د انزال نه بغیر ذکر خارجوی اودَ هغې دَ سستولو کوشش کوی. اوس په ظاهره د ابوسعید خدری رضی الله عنه دا روایت ددې نه وړاندې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه بالکل متعارض دې. په هغې کښې په ﴿ غیبوبت حشفه ﴾ باندې غسل واجب گرځولې شوې دې که انزال شوې وی او که نه. او دې خائې کښې انزال لره د غسل دپاره شرط گرزولې شوې دې. دا شان دا روایت د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها روایت سره هم متعارض دې کوم کښې چې د ﴿ إِذَا جَاوَزَ الْخِتَانُ الْخِتَانَ وَجَبَ الْغُسْلُ ﴾ کوم چه ددې نه پس رازی. داشان د په دریم فصل کښې د ابی ابن کعب رضی الله عنه روایت سره هم متعارض دې. کوم چې مشکوة صفحه نمبر ۴۹ باندې رازی.

د اکسال په مسئله کښې د صحابوؤ اختلاف: په احادیثو کښې د تعارض په وجه د اسلام په

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب ما جاء أن الماء من الماء (رقم- ۱۱۲)

ابتداء کښې د صحابه کرامو په دور کښې په دې مسئله کښې ډیر زیات اختلاف پیدا شوې وو. مهاجرین صحابه کرامو به د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها او حضرت ابوهریره ﷺ روایت (غیبوبت حشفه) باندې عمل کولو. او انصار صحابه کرامو به د حضرت ابوسعید خدری ﷺ روایت (انما الماء من الماء) باندې عمل کولو.

دحشفه په غیبوبت باندې دغسل په وجوب اجماع: حضرت عمرفاروق ﷺ په خپله زمانه د خلافت کښې په دې مسئله کښې صحابه کرامو لره د متحد کولو کوشش اوکړو چې ټول مسلمانان په یو حکم متحد شي. نو دوئ د صحابه کرامو ځخه مشوره واخستله نو دا اتفاق اوشو چې د مسئلې تعلق کورنی معاملې سره دې لهذا د ازواج مطهرات نه تپوس کول پکار دی. حضرت عمر فاروق ﷺ حضرت ابو موسی اشعری ﷺ حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها ته اولیږلو نو هغې د التقاء ختانین والا روایت بیان کړو. نو ددې نه پس حضرت عمر فاروق ﷺ سرکاری فرمان جاری کړو او انصار ئې په سختئ سره د اکسال نه منع کړل. نو په دې مسئله باندې اجماع منعقد شوه. او د داؤد ظاهری نه سوا په ټول امت کښې دچا هم اختلاف پاتې نشو ، اوس که انزال وی یا نه وی خو چه حشفه غیبه شی نو غسل به واجب وی.

دابوسعید رضی الله عنه په روایت کښې درې تاویلات: ① امام محی الدین رحمه الله یو تاویل دا کړې دې چې دا حکم منسوخ شوې دې. او دحضرت ابی بن کعب ﷺ راتلونکې حدیث په دې باندې دلالت کوی چې دا حکم په ابتداء اسلام کښې وو. بیا منسوخ شو.

② حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چې د (انما الماء من الماء) حکم داحتلام په باره کښې دې.

دابن عباس د تاویل ضعف: لیکن په دې تاویل او توجیه باندې د حدیث دَ شان ورود په وجه دا اعتراض کیږي چې حضرت ابو سعید خدری ﷺ فرمائی چې عتبان بن مالک صحابی مسجد قباء سره نیزدې اوسیدو. او نبی کریم ﷺ د پیر ورځ هلته تشریف یوړو نو حضرت نبی کریم ﷺ دهغه د کور مخې ته اودریدلو او ورته ئې آواز اوکړو . هغه په جماع کښې مشغول وو. دا ئې پریښوده او بهر راغلو. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې مونږ په سړی باندې تیزی اوکړه هغه بهر راغلو او دَ راتلو سره ئې دمسئلې تپوس اوکړو چې که بغیر د انزال نه اکسال اوشی نو څه حکم دې؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې (انما الماء من الماء) یعنی انزال نه بغیر غسل واجب نه دې. نو دا واقعه د بیدارئ ده ،په دې کښې دحضرت ابن عباس ﷺ تاویل څنګه چلیدې شی چې دا په احتلام باندې محمول دې؟

دابن عباس د تاویل صحت: علماء کرامو د ابن عباس ﷺ ددې تاویل دَ صحیح جوړولو دپاره یو تاویل کړې دې ، هغه دا چې د حضرت ابن عباس ﷺ په نیز داحدیث پاک منسوخ دې. لکه څنګه چې دَ پوره امت په نیز منسوخ دې. خو ددوئ په نیز ددې حدیث پاک یو

Maktaba Tul Ishaat.com

صورت داسې هم دي چې اوس هم منسوخ نه دي. او هغه د احتلام صورت دي چې احتلام کښې اوس هم ﴿ انما الماء من الماء ﴾ ضروری دی. یعنی د بیدارئی په حالت کښې دا حدیث پاك حقيقةً او حکمًا دواړو صورتونو ته شامل دې. لیکن په خوب کښې صرف حقیقی صورت ته شامل دې. یعنی دمنی خروج غسل دپاره ضروری دی.

④ دحضرت ابوهریره ﷺ او حضرت عائشه رضی الله عنها روایات امر حکمی ته شامل دی یعنی کله چې غیبوبت حشفه اوشی نو د شریعت حکم دادې چې غسل واجب دې. خکه چې د غیبوبت په وخت کښې د منی خروج خو په نظر نه راځی لهذا شریعت دا غیبوبت حکمًا د انزال قائمقام ګروزلې دې.

او د حضرت ابوسعید ﷺ روایت امر حقیقی او حکمی دواړو باندې محمول دې. چې کله انزال اوشی نو ﴿ انما الماء من الماء ﴾ باندې به عمل کیږی. او کله انزال اونشی نو بیا به په غیبوبت حشفه باندې عمل کیږی. او د ﴿إِذَا جَاوَزَ الْخِتَانُ الْخِتَانَ﴾ نه مراد جماع ده ، یعنی د اندامونو مخصوصؤ ملاویدل دی.

دختان لغوی معنی: دا دختان تثنیه ده. او ختان د ختن ځخه دې ، د ماشوم سنتولو ته وائی. مراد ترې سنت شوې ځائې دې. دهلکانو سنتول او ختنه کول خو يو معروفه او مسنونه اسلامی طریقه ده. خو دا حدیث د جینکو ختنې ته هم شامل دې. او ددې باره کښې يو صريح حديث پاك هم راروان دې.

دجینکو د ختنې وجه: حقیقت دادې چې خط استواء باندې قائم ګرم ملکونو کښې ددې رواج وړاندې هم وو. او اوس هم ځینو ملکونوکښې شته دې. او شوافع حضرات مصر وغیره کښې دا ضروری ګڼړی. خکه چې په داسې ملکونو کښې دجینکو په اندام نهانی کښې د غوښې اودَ وازګې یوه ټکړه راوځی ددې په پریکولو سره طرفینو ته په جماع کښې زیات خوند ملاویږی. د غوښې یا چربۍ هم دَ دغې ټکړې پریکولو نوم د ښځو سنتول دی. لیکن یادساتی. دامسئله د برصغیر دَملکونودپاره نه ده. په دې باندې اهل بدعت دَ علماء حق خلاف يو شور جوړوی، لهذا ددې مسئلې هډوذکرنه دې پکار. [اخرجه البخاری ۱/۱۴۴]

[۳۳۳] په احتلام سره د غسل وجوب

٣٣٣—(١) [٣] ١ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ٢ «قَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ: يَارَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ، ٣ فَهَلْ عَلَى الْمَرْأَةِ مِنْ غُسْلٍ إِذَا احْتَلَمَتْ؟ ٤ قَالَ: " نَعَمْ، إِذَا رَأَتِ الْمَاءَ " ٥ فَغَطَّتْ أُمُّ سَلَمَةَ وَجْهَهَا، وَقَالَتْ: ٦ يَارَسُولَ اللَّهِ! أَوَتَحْتَلِمُ الْمَرْأَةُ؟ ٧ قَالَ: ("نَعَمْ تَرِبَتْ يَمِينُكِ، فَبِمَ يُشْبِهُهَا وَلَدُهَا؟»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

(١) اخرجه البخاری کتاب العلم باب الحياء فی العلم(رقم-١٣٠) ومسلم کتاب الحيض باب وجوب الغسل على المرأة بخروج المنی وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب فی المرأة تری فی منامها ما يری الرجل (رقم- ٦٠٠)

ترجمه: ۱ حضرت ام سلمه رضي الله عنها فرمائي ۲ چه حضرت ام سلیم رضي الله عنها رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو یا رسول الله! الله تعالی د حق په معامله کښې حیاء نه کوي ۳ (لهذا دا راته اووایه) آیا په ښځه باندې غسل واجب دې؟ کله چه هغې ته احتلام اوشي (یعنی چه په خوب کښې کوروالې اووینی) ۴ حضورپاك اوفرمائیل هو کله چه هغه اوبه (یعنی منی) اووینی. ۵ دې اوریدو سره ام سلمه رضي الله عنها مخ (د شرم د وجې نه) پټ کړو او وئې وئیل ۶ یا رسول الله! آیا ښځې ته هم احتلام کیږي؟ (یعنی ولې د سړي په شان د ښځې هم منی وي او راوځي؟) ۷ حضورپاك اوفرمائیل هو، په خاورو دې ککړوي ستا ښې لاس (که چرې داسې نه کیدې نو) بیا به د هغې بچې څنګه د هغې په شان کیدو. (متفق علیه)

حل اللغات: ① احْتَلَمَتْ: أَيْ: إِذَا رَأَتْ فِي الْحُلُمِ الْمُجَامَعَةَ: په خوب کښې کوروالې اووینې او منی ترې وتلې وي ② رَأَتِ الْمَاءَ: چه اوبه اووینی یعنی منی، ③ فَغَطَّتْ: أَيْ: سَتَرَتْ: مخ ته ئې پرده اوکړه (اوشرمیده)، ④ تَرِبَتْ يَمِينُكِ: أَيْ أَصَابَهُ التُّرَابُ: ستا ښې لاس دې په خاورو کښې ککړ شي، دا کنایه ده د زیاتې فقر او محتاجۍ نه، دلته ددې نه مراد بد دعا او خیرې نه دی بلکه د زیات تعجب په وجه داسې وئیلې شوي دی.

[۳۳۳] د سړي او ښځې په منی کښې فرق

۳۳۳-(۱)[۰] ۱ وَزَادَ مُسْلِمٌ بِرِوَايَةِ أُمِّ سُلَيْمٍ: ۲ «أَنَّ مَاءَ الرَّجُلِ غَلِيظٌ أَبْيَضُ، ۳ وَمَاءَ الْمَرْأَةِ رَقِيقٌ أَصْفَرُ، ۴ فَمِنْ أَيِّهِمَا عَلَا أَوْ سَبَقَ يَكُونُ مِنْهُ الشَّبَهُ».

ترجمه: ۱ او امام مسلم رحمه الله د ام سلیم رضي الله عنها په روایت کښې دا الفاظ زیاتی نقل کړي دي ۲ چه (حضورپاك دا هم اوفرمائیل) چه د سړي منی ټینګه سپینه وي ۳ او د ښځې منی زیړه نرئی وي. ۴ لهذا په دې کښې چه کومه منی غالب شي یا وړاندې شي نو (د بچی) مشابهت هم هغې طرف ته وي.

حل اللغات: ① غَلِيظٌ: سخته، ټینګه، ② أَبْيَضُ: سپینه، ③ رَقِيقٌ: نرمه، ④ أَصْفَرُ: زیړه، ⑤ عَلَا: أَيْ: غَلَبَ: غالبه شي، ⑥ سَبَقَ: أَيْ سَبَقَ وُقُوعُ مَنِيِّهِ إِلَى الرَّحِمِ: په رحم کښې چه د چا منی مخکښې لاړه شي.

تسهیلات:

قوله: أَوَتَحْتَلِمُ الْمَرْأَةُ؟:

په حدیث کښې اشکال: دې حدیث پاك باندې په ظاهره دا اعتراض دې چې (اوتحتلم المرأة) جملې څخه معلومیږي چې ښځو ته احتلام نه کیږي. څکه خو ام سلمه رضی الله عنها د استفهام په طور تپوس اوکړو چې داسې هم کیدیشي؟ بیا هم ددې حدیث پاك په ابتدائی

(۱) اخرجه مسلم کتاب الحیض باب وجوب الغسل علی المرأة بخروج المنی منها(رقم-۳۰ - (۳۱۱) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب فی المرأة تری فی منامها ما یری الرجل (رقم- ۶۰۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

حصه كښې حضرت ام سليم رضى الله عنها اقرار كوى چې ﴿ فهل على المرأة من غسل اذا احتلمت ﴾ ددې نه معلوميږى چې دې ښځو ته د احتلام علم وو ځكه خوام سليم رضى الله عنها سوال اوكړو.

د اشكال اول جواب: ① امهات المؤمنين ته به د صفاء باطن په وجه احتلاف نه كيدو. نو ام سلمه رضى الله عنها انكار اوكړو. داشان احتلام كښې شيطان يو شكل جوړوى او رازى. او د نبى كريم ﷺ په شكل كښې د شيطان راتلل بالكل ممكن نه دى. او د بل سړى په خوب كښې دراتلو سوال نه پيدا كيږى. په دې وجه ازواج مطهرات ته د احتلام راتلو علم نه وو. نو ام سلمه رضى الله عنها انكار اوكړو. او ام سليم رضى الله عنها ته معلوم وو په دې وجه ئې اقرار اوكړو.

د جواب ضعف: په دې جواب باندې دا اعتراض دې چې دا به هله صحيح وى چې په ازواج مطهرات باندې د جاهليت زمانه نه وى تيره شوې. يا ئې ددې نه وړاندې بل چا سره نكاح نه وى شوې. حالانكه دواړو كښې معامله برعكس ده. نو ددې څه گارنټى ده چې د جاهليت په زمانه كښې به احتلام نه كيدو. بله دا چې احتلام صرف په شيطانى خوب كښې منحصر نه دې بلكه د دې نور اساب هم كيدې شى لكه

د احتلام څلور اسباب: ① د شيطان متشكل شيطان په وجه

② د ستومانى په وجه

③ د امتلاء بطن په وجه

④ د امتلاء منى په وجه

د اشكال دويم جواب: په دې وجه دويم صحيح جواب دا دې چې ام سلمه رضى الله عنها د ښځو د احتلام عيب پټول غوښتل چې ام سليم هسې د فرضى خبرو تپوسونه كوى ښځو ته چرته احتلام كيږى؟

په دې حقيقت باندې د عائشه صديقه رضى الله عنها حديث هم دلالت كوى. دوئ اوفرمائيل ﴿ فضحت النساء ﴾ يعنى اې ام سليم تا دښځو دا پټ راز ښكاره كړو او ښځې دې رسوا كړې. معلومه شوه چې ام سلمه رضى الله عنها دا حقيقت پټول غوښتل. او هم دا وجه ده چې نبى كريم ﷺ په سختنه اوفرمائيل ﴿تربت يداك ﴾ يعنى ستا لاسونه دې په خارو ككړ شى. كه د ښځو نطفه نه وې نو بيا كله كله بچې ددې په شان ولې وى. په دې جملې سره په ځينو هغه اطباؤ باندې رد اوشو چا چه خيال دادې چې د ښځو په ذات كښې ماده منويه نشته دې، منى صرف په سړو كښې وى.

[۴۳۵] د نبي کریم ﷺ د غسل طریقه

۴۳۵-()[۴] ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ۲ «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ بَدَأَ ۳ فَغَسَلَ يَدَيْهِ، ثُمَّ يَتَوَضَّأُ كَمَا يَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ، ۴ ثُمَّ يُدْخِلُ أَصَابِعَهُ فِي الْمَاءِ، ۵ فَيُخَلِّلُ بِهَا أُصُولَ شَعْرِهِ، ۶ ثُمَّ يَصُبُّ عَلَى رَأْسِهِ ثَلَاثَ غُرَفَاتٍ بِيَدَيْهِ، ۷ ثُمَّ يُفِيضُ عَلَى جِلْدِهِ كُلِّهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ اوحضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي ۲ چه رسول الله ﷺ به کله دغسل جنابت (یعنی د ناپاکئ د لرې کولو د پاره غسل) کولو اراده کوله نو (غسل) به ئې داسې شروع کولو چه ۳ اول به ئې دواړه لاسونه (ترمړوندونوپورې) وینځل بیا به ئې اودس کولو لکه څنګه چه مونځ له اودس کولې شي. ۴ بیا به ئې ګوتې (د لمدولو د پاره) په اوبو کښې وهلې بیا به ئې دا راویستلې ۵ او د (ګوتو په لوندوالی) سره به ئې د ځپلو ویښتو په بیخونوکښې خلال کولو. ۶ بیابه ئې په ځپلو دواړو لاسونو سره درې لپې (اوبه اخستو سره) په سر باندې اچولې ۷ اوبیابه ئې په ځپل ټول بدن باندې اوبه بهیولې. (بخاری و مسلم)

۱ وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: «يَبْدَأُ فَيَغْسِلُ يَدَيْهِ قَبْلَ أَنْ يُدْخِلَهُمَا الْإِنَاءَ، ۲ ثُمَّ يُفْرِغُ بِيَمِينِهِ عَلَى شِمَالِهِ، فَيَغْسِلُ فَرْجَهُ، ثُمَّ يَتَوَضَّأُ».

ترجمه: ۱ او د مسلم په یو روایت کښې دا الفاظ دی چه (کله چه به حضورپاک غسل) شروع کولو نو په ځپل ښی لاس سره به ئې په ګس لاس باندې اوبه اچولې ۲ اوبیا به ئې شرمګاه وینځلو او دهغې نه پس به ئې اودس کولو.

حل اللغات: ① بَدَأَ: أَيْ: شَرَعَ: شروع به ئې کوله، ② فَيُخَلِّلُ: أَيْ: بِبَلِّ الْأَصَابِعِ: یعنی خلال به ئې کولو په لمدو ګوتوسره (په ویښتوکښې). ③ أُصُولَ: د اصل نه دې بیخ یعنی بنیاد او جرړې ته وائی. ④ يَصُبُّ: اوبه به ئې اچولې، ⑤ غَرَفَاتٍ: د غرفة جمع ده، لپو ته وائی، ⑥ يُفِيضُ: دا د افاضه نه دې، أَيْ: يَصُبُّ: یعنی اوبه به ئې اچولې، ⑦ يُفْرِغُ: دا د افراغ نه دې، بِمَعْنَى الصَّبِّ: اوبه اچولو ته وائی.

تسهیلات:

قوله: كَمَا يَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ:

دغسل د اودس د مونځ اودس سره د تشبیه وجه: ددې تشبیه وجه داده چې وهم راتلې شو چې په غسل کښې په سر اوبه اچولې کیږی. نو شاید چې په دې اودس کښې به ئې د سر مسح نه وی کړې. یا غسل کښې ټولې اوبه په پښو باندې راځی. نو شاید په دې اودس کښې به ئې پښې نه وی وینځلې. په دې وجه حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها

---

(۱) اخرجه البخاری کتاب الغسل باب الوضوء قبل الغسل (رقم-۲۴۸) ومسلم کتاب الحیض باب صفة غسل الجنابة (رقم-۳۵ - (۳۱۶) ومالک فی الموطا کتاب الطهارة . باب العمل فی غسل الجنابة (رقم- ۶۷) والنسائی کتاب الطهارة/باب ذکر وضوء الجنب قبل الغسل (رقم-۲۴۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمائی چې دا اودس بالکل د مونځ د اودس پشان وو.

د تعارض اشکال: دلته دا شبه هم ده چې په دې روایت کښې اودس سره د پښو وینځلو ذکر دې. او ددې نه روستو دحضرت میمونه رضی الله عنها په روایت کښې د غسل کولو نه پس د پښو د وینځلو ذکر نشته دې ، دواړو کښې تعارض دې؟

د تعارض جواب: دواړه صورتونه جائز دی. هیڅ تعارض په کښې نشته دې. هسې خو د احنافو داقول دې چې مطلقًا پښې روستو وینځل پکار دی. شوافع فرمائی چې دَ غسل نه وړاندې په اودس کښې دې اووینځلې شی. صاحب د هدایه فرمائی که په ځائې کښې د تلویثِ قدمین خطره وی نو روستو دې پښې اووینځی. او که ځائی صفا وی اومناسب چوکۍ وغیره شته نو اودس سره وینځل زیات بهتر دی. غسل کښې دې اول په سر باندې اوبه واچولې شی. بیا دې په ښی اوږه باندې اوبه واچولې شی او بیا په ګسه اوږه باندې. اوبیا دې په ټول بدن باندې اوبه واچولې شی . د اطباؤ په نزد دا طریقه بهتره ده

[۳۳۶] د نبی علیه السلام غسل طریقه

۳۳۶—(۱) [۵] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَتْ مَيْمُونَةُ: [۲] «وَضَعْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُسْلًا فَسَتَرْتُهُ بِثَوْبٍ [۳] ثم صَبَّ عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَهُمَا، [۴] ثُمَّ صَبَّ بِيَمِينِهِ عَلَى شِمَالِهِ، [۵] فَغَسَلَ فَرْجَهُ، فَضَرَبَ بِيَدِهِ الْأَرْضَ فَمَسَحَهَا، ثُمَّ غَسَلَهَا، [۶] فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ، وَغَسَلَ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ،

ترجمه: [۱] حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وائی چه ام المؤمنین حضرت میمونه رضی الله عنها اوفرمائیل [۲] چه ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ غسل دَپاره اوبه کیخودې او په کپړې سره مې پرده اوکړه. [۳] چنانچه حضورپاك په خپلو دواړو لاسونو باندې اوبه اچولو سره اووینځل. [۵] بیا حضورپاك په خپل ښی لاس سره په ګس لاس باندې اوبه واچولې او شرمګاه ئی اووینځلو بیائی خپل ګس لاس (کوم سره چه ئی شرمګاه وینځلې وو) په زمکه باندې اومږلو اودا ئی اووینځلو. [۶] بیا ئی خله کښې اوبه واچولې اوبیائی پوزه کښې اوبه واچولې او مخ او لاسونه ئی (ترڅنګلو پورې) اووینځل.

حل اللغات: ① غُسْلًا: وَهُوَ الْمَاءُ الَّذِي يُغْتَسَلُ بِهِ: دغسل نه مراد دغسل اوبه دی. ② فَسَتَرْتُهُ: أَيْ: ضَرَبْتُ لَهُ بِثَوْبٍ يَغْتَسِلُ وَرَاءَهُ لِئَلَّا يَرَاهُ أَحَدٌ: یعنی په کپړې سره مې نبی علیه السلام ته د غسل دپاره پرده اوکړه. ③ فَضَرَبَ: اوئې وهلو، اوئې لګولو (ګس لاس). ④ فَمَسَحَهَا: اوئې مږلو ⑤ ذِرَاعَيْهِ: دواړه متې (دګوتو نه تر څنګلو پورې).

(۱) اخرجه البخاری کتاب الغسل باب نفض الیدین من الغسل عن الجنابة (رقم-۲۷۶) ومسلم کتاب الحیض باب صفة غسل الجنابة (رقم-۳۷ - (۳۱۷) وابوداود کتاب الطهارة/ باب فی الغسل من الجنابة (رقم- ۲٤٥) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فی الغسل من الجنابة (رقم- ۵۷۳) والترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الغسل من الجنابة (رقم- ۱۰۳) والنسائی کتاب الطهارة/باب غسل الرجلین فی غیر المکان الذی یغتسل فیه (رقم-۲۵۳)باب غسل الرجلین فی غیر المکان الذی یغتسل فیه (رقم- ۲۵۳)

[۱] ثُمَّ صَبَّ عَلَى رَأْسِهِ، وَأَفَاضَ عَلَى جَسَدِهِ، [۲] ثُمَّ تَنَحَّى فَغَسَلَ قَدَمَيْهِ [۳] فَنَاوَلْتُهُ ثَوْبًا فَلَمْ يَأْخُذْهُ، [۴] فَانْطَلَقَ وَهُوَ يَنْفُضُ يَدَيْهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَلَفْظُهُ لِلْبُخَارِيِّ.

ترجمه: [۱] بیا ئي په خپل سر باندې اوبه واچولې او په ټول بدن باندې ئي اوبهیولې [۲] بیا. (چرته چه حضورپاك غسل فرمائیلې وو) د هغه ځائی نه اخوا شو او خپلې خپې ئې اووینځلې. [۳] دې نه پس ما (د بدن اوچولو دپاره) کپړا ورکړه لیکن حضورپاك کپړا وانخستله [۴] بیا لاس راتکوهلوسره دهغه ځائی نه لاړو. (بخاري ومسلم) دا الفاظ د بخاری دی.

حل اللغات: ⑥ أَفَاضَ: اوبه ئې راوبهیولې. ⑦ تَنَحَّى: أَيْ: تَبَعَّدَ: اخوا شو، جدا شو (د غسل د ځائ نه). ⑧ فَنَاوَلْتُهُ: أَيْ: أَعْطَيْتُهُ: ورمې کړه (کپړه). ⑨ فَانْطَلَقَ: أَيْ: ذَهَبَ: لاړو. ⑩ يَنْفُضُ: أَيْ: يُحَرِّكُهُمَا: لاسونه ئې خنډل.

[۴۳۷] د حیض ځخه د غسل کولو طریقه

۴۳۷— ( ) [۶] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «انَّ امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ سَأَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ غُسْلِهَا مِنَ الْمَحِيضِ، [۳] فَأَمَرَهَا كَيْفَ تَغْتَسِلُ، ثُمَّ قَالَ: [۴] "خُذِي فِرْصَةً مِنْ مِسْكٍ فَتَطَهَّرِي بِهَا". [۵] قَالَتْ: كَيْفَ أَتَطَهَّرُ بِهَا؟

ترجمه: [۱] او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی [۲] چه (یوه ورځ) یوې انصاری ښځې د رسول الله ﷺ نه د خپل د حیض د غسل باره کښې پوښتنه اوکړه. [۳] چنانچه حضورپاك هغې ته د غسل حکم ورکړو چه ځنګه به غسل کولې شی (یعنی په مخکې احادیثوکښې چه د غسل کوم کیفیت تیرشوې دې، حضورپاك هغه بیان کړو) او بیائی اوفرمائیل چه په مشك کښې (د لمدې شوې کپړې) یوه ټکړه واخله په هغې سره پاکی حاصله کړه. [۵] هغې تپوس اوکړو چه په هغې سره ځنګه پاکی حاصله کړم؟

حل اللغات: ① الْمَحِيضِ: دا مصدر میمی دې، أَيْ: مِنْ أَجْلِ انْقِطَاعِ حَيْضِهَا: دحیض ختمیدو نه پس لامبل مراد دی. ② فِرْصَةً: قِطْعَةً مِنْ صُوفٍ أَوْقُطْنٍ: د وړئ یا د مالوچو ټکړه. ③ مِسْكٍ: وَهُوَ طِيبٌ: دا لفظ چه په فتحې د میم سره شی نو څرمن ته وائی، اوچه په کسرې د میم سره شی نو مُشکو ته وائی چه یوه مشهوره خوشبو ده، دلته هم دا مراد ده.

[۱] فَقَالَ: "تَطَهَّرِي بِهَا" قَالَتْ: كَيْفَ أَتَطَهَّرُ بِهَا؟ [۲] قَالَ: "سُبْحَانَ اللَّهِ تَطَهَّرِي بِهَا" [۳] فَاجْتَذَبْتُهَا إِلَيَّ، فَقُلْتُ لَهَا: [۴] تَتَبَّعِي بِهَا أَثَرَ الدَّمِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضورپاك اوفرمائیل چه ته په هغې سره پاکی حاصله کړه. هغې بیا تپوس اوکړو

( ) اخرجه البخاری کتاب الحیض باب دلک المرأة نفسها إذا تطهرت من المحیض، وکیف تغتسل، وتأخذ فرصة ممسکة، فتتبع أثر الدم(رقم-۳۱۴) ومسلم کتاب الحیض باب استحباب استعمال المغتسلة من الحیض فرصة من مسك فی موضع الدم(رقم-۶۰ - (۳۳۲) وابوداود کتاب الطهارة/باب الاغتسال من الحیض (رقم- ۳۱۵) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/ب باب فی الحائض کیف تغتسل (رقم- ۶۴۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

چه په دې سره څنګه پاکی حاصله کړم؟ ۲ حضورپاك اوفرمائیل سبحان الله (یعنی الله پاك دې) ته په دې سره پاکی حاصله کړه. ۳ حضرت عائشه ﷞ فرمائي (چه حضورپاك هم دَ دې الفاظو بار بار اوریدو سره) ما هغه ښځه خپل طرف ته راښکله او هغې ته مې اووئیل ۴ چه (ته دغه کپړه) دَ وینې په ځائی (یعنی شرمګاه باندې) کیږده. (بخاري ومسلم)

حل اللغات: ۴ فَاجْتَذَبْتُهَا: دا د راښکلو په معنی کښې دې.أی قَرَّبْتُهَا إِلَى نَفْسِي: رامې ښکله یعنی خان ته مې رانژدې کړه. ۵ تَتَبَّعِي: أي: اجْعَلِيهَا: راکاږه، کیږده.

تسهیلات:

دحدیث د بعضې جملو وضاحت:

۱ **فَأَمَرَهَا**: یعنی نبی اکرم ﷺ هغه ښځې ته د غسل کیفیت او طریقه اوخودله.

۲ **خُذِي فِرْصَةً**: ځینو روایاتو کښې دا لفظ قرصة قاف سره راغلې دې. ددې نه هم وړه ټکړه مراد ده. کومه چې ددوؤ ګوتو په مینځ راځی.

قوله: تَطَهَّرِي بِهَا

د تطهری هم دا مطلب دې چې صفائی حاصله کړه. خو ځینې روایاتو کښې د توضئی لفظ راغلې دې. ددې نه هم مراد صفایی ده.

قوله: مِنْ مَسْكٍ:

??**په شرمګاه د مشکو لګولو دوه صورتونه:** ۱ دا لفظ د میم په کسرې سره زیات مشهور دې. د لفظ دظاهر څخه معلومیږی چې پخپله د مشکو وړه ټکړه دې په اندام نهانی باندې اومښلې شی چې هلته د بدبوئی اثر پاتې نشی.

۲ د مشکو نه مراد دادی چې دَ دې په یوه کپړه اومښلې شی او بیا هغه کپړا په اندام نهانی باندې کیږده او صفائی حاصله کړه.

قوله: قَالَ: "سُبْحَانَ اللهِ:

د سبحان الله وئیلو وجه: یعنی نبی کریم ﷺ هغه زنانه ځومره پوهه کړه خو هغه پوهه نشوه او همدا شان سوال به ئې کولو. بل طرفته نبی کریم ﷺ ته حجاب وو چې ښکاره او صفا الفاظ استعمال کړی، نو نبی کریم ﷺ د ډیر تعجب په انداز کښې لفظ د سبحان الله استعمال کړو.

ددې حدیث پاك څخه معلومه شوه چې په داسې قسمه مسئلو کښې چې ځومره کیدیشی نو د کنایې الفاظ دې استعمال کړې شی. او د شرم او حیا خیال دې اوساتلې شی.

قوله: فَاجْتَذَبْتُهَا:

دعائشې رضی الله عنها ښوښیارتیا: دا د راښکلو په معنی کښې دې. دا لفظ که ځومره التهٔ

رالتیه کړې شی نو ددې معنی هم یو وی. ځینو روایاتو کښې فَاجْعَلْهَا دی.ددې مطلب هم دغه دې الله تعالی دې د حضرت عائشه رضی الله عنها درجات اوچت کړی، هغوئ چې کله اوکتل چې دا ښځه نه پوهیږی او نبی کریم ﷺ نې پریشانه کړې دې نو دوئ هغه راښکله او په برینډو (صفا) الفاظو کښې ئې پوهه کړه. چې داسې اوکړه ځکه چې دښځو په خپلو کښې دَ داسې خبرې کولو کښې ګنجائش وی.

[۴۳۸] دښځو دپاره په غسل کښې دکونسو نه پرانستل

۴۳۸-(۱) [۷] ①وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، «قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، ②إِنِّي امْرَأَةٌ أَشُدُّ ضَفْرَ رَأْسِي، ③أَفَأَنْقُضُهُ لِغُسْلِ الْجَنَابَةِ؟ ④فَقَالَ: "لَا ; إِنَّمَا يَكْفِيكِ أَنْ تَحْثِيَ عَلَى رَأْسِكِ ثَلَاثَ حَثَيَاتٍ، ⑤ثُمَّ تُفِيضِينَ عَلَيْكِ الْمَاءَ فَتَطْهُرِينَ»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①وحضرت ام سلمة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمائی چه "ما عرض اوکړو یا رسول الله② زه یوه داسې ښځه یم چه دَ خپل سر ویښته ډیر مضبوط کونځې کوم، ③آیا دَ صحبت نه پس دَ لامبلو دپاره هغه کولاووم؟ ④حضورپاک اوفرمائیل نه (دَ ویښتو دَ کولاوولو ضرورت نشته دې) بلکه تاله هم دغه کافی دی چه درې لپې اوبه واخله په سر باندې ئې واچوه⑤ او بیا په ټول بدن باندې اوبه اوبهیوه نو پاکه به شې". (مسلم)

حل اللغات: ① أَشُدُّ: أَيْ: أُحْكِمُ: مضبوط او کلک ترم. ②ضَفْرَ: مفرد دې، ددې جمع ضفائر ده، أَيْ: بِنَسْجِهِ: کونځئ جوړولو ته وائی. ③ أَفَأَنْقُضُهُ: أَيْ: أُفَرِّقُهُ: آیا زه ئې پرانیزم، اوسپړم؟ ④ تَحْثِي: أَيْ الْإِثَارَةُ: یو لپه اوبه اوبهوه. ⑤ تُفِيضِينَ: أَيْ: تَصُبِّينَ: اوبه واړوه، اوبهیوه.

تسهیلات:

قوله: إِنِّي امْرَأَةٌ أَشُدُّ ضَفْرَ رَأْسِي:

کمځې جوړولو حکم: ضفر دَضاد په فتح او دَ فاء په سکون سره زیات مشهوردې. دا دَ کمځو په معنی کښې دې. اوس هم په کلوکښې شریفانې ښځې دَ سرو ویښته راغونډ کړی اوکمځئ جوړه وی او په دې کارباندې پوره وخت لګی. نو دَ هرغسل دَپاره دَدې کولاوول آسان کارنه دې. په دې وجه ام سلمة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دَمسئلې تپوس اوکړو نوحضورپاک دَښځو دَپاره دَنه کولاوولو اجازت ورکړو. اوس دا رخصت ښخوسره خاص دې په سړوکښې کوم فقیراوملنګ ته دَدې اجازت نشته ځکه چه دَهغوی دَ پاره کمځئ جوړول جائزنه دی. دَښځو په غسل کښې دَفقهاؤ اختلاف دې.

(۱) اخرجه مسلم کتاب الحیض باب حکم ضفائر المغتسلة (رقم-۵۸ - (۳۳۰) وابوداود کتاب الطهارة/باب فی المرأة هل تنقض شعرها عند الغسل (رقم-۲۵۱) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فی غسل النساء من الجنابة (رقم-۶۰۳) والترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب هل تنقض المرأة شعرها عند الغسل؟ (رقم-۱۰۵) والنسائی کتاب الطهارة/باب ذکر ترک المرأة نقض ضفر رأسها عند اغتسالها من الجنابة (رقم ۲٤۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

په غسل کښې د کونسو په پرانستلو کښې مذاهب:

په دې مسئله کښې دَ فقهاؤاختلاف دې چه دَښځودَپاره دَغسل په وخت کمځئی کولاوول ضروری دی که نه؟

① دَامام مالك رحمه الله اوامام احمد بن حنبل رحمه الله په نيز دَ حيض په غسل کښې نقض دَ ضفائرضروری دې باقی غسلونوکښې نه دې.

② دَ جمهورفقهاؤ په نيزپه يوغسل کښې هم دَ ښځو دَپاره نقض ضفائرضروری نه دې په دې شرط چه اوبه دَ ويښتو بيخ ته اورسی.

داول فريق دليل: دَ بخاری شريف دَ هغه روايت د دوی مستدل دې کوم چه دَ حجة الوداع په قصه کښې دې په کوم کښې چه حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه زمابيماری راغله نودَ غسل دَپاره حضورپاك ماته اوفرمائيل چه دَ سرويښته کولاؤ کړه ګمزه اوکړه بيا غسل اوکړه. په مشکوة کښې دا الفاظ دی "فأمرني النبي ﷺ أن أنقض رأسي وأمتشط" اودا چونکه دَحيض نه پس غسل وو په دې وجه صرف دَ حيض په غسل کښې نقض ضفائردې.

داول فريق د دليل جواب: دا دَ نقض ضفائرحکم دَ حج په موقع باندې دَ نورو خيرو وغيره لرې کولودَ وجې نه فرمائيلې وو.دَحيض سره تخصيص نه دې بلکه محل دَحج سره خاص دې.

د دويم فريق دليل: زيرنظر دَ ام سلمة رضي الله عنها صريح اوصحيح حديث د وی مستدل دې.

[۴۳۹] په غسل کښې د اوبو مقدار

۴۳۹-(۱)[۸] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ بِالْمُدِّ، [۳] وَيَغْتَسِلُ بِالصَّاعِ، إِلَى خَمْسَةِ أَمْدَادٍ.» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] وحضرت انس رضي الله عنه فرمائی[۲] چه رسول الله ﷺ به په يو مد (اوبو) سره اودس کولو[۳] اودَ يو صاع نه تر پنځو مدو پورې (اوبو) سره به ئې غسل کولو. (بخاری و مسلم)

حل اللغات: ① الْمُدّ: د ناپ کولو يو مقدار او پيمانه ده چه د دوه رطلو يعنی د دوؤ پونډونو برابر دې، ② الصَّاع: دا هم د ناپ کولو يو مقدار او پيمانه ده چه د اته رطلو يعنی د اته پونډونو برابر دې.

تسهيلات:

قوله: بِالْمُدِّ:

په غسل کښې د مسنون مقدارحد: د اوبو په مقدار کښې ددې حديث او نورو احاديثو څخه معلوميږی چې نبی کريم ﷺ به په يو مد اوبو سره اودس اوپه يوصاع اوبو سره غسل کولو.

د فقهاء کرامو په دې باندې اتفاق دې چې په اودس او غسل کښې د اوبو په استعمال

(۱) اخرجه البخاری کتاب الوضوء باب الوضوء بالمد (رقم-۲۰۱) ومسلم کتاب الحيض باب القدر المستحب من الماء فی غسل الجنابة، وغسل الرجل والمرأة فی إناء واحد فی حالة واحدة، وغسل أحدهما بفضل الآخر(رقم-۵۱ - (۳۲۵))

كښې هيڅ حدبندي نشته دې. البته اسراف او تقتير يعنې کمی نه بچ کيدل ضروري دی. دد ې وجه داده چې دا امور عادي دی ، دعادت په وجه بدليږي. کله د زماني او کله د مکان او کله دَ مقام په وجه په دې کښې فرق رازي. کله د اوبو د کمی اوکثرت اوکله د مزاج په تغير سره په دې کښې تغير راځي. نبي کريم ﷺ به عموماً هم دا مقدار استعمالولو دکوم ذکر چې په دې حديث پاك راغلې دې.

[٤٤٠] دسړي او ښځې يو ځائې غسل کول

٤٤٠-(۹)[۱] وَعَنْ مُعَاذَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَتْ عَائِشَةُ: [۲] «كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ بَيْنِي وَبَيْنَهُ، [۳] فَيُبَادِرُنِي، حَتَّى أَقُولَ: دَعْ لِي دَعْ لِي. [٤] قَالَتْ: وَهُمَا جُنُبَانِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.(۱)

ترجمه: [۱] وحضرت معاذه رحمها الله وائي چه حضرت عائشې صديقې اوفرمائيل [۲] چه "ما او رسول الله ﷺ به په يو لوښی کښې کوم چه دَ دواړو په مينځ کښې پروت وو لاهبل او [۳] حضورپاك ﷺ به په (اوبو اخستوکښې) زمانه تادی کوله نو ما به وئيل چه زما دَ پاره خو اوبه پريږده، زما دَ پاره خو هم اوبه پاتې کړه" [٤] حضرت معاذه فرمائی چه هغوی دواړه (حضورپاك ﷺ او حضرت عائشه ﷺ) جنابت کښې (يعنې په حالت دَ ناپاکئ کښې) وو.

حل اللغات: ① فَيُبَادِرُنِي: أَيْ: يَسْبِقُنِي لِأَخْذِ الْمَاءِ: يعنې نبی عليه السلام به زمانه په اوبو راخستلو کښې مخکښې کيدو، ② دَعْ لِي دَعْ لِي: أَيْ: اتْرُكْ لِي مَا أُكْمِلُ غُسْلِي: تکرار د تاکيد دپاره دې معنی ئې ده چه ماته هم دومره اوبه پريږده چه زه پرې غسل پوره کړې شم.

دراوي مختصر تعارف:

نوم معاذة دَ پلار نوم ئې عبدالله او کنيت ئې ام الصبهاء دې. دَ خاوند نوم ئې صله بن اشيم دې. دَ بصرې اوسيدونکې وه دَ محدثينو په نيز ثقه ده. حضرت عائشه صديقه ﷺ کره به ئې تګ راتګ وو په دې چه دَ هغې احاديث هم هغه نقل کوی. ډيره زياته عبادت کونکې ښځه وه.

علامه ابن جوزی ﷺ دَ حکيم بن سنان نه نقل کړی دی ماته يوې خادمه چه حضرت معاذه عدويه په خدمت کښې اوسيدله اوخودل چه معاذه عدديه به ټوله شپه عبادت کولو او چه کله به پرې دَ خوب غلبه شوه نو ګرځيدله به اوبيابه ئې خپل نفس مخاطب کړو فرمائيل به ئې اې نفسه خوب خو ستا په وړاندې دې او ته به دې سره مخ کيږې نو بيا اوده شه. دَ خادمه بيان دې حضرت معاذه عدديه به فرمائيل اودَ هغې دَ سترګونه به

(۱) اخرجه البخاري كتاب الغسل باب غسل الرجل مع امرأته (رقم-۲٥۰) ومسلم كتاب الحيض باب القدر المستحب من الماء في غسل الجنابة، وغسل الرجل والمرأة في إناء واحد في حالة واحدة، وغسل أحدهما بفضل الآخر(رقم-٤٦ - (۳۲۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

اوښکې رواني وې تردې چه سحر به شو. (صفوة الصفوة: ۱۴/۴)
مرویات: دَ هغې نه اصحاب صحاح سته روایتونه په خپلو کتابونوکښې نقل کړی دی.

تسهیلات:

قوله: كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا:

دزوجینو په غسل کښې دوه اتفاقی صورتونه: ①ښځه او سړې چې ښځه خاوند وی او په یوځائې کښې غسل کوی نو دا اتفاقًا جائز دی. په دې کښې هیڅ کراهت نشته دې.
② که سړی وړاندې غسل اوکړو او ښځې روستو نو په دې کښې هم څه کراهت نشته دې.

د ښځې په پاتې شوو اوبو سره د سړی دپاره دغسل په حکم کښې مذاهب:

① د امام احمد بن حنبل رحمه الله او اهل ظواهرو په نیز دا صورت مکروه دې.
② دجمهورو علماء کرامو په نیز صرف د ښځې ړومبې غسل کولو سره اوبه نه مکروه کیږی ، لهٰذا سړی دپاره په دې باندې غسل کول مکروه نه دی.
د دویم فریق دلیل.
داول فریق دلائل: حنابله او اهل ظواهرو دهغه روایاتو نه استدلال کړې دې کوم کښې چې د ښځو نه پس سړو لره اغتسال ممنوع ګرځولې شوی دی.
د اول فریق د دلائلو جواب:
① هغه روایات دداسې ښځو باره کښې دی چې د غسل کولو صحیح طریقه ورته معلوم نه وی او په اوبو کښې څاڅکی پریوځی نو هغه ممنوع اومکروه دی ګنی نه .
② دا حدیث د اجنبیانو ښځو په استعمال شوؤ اوبو باندې محمول دی. یعنی د اجنبیت په وجه غیر محرم دَ پاره التذاذ په وجه منع کړې شوې ده.
ددویم فریق دلیل: مذکوره حدیث د دوی مستدل دې.
دعائشې د حدیث پس منظر: باقی حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها چې کوم منظر بیان کړې دې، دهغې پس منظر داسې دې چې په هغه وخت کښې د اوبو هم تنګدستیا وه ، خانله ځانله اوبه نه وی ، بیل بیل لوښی هم نه وو. د تنګ کور په وجه بیل بیل ځایونه هم نه وو. او دشپې په تیاره کښې به ورته د یوبل بدنونه هم نه ښکاره کیدل. په دې کښې هیڅ خبره داسې نه وه چې په هغې منکرین حدیث ګوته پورته کړی. اود خبث باطن څه علاج نه وی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۳۱] په شیطانی خوب لیدو کښې دوه صورتونه

۳۳۱-() [۱۰] ① عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② «سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الرَّجُلِ ③ يَجِدُ الْبَلَلَ وَلَا يَذْكُرُ احْتِلَامًا. قَالَ: "يَغْتَسِلُ" ④ وَعَنِ الرَّجُلِ يَرَى أَنَّهُ قَدِ احْتَلَمَ وَلَا يَجِدُ بَلَلًا. ⑤ قَالَ: "لَا غُسْلَ عَلَيْهِ"

ترجمه: ① ارحضرت عائشه صدیقه ﷺ فرمائی ② چه دَ رسول الله ﷺ نه دَ هغه سړی باره کښې تپوس اوکړې شو چه دَ (اوده کیدو نه راپاسی) ③ او (په کپړه باندې دَمنی) لوندوالې محسوس کړی او خوب (احتلام) هغه ته یاد نه وی؟ حضورپاك اوفرمائیل چه "لامبل پکاردی" ④ او دَ داسې سړی باره کښې هم تپوس اوکړې شو چاته (چه دَ اوده کیدو نه پس) احتلام خو یاد وی مګر لوندوالې معلوم نه وی. ⑤ حضورپاك اوفرمائیل "په ده باندې غسل واجب نه دې"

حل اللغات: ① الْبَلَلَ: لوندوالې (د منی یا د مذی)، ② احْتِلَامًا: أَيْ: أَنَّهُ جَامَعَ أَحَدًا فِي النَّوْمِ: په خوب کښې جماع کولو ته احتلام وائی.

① قَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ: هَلْ عَلَى الْمَرْأَةِ تَرَى ذَلِكَ غُسْلٌ؟ ② قَالَ: "نَعَمْ، إِنَّ النِّسَاءَ شَقَائِقُ الرِّجَالِ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ. ③ وَرَوَى الدَّارِمِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ، إِلَى قَوْلِهِ: "«لَا غُسْلَ عَلَيْهِ»".

ترجمه: ① ام سلیم ﷺ تپوس اوکړو چه که ښځه هم دغه لوندوالې اووینی نو په هغې باندې غسل واجب دې؟ ② حضورپاك اوفرمائیل "هو" ښځې هم دَ سړو په شان دی. ترمذی، ابوداؤد، ③ دارمی او ابن ماجه دا حدیث دَ "لاغسل علیه" (په دې باندې غسل واجب نه دې) پوره نقل کړې دې.

حل اللغات: ③ شَقَائِقُ: أَيْ: نَظَائِرُهُمْ: مشابه وی، یو شان وی.

تسهیلات: **قوله:** يَجِدُ الْبَلَلَ:

د شیطانی خوب لیدو دوه صورتونه:

① دې حدیث کښې دی ځوک چې اوده شی او بیا راپاسی او په کپړو یا بدن وغیره باندې لوندوالې اوګوری. نبی کریم ﷺ فرمائی چې په دې کس باندې غسل واجب دې.

② ځوک چې په اودهٔ باندې څه خوب اوکتلو، احتلام ورته هم یاد دې مګر کله چې ویخ شی نو څه لوندوالې نه وو ، نو نبی کریم ﷺ فرمائی چې په ده باندې غسل واجب نه دې.

په دې مسئله کښې د فقهاء کرامو څه لوې اختلاف نشته دې ، البته د احنافو په نیز ددې

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة/باب فی الرجل یجد البلة فی منامه (رقم- ۲۳۶) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب من احتلم ولم یر بللا (رقم- ۶۱۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

په صورتونو کښې ډير اوږد تفصيل دې، دفقه کتابونه ته مراجع اوکړې.

قوله: إِنَّ النِّسَاءَ شَقَائِقُ الرِّجَالِ:

د ښځو او سړو د اشتراک په مصداق کښې دوه اقوال:

① يعنى په تخليق او طبائع کښې ښځې او سړي يو شان دى. کوم څه چې په سړي کښې ظاهريږي هغه په ښځو کښې هم ظاهريږي. ددې جواب نه معلوميږي چې په ښځو کښې د احتلام د قليل او نادرکيدو په وجه ام سليم رضى الله عنها سوال اوکړو چې د ښځو په احتلام کښې هم څه لوندالې ښکارى ،نو نبى کريم ﷺ په اثبات کښې جواب ورکړو.

② ځينې علماء کرام شقائق او شقيقه لره دَ اشتراك فى الاحكام په معنى کښې اخلى. چې دا دواړه دشريعت په احکامو کښې يو شان دى ، دا مفهوم زياد آسان دى.

[۴۴۲] د حشفه غائب کيدو په صورت کښې د غسل وجوب

۴۴۲ـ (۱)[۱۱] وَعَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «إِذَا جَاوَزَ الْخِتَانُ الْخِتَانَ، وَجَبَ الْغُسْلُ». [۳] فَعَلْتُهُ أَنَا وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاغْتَسَلْنَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو [۲] "کله چه دَ سړي دَ سنتيدو ځائى دَ ښځې دَ سنتيدو دځائى نه تجاوز اوکړي (يعنى حفشه ورغيبه شى نو په دواړو باندې) غسل واجبيږي" [۳] (حضرت عائشه رضي الله عنها) فرمائى چه ما او حضورپاك ﷺ داسې اوکړل او مونږ دواړو اولامبل. (ترمذى ، ابن ماجه)

حل اللغات: ① جَاوَزَ: أَيْ: تَعَدَّى: تجاوز اوکړي، ورتيرشى، ② الْخِتَانُ الْخِتَانَ: وَهُوَ مَوْضِعُ الْقَطْعِ مِنْ فَرْجِ الذَّكَرِ وَالْأُنْثَى: ختان د سړي يا د ښځې د سنتيدو ځائ ته وائى، په دې کښې د ړومبى ختان نه د سړي شرمګاه او د دويم ختان نه د ښځې شرمګاه مراد ده، او دا کنايه ده د جماع نه.

نوټ: ددې حديث تشريح دَ باب دَ شروع په احاديثو کښې تيره شوې ده.

[۴۴۳] په غسل کښې د ويښتو وينځلو حکم

۴۴۳ـ (۲)[۱۲] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «تَحْتَ كُلِّ شَعْرَةٍ جَنَابَةٌ [۳] فَاغْسِلُوا الشَّعْرَ، وَأَنْقُوا الْبَشَرَةَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، [۴] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَالْحَارِثُ بْنُ وَجِيهٍ الرَّاوِي وَهُوَ شَيْخٌ، لَيْسَ بِذَلِكَ.

ترجمه: [۱] وحضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائى چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو [۲] دَ هرويښته لاندې (جرړه کښې) جنابت وى [۳] لهذا ويښته (ښه) وينځى او بدن پاکوئى.

---

(۱) اخرجه الترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء إذا التقى الختانان وجب الغسل (رقم-۱۰۸)

(۲) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة/باب فى الغسل من الجنابة (رقم- ۲٤۸) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب تحت كل شعرة جنابة (رقم- ۵۹۷)

(ابوداؤد، ترمذی، ابن ماجه) ۴ اوامام ترمذی رحمه الله وائي چه داحدیث غریب دي ځکه چه دَدي حدیث یو راوی حارث بن وجیه یو بوډا سړي دي چه معتبرنه دي. (یعنی دَ کبرسنئ او نسیان دَ غلبې دَ وجې نه دَ هغه روایت دَ اعتماد قابل یعنی قوی ۔ دي بلکه ضعیف دي).

حل اللغات: ① أَنْقُوا: دا د انقاء نه دي، پاکئ او صفایئ ته وائی. ② الْبَشَرَةَ: أي ظَاهِرُ الْجِلْدِ: بښکاره بدن او څرمن ته وائی.

[۴۴۴] په غسل کښې د ویښته برابر خالي وچ پاتې کیدو حکم

۴۴۴—(۱)[۱۳] ۱ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«مَنْ تَرَكَ مَوْضِعَ شَعْرَةٍ مِنْ جَنَابَةٍ لَمْ يَغْسِلْهَا ۳ فُعِلَ بِهَا كَذَا وَكَذَا مِنَ النَّارِ". ۴ وَقَالَ عَلِيٌّ: فَمِنْ ثَمَّ عَادَيْتُ رَأْسِي، فَمِنْ ثَمَّ عَادَيْتُ رَأْسِي، فَمِنْ ثَمَّ عَادَيْتُ رَأْسِي. ثَلَاثًا»، رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ، وَأَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ ۵ إِلَّا أَنَّهُمَا لَمْ يُكَرِّرَا: فَمِنْ ثَمَّ عَادَيْتُ رَأْسِي.

ترجمه: ۱ وحضرت علی رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو ۲ کوم سړی چه په غسل جنابت کښې دَ یو ویښته برابر خائی هم (اوچ) پریخودو چه هغه نی اونه وینځلو ۳ نوهغه ته به داسې داسې دَ اور عذاب ورکولې شی" ۴ حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چه "هم په دې وجه ماخپل سر سره دښمنی اوکړه، هم په دې وجه ما خپل سر سره دښمنی اوکړه، هم په دې وجه ما خپل سرسره دښمنی اوکړه (چه اومې خرولو) درې ځل نی اووئیل". (ابوداؤد، احمد، دارمی) ۵ اودارمی دا الفاظ "هم په دې وجه ماخپل سرسره دښمنی اوکړه" مکرر نه دی ذکرکړی.

حل اللغات: ① بِهَا كَذَا وَكَذَا: دا دواړه الفاظ کنایه دی د عدد نه، ددې نه مراد دوچند عذاب دې، ② عَادَيْتُ رَأْسِي: أي عَادَيْتُ شَعْرِي: ویښتو سره مې دښمنی اوکړه یعنی اومې خرئیل.

[۴۴۵] د غسل څخه وروسته اودس نه کول

۴۴۵—(۲)[۱۴] ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ۲ «كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَتَوَضَّأُ بَعْدَ الْغُسْلِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَةَ.

ترجمه: ۱ وحضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی ۲ چه "رسول الله صلی الله علیه وسلم به دَ غسل کولو نه پس اودس نه کولو". (ترمذی، ابوداؤد، نسائی، ابن ماجه)

---

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة/باب فی الغسل من الجنابة (رقم- ۲۴۹) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب تحت کل شعرة جنابة (رقم- ۵۹۹) والدارمی کتاب الطهارة/باب من ترک موضع شعرة من جنابة (رقم-۷۷۸)

(۲) اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی الوضوء بعد الغسل (رقم- ۱۰۷) وابوداود کتاب الطهارة/باب فی الوضوء بعد الغسل (رقم- ۲۵۰) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب فی الوضوء بعد الغسل (رقم- ۵۷۹) والنسائی کتاب الطهارة/باب ترک الوضوء من بعد الغسل(رقم-۲۵۲)باب ترک الوضوء من بعد الغسل (رقم-۲۵۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: لَايَتَوَضَّأُبَعْدَ الغُسْلِ:

دغسل نه پس د اودس نه کولو وجه: يعنی غسل کولو نه پس بۀ ئې اودس نه فرمائيلو ځکه چې غسل نه وړاندې به نبی ﷺ مکمل اودس کولو. لکه څنګه چې ددې باب په حديث نمبر (۴۳۵) کښې حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها تشريح فرمائيلې ده. هسې هم کله چې يو کس غسل کوی نو دَ حدث اکبر نه پاکيږی نو د حدث اصغر پاکی ددې په ضمن کښې ده ، ددې د اعادې ضرورت نشته دې.

[۴۳۶] په ګل خطمي سره سر وينځل

۴۳۶-(۱) [۱۵] [۱] وَعَنْهَا قَالَتْ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْسِلُ رَأْسَهُ بِالْخِطْمِيِّ وَهُوَ جُنُبٌ، [۳] يَجْتَزِءُ بِذَلِكَ، وَلَا يَصُبُّ عَلَيْهِ الْمَاءَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] اوحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها فرمائی [۲] چه "رسول الله ﷺ به دَ ناپاکئ (د جنابت) په حالت کښې (دَغسل په وخت) په خطمی سره سر وينځلو [۳] اوهم په دې باندې به ئی کفايت کولو او دوباره به ئی په سرباندې (خالص) اوبه نه اچولې". (ابوداؤد)

حل اللغات: ① الْخِطْمِيّ: نَبْتٌ يُتَنَظَّفُ بِهِ: مشهور بوټي دې کوم نه چه به په اوبوکښې ملاوولوسره دَ صابن کار اخستلو په کوم سره چه به په خاص توګه سروينځلې شو. ② يَجْتَزِءُ: أَيْ: يَقْتَصِرُ عَلَيْهِ: يعنی هم دا به ئې کافی ګنړل ③ لَايَصُبُّ: نه به ئې پرې اچولې (نورې اوبه).

تسهيلات:

قوله: يَجْتَزِءُ بِذَلِكَ:

د ګل خطمی په اوبودغسل کولو وجه: يعنی په کومواوبوکښې چه به خطمی ملاوشوې وو دَهغې استعمال به ئی دَ غسل دَپاره کافی ګڼړلو اودَخطمی دَ وينځلودَپاره به ئی نورې خالص اوبه نه استعمالولې. داپه هغه صورت کښې کيدې شی چه په اوبوکښې ګل خطمی ډيرپه کم مقدار باندې ملاؤ شوې وی نودابه دَخالص اوبوپه شان وو اودَ نورو خالص اوبوپه ضرورت نه راتلو.

داحنافود مسلک تائيد: دَدې حديث نه دَ احنافودَمسلك تائيد کيږی چه که په اوبوکښې څه صفاځيز ملاؤشی اودَهغې اثر په اوبو کښې ښکاره شی اودَ اوبو طبيعت رقت سيلان متاثرنه وی نو په دې سره اودس جائز دې شوافع دا نه مني.

[۱] اخرجه ابوداود كتاب الطهارة/باب فی الجنب يغسل رأسه بخطمی أيجزئه ذلك (رقم- ۲۵۶)

[۴۴۷] د غسل د پاره د پردې کولو حکم

۴۴۷-(۱) [۱۶] ۱ وَعَنْ يَعْلَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يَغْتَسِلُ بِالْبَرَازِ، ۳ فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ، فَحَمِدَ اللهَ، وَأَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: ۴ "إِنَّ اللهَ حَيِيٌّ سِتِّيرٌ يُحِبُّ الْحَيَاءَ وَالتَّسَتُّرَ، ۵ فَإِذَا اغْتَسَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَتِرْ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ ۶ وَفِي رِوَايَتِهِ قَالَ: " «إِنَّ اللهَ سِتِّيرٌ، فَإِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يَغْتَسِلَ فَلْيَتَوَارَ بِشَيْءٍ» ".

ترجمه: ۱ وحضرت یعلی رضی الله عنه فرمائی ۲ چه رسول الله ﷺ یو سړی په میدان کښې په بربنډه لامبیدو اولیدلو ۳ نو حضورپاك (دَ وعظ دَپاره) په منبر باندې اوختلو، اول ئې دَ الله تعالی حمد اوثنا بیان کړه بیائی اوفرمائیل ۴ چه الله تعالی ډیر حیادار دې (یعنی خپلو بندیگانوسره دَ حیادارو معامله کوی په داسې توګه چه هغوی معاف کوی) او ډیر پرده ساتونکې دې (یعنی دَ خپلو بندیګانو ګناهونه او عیبونه پټ ساتی) هغه حیاء او پرده ساتل خوښوی ۵ لهذا کله چه په تاسوکښې څوك (میدان کښې) لامبی نو هغه له پکار دی چه هغه پرده اوکړی. (ابوداؤد، نسائی) ۶ اودَ نسائی په یو روایت کښې داسې دی چه حضورپاك اوفرمائیل "الله تعالی پرده ساتونکې دې لهذا کله چه په تاسو کښې څوك دَ لامبلو اراده اوکړی نوهغه له پکاردی چه په یو څیز سره پرده اوکړی".

حل اللغات: ① الْبَرَازِ: أَيْ: الْفَضَاءِ الْوَاسِعِ: کهلاؤ میدان، صحرا، ② فَصَعِدَ: أَيْ: طَلَعَ: اوختلو (منبرته)، جلوه ګر شو. ③ حَيِيٌّ: أَيْ: كَرِيمٌ: ډیر حیادار، ④ سِتِّيرٌ: په وزن د فِعِّيل، د مبالغې صیغه ده، پرده ساتونکې.

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۴۸] د انزال نه بغیر په نفس دخول سره د عدم غسل نسخ

۴۴۸-(۲) [۱۷] ۱ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «إِنَّمَا كَانَ الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ رُخْصَةً فِي أَوَّلِ الْإِسْلَامِ ۳ ثُمَّ نُهِيَ عَنْهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۱ وحضرت ابی بن کعب رضی الله عنه فرمائی ۲ چه دا حکم چه غسل (صرف) دَ انزال نه پس واجبیږی دَ اسلام په شروع کښې دَ آسانئ دَ وجې نه وو ۳ بیا دَ هغې نه منع اوکړې شوه (یعنی دا حکم منسوخ اوګرځولې شو). (ترمذی، ابوداؤد، دارمی)

[۱] اخرجه ابوداود کتاب الحمام باب النهی عن التعری (رقم-۴۰۱۲) والنسائی کتاب الغسل والتیمم/باب الاستتار عند الاغتسال (رقم-۴۰۶)باب الاستتار عند الاغتسال (رقم-۴۰۶)

[۲] اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء أن الماء من الماء (رقم-۱۱۰) وابوداود کتاب الطهارة/باب فی الإکسال (رقم-۲۱۴) والدارمی کتاب الطهارة/باب الماء من الماء (رقم-۷۸۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۴۴۹] په غسل کښې د نوک برابر وچ ځاي پاتې کيدو حکم

۴۴۹–()[۱۸] ۱ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: ۳ إِنِّي اغْتَسَلْتُ مِنَ الْجَنَابَةِ، وَصَلَّيْتُ الْفَجْرَ، ۴ فَرَأَيْتُ قَدْرَ مَوْضِعِ الظُّفْرِ لَمْ يُصِبْهُ الْمَاءُ. ۵ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْ كُنْتَ مَسَحْتَ عَلَيْهِ بِيَدِكَ أَجْزَأَكَ» "رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ وحضرت على رضي الله عنه فرمائى ۲ چه يو سړي د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې اوکړو ۳ چه ما د جنابت غسل اوکړو اود سحر مونځ مې اوکړو، ۴ بيا ما اوکتل چه په (بدن باندې) د نوک برابر ځائې اوچ پاتې شوي دي چه هلته اوبه نه دی رسيدلې. ۵ حضورپاك اوفرمائيل چه که چرې تا (دغه ځائې خپل لوند) لاس سره مسح کړې وې نو دا کافی وو تا دپاره. (ابن ماجه)

حل اللغات: ① مَسَحْتَ: أي مَرَرْتَ عَلَيْهِ بِيَدِكَ الْمَبْلُولَةِ: يعنى رابنکلي دې وې لوند لاس، ② أَجْزَأَكَ: أيْ: كَفَاكَ: نو کافی شوی به وو تا لره.

تسهيلات:

قوله: مَسَحْتَ عَلَيْهِ:

دمسحت عليه جملې مطلب: دې نه مراد غسل اووينځل دی مسح د مړلو په معنی کښې دی او په وينځلو کښې مړل کيږی يعنی که دغسل نه پس په دغه اوچه حصه باندې تا لږې شان اوبه مړلې وې نوستادپاره به دا جائزشوې وې اومونځ به دې کيدلومګر تاداسې اونه کړل لهذا فرض مونځ دې اونه شو اوس به دوباره کوې.

په اودس اوغسل کښې دمعمولی ځائې اوچ پاتې کيدو حکم: دامسئله دغسل دپاره هم ده اود اودس په اندامونوکښې داودس دپاره هم ده. که چرته څه ځائې اوچ پاتې شی يا د نوکونود پالش اويالپ اسټك د وجې نه يا د نورو روغن يا تيل تارکول او ګوند وغيره د وجې نه اوبه د بدن هغه مطلوبه حصې ته اونه رسی نونه به ئې غسل صحيح کيږی او نه اودس. رنګ روغن کونکې ښځو او پالش استعمالونکې ښځو باندې په دې مسئله کښې احتياط لازم دې.

[۴۵۰] په غسل کښې د تخفيف دعا

۴۵۰–()[۱۹] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، ۲ «قَالَ: كَانَتِ الصَّلَاةُ خَمْسِينَ، ۳ وَالْغُسْلُ مِنَ الْجَنَابَةِ سَبْعَ مَرَّاتٍ، وَغَسْلُ الْبَوْلِ مِنَ الثَّوْبِ سَبْعَ مَرَّاتٍ، ۴ فَلَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُ حَتَّى جُعِلَتِ

[۱] اخرجه ابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب من اغتسل من الجنابة، فبقى من جسده لمعة لم يصبها الماء، كيف يصنع (رقم-۶۶۴)

[۲] اخرجه ابوداود كتاب الطهارة/باب فى الغسل من الجنابة (رقم- ۲۴۷)

الصَّلَاةُ خَمْسًا، ⑤ وَغُسْلُ الْجَنَابَةِ مَرَّةً، وَغَسْلُ الثَّوْبِ مِنَ الْبَوْلِ مَرَّةً». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① وحضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمائي ② چه (اول) پنخوس مونځونه فرض شوی وو، ③ او دَ جنابت (ناپاکئ) نه لامبل او دَ کپړې نه متيازې وينځل اووه اووه ځل (فرض شوی وو) ④ بيا رسول الله ﷺ (دَ الله تعالى نه) مسلسل دَ تخفيف دعاګانې غوښتلې. تردې چه مونځونه خو پنځه پاتې شو ⑤ او دَ جنابت نه لامبل او دَ کپړې نه متيازې وينځل يو يو ځل پاتې شو. (ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: كَانَتِ الصَّلَاةُ خَمْسِينَ:

دعمل نه مخکې دِ نسخ جواز: يعنی ليلة المعراج کښې دَحضورپاك په امت باندې په شپه ورځ کښې پنخوس مونځونه فرض شوی وو ليکن په دې باندې دَعمل کولونه وړاندې هغه منسوخ اوموقوف شو اوصرف پنځه پاتې شی. معلومه شوه چه په يوحکم باندې دَ عمل کولونه وړاندې هغه منسوخ کيدې شی. دَ نسخ تعريف اودَدې حکم دَدې کتاب په شروع کښې تيرشوې دې.

قوله: وَغَسْلُ الثَّوْبِ مِنَ الْبَوْلِ مَرَّةً:

د کپړې د پاکولو په عدد کښې اختلاف:

① يعنی دَ نجاست لګيدلونه پس دَدې دَ ازالې دَپاره دَ اووه ځلوحکم ووبيا دَ يوځل وينځلو حکم پاتې شو داد شوافع مسلك دې چه په يوځل وينځلوسره کپړه وغيره پاکيږی اودرې ځل وينځل مستحب دی

② دَاحنافو په نيز درې ځل وينځل واجب دی کله چه نجاست غيرمرئيه وی.

Maktaba Tul Ishaat.com

[۶/۱۱] بَابُ مُخَالَطَةِ الْجُنُبِ وَمَا يُبَاحُ لَهُ

جنبی سره د اختلاط بیان

خلاصة الباب:

فيه أحد وعشرون حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① جواز الأمور السبعة للجنب:

(۱) المجالسة مع الناس ۱۔ (۲) النوم : ۲، ۳، ۱۷۔(۳) الأكل: ۴ (۴) تعدد الجماع: ۵ (۵) الذكر: ۶، (۶) الاستدفاء بالمرأة: ۹ (۷) الغسل لكل جنابة: ۱۹۔

② الوضوء لبعض الأمور: ۲، ۳، ۴۔

③ الزجر بدوام الجنابة: ۱۲، ۱۳۔

④ التطهير لرد السلام: ۱۵، ۱۶۔

⑤ حكم الوضوء بفضل ماء الجنب سواء كان رجلا أو امرأة : ۷، ۲۰، ۲۱۔

⑥ تعليم طريق غسل الجنابة: ۱۸۔

⑦ عدم جواز التلاوة ومس القرآن ودخول المسجد للجنب. ۱۰، ۹، ۱۱، ۱۴)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۳۵۱] د مومن عدم نجاست

۳۵۱-(۱) [۱] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «لَقِيَنِي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا جُنُبٌ، ③ فَأَخَذَ بِيَدِي، فمشيت مَعَهُ حَتّٰى قَعَدَ، ④ فَانْسَلَلْتُ، فَأَتَيْتُ الرَّحْلَ، فَاغْتَسَلْتُ، ثُمَّ جِئْتُ، وَهُوَ قَاعِدٌ ⑤ فَقَالَ: "أَيْنَ كُنْتَ يَا أَبَا هِرٍّ؟" فَقُلْتُ لَهُ. ⑥ فَقَالَ: "سُبْحَانَ اللّٰهِ، إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَا يَنْجُسُ" ». هٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ،

ترجمه: ① حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي ② چې د رسول الله ﷺ سره زما ملاقات وشو او زه جُنب وم ③ حضور ﷺ زما لاس ونيولو او زه ورسره شوم، کوم وخت چې حضور ﷺ کيناستل ④ نو زه څيني پټ ووتم خپل مکان ته راغلم او د لمبيدو څخه وروسته د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شوم حضور ﷺ ناست وو ⑤ (زما په ليدو سره) يي وفرمايل ته چېرته وي ما حضور ﷺ ته اصل واقعه ذکر کړه (چې زه ناپاک وم څکه تللي وم) ⑥ حضور ﷺ وفرمايل سبحان الله مومن ناپاک نه وي، د روايت الفاظ د بخاري دي

① وَلِمُسْلِمٍ مَعْنَاهُ، وَزَادَ بَعْدَ قَوْلِهِ: ② «فَقُلْتُ لَهُ: لَقَدْ لَقِيتَنِي وَأَنَا جُنُبٌ، ③ فَكَرِهْتُ أَنْ أُجَالِسَكَ حَتّٰى أَغْتَسِلَ»

[۱] اخرجه البخاري كتاب الغسل باب: الجنب يخرج ويمشى في السوق وغيره وقال عطاء (رقم-۲۸۵) ومسلم كتاب الحيض باب الدليل على أن المسلم لا ينجس (رقم-۳۷۱) وابوداود كتاب الطهارة/باب في الجنب يصافح (رقم-۲۳۱)

وَكَذَا الْبُخَارِيُّ فِي رِوَايَةٍ أُخْرَى.

ترجمه: [۱] مسلم هم د دې معنې روايت نقل کړي دي او د ابوهريره رضي الله عنه دا الفاظ يې مزيد نقل کړي دي [۲] چې هغه اوويل تاسو ماسره ملاؤ شوئ خو زه د ناپاکي په حالت کې وم [۳] ځکه ماته دا مناسب معلوم نه شو چې ستاسو سره کينم ترڅو پورې چې ونه لمبيږم، د غسې د بخاري په يو بل روايت کې هم دا الفاظ منقول دي.

حل اللغات: ① فَمَكَثْتُ: أي فَمَشَيْتُ: ورسره شوم، ورسره روان شوم، ② فَانْسَلَلْتُ: أي ذَهَبْتُ بِخُفْيَةٍ: زه پټ شان لاړم، ③ الرَّحْلَ: أي: الْبَيْتَ: کور، ④ لَايَنْجُسُ: أي: لَايَصِيرُ عَيْنُهُ نَجِسًا: نه ناپاکه کيږي.

[۴۵۲] د حالت د جنابت کښې د خوب جواز

۴۵۲-()[۲] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] «ذَكَرَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ تُصِيبُهُ الْجَنَابَةُ مِنَ اللَّيْلِ، [۳] فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تَوَضَّأْ وَاغْسِلْ ذَكَرَكَ، ثُمَّ نَمْ"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او ابن عمر رضي الله عنه راوي دي [۲] چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه حضور صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړو چې کله کله ماته د شپې جنابت کيږي (يعني احتلام يا جماع سره غسل واجبيږي) [۳] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل چې هغه وخت اودس کولو سره عضو تناسل وينځه او اوده کيږه. (بخاري، مسلم)

تسهيلات:

قوله: تَوَضَّأْ:

د جنابت په حالت کښې د شپې د خوب په حکم کښې مذاهب:

① يعنې اودس اوکړه ، ذکر اووينځه او اوده شه. د شپې د جنابت په حالت کښې بغير د غسل نه اوده کيدل د اهل ظواهر په نيز جائز نه دی.

② جمهور فرمائی چې غسل کول مستحب او افضل دی ګنی بيا د اودس درجه ده . او بيا صرف د استنجاء درجه ده.

هميشه دپاره دجنابت په حالت کښې د اوده کيدو وعيد: شاه انور شاه کشميری رحمه الله په فيض الباری کښې ليکلی دی چې کوم کس هميشه دجنابت په حالت کښې اوده کيږی نو د هغه په جنا زه کښې فرشتې شرکت نه کوی. بهر حال عامو احاديثو کښې بغير د غسل نه

[۱] اخرجه البخاری كتاب الغسل باب الجنب يتوضأ ثم ينام (رقم-۲۹۰) ومسلم كتاب الحيض باب جواز نوم الجنب واستحباب الوضوء له. وغسل الفرج إذا أراد أن يأكل أو يشرب أو ينام أو يجامع(رقم#؟؟ ۲۵ - (۳۰۶) وابوداود كتاب الطهارة/باب الوضوء لمن أراد أن يعود (رقم- ۲۲۰) ومالک فی الموطا کتاب الطهارة ، باب وضوء الجنب إذا أراد أن ينام أو يطعم قبل أن يغتسل (رقم- ۷۶) والنسائی كتاب الطهارة/باب وضوء الجنب. وغسل ذكره إذا أراد أن ينام(رقم-۲۶۰)باب وضوء الجنب. وغسل ذكره إذا أراد أن ينام (رقم- ۲۶۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

د اوده کیدو اجازت موجود دې. الله تعالی دې رحم اوکړي. د غسل کولو په بهترۍ کښې څه کلام کیدې شي:

[۳۵۳] د خوراک او خوب دپاره د جنب اودس کول

۳۵۳-(۳)[۱] ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ جُنُبًا ③ فَأَرَادَ أَنْ يَأْكُلَ أَوْيَنَامَ، تَوَضَّأَ وضوءه لِلصَّلَاةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي ② چې رسول الله ﷺ به د ناپاکي په حالت کې وو ③ او د طعام خوړلو يا د خوب کولو اراده به يې کوله نو د لمانځه د اودس په شان اودس به يې کولو. (بخاري، مسلم)

[۳۵۴] د دوو جماعينو په مينځ کښې اودس کول

۳۵۴-(۴)[۲] ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِذَا أَتَى أَحَدُكُمْ أَهْلَهُ، ثُمَّ أَرَادَ أَنْ يَعُودَ، ③ فَلْيَتَوَضَّأْ بَيْنَهُمَا وُضُوءًا»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هر کله چې په تاسو کې څوك خپلي بي بي ته راشي (يعني صحبت ورسره وکړي) او بيا هغې ته د راتلو (يعني د بيا صحبت کولو) اراده وکړي ③ نو هغه ته پکار دي چې د دواړو په مينځ کې اودس وکړي. (مسلم)

حل اللغات: ① أَنْ يَعُودَ: أَيْ: إِلَى الْجِمَاعِ: چه دوباره لاړ شي او جماع اوکړي.

تسهیلات:

قوله: وُضُوءًا:

د دوو صحبتو په مينځ کښې د اودس حکم: په دې کښې تنوين دَ تعظيم دَپاره دې مراد کامل مکمل اودس دې دا حکم وجوبی نه دې بلکه استحبابی دې دې سره تازه والې پيدا کيږي. که يوسړې په دې باندې عمل نه کوی نو هيڅ حرج نشته دې.

[۱] اخرجه مسلم كتاب الحيض باب جواز نوم الجنب واستحباب الوضوء له، وغسل الفرج إذا أراد أن ياكل او يشرب او ينام أو يجامع(رقم# ۲۲ - (۳۰۵) ومسلم كتاب الحيض باب جواز نوم الجنب واستحباب الوضوء له. وغسل الفرج إذا اراد أن ياكل او يشرب او ينام او يجامع(رقم# ۲۷ - (۳۰۸) وابوداود كتاب الطهارة/باب الوضوء لمن اراد ان يعود (رقم- ۲۲۰)

[۲] اخرجه مسلم كتاب الحيض باب جواز نوم الجنب واستحباب الوضوء له، وغسل الفرج إذا أراد أن ياكل او يشرب او ينام أو يجامع(رقم) ۲۲ - (۳۰۵) وابوداود كتاب الطهارة/باب الوضوء لمن أراد أن يعود (رقم- ۲۲۰)والترمذی كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء إذا أراد أن يعود توضأ(رقم-۱٤۱) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب في الجنب، إذا أراد العود توضأ (رقم-۵۸۷)

[۴۵۵] په تعدد جماع سره د یو غسل وجوب

۴۵۵-(۱)[۵] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ بِغُسْلٍ وَاحِدٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ".

ترجمه: [۱] حضرت انس رضی الله عنه فرمایي [۲] چې رسول الله ﷺ به په یو غسل سره د خپلو بیبیانو مبارکو سره صحبت کولو. (مسلم)

حل اللغات: ① يَطُوفُ: أي: يَدُورُ: تېولو ته به ورتلو (دا کنایه ده د جماع کولو نه).

تسهیلات:

قوله: يَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ:

د نوبت په ترک باندې اشکال: په دې حدیث باندې په ظاهره داشبه کیدې شي چه قسم یعنې دَ نمبرواری مقرر کولو په احکاموکښې دادی چه یوه شپه ورځ کم نه کم دَ قسم دپاره ضروری دی نودلته حضورپاك قسم څنګه ترك کړو چه په یوه شپه کښې ئې ټولو بیبیانوته تشریف یوړو هغه نمبرواری چرته لاړه؟

د اشکال درې جوابونه:

① دَ ازواج مطهراتو په مرضئی سره داسې اوشو.

② په حضورپاك باندې قسم لازم نه وو.

③ دغه شان واقعات صرف دوه راغلی دی اودواړه دَحجة الوداع په موقع باندې په حج کښې پیښې شوی دی. یوه واقعه دَ احرام نه وړاندې ده اودویمه دَ منٰی دَ زمانې په قیام کښې پېښه شوې ده. هغه وخت حضورپاك په سفرکښې وو او په سفرکښې نمبرواری ختمیږی.

[۴۵۶] د نبی علیه السلام په هر حالت کښې د الله تعالی ذکر کول

۴۵۶-(۲)[۶] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى كُلِّ أَحْيَانِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ [۳] وَحَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ سَنَذْكُرُهُ فِي كِتَابِ الْأَطْعِمَةِ، إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَى.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضی الله عنها فرمایي [۲] چې رسول الله ﷺ به په هروخت په یاد الهي کي

[۱] اخرجه مسلم كتاب الحيض باب جواز نوم الجنب واستحباب الوضوء له. وغسل الفرج إذا أراد أن يأكل أو يشرب أو ينام أو يجامع(رقم ۲۸ - (۳۰۹) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فيمن يغتسل من جميع نسائه غسلا واحدا (رقم- ۵۸۸) والترمذي كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب ما جاء فى الرجل يطوف على نسائه بغسل واحد (رقم-۱۴۰)

[۲] اخرجه مسلم كتاب الحيض باب ذكر الله تعالى فى حال الجنابة وغيرها رقم(۱۱۷ - (۳۷۳) وابوداود كتاب الطهارة، باب فى الرجل يذكر الله تعالى على غير طهر (رقم- ۱۸) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها باب ذكر الله عز وجل على الخلاء. والخاتم فى الخلاء (رقم- ۳۰۲) والترمذي كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن دعوة المسلم مستجابة (رقم - ۳۳۸۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

مصروف وو، مسلم.[۳] او د ابن عباس رضي الله عنه حدیث به (چي صاحب مصابیح په دي موقع نقل کړي دي) مونږ ان شاء الله تعالی کتاب الاطعمه کي ذکر کړو.

حل اللغات: ① أَحْيَانِهِ: د حِين جمع ده، په معنی د وخت سره.

تسهیلات:

قوله: عَلَى كُلِّ أَحْيَانِهِ:

په هر حالت کښي ذکر کولو باندي اشکال: په دي حدیث باندي په ظاهره دااشکال دي چه په دي کښي هروخت دَالله تعالی دَ ذکربیان دي حالانکه بعضي وخت ذکرالله کول جائزنه وی لکه چه په قضاء حاجت وغیره کښي منع دی

داشکال جوابونه: ① داحیانه ضمیردَ حضورپاك طرف ته راګرځولوسره دا اعتراض راځي یعنی حضور پاك به په خپلو ټولو وختونوکښي ذکرفرمائیلو مګر علامه سندهی رحمه الله فرمائیلی دی چه دَ احیانه ضمیر دَ ذکرالله طرف ته راجع داي چه دي نه وړاندي ذکرهم دي نومطلب داشوچه رسول الله ﷺ به دَ ذکر وختونوکښي هروخت ذکرکولو اودَ ذکراوقات هم هغه جائزوختونه دی.

② دَ احیانه نه صالحةللذکراوقات مراد دی نونامناسب وختونه اومقامات دَ دي نه خارج دی.

③ دذکرنه مراد صرف ذکرلسانی مرادنه دي بلکه ذکرقلبی دي اوهغه هروخت جاری پاتي کیدي شی. لیکن شیخ عبدالحق رحمه الله په لمعات کښي دا توجیه ردکړي ده چه دادَلغت او شریعت دواړو منافی توجیه ده ځکه چه لغت اوشریعت ذکرلسانی ته ذکر وائی نه چه ذکرقلبی ته.

الْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۵۷] د غسل ځخه د پاتي شوي اوبو حکم

۴۵۷-(۱)[۷] [۱] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] «اغْتَسَلَ بَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَفْنَةٍ، [۳] فَأَرَادَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَتَوَضَّأَ مِنْهُ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي كُنْتُ جُنُبًا. [۴] فَقَالَ: "إِنَّ الْمَاءَ لَا يُجْنِبُ"». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ. وَرَوَى الدَّارِمِيُّ نَحْوَهُ.

ترجمه: [۱] ابن عباس رضي الله عنه فرمایي[۲] چي (یوه ورځ) د رسول الله ﷺ یوي بي بي مبارکي د لګن ځخه (یعني د اوبو ځخه ډك لګن نه) غسل وکړو[۳] هرکله چي حضور ﷺ په هغه (لګن کي پاتي شوي) اوبو ځخه د اودس کولو اراده وکړه نو هغي عرض وکړو یا رسول الله ﷺ

[1] اخرجه ابن ماجة باب اتباع سنة رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب الرخصة فى ذلک (رقم -۶۵) وابوداود کتاب الطهارة. باب الماء لا يجنب (رقم- ۶۸) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب الرخصة بفضل وضوء المرأة (ر قم- ۳۷۰) والنسائي کتاب المياه (رقم- ۳۲۵) والدارمي کتاب الطهارة/باب الوضوء بفضل وضوء المرأة (رقم-۰-۷۶۱)

زه جنب وم (او ما په دې سره غسل کړې دې) [۴] حضور ﷺ وفرمایل اوبه خو جنبي نه وي (يعني د جنب لمبيدو يا د هغه څه عضو باندې پريوتلو سره اوبه نه نا پاکه کيږي). ترمذي ابوداود ابن ماجه، او دارمي هم داسې روايت نقل کړې دي

حل اللغات: ① جَفْنَةٍ: أي صَحْفَةٍ كَبِيرَةٍ: لوئي خانک يا ټب ② لَايُجْنِبُ: أَيْ: لَا يَصِيرُ جُنُبًا: نه جنب کيږي يعنی نه پليتيږي.

۴۵۸-()[۰] ① وَفِي "شَرْحِ السُّنَّةِ" عَنْهُ، عَنْ مَيْمُونَةَ بِلَفْظِ "الْمَصَابِيحِ".

ترجمه: ① او په شرح السنة کې د ابن عباس رضي الله عنه څخه او هغه د بي بي ميموني رضي الله عنها څخه د مصابيح هم داالفاظ نقل دي.

تسهیلات:

دې حديث سره متعلق تشريح باب الغسل حديث نمبر (۴۳۰) کښې تيره شوې ده.

[۴۵۹] غسل څخه پس د بی بی سره ملاسته

۴۵۹-()[۸] ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ، ③ ثُمَّ يَسْتَدْفِئُ بِي قَبْلَ أَنْ أَغْتَسِلَ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ نَحْوَهُ

ترجمه: ① بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي ② چه رسول الله ﷺ (به زما سره) د صحبت نه د فارغيدو څخه وروسته غسل کولو ③ بيا زما د لمبيدو څخه مخکې به يې زما څخه (يوځاي کيدو سره) ګرمي حاصلوله، ابن ماجه، اوامام ترمذي هم دغسې روايت نقل کړې دي.

حل اللغات: ① يَسْتَدْفِئُ: أَيْ: يَطْلُبُ الدِّفَاءَةَ وَهِيَ الْحَرَارَةُ: يعنی خان به ني ګرمولو.

[۴۶۰] د جنب دپاره د قرآن د تلاوت حرمت

۴۶۰-()[۹] ① وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ مِنَ الْخَلَاءِ فَيُقْرِئُنَا الْقُرْآنَ وَيَأْكُلُ مَعَنَا اللَّحْمَ، ③ وَلَمْ يَكُنْ يَحْجُبُهُ - أَوْ يَحْجُزُهُ - عَنِ الْقُرْآنِ شَيْءٌ لَيْسَ الْجَنَابَةَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ، وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ نَحْوَهُ.

ترجمه: ① حضرت علي کرم الله وجهه فرمايي ② چې رسول الله ﷺ به د بيت الخلاء څخه وتلو سره (د اودس څخه مخکې) مونږ ته قرآن کريم وئيلو او (هغه وخت به يې) زمونږ سره غوښه خوړله ③ حضور ﷺ د قرآن کريم د ويلو څخه سوا د جنابته بل هيڅ شي نه منع

---

[1] المصابيح السنة رقم الحديث ۳۱۵ واحمد فی المسند رقم الحديث ۱/ ۳۳۷

[2] اخرجه ابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/ باب فی الجنب يستدفئ بامرأته قبل أن تغتسل (رقم- ۵۸۰) والترمذی كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فی الرجل يستدفئ بالمرأة بعد الغسل (رقم-۱۲۳)

[3] اخرجه ابوداود كتاب الطهارة/باب فی الجنب يقرأ القرآن (رقم- ۲۲۹) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فی قراءة القرآن على غير طهارة (رقم- ۵۹۴) والنسائی كتاب الطهارة/باب حجب الجنب من قراءة القرآن(رقم-۲۶۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

کولو. ابوداؤد نسائي او ابن ماجه هم داسې روايت نقل کړي دي.

حل اللغات: ① لَمْ يَحْجُبْهُ أَوْيَحْجُزْهُ: أَيْ: لَمْ يَمْنَعْهُ: يعنى نه به ئې منع کولو(د دواړو الفاظو يو معنى ده، لفظ (أو) د راوى شک دې).

[۳۶۱] د حائضې او جنب دپاره د قرآن د تلاوت ممانعت

۳۶۱-(۱) [۱۰] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② " «لَا تَقْرَأُ الْحَائِضُ وَلَا الْجُنُبُ شَيْئًا مِنَ الْقُرْآنِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① ابن عمر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② حائضه (د حيض والا ښځه) او جنب دي د قرآن کريم هيڅ حصه هم نه وايي. (ترمذي)

تسهيلات:

قوله: لَاتَقْرَأُ الْحَائِضُ:

د لاتقرء په صيغه کښې دوه احتمالات:

① د **لاتقرأ** په حمزه باندې ضمه ده. او دانفي صيغه د نهى په معنى کښې مستعمل ده.

② ځينو جزم سره وئيلې ده. په دې صورت کښې دا دنهى صيغه ده. يعنى حائضه او جنبى دې قرآن پاك نه لولى.

د حائضې اونفاسې دپاره د قران پاك تلاوت باره کښې مذاهب:

① امام مالك رحمه الله نه په يو روايت کښې داشان منقول دى چې د ځان د حفاظت او حفاظت نفس د پاره حائضه او جنبى سړې قرآن پاك لوستلې شى په دې شرط چې آيتونه به واړه وى. ددوئ نه بل روايت داشان منقول دى چې جنبى سړې قرآن پاك نشى لوستلې او حائضه او نفساء ښځې دپاره لوستل جائز دى،

داول فريق دليل: ددې وجه داده چې جنابت خو هر وخت راتلې شى او ددې وخت لږ وى نو غسل دې اوکړى او بيا دې تلاوت اوکړى او د حيض او نفاس موده زياته وى نوپه دې وجه هغوئ د پاره ګنجائش شته دې.

② د جمهورو علماء کرامو او احنافو په نيز جنبى، حائضه او نفساء دپاره قرآن پاك لوستل جائز نه دى. پوره آيت نه لوستلو باندې دټولو اتفاق دى د جمهورو علماء کرامو په نيز په عدم جواز باندې فتوى ده.

په احنافو کښې د مادون الآية په لوستلو کښې دوه اقوال:

① **مادون الاية** يعنى د نيم آيت په لوستلو کښې د امام علامه کرخى رحمه الله په نيز **مادون الاية**

---

[1] اخرجه الترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الجنب والحائض أنهما لا يقرآن القرآن (رقم- ۱۳۱) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فى قراءة القرآن على غير طهارة (رقم- ۵۹۶)

لوستل هم جائز نه دی. ځينې علماء كرامو د علامه كرخي رحمه الله رائې ته ترجيح وركړې ده ځكه چې په دې كښې احتياط دې.

② د امام طحاوي رحمه الله په نيز مادون الاية لوستل جائز دی. ځكه چې په دې قليل مقدار باندې د قرآن پاك حكم نشي لګولې. ځينو د امام طحاوي قول ته ترجيح وركړې ده ځكه چې دې كښې آساني او سهولت دې.

د مسئلې ځير يقيني حل: په دې مسئله كښې د علماء كرامو او يعنې د جمهورو او دَ نور علماء كرامو اقوالو كښې كافي تفاوت دې. څه خاص ضابطه نشته دې چې په هغې باندې اتفاق اوكړې شي . نن صبا د زنانو معلماتو دپاره دا مسئله درد سر جوړه شوې ده. نو علماء كرامو دوئ ته د امام طحاوي رحمه الله دمسلك مطابق وائي چې پورا آيت مه وائي بلكه دا نيم ګړې نيم ګړې وائي. يا صرف ددې هيجې كوني. بهر حال په ظاهري حديث كښې ممانعت دې. په دې وجه حيلو او بهانو كښې اخته كيدل نه دی پكار

[۳۶۳] د حائضي او جنب دپاره جمات ته د داخليدو حرمت

۳۶۳—(۱) [۱۱] ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "② «وَجِّهُوا هَذِهِ الْبُيُوتَ عَنِ الْمَسْجِدِ، ③ فَإِنِّي لَا أُحِلُّ الْمَسْجِدَ لِحَائِضٍ وَلَا جُنُبٍ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او بي بي عائشه رضي الله عنها راوي ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② د كورونو دروازې د مسجد طرف څخه واړوئ ③ ځكه چې حائضه او جنب ته په مسجد كې داخليدل (خواه هغه هلته د پاتې كيدو د پاره وي يا هلته يې تيريدل وي) جائز نه دي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① وَجِّهُوا: أَيْ: حَوِّلُوا أَبْوَابَهَا: ددې كورونو مخونه واړوئ يعنې دروازې ئې بل طرف ته اوګرځوئ. ② لَا أُحِلُّ: اى لَا يَجُوزُ لِلْجُنُبِ وَلَا لِلْحَائِضِ الْمُكْثُ فِي الْمَسْجِدِ: يعنې د جنبي، حائضي او نفاسي دپاره په جمات كښې ايساريدل نه جائز كوم.

تسهيلات:

قوله: فَإِنِّي لَا أُحِلُّ الْمَسْجِدَ: دَ حائضه نفساء اوجنبي دَپاره په جمات كښې حصاريدل يا تيريدل جائز دی كه نه، په دې كښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

د جنب او حائضې دپاره د دخول مسجد په حكم كښې مذاهب:

دَ امام شافعي رحمه الله په نيز صرف عبور او تيريدل جائز دی "مكث" يعنې حصاريدل جائز نه دی.

② دَ امام احمد رحمه الله په نيز دَ اودس كولونه پس حصاريدل او تيريدل جائز دی ځكه چه په اودس سره ثقليل نجاست راځي.

(۱) اخرجه داود كتاب الطهارة /باب في الجنب يدخل المسجد (رقم - ۲۳۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

③ دامام ابوحنیفه رحمه الله اوامام مالك رحمه الله په نیز مروروعبور اومکث وقعود مطلقاً ناجائزدی

داول او دویم فریق دلیل: دوی د سورت نساء ددې آیت نه استدلال کړې دې. ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَأَنْتُمْ سُكَارٰى حَتّٰى تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِيْ سَبِيْلٍ حَتّٰى تَغْتَسِلُوا[۱] ﴾ طرزد استدلال داسې دې چه ﴿ لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ ﴾ کښې د صلوة نه مواضع صلوة یعنی جماتونه مراددی مطلب دا شوچه دنشې په حالت کښې جماتونوته مه نیزدې کیږئ ترکومې چه نشه لاړه نه شی دغه شان چه کله تاسو په جنابت کښې یئ نوجماتونوته نیزدې کیږئ مه ترکومې چه غسل اونه کړئ. ﴿ إِلَّا عَابِرِيْ سَبِيْلٍ ﴾ آوکه صرف په لار تیریږئ نوبیاممانعت نشته د جنابت په حالت کښې جمات کښې تیریدې شی نودا استثناء د ﴿ لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ ﴾ نه ده اود صلوة نه مراد "مواضع الصلوة" دی نوصرف تیریدل جائز دی.

داول او دویم فریق د دلیل دوه جوابونه:

① د صلوة نه د مواضع صلوة مراد اخستلو هیڅ ضرورت نشته د صلوة نه مراد مونځ دې کوم چه ددې حقیقی معنی ده. ددې پریخودوسره مجازی معنی اخستل جائزنه دی.

② په دې آیت کښې دوه حکمونه بیان کړې شوی دی یودا چه دنشې په حالت کښې مونځ ته مه نیزدې کیږئ ترکومې چه نشته لاړه نه شی اودویم حکم دادې چه دجنابت په حالت کښې مونځ مه کوئ ترکومې چه غسل نه وی کړې. ﴿ إِلَّا عَابِرِيْ سَبِيْلٍ ﴾ آوکه ته په لاره تیریدونکې مسافرئ او اوبه نه ملاویږی نوته بیاد غسل دپاره تیمم کولې شی. خلاصه دا چه ﴿ إِلَّا عَابِرِيْ سَبِيْلٍ ﴾ تعلق مسافرسره دې دې نه مسافرمراددې جمات کښې تیریدونکی سره ددې تعلق نشته بل دا مسئله دمبیح اومحرم ده. مبیح اومحرم کښې چه کله تعارض وی نوترجیح محرم ته ورکولې شی. لهذا مرور عبور مکث او قعود په جمات کښې د جنبی اوحائضې دپاره جائزنه دی. په صریح حدیث باندې عمل کول بهتردی

③ کله چې د مبیح او محرم تعارض راشی نو ترجیح په محرم ته وی ځکه چې په دې کښې احتیاط دې.

د دریم فریق دلیل: د احنافو اومالکیه دلیل زیر بحث صحیح صریح حدیث دې په کوم کښې چه دڅه قیدنه بغیرمطلقاً عبور اومرور ته ناجائزونیلی شوی دی.

[۴۴۳] د جنب په وجه د فرشتو عدم دخول

۴۴۳-() [۱۲] ① وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ② «لَا تَدْخُلُ

[۱] اخرجه ابوداود کتاب الطهارة/باب فی الجنب یؤخر الغسل (رقم- ۲۲۷) وابن ماجة کتاب اللباس . باب الصور فی البیت (رقم- ۳۶۵۰)

الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيهِ صُورَةٌ وَلَا كَلْبٌ وَلَا جُنُبٌ» "رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت علي كرم الله وجهه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په كوم كور كې چې عكس يا سپي يا جنب وي په هغې كې فرښتې نه داخليږي. (ابوداؤد، نسائي)

حل اللغات: ① الْمَلَائِكَةُ: أَيْ: مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ: د رحمت ملائک مراد دی. ② صُورَةٌ: تصوير (د ساه لرونكي څيز).

تسهيلات:

قوله: وَلَا يَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ: دَ فرښتونه مراددَ رحمت فرښتې دي ځكه چه دَ رحمت فرښتې خوهرځائي ته راځي.

قوله: صُورَةٌ:

دتصويرونو د حرمت شرطونه:

① چه تصويردومره وړوكې او نرې نه وي چه هغه په زمكه كيخودې شي اوولاړسړې دې ته ګوري نودَ هغې دَ جنس او اعضاء فرق نه كيږي كه دومره وړوكې دې او دغه شان نرې دې نوهغه هم دَدې وعيدنه خارج دې.

② دَبنيادم پوره تصوير مراد دې ياكم نه كم دَهغه حصوتصويرمراددې په كوم سره چه دَ انسان دَ ژونداومرګ تعلق دې. لهذا په كوم تصويركښې چه سرنه وي يا پوره سينه اودَنامه لاندې اعضاء رئيسه نه وي نوهغه تصويردَدې وعيدنه خارج دې.

③ چه شوقيه تصويروي چه دَ اعزاز په توګه يوښكاره ځائي كښې كيخودې شوې وي اوكه چرې مهان وي يعني فرش يا قالين يا تكيه تلائي وغيره په داسې ځايونوكښې كيخودې شوې وي كوم چه دَ خپولاندې كيدې شي نوهغه هم دَدې وعيدنه خالي دې.

دحديث د جملو وضاحت: ① **وَلَا كَلْبٌ:** دې نه شوقيه ساتلې شوې سپې مراددې دَ څوكئي والاو دَ ښكار سپې دَ دې نه مستثنى دى.

② **وَلَا جُنُبٌ:** جلب نه هغه جنبى سړې مراددې چه جنابت كښې پاتې كيدل هغه خپل عادت جوړكړې وي اوغسل دومره روستوكوى چه دَ سحروغيره مونځ ترې قضاء كيږي. صرف دَ غسل په روستوكولودا وعيدنه دې.

[۴۳] دريُ قسمه خلقو نه د فرشتو لرې والي

۴۳-()[۱۳] [۱] وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«ثَلَاثٌ لَا تَقْرَبُهُمُ الْمَلَائِكَةُ: [۳] جِيفَةُ الْكَافِرِ، [۴] وَالْمُتَضَمِّخُ بِالْخَلُوقِ، [۵] وَالْجُنُبُ إِلَّا أَنْ يَتَوَضَّأَ» "رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

[۱] اخرجه ابوداود كتاب الترجل / باب في الخلوق للرجال (رقم- ۴۱۸۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: ۱ او حضرت عمار بن یاسر رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل۲ دري سړي داسې دي چې د رحمت فرښتي هغوئ ته نزدې هم نه ورځي۳ ① د کافر بدن۴ ② خلوق (رنګ داره خوشبو) لګونکي۵ ③ جنب تر څو پورې چې اودس ونه کړي. (ابوداود)

حل اللغات: ① جِيفَةُ: أي: جَسَدُهُ: بدن (د کافر بدن که مړ وی او که ژوندې وی). ② الْمُتَضَمِّخُ: أي: الرَّجُلُ الْمُتَلَطِّخُ: رنګداره خوشبو لګونکې. ③ الْخَلُوقُ: وَهُوَ طِيبٌ لَهُ صِبْغٌ يُتَّخَذُ مِنَ الزَّعْفَرَانِ: یو قسم خوشبو ده چه د زعفران نه جوړیږی اودا په سوربخن او زیړبخن رنګ کښې وی.

د راوي مختصر تعارف:

نوم عمار، ابوالیقطان کنیت دَ پلار نوم یاسر اودَمور نوم ئې سمیه. حضرت عمار او حضرت صهیب بن سنان په یوځائ دَارقم بن ارقم په کورکښې مسلمانان شو دغه وخت پورې تقریباً دیرش کسان مسلمانان شوی وو.(۲) دې خاندان دَ دین په خاطر ډیر مشقتونه برداشت کړی. دَهغوی مور بی بی دَ اسلام په تاریخ کښې ړومبئی ښځه وه چه په دین اسلام کښې شهیده شوه. دَ پلار یاسر اودَ هغه رور عبدالله هم شهیدان شو.(۳) په یوه موقع باندې رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو آل عمار تاسوته دې زیرې وی جنت ستاسو په انتظار دې.(۴)

ارباب سیرکښې اختلاف دې چه هغه دَ حبشه طرف ته هجرت کړې که نه خودَ مدینې طرف ته کړې اوحضور ﷺ دَ هغه رورولی حذیفه بن الیمان انصاری سره اوکړه. په ټولو غزواتوکښې دَحضورپاک ﷺ سره شریك شوې په جنګ یمامه کښې دَهغوی یوغوږ شهیدشو.حضرت عمر رضی الله عنه په ۲۰ھ کښې هغه دَ کوفې والی جوړکړې وو یوکال او نهه میاشتې په دې منصب باندې وو.

شهادت: په جنګ صفین کښې شهیدکړې شو کله چه هغوی ته څکلوله پئی ورکړې شو نوونی فرمائیل چه حضور ﷺ فرمائیلې ووچه ستاآخری توښه به دَ دنیاپئی وی. ابن الغابد په نیزه وهلې وو او زخمی کړې وو بیایوبل شامی سړی دَ هغه سر دَ بدن نه جدا کړو (طبقات ابن سعد)حضرت علی رضی الله عنه دَ جنازې مونځ اوکړو. دغه وخت کښې دَحضرت عمار رضی الله عنه عمر ۹۱ کاله وو او په کوفه کښې هم دا ړومبې صحابی ووچه خښ شو.

مرویات: دَ هغه نه ۶۲ احادیث نقل دی په دوو کښې بخاری اومسلم دواړه متفق دی. صاحب دَ بخاری درې او صاحب دَ مسلم دووحدیثوکښې منفرد دی. دَ نورو حالاتودپاره اوګورئی ① اسدالغابة، تذکرة عمار بن یاسر ② طبقات ابن سعد جزء ثالث ۱۷۷ ③ فتح الباری ۱۷/۷. ④ اصابة تذکرة عماربن یاسر ⑤ مستدرك حاکم ۳۸۷/۳ ⑥ تاریخ طبری ۲۶۷۶ ⑦استیعاب ۴۳۴/۲.

[۳٦۵] د ناپاکه کس قرآن ته د لاس اوړلو حرمت

۳٦۵-(۱) [۱۴] ⑴ «وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ: ⑵ أَنَّ فِي الْكِتَابِ الَّذِي كَتَبَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَمْرِو بْنِ حَزْمٍ: ⑶ "أَنْ لَا يَمَسَّ الْقُرْآنَ إِلَّا طَاهِرٌ"». رَوَاهُ مَالِكٌ وَالدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: ⑴ عبد الله بن ابي بکر بن عمرو بن حزم راوي دي ⑵ چې رسول الله ﷺ چې کومه هدايت نامه د عمرو بن حزم د پاره ليکلي وه په هغه کې دا (حکم هم) ليک وو ⑶ چې قرآن کريم ته دې يوازې پاک خلق لاس وروړي. (مالك، دار قطني)

حل اللغات: ① الْكِتَاب: دلته دکتاب نه مراد د نبی عليه السلام مکتوب خط او هدايت نامه ده.

② لَا يَمَسَّ: لاس دې ورله نه اوړی (بغير د فاصل او حائل نه).

تسهيلات:

قوله: أَنْ لَا يَمَسَّ الْقُرْآنَ إِلَّا طَاهِرٌ:

بې اودسه قرآن ته په لاس اوړلو کښې مذاهب:

① دامام مالك رحمه الله په نيزلکه څنګه چه بغيرد طهارت نه قرآن لوستل جائزدی دغه شان لاس لګول هم جائزدی.

د اول فريق دليل: د لايمسه ضمير کتاب مکنون يعنی د لوح محفوظ طرف ته راګرځولې دې اود المطهرون نه مراد فرښتې دی.

داول فريق د دليل جواب د دې آيت دويم تفسير هم هغه دې په کوم کښې چې د مطهرون څخه فرښتې مراد اخستې شوی دې.

ددويم فريق دلائل: زيربحث حديث د دوی مستدل دې بياچه کوم څيز ملصق بالقرآن دې هغه هم په لاس لګولو کښې هم د قرآن پاك په حکم کښې دې مثلاً قميص وغيره او کوم څيز چه جدادې او قرآن په هغې کښې راغونډ کړې شوې دې لکه غلاف څادر رومال وغيره نودې سره لاس لګول جائزدی. لستونړې د انسان بدل سره وابسته دې لهذا ددې نه علاوه بل څه کپړه په لاس لګولو کښې استعمالول پکاردی. واړه ماشومان ددې حکم نه په وجه د ضرورت مستثنی دی.

② د قرآن پاك دا آيت هم د دوی مستدل دې. ﴿ لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ ﴾ دلته ضمير د قرآن طرف ته راجع دې اود مطهرون نه مراد په اودس والا خلق دی په دې تفسيرسره دا آيت د جمهورود

احتياطی خبره: بهرحال صحيح صريح حديث اود احتياط اوادب تقاضاده چه د جمهورو په مسلك باندې عمل اوکړې شی اوبې اودسه قرآن ته لاس اونه لګوی البته په يادو باندې لوستلې شی.

---

[1] اخرجه مالک فی الموطا کتاب القرآن باب الأمر بالوضوء لمن مس القرآن (رقم-۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۳۳] د سلام اچولو دپاره د اودس افضلیت

۳۳-() [۱۵] ۱ «وَعَنْ نَافِعٍ، قَالَ: ۲ انْطَلَقْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ فِي حَاجَةٍ، ۳ فَقَضَى ابْنُ عُمَرَ حَاجَتَهُ، وَكَانَ مِنْ حَدِيثِهِ يَوْمَئِذٍ أَنْ قَالَ: ۴ مَرَّ رَجُلٌ فِي سِكَّةٍ مِنَ السِّكَكِ، ۵ فَلَقِيَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ خَرَجَ مِنْ غَائِطٍ أَوْ بَوْلٍ، ٦ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ، ۷ حَتَّى إِذَا كَادَ الرَّجُلُ أَنْ يَتَوَارَى فِي السِّكَّةِ،

ترجمه: ۱ نافع رحمه الله وايي ۲ چې يوه ورځ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما د استنجاء د پاره تلو زه هم ورسره ملګري شوم ۳ (اول خو) هغه استنجاء اوکړه د هغه څخه وروسته يې په هغه ورځ دا حديث بيان کړو ۴ چې يو سړي په يو کوڅه کې تلو ۵ او حضور ﷺ د وړو يا لويو بولو څخه فارغيدو سره تشريف راوړو ٦ هغه سړي د حضور ﷺ سره ملاقات وکړو او سلام يې عرض وکړو حضور ﷺ د سلام جواب ورنه کړو ۷ کوم وخت چې هغه سړي بلي کوڅي ته تاويدو.

حل اللغات: ① انْطَلَقْتُ: أَيْ: ذَهَبْتُ: لاړم، ② فَقَضَى: پوره ئې کړو (خپل بشری حاجت). ③ سِكَّةٍ: أَيْ: الطُّرُقِ: کوڅه، لاره، ⑦ أَنْ يَتَوَارَى: أَيْ: يَخْتَفِيَ: د پټ والی په معنی کنبې دې، يعنی په کوڅه کنبې تاويدو سره د نظرنه پټيدو والاوو.

۱ ضَرَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيْهِ عَلَى الْحَائِطِ، وَمَسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ، ۲ ثُمَّ ضَرَبَ ضَرْبَةً أُخْرَى، فَمَسَحَ ذِرَاعَيْهِ، ۳ ثُمَّ رَدَّ عَلَى الرَّجُلِ السَّلَامَ، وَقَالَ: ۴ "إِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَرُدَّ عَلَيْكَ السَّلَامَ ۵ إِلَّا أَنِّي لَمْ أَكُنْ عَلَى طُهْرٍ»). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ نو حضور ﷺ د (تيمم د پاره) خپل دواړه لاسونه په ديوال وهلو سره په مخ را تير کړه ۲ بيا (په دويم ځل) وهلو سره په خپلو لاسونو يې تر څنګلوز پورې راتير کړه ۳ د دې څخه وروسته د هغه سړي د سلام جواب يې ورکړو او وي فرمايل ۴ زه ستا د سلام د جواب د درکولو څخه څه شي نه وم منع کړي ۵ فقط دومره قدر خبره وه چې زه بې اودسه وم. (ابوداؤد)

حل اللغات: ⑤ الْحَائِطِ: ديوال.

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ ضَرَبَ ضَرْبَةً أُخْرَى:

د حديث څخه د دوو قاعدو استنباط: دَدې حديث نه يوه داخبره په واضحه توګه معلومه شوه چه دَ تيمم دَپاره دوه ضربونه دی. دامسئله به په تيمم کښې راځی چه دَ احنافوپه نيز دوه ضربونه ضروری دی. دَدې نه پس دَدې حديث نه دوه قاعدې مستنبط کيږي:

① دَ کوم کاردَپاره طهارت شرط نه وی يا هغه عبادت غيرمقصوده وی يعنی دَغيردَ پاره

[1] اخرجه ابوداود کتاب الطهارة/باب التيمم فی الحضر (رقم- ۳۳۰)

وسيله وى دَهغې دَپاره تيمم كول جائزدى سره دَدې چه اوبه موجود وى. مثلاً جمات ته دَ داخليدودَپاره ئى تيمم اوكړو، دَزبانى تلاوت دَپاره ئى اوكړو، دَ فقه اسلامى كتابونوته دَ لاس لګولو دَپاره ئى تيمم اوكړو يادَ شپې دَاوده كيدودَپاره ئى تيمم اوكړو داټول جائز اودَثواب اوبركت سبب دى. رسول الله ﷺ صرف دَ سلام دَجواب دَپاره تيمم اوكړوحالانكه ددې دَپاره طهارت شرط نه دې. درمختار دا ضابطه قبوله كړې ده اګرچه امام شافعى ﷫ په دې باندې ردكړې دې. حضرت شاه انورشاه كشميرى ﷫ فرمائى چه دا ضابطه اوقاعده صحيح ده.

④ كه دَ يوعمل دَپاره اودس ضرورى وى خوهغه عمل داسې وى چه دَهغې دَ فوت كيدونه پس هغه په لاس نه شى راتلې اونه دَهغې بدل وى اونه قضامثلاً جنازه ده يادَ اخترونومونځ چه دَدې په فوت كيدوسره نه دَدې بدل ملاويدې شى نه قضاكولې شى. كه دغه وخت سړې په اودس باندې لګياشى اودَ دغه عمل دَ فوت كيدو خطره پيداكيږى نودې سړى له پكاردى چه دَ اودس په ځائى دې تيمم اوكړى سره دَدې چه اوبه موجوددى لكه څنګه چه حضورپاك دَ سلام دَ جواب دَپاره تيمم اوكړو څكه چه دَ دغه سړى دَ تللوخطره پيداشوې وه.

[۳۶۷] د الله پاك نوم په اودس كښې د اخستلو افضليت

۳۶۷ـ(') [۱۶] ①«وَعَنِ الْمُهَاجِرِ بْنِ قُنْفُذٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، ②أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَبُولُ. فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، ③فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ حَتَّى تَوَضَّأَ، ثُمَّ اعْتَذَرَ إِلَيْهِ، وَقَالَ: ④" إِنِّي كَرِهْتُ أَنْ أَذْكُرَ اللهَ إِلَّا عَلَى طُهْرٍ» " رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ. ⑤وَرَوَى النَّسَائِيُّ إِلَى قَوْلِهِ: حَتَّى تَوَضَّأَ، وَقَالَ: فَلَمَّا تَوَضَّأَ رَدَّ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او د حضرت مهاجر بن قنفذ ﷛ څخه روايت دى② چې دي (يووار) د حضور ﷺ په خدمت كې داسې وخت حاضر شو كوم وخت چې حضور ﷺ متيازې كولې هغه سلام عرض كې③ حضور ﷺ جواب ورنه كې تردې چې حضور ﷺ اودس وكړو بيا يې دا عذر بيان كې چې④ زه دا مكروه ګنم چې بې اودسه د الله ﷻ نوم ذكر كړم، ابوداؤد، ⑤او نسائي دا روايت دلفظ حَتَّى تَوَضَّأَ (تر دې چې حضور ﷺ اودس وكړو) پورې نقل كړې دې او ويلې يې دي چې حضور ﷺ اودس وكړو نو د سلام جواب يې وركړلو،

حل اللغات: ① اِعْتَذَرَ: عذر ئې اوكړو، ② كَرِهْتُ: مكروه ګڼم، بد ګڼم.

(') اخرجه ابوداود كتاب الطهارة . باب أيرد السلام وهو يبول (رقم- ۱۷) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب الرجل يسلم عليه وهو يبول (رقم- ۳۵۰) والنسائى كتاب الطهارة/باب رد السلام بعد الوضوء(رقم-۳۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴٦۸] د جنابت په حالت کښي خوب کول

۴٦۸-(۱) [۱۷] ① عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ يُجْنِبُ، ثُمَّ يَنَامُ، ③ ثُمَّ يَنْتَبِهُ، ثُمَّ يَنَامُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ① بي بي ام سلمه رضي الله عنها فرمايي ② چي رسول الله ﷺ به د ناپاکي په حالت کي اوده کيدي ③ اوبيا به ويښيدي او اوده کيدي. احمد

حل اللغات: ① يُجْنِبُ: دجنابت په حالت کښي به وو ② يَنْتَبِهُ: رابيدار به شو، ويخ به شو.

[۴٦۹] دغسل جنابت څخه وړاندې د لاسونو وينځل

۴٦۹-(۲) [۱۸] ① «وَعَنْ شُعْبَةَ، قَالَ: ② إِنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ ③ يُفْرِغُ بِيَدِهِ الْيُمْنَى عَلَى يَدِهِ الْيُسْرَى سَبْعَ مِرَارٍ، ثُمَّ يَغْسِلُ فَرْجَهُ، ④ فَنَسِيَ مَرَّةً كَمْ أَفْرَغَ، فَسَأَلَنِي. فَقُلْتُ: لَا أَدْرِي. ⑤ فَقَالَ: لَا أُمَّ لَكَ! وَمَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَدْرِيَ؟ ⑥ ثُمَّ يَتَوَضَّأُ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ، ثُمَّ يُفِيضُ عَلَى جِلْدِهِ الْمَاءَ، ⑦ ثُمَّ يَقُولُ: هَكَذَا كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَطَهَّرُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① شعبه راوي دي ② چي ابن عباس رضي الله عنه به د ناپاکۍ غسل کولو ③ نو مخکي به يي په خپل ښي لاس سره په ګس لاس باندې اووه ځله اوبه اچولي بيا به يي خپل شرم ګاه وينځله، ④ يو ځل ځني دا هير شو چي څو ځله يي اوبه اچولي دي نو هغه زما څخه پوښتنه وکړه ما عرض وکړو ماته ياد نه دي ⑤ هغه وفرمايل مور دي مړه شه ته کوم شي د ياد ساتلو څخه منع کړي وي ⑥ بيا د لمانځه د اودس په شان يي اودس اوکړواو په خپل ټول بدن باندې يي اوبه وبهيولي او وي ويل چي رسول الله ﷺ به هم دغسي پاك کيدلو (يعني غسل به ئي کولو) ابوداؤد

حل اللغات: ① يُفْرِغُ: دا د افراغ نه دی، بِمَعْنَى الصَّبِّ: اوبه اچولو ته وائی. ② لَا أَدْرِي: ماته علم نشته، ماته ياد نه دی. ③ لَا أُمَّ لَكَ: مَعْنَاهُ أَنْتَ لَقِيطٌ: ستاد مور پته نشته ته لقيط نی، اکثر د ذم دپاره استعماليږی. ④ يُفِيضُ: دا د افاضه نه دې، أَيْ: يَصُبُّ: يعنی اوبه به ئې اچولې، ⑤ جِلْدِهِ: څرمن، ددې نه مراد ټول بدن دې ويښته هم پکښي شامل دی.

د راوي مختصر تعارف:

دهغه نوم شعبة بن الحجاج بن الورد العتکی دې. سفيان ثوری رحمه الله فرمائی چه شعبة امير المؤمنين فی الحديث دی، ۱٦۰ه کښي وفات شوې د نورو حالاتود پاره اوګورئ (التقريب، تهذيب التهذيب: ۳۳٦/۴-۳۳۸، تذکرة الحفاظ: ۱۷۴/۱، الجرح والتعديل: ۳۲۹/۲.

[۱] اخرجه احمد فی المسند رقم (۲۹۸/٦)

[۲] اخرجه ابوداود کتاب الطهارة/باب فی الغسل من الجنابة (رقم- ۲۴٦)

تسهیلات:

قوله: سَبْعَ مِرَارٍ:

د ابن عباس داووه ځله وینځلو توجیه: اووه ځل اوبه بهیولوسره د لاسونووینځلو د پاره هیڅ حدیث نشته. د حضورپاك عمل د مطلق وینځلوهم دې اودوه یادرې ځل د وینځلوهم دې داووه ځلو ذکرنشته دې. کیدې شي چه حضرت ابن عباس رضی الله عنه د یومخصوص ضرورت د پاره داسې کړې وی د دې نه د شریعت ضابطه نه شي جوړولې دا څه مخصوص جزئي معامله ده.

قوله: لَا أُمَّ لَكَ:

د دوو کلمو استعمال اومطلب: ① دا کلمه په مذمت کښې استعمالیږی د دې کلمې مطلب دادې چه ته لقیط ئې ستاد مور پته نشته

② "لا اب لك" اکثر په مدح کښې استعمالیږی. د دې کلمې مطلب دادې چه ته پخپله مستقل سړې ئې تاته د پلارخه ضرورت دې که پلاروی هم نه نوته پخپله پلارئې دادمدح اوتعریف ارخ دې.

[۴۷۰] د هر جماع څخه وروسته غسل کول

۴۷۰-() [۱۹] ① «وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: ② إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَافَ ذَاتَ يَوْمٍ عَلَى نِسَائِهِ، ③ يَغْتَسِلُ عِنْدَ هَذِهِ، وَعِنْدَ هَذِهِ، ④ قَالَ: فَقُلْتُ لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلَا تَجْعَلُهُ غُسْلًا وَاحِدًا آخِرًا؟ ⑤ قَالَ: "هَذَا أَزْكَى وَأَطْيَبُ وَأَطْهَرُ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① ابو رافع رضی الله عنه وایي ② چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ خپلو ټولو بیبیانو ته راغی (یعنی د ټولو سره یې جماع وکړه) ③ او د هرې بی بی سره د جماع څخه فارغیدو سره (جدا جدا) غسل یې وکړو، ④ ابو رافع رضی الله عنه وایي ما عرض وکړو چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم تا په آخر کې یو ځل غسل ولې ونه کړو ⑤ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل دا (یعنی د هرجماع څخه وروسته غسل کول) ښه پاکي کوي (د نفس د پاره) ډیر پاکونکي دي او بدن ښه صفا کوي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① طَافَ: أَيْ: يَدُورُ: ټولو ته به ورتل، (دا کنایه ده د جماع نه). ② عِنْدَ هَذِهِ وَعِنْدَ هَذِهِ: یعنی هر یوې بی بی کره به ئې جداجدا غسل کولو. ③ أَزْكَى: أَيْ: أَنْمَى، وَأَقْوَى: یعنی بدن لره ډیر پاکوی او مضبوطوی. ④ أَطْيَبُ: أَيْ: أَلَذُّ وَأَخَفُّ عَلَى الْبَدَنِ: د بدن ذوق تازه کوی او بدن سپکوی. ⑤ أَطْهَرُ: أَيْ: أَنْظَفُ وَأَحْسَنُ: بدن صفا کوی او ښائسته کوی.

[1] اخرجه ابوداود كتاب الطهارة/باب الوضوء لمن أراد أن يعود (رقم- ۲۱۹) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب فيمن يغتسل عند كل واحدة غسلا (ر قم- ۵۹۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۴۷۱] د ښځې په پاتې شوو اوبو باندې د غسل کولو ممانعت

۴۷۱-(۱)[۲۰] ①وَعَنِ الْحَكَمِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ②«نَهَى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَتَوَضَّأَ الرَّجُلُ بِفَضْلِ طَهُوْرِ الْمَرْأَةِ». رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالتِّرْمِذِيُّ ③وَزَادَ: أَوْقَالَ: بِسُؤْرِهَا، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ.

ترجمه: ① او حکم بن عمرو ﷺ فرمايي② چې رسول الله ﷺ د ښځې د غسل يا اودس پاتې شوې اوبو سره سړي د اودس کولو څخه منع کړې دي، (ابوداؤد ابن ماجه ترمذي) ③ او ترمذي دا الفاظ زائد نقل کړي دي چې يا حضور ﷺ د ښځې د اودس د بقيه اوبو څخه منع وفرمايله او ترمذي ويلي دي چې دا حديث حسن صحيح دی.

حل اللغات: ① طَهُوْرِ الْمَرْأَةِ: دښځې د اودس يا د غسل اوبه، ② بِسُؤْرِهَا: بَقِيَّةُ الشَّيْءِ: باقي پاتې څيز ته وائي يعنې جُوټه شوې،

[۴۷۲] دښځې دپاره د سړي په پاتې شوو اوبو د غسل ممانعت

۴۷۲-(۲)[۲۱] ①وَعَنْ حُمَيْدٍ الْحِمْيَرِيِّ، قَالَ: ②لَقِيتُ رَجُلًا صَحِبَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَ سِنِيْنَ، كَمَا صَحِبَهُ أَبُوْ هُرَيْرَةَ، ③قَالَ: «نَهَى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَغْتَسِلَ الْمَرْأَةُ بِفَضْلِ الرَّجُلِ، ④أَوْيَغْتَسِلَ الرَّجُلُ بِفَضْلِ الْمَرْأَةِ. ⑤زَادَ مُسَدَّدٌ: وَلْيَغْتَرِفَا جَمِيْعًا». رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ ⑥وَزَادَ أَحْمَدُ فِي أَوَّلِهِ: «نَهَى أَنْ يَمْتَشِطَ أَحَدُنَا كُلَّ يَوْمٍ، أَوْ يَبُوْلَ فِي مُغْتَسَلِهِ».

ترجمه: ① او حميد حميري رحمه الله فرمايي② چې زه د يو سړي سره ملاؤ شوم چې د ابوهريره ﷺ پشان څلور کاله د حضور ﷺ په خدمت اقدس کې پاتې شوې وو③ هغه اوويل چې حضور ﷺ د دې څخه منع فرمايلې ده چې ښځه د سړي د غسل څخه پاتې شوې اوبو سره ولمبيږي ④ يا سړی د ښځې د غسل څخه پاتې شوو اوبو سره ولمبيږي، ⑤ (يو راوي) مسدد رحمه الله دا الفاظ زائد نقل کړي دي، که دواړه يو ځاي کيدو سره (جدا جدا) لپو اخستو سره ولمبيږي نو جائز دي، ابوداؤد نسائي، ⑥ او امام احمد رحمه الله د دې روايت په شروع کې دا الفاظ زائد نقل کړي دي چې حضور ﷺ د دې څخه (هم) منع فرمايلې ده چې يو سړي هره ورځ ګمنزکوي او د لمبيدلو په ځاي کښې متيازې کوي، او ابن ماجه رحمه الله دا روايت د عبد الله بن سرجس ﷺ څخه نقل کړي دي.

---

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة . باب النهى عن ذلك (رقم- ۸۲) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب النهى عن ذلك (رقم- ۳۷۳) والترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى كراهية فضل طهور المرأة (رقم- ۶٤)

(۲) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة . باب النهى عن ذلك (رقم- ۸۱) والنسائى كتاب الطهارة/باب ذكر النهى عن الاغتسال بفضل الجنب(رقم-۲۳۸)

حل اللغات: ① صَحِبَ: صُحبت او ملګرتیا ئې کړې ده، ② بِفَضْلِ الرَّجُلِ: د سړي د اودس یا غسل نه باقي پاتې شوې اوبه، ③ وَلْيَغْتَرِفَا: دواړه ترې لپې اخلی، ددې نه په ظاهر کښې دښځې اوخاوند په یوځای لپې اخستل معلومیږی خو احتمال د جدا لپو اخستلو هم لری ④ يَمْتَشِطَ: أَيْ: يُسَرِّحُ شَعْرَ لِحْيَتِهِ وَرَأْسِهِ: چه ګومنز کوی (ویښته د سر او ږیرې).

۴۷۳–()[۰] ①وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَرْجِسَ.

ترجمه: ① او ابن ماجه رحمه الله دا روایت د عبد الله بن سرجس رضی الله عنه څخه نقل کړې دې.

[۷/۱۲] بَابُ أَحْكَامِ الْمِيَاهِ

د اوبو مسائل

خلاصة الباب:
فيه أربعة عشر حديثاً مشتملة على ثمانى مسائل:
① النهي عن البول في الماء القليل: ۱، ۲.
② النهي عن الاغتسال في الماء القليل: ۱.
③ شرب ماء الوضوء: ۳.
④ عدم نجاسة الماء الكثير بوقوع النجاسة فيه: ۴، ۵، ۶.
⑤ حكم الوضوء بالنبيذ: ۷.
⑥ حكم سؤرة الهرة: ۸، ۹.
⑦ حكم سؤرة الحمار والسبع: ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳.
⑧ حكم الماء المشمش: ۱۴.

د میاه عموم: دلته میاه دَ جمع صیغه راوړلې شوې ده په کوم سره چه اشاره کیږی چه که اوبه دَبارَان وی که دکوهی او دَنهر وی اوکه دَسمندر او دَدریاب وی اوکه دَ چینو وی ډیرې وی که لږې وی مستعمل وی که غیرمستعمل دَټولو احکام به بیانیږی.

داسلامی احکامو حکمتونه: دَ اسلام په احکاموکښې عجیبه حکمت وی مثلاً دَ اودس په شروع کښې دَ لاس وینځلوحکم دې دې دَپاره چه په لاس باندې اندازه اوشی چه اوبه خوټکیدلې سختې ګرمې یا سختې یخې خونه دی کله چه معلومه شوه چه دَاستعمال قابل دی نوبیائی په خله کښې دَاچولوحکم اوکړودې دَپاره چه معلومه شی چه دااوبه دی خوروا یا شربت وغیره نه دې. بیائی په پوزه کښې دَاچولوحکم اوکړوچه معلومه شی بدبویه یا سخاخونه دی کله چه ښه تسلی اوشوه نو حکم اوشو چه اوس ئې په مخ واچوه.

(۱) اخرجه ابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب النهي عن ذلك (رقم- ۳۷٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۴۷۳] په اوبو کښې د متیازو کولو حرمت

۴۷۳ - ()[۱] ①عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② («لَا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ الَّذِي لَا يَجْرِي، ③ ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيهِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ④وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ: " «لَا يَغْتَسِلُ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ وَهُوَ جُنُبٌ". ⑤قَالُوا: كَيْفَ يَفْعَلُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ؟ قَالَ: يَتَنَاوَلُهُ تَنَاوُلًا».

ترجمه: ① ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل② په تاسو کې دې یو سړې په هغه ولاړو اوبو کې چې بهیدونکي نه وي متیازې نه کوي③ چې بیا په هغې کښې غسل وکړي [یعني یو عقلمند څخه دا بعیده ده چې هغه په اوبو کې متیازې وکړي او بیا په هغه اوبو کښې غسل وکړي] بخاري مسلم، ④ د مسلم د یو روایت الفاظ دادي چې حضور ﷺ وفرمایل په تاسو کې دې یو سړې د ناپاکۍ په حالت کې په ولاړو اوبو کې غسل نه کوي (چې اوبه ناپاکي نه شي)⑤ خلقو اوویل اې ابوهریره رضی الله عنه بیا څرنګه لمبیدل پکار دي؟ هغه وفرمایل هغه څخه دي لرې لرې اوبه (په لپه) رااخلي او د اوبو څخه بهر دې لمبیږي.

حل اللغات: ① الْمَاءِ الدَّائِمِ الَّذِي لَا يَجْرِي: أَيِ: الرَّاكِدِ: ولاړې اوبه.

تسهیلات:

قوله: فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ:

د ماء دائم او راکد په تعریف کښې دوه اقوال:

① دې روایت کښې د دائم لفظ دې. او د حضرت جابر رضی الله عنه په راتلونکی روایت کښې د راکد لفظ راغلی دې. دعامو علماء کرامو په نیز د دائم او راکد مطلب الذي لا يجري دې. دا د دائم دپاره د صفت کاشفه ده چې د دائم نه مراد غیر جاري اوبه دی.

② شاه انور شاه کشمیری رحمة الله علیه فرمائی چې ماء دائم او راکد نه مراد هغه اوبه دی کومې چه غیر منقطع وی یعنی دائمی وی او نه ختمیدونکې اوبه وی که هغه جاری وی او که جاری نه وی. نو دلته د الذي لا يجري کوم الفاظ دی. دا څه قید احترازی نه دې، دا بیان تعریف دپاره دې بلکه د ماء دائم یو قسم دپاره دا قید لګولې شوې دې چې د دائم یو قسم هغه کوم الذي لا يجري دې.

په ماء راکد کښې د متیازو کولو د ممانعت وجوهات:

① اوبو کښې متیازې کول د انسانی شرافت خلاف دی. نو ددې نه منع کړې شوې ده.

---

[1] اخرجه البخاري كتاب الوضوء باب البول في الماء الدائم (رقم-۲۳۹) ومسلم كتاب الطهارة باب النهي عن البول في الماء الراكد رقم(۹۹۵ - (۲۸۲)

④ دائم او راکد اوبو کښې متیازې کولو نه په دې وجه منع کړې شوې ده چه که چرې د اقلیل وی نو متیازو سره به نجسې شي. او که کثیر وی نو کله چې یو کس په اوبو کښې په متیازو کولو سره اووینی نو بل به ئې هم کوی. داشان به آخر اوبه خرابې شي.

② **قوله: ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيهِ**

د يغتسل په صيغه کښې دوه اقوال: ① ديغتسل صيغه د مشهور روايت مطابق مرفوع ده. يعنې ﴿لايبل ثم هو يغتسل فيه﴾ نو دا دَ لايبولن په پوره جمله باندې عطف دې. په دې صورت کښې به مفهوم دا وی چې هيڅوک دې په ولاړو اوبو کښې متيازې نه کوی. او د اڅومره غيرمعقوله خبره ده چې اول ئې متيازې اوکړې او بيا په کښې غسل کوی. په دې صورت کښې ثم د استبعاد او تعجب دپاره کيديشي.

② بعضې علماؤ دا صيغه په جزم سره لوستلې ده اودا ئې دَ لانهی ماتحت په يبولن باندې عطف کړې ده. او دواړو جملو لره د نهی ماتحت داخل کړې دی. په دې صورت کښې به د حديث پاك مفهوم به داشان وی چې هيڅوك دې نه په ولاړو اوبو کښې متيازې کوی او نه دې په ولاړو اوبو کښې غسل کوی. په دې صورت کښې د دواړو خبرو نه منع کړې شوې ده. خينې علماء کرامو د ثم نه پس أن لره مقدر منلې دې او دا ئې منصوب لوستلې دې.

[۴۷۵]په ولاړو اوبو کښې د متيازو کولو ممانعت

۴۷۵-(¹) [۲] ①وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ②«نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُبَالَ فِي الْمَاءِ الرَّاكِدِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت جابر رضي الله عنه راوي دي② چې رسول الله ﷺ په ولاړو اوبو کې د متيازو کولو څخه منع فرمايلې ده. (مسلم)

حل اللغات: ① الرَّاكِدِ: أي: الْوَاقِفِ: ولاړې اوبه.

[۴۷۶]د رسول الله دا اودس څخه د پاتې اوبو څکل

۴۷۶-(²) [۳] ①«وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ②ذَهَبَتْ بِي خَالَتِي إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ ابْنَ أُخْتِي وَجِعٌ، ③فَمَسَحَ رَأْسِي، وَدَعَا بِالْبَرَكَةِ، ثُمَّ تَوَضَّأَ، فَشَرِبْتُ مِنْ وَضُوئِهِ ④ثُمَّ قُمْتُ خَلْفَ ظَهْرِهِ، فَنَظَرْتُ إِلَى خَاتَمِ النُّبُوَّةِ ⑤بَيْنَ كَتِفَيْهِ مِثْلَ زِرِّ الْحَجَلَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① سائب بن يزيد رضي الله عنه وايي② چې زما خاله (د مور خور) زه د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر کړم هغې عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ دا زما خوريي دې اوبيمار دي③ نو حضور ﷺ خپل لاس مبارك زما په سر راتير کړواو زما د پاره يې د برکت دعا وکړه بيا

(¹) اخرجه مسلم کتاب الطهارة باب النهى عن البول فى الماء الراكد رقم(۹۴ - (۲۸۱) واحمد فى مسنده ۳/۳۵۰

(²) اخرجه البخارى کتاب الوضوء باب استعمال فضل وضوء الناس (رقم-۱۹۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

حضور ﷺ اودس وکړو او ما د حضور ﷺ د اودس اوبه وڅښلې ④ د دې څخه وروسته زه د حضور ﷺ شا طرفته ودریدم اومهر نبوت مې اولیدلو⑤ چې د حضور ﷺ د اوږو په مینځ کې وو او د ناوې د چپرکټ د بټن پشان بریښیدې. بخاري مسلم

حل اللغات: ① خَالَتِي: ترور (د مور خور)، ② وَجِعٌ: أَيْ: مَرِيضٌ: بیمار، ③ زِرّ: بټن ④ الْحَجَلَةِ: د ناوې ډولۍ.

د راوي مختصر تعارف:

نوم سائب دَ پلار نوم یزید بن سعید بن ثمامه کندی دې. امام زهری رحمه الله فرمانی دې دَ قبیله ازد (دَ یمن اوسیدونکې) وو خودَ هغه شمیر په کنانه کښې کولې شو دې دَ عمر کندی خوریئی دې.

په کال ۲۰هـ کښې پیدا شو دَ اووه کالوپه عمرکښې خپل پلار سره په حجة الوداع کښې شریك شو دَهغوی نه زهری او محمدبن یوسف عموما روایت نقل کوی.

مرویات: دَ هغه نه ډیر روایتونه نقل دی. **وفات:** دَ هغه وفات په ۸۰هـ کښې شوې.

تسهيلات:

قوله: فَشَرِبْتُ مِنْ وَضُوئِهِ:

په وضوء کښې اعرابات ثلاثه: ① وضو کښې د واؤ په ضمه سره د اودس عمل ته وائی.
② د واو په فتحه داودس کولونه پس په لوښی کښې پاتې شوې اوبو ته وائی
③ په واؤ باندې کسره وئیلو سره د اوبو لوښې ته وائی

د مذكوره حديث په مفهوم كښې دوه اقوال:

① شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې لیکلی دی چې ددې حدیث پاك بل مفهوم دادې چې د نبی کریم ﷺ د اودس د اعضاؤ نه کومې اوبه لاندې تویې شوې وې ما هغه راواخستې او هغه مې اوڅکلې، شیخ فرمائی چې ډیرو علماء کرامو هم دا مفهوم اختیار کړې دې.
② دلته که واؤ باندې فتحه ده نو ددې نه مراد دادې چې نبی کریم ﷺ نه کومې اوبه پاتې شوې هغه مې په طور د تبرك اوڅکلې. په دې کښې هیڅ قسمه شك وشبه نشته دې. او ډیرو علماء کرامو د حدیث هم دا مطلب اخستې دې.

نوټ: دلته د مستعملو اوبو د استعمال مسئله کښې د فقهاء کرامو اختلاف رامخکښې کیږی. او ددې تفصیل به انشاء الله روستو راشی.

دلته کښې ماء مستعمل ونیل هم مشکل دی. ځکه چې کومې اوبه د نبی کریم ﷺ د بدن مبارك نه جدا شوې خو دَ برکت باعث وې او صحابه کرامو به په دې باندې جګړې کولې. دا دَ نبی کریم ﷺ خصوصیت وو . شیخ عبدالحق رحمه الله هم ددې حدیث په تشریح کښې لیکی چې د اکثرو علماء کرامو په نیز دنبی کریم ﷺ فضلات پاك وو نو دَ مستعمل اوبو به

څه وائی. [اشعة المعات ۱/۲۶۱]

قوله: خَاتِمِ النُّبُوَّةِ:

د مهر نبوت تعارف: دا دنبی کریم ﷺ د نبوت نښنه وه. دې ته مهر نبوت او ختم نبوت وائی. دا دَ نبی کریم ﷺ د اوږو په مینځ کښې دګسې اوږې د غضروف هډوکی لاندې وو. دا د نبی کریم ﷺ د بدن مبارك يو راوتلې ډيره ښکلې حصه وه. وړاندینی کتابونو کښې ددې ذکر موجود وو. په دې وجه به اهل کتابو خاصکر د اکتله.

د مهر نبوت جوړيدو په زمانه کښې دوه اقوال:

① دخينو علماء کرامو خيال دادې چې دشق صدر د وخت نه د امهر نبوت ظاهر شوې وو. او د وفات په وخت کښې په بدن مبارك کښې غائب شوې وو.

② دَ خينې علماء کرامو رائې ده چې دا ختم نبوت د پيدائش د وخت نه د نبی کريم ﷺ په بدن مبارك باندې وو. يو ضعيف قول دې چې مهر نبوت باندې دا عبارت ليکلی شوې وو (سِرفَأنت منصور)

قوله: زِرِّ الْحَجَلَةِ:

دزر الحجلة معنی: حجله هغه چپرکټ ته وائی چې د ناوې دپاره ښائسته کولې شی. په دې باندې ښکلې پردې لګولې کيږی. او په دې کښې چې کومې تڼئ وی هغې ته زر وائی چه جمع ئې أزرار ده. خينو دا لفظ د را په تقديم سره رز الحبلة وئيلې دې. رز اګۍ ته وائی. او حجلة تيتر ته وائی يعنی ختم نبوت د تيتر دَ اګۍ برابر مقدار کښې وو

د مهرنبوت په نقشه کښې تعارض اوتطبيق: دَ مهر نبوت دَ مقدار او حجم باره کښې مختلف الفاظ راغلی دی. تولو کښې تعارض معلوميږی. ليکن دا څه تعارض نه دې، هر يو راوی د خپل خپل انداز مطابق اظهارخيال کړې دې. او تشبيه ئې ورکړې ده. زيات واضح د کونترې يا تيتر اګۍ سره تشبيه ده.

الْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۷۴] دډيرو اوبو نه پليتيدل

۴۷۴ـ(۱)[۴] ① عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ②«سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمَاءِ يَكُونُ فِي الْفَلَاةِ مِنَ الْأَرْضِ ③ وَمَا يَنُوبُهُ مِنَ الدَّوَابِّ وَالسِّبَاعِ ④ فَقَالَ: إِذَا كَانَ الْمَاءُ قُلَّتَيْنِ لَمْ يَحْمِلِ الْخَبَثَ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. ⑤ وَفِي أُخْرَى لِأَبِي دَاوُدَ: "فَإِنَّهُ لَا يَنْجُسُ".

[۱] اخرجه ابوداود كتاب الطهارة، باب ما ينجس الماء (رقم-۶۳) والنسائي كتاب الطهارة، باب التوقيت فى الماء (رقم-۵۲) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب مقدار الماء الذى لا ينجس (رقم-۵۱۷) والترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه آخر (رقم-۶۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: ۱ ابن عمر رضي الله عنه فرمايي ۲ چې د رسول الله ﷺ څخه د هغه اوبو د حکم پوښتنه وشوه چې په ځنګل کې په زمکه جمع کیږی ۳ او اکثره چوپایه، درندي په هغې راځي [یعنی حیوانات وغیره چې هغه اوبه څکي نو په هغه کې متیازي وغیره هم کوي]. ۴ حضور ﷺ وفرمایل که اوبه د دوه قُلو په اندازه وي نو هغې ناپاکي نه قبلوي (یعني په نجاست وغیره سره نه ناپاکه کیږي) احمد ابوداؤد، ترمذي، نسائي دارمي ابن ماجه. ۵ او د ابوداؤد د یو دویم روایت الفاظ دا دي چې هغه اوبه ناپاکه کیږی نه.

حل اللغات: ① الْفَلَاةِ : أيْ: فِي الصَّحْرَاءِ: کهلاؤ میدان، فضاء، ② يَنُوبُهُ : څی راځی، ③ الدَّوَابُّ: څاروی، ④ السِّبَاعِ : د رنده ګان، شلونکی ځناور ⑤ قُلَّتَيْنِ : د قُلَّةٌ تثنیه ده، أی الْجَرَّةُ الْكَبِيرَةُ: لوئي چاټی ته وائی. ⑥ لَمْ يَحْمِلِ الْخَبَثَ: أی لَمْ يَنْجُسْ: نه پلیتیږی

[۴۷۸] د بئر بضاعه په اوبو د اودس کولو حکم

۴۷۸—() [۵] ۱ «وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: ۲ قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَنَتَوَضَّأُ مِنْ بِئْرِ بُضَاعَةَ، ۳ وَهِيَ بِئْرٌ يُلْقَى فِيهَا الْحِيَضُ، وَلُحُومُ الْكِلَابِ، وَالنَّتْنُ؟ ۴ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الْمَاءَ طَهُورٌ لَا يُنَجِّسُهُ شَيْءٌ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۱ ابو سعید خدري رضي الله عنه راوي دي ۲ چې رسول ﷺ ته چا عرض وکړو یا رسول الله ﷺ آیا مونږ د بضاعه کوهی (د اوبوسره) اودس کولي شو؟ ۳ (حال دا چې) په هغې حوض کې د حیض (د وینې څخه ډکي) کپړي ،د سپو غوښې او ګندګي اچول کیږي ۴ حضور ﷺ وفرمایل (د هغه کوهی اوبه) پاکي دي (ترڅو پورې چې د هغې په رنګ وخوند او بوي کې فرق رانشي) هیڅ شي یي نشي ناپاکه کولي. (احمد ترمذي ابوداؤد نسائي)

حل اللغات: ① بِئْرِ بُضَاعَةَ: په مدینه کښې د یو مشهور کوهی نوم دي. ② الْحِيَضُ: د حَيْضَةٍ جمع ده، هغه کپړه چه ښځه ئې دحیض په وخت استعمالوی، ③ وَالنَّتْنُ: وَهِيَ الرَّائِحَةُ الْكَرِيهَةُ: بد بوئ ته وائی، دلته ترې بد بویه ګنده څیزونه مراد دی.

تسهیلات:

قوله: إِذَا كَانَ الْمَاءُ قُلَّتَيْنِ الخ: حدیث بئر بضاعه او حدیث قلتین چونکه دواړه په اوبو کښې د نجاست غورزیدو اوبیا د اوبو پاك پاتې کیدو او یا ناپاکه کیدو متعلق دی. په دې وجه په عمومی توګه ددې دواړو تشریح یو ځائې کیږی. او د ترتیب په اعتبار سره د حدیث بئر بضاعه تفصیل اول کیږی. او حدیث قلتین روستو. حالانکه مشکوة کښې د

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء أن الماء لا ینجسه شیء (رقم- ۶۶) وابوداود کتاب الطهارة ، باب ما جاء فی بئر بضاعة (رقم- ۶۶) والنسائی کتاب المیاه/باب ذکر بئر بضاعة(رقم- ۳۲۶)باب ذکر بئر بضاعة (رقم- ۳۲۶)

ذکر په اعتبار سره حدیث قلتین اول او حدیث بئر بضاعه روستو دې لیکن ددې معروف ترتیب لحاظ سره دلته هم اول په بئربضاعة باندې بحث او تحقیق لیکلې کیږي.

د نجاست په پریوتو د اوبو په حکم کښې مذاهب:

اوداوبود طهارت اونجاست مسئله د فقهاء په مینځ کښې معرکة الارء مسائلوکښې ده.او ددې په باره کښې دفقهاؤ اقوال دشلوڅخه هم متجاوز دی.دې مسئله کښې مشهور مذاهب څلور دی.

① حضرت عائشه رضي الله عنها حسن بصری رحمه الله او داوٗدظاهری رحمه الله ته داخبره منسوب ده چه اوبه که قلیل وی اوکه کثیرچه دې کښې نجاست پریوځی نودا به ترهغه نجس نه وی اومطهربه وی ترکومې چه ددې طبیعت یعنی رقت اوسیلانیت ختم شوې نه وی.اګرچه ددې اوصاف ثلاثه متغیرشوې وی.د دې مذهب خاوندانو رقت او سیلان حد مقرر کړې دې.حدیث الباب د دې حضراتو مستدل دې.

حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی چه که دامسلك دحضرت عائشه رضي الله عنها څخه ثابت وې نودابه قوی ترین مسلك وو.ځکه چه حضرت عائشه رضي الله عنها اعلم بمسائل المیاء وه.او دې معامله کښې به حضرت نبی کریم صلى الله عليه وسلم ته په کثرت مراجعت کیدلوخو صحیح داده.چه دا مسلك دحضرت عائشه رضي الله عنها څخه روایت ثابت نه دې.

② د ټولو محدثینو او فقهاؤ رحمهم الله په نیز که اوبه قلیل وی نو د نجاست په پریوتلو دا پلیتیږی.اوکه کثیر وی نو چې ترڅو د اوبو څه صفت بدل شوې نه وی.نه پلیتیږی.بیا د دوی په مینځ کښې د قلیل او کثیر په تعین کښې اختلاف دې.

د عدم نجاست دلائل: ① ((وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً)) د دې آیت څخه معلومه شوه چې اوبه پاکې دی نه پلیتیږی.بیااهل ظواهردا آیت په خپل اطلاق باندې ساتلې دې.چې ترڅو پورې د اوبو طبیعت باقی وی چې رقت اوسیلان دې.نواوبه نه پلیتیږی.اومالکیانو په کښې د ابن ماجه د روایت په وجه تقیید کړې دې چې ((الماءطهورلاينجسه شئ الاماغلب على طعمه اولونه اوريحه))[1]

جواب: په دې آیت کښې د خلقت بیان دې.چې اوبه خلقة پاکې دی دا مطلب نه دې چې اوبه نه پلیتیږی.

② قوله تعالی ((فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا)) دلته ،،ماء،، نکره ده.اود نفی لاندې واقع شوې ده.نو مطلب دا دې چې کله هیڅ قسم اوبه نه وی نو تیمم جائز دې ګنی نه دې.اوپه کومو اوبو کښې چې وقوع د نجاست وی هغه هم اوبه وی.نوچې هغه موجود وی.نوهم به تیمم نه کیږی.

[1]) ابن ماجة ص،٤٠)-

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: دلته د ماء څخه مآء طاهر مراد دی یعنی هغه اوبه چې د استعمال قابلې وی.

④ داهل ظواهرو دریم دلیل حدیث الباب دې په کوم کښې چې دا راغلی دی ((ان الماء طهور لاینجسه شيء)) دلته اوبه مطلق دې د قلیل او کثیر قید په کښې نشته نوپه وقوع د نجاست اوبه نه پلتیږی.

جواب: چونکه دا حدیث دامام مالك رحمه الله مستدل هم دې روستو په دویم بحث کښې چې کله مونږ د امام مالك رحمه الله په دلائلو څخه جواب کوو نود دې دلیل څخه به هم جواب ورکوو هغه به د اهل ظواهرو دپاره هم جواب شی (فلاتنساه)

د قلیل اوکثیر په تعریف کښې مذاهب:

بیا د محدثیو اوفقهاؤ په خپل مینځ کښې په قلیل او کثیر کښې مذاهب دی د هریو مذهب تفصیل دا دې.

① د امام مالك رحمه الله فرمائی چې د اوبو قلت اوکثرت امر اضافی دې که که په اوبو کښې د نجاست اثر ښکاره شی نو دغه اوبه د پاکئ په مقابله کښې قلیل دی نواوبه په په وقوع د نجاست پلیتیږی اوکه د نجاست اثر په کښې ښکاره نه شو نودغه اوبه د پاکئ په مقابله کښې کثیر دی نونه به پلیتیږی مثلاً په یوه لوټه کښې دوه درې څاکی پریوځی نو ښکاره خبره ده چې د دې اثر په اوبو کښې نه ښکاره کیږی نودا اوبه د دوی په نیز نه پلیتیږی. خلاصه دا چې د دوی په نیز د قلیل اوکثیر مدار په ظهور الاثر اوعدمه باندې دې.

② د امام شافعی رحمه الله او د امام احمد رحمه الله په نیز د قلیل اوکثیرمدار په قلتین باندې دې یعنی کومې اوبه چې قلتین ته رسیږی نوهغه کثیر دی په وقوع د نجاست نه پلتیږی. او کومې چې د قلتین څخه کمې وی نوهغه قلیل دې د نجاست په وقوع پلیتیږی که د اوبو څه صفت بدل شوې وې اوکه نه وی خلاصه دا چې ددوی په نیز مدار دقلیل او کثیر په قلتین دې تردې چه امام نووی رحمه الله لیکی چه که یوقلة اوبوکښې نجاست اوغورزیږی نو دابه نجس وی خوکه دې کښې یوه قلة طاهری اوبه شامل کړې شی نو ټولې اوبه به پاکې شی اوکه دې څخه پس دوباره دا دواړه جُداجُدا کړې شی نوهغه پلیتی به نه راواپس کیږی.

③ د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز د قلیل او کثیر مدار د اوبو په بهیدلو باندې دې که د اوبو بهیدل او اوړدوالې دومره وی چې د یو طرف حرکت بل طرف ته نه رسیږی نودا اوبه کثیر دی اوکه رسیږی نو دا اوبه قلیل دی د دوی د مسلك څخه تعبیر په ((خلوص الاثر وعدمه)) دې یعنی د یوطرف اثر بل طرف ته رسیدل او نه رسیدل.

بیا هرکله چې دا مسئله د عوامو دپاره گرانه وه نو طالبانو د امام محمد رحمه الله څخه د دې د تعین په باره کښې تپوس اوکړو هغوی چې په کوم جمات کښې درس ورکولو نوهغې طرف ته ئې اشاره اوکړه او وې فرمائیل چې ((کصحن مسجدی هذا)) یعنی که زما د جمات د

دې غولي په برابر د اوبو خوريدل وي.نو هغه به کثير وي گنې قليل.

بيا طالبانو د هغې صحن پيمائش او اندازه اوکړه نوپه دې کښې درې قسمه اقوال منقول دي.هشت درهشت، ده در ده، دوازده در دوازده، يعنی چې هر بازو ئې اته اته ،يا لس لس، يا دولس دولس وي.يو لاس يونيم فټ وي.روستنو مفتيانو په درمياني قول باندې فتوى ورکړه چې هر بازئې لس لس لاسه وي.

يعنی شپيته فټه وي.خو دا اصل مذهب نه دې.اصل مذهب ((خلوص الاثر وعدمه)) دې.

د امام مالک دليل:

① امام مالک رحمه الله خپل مسلک دبيربضاعة د حديث الباب څخه استدلال کړې دې.

((عن ابی سعيد الخدری رضی الله عنه قال قيل يارسول الله صلی الله عليه وسلم انتوضأ من بئر بضاعة فقال رسول الله ان الماء طهور لا ينجسه شئ)) محل استدلال هم داآخری جمله ده.چه مطلق دې .

يوه اهمه فائده: د امام ابوحنيفه رحمه الله دطرفه ددې استدلال جوابونه او درروايت د توجيهاتواوريدو څخه وړاندې دوه خبرې ذهن کښې اوساتئ

اول په اطلاق د حديث عدم عمل: ړومبې خبره داده.چه ددې حديث په اطلاق اوپه عموم باندې پخپله امام مالک رحمه الله هم عامل نه دې ځکه چه دې حديث څخه معلوميږي که د اوبواوصاف متغيرشی نوبيا به هم طاهروی اونجس به نه وی حال دادې چه امام مالک رحمه الله ددې قائل نه دې ددې وجې دې هم ددې اطلاق په مقيدکولومجبور دې.

جواب: ددې جواب کښې بعض مالکيه وائی چه امام مالک رحمه الله داتقيدهم دحديث په بناء کړې دې.ځکه چه دارقطنی کښې دحضرت ثوبان رضی الله عنه او دحضرت ابوامامه رضی الله عنه څخه او ابن ماجه کښې صرف دابوامامه رضی الله عنه څخه دا حديث داسې مروی دې.

((ان الماء طهور لاينجسه شئی الاغلب علی طعمه اولونه اوريحه))

د روايت تضعيف: خوحافظ ابن حجر رحمه الله [1] داپه تفصيل سره ثابته کړې ده.چه دحضرت ثوبان رضی الله عنه اود حضرت ابوامامه رضی الله عنه دارروايت صحيح نه دې.ځکه چه د دې مداربه د رشدين بن سعد دې. چه متروک دې اوامام دارقطنی رحمه الله ددې زياتی روايت کولو نه پس ليکی ((لايثبت هذا الحديث)) د دې وجې د اوصاف ثلاثو په عدم تغيرسره مقيدکول داپه څه صحيح روايت کښې نه دی شوې.بلکه امام مالک رضی الله عنه د قياس اود اصول کليه په بناء دا تقيدکړې دې.اوچه کله امام مالک رحمه الله اطلاق د حديث مقيدکولې شی.نو احنافو اوشوافعوته هم دا حق حاصل دې.چه دوئ به دا د نورو دلائلو په بناء په څه خاص قيدمقيد کوی.

[1]) كذا في التلخيص الخبير ۱۵/۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

دویم د حدیث په خپل ظاهر عدم حمل: دویمه خبره داده.چه ددې حدیث الفاظ او ددې سیاق پخپله په دې خبره دلالت کوی.چه داپه خپل ظاهرمحمول نه دې.ځکه چه که دا حدیث په ظاهر حمل کړې شی نو ددې به دا مطلب وی. چه بیربضاعة کښې د حیض ټوټې اود مردارسپوغوښې اونور بدبویه څیزونه باقاعده غورزول عادت وو.ګویا ددې کوهی نه د ډیران کاراخستې کیدو حال دادې چه داخبره ددوه وجوه په بناء انتهائی بعیده ده.

① ړومبې خودا ده چه حجاز کښې اوبه ډیرې لږې ملاویدې.د دې وجې دا ډیره بعیده ده.چه صحابه قصداً عمداً دا نجاستونه په کوهی کښې واچوی.کم نه کم د نظافت تقاضا خوداده.چه کوهی ددې څیزونوڅخه پاك اوساتلې شی.

بعضې خلق وائی چه دانجاستونه غورزونکې منافقان وو.خو په قول دحضرت شاه صاحب رحمه الله نظافت یو انسانی مسئله ده.اودې کښې دهیڅ یومنافق نه هم داتوقع نه شی کیدې.چه دې به داحرکت کوی.

② دویمه وجه داده.چه که واقعة دینه دډیران کار اخستې کیدلو نو ممکن نه ده.چه داوبواوصاف متغیر شوې نه وی.ځکه چې د امام ابوداؤد رحمه الله دتصریح مطابق دا کوهی شپږ ذراع وو او دې کښې به اوبه کم نه کم ترګنډو او زیات نه زیات ترنامه پورې وې بیادا څنګه ممکن ده.چه دې کښې د حیض ټوټې اومردارڅیزونه اچولې کیدل او ددې اوصاف ثلثه دې متغیرنه وی.داسې صورت کښې خوپه خپله د امام مالك رحمه الله په نیز ددې په نجاست کښې کلام نه شی کیدې.حال دادې چه که په ظاهر د حدیث عمل اوکړې نو تغیرد اوصاف سره اوبوته پاك وئیل پکار دی.حال دادې چه امام مالك رحمه الله پخپله ددې قائل نه دې دینه صفاظاهره ده.چه دحدیث ظاهری الفاظ چه کوم منظربنائی په حقیقت کښې دغه مراد نه دې.

ددې تمهیدڅخه پس په هغه توجیهاتُو کښې غوراوکړئ چه کوم ددې حدیث په باره کښې احنافو کړی دی.

د حدیث څخه جوابونه:

① په دې حدیث کښې درې توجیهات شوی دی.کوم چې د دې څخه جواب دې.

اوله توجیه: ړومبې توجیه داده.چه په حقیقت کښې د بیربضاعة په باره کښې د صحابه کرامو رضی الله عنهم دا سوال د مشاهدې په بناء نه وو.بلکه د نجاست په اوهامواوخطراتومبنی وو.په اصل کښې دا کوهی په نشیب (کنده) کښې واقع وو.او ددې څلورو طرفونو ته آبادی وه صحابه کرامو رضی الله عنهم ته دا خطره ذهن ته راغله چه ددې څلورو واړوطرفونو ته چه کوم نجاستونه غورزیږی هسې نه چه هوا ئې را اوچتوی یائې باران رابهوی اوپه دې

کوهی کښې ئې غورزوی.ددې خیالاتو وجې صحابه کرامو رضی الله عنهم د نبی کریم ﷺ څخه ددې نجاست د اوطهارت په باره کښې تپوس اوکړو.خودوئ داخیالات صرف په وساوسُ اوپه اوهامُ مبنی وو.او په مشاهده نه وو.د دې وجې نبی کریم ﷺ د قطع وسواسُ دپاره جواب علی اسلوب الحکیم ورکړو.((ان الماء طهور لاینجسه شیء)) څکه چې ((الیقین لایزول بالشك))

اودا توجیه د دې وجې ضروری ده.چې په مدینه منوره کښې د اوبو قلت وو.تردې چې په بعضو محلو کښې به اوبه په قیمت باندې ملاویدې.اوبو یهودی به اوبه خرڅولې .نوبیا چې کله حضرت عثمانی رضی الله عنه د هغه څخه نیم کوهې په قیمت واخستل.او نمبر ئې مقرر کړل چې یوه ورځ به یهودی اوبه اوباسی اوبه بله ورځ حضرت عثمان رضی الله عنه نوحضرت عثمان رضی الله عنه به په خپل نمبر کښې زیاتې اوبه راویستلې.نیجه دا شوه چې د یهودی څخه به چا اوبه نه اخستې. د دې وجې مجبوراً یهودی باقی نیم کوهې هم خرڅ کړل.نوهرکله چې د مدینې خلقو اوبه په قیمت اخستلې دا څنګه ممکن ده چې هغوی به په بئربضاعه کښې ګندګئ اچولې.ددې توجیه حاصل داشو چه " الماء" کښې الف لام د عهدخارج دې او دې څخه مراد خاص د بیربضاعة اوبه دی.او د «لاینجسه شیء» مطلب دادې ((لاینجسه شیء مما توهمون)) علامه شیخ الاسلام محمد تقی عثمانی مدظله العالی فرمائی په حدیث الباب کښې دا توجیه داحقرپه نیز دټولونه زیاته بهترراجح او اصح ده.

دویمه توجیه: دویمه توجیه بعضې حضراتو دا کړې ده.چه ((یلقی فیه الحیض)) په حقیقت کښې ((کان یلقی فیه الحیض)) په معنی باندې دې یعنی داګندونه اوغلاظتونه به په بیربضاعة کښې په زمانه د جاهلیت کښې اچولې کیدل.داسلام نه پس داسلسله منقطع شوله خود صحابه کرامو رضی الله عنهم په زړه کښې دا شك وو.چه اګرچه کوهی خو اوس صفا شوې دې خو ددې په دیوالونو به اوس هم د نجاست اثرات باقی وی.ددې وجې دوئ سوال اوکړو.حضرت نبی کریم ﷺ دخپل ارشادمبارك په ذریعه ددې وهم ازاله اوکړه

دریمه توجیه: دریمه توجیه امام طحاوی رحمه الله په شرح معانی الآثارکښې داکړې ده.چه دبیربضاعة اوبه جاری وې ددې په تائید کښې دوئ یو روایت هم راوړې دې چه هغې کښې د ((انها کانت سیحاتجری»،اویستقی منه البساتین)) الفاظ راغلې دی.([1])

اول اعتراض: داامام طحاوی رحمه الله په دې توجیه دا اعتراض شوې دې چه دکوهی جاری کیدل ډیره مستبعد دی. څکه چه داکوهی وروکې وو.

جواب: ددې جواب خو داورکړې شوې دې.چه دجاری کیدونه مراد د دریابونو نهرونوپه شان جاری کیدل نه دی بلکه مقصددا دې چه دې کوهې نه د ډول وغیره په ذریعه به

---

[1]) کما ذکره الحافظ فی التلخیص الحبیر ۱۱/۱۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

باغونه مسلسل د دې په اوبو باندې خړوبولې شول.نودا لکه د جاري اوبو پشان وو. نود باغ په يو ځل اوبه کولو سره به دکوهی تېولې اوبه اووتلې نود جناست په واقع کيدو به د دې اوبه نه متاثره کيدې.

دويم اعتراض: د امام طحاوي رحمه الله په توجيه باندې يو مضبوط اعتراض دا کيږي.چه دا ستا روايت د واقدی څخه مروی دې او واقدی ضعيف دې

اول جواب: بعضې احنافو حضرات ددې داجواب ورکوی.چه واقدی اګرچه د حديث په معامله کښې ضعيف دې خود تاريخ اوسيرامام دې او ددوئ قول معتبردې او دا معامله د تاريخ سره متعلق ده.

د اولنی جواب تضعيف: خودا جواب په نظرد انصاف ضعيف دې اول خوددې وجې چې واقدی په خپله د تاريخ اوسير معامله کښې هم مختلف فيه راوی دې د محققينو مورخينو يوه ډله دې د تاريخ په معامله کښې افسانه طراز ګرځوی. دويم که تاريخ کښې دده قول معتبر هم اومنلې شی نوچه په کوم تاريخی روايت باندې د يوې فقهی مسئله دارومدار وی د هغې د جانچ پړتال دپاره د جرح اوتعديل دپاره به هم هغه اصول استعماليږی کوم چې د فقهی رواياتو د تنقيد دپاره مقرر دی.نه د تاريخ په دې لحاظ د يوفقهی مسئلې دپاره ددې روايت څخه استدلال صحيح نه دې.

داعتراض څخه دويم جواب: اګرچې امام واقدی ضعيف دې.خوپه دې مسئله کښې څه قرائن موجود دی د هغې څخه د دوی د خبرې صحت معلوميږی.په بخاری کښې دی ((قَالَ كُنَّا نَفْرَحُ بِيَوْمِ الْجُمُعَةِ قُلْتُ وَلِمَ قَالَ كَانَتْ عَجُوزٌ لَا تُرْسِلُ إِلَى بُضَاعَةَ قَالَ ابْنُ مَسْلَمَةَ نَخْلٌ بِالْمَدِينَةِ فَتَأْخُذُ مِنْ أُصُولِ السِّلْقِ فَتَطْرَحُهُ فِي قِدْرٍ وَتُكَرْكِرُ حَبَّاتٍ مِنْ شَعِيرٍ))[1]

دحديث ددوو ټکو وضاحت: په دې کښې دوه الفاظ قابل توجه دی.يو ((نَخْلٌ بِالْمَدِينَةِ))د دې مطلب دا دې چې په دې کوهی سره باغونه آباد وو.دويمه دا چې هغوی به چقندر راغوستل.اودا هغه ځائې کښې کيږی چرته چې اوبه وی. (لمعات ۲۲۲)

④ که چرته دا کوهي ورکوټې وو.او د دې باوجود خلقو په دې کښې ګندګئ اچولې.اود دې اوبه نه پليتې دې نومونږ دا وايو.چې هرکله دومره ګندګئ په ورکوټې ورکوټی کوهی اچولې شی.نو عقل دا خبره نه منی چې د دې په اوصاف ثلاثه کښې دې تغير رانشی.نوچې څه ستاسو جواب وی.هغه به زمونږ د احنافو جواب وی.

د بئر بضاعه د حديث د ضعف وجه: بعضې حضراتو دبيربضاعة په حديث باندې سنداً هم کلام کړې دې.اوونيلې دی.چه د ضعف اسناد په وجه دا حديث قابل استدلال نه دې.
او يو خو ددې وجې چې د دې مدار په وليد بن کثير دې اود هغه تضعيف شوې دې.او

[1] البخاري باب تسليم الرجال على النساء (۹۲۳۱۲)-

بعضې حضراتو دې د خوارج په فرقه باضیه کښې شمیرلې دې.خو د انصاف خبره دا ده.چه ولیدبن کثیرپه حسان رواتو کښې دې او دده احادیث مقبول دی. لکه چه حافظ ابن معین رحمه الله وغیره دې ثقه گرځولې دې که بالفرض دې فرقه اباضیه سره تعلق هم ساتی .نو هم په اصول حدیث کښې داخبره فیصله شوې ده .که مبتدع عادل اوثقه وی نودده روایات قبلیږی.په شرط ددې چه دا روایت دده دمذهب تائید کښې نه وی.

د دې وجې ددې حدیث د ټولونه بهترین توجیه دغه ده.چه کومه وړاندې بیان شوله اوپه دې توجیه سره ټولو روایاتوکښې تطبیق هم کیږی.

د امام شافعی دلیل:- په ماء قلیل اوکثیرکښې د امام شافعی رحمه الله مستدل په ((باب منه)) سره امام ترمذی رحمه الله په خپل جامع کښې نقل کړې دې.د مذاهبو بحث په دې باب کښې شروع دې.نودلته به د امام شافعی دغه مستدل نقل کړو.اوبیا به ترې جواب ورکوو.

عُمَرَعَنِ ابْنِ عُمَرَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَيُسْأَلُ عَنِ الْمَاءِ يَكُونُ فِي الْفَلَاةِ مِنَ الْأَرْضِ وَمَايَنُوبُهُ مِنَ السِّبَاعِ وَالدَّوَابِّ قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَاكَانَ الْمَاءُ قُلَّتَيْنِ لَمْ يَحْمِلِ الْخَبَثَ»

دحدیث ضعف او د ضعف وجوه: ددې حدیث ضعف احنافوبه لاندینی طریقه بیان کړې دې.

① **د حدیث ضعف:** صاحب هدایه ددې دویم جواب دا هم ورکړې دې.چه ،،ضعفه ابوداوٗد" یعنی امام ابوداوٗد د دې حدیث تضعیف کړې دې

په تضعیف کښې په صاحب هدایه اعتراض: خو چه دابوداوٗد په معروف نسخوکښې څه صریح تضعیف نه ملاویږی.نو د صاحب هدایه خلاف راوچت شو چه ده ابوداوٗدته دتضعیف نسبت غلط کړې دې.

د اعتراض جواب: ددې جواب کښې بعضې احنافو فرمائی چه دابوداوٗد څخه مراد ابوداوٗد سجستانی صاحب السنن نه دې.بلکه ابوداوٗد طیالسی دې

د جواب ضعف: خوداخبره اول خوځکه بعیده چه ابوداوٗد مطلق ذکرشی. نو د دې څخه هم ابوداوٗد سجستانی مراد وی نه چې ابوداوٗد طیالسی.دویم حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی چه ما مسندابوداوٗد طیالسی ته رجوع اوکړله نو دې کښې هم چرته تضعیف ملاوٗ نه وو.

د اعتراض دویم جواب: دې وجې بعضې حضراتو دا جواب ورکړې دې.چه دې څخه مراد ابوداوٗد سجستانی دې اودوئ اگرچه صراحة دا حدیث ضعیف نه دې گرځولې خو ددې حدیث اضطراب ئې نقل کړې دې.چه د تضعیف قائم مقام دې.

د دویم جواب ضعف: خوداجواب هم صحیح نه دې.ځکه چه دابوداوٗد په موجوده نسخه کښې د اضطراب نقل کولو سره ترجیح راجح هم شته اود ترجیح په صورت کښې اضطراب باقی نه پاتې کیږی.دابوداوٗد عبارت داسې دې.((هذا لفظ ابن العلاء وقال عثمان والحسن

بن علی عن محمدبن عبادبن جعفر قال ابوداؤد الصواب الی محمدبن جعفر))

د اعتراض څخه د امام قدوري صحیح جواب: د دې وجې صحیح جواب دادې چه دابوداؤد په موجود نسخه کښې ددې حدیث تضعیف ثابت نه دې.البته صاحب دعنایه دابوداؤد یوعبارت نقل کړې دې.چه هغې کښې تضعیف صراحة موجود دې.دا عبارت دابوداؤد لؤلؤی په مروجه نسخوکښې خونشته دې البته دعلی بن الحسن په نسخه کښې به یقینًا موجود وی چه اوس نایاب دې په دې کښې په رجالُ زیات کلام شوې دې.غالبًاصاحب د عنایه اود صاحب هدایه په وړاندې دغه نسخه وه والله اعلم.

② **د محمد بن اسحاق ضعف:** د دې په سند کښې محمد بن اسحاق راوی دې.کوم چې ضعیف دې.

د ضعف راوی څخه جواب: خو د دې څخه جواب دا ورکړې شوې دې.چې د محمدابن اسحاق په باره کښې دحافظ ذهبی رحمه الله قول چه دې په حسان رُاویانو کښې دې.حضرت شاه صاحب رحمه الله هم داقول معتدل ترین ګرځولې دې لکه چه په خپله امام ابوحنیفه رحمه الله په ډیرومقاماتوکښې د ده په روایاتو استدلال کوی.

③ د دې په سند کښې اضطراب دې. د اضطراب فی السند وضاحت دا دې داده.چه دارروایت په بعضې طرق کښې ((عن الزهری عن سالم عن ابن عمر)) سندسره مروی دې.اوپه بعضې کښې ((عن محمدبن حعفرعن عبدالله عن ابن عمر)) په سند سره دغه شان د ولیدبن کثیرپه بعضې طرق کښې ((عن محمدبن جعفربن الزبیر)) راغلې دې اوپه بعضې کښې ((عن محمدبن عباد بن جعفر)) دغه شان عبیدالله بن عبدالله بن عمر دې.اوپه بعضو کښې عبدالله بن عبدالله بن عمر مذکور دې.

د اضطراب في السند جواب: خودا اضطرابات شیخ ابن همام رحمه الله په دوو جملوسره لرې کړې دی هغوی وائی چه ولیدبن کثیر دا روایت د محمدبن جعفربن زبیراو د محمدبن عباد بن جعفر دواړو څخه اوریدلې دې.اودې دواړو د عبیدالله بن عبدالله بن عمراو د عبدالله بن عبدالله بن عمر د دواړو څخه سماع کړې ده.داسې ددې روایت بنیادی اضطراب ختم شو.داسې امام دارقطنی رحمه الله هم اضطراب په تطبیق سره لرې کړې دې.او وائی چه روایت په ټولو طرق مروی دې اویوطریق دبل طریق معارض نه دې.

④ **په رفع او عدم رفع کښې اختلاف:** دغه شان حمادبن سلمه په طرق کښې د رفع او د وقف هم اضطراب دې په بعضې طرق کښې دا موقوف علی ابن عمر دې.((کماعند ابی داؤد)) اوپه بعضې طرق کښې دا مرفوع دې ((کماعندالترمذی فی الباب)).

د اعتراض جواب: د دې جواب دا دې اګرچې ابوداؤد په ابن عمر باندې دا حدیث موقوف ذکر کړې دې.خو امام ترمذی مرفوع ذکر کړې دې.نواعتراض ختم شو.

⑤ **په متن کښې اضطراب**: دغه شان دا مضطرب في المتن هم دې.اود اضطراب فی المتن وضاحت دا دې.چه په بعضې روایاتو کښې ((اذاکان الماء قلتین لم یحمل الخبث)) اوپه بعضې کښې ((قلتین اوثلاثا)) راغلې دې لکه چه دارقطنی اوابن عدی وغیره روایت کړی دې.اود دارقطنی په متعدد طرق سره د اربعین قلة الفاظ هم راغلې دی.په دې کښې یو طرق شیخ ابن همام رحمه الله هم صحیح ګرځولې دې اوامام دارقطنی رحمه الله بعض روایتونه داسې نقل کړې دی.چه هغې کښې د اربعین دلوًا یاد اربعین غربًا الفاظ هم راغلی دی.

د اعتراض في المتن څخه جواب: اضطراب فی المتن موجب د ضعف نه دې.د دې وجې چې ټولو محدثینود قلتین روایت راجح ګرځولې.چه کوم روایت کښې د ثلاثًا زیاتې مروی دې اول خودا مرجوح دې اوکه دا صحیح هم تسلیم ګړې شی نو تطبیق کیدې شی.چه عدد اقل د اکثرنفی نه کوی او دا هم بعیده نه ده.چه دلته او((اذا کان الماء قلتین فصاعدالم یحمل الخبث)) وی

⑥ **په معنی کښې اضطراب**: په دې کښې اضطراب في المعنی هم شته. د دې وضاحت دا دې.چه د صاحب قاموس د قول مطابق قلة د غرځوکه د انسان قد او چاتئ په معنی راځی .دلته دیوتعین مشکل دې. اود معنی اعتبارمشکل نه دې څکه سیاق دکلام ښائی چه دلته ،،قلة الجبل ،، یا ،، قامة الرجل،، مراد نه ده بلکه د ''جره'' معنی مراد ده.څکه چه د ،،قلة،، لفظ کله د اوبو دپاره اووئیلې شی نو دې څخه عمومًا چاټې مراد وی. اوکه مونږ دغرځوکه یاد انسان قد مراد واخلو نو دا ښکاره تکلف دې.

⑦ **په مصداق کښې اختلاف**: په دې کښې د قلة د مصداق په اعتبار سره هم اضطراب دې.علامه ابن نجیم رحمه الله فرمائی چه درې قسمواضطراب نه علاوه څلورم اضطراب دقلة په مصداق کښې دې.یعنی که قلة په معنی دچاټئ واخلې لکه چه د امام شافعی رحمه الله مسلك دې.نو بیا هم د چاټئ حجم متفاوت وی. په دې کښې د یوتعین مشکل دې. څکه چه حدیث کښې دا تعین نشته.چه څومره چاټئ مراد ده

د قله تعیین: د امام دارقطنی رحمه الله په یوروایت کښې ((من قلال هجر)) الفاظ راغلی دی.دې څخه معلومیږی چه دیمن دیوځائې هجر چاټې مراد دی.

زیادت د ضعیف راوی دې: نوردې جواب دادې چه دا زیادت صرف مغیره بن سقلاب ذکر کړې دې.چه په تصریح د محدثینومنکر الحدیث دې اوبعضې نورو محدثینودده په حق کښې دې څخه زیات سخت الفاظ استعمال کړې دی.د دې وجې په خپله دارقطنی دا زیادت غیرمحفوظ ګرځولې دې په هرصورت د قلة مصداق کښې اضطراب دې.

د حدیث ضعف د بعضې علماؤ په نظر کښې: په هرحال ددې قسماقسم اضطراباتود وجې بعضې خلقودې حدیث تضعیف کړې دې.شیخ ابن همام رحمه الله نقل کړې دی.چه حافظ ابن

Maktaba Tul Ishaat.com

عبدالبر رحمه الله په الاالهام " كښې ددې حديث تضعيف كړې دې اود قاضى اسماعيل بن اسحاق او دابوبكربن عربى نه هم تضعيف منقول دې دې څخه علاوه احب دائع د على بن المدينى څخه هم تضعيف نقل كړې دې حافظ ابن القيم رحمه الله تهذيب السنن كښې په حديث د قلتين مفصل كلام كړې دې.او دائې ناقابل استدلال گرځولې دې.ابن تيميه رحمه الله ، امام غزالى رحمه الله ، علامه عينى رحمه الله ، علامه زيلعى رحمه الله څخه هم تضعيف منقول دې.

د حديث صحت د علماؤ په نظر كښې: خوحقيقت دادې چه د مذكوره اضطراباتو د وجې دا حديث على الاطلاق ضعيف اوناقابل استدلال گرځول انصاف نه دې.واقعه داده.چه د اعتراض ضعف حديث اوټول اضطرابات رفع كيدې شى.لكه څنگه چې مونږ لاندې په حاشيه كښې رفع كړى دى.

ددې وجوهاتو په بناء دمحدثينويوه لويه طائفه دې ته حديث صحيح وائى .امام شافعى رحمه الله.امام احمد رحمه الله حافظ ابن منده رحمه الله اوحافظ ابن حجر رحمه الله ددې تصحيح كوى. دامام ترمذى رحمه الله صنيع هم په دې دلالت كوى.احنافو كښې هم دشيخ ابن همام رحمه الله رجحان عدم تضعيف دې امام طحاوى رحمه الله هم ددې په سندڅه كلام نه دې كړې.صاحب سعايه هم عدم تضعيف ته مائل دې دې وجه نه حضرت گنگوهى رحمه الله په الكوكب الدرى كښې فرمائى چه دحديث دقلتين تضعيف مشكل دې.دې وجه نه صحيح جواب دادې.چه داحديث اگرچه ضعيف نه دې خو دلاندينى وجوه په بناء ديته د تحديدشرعى مرتبه وركول مشكل دى.

حديث القلتين باندې د عمل نه كولو وجوهات:

① عموم بلوى: داخبره ثابته ده.چه دحجازپه علاقه كښې اوبه ډيرې لږې وې.اوهلته به داوبود نجاست اوطهارت مسئلې روزانه په كثرت رابيښيدې. اوخلقوبه هم د اوبو د مسئلوڅخه خبريدلو كښې ډيرشوق ساتلو ددې تقاضا ده چه حضرت نبى كريم ﷺ كه د قلت اوكثرت څه حدد مقرر كړې وې.نو دا به د صحابه كرامو رضي الله عنهم په مينځ ډيرمشهوروو. خومونږ گورو چه د صحابه كرامو رضي الله عنهم په دې دومره لوئې جماعت كښې د قلتين د تحديد روايت كوونكې ددې كم عمره صحابى يعنى حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه علاوه بل چا نه دې كړې.او دده نه هم روايت كوونكې صرف دده دوه خامن دى گويا دا ((خبرالواحد فيماتعم به البلوى)) ده . چه په اتفاق د محدثينو اوفقهاؤ مخدوش كيږى.

② **د مقادير شرعيه ثبوت:** دا مسئله د مقادير شرعيه سره متعلق ده.او ددې د ثبوت دپاره دډيرو مضبوطو اوغيرمحتمل دلائلو ضرورت دې حديث القلتين اگرچه ضعيف ورته نشې وئيلې خوبيا هم دحسن د درجه څخه پورته نه دې اواحنافو چه د نجاست الماء په سلسله كښې دكومواحاديثو څخه استدلال كړې دې. هغه د صحت په اعلى مقام

دی.په دې لحاظ حدیث القلتین ددغه روایات صحیحو مقابله نشي کولې.

③ **د تقدیر الماء په ترک د صحابؓ اجماع:** دنورو صحابه کرامو ﷺ څخه نه ده ثابته چه دوی قلتین د قلت اوکثرت معیارګرځولې وی.بلکه شیخ عبدالحق محدث دهلوی‌رحمه الله خو لمعات التنقیح کښې ترديې فرمائی چه ددې تقدیر په ترک د صحابه کرامو اجماع معلومیږی د دې دلیل دادې چه یوځل کله بیرزمزم کښې یوحبشی پریوتونو دغه دواړو حضراتودکوهی ټولو اوبوراویستو حکم اوکړو.حال دادې چه اوبوکښې اثرهم ظاهرشوې نه وو.اوبیرزمزم بلاشبه دقلتین څخه ډیر زیات وو.اودا عمل د صحابه کرامو ﷺ په مجمع کښې راپیښ شو اوصحابه کرامو ﷺ هم په دې څه نکیر یا اعتراض اونکړو.((فیکون حدیث القلتین مخالفًا لاجماع فلایقبل)) (۱) نود قلتین حدیث ګویا چې د صحابه کراموز د اجماع څخه مخالف دې.

خلاصه د کلام: په هرحال ددې وجوهات اوعوارضوپه بناء دې حدیث ته د مقادیر شرعیه په باب کښې تحدیدتشریع مقام نشی ورکولې بلکه ضرورت ددې خبرې دې چه د څه مناسب توجیه په ذریعه دا حدیث په احادیث صحیحو محمول کړې شی نو داحنافو د طرفه د حدیث د قلتین مختلف توجیهات شوې دی.چه هغې کښې دوه توجیهات زیات راجح دی.

اوله توجیه: حضرت شاه صاحب‌رحمه الله کړې ده.هغه دا چه د حدیث په الفاظو باندې دغورکولو څخه معلومیږی چه دې حدیث کښې د اوبو څخه مراد د حجازد زمکې یو مخصوص اوبه دی.چه د مکې معظمې اود مدینې منورې په لاره کښې کثرت سره وی. دا د غرونو د چینواوبه دی.چې د چینې څخه راوځی او په نالو کښې اوبهیږی.اوپه وړو کندو کښې جمع شی.او ددې مقدارعمومًا د قلتین څخه زیات نه وی.خودا اوبه جاری وی ددې په باره کښې نې اوفرمائیل چه دا نه پلیتیږی.ددې تائید د حدیث د ابتدائی جملې څخه کیږی.چه ((وهویسئل عن الماء یکون فی الفلاة من الارض ومایبوبه من السباع والدواب)) دې څخه ښکاره ظاهره ده.چه دلته د کورونو د اوبو په باره کښې سوال نه دې بلکه دصحراء د اوبو په باره کښې سوال دې.

اعتراض: په دې سوال راځی چه دغه اوبه خوجاری وې نو د قلتین دتحدیدڅه ضرورت وو؟

جواب: ددې جواب دا دې چه دا تحدیدنه دې بلکه بیان د واقع دې او کیدې شی ددې منشاء هم دا وی چه د قلتین څخه کمې اوبه اګرچې چه جاری وی د تغیرپیدا کیدو په

(۱) قال الشیخ فی لمعات التنقیح ۱۳۷/۲ ولمالم یثبت عن النبی ﷺ حدیث فی تقدیرالماء وتحدیده رجع اصحابنافی ذلک الی الدلائل الحسیة دون السمعیة وجعلوامعیارالقلة والکثرة الخلوص ۱۲) _

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې زیات امکان وی.د حضرت شاه صاحب رحمه الله دا توجیه په حقیقت کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله ددې قول تشریح ده.چه کوم دوئ امام ابویوسف رحمه الله ته فرمائیلی وو.((اذکان الماء قلتین لم یحمل الخبث اذاکان جاریًا)) هغه داسې چې په معارف السنن کښې دا واقعه ذکر ده چې امام ابوحنیفه رحمه الله د خپل شاګرد امام ابویوسف رحمه الله څخه د دې حدیث د مطلق په باره کښې تپوس اوکړو.نو امام ابویوسف رحمه الله مختلف توجیهات اوکړل خو امام اعظم رحمه الله یوه توجیه هم قبول نکړه نو شارد ورته عرض اوکړو حضرت تاسو د دې حدث مطلب بیان کړئ امام اعظم رحمه الله اوفرمائیل دا حدیث د جاری اوبه په باره کښې دې.امام ابویوسف رحمه الله باندې دا توجیه دومره ښه اولګیده چې هغوی د خپل استاذ محترم تندې ښکل کړلو.

دویمه توجیه:. حضرت ګنګوهی رحمه الله بیان کړې ده.هغه فرمائی چه دا حدیث د احنافو خلاف نه دې.په اصل کښې د احنافو په نیز مدار «خلوص اثر نجاسة من جانب الی جانب،، دې. که په یومقام کښې مبتلی به ته دایقین حاصل وی.چه د قلتین په مقدارکښې خلوص نجاست نه کیږی.نو دې سره طهارت حاصلول جائز دی.لکه چه فرمائی چه ماپخپله ددې عملی تجربه کړې ده.اویوه کنده مې اوکنستله او دې کښې مې پنځه مشکه اوبه واچولې.چه په کتابونو کښې لیکلې شوې د قلتین د مقدارمطابق وې.دې کښې یو طرف ته تحریك ورکولو سره بل طرف ته تحریك نه کیدلو ظاهره ده چه داسې صورت کښې احناف هم اوبو ته نجس نه وائی البته بعضو صورتونو کښې داسې هم کیدې شی چې د نجاست اثر خلوص وی نوبه داسې صورت کښې به دا اوبه نجس ګنړلې شی.ګویااصل مدار په خلوص نجاست دې.د دې وجې قلتین په طور د یوحد مقررکول صحیح نه دی.اودکلی تحدید کولو په ځائې دا په رائی د مبتلی به پریخول پکار دی.د حضرت ګنګوهی رحمه الله دا توجیه زیاته د اطمنان ده .

دریمه توجیه: صاحب هدایه ددې یو توجیه دا هم کړې ده چه ماءالقلتین ((لم یحمل الخبث)) د نجاست متحمل نه شی کیدې.بلکه نجس کیږی.

د تاویل تضعیف: خوداتاویل خلاف ظاهردې.بلکه د ابوداود او ابن حبان په روایت کښې داسې الفاظ دی ((اذابلغ الماء قلتین لم ینجس))(¹)

د حنفیانو دلائل:

① دحضرت ابوهریره رضی الله عنه مرفوع حدیث دې. ((لایبولن احدکم فی الماء الدائم ثم یتوضأ منه))(²)

وجه استدلال: طریقه د استدلال دا ده چې په بولو کولو سره تغیر د احد اوصاف الماء نه راځی.خو د دې باوجود نبی کریم صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلې ده.معلومه شوه چې په احد الاوصاف

¹) کذا فی التخلیص للحافظ (۱۱\۲۳، ۲٤) نقلا عن تحفة الاحوذی) -

²) قال ابوعیسی هذا حدیث حسن صحیح جامع الترمذی (۱۱\۲۱)-

پوري تحدید صحیح نه دي.

② عن ابی هریرة مرفوعاً أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ فَلْيَغْسِلْ يَدَهُ ثَلَاثًا قَبْلَ أَنْ يُدْخِلَهَا فِي الْإِنَاءِ فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ.

()په دې کښې هم دتغیر احد الاوصاف ذکر نشته بلکه مطلقاً نهي ده.

③ روی مرفوعاً عن ابی هریرة رضی الله عنه لا یغتسل احدکم فی الماء الدائم وهو جنب فقال کیف یفعل یا اباهریرة قال یتناوله تناولا)) په غسل کولو سره په اوبو کښې تغیر نه راځي خو د دې باوجود نهي راغلې ده.معلومه شوه چې د جناست په پریوتو اوبه پلیتیږي.()

④ د ولوغ الکلب حدیث دې په کوم کښې چې راغلی دی ((یغسل الاناء اذا ولغ فیه الکلب سبع مرات))([3]) دلته هم دعدم تغیر اوصاف الماء باوجود نبی کریم ﷺ منع کړې ده.

⑤ ((حدیث وقوع الفارة فی السمن)) ([4])

خلاصه: د دې ټولو دلائلو څخه معلومه شوه چې اوبه د نجاست په واقع کیدو پلیتیږي. اوحدیث الباب څخه چې عدم نجاست معلومیږي.نوکه د ترجیح طریقه اختیار کړې شی.نو هم دغه دلائل اربعه د حدیث الباب په مقابله کښې راجح دی.نویه دې به عمل کولې شی.

[۴۷۹] د دریاب په اوبو د پاکۍ حاصلول

۴۷۹—()[۶] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: ② «سَأَلَ رَجُلٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ③ إِنَّا نَرْكَبُ الْبَحْرَ، وَنَحْمِلُ مَعَنَا الْقَلِيلَ مِنَ الْمَاءِ، ④ فَإِنْ تَوَضَّأْنَا بِهِ عَطِشْنَا، أَفَنَتَوَضَّأُ بِمَاءِ الْبَحْرِ؟ ⑤ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هُوَ الطَّهُورُ مَاؤُهُ الْحِلُّ مَيْتَتُهُ» ". رَوَاهُ مَالِكٌ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① ابوهریره رضی الله عنه فرمايي ② چې یوسړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې یارسول الله ﷺ ③ مونږ په تریخ دریاب کې د کشتۍ په ذریعه سفر کوو او خوړي اوبه د خان سره لږې وړو ④ که مونږ په دې اوبو سره اودس کوو نو تږي به پاتې شو ⑤ آیا زمونږ د دریاب په اوبو سره اودس کولې شو (یا تیمم ووهو؟) حضور ﷺ وفرمایل د دریاب هغه اوبه پاکونکي دي او د هغې مړشوي حلال دي. (مالك ترمذي ابوداؤد نسائي ابن ماجه دارمي)

---

[1]) جامع الترمذی (۱۳۱۱)-

[2]) صحیح مسلم باب النهی عن البول فی الماء الراکد (۱۳۸۱۱)-

[3]) باب حکم ولوغ الکلب مسلم (۱۳۷۱۱) _

[4]) صحیح ۳۷/۱ باب مایقع من النجاسة فی السمن والماء) _

[5] اخرجه مالک کتاب الطهارة باب الطهور للوضوء (رقم- ۱۲) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب الوضوء بماء البحر (رقم- ۳۸۶) وابوداود کتاب الطهارة . باب الوضوء بماء البحر (رقم- ۸۳) والنسائی کتاب الطهارة . باب ماء البحر (رقم- ۵۹) والدارمی ومن کتاب الصید/باب فی صید البحر (رقم-۲۰۵۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

حل اللغات: ① نَرْكَبُ الْبَحْرَ: یعنی د کشتو وغیره په ذریعه په تریخ سمندر کښې سفر کوو. ② عَطِشْنَا: مونږ به تږی پاتی شو.

تسهیلات:

قوله: (سَأَلَ رَجُلٌ)

رجل څوک وو؟: د سائل هوم عبد، عبید، حمید یا عبداله مدلجی وو. هم دا راجح دي.

قوله: (إِنَّا نَرْكَبُ الْبَحْرَ) یعنی د ښکار په اراده باندې دریابی سفر کوو امام زرقانی رحمه الله فرمائیلی دی چې د دریاب نه مراد مالح او تریخ دې.()

قوله: (وَنَحْمِلُ مَعَنَا الْقَلِيلَ مِنَ الْمَاءِ)

دبعضې راویانو زیادت: د احمد، حاکم او بیهقی په روایت کښې راغلی دی چې مونږ د رسول الله ﷺ سره یو ورځ وو په دې کښې ښکاری راغلل او تپوس ئې اوکړو چې اې دالله رسوله مونږ په دریاب کښې د ښکار په اراده باندې روان یو. اوبه مونږ کښې یو کس د خان سره په لوټه کښې اوبه اوړی. اوهغه دا امید ساتی چې وړاندې به اوبه بیا مومی نوکله خو اوبه اومومی اوکله اوبه اونه مومی تردې چې په سمندر کښې داسې ځائې ته اورسیږی چې هلته د رسیدو د هغه ګمان هم وی. لنډه دا چې د سمندر اوبه خود څکلو نه وی خو د اودس دپاره هم دغه اوبه استعمالولې شو؟ نو نبی کریم ورته په دغه موقع دا الفاظ وئیلی وو.()

قوله: (عَطِشْنَا) یعنی مونږ تګې شو. نود سمندر اوبه څکلې شو؟

د سوال وجوهات: ① د سمندر اوبه متلون وی ددې وجې سائل ته تردد پیدا شو چې آیا د دې حکم به د عامو اوبو پشان وی که نه؟

② د سمندر په اوبه کښې ملوحت وی نوشبه ورته پیدا شوه چې دا خالصې نه دی نو آیا په دې سره به اودس کول جائز وی؟

③ سمندری ځناور د وچې د ځناورو په مقابله کښې زیات وی. اوهغوی په اوبه کښې بول بزار کوی او مری هم. په وچه کښې خو دا څیزونه د اوبو د نجاست سبب ګرځی نوآیا د سمندر اوبه به د دې په واقع کیدو سره پلتیږی اوکه نه او اودس به پرې جائز وی که نه؟

قوله: هُوَ الطَّهُورُ مَاؤُهُ یعنی د دې اوبه پاکې پاکونکې دی.

قوله: الْحِلُّ مَيْتَتُهُ د دریاب مرداره حلاله او جائز الاستعمال ده.

[1]) شرح موطا مالک للزرقانی (۱/۸۰)-
[2]) تحفة الاحوذی (۱/۲۳۳)-

د سائل په جواب کښې د زیادت وجوهات:

① امام رافعی رحمه الله فرمائیلی دی چې نبی ﷺ چې هرکله اوکتل چې په دې سائل باندې د سمندری اوبو اشتباه راغلې ده. دغه شان په ده باندې د سمندری حیواناتو د خوراك د څیز اشتباه هم راتلې شی. نوځکه ئې ورته شفقة په جواب کښې اضافه اوکړه.

② ابن العربی رحمه الله فرمائیلی دی چې د سوال په جواب باندې د سوال څخه اضافه کول د فتوی په محاسنو کښې ده. کله چې مفتی د مستفتی دپاره د هغې ضرورت محسوسوی. لکه څنګه چې ده ته د اوبو د استعمال ضرورت پیښیدو دغه شان ورته د سمندری خناورو د خوراك هم ضرورت پیښیدې شو. نوځکه ورته نبی کریم ﷺ په جواب کښې اضافه اوکړه.(¹)

یعنی دا د محسنات الفتوی څنې دې. چې د سوال په جواب کښې د جواب سره مفیده اضافی خبره هم اوکړی شي. دې ته د بلاغت په کتابونو کښې اسلوب الحکیم وائی.

د خبر تعریف باللام د تعارف دپاره دې: دلته دخبرتعریف باللام د تعارف دپاره دې نه د حصردپاره. ابتداء کښې د صحابه کرامو په مینځ کښې د وضوء بماء البحرمسئله کښې اختلاف وو. لکه امام ترمذی رحمه الله هم د حضرت ابن عمر رضی الله عنه او د ابن عمرو رحمه الله مسلك دانقل کړې دې. چه وضوء بماء البحرمکروه دې. خو روستو بیا د دې په جواز اجماع منعقد شوه.

فقهی مباحث: دلته درې مسائلو کښې بحث کولی شی.

د سمندری خناورپه حلت او حرمت کښې مذاهب:

① د امام مالك رحمه الله مسلك دادې چه دبحری خنزیر نه سوا نورټول د اوبو څناور حلال دی. خود خنزیر په باره کښې هم د هغوی څخه مختلف اقوال منقول دی. یودحرمت بل د کراهت اوبل د توقف.

② دامام شافعی رحمه الله څخه دې باره کښې څلور اقوال منقول دی. (ا) د حنفیانو موافق (ب) د وچې ټول حلال څناور په سمندر کښې هم حلال اود وچې ټول حرام څناور په سمندر کښې هم حرام اوهغه څناور چې په وچه کښې د هغې نظیر نه وی هغه حلال دی. (ج) (ضفدخ) چندخه تمساح شمستیږ (سلحفاة) سمندری سپې اوخنزیر حرام دی اوباقی ټول حلال دی. (د) د چیندخ څخه سوا باقی نور ټول څناور حلال دی. امام نووی دې آخری قول ته ترجیح ورکړې ده. او دا د امام شافعی رحمه الله مفتی به قول ګرځولې دې.

③ داحمدبن حنبل رحمه الله په نیزدضفدخ اوتمساح څخه علاوه نور ټول سمندری څناورحلال دی.

---

¹) عارضة الاحوذی (۸۹/۱) نقلا عن تحفة الاحوذی (۲۳٤/۱)-

Maktaba Tul Ishaat.com

④ دامام ابوحنیفه رحمه الله مسلك دادي چه دسمك څخه علاوه نورټول ځناورحرام دی.او سمك طافی هم د حلت څخه مستثنی دي.

د ائمه ثلاثه رومبې دلیل: ① ((أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ)) په دي آيت کښې لفظ "صید" عام دي.د دې وجې هرځناور حلال وی.

داول دلیل دوه جوابونه: ① دې څخه خپله د شوافع استدلال هله صحیح کیږی. چه کله صیدد مصید په معنی واخلی اواضافت د استغراق دپاره شی.حال دادې چه مصدر د اسم مفعول په معنی اخستل مجاز دې اوبلا ضرورته مجاز ته د رجوع حاجت نشته.د دې وجې احناف ددې خبرې قائل دی.چه دلته لفظ د صیدپه خپله حقیقی یعنی مصدری معنی باندې محمول دې اوسیاق هم ددې شاهد ځکه چه ذکر د هغه افعالو روان دې.چه کوم د محرم دپاره جائز اوناجائزدی.د دې وجې دلته منشاء صرف د ابنودل دی چه سمندر کښې ښکارکول جائزدی.دې څخه د خوراك حلت نه ثابتیږی.

② که دلته صیدد مصیدپه معنی شی.نو بحرته ددې اضافت داستغراق دپاره نه دې بلکه د عهدخارجی دې.د دې وجې یو مخصوص ښکاریعنی ماهی مراد دې.چه د هغې حلال کیدل په نورو دلائلوسره ثابت دې. لکه څنګه چې د ((وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا)) کښې اضافت په اتفاق سره د عهد دپاره دې.

د ائمه ثلاثه دویم دلیل: ② حدیث الباب "الحل میتته" داالفاظ د بحر د هرې میته حلت بیانوی.

د دویم دلیل دوه جوابونه: ① میته کښې اضافت د استغراق دپاره نه دې بلکه دعهد خارجی دپاره دې نو د حدیث مطلب هم دا شو چه د سمندر هغه مخصوص میتته حلال ده.چه هغې کښې د حلت نص راغلې دې او هغه سمك دې.

② حضرت شیخ الهند رحمه الله فرمائی که دلته اضافت د استغراق دپاره اومنلې شی نو دلته د((الحل)) څخه مراد حلال کیدل نه دی بلکه طاهرکیدل دی.اولفظ د حل په کلام د عربو کښې په کثرت سره د طاهرکیدو په معنی استعمال شوې دې.لکه د بخاری شریف یو مشهورحدیث کښې داالفاظ راغلی دی. ((حتی بلغنا سدالروحاء حلت فبنی بهاالخ)) (١) . دې حدیث کښې لفظ د حلت په اتفاق د طهارت په معنی دې نو داسې په حدیث الباب کښې هم لفظ دحل د طهر په معنی دې اوددې یو دلیل دا هم دې.چه کلام هم د طهارت په باره کښې روان دې. صحابه کرامو رضی الله عنهم ته دا شبه وه چه سمندر کښې مړکیدونکی ځناور پاک

(١) الحدیث اخرجه البخاری فی صحیحه ٢٩٨/١١ فی اواخرجه کتاب البیوع عن انس بن مالک تحت باب هل یسافر بالجاریة قبل ان یستبرئها) _

وی. ددې شبهې ختمولو دپاره نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د سمندر میته طاهر وی.

د ائمه ثلاثه دریم دلیل: ③ په حدیث العنبرباندې هم مالکیانو اود شوافعو استدلال کړې دې.په دې کښې صحابه فرمائی چه مونږ ډیره زمانه یو سمندرې ځناورخوړلو چه د هغې نوم عنبروو.د بخاری شریف په روایت کښې الفاظ دادی.((**فالقی لنا البحر دابة یقال له العنبرفاکلنا منه نصف شهر الخ**)) دې روایت کښې لفظ د دابة دابنائی چه دا ځناور د سمك څخه علاوه بل څه څیز وو. اود صحیح بخاری شریف په روایاتوکښې دحوت اودابه دواړوالفاظ راغلی دی.

د دریم دلیل دوه جوابونه: ①د صحیح بخاری په یوروایت کښې ((**فالقی البحر حوتاً میتاً**)) [۱] الفاظ راغلی دی.د کوم څخه چې معلومیږی چه نورو روایتونو کښې د دابه څخه مراد هم حوت دې.

② که چرته اومنلې شی چې دا هم دابة البحر وه.نومونږ وایو چې په مسند احمد کښې د دې حدیث په تفصیل کښې دی چې هرکله مونږ د سمندر په غاړه دابه اولیدله نو په اول کښې ابوعبیده د هغې د خوراك څخه منع اوکړه او بیا ئې اوفرمائیل ((**لابل نحن رسل رسول الله وقد اضطررتم فکلوا**))نو د دې څخه معلومه شوه چې ابوعبیده د جواز دپاره د اضطرار وجه اوخودله.د دې څخه دا معلومه شوه چې صحابه کرام رضي الله عنهم د دریابی میته د حرمت قائل وو.د دې وجې هم ابوعبیده د هغې د خوراك څخه اول منع اوفرمائیل اوبیا ئې خپل ځانونو مضطرین ثابت کړل اود دابه د خوراك اجازت ئې ورکړل.

په جواب اعتراض: که دا اومنلې شی چې خوراك د دابه په حالت د اضطرار کښې وو.نوپه حالت د اضطرار کښې خوراك په قدر د ضرورت وی.حال دا چې صحابؤ تراتلس ورځو پورې د هغې څخه خورا کړې وو.اوپه بعضې روایاتو کښې راځی چې روستو کله دوی نبی کریم ﷺ سره دا واقعه واوروله نونبی کریم ﷺ اوفرمائیل دا د الله تعالی رزق وو چې تاسو ته ئې درکړل او ماته هم د هغې څه حصه راکړئ که پاتې شوې وی.نونبی کریم ﷺ خو مضطر نه وو.د دې باوجود ئې د هغې دابه د خوراك خواهش ښکاره کړې وو.

د اعتراض څخه جواب: مونږ وایو چې دا ماهی (کب) ډیر غټ وو.په اول کښې ابوعبیده رضي الله عنه اونه پیژندل د دې وجې د حالت اضطرار څخه په وخت ئې اووئیل ((**لقد اضطررتم فکلوه**)) اوچې بیا ئې کله اوپیژندل چې ماهې دې نو بنه په مره خیتهٔ ئې اوخوړلو.

د ائمه ثلاثه څلورم دلیل: ④ بیاامام مالك رحمه الله دقرآن کریم دآیت د ((**لحم الخنزیر**)) دعموم د

---

[۱] البخاری کتاب المغازی باب غزوة سیف البحرو کتاب الاطعمة باب فی اکل الطافی من السمک ۲۳٤۱ ابواب الصیدباب الطافی من صیدالبحر)

Maktaba Tul Ishaat.com

وجې دبحری خنزیرحلت ترې مستثنی کوی اوامام شافعی رحمه الله ترې د احادیث النهی عن قتل الضفدع په بناء ضفدع د حلت څخه مستثنی کوی.لکه په یو حدیث کښې راغلی دی چې سو سړی د نبی کریم ﷺ څخه په دوائی کښې د اچولو دپاره د چیندخې د قتلولو اجازت اوغوښتلو نو نبی کریم ﷺ هغه منع کړلومعلومه شوه چې دا ناپاکه او حرامه ده.

د څلورم فریق دلائل: ددې په مقابله کښې داحنافو دلائل دادی

اول دلیل:① علامه عینی رحمه الله ددې ((وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَٰٓئِثَ)) قرآنی آیت څخه په مسلك داحنافو استدلال کړې دې. وجه د استدلال داده.چه د خبائث څخه مراد هغه مخلوقات دی.چه د کومو څخه د انسان طبیعت کرکه کوی او د ماهی څخه علاوه د سمندر ټول ځناورداسې دی. چه د هغې څخه انسان کرکه کوی.د دې وجې د سمك څخه علاوه نور سمندری ځناوربه خبائث کښې داخل شو.

دویم دلیل:② د آیت ((حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ)) څخه معلومه شوه چه هرمیته حرام ده. سوا د هغه میته څخه چه د هغې تخصیص په دلیل شرعی ثابت وی.اوپه دریاب کښې مړ شوې ځناور هم په میته کښې راځی.باقی سمك هم په میته کښې راځی خودا بیله خبره ده چې د سمك استثناء په حدیث کښې راغلې ده.

دریم دلیل:③ ((عن عبدالله بن عمران رسول الله صلی الله علیه وسلم قال احلت لنا میتتان ودمان فاما المیتتان فالحوت والجراد واما الدمان فالکبد والطحال))[1]

دلته استدلال په عبارة النص دې.ځکه چه سیاق کلام دحلت اودحرمت دبیان دپاره دې اوتعارض په وخت داستدلال کښې بعبارة النص راجح وی کماتقرر فی اصول الفقه.د دې وجې د حدیث څخه دا خبره ښکاره ظاهره ده.چه میتته یعنی هغه ځناور چه کوم کښې دم سائل نه وی د هغه صرف دوه قسمونه حلال دی.جراد اوحوت .اود سمندر نورځناور په دې دوه قسمونوکښې داخل نه دی.نو هغه حرام دی.

څلورم دلیل: دټولوڅخه اهم خبره داده چه حضرت نبی کریم ﷺ په پوره حیاة طیبه کښې د دوئ څخه او نبی کریم ﷺ څخه پس د صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه یوځل هم د سمك څخه علاوه د بل سمندری ځناور خوراك ثابت نه دې.که دا ځناور حلال وې.نو دوئ به کله خود بیان جواز دپاره ضرور خوړلې وو.((واذلیس فلیس)) پاتې شو.

د سمک طافی په حلت او حرمت کښې مذاهب :

د سمک طافی تعریف: طافی هغه ماهی ته وائی چه په اوبوکښې بغیردڅه سبب خارجی

[1] وقد اخرجه الحافظ فی التلخیص الحبیرمرفوعاوموقوفا وصححه وموقوفااخرجه من حدیث زیدبن اسلم عن ابن عمرعند الشافعی واحمدوابن ماجه والدارقطنی والبیهقی وابن عدی فی تفسیره ونقل تصحیح الموقوف من الدارقطنی وابی زرعة وابی حاتم . معارف السنن ۲۵۷\۱ ،ازمرتب) _

ځکه په طبعي مرګ مړشي.

① دائمه ثلاثه یعنی امام مالك رحمه الله، امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نیز داسې ماهي حلال دي.

② امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله ددې دحرمت قائل دې هم دامسلك دحضرت علي رضي الله عنه، ابن عباس رضي الله عنه، جابر رضي الله عنه، ابراهیم نخعي رحمه الله، شعبي طاوس رحمه الله او سعیدبن المسیب وغیره دې.

د اول فریق اول دلیل: ① ائمه ثلاثه یواستدلال د حدیث الباب ځخه کوي.په دې کښې د دریاب د هرڅیز د حلت حکم ورکړې شوې دې اوپه سمك طافي باندې هم د دې اطلاق صادقیږي.

داول دلیل جواب: دلته ((میتته)) کښې اضافت د عهد دپاره دې د استغراق دپاره نه دې.او د دې ځخه مراد اګرچې ماهي دې.خود ((ماطفی)) استثنئ په حدیث کښې شوې ده.

د اول فریق دویم دلیل:② د حدیث العنبر ځخه استدلال کوي چې دغه ماهي سمك طافي وو.

د دویم دلیل جواب: په حدیث العنبر کښې د طافي کیدو تصریح نشته.طافي صرف هغه ماهي ته وائي چه کوم دخارجي سبب ځخه بغیرپه خپله په اوبوکښې مړشي.اوالته شي.ددې په خلاف که یو ماهي د څه خارجي سبب د وجې مړ شي.مثلاً د شدت حرارت یا د شدت برودت یا تلاطم امواج د وجې یا غاړې ته د رسیدو په وجه یا د اوبو ځخه د لرې کیدو د وجې مړشي. نو دا طافي نه ګرځي.او دده خوراك حلال په حدیث دعنبرکښې هم ظاهره داده.چه دا ماهي د اوبو د پریخودو په په وجه مړشوې وو.د دې وجې دده حلت محل نزاع نه دې.

نوخلاصه دا شوه چې دا استدلال صحیح نه دې ځکه چې په حدیث العنبر کښې د طافي قید تصریح نشته.که چرته دا اومنلې شي چې دغه سمك طافي وو.خو مونږ وایو چې ابوعبیده رضي الله عنه ته به په قرائینو سره معلومه شوې وه چې دا په سبب خارجي سره مړ شوې دې په په خپل مرګ سره نه دې مړ شوې.

د اول فریق دریم دلیل:③ د حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه یواثرد حضرت ابن عباس رضي الله عنه ځخه مروي دې .په هغې کښې سمك طافي حلال ګرځولې شوې دې. [۱]

د دریم دلیل دوه جوابونه: ① د دې راوي ابن عباس رضي الله عنه دې.اوهغوی د سمك طافي د حرمت قائل دې. نومعلومه شوه چې د دې ځخه مصطلح طافي مراد نه دې.بلکه هغه ماهي مراد دې کوم چې د ښکار ځخه بغیر بهر ته راشي.

---

[۱] سنن بیهقي اودارقطني بحواله معارف السنن ۲۵۷۱))

Maktaba Tul Ishaat.com

② که دا هم اومنلې شي چې د دې څخه هم اصطلاحي طافي مراد دې نو مونږ وایو چې دا روایت په ابن عباس رضي الله عنه باندې موقوف دې.او مونږ روایت مرفوع دې.او موقوف د مرفوع په مقابله کښې حجت نشي جوړيدې.

د دویم فریق دلائل: داحنافو استدلال ابوداؤد اوابن ماجه کښې دحضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه روایت دې ((**قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما القى البحر او جزر عنه فكلوه وما مات فيه وطفا فلا تأكلوه**)) امام ابوداؤد داروایت مرفوعًا وموقوفًا په دواړو طریقو روایت کړې دې.بیانې طریق موقوف صحیح ګرځولې دې خوحقیقت دادې.چه مرفوع روایت هم تولوترثقاتو څخه مروی دی.اودثقه زیادت مقبول وی.د دې وجې ددې په مرفوع منلوکښې هیڅ اشکال نشته.اوکه موقوف طریق هم صحیح اومنلې شي نو بیاهم چه مسئله غیرمدرك بالقیاس ده.نوحدیث به د مرفوع په حکم کښې وی.

اعتراض: امام بیهقي رحمه الله داحدیث ضعیف ګرځولې دې اود ضعف وجه ئې د ابن اسلم ضعف بیان کړې دې.

جواب: ابن اسلم د صحیحینو راوی په دې.ددې وجې ددوئ دا تضعیف صحیح نه دې.

اعتراض: ابن الجوزی د دې مرفوع روایت ته د اسمعیل بن امیه روحیه د وجې ضعیف وئیلی دی. (1)

جواب: امام ابن جوزی رضي الله عنه ته مغالطه شوې ده.دې اسمعیل بن امیه ابوالصلت نه دې چه ضعیف دې بلکه اسمعیل بن امیه قریشي اموی دې چه ثقه دې

② د مسلك حنفي تائید په قرآني آیت ((حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ)) سره هم کیږی.چې دا په خپل عموم پریخودې شي.نوپه دې کښې سمك طافي هم شامل دې.

د جینګی په حلت او حرمت کښې مذاهب:

① د شوافعو اود مالکیانو په نیز ددې په حلت کښې هیڅ شبه نشته

② د احنافو په نیز مدارپه دې خبره دی.چه دې سمك دې اوکه نه دا خبره خاص کر د پاك وهند دعالمانو په مینځ کښې ډیره مختلف فیه دې

دجنیکی د سمک د جنسیت قول:

۱- علامه دمیری رحمه الله په حیات الحیوان کښې دا د سمك یو قسم ګرځولې دې. ددې په وجه بعضې علماء هند د دې د حلت قائل دی چه دوئ کښې حضرت تهانوی باب رحمه الله هم داخل دې لکه چه دوئ په امدادالفتاوی کښې ددې اجازت ورکړې دې.

جواب: د علامه دمیری رحمه الله تعلق دې نو دې د علم الحیوان څه ماهرنه دې بلکه صرف ناقل د روایاتو دې.اوده په حیاة الحیوان کښې هرقسم رطب یابس روایات جمع دی.د

(1) معارف السنن ۱۱/۲۶۰ _

دي وجې دده قول د نورو ماهرينوپه خلاف حجت نه دې.

۲- خو صاحب د فتاوی حماديه اوبعضي نورو فقهاؤ ددې د سمك كيدوځخه انكار كړي دي.شيخ الاسلام مفتي تقي عثماني مدظله العالي په درس ترمذی كښې ليكلي دی ،،احقر د علم الحيوان د ماهرينوځخه ددې تحقيق اوكړو.نو ټول په دې خبره متفق په نظر راغلل چه جينګې ماهی نه دې او د دواړو په مينځ كښې نسبت داسې دې. كوم نسبت چې د زمرې اود پيشو دې د ماهی تعريف د علم الحيوانات په كتابونوكښې مرقوم دې.ددې په بناء هم جينګې دماهی مصداق كښې داخل نه دې.د جينګی تعريف دا دې. دملا د تيرد هډوكي ځناور چه اوبوځخه بغير ژوندي نه شی پاتې كيدې اوپه غوږونو ساه اخلي دې دې ته ماهی وائی.جينګې په ړومبې قيدخارجيږی ځكه چه دده د ملا تير نشته

③ بعضي علماء حيوانات دا د چينجی يو قسم ګرځوی.دې ځخه علاوه عرف عام كښې هم دې ته ماهی نه وئيلې كيږی.ځكه چه كه يو كس ته د ماهی راوړلو حكم اوشی اوده جينګې راوړله نو دې به صحيح تعميل كوونكې نه كنړلې كيږی.ددې وجوه په بناء راجح دا ده.چه دا ماهی نه ده.اود ده خوراك صحيح نه دې.

په اجتناب كښې بهتری: د دې ځخه علاوه چې كله مونږ د شريعت په عمومی قواعدو باندې نظر اوكړو نو د جنګی د خوراك ځخه پرهيز كول پكار دې.هغه دا دی.

① ((الحلال بين والحرام بين وبينهما امور مشتبهات))اود مشتبه ځيزونو پريخودل پكار وی.

② ((دع ما يريبك الی ما لا يريبك))د دې حديث تقاضا هم دا ده چې د جيګی خوراك اونكړې شی ځكه چې د دې په سمك كيدو كښې شك دې.

[۳۸۰] د نبيذ په اوبو سره اودس كول

۳۸۰-(¹)[۷] ① وَعَنْ أَبِي زَيْدٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ② أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ لَيْلَةَ الْجِنِّ: "مَا فِي إِدَاوَتِكَ؟". ③ قَالَ: قُلْتُ: نَبِيذٌ. قَالَ: "تَمْرَةٌ طَيِّبَةٌ، وَمَاءٌ طَهُورٌ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، ④ وَزَادَ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ: فَتَوَضَّأَ مِنْهُ. ⑤ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: أَبُو زَيْدٍ مَجْهُولٌ.

ترجمه: ① ابوزيد د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په باره كې نقل كوي ② چې رسول الله ﷺ په ليلة الجنّ (يعني د پيريانو په شپه) كې ز ما ځخه پوښتنه وكړه چې ستا په ېتك كې څه شي دي؟ ③ عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وايي ماعرض وكړو چې نبيذ (يعني د قجورو شربت) دي حضور ﷺ وفرمايل قجورې پاكې دي او اوبه پاكونكې دي، ابوداؤد، ④ او امام احمد او ترمذي دا الفاظ زيات نقل كړي دي چې حضور ﷺ په هغې سره اودس

¹) اخرجه ابوداود فی السنن رقم الحديث ۸۴ والترمذی فی السنن رقم الحديث ۸۸ وابن ماجة فی السنن رقم الحديث ۳۸۴

Maktaba Tul Ishaat.com

وکړو، ⑤ او امام ترمذي دا هم فرمايلي دي چې ابوزيد معلوم نه دي چې داڅوك دي؟

حل اللغات: ① لَيْلَةَ الْجِنِّ: يوشپه د جناتو وفد نبی عليه السلام ته د دين د زدکړې دپاره راغلې وو، هغه شپې ته ليلة الجن وائی. ② إِدَاوَتُكَ: د څرمني وړوکي لوښي وو، چهاګل. ③ نَبِيذٌ: وَهُوَ مَاءٌ يُلْقَى فِيهِ ثَمَرَاتٌ لِيَحْلُوَ: اوبو کښې چه کجورې د اوبو دخوږوالی دپاره واچولې شی نوهغه اوبو ته نبيذ وائی.

[۳۸] په ليلة الجن کښې د عبدالله بن مسعود عدم وجود

۳۸۱-()[۰] ① وَصَحَّ عَنْ عَلْقَمَةَ، «عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② لَمْ أَكُنْ لَيْلَةَ الْجِنِّ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت علقمه البته د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه په صحيح طور سره دا روايت نقل کړي دي ② چې هغه اوويل چې زه په ليلة الجن کې د حضور ﷺ ملګري نه وم. (مسلم)

تسهيلات:

قوله: فَتَوَضَّأَ مِنْهُ:

د نبيذ درې قسمونه: نبيذ په درې قسمه دی.

① غير مطبوخ ، غيرمسکر ، غير متغير ، غيرحلورقيق. يعنی چې پخ شوې نه وی نشه راوستونکې نه وی متغير شوې نه وی او خوږ نه وی او بهيدونکې سيال وی. نو په دې سره په اتفاق اودس جائز دې.

② مطبوخ مسکر غليظ يعنی چې پخ شوې نشه راوستونکې او سخت وی چې رقت اوسيلان ئې ختم شوې وی په دې په اتفاق اودس جائز نه دې.

③ حلورقيق غير مطبوخ غيرمسکر يعنی چې خوږ نرم پخ شوې نه وی او نشه راوستونکې هم نه وی نو په دې باره کښې د امامانو اختلاف دې

د حلو رقيق غير مطبوخ غيرمسکرنبيذ په حکم کښې مذاهب:

① **داودس جواز او تيمم عدم جواز:** اودس جائزنه دی. تردې چه که نورې اوبه نه وی. نو تيمم متعين دې دادائمه ثلاثو اودجمهورو مسلك دې. امام ابويوسف رحمه الله هم ددې قائل دې او دامام ابوحنيفه رحمه الله يو روايت هم ددې مطابق دې.

② **داودس تعين اودتيمم عدم جواز:** وضوء متعين دی اوتيمم ناجائزدې. دا د سفيان ثوری رحمه الله مسلك دې او دامام ابوحنيفه رحمه الله مشهور روايت دې.

③ **د اودس اوتيمم جمع کول:** دامام محمد رحمه الله مسلك دادې چه که نورې اوبه نه وی. نو ړومبې دې په دې وضوء اوکړی روستو دې بيا تيمم هم اوکړی دا د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله يو روايت هم دادې.

[1] اخرجه مسلم كتاب الصلوة باب الجهر بالقراءة فى الصبح والقراءة على الجن. رقم (۱۵۲ - (۴۵۰)

④ **د اودس وجوب اوتیمم استحباب:** په دې صورت کښې اودس واجب دې.اودې څخه روسته تیمم مستحب دې دا د امام اسحاق بن راهویه رحمه الله مسلك دې.

دامام ابوحنیفه عدم جواز وضوء ته رجوع: علامه کاساني رحمه الله په بدائع کښې نقل کړې دی.چه امام صاحب رحمه الله په اخرکښې رومبی قول ته رجوع کړې ده.د دې وجې اوس په نبیذ سره په عدم وضوء باندې دائمه اربعۀ اتفاق دې.احنافو کښې امام طحاوی رحمه الله ،علامه ابن نجیم رحمه الله اوقاضی خان رحمه الله هم دا اختیارکړې دې.اګرچه علامه شامی رحمه الله ته په دې اعتراض دې اودوئ د ،،البحرالرائق،، په حاشیه باندې لیکلي دی.چه مفتی به قول د متون روایت کیدل پکاردی.اودې کښې د جوازفتوی ورکړې شوه. خو متاخرین احناف رحمهم الله د عدم جواز روایت ته ترجیح ورکوی.خاص کر په دې وجه چې دې ته د امام صاحب رحمه الله رجوع ثابته ده .

په حدیث الباب باندې استدلال: حدیث الباب یعنی ((عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قال سألني النبي صلى الله عليه وسلم مافي اداوتك ؟ قلت نبيذفقال تمرة طيبة وماء طهور)) دحضرت سفیان ثوری رحمه الله اودامام ابوحنیفه رحمه الله د قول اول مستدل دې.

اشکال: امام ترمذی رحمه الله او جمهورو محدثین داناقابل استدلال ګرځوی.ځکه چه ددې مدار په ابوزید دې. چه مجهول دې

جوابونه: ① ابوزید مجهول نه دې ځکه چې دا د عمروبن حریث مولی دې او دوه کسان د دوی څخه روایت کوی یو راشدبن کیسان او ابو روق عطیه بن حارث خو دومره ده چې د دوی نوم معلوم نه دې نو مجهول العین نه شوبلکه مجهول الحال او صفت شو اودا د حدیث صحت ته څه نقصان نه رسوی.

② د دې روایت څه څوارلس متابع روایات موجود دی کوم چې په تفصیل سره په نصب الرایه او عمدةالقاری (۱)کښې موجود دی.نو ابوزید په خپل روایت کښې منفرد هم نه دې

دویم اشکال: په دې سند کښې ابوفزاره دې کوم چې مجهول دې دا معلومه نه ده چې د دې څخه راشدبن کیسان دې اوکه بل څوك دې؟

جواب: د ابوفزاره څخه مراد راشدبن کیسان دې یعنی بن معین ، ابن عدی ،ابن عبدالبر ،دارقطني او امام بیهقی د دې تصریح کړې ده(۲).او د دوی څخه جم غفیر روایت کوی نو دې مجهول نشو.

دریم اشکال: دا روایت ځکه صحیح نه دې چې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د نبی کریم صلى الله عليه وسلم سره په لیلة الجن کښې موجود نه وو.

---

(۱) عمدة القاري باب لا يجوز الوضوء بالنبيذ والمسكر (۱۸۰\۳)-
(۲) تهذيب التهذيب (۲۲۷\۳)-

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د نبی کریم ﷺ سره په لیلة الجن کښې موجود وو پخپله امام ترمذی په ترمذی کښې د دې تصریح کړې ده ((وکان روایة اسماعیل اصح من روایة حفص بن غیاث))(١)اود اسماعیل په روایت کښې دی ((انه کان مع رسول الله ﷺ لیلة الجن الحدیث بطوله)) د دې څخه معلومه شوه چې ابن مسعود ورسره وو.په دویم جلد کښې هم دی چې نبی کریم ﷺ د ابن مسعود رضي الله عنه څخه ګول کړبنه تاؤ کړه او ورته ئې اوفرمائیل چې د دې کرښې څخه بهر مه اوځه اوامام ترمذی دغه روایت هم صحیح ګرځولې دې. (٢)

انصافی خبره: بعضې احنافو دضعف حدیث اعتراض رفع کولو دپاره دحدیث دثابتولو کوشش کړې دې.خو حقیقت دادې چه دا توجیهات دتکلف څخه خالی نه دی.اوچه کله د امام صاحب رحمه الله د جمهورو قول ته رجوع ثابته ده نو بیا د دې تکلف څخه ډك جوابابونو ته څه ضرورت دې.د دې وجې امام طحاوی رحمه الله اوعلامه زیلعی رحمه الله غوندې حنفی محدثینو هم ددې حدیث ضعف تسلیم کړې دې.والله اعلم

[٣٨٢] د پیشو د جوټې حکم

٣٨٢—(٢) [٨] [١] «وَعَنْ كَبْشَةَ بِنْتِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - وَكَانَتْ تَحْتَ ابْنِ أَبِي قَتَادَةَ - [٢] أَنَّ أَبَا قَتَادَةَ دَخَلَ عَلَيْهَا، فَسَكَبَتْ لَهُ وَضُوءًا، [٣] فَجَاءَتْ هِرَّةٌ تَشْرَبُ مِنْهُ، [٤] فَأَصْغَى لَهَا الْإِنَاءَ حَتَّى شَرِبَتْ، [٥] قَالَتْ كَبْشَةُ: فَرَآنِي أَنْظُرُ إِلَيْهِ، فَقَالَ: [٦] أَتَعْجَبِينَ يَا ابْنَةَ أَخِي؟ قَالَتْ: فَقُلْتُ: نَعَمْ. [٧] فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ، [٨] إِنَّهَا مِنَ الطَّوَّافِينَ عَلَيْكُمْ أَوِ الطَّوَّافَاتِ» ". رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [١] د بي بي کبشه بنت کعب بن مالك څخه چې د ابو قتاده رضي الله عنه د خوي ښځه وه روایت دی [٢] چې یوه ورځ د هغه سخر (خسر) ابو قتاده رضي الله عنه هغې ته راغې بي بي کبشه وايي چې ما د هغه د اودس د پاره په یو لوښي کې اوبه کینبودلې [٣] یوه پیشو (پشي) راغله د هغه څخه يي اوبه څکل شروع کړل [٤] ابو قتاده رضي الله عنه د هغې طرف ته لوښي ښکته کړو (چې په اساني سره اوبه وڅکي) نوپیشو (پشي) اوبه وڅښلې [٥] بي بي کبشه وايي ابو قتاده رضي الله عنه چې زه ولیدم چې زه په تعجب سره هغه طرف ته ګورم نو هغه اوویل [٦] زما وریري تاته په دې تعجب کیږي؟ ما اوویل چې هو [٧] ابو قتاده رضي الله عنه اوویل چې حضور ﷺ وفرمایل پیشوګانې (پشیاني) ناپاکه نه دي [٨] ځکه چې دوي تاسو ته د تلونکو راتلونکو والو څخه

(١) ((باب کراهیة ما یستنجی به))

(٢) جامع الترمذی ابواب الامثال (٢/١٠٩)-

(٣) اخرجه مالک فی الموطا کتاب الطهارة باب الطهور للوضوء (رقم- ١٣) وابوداود کتاب الطهارة . باب سؤر الهرة (رقم- ٧٥) اخرجه ابود داود کتاب الطهارة . باب سؤر الهرة (رقم- ٧٦) والترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی سؤر الهرة (رقم- ٩٢) والدارمی کتاب الطهارة/باب الهرة إذا ولغت فی الإناء (رقم-٧٦٣)

دي یا دا یې وفرمایل چې تلونکې راتلونکې دي، ‹ مالك احمد ترمذي ابوداؤد نسائي ابن ماجه دارمي›

حل اللغات: ① فَسَكَبْتُ: اوبه مې واچولې، ② فَأَصْغَى: أَيْ: أَمَالَهُ: لوښې ئې ورته ښکته کړو. ③ الطَّوَّافِينَ أَوِالطَّوَّافَاتِ: بار بار تلونکې راتلونکې، او د راوی شک دې چه نبی علیه السلام د مذکر صیغه استعمال کړې وه اوکه د مؤنث.

تسهیلات:

قوله: يَاابْنَةَ أَخِي؟:

د ابنة اختی محمل: حضرت قتاده ﷺ د عربو دعادت مطابق کبشه ﷺ ته ئې رور او د هغه لور ته ئې لور اووئیله، ددې نه اسلامی رورولی مراد ده ، رشته دارې ترې مراد نه ده.

قوله: أَنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ:

اشکال: د نجس لفظ مذکر دې نو د هرة دپاره څنګه استعمال شو؟

داشکال دوه جوابونه: ① ددې یو عام شان جواب په طور د لطیفې دادې چې ‹زیدهاً هو› یعنی که ددې نه لفظ مراد اخلې نو دمذکر ضمیر به راوړې. څکه چې زید مذکر دې لیکن که زید سره د کلمة اراده اوکړې نو مؤنث هم جائز دې. دا لطیفه هر ځائې کښې چلیږی.

② شیخ عبدالحق صاحب رحمة الله علیه په لمعات کښې فرمائی چې د مشکوة او مصابیح په ټولو نسخو کښې دا لفظ هم داشان مذکر دې. خو په شروحاتو کښې دا ‹انها نجسة› تانیث سره راغلې دې. شیخ فرمائی چې د ترمذی ځینو زړو نسخو کښې دالفظ تذکیر سره راغلې دې . داسې معلومیږی چې د حدیث پاك اصل لفظ نجس مذکر دې. چا په دې کښې تغیر کړې دې او ددې نه ئې نجسة جوړې کړې دې. او شروحاتو دا ذکر کړو، د راتلونکی حدیث معامله هم څه داشان ده.

دمؤنث دپاره د مذکر صیغې د استعمال وجه: شیخ عبدالحق رحمه الله فرمائی چې د مؤنث د پاره د مذکر صیغه په دې وجه استعمال شوې ده چې د هرة نه سنور مراد اخستې شوې دې. دې پسې راتلونکی د حضرت عائشه رضی الله عنها حدیث پاك کښې لفظ هریسه راغلې دې.

د پیشود جوټې په حکم کښې مذاهب:

① سور هره دامام اوزاعی رحمه الله په نیز نجس ده.

② دائمه ثلاثو او د امام ابویوسف رحمه الله په نیز بلاکراهت طاهره ده

③ د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نیز مکروه ده. بیاامام طحاوی رحمه الله ورته مکروه تحریمی وائی اوامام کرخی تنزیهی اکثراحنافو دکرخی روایت ته ترجیح ورکړې

Maktaba Tul Ishaat.com

ده.او په کراهت تنزيهي ئې فتوی ورکړې ده.

د سؤرالهرة د نجاست دليل: په مسند احمد وغيره کښې دحضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث دې. ((قال كان النبي صلى الله عليه وسلم يأتي دار قوم من الانصار ودونهم دار فشق ذلك عليهم فقالوا يارسول الله ﷺ تأتي دار فلان ولا تأتي دارنا فقال النبي ﷺ لان في داركم كلبا قالوا فان في دارهم سنو فقال النبي صلى الله عليه وسلم السنور سبع))

ددې حديث دآخرى جمله د ((السنور سبع)) څخه د امام اوزاعي رحمه الله استدلال دې.دې جمله کښې پيشودرنده شمارلې شوې ده.او د درنده جوټه پليته وی.

د اول فريق د دليل دوه جوابونه:

① خو حافظ جمال الدين زيلعي رحمه الله په نصب الرايه. کښې فرمائی چه دا حديث ضعيف دې ([1])

② په مجمع الزوائد([2]) ، کښې علامه هيثمي رحمه الله ددې حديث ذکرکولو نه پس فرمائی ((وفيه عيسى بن المسيب وهو ضعيف)) دې څخه علاوه که استدلال تسليم هم شی نو بيا هم هره به په علت د کثرت طواف او عموم بلوی د سور سباع د حکم څخه خارج وی.

د عدم نجاست دلائل: ① د عدم نجاست سورالهرة دپاره د حضرت ابوقتاده رحمه الله حديث الباب دليل دې.په دې کښې ابوقتاده پشو ته لوښې ورښکته کوی چې هغه ترې اوبه اوڅکی معلومه شوه چې د پيشو جوټه پليته نه ده.

② په ابوداؤد کښې دی ((حدثنا عبدالله بن مسلمة قال حدثنا عبدالعزيز عن داؤد بن صالح بن دينار التمار عن امه ان مولاتها ارسلتها بهريسة الى عائشة فوجدتها تصلي فأشارت الى ان ضعيها فجاءت هرة فأكلت منها فلما انصرفت أكلت من حيث أكلت الهرة فقالت ان رسول الله ﷺ قال انها ليست بنجس انما هي من الطوافين عليكم وقد رأيت رسول الله ﷺ يتوضأ بفضلها ([3])

③ واخرج مسدد في مسنده عن ام سلمة انه اهدي لها قصعة فيها خبز ولحم فقامت الى الصلاة وقمنا نصلي فخالفت هرة الى الطعام فأكلت منه الى ان سلمنا اخذت ام سلمة القصعة فدورها حتى كان حيث أكلت الهرة من نحوها منه ([4])

④ عن الركين بن الربيع عن عمته ان الحسن بن علي رضي الله عنهما قال لا بأس بسور الهرة ([5])

⑤ عن ابي سعيد الجابري ان عليا سئل عن الهرة تشرب من الاناء قال لا بأس بسور الهرة ([6])

د کراهت دلائل: ① د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل امام طحاوی رحمه الله ذکر کړې دې. ((ابوبكرة

---

[1]) ۱۳۵،۱۳۴/۱ فصل في الاسار وغيرها الحديث السابع والاربعون ۱۲) _

[2]) باب في السنور والكلب ۱۸۶/۱، ۱۸۷

[3]) (ابوداؤد ۱۱/۱ باب سورة الهرة)-

[4]) المطالب العالية لابن حجر ۱/۱۱ رقم ۱۹)-

[5]) المطالب العالية لابن حجر (۱۱/۱) رقم ۳۰)-

[6]) المطالب العالية لابن حجر (۱۱/۱) رقم ۳۱)-

حدثنا قال ثنا ابوعاصم عن قرة بن خالد قال ثنا محمد بن سيرين عن ابي هريرة عن النبي ﷺ قال طهور الاناء ان اولغ فيه الهر أن يغسل مرة او مرتين هكو)) (۱)بیا امام طحاوی فرمائی ((هذا حديث معضل الاسناد))

اشکال: په دې اعتراض شوې دې.چه هم داحدیث هشام بن حسان د محمدبن سیرین څخه موقوف علی ابی هریرة روایت کړې دې.د دې وجې په دې کښې وقفًا او رفعًا اضطراب پیدا شو

جواب: امام طحاوی رحمه الله فرمائی چې د محمدبن سرین دا عادت دې.چه هغه د حضرت ابوهریره رضی الله عنه حدیث موقوفًا ذکر کوی.حال دادې چه هغه مرفوع وی.ددې دلیل امام طحاوی رحمه الله دا بیان کړې دې. ((حدثنا ابراهيم بن ابي داؤد» قال ثنا ابراهيم بن عبدالله الهروي قال ثنا اسمعيل بن ابراهيم عن يحي بن عتيق عن محمد بن سيرين انه كان اذا حدث عن ابي هريرة رضي الله عنه فقيل له عن النبي صلى الله عليه وسلم فقال كل حديث ابي هريرة عن النبي (۲) ﷺ) دې څخه معلومه شوه چه محمدبن سیرین رحمه الله چه کوم روایت هم د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت کوی هغه به مرفوع وی.که د مرفوع کیدو تصریح اوکړی اوکه نه.نو دا اضطراب رفع شو.

② امام طحاوی رحمه الله دابوهریره رضی الله عنه دا اثرهم نقل کړې دې.((يغسل الاناء من الهر كما يغسل من الكلب))(۳)

③ د ابن عمر رضی الله عنه اثرهم امام طحاوی رحمه الله په ((شرح معاني الآثار)) کښې نقل کړې دې.((عن ابن عمر انه قال لاتوضوا من سور الحمار ولا الكلب ولا السنور))

طریقه د استدلال دا ده چې یو طرف ته د طهارت روایات دی او بل طرف ته د نجاست روایات دی.نو په قدر مشترك به عمل کولې شی چې مکروه دې

آخری فیصله: روایة الباب اګرچې صحیح دې خو اعتراض پرې هم شوې دې.د دې په مقابل کښې هم صحیح روایات شته.نو درمیانه لاره به اختیار کړې شی چې کراهت تنزیهی دې.اوهغه هم په دې صورت کښې چې ماء مطلق اوبه وی که مآء مطلق نه وی نو بیا خو بلاکراهته په سور الهره باندې اودس کول جائز دی.

نوټ: دا خبره دې په ذهن کښې وی چې د سورالهرة په باره کښې چې د طهارت یا د کراهت تنزیهی کول اقوال دی.دا په هغه وخت کښې دی چې پیشو مګه نه وی خوړلې اوکه مګه ئې خوړلې وی او سمدستی ئې اوبه جوته کړې نو بیا به ئې جوته پلیته وه او هغه جوته شوې څیز به پلیت وی.

---

۱) شرح معانی الآثارباب سورالهرة)-
۲) طحاوی ۱۱۱ باب سورة الهرة) _
۳) حواله بالا۱۲) _

Maktaba Tul Ishaat.com

[۴۸۳] د پيشو په جوټه داودس كولو حكم

۴۸۳-() [۹] [۱] «وَعَنْ دَاوُدَ بْنِ صَالِحِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ أُمِّهِ، [۲] أَنَّ مَوْلَاتَهَا أَرْسَلَتْهَا بِهَرِيسَةٍ إِلَى عَائِشَةَ. [۳] قَالَتْ: فَوَجَدْتُهَا تُصَلِّي، فَأَشَارَتْ إِلَيَّ: أَنْ ضَعِيهَا، [۴] فَجَاءَتْ هِرَّةٌ، فَأَكَلَتْ مِنْهَا، [۵] فَلَمَّا انْصَرَفَتْ عَائِشَةُ مِنْ صَلَاتِهَا، أَكَلَتْ مِنْ حَيْثُ أَكَلَتِ الْهِرَّةُ.

ترجمه: [۱] د اود بن صالح بن دينار رحمه الله د خپلې مور څخه نقل كوي [۲] چې يوه ورځ د هغې آزادونكې مالكې هغې ته هريسه [چې غوښې او غنم گډ پاخه شي او هريسه شي. اردو ژبه كې ورته حليم وايي.] وركولو سره يې د بې بې عائشې رضي الله عنها په خدمت كې وليږله [۳] د هغه مور وايي چې زه هلته ورسيدم نو بې بې عائشې رضي الله عنها مونځ كولو هغې په اشاره سره د هغه د ايښودلو د پاره ماته او ويل (نو ما د هريسه لوښى كيښودل په دې كې) [۴] يوه پشو (پشي) راغله د هغې څخه يې خوړل شروع كړل [۵] بې بې عائشه رضي الله عنها چې د مانځه څخه فارغه شوه نو پشو (پشي) چې كوم طرف ته حريره خوړلي وه هم د هغه طرف څخه يې وخوړله

[۶] فَقَالَتْ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ، [۲] إِنَّهَا مِنَ الطَّوَّافِينَ عَلَيْكُمْ ". [۳] وَإِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأُ بِفَضْلِهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] بيا يې وفرمايل د حضور صلى الله عليه وسلم ارشاد دې چې (پشو) پشي ناپاكه نه ده [۲] او هغه تاسو ته د تلونكو راتلونكو څخه ده [۳] او ما خپله حضور صلى الله عليه وسلم د پيشو (پشي) په جوټه (پسخورده) اوبو سره په اودس كولو ليدلى دې. ابوداؤد

حل اللغات: ① مَوْلَاتَهَا: آزادونكې مالكه، ② بِهَرِيسَةٍ: چه غوښه او د غنمو اوړه يو ځاى پاخه شي لكه حليم سالن. ③ بِفَضْلِهَا: باقي پاتې شوې اوبه.

[۴۸۴] د خر او درنده د جوټې حكم

۴۸۴ - () [۱۰] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [۲] «سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَتَوَضَّأُ بِمَا أَفْضَلَتِ الْحُمُرُ؟ [۳] قَالَ: " نَعَمْ، وَبِمَا أَفْضَلَتِ السِّبَاعُ كُلُّهَا» " رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: [۱] حضرت جابر رضي الله عنه راوي دي [۲] چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه آيا مونږ په هغه اوبو سره اودس كولى شو چې خرو پسخورده (جوټه) كړي وي [۳] حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل هو [په هغه اوبو سره اودس كول جائز دي] او په هغه اوبو سره هم اودس كول جائز دي چې درندگانو پسخورده (جوټه) كړي وي. (شرح السنة)

---

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة، باب سؤر الهرة (رقم - ۷۶)

(۲) اخرجه شرح السنة في كتاب الطهارة باب غسل النجاسة الكلب... رقم الحديث ۲۲۴

حل اللغات: ① أَفْضَلَتِ الْحُمُرُ: د خرو جوټه شوې باقي پاتې اوبه.② السِّبَاعُ: درنده ګانوته په عربي کښې سباع وائي لکه ازمرې، ميلو، ليوه، لومبړه وغيره شو.

تسهيلات:

قوله: السِّبَاعُ كُلُّهَا: د درنده ګانو ځناورو په جوټه کښې اختلاف دې.

د درندګانو د جوټې په حکم کښې مذاهب:

① دَ ځنګلي درنده ګانوجوټه دَمالکيه اوشافعيه په نيزپاکه ده

② دَ احنافو او دَ يوقول مطابق دَ حنابله په نيزناپاکه ده.

داول فريق دلائل: ① زيربحث روايت داول فريق دليل دې.کوم چې په خپله مدعا باندې واضح دليل دې. ② حديث نمبر(۴۸٦)او (۴۸۸) هم د دوی مستدل دې

د دويم فريق دلائل: ① دَ شريعت هغه ضابطه د دوی مستدل دې په کومم کښې چه ليکلي دی چه دَ کوم څيزچه غوښه حرام ده دَهغې جوټه هم حرام ده ځکه چه لعاب هم دَ غوښې نه راپيدا کيږی.

② په فصل الثالث د حضرت عمرو بن عاص رضي الله عنه روايت هم د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دا الفاظ دی: "هل تردحوضك السباع" داسوال دَدې خبرې دليل دې چه حضرت عمروبن العاص رضي الله عنه به دَ درنده ګانوجوټه ناپاکه ګڼړله ګنی دَ سوال څه ضرورت وو. داحديث دَ شوافع دليل دې که چرې دَ مذکوره الفاظو نه احنافو استدلال کړې دې.

د اول فريق د دليل درې جوابونه: ① دلته دَيقين خبره نشته بلکه صرف يو احتمالي خبره ده چه کيدې شی درنده ګانو په اوبو کښې خله وهلې وی حضورپاك داردکړه ځکه چه "اليقين لايزول بالشك"

② شيخ عبدالحق رحمه الله په لمعات کښې داجواب ورکړې دې چه په طهارت باندې دلالت کونکی رواياتو باندې کلام دې.

③ دا روايات دَ غټو حوضونو متعلق دی په کوم کښې ماء کثيروی او په هيڅ شان سره ناپاکه کيږی نه. [اشعة المعات:۱/۲۶۷]

قوله: بِمَا أَفْضَلَتِ الْحُمُرُ؟:

د خر د جوټې حکم: دَاحنافو په نيزدَخرجوټه مشکوك ده يعنی دَ دلائلو په تناظرکښې چه کوم شك شبه راځی دَهغې دَ وجې نه مشکوك ده ګنی شريعت ته په حکم اوورولو کښې هيڅ شك نشته.

د خرد جوټې په حکم کښې د شك سبب: په پوهيدلو کښې شك داسې راغلوچه دَخرغوښه حرامه ده دَ کوم چه تقاضا ده چه دَ ده لاړې او خوله دواړه نجس دی. ليکن حضورپاك به

Maktaba Tul Ishaat.com

خرباندې سورلی کړې ده نولامحاله به خوله لګيدلې وی. حضورپاك دَدې دَنجاست هيڅ څه خبره نه خودلې نوخوله ئې پاکه شوه اوچونکه دَ خولې په شان لاړې هم دَ غوښې نه متولددی نولاړې هم دغه شان پاکيدل پکاردی دَدې وجې نه شك پيدا شو نومسئله مشکوك شوه لهذا په مشکوك اوبو سره به اول اودس اوکړې شی بيابه تيمم کيږی.

دَمذکوره حديث تعلق کيدې شی چه حماروحشی سره دې اوهغه حلال دې.

[۴۸۵] د اوړو سره خلط شوې اوبو باندې د اودس کولو حکم

۴۸۵ -() [۱۱] ①وَعَنْ أُمِّ هَانِئٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ②" اغْتَسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ وَمَيْمُونَةُ فِي قَصْعَةٍ③ فِيهَا أَثَرُ الْعَجِينِ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَةَ.

ترجمه: ① او بي بي ام هاني ﷞ راويه ده② چې حضور ﷺ او بي بي ميموني ﷞ په يو طشت کې غسل وکړلو ③چې په هغه کې د اغړلی(اخښل) شوو وړو څه حصه لګيدلې وه (نسائي ابن ماجه)

حل اللغات: ① قَصْعَةٍ: أَيظَرْفٌ كَبِيرٌ: لوئې لوښې، خانک، لګن. ② الْعَجِينِ: وَهُوَالدَّقِيقُ الْمَعْجُونُ: اغړلی شوی اوړو ته دقيق وائی.

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۸۶] د درندګانو جوټه شوې حوض حکم

۴۸۶ -() [۱۲] ①وَعَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: ②إِنَّ عُمَرَ خَرَجَ فِي رَكْبٍ فِيهِمْ عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ③ حَتَّى وَرَدُوا حَوْضًا.④ فَقَالَ عَمْرٌو: يَا صَاحِبَ الْحَوْضِ، هَلْ تَرِدُ حَوْضَكَ السِّبَاعُ؟⑤ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: يَا صَاحِبَ الْحَوْضِ، لَا تُخْبِرْنَا،⑥ فَإِنَّا نَرِدُ عَلَى السِّبَاعِ وَتَرِدُ عَلَيْنَا. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ① يحيي بن عبد الرحمن فرمايي ② چې حضرت عمر بن خطاب ﷛ د يوي قافلي سره چې په هغې کې عمرو بن عاص ﷛ هم وو لاړلو(روان شو) ③ هرکله چې (اهل قافله په څنګل کې) يو تالاب ته ورسيدل④ نو عمرو بن عاص ﷛ پوښتنه وکړه اي د تالاب مالکه آيا ستا دي تالاب ته (د اوبو څکلو د پاره) درندګان هم راځي؟⑤ (په دې اوريدو سره) حضرت عمر بن خطاب ﷛ وفرمايل اي د تالاب مالکه د دې ښودلو هيڅ ضرورت نشته ⑥ څکه چې مونږ په درندګانو راځو او درندګان په مونږ راځي (يعني کله مونږ اوبو ته راځو او کله درندګان اوبو ته راځي) او په تالاب کې اوبه زياتي دي په دې وجه د درندګانو په څکلو سره نه ناپاکه کيږي، مالك

[1] اخرجه النسائی کتاب الطهارة/باب ذکر الاغتسال فی القصعة التی يعجن فيها(رقم-۲٤۰)باب ذکر الاغتسال فی القصعة التی يعجن فيها (رقم- ۲٤۰) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب الرجل والمرأة يغتسلان من إناء واحد (رقم- ۳۷۸)
[2] اخرجه مالک فی الموطا کتاب الطهارة باب الطهور للوضوء (رقم- ۱٤)

حل اللغات: ① رَكْبٌ: أَيْ: جَمَاعَةٍ مِنَ الرَّاكِبِيْنَ: په اسونو وغيره د سورو قافلې ته رکب وائي. ② وَرَدُوا حَوْضًا: اورسيدل يو تالاب ته.

۳۸۷—()[۰] ①وَزَادَ رَزِيْنٌ، قَالَ: ②زَادَ بَعْضُ الرُّوَاةِ فِي «قَوْلِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: وَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ يَقُوْلُ: "لَهَا مَا أَخَذَتْ فِي بُطُوْنِهَا، وَمَا بَقِيَ فَهُوَ لَنَا طَهُوْرٌ وَشَرَابٌ»".

ترجمه: ① او رزين ويلي دي چې بعضې راويانو د حضرت عمر رضي الله عنه په دي قول کې دا الفاظ زائد نقل کړي دي چې حضرت عمر رضي الله عنه وايي چې ماخپله د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې درندګان څه په خپله خيټه کې يوسي هغه د هغوئ دي او څه چې باقي پاتې شي هغه زمونږ د څکلو قابل او پاکونکي دي.

[۳۸۸] د حوضونو د اوبو حکم

۳۸۸—()[۱۳] ①وَعَنْ أَبِي سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، ②«أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صلى الله عليه وسلم سُئِلَ عَنِ الْحِيَاضِ الَّتِي بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِيْنَةِ ③تَرِدُهَا السِّبَاعُ وَالْكِلَابُ وَالْحُمُرُ عَنِ الطُّهْرِ مِنْهَا ④فَقَالَ: "لَهَا مَا حَمَلَتْ فِي بُطُوْنِهَا، وَلَنَا مَا غَبَرَ طَهُوْرٌ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① ابوسعيد خدري رضي الله عنه راوي دي ② چې رسول الله ﷺ څخه د هغه تالابونو په باره کې پوښتنه وشوه چې د مکې او مدينې په مينځ کې واقع دي ③ او هغې ته (د اوبو څکلو د پاره) درندګان (درندي) سپي او خره راځي آيا په دي سره څه شي پاك كيدي شي يا نه؟ ④ حضور ﷺ وفرمايل څه چې د هغوئ په خيټو کې راشي هغه د هغوئ دي او څه چې باقي پاتې شي هغه زمونږ د پاره پاکونکي دي. (ابن ماجه)

حل اللغات: ① الْحِيَاضِ: أَيِ الْغُدْرَانُ: د حوض جمع ده، تالابونو ته وائي. ② غَبَرَ: أَيْ: بَقِيَ: باقي پاتې.

[۳۸۹] په نمر ګرمې شوې اوبو باندې غسل کول

۳۸۹—()[۱۴] ①وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ②لَا تَغْتَسِلُوْا بِالْمَاءِ الْمُشَمَّسِ، ③فَإِنَّهُ يُوْرِثُ الْبَرَصَ. رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: ① د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه په باره کې روايت دي چې هغه وفرمايل ② چې د نمر په ګرمۍ کې د ګرمو شوو اوبو سره غسل مه کوئ ③ ځکه چې دا د برص (برګي) بيماري سبب وي. دارقطني

حل اللغات: ① الْمُشَمَّسِ: وَهُوَ أَنْ يُوْضَعَ الْمَاءُ فِي الشَّمْسِ لِيُسَخَّنَ: هغه اوبه چه په نمر ګرمي شي. ② يُوْرِثُ: پيدا کوي، ③ الْبَرَصَ: برګي مرض دې چه په بدن باندې په څرمن سپين چاپونه پيدا شي.

[۱] اخرجه رزين
[۲] اخرجه ابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب الحياض (رقم- ۵۱۹)
[۳] اخرجه الدارقطني في السنن رقم الحديث ۴ من باب الماء مسخن

Maktaba Tul Ishaat.com

[۸/۱۳] بَابُ تَطْهِيرِ النَّجَاسَاتِ

دَ نجاستونو دَ پاکولو بيان

خلاصة الباب:

فيه أربعة وعشرون حديثاً مشتملة على تسع مسائل:

① طريق التطهير عن ولوغ الكلب: ۱.

② طريق تطهير الأرض: ۲، ۳، ۲۳.

③ طريق تطهير الدم من الثوب: ۴.

④ طريق تطهير المني من الثوب: ۵، ۶.

⑤ طريق تطهير بول الغلام والجارية: ۷، ۱۱.

⑥ طريق تطهير النعل والرجل: ۱۲، ۲۱، ۲۲.

⑦ طريق تطهير النجاسة اليابسة: ۱۳.

⑧ حكم بول مايؤكل لحمه: ۲۴.

⑨ حكم الجلود: ۸، ۹، ۱۰، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰.

د نجس لغوی معنی: لفظ نجس دَ باب سمع اوكرم دواړونه راځی صاحب قاموس ليکلی دی چه دَنجس په جيم باندې کسره او فتح دواړه لوستلې شی.

دنجس اصطلاحی تعريف: دَ فقهاء کرامو په اصطلاح کښې که چرې دَجيم کسره وی نودا عين اوذات نجاست ته وئيلی شی اوکه چرې دَجيم فتح وی نودا عام دې ذات نجاست ته هم وائی اوهغه څيزته هم وائی کوم سره چه نجاست لګيدلې وی.

الْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۴۰] د سپی جوټه شوې لوښي اووه ځله وينځل

۴۰-(۱) [۱] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِذَا شَرِبَ الْكَلْبُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَلْيَغْسِلْهُ سَبْعَ مَرَّاتٍ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۳] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: («طَهُورُ إِنَاءِ أَحَدِكُمْ إِذَا وَلَغَ فِيهِ الْكَلْبُ [۴] أَنْ يَغْسِلَهُ سَبْعَ مَرَّاتٍ، أُولَاهُنَّ بِالتُّرَابِ»).

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هرکله چې په تاسو کې د چا په لوښي کې سپي اوبه وڅکي نو هغه لوښي اووه ځله وينځل پکار دي،

---

[1] اخرجه البخاري كتاب الوضوء باب الماء الذي يغسل به شعر الإنسان (رقم-۱۷۲) ومسلم كتاب الطهارة باب حكم ولوغ الكلب. رقم (۹۰ - (۲۷۹)

بخاري، مسلم،[۳] او د مسلم په يوروايت کې دا الفاظ دي: په تاسو کې چې د چا په لوښي کې سپي اوبه وڅکي نو د هغه لوښي د پاکولو صورت دا دي[۴] چې هغه اووه ځله ووينځئ او په اولني ځل يې په خاورو سره ووينځي.

حل اللغات: ① وَلَغَ: إِذَا شَرِبَ بِلِسَانِهِ: د سپی په ژبې سره اوبو څکلو ته وائی. يعنی څټل

تسهیلات:

قوله: إِذَا شَرِبَ الْكَلْبُ:

د سپی د جوټې دپاره عربی الفاظ: دَ سپو او ځناورو په يو لوښی کښې خله وهلو دَپاره په عربی کښې څه مخصوص الفاظ راخی چنانچه وئيلی شی: [ولغ ولغا وولوغا اذا ادخل الكلب او السبع لسانه في الماء، حركه فيه ولحس الكلب لحسا فاذا كان الاناء خاليا فهو لحس واذا كان فيه شئ فهو ولغ] يعنی دَ ژبې په غاړه باندې چه سپی او ځناور وغيره کومې اوبه څټی هغې ته ولغ وائی.

د سپي د جوټې په حکم کښې مختلف رواايات: دَ سپی جوټې نه دَ پاکئی حاصلولو په باره کښې مختلف احاديث راغلی دی.

① بعضې کښې "سبع مرات" ذکردې.
② بعضې کښې دَ اتو ځلو وينځلو ذکردې.
③ بعضې کښې دَ درې ځلو وينځلو ذکردې.
④ بعضې کښې دَ پنځو ځلو وينځلو ذکردې
⑤ بعضې کښې دَ درې ځلو وينځلو ذکردې.
⑥ بعضې رواياتو کښې وينځلو سره دَ خاورې مږلو ذکرهم راغلې دې
⑦ بعضې رواياتو کښې په شروع کښې دَ خاورې دَ استعمال حکم دې،
⑧ بعضې کښې په آخره کښې دې،
⑨ بعضې کښې په اووم ځل خاورې استعمال تعليم دې.
⑩ بعضې رواياتو کښې په اتم ځل دَ خاورې دَ استعمال خبره ده.

دَ رواياتو دَ دې اختلاف دَ وجې نه په فقهاء کرامو کښې هم اختلاف راغلې دې. ليکن دا ياد ساتئی چه دلته په دوو مسئلو کښې جدا جدا اختلاف دې.

د سور الکلب په حکم کښې مذاهب:

دسور کلب په باره کښې دفقهاؤ اختلاف دې .

① د امام مالک رحمه الله په نزد دې سره لوښې نه پلتيږی . البته داووځلو وينځلو حکم تعبدی دې يعنی دَ شريعت حکم دې دَ نجاست دَ وجې نه نه بلکه شريعت دَ وينځلو فرمائيلی دی نو مونږ ئې وينځو. دا څيز په عقل کښې راتلونکې نه دې اودا نص غير معقول المعنی اودَ

Maktaba Tul Ishaat.com

قياس خلاف دي.

۞ دجمهورو په نزد سور کلب نجس دي.

داول فريق اول دليل: ۞ دَ قرآن مجيد دَ آيت نه دوی استدلال کړې دې. چې دَ ښکاری سپو باره کښې دَ قرآن پاك حکم دې چه کوموسپو ښکارکړې دې اوستاسو دَ پاره ئې راحصار کړې دې تاسو هغه خورئی. ﴿فَكُلُوا مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ﴾ طرز دَ استدلال داسې دې چه ښکار کله سپی په خله کښې نيولې دې نودَ هغه لعاب به خامخا لګيدلې وی او په قرآن کښې دَ هغې دَ خوړلو ذکر دې دَ وينځلو حکم نه دې. نو معلومه شوه چه دَ سپی په جوټې سره هغه ښکار نجس نه شو نودَ ده جوټه پاکه شوه.

د اول فريق د اول دليل جواب: که چرې دَ "کلوا" امر دَ يو قيد لحاظ کولونه بغير مطلق اخلئی نوبيا اوښايئی چه کچه غوښه به خورئی، وزرو کولمو او دَ وينې ککړ والی سره به ئی خورئی؟ ځکه چه په قرآن کښې خو "کلوا" راغلې دې يعنی خورئی که دَ وينځلو قيد نشته دې نودَ دې ټولو څيزونو هم قيد نشته دې. حالانکه دَ آيت مطلب دَ اقتضاء النص په توګه دا دې چه دَ دغه ښکار غوښه جوړه کړئی، وينځئی، پخه ئی کړئی او بيائی خورئی نو بغيردَ وينځلو دَ خوړلو ثبوت دَ چرته نه راغلو؟ کله چه آيت په لازمی توګه باندې مقيد دې نوبيا دَ وينځلو قيد هم شته دَ کوم نه چه دَ جوټې نجاست ثابتيږی.

د اول فريق دويم دليل: ۞ دَ بخاری شريف روايت د دوی مستدل دې کوم چه صاحب مشکوة فصل ثالث کښې دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنه په روايت سره نقل کړې دې چه [كانت الكلاب تقبل وتدبر في المسجد في زمان رسول الله صلى الله عليه وسلم فلم يكونوا يرشون من ذلك] نو ښکاره خبره ده چه کله سپی جمات ته تلل راتلل نو لعاب به ئی په جمات کښې پريوتل او دَ وينځلو ذکر نشته نومعلومه شوه چه دَ سپی جوټه پاکه ده.

داول فريق د دويم دليل دوه جوابونه:

۞ ترکومې چه په جماتونو کښې دَ سپو دَ تګ راتګ او لعاب غورزيدلو دليل دې نودَدې جواب دادې چه هغه نوې جمات وو دَ شګو ډيری وو ځه چارديواری نه وه دَ شپې به سپی راتلل دَ لعاب اومتيازو دَ ځائی پته به ئی نه لګيدله. ګرم ملك وودَ سخت نمر دَ وجې نه به زمکه پاک کيدله او "زکاة الأرض يبسها" باندې به عمل کيدلو.

۞ که چرې لعاب پريوتل او هغه پاك وو نو سپی خو به متيازې هم کوی دَ هغې دَ وينځلو هم ذکر نشته هغه هم پاکې شوې؟ علامه خطابی وئيلی دي چه کيدې شی چه هغه سپو بهر متيازې کولې او بيا جمات ته راتلل، نومونږ ورته اووئيل چه شاباش!

داول فريق دريم دليل: ۞ دَ بخاری شريف هغه حديث د دوی مسدل دې په کوم کښې چه دَ يوې فاجرې ښځې دَ مغفرت ذکردې چا چه په خپلو پنړو کښې دَ تګی سپی دپاره دَ

کوهی نه اوبه راویستلي او وروئی ځکولي.
طرز دَ استدلال داسې دې چه دغه موزي او ېنړې سره به دغه ښځې مونځ کړې وی اودَ وینځلو هیڅ ذکر نشته دې نومعلومه شوه چه دَ سپی جوټه پاکه ده.
د اول فریق د دویم دلیل جواب: دَ دغه فاجرې ښځې دَ موزې معامله هم مطلق نه ده بلکه وینځلوسره مقید ده که چرې دَ وینځلو ذکر نشته نودَ نوروځیزونو ذکرخو هم هلته نشته. بل دې سره دَ مونځ کولو تذکره هم نشته دې چه هغې هم دې سره مونځ هم کړې وو.
د دویم فریق دلائل:
① دحضرت ابوهریره رضی الله عنه حدیث د دوی مستدل دې. ((قال قال رسول الله ﷺ طهور اناء احدكم اذا ولغ فيه الكلب ان يغسله سبع مرات اولاهن بالتراب)) (مسلم شریف باب حکم ولوغ الکلب)
دې کښې د((ان یغسله)) الفاظ دا ښائی . چه حکم غسل دتطهیر دپاره دې اوتطهیر دهغه ځیز کیږی . چه هغه نجس وی دې وجه نه داحدیث دامام مالک رحمه الله خلاف حجت دې .
د دویم فریق دویم دلیل: ② جمهورو عقلی دلیل هم پیش کړې دې چه سپې ډیر زیات نجس دې دَ ده غوښه په اتفاقی توګه باندې حرامه ده نودَ ده نه پیدا شوې لعاب ځنګه پاک کیدې شی؟

د سور الکلب د تطهیر په طریقه کښې مذاهب:
دَ سپی دَ جوټې دَ تطهیر دَ طریقې په باره کښې دَ جمهورو په خپل مینځ کښې اختلاف دې.
① دَ امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نیز دَ سپی دَ جوټې تطهیر او پاکوالې په اووه ځل وینځلو باندې موقوف دې په کم سره به نه پاکیږی.
② امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی دَ سپی دَ جوټې پاکی درې ځل ویځلو سره حاصلیږی اودَ اووه ځل پورې مبالغه کول مستحب دی.
داول فریق دلیل: مذکوره حدیث د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دَ اووه ځل ذکر دې.
داول فریق د دلیل ښېړ جوابونه:
① دَ اووه ځل وینځلو روایت په استحباب باندې محمول دې او د درې ځل وینځلو روایت په فرض باندې محمول دې په دې کښې زمونږ هم اختلاف نشته دې.
② دَ اووه ځل وینځلو حکم دَ اسلام په شروع کښې وو دې دَپاره چه دَ سپو نفرت دَ مسلمانانو په زړونو کښې کینی روستو په دغه حکم کښې تخفیف اوشو.
③ دَ بحث په شروع کښې داخبره تیره شوې ده چه بعضې روایاتو کښې درې، پنځه او اووه ځل وینځلو کښې اختیارهم ورکړې شوې دې لکه ځنګه چه دَ دارقطنی په روایت کښې دی. کله چه اختیاردې نو اووه ځل وینځلو ته واجب نه شی وئیلې کیدې.

Maktaba Tul Ishaat.com

④ "اغلظ النجاسات" دَ خنزير جوته اودَ هغه گندگي، پخپله دَ سپی گندگی، دَ حیض وینه او نور نجاستونه ټول دري ځل وینځلوسره پاکیږی نودَ سپی جوته ولې نه پاکیږی؟ حالانکه په دې کښې خو اختلاف هم دې چه امام مالك رحمه الله دې ته پاك وائی.

⑤ دري ځل وينځل دَ طهارت دَ حصول دَپاره دی او اووه ځل دَ طب اوحکمت او دعلاج دَ پاره دی. هم په دې وجه په آخره کښې دَ خاورې ذکر راغلې دې ځکه چه په خاوره کښې نوشادر شامل دی په کوم سره چه دَ سپی دَ خلې جراثیم په خاص توگه باندې مړه کیږی. هم په دې وجه دَ دې حکمت تحقیق کله چه یو ډاکټر اوکړو نوهغه مسلمان شو ځکه چه دا حکمت صرف په وحی سره معلومیدې شی.

⑥ الزامی جواب دادې چه که چرې نه منئی نودَ حضرت عبدالله بن مغفل رضی الله عنه په روایت کښې دَ اته ځل وینځلو ذکر دې او دَ تتریب ذکر هم دې نو تاسو پخپله په حدیث باندې پوره عمل نه دې کړې.

د دویم فریق دلائل: ① دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه دَ روایت نه استدلال کړې دې کوم چه ابن عدی په خپل کتاب الکامل کښې ذکرکړې دې دکوم الفاظ چه دادی: [إذا ولغ الكلب فى إناء أحدكم فليهرقه وليغسله ثلاث مرات]

② دَحضرت ابوهریره رضی الله عنه دَ فتویٰ نه استدلال کړې دې په کوم کښې چه دري ځل دَ وینځلو ذکر دې او طحاوی او دارقطنی دا نقل کړی ده. هغوی داهم لیکلی دی چه دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه خپل عمل هم دَ دریو ځل وینځلو وو. په دې روایاتو سره دَ شوافعو مستدلات منسوخ پاتې کیږی.

[۴۹] دآسا نتیا پیدا کولو حکم

۴۹-() [۲] ①«وَعَنْهُ قَالَ: قَامَ أَعْرَابِيٌّ، فَبَالَ فِي الْمَسْجِدِ، ②فَتَنَاوَلَهُ النَّاسُ. فَقَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ③«دَعُوهُ وَهَرِيقُوا عَلَى بَوْلِهِ سَجْلًا مِنْ مَاءٍ - أَوْ ذَنُوبًا مِنْ مَاءٍ - ④فَإِنَّمَا بُعِثْتُمْ مُيَسِّرِينَ، وَلَمْ تُبْعَثُوا مُعَسِّرِينَ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې یوه ورځ یو صحرایي په مسجد کې په ولاړه متیازي وکړي② (په دي لیدو سره) خلق په هغه پسې پسې شو نو حضور ﷺ وفرمایل③ دي پرېږدئ او یو بوقه اوبه د ده په وړو بولو وبهیوئ او حضور ﷺ وفرمایل تاسو خلق اساني کونکي رالیږل شوي یئ د تنګي د پاره نه، (بخاري) (؟)جاري

(۱) اخرجه البخاری کتاب الوضوء باب صب الماء علی البول فی المسجد(رقم-۲۲۰) وابوداود کتاب الطهارة/ باب الأرض يصيبها البول (رقم- ۳۸۰)وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب الأرض يصيبها البول. كيف تغسل (رقم- ۵۲۹) والترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی البول یصیب الأرض (رقم- ۱۴۷) والنسائی کتاب الطهارة/باب التوقيت فی الماء (رقم-۵۶)

حل اللغات: ① لَتَنَاوَلَهُ: وريسي شو يعني: أي زَجْرُوهُ وَمَنَعُوهُ: بد رد ئې ورته اووئيل او منع ئې كړو. ② دَعُوهُ: أَيْ: اتْرُكُوهُ: پرېږدئ، ③ هَرِيقُوا: د أَهْرَاقَ يُهْرِيْقُ نه د امر صيغه ده، أَيْ: صُبُّوا: واړوئ پرې اوبه، ④ سَجْلًا أَوْذَنُوبًا: أَيْ: دَلْوًا: أو لفظ د راوی شک دې، د دواړو يوه معنی ده يعنی بوقه،بوكه (يا د سجلا معنی وړوكې بوقه او د ذنوبا معنی غټه بوقه)، ⑤ بُعِثْتُمْ: راليږلی شوی يئ، ⑥ مُيَسِّرِينَ: أَيْ: مُسَهِّلِينَ: خلقو سره آسانی او نرمی كونكی، ⑦ مُعَسِّرِينَ: خلقوسره سختی كونكی.

تسهيلات:

قوله: قَامَ أَعْرَابِيٌّ:

داعرابی تعريف: د عربو صحرانشينو ته أعراب وائی. دې طرفته نسبت اعرابی دې. يعنی كلی وال يا بانډيچی.

د مذكوره اعرابی نوم: ځينو ددې بانډيچی نوم ذوالخويصرة خودلې دې. دا يو جاهل كس وو. ترمذی كښې دی چې ده په مسجد نبوی كښې مونځ كولو نه پس دعا اوغوښتله: [اللهم ارحمني وارحم محمدا ولا ترحم معنا احدا] نبی كريم ﷺ ورته اوفرمائيل چې تا د يو فراخه رحمت د بندولو كوشش اوكړو. دې نه لږ ساعت پس دا كس په مسجد كښې اودريدو او متيازې ئې اوكړې. دا سړې دې نه پس د خوارجو مشر جوړ شو. ځينې وائی چې دده نوم اقرع بن حابس وو.

د زمكې په پاكولو كښې مذاهب:

① جمهور فرمائی كه زمكه پليته شی نو ددې د پاكولو صرف يوه طريقه ده چې اوبو سره دې اووينځلې شی .

② امام ابو حنيفه رحمة الله عليه فرمائی چې د پليتې زمكې د پاكولو درې طريقې دی. اول دا چې اوبو سره دې اووينځلې شی.دا اتفاقی صورت دې. دويمه دا چې ددې حصې خاوره دې كنستلوسره اوويستلې شی او نوې خاوره دې راوړی ورډكه دې كړې شی. دريمه طريقه داده چې زمكه دې دَ نمر په ذريعه سره اوچه كړې شی، اوچيدو سره زمكه پاكيږی. اوس كه چا د مسجد په مينځ كښې متيازې اوكړې . نو دا بهٔ كتلې شی كه فرش پوخ دې نو كپړا يا تولې سره دې دا اوچ كړې شی . بيا دې كپړا لمده كړې شی او په دې نجس ځائې دې اووهلې شی . دوه درې ځل داشان كولو سره به هغه ځائې پاك شی. په وسط مسجد كښْ اوبه تويول په پورا فرش باندې او بيا وينځل صحيح نه دی. او كه متيازې د پوخ فرش په غاړه باندې دی نو دا ځائې دې بالكل اووينځلې شی اوبه دې بهر طرفته اوغورزولې شی. او كه فرش كچه دې او خاوره مضبوطه ده نو دا دې اوكنستلې شی اودې غورزولې شی. او هلته دې پاكه خاوره واچولې شی. او كه خاوره شګلنه ده اوبه په كښې

Maktaba Tul Ishaat.com

جذب کيږی نو په دې باندې دې اوبه واړولې شی او ددې د جذب کيدو پورې دې انتظار اوکړې شی . دري ځل داسې کولو سره به زمکه پاکه شی. اوکه په دې باندې نمر لړی نو اوچيدو سره هم زمکه پاکيږی. البته جمهور ددې نه انکار کوی.

د اول فريق دلائل: ①زير بحث حديث د دوی مستدل دې په کوم کښې چه داوبو د استعمال ذکر دې.

② هغه حديث د دوی مستدل دې مذکور دی چې مسجد نبوی ته به سپی تلل راتلل. او دا به ئې نه وينځلو.

د دليلونو ځخه جواب: دا به په ذکورة الارض يبسها باندې عمل وو. دکوم تفصيل چې د احنافو په دليل کښې راځی.

د دويم فريق دليل: احنافو د مصنف ابن ابی شيبۀ يو حديث پاك ځخه هم استدلال کړې دې کوم چې د محمد بن حنفيه اثردې، فرمائی چې اذا جفت الارض فقد ذکت، يعنی کله چې زمکه اوچيږی نو پاکيږی.

آو په داسې زمکه باندې خو مونځ کيږی خو په دې تيمم نشی وهلې، ځکه چې په قران کريم کښې په نص قطعی سره دا قيد ذکر دې چې تيمم به په پاکه زمکه وهلې شی. او ذکورة الارض يبسها خبر واحد دې کوم چه دَ تيمم دجواز دپاره کافی نه دې.

[۴۹۲]په جمات کښې د بانديجی متيازې کول

۴۹۲—(۱) [۳] ۱ «وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ بَيْنَمَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِذْ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ، ۳ فَقَامَ يَبُولُ فِي الْمَسْجِدِ. فَقَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَهْ مَهْ. ۴ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُزْرِمُوهُ، دَعُوهُ". ۵ فَتَرَكُوهُ حَتَّى بَالَ،

ترجمه: ۱ او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي يوه ورځ زمونږ د رسول ﷺ سره په مسجد کې ناست وو ناګاه يو صحرايي سړي راغې ۳ او په مسجد کې يي په ولاړه متيازي کول شروع کړل (په دي ليدو سره) د حضور ﷺ صحابه ؤ هغه ته اوويل مه کوه مه کوه ۴ حضور ﷺ (په دي اوريدو سره) وفرمايل دي د وړو بولو کولو ځخه مه منع کوي بلکه دي پريږدي [چې متيازې وکړي ځکه که ستاسو د دهمکي سره د ده متيازې بندي شوې نو د ده د پاره به تکليف وي يا بيا داسې که د ده متيازې په يو ځاي کې وي نو څو ځايه به لاړي شي]، ۵صحابه ورضي الله عنهم پريښودو او هغه صحرايي (چې پوره) متيازي وکړي

(۱) اخرجه البخاری کتاب الوضوء باب ترک النبی صلی الله علیه وسلم والناس الأعرابی حتی فرغ من بوله فی المسجد (رقم-۲۱۹) والنسائی کتاب الطهارة ، باب التوقيت فی الماء (رقم-۵۳) ومسلم کتاب الطهارة باب وجوب غسل البول وغيره من النجاسات إذا حصلت في المسجد. وأن الأرض تطهر بالماء، من غير حاجة إلى حفرها(رقم* ۹۹ - (۲۸٤) والترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی البول يصيب الأرض (رقم- ١٤٨)

[۱] ثُمَّ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَاهُ، فَقَالَ لَهُ: [۲] "إِنَّ هٰذِهِ الْمَسَاجِدَ لَا تَصْلُحُ لِشَيْءٍ مِنْ هٰذَا الْبَوْلِ وَالْقَذَرِ، [۳] إِنَّمَا هِيَ لِذِكْرِ اللهِ، وَالصَّلَاةِ، وَقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ). أَوْ كَمَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [۴] قَالَ: وَأَمَرَ رَجُلًا مِنَ الْقَوْمِ فَجَاءَ بِدَلْوٍ مِنْ مَاءٍ»، فَسَنَّهُ عَلَيْهِ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] نو حضور ﷺ هغه راوغوښتو او (په ډير شفقت او مهرباني سره يې) ورته وفرمايل [۲] چې مسجدونه د بولو او ګندګۍ د پاره نه دي [۳] بلکه د ذکر الٰهي او د لمانځه او د قرآن ويلو د پاره دي [۴] يا حضور ﷺ د دې په مثل وفرمايل [يعني راوي ته شك دې چې حضور ﷺ صحرايي ته دا الفاظ فرمايلي وو يا د دې قسم نور الفاظ] [۴] حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې (د دې څخه وروسته) حضور ﷺ په مجلس کې يو سړي ته حکم وکړو هغه يو بوقه (سولاغه) اوبه راوړې او په متيازو باندې وبهيولې. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① مَهْ مَهْ: اُكْفُفْ: مه کوه، منع شي. ② لَا تُزْرِمُوْهُ: أَيْ: لَا تَقْطَعُوا عَلَيْهِ بَوْلَهُ: مه ئې منع کوئ يعنې دې د متيازو کولو نه مه بندوئ. ③ دَعُوْهُ: أَيْ: اتْرُكُوْهُ: پريږدئ. ④ لَا تَصْلُحُ: أَيْ: لَا تَلِيْقُ: ددې دشان سره لائق او مناسب نه دی. ⑤ الْقَذَرُ: مَا يَتَنَفَّرُ مِنْهُ الطَّبْعُ: ګندګي کوم چه د انسان طبيعت کرکه کوی مثلاً پليتی او بدبوئی وغيره. ⑥ دَلْوٌ: بوقه، ⑦ فَسَنَّهُ: أَيْ: فَصَبَّهُ: وائې رولې اوبه.

[۳۳] د حيض په وينه د ګنده شوي جامو پاکولو طريقه

۴۹۳-(۱) [۴] [۱] «وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَتْ: [۲] سَأَلَتِ امْرَأَةٌ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، [۳] أَرَأَيْتَ إِحْدَانَا إِذَا أَصَابَ ثَوْبَهَا الدَّمُ مِنَ الْحَيْضَةِ، كَيْفَ تَصْنَعُ؟ [۴] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (إِذَا أَصَابَ ثَوْبَ إِحْدَاكُنَّ الدَّمُ مِنَ الْحَيْضَةِ [۵] فَلْتَقْرُصْهُ [۶] ثُمَّ لِتَنْضَحْهُ بِمَاءٍ، ثُمَّ لِتُصَلِّ فِيهِ» "). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه لور بي بي اسماء رضي الله عنها فرمايي [۲] چه يوې ښځې د حضور ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ [۳] دا راته اووايه که په مونږ کې څوك د حيض وينه په کاليو ووينې نو څه به کوي؟ [۴] حضور ﷺ ورته وفرمايل که په تاسو کې د چا په کپړو چې د حيض وينه ولګي [۵] نو هغې ته پکار دي چې اول يې په نوك سره ومږي [۶] بيا ئې په اوبو سره ووينځي او په هغې کپړو سره دي اګرکه لوند وي مونځ کوي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① فَلْتَقْرُصْهُ: الدَّلْكُ بِأَطْرَافِ الْأَصَابِعِ وَالْأَظْفَارِ مَعَ صَبِّ الْمَاءِ عَلَيْهِ: په نوکانو يا په ګوتو ګرول اوبه اوبو وينځلو ته قرص وائي. ② لِتَنْضَحْهُ: أَيْ: لِتَغْسِلْهُ بِمَاءٍ: چې ته ئې په اوبو سره اووينځې.

(۱) اخرجه البخاري كتاب الحيض باب غسل دم المحيض (رقم-۳۰۷) ومسلم كتاب الطهارة باب نجاسة الدم وكيفية غسله (رقم ۱۱۰ - (۲۹۱) وابوداود كتاب الطهارة/باب المرأة تغسل ثوبها الذى تلبسه فى حيضها (رقم- ۳۶۱) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب المنى يصيب الثوب (رقم- ۵۳۶) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى التسليم فى الصلاة (رقم- ۲۹۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۴۹۳] د منی څخه د کپړو د پاکولو دپاره د هغې وينځل

۴۹۳ – (١) [٥] ① «وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، قَالَ: ② سَأَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا عَنِ الْمَنِيِّ يُصِيبُ الثَّوْبَ ③ فَقَالَتْ: كُنْتُ أَغْسِلُهُ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَخْرُجُ إِلَى الصَّلَاةِ ④ وَأَثَرُ الْغَسْلِ فِي ثَوْبِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت سليمان بن يسار رحمه الله وايي ② چې ما د بي بي عائشې صديقې رضي الله عنها څخه په کپړه د لګيدلې مَني په باره کې پوښتنه وکړه ③ نو بي بي عائشې رضي الله عنها وفرمايل ما به د حضور ﷺ د کپړې څخه مني وينځله نو حضور ﷺ به (د هغه لوندې کپړې سره) د لمانځه د پاره تشريف وړلو ④ او په هغه کپړې باندې (به د منې) د وينځلو اثروو. (بخاري مسلم)

[۴۹۵] د کپړو څخه مني ګروَل

۴۹۵ –(٢) [٦] ① وَعَنِ الْأَسْوَدِ وَهَمَّامٍ، «عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، ② قَالَتْ: كُنْتُ أَفْرُكُ الْمَنِيَّ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت اسود رحمه الله او حضرت همام رحمه الله راويان دي چې بي بي عائشې رضي الله عنها وفرمايل ② ما به د حضور ﷺ د کپړې څخه وچه مني ګرووَله. (مسلم)

حل اللغات: ① أَفْرُكُ: أَيْ: أَدْلُكُهُ وَأَمْسَحُهُ: ګرولو سره به مې لرې کوله.

تسهيلات:

قوله: سَأَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا عَنِ الْمَنِيِّ: دَپورتنو دواړو حديثو تعلق دَ منی سره دې چه آيادا پاکه ده که نجس؟ اودَدې دَ ازالې اوتطهيرطريقه څه ده. سليمان بن يسار رحمه الله چونکه دَحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها شاګرد دې په دې وجه هغه دَحضرت عائشه رضي الله عنها نه دَمنی باره کښې تپوس کړې دې اوحضرت عائشه رضي الله عنها جواب ورکړې دې. دَدواړو روايتونو تعلق حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها سره دې داکلام به په پرده کښې کيدلو.

د منی په طهارت او عدم طهارت کښې مذاهب:

دَامام شافعي رحمه الله او دَ امام احمد رحمه الله دَاصح قول مطابق منی پاکه ده.

② دَامام مالك رحمه الله اوامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزمنی نجس ده. آوپه دې دواړو کښې په خپل

(١) اخرجه البخارى كتاب الوضوء باب غسل المنى وفركه، وغسل ما يصيب من المرأة (رقم-٢٣٠) ومسلم كتاب الطهارة باب حكم المنى (رقم١٠٨ - (٢٨٩) وابوداود كتاب الطهارة/ باب المنى يصيب الثوب (رقم- ٣٧١) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب المنى يصيب الثوب (رقم- ٥٣٦) والنسائى كتاب الطهارة/باب غسل المنى من الثوب(رقم-٢٩٥)

(٢) اخرجه مسلم كتاب الطهارة باب حكم المنى (رقم١٠٦ - (٢٨٨) وابن ماجة باب فى فرک المنى من الثوب (رقم-٥٣٧) والنسائى كتاب الطهارة/باب فرک المنى من الثوب (رقم-٢٩٨)

مینځ کښې دومره فرق دې چه دَامام صاحب په نیزکه چرې په کپړه باندې اوچه شی اوبیااوګرولې شی نوکپړه به پاکه شی داهم دَتطهیر یوه طریقه ده اوکه چرې منی لمده وی نو په هرحال کښې وینځل لازم دی. لیکن امام مالک رحمه الله فرمائی چه منی اوچه وی اوکه لمده په هرحال کښې وینځل فرض دی. ګرولوسره به کپړه پاکیږی نه.

داول فریق اول دلیل: ① په حدیث کښې دَمنی دَ ازالې باره کښې "حَكٌّ او حَتٌّ" الفاظ راغلی دی چه دَ مږلو اوګرولوپه معنی کښې دی اوداخبره واضح اوظاهر ده چه ګرولوسره پوره نجاست نه لرې کیږی بلکه څه باقی پاتې کیږی او حضورپاک په ګرولوباندې اکتفاء فرمائیلې ده نومعلومه شوه چه منې پاکه ده ځکه خو دَدې قلیل اجزاء برداشت کړې شوی دی.

داول فریق د اول دلیل جواب: دَ دې الزامی جواب احناف داورکوی چه دَ قضاء حاجت نه پس استنجاء بالحجار تاسو منئی حالانکه احجار سره مکمل ازاله نه کیږی دَ نجاست ذرات باقی پاتې کیږی کوم چه دَ قلیل کیدودَ وجې نه برداشت کړې شوې دی لهذا تاسو حضرات انسانی غلاظت ته هم پاك اووائې. دلته داخبره هم یاد ساتنې چه دَاحنافو په نیز دَ درهم دَ اندازې نه کم نجاست معاف دې لیکن دَ شوافع په نیز دَ نجاست هیڅ مقدار معاف نه دې. په دې وجه هغوی مجبوره شو اوداوینا ئې اوکړه چه منی پاکه ده خو په استنجاء بالاحجارکښې به هغوی څه کوی.داخبره یادساتنې چه دَ ملا ئم څیزونونه دَ نجاست اوچولو اومږلوسره دَدې ازاله کیږی لکه شیشه چاقو توره موزه وغیره دَدې ملائم څیزونو دَ پاکئی شوافع هم قائل دی نودا ضروری نه دی چه کوم څیز وینځلې شوې نه وی هغه پاك دې.

داول فریق دویم دلیل: ② لکه چه منی دَ سینې دَ پیټوبه شان ده.

داول فریق د دویم دلیل درې جوابونه: ① دَ سینې په پیټو قیاس کول قیاس مع الفارق دې ځکه چه دَ پیټودَ راوتلو لار جدا ده اودَ منی دَ راوتلولارجدا ده. دَ پیټوراوتلو لار پاکه ده او دَمنی دَ راوتلو لار دَ متیازو مذی او دَ ودی غوندې دَ ناپاکه څیزونو دَ وتلو لار ده.

② یوحلال خوراك کله چه په خیټه کښې منقلب کیدوسره غټې متیازې جوړیږی نوهغه نجس ګڼړلې شی هم دغه شان منی هم دَ طعام نه مبدل کیدوسره نجس کیږی.

③ خروج منی موجب حدث دې اوکوم څیزچه موجب حدث دې هغه نجس دې نومنی هم نجس ده بلکه دا خو حدث اصغرنه حدث اکبرواجب کوی.

د اول فریق دریم دلیل: ③ دَ منی نه دَمور په خیټه کښې بچی خوراك حاصلوی نودا به پاکه ګڼړلې شی.

د اول فریق د دریم دلیل جواب: دَماشوم دَخوراك چه کومه خبره ده نوهغې سره دَمنی په طهارت باندې دلیل نه شی راوړلې ځکه چه بچې خودَ حیض دَ وینې نه خوراك حاصلوی نوآیادَ حیض وینه هم پاکه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

د اول فریق څلورم دلیل: ④ دَدې نه اولیاء او انبیاء پیداشوی دی نودَ اولیاؤ اوانبیاؤ بنیاداو اصل ته به څنګه نجس وائې؟

داول فریق د څلورم دلیل جواب: ترکومې یورې چې دَ منی نه اولیاء اوانبیاء پیدا کیدل دی نوواؤرئی دَ منی تحلیل دَ وینې طرف ته دې دَ دم تحلیل دَ غوښې طرف ته دې اودَ غوښې تحلیل اوتحویل دَ هډوکی طرف ته دې نودَدې تحویل اوتحول او تبدیل اوتبدل او دَ ماهیت دَ تغیردَوجې نه شئی پاکیږی.

د اول فریق پنځم دلیل: ⑤ دَحضرت ابن عباس رضي الله عنهما روایت دارقطنی داسې نقل کړې دې:
"سئل النبي عن المني يصيب الثوب فقال انما هو بمنزلة المخاط والبزاق"
یعنی دَمنی تشبیه حضورپاك دَ پوزې ګرینګ سره ورکړې دې ښکاره خبره ده چه دَ پوزې آلا نش پاك دې نومنی هم پاکه ده.

داول فریق د پنځم دلیل جواب: حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دَ منی تشبیه ګرینګ سره ورکول دپاکوالی کنبې نه ده بلکه دَ ازالې طریقه ئی خودلې ده چه زه دادَ پوزې دَ آلائش په شان اخوا کوم نوهغه زائل کیږی. دَ ګرینګ په شان سخته ده غلیظ ده اینختونکې څیزدې اخواکولوسره پوره اخواکیږی.

د دویم فریق اول دلیل: ① دَحدیث نه چرته هم دا ثابت نه دی چه حضورپاك منی سره مونځ کړې وی آودَ منی دَ لرې کولو طریقې مختلف دی کله په غسل اووینځلوسره زائله کړې شوې ده کله دَ اوچیدو په صورت کښې "حك" او "حت" اوکله "فرك" په طریقه سره دَدې ازاله کړې شوې ده. دَازالې چه هر صورت وی خو داخبره فیصله شوې ده چه منی سره کله هم مونځ نه دې شوې کوم چه دَ دې دَ نجاست لوئی دلیل دې که چرې دا پاکه وې نودَ جوازدَبیان دَپاره اوبه یوځل نیم رسول الله صلی الله علیه وسلم دې سره مونځ کولو او ورکولو معلومه شوه چه منی نجس ده.

د دویم فریق دویم دلیل: دَترمذی شریف واضح حدیث هم د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چه دادی: "وأغسله اذاكان رطبا وافركه ان كان يابسا" صحیح ابوعوانه

ددویم فریق دویم دلیل: امام طحاوی رحمه الله هم داقسم روایت نقل کړې دې حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمائی چه "كنت أفرك المني من ثوب رسول الله ﷺ اذاكان يابسا واغسله اذاكان رطبا"

تنبیه: یادلرئی چه په موجوده زمانه کښې دَمنی دا کیفیت پاتې نه دې بلکه دَ چائی وغیره غیرمعیاری خوراك دَ وجې نه منی نرئی شوې ده اوس دَدې دَ لرې کولودَپاره هم اوبه استعمالول پکاردی. هسې هم احتیاط دَاحنافو او دَ مالکیه په مسلك کښې دې.

۴۹۶-(۱) [۰] ① وَفِي رِوَايَةِ عَلْقَمَةَ وَالْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ نَحْوَهُ، وَفِيهِ لَمْ يُصَلِّي فِيهِ.

ترجمه: ① او مسلم د دې څخه علاوه د علقمه او د حضرت اسود په سند بي بي عائشي ﷺ ، ددې پشان يو روايت هم نقل کړي دې چې په هغې کې دا الفاظ هم دي چې حضور ﷺ به هغه کپړه کې مونځ کولو.

[۴۹۷] د کپړو څخه متيازې وينځل

۴۹۷-(۲) [۷] ① «وَعَنْ أُمِّ قَيْسٍ بِنْتِ مِحْصَنٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، ② أَنَّهَا أَتَتْ بِابْنٍ لَهَا صَغِيرٍ لَمْ يَأْكُلِ الطَّعَامَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ③ فَأَجْلَسَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حِجْرِهِ، فَبَالَ عَلَى ثَوْبِهِ، ④ فَدَعَا بِمَاءٍ، فَنَضَحَهُ وَلَمْ يَغْسِلْهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① د بي بي ام قيس بنت محصن ﷺ څخه روايت دې ② چې هغه خپل وړوکی خوي چې اوس يې لا طعام (خوراک) هم نه خوړلو د حضور ﷺ په خدمت کې راوستو ③ حضور ﷺ هغه بچي په خپل غيږ کې کينولو هغه د حضور ﷺ په کپړو متيازې وکړې ④ حضور ﷺ اوبه راوغوښتې او په کپړو يې وبهيولې او په ښه مرلو سره يې وو نه ينځله. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① حِجْرِهِ: غيږ، ② فَنَضَحَهُ: أَيْ: أَسَالَ الْمَاءَ عَلَى ثَوْبِهِ: اوبه ئې پرې وارولې.

تسهيلات:

قوله: أَنَّهَا أَتَتْ بِابْنٍ لَهَا صَغِيرٍ لَمْ يَأْكُلِ الطَّعَامَ

د پی روډونکی هلک او جینۍ د متيازو په نجاست اتفاق: وړوکي پينۍ څکونکي بچي (مؤنث مذکر دواړه) چې لا ئې د پئيو نه سوا بل څه خوراك نه وی شروع کړې د هغې د متيازو باره کښې د ټولو علماء کرامو اتفاق دې چې دا ناپاکې دی، صرف داود ظاهری د هلك متيازو
نه پاکې وائی. چه دهغې هيڅ اعتبار نشته دې.

دهلک د متيازو په طريقه د تطهير کښې اختلاف: دفقهاء کرامو د هلك په طريقۀ تطهير کښې اختلاف شته دې. او دهغې نه دا وهم کيږی چې د شوافع په نيز د هلك متيازې پاکې دی ، داوهم صحيح نه دې . څکه چې د شوافعو په کتابونو کښې ددې د ناپاکه کيدو

(۱) اخرجه مسلم كتاب الطهارة باب حكم المنى (رقم ۱۰۵ - (۲۸۸)

(۲) اخرجه البخارى كتاب الوضوء باب بول الصبيان (رقم-۲۲۳) ومسلم كتاب الطهارة باب حكم بول الطفل الرضيع وكيفية غسله (رقم-۱۰۳ - (۲۸۷) وابوداود كتاب الطهارة/باب بول الصبي يصيب الثوب (رقم- ۳۷۴)وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فى بول الصبى الذى لم يطعم (رقم- ۵۲۴) والترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى نضح بول الغلام قبل أن يطعم (رقم- ۷۱) والنسائى كتاب الطهارة/باب بول الصبى الذى لم يأكل الطعام (رقم- ۳۰۲) والدارمى كتاب الطهارة/باب بول الغلام الذى لم يطعم (رقم-۷۶۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

تصریح موجود ده.

د بول الغلام د تطهیر باره کښې د مختلفو الفاظو استعمال: د بول الغلام باره کښې احادیث مختلف راغلی دی، چرته رشح الماء دی ، چرته نضح الماء دی، چرته رش الماء هم ذکر دی. چرته د اتباع الماء الفاظ هم راغلی دی. او چرته صب الماء او چرته د لم یغسله غسلا جمله هم راغلې ده. هم ددې اختلاف په وجه فقهاء کرامو هم دَ دې په طریقهٔ تطهیر کښې اختلاف کړې دې.

د پیو رودونکی غلام او جاریه په بولو کښې مذاهب:

① دپیوڅکونکی بچی په باره کښې دداؤد ظاهری مسلك دا دې چه دا نجس نه دی قاضی عیاض دامام شافعی رحمه الله مسلك هم دابیان کړې دې.چې بول د غلام طاهر دی. خو علامه نووی رحمه الله د قاضی عیاض تردید کړې دې.

② جمهوردغلام دبول د نجاست قائل دی. اوامام شافعی رحمه الله هم د جمهورو په شان د نجاست قائل دې.

د غلام د بولود وینځلو په طریقه کښې مذاهب:

بیاد جمهورو په مینځ کښې د غلام د بولو طهارت حاصلولو په طریقه کښې اختلاف دې

① دامام شافعی رحمه الله ،امام احمد رحمه الله اودامام اسحاق رحمه الله په نیز د غلام بول به وینځل ضروری نه دی بلکه د اوبو څاڅکی شیندل کافی دی.او دجاریه بول وینځل ضروری دی. بیا د شیندلو په تحدید کښې د امام شافعی رحمه الله یوقول دادې.چه تقاطربالکل ضروری نه دې. اودویم مفتی به قول دادې چه دومره شیندل پکار دی.چه تقاطرخو په خپله نه وی خوپه نچوړ کولو سره تقاطر وشی.

② د امام ابوحنیفه رحمه الله ، امام مالك رحمه الله ، سفیان ثوری رحمه الله اودکوفې د فقهاؤ مسلك دا دې چه د جاریه د بول په شان د غلام بول وینځل هم ضروری دی البته په بول د رضیع غلام کښې د زیاتې مبالغې ضرورت نشته غسل خفیف کافی دې.

دامام شافعی رحمه الله دلیل: امام شافعی رحمه الله وغیره د حدیث الباب څخه اودهغه تولو روایاتوڅخه استدلال کوی په کومو چې کښې دغلام د بول سره د نضح یا د رش الفاظ راغلی دی.د هغې معنی څاڅکی شیندل دی.بیا د امام شافعی رحمه الله څخه د تقاطریه تفسیرکښې منقول دی چی دومره اوبه پرې اوشیندلې شی چې دهغې څخه څاڅکی اوبهیږی.

جواب: د احنافو د دلائل په رڼا کښې کوم چې وړاندې راروان دی. مناسب دادې چه کومو احادیثوکښې د نضح او د "رش" الفاظ راغلی دی ددوی داسې معنی مراد آخستې کیږی چه کوم نورو روایاتوسره مطابقه وی.اوهغه معنی داده چې د ،،نضح،، او ،،رش،، څخه

غسل خفیف مراد واخستې شي.ځکه چې رش او نضح لکه څنګه چې د شیندولو معنی ورکوی دغه شان د غسل خفیف معنی هم ورکوی.

نضح په معنی د غسل باندې دلائل: ① په ترمذی کښې د حضرت سهل بن حنیف روایت دې په هغې کښې د حضرت نبی کریم ﷺ د مذی څخه د تطهیرطریقه ښائی اوفرمائی ((یکفیك ان تأخذ کفاً من ماء فتنضح به ثوبك حیث تری ان اصابه منه)) (١) ددې روایت ترلاندې امام ترمذی فرمائی ((وقد اختلف اهل العلم فی المذی یصیب الثوب فقال بعضهم لا یجزء الا الغسل وهوقول الشافعی رحمه الله واسحاق رحمه الله)) ظاهره ده چه دلته امام شافعی رحمه الله نضح د غسل خفیف په معنی اخستې دې.

② د حضرت علی کرم الله وجهه روایت دې.فرمائی ((ارسلنا المقداد بن الاسود الی رسول الله ﷺ فسأله عن الذی یخرج من الانسان کیف یفعل به فقال رسول الله ﷺ توضأ وانضح فرجك)) (٢) ددې ترلاندې امام نووی رحمه الله لیکی.((واما قوله صلی الله علیه وسلم وانضح فرجك فمعناه اغسل فان النضح یکون غسلاً ویکون رشاً وقد جاء فی الروایة الاخری یغسل ذکره فتعین حمل النضح علیه))

رش په معنی د غسل خفیف باندې دلیل: امام ترمذی رحمه الله نقل کړی دی.((ان امرأة سألت النبی ﷺ عن الثوب یصیبه الدم من الحیضة فقال رسول الله ﷺ حتیه ثم اقرصیه بالماء ثم رشیه وصلی فیه)) (٣) دلته امام شافعی رحمه الله لفظ د رش د غسل په معنی کښې اخستې دې. ددې حدیث ترلاندې امام ترمذی رحمه الله لیکی ((وقال الشافعی رحمه الله یجب علیه الغسل وان کان اقل من قدر الدرهم وشدد فی ذلك)) هم دا حدیث مبارک صحیح مسلم کښې په دې الفاظو سره مذکور دې چه ((عن اسماء قالت جاءت امرأة الی النبی ﷺ فقالت احدانا یصیب ثوبها من دم الحیضة کیف تصنع به قال تحته ثم تقرصه تنضحه ثم تصلی فیه)) (٤)

ددې حدیث ترلاندې امام نووی رحمه الله چه خپله هم شافعی المسلك دې لیکی.((وتنضحه تغسله وهو بکسر الضاد ،،کذا قال الجوهروغیره وفی هذا الحدیث وجوب غسل النجاسة بالماء)) نو څنګه چه په دې ټولو مقاماتوباندې لفظ د نضح اولفظ د رش د غسل په معنی اخستې شوي دي نوکه د مختلف روایاتوپه مینځ کښې د تطبیق دپاره په حدیث الباب کښې " نضح او رش" د غسل په معنی کښې واخستې شی نو دې کښې څه حرج دې البته د احادیثوڅخه دومره خبره ضرور معلومیږی چه په بول د جاریه اوبول د غلام کښې فرق دې اوهغه دا چه بول دجاریه کښې غسل شدید اوبول دغلام کښې غسل خفیف دې.

---

١) جامع الترمذی باب فی المذی یصیب الثوب)-
٢) صحیح مسلم باب المذی جلداول ١٤٣)-
٣) جامع الترمذی باب ماجاء غسل دم الحیض من الثوب اسماء بنت ابی بکر)-
٤) جلد اول باب نجاسة الدم وکفیة غسله صفحه ١٤٠)

Maktaba Tul Ishaat.com

د حنفيانو دلائل: ① په اولني باب کښې چې کوم حديث ذکر شو چې ((استنزهوامن البول)) په دې کښې مطلقا د بولو څخه د ځان ساتلو حکم شوې دې. اوداثې نجس ګرځولې دی.دا احاديث عام دی.اودې کښې دڅه خاص بول تخصيص نشته

② دويم هم د غلام د بول په باره کښې په حديث کښې د ((صب،اتبعه عليه الماء)) الفاظ هم راغلی دی.چه د غسل په معنی کښې صريح دی.د داسې احاديثود ټولو طرقو تخريج صحيح مسلم کښې شته بلکه اعلاء السنن کښې د حضرت عائشه حديث مروی دې د هغې څخه صراحة د غسل بول الغلام پته لګی.((قالت کان رسول الله صلى الله عليه وسلم يؤتى بالصبيان فاتى بصبى مرة فبال عليه فقال صبوا عليه الماء صبا.)) [1]

اشکال: اوس دلته يوسوال داپاتې کيږی.چه دغلام اودجاريه بول کښې فرق ولې دې.اګرچه دافرق داحنافو په نيز دمبالغې اودعدم مبالغې دې.

د فرق وجوه: ① د سړو په طبعيت کښې حرارت وی او رطوبت کم وی او د ښځو.په مزاج کښې برودت او رطوبت زيات وی نو د سړی بول نرئ وی نو لرې اوبه د دې دپاره کافی وی.اود ښځې بول ټينګې وی اوبدبوداري وی.نوهغې ته د غسل شديد ضرورت دې.

② د ضيق مخرج په وجه چې د غلام مخرج تنګ وی نو په جامه کښې نفوذ کم وی اود جاريه مخرج فراخه وی نو په جامو کښې نفوذ زيات کوی.ځکه د هغې دپاره د غسل شديد ضرورت دې.

③ غلام زيات په جولو کښې کينولې شی او اخستلې شی نوکه د ده د بولو دپاره غسل خفيف کافی دې چې حرج دفع شی اوجاريه عادة کمه اخستې شی او دې سره کم محبت کولې شی.نوکه په بعضې وخت کښې دا په جامو باندې بول اوکړی نو د دې په وينځلو کښې حرج نشته.

[۳۹۸] په رنګ کولوسره د څرمنې پاکيدل

۳۹۸—(۲) [۸] ① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ② "«إِذَا دُبِغَ الْإِهَابُ فَقَدْ طَهُرَ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چه ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي ② چې هرکله څرمن دباغت کړل شی نو هغه پاکه شي. مسلم

---

[1] رواه الطحاوی واسناده صحيح و اثارالسنن ۱۷\۱۱)

(۲) اخرجه مسلم کتاب الحيض باب طهارة جلود الميتة بالدباغ (رقم) ۱۰۵ - (۳۶۶) وابوداود کتاب اللباس/باب فی أهب الميتة (رقم- ۴۱۲۳) باب فی أهب الميتة (رقم- ۴۱۲۳) وابن ماجة کتاب اللباس . باب لبس جلود الميتة إذا دبغت (رقم- ۳۶۰۹) ومالک فی الموطا کتاب الصيد /باب ما جاء فی جلود الميتة (رقم- ۱۷) والنسائی کتاب الفرع والعتيرة/باب جلود الميتة(رقم-۴۲۴۱)

حل اللغات: ① دُبِغَ: هو إصلاح الجلد عما يمنع النتن والفساد: د څرمن نه چه په کومه طريقه هم بد بوئی او سخاوالي لرې کړې شی هغې ته دباغت وائی مثلا رنګ کول، خاوره يا مالګه لګول وغيره. ② الإِهَابُ: وَهُوَ الجِلْدُ الغَيْرُ المَدْبُوغِ: چې رنګ شوې نه وی هغې څرمنې ته اهاب وائی.

تسهيلات:

قوله: إِذَا دُبِغَ الإِهَابُ:

ددباغت مختلفې طريقې: دباغت يعنی رنګ کول په ډيرو طريقوسره کيږی.

① تتريب يعنی په خاوره،

② تشميس يعنی په نمر کښې اچولوسره،

③ تقريظ يعنی دَ بعضې ونو په پوستکو اومالګه يوځائی کولوسره کيږی.

دَ دباغت دَپاره ضروری ده چه څرمن دې دَ دباغت قابله هم وی لهذا دَ مار اومږې څرمن ناقابل دباغت کيدودَوجې نه ددې حکم نه خارج دی.

د دباغت د حکم تعلق د مردارې څرمنې سره: دَ حلت و حرمت او دَ دباغت داحکم دَ مردار ځناورو دَ څرمنودَپاره دې حلال خوهسې حلال دی. دَ انسان څرمن دَ عظمت دَ وجې نه اودَ خنزير څرمن دَ وجې دَ سخت نجاست نه قابل دَ دباغت نه ده.

په دباغت سره د څرمنې د طهارت په حکم کښې مذاهب:

① امام شافعی رحمه الله دَ سپی دَ څرمن باره کښې ليکلی دی چې د سپی څرمن به هم په دباغت سره نه پاکيږی.

② دَامام مالك رحمه الله په نيزپه دباغت سره دَ مردار ځناور څرمن نه پاکيږی لهذا دې نه فائده اخستل ناجائزدی.

③ دَ جمهورفقهاؤپه نيزدَ انسان څرمن دَ عظمت دَ وجې نه اودَ خنزير څرمن دَ وجې دَ سخت نجاست نه قابل دَ دباغت نه ده. او د دې څخه علاوه هره څرمن دباغت سره پاکيږی اوهغې نه فائده اخستل جائزدی. دَ انسان څرمن دَ انسانی شرافت دَ وجې نه ممنوع ده او دَخنزير نجس العين کيدودَ وجې نه ممنوع اوناپاکه ده.

د اول فريق دليل: سپی نجس العين دی ددې وجې دَده څرمن په دباغت سره نه پاکيږی.

د دليل جواب: په دباغت سره د مطلق څرمنې د طهارت احاديث راغلی دی.نو د دليل څه بغير د دې د عموم نه د سپی استثناء ټيک نه ده.

د دويم فريق دليل: دَ عبدالله بن عکيم رضی الله عنه راتلونکی روايت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه "أن لاتنتفعوا من الميتة بأهاب ولاعصب" الفاظ راغلی دی.

د دويم فريق د اول دليل دوه جوابونه: ① دادَ مردار ځناور هغه څرمن ده کوم ته چه

Maktaba Tul Ishaat.com

دباغت نه وي وركړې شوې او اهاب په لغت كښې هم دغه غيرمدبوغ څرمن ته وائي.
② دَ امت تعامل هم په جواز باندې دې اوددې يوحديث په مقابله كښې دېرزيات احاديث دى كوم چه تواترته نيزدې دى داحديث دَهغې معارض كيدې نه شي.

د دريم فريق دلائل: زيربحث حديث د دوى مستدل دې او دددې څخه علاوه تقريبًا راتلونكو شپږو حديثونه د دوى مستدلالت دى په كومو كښې چه په واضحه توګه دَ مردار څناور دَ څرمن نه استفاده اوانتفاع ته جائزونيلى شوى دى كله چه دباغت اوشي.

[۴۹۹] په دباغت سره د مردارې د څرمنې پاكول

۴۹۹–()[۹] ①وَعَنْهُ قَالَ: ②«تُصُدِّقَ عَلَى مَوْلَاةٍ لِمَيْمُونَةَ بِشَاةٍ ②فَمَاتَتْ، فَمَرَّ بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: ③ هَلَّا أَخَذْتُمْ إِهَابَهَا فَدَبَغْتُمُوهُ فَانْتَفَعْتُمْ بِهِ" ④فَقَالُوا: إِنَّهَا مَيْتَةٌ، فَقَالَ: " إِنَّمَا حَرُمَ أَكْلُهَا» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس ﷺ وايي چې د بي بي ميموني رَضِيَ اللهُ عَنْهَا يوې آزاد شوې وينځې ته يوه بزه په صدقه كښې وركړې شوه ② (اتفاقًا) هغه بزه مړه شوه حضور ﷺ په هغې باندې تيريدو نو وي فرمايل ③ تاسو د دې څخه څرمن ولې نه وباسله دې څرمنې ته دباغت وركولو سره به مو د دې څخه فايده پورته كړې وه ④ (خلقو عرض وكړو) دا خو مرداره ده حضور ﷺ وفرمايل يوازې د دې خوراك حرام دى. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①تُصُدِّقَ: أَيْ: دُفِعَتْ صَدَقَةً: يعنى په صدقه كښې وركړې شوه، ② مَوْلَاةٍ: أَيْ: عَتِيقَةٍ: آزاده كړې شوې وينزه.

[۵۰۰] د مردارې څرمن دباغت څخه پس په استعمال كښې راوستل

۵۰۰–()[۱۰] ①«وَعَنْ سَوْدَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: ②مَاتَتْ لَنَا شَاةٌ، فَدَبَغْنَا مَسْكَهَا، ③ثُمَّ مَا زِلْنَا نَنْبِذُ فِيهِ حَتَّى صَارَ شَنًّا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① د حضور ﷺ زوجه مباركه بي بي سوده رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي ② چې زمونږ يوه بزه مړه شوې وه مونږ د هغې څرمن وښكله او دباغت مو كړه ③ او هميشه مو په هغه كې نبيذ (يعني د اوبو او خرماؤ شربت) جوړولو تر دې چې هغه زوړ مشك شو. (بخاري)

---

(۱) اخرجه البخارى كتاب الزكوة باب الصدقة على موالى أزواج النبى صلى الله عليه وسلم(رقم-۱۴۹۲) ومسلم كتاب الحيض باب طهارة جلود الميتة بالدباغ (رقم) ۱۰۰ - (۳۶۳) وابوداود كتاب اللباس/باب فى أهب الميتة (رقم- ۴۱۲۰) وابن ماجة باب ما جاء فى الحامل المتوفى عنها زوجها تضع (رقم- ۱۱۹۳) كتاب اللباس . باب لبس جلود الميتة إذا دبغت (رقم- ۳۶۱۰) ومالك فى الموطا كتاب الصيد /باب ما جاء فى جلود الميتة (رقم- ۱۶) والنسائى كتاب الفرع العتيرة/باب جلود الميتة(رقم-۴۲۳۶).

(۲) اخرجه البخارى كتاب الايمان والنذور باب إن حلف أن لا يشرب نبيذا، فشرب طلاء، أو سكرا، أو عصيرا (رقم-۶۶۸۶) والنسائى كتاب الفرع والعتيرة/باب جلود الميتة(رقم-۴۲۴۰)

حل اللغات: ① شَاةٌ: چیلئ، بزه، ② مَسْكٌ: څرمن ته وائی ③ شَنًّا: أَيْ: سِقَاءً خَلِقًا: زوړ مشک (يعنی ډير استعمال شوي).

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۰۱] د ماشوم او ماشومې د متيازو پاکولو طريقه

۵۰۱-() [۱۱] ⦗۱⦘ «عَنْ لُبَابَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ⦗۲⦘ كَانَ الْحُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، فِي حِجْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ⦗۳⦘ فَبَالَ عَلَى ثَوْبِهِ. ⦗۴⦘ فَقُلْتُ: الْبَسْ ثَوْبًا، وَأَعْطِنِي إِزَارَكَ حَتَّى أَغْسِلَهُ، ⦗۵⦘ قَالَ: إِنَّمَا يُغْسَلُ مِنْ بَوْلِ الْأُنْثَى، ⦗۶⦘ وَيُنْضَحُ مِنْ بَوْلِ الذَّكَرِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ⦗۱⦘ بي بي لبابه بنت حارث رضي الله عنها فرمايي ⦗۲⦘ چې حسين بن علي رضي الله عنهما د حضور ﷺ په غيږ کې ناست وو ⦗۳⦘ چه د حضور ﷺ په کپړو يي متيازي وکړلې ⦗۴⦘ ما عرض وکړو چې ته ﷺ دويمه کپړه واغونده دا پرتوګ يا لنګ ماته راکړه چې زه يي وينځم ⦗۵⦘ حضور ﷺ وفرمايل د جينئ متيازې وينځل پکار دي (يعنې د مبالغې سره) ⦗۶⦘ او د هلك په وړو بولو اوبه پاشل کول پکار دي (يعنې بغير د مښولو او نښتيخولو اوبه پرې بهيول)، (احمد ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات: ① حِجْرٌ: غيږه، ② يُنْضَحُ: اوبه به پرې بهيولې شي (بغير د مږلو نه).

۵۰۲-() [۰] ⦗۱⦘ وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيِّ، عَنْ أَبِي السَّمْحِ، قَالَ: ⦗۲⦘ "«يُغْسَلُ مِنْ بَوْلِ الْجَارِيَةِ، وَيُرَشُّ مِنْ بَوْلِ الْغُلَامِ»".

ترجمه: ⦗۱⦘ اود ابوداؤد ونسائي په يوروايت کې د ابوسمح څخه دا الفاظ منقول دي ⦗۲⦘ چې حضور ﷺ وفرمايل د جينئ متيازې دي ووينځل شی او د هلك په بولو دي اوبه وشيندلې شي.

حل اللغات: ① الْجَارِيَةِ: جينئ، ② يُرَشُّ: اوبه دې اوشيندلې شی. ③ الْغُلَامِ: هلک.

[۵۰۳] د پليتی څخه د پښې پاکول

۵۰۳-() [۱۲] ⦗۱⦘ «وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ⦗۲⦘ إِذَا وَطِئَ أَحَدُكُمْ بِنَعْلِهِ الْأَذَى، ⦗۳⦘ فَإِنَّ التُّرَابَ لَهُ طَهُورٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَلِابْنِ مَاجَهْ مَعْنَاهُ.

ترجمه: ⦗۱⦘ ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⦗۲⦘ هرکله چې په تاسو کې

---

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة/باب بول الصبی يصيب الثوب (رقم- ۳۷۵) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فی بول الصبی الذی لم يطعم (رقم- ۵۲۲)

(۲) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة/باب بول الصبی يصيب الثوب (رقم- ۳۷۶) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فی بول الصبی الذی لم يطعم (رقم- ۵۲۶)

(۳) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة/باب فی الأذی يصيب النعل (رقم- ۳۸۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

څوك خپلو چپلو سره په ګندګي تيرشي (اوګرځي) ۳ نو خاوره هغه پاکوي، (ابوداؤد او ابن ماجه هم د دې معنې روايت نقل کړي دي.)

حل اللغات: ① وَطِئَ: أَيْ: قَرُبَ وَمَسَحَ: ورتيرشي، اوګرځي (په ګندګئ باندې).

تسهيلات:

قوله: إِذَا وَطِئَ:

د نجاست دوه قسمونه: که چرې موزې يا څپلئ سره دَ لارې ګندګي اولګي نودَدې په حکم کښې دَ امامانو اختلاف دې. تفصيل داسې دې.

① چه دا نجاست به ذي جرم مجسد يعني قط لګيدونکي وي يا رقيق نرئي وي. که دَ شرابو يا متيازو يا وينې په شان نرې اونرم وي نودَ ټولو په نيزبه څپلئ اوموزه په اوبوسره وينځلې شي بغيردَ وينځلوبه نه پاکيږي.

② اوکه نجاست ذي جسدوي او په هغې باندې خاوره وغيره اچولوسره بنه جذب شي او بيا اوګرولې شي نو په دې صورت کښې دَ ائمه حضراتو اختلاف دې.

د جوثه دار نجاست د پاکولو په طريقه کښې مذاهب:

دَ امام احمدبن حنبل رحمه الله اوزاعي شامي رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله په نيزکه دا نجاست لوند وي اوکه اوچ په دواړو صورتونوکښې به په مږلوسره پاکوالې حاصل شي. دَ امام شافعي رحمه الله يوقول هم دغه دې.

② دَ امام ابوحنيفه رحمه الله او په يوقول کښې امام شافعي رحمه الله په نيزکه چرې دا نجاست اوچ وي نو په مږلوسره به پاکې راشي اوکه چرې تر او لوندوي نو وينځل به ضروري وي.

د څرمنې او څپلې د پاکولو دوه صورتونه:

① څرمن يا څپلئ که نرمه وي نو دَ کپړې په شان به درې ځل نچوړي کولوسره وينځلې شي

② اوکه چرې څپلئ اوموزه سخته وي نوبيابه دَ لرګي په شان وينځلې کيږي چه دَ پاسه پرې اوبه واچولې شي او اومږلې شي او اوبه پرې اوبهيولې شي. دَدې نه علاوه که نجاست په کپړه يادَ انسان په بدن باندې اولګي نوهغه په مساماتوکښې ننوځي دَهغې دَپاره صرف وينځل دي مږل کافي نه دي.

د احاديثو څخه د امامانو جوابونه:

① باقي مذکوره احاديث دَ ټولو ائمؤ خلاف دي نوبعضې علماؤ جواب ورکړې دې چه دلته حقيقي خبره نه ده بلکه دا احاديث په توهم نجاست باندې محمول دي.

② بعضې وئيلي دي چه داحکم دَ اوچ نجاست باره کښې دې مګر د مشکاة دَ فصل ثالث دَ روايت تفصيل دَدې خلاف دې.

③ بعضې وئيلي دی چه دَدې احاديثوتعلق طينِ شارع يعنی دَ لارې ختيوسره دې څکه چه هغه دَمجبورئ دَ وجې نه دَپاك په حكم كښې دی دَ راتلونكی روايت هم دغه شان تشريح ده.

[۵۰۴] دوچ نجاست دپاکولو پاکیدل

۵۰۴–(۱)[۱۳] ①«وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ لَهَا امْرَأَةٌ: ② إِنِّي امْرَأَةٌ أُطِيلُ ذَيْلِي، وَأَمْشِي فِي الْمَكَانِ الْقَذِرِ. قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُطَهِّرُهُ مَا بَعْدَهُ» " رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَا: الْمَرْأَةُ أُمُّ وَلَدٍ لِإِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ.

ترجمه: ① بي بي امِّ سلمه رضی اللہ عنہا روايت كوي چه هغې ته يوې ښځې اوويل ② چې زما پروني (څاك) اوږد دي او زه په ناپاكه ځاي كې ګرځم (دا خيال وي چې د هغې لمنو ته ناپاكي رسيږي) بي بي ام سلمه رضی اللہ عنہا ورته اوويل چه حضور ﷺ (د دې قسم سوال په جواب كې) فرمايلي وو چې دا هغه شي پاك كوي چې د دې څخه وروسته دي (يعني پاكه زمكه يا خاوره) احمد مالك ترمذي ابوداؤد دارمي، او ابو داود او دارمي ويلي دي چې هغه پوښتنه كونكې ښځه دابراهيم بن عبدالرحمٰن بن عوف ام ولده وه (چې دهغې نوم حميده وو).

حل اللغات: ① أُطِيلُ: اوږد دې، ② ذَيْلِي: پروني زما، ③ الْقَذِرِ: ګندګی او ناپاکه ځائ يعنی ډيران وغيره.

[۵۰۵] د درندګانو د څرمنو اغوستل ممانعت

۵۰۵–(۲)[۱۴] ①وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِ يكَرِبَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ②«نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ عَنْ لُبْسِ جُلُودِ السِّبَاعِ، وَالرُّكُوبِ عَلَيْهَا»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① مقدام بن معديكرب رضی اللہ عنہ راوي دي ② چې رسول الله ﷺ د درندګانو د څرمنو داغوستو او په هغې باندې د سوريدو څخه منع فرمايلي ده. (ابوداؤد نسائي)

حل اللغات: ① جُلُودِ السِّبَاعِ: څرمني د درنده ګانو او ماتونكو ځناورو.

[۵۰۶] د درندګانو د څرمنو څخه فرش جوړولو ممانعت

۵۰۶–(۳)[۱۵] ①وَعَنْ أَبِي الْمَلِيحِ بْنِ أُسَامَةَ عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«نَهَى عَنْ جُلُودِ السِّبَاعِ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ. ③ وَزَادَ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ: أَنْ تُفْتَرَشَ.

ترجمه: ① ابو المليح بن اسامه رضی اللہ عنہ د خپل پلار مكرم څخه روايت كوي ② چه رسول الله ﷺ

(۱) اخرجه مالک فی الموطا کتاب الطهارة باب ما لا يجب منه الوضوء (رقم- ۱۶) وابوداود کتاب الطهارة/باب فی الأذی يصيب الذيل (رقم- ۳۸۳) وابن ماجه کتاب الطهارة وسننها/باب الأرض يطهر بعضها بعضا (رقم- ۵۳۱) والترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الوضوء من الموطإ (رقم-۱۴۳)

(۲) اخرجه ابوداود کتاب اللباس/باب فی جلود النمور والسباع (رقم-۴۱۳۱)

(۳) اخرجه احمد فی المسند ۵/ ۷۴ وابوداود فی السنن رقم الحديث ۴۱۳۲ والنسائی فی السنن رقم الحديث ۴۲۵۳

Maktaba Tul Ishaat.com

د درندګانو د څرمني استعمالولو څخه منع فرمايلي ده، احمد، ابوداؤد، نسائي[۳] او امام ترمذي په دي روايت کې دا الفاظ زيات نقل کړي دي چې حضور ﷺ د دي څخه هم منع فرمايلي ده چې د درندګانو د څرمنو فرش دي جوړ کړل شي.

تسهيلات:

قوله: نَهَى عَنْ جُلُودِ السِّبَاعِ:

د درندګانو د څرمنو د استعمال حکم: دواړواحاديثو کښې د ځيرونکو ښاورو په څرمن کيناستل يا په سورلۍ کښې استعمالول يا اغوستل ټول منع دی. په دې وجې د علماء کرامو د فتوی مطابق د ځيرونکو ښاورو په څرمن باندې کيناستل مکروه تحريمی دی څکه چې په دې باندې ناستې سره د انسان په طبيعت کښې د ځيرونکو ښاورو صفات پيدا کيږی. دځيرونکو ښاورو څرمن د دباغت نه پس خرڅولې شي. او دا جائز دی. ليکن د دباغت نه وړاندې اخستل ،خرڅول جائز نه دی. ښکاريانو خلقو لره د سوچ مقام دې چې د دباغت نه وړاندې د ځيرونکو ښاورو شيرمخ وغيره څرمن خرڅوی.

[۵۰۷] د درندګانو د څرمنو د قيمت کراهت

۵۰۷-()[۱۶] [۱] وَعَنْ أَبِي الْمَلِيحِ، أَنَّهُ كَرِهَ ثَمَنَ جُلُودِ السِّبَاعِ. [۲] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ فِي كِتَابِ اللِّبَاسِ. بِلَفْظِ: كَرِهَ جُلُودَ السِّبَاعِ. وَسَنَدُهُ جَيِّدٌ.

ترجمه: [۱] او د ابو المليح په باره کې منقول دي چې هغه به د درندګانو د څرمنو قيمت (هم) مکروه ګڼړلو. ترمذي [۲] ترمذي په کتاب اللباس صرف په دي لفظ سره نقل کړې دي چې د درندګانو د څرمنو قيمت ئې بد ګڼړلو. [۳] او د دې سند ښه دې.

حل اللغات: ① ثَمَنَ: أَيْ: بَيْعَهَا وَشِرَاءَهَا: قيمت او رقم ته وائی يعنی اخستل خرڅول.

[۵۰۸] د نبي عليه السلام د يو خط مضمون

۵۰۸-()[۱۷] [۱] «وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُكَيْمٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] أَتَانَا كِتَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۳] أَنْ لَا تَنْتَفِعُوا مِنَ الْمَيْتَةِ بِإِهَابٍ، وَلَا عَصَبٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] عبدالله بن عکيم راوي دي [۲] چې زمونږ قبيله جهينه ته چې د حضور ﷺ کوم مکتوب ګرامي (خط) راغې په هغه کې دا ليکلي وو [۳] چې تاسو د مرداري د څرمن او د هغې د پټي (پلو) څخه نفع مه اخلي. (ترمذي ،ابوداؤد ،نسائي ،ابن ماجه)

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحديث ۴/ ۲۱۲

[۲] اخرجه الترمذی كتاب اللباس عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی جلود الميتة إذا دبغت (رقم -۱۷۲۹) وابوداود كتاب اللباس/باب من روى أن لا ينتفع بإهاب الميتة (رقم- ۴۱۲۷) وابن ماجة كتاب اللباس ، باب من قال: لا ينتفع من الميتة بإهاب ولا عصب (رقم- ۳۶۱۳) والنسائی كتاب الفرع والعتيرة/باب ما يدبغ به جلود الميتة رقم- (۴۲۵۱)

حل اللغات: ① إِهَابٍ: أَيْ: قَبْلَ الدِّبَاغِ: بغير رنګ شوي او پاکه شوي څرمن. ② عَصَبٍ: پټې

[۵۰۹] د دباغت څخه وروسته د څرمنې څخه د فائدې اخستلو جواز

۵۰۹-(۱)[۱۸] ① «وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، ② أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ أَنْ يُسْتَمْتَعَ بِجُلُودِ الْمَيْتَةِ إِذَا دُبِغَتْ». رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① بي بي عائشه رضي الله عنها روايت ده ② چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي د مرداري د څرمنې څخه د دباغت څخه وروسته دې فائده واخستې شي. (مالك، ابوداؤد)

حل اللغات: ① دُبِغَتْ: چه رنګ کړې شي (يعنې پاکه کړې شي).

[۵۱۰] د څرمنې پاکي په دباغت سره

۵۱۰-(۲)[۱۹] ① وَعَنْ مَيْمُونَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② «مَرَّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِجَالٌ مِنْ قُرَيْشٍ يَجُرُّونَ شَاةً لَهُمْ مِثْلَ الْحِمَارِ، ③ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْ أَخَذْتُمْ إِهَابَهَا. ④ قَالُوا: إِنَّهَا مَيْتَةٌ. فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُطَهِّرُهَا الْمَاءُ وَالْقَرَظُ"». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① بي بي ميمونه رضي الله عنها څخه روايت دي ② چه د قريشو يو څو سړو يوه مړه بزه د خره په شان راښکله حضور ﷺ ورسره تير شو ③ (په دې ليدو سره) حضور ﷺ ورته وفرمايل کاش (آرمان) چې تاسو د دې څخه څرمن ويستې وې (نو په خپل کار کې به مو راوستلې واي) ④ نو هغوئ عرض وکړو چه دا خو مرداره ده يعنې ذبح کړې شوې نه ده حضور ﷺ ورته وفرمايل دا د کيکر پاڼې او اوبه پاکوي (يعنې د دواړو څيزونو په ذريعه دباغت سره څرمن پاکيږي). (احمد، ابوداؤد)

حل اللغات: ① الْقَرَظُ: أَيْ وَرَقُ السَّلَمِ وَقِيلَ: هُوَ قِشْرُ الْبَلُّوطِ: د کيکر په شان يوه ازغې داره ونه ده د هغې په پاڼو به څرمنې رنګ کولې شوې.

[۵۱۱] دباغت شوې څرمې څخه د مشک جوړولو جواز

۵۱۱-(۳)[۲۰] ① وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْمُحَبَّقِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ عَلَى أَهْلِ بَيْتٍ، ③ فَإِذَا قِرْبَةٌ مُعَلَّقَةٌ، فَسَأَلَ الْمَاءَ. ④ فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، إِنَّهَا مَيْتَةٌ. ⑤ فَقَالَ: دِبَاغُهَا طُهُورُهَا». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

---

(۱) اخرجه مالك في الموطا كتاب الصيد /باب ما جاء في جلود الميتة (رقم- ۱۸) وابوداود كتاب اللباس/باب في أهب الميتة (رقم- ۴۱۲۴) وابن ماجة كتاب اللباس، باب لبس جلود الميتة إذا دبغت (رقم- ۳۶۱۲) والنسائي كتاب الفرع والعتيرة/باب الرخصة في الاستمتاع بجلود الميتة إذا دبغت(رقم-۴۲۵۲)

(۲) اخرجه ابوداود كتاب اللباس/باب في أهب الميتة (رقم- ۴۱۲۶) والنسائي كتاب تحريم الدم/باب تحريم القتل (رقم-۴۱۲۶)

(۳) اخرجه ابوداود كتاب اللباس/باب في أهب الميتة (رقم- ۴۱۲۶) والنسائي كتاب الفرع والعتيرة/باب جلود الميتة(رقم-۴۲۴۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: ① سلمه بن محبّق راوي دي② چې رسول ﷺ د جنګ تبوك په موقعه د يو سړي كور ته تشريف راوړو③ ناڅاپه په يو زوړند مشك يي نظر ولګيدو حضور ﷺ اوبه وغوښتلې④ نو خلقو عرض وكړو يا رسول الله ﷺ دا خو د دباغت كړې شوې مرداري څرمنه ده⑤ حضور ﷺ ورته وفرمايل دباغت دا پاكه كړې ده. (احمد، ابوداؤد)

حل اللغات: ① قِرْبَةٌ: مشک، ② مُعَلَّقَةٌ: رازوړند.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٥١٢] د ناپاكې لارې ګندګۍ په پاكه لار پاكيدل

٥١٢ – (١) [٢١] ① عَنِ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي عَبْدِ الْأَشْهَلِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② قُلْتُ: «يَا رَسُولَ اللّٰهِ، إِنَّ لَنَا طَرِيقًا إِلَى الْمَسْجِدِ مُنْتِنَةً، ③ فَكَيْفَ نَفْعَلُ إِذَا مُطِرْنَا؟ ④ قالت فَقَالَ: "أَلَيْسَ بَعْدَهَا طَرِيقٌ هِيَ أَطْيَبُ مِنْهَا؟" ⑤ قُلْتُ: بَلَى. قَالَ: "فَهٰذِهِ بِهٰذِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① دبنو عبد الاشهل د يوې ښځې بيان دي② چې ما حضور ﷺ ته عرض وكړو چې يا رسول الله ﷺ مسجد ته د راتلو چې زمونږ كومه لار ده هغه ګنده ده③ كله چې باران وشي نو مونږ څه وكړو؟④ هغه ښځه وايي چې رسول ﷺ وفرمايل آيا د دې لارې څخه ورستو علاوه څه پاكه صفا لاره نه راځي ؟⑤ ما عرض وكړو چې هو راځي، حضور ﷺ وفرمايل دا پاكه لار د هغه ناپاكي لارې په بدله كې ده. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① مُنْتِنَةً: أَيْ: ذَاتَ نَجَسَةٍ: پليته او بدبويه، ګنده، ② مُطِرْنَا: أَيْ: إِذَا جَاءَنَا الْمَطَرُ: يعنى كله چه باران اوشي.

[٥١٣] د لارې د ختو څخه د قدمونو د وينځلو عدم وجوب

٥١٣ – (٢) [٢٢] ① (وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: ② «كُنَّا نُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا نَتَوَضَّأُ مِنَ الْمَوْطِئِ») رواه الترمذي

ترجمه: ① عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي② چه مونږ به د رسول الله ﷺ سره مونځ كولو او په زمكه د تلو په وجه به مو اودس نه كولو. (ترمذي)

حل اللغات: ① الْمَوْطِئِ: أَيْ: مِنْ أَجْلِ مَوْضِعِ الْوَطْءِ وَالْمَشْيِ: يعنى په ګنده ځاى باندې تلل او ګرځيدل.

تسهيلات:

قوله: وَلَا نَتَوَضَّأُ مِنَ الْمَوْطِئِ:

(١) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة/باب فى الأذى يصيب الذيل (رقم- ٣٨٤) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب الأرض يطهر بعضها بعضا (رقم- ٥٣٣)

(٢) اخرجه الترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الوضوء من الموطإ (رقم-١٤٣) وابوداود كتاب الطهارة/ باب فى الرجل يطأ الأذى برجله (رقم- ٢٠٤)

د اودس مصداق: علماء کرامو لیکلی دی چې د لته د اودس نه مراد لغوی اودس دې. یعنی پښې وینځل. په دې صورت کښې مطلب داشو چه که نجاست اوچ وو نو په هغه وخت کښې به مونږ لغوی اودس هم نه کولو یعنی پښې به مو نه وینځلې ځکه چې نجاست پرې هډو لګیدلې نه دې صرف په لګیدو مونږ پښې نه وینځو. اوکه اودس نه شرعی اودس مراد وی نو مطلب به دا وی چې کله نجاست تر یعنی لوند وی نو ددې ګندګی په لګیدو سره مونږ شرعی اودس نه کوو بلکه صرف پښې وینځو ځکه چې ګندګی لګیدو سره اودس نه ماتیږي.

[۵۱۴] د سپو متیازې نه وینځل

۵۱۴–()[۲۳] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] «كَانَتِ الْكِلَابُ تُقْبِلُ وَتُدْبِرُ فِي الْمَسْجِدِ فِي زَمَانِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [۳] فَلَمْ يَكُونُوا يَرُشُّونَ شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي [۲] چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې به مسجد ته سپي تلل راتلل [۳] او صحابه رضي الله عنهم به د هغوئ د تګ راتګ په وجه هیڅ نه وینځل. (۱) (بخاري)

حل اللغات: ① تُقْبِلُ وَتُدْبِرُ: د اقبال او ادبار نه دی، تلل راتلل مراد دی ② يَرُشُّونَ: أي: يَغْسِلُونَ: نه به ئې وینځل.

تسهیلات:

قوله: كَانَتِ الْكِلَابُ تُقْبِلُ وَتُدْبِرُ

په جماتونو کښې د سپو د داخلیدو وجه: یعني د اسلام په شروع کې جوماتونو کې دروازي نه وي چې د هغې په وجه به سپي جوماتونو ته دننه تلل راتلل نو د هغوئ پښې به وچې وي ځکه د څه شي د وینځلو ضرورت نه وو هرکله چې په جوماتونو کې دروازي لګیدل شروع سوه نو د دې احتیاط شروع شو.

[۵۱۵] مسئلة بول ما يؤكل لحمه

۵۱۵–()[۲۴] [۱] وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «لَا بَأْسَ بِبَوْلِ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ»(۲).

ترجمه: [۱] او حضرت براء رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د کوم شي چې غوښه خوړل کیږي د هغې په متیازو کې هیڅ حرج نشته

(۱) اخرجه البخاری کتاب الوضوء باب الماء الذی یغسل به شعر الإنسان (رقم-۱۷٤) وابوداود کتاب الطهارة/باب فی طهور الأرض إذا یبست (رقم- ۳۸۲)
(۲) اخرجه الدارقطنی

Maktaba Tul Ishaat.com

۵۱۲-()[۰] ١ وَفِي رِوَايَةِ جَابِرٍ، قَالَ: ٢ "«مَا أُكِلَ لَحْمُهُ فَلَا بَأْسَ بِبَوْلِهِ»" رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: ١ او د حضرت جابر رضی الله عنه په روایت کښې دا الفاظ دي ٢ هغه حیوان چې د هغې غوښه خوړل کیږی د هغې په متیازو کښې هیڅ هرج نشته. (احمد، دار قطني)

قوله: لَابَأْسَ بِبَوْلِ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ: دَ غیرماکول اللحم ځناورو متیازې په اتفاق سره ناپاك دی دَ ماکول اللحم ځناورو دَ متیازوپه حکم کښې دَ فقهاء کرامو اختلاف دې.

د ما یؤکل لحمه دبول په حکم کښې مذاهب:

دې جملې سره دوه فقهی مسئلې متعلق دی. یوه مسئله دبول مایؤکل لحمه ده. چه دا طاهر دی او که نه؟

① د امام مالك رحمه الله، امام محمد رحمه الله اود یو روایت مطابق د امام احمد رحمه الله مسلك دا دې چه دا طاهر دې

② اوامام ابوحنیفه رحمه الله، امام شافعی رحمه الله، امام ابویوسف رحمه الله او د سفیان ثوری رحمه الله مسلك دا دې چه دا نجس دی البته امام ابوحنیفه رحمه الله دا نجاست خفیفه گرځوی. ځکه چه دفقهاء داختلاف د وجې ددوئ په نیز احکامو کښې تخفیف راځی.

دطهارت د قائلینو دلائل:

① په روایت الباب کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ((کلوامن البانها وابوالها)) که د اوښانو متیازې پاکې نه وې. نو حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم به ددې حکم نه ورکولو.

جوابونه:

① **اول جواب:** نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته د وحی په ذریعه خبر شوې وو چه د ابوال ابل څخه بغیر د دوئ شفاء او ژوند ممکن نه دې. نو دا خلق د مضطرپه حکم کښې شو. اود مضطردپاره د نجس څیز استعمال اوشرب جائز گرځی. نو د دې څخه حکم نشی مستنبط کولې.

اول اعتراض: په دې باندې دا اعتراض کیږی چې تداوی حالت د ضرورت نه دې. ځکه چې تداوی واجب نه ده او ستاسو جواب مبنی دې په دې صورت چې تداوی واجب شی.

جواب: مونږ دا نه تسلیموو چې تداوی حالت د ضرورت نه دې بلکه تداوی حالت د ضرورت دې که یو معتمد علیه طبیب خبر ورکړی چې د متیازو څکلو څخه بغیر بله دوائی نشته نودا حالت د ضرورت گرځی اود ضرورت په وخت کښې حرام، حرام نه پاتې کیږی. خوچې کله ضرورت باتې نشی نو حرمت بیا عود کوی. اونبی کریم صلی الله علیه وسلم ته خو د وحی په ذریعه د عرنیینو شفاء په بول کښې معلومه شوې وه. نودا ضرورت شو. بلکه حافظ ابن حجر رحمه الله خو فرمائیلی دی چې بغیر د ضرورته هم حرام مباح گرځی لکه څنګه چې په

(۱) اخرجه الدارقطنی

رمضان کښې د مسافر دپاره د ضرورت څخه بغیر هم افطار جائز او مباح ګرځي.

دویم اعتراض: که بول نجس وو نو دا به حرام وو. اوپه حرامو کښې شفاء نشته لکه څنګه چې په حدیث کښې راغلی دی ((ان الله لم يجعل شفاء امتي فيما حرم عليها)) او د بخاری په روایت کښې دی ((ان الله لم يجعل شفاءكم فيما حرم عليكم))[1]

جواب: داحدیث په حالت اختیار ی باندې محمول دې په حالت اضطراری کښې حرام استعمالولې شی.

② نبی کریمﷺ دوئ ته د متیازو د څکلوحکم نه ووکړی. بلکه د دې د خارجی استعمال حکم ئې کړې وو. اوحقیقت کښې دا جمله د ((علفته تبنا وماء باردا)) د قبیله څخه ده او دې کښې تضمین دې. اصل کښې عبارت داسې وو. ((اشربوا من البانها وشموا من ابوالها)) یعنی د دې پئ اوڅکئ او د دې بول بوئی کړئ.

③ بعضې حضرات دا وائی چه دا حدیث منسوخ دې او ددې ناسخ د حضرت ابوهریرهؓ ((استنزهوا من البول)) حدیث دې. د نسخ دلیل دادې چه د عرنیین واقعه د مؤرخینو د تصریح مطابق په شپږمه هجرئ جمادی اولی یا ذی قعده یا شوال کښې واقع شوې وه. او حدیث د ((استنزهوا من البول)) لازما د دې څخه روستو دې ځکه چه د دې راوی حضرت ابوهریرهؓ په اووم کال د هجرت مسلمان شوې وو. د دې څخه علاوه حدیث کښې مذکور دی. چه نبی کریمﷺ د عرنیین مثله کړې وه. اومثله په اتفاق سره منسوخ ده. د دې وجې ظاهره دا ده. چه دا حکم به منسوخ وی.

دجواب ضعف: خو دا جواب بهترنه دې. ځکه چه اصول حدیث کښې دا خبره فیصله شوې ده. چه صرف د راوی متاخر الاسلام کیدل د حدیث د متاخرکیدو دلیل نه دې ځکه چه کیدې شی. چه حدیث ده د اسلام راوړوڅخه وړاندې وی. او راوی د اسلام راوړوڅخه پس د یوبل صحابی څخه دا اوریدلې وی. اوروایت کړې ئې وی. داسې حدیث د عرنیین ته منسوخ ونیل مشکل دی ړومبی دوه جوابونه بهتردی.

④ **دویم دلیل:** نبی کریمﷺ فرمائیلی دی ((صلوا فی مرابض الغنم)) [2] د دې څخه معلومیږی. چې بول د مایؤکل لحمه پاك دی. وجه داستدلال دا ده. چه مرابض دغنم د چیلو پچواو متیازو څخه ډك وی که د دوئ بول وغیره نجس وې. نو دې کښې به ئې د مونځ کولو اجازت نه ورکولو. ددې څخه دا حضرات د مایوکل لحمه د بول څخه علاوه د بعراو د روث په طهارت باندې هم استدلال کوی.

[1]) الصحیح البخاری باب شرب الحلواء والعسل (۱۲۰۸۴۰)-
[2]) جامع الترمذی باب ما جاء فی الصلاة فی مرابض الغنم وأعطان الإبل)-

Maktaba Tul Ishaat.com

جوابونه: ① په مرابض الغنم كښې د مونځ كولو مطلب دا نه دې چې په دې كښې د متيازو په ځائې دپاسه مونځ اوكړې شى.بلكه مطلب دا دې چې په جدا ځائې باندې جائې نماز پوزكې وغيره واچوئ او مونځ پرې اوكړئ.

② كه په مرابض الغنم كښې د مونځ كولو په وجه د جيلئ د متيازو طهارت معلوميږى نو په بل روايت كښې خو په ((مبارك الابل)) كښې د مونځ كولو څخه منع راغلې ده.نود اوښانو متيازې پكار ده چې نجس وى حالانكه تاسو ورته پاكې وائې نو ((فماهوجوابكم فهوجوابنا))

③ دا روايت منسوخ دې لكه څنګه چې په بخارى كښې دى ((عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الغَنَمِ، ثُمَّ سَمِعْتُهُ بَعْدُ يَقُولُ: «كَانَ يُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الغَنَمِ قَبْلَ أَنْ يُبْنَى المَسْجِدُ» (١) يعنى په مرابض الغنم كښې د مونځ د جواز واقعه د هغه وخت ده چې مسجد نبوى نه وو جوړ شوې.

③ **دريم دليل:** دحضرت براء رضي الله عنه مرفوع روايت دې ((لابأس ببول مايؤكل لحمه)) (٢) دغه شان اود حضرت جابر رضي الله عنه روايت روايت دې چې ((ما أكل لحمه فلا بأس ببوله)) () د دې دواړو روايتونو څخه معلوميږى چې بول د ما يوكل لحمه پاك دى.

جواب: دا دواړه روايتونه ضعيف دې د احتجاج قابل نه دى.حافظ ابن حجر رحمه الله په «التلخيص الحبير)) كښې فرمائيلى دى ((اسنادكل منهما ضعيف جدا)) (٣)

د نجاست د قائلينو دلائل:

اول دليل: ① په مستدرك حاكم كښې د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دې چې نبى كريم ﷺ فرمائيلى دى ((إِسْتَنْزِهُوا مِنَ الْبَوْلِ فَإِنَّ عَامَّةَ عَذَابِ الْقَبْرِ مِنْهُ)) ابن خزيمه وغيره د دې حديث تصحيح كړې ده.اوحاكم دا حديث صحيح على شرط البخارى ګرځولې دې.دا حديث علامه هيثمى رحمه الله هم په مجمع الزوائد كښې نقل كړې دې.دې كښې بول د ((ما يوكل لحمه)) هم شامل دى.

دويم دليل: ② په مسنداامام احمد رحمه الله كښې د حضرت سعدبن معاذ رضي الله عنه د وفات واقعه ده په هغې كښې دى (٤) چې د دفن څخه پس دې قبراوزورلو او يوروايت كښې دا هم دى.چه نبى كريم ﷺ ددې خبروركولو څخه پس اوفرمائيل دادده دعدم تحرزعن البول په وجه سره وو.

(١) الصحيح البخارى باب الصلاة فى مرابض الغنم)-
(٢) سنن دارقطنى (١٣٥\١) رقم الحديث (٤٥٤)-
(٣) التلخيص الحبير(٧١\١)-
(٤) مشكوة المصابيح ٢٦\١ باب اثبات عذاب القبرالفصل الثالث) _

د حضرت گنگوهی تحقیق: حضرت گنگوهی رحمه الله په الکوکب الدری کښې په دې مقام فرمائی چه ددې حدیث په بعضې طرق کښې دا تصریح هم ده. چه کله د دوئ د بی بی ښځه تپوس اوشو نودوئ اوفرمائیل چه ده به ښاروی ښرول او د دوئ د بولو ښځه به نې ښان نه ساتلو.

د گنگوهی په تحقیق د مفتی تقی عثمانی تبصره: مفتی اعظم پاکستان علامه محمد تقی عثمانی مدظله العالی په درس ترمذی کښې فرمانیلی دی چې د حضرت سعدبن معاذ دوفات په واقعه کښې دبی بی نه تپوس کولو دا قصه احقرته د حدیث په یوکتاب کښې ملاؤ نشوه خو حضرت گنگوهی رحمه الله داډیر په وثوق سره نقل کړې ده. که دا واقعه ثابته شی نو په زیر بحث مسئله کښې د نص صریح درجه لری. د دې عبارت نقل کولو ښخه پس ما هم دا خبره په ((تحفة المعی)) کښې هم اولیدله. دلته تقی عثمانی مدظله العالی کومه تبصره کړې ده په تحفة الالمعی کښې د دې تبصرې نسبت علامه انور شاه کشمیری رحمه الله ته کړې ده. اوحواله ئې د معارف السنن ورکړې ده. کیدې شی چې دا د مفتی تقی عثمانی صاحب خپله تبصره وی اوهم دا تبصره د دوی ښخه وړاندې شاه صاحب هم کړې وی. ښکه چې زه په مفتی صاحب دا گمان نه کوم چې دوی به د بل چا د تحقیق ښان طرف ته نسبت اوکړی. والله اعلم

دریم دلیل: ③ د حضرت ابن عمر رضی الله عنه حدیث دې ((نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن اکل لحوم الجلالة والبانها)) ([1]) جلاله هغه ښاروی ته وائی چه پچې وغیره گندگی خوری گویا چې بچې وغیره د نهی سبب دې. دې ښخه په دلالة النص سره د مایوکل لحمه بول روث اود بعره نجاست معلومیږی.

څلورم دلیل: ④ په سابقه باب کښې چې د حضرت ابن عباس رضی الله عنه روایت تیر شو په هغې کښې د عذاب قبر سبب دا بیان شو چې ((کان لایستنزه من البول)) اوبول مطلق دی د ماکول اللحم او غیر ماکول اللحم دواړو ته شامل دی. نو د دغه حدیث ښخه هم د بولو نجاست معلومیږی.

پنځم دلیل: ⑤ امام طحاوی رحمه الله فرمائی چی بول په دم باندې قیاس کول پکار دی په لحم باندې نه ښکه چې هر کله مونږ د انسان حالت ته اوکتل نو د ده وینه نجسه وه نو ب.ل ئې هم حرام او نجس اوگرځولې شو. اگرچې د انسان غوښه پاکه ده. خو په دې باندې قیاس نه دې شوې. نودغه شان به بول د ما یوکل لحمه ددې په وینه باندې قیاس کولې شی. په غوښه

---

[1]) جامع الترمذی ابواب الاطعمة باب ما جاء فی اکل لحوم الجلالة والبانها)-

Maktaba Tul Ishaat.com

باندې نه او وینه نې نجسه ده او بول به نې هم نجس وی.(۱)

شپږم دلیل: ⑥ که بول د ما یوکل لحمه پاك وو نو کم ازکم د صحابه کرامو څخه به یو څل د دې استمال ثابت وو.لیکن په ټوله ذخیره د احادیث کښې داسې څه روایت نشته.معلومه شوه چې بول د مایوکل لحمه پاك نه دی.

اووم دلیل: ⑦ کله چې د حرمت او اباحت دلائل متعارض شی نو د احتیاط دپاره به ادله د حرمت مقدم وی په دلائلو د اباحت نود دې اصول په رڼا کښې هم د حرمت او نجاست د قائلینو مذهب راجح دې.

اتم دلیل: ⑧ د حرمت مذهب د قانون کلی موافق دې قانون کلی دا دې چې بول وغیره د بدن څخه لرې اوساتلې شی..

[۹/۱۴] بَابُ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ

په موزوباندې دَمسح بیان

خلاصة الباب:

فيه تسعة أحاديث مشتملة على خمس مسائل:

① مدة المسح للمقيم والمسافر: ۱، ۳، ۴۔

② ثبوت المسح بفعله عليه الصلوة والسلام : ۲، ۸۔

③ شرطية لبس الخفين بعد التطهير: ۲، ۳۔

④ موضع المسح من الخفين: ۵، ۶، ۹۔

⑤ حكم المسح على الجوربين: ۷۔

د مسح علی الخفین په حکم کښې د اسلافو احتیاط: په موزوباندې مسح کول چونکه دَ کتاب الله دَ آیت الوضوء سره په ظاهری توګه متعارض وو څکه چه په قرآن کښې دَخپو وینځلوسره ﴿ إِلَى الْكَعْبَيْنِ﴾ لفظ راغلې دې اودَ ګیټوپورې مسح دَ چاپه نیزهم نشته دې دې قیددَ خپو دَ وینځلونه علاوه هرحکم ردکړې دې هم په دې وجه په خپوباندې دَ مسح کولوحکم امت په ډیر سوچ اوپوهه سره قبول کړو پخپله صحابه کرامو به په موزوباندې دَمسح کولوروایت کونکی صحابی دَ حضرت جریربن عبدالله ﷛ نه نی؟ دَ تعجب او استفسار په توګه پوښته کوله چه آیا په موزوباندې دَ مسح حکم دَ سورت مائده دَ نزول نه پس راغلې دې یا وړاندې راغلې.نوهغوی به فرمائیل چه روره دَ سورت مائده دَ نزول نه

۱) شرح معانی الآثار باب حکم بول ما یؤکل لحمه (۸٤\۱)۔

ورانديږ خو مااسلام قبول کړې نه وو زه خوډ هغې نه پس مسلمان شوې يم دَحضور پاك په موزو بانديږ مسح کول دَ سورت مائده نه پس دي.

د مسح على الخفين باره کښې د اسلافو کردار: لکه چه دَ احاديث کثيره مشهوره دَ وجې نه دَ قرآن پاك په آيت کښې تخصيص شوې دې او په موزو بانديږ مسح دَهغې نه پس امت قبول کړې دی.

① بعضو دَ مسح على الخفين دَ احاديثو راويان راجمع کړې دی نومعلومه شوه چه دَ اتياؤ نه زيات صحابه کرامودَدې روايت کړې دې په کوم کښې چه عشره مبشره بالجنة صحابه شامل دی.

② حضرت عبدالله بن مبارك رحمه الله فرمائی چه ما دَ مسح على الخفين باره کښې په صحابه کرامو کښې هيڅ اختلاف نه دې ليدلې اونه روستوعلماؤ په دې کښې اختلاف کړې دې.

③حضرت ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی دَدې مسئلې نه سلف صالحين کښې چاهم انکارنه دې کړې.

④ حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه زه دَ اوياؤ نه زيات داسې صحابه کرامو سره ملاؤ شوې يم چه هغوی په موزوبانديږ دَ مسح کولو عقيده لرله.

⑤ دَامام کرخی رحمه الله قول دې چه کوم سړې په موزو بانديږ دَ مسح نه انکاراوکړی اودا ناجائزاوګنړی نوماته دَهغه دکفرخطره ده ځکه چه په دې باره کښې احاديث تواترته رسيدلی دی. امام نووی دَ موزو په مسح بانديږ اجماع نقل کړې ده.

⑥ امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه ماپه موزو بانديږ مسح کول هغه وخت قبول کړل کله چه نمر دَنيمې ورځې په شان واضح احاديث ماته راؤرسيدل بيا هغوی په موزوبانديږ مسح کول دَ اهل سنت والجماعت نشانی اوشعار اوګرځولو.

دامام ابوحنيفه په نيزده اهل سنت والجماعت د شعار نښې: هغوی دَ اهل سنت کيدودَپاره درې څيزونه لازمی ګرځولی دی. فرمائی (("أَنْ نُفَضِّلَ الشَّيْخَيْنِ وَنُحِبَّ الْخَتَنَيْنِ وَنَرَى الْمَسْحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ"))

① دَحضورپاك دَ دوو خومانو حضرت علی رضی الله عنه او حضرت عثمان رضی الله عنه سره محبت ساتل

② په موزوبانديږ مسح کول جائز ګنړل

③ د شيخينو يعنی صديق اکبر رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه دَټولوصحابؤ نه غوره اوګنړئی.

خلاصه دا چه په موزو بانديږ مسح کول شرعًا جائزدی. دَدې نه انکار څوك مبتدع اوبدباطن کولې شی لکه روافض خذلهم الله کړې دې او خوارج هم کړې دې

د خپو وينځلو افضليت: بيادا خبره يادساتنی چه په موزوبانديږ مسح کول رخصت دې اودَ خپو وينځل افضل اوعزيمت دې خوکه څوك تکلف کوی او مشقت سره خپې وينځی نوداسې وينځل افضل نه دی اوکه بغيردَ تکلف نه ئی څوك وينځی نووينځل افضل دی صاحب دَ سفرالسعادة ليکلی دی چه کوم عمل دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم مخې ته راغلې دې

نوبغيرد څه تکلف نه هغوی په دې باندې عمل کړې دې اولړشان نی هم دتکلف نه کارنه دې اخستې.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل

[۵۱۷] په موزو د مسحې کولو موده

۵۱۷-() [۱] [۱] عَنْ شُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] سَأَلْتُ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ، [۳] فَقَالَ: «جَعَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهُنَّ لِلْمُسَافِرِ، [۴] وَيَوْمًا وَلَيْلَةً لِلْمُقِيمِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] شریح بن هاني رضي الله عنه راوي دي [۲] چې ما د حضرت علي کرم الله وجهه څخه په موزو د مسح کولو په باره کې پوښتنه د وکړه نو هغه وفرمایل [۳] چې رسول الله ﷺ د مسافر د پاره درې ورځې او درې شپې [۴] او د مقیم د پاره د یوې ورځې او یوې شپې موده مقرره کړې ده. (مسلم)

حل اللغات: ① الْخُفَّيْنِ: دا دخُف تثنیه ده، مَا يَسْتُرُ الْكَعْبَ وَيُمْكِنُ بِهِ ضَرُورِيَّاتُ السَّفَرِ: د څرمنې داسې جرابې چه ګیټې پکښې پټیږي او سفر په کښې کیدلې شي، دې ته موزې وائي.

تسهيلات:

قوله: ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ: توقيت في المسح دادې چه شريعت کله په موزوباندې دَ مسح کولوحکم ورکړو نواوس داکتل دی چه آيا دامسح کول دَڅه مقرروخت پورې ده که دَدې دَپاره څه وخت مقررنه دې. دامسئله دَ توقيت او عدم توقيتِ مسح په عنوان سره بيانولې شی په دې کښې دَ فقهاء کرامو اختلاف دې.

د مسح على الخفين په تحديد کښې مذاهب:-

① د امام مالک رحمه الله اود ليث بن سعد رحمه الله دا مسلک دې.چه د مسح هيڅ مده مقرر نه ده. بلکه تر کومې چه دې موزې اغوستې وی په دې مسح کيدې شي.

② دجمهورو په نيز د مسح على الخفين مده دمقيم دپاره يوه شپه او يوروځ ده.اود مسافر دپاره درې شپې او درې ورځې ده.

د اول فريق اول دليل: ① د حضرت خزيمه بن ثابت رضي الله عنه روايت دې ((عن النبى صلى الله عليه وسلم على الخفين للمسافر ثلثة ايام وللمقيم يوم وليلة لواستزدناه لزادنا)) ([۲])

داول فريق د اول دليل څلور جوابونه:- ① د ((لواستزدناه لزادنا)) زياتې صحيح نه دې لکه چه

[۱]) اخرجه مسلم فى كتاب الطهارة/ باب التوقيت فى المسح على الخفين... رقم الحديث ٦٦١

[۲]) ابوداود باب التوقيت فى المسح قال ابوداود رواه منصور بن المعتمر عن ابراهيم التيمى باسناده قال فيه ولواستزدناه لزادنا))

علامه زیلعی رحمه الله او علامه ابن دقیق العید رحمه الله ددې تضعیف کړې دې.

② بعضې حضرات فرمائی چه دا د ابتداء واقعه ده.روستو مده مقرر شوه

③ بعضې حضرات فرمائی دادحضرت خزیمه رضی الله عنه خپل گمان دې چه شرعًا حجت نه دې.

④ د ټولوڅخه بهترجواب علامه ابن سیدالناس په شرح ترمذی کښې ورکړې دې.چه قاضی شوکانی په نیل الاوطار ۱۷۹۱۱ کښې نقل کړې دې.هغه داچه که دازیاتې ثابت هم شی نو هم ددې جملې نه په عدم توقیت استدلال صحیح نه دې.ځکه چه "لو" په کلام دعربوکښې د انتفاء د ثانی د وجې د انتفاء اول دپاره راځی.نو د دې حدیث مطلب دا شو.چه که مونږ دحضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه د د مسح د مودې د زیادت طلب کړې وې.نو دوئ به زیاتې کړې وو.خوچه زیاتې موطلب نه کړو.نو زیاتې اونه شوه هم ددې جواب تشریح اوتفصیل علامه عثمانی رحمه الله دحضرت شیخ الهند رحمه الله په حواله سره په فتح الملهم کښې دا نقل کړې دې.چه په اصل کښې د حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا معمول وو.چه دوئ به په اهم معاملاتواو ډیرو شرعی معاملاتوکښې د تحدیددپاره د صحابه کرامو رضی الله عنهم سره مشوره کوله.حضرت خزیمه رضی الله عنه دې باره کښې فرمائی.چه که مونږ د زیادت مشوره ورکړې وې.نو حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم به زیاته مُوده مقرر کړې وې.خو مونږ دزیاتې مودې مشورو ورنه کړه.نو دوئ صلی الله علیه وسلم زیاتې اونه کړو.په هرحال داد هغه وخت واقعه ده.ترکومې چه څه شرعی تحدید نه وو شوې.خو چه کله یوه مده مقررشوه.نو دې څخه پس ددې مخالفت قطعًاجائزنه دې.

اشکال:-په امورو شرعیه کښې د مشورې څه ضرورت دې؟

جواب:- دا د دې امت خصوصیت دې چې ((وَأَمْرُهُمْ شُورٰى بَيْنَهُمْ)) دغه شان په بل آیت کښې دی ((وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ)) نو بعضې وخت په امورو شرعیه کښې هم د امت د رائې اعتبار کولې شی لکه څنګه چې حکم راغلو ((يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ فَقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً))نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم د علی رضی الله عنه سره مشوره اوکړه چې څومره صدقه به پکار وی هغوی ورته عرض اوکړو چې یوه شعیره به کافی وی نو هم دغه شعیره مقرر کړې شوه دلته هم درې ورځې او درې شپې د مسافر دپاره مقرر کړې شوې نو اوس به په کښې زیادت نشی کولې.

د اول فریق دویم دلیل:② دحضرت ابی عماره رضی الله عنه څخه روایت دې.((قَالَ يَارَسُولَ اللهِ صلی الله علیه وسلم اَمسح علی الخفین ؟قال نعم قال یوما؟قال......ویومین.....قال ثلثه ؟قال نعم وماشئت)) ([1])

[1] باب التوقیت فی المسح ۱۲)_

اوپه یو روایت کښې داسې دی.(۱) ((عن ابی بن عمارة رضي الله عنه قال فيه حتى بلغ سبعًا، قال رسول الله ﷺ نعم مابدالك)) دا روایت په عدم توقیت کښې صریح دې.

دااول فریق د دویم دلیل جواب:- دا روایت سنداً ضعیف دې لکه چه امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی ((وقد اختلف فی اسناده ولیس هو بالقوی)) اوامام بیهقی رحمه الله په کتاب المعرفة کښې فرمائی ((اسناده مجهول)) او امام دارقطنی رحمه الله په خپل سنن کښې لیکی چه دا اسنادثابت نه دې.او دې کښې عبدالرحمن بن رزین اومحمدبن یزید اوایوب بن قطن مجهول دی.امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه ((لیس ینبغی لاحد ان یترك هذه الآثار المتواترة فی التوقیت لمثل حدیث ابی عمارة))

د اول فریق دریم دلیل: ③ د حضرت عقبه بن عامر څخه روایت دې.((قال اتردت (ای جئت) من الشام الی عمر بن الخطاب فخرجتُ من الشام یوم الجمعة ودخلت المدینة یوم الجمعة فدخلت علی عمر وعلیَّ خفان جرمقانیان رصوابه جرمقانیان فقال لی متی عهدك یاعقبة بخلع خفیك فقلت لبستهما یوم الجمعة وهذا الجمعة فقال لی اصبت السنة)) (۲)

دااول فریق د دریم دلیل څلور جوابونه:-

① امام طحاوی رحمه الله فرمائی چې کیدې شی چې عقبه بن عامر په داسې لار باندې راغلې وو چې په هغې کښې اوبهٔ نه وی او عمر رضي الله عنه ته هم معلومه وه چې دې په کومه لار راغلې دې په هغې کښې اوبهٔ نشته نو ښکاره ده چې تیممم به کوی او تیمم خو صرف د مخ او لاسونومسح کول دی په هغې کښې خو د موزو ویستل نه وی.

② د سنت څخه مراد سنت نبوی نه دې بلکه سنت عمری دې چې دا د عمر رضي الله عنه اجتهاد وو.خو دې ته ئې د ((علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین)) په وجه سنت وئیلې دې.

③ ابن عربی رضي الله عنه فرمائی چې په پښو کښې اصل وینځل دی او مسح خود عارض لبس الخفین د وجې راځی بل طرف ته د صحیح احادیثو څخه توقیت في المسح ثابت دې.او د دې روایت څخه علاوه بل صحیح روایت دعدم توقیت په باره کښې نشته نو چې اصل او صحیح روایاتو ته اوکتلې شی نو دا حدیث قابل عمل نشی پاتې کیدې.څکه چې عدم توقیت خلاف الاصل او خلاف الرویات دې.

④ د جمعې څخه جمعې پورې د مسح کولو مطلب دادې.چه دطریق مشروع مطابق ئې د یوې هفته څخه خفین اچولې وو.او طریق مشروع دا دې چه په مودهٔ ختمیدو به ئې خفین ویستل پښې به ئې وینځلې او دا به ئې په دوباره اغوستل.په عرف کښې داسې عمل کوونکو داوئیلې کیږی.چه دې د یومیاشتې داسې مسح کوی.ددې دلیل دادې چه

---

(۱) باب التوقیت فی المسح ۱۲) _

(۲) شرح معانی الآثارباب المسح علی الخفین کم وقته للمقیم والمسافر)-

حضرت عمر رضی الله عنه پخپله دتوقیت مسح قائل وو. اومذکوره روایت خلاف د دوی څخه ډیر روایات ثابت دی.

دعمر رضی الله عنه د مسح د توقیت قائل کیدو دلائل:- (ا) مثلاً طحاوی کښې (۱) د حضرت سویدبن عقله روایت دې. ((قال قلنا لنباتة الجعفي وكان اجرأنا على عمر رضي الله عنه سله عن المسح على الخفين فسأله فقال للمسافر ثلثة ايام ولياليهن وللمقيم يوم وليلة)) دحضرت عمر رضی الله عنه دا حدیث دړومبی حدیث سره معارض دې که دترجیح صورت اختیارکړې.نو ظاهره ده چه هغه روایت به راجح وی چه کوم د احادیث مرفوعه متواتره مطابق وی اوکه د تطبیق کوشش اوکړې شی.نو هم دابه وئیلې کیږی.چه د شرعی قاعدې مطابق ئې د یوې هفتې څخه موزې اچولې وې

(ب) یوځلې دحضرت سعد رضی الله عنه او حضرت ابن عمر رضی الله عنه په مینځ کښې د مسح علی الخفین په باره کښې اختلاف راغې او معامله حضرت عمر رضی الله عنه ته وړاندې شوه نو حضرت عمرفاروق رضی الله عنه خپل ځوی عبدالله بن عمر رضی الله عنه ته اوفرمائیل ((يابنى عمك افقه منك للمسافر ثلثة ايام ولياليها وللمقيم يوم وليلة)) دې څخه هم دا ثابتیږی چه حضرت عمر رضی الله عنه پخپله هم د توقیت قائل وو.

(ت) دې څخه علاوه په مسند بزارکښې پخپله دحضرت عمر رضی الله عنه نه دامرفوع حدیث مروی دې.((ان النبى صلى الله عليه وسلم قال يمسح المسافر على الخفين ثلاثة ايام ولياليهن وللمقيم يومًا وليلة)) (۲) امام بزار رحمه الله فرمائی ((وخالد لين الحديث وروى عنه جماعة))

داول فریق څلورم دلیل: ④ دامام مالک رحمه الله یو استدلال په مسندابویعلی کښې د حضرت میمونه رضی الله عنها دحدیث څخه هم دې.((قالت يارسول الله صلى الله عليه وسلم ايخلع الرجل خفيه كل ساعة قال لاولكن يمسح عليها مابدا له))(۳) علامه هیثمی رحمه الله ددې روایت ذکرکولو نه پس فرمائی ((فيه عمربن اسحاق قال الدارقطنى ليس بالقوى وذكره ابن حبان فى الثقات)) هم داحدیث المطالب العالية کښې هم د عمر بن اسحاق څخه مروی دې ((قال قرأت لعطاء كتابا معه فاذا فيه حدثنى ميمونة رضي الله عنها زوج النبى صلى الله عليه وسلم انها قالت الخ)) (۴)

داول فریق د څلورم دلیل جواب:- په هرحال ددې جواب دادې چه عمربن اسحاق متکلم فیه راوی دې اوکه دده.حدیث صحیح هم تسلیم شی.((فالمراد مابدا له بالمدة لان السوال انما كان فى خلع الخفين كل ساعة))

(۱) الطحاوی کتاب الطهارة باب المسح على الخفين كم وقته للمقيم والمسافر) _
(۲) كشف الاستار ۱۵۶۱۱ رقم ۳۰۶))
(۳) (مجمع الزوائد ۲۵۸۱۱ باب التوقيت فى المسح على الخفين)
(۴) المطالب العالية ۳۵۱۱ رقم ۱۱۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

داول فریق پنځم دلیل: ⑤ مسند احمد کښې هم د حضرت میمونه ﷺ حدیث دې.((عن عطاء بن يسار قال سألت ميمونة زوج النبي صلى الله عليه وسلم عن المسح على الخفين قالت قلت يا رسول الله ﷺ أكل ساعة يمسح الانسان على الخفين ولا ينزعهما قال نعم))[1]

داول فریق د پنځم دلیل جواب: دې کښې هم د عمربن اسحاق راوي واسطه ده.اوکه داتسلیم هم شي.نو ددې هم دغه جواب دې چه کوم تیرشوي حدیث کښې بیان شو.((وايضًا لايقاوم الاحاديث الصحيحة المشهورة))

دجمهورو دلائل:- حدیث الباب د جمهورو صحیح اوصریح دلیل دې.او ددې معنی نورهم ډیراحادیث منقول دی.او دتوقیت مسح دامفهوم خو حد د شهرت ته رسیدلې دې. لکه چه دحضرت علی ﷺ ، حضرت ابوبکر ﷺ ، حضرت ابوهریره ﷺ ، صفوان بن غسال ﷺ ، حضرت ابن عمر ﷺ ، عوف بن مالك ﷺ وغیر هم ځخه ددې مضمون روایات منقول دی.

[۵۱۸] په موزوباندې مسح کول

۵۱۸-(۲)[۲] ⑴ وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، ⑵ «أَنَّهُ غَزَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ تَبُوكَ. قَالَ الْمُغِيرَةُ: ⑶ فَتَبَرَّزَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ الْغَائِطِ، ⑷ فَحَمَلْتُ مَعَهُ إِدَاوَةً قَبْلَ الْفَجْرِ، ⑸ فَلَمَّا رَجَعَ أَخَذْتُ أُهَرِيقُ عَلَى يَدَيْهِ مِنَ الْإِدَاوَةِ ⑹ فَغَسَلَ يَدَيْهِ وَوَجْهَهُ، وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ مِنْ صُوفٍ، ⑺ ذَهَبَ يَحْسِرُ عَنْ ذِرَاعَيْهِ، فَضَاقَ كُمُّ الْجُبَّةِ، ⑻ فَأَخْرَجَ يَدَيْهِ مِنْ تَحْتِ الْجُبَّةِ، ⑼ وَأَلْقَى الْجُبَّةَ عَلَى مَنْكِبَيْهِ، وَغَسَلَ ذِرَاعَيْهِ، ⑽ ثُمَّ مَسَحَ بِنَاصِيَتِهِ وَعَلَى الْعِمَامَةِ،

ترجمه: ⑴ د مغیره بن شعبه ﷺ په باره کې روایت دې ⑵ چې هغه د حضور ﷺ سره په غزوه تبوك کې شرکت وکړو هغه وایي ⑶ په دې دوران کې یوه ورځ د سحر د لمانځه ځخه مخکې حضور ﷺ د قضایې حاجت (اودس ماتې) د پاره بهر تشریف یوړلو ⑷ زه هم د اوبو پتکې آخستو سره د حضور ﷺ سره ملګرې شوم ⑸ کوم وخت چې حضور ﷺ د قضایې حاجت ځخه واپس تشریف راوړو (او د اودس د پاره کیناستل) نو ما د حضور ﷺ په لاسونو اوبه اچول شروع کړل ⑹ حضور ﷺ مخکې خپل دواړه لاسونه ووینځل او مخ یې ووینځلو حضور ﷺ یوه اُوني (و وړې) جُبّه اغوستې وه ⑺ د هغې لستونې یې پورته کول اوغوښتل لیکن لستونې یې تنګ وو (ځکه پورته ونه ختل) ⑻ نو حضور ﷺ خپل دواړه لاسونه د جبې ځخه راوښکل ⑼ جبه یې په اوږو واچوله او دواړه ځنګلې یې ووینځلې ⑽ بیا یې په ځلورمې

[1]) معجم الزوائد ۲۵۸/۱)-

[2]) اخرجه مسلم كتاب الطهارة باب تقديم الجماعة من يصلى بهم إذا تأخر الإمام ولم يخافوا مفسدة بالتقديم(رقم) ۱۰۵ - (۲۷٤) وابوداود كتاب الطهارة . باب المسح على الخفين (رقم- ۱٤۹) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فی المسح على الخفين (رقم- ٥٤٥) والنسائی كتاب الطهارة/باب المسح على الخفين فی السفر (رقم- ۱۲٥)

حصي سر اوپه لنگوټۍ (پټکي) مسح وکړله.

حل اللغات: ① فَتَبَرَّزَ: أَيْ: خَرَجَ إِلَى الْبَرَازِ: یعنی قضاء حاجت دپاره نبي تشریف راوړو، براز صحراء او فضاء ته وائی خو دا کنایه ده د قضاء حاجت نه ② قِبَلَ الْغَائِطِ: أَيْ: جَانِبَهُ لِقَضَاءِ الْحَاجَةِ: یعنی د بشری تقاضې دپاره روان وو. ③ تَحَلَّلْتُ: نو وامې خستل، ④ إِدَاوَةً: لوښې، یعنی لوټه یا کوزه. ⑤ أَهْرِيقُ: أَيْ: أَصُبُّ الْمَاءَ: ما به ورته اوبه اچولې، ⑥ جُبَّةٌ: چوغه، ⑦ صُوفٍ: وړی، ⑧ ذَهَبَ: أَيْ: شَرَعَ وَأَخَذَ: دلته ذهاب په معنی د شروع کولو او د نیولو په معنی کښې دې، ⑨ يُحْسِرُ: أَيْ: يَكْشِفُ كُمَّيْهِ: یعنی لستونړی ئې اوچتول. ⑩ كُمّ: لستونړې،

[۱] ثُمَّ أَهْوَيْتُ، لِأَنْزِعَ خُفَّيْهِ، فَقَالَ: [۲] "دَعْهُمَا، فَإِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ" فَمَسَحَ عَلَيْهِمَا [۳] ثُمَّ رَكِبَ وَرَكِبْتُ، فَانْتَهَيْنَا إِلَى الْقَوْمِ، وَقَدْ قَامُوا إِلَى الصَّلَاةِ، [۴] وَيُصَلِّي بِهِمْ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ، وَقَدْ رَكَعَ بِهِمْ رَكْعَةً، [۵] فَلَمَّا أَحَسَّ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَهَبَ يَتَأَخَّرُ، فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ، [۶] فَأَدْرَكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِحْدَى الرَّكْعَتَيْنِ مَعَهُ، [۷] فَلَمَّا قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقُمْتُ مَعَهُ، [۸] فَرَكَعْنَا الرَّكْعَةَ الَّتِي سَبَقَتْنَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] بیا چې کله ما د حضور ﷺ د موزو ویستلو (کښلو) اراده وکړله چې حضور ﷺ پښې وویستې نو وي فرمایل [۲] دا پریږده ځکه چې ما د پښو د پاکي په حالت کې دا اچولي وي (یعني اودس کولو ځخه وروسته مې اچولي دي) نو حضور ﷺ په دواړو موزو باندې مسح وکړله [۳] بیا حضور ﷺ او زه دواړه سوریدو سره خلقو ته راغلو نو د سحر لمانځه د پاره جماعت اودریدلې وو [۴] او عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه مونځ ورکولو او یو رکعت یې کړي وو [۵] هغه ته چې د حضور ﷺ د تشریف راوړلو احساس وشو نو هغه په وروسته کیدو شو (چې حضور ﷺ امامت وکړي) لیکن حضور ﷺ ورته اشاره وکړله چې په خپل ځاي ولاړ اوسه او مونځ ورکړه [۶] نو حضور ﷺ یو رکعت د هغه سره وکړو [یعني حضور ﷺ دویم رکعت د عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه په اقتداء کړو ادا کې هرکله چې هغه سلام وګرځولو] [۷] نو حضور ﷺ اودریدلو او زه هم د حضور ﷺ سره ودریدم [۸] او کوم مخکښي رکعت چې زمونږ ځخه تیر شوې وو هغه مو اداکړلو، (مسلم)

حل اللغات: ⑪ أَهْوَيْتُ: أَيْ: انْحَنَيْتُ: یعنی قصد مې اوکړو چه ورښکته شم، ⑫ أَحَسَّ: أَيْ: عَلِمَ: احساس ورته اوشو یعنی پته ورته اولګیده، ⑬ فَأَوْمَأَ: اشاره ئې ورته اوکړه.

الْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۱۰] مسافر دپاره درې ورځې او شپې په موزو د مسحې کولو جواز

۵۱۰-(۳)[۱] عَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] أَنَّهُ «رَخَّصَ لِلْمُسَافِرِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهُنَّ، [۳] وَلِلْمُقِيمِ يَوْمًا وَلَيْلَةً، [۴] إِذَا تَطَهَّرَ فَلَبِسَ خُفَّيْهِ أَنْ يَمْسَحَ عَلَيْهِمَا»، رَوَاهُ الْأَثْرَمُ فِي سُنَنِهِ، وَابْنُ خُزَيْمَةَ،

[۱] اخرجه ابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء في التوقيت في المسح للمقيم والمسافر (رقم- ۵۵۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

والدَّارَقُطْنِيُّ، ۵ وَقَالَ الْخَطَّابِيُّ: هُوَالإِسْنَادُ، هَكَذَافِي الْمُنْتَقَى.

ترجمه: ۱ ابي بكره رضي الله عنه راوي دي ۲ چې رسول الله ﷺ په موزو د مسح كولو اجازت مسافر ته دري ورځې او دري شپو پورې ۳ او مقيم ته د يوي ورځې او يوي شپې پورې وركړي دي ۴ هركله چې هغه موزې د اودس كولو څخه وروسته په پښو كړي وي، اثرم ابن خزيمه، دارقطني، ۵ او خطابي وايي چې دا حديث د اسناد له مخه صحيح دي او په منتقى كې (هم چې د ابن تيميه حنبلي رحمه الله كتاب دي) دغسې منقول دي.

حل اللغات: ① رَخَّصَ: أَيْ: جَوَّزَ: اجازت ئې وركړي دي.

تسهيلات:

قوله: إِذَاتَطَهَّرَ:

د موزې اچولو دپاره د پښو د طهارت شرطيت: دَحضرت ابوبكر رضي الله عنه په دې روايت كښې اودَدې نه وړاندې دَحضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه روايت كښې داقسم الفاظ راغلى دى چه په موزوباندې مسح هله صحيح ده كله چه داپه كامل طهارت باندې واچولې شى يعنى اودس ئى جوړكړو اوتردغه وخت پورې دا سړې په اودس كښې دې اوموزه ئى واچوله نوبيادې مسح كولې شى څكه چه موزه ئى په طهارت باندې اچولې ده اودَ بهرنه چه كوم نوې نجاست يا حدث راځى هغه په موزه كښې دننه نه ورځى لهذا صرف مسح كافى ده.

د موزو اچولودپاره د كامل اودس په شرطيت كښې مذاهب:

① امام شافعى رحمه الله فرمائى چه تركومې پورې ئى پوره اودس نه وى كړې هغه وخته پورې مسح كول جائزنه دى بلكه په كامل طهارت باندې موزه اچول دَ آئنده مسح دَپاره شرط دې.
② امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى كه يو سړى دَ اودس جوړولووخت كښې اول خپې وينځلې بيائى موزه واچوله اوباقى اودس ئى پوره كړو نوپه دې صورت كښې هم آئنده مسح جائزده څكه چه هغه دَ خپې دَ طهارت په حالت كښې موزه اچولې ده.

په اودس كښې د ترتيب په فرضيت كښې مذاهب:

په اصل كښې دا مذكوره اختلاف په يو بل اختلاف باندې مبنى دې. يعنى په اودس كښې د ترتيب په فرضيت كښې اختلاف.

① دَامام شافعى رحمه الله په نيزپه اودس كښې ترتيب فرض دې اوس چاچه اول خپې اووينځلې نوهغه غيرمرتب اودس اوكړو كوم چه صحيح نه دې نوموزې ئى په طهارت باندې كوم ځائى واچولې؟ليكن ② دَ امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز چونكه غيرمرتب اودس هم صحيح دې لهذا دا موزې هم په طهارت كښې اچولې شوى دى. احتياط دَ شوافع په مسلك كښې دې او ظاهر دَحديث هم دې طرف ته اشاره كوى.

[۵۲۰] په جنابت د موزو د مسحې ماتیدل

۵۲۰-(۱) [۴] ① وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا إِذَا كُنَّا سَفَرًا أَنْ لَا نَنْزِعَ خِفَافَنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهُنَّ إِلَّا مِنْ جَنَابَةٍ، ③ وَلٰكِنْ مِنْ غَائِطٍ وَبَوْلٍ وَنَوْمٍ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او صفوان بن عسال رضی الله عنه فرمایي ② هرکله به چې مونږ په سفر کې وو نو رسول الله ﷺ به مونږ ته حکم راکولو چې تر دریو ورځو او دریو شپو پورې (اودس کولو په وخت د پښو وینځلو د پاره) موزې نه اوداړو البته د جنابت په وجه [یعني د غسل واجب کیدو په صورت کې د لمبیدو د پاره دې وښکل شي]، ③ نه د اودس ماتي په وجه او نه د متیازو په وجه او نه د خوب په وجه [یعني په دې صورتونو کې به په سفر کې د پښو نه تر درې ورځو پورې موزې نه ویستلې کیږی بلکې مسح به پرې کولې شي. (ترمذي نسائي)

[۵۲۱] په موزو د مسحې کولو طریقه

۵۲۱-(۲) [۵] ① وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ: ② «وَضَّأْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ، ③ فَمَسَحَ أَعْلَى الْخُفِّ وَأَسْفَلَهُ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. ④ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ مَعْلُولٌ، وَسَأَلْتُ أَبَا زُرْعَةَ وَمُحَمَّدًا - يَعْنِي الْبُخَارِيَّ - عَنْ هٰذَا الْحَدِيثِ، ⑤ فَقَالَا: لَيْسَ بِصَحِيحٍ، وَكَذَا ضَعَّفَهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① مغیره بن شعبه رضی الله عنه راوي دي ② چې ما په غزوه تبوك کې رسول الله ﷺ ته په اودس کې اوبه اچولې وې ③ او حضور ﷺ په موزو د لاندې او د بره مسح وکړه، ابوداؤد ابن ماجه، ④ امام ترمذي فرمایلي دي چه دا حدیث معلومول دي ما د دې حدیث په باره کې دابو زرعه او محمد یعنی امام بخاري رحمه الله څخه پوښتنه وکړه ⑤ نو دواړو اوویل چې دا حدیث صحیح نه دي دغسې امام ابوداؤد هم دې حدیث ته ضعیف ویلي دي.

حل اللغات: ① وَضَّأْتُ: أَيْ: سَكَبْتُ: یعنی اودس کولو دپاره مې ورته اوبه اچولې وې.

تسهیلات:

قوله: فَمَسَحَ أَعْلَى الْخُفِّ وَأَسْفَلَهُ: موزو باندې د محل مسح باره کښې اختلاف دې. ټول درې صورتونه دی ، دوؤ باندې اتفاق دې او یو کښې اختلاف دې.

د مسح على الخفين په اعلى او اسفل کښې مذاهب:

① امام شافعی رحمه الله فرمائی چه مسح ((على الخفين أعلى وأسفل)) دواړوطرفونه به وی

---

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب المسح على الخفين للمسافر والمقيم (رقم-۹۶) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب الوضوء من النوم (رقم- ۴۷۸) والنسائی کتاب الطهارة/باب التوقيت فی المسح على الخفين للمسافر (رقم- ۱۲۷)

(۲) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة ، باب کیف المسح (رقم- ۱۶۵) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فی مسح أعلى الخف وأسفله (رقم- ۵۵۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

② بيا امام مالک رحمه الله د جانبينو مسح واجب واني.او امام شافعي رحمه الله اعلى واجب او اسفل مستحب ګرځوي.

③ دحنفيانو اودحنابلو په نيز صرف د اعلى الخف مسح ضروري ده.او د اسفل الخف مسح مشروع هم نه ده.

داول او دويم فريق دليل: زيربحث د مغيره بن شعبه رضی الله عنه حديث عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ: «وَضَّأْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ، فَمَسَحَ أَعْلَى الْخُفِّ وَأَسْفَلَهُ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، د دوی مستدل دې.ځکه چې په دې کښې د مسح داعلى او اسفل ثبوت دې.

داول اودويم فريق د دليل جواب: دا روايت معلول دې او بخاری او ابو زرعه رحمة الله عليه دا ضعيف ګرزولې دې. لهذا دا قابل د استدلال نه دې.

د احنافو دلائل: ① داحنافو دليل ترمذی رحمه الله کښې د حضرت مغيره بن شبه رضي الله عنه روايت دې. ((قال رأيت النبي صلى الله عليه وسلم يمسح على الخفين ظاهرهما، قال ابوعيسى حديث المغيرة حديث حسن)) (¹)

اشکال: خو ددې په باره کښې امام ترمذی رحمه الله ليکي.((وهوحديث عبدالرحمن بن ابی الزنادعن ابيه عن عروة عن المغيرة ولانعلم احدايذكرعن عروة، عن المغيرة على ظاهرهما غيره))

د اشکال جواب: خو دې خبرې سره د حديث په صحت هيڅ اثر نه پريوځی ځکه چه امام بخاری رحمه الله هم دا حديث په تاريخ کبيرکښې ((عن عروة عن المغيرة)) په طريق روايت کړې دې.او دا ئې صحيح ګرځولې دې.

اشکال: د عبدالرحمن بن ابی الزناد بعضې حضراتوتضعيف کړې دې.

داشکال جواب: صحيح داده.چه ددوی احاديث مقبول دی.

② په ابوداؤدکښې په اسناد حسن سره دحضرت علی رضي الله عنه ارشادمروی دې.((عن علی رضی الله عنه قال لوكان الدين بالرای لكان آسفل الخف آولى بالمسح من آعلاه وقد رآيت رسول الله صلى الله عليه وسلم يمسح على ظاهرخفيه))(²)

③ د عبدالله بن المغفل المزنی روايت دې.((قال اول من رايت عليه خفين فی اسلام، المغيرة بن شعبة اتانا ونحن عند رسول الله صلى الله عليه وسلم وعليه خفان اسودان فجعلنا ننظر اليهما ونعجب منهما فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم اما انه سيكون لكم اعلى الخفاف قالوا يارسول الله فكيف نصنع ؟ قال تمسحون عليهما وتصلون))(³)

اود حديث د باب جواب دادې چه دامعلول دې لکه چه زربه ددې تفصيل راشی.اوکه

¹) الترمذی كتاب الطهارة باب فی المسح على الخفين ظاهرهما)-
²) وكذا فی بلوغ المرام وفی التلخيص ۵۹۱۱واسناده صحيح)-
³) (المطالب العالية ۳۵۱۱)-

دابل استدلال هم اومنلې شي نو بیاهم داونیلې شي چه په اصل کښې مسح دوی په ظاهرکړې وه خودموزو دسختې په وجه ئې اسفل خف هم نیولې وو. چه دینه راوی په مسح علی الاسفل تعبیراوکړو.

[۵۲۲] د موزو په ظاهر باندې مسح کول

۵۲۲—()[۶] [۱] وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: [۲] «رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ عَلَى ظَاهِرِهِمَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] مغیره ابن شعبه رضي الله عنه راوي دي [۲] چې ما رسول الله ﷺ په موزو دپاسه په مسح کولو باندې لیدلې دی. (ترمذي ابوداؤد)

[۵۲۳] په جورابو د مسحې کولو حکم

۵۲۳—()[۷] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: [۲] «تَوَضَّأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [۳] وَمَسَحَ عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ وَالنَّعْلَيْنِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] مغیره ابن شعبه رضي الله عنه راوي دي [۲] چې رسول الله ﷺ اودس وکړو [۳] او د نعلینو سره یې په جوربینو مسح وکړله. (احمد ترمذي ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات: ① الْجَوْرَبَيْنِ: دا جورب تثنیه ده، جرابو ته وائی. ② النَّعْلَيْنِ: د نعل تثنیه ده، پنړې ته وائی.

تسهیلات:

قوله: وَمَسَحَ عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ:

د جورب لغوی تحقیق: جورب معرب دی. اصل کښې دا د فارسی گورپ دي. او ددې اصل گوربا دې اوددې معنی ده د پښې قبر. جرابې هم د پښو دپاره قبر دی. داشان جوربین تثنیه ده. لکه څنګه چې خفین تثنیه ده. ددې مفرد خف دي. او خف موزې ته وائی. دا دواړه په طور د تثنیه راوړلې کیږی ځکه چه د ا مسئله د تثنیه سره خاص ده. په یوه جرابه یا یوه موزه باندې مسح نه کیږی.

په جورابو باندې د مسح د حکم بیانولو ځخه وړاندې د جورابو اقسام بیانولی شی. چې دا زده شی نو بیا به د فقهاء کرامو اختلاف په ذهن کښې کینی. احادیثو کښې د خفین او جوربین نه علاوه د جرموقین نوم هم راغلې دې.

---

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة، باب کیف المسح (رقم- ۱۶۱) وابن ماجة باب فی المسح علی الخفین ظاهرهما (رقم- ۹۸)
(۲) اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی المسح علی الجوربین والنعلین (رقم- ۹۹) وابوداود کتاب الطهارة، باب المسح علی الجوربین (رقم- ۱۵۹) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فی المسح علی الجوربین والنعلین (رقم- ۵۵۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

د جورابو قسمونه:

① جوربین منعلین، دا هغه جوربین دی چې دهغې صرف لاندې تلی باندې یا صرف په پورتنی حصه باندې څرمن لګولې شوی وی.په دې هم اتفاق دې چې په دې هم مسح جائز ده.

② جوربین مجلد، داهغه (جوربین) دې چې دهغې لاندې باندې څرمن لګیدلې وی او دټولو فقهاء کرامو په دې اتفاق دې چې دا جوربین د خفین په حکم کښې دی. په دې باندې مسح کول جائز دی.

③ جوربین رقیقین، یعنې داسې جوربین چې لاندې باندې پښه په نظر راځی او په هغې کښې یوکس مسلسل بغیر د پیزار نه نشی ګرزیدلې. هغې کښې پورته لاندې اوبه ورځی. په دې کښې هم اتفاق دې چې په داسې قسمه جوربینو مسح جائز نه ده.

④ که جوربین نه منعل دی او نه مجلد او نه رقیق بلکه ثخینین دی. په دې ثخینینو کښې اختلاف دې. خود ثخینینو دپاره د څلورو شرطونو موندل ضروری دی.

د ثخینینو څلور شرطونه:

① د یو طرف نه هم کاشف قدمین نه وی بلکه ساتر قدمین وی.

② چې دومره غټې او مضبوطې وی چې بغیر د پیزار نه درې میله مسلسل دې سره مزل کولې شی.

③ دځه ربړ یا تسمی وغیره په مددسره استمساك نه وی بلکه پخپله پنډۍ سره لګیدلې وی.

④ داشان ثخینین وی چې په اوبو باندې قدم اینبودو سره دا اوبه نه جذب کوی.

په ثخینینوجورابو باندې د مسحې په حکم کښې مذاهب:

① د جمهورو او صاحبینو په نیز مسح جائز ده.

② امام ابوحنیفه رحمة الله علیه فرمائی چې ترکومې پورې جوربین مجلدین یا منعلین نه وی په دې باندې مسح جائز نه ده.

داول فریق دلیل: حدیث الباب د دوی مستدل دې.ځکه چې په دې کښې په جورابو باندې د مسحې کولو ذکر دې.

داول فریق د دلیل جواب: د مغیره بن شعبه ﷺ روایت لره ډیرو محدثینو ضعیف او ناقابل استدلال ګرزولې دې. بیا په دې حدیث پاك ابهام او احتمالات هم شته دې چه نبی کریم ﷺ په کوم قسم جوربین باندې مسح کړې وه. آیا رقیقین وې یا مجلدین وې یا منعلین وې، دا ټول تفصیل پټ دې. د دې وجې دا حدیث قابل استدلال نه دې.

د دویم فریق دلیل: ځکه چې د قرآن پاك آیت نه د پښې وینځل معلومیږی. لیکن احادیث مشهوره نه د خفین مسح هم اومنلې شو ، لهذا کله چې جوربین منعلین یا مجلدین وی نو دابه د خفین په حکم کښې راځی. نو ددې مشهور احادیث په وجه به دقرآن پاك په حکم

كښې تخصيص راشي. ليکن که جوربين منعلين يا مجلدين نه وی نو دا به د خفين په حکم کښې نه رازی. لهذا دقرآن پاك په آيت الوضوء باندې د جوربين په خبر واحد سره زيادت کول جائز نه د ی.

دامام ابوحنيفه رجوع: بهر حال د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه ددې دلائلو نه قطر نظر ددوئ رجوع د جمهورو مذهب طرفته ثابت ده او هم په دې باندې فتوی ده چې **ثخينين** جرابين باندې مسح کول جائز دی.

دغير مقلدينو مسلک: دلته د افسوس خبره دا هم واؤرئی چې اهل ظواهر حضرات خپل خان ته اهل حديث وائی هغوئ د څه شرط نه بغير په هر قسمه جرابو باندې مسح کوی او مزې کوی. حالانکه پورا امت په دې باندې متفق دې چې جوربين که رقيق وی نو په دې باندې مسح کول جائز نه دی.

قوله: وَالنَّعْلَيْنِ:

په نعلينو باندې د مسح کولو حديث څخه دوه جوابونه: په پيزار باندې مستقل طور سره مسح کول د هيچا په نيز جائز نه دی. لهذا ټول فقهاء کرام په دې روايت کښې تاويل کوی.

① څينو داحديث پاك منسوخ کړې دې لکه څنګه په سنن دارمی کښې دی.

② څينې وائی چې اصل مسح په جوربين باندې وه مګر نبی کريم ﷺ داسې پيزار په پښو کړې وو چې په هغې سره په جوربين باندې مسح اوشوه نو څه مسح په نعلين باندې تبعًا اوشوه ، هم دې ته والنعلين اووئيلې شو. دې وخت واؤ بمعنی مع وی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۲۴] په موزو مسح د الله تعالی په حکم

۵۲۴ – ()[۸] [۱] عَنِ الْمُغِيرَةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «مَسَحَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْخُفَّيْنِ. [۳] فَقُلْتُ: يَارَسُولَ اللّٰهِ، نَسِيتَ؟ [۴] قَالَ: "بَلْ أَنْتَ نَسِيتَ، بِهٰذَا أَمَرَنِي رَبِّي عَزَّوَجَلَّ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] مغيره ابن شعبه رضی الله عنه راوي دې [۲] چې رسول الله ﷺ په موزو باندې مسح وکړه [۳] (په دې ليدو سره) ماعرض وکړو چې ستا څخه هيره شوې ده (يعني په موزو ويستلو (کښلو) سره پښې دې ونه وينځلې) [۴] حضور ﷺ وفرمايل نه بلکه تا نه هيره شويده چې زما طرف ته د نسيان نسبت کوې څکه چې الله بزرګ وبرتر ماته دغسې حکم کړې دې. (بخاري مسلم)

[۱] اخرجه ابوداود کتاب الطهارة ، باب المسح علی الخفين (رقم - ۱۵۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۵۲۵] د موزو په ظاهر مسح او عقل

۵۲۵-()[۹] ۱ «وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّهُ قَالَ: ۲ لَوْكَانَ الدِّينُ بِالرَّأْيِ لَكَانَ أَسْفَلُ الْخُفِّ أَوْلَى بِالْمَسْحِ مِنْ أَعْلَاهُ، ۳ وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ عَلَى ظَاهِرِ خُفَّيْهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَلِلدَّارِمِيِّ مَعْنَاهُ.

ترجمه: ۱ حضرت علي رضي الله عنه فرمايي ۲ چه که دين (يوازي) په رايي او عقل باندې موقوف وې نو د موزو دپاسه مسح کولو څخه به لاندې مسح کول ښه وو ۳ او ما حضور ﷺ د موزو دپاسه په مسح کولو باندې ليدلي دي. (ابوداؤد دارمي)

حل اللغات: ① بِالرَّأْيِ: أَيْ: بِمُجَرَّدِ الْعَقْلِ دُونَ الرِّوَايَةِ وَالنَّقْلِ: صرف په رائې او عقل باندې چه روايت او نقل ته پکښې ضرورت نه وي.

[۱۰/۱۵] بَابُ التَّيَمُّمِ

دَتيمم بيان

خلاصة الباب:

فيه تسعة أحاديث مشتملة على أربع مسائل:

① مايجوز به التيمم : ۱، ۲، ۴، ۵، ۸۔

② أسباب جواز التيمم من الجنابة: ۳، ۲۔ والجراحة: ۶۔ والأمر ليكون له خلفاعند الفوت: ۸، ۴۔

③ طريقة التيمم: ۳، ۴، ۹۔

④ حكم إعادة الصلوة المؤدية بالتيمم إذا وجد الماء بعده: ۷۔

دتيمم لغوی معنی: تيمم په لغت کښې دَقصد په معنی کښې دې

د تيمم اصلاحی معنی: اصطلاحِ شريعت کښې دَ تيمم تعريف داې دې: "قصدالتراب ومايقوم مقامه على وجه مخصوص بنية الطهارة"

دتيمم د مشروعيت پس منظر: دَتيمم حکم پنځم هجرى کښې هغه وخت راغلې وو چه کوم وخت حضورپاك دَ بنومصطلق دَ غزوه په موقع باندې په سفر کښې وو. حضرت عائشه رضي الله عنها دَدې پوره قصه پخپله بيان کړې ده امام بخارى رحمه الله دا نقل کړې ده، ترجمه اوګورئی:

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی مونږ نبی اکرم ﷺ سره دَهغوی په بعضې سفرونوکښې وتلې وو مونږ په مقام بيدا ياپه مقام ذات الجيش کښې وو چه زما هارمات شو اوچرته ورك شو. دَهار دَ لټون دَپاره حضورپاك هم حصارشو اوصحابه کرام هم حصارشو دَ مونځ وخت شوې وو اوخلقو سره اوبه بالکل نه وې. خلقودَې شکايت حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة، باب کيف المسح (رقم- ۱۶۲) والدارمی

اوکړوچه دعائشه رضی الله عنها د وجې نه خلق حصارشوی دی اوحضورپاك هم حصاردې اوچاسره هم اوبه نه وې. په دې باندې حضرت ابوبکر رضی الله عنه ماله راغلو هغه وخت رسول الله ﷺ اوده وواودهغوی سرمبارك زما په پتون پروت وو. حضرت ابوبکر رضی الله عنه ماته اووئیل تا خلق او رسول الله ﷺ حصارکړی دی اوهیچاسره هیڅ اوبه نشته دې. حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه حضرت ابوبکر رضی الله عنه څه بنه اورټلم او بیا نی په خپل لاس باندې زه په تشی کښې اووهلم زه څکه نه خوزیدم چه حضورپاك زما په پتون باندې سر کیخودې وو چه چرته حضورپاك ته تکلیف اونه رسی. په دې کښې رسول الله ﷺ مبارك رابیدارشو اوهغه وخت هیڅ اوبه نه وې چه ناڅاپی الله تعالی د تیمم حکم نازل کړو او خلقو تیمم شروع کړو. «دې آسانتی سره لیدلوسره» حضرت اسید بن حضیر رضی الله عنه اوفرمائیل "ماهی باول برکتکم یا آل ابی بکر" اې د ابوبکر رضی الله عنه اولاد دا ستاسو رومبې برکت نه دې. په یوروایت کښې دحضرت اسید بن حضیر رضی الله عنه داسې الفاظ دی. اې عائشه رضی الله عنها الله تعالی دې تاله جزاء خیردرکړی په الله تعالی قسم چه په تاسو باندې کله هم د پریشانئی څه حالت راغلې دې په هغې کښې الله تعالی ستاسوسره د ټول امت دپاره ښیګړه کیخودې وی. حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه زه په کوم اوښ باندې سوره ووم هغه ناست وو کله چه مونږ هغه اوچت پاسولو نودهغې نه لاندې هارملاؤشو.

د تیمم د جواز څلور شرطونه: تیمم د اودس په ځائی دې کله چه په اودس کښې لاسونه د څنګلو پورې وینځل دی نودې په ځائی په تیمم کښې هم دغه شان کیدل پکاردی. د تیمم د جوازدپاره څلورشرطونه دی.

① په کوم څیزسره چه تیمم کولې شی چه هغه پاك وی.
② د اوبو د استعمال نه حقیقةً یا حکماً عاجزکیدل.
③ دعبادت مقصوده په نیت تیمم کول.
④ دتیمم د اندامونو په ټولو حصوباندې داسې لاس راښکل چه څه ځائی د مسح نه بغیر پاتې نه شی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۵۲۶] د زمکې په خاوره پاکی حاصلیدل

۵۲۶ـ ()[۱] ۱ عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "۲ «فُضِّلْنَا عَلَى النَّاسِ بِثَلَاثٍ: ۳ جُعِلَتْ صُفُوفُنَا كَصُفُوفِ الْمَلَائِكَةِ، ۴ وَجُعِلَتْ لَنَا الْأَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدًا، ۵ وَجُعِلَتْ تُرْبَتُهَا لَنَا طَهُورًا إِذَا لَمْ نَجِدِ الْمَاءَ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[۱] مسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة (رقم-٤ - (۵۲۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [۱] حضرت حذیفه رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] مونږ خلقو ته (د مخکنيو امتونو په خلقو) په دري څيزونو سره فضيلت راکړې شوي دې [۳] ① زمونږ صفونه (په لمانځه کې يا په جهاد کې) د فرښتو په شان (شمير) شوي دي [۴] ② زمونږ د پاره ټوله زمکه مسجد جوړه شويده (چرته چې غواړو مونځ وکړو) [۵] ③ کوم وخت چې مونږ اوبه او نه مومو نو د زمکې خاوره زمونږ د پاره پاکونکي ده. (مسلم)

حل اللغات: ① صُفُوفُنَا: أَيْ: وُقُوفُنَا فِي الصَّلَاةِ: صفونو نه مراد په مانځه (يا جهاد) کښې د اودريدو په طريقه صفونه مراد دی. ② مَسْجِدًا: يعنی دمونځ کولو ځاې.

تسهيلات:

قوله: فُضِّلْنَا عَلَى النَّاسِ بِثَلَاثٍ:

تعارض: دا فضيلت اوخصوصيت دَ امت محمديه على صاحبها الف الف تحية دي. دلته دَ دريوخصوصياتوذکردي په نورو روايتونوکښې دَدې ن٠ دَزياتوذکرهم ملاويږي

د تعارض جواب: په عدد اوشميرکښې تعارض نه وی ځکه چه عدد اقل دَاکثرنفی نه کوی. بل فضائلو کښې زياتوالي دَ الله تعالى دَ طرف نه کيږي. نو اول دَ دريوذکرراغلوبيا دَ زياتو ذکراوشو.

قوله: عَلَى النَّاسِ:

د الناس مصداق: د الناس نه مراددَ سابقه امتونو خلق دی ځکه چه راتلونکی خلق دَ قيامت پورې دَدې امت دَ اول دوردَ حضرات صحابه کرامو تابع دی. لهذا دَ الناس نه دَدې امت راتلونکی خلق مراد کيدي نه شی.

د نبي عليه السلام بعضې خصوصيات:

① دَ يوې مياشتې په مسافت باندې دَ لرې نه په دښمن باندې دَ رعب غورزيدلو خصوصيت

② د غنيمتونوحلال ګرځيدل

③ دَشفاعت کبرىٰ اعزاز ملاويدل

④ د نبي عليه السلام د رسالت عموميت يعنی ټولې دنيا ته مبعوث کيدل.

⑤ د جوامع الکلم په صفت موصوف کيدل

⑥ دَ نبوت دَ برکاتو تکميل

⑦ ختم نبوت يعنی د ترقيامته پورې د نبوت دروازه بنديدل

⑧ دَ ټولې زمکې کنجياني ملاويدل

⑨ په انبياؤ کښې د دوی نوم احمد کيخودل

⑩ دامت دټولو امتونو نه غوره امت كيدل
⑪ وړاندې روستو ګناهونه (خطاګانې) معاف كيدل
⑫ دَ عرش عظيم لاندې دَخاص خزانې نه دَ سورت بقره آخرى آياتونه ملاويدل
⑬ دحوض كوثر ملاويدل
⑭ دَقيامت په ورځ د داسې جنډې ملاويدل چې حضرت آدم عليه السلام اودَهغه نه علاوه ټول خلق به د هغې د لاندې وى.

قوله: جُعِلَتْ لَنَا الْأَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدًا:

په ټوله زمكه د مونځ جائز كيدل: يعنى پوره زمكه دَدې قابل جوړه كړې شوې ده چه مونږ په دې مونځ كولې شو كله چه ځائى پاك وى كه هغه خاص جمات وى اوكه دَجمات نه علاوه مكان. په بنى اسرائيلو باندې دومره سختى وه چه هغوى دَ عبادتخانې نه بهربه يو ځائى كښې هم مونځ نه شوكولې. او په عبادتخانه كښې هم دَ جمع نه بغيركول جائزنه وو.

قوله: وَجُعِلَتْ تُرْبَتُهَا طَهُورًا:

دتيمم جائز كيدل: يعنى دَ زمكې خاوره ئى دَ اوبو په ځائى ګرځولې ده لكه څنګه چه په اوبوباندې طهارت حاصليدې شى دَ تيمم په صورت كښې په خاوره هم طهارت حاصليدې شى. په دې حديث اودَدې په شان نور راتلونكو احاديثو كښې دَ تيمم فضائل او يوڅو اخلاقى مسائل مخې ته راغلى دى. دَ تيمم په مسائلوكښې څلورداسې غټ مقامات دى چرته چه دَ فقهاء كرامو اختلاف دې.

اول بحث: د ما يتيمم بها بيان

په كومو څيزونو چې تيمم جائز كيږى په هغې كښې مذاهب:

① دَامام شافعى رحمه الله په نيز او دَ امام احمد رحمه الله دَ مشهور قول مطابق تيمم صرف تراب منبت يعنى زرخيزخاوره باندې جائزدې په نور هيڅ څيزباندې جائزنه دې.
② امام ابويوسف رحمه الله فرمائى چه تراب منبت سره سره په شګه باندې هم تيمم كول جائزدى.
③ دَامام ابوحنيفه رحمه الله امام مالك رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نيزپه هرهغه څيزچه دَ جنس الارض نه وى تيمم جائز دې. بيا امام مالك رحمه الله دَ جنس الارض باره كښې فرمائى چه هرهغه څيز كوم چه زمكې سره ملحق وى هغه هم په جنس الارض كښې شامل دې. نودَهغوى په نيزپه هغه لرګى باندې هم تيمم جائز دې دَ كوم يوسر چه په زمكې پورې پيوست وى.
امام ابوحنيفه رحمه الله په جنس الارض كښې دا قيدلګولې دې چه كوم څيز په سوزلوسره نه سوزيږى ويلې كولو سره نه ويلى كيږى په حل كولوسره نه حل كيږى او سخاكيدو سره نه

Maktaba Tul Ishaat.com

سخا کیږی په هغې باندې تیمم جائز دې لهذا دَهغوی په نیز لرګې سره زر سپین زر پیتل اوسپنه تانبا مالګه وغیره باندې تیمم جائزنه دې. او که په دې ځیزونوباندې دوړه پریوځی نوبیاجائزدې اوهغه دَتراب منبت په حکم کښې دې.

داول او دویم فریق اول دلیل: ددوی دلیل قرآنی آیت ﴿ فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا ﴾ أی تراباً منبتاً" دې په کوم کښې چه صرف دَ زرخیز خاورې ذکر دې.

د اول او دویم فریق دویم دلیل: حضورپاك له یووفدراغلو اوهغوی عرض اوکړو: "فقالوا انانکون بالرمال الأشهر الثلاثة والاربعة ویکون فینا الجنب والحائض والنفساء ولا نجد الماء فقال علیه السلام علیکم بالارض" (احمدبیهقی طبرانی)

د دریم فریق اول دلیل: ① دَ قرآن پاك هم دغه آیت ﴿ فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا ﴾ د دوی مستدل دې لیکن دَهغوی په نیز صعید عام دې دې نه وجه الارض مراد دې تراب منبت سره خاص نه دې ځکه چه په بل آیت کښې ﴿ صَعِيدًا جُرُزًا ﴾ او ﴿ صَعِيدًا زَلَقًا ﴾ الفاظ راغلی دی کوم چه دَ وجه الارض دپاره عام دی تراب منبت سره خاص نه دی.

د دریم فریق دویم دلیل: ②دَ تیمم دَ جواز اصل علت یسر (آسانی) پیدا کول دی او دَ تراب منبت په قیدسره خو به یسر په عسر سره بدل شی خاص کر دَ عربستان په ریګستان کښې دَ تراب منبت ملاویدل دَ اوبو دَملاویدونه زیات سخت دی.

د دریم فریق دریم دلیل:③ حضورپاك دَتیمم حکم راتلونه پس هم نه په حضرکښې اونه په سفرکښې دَ تراب منبت لټون کړې دې اونه ئی دَدې حکم ورکړې دې اونه ئی دا ضروری ګنړلې دی.

تنبیه: دَجمهورو مسلك قوی تر او صحیح تردې او احتیاط په دې کښې دې چه خاوره اولټولې شی اوپه هغې باندې تیمم اوکړې شی. بعضې حضرات دَ خاورې په موجودګئی کښې خالص نرم مئین کانړی باندې تیمم کوی. که چرې په خاور اوکړې شی نودَ اختلاف نه به هم اوځی اوپه احتیاط باندې به هم عمل اوشی.

دویم بحث: د تیمم د نوعیت بیان.

د تیمم په نوعیت کښې مذاهب:

په دې کښې دې چه تیمم طهارت مطلقه اصلیه دې یاطهارت ضروریه دې یعنی په یوتیمم باندې څومونځونه اداکیدې شی یاصرف یومونځ به په یوتیمم باندې اداکیږی؟

① دَ امام شافعی رحمه الله په نیزتیمم طهارت ضروریه دې "والضرورة تتقدر بقدر الضرورة" لهذاپه یوتیمم سره یوفرض مع لواحقه جائزباقی جائزنه دی.

② ائمه احناف فرمائی چه تیمم طهارت اصلیه دې نو په یو تیمم به هر هغه عمل جائز وی

کوم چې په اودس باندې جائز گرځي.

د دویم فریق دوه دلائل: ① اودس قائمقام اوخلیفه دې. اودس اصل اوتیمم دَدې فرع دې نوچه کوم کاردَاصل وی هم هغه به دَ قائمقام او خلیفه وی. په یواودس باندې چه څو مونځونه کولې شی نو په یوتیمم سره هم څومونځونه کولې شی.

② تیمم والاسړی پسې دَ اودس والاسړی مونځ اوامامت دَ شوافع په نیز هم جائزدې. دَدې نه هم دغه خبره واضحه کیږی اودَ ضابطې مطابق به دا منلې کیږی چه دَ تیمم طهارت دَ اودس دَ طهارت په شان مطلقه اصلیه دې اودا جدا خبره ده چه تیمم دَعبادت غیرمقصوده دَپاره وی نوپه هغې سره عبادت مقصوده نه شی اداکیدې.

دغیره مقصوده عبادت دپاره د تیمم جواز: دلته دَ لطیفې په توگه په دې مسئله باندې هم ځان پوهه کړئی چه دَ غیرمقصودعبادت دَپاره دَ اوبو په موجودگئی کښې هم تیمم جائزدې ثواب ملاویږی. مثلاً یوسړې جمات ته ځی اوصرف کیناستل غواړی نوسره دَدې چه په حوض کښې اوبه موجود دی خوبیاهم دا سړې دَ برکت دَحاصلولو او دَ طهارت دَپاره تیمم کولې شی یادَ شپې دَ اوده کیدو په وخت دَ اودس په ځائی تیمم کوی نوجائزدی یادینی اودَفقهې کتابونو ته لاس لگولودَپاره تیمم کول غواړی نوکولې شی اودگناه نه بچ کیدې شی که صغیره ولې نه وی اومقامِ تقویٰ حاصلولې شی.

دتیمم په طریقه کښې دوه مسئلې مختلف فیه دی.یودا چه تیمم کښې څو ضربه دی . دویم دا چه مسح د بدن به ترکوم ځائې پورې وی .

د تیمم په ضرباتو کښې مذاهب:

د تیمم په ضرباتو کښې علامه عینی رحمه الله پنځه مذاهب نقل کړی دی .

① داامام ابوحنیفه رحمه الله ، امام مالک رحمه الله ، امام شافعی رحمه الله ، لیث بن سعد او دجمهورو مسلك دا دې چه تیمم دپاره دوه ضربه دی.یود مخ دپاره اویو دلاسنونو دپاره .

② د امام احمد رحمه الله، امام اسحاق رحمه الله ، امام اوزاعی رحمه الله اود بعض اهل ظواهرو په نیز یوضربه ده . چه هغې سره د مخ اولاسونو ددواړو مسح کولې شی د امام مالک رحمه الله یو روایت هم ددې مطابق دې .

③ دحضرت حسن بصری رحمه الله او ابن لیلی مسلك دا دې چه دوه ضرب به وی خو داسې چه هرضربه کښې د مخ او دلاسونودواړو مسح اوشی .

④ محمدبن سرین رحمه الله مسلك دادې چه ضربات به درې وی یود مخ دپاره او دوه دلاسونو دپاره دریم ددواړو دپاره .

⑤ د ابن بزیزه مسلك دا دې . چه څلور ضربه به وی دوه د مخ او دوه دلاسنو دپاره .

Maktaba Tul Ishaat.com

د تیمم په محل کښې مذاهب:

په مقدار د مسح د یدینو کښې اختلاف دې . دې کښې څلور مذاهب دی .

① مرفقین پورې مسح فرض ده.دا قول دامام ابوحنیفه رحمه الله ، امام مالك رحمه الله ، امام شافعی رحمه الله ، لیث بن سعد او دجمهورو دې .

② صرف درسغین پورې مسح فرض ده . دامام اسحاق رحمه الله ، امام احمد رحمه الله ، امام اوزاعی رحمه الله ، او داهل ظاهر مسلك دې .

③ د رسغین پورې واجب ده او مرفقین پورې مسنون ، علامه ابن رشد دادامام مالك رحمه الله یو روایت ګرځولې دې . اوعلامه زرقانی دامام مالك رحمه الله مسلك ګرځولې دې علامه نووی رحمه الله فرمائی چه دادتطبیق بین الروایات بهترین طریقه ده .

④ علامه ابن شهاب زهری رحمه الله فرمائی چه دیدینو مسح به دمناکبو او اباط پورې وی .

بنیادی اختلاف:

په اصل کښې بنیادی اختلاف په دواړو مسئلوکښې د امام احمد رحمه الله اودجمهورو دې .

① دامام احمد په نیز په تیمم کښې یو ضرب دې د مخ او لاسونو دواړو دپاره.

① دجمهوروپه نیزتیمم کښې دوه ضربه دی.یوضرب دمخ دپاره اوبل ضرب دیدینو دپاره.

د اول فریق دلیل: دحضرت عماربن یاسر رضی الله عنه حدیث د دوی مستدل دې چه دینه په یوضرب سره د مخ او لاسونو د مسحې پته پته لګی . ((أن النبی صلی الله علیه وسلم أمره بالتیمم للوجه والکفین)) دې کښې دلاسونو دپاره دکفین لفظ راغلې دې اوددې اطلاق صرف په رسغین کیږی.دحضرت عماربن یاسر رضی الله عنه دا حدیث چه اصح مافی الباب دې . د دې وجې امام احمد رحمه الله دا روایت اختیارکړې دې .

داول فریق د دلیل جواب: دا په تعلیم کښې حضورپاك دَ نمونې په توګه اوخودل چه دَ غسل دَپاره په خاورو کښې لړېرکیدلو ضرورت نشته بلکه دَاودس دَتیمم په شان ضرب وهلوسره دغه شان په مخ او لاسونوباندې مسح کول کافی وو نودلته مکمل تیمم خودل نه وو بلکه دا خودل وو چه دَ جنابت دَپاره هم دَ اودس په شان تیمم کافی وو صرف هم دا خودل مقصود وو.

د دویم فریق دلائل:

① عن جابر عن النبی صلی الله علیه وسلم قال التیمم ضربة للوجه وضربة للذراعین إلی المرفقین.([1])

اشکال: دې حدیث کښې یوراوی عثمان بن محمد دې . دده په باره کښې علامه ابن جوزی رحمه الله فرمائی . ((عثمان بن محمد متکلم فیه))

[1]) (رجاله کلهم ثقات والصواب موقوف دارقطنی ۱۸۱۱۱ رقم الحدیث نمبر ۲۲ باب التیمم)

د اشکال جواب: عثمان بن محمد ثقه راوي دي . او دابن الجوزي رحمه الله په ده کلام صحیح نه دي . علامه ابن رقیق العید رحمه الله دابن الجوزي رحمه الله تردید کوي او لیکي. ((أن هذا الکلام لایقبل منه لانه لم یبین من تکلم فیه وقد روی عنه ابوداؤد وابوبکر بن ابی عاصم وغیرهما وذکره ابن ابی حاتم فی کتابه ولم یذکر فیه جرحًا ولاتعدیلاً الخ»([1])

د دویم فریق دویم دلیل: په مسند بزار کښې دحضرت عمار رضي الله عنه حدیث دي . چه دي کښې هغه فرمائي ((کنت فی القوم حین نزلت الرخصه فأمرنا فضربنا واحدة للوجه ثم ضربة اخری للیدین والمرفقین)) علامه زیلعي رحمه الله هم ددې تخریج کړې دي .

د دویم فریق دریم دلیل: ③ دحضرت ابوجهیم بن الحارث الصمة الانصاری حدیث د دوی مستدل دي . ((قال اقبل النبی صلی الله علیه وسلم من نحو بئر جمل فلقیه رجل فسلم علیه فلم یرد النبی صلی الله علیه وسلم حتی اقبل علی الجدار فمسح بوجهه ویدیه ثم رد علیه السلام([2])

د دویم فریق څلورم دلیل: ④ دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه مرفوع روایت د دوی مستدل دي ((عن النبی صلی الله علیه وسلم قال التیمم ضربتان ضربة للوجه وضربه للیدین إلی المرفقین))

[۵۲۷] د جنابت دپاره د تیمم جواز

۵۲۷ – ([3]) [۲] ①وَعَنْ عِمْرَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ②«كُنَّا فِي سَفَرٍ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَصَلَّى بِالنَّاسِ، ③فَلَمَّا انْفَتَلَ مِنْ صَلَاتِهِ، إِذَا هُوَ بِرَجُلٍ مُعْتَزِلٍ لَمْ يُصَلِّ مَعَ الْقَوْمِ، ④فَقَالَ: مَا مَنَعَكَ يَا فُلَانُ أَنْ تُصَلِّيَ مَعَ الْقَوْمِ؟ ⑤قَالَ: أَصَابَتْنِي جَنَابَةٌ، وَلَا مَاءَ. ⑥قَالَ: "عَلَيْكَ بِالصَّعِيدِ، فَإِنَّهُ يَكْفِيكَ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت عمران رضي الله عنه راوي دي چې یو خل مونږ د نبي صلی الله علیه وسلم سره په سفر کې ملګري وو حضور صلی الله علیه وسلم مونږ ته مونځ راکړو ② کوم وخت چې حضور صلی الله علیه وسلم د لمانځه څخه فارغه شو نو څه ګوري چې یو سړي جدا ناست دي هغه د خلقو سره مونځ نه وو کړي ④ حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل اي فلانیه ته کوم شي د خلقو سره د لمانځه کولو څخه منع کړي وي ؟ ⑤ هغه عرض وکړو (یا رسول الله صلی الله علیه وسلم) ما ته د لمبیدو ضرورت شوي دي او اوبه مي پیدا نه کړي ⑥ حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل په داسې صورت کې تاته په خاوره سره تیمم وهل لازم وو او تاته هغه کافي وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① انْفَتَلَ: أَيْ: انْصَرَفَ وَفَرَغَ: یعنی فارغ شو (د مونځ نه). ② مُعْتَزِلٍ: أَيْ: خَارِجٍ مِنْ بَيْنِهِمْ: خانله ،جدا ، ③ عَلَيْكَ بِالصَّعِيدِ: يَلْزَمُ عَلَيْكَ التَّيَمُّمُ بِالصَّعِيدِ: یعنی لازم وو په تا باندي چه په خاوره دي تیمم کړي وي.

---

[1]) التعلیق المغنی علی الدارقطنی لابی الطیب محمد شمس الحق العظیم ابادی ١٨١، ١٨٢))
[2]) رواه البخاری ٤٨/١ فی التیمم فی الحضر اذا لم یجد الماء وخاف فوت الصلوة)
[3] اخرجه البخاری کتاب التیمم باب: الصعید الطیب وضوء المسلم، یکفیه من الماء(رقم-٣٤٤) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة باب قضاء الصلاة الفائتة، واستحباب تعجیل قضائها (رقم ٣١٢ - (٦٨٢) والنسائی کتاب الطهارة/باب التیمم بالصعید(رقم-٣٢١) والدارمی کتاب الطهارة/باب التیمم (رقم-٧٧٠)

Maktaba Tul Ishaat.com

د راوي مختصر تعارف:

د حدیث د راوی نوم عمران بن حصین دې کنیت ئې ابونجید دې د هجرت په اول کښې ئې اسلام قبول کړې وو (۲)

په غزاګانو کښې شرکت: په بعضې غزاګانوکښې د نبی کریم ﷺ سره شریک شوې وو. د نبی کریم ﷺ په ژوند کښې به برابر مدینه منوره ته تللو. د نبی کریم ﷺ د وفات نه پس ئې مدینې ته راتګ پرې خودلو ګوشه نشینی ئې اختیار کړه د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کښې کله چه بصره آباده شوه نو هلته ئې کړه یوړه حضرت عمر رضی الله عنه د فقه تعلیم د دوی په ذمه لګولې وو. (۳) د حضر عمر رضی الله عنه نه پس چه کوم جنګونه شوی وو. نو دوی د دغه جنګونو نه لرې پاتې شوې وو. (۴) عالمه ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی ((کن من فضلاء الصحابة وفقهائهم)) عمران د فقهاء صحابؤ خنی وو (۵) حسن بصری رحمه الله فرمائی چه د عمران بن حصین رضی الله عنه پشان بهترین سړې بصرې ته نه دې راغلې (۶)

د ژوند خصوصیات: د دوی د ژوند خصوصیات دا وو. ① د رسول الله ﷺ احترام ② د سنت پابندی ③ په عباداتو کښې ریاضت او مشقت ④ د دوی ذات د خلق مراجع وه. په کومه لاره چه به تیریدلو خلقو به ترې تپوسونه کول

وفات: د استسقاء په بیمارئ بیمار شو. او هم په دغه مرض کښې په ۵۲ هجری کښې په بصره کښې وفات شو (۷)

مرویات: د دوی د مرویاتو تعداد ۱۳۰ دې په احادیثو کښې ډیر زیات محتاط وو. د دې وجې د دوی مرویات کم دی ۸ احادیث متفق علیه دی او په بخاری کښې ۴ او په مسلم کښې ۹ دی

[۵۲۸] د تیمم طریقه

۵۲۸—(١) [٣] ١ وَعَنْ عَمَّارٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ ٢ «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، فَقَالَ: ٣ إِنِّي أَجْنَبْتُ فَلَمْ أُصِبِ الْمَاءَ ٤ فَقَالَ عَمَّارٌ لِعُمَرَ: أَمَا تَذْكُرُ أَنَّا كُنَّا فِي سَفَرٍ أَنَا وَأَنْتَ؟ ٥ فَأَمَّا أَنْتَ فَلَمْ تُصَلِّ، وَأَمَّا أَنَا فَتَمَعَّكْتُ فَصَلَّيْتُ، فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ترجمه: ١ او حضرت عمار رضی الله عنه وایې ٢ چه یو سړې حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه ته راغې ورته وې ویل ٣ ماته د لمبیدو ضرورت دې او اوبه مې پیدا نه کړې (نو اوس تیمم وکړم یا څه وکړم) ؟ ٤ حضرت عمار رضی الله عنه په دې اوریدو سره حضرت عمر رضی الله عنه ته اوویل آیا تا ته یاد نه دي چې زه او ته په سفر کې وو (او مونږ دواړو ته د لمبیدو ضرورت پیښ شوي وو) ٥ نو

(۱) اخرجه البخاری کتاب التیمم باب: المتیمم هل ینفخ فیهما؟(رقم-۳۳۸) وابوداود کتاب الطهارة/باب التیمم (رقم-۳۲۲) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء فی التیمم ضربة واحدة (رقم- ۵۶۹) والنسائی کتاب الطهارة/باب التیمم فی الحضر (رقم- ۳۱۲)

تا مونځ نه وو کړي لیکن ما په زمکه اوړیدو راواوړیدو سره تیمم کړي وواو مونځ مې کړي وو بیا ما حضور ﷺ ته دا صورت حال ذکر کړو.

حل اللغات: ① أُصِبِ الْمَاءَ: دا د اصابت نه دي یعنی أَيْ: لَمْ أَجِدْهُ: اوبه مې پیدا نه کړې. ② فَتَمَعَّكْتُ: أَيْ: تَمَرَّغْتُ وَتَقَلَّبْتُ فِي التُّرَابِ: یعنی په خاورو کښې اولوغړیدم.

① فَقَالَ: إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيكَ هَكَذَا" ② فَضَرَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَفَّيْهِ الْأَرْضَ وَنَفَخَ فِيهِمَا ③ ثُمَّ مَسَحَ وَجْهَهُ وَكَفَّيْهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. ④ وَلِمُسْلِمٍ نَحْوُهُ، وَفِيهِ: قَالَ: "«إِنَّمَا يَكْفِيكَ أَنْ تَضْرِبَ بِيَدَيْكَ الْأَرْضَ ثُمَّ تَنْفُخَ ⑤ ثُمَّ تَمْسَحَ بِهِمَا وَجْهَكَ وَكَفَّيْكَ»".

ترجمه: ① نو حضور ﷺ وفرمایل چې تا ته داسې کول کافي وو ② نو حضور ﷺ خپل دواړه لاسونه په زمکه ووهل بیا یې هغه پوک کړه (یعني خاوره یې ځنې وڅنډله) ③ په هغې سره یې په خپل مخ او لاسونو مسح وکړله، بخاري، ④ د غسې مسلم هم روایت کړي دي چې د هغه آخري الفاظ دا دي چې حضور ﷺ وفرمایل چې ستا د پاره دا کافي دي چې خپل لاسونه په زمکه ووهې بیا هغه پوک کړې ⑤ او په خپل مخ او لاسونو باندې مسح وکړې.

حل اللغات: ③ تَنْفُخَ: پوکې ئې ورکړو (چه خاوره ترې کمه شي).

تسهیلات:

د حدیث الباب پس منظر: دَ پورته حدیث پس منظر داسې دې چه دَ سائل په جواب کښې حضرت عمر رضی اللہ عنہ هغه دَ تیمم نه منع کړو نو حضرت عمار رضی اللہ عنہ پوره واقعه واوروله چې زما او ددوئ تنازعه راغلې وه مګر نبی کریم ﷺ تیمم جائز ګرزولې وو. لهذا دې سائل دپاره هم د تیمم حکم پکار دې.

د حدث اصغر او اکبر دواړو دپاره د تیمم په جوازاوعدم جواز کښې مذاهب:

① دصحابه کرامو په ډله کښې د حضرت عمر فاروق رضی اللہ عنہ او حضرت عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ دا مسلك وو چې تیمم د جنابت دغسل دپاره جائز نه دې.

② تیمم په حدث اصغر کښې د اودس قائمقام دې ، حدث اکبر یعنی جنابت کښې هم د غسل قائمقام دې. غسل که د جنابت وی که دحیض اوکه د نفاس غسل وی ، دجمهورو صحابه کرامو اوتابعینو او ائمه اربعؤ هم دا مسلك دې چې کله اوبه نه ملاویږی نو بیا د د جنابت دغسل دپاره تیمم جائز دې. بیا چه کله په اوبو باندې قادرشی نو غسل دې اوکړی.

د اول فریق د مسلک ضعف: دداسې صریح احادیث په موجودګی کښې به ددوئ قول پرېښودلې کیږی.

داول فریق د رجوع تحقیق: ځینی محققینو وئیلی دی چې ددې حضراتو مسلك د اول نه دجمهورو سره دې لیکن هغوئ دا قول د سدا للذرائع لاندې اختیار کړې دې چې هسې نه خلق ددې نه غلطه فائده پورته کړی . چې لږ شان عذر ورته راشی یا معمولی شان یخنی

Maktaba Tul Ishaat.com

راغله او دې جنابت والا د غسل په ځائې تمیم اوکړو. دخلقو ددې سستۍ په وجه دې حضراتو د تیمم نه خلق منع کړی وو.

د ابوموسی او ابن مسعود بحث: حضرت ابو موسی ﷺ سره د یو بحث دوران کښې حضرت ابن مسعود ﷺ اصل حقیقت داشان ښکاره کړو چې: لو رخصت لهم في هذا كان اذا وجد أحدهم البرد قال هكذا يعني تيمم وصلى (بخاری صفحه:۵۰ج:۱) [البخاري: ۱/۱۵۰]

د دویم فریق دلائل: ① ② پورتنی دواړه حدیثونه د جمهورو دلیل دې.

③ ددې باب په رومبی حدیث کښې هم دا فرمائیلې شوی دی چې خاوره د هر نجاست دپاره طهور ده. لهذا حدث اکبر او اصغر دواړو دپاره خاوره طاهر او مطهر ده.

[۵۲۹] د سلام جواب ورکولو دپاره تیمم کول

۵۲۹-()[۴] ①وَعَنْ أَبِي الْجُهَيْمِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الصِّمَّةِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ②«مَرَرْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَبُولُ، ③فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ ④حَتَّى قَامَ إِلَى جِدَارٍ، فَحَتَّهُ بِعَصًى كَانَتْ مَعَهُ، ⑤ثُمَّ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى الْجِدَارِ، فَمَسَحَ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ، ثُمَّ رَدَّ عَلَيَّ». ⑥وَلَمْ أَجِدْ هَذِهِ الرِّوَايَةَ فِي: الصَّحِيحَيْنِ "، وَلَا فِي " كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ "، ⑦وَلَكِنْ ذَكَرَهُ فِي: " شَرْحِ السُّنَّةِ " قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.

ترجمه: ① ابو جهیم ابن حارث ابن صمه ﷺ راوي دي ② چې (یو ځل) زه د نبي کریم ﷺ سره نزدې تیر شوم حضور ﷺ هغه وخت متیازي کولي ما په حضور ﷺ سلام واچولو خو جواب یې رانه کړو ④ (او د بولو څخه چې فارغه شو) یو دیوال سره ودریدلو او یوه همسا چې د حضور ﷺ سره وه په هغې یې دیوال وګرولو ⑤ اوبیایې خپل دواړه لاسونه په هغې ووهل بیا ئې په خپل مخ او تر څنګلو پورې دواړو لاسونو باندې مسح وکړه بیایې زما د سلام جواب راکړو. ⑥ (د مشکوٰة شریف مصنف رحمه الله فرمایي چې) ما دا روایت نه په صحیحین کې پیدا کړي دي او نه د حمیدي په کتاب کې ⑦ لیکن محي السنة دا په شرح السنة کې ذکر کړي دي او ویلي یې دي چې دا حدیث حسن دي (نو صاحب د مصابیح ته پکار وو چې دا روایت یې په اولني فصل کې نه ذکر کولو).

حل اللغات: ① فَحَتَّهُ: أي: حَكَّهُ وَخَدَشَهُ: دیوال ئې پرې اوګرولو.

تسهیلات:

قوله: فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ:

عبادت مقصوده او غیرمقصوده تعارف: ① دمقصوده مطلب دادې چې هغه عبادت پخپله اصل او مقصود وی. د څه بل عبادت دپاره ذریعه نه وی لکه مونځ او تلاوت وغیره شو.

[1]) اخرجه شرح السنة في كتاب الطهارة/ باب التيمم.... رقم الحديث ۲۴۱

② عبادت غیر مقصوده هغه وی چې پخپله اصل نه وی بلکه د یو عبادت مقصوده په ضمن کښې وی. لکه تیمم او اودس او غسل.

دغیرمقصوده عبادت په تیمم د مقصوده عبادت ادا کولو عدم جواز: عبادت غیر مقصوده دپاره کوم تیمم اوکړې شی نو دې سره عبادت مقصوده نه ادا کیږی.

د لا الی خلف عبادت دپاره دتیمم جواز: تیمم د داسې عبادت دپاره هم کیدیشی چې دهغې دمکمل فوت کیدو خطره وی. او دَ هغې څه خلیفه یا نائب نه وی. لکه د اخترونو او جنازې مونځونه. یا دسلام جواب ، دلته د سلام جواب دپاره نبی کریم ﷺ تیمم په دې وجه اوکړو چې دجواب فوت کیدو خطره وه.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۳۰] تیمم د اودس قائم مقام دې

۵۳۰- ( )[۵] ①عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ②«قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ الصَّعِيدَ الطَّيِّبَ وَضُوءُ الْمُسْلِمِ ③وَإِنْ لَمْ يَجِدِ الْمَاءَ عَشْرَ سِنِينَ ;④ فَإِذَا وَجَدَ الْمَاءَ فَلْيُمِسَّهُ بَشَرَتَهُ، فَإِنَّ ذَلِكَ خَيْرٌ» " ⑤رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَرَوَى النَّسَائِيُّ نَحْوَهُ إِلَى قَوْلِهِ: "عَشْرَ سِنِينَ".

ترجمه: ① حضرت ابو ذر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② پاکه خاوره مسلمان لره پاکونکي ده ③ اګرکه هغه لس کاله پورې اوبه او نه مومي ④ اوکله چې يې او مومي نو بدن وينځل پکار دي ځکه چې دابهتر دي، ⑤ (احمد ترمذي ابوداؤد ، او نسائي هم دغسې روايت تر عشر سنين پورې نقل کړي دي.)

[۵۳۱] د ناجوړه دپاره د تیمم جواز

۵۳۱- ( )[۶] ①وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ②«خَرَجْنَا فِي سَفَرٍ، فَأَصَابَ رَجُلًا مِنَّا حَجَرٌ، ③فَشَجَّهُ فِي رَأْسِهِ، فَاحْتَلَمَ ④فَسَأَلَ أَصْحَابَهُ: هَلْ تَجِدُونَ لِي رُخْصَةً فِي التَّيَمُّمِ؟ ⑤قَالُوا: مَا نَجِدُ لَكَ رُخْصَةً وَأَنْتَ تَقْدِرُ عَلَى الْمَاءِ. فَاغْتَسَلَ فَمَاتَ، ⑥فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُخْبِرَ بِذَلِكَ، قَالَ: ⑦" قَتَلُوهُ، قَتَلَهُمُ اللّٰهُ، أَلَا سَأَلُوا إِذْ لَمْ يَعْلَمُوا ;⑦ فَإِنَّمَا شِفَاءُ الْعِيِّ السُّؤَالُ، ⑧إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيهِ أَنْ يَتَيَمَّمَ، ⑨وَيَعْصِبَ عَلَى جُرْحِهِ خِرْقَةً ⑩ثُمَّ يَمْسَحَ عَلَيْهَا، وَيَغْسِلَ سَائِرَ جَسَدِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي ② چې مونږ په سفر روان وو په مونږ کې يو سړي په کاڼي ولګيدو ③ چې د هغه سر يې زخمي کړو (په اتفاقي طور سره) هغه ته دلمبيدو هم حاجت پيښ شوې وو ④ هغه د خپلو ملګرو څخه پوښتنه وکړه چې ستاسو په نيز په دې

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب الصلوات بتیمم واحد (رقم- ۳۲۲)وابوداود کتاب الطهارة/باب الجنب یتیمم (رقم- ۳۳۲)

(۲) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة/ باب فی المجروح یتیمم (رقم- ۳۳۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

صورت کې مالره تيمم جائز دي؟۵ هغوئ اوويل په داسې صورت کې چې ته اوبه استعمالولي شې مونږ ستا دپاره د تيمم څه وجه نه مومو نو هغه سرې غسل وکړو د هغه نتيجه دا شوه چې هغه وفات شو۶ مونږ چې د سفر څخه واپس راغلو او د نبي ﷺ په خدمت کې حاضر شو نو دا واقعه مو ورته بيان کړه حضور ﷺ (په انتهايي رنج او غم سره) وفرمايل ۷ خلقو هغه قتل کړو الله جَلَّ جَلَالُهُ دې هغوئ قتل کړي بيا يې وفرمايل هغوئ ته چې کومه خبره معلومه نه وه د هغې معلومات يې ولې ونه کړل ۷ (ځکه) چې د ناپوهۍ د بيمارۍ علاج پوښتنه ده۸ او هغه ته خو دا کافي وه چې تيمم يې کړې وې۹ او په خپل زخم يې يوه پټۍ تړلي وې۱۰ او په هغه يې مسح کړې وې او بيا يې خپل ټول بدن وينځلې واې، ابوداؤد،

حل اللغات: ① فَأَصَابَ: اورسيدو، اولګيدو (په کاڼړي). ② فَشَجَّهُ: زخمي ئې کړو، ③ فَاحْتَلَمَ: په خوب کښې ئې جماع اوکړه، جنابت ورته پيښ شو. ④ شِفَاءُ: علاج، ⑤ الْعِيِّ: ناپوهي، ⑥ السُّؤَالُ: تپوس کول. ⑦ يَعْصِبَ: أَيْ: يَشُدُّ: تړلې ئې وې، ⑧ جُرْحٍ: زخم، ⑨ خِرْقَةً: کپړه، ټکړه د کپړې،

تسهيلات:

قوله: قَتَلُوهُ، قَتَلَهُمُ اللهُ:

يواهم اشکال: دلته دا سوال پيداکيږي چه دې حضراتودې مريض ته چه کومه مسئله خودلې وه په هغې کښې هغوی غلط شوی دی اوهم دغه مسئله حضرت عمر رضي الله عنه او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه اوخودله هلته هم دهغوی نه غلطی شوې ده چه دغسل جنابت دپاره تيمم کافی نه دې. خودلته حضورپاك هغه خلق رټلوسره دا شان جمله اوفرمائيله کومه چه پورته ذکرده. اوهلته دحضرت عمر رضي الله عنه اوحضرت ابن مسعود رضي الله عنه هيڅ قسم رټنه نه ده شوې حالانکه په دواړو ځايونوکښې هم يوه مسئله وه چه تيمم دغسل دپاره جائزنه دې او دحضرت عمر رضي الله عنه خو مونځ هم فوت شوې وو؟

داشکال جواب: هغه حضرات د اجتهاداهل وو اود صالح الاجتهاد سړی نه چه کله اجتهادی غلطی کيږی نوهغه ته يواجرملاويږی رټلې نه شی اودلته ددې خلقونه چه کومه غلطی شوې وه دا هم اجتهادی غلطی وه ليکن داخلق صالح الاجتهاد نه وونوچه کله دوی د اجتهاداهل نه وو او په اجتهاد کښې ئې غلطی اوکړه نو دهغوی رټل ضروری وو.

داهليت اوغيراهليت پته لګيدل: دا خلق څنګه اهل نه ووداځنګه پته اولګيدله نو په حديث کښې لفظ "اَلْعِيِّ" راغلې دې ددې ترجمه عاجز ناواقف ده اومراد جهل دې معلومه شوه چه داخلق اهل نه وو اوچه کله پخپله اهل علم نه وو نوهغوی ولې فتویٰ ورکړه په کوم سره چه سړې مړشو. که دې خلقو د يوعالم يا صاحب اجتهادنه پوښتنه کړې وې نوهغه به صحيح مسئله خودله.

د تقليد ثبوت: دَدې نه معلومه شوه چه کله مسئله پخپله معلومه نه وی نو دَ صاحب علم نه تپوس کولو سره دَهغه تقليد کول پکاردی اوهم دغه تقليد دې مسلمانانوخپل ائمه شارع نه دی جوړکړی بلکه پخپله دَنه پوهيدلو دَ وجې نه ئی دَ زمانې دَتپولونه دَ لوئی عالم مجتهدخبره اومنله او قبوله ئی کړه. هم دغه تقليدمونږ منو. غيرمقلدهم دغه هرڅه کوی مگرخپل ځان ته مقلدنه وائی. حضوراکرم ﷺ ورته ووئيل تاوان ئی بوجه اجتهادنه دې اخستې.

٥٣٢—()[٠] ① وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ". عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ.

ترجمه: ① اوابن ماجه دا روايت دعطاء ابن ابي رباح څخه او هغه د ابن عباس څخه نقل کړي دي.

[۵۳۳] په تيمم د مونځ کولو څخه پس د اوبو موجودوالي

٥٣٣—()[٧] ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ②«خَرَجَ رَجُلَانِ فِي سَفَرٍ، فَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ وَلَيْسَ مَعَهُمَا مَاءٌ، ③ فَتَيَمَّمَا صَعِيدًا طَيِّبًا، فَصَلَّيَا، ④ ثُمَّ وَجَدَا الْمَاءَ فِي الْوَقْتِ فَأَعَادَ أَحَدُهُمَا الصَّلَاةَ بِوُضُوءٍ، وَلَمْ يُعِدِ الْآخَرُ. ⑤ ثُمَّ أَتَيَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَا ذَلِكَ. ⑥ فَقَالَ لِلَّذِي لَمْ يُعِدْ: أَصَبْتَ السُّنَّةَ، وَأَجْزَأَتْكَ صَلَاتُكَ، ⑦ وَقَالَ لِلَّذِي تَوَضَّأَ وَأَعَادَ: "لَكَ الْأَجْرُ مَرَّتَيْنِ» "رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ، وَرَوَى النَّسَائِيُّ نَحْوَهُ.

ترجمه: ① ابو سعيد خدري رضي الله عنه راوي دي ② چې دوه سړي په سفر روان شو (په لارکې) د لمانځه وخت شو خو د هغوئ سره اوبه نه وې ③ دواړو په پاکه خاوره باندې تيمم اوکړو او مونځ يي وکړو ④ (په مخکې تلو سره) هغوئ اوبه اوموندلې او د لمانځه وخت هم باقي وو په هغوئ کې يو اودس کولو سره مونځ دوباره وکړو خو هغه دويم دوباره ونه کړو ⑤ کوم وخت چې دواړه د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو نو دا واقعه يې ذکر کړه ⑥ (پوره واقعه آوريدو سره) حضور ﷺ هغه سړي ته چې هغه مونځ دوباره نه وو کړي، وفرمايل تا په سنت عمل اوکړو ستا د پاره هغه مونځ کافي دي ⑦ او کوم سړي چې اودس کولو سره دوباره مونځ کړي وو هغه ته يي وفرمايل ستا د پاره دوچنده اجر دي. (ابوداؤد دارمي، او نسائي هم دغسې روايت نقل کړي دي)

٥٣٤—()[٠] ① وَقَدْ رَوَى هُوَ وَأَبُو دَاوُدَ أَيْضًا عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ مُرْسَلًا.

ترجمه: ① نسائي او ابوداؤد د عطاء ابن يسار څخه مرسلاً هم نقل کړي دي.

---

(۱) اخرجه ابن ماجة باب فى المجروح تصيبه الجنابة. فيخاف على نفسه إن اغتسل (رقم- ٥٧٢)
(۲) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة/ باب فى المتيمم يجد الماء بعد ما يصل فى الوقت (رقم-٣٣٨) والنسائى كتاب الغسل والتيمم/باب التيمم لمن يجد الماء بعد الصلاة (رقم- ٤٣٣) والدارمى كتاب الطهارة/باب التيمم (رقم-٧٧١)
(۳) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة/باب فى المتيمم يجد الماء بعد ما يصل فى الوقت (رقم-٣٣٩) والنسائى كتاب الغسل والتيمم/باب التيمم لمن يجد الماء بعد الصلاة (رقم- ٤٣٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

حل اللغات: ① صَعِيدًا: خاوره، ② فَأَعَادَ: راوئي ګرځولو (مونځ). ③ أَصَبْتَ: تا عمل اوکړو، ④ السُّنَّةَ: سنت، شریعت. ⑤ وَأَجْزَأَتْكَ: جائز او کافی دي تا لره. ⑥ الْأَجْرُ: ثواب، ⑦ مَرَّتَيْنِ: دوچند (ځکه چه په احتیاط ئې عمل اوکړو او دوه ځل ئې مونځ اوکړو).

تسهیلات:

قوله: ثُمَّ وَجَدَا الْمَاءَ فِي الْوَقْتِ:

داوبو ملاویدو درې صورتونه:

① که چا په تیمم سره مونځ اوکړو روستواوبه ملاؤشوې نوپه اتفاق سره دده مونځ اوشو

② که دَتیمم نه پس اودمانځه نه وړاندې اوبه ملاؤشی نواودس دې اوکړی په دې باندې هم اتفاق دي.

③ که تیمم ئی اوکړو اومونځ ئی شروع کړوبیا په مینځ کښې اوبه ملاؤشوې

په دریم صورت کښې مذاهب:

① دَامام مالك رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله مسلك : ادې چه داسې دې هم په تیمم سره مونځ پوره کړی.

② دَاحنافو اوحنابله په نیزمونځ باطل شو داسې دې اودس اوکړی اومونځ دې بیا اوکړی.

د دویم فریق دلائل: هغه روایات د دوی مستدلات دی کومو کښې چه "ان لم يجد الماء" الفاظ دَ شرط په توګه ذکردی او "فاذا وجد الماء فليمس بشره" الفاظ دی نوچه کله هم اوبه ملاؤشی تیمم به ختم شی نودَ مونځ دوران کښې دَ اوبوپه لیدوسره به مونځ هم ختم شی.

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۳۵] د سلام جواب ورکولو دپاره د نبی علیه السلام تیمم کول

د ه—(۱)[۸] ۱ عَنْ أَبِي الْجُهَيْمِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الصِّمَّةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «أَقْبَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ نَحْوِ بِئْرِ جَمَلٍ ۳ فَلَقِيَهُ رَجُلٌ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَرُدَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۴ حَتَّى أَقْبَلَ عَلَى الْجِدَارِ، فَمَسَحَ بِوَجْهِهِ وَيَدَيْهِ، ثُمَّ رَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ ابو جهیم ابن حارث ابن صمه رضی الله عنه راوي دي ۲ چې نبي ﷺ (په مدینه کې) د جَمَل د کوهی طرف ځخه تشریف راوړو ۳ د حضور ﷺ سره یو سړي ملاو شو (یعني خپله ابوجهیم) او سلام یي اوکړو حضور ﷺ د هغه د سلام جواب ورنه کړو ۴ او یو دیوال ته یي تشریف راوړو نو رومبې حضور ﷺ د مخ اولاسونو مسح وکړه (یعني تیمم یي وکړو) بیا یي

(۱) اخرجه البخاری کتاب التیمم باب: المتیمم هل ينفخ فيهما؟(رقم-۳۳۷) ومسلم کتاب التیمم باب التیمم (رقم-۱۱۴ - (۳۶۹) وابوداود کتاب الطهارة/باب التیمم فی الحضر (رقم- ۳۲۹) والنسائی کتاب الطهارة/باب التیمم فی الحضر(رقم-۳۱۱)

: سلام جواب ورکړلو، «بخاري مسلم»

حل اللغات: ① أَقْبَلَ: تشريف ئې راوړو. ② نَحْوِ: له طرفه. ③ بِئْرِ جَمَلٍ: په مدينه کښې يو مشهور ځائ دي.

[۵۳۶] د تيمم دپاره دوه ضربونه

۵۳۶-()[۹] [۱] «وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ: [۲] أَنَّهُمْ تَمَسَّحُوا وَهُمْ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالصَّعِيدِ لِصَلَاةِ الْفَجْرِ، [۳] فَضَرَبُوا بِأَكُفِّهِمُ الصَّعِيدَ، ثُمَّ مَسَحُوا بِوُجُوهِهِمْ مَسْحَةً وَاحِدَةً، [۴] ثُمَّ عَادُوا، فَضَرَبُوا بِأَكُفِّهِمُ الصَّعِيدَ مَرَّةً أُخْرَى، [۵] فَمَسَحُوا بِأَيْدِيهِمْ كُلِّهَا إِلَى الْمَنَاكِبِ [۶] وَالْآبَاطِ مِنْ بُطُونِ أَيْدِيهِمْ»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] د عمار ابن ياسر رضي الله عنه بيان دي چه (يو خل) خو صحابه د نبي کريم ﷺ سره ملګري وو [۲] (د اوبو نه پيدا کيدو په وجه) د سحر لمانځه دپاره هغوئ په پاکي خاوري باندې تيمم ووهلو [۳] داسې چې اول يې خپل لاسونه په خاوره باندې وهلو سره په خپلو مخونو راتير کړل [۴] بيا يې په دويم ځل خپل لاسونه په خاوره وهلو سره په خپلو پوره لاسونو باندې يعنى تر اوږو پورې [۶] او د ترخونو د ننه پورې مسح وکړه د لاسونو د دننه طرف څخه. ابوداؤد

حل اللغات: ① تَمَسَّحُوا: أَيْ: تَيَمَّمُوا: يعنى تيمم ئې اوکړو. ② الصَّعِيدِ: خاوره، ③ الْآبَاطِ: د إِبِط جمع ده، ترخونو ته وائي.

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ عَادُوا، فَضَرَبُوا: داحديث په ډيروضاحت سره دا خبره ښائي چه دتيمم دپاره دوه ضربونه دي.

قوله: الْمَنَاكِبِ:

داوګو پورې د تيمم کولو حکم: د اوګو داوګو پورې تيمم کښې مسح کول او دترخونو پورې تيمم کول، دا دَ صحابه کرامو دَ ظاهرى آيت نه يواجتهادى استنباطى حکم وو يعنى دَ "يد" دَ لفظ نه هغوى پوره لاس دَ اوګو پورې ګنړلې وو ځکه چه په لغت کښې دَ يد اطلاق هم په دې باندې کيږى ليکن دَ شارع عليه السلام دَ فعل نه دَ څنګلو پورې حکم ملاويږى په دې وجه هم په دې عمل کولې شى. دَ دې نه معلومه شوه چه دَ لغت په زور او په عربئى باندې دَ پوهې په زور په شريعت باندې په کامل توګه باندې پوهيدل انتهائى مشکل دى.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة/باب التيمم (رقم-۳۱۸) والنسائى كتاب الطهارة/باب التيمم فى السفر (رقم-۳۱۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۱۶/۱۱] بَابُ الْغُسْلِ الْمَسْنُوْنِ

دَ مسنون غسل بیان

خلاصة الباب:

فيه ثمانية أحاديث مشتملة على أقسام الغسل:

① الغسل للجمعة: ۱، ۲، ۳، ۴، ۸.

② الغسل لتغسيل الميت: ۵، ۶.

③ الغسل للجنابة والحجامة: ۶.

④ الغسل للإسلام: ۷.

ماقبل باب سره ربط: صاحب مشکوة دَدې نه وړاندې باب الغسل په عنوان سره یوباب قائم کړې دې لیکن دَدې نه پس دَ غسل مسنون په عنوان سره دلته هغوی یوبل باب قائم کړویه کوم سره چه اشاره ملاویږی چه مخکښې دَهغه غسل احکام ووچه دَ فرض اوواجب دَ قسم نه وو اودلته دَهغه غسل بیان دې چه دَ سنت یا مستحب دَ قسم نه دې.

د غسل قسمونه: په دې باب کښې صاحب مشکوة دَ څلورقسم غسلونو بیان کړې دې. ① دَ جمعې دَ ورځې دَ غسل بیان

② مړی ته دَ غسل ورکولونه پس پخپله دَ غسل کولوبیان

③ دَ ښکر اوحجامه کولونه پس غسل کول او

④ دَ اسلام قبلولو په وخت کښې غسل کول.

دااخترونودپاره د غسل حکم: دَدې نه علاوه دَ اخترونودَپاره غسل کول فقهاؤ مسنون لیکلې دې مګردَدې دَپاره چه کوم دوه یا زیات احادیث راغلی دی هغه ضعیف دی کیدې شی چه دَدې وجې نه مؤلف دَدې ذکر نه دې کړې خودَ صحابه کرامو دَ دور نه امت کښې دَاخترونودَپاره دَ غسل کولو معمول راروان دې.

دعرفه په ورځ اوهره هفته کښې غسل کول: دغه شان دَ یوم عرفه دَپاره اوپه وخت دَ احرام غسل کولوته فقهاؤ مستحب لیکلی دی. دَ اسلام عام حکم تولومسلمانانوته دادې چه په یوه هفته کښې دې کم نه کم یوځل غسل کوی. الله تعالی مسلمانانوته دَ پاکوالی دَپاره دالویه تحفه ورکړې ده دکوم نه چه غیرمسلم محروم دی.

دغسل په ضبط کښې اقوال: ① دَغین په ضمې اودَ سین په سکون سره دې بدن دَ سر نه واخله ترخپوپورې دَ ټولو اندامونو وینځلو نوم غسل دې

② دَغین په فتح سره دَ یوځیزوینځلوته غَسل وائی

③ دَغین اوسین دواړو په ضمه سره چه غُسُل وی نودا دَ غسل اوبوته وئیلې شی

③ چه په غين كسره اوپه سين سكون وی نوډغسل په اوبو كښې دننه صابن ياسرف يا اشنان وغيره ملاؤشوي څيزونوته وائي.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۳۷] د جمعي د مانځه دپاره د غسل حکم

۵۳۷- ()[۱] ①عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②"« إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: ① ابن عمر رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هركله چې په تاسو كې څوك د جمعي د لمانځه د پاره راځي نو هغه ته پكار دي چې غسل وكړي. (بخاري مسلم)

[۵۳۸] د جمعي په ورځ غسل

۵۳۸- ()[۲] ①وَعَنْ أَبِي سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ②«غُسْلُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابو سعيد خدري رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② چه په هر بالغ باندې د جمعي په ورځ لمبيدل واجب دي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① مُحْتَلِمٍ: أَيْ: بَالِغٍ: چه بلوغ ته رسيدلې وی.

تسهيلات:

د جمعي د غسل دپاره درې قسمه الفاظ: جمعي دپاره د غسل باره كښې

① د "فليغتسل" لفظ راغلي دي. او دا د امر صيغه ده.

② د "حق" كلمه هم راغلي ده.

③ د "واجب" لفظ هم موجود دي. داشان نور هم د تاكيد الفاظ راغلى دى چې د هغې په وجه فقهاؤ كښې اختلاف پيدا شو چې آيا غسل واجب دي يا سنت يا مستحب؟

---

(۱) اخرجه البخاری باب فضل الغسل يوم الجمعة، وهل على الصبی شهود يوم الجمعة، أو على النساء(رقم-۸۷۷) ومسلم كتاب الجمعة (رقم۱ - (۸٤٤) وابوداود كتاب الطهارة /باب فی الغسل يوم الجمعة(رقم-۳٤۰) ....
..... وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، باب ما جاء فی الغسل يوم الجمعة (رقم - ۱۰۸۸)ومالک فی الموطا كتاب الجمعة /باب العمل فی غسل يوم الجمعة(رقم- ۵) والنسائی كتاب الجمعة /باب الأمر بالغسل يوم الجمعة (رقم- ۱۳۷۶) والدارمی كتاب الصلاة /باب الغسل يوم الجمعة (رقم-۱۵۷۷)

(۲) اخرجه البخاری كتاب الجمعة باب هل على من لم يشهد الجمعة غسل من النساء والصبيان وغيرهم؟ (رقم-۸۹۵) ومسلم كتاب الجمعة باب وجوب غسل الجمعة على كل بالغ من الرجال، وبيان ما أمروا به (رقم-۵ - (۸٤۶)وابوداود كتاب الطهارة/باب فی الغسل يوم الجمعة(رقم-۳٤۱) كتاب إقامة الصلاة، باب ما جاء فی الغسل يوم الجمعة (رقم - ۱۰۸۹) ومالک فی الموطا كتاب الجمعة /باب العمل فی غسل يوم الجمعة(رقم- ٤) والدارمی كتاب الصلاة /باب الغسل يوم الجمعة (رقم-۱۵۷۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

د جمعې ورځې د غسل په حکم کښې مذاهب:

① اهل ظواهر وائی چې د جمعې غسل فرض او واجب دې. حضرت ابوهریره ﷺ او عمار بن یاسر ﷺ د جمعې دغسل د وجوب قائل وو. او دا مسلك د ابوسعيد خدری ﷺ هم وو.

② د جمهور فقهاء کرامو په نیز د جمعې غسل سنت دې. جمهور صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعين هم ددې د سنتيت قائل وو.

داول فریق دلائل:-

① عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " « إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ(۱)

② وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " «غُسْلُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.(۲)

③ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ أَنْ يَغْتَسِلَ فِي كُلِّ سَبْعَةِ أَيَّامٍ يَوْمًا يَغْسِلُ فِيهِ رَأْسَهُ وَجَسَدَهُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.(۳)

د دې درې واړه احاديثو د ظاهر څخه وجوب معلوميږي. بلکه د وجوب واضح الفاظ دی

داول فریق د دلائلو جوابونه: ① کوم ځائې کښې چې د امر صیغه راغلې ده هلته به دَ غسل د نورو رواياتو په وجه امر په استحباب حمل کړو ځکه چې قرينه صارفه موجوده ده چې دې امر لره په وجوب باندې نشی حمل کولې نو دا امر د ﴿ وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوا ﴾ دامر پشان په استحباب باندې محمول دې.

② کوم ځائې کښې چې د حق يا د واجب الفاظ راغلی دی هغه د ثابت په معنی کښې دی ، يا به حق د سنت مؤکده په حکم کښې اخستې کيږی.

③ دا روايات موقوف او منسوخ دی، يعنی انتهاء حکم دانتهاء علت په سبب سره شوې ده. ددې قصه د حضرت ابن عباس ﷺ روايت په مشکوة ص/۵۵ فصل ثالث کښې ددې

---

(۱) اخرجه البخاری باب فضل الغسل يوم الجمعة، وهل على الصبى شهود يوم الجمعة، أو على النساء(رقم-۸۷۷) ومسلم كتاب الجمعة (رقم*۱ - (۸٤٤) وابوداود كتاب الطهارة/باب فى الغسل يوم الجمعة(رقم-۳٤۰) ....

..... وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، باب ما جاء فى الغسل يوم الجمعة (رقم - ۱۰۸۸)ومالک فى الموطا كتاب الجمعة /باب العمل فى غسل يوم الجمعة(رقم- ۵) والنسائى كتاب الجمعة/باب الأمر بالغسل يوم الجمعة (رقم- ۱۳۷۶) والدارمى كتاب الصلاة /باب الغسل يوم الجمعة (رقم-۱۵۷۷)

(۲) اخرجه البخارى كتاب الجمعة باب هل على من لم يشهد الجمعة غسل من النساء والصبيان وغيرهم؟ (رقم-۸۹۵) ومسلم كتاب الجمعة باب وجوب غسل الجمعة على كل بالغ من الرجال، وبيان ما أمروا به (رقم-۵ - (۸٤۶)وابوداود كتاب الطهارة/باب فى الغسل يوم الجمعة(رقم-۳٤۱) كتاب إقامة الصلاة، باب ما جاء فى الغسل يوم الجمعة (رقم - ۱۰۸۹) ومالک فى الموطا كتاب الجمعة /باب العمل فى غسل يوم الجمعة(رقم- ٤) والدارمى كتاب الصلاة /باب الغسل يوم الجمعة (رقم-۱۵۷۸)

(۳) اخرجه البخارى بخارى كتاب الجمعة باب هل على من لم يشهد الجمعة غسل من النساء والصبيان وغيرهم؟ (رقم-۸۹۷) ومسلم فى صحيح رقم الحديث ۹- ۸٤۹

باب په آخرى حديث كښي په تفصيل سره مذكور ده. په هغې كښې حضرت ابن عباس ﷺ دهغه زماني مكمل نقشه پيش كړې ده.

د دويم فريق دلائل: دحضرت سمره بن جندب ﷺ روايت د دوى مستدل دې كوم چې د فصل ثانى اول حديث دې. په هغې كښې د "فالغسل أفضل" الفاظ راغلى دى.

② په مشكاة كښې دحضرت عكرمه ﷺ روايت هم د دوى مستدل دې.

③ دحضرت عثمان بن عفان ﷺ او حضرت عمر فاروق ﷺ مكالمه ده هم د دوى مستدل ده.هغه دا چې حضرت عمر ﷺ د جمعې خطبه ونيله چې په دې كښې حضرت عثمان ﷺ تشريف راوړو. حضرت عمر ﷺ هغه ته په ناوخته راتلو زورنه وركړه. نودوئ ﷺ ورته په جواب كښې اوونيل چې اې امير المؤمنين ما اودس كولو څكه ناوخته شو. حضرت عمر فاروق ﷺ اوفرمائيل چې "الوضوء أيضاً" (لمعات)[اشعة المعات ۱/۲۸۷]

يعنى ناوخته هم راغلې او غسل دې هم نه دې كړې. صرف اودس دې كړې دې؟ بس دومره مكالمه وه. او حضرت عثمان ﷺ كيناستو. او جمعه ئې ادا كړه. جمهور فرمائى كه غسل واجب يا فرض وې نو حضرت عمر ﷺ به ضرور حضرت عثمان ﷺ غسل دپاره ليږلې وو. معلومه شوه چې واجب نه دې.

④ د حضرت ابن عباس ﷺ هغه تفصيلى بحث هم د دوى مستدل دې كوم چې باب الغسل په آخر كښې راځى. او حضرت عكرمه ﷺ د حضرت ابن عباس ﷺ شاګرد دې. او تابعى دې. هغوئ دا روايت نقل كړې دې ددې تولو روايتونو په رڼا كښې جمهور د جمعې غسل لره مسنون او مستحب ګرزوى.

خلاصه د بحث: ګويا د غسل وجوب د اسلام په ابتداء كښې وو. بيا موقوف شو. بهر حال دلائل چې هر څنګه وى ليكن افضل او بهتر غسل كول دى. او احتياط د هغه حضراتو په مسلك كښې دې چې د جمهورو نه علاوه دى. او دجمعې غسل لره ضرورى ګنړى.

[۵۳۹]په پوره هفته كښې يو ځل د غسل كولو مسنونيت

٥٣٩-()[٣] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ أَنْ يَغْتَسِلَ فِي كُلِّ سَبْعَةِ أَيَّامٍ يَوْمًا③ يَغْسِلُ فِيهِ رَأْسَهُ وَجَسَدَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل② چه په هر عاقل بالغ مسلمان باندې حق دې (يعنې ثابت او لازم دې يا لائق دې) چې په هره هفته کې يوه ورځ (يعنې د جمعې په روځ کې) ولمبيږي③ او خپل سر او بدن ووينځي . (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①حَقٌّ : أَيْ: ثَابِتٌ وَلَازِمٌ: ثابت او لازم دى.

(۱) اخرجه البخارى بخارى كتاب الجمعة باب هل على من لم يشهد الجمعة غسل من النساء والصبيان وغيرهم؟ (رقم-۸۹۷) ومسلم فى صحيح رقم الحديث ۸٤٩۰۹

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات:

د جمعې په ورځ د ما له الغسل په مصداق کښې مذاهب:

① دجمهورو په نیز د جمعې په ورځ غسل د یوم الجمعه دپاره دې. دامام مالک رحمه الله هم یوقول دا دې.

② داحنافو په نیز صلوة الجمعه دپاره دې. دامام مالک رحمه الله هم یوقول دا دې.

ثمره د اختلاف: ددې اختلاف ثمره به په هغه وخت کښې ظاهره شی چې کوم حضرات غسل لره دجمعې دپاره سنت ګرځوی. د هغوئ په نیز به دا سنت هله پوره شی چې هم دې غسل سره مونځ ادا کړې شی اوکه سحر ئې غسل اوکړو او بیا ئې اودس مات کړو او دې غسل سره ئې مونځ ادا نه کړو نو سنت به پورا نشی. او کوم حضرات چې دا غسل یوم الجمعه دپاره ګرځوی دهغوئ په نیز که د جمعې په ورځ سحر ئې غسل اوکړو نو سنت به ادا شی که دې غسل سره ئې مونځ کړې وی اوکه نه .خوکه یو کس مونځ نه پس غسل کوی نو دَهیچا په نیز به سنت ادا نشی.

په احادیثوکښې چې د یوم جمعه ، صلوة جمعه او هفته کښې یو ځل دغسل کولو حکم راغلې دې ، په هغې کښې په ظاهر تعارض ښکاری، خو احادیثو کښې تعارض نشته دې بلکه درې قسمه غسل مستحب دې. او درې وارو دپاره مختلف احادیث راغلی دی. اوس د جمعې د مونځ دپاره چې دکوم غسل حکم راغلې دې که په هغې کښې دا نیت اوکړې شی چې د جمعې د ورځې او د مونځ دپاره غسل کوم او دا نیت هم اوکړی چې هفته وار غسل کوم نو هیڅ تعارض به نه وی او په ټولو احادیثو به عمل راشی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۳۰] د جمعې په ورځ د غسل کولو افضلیت

۵۳۰-(۱)[۴] ① عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② " «مَنْ تَوَضَّأَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَبِهَا وَنِعْمَتْ، ③ وَمَنِ اغْتَسَلَ فَالْغُسْلُ أَفْضَلُ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① سمره ابن جندب رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② چاچې د جمعې په ورځ اودس وکړو نو هغه فرض ادا کړل او دا ډیر ښه فرض دې ③ او چاچې (د جمعې د لمانځه د پاره) غسل وکړو نو دا ډیر ښه دې. (احمد ابوداؤد ترمذي نسائي دارمي)

حل اللغات: ① فَبِهَا وَنِعْمَتْ: دا کلام د تحسین او تعریف دپاره استعمالیږی یعنی چه دا ډیر ښه عمل دې.

(۱) وابوداود کتاب الطهارة/باب فی الرخصة فی ترک الغسل یوم الجمعة (رقم-۳۵٤) والترمذی کتاب الجمعة/باب فی الوضوء یوم الجمعة(رقم-٤۹۷) والدارمی کتاب الصلاة /باب الغسل یوم الجمعة (رقم-۱۵۸۱)

[۵۳۱] د مړی غاسل دپاره د غسل او حامل دپاره د اودس حکم

۵۳۱-()[۵] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«مَنْ غَسَّلَ مَيِّتًا فَلْيَغْتَسِلْ»" رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ. ۳ وَزَادَ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ: "وَمَنْ حَمَلَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ".

ترجمه: ۱ ابـو هريره رضی الله عنه راوي دي چې رسـول الله ﷺ وفرمايل ۲ کـوم سـړي چې مـړي ولمبوي هغه ته پخپله هم لمبيدل پکار دي، (ابـن ماجـه، ۳ او احمد ترمذي) او ابوداؤد په دي حديث کې زيات نقل کړي دي چې حضور ﷺ وفرمايل کوم سړي چې جنازي ته وړه ورکړي وي هغه ته اودس کول پکار دي.

حل اللغات: ۞ غَسَّلَ: چه اوئې لامبولو (يعنی مړی ته ئې غسل ورکړو).

[۵۳۲] د غسل څلور اسباب

۵۳۲-()[۶] ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۲ «كَانَ يَغْتَسِلُ مِنْ أَرْبَعٍ: مِنَ الْجَنَابَةِ، ۳ وَيَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَمِنَ الْحِجَامَةِ، وَمِنْ غُسْلِ الْمَيِّتِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ بي بي عائشه رضی الله عنها فرمايي ۲ چې نبي ﷺ به د څلورو څيزونو په وجه غسل کولو ① جنابت يعنی د ناپاکي څخه ۳ ② د جمعي د پاره ③ د ښکر په لګولو سره يعنی په وينه راښکلو سره ④ مړي ته په غسل ورکولو سره. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① الْحِجَامَةِ: أَيْ: لِلْمَحْجُومِ: يعنی دکوم کس نه چه خرابه وينه اوويستلي شی هغه له پکار دی چه اولامبی.

تسهيلات:

په دري قسمه خلقو د غسل عدم وجوب:

① په حجامت کونکی يعني د حجامه په ذريعه ئې وينه راويستي وی.

② دجنازې د کټ په حامل يعنی چې د مړی جنازه ئې اوچته کړی وی.

③ د مړی په غاسل يعنی چې مړی ته ئې غسل ورکړی وی.

په آخری دوو صورتونو کښې دظل په وجوب کښې مذاهب:

① دأهل ظواهر په نيزجنازه اوچتونکی باندې اومړی ته غسل ورکونکی باندې پخپله غسل واجب کيږی.

② دجمهورو په نيز په ده باندې غسل نه دې واجب.البته مستحب دې.

(۱) اخرجه ابن ماجة كتاب الجنائز /باب ما جاء فى غسل الميت(رقم-۱۴۶۳) واحمد فى المسند:-۲/۴۵۴ . و ابوداود كتاب الجنائز.باب فى الغسل من غسل الميت(رقم-۳۱۶۱) والترمذى كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الغسل من غسل الميت (رقم-۹۹۳)

(۲) اخرجه وابوداود كتاب الطهارة/باب فى الغسل يوم الجمعة(رقم-۳۴۸) واحمد فى المسند:۱۵۲/۶

Maktaba Tul Ishaat.com

داول فریق دلائل:

① دَحضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه "من غسل میتًا فلیغتسل" الفاظ دی

② دَحضرت عائشه رضي الله عنها روایت د دوی مستدل دې په کوم کښې "ومن غسل المیت" الفاظ دی.

د دویم فریق دلائل:

① دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما یوروایت دې "کنا نغسل المیت فمنا من یغتسل ومنا من لا یغتسل" (اخرجه الخطیب) دَدې نه معلومه شوه چه که چرته نجاست اولګی نوغسل به کوی ګنی نه به کوی.

② په دې خلقوباندې ښکه غسل نشته دې چه موجب غسل څه څیز موجودشوې نه دې صرف دَدې وهم په بنیاد چه چرته څاڅکی پریوتلوسره په بدن باندې نجاست لګیدلې وی دَ وجوب غسل دَپاره کافی نه دی ښکه چه داڅه یقینی خبره نه ده.

داول فریق د دلیل درې جوابونه: ① دَحضرت ابوهریره رضي الله عنه په روایت کښې "من حمله فلیتوضأ" کښې دَحمل نه مراد دا دې چه کله یوسړې جنازه اوچتولوسره روان شی نوهغه له پکاردی چه اودس کښې دې ځی ښکه چه وړاندې تلوسره به هغه دَ جنازې مونځ کوی نوتیاربه وی

② دا روایت منسوخ دې. ابوداؤد وئیلی دی داروایت منسوخ دې

③ دا حکم په استحباب باندې محمول دی.

قوله: وَمِنْ غُسْلِ الْمَيِّتِ:

د نبی علیه السلام مړی ته د غسل ورکولوعدم ثبوت: یعنی دَ مړی لامبولونه پس به ئی غسل کولویادساتئی چه حضورپاك په ټول عمرکښې یومړی ته هم په خپله غسل نه دې ورکړې دلته اسناد اونسبت مجازی دې لکه چه "بنی الامیرالقصر" کښې "اسنادالی غیرماهوله" دې یا لکه چه حدیث دې: "ان النبی صلی الله علیه وسلم رجم ماعزا" ای امربرجمه.

[۵۴۳] د اسلام راوړلو دپاره غسل

۵۴۳ – ()[۷] [۱] وَعَنْ قَيْسِ بْنِ عَاصِمٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّهُ أَسْلَمَ، [۲] فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ «يَغْتَسِلَ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه: [۱] او د حضرت قیس ابن عاصم رضي الله عنه په باره کې روایت دې چې هغه اسلام راوړو [۲] نو نبي صلی الله علیه وسلم هغه ته دا حکم ورکړو چې هغه په اوبو او د بیرې په پاڼو سره ولمبېږي، (ترمذي ،ابوداؤد ، نسائي)

حل اللغات: ① سِدْر: بیره، (د بیرې پاڼې مراد دی).

[۱] اخرجه وابوداود کتاب الطهارة/باب فی الرجل یسلم فیؤمر بالغسل(رقم-۳۵۵) والترمذی کتاب السفر/باب: فی الاغتسال عندما یسلم الرجل(رقم-۶۰۵) والنسائی کتاب الطهارة/باب ذکر ما یوجب الغسل وما لا یوجبه غسل الکافر إذا أسلم (رقم-۱۸۸)واحمد فی المسند:-۶۱/۵

تسهیلات:

قوله: أَنَّهُ أَسْلَمَ:

داسلام قبلولو شخه پس د غسل دوه صورتونه: ① اسلام نه وړاندې که یو کافر د جنابت په حالت کښې وی نو اسلام کښې داخلیدو نه پس په هغه غسل کول فرض دی.

② که اسلام کښې داخلیدو نه پس هغه د جنابت په حالت کښې نه وی نو بیا غسل کول مستحب دی. خلاصه دا شوه چې اسلام د غسل نه بغیر هم قبلیدې شی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۴۴] د جمعې د مونځ ابتداء

۵۴۴ـ (۱) [۸] ① عَنْ عِكْرِمَةَ، قَالَ: إِنَّ نَاسًا مِنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ جَاءُوا ② فَقَالُوا: يَا ابْنَ عَبَّاسٍ، أَتَرَى الْغُسْلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاجِبًا؟ ③ قَالَ: لَا، وَلَكِنَّهُ أَطْهَرُ وَخَيْرٌ لِمَنِ اغْتَسَلَ، ④ وَمَنْ لَمْ يَغْتَسِلْ فَلَيْسَ عَلَيْهِ بِوَاجِبٍ. ⑤ وَسَأُخْبِرُكُمْ كَيْفَ بَدْءُ الْغُسْلِ: ⑤ كَانَ النَّاسُ مَجْهُودِينَ يَلْبَسُونَ الصُّوفَ، وَيَعْمَلُونَ عَلَى ظُهُورِهِمْ، ⑥ وَكَانَ مَسْجِدُهُمْ ضَيِّقًا مُقَارِبَ السَّقْفِ، إِنَّمَا هُوَ عَرِيشٌ،

ترجمه: ① حضرت عکرمه رضي الله عنه راوي دي چې د عراق څو سړي راغلل ② او د ابن عباس رضي الله عنهما نه څخه يې پوښتنه وکړه چې آيا ستاسو په رايه کې د جمعې په ورځ لمبيدل واجب دي؟ ③ هغه اوويل نه، خو د جمعې په ورځ لمبيدل ډيره زياته صفايي او سترايي ده او کوم سړي چې غسل وکړي نو دا د هغه د پاره بهتره ده ④ او کوم سړي چې ونه کړي په هغه واجب نه دي ⑤ او زه تاسو ته ښايم چې د جمعې په ورځ د غسل ابتداء ولې وشوه (يعنې د جمعې په ورځ غسل په څه وجه شروع شو نو اصل خبره داوه چې د اسلام د شروع په زمانه کې) ⑤ بعضې غريب صحابه ورضي الله عنهم به صوف (د وړی کالي) اغوستل او په شا به يې (د بوج پورته کولو) کار کولو ⑥ د هغوئ مسجدو تنګ وو چې د هغې چت ښکته او د خرما د څانګو وو.

حل اللغات: ① مَجْهُوْدِيْنَ: د جهد او مشقت کارونه به ئې کول (مزدوری به ئې کوله). ② الصُّوفَ: وړئ. ③ ظُهُوْرِهِمْ: په شا ګانو به ئې پيټې او بوجونه وړل. ④ مُقَارِبَ السَّقْفِ: چتونه به ئې نزدې وو (اوچت به نه وو). ⑤ عَرِيْشٌ: د خرماؤ د څانګو څخه جوړ شوې سپر.

① فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي يَوْمٍ حَارٍّ، ② وَعَرِقَ النَّاسُ فِي ذَلِكَ الصُّوفِ، ③ حَتَّى ثَارَتْ مِنْهُمْ رِيَاحٌ، آذَى بِذَلِكَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا. ④ فَلَمَّا وَجَدَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ الرِّيَاحَ، قَالَ: ⑤ أَيُّهَا النَّاسُ، إِذَا كَانَ هَذَا الْيَوْمُ فَاغْتَسِلُوا، ⑥ وَلْيَمَسَّ أَحَدُكُمْ أَفْضَلَ مَا يَجِدُ مِنْ دُهْنِهِ وَطِيبِهِ" ⑦ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: ثُمَّ جَاءَ اللهُ بِالْخَيْرِ، وَلَبِسُوا غَيْرَ الصُّوفِ، ⑧ وَكُفُوا الْعَمَلَ، وَوُسِّعَ مَسْجِدُهُمْ، ⑨ وَذَهَبَ بَعْضُ الَّذِي كَانَ يُؤْذِي

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الطهارة/باب فی الرخصة فی ترک الغسل یوم الجمعة (رقم-۳۵۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

بَعْضُهُمْ بَعْضًا مِنَ الْعَرَقِ. رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] یو ځل د جمعي په ورځ چې سخته ګرمي وه حضور ﷺ مسجد ته تشریف راوړو [۲] (د سختې ګرمي په وجه) صوف (وړي) کې دننه خلق د خولي څخه لونده شوي وو [۳] تر دي چې د خولو بدبویي خوره شوه چې په هغې سره خلقو په خپلو کې تکلیف محسوس کړو [۴] هرکله چې حضور ﷺ ته د بدبویي احساس وشو نو وي فرمایل [۵] اي خلقو! کله چې د جمعي ورځ شی نو غسل کوئ [۶] بلکه په تاسو کې چې چاته تیل او خوشبویي میسر (حاصل) وي نو هغه دي هم لګوي (یعني ویښتان دي غوړ کړي او په کپړو دي خوشبویي لګوي (مثلًا عطر وغیره) [۷] ابن عباس رضي الله عنه فرمایي چه د دې څخه وروسته الله جل جلاله دمال اودولت فراخي راوستله نو خلقو صوف (وړئ) پریښودلو سره بنې کپړي استعمالول شروع کړل [۸] د محنت او مشقت کارونه هم ختم شو، مسجدو هم فراخه شو [۹] او د خولو (پسیني) د وجي څخه چې خلقو ته تکلیف وو هغه هم دفع شو. (ابوداؤد)

حل اللغات: ⑥ عَرِقَ: خولّه شو خلق، ⑦ ثَارَتْ: أَيْ: انْتَشَرَتْ: راوالوتلو، خور شو، ⑧ رِيَاحٌ: باد یعنی بد بویه هوا، ⑨ وَلْيَمَسَّ: او لګوئ، مګئ (په ځانونو باندې). ⑩ دُهْنِهِ: تیل (چه ویښته پرې غوړ کړی)، ⑪ طِيبِهِ: خوشبو، عطر (چه په جامو ئې اولګوی). ⑫ الْخَيْرِ: أَيْ: الْمَالِ: مال دولت، فراخی، ⑬ وَكُفُوا الْعَمَلَ: أَيْ: كَفَاهُمُ اللَّهُ تَعَالَى الْعَمَلَ: الله تعالی ئې په کارونو کنبې کفایت اوکړو، د مشقت کارونه ئې کم شو.

[۱۲/۱۷] بَابُ الْحَيْضِ

دَحیض بیان

خلاصة الباب:

فيه اثنا عشر حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① حرمة الجماع: ۱، ۲.

② الأمور الجائزة للحائض أومعها من المباشرة وتغسيل رأس الزوج: ۲، وقراءة القرآن في حجرها: ۴

③ طهارة سؤر الحائض: ۳. وطهارة يدها: ۵

④ إشتمال ثوب المصلي على الحائض: ۶.

⑥ الاستمتاع بما فوق الإزار من الحائض: ۸. ۱۱.

⑦ قباحة الجماع مع الحائض وكفارتها: ۷، ۹، ۱۰.

دحیض لغوی معنی: دَ حیض لغوی معنی بهیدل دی عرب وائی "حاض الوادی" ای سال اوهم

په دغه مفهوم کښې حوض دې دکوم طرف نه چه اوبه بهیږی او جمع کیږی.

دحیض تعریف: ((هو دم ینفضه رحم امرأة بالغة من غیرداء)) دا هغه وینه ده د بالغې زنانه رحم ئې بیوی خو د څه بیمارۍ په وجه نه وی بلکه د ټولوبالغو زنانو څخه دا وینه په هره میاشت کښې جاری کیږی.

د حیض په نوعیت او تعریف کښې دوه مذاهب:

① دَحیض د بعضې فقهاؤ په نیز د انجاس یعنی پلیتئی دباب څخه دې.

② دبعضې فقهاؤ په نیر من باب الاحداث څخه دې.

دحائضة اوحائض په مینځ کښې فرق کښې اقوال: ① حائض هم وائی او حائضه هم وائی.

② بعضې دا فرق کړې دې چه "الحائض" کښې دَدوام مفهوم پروت دې او "الحائضه" کښې دَحدوث اوجدت مفهوم پروت دې. "الحيضة" دَحاء په فتح سره یوځل حیض راتلوته وائی

دحیض وینه د ماشوم خوراک: الله تعالی دَ ماشوم دَ خوراك دَپاره دَمور په رحم کښې دَحیض دَ وینې انتظام کړې دې. څلورمیاشتې پس په ماشوم کښې ساه راځی نوهغه دَدې وینې نه خوراك حاصلوی. هم دغه وجه ده چه د څلورومیاشتو کومه وینه په رحم کښې جمع کیږی هغه دَ بچی دَ پیداکیدونه پس دَ نفاس په شکل کښې بهرراځی. دَڅلورمیاشتونه پس وینه بچې څکی لیکن الله تعالی دَانسان خله پاکه ساتلې ده دې دَپاره چه په دې سره دَالله تعالی مبارك نوم واخلی لهذا بچې دَ خلې په ذریعه نه بلکه دَ نوم دَ نالئی په ذریعه دَدغه وینې نه خوراك حاصلوی اوخله دَالله تعالی دَ مقدس نوم اخستلودَپاره پاکه ساتلې ده.

په زنانو دحیض راتلو کښې درې اقوال:

① بعضې کتابونوکښې داهم دی چه حضرت حواء په جنت کښې کله دَ غنم دَ ونې دَ ښاخ نه دانه حاصلول اوغوښتل نوهغه ښاخ پورته اوچت شو. حضرت حواء چه کله داښکله نوهغه مات شو اودَهغې نه وینه اوبهیدله دغه ښاخ بددعااوکړه چه الله تعالی دې تانه داسې وینه اوبهیوی څنګه وینه چه تامانه جاری کړه. دَدغه بدعانه پس په ښځوباندې دَحیض بیماری راتلل شروع شو.

② دَ حیض شروع څنګه اوشوه اودابیماری په ښځو ولې اولګیده. په دې باره کښې یوخودَ نبی کریم ﷺ حدیث شریف دې چه الله تعالی دَ حیض دابیماری دَ آدم علیه السلام په لونړو لګیدلې ده لکه چه حیض دَ ښځې طبیعت او بشری تقاضا ده اودادَهغې دَ فطرت حصه ده.

③ بعضو خلقوداهم وئیلی دی چه دَ ټولونه اول حیض دَ بنی اسرائیلو په ښځوراغلې ومصنف عبدالرزاق کښې دَحضرت ابن مسعود رضی الله عنه یوحدیث کښې دی چه دَ بنی اسرائیلو ښځې اوسړی به یوځائی جمات ته دَ مانځه دَپاره تلل نوښځوداشرارت شروع کړو چه دَ شانه به ئې دَ سړو مستوراندامونو ته کتل نوالله تعالی په هغوی باندې دَحیض

Maktaba Tul Ishaat.com

بیماری راوستله. دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنه روایت دې الله تعالی چه کله حضرت حواء علیها السلام دَ جنت نه زمکې ته راکوزه کړه نو هغې سره ئی دَحیض بیماری اولګوله دا هر څه په لمعات کښې شیخ عبدالحق رحمه الله لیکلی دی.

دحیض راتلل د بقاء نسل ضرورت: بهرحال حیض دَښځې دَ صحت دَپاره ډیر ضروری دې اودَاولاد نظام هم حیض سره لګیدلې دې دکومې ښځې چه حیض نه راځي هغه بیماره هم وی او اولادئی هم نه کیږی لکه دا یو طبعی نظام دې چه دَ ښځې دَ فطرت او دَ تخلیق حصه ده.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۵۳۵] په دوران حیض کښې د جماع حرمت

۵۳۵ – ()[۱] ① عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «إِنَّ الْيَهُوْدَ كَانُوا إِذَا حَاضَتِ الْمَرْأَةُ فِيهِمْ لَمْ يُؤَاكِلُوهَا، ③ وَلَمْ يُجَامِعُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ، ④ فَسَأَلَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى: ﴿وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ﴾ [البقرة:۲۲۲] الْآيَةَ، ⑤ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اصْنَعُوا كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا النِّكَاحَ»

ترجمه: ① حضرت انس رضي الله عنه راوي دي ② چې په یهودوکي چې کله به د یوي ښځي د حیض ورځي شوې نو هغه خلقو به نه یوازي دا چې د هغوئ سره خوراك څښاك نه کولو ③ بلکه د هغوئ سره ئي په کورنو کې اوده کیدل او ناسته هم پریښودل ④ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه اصحابو په دي باره کې پوښتنه وکړه (چي د حائضه ښځو سره د یهودیانو دا عمل دي مونږ ته څه کول پکار دي) ؟ نو الله جل جلاله دا آیت: وَيَسْئَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ الآية یعنی دا خلق ستا څخه د حیض په باره کې پوښتنه کوي الخ نازل کړو ⑤ د آیت د نازلیدو څخه وروسته حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې تاسو د خپلو ښځو سره کله چې هغه حائضه وي ماسوا د صحبت څخه نورڅه چې غواړئ تاسو یي کولي شئ.

حل اللغات: ① لَمْ يُجَامِعُوهُنَّ: أَيْ: لَمْ يُسَاكِنُوهُنَّ: یعنی کورکښې به ورسره نه اوسیدل. ② الْمَحِيضِ: أَيْ: حُكْمِ زَمَانِ الْحَيْضِ: دلته دمحیض نه مراد د حیض موده ده. ③ النِّكَاحَ: أَيِ: الْجِمَاعَ: دلته دنکاح نه مراد جماع اوصحبت کول دی. ④ يَدَعَ: أَيْ يَتْرُكَ: پریږدی نې، ⑤ فَاسْتَقْبَلَتْهُمَا: أَيْ: اسْتَقْبَلَ الرَّجُلَيْنِ شَخْصٌ: دواړو ته مخې له یو سړې راغې. ⑥ هَدِيَّةٌ: هدیه، تحفه، ⑦ آثَارِهِمَا: أَيْ: عَقِبَهُمَا: یعنی هغوی پسې، ⑧ لَمْ يَجِدْ عَلَيْهِمَا: أَيْ: لَمْ يَغْضَبْ: یعنی نبی علیه السلام په هغوی باندې څه غصه ښکاره نه کړه.

---

(۱) اخرجه مسلم کتاب الحیض باب جواز غسل الحائض رأس زوجها وترجیله وطهارة سؤرها والاتکاء فی حجرها وقراءة القرآن فیه(رقم-۱۶ - (۳۰۲) وابوداود کتاب الطهارة/باب فی مؤاکلة الحائض ومجامعتها(رقم-۲۵۸) والترمذی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: ومن سورة البقرة (رقم-۲۹۷۷) والنسائی کتاب الطهارة/باب تأویل قول الله عز وجل: {ویسالونک عن المحیض} [البقرة: ۲۲۲] (رقم-۲۸۸) والدارمی کتاب الطهارة/باب: مباشرة الحائض(رقم-۱۰۹۳) واحمد فی المسند:۱۳۲/۳

[۱] فَبَلَغَ ذٰلِكَ الْيَهُودَ. فَقَالُوا: [۲] مَا يُرِيدُ هٰذَا الرَّجُلُ أَنْ يَدَعَ مِنْ أَمْرِنَا شَيْئًا إِلَّا خَالَفَنَا فِيهِ. [۳] فَجَاءَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ وَعَبَّادُ بْنُ بِشْرٍ، فَقَالَا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، إِنَّ الْيَهُودَ تَقُولُ كَذَا وَكَذَا، أَفَلَا نُجَامِعُهُنَّ؟ [۴] فَتَغَيَّرَ وَجْهُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنْ قَدْ وَجَدَ عَلَيْهِمَا، [۵] فَخَرَجَا، فَاسْتَقْبَلَتْهُمَا هَدِيَّةٌ مِنْ لَبَنٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [۶] فَأَرْسَلَ فِي آثَارِهِمَا فَسَقَاهُمَا، فَعَرَفَا أَنَّهُ لَمْ يَجِدْ عَلَيْهِمَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] دا خبره چې يهوديانو ته ورسيده نو هغوئ اوويل [۲] دا سړي يعنې نبي كريم ﷺ زمونږ كوم ديني امر ته چې متوجه شي په هغې كې ضرور زمونږ مخالفت كوي [۳] (د يهوديانو ددې خبرې اوريدو سره دوه صحابه) اسيد بن حضير رضي الله عنه او عباد بن بشر رضي الله عنه په دربار رسالت كې حاضر شو او عرض يې وكړو چې يارسول ﷺ يهود داسې وايې (يعني هغوئ د يهودو كلام نقل كړو او بيا يې دا اوويل چې) كه اجازت وي نو د يهودو د مخالفت د پاره مونږ د حيض په حالت كښې جماع او كور والې ونكړو؟ [۴] (په دې اوريدو سره) د حضور ﷺ د مخ مبارك رنګ متغير شو او زمونږ دا ګمان شو چې حضور ﷺ د هغه دواړو څخه غصه (خفا) شو [۵] نو هغه دواړه ووتل، د هغوي په وتلو سره حضور ﷺ ته د يو خاې څخه په تحفه كې شيدې (پئ) راغلې [۶] حضور ﷺ په هغه دواړو پسې څوك وليږل كوم وخت چې هغه راغلل نو حضور ﷺ په هغوئ شيدې (پئ) وڅښلې (چې هغوئ ته د حضور ﷺ د لطف وكرم احساس وشي) نو د شيدو څكلو څخه وروسته هغوي پوهه شو چې حضور ﷺ زمونږ څخه ناراضه نه دي. (مسلم)

تسهيلات:

قوله: أَفَلَا نُجَامِعُهُنَّ؟:

د مذكوره جملې دوه مطلبونه:

① د دې يو مطلب دا دې چې آيا مونږ دوى ته استوګنه وغيره جدانه كړو دې دپاره چه د يهودوسره موافقت راشى دحديث په ترجمه كښې هم دغه مطلب مراد اخستې شوې دې.

② دويم مطلب دادې چه آيا مونږ دغه حائضه ښځوسره جماع اونه كړو دې دپاره چه يهوديان اوسوزى. علماؤ دويم مطلب ته راجح وئيلې دې او هم په دې وجه حضورپاك خفه شوې وو.

دحيض متعلق ډيربحثونه دى او په اكثركښې اختلاف دې:

اول بحث د حيض اقله موده:

په اقله موده د حيض كښې مذاهب:

په اقله موده دحيض كښې اختلاف دې ابن المنذر فرمائى ① دفقهاؤ ديوجماعت په نزد اقل مدت دحيض څه تحديد نشته بلكه قطره واحده اوسيلان دفعه واحده هم حيض دې. دا مسلك دامام مالك رحمه الله دې ② دجمهورو په نزد اقله موده دحيض مقرر ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حیض د مودې په تحدید کښې مذاهب:

بیاد دې په تحدید کښې هم اختلاف دې .

① د امام شافعیؒ او دامام احمدبن حنبلؒ په نزد اقله موده د حیض یوم ولیلة ده

② دامام ابویوسفؒ په نیز ((یومان واکثر الیوم الثالث)) دې .

③ د طرفین په نزد ((ثلاثه ایام ولیالیها اقل)) مدت دې .

دویم بحث: د حیض اکثره موده:

د حیض په اکثره موده کښې مذاهب:

په اکثره موده دحیض کښې هم اختلاف دې

① داحنافو په نزد ((عشرة ایام ولیالیها))

② دامام شافعیؒ په نزد ((خمسة عشر یومًا)) دې

③ دامام مالکؒ په نزد ((سبعة عشر یومًا)) دې

④ اوامام احمدؒ نه ((مثل المذاهب الثلاثة)) درې روایتونه دی . خرقی دپنځلسو او ابن قدامه دلسو روایت ته ترجیح ورکړې ده

دریم بحث: اقل موده د طهر:

په اقله موده دطهرکښې هم اختلاف دې .علامه نوویؒ فرمائی چه:

① د بعضې علماء په نزد ددې څه تحدید نشته دایوروایت دامام مالکؒ دې ددوئ بل روایت دپنځو ورځو دې . دریم دلسو او څلورم دپنځلسو ورځو دې

② د امام ابوحنیفهؒ او دامام شافعیؒ په نیز اقله موده د طهر پنځلس ورځې دې . دایوروایت دامام احمدؒ هم دې . دده یوبل روایت ددیارلسو ورځو دې .دا ابن قدامه اختیار کړې دې .

په هرحال دجمهورو په نیزاقله موده دطهر پنځلس ورځې دې علامه نوویؒ فرمائی په اکثرمدت دطهر کښې په عدم تحدید باندې اجماع ده .

په اقل او اکثرې مودې د حیض او طهر کښې د اختلاف سبب: علامه ابن رشد ، ابن قدامه اوعلامه نوویؒ لیکی چه په مدت دحیض اوطهرکښې دا اختلاف په دې بناء دې چه په روایاتوکښې دې باره کښې څه صراحت نشته دې وجه نه فقهاؤ دخپل خپل ماحول دتجربې مشاهدې اودعرف په لحاظ دامدتونه مقررکړې دی . علامه

د اول فریق دلیل: په اکثره موده د حیض اواقله موده دحیض کښې دامام شافعیؒ دپاره هم یوروایت مرفوع پیش کیږی . ((تمکث إحداکن شطر عمرها لاتصلی))([1])

[1]) التلخیص الحبیر ۱۱۱/۱ رقم الحدیث ۲۲۲ لکن فیها شطردهرها مکان شطرعمرها ۱۲ مرتب عفی عنه) _

د اول فریق د دلیل جوابونه:

① ابن الجوزی رحمه الله ددې حدیث په باره کښې فرمائی ((هذا حدیث لا یعرف)) بیهقی فرمائی ((لم نجده)) پخپله علامه نووی شافعی رحمه الله په المجموع کښې فرمائی ((حدیث باطل لا یعرف))
② که بالفرض داصحیح هم شی نو بیاهم دشطردلفظ اطلاق ځنګه په نصف کیږی . داسې مطلق حصه هم کیږی، اګرچه هغه دنصف نه کم وی . دلته دا معنی مراد اخستل ضروری دی. ځکه چه که دامام شافعی رحمه الله د مسلك مطابق پنځلس ورځې حیض شمار شی . نو بیاهم مجموعی عمر کښې دحیض حصه نصف نه شی کیدې چه قبل البلوغ او بعدالایاس تمامه زمانه بغیردحیض ده . ددې وجه نه امام نووی رحمه الله په خپل مسلك استدلال بالحدیث پریښې دې اوپه استدلال بالقیاس ئې عمل کړې دې . چه تجربه کښې دا خبره راغلې ده چه ډیرو ښځو ته دلسوورځونه زیاته وینه راځی اوابوحنیفه رحمه الله دا زیادت په استحاضه کښې شمارلې دې د دې کلام نه دامعلومه شوله چه په مدت د حیض په مسئله کښې داحنافواستدلال ضعیف روایات دی اود حضرات شوافع قیاس نه نو اول خو خبره داده چه دنورومؤیداتودوجه په احادیثوکښې یوقسم قوت راغلو بل د قیاس په مقابله کښې په هرحال داروایات مقدم دی. بالخصوص د شرعی تحدیداتو په باب کښې په قیاس عمل کول داحادیث ضعیفویاندې دعمل په مقابله کښې خطرناك دې.

د دویم فریق دلیل: زیلعی رحمه الله فرمائی چه موده دحیض او دطهرکښې داحنافو استدلال د حضرت عائشه رضی الله عنها معاذ بن جبل رضی الله عنه ، حضرت انس رضی الله عنه واثله بن اسقع رضی الله عنه او دحضرت امامه درواياتو نه دې دا ټول روایات اګر چه ضعیف دی . خو تعدد طرق په وجه دا په درجه د حسن کښې راځی ([1])

څلورم بحث: د حیض د وینو بحث:

د حیض د وینې شپږ قسمونه: صاحب هدایه فرمائی. الوان دحیض شپږ دی .
① سواد ، ② حمرة ، ③ صفرة ④ کدرة ⑤ خضرة ⑥ تربة. بهرحال

د حیض په وینه کښې مذاهب:

دینه معلومه شوله چه ترڅو بیاض خالص نه وی راغلې ترهغه به هره وینه حیض وی
① دا مام شافعی رحمه الله په نزد صرف توراو سور رنګ دوینې حیض دې . باقی څلور اړه رنګونه د استحاضه رنګ دې هم دا مسلك دحنابله هم دې
② امام مالك رحمه الله اصفر او اکدر هم حیض ګرځوی . علامه نووی رحمه الله فرمائی.چه صفرة اوکدرة په ایام حیض کښې حیض دې صاحب دهدایه فرمائی چه دامام ابویوسف رحمه الله په نیز که داپه اخر دحیض کښې خارجیږی . نو حیض کښې به شمارلې کیږی . ګنې نه .

[1] انظرالزیلعی ۱۹۱/۱ ومابعدها ۱۲) _

Maktaba Tul Ishaat.com

③ دامام ابوحنیفه‌رحمه‌الله په نیز په دې شپږو رنګونو کښې کوم رنګ وینه هم راشی دا حیض دې په دې شرط چه ایام حیض کښې راشی . مګردا چه سپین رطوبت خارجیدل شروع شی .

داول اودویم فریق دلیل: دَ حضرت فاطمه بنت ابی حبیش رضی‌الله‌عنها روایت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دا الفاظ راغلی دی "فانه دم اسود یعرف" یعنی دَ حیض وینه توره وی کومه چه پیژندلې شی دَدې تمیزښځه کولې شی. لهذا دَ تمیز بالالوان اعتبارشته دې اوممیزه یومنلې شوې حقیقت دې.

داول او دویم فریق د دلیل درې جوابونه: ① دَالوان اختلاف اغذیه، امکنه او ازمنه دَ وجې نه راځی چنانچه دَغوښې خوړونکې ښځې حیض وینه توره وی اودَ سبزئی زیات استعمالونکې دَ وینې په رنګ کښې د سبزئی رنګ غالب وی اودګرمئی اویخنئی مقامات او ښاریو او آب وهوا اثر لازمی توګه باندې په انسانی طبیعت باندې وی. لهذا دَ وینې رنګ دَحیض اواستحاضه دَ وینې دَپاره معیار اوضابطه نه شی جوړولې. بلکه عادت یومضبوط طبعی نظام دې هم دادَ معیارپه توګه قبلول پکاردی.

② بیهقی رحمه‌الله وئیلی چه دا الفاظ مضطرب دی. ابن ابی حاتم رحمه‌الله وئیلی دی چه مادَ خپل پلارنه دَ دغه الفاظو باره کښې تپوس اوکړو نوهغوی اووئیل دا روایت منکردې. یحي بن سعید قطان رحمه‌الله اووئیل چه دامنقطع دې. طحاوی رحمه‌الله دا روایت شاذ ګرځولې دې.

③ دَاحادیثو زیات تر اشارې دَعادت طرف ته دی صرف دا یوه جمله کومه چه پورته ذکرشوې ده په دې کښې دَ الوان ذکر دې خودا روایت قابل دَاستدلال نه دې خصوصاً کله چه دَدې په مقابله کښې نور احادیث هم دی.

د دریم فریق دلیل: دامام ابوحنیفه دلیل هغه روایت دې چه کوم مؤطائینو کښې موصولاً او بخاری شریف کښې تعلیقًا بصیغة الجزم روایت دې ((عن علقمه بن ابی علقمه عن أمه مولاة عائشه ام المؤمنین رضی‌الله‌عنها انها قالت کان النساء یبعثن الی عائشه بالدرجة فیها الکرسف فیه الصفرة من دم الحیض لیسألنها عن الصلاة فتقول لهن لاتعجلن حتی ترین القصة البیضاء ترید بذلک الطهر من الحیض ، رواه ایضاً عبدالرزاق وابن ابی شیبه واللفظة لفظ مالك)) [1]

پنځم بحث : حائضې سره د تعلق ساتلو بحث :

حائضې سره د تعلق ساتلو په باره کښې درې دلې :

① یهودو ښځه په حیض کښې نجس ګنړله او دَ ځان به ئې جدا کړه چه په کورکښې اوسیدل هغې سره ملاویدل، دَهغې دَلاس خوراك پخول ټول هرڅه ئې ناجائزاوممنوع

[1] موطاء ۱\ ۴۳ طهرالحائض ۱۲) _

اوګرځول لکه چه دَ ایام په موده کښې به ئې ښځوسره سماجی پرې کون کولو.

② عیسایانو هرڅه جائزګرځولې وو. تردې چه جماع کول ئې هم جائزکړې وو اودَ حیض نه ئې انکاراوکړو.

③ اسلام خومعتدل اودَ افراط اوتفریط نه پاك مذهب دې په دې وجه اسلام مسلمانانوته دَ اعتدال لار اوخودله چه مه سماجی بائیکاټ کوئی مه جماع کوئی. حضورپاك په خپل قول اوفعل سره دَامت مخې ته یومعیارکیخودودکوم تفصیل چه فقهاء کراموداسې بیان کړې دې.

د حائضې سره دتعلق ساتلو درې صورتونه: دَحیض په حالت کښې ښځوسره دَ یوځائې کیدو اوتعلق ساتلو یوڅوصورتونه دی:

① دَ حیض په حالت کښې خپله ښځه ښکلول اومینه کول، مواکلت اوملامست دَتولوپه نیزجائزدی په اهل اسلام کښې دَ چاپه دې کښې اختلاف نشته دې.

② حالت حیض کښې ښځې سره جماع اوکوروالې کول اجماعًا حرام دې.

③ حالت حیض کښې استمتاع بماتحت الازار کولې شی که نه، په دې کښې اختلاف دې.

د استمتاع من الحائض بما تحت الازار په حکم کښې مذاهب:

① دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله امام محمد رحمه الله اوسفیان ثوری رحمه الله په نیز استمتاع جائزده په دې شرط چه دَ جماع نه سرې بچ پاتې شی اوموضع دم یعنی دَ وینې دَ ځائې نه ځان اوساتی.

② دَ جمهور ائمه په نیز استمتاع بماتحت الازار ناجائزده.

داول فریق دلیل: دَحضرت انس رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دا لفاظ راغلی دی "اصنعوکل شئ الاالنکاح" نو تحت الازاراستمتاع جائزشوه ځکه چه دَ جماع نه علاوه دَ هرڅه کولواجازت ورکړې شوې دې.

داول فریق د لیل جوابونه: ① د "اصنعواکل شئ الاالنکاح" مطلب دَ یهودوغلوماتول ووچه سماجی پرې کون به ئې کولو نو حضور پاك صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل "اصنعواکل شئ" یعنی بالکل بائیکاټ مه کوئی بلکه ښکلول اوتعلق ساتئی لیکن جماع مه کوئی.

② دې نه جماع او دواعی دَ جماع دواړونفی اونهی مراد ده او تحت الازار چه کوم استمتاع ده هغه خو خالص دواعی دَ جماع دی لکه څنګه چه جماع ممنوع دی دغه شان دواعی هم ممنوع ده. بهرحال فوق الازار په صریح حدیث کښې موجوددې او تحت الازاراستمتاع کول یقینًا داعی جماع دې نوداهم ناجائزدی. دَ نامه لاندې او دَ زنګون دپاسه دغه مینځنې حصې ته ماتحت الازار وائی اودَې نه علاوه ته فوق الازار وائی ځکه چه چه دَ شپې استعمالونکی دَ ازاربندهم دغه حدوددی.

د دویم فریق دلائل: ① دَحضرت عائشه رضی الله عنها روایت دې کوم چه فصل ثالث کښې دې

Maktaba Tul Ishaat.com

دَهغي الفاظ دادي: "فلم نقرب رسول الله ﷺ ولم ندن منه"

۲ په دې فصل کښې دَ حضرت زيدبن اسلم ﷺ حديث هم د دوی مستدل دې په کوم کښې چه داالفاظ دي: "ثم شانك بأعلاها" يعنی دَ ازاربند دَپاسه فايده اوچتونی لاندې نه.

۳ دَحضرت معاذ ﷺ روايت هم دوی مستدل دې په کوم کښې چه دا الفاظ دي: "قال مافوق الازار" داحديث په اصل کښې دَ سائل دَسوال جواب کښې دې دکوم اندازِ جواب چه هيرولي نه شي.

[۵۳۶] د حائضې سره د اوده کيدو جواز

۵۳۶-() [۲] ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ۲ «كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ، وَكِلَانَا جُنُبٌ، ۳ وَكَانَ يَأْمُرُنِي، فَأَتَّزِرُ، فَيُبَاشِرُنِي وَأَنَا حَائِضٌ. ۴ وَكَانَ يُخْرِجُ رَأْسَهُ إِلَيَّ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ، فَأَغْسِلُهُ، وَأَنَا حَائِضٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي ۲ چې ذه او نبي کريم ﷺ به د جنابت په حالت کې د يو لوښي څخه لمبيدو ۳ او په بعضو وختونو کې چې زه بـه د حيض پـه حالت کې وم نو حضور ﷺ به ماته تهبند (لنګ) ترلو د پاره ارشاد وفرمايلو چې ما به تهبند (لنګ) وتړلو نو حضور ﷺ بـه زمـا سره د بستري د پاسـه خپـل بـدن لګولـو سره سملاستلو ۴ او (بعضي وخت بـه) حـضور ﷺ پـه اعتـکاف کې وو نوخپـل سـر مبـارك بـه يـي (دمسجد څخـه) بهـر راويـستو نـو مـا بـه دخپلو ورځـو (يعنـي د حيض پـه حالـت) کې دحـضور ﷺ سـر مبـارك وينځلو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ۱ فَأَتَّزِرُ: فَأَعْقِدُ الْإِزَارَ فِي وَسَطِي: نو مابه خپل لنګ په منځ باندې ترلو. ۲ فَيُبَاشِرُنِي: أَيْ: يُضَاجِعُنِي: څملاستلو به ماسره، يعنی خپل بدن به ئې زما بدن سره لګولو.

[۵۳۷] د حائضې سره د خوراك څښاك کولو جواز

۵۳۷-() [۳] ۱ وَعَنْهَا قَالَتْ: «كُنْتُ أَشْرَبُ وَأَنَا حَائِضٌ، ۲ ثُمَّ أُنَاوِلُهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَيَضَعُ فَاهُ عَلَى مَوْضِعِ فِيَّ، ۳ فَيَشْرَبُ وَأَتَعَرَّقُ الْعَرْقَ، وَأَنَا حَائِضٌ، ۴ ثُمَّ أُنَاوِلُهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَضَعُ فَاهُ عَلَى مَوْضِعِ فِيَّ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

(۱) اخرجه البخاری کتاب الحیض باب مباشرة الحائض (رقم-۲۹۹، ۳۰۰، ۳۰۱) ومسلم کتاب الحیض باب الاضطجاع مع الحائض فی لحاف واحد(رقم-۵ - (۲۹۶) والنسائی کتاب الغسل والتیمم/باب اغتسال الرجل والمرأة من نسائه من إناء واحد (رقم-۴۱۱)

(۲) اخرجه مسلم کتاب الحیض باب جواز غسل الحائض رأس زوجها وترجیله وطهارة سؤرها والاتکاء فی حجرها وقراءة القرآن فیه(رقم-۱۴ - (۳۰۰) وابوداود کتاب الطهارة/باب فی مؤاکلة الحائض ومجامعتها(رقم-۲۵۹) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها باب ما جاء فی مؤاکلة الحائض وسؤرها(رقم-۶۴۳) واحمد فی المسند:-۱۲۷/۶ والنسائی کتاب الطهارة/باب الانتفاع بفضل الحائض (رقم-۲۸۲)

ترجمه: [۱] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ما به د حيض په ورځو کې اوبه وڅکلې [۲] (هغه لوښي) به مې بيا نبي کريم ﷺ ته ور کولو حضور ﷺ به د هغه ځايي څخه چرته چې به زما خله لګيدلي وه [۳] خله لګولو سره اوبه څکلي او کله به ما د حيض په حالت کې د هډوکو څخه غوښه شوکولو سره خوړله [۴] بيا به هغه هډوکي ما حضور ﷺ ته ور کولو حضور ﷺ به په هغه ځاي خله مبارکه کيښودله غوښه به يي شوکوله چرته چې به ما خکه لګولو سره شوکولي وه. (مسلم)

حل اللغات: ① أُنَاوِلُهُ: أَيْ: أُعْطِيهِ: ما به ورکولو نبي عليه السلام ته. ② أَتَعَرَّقُ الْعَرَقَ: أَيْ: آخُذُ اللَّحْمَ مِنَ الْعَرْقِ بِأَسْنَانِي: يعنى دهډوکی نه به مې غوښه په غاښونو شوکوله، عَرْق هغه هډوکی ته وائی چه څه غوښه ترې اوشوکولې شی اوڅه ورپورې پاتې شی.

[۵۳۸] د حائضي په غيږ کښې د قرآن پاک د تلاوت کولو جواز

۵۳۸ــ(۱)[۴] [۱] وَعَنْهَا قَالَتْ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَّكِئُ فِي حِجْرِي وَأَنَا حَائِضٌ [۳] ثُمَّ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها روايت کوي [۲] چې زه به د حيض په ورځو کې وم نبي کريم ﷺ به زما په غيږ کې تکيه وهله کيناستلو به [۳] او قرآن کريم به يې ونيلو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① يَتَّكِئُ: أَيْ: يَسْتَنِدُ: تکيه يعنى ډډه به ني وهلې وه.

[۵۳۹] د حائضي د جمات څخه يوڅيز د راخستلو جواز

۵۳۹ــ(۲)[۵] [۱] وَعَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «نَاوِلِينِي الْخُمْرَةَ مِنَ الْمَسْجِدِ. فَقُلْتُ: إِنِّي حَائِضٌ. [۳] فَقَالَ: إِنَّ حَيْضَتَكِ لَيْسَتْ فِي يَدِكِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: [۱] بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها وايي چه نبي کريم ﷺ وفرمايل [۲] د مسجد څخه کپړه (جانماز) پورته کولو سره ماته راکړه [يعني د مسجد څخه بهر ودريدو سره لاس دننه کړه او

(۱) اخرجه بخارى كتاب الحيض باب قراءة الرجل فى حجر امرأته وهى حائض(رقم-۲۹۷) ومسلم كتاب الحيض باب جواز غسل الحائض رأس زوجها وترجيله وطهارة سؤرها والاتكاء فى حجرها وقراءة القرآن فيه(رقم-۱۵ - (۳۰۱) وابوداود كتاب الطهارة/باب فى مؤاكلة الحائض ومجامعتها(رقم-۲۶۰) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب الحائض تتناول الشىء من المسجد(رقم-۶۳٤) والنسائى باب فى الذى يقرأ القرآن ورأسه فى حجر امرأته وهى حائض (رقم-۲۷٤)

(۲) اخرجه مسلم كتاب الحيض باب جواز غسل الحائض رأس زوجها وترجيله وطهارة سؤرها والاتكاء فى حجرها وقراءة القرآن فيه(رقم-۱۱ - (۲۹۸) وابوداود كتاب الطهارة/باب فى الحائض تناول من المسجد(رقم-۲۶۱) و ابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب الحائض تتناول الشىء من المسجد(رقم-۶۳۲) والترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الحائض تتناول الشىء من المسجد(رقم-۱۳٤) والنسائى كتاب الطهارة/باب استخدام الحائض (رقم-۲۷۱) والدارمى كتاب الطهارة/باب الحائض تبسط الخمرة (رقم-۷۹۸)و اخرجه احمد فى المسند:-۶/٤۵

Maktaba Tul Ishaat.com

جانماز پورته کولو سره راوړه! [۳] ما عرض وکړو چې زه خو په حیض کې یم (دې وجه په مسجد کښې څنګه لاس دننه کولي شم) حضور ﷺ وفرمایل ستا په لاس کې خو حیض نشته دي. (مسلم)

حل اللغات: ① نَاوِلِينِي: أَيْ: أَعْطِينِي: راکړه ماته، ② الْخُمْرَةَ: وَهِيَ سَجَّادَةٌ صَغِيرَةٌ تُعْمَلُ مِنْ سَعَفِ النَّخْلِ: خمره هغه پوزکی یا جانماز ته وائی چه د کجورو د پاڼو نه جوړشوې وی، اوپه تارونو سره بنانسته کړې شوې وی او دې سره چونکه دسجدې ځای یعنی زمکه پټه کړې شوی وی په دې وجه ورته د خمره نوم ورکړې شو.

تسهیلات:

دیوې قاعدې استنباط: دَدې حدیث نه داضابطه راوخی چه دَهرسړی دَ قیام اومقام اومکان اعتباردَ هغه په قدمونو او خپو دی په کوم چه دَهغه پوره بدن متوازن ولاړدې اوس که سړې په خپوباندې دَ جمات نه بهرولاړدې اودَ بدن بوج په خپوباندې دې نوداسړې به دَجمات نه بهرګنړلې شی که دَهغه لاسونه یا سروغیره په جمات کښې ولې نه وی داسړې دَ جمات نه خارج دې.

په قاعده باندې متفرعات:

① که جنبی سړې یا حائضه ښځه داسې اوکړی نودَدې ګنجائش شته ② که په جمات کښې دَنه داخلیدوڅوك سړې قسم اوخوری اوبیاداسې عمل اوکړی نوهغه به حانث نه شی
③ دغه شان که په جمات کښې دننه څوك ولاړدې اوسرئی بهرکړو یا لاس ئی بهرکړو نودَدې اعتبار نشته اعتباردَخپواو په هغې باندې دَ قیام دې.

ددین اسلام اعتدال: پورتنې حدیث اوراتلونکې حدیث امت ته دَ حائضه ښځو سره دَتعلق ساتلو تعلیم ورکوی اودَجماع نه ئی منع کوی په یهودیانو او نصاریٰ باندې دې دَالله تعالی لعنت وی.

[۵۵۰] د حائضې د ټول بدن عدم نجاست

۵۵۰ – ()[۶] [۱] وَعَنْ مَيْمُونَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي مِرْطٍ، [۳] بَعْضُهُ عَلَيَّ وَبَعْضُهُ عَلَيْهِ، وَأَنَا حَائِضٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ام المؤمنین بي بي میمونه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې نبي کريم ﷺ به په يو داسې څادر کې مونځ کولو [۳] چې د هغې او څه حصه به په ما پرته وه څه حصه به په حضور ﷺ پرته وه او زه به د حيض په حالت کې وم. (بخاري مسلم)

---

[۱] اخرجه ابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب في الصلاة في ثوب الحائض(رقم-۶۵۳) واحمد في المسند:۶/۳۳۰ و بخاري باب إذا أصاب ثوب المصلي امرأته إذا سجد(رقم-۳۷۹) ومسلم باب الاعتراض بين يدي المصلي(رقم-۲۷۳ - ۵۱۳)

حل اللغات: ① مِرْطٌ: كِسَاءٌ مِنْ صُوفٍ أَوْ خَزٍّ يُؤْتَزَرُ بِهِ: د وړئ یا ریښمو څه جوړ شوي څادر ته وائی چې لنګ به تري وهلې شو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۵] حائضې سره د شا د طرفه د جماع کولو حرمت

۵۵ – ()[۷] [۱]عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]" «مَنْ أَتَى حَائِضًا، أَوِ امْرَأَةً فِي دُبُرِهَا، [۳] أَوْ كَاهِنًا، فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَابْنُ مَاجَهْ. وَالدَّارِمِيُّ [۴]وَفِي رِوَايَتِهِمَا: " فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ ; فَقَدْ كَفَرَ ". [۵]وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: لَا نَعْرِفُ هَذَا الْحَدِيثَ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ حَكِيمٍ الْأَثْرَمِ عَنْ أَبِي تَمِيمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړي چې د حيض په ورځو کې د ښځې سره صحبت وکړي یا د ښځې سره د وروسته طرف نه بد فعلي وکړي [۳] یا یو کاهن ته (د غیب د خبرو پوښتلو د پاره) ورشي نو هغه سړي (لکه چې) په محمد ﷺ باندې د نازل شوي دین کفر (انکار) وکړو، ترمذي ابن ماجه دارمي، [۴] ابن ماجه او د دارمي په روایتونو کې دا الفاظ هم دي چې د کاهن د خبرو تصديق یې وکړو نو هغه کافر دي [۵] او امام ترمذي رحمه الله فرمایلي دي چه مونږ ته دا حدیث معلوم نه دي ماسوا د دې سند څخه چې دا حکیم اثرم د ابو تمیمه څخه نقل کوي او هغه د ابوهريره رضي الله عنه څخه.

حل اللغات: ① أَتَى حَائِضًا: أَيْ: جَامَعَهَا: یعنی د حائضې ښځې سره د حیض په حالت کښې جماع اوکړی ② كَاهِنًا: د غیب خبر ورکونکی ته وائی. ③ فَصَدَّقَهُ: او هغه ئې رشتیا اوګڼړلو.

تسهیلات:

قوله: مَنْ أَتَى حَائِضًا:

په حالت حیض کښې په جماع د کفر حکم لګولو تاویل: یعنی که د حیض په حالت کښې جماع حلاله ګنړی نو هغه کافر دي. ځکه چې دَ دې حرمت په نص قطعی سره ثابت دي. اودا دصحت دپاره هم تباهی ده.

قوله: فِي دُبُرِهَا:

په دبر کښې په جماع د کفر حکم لګولو تاویل: ددې نه مراد ښځې سره بدفعلی ده. او څوك چې دا حلال ګنړی هغه کافر دي.

دروافض په نیزپه دبر کښې د جماع کولو جواز: خینې شیعه امامیه دې ته جائز وائی. څه

[۱] (اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة إتیان الحائض(رقم-۱۳۵) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب النهي عن إتیان الحائض(رقم-۶۳۹) وابوداود باب فی الکاهن (رقم-۳۹۰٤) واحمد فی المسند:-۲/٤۰۸ والدارمی کتاب الطهارة/باب من أتی امرأته فی دبرها (رقم-۱۱۷۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

خلق د قرآن پاك دې آيت مبارك ﴿فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ﴾ په دهوكه كښې اچولى دى. دارنگ هغه روايت هم خلق په دهوكه كښې اچولى دى كوم كښې چې د ﴿أَنَّى شِئْتُمْ﴾ صورت بيان شوې دې چې د دبر طرف نه قبل كښې جماع كول دى. نو جماع خو په هر حال كښې په قبل كښې ده. د هيڅ طرف پابندى او تعين نشته دې.

ابن عمر ته غلط نسبت: روافض دا قبيح فعل حضرت ابن عمر ﷺ طرفته منسوب كوى. حالانكه دوئ ﷺ اوفرمائلى دى چې آيا يو مسلمان د بدفعلى دا عمل كولې شى ؟

قوله: أَوْ كَاهِنًا:

كاهن ته د ورتلو حرمت: كاهن هغه څوك دې چې خلقو ته دغيبو خبرونه وركوى. كله كله يو جن ده ته يو خبر رااوړى. دا كاهن دې سره سل دروغ نور د خپل طرفنه را يوځائې كړى او دمستقبل پيشن گوئى كوى. داهم حرام دى.

قوله: فَقَدْ كَفَرَ:

دكفر په حكم كښې درې تاويلات:

① دا كس دا حلال گنړى نو دا كافرشو ،

② دكفر نه عملى كفر مراد دې، اعتقادى نه.

③ داحديث پاك په تشديد وتغليظ باندې محمول دې. ځكه چې دكبيره گناه كوونكى د اهل سنت په نيز كافر نه دې.

[٥٥٥] د حائضې په بدن د ما فوق الازار څخه د فائدې اخستلو جواز

٥٥٣-()[٨] ①وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قُلْتُ: ②«يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا يَحِلُّ لِي مِنِ امْرَأَتِي وَهِيَ حَائِضٌ؟ ③قَالَ: "مَا فَوْقَ الْإِزَارِ، وَالتَّعَفُّفُ عَنْ ذَلِكَ أَفْضَلُ» ". رَوَاهُ رَزِينٌ. وَقَالَ مُحْيِي السُّنَّةِ: إِسْنَادُهُ لَيْسَ بِقَوِيٍّ.

ترجمه: ① معاذ ابن جبل رضی الله عنه وايي ما عرض وكړو ② چې يارسول الله ﷺ زما د ښځې د حيض په ورځو كې زما د پاره څه څه جائز دي؟ ③ رسول الله ﷺ وفرمايل هغه شي چې تر تهبند (لنگ) پورته وي او د دې څخه هم بچ كيدل ډير ښه دي، (رزين) او محي السنة رحمه الله فرمايي چې د دې حديث سند قوي نه دي.

حل اللغات: ① الْإِزَار: تهبند ، لنگ، ② التَّعَفُّفُ: أى التَّجَنُّبُ: خان ساتل، بچ كيدل.

---

[1] اخرجه ابوداود باب في المذى (رقم- فوق الازار)

[۵۵۳]په حالت حیض کښې د جماع کولو کفاره

۵۵۳-(۱)[۹] ۱وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲" «إِذَا وَقَعَ الرَّجُلُ بِأَهْلِهِ، وَهِيَ حَائِضٌ، ۳فَلْيَتَصَدَّقْ بِنِصْفِ دِينَارٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ ابن عباس رضی الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ کوم سړي چې د خپلې حائضې ښځې سره جماع وکړي ۳ نو هغه ته نصف دينار صدقه کول پکار دي. (ترمذي ،ابوداؤد ،دارمي ،ابن ماجه ،نسائي)

حل اللغات: ۞ وَقَعَ الرَّجُلُ: سړې وربريوځي، يعنې جماع اوکړي، ۞ فَلْيَتَصَدَّقْ: صدقه دې و رکړي.

[۵۵۴]د حیض په حالت کښې د جماع کولو دوه قسمه کفاره

۵۵۴-(۲)[۱۰] ۱وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ۲" «إِذَا كَانَ دَمًا أَحْمَرَ فَدِينَارٌ، ۳وَإِذَا كَانَ دَمًا أَصْفَرَ فَنِصْفُ دِينَارٍ»" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ ابن عباس رضی الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ د حيض په حالت کې که د وينې رنګ سور وي (او په دي حالت کې څوك صحبت وکړي) نو پوره دينار ۳ او که د وينې رنګ زيړ وي نو نيم دينار صدقه کول لازم دي، (ترمذي)

حل اللغات: ۞ دَمًا أَحْمَرَ: چه وينه سره وی، ددې نه مراد د حيض ابتدائی ورځې دی، ۞ دَمًا أَصْفَرَ: چه وينه زيړه وی، ددې نه مراد د حيض آخری ورځې دی.

تسهيلات:

قوله: إِذَا كَانَ دَمًا أَحْمَرَ:

په دواړو صورتونو کښې د فرق وجوهات:

۞ چې کله وينه سره وی نو دا د حيض د شباب زمانه وی، داسې وخت کښې جماع کول جرم دې ، نو پورا دينار به ورکوی ګنی نيم دينار به ورکوی.

۞ وينه په ابتداء د حيض کښې سره وی نو دداسې وينې په دوران کښې دجماع مطلب دا شو چې اوس اوس ښځه حائضه شوې ده. ددې نه لږ مخکښې ور سره خاوند جماع کوله. او لا يوه ورځ هم نه ده تيره شوې چې خاوند بې قاعدګی او بې صبری کوی نو په دې جرمانه

---

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی کراهية إتيان الحائض(رقم-۱۳۶) وابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/بباب فی کفارة من أتی حائضا (رقم-۶۴۰) واحمد فی المسند:۲۷۲/۱ والنسائی کتاب الطهارة/باب ما يجب على من أتی حليلته فی حال حيضتها بعد علمه بنهی الله عز وجل عن وطئها(رقم-۲۸۹) والدارمی کتاب الطهارة/باب من قال: عليه الكفارة (رقم-۱۱۵۱)

(۲) اخرجه الترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الکفارة فی ذلک(رقم-۱۳۷) والدارمی کتاب الطهارة/باب من قال: عليه الكفارة (رقم-۱۱۵۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

هم زیاته ده ، یو دینار به ورکوی. لیکن کله چې وخت زیات اوشی نو وینه زیړه شی. لهذا اوس دا کس څه نه څه معذوره دې ځکه چې ډیرې ورځې ئې ناغه اوکړه نو ا وس په ده باندې نیم دینار جرمانه ده.

د صدقې ورکولو فائده: دصدقې حکم په دې وجه ورکړې شو چې " الصدقة تطفئ غضب الرب " نو صدقه به دا جرم کم کړی. هسې خود جمهورو په نیز د صدقې حکم استحبابی دې. اصل څیز استغفار دې. او ریښتونې توبه ویستل دی.

د جرمانې ورکولو حکمت: ددې معمولی شان جرمانې لګولو مطلب دې کس ته یو احساس ورکول دی چې لږ شرم اوکړه چې د حیض په حالت کښې جماع کوې ، اوس ددې جرم تاوان ادا کړه ، کله چې یو ځل تاوان ادا کړی نو بیا به جرم ته نزدې نه ورځی. د جرمانې فرق د حیض د قوت او ضعف په بناء باندې دی.

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۵۵] د استمتاع بما تحت الازار حرمت

۵۵۵-()[۱۱] ① عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② إِنَّ «رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: مَا يَحِلُّ لِي مِنَ امْرَأَتِي وَهِيَ حَائِضٌ؟ ③ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَشُدُّ عَلَيْهَا إِزَارَهَا، ④ ثُمَّ شَأْنَكَ بِأَعْلَاهَا» "رَوَاهُ مَالِكٌ، وَالدَّارِمِيُّ مُرْسَلًا.

ترجمه: ① زید بن اسلم رحمه الله هم فرمایي ② چې یو سړي د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه هر کله چې زما ښځه د حیض په ورځو کې وي نو د هغې نه به زما د پاره څه جائز وي؟ ③ حضور ﷺ ورته وفرمایل د هغې په جسم تهبند (لنګ) ښه مضبوط اوتړه ④ بیا د تهبند (لنګ) دپاسه ستا کار دي [یعني د نو (ناف) څخه پورته تالره اختلاط مباح دي او د نامه څخه لاندي حرام دي] مالك رحمه الله او دارمي رحمه الله داحدیث بطریق ارسال روایت کړي دي.

حل اللغات: ① تَشُدُّ: مضبوط اوتړه، ② إِزَارَهَا: تهبند ، لنګ دهغې، ③ شَأْنَكَ بِأَعْلَاهَا: یعنی جائز دی تا لره د لنګ دپاسه خان مشغولول.

[۵۵٦] د حیض په ورځو کښې د خاوند څخه احتیاط

۵۵٦-()[۱۲] ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② «كُنْتُ إِذَا حِضْتُ نَزَلْتُ عَنِ الْمِثَالِ عَلَى الْحَصِيرِ، ③ فَلَمْ يَقْرَبْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَمْ تَدْنُ مِنْهُ حَتَّى تَطْهُرَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

---

(۱) اخرجه مالک کتاب الطهارة . باب ما یحل للرجل من امرأته وهی حائض(رقم-۹۳) والدارمی کتاب الطهارة/باب: مباشرة الحائض (رقم-۱۰۷۲)

(۲) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة/باب فی الرجل یصیب منها ما دون الجماع(رقم-۲۷۱)

ترجمه: [۱] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي [۲] كله چې زه به د حيض په ورځو كې اوم نو د چارپايي څخه به بورئ (چټايي) ته راښكته شوم [۳] نو تر څوپوري چې به مونږ (ازواج مطهرات) پاكې شوې نه وو نه به نبي كريم ﷺ مونږ ته نژدې راتلو او نه به مونږ نبي ﷺ ته نژدې كيدو (ابوداؤد)

حل اللغات: ① نَزَلْتُ: راكوزه به شوم، ② الْمِثَالِ: أي الْفِرَاشِ: بستره، ③ الْحَصِيرِ: پوزكې، چټائي، ④ لَمْ نَدْنُ: نه به نژدې كيده هيڅ يوه بي بي نبي عليه السلام ته.

تسهيلات:

د حيض په وجه بعضې څيزونه ناجائز ګرځيدل: حيض په ډيروڅيزونوباندې اثرانداز كيږي اودَ ډيروڅيزونودَپاره مانع دې دا يوڅو څيزونه اوګورئ:

① حيض دَ طهارت دَپاره مانع دې تركومې چه حيض دې طهارت نه شى راتلې.

② وجوب الصلوة دَپاره مانع دې. دغه شان صحة الصلوة دَپاره هم مانع دې.

③ دَ صحة الصوم نه هم مانع دې يعنى روژه سره دَدې چه واجب كيږى ليكن دَدې په دغه حالت كښې ساتل صحيح نه دى.

④ تلاوت قرآن او مس مصحف دَپاره مانع دې. ⑤ دخول مسجد نه مانع دې. ⑥ دَجماع نه مانع دې.

په حديث باندې اشكال: دا حديث دَ سابقه ډيرو احاديثو معارض دې په كوم كښې چه حائضې سره دَ تعلق ساتلو اوښكلولوذكر دې؟

د اشكال دوه جوابونه:

① مونږ به دَ حضورپاك دَاجازت نه بغير نيزدې كيدوهم نه په اجازت سره به ښكلول كيدل.

② دا حديث منسوخ دې يا ضعيف دې اوداخبره هم په ذهن كښې ساتئى چه په دې حديث كښې يونسخې فلم يقرب ده مذكوره ترجمه هم دَدې نسخه مطابق ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

[۱۸/۱۳] بَابُ الْمُسْتَحَاضَةِ

دَمستحاضه بیان

خلاصة الباب:

فيه ستة عشر حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① حكم المستحاضة المميزة: ۱، ۲۔

وهذا حديثان محمولان على المعتادة عند أبي حنيفة رحمه الله تعالى۔

② حكم المستحاضة المعتادة: ۳، ۵۔

③ عدم ترک الصلوة والصوم فی أيام الاستحاضة: ۱، ۲، ۳، ۴، ۵۔

④ وضوء المستحاضة لكل الصلوة : ۲، ۳، ۵، ۶۔

⑤ جمع المستحاضة الصلاتين بغسل واحد: ۵، ۶۔

تسهیلات:

د مستحاضه په بحث کښې تصنيفات: داستحاض د مسائلو د ګرانوالی د وجې په دې باندې په مختلفو زمانو کښې تصنيفات ليکلی شوی دی. مثلاً

① امام محمد رحمه الله مستقل کتاب ليکلې دې

② علامه نووی رحمه الله په دې باندې مستقل کتاب ليکلې دې،

③ امام طحاوی رحمه الله هم په دې باندې مستقل کتاب ليکلې دې.

مستحاضې سره متعلق مباحث: دَمستحاضه اواستحاضه متعلق يوځو ابحاث جدا جداليکل ضروری دی دې نه پس به ټول احاديث دَ دغه بحثونوپه رڼړا کښې په پوهه کښې راتلل ډير آسان شی.

اول بحث: د استحاضه لغوی او اصطلاحی بحث:

د استحاضه لغوی معنی: استحاضه دَباب استفعال مصدردې. دَدې مجرد حيض دې کوم چه باب حاض يحيض حيضًا نه راځی. په باب استفعال کښې چه کوم سين اوتاء زائد راځی دې دَدې ډيرخواص دی دلته دَسين اوتاء زياتوالې ياخودَ مبالغې دَپاره دې يعنی ډيرزيات دويم حقيقت نه تلې دې مثلاً "استنوق الجمل ای تحول الجمل الی الناقة" يا اووئيلې شی "كان حمارًا فاستن ای صار الحمار اتانًا" يعنی اول خر وو اوس خره شوه دلته هم استحاض يعنی "صار الحيض شيئًا آخر أی تحول الحيض استحاضة" يا وئيلی شی "استحجر الطين ای صار الطين حجرا".

اوس دَ علمی لطیفې په توګه په دې خبره باندې خان پوهه کړئ چه دَاستحاضه دَمادې اوصیغې نه چه تاسو کومه یوه صیغه هم استعمالوئ هغه به دَمجهول وی دَمعروف صیغه به نه راځی دغه شان به اسم فاعل نه استعمالیږی بلکه دَدې دَپاره اسم فاعل ماتولوسره به اسم مفعول جوړولې شی. نو استحاضت المرأة نه شی وئیلې کیدې بلکه تُسْتَحَاضُ الْمَرْأَةُ یا اُسْتُحِیْضَتِ الْمَرْأَةُ دَمجهول صیغه به لوستلې کیږی امرأة مستحیضة وئیل صحیح نه دی بلکه مستحاضة ضروری دی کوم چه اسم مفعول دې نو دادَ استحاضه لغوی تحقیق وو.

داستحاضه اصطلاحی تعریف: دَ استحاضه اصطلاحی تعریف دادې چه دَ حیض اونفاس نه علاوه دَښځې دَ قبل نه چه کومه وینه راځی هغې ته استحاضه وئیلی شی.

داستحاضه په وجه تسمیه کښې اقوال: دَاستحاضه وجه اودَدې دَ اسبابو باره کښې مختلف الفاظ راغلی دی

① یوځائی عرق انقطع الفاظ راغلی دی. ② بل ځائی انها رکضة الشیطان الفاظ دی

③ دَدې په تشریح کښې په یوحدیث کښې داءعُرِضَ الفاظ دی.

④ حضرت شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه دا یورګ دې دَ کوم نوم چه "عاذل" دې

⑤ حضرت شاه انورشاه کشمیری رحمه الله دې ته دَ فم رحم نوم ورکړې

مستحاضه د معذورینو په فهرس کښې: مستحاضه ښځې دَ اصحاب اعذار او دَ شرعی معذورینو په حکم کښې دې. لهذا دابه دَنورو معذورانو په شان مونځ کوی ټول عبادات به ادا کوی خاوند دې سره جماع کولې شی. لکه چه استحاضه سلسل البول، رعاف دائم، استطلاق البطن او انفلات الریح په شان دَ بیمارو نه یوه بیماری ده چه دَ هیڅ یوشرعی امردَپاره مانع نه ده.

دویم بحث: د مستحاضه قسمونه:

صاحب دبحرالرائق فرمائی چه دمستحاضه درې قسمونه دی .

① **مبتده** :یعنی هغه ښځه چه دهغې په ژوند کښې په رومبی ځل حیض شو او بیا استمرار دم شو .

② **معتاده**:یعنی هغه ښځه چه هغې ته څه موده پورې په انضباط سره حیض راتللو بیا استمرار دم شو. نو په دې کښې د امام ابویوسف رحمه الله په نیز حیض په انضباط سره راتلل کافی دی.اودطرفینو په نیز کم نه کم ددوه حیضونو انضباط ضروری دې . (۱) فتوی په قول دطرفینو ده .

(۱) کمافی تبیین الحقائق ۷۳\۱ تحت شرح قول النسفی فمازادعلی عادتها استحاضة باب الحیض ۱۲ قال ابن عابدین والحاصل ان المبتداة اذا استمردمها فحیضها فی کل شهرعشرة وطهرها عشرون کما فی عامة الکتب بل نقل نوح افندی الاتفاق علیه .خلافا لما فی الامدادمن ان طهرها خمسة عشرة ردالمختار ۲۰۹\۱ باب الحیض تحت قوله وعم کلامه المبتداه)

Maktaba Tul Ishaat.com

③ **متحیره**: بیا متحیره په درې قسمه ده.

(ا) **متحیره بالعدد**: یعنی هغه ښځه چه هغې ته دایام حیض تعداد نه وی معلوم چه داپنځه ورځې وو. یا اووه یا بل څه عدد وو.

(ب) **متحیره بالوقت**: یعنی چه هغې ته حیض یاد نه وی چه هغه په اول د میاشتې کښې وو او که مینځ کښې او که په آخر د میاشت کښې وو.

(ج) **متحیره بهما**: یعنی هغه ښځه چې په یووخت متحیره بالعدد هم وی او متحیره بالوقت هم وی.

د مبتده حکم: دمبتده حکم په اتفاق سره دا دې چه ددې داکثرې مودې د حیض تیریدو پورې به د دې وینه د حیض شمارلې شی. دې موده کښې به مونځ او روژه نه ساتی. او د اکثرموده نه پس به غسل اوکړی اومونځ روژه به شروع کړی. بیاشل ورځې پس به په دوباره ایام حیض شمار شروع کړی.

دمعتاده احکام: دمعتاده حکم داحنافو په نزد دا دې. چه که دایام عادت نه پس هم وینه جاری پاتې شی. نودا به دلس ورځو پوره کولو پورې توقف اوکړی. که دلسونه وړاندې وینه بنده شوه. نو داپوره وینه به حیض شمارلې کیږی. او دابه ګڼړلې کیږی. چه ددې عادت بدل شو نو ددغه ورځو مونځ به واجب نه وی. اوکه دلسوورځونه پس هم وینه جاری وه. نود ایامودعادت نه زیاتی دټولو ایامو وینه به استحاضه اوګرځولې شی. اودایام عادت نه پس چه څومره مونځونه ئې پریښې دی. دهغې ټولو قضاء به لازم وی. البته دقضاء کولو ګناه به نه وی. په حدیث دباب کښې ((فإذا أقبلت الحيضة فدعي الصلوة وإذا أدبرت فاغسلي عنك الدم وصلي)) هم دا مطلب دې دارنګه په ((تدع الصلوة أيام أقرائها التي كانت تحيض فيها الخ)) سره هم ددې زیات وضاحت سره بیان شوې دې.

د متحیره حکم: په اجمالی توګه باندې دَدې په حکم باندې ځان پوهه کړئی. چه داښځه دې په خپلو مسائلوکښې سوچ فکر اوتحری اوکړی اوبیا دې په غالب ګمان باندې عمل اوکړی. دَفقهاء احناف دَتفصیلاتوهم دغه خلاصه ده. دَدې نه زیات دَدې په مسائلوکښې اخته کیدلوسره به صرف حیرانیدل کیږی دحیرانتیانه سوابه بل هیڅ نه حاصلیږی څکه چه دغه متحیره ته ضاله هم وائی چه پخپله بې درکه شوې ده یا مُضِلّه ده چه عالم بې لارې کړی.

دریم بحث: د احادیثو مصداق:

باب الاستحاضه کښې دَمستحاضه باره کښې په احادیثوکښې مختلف احکام ذکردی. دکوشش اولتهون نه پته لګی چه دلته درې قسمه احکام ذکرشوی دی.

① دَمستحاضه دَپاره دَ حضورپاك ﷺ رومبې حکم دادې چه "تدع الصلوة ايام اقرائها" دَحیض په ورځوکښې دې دا ښځه مونځ پریږدی.

② "اذا اقبلت حيضتك فدعي الصلوة واذا ادبرت فاغسلي عنك الدم" په دې روايت کښې دَ حيض دَتلو راتلودَ وختونو طرف ته اشاره ده اودَ ښځې عمل نې خودلې دې. په کوم سره چه دَمعتاده طرف ته اشاره کيدې شی.

③ "لتنظر عدد الليالي والايام التي كانت تحيضهن من الشهر" په دې روايت کښې هم اشاره ده چه ښځې له دَ خپلو ورځوښه حساب کول پکاردی.

د مستحاضه مميزه په وجود کښې مذاهب:

دَ ائمه احنافو په نيزدَدې ټولو روايتونوتعلق معتاده سره دې اودااحکام هم دَ معتاده بيان شوی دی.

① دَ شوافع په نيز په دويم روايت کښې دَمعتاده اومميزه دواړو احتمال دې اودريم روايت دَ مميزه دَپاره دې. دَاحنافو اوحنابله په نيزدَ مميزه وجودنشته دې مستحاضه يامعتاده ده يا مبتدأه ده اويامتحيره ده کومې ته چه ضالة اومضله هم وائی. څکه چه دانبځه يا دَ حقيقت پيژندلونه پخپله ورکه شوې ده يافقيه گمراه کوی.

څلورم بحث: دَمستحاضه دَاودس حکم:

د مستحاضه د اودس او غسل په باره کښې مختلف الفاظ:

دَباب المستحاضه په رواياتوکښې دَمستحاضه ښځې دَ اودس احکام او دَ غسل د احکامو باره کښې مختلف قسم الفاظ راغلی دی مثلاً......

① "تتوضأ لكل صلوة" الفاظ

② "تغتسل لكل صلوة" الفاظ

③ "تتوضأ لوقت كل صلوة" الفاظ

④ "تجمع بين الصلوتين بغسل واحد" الفاظ دَمشکوة شريف دَ رواياتو مفهوم هم دغه شان راؤځی سره دَدې چه دَ پورته الفاظونه دَمشکوة الفاظ مختلف دی.

دمستحاضه په خروج الدم سره د اودس په ماتيدو کښې مذاهب:

دَانقضاء حيض نه پس په مستحاضه باندې غسل په اتفاق سره فرض دې.

① دَ اودس باره کښې امام مالك رحمه الله فرمائی دَ استحاضه په وينه اودس نه ماتيږی او په کومو روايتونو کښې چه دَ اودس حکم راغلې دې هغه دَ مالکيه په نيزپه استحباب باندې محمول دی.

② دَائمه ثلاثه په نيز دَ دم استحاضه خروج موجب للوضؤدې. مستحاضه به اودس کوی

د مستحاضه د هرمونځ يا هر وخت دپاره په اودس کولو کښې مذاهب:

بيادَدې حضراتو په خپل مينځ کښې دَاودس باره کښې اختلاف پيداشوې دې چه آيا دَ هر

Maktaba Tul Ishaat.com

مونځ دپاره به مستحاضه اودس کوی او که د هروخت دپاره به اودس کوی؟

① د شوافع په نیزپه مستحاضه باندې ضروری دی چه دهرمانځه دپاره اودس اوکړی که په یووخت کښې ډیر مونځونه کوی نو د هرفرض مونځ دپاره به نوې اودس کوی. اود وخت مونځ سره چه کوم توابع سنت دی هغه په دغه اودس سره کولې شی لکه د فرض مونځ نه پس د مستحاضه اودس مات شو.

② د ائمه احناف اوحنابله په نیزمستحاضه دې د دمونځ د وخت دپاره اودس کوی کله چه دمانځه وخت اوځی نوددې اودس به مات شی. ترکومې پورې چه وخت موجوددې دا مستحاضه په دغه وخت کښې دهرقسم ډیر مونځونه کولې شی که نوافل وی که فرائض وی.

داول فریق دلیل: دوی د "تتوضألکل صلوة" او "تتوضأعندکل صلوة" والا روایاتونه استدلال کړې دې اوحکم ئې لګولې دې چه مستحاضه کله هم مونځ کوی نوې اودس به کوی په ډیرو زیاتو احادیثوکښې د اودس کولوحکم راغلې دې. اودمشکوة په فصل ثانی کښې د عدی بن ثابت ﷺ روایت کښې تتوضأعندکل صلوة الفاظ موجوددی کوم چه د شوافع دلیل دې.

داول فریق د دلیل جواب: ① داحنافو مشهور محقق ابن همام رحمه الله فرمائی چه په احادیثو کښې درې قسم الفاظ دی لوقت کل صلوة، لکل صلوة، عندکل صلوة رومبې لفظ د وخت دپاره متعین دې او په آخری دوارو جملوکښې دوخت او مونځ دوارو معنواحتمال دې ځکه چه لام اوعندتعلیلیه هم کیدې شی نومعنی به داشی چه مستحاضه دې دهرمانځه دوجې نه اودس کوی اووقتیه هم کیدې شی. نومطلب به داشی چه مستحاضه به دمونځ دهروخت دپاره اودس کوی. اوس دا محتمل کلمات په دغه متعین کلمات باندې حمل کول پکاردی په کومو کښې چه د وخت تعین کړې شوې دې. لکه تتوضألوقت کل صلوة دې. خلاصه دا چه مجمل اومحتمل به په مفسر اومتعین باندې حمل کړو اوپه عربی لغت کښې لام د وخت دپاره استعمالیږی. د قرآن کریم آیت ﴿ أَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ ﴾ دلته لام دوخت دپاره دې ای وقت دلوك الشمس دغه شان عرب وائی آتیك للظهر ای فی وقت الظهر.

خلاصه دا راؤتله چه دحدیث ټول الفاظ دوخت په معنی باندې په آسانئی سره حملولې شی اوکه دمونځ معنی واخستې شوه نو په دغه روایتونوباندې عمل نه شی کیدې په کوم کښې چه د وخت لفظ راغلې دې.

دامام طحاوی په اول فریق دوه اعتراضات:

① امام طحاوی رحمه الله په شوافع باندې دا اعتراض کړې دې چه مثلاً یومستحاضه ښځې دمانځه دپاره اودس خوجوړکړو مګر مونځ ئې اونه کړواود مونځ وخت اووتلو نواوس وایئې چه ددې اودس به څنګه ماتیږی حال دادې چه ددې دپاره تاسو حضرات مونځ ناقض

للوضو گرځوئی؟

۴ دارنګ امام طحاوی رحمه الله داهم اشکال کړې دې چه په شریعت مطهره کښې داخبره خو معروف اومشهوره ده چه دَ وخت ختمیدو اووخت وتلوسره اودس ماتیږی مثلاً یوسړی په موزوباندې مسح کړې ده اوس چه کله دَمقیم اومسافردَمسح موده ختمیږی او وخت وتلوسره تیریږی نواودس ماتیږی نوخروج وقت ناقض للوضو شو. لیکن په شریعت کښې چرته هم فراغ عن الصلوٰة ناقض للوضو نه دې ونیلې شوې اونه دَدې څه مثال ملاویږی. بل دَهرمانځه دَپاره اودس کولوکښې احتیاط خوشته لیکن په دې کښې دَ دې په شان مسکینانوبنځوباندې حرج هم شته. که دَحدیث شریف نه دَ آسانئی صورت ملاویدې شی نو حرج مدفوع فی الشرع دې. په حرج کښې دَ اچولوڅه ضرورت دې؟

د دویم فریق دلائل: ۱ د دوی مستدل هغه روایت دې په کوم کښې چه **تتوضالوقت کل صلوٰة** الفاظ راغلی دی دا روایت ابن قدامه رحمه الله په خپل مشهورکتاب مغنی کښې ذکر کړې دې. دا دَ فاطمه بنت ابی حبیش رضی الله عنها دَ بعضې روایاتو الفاظ دی.

۲ بعضې روایاتوکښې **حتی یجیئ ذلك الوقت** الفاظ راغلی دی دَدې نه هم احنافو استدلال کړې دې چه دَ وخت دَپاره اودس دې څکه چه دَوخت صراحت موجوددې.

دَمستحاضه دَغسل مطلب

دَمستحاضه متعلق چه کوم احادیث راغلی دی په هغې کښې دَبعضونه په واضحه توګه معلومیږی چه حضورپاك مستحاضه ته دَهرمانځه دَپاره دَغسل حکم ورکړې وو.

مستحاضه ته د هر مانځه دپاره دغسل کولو روایت: ۱ امام طحاوی رحمه الله هم دَ سهله بنت سهل رضی الله عنها متعلق نقل کړی دی چه هغې ته رسول الله صلی الله علیه وسلم دَهرمانځه دَپاره دَغسل حکم ورکړې وو.

مستحاضه ته د دوؤ مونځونو دپاره دغسل کولو روایات: ۱ دَمشکوٰة شریف په دریم فصل کښې دَ اسماءبنت عمیس رضی الله عنها په حدیث کښې دا الفاظ "**لما اشتدعلیها الغسل**" یعنی دَ هر مانځه دَپاره غسل کول چه کله په فاطمه بنت ابی حبیش رضی الله عنها ته ګران شو نوحضور پاك هغې ته دَ دوو مونځونودَپاره دَ یوغسل کولوحکم ورکړو یادَدې نه هم دَهرمانځه دَپاره دَغسل حکم معلومیږی.

۲ دغه شان دَمشکوٰة **باب المستحاضه** کښې حمنه بنت جحش رضی الله عنها دَ روایت نه دَدوو مونځونو دَپاره دَ یوغسل حکم معلومیږی یعنی دَ ماسپښین اومازیګردَپاره یوغسل او ماښام او

Maktaba Tul Ishaat.com

ماسخوتن دپاره دویم غسل او اودَ سحردپاره دریم غسل نو دا دَ پنځو مونځونو دپاره دَدریوغسلونوحکم دې.

مستحاضه ته د پنځو مونځونو دپاره د غسل کولو روایت:

① دغه شان دَ پنځومونځونودپاره دَدریوغسلو حکم دَدې باب په آخری حدیث کښې هم دې دکوم روایت چه اسماء بنت عمیس رضي الله عنها کړې دې.

دَدې غسلونونه علاوه دَهرمانځه دپاره دَاودس کولوحکم هم په ډیرواحادیثوکښې راغلې دې. اوس دَ ائمه اربعه مسلك دَاودس دې نودَغسل دَدې احادیثوجواب ورکول اودا احادیث په صحیح محمل باندې حمل کول دَائمه اربعه ذمه واری ده. چنانچه دَدې احادیثو دَ ائمه اربعه او دَ جمهورفقهاؤ دَ طرف نه علماء کرامو ډیر توجیهات کړی دی.

①اول توجیه اوجواب دادې چه دَ غسل ټول احادیث په استحباب باندې محمول دی غسل خوواجب نه دې خوکه چرې ونی کړی نومستحب دې دَهرمانځه دپاره جداجدا یا دَدوو مونځونودپاره دې یوغسل اوکړی.

② دَغسل دَټولواحادیثوتعلق علاج سره دې مطلب داچه دې مستحاضه ښځوته دَ غسل حکم دَدې دپاره ورکړې شو وو چه دَیخواوبو په استعمالولوسره په وینه کښې کمې راشی اووینه بنده شی.

③ دَ غسل دَ احادیثو تعلق دَمتحیره دَ بعضې صورتونوسره دې دَ کوم دَغسل چه احناف هم قائل دی.

④ دَغسل او اودس دَټولواحادیثونقشه په ډیره ښه طریقه امام طحاوی رحمه الله پیش کړې ده. فرمائی چه سهله بنت سهیل رضي الله عنها ته رسول الله صلی الله علیه وسلم په شروع کښې دَهرمانځه دپاره دَغسل حکم کړې ووبیا حضورپاك په هغې کښې نرمی اوکړه او دَ دوو مونځونودپاره ئی دَ یوغسل حکم اوکړو کله چه داهم هغې ته ګرانه شوه نوحضورپاك دَهرمانځه دپاره دَاودس حکم ورکړو نودَ دوو مونځونو دپاره دَ یوغسل په حکم سره دَهرمانځه دپاره دَغسل حکم منسوخ شو بیادَهرمانځه دپاره دَاودس په حکم سره دَغسل حکم منسوخ شو اوکه چرې دَغسل حکم منسوخ نه دې نوعلماء کرامو داجواب ورکړې دې چه حضورپاك دَعلاج په توګه دَ تبریدد حصول دپاره دَغسل حکم ورکړې وو. (والله اعلم)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۵۵۷] په حالت استحاضه کښې د مونځ حکم

۵۵۷-( ) [۱] ① عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② «جَاءَتْ فَاطِمَةُ بِنْتُ أَبِي حُبَيْشٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، ③ إِنِّي امْرَأَةٌ أُسْتَحَاضُ، فَلَا أَطْهُرُ، أَفَأَدَعُ الصَّلَاةَ؟ ④ فَقَالَ: لَا، إِنَّمَا ذٰلِكِ عِرْقٌ وَلَيْسَ بِحَيْضٍ، ⑤ فَإِذَا أَقْبَلَتْ حَيْضَتُكِ فَدَعِي الصَّلَاةَ، ⑥ وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْسِلِي عَنْكِ الدَّمَ، ثُمَّ صَلِّي» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① بي بي عائشه رضي الله عنها راويه ده ② چې فاطمه بنت ابي حبيش د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضره شوه او عرض يې وكړو چې يا رسول الله ﷺ ③ زه يو داسې ښځه يم چې برابر (د استحاضې) وينه راځي زه هيڅ وخت پاكه نه يم نو آيا زه مونځ پرېږدم؟ ④ حضور ﷺ ورته وفرمايل نه دا خو د يو رګ وينه ده د حيض وينه نه ده ⑤ هركله چې تاته حيض راشي نو ته مونځ پرېږده ⑥ او كله چې حيض ختم شي (نو د بدن څخه) وينه وينځه او (په لمبيدو سره) مونځ كوه. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① أُسْتَحَاضُ: يعنى مسلسل مې دحيض وينه راځي (وينه نه اودريږي) (دې ته مستحاضه هم وائي او ممتاده هم). ② أَفَأَدَعُ: أَيْ: أَفَأَتْرُكُهَا: آيا زه مونځ پرېږدم؟ (تر د وينې اودريدو پورې). ③ عِرْقٌ: أَيْ: دَمُ عِرْقٍ: د وينې رګ، ④ أَقْبَلَتْ: راشي (حيض)، ⑤ أَدْبَرَتْ: أَيْ: تَوَلَّتْ: واپس شي، يعنى حيض ختم شي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۵۸] د حيض د وينې پيژندګلو

۵۵۸-( ) [۲] ① عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ «فَاطِمَةَ بِنْتِ أَبِي حُبَيْشٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، ② أَنَّهَا كَانَتْ تُسْتَحَاضُ، فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ③ "إِذَا كَانَ دَمُ الْحَيْضِ فَإِنَّهُ دَمٌ أَسْوَدُ يُعْرَفُ، ④ فَإِذَا كَانَ ذٰلِكِ، فَأَمْسِكِي عَنِ الصَّلَاةِ، ⑤ فَإِذَا كَانَ الْآخَرُ، فَتَوَضَّئِي وَصَلِّي، فَإِنَّمَا هُوَ عِرْقٌ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

---

(۱) اخرجه بخارى كتاب الوضوء باب غسل الدم (رقم-۲۲۸) ومسلم كتاب الحيض باب المستحاضة وغسلها وصلاتها رقم(۶۲ - (۳۳۳) وابوداود كتاب الطهارة/باب من روى أن: الحيضة إذا أدبرت لا تدع الصلاة(رقم-۲۸۲) والنسائى كتاب الحيض والاستحاضة باب بدء الحيض ، وهل يسمى الحيض نفاسا؟ (رقم-۳۵۹) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/بباب ما جاء فى المستحاضة التى قد عدت أيام أقرانها. قبل أن يستمر بها الدم(رقم-۶۲۱) واحمد فى المسند:۶/۱۹۴ والترمذى كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى المستحاضة(رقم-۱۲۵) والدارمى كتاب الطهارة/باب فى غسل المستحاضة (رقم-۸۰۱)

(۲) اخرجه ابود اود كتاب الطهارة/ باب من قال إذا أقبلت الحيضة تدع الصلاة(رقم-۲۸۶) والنسائى كتاب الحيض والاستحاضة/باب الفرق بين دم الحيض والاستحاضة (رقم-۳۶۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

توجمه: [۱] حضرت عروه ابن زبير رحمه الله د فاطمه بنت حبيش رضي الله عنها څخه روايت كوي[۲] چې هغې ته د استحاضې وينه راتله نبي كريم ﷺ د هغې په باره كې وفرمايل [۳] هركله چې د حيض وينه راشي چې د هغې پېژندنه دا ده چې هغه د تور رنګ وي[۴] نو هغه وخت ته د لمانځه كولو څخه منع شه[۵] او هر كله چې د استحاضې وينه راشي (يعني هغه وينه د تور رنګ څخه علاوه د بل څه رنګ وي) نو اودس كولو سره مونځ كوه ځكه چې دا حيض نه دي بلكه د يو رګ وينه ده. (ابوداؤد نسائي)

حل اللغات: ① عِرْقٌ: أَيْ: دَمُ عِرْقٍ: د وينې رګ،

[۵۵۵] د معتاده د حيض حكم

۵۵۵-() [۳] [۱] وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «إِنَّ امْرَأَةً كَانَتْ تُهْرَاقُ الدَّمَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۳] فَاسْتَفْتَتْ لَهَا أُمُّ سَلَمَةَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: [۴] لِتَنْظُرْ عَدَدَ اللَّيَالِي وَالْأَيَّامِ الَّتِي كَانَتْ تَحِيضُهُنَّ مِنَ الشَّهْرِ قَبْلَ أَنْ يُصِيبَهَا الَّذِي أَصَابَهَا، [۵] فَلْتَتْرُكِ الصَّلَاةَ قَدْرَ ذَلِكَ مِنَ الشَّهْرِ، [۶] فَإِذَا خَلَّفَتْ ذَلِكَ فَلْتَغْتَسِلْ، [۷] ثُمَّ لِتَسْتَثْفِرْ بِثَوْبٍ»، رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُو دَاوُدَ. وَرَوَى النَّسَائِيُّ مَعْنَاهُ.

توجمه: [۱] بي بي ام سلمه رضي الله عنها فرمايي[۲] چه د نبي كريم ﷺ په زمانه كې يوې ښځې ته د استحاضې وينه راتله (او هغه معتاده وه)[۳] بي بي ام سلمه رضي الله عنها په دې باره كې حضور ﷺ څخه فتوی وپوښتله (چې د دې څه حكم دي؟) حضور ﷺ وفرمايل[۴] هغې ته پكار دي چې هغه وګوري چې د دې بيماري راتلو څخه مخكې هغې ته په مياشت كې د حيض وينه څو ورځې څو شپې راتله[۵] (هركله چې دا معلومه شي نو) هره مياشت دې هغومره ورځې مونځ كول پرېږدي[۶] او هر كله چې هغه ورځې تيرې شي نو ودې لمبيږي[۷] او (په پاجامه كې دننه) د كپړې ترلو سره دې مونځ كوي، (مالك، ابوداؤد، دارمي) او نسائي دا روايت بالمعنٰي نقل كړې دي.

حل اللغات: ① تُهْرَاقُ: أَيْ: تَصُبُّ: وينه بهيوی، يعنی مسلسل ترې وينه جاری وی، (يعنی معتاده وه). ② فَاسْتَفْتَتْ: أَيْ: سَأَلَتْ: د مسئلې تپوس ئې اوكړو د نبی عليه السلام نه، ③ لِتَنْظُرْ: أَيْ: لِتَتَفَكَّرْ: اودې ګوری يعنی سوچ او فكر دې اوكړی، معلومه دې كړی. ④ خَلَّفَتْ: أَيْ: إِذَا جَاوَزَتْ قَدْرَ حَيْضِهَا: دغه معلومه ورځې تيرې شی يعنی د معلومو ورځو نه تجاوز اوكړی. ⑤ لِتَسْتَثْفِرْ: أَنْ تَشُدَّ فَرْجَهَا بِثَوْبٍ: يعنی خپل فرج دې په كپړې سره اوتړی.

(۱) اخرجه مالک كتاب الطهارة باب المستحاضة(رقم-۱۰۵) واحمد فی المسند:۶/۲۹۳ وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/ باب ما جاء فی المستحاضة التی قد عدت أيام أقرانها، قبل أن يستمر بها الدم(رقم-۶۲۳) وابوداود كتاب الطهارة / باب فی المرأة تستحاض، ومن قال: تدع الصلاة فی عدة الأيام التی كانت تحيض(رقم-۲۷۴) والنسائی كتاب الطهارة/ باب اخبرنا قتيبة مرة أخری ولم يذكر جعفرا(رقم-۲۰۸) والدارمی كتاب الطهارة/باب فی غسل المستحاضة (رقم-۸۰۷)

[۵٦۰] د مستحاضه دپاره هر مانځه ته تازه اودس کول

٥٦٠-( )[۴] [۱] وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ- [۲] قَالَ يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ: جَدُّ عَدِيٍّ اسْمُهُ دِينَارٌ، «عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [۳] أَنَّهُ قَالَ فِي الْمُسْتَحَاضَةِ: "تَدَعُ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا الَّتِي كَانَتْ تَحِيضُ فِيهَا، [۴] ثُمَّ تَغْتَسِلُ، وَتَتَوَضَّأُ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ، [۵] وَتَصُومُ، وَتُصَلِّي» "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ

ترجمه: [۱] د عدي ابن ثابت څخه روايت دي هغه د خپل پلار څخه او هغه دخپل نيکه څخه، [۲] يحيی ابن معين فرمايي چې د عدي دنيکه نوم دينار دي، هغه د نبي کريم ﷺ څخه روايت کوي [۳] چې حضور ﷺ د يوې مستحاضه ښځې په باره کې وفرمايل چې په کومو ورځو کې هغې ته د عادت موافق حيض راتلو هغې ته پکار دي چې په هغه ورځو کې مونځ پريږدي [۴] بيا (د هغه ورځو څخه وروسته يو ځل) ولمبيږي او د هر لمانځه د پاره دې تازه اودس کوي [۵] او روژه دې نيسي او مونځ دې هم کوي. (ابوداؤد ترمذي)

حل اللغات: ① أَقْرَائِهَا: د قُرء جمع ده، وَهُوَ مُشْتَرَكٌ بَيْنَ الْحَيْضِ وَالطُّهْرِ: قُرء په معنی دحيض هم راځي او په معنی د طهر هم، خو دلته ترې حيض مراد دي.

[۵٦۱] د استحاضه حقيقت

٥٦١-( )[۵] [۱] «وَعَنْ حَمْنَةَ بِنْتِ جَحْشٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: [۲] كُنْتُ أُسْتَحَاضُ حَيْضَةً كَثِيرَةً شَدِيدَةً، فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْتَفْتِيهِ وَأُخْبِرُهُ، [۳] فَوَجَدْتُهُ فِي بَيْتِ أُخْتِي زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ، [۴] فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، إِنِّي أُسْتَحَاضُ حَيْضَةً كَثِيرَةً شَدِيدَةً، فَمَا تَأْمُرُنِي فِيهَا؟ قَدْ مَنَعَتْنِي الصَّلَاةَ وَالصِّيَامَ. [۵] قَالَ " أَنْعَتُ لَكِ الْكُرْسُفَ، فَإِنَّهُ يُذْهِبُ الدَّمَ" [٦] قَالَتْ: هُوَ أَكْثَرُ مِنْ ذَلِكَ. قَالَ: "فَتَلَجَّمِي". [۷] قَالَتْ: هُوَ أَكْثَرُ مِنْ ذَلِكَ. قَالَ: فَاتَّخِذِي ثَوْبًا. [۸] قَالَتْ: هُوَ أَكْثَرُ مِنْ ذَلِكَ، إِنَّمَا أَثُجُّ ثَجًّا.

ترجمه: [۱] بي بي حمنة بنت حجش رضي الله عنها فرمايي [۲] چه ماته به په کثرت سره د استحاضې وينه راتله په دې وجه زه د نبي ﷺ په خدمت کې حاضره شوم چې حضور ﷺ خبر کړم او د دې حکم ترينه وپوښتم [۳] نو زه د خپلې خور زينب بنت حجش په مکان کې د حضور ﷺ سره يو ځای شوم [۴] او عرض مې وکړو يا رسول الله ﷺ ماته د استحاضې وينه په کثرت سره راځي چې زه يې د لمانځه او روژې څخه هم منع کړي يم په دې باره کې تاسو څه حکم

(۱) اخرجه ابوداودكتاب الطهارة/ باب من قال تغتسل من طهر إلى طهر(رقم-۲۹۷) وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء في المستحاضة التي قد عدت أيام أقرائها. قبل أن يستمر بها الدم(رقم-٦۲۵) والترمذي كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن المستحاضة تتوضأ لكل صلاة(رقم-۱۲٦) والدارمي كتاب الطهارة/باب في غسل المستحاضة (رقم-۸۲۰)

(۲) وابوداود كتاب الصلاة باب من قال إذا أقبلت الحيضة تدع الصلاة(رقم-۲۸۷) اخرجه احمد في مسند:-٦/٤۳۹ ، وابن ماجة كتاب الطهارة وسننها/باب ما جاء في المستحاضة التي قد عدت أيام أقرائها. قبل أن يستمر بها الدم(رقم-٦۲۲) و باب ما جاء في البكر إذا ابتدئت مستحاضة. أو كان لها أيام حيض فنسيتها(رقم-٦۲۷) والترمذي كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب في المستحاضة أنها تجمع بين الصلاتين بغسل واحد(رقم-۱۲۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

راکوئ؟ ⑤ حضور ﷺ وفرمایل زه ستا د پاره پمبه تجویز کوم ځکه چې هغه وینه بندوي (یعني د وینې وتلو په ځاي کې پمبه کیږده چې بهر راونوځي) ⑥ حمنة رضی الله عنها اوویل هغه خو په دي سره نه منع کیږي ځکه چې ډیره زیاته ده حضور ﷺ وفرمایل (پمبه کیږده او) په هغې د واکې په شان کپړه (یعني لنګوټ) تړه ⑦ هغې اوویل هغه په دي سره نه بندیږي ځکه چې ډیره زیاته ده حضور ﷺ وفرمایل بیا (د لنګوټ لاندې) یوه کپړه اړده ⑧ هغې اوویل هغه په دي سره هم نه بندیږي ځکه چې ډیره زیاته ده تر دې چې وینه د باران (د شیبو) په شان راځي

حل اللغات: ① أَنْعَتُ: أَيْ أَصِفُ: زه بنایم، تجویز کوم. ② الْكُرْسُفَ: أَيْ الْقُطْنَ: مالوچ، ③ فَتَلَجَّمِي: يَعْنِي خِرْقَةً عَلَى هَيْئَةِ اللِّجَامِ: یعنی د واکې په شان یوه کپړه تړه، ④ أَثُجُّ ثَجًّا: أَيْ يَسِيلُ دَمِي سَيَلَانًا فَاحِشًا: د سیلاب په شان وینه راځي یعني ډیره زیاته وینه بهیږي.

① فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَآمُرُكِ بِأَمْرَيْنِ، أَيَّهُمَا صَنَعْتِ أَجْزَأَ عَنْكِ مِنَ الْآخَرِ ② وَإِنْ قَوِيتِ عَلَيْهِمَا، فَأَنْتِ أَعْلَمُ" ③ قَالَ لَهَا: "إِنَّمَا هَذِهِ رَكْضَةٌ مِنْ رَكَضَاتِ الشَّيْطَانِ ④ فَتَحَيَّضِي سِتَّةَ أَيَّامٍ أَوْ سَبْعَةً فِي عِلْمِ اللهِ، ثُمَّ اغْتَسِلِي، ⑤ حَتَّى إِذَا رَأَيْتِ أَنَّكِ قَدْ طَهُرْتِ وَاسْتَنْقَأْتِ ;⑥ فَصَلِّي ثَلَاثًا وَعِشْرِينَ لَيْلَةً أَوْ أَرْبَعًا وَعِشْرِينَ لَيْلَةً، وَأَيَّامَهَا، وَصُومِي، فَإِنَّ ذَلِكِ يُجْزِئُكِ، ⑦ وَكَذَلِكِ فَافْعَلِي كُلَّ شَهْرٍ كَمَا تَحِيضُ النِّسَاءُ وَكَمَا يَطْهُرْنَ ; مِيقَاتُ حَيْضِهِنَّ وَطُهْرِهِنَّ،

ترجمه: ① حضور ﷺ وفرمایل بیا خو زه تاته د دوو خبرو حکم درکوم په هغه کې چې ته کومه یوه اختیاروي د دویمي به ضرورت نه پاتې کیږي ② او که په تا کې په دواړو د عمل کولو طاقت وي نو پخپله بنه پوهیږې (چې ډیر لوي اجر لري ته خپل حالت ته په کتلو سره څنګه چې غواړي هغسې کوه) ③ نو حضور ﷺ حمنه ته اوویل چې دا استحاضه د شیطان د لغتو څخه یوه لغته ده ④ نو ته هره میاشت شپږ یا اووه ورځې ځکه د غیب علم الله جل جلاله لره دي د حیض ورځې وګرځوه او بیا مذکوره موده تیره و څخه وروسته لمبیږه ⑤ او هرکله چې ته پوهه شې چې زه پاکه صفا شوې یم ⑥ نو درویشت ورځې شپې (ایام حیض اووه ورځې ګرځولو په صورت کې) یا څلورویښت ورځې شپې (ایا) حیض شپږ ورځې ګرځولو په صورت کې) مونځ کوه او دغسې هره میاشت (د رمضان وغیره) روژې هم نیسه ستا د پاره به دا کافي وي، ⑦ ته هم هره میاشت دغسې کوه څنګه چې ښځې په خپله خپله موده دحیض کې وي او بیا په وخت باندې پاکیږي [چې شپږ یا اووه خو د حیض ورځې وګرځوه او بقیه ورځې طهر یعنی د پاکي ایام وګرځوه]

حل اللغات: ⑤ قَوِيتِ: أَيْ قَدَرْتِ: که ته قدرت لرې، ⑥ رَكْضَةٌ: أَيْ دَفْعَةٌ وَضَرْبَةٌ: یعنی دا د شیطان وهل دي، (د خپې لتې اوګذار ته رکض وائی، دلته د وهلونه مراد ضرر او فساد دې)، ⑦ اسْتَنْقَأْتِ: دلته استنقاء مبالغه ده په پاکوالی د بدن کښې، یعنی پاکه شې او بیخی صفا شې، ⑧ مِيقَاتُ: معلوم وخت ته وائی.

۱ وَإِنْ قَوِيتِ عَلَى أَنْ تُؤَخِّرِينَ الظُّهْرَ وَتُعَجِّلِينَ الْعَصْرَ ۲ فَتَغْتَسِلِينَ وَتَجْمَعِينَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ ۳ وَتُؤَخِّرِينَ الْمَغْرِبَ وَتُعَجِّلِينَ الْعِشَاءَ ۴ ثُمَّ تَغْتَسِلِينَ وَتَجْمَعِينَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ، فَافْعَلِي ۵ وَتَغْتَسِلِينَ مَعَ الْفَجْرِ فَافْعَلِي، ۶ وَصُومِي إِنْ قَدَرْتِ عَلَى ذَلِكَ. ۷ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَهَذَا أَعْجَبُ الْأَمْرَيْنِ إِلَيَّ» رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ او كه په تاكي دومره طاقت وي چې د ماسپښين وخت تاخير كولو سره په مازيگر كې تادي اوكړې ۲ بيا ولمبيږې دا دواړه لمونځونه (ماسپښين او مازيگر) يو ځاي وكړې ۳ او بيا ماښام مؤخر كولو سره په ماسخوتن كې تادي اوكړې ۴ بيا ولمبيږې او دا دواړه لمونځونه يو ځاي او كړې نو دغسې كوه ۵ او د سحر لمانځه د پاره (جدا) لمبيږې نو دغسې كوه [او په كومو ورځو كې چې مونځ كوې په هغه ورځو كې نفل او فرض څنګه چې غواړې كوه] ۶ او روژې هم نيسه كه په تا كې د دې طاقت وي ۷ بيا حضور ﷺ وفرمايل په دې دواړو خبرو كې آخري خبره زما زياته خوښه ده. (احمد، ترمذي، ابوداؤد)

تسهيلات:

په مدينه كښې مستحاضه زنانه: حمنه بنت جحش صحابيه رضي الله عنها د نبى كريم ﷺ بښيني وه. د حضرت زينب بن جحش رضي الله عنها نه علاوه د حضرت جحش ټولې لونړه د استحاضې بيمارې وې. مدينه منوره كښې تقريبا دولس زنانو ته د استحاضې بيمارى وه. په دوئ كښې د حمنه بنت جحش رضي الله عنها بيان په دې حديث پاك كښې دې.

دحديث دبعضې جملو وضاحت:

① " فَتَلَجَّمِي ".: لجام لګولو ته وائى. فارسى كښې ورته لګام وئيلې كيږى او په عربى كښې لجام دكتاب په وزن سره دې. دا هغه كپړې ته وائى چې حائضه او مستحاضه ښځه ئې د كرسف دپاسه د وينې بندولو دپاره تړى.

② فَاتَّخِذِي ثَوْبًا: يعنى د كپړې يو مضبوط مندوس (ډيرې كپړې رايوځائې كولو ته وائى) جوړ كړه د پتونانو مينځ كښې په فرج باندې كيږده او ددې دپاسه لګام او كپړه اوتړه.

③ إِنَّمَا أَثُجُّ: حديث پاك كښې دى چې الحج العج الثج يعنى حج په زوره تلبيه وئيلو او وينې تويولو ته وائى. قرآن پاك كښې دَ ﴿مَآءً ثَجَّاجًا﴾ لفظ راغلې دې.

④ فَتَحَيَّضِي: يعنى خپل ځان ته حائضه وايه. او د حيض احكام په ځان لازم اوګرزوه.

⑤ أَوْ سَبْعَةً فِي عِلْمِ اللهِ: " او " دَ شك دپاره نه دې بلكه نبى كريم ﷺ دې ښځې ته د دوؤ كارونو حكم وركړې وو. " او " دتنويع دپاره شو چې دالله ﷻ په علم كښې څه دى په هغې عمل اوكړه. كه هغه شپږ ورځې وى او كه اووۀ ورځې وى ، تحرّى كوه او عمل كوه.

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: وَهٰذَا أَعْجَبُ الْأَمْرَيْنِ إِلَيَّ:

داعجب الامرين مصداق: دَ ملا علی قاري رحمه الله او امام ابو داود رحمه الله د دوارو رجحان دې طرفته دې چې اعجب الامرین کښې رومبې امر نبی کریم ﷺ دا ورکړې وو چې هر مونځ دپاره مستقل غسل کول پکار دی. لیکن بیا د حرج په وجه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې دوؤ مونځونو دپاره یو غسل کوه یعنی ماسپخین او مازیګر دپاره به یو غسل وی او ماښام او ماسختن دپاره به بل غسل وی او سحر دپاره به ځانله غسل وی. نو د پنځومونځونو دپاره د پنځونو غسلونو په ځائې درې غسله کولو کښې حرج کم شو.

د استثفار په معنی کښې دوه اقوال:

① د استحاضې په یو حدیث پاك کښې لتستثفر لفظ راغلې دې. کله چې په آسونو او خرونو باندې سامان بار کولې کیږی نو د لکۍ لاندې چې کومه پټۍ مضبوطه تړلې کیږی هغې ته استثفار وائی. چې چړهائی کښې سامان دَ خر سر طرف اونه خوږی.

② استفثاردې ته هم وائی کله چې سپې کینی نو دکیناستو په وخت کښې دې لکۍ د دوارو پتونو مینځ کښې راولی او کینی. مستحاضه ښځې ته هم دا حکم ورکړې شوې دې چې آرام سره دې کینی او د کپړې منډوس دې جوړ کړی او بیا دې په فرج کښې مضبوط کیږدی او ددې دپاسه دې کپړه اوتړی چې وینه بنده شی. دا استثفار دې.

د پیمپراستعمال: په موجوده زمانه کښې بعضې کمپنیانو د پیمپر په نوم جانګی راویستې دی کوم چې زنانه استعمالوی اودوی ته په کښې ډیره آسانتیا وی. دا جائزدې د دې په استعمال کښې څخه قباحت نشته.

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵٦۲] د مستحاضې دپاره هر دوؤ مونځونو لره غسل کول

۵۶۳ – (۱) [۶] ⓵ «عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ⓶ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، إِنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ أَبِي حُبَيْشٍ اسْتُحِيضَتْ مُنْذُ كَذَا وَكَذَا فَلَمْ تُصَلِّ. ⓷ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سُبْحَانَ اللّٰهِ، إِنَّ هٰذَا مِنَ الشَّيْطَانِ. ⓸ لِتَجْلِسْ فِي مِرْكَنٍ، ⓹ فَإِذَا رَأَتْ صُفَارَةً فَوْقَ الْمَاءِ فَلْتَغْتَسِلْ لِلظُّهْرِ وَالْعَصْرِ غُسْلًا وَاحِدًا، ⓺ وَتَغْتَسِلْ لِلْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ غُسْلًا وَاحِدًا، ⓻ وَتَغْتَسِلْ لِلْفَجْرِ غُسْلًا وَاحِدًا، وَتَوَضَّأْ فِيمَا بَيْنَ ذٰلِكَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ⓵ بي بي اسماء بنت عُمیس رضی الله عنها وايي ⓶ چه ما نبي کریم ﷺ تـه عـرض وکـړو چې یا رسول الله ﷺ فاطمه بنت ابي حبیش رضی الله عنها ته (اول ځل) د دومره مـودې څخـه استحاضـه راځي او هم ددې وجې (هغې دا خیال کولو چې شاید دا هم د حیض پـه حکـم کـې وي) مـونځ

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الطهارة /باب من قال تجمع بين الصلاتين وتغتسل لهما غسلا (رقم-۲۹۶)

نه کوي ۳ حضور ﷺ وفرمايل سبحان الله دا مونځ پريښودل خو شيطاني اثر دي ۴ هغې ته پکار دي چې په يو لګن کې اوبه اچولو سره کيني ۵ کوم وخت چې په اوبو زيړ والې معلوم شي نو د ماسپښين او مازيګر د پاره دي يو غسل وکړي ۶ او د ماښام او ماسخوتن د پاره دي يو غسل وکړي ۷ او د فجر (سحر) د پاره دي جدا يو غسل وکړو (او هرکله چې ضرورت وي نو د مازيګر او ماسخوتن د پاره دې) د ددې دواړه په مينځ کې اودس وکړي، دا روايت ابوداؤد نقل کړي دي او ويلي يې دي

حل اللغات: ① مِرْكَنٍ: أي ظَرْف كَبِيرٌ: لوئي لوښې، خانک، لګن، ② صُفَارَةً: زيړوالې.

تسهيلات:

قوله: لِتَجْلِسَ:

د تجلس په مفهوم کښې دوه اقوال: ① يعني دغسل دپاره دې د يوټب سره کينى ② دماسپښين آخرى وخت اودمازيګراول وخت معلومولودپاره دې د يوټب په خواکښې کينى.

قوله: فَإِذَا رَأَتْ صُفَارَةً فَوْقَ الْمَاءِ:

د ماسپخين اومازيګر مونځونو کولو وخت: يعنى چه دنمررنګ بدل شى اوداوبودپاسه د نمر درنګ زيړوالې ښکاره شى يعنى د ماسپخين آخرى وخت شى اودمازيګراول وخت راشى نوهغه وخت دې غسل کولوسره دواړه مونځونه خپل خپل وخت کښې اداکړى. د زيړرنګ نه دمازيګرمکروه وخت مرادنه دې بلکه دماسپخين آخرى وخت مراددې په کوم کښې چه نمر يوقسم بدل شان شى.

قوله: وَتَوَضَّأُ فِيمَا بَيْنَ ذَلِكَ:

دغسل باوجود د اودس کول: يعنى دماسپخين اومازيګردپاره چه کله يوغسل اوکړى نو د مازيګر دپاره دې ددغه غسل باوجود اودس هم اوکړى اوکله چه د ماښام اوماسخوتن دپاره يوغسل اوکړى نود ماسخوتن دپاره دې يو اودس هم اوکړى اود سحردپاره دې جدا يوغسل اوکړى. د مستحاضه په احکام غسل کښې د تخفيف داړومبئى مرحله ده دې نه پس تخفيف اودس پورې اوشو.

۵۶۳-(۱)[۰] ۱ رَوَى مُجَاهِدٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: ۲ «لَمَّا اشْتَدَّ عَلَيْهَا الْغُسْلُ، ۳ أَمَرَهَا أَنْ تَجْمَعَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ»

ترجمه: ۱ چې مجاهد رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنهما ځخه نقل کړي دي ۲ چې کله فاطمي رضي الله عنها ته (د هرلمانځه د پاره) غسل کول مشکل معلوم شو ۳ نو حضور ﷺ هغې ته په يو غسل سره د دوو لمونځونو يو ځاي کولو حکم وکړلو.

(الحمد لله کتاب الطهارة ختم شو.)

(۱) اخرجه ابوداود ابوداود کتاب الطهارة/باب من قال تجمع بين الصلاتين وتغتسل لهما غسلا(رقم-۲۹۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۴] كِتَابُ الصَّلَاةِ

خلاصة الباب:

فيه ستة عشر حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① تكفير الذنوب الصغائر بالصلوة: ۱، ۲، ۳، ۴، ۱۱، ۱۲، ۱۳۔

② كون الصلاة سبب المغفرة ودخول الجنة : ۷، ۸، ۱۴۔

③ ترك الصلوة من أعمال الكفر وسبب برآءة ذمة الله ورسوله) ۶، ۱۰، ۱۵، ۱۶۔

④ كون الصلاة أحب الأعمال إلى الله تعالى: ۵۔

⑤ الأمر بالصلاة للصبيان عند سبع سنين: ۹۔

په صلاة باندې د طهارت د تقديم وجه: مونځ د عباداتو اصل او د طاعاتو بنياد دې. نوځکه دا په ټولو مشروعاتو باندې مقدم کړې شو. اوطهارت دمانځه شرط دې. او شرط مقدم وی په مشروط باندې. نوځکه کتاب الطهارة په کتاب الصلاة باندې مقدم کړې شو.

د صلاة لغوی معنی: صلاة په لغت کښې د دعا په معنی کښې راځی. لکه ﴿وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ﴾ يعنی ته د دوی دپاره دعا غواړه. بيشکه ستا دعا د دوی دپاره سبب د اطمينان دې. اود نبی ﷺ قول دې. «وصلت عليكم الملائكة» يعنی فرښتې تاسو ته دعاګانې کوی. او دنبی ﷺ قول «إذا دعی أحدكم إلى الطعام فليجب فإن كان مفطراً فليأكل وإن كان صائماً فليصل» يعنی کله چه چا ته دعوت ملاؤشی. نوهغه قبلول پکار دی. که روژه دارنه وی. خوراك دې اوکړی. اوكه روژه داروی. نوهغه دپاره دې د خير اوبرکت دعا اوکړی.

د صلاة اصطلاحی معنی: دشريعت په اصطلاح کښې د افعال معلومه ؤ او ارکان مخصوصه ؤ نوم دې. او دې افعال معلومه ؤ او ارکان مخصوصه ؤ ته صلاة ځکه وائی. چه دا د دعا په معنی مشتمل دې. د وجوب صلاة سبب ددې وخت دې. او د مونځ ادا کولو سبب دالله تعالی امر تقديری دې.

د مونځ شرطونه او ارکان: د مونځ شرطونه طهارت، سترعورت، استقبال دقبلې، وخت، نيت، او تکبير تحريمه دی. په دې موقع که څوك دا اعتراض اوکړی. چه وخت سبب دې. نو شرط څنګه شو. نوجواب دا دې. چه وخت سبب د وجوب دې. اوشرط دپاره د ادا دې. نوځه اشکال باقی پاتې نشو.

دمونځ ارکان: دمونځ ارکان قيام، قرات، رکوع، سجده، اودتشهد په اندازه آخری قعده.

د مونځ حکم: ددې حکم په دنيا کښې د ذمه نه د واجب سقوط دې. اوپه آخرت کښې دهغه ثواب حاصليدل دی. چه وعده نې شوې ده.

د مونځ د فرضیت دلائل: د مونځ فرضیت په کتاب، سنت او اجماع درې وارو باندې ثابت دې. ① کتاب الله مثلاً ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ﴾ او ﴿إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَوْقُوتًا﴾ دې.
② او سنت د رسول الله ﷺ لکه رسول الله ﷺ فرمائي . «إن الله تعالى فرض على كل مسلم ومسلمة في كل يوم وليلة خمس صلوات»
③ او اجماع دا ده.چه د نبی ﷺ د زمانې نه واخله تر اوسه پورې د مونځ په فرضیت باندې د ټول امت اجماع ده.

د سورة بقرې نه د پنځو مونځو د فرضیت اثبات: داخبره چه مونځونه پنځه دی.دا هم دکتاب الله نه ثابته ده.الله تعالی فرمائي.﴿حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى﴾ دا آیت د مونځ په فرضیت هم دلالت کوی.اودا چه دا پنځه دی.دا په دې طریقه چه الله تعالی د ټولو مونځونو د محافظت حکم کړې دې.او په دې باندې ئې د ،،صلاة وسطی،،عطف کړې دې. اواقل د جمعې چه وسط په کښې متحقق وی. څلور دی. نو په ،،علی الصلوات،، کښې د څلورو مونځونو ذکر دې.او په صلاة وسطی کښې د یویل مونځ. نو داسې دا پنځه مونځونه شو.

د مونځ د فرضیت تاریخ: باقی پاتې شوه داخبره.چه مونځ کله فرض شوې وو.او د مونځ دفرضیت نه وړاندې د نبی ﷺ دعبادت طریقه څه وه؟ نو په دې باندې خو د تاریخ او سیرت د ټولو عالمانو اتفاق دې.چه مونځ د معراج په شپه باندې فرض شوې دې.خو بیا دمؤرخینو د معراج د شپې په باره کښې اختلاف دې.چه دا په کوم کال کښې واقع شوې وه.نو د نبوت د پنځم کال نه تر لسمه پورې په کښې مختلف اقوال منقول دی.جمهور عالمان د پنځم کال قائل دی.

د پنځو مونځو په فرضیت کښې حکمتونه: دَمونځونودَ فرض کیدودَپاره اصل علت او سبب خودَ الله تعالی حکم دې. بیا دَهرمونځ دَ پاره دَ هغې وخت دَ هغې سبب دې. شیخ عبدالحق رحمه الله په لمعات کښې دَ پنځو مونځونودَپاره دَ پنځو وختونو چه کوم حکمت بیان کړې دې دَهغې خلاصه داسې ده. فرمائی

① انسان چه کله دَ شپې اوده کیږی نوهغه دَ الله تعالی دَ ډیرو زیاتو نعمتونودَ شکر ادا کولونه پاتې کیږی اوترڅو چه هغه دَخپل سکون او امن او صحت دَ نعمت نه هم غافل کیږی. دغه شان هغه دَخپل کار روزګار نه هم عاجز کیدوسره دَمړی په حکم کښې کیږی. دَ شپې تیریدونه پس چه کله ورځ راغله نوالله تعالی په دې بنده باندې دَ سحرمونځ فرض کړو چه دَ شپې دَ ټولو کوتاهو معافی اوکړې شی اودَ مرګ نه پس چه الله تعالی هغه ته کوم ژوند ورکړو دَ هغې په بهتره طریقه سره شکر اداشی.

② بیا چه دا انسان دَ الله تعالی په ورکړې شوې قوتونو سره دَ ژوند اسباب لټوی. اودَ

Maktaba Tul Ishaat.com

ورځې په رڼاکښې نیکئی حاصلوی اوحلال رزق ګټی. نوچه کله دا نعمت انسان ته حاصل شو نوالله تعالی دَدې نعمت دَ شکر اداکولودَپاره په دې انسان باندې دَ ماسپښین مونځ فرض کړو.

③ بیا دَ انسانانوعام عادت دې چه هغه دَ غرمې په وخت کښې اوده کیږی دې دَپاره چه آرام اوکړی. دَ دغه خوب په وجه سره چه په ذکرالله او عبادت کښې کومه کوتاهی کیږی دَهغې دَپاره نې دَ مازیګرمونځ فرض کړو چه دَ دغه کوتاهئی په ځائی راشی.

④ بیا عام عادت دې چه دَمازیګر په وخت کښې انسان په خپلو مشاغلوکښې او کار روزګارکښې ډیر زیات مشغول کیږی او په بازارونوکښې ګرځیدو سره بیا دَ غفلت ښکار کیږی. دغه شان دَ ټولې ورځې دَ نعمتونو تکمیل کیږی په دې وجه دَدې شکر اداکولواودَ ګناهونودَ ختمولو دَپاره الله تعالی دَ ماښام مونځ فرض کړو.

⑤ بیا چه کله انسان دَ هرقسم آفتونونه بچ کیدوسره دَ ورځې په ختمیدو باندې یوښه انجام ته اورسیدو نودَ حسن خاتمه شکر ادا کولو په ده باندې لازم شو په دې وجه الله تعای دَ ماسخوتن مونځ فرض کړو. دې دَپاره چه دَ "ختامه مسك" مصداق جوړشی.

[اشعة اللمعات: ۲۰۵-۲۰۴]

د مونځ د فرضیت نه وړاندې د تهجدو د مونځ په فرضیت کښې اقوال: ① د امام شافعی رحمه الله قول دې.چه د معراج نه وړاندې د تهجدو مونځ فرض وو.

② دزیاتوعالمانوهم دا خیال دې.چه د پنځو مونځونو نه وړاندې څه مونځ فرض نه وو.

د اول فریق دلیل: د سورت مزمل اولنی آیاتونه ﴿قم اللیل الا قلیلا﴾ د دوی مستدلات دی.دا سورت په مکه کښې بالکل په اولنئ زمانه کښې نازل شوې وو.

د اول فریق د دلیل جواب: په سورت مزمل کښې د مونځ حکم مدنی دې.ځکه چه ددې سورت په آخر کښې ﴿وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ﴾[مزمل: ۲۰]راغلی دی. او قتال په مدینه منوره کښې شروع شوې وو.خو دا خبره صحیح نه ده.ځکه چه د قتال ذکر په دې سیاق کښې دې. ﴿عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ اللَّهِ وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ﴾ په دې آیت کښې صیغه د مستقبل ده.دا په دې باندې دلالت کوی.چه دا حکم به روستو ورکولې شی.اود آیت د نزول په وخت کښې قتال نه وو.نوکه دا سورت مکی اوګنړلې شی .په دې کښې څه قباحت نشته.نو داامام شافعی رحمه الله استدلال ټیک دې.خو د بعضې عالمانو قول دې.چه د تهجدو مونځ صرف په نبی ﷺ باندې فرض وو.په باقی امت باندې فرض نه وو.

د مونځ د فرضیت نه وړاندې د بل مونځ په فرضیت کښې اقوال: ① د بعضې عالمانو رحمهم الله دا خیال دې.چه د صبا او ماښام مونځ د معراج دشپې نه وړاندې فرض شوی وو.

دوِل فريق دليل: دا آيت د دوی مستدل دي ﴿وَسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ﴾ آل عمران: ۴۱»دا آيت د معراج نه وړاندې نازل شوې دې.او په دې کښې هم ددې دوو مونځونو ذکر دې.

تحقيقي قول: په دې باره کښې تحقيقي خبره دا ده.چه دومره خبره خو د رواياتو نه ثابته ده.چه نبی ﷺ او صحابه کرامو ﷺ به د معراج نه وړاندې دصبا او ماښام مونځونه کول.په سورت جن کښې چه د جناتو د قرآن اوريدو کومه واقعه راغلې ده.هغه د صبا په مانځه کښې پيښه شوې وه.اوغالباً دا د معراج نه وړاندې وه.خودا دواړه مونځونه په نبی ﷺ فرض وو.که دوی به دا نفلي کول.نوددې څه دليل او صراحت په رواياتو کښې نشته.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

٥٦٤- د وړوکښناهونو معاف کونکی اعمال

٥٦٣- ()[1] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ، وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ، وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ ;③ مُكَفِّرَاتٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ ④ إِذَا اجْتُنِبَتِ الْكَبَائِرُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: ① حضرت ابوهريره رضی الله عنه راوي دي چه رسول الله ﷺ وفرمايل ② چه پنځه لمنځونه او دجمعي څخه ترجمعي پورې او د رمضان څخه تر رمضان پورې ③ هغه ګناهونه رژوي (معاف کيږي) چې د دې په مينځ کې شوې وي، ④ که يو سړي د کبيره ګناهونو څخه بچ اوسي (.مسلم.)

حل اللغات: ① مُكَفِّرَاتٌ: دَ تکفير نه دَ کفاره په معنی کښې دې مراد دګناهونو کفاره او معاف کول اوختمول دی. ② اجْتُنِبَتِ: دا دَ اجتناب نه دَ مجهول صيغه ده، چه بچ اوساتلې شو.

تسهيلات:

قوله: "الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ" داکلمه خپل معطوفات سره مبتداء واقع ده اودَ "مکفرات" کلمه دَدې خبردې.

بعضې واړه ګناهونه معاف کونکی اعمال: دَ حديث شريف مطلب دادې چه دَ پنځومونځونو په مينځ کښې کوم واړه ګناهونه کيږی هغه دَ دغه مونځونو په ادا کولوسره ختميږی او معاف کيږی. دغه شان دَ يورمضان روژې ساتلو سره دَ بل رمضان پورې دَ ټول کال ګناه په دغه روژوسره ختميږی اومعاف کيږی.

---

[1] اخرجه مسلم كتاب الطهارة باب الصلوات الخمس والجمعة إلى الجمعة، ورمضان إلى رمضان مكفرات لما بينهن ما اجتنبت الكبائر(رقم-١٦ - (٢٣٣) والترمذی كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فی فضل الصلوات الخمس(رقم-٢١٤) واحمد فی مسند:٣٥٩/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

دا بحث ورانـدې تيرشوې دې چه نيك اعمال كولوسره په اتفاق سره واړه گناهونه معاف كيږي. دَ قرآن كريم آيت ﴿إِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ﴾ [هود: ۱۱۴]. نه هم دغه صغائرمراد اخستې شوي دي سره دَدې چه بعض علماؤ دَ كبائرهم قول كړې دې ليكن دَ جمهور علماؤ په نيزدَ كبائردَمعافئى دَپاره توبه كول ضروري دي. دغه شان دَ حقوق العباد دَمعافئى دَپاره ضروري دي چه دَ صاحب حق نه معافي اوغوښتلې شي. خلاصه دا چه په نيكو اعمالوسره صغائرمعاف كيږي اوكه توبه ئې اوكړه نو كبائرهم معاف كيږي اوكه توبه ئې اونه كړه نو په كبائركښې تخفيف ضرور كيږي.

د حديث په مفهوم کښې دوه اقوال: "لمابينهن" ①دَدې جملې يومطلب دادې چه دَ يوې ورځې پنځه واړه مونځونه واخله دَ بلې ورځې دَ پنځو مونځونو په مينځ كښې دَ دوو ورځو كوم صغائردي هغه معاف كيږي.

② دويم مطلب دادې چه دَهرو دوو مونځونو په مينځ كښې كومه گناه كيږي په دغه مونځونوسره هغه گناه معاف كيږي. په لمعات كښې شيخ عبدالحق رحمه الله ليكلي دي چه هم دغه دويم مطلب دلته مراد دې او احاديث په دې باندې دلالت كوي. [اشعة اللمعات: ۲۹۸، ۲۹۹]

اشكال: كله چه په يومونځ يا روژه سره او دَ جمعې په مونځ سره دَ بلې جمعې پورې ټول صغائرمعاف كيږي نو بيا په اودس كولواوجمات ته په تللوسره او بل مونځ سره څه معاف كيږي؟ ځكه چه صغائرخو ټول په اول معاف شوي دي؟

جواب: دَدې جواب دادې چه په نورو نيكوسره به دَ دغه سړي درجې اوچتيږي او نورې نيكئى به دَهغه په عمل نامه كښې جمع كيږي. شيخ رحمه الله په لمعات كښې ليكلي دي چه دَ صغائردَختميدوداصفت په هره نيكئى كښې موجوددې كه يوختم كړل نودېره ښه ده اوكه ټولو په يوځائى ختم كړل نو نور على نور به شي. [اشعة اللمعات: ۲۹۹]

قوله: "إِذَا اجْتُنِبَتِ الْكَبَائِرُ" په دې حديث كښې دا بحث دې چه آيا دَ صغائرمعافئى دَپاره اجتناب على الكبائر شرط دې يا شرط نه دې؟

د گناهونو درې صورتونه: په دې كښې داتفصيل دې چه دلته درې صورتونه دي.

① كه دَ يوسړي گناهونه صرف صغائردي اودكبائرنه هغه سړې پاك دې نو په دې باندې اتفاق دې چه دَهغه به ټول گناهونه معاف شي.

② دَ دغه سړي ټول گناهونه كبائردي نو په دې باندې هم اتفاق دې چه دَ توبې كولونه بغيربه دَهغه هيڅ گناه نه معاف كيږي الاماشاء الله.

③ دريم صورت دادې چه دَ يوسړي صغائرگناهونه هم دي اوكبائرهم دي.

د صغائرو د مغفرت دپاره د كبائرو څخه د اجتناب په شرطيت كښې مذاهب:

① په دريم صورت كښې دَمعتزله مسلك دادې چه دَ كبائر په موجودګئ كښې صغائرنه شې معاف كيدې اود كبائر دَمعاف كيدوخو هډو سوال نه پيدا كيږى. هغوى وائى دَ صغائر دَمعاف كيدو دَپاره اجتناب على الكبائر شرط ګرځولې شوې دې

② جمهور اهل سنت والجماعت فرمائى چه دَ صغائر دَمعاف كيدو دَپاره اجتناب على الكبائر شرط نه دې دَ كبائر په موجودګئ كښې هم په نيكو اعمالو سره صغائر معاف كيږى

داول فريق دليل: دَوى د زيربحث حديث څخه استدلال كوى خكه چې په دې كښې د صغائرو د مغفرت دپاره د كبائرو څخه اجتناب شرط ګرځولې شوې دې.

د اول فريق د دليل جواب: دا استدلال صحيح نه دې خكه چه "اذا اجتنبت الكبائر" جمله دَ استثنٰى په ځائى كښې واقع وى هغه دَ ماقبل دَپاره شرط نه وى نومطلب به دا شى چه په نيكو اعمالو صغائر معاف كيږى كبائر به نه معاف كيږى.

د دويم فريق دليل: اكثر احاديثو كښې مطلقًا دَ څه شرط نه بغير دَ صغائر دَمعاف كيدو ذكر راغلې دې. (كذا قاله النووى)

٥٦٥–د مانځه په سبب د ګناهونو معاف كيدل

٥٦٥–()[٢] ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهَرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسًا، ③ هَلْ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ؟ قَالُوا: لَا يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ. ④ قَالَ: "فَذَلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ، يَمْحُو اللهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دې چې نبي كريم ﷺ صحابهٔ كرام رضي الله عنهم مخاطب كولو سره وفرمايل ② تاسو وښايئ كه په تاسو كې د چا د دروازي مخې ته د اوبو وَاله بهيږي اوهغه په هغې كې پنځه وخته لمبيږي ③ نو آيا د هغه په بدن باندې د خيري څخه هم څه پاتې شي؟ صحابه وو رضي الله عنهم عرض اوكړو نه ،خيري به بالكل باقي نه پاتي كيږي ④ حضور ﷺ وفرمايل نو پوهه شئ چې دا مثال دې د پنځو لمونځونو چې الله تعالٰى جل جلاله ټول (صغيره) ګناهونه د دې لمونځونو په سبب داسې ختموي (څنګه چې اوبه خيري لرې كوي) (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① أَرَأَيْتُمْ: أَخْبِرُونِي: خبر راكړئ ماته، ② دَرَنِهِ: أَيْ: وَسَخِهِ: خيري، خيرن والې، ③ يَمْحُو: رجوى، ورانوى.

(١) اخرجه البخارى كتاب مواقيت الصلوة باب: الصلوات الخمس كفارة (رقم-٥٢٨) ومسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة باب المشى إلى الصلاة تمحى به الخطايا، وترفع به الدرجات ر قم(٢٨٣ - ٦٦٧) والترمذى كتاب الأمثال عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب مثل الصلوات الخمس(رقم-٢٨٦٨) والنسائى كتاب الصلاة/ باب فضل الصلوات الخمس(رقم-٤٦٢) واحمد فى مسنده ٣٧٩/٢ والدارمى كتاب الصلاة/باب فى فضل الصلوات (رقم-١٢٢١)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات:

دحدیث د بعضې جملو وضاحت:

① "أَرَأَيْتُمْ" اي اخبروني یعنی ماته اوښایه.

② "لَوْأَنَّ نَهْرًا" اي لوثبت ان نهر یعنی فرض کړه دچا دروازې سره د پاکوصفا اوبو نهر موجود وی.

③ "هَلْ يَبْقَى؟ هل يبقى" داجمله په محل د استفهام کښې ده یعنی د استفهام نه مقصود هم دغه جمله ده.

④ "مِنْ دَرَنِهِ" په بدن کښې خیری وغیره ته درن وائی د دې جمع ادران راځی.

⑤ "فَذَلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ" دلته د فاء کلمه د شرط محذوف په جواب کښې واقع ده عبارت داسې دې "اذا اقررتم ذلك وصح عندكم فهومثل الصلوة" [الكاشف عن حقائق السنن: ۱۷۳/۲] (كذا قال الطيبي)

د تشبیه وجه: په دې حدیث کښې په بدن باندې ظاهری خیری وغیره ته د ګناه سره تشبیه ورکړې شوې ده او د مونځ تشبیه ئې د اوبو سره ورکړې ده لکه څنګه چه د ظاهری خیری وغیره ختمیدل په اوبو سره کیږی دغه شان د باطنی خیری وغیره ګناهونو د ګندګئ ختمیدل په مونځ سره کیږی.

اشکال: په اوبو سره د وړوکې پلیتئ او غټې پلیتئ هرقسم ختمیدل کیږی حالانکه په مونځ سره صرف واړه ګناهونه ختمیږی لوئی نه؟

د اشکال جواب: دلته تشبیه ټولو اجزاؤ کښې نه ده بلکه بعضې اجزاء کښې ده اوهغه وړه ګناه ده لکه څنګه چه وړه پلیتی صرف د اوبو په خوېولو سره ختمیږی د مړلو ضرورت نه وی. دغه شان مونځونو سره صرف واړه ګناهونه معاف کیږی د توبې ضرورت نه وی.

۵۲۲- د ټولو امت په نیکو باندې د ګناهونو معاف کیدل

۵۲۲-(۱)[۳] [۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «إِنَّ رَجُلًا أَصَابَ مِنِ امْرَأَةٍ قُبْلَةً، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ، [۳] فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: ﴿وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾ [هود: ۱۱۴] [۴] فَقَالَ الرَّجُلُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلِي هَذَا؟ قَالَ: "لِجَمِيعِ أُمَّتِي كُلِّهِمْ» [۵] "وَفِي رِوَايَةٍ: "لِمَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ أُمَّتِي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي [۲] يو سړي د يو (غير) ښځې څخه مچې (ښکل) واخسته بيا (د احساس ندامت اوشرمندګۍ سره) د رسول کريم ﷺ په خدمت اقدس کې حاضر شو

---

(۱) اخرجه البخارى كتاب مواقيت الصلوة باب: الصلاة كفارة (رقم-۵۲۶) ومسلم كتاب التوبة باب قوله تعالى: {إن الحسنات يذهبن السيئات} [هود: ۱۱۴] رقم (۳۹ - (۲۷۶۳) والترمذى كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب: ومن سورة هود (رقم-۳۱۱۴) واحمد فى مسنده: ۳۸۵/۱

او د واقعې څخه یې خبر کړو او د دې حکم یې د نبی کریم ﷺ څخه وپوښتلو حضور ﷺ هیڅ جواب ورنه کړو بلکه د وحې په ذریعه دحکم الهی منتظر وو په دې اثناء کې هغه سړي مونځ اوکړو③ نو الله تعالی ﷻ دا ایت نازل کړو ﴿وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾ او مونځ د ورځې اول او آخر د شپې څو ساعتونوکې کوه ځکه چې نیکې (یعنې لمونځونه) بدې ختموي،④ د آیت نازلیدو څخه وروسته هغه سړي عرض وکړو چې یا رسول الله ﷺ داحکم خاص زمادپاره دې (یا دپوره امت دپاره)؟ حضور ﷺ وفرمایل نه دا حکم زما د پوره امت د پاره دې.⑤ په یو بل روایت کې د حضور ﷺ جواب داسې مذکور دې چې حضور ﷺ وفرمایل زما په امت کې چې کوم سړي په دې آیت باندې عمل وکړي د هغه د پاره دا حکم دې [یعنی کوم سړي چې د بدې څخه وروسته نیکې وکړي هغه ته دا سعادت حاصلیږي چې دهغه نیکۍ په نتیجه کښې دهغه بدې ختمیږي] (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① أَصَابَ: أَيْ: أَخَذَ: وائې خسته، ② قُبْلَةٌ: مُچې، پَپه. ③ زُلَفًا: أَيْ: سَاعَاتٍ: دا دَ زلفة جمع ده دَ نیزدې په معنی کښې دې مراد ترینه وختونو اوساعتونه دی. ځکه چه ساعتونه هم یو بل ته نیزدې وی.

تسهیلات:

دحدیث د بعضې جملو وضاحت: ① "طَرَفَيِ النَّهَارِ" دَ ورځې دَ دوو طرفونه مراد دَ یوقول مطابق سحر اوماسپښین اول طرف دې او مازیګر اومابنام بل طرف دې.

② "وَزُلَفًا مِّنَ اللَّيْلِ" نه ماسخوتن مراد دې. دَ دویم قول مطابق سحر یوطرف دې او ماسپښین او مازیګر بل طرف دې. اودَ "زلفامن اللیل" نه مراد مابنام اوماسخوتن دواړه دی [الكاشف: ۱۷۳/۲].

قوله: "إِنَّ رَجُلًا"

د رجل نوم او د حدیث شان ورود: شارحینو لیکلی دی چه دَدغه سړی نوم ابوالیسر وو. هغه له دکهجورو اخستودَپاره یوه انصاری ښځه راغله. دَدغه سړی دا ډیره خوښه شوه نوهغې ته ئی اووئیل چه ماسره په کورکښې دَدې نه زیاتې ښائسته کهجورې دی هغه اوګوره. کله چه دغه ښځه دَهغه کورته راغله نوهغه دغه ښځه راغاړه ویسته او ښکل ئی کړه. هغه ښځې اووئیل دَ الله تعالی نه اوویریږه. دې اوریدوسره هغه سړې په خپلو کړو باندې پښیمانه شو اودَ کورنه بهر راؤوتلو. حصرت ابوبکرصدیق ؓ راروان وو هغه سړی دَ خپل دې غلط حرکت ذکر دَهغوی په مخکښې اوکړو. حضرت ابوبکر ؓ اوفرمائیل توبه اوکړه اوبیا داسې ګناه اونه کړې. دا سړې بیا نبی کریم ﷺ له راغلو اوټوله قصه ئی ورته بیان کړه. [الكاشف عن حقائق السنن: ۱۷۳/۲ وفی اللمعات: ۲۹۹]

Maktaba Tul Ishaat.com

د صغائرو معاف کیدل: په دې حدیث کښې سیئات یعنی ګناهونه اودې نه مخکښې والا حدیث کښې خطایا یعنی ګناهونو کوم الفاظ چه راغلی دی. دَ هغې نه ګناه صغیره یعنی وړه ګناه مراد ده. نور دَدې حدیث نه دامعلومه شوه چه دَ یوې ښځې صرف ښکلول سره دَدې چه دَ فتنې محل دې مګردا په غټوګناهونوکښې داخل نه دی اوکه چرې زنا ئې اوکړه نوبیا دا ټول ښکلول راښکلول اوکتل اوریدل ټول به په غټوګناهونوکښې شمیرلې کیږي.

۵۷۶ــد صحابو د الله نه ویره

۵۷۶ــ()[۴] [١] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢]«جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْهُ عَلَيَّ. [٣] قَالَ: وَلَمْ يَسْأَلْهُ عَنْهُ. وَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ، فَصَلَّى مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ، [۴] قَامَ الرَّجُلُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أَصَبْتُ حَدًّا، فَأَقِمْ فِيَّ كِتَابَ اللَّهِ. قَالَ أَلَيْسَ قَدْ صَلَّيْتَ مَعَنَا قَالَ نَعَمْ [۵] قَالَ: "فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ غَفَرَ لَكَ ذَنْبَكَ. أَوْ حَدَّكَ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت انس رضی الله عنه فرمایي[٢] چه یو سړي د نبي کریم ﷺ په خدمت کې عرض اوکړو چې یا رسول الله ﷺ زما څخه یو داسې کار شوې دي چې په هغې حد واجب دي نو ته په ما حد جاري کړه[٣] د راوي بیان دي چه حضور ﷺ د هغه څخه د حد متعلق هیڅ معلومات ونه کړل او د مونځ وخت راغي هغه سړي د حضور ﷺ سره مونځ وکړو کوم وخت چې حضور ﷺ د لمانځه څخه فارغه شو[۴] نو هغه سړي ودریدلو بیا یي عرض وکړو یا رسول الله ﷺ زما څخه داسې کار شوې دي چې واجبونکي دحد دي نو ته زما په باره کې د الله جل جلاله حکم نافذ کړه[۵] حضور ﷺ وفرمایل ایا تاز زمونږ سره مونځ ونه کړو ؟ هغه اوویل چې هو حضور ﷺ وفرمایل چه الله جل جلاله ستا خطا، یا وي فرمایل ستا حد بخښلي دي، (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① أَصَبْتُ حَدًّا: أَيْ: فَعَلْتُ شَيْئًا يُوجِبُ الْحَدَّ: یعنی داسې ګناه مې کړې ده چه حد پرې واجبیږي. ② فَأَقِمْهُ: قائم ئې کړه، نافذ کړه دا (حد).

تسهیلات:

قوله: "أَصَبْتُ حَدًّا"

دحسناتو سره د کبائرو په معاف کیدو باندې اشکال: دلته دا اشکال دې چه دغه سړي پخپله اقرار اوکړو چه ما لوئی ګناهونه په شان دَ غلا او شرابوڅکلووغیره کړي دی او حضورپاك دَ مونځ په اداکولوسره دَ هغې دَ بخښنې اعلان اوکړو په کوم سره چه معلومه شوه چه مونځ وغیره نیکواعمالوسره دَ وړې ګناه نه علاوه لوئی ګناهونه هم معاف کیږي حالانکه معامله داسې نه ده؟

(١) اخرجه البخاری کتاب الحدود باب البکران یجلدان وینفیان (رقم-۶۸۳۳) ومسلم کتاب التوبة باب قوله تعالی: {إن الحسنات یذهبن السیئات} [هود: ١١٤] رقم(٤٥ - (٢٧٦٥)

داشکال جوابونه: ① دغه سړي بشیمانه کیدو سره په ډیر اخلاص سره توبه اوکړه په کوم سره چه دَ هغه لویه ګناهم معاف شوې وه. په مونځ کولو سره هغه ته صرف زیرې ورکړې شو. بهرحال څواحتمالات دی په دې وجه څه اشکال نشته دې. [الکاشف: ۲/۱۷۴]

② دې سړی په تعزیر باندې دَحد استعمال اوکړو دَ هغه ګناه دَ تعزیر سبب وو کومه چه وړه وه.

③ دَدغه سړی لوئی ګناهونه نه وولیکن هغه دَ خپل خان نه دا ګمان کړې وو چه زما ګناه ډیره لویه ده. دَ الله تعالی نه ویریدونکی وړه ګناه هم لویه ګڼړی.

دَ ګناه نوعیت معلومولو څخه اعراض ولې وشو؟ حضورپاك دَ دغه سړی دَ ګناه دَ نوعیت معلومولوباره کښې تحقیق اوتفتیش ولې اونه کړې شو که دَ هغه ګناه لویه وی؟

اشکال جواب: حضورپاك ته به دَ وحی، الهام یا دَ کشف په توګه معلومه شوې وی چه دَدغه سړی ګناه وړه ده لویه نه ده ګنی که هغه سړی په حقیقت کښې دَحد ګناه کړې وه نودَ حد مقدمه دَ حاکم عدالت ته رسیدونه پس دَ حد جاری کولو نه بغیر هیڅ حاکم معاف کولې نه شی. "اوحدك"دَ راوی په دې کښې شك شوې چه حضورپاك دَ "حدك"لفظ ارشاد کړې وو یا دَ "ذنبك" ئی فرمائیلې وو. دَدې نه دَ محدثینوحضراتو دَ احتیاط اندازه کیږی چه هغوی دَ حضورپاك دَ ارشاد فرمائیلو الفاظو نقل کولو کښې څومره اندازې سره اهتمام کوی.

۵۶۸–په عباداتو کښې بهترین عمل

۵۶۸–()[۵] [۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ الْأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى؟ [۳] قَالَ: الصَّلَاةُ لِوَقْتِهَا". [۴] قُلْتُ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: بِرُّ الْوَالِدَيْنِ. [۵] قُلْتُ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ. [۶] قَالَ: حَدَّثَنِي بِهِنَّ، وَلَوِ اسْتَزَدْتُهُ لَزَادَنِي». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابن مسعود رضی الله عنه فرمايي [۲] چه ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې الله تعالی جل جلاله ته کوم عمل د ټولو څخه زیات خوښ دي؟ [۳] حضور ﷺ وفرمایل په وخت مونځ کول (يعني په مکروه وخت کې مونځ او نه کړي شي) [۴] ما اوویل بیا کوم عمل بهتر دي؟ وي فرمایل د مور اوپلار سره نیك سلوك كول [۵] ما عرض وکړو بیا کوم عمل بهتر دي؟ حضور ﷺ وفرمایل د الله په لار کې جهاد کول، [۶] ابن مسعود رضی الله عنه فرمايي چه حضور ﷺ دا دري خبري فرمايلي وي که ما زياتي پوښتني کړي وي نو حضور ﷺ به د دې څخه هم زیات بیان فرمایلي وي، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① بِرٌّ: نیکی، ښه سلوک.

(۱) اخرجه البخاری کتاب مواقیت الصلوة باب فضل الصلاة لوقتها (رقم-۵۲۷) ومسلم کتاب الایمان بیان کون الإیمان بالله تعالی أفضل الأعمال (رقم) ۱۳۹ - (۸۵) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الوقت الأول من الفضل (رقم-۱۷۳) والنسائی کتاب المواقیت/ باب فضل الصلاة لمواقیتها(رقم-۶۱۰) واحمد فی مسنده: ۱/۴۰۹

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: "أَيُّ الْأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللّٰهِ تَعَالٰى؟" يعنى په عملونوکښې دَ ټولو نه غوره عمل کوم يو دې.

سوال يو او جوابونه مختلف ولې؟ دَ ټولو نه غوره او اوچت خو هم يو څيز کيدې شي. ليکن په احاديثو کښې چه رسول الله ﷺ نه دَ ټولو نه دَ غوره عمل باره سوال اوکړې شونو حضور پاك په جواب کښې مختلف عملونه غوره ګرځولی دی. مثلاً په زير بحث حديث کښې "الصلوة لوقتها" ئې ټولو نه غوره ګرځولی دی.

دَ حضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه په حديث کښې "ايمان بالله وجهاد فی سبيل الله" ئې غوره ګرځولی دی. په يو حديث کښې "اطعام الطعام" غوره ګرځولې دې. يو بل حديث کښې "ان يسلم المسلمون من يده ولسانه" ته دَ ټولو نه بهتر عمل وئيلې شوې دې. يو حديث کښې "ذکر الله" ته دَ ټولو نه غوره عمل وئيلې شوې دې. په يو حديث کښې "ان افضل الاعمال جهاد لاغلول فيه" دَ ټولو نه غوره عمل ګرځولې شوې دې. او په يو حديث کښې "ان احب الاعمال الی الله ادومه" راغلې دې. نو دَ سوال مقصد دادې چه دَ حضور پاك دَ ژبې مبارکې نه دا مختلف جوابونه څنګه راغله؟

داشکال جوابونه: دَ حديث شارحينو حضراتو دَ دې سوال مختلف وجوهاتو دَ وجې نه جوابونه ورکړی دی. په بنيادی توګه باندې په دې خبره باندې ځان پوهه کول ضروری دی چه فضيلت کليه صرف ايمان ته حاصل دې په عملونو کښې يو عمل ته کلی فضيلت حاصل نه دې البته افضليت جزئی وی. نو دَ عملونو باره کښې چه دا مختلف جوابونه راغلی دی داخويا دَ سوال کونکو په اعتبار سره اختلاف راغلې دې چه په هر يو سوال کونکی کښې چه کومه عملی کمزوری وه هغه ئې ورته په ګوته کړه يعنی ستا دَ پاره او ستا مناسب خو دَ ټولو نه غوره فلانکې عمل دې په کوم کښې چه تا نه سستی کيږی.

② کوم کوم ځائی کښې دَ اسم تفضيل صيغه استعمال کړې شوې ده دَ هغې نه مراد نفس فعل او مطلق فضيلت دې په يو بل عمل باندې اوچتوالې مقصود نه دې.

③ دَ زمان او وخت په اعتبار سره ئې يو عمل دَ ټولونه غوره ګرځولې شوې دې. مثلاً دَ جهاد په زمانه کښې ئې جهاد ته غوره وئيلی دی او دَ حج په موسم کښې حج غوره ګرځولې دې او په اضطراری حالت کښې دَ مضطر خوراك خوړل غوره ګرځولی دی.

④ افضل خو يو نوع يعنی قسم دې او دَ دغه نوع يو کس نه بلکه بې شميره کسان کيدې شی. نو چه کوم عمل ته غوره او وئيلې شو نو هغه به لکه دَ هغه نوع يو کس وی. دا ډير ښه جواب دې.

⑤ افضليت په مختلف اعتبارونو سره دې. مثلاً ابوبکر رضی الله عنه دَ ارحم امة په اعتبار سره افضل

دي. عمر فاروق اشدهم فی امرالله عمر په اعتبارسره افضل دي. حضرت عثمان رضی الله عنه دَ حیا په اعتبارسره او حضرت علی رضی الله عنه دَ قضاء په اعتبارسره افضل دي.

یا مثلاً جهاد دَ اعلاء کلمة الله په اعتبارسره افضل دي او مونځ دَ ذکرالله په اعتبارسره افضل دي او سلام دَتواضع په اعتبارسره دَ ټولو نه افضل دي اوصدقه دَ همدردئی او سخاوت په اعتبارسره دَ ټولو نه افضل ده نودَ دې حدیث دَ نورو احادیثوسره هډو څه تعارض نشته دي. دا جواب هم ډیر ښکلي دي.

دَ ټولو نه افضل اوغوره عمل کوم یو دي؟

د صلاة او جهاد په افضلیت کښې اقوال : دَ ایمان مقابله خوهیڅ یو عمل سره نه شی کیدي او په مونځ اوجهاد فی سبیل الله کښې فقهاؤ بحث کړې دي چه کوم یو افضل دي. ① دَ علماؤ یوه لویه طبقه دې طرف ته تلې ده چه مونځ مطلقًا افضل دي

② مګر دَ علماؤ یوه طبقه دې طرف ته هم تلې ده چه جهاد دَ ټولو نه افضل عمل دي. یادلرئی چه دا تقابل هغه وخت دي کله چه جهاد فرض کفایه وی لیکن که جهاد فرض عین شی نوبیا دَایمان نه پس دَ ټولو نه افضل عمل جهاد دي.

دحدیث د بعضې جملو وضاحت:

① "حَدَّثَنِي بِهِنَّ" په دې جمله سره حضرت ابن مسعود رضی الله عنه دَ حدیث دَ سماع تاکید کوی چه دا خبرې ماته پخپله حضورپاك مبارك بیان کړی دی او ما پخپله اوریدلی دی هیڅ واسطه نشته دي.

② "وَلَوِاسْتَزَدْتُهُ" یعنی که دَ افضلیت والا دَ خبرو باره کښې ما نور معلومات کړې وې نوحضورپاك به ماته نور عملونه بیان کړی وې لیکن ما نور سوال اونه کړو دې دَ پاره چه حضورپاك په مشقت کښې نه شی.

۵۶۹–د مؤمن او د کافر په مینځ کښې تمیز کونکې عمل

۵۶۹–()[۲] ① وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ»" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت جابر رضی الله عنه راوي دي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② مونځ پرېښودل د مؤمن بنده او د کفر په مینځ کې د یوال غورخوي. (مسلم)

(۱) اخرجه مسلم کتاب الایمان اب بیان إطلاق اسم الکفر علی من ترک الصلاة رقم (۱۳۴ - (۸۲) وابوداود کتاب الدیات/باب فی رد الإرجاء(رقم-۴۶۷۸) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، باب ما جاء فیمن ترک الصلاة(رقم-۱۰۷۸) والترمذی کتاب الإیمان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی ترک الصلاة (رقم-۲۶۱۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: "بَيْنَ الْعَبْدِ" يعنى دَ مسلمان اوكفرپه مينځ كښې پرده او بنديز مونځ دې.

اشكال: دَدې حديث دَ ظاهري الفاظونه يو اشكال پيدا كيږى هغه داسې چه دَ ظاهرى الفاظو مطلب دادې چه دَ بنده اوكفرپه مينځ كښې فرق كونكې څيز ترك الصلوة دې حالانكه دَبنده اوكفر په مينځ كښې فرق كونكې څيزدَمونځ كول دى نه چه ترك كول دى؟

داشكال جوابونه: ① قاضى عياض رحمه الله دا جواب وركړې دې چه دلته په حديث كښې چه "بين" كوم لفظ دې داظرف دې او هريوظرف دَ خپل ځان دَ پاره يومتعلق غواړى نودَ دغه ظرف متعلق محذوف دې كوم چه دَ وصلة لفظ دې. تقديرى عبارت داسې دې "ترك الصلوة وصلة بين العبد والكفر" يعنى مونځ پريخودل سړې كفر طرف ته اورى. په دې دواړو توجيحاتو كښې رومبې ډير واضح دې سره دَدې چه په دې كښې تاويل دې. [الكاشف: ۲/۱۷۷]

② علامه طيبى رحمه الله وغيره دَدې جواب وركړې دې كوم چه په حقيقت كښې قاضى عياض مالكى رحمه الله وركړې دې هغه دادې چه دَ ترك لفظ "حد" په معنى كښې واخستې شى نو مطلب به صفاشى يعنى دَ بنده اوكفرپه مينځ كښې چه كوم حد فاصل دې هغه مونځ دې كه يوسړې دغه حدنه تيريږى اومونځ نه كوى نوهغه به دَ كفرپه ميدان كښې داخل شى اوكفرته به نيزدې شى.

③ شيخ عبدالحق رحمه الله په لمعات كښې دا جواب وركړې دې. فرمائى كيدې شى چه په دې حديث كښې "العبد" نه مؤمن مراد وى او "الكفر" نه كافرمراد وى نومعنى به داسې شى چه دَ مؤمن اوكافر په مينځ كښې فرق كونكې څيزدَمانځه پريخودل دى چاچه مونځ پريخودو هغه كافركيږى اوچاچه اوكړو هغه به مسلمان وى. [اشعة المعات: ۲۰۱]

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۵۷۰- په ښه شان مونځ دګناهونو دبخشش سبب

۵۷۰-()[۷] ① عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «خَمْسُ صَلَوَاتٍ افْتَرَضَهُنَّ اللّٰهُ تَعَالَى ;③ مَنْ أَحْسَنَ وُضُوءَهُنَّ، وَصَلَّاهُنَّ لِوَقْتِهِنَّ، ④ وَأَتَمَّ رُكُوعَهُنَّ وَخُشُوعَهُنَّ ⑤ كَانَ لَهُ عَلَى اللّٰهِ عَهْدٌ أَنْ يَغْفِرَ لَهُ، ⑥ وَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ فَلَيْسَ لَهُ عَلَى اللّٰهِ عَهْدٌ إِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُ، وَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ» . رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُوْ دَاوُدَ، وَرَوَى مَالِكٌ وَالنَّسَائِيُّ نَحْوَهُ.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب فى المحافظة على وقت الصلوات(رقم-۴۲۵) ومالک كتاب صلاة الليل باب الأمر بالوتر(رقم-۱۴) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة/باب ما جاء فى فرض الصلوات الخمس والمحافظة عليها (رقم-۱۴۰۱) والنسائيكتاب الصلاة/باب المحافظة على الصلوات الخمس(رقم-۴۶۱) والدارمى كتاب الصلاة /باب فى الوتر (رقم-۱۶۱۸)

ترجمه: [۱] عباده بن صامت رضي الله عنه راوي دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل[۲] كوم سړي چې د دې پنځه لمونځونو دپاره چې الله تعالى جل جلاله فرض كړي دي (د فرائضو اومستحباتو د ادائيګي سره)[۳] په ښه شان اودس وكړو اوهغه په وخت وكړي[۴] په هغه كې ركوع اوخشوع وكړي (يعني لمونځونه يې د زړه د حاضري سره وكړل)[۵] نو د هغه د پاره د الله تعالى جل جلاله په ذمه (يعني دالله تعالى جل جلاله وعده) دا ده چې د هغه (صغيره) ګناه وبخښي[۶] اوكوم سړي چې داسې ونه كړل (يعني په مذكوره بالا طريقې سره يا مطلق مونځ ونه كړي) نو الله تعالى جل جلاله د هغه ذمه وار نه دي كه غواړي نو وي بخښي او غواړي نو په عذاب كې يې اخته (مبتلا) كړي. (احمد، ابوداؤد، مالك، نسايي)

حل اللغات: ① خُشُوعَهُنَّ: الْخُشُوعُ حُضُورُ الْقَلْبِ: د زړه حضور او اطمينان.

تسهيلات:

دحديث د بعضې جملو وضاحت:

① "مَنْ أَحْسَنَ وُضُوءَهُنَّ"، احسن وضوءهن" بهترين او احسن اودس هغه دې دَ كوم فرائض او سنن او مستحباتو پوره پوره خيال اوساتلي شي

② "وَصَلَّاهُنَّ لِوَقْتِهِنَّ"، دلته دَ لام كلمه "في" په معنى كښې ده يعني افضل اومستحب وختونو كښې مونځ اداكړي

③ "وَخُشُوعَهُنَّ"، دلته ممكن دى چه دَ خشوع نه سجده مراد واخستلي شى او ركوع او سجده په دې وجه خاص كړې شوه چه په مانځه كښې دااهم اركان دى. [وفى الكاشف: ۲/۱۷۸]

قوله: "عَهْدٌ"

د عهد مختلف معانى: ① عهد دلته دَ وعدې په معنى كښې اخستې شوې دې مطلب دا چه الله تعالى دَ احسان په توګه بنده سره دَ مغفرت داسې وعده كړې ده دَ كوم پوره كول چه به يقيني وى.

② دلته دَ اتساع او تشاكل په توګه دَ بنده طرف ته دَ عهد نسبت كړې شوې دې.

③ مجمع البحار كښې ليكلى دى چه دَ "عهد" لفظ دَ يووصيت په معنى كښې هم استعماليږى. په احاديثو كښې دَ عهد لفظ هم دَ دغه معنو نه په يونه يومعنى كښې استعماليږى. (كذافى اللمعات)

④ علامه توريشتى رحمه الله ليكى چه دَ يوخيز فى الحال او فى المآل حفاظت اورعايت سره مكمل خيال ساتلو ته هم عهدوائى. هم دَدې وجې نه چاسره پخه وعده كولو ته عهدوائى.

د مرتكب كبيرې عدم كفر: شيخ عبدالحق رحمه الله لمعات كښې ليكى په دې حديث كښې دَدې خبرې دليل دې چه مونځ پرېخودونكې كافرنه دې اودَ ګناه كبيره مرتكب كيږى.

Maktaba Tul Ishaat.com

بیافرمائی چه دَ کبیره دَ مرتکب باره کښې دا واجب اولازم نه دی چه الله تعالی دې هغه ته سزا ورکړی داخالص دَالله تعالی مرضی ده چه هغه ته عذاب ورکړی یائی معاف کړی دا دَ اهل سنت مسلك دې. بل په دې هم ځان پوهه کول پکاردی چه دَ ګناه کبیره مرتکب دائمی دوزخی نه دې بلکه دَ ګناه په اندازه باندې دَ سزا خوړلونه پس به دَ دوزخ نه راویستلې شی. دَ خوارج او معتزله په دې کښې اختلاف دې. دَ اهل سنت په نیزپه الله تعالی باندې دَ بنده دَ طرف نه هیڅ څیز واجب نه دې. که چرې الله تعالی یوصالح مؤمن یا مجانین واطفال په عذاب کښې ساتل غواړی یا څوك فاسق په ثواب اونعمت کښې ساتل غواړی نوهغه په دې کښې دَ هیڅ یوطرف نه پابندنه دې. بهرحال مونږ کول دَهریومسلمان ذمه واری ده کومه چه دَالله تعالی دَطرف نه په هغه باندې مقررده دَدې ادا کول لازم دی که چاته په دې کښې مزه ورځی اوکه نه ورځی.

۱۷۵- په جنت کښې د لوړو درجو حاصلونکی اعمال

۱۷۵- (۸)[۱] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «صَلُّوا خَمْسَكُمْ، وَصُومُوا شَهْرَكُمْ،[۳] وَأَدُّوا زَكَاةَ أَمْوَالِكُمْ،[۴] وَأَطِيعُوا ذَا أَمْرِكُمْ،[۵] تَدْخُلُوا جَنَّةَ رَبِّكُمْ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابو امامه رضي الله عنه راوي دي[۲] چې نبي کریم ﷺ وفرمایل (مسلمانانو!) پنځه وخته خپل لمونځونه کوئ د رمضان د میاشتي روژي نیسئ [۳] د خپل مال زکوٰة ورکوئ [۴] او د خپل سردار (تر څو پورې چې هغه د خلاف شرع څیزونو حکم ونه کړي) [۵] طاعت کوئ (که داسې وکړئ نو) دخپل رب په جنت کې به داخل شئ (یعني په جنت کې به د اوچتو درجو حقداره شئ) (احمد، ترمذي)

حل اللغات: ① ذَا أَمْرِكُمْ: أي: الْخَلِيفَةَ وَالسُّلْطَانَ: بادشاه او حاکم.

تسهیلات:

قوله: "صَلُّوا خَمْسَكُمْ"

امت محمدی ته د خمس د نسبت وجه: یعنی هغه پنځه مونځونه اداکوئی کوم چه په ورځ اوشپه کښې په تاسو باندې فرض دی اوکوم چه تاسوسره خاص دی. علامه طیبی رحمه الله لیکی چه دَدې عملونو اضافت دَدې امت دَ کسانوطرف ته څکه کړې شوې دې چه عملونه دَخپلو کیفیتونو او خصوصیتونوسره دې امت سره خاص دی دَ کوم په وجه چه دا امت دَ نورو امتونو په مقابله کښې په دې عملونوکښې ممتاز شوې دې.

(۱) اخرجه الترمذی کتاب السفر/باب ما ذکر فی فضل الصلاة (رقم-۶۱۶)

قوله: "شَهرَكُمْ"

په شهر کښې د رمضان نه ذکر کولو وجه: دې نه دَرمضان روژې مراد دی. دَ رمضان میاشت مشهوره وه په دې وجه دَ صراحت ضرورت نه وو. دَ زکوة ذکر دَ روژې نه پس اوکړې شو. کیدې شي دا تاخیرِ دَ یوراوی دَ بیان دَ وجې نه شوې وي.

د صوم د زکاة نه د روسته ذکر کولو وجه: ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه دَ فرضیت په اعتبارسره زکوة دَ رمضان دَ فرض کیدونه پس فرض شوې وو په دې وجه روستو ذکرکړې شو او قرآن اوحدیث کښې دَمانځه سره زکوة ځکه متصل کیخودې شوې دې چه مونځ دَ بدنی عبادتونو جرړه ده او زکوة دَ مالی عبادت اصل او جرړه ده. په دې حدیث کښې دَ حج ذکرنشته. علماء فرمائی چه دَدې حدیث دَ بیانولووخت کښې به حج نه وی فرض شوې.

قوله: "ذَاأَمْرِكُمْ"

د ذاأمر مصداق: ملاعلی قاری رحمه الله فرمائي چه دې نه خلیفه اوبادشاه اودَ هغه ښکته وزیران مراد دی یادَدې نه علماء مراد دی چه دَ شریعت په رڼا کښې علماء کوم حکم کوی دَهغې تابعداری اوکړئ. کوم حکمرانان چه دَ شریعت خلاف حکمونه جاری کوی دَ هغوې تابعداری نه ده (بلکه دَ هغې نافرمانی ضروری ده).

قوله: "تَدْخُلُواجَنَّةَ رَبِّكُمْ" دَ وړاندې ځلورو کارونو جواب دادې یعنی اول کښې داخلیدو سره به جنت کښې داخلیږی.

اشکال: دَ جنت دَ داخلیدو دَپاره اصلی سبب او علت خودَ الله تعالی رحمت او فضل اوکرم دې دلته اعمال دَعلت او شرط په درجه کښې ولې کیخودې شوی دی؟

داشکال جواب: دَ جنت دَ داخلیدودَپاره اصل علت او سبب خودَ الله تعالی رضا اودَ هغه فضل و کرم دې لیکن دَ جنت دَ اوچتو درجودَ حاصلولودَپاره دَاعمالو کیدل ضروری دی. علماء کرام دَدې اشکال داجواب هم ورکوی چه دَ جنت دَ داخلیدودَپاره نیک عملونه دَ اسباب او سبب په درجه کښې دی دکوم طرف ته چه نسبت په ې مناسبت سره کیږی.؟

۵۷۲-داولاد کالو ماشوما نوته د مانځه حکم

۵۷۲-()[۹] [۱]وَعَنْ عَمْرِوبْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]«مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ، [۳]وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرٍ، [۴]وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] عمرو ابن شعیب د خپل والد مکرم ځخه او هغه د خپل نیکه ځخه روایت کوي

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الصلوة باب متی یؤمر الغلام بالصلاة (رقم-٤٩٥) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء متی یؤمر الصبی بالصلاة (رقم-٤٠٧)

Maktaba Tul Ishaat.com

چې نبي کریم ﷺ وفرمایل[۱] هر کله چې ستاسو ماشومان د اوو⑦ کالو شی نو هغوئ ته د مونځ کولو حکم ورکړئ[۲] او هر کله چې هغوي د لسو ⑩ کالو شی نو په لمانځه پرېښودلو باندې هغوي وهئ[۳] اوهغوئ په بسترو کې سره جدا کړئ، (ابوداؤد)

حل اللغات: ① فَرِّقُوا: جدائی اوکړئ، ② الْمَضَاجِع:أي:الْمَرَاقِدِ: د څملاستو ځایونه.

تسهیلات:

قوله: "سَبْعِ سِنِيْنَ"

داووه کالو د عمر د تخصیص وجه: دَ اووه کالودَتخصیص وجه ملاعلی قاری ﷫ او شیخ عبدالحق ﷫ داليکلې ده چه په دې عمر کښې په سړی کښې دَ قوت اوطاقت یونوې درو شروع کیږی هم دغه وجه ده چه دویم سبع یعنی څوارلسم کال نه پس دَ بلوغ دور شروع کیږی. په دې وجه دَ اووه کالو په عمرکښې ماشوم ته دَ مونځ عادت کولو حکم ورکړې شوې دې دې دَ پاره چه ماشوم سره اموخته شی.

د لسو کالو د عمر د تخصیص وجه: شیخ عبدالحق ﷫ نور فرمائی چه دَ لسو کالو په شمیرکښې ړومبې لس دی او په دې عمر کښې په ماشوم کښې داسې طاقت راځی کوم چه دَ بلوغت حدودته نیزدې وی په دې وجه په شرعی حکم کښې هم سختی راځی او نوبت وهلو ټکولو ته رسی. او هم دغه شعور عمر اوهوش اوحواس کښې دَ راتللودَ وجې نه دَ هلك اوجینئی په دې عمر کښې په یوځائی سملاستلو نه منع کړې شوې دی اودا حکم چه څنګه دَ خور او رور دَپاره دې هم دغه پردی هلك او جینئی دَپاره هم دې بلکه دَهغوی دَ پاره دا ممانعت په درجه اولی دې.

قوله: "وَاضْرِبُوهُمْ"

د دینی تربیت دپاره د ماشومانو د معمولی وهلو جواز: په دې حدیث کښې دَ ماشومانودَپاره دَ سزا او تربیت په توګه کم ورکړې شوې دې چه په یومونځ پریخودو باندې هغوی تادیبًا وهئی او بل دا چه دَ تربیت په توګه ورله بسترې جدا کړئی دَ حکم تعلق حقوق الله سره دې او دَدویم تعلق حقوق العباد اودَ معاشرې اصلاح سره دې، دغه شان دَدې حدیث په تعلیم کښې پوره دین راغلو. او په دې کښې داخبره هم راغله چه دَ دین دَ یوحکم په خلاف کولو باندې ماشوم وهلې شی. افسوس سره وئیلې کیږی چه نن صبا سکول نه وئیلو باندې دَ پنځو کالودَ ماشوم ښه وهل ټکول کوی مګردَ مونځ پرواه نه کوی.

یوه فقهی مسئله: ملاعلی قاری ﷫ لیکلی دی که چرې دوه سړی یا دوه ښځې په جامو کښې یو بل سره داسې اوده شی چه دَ ستر والا اندامونه بربند یدو سره یوبل پورې اونه لګی نو دا جائزدی.

۵۷۳-()[۰] [۱] وَكَذَا رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ" عَنْهُ. وَفِي الْمَصَابِيحِ عَنْ سَبْرَةَ بْنِ مَعْبَدٍ.

ترجمه: [۱] دغسې په شرح السنه کې د عمرو څخه او په مصابيح کې د سبره ابن معبد څخه دا روايت نقل شوې دې

۵۷۴- د کافرانو او مسلمانانو په مينځ کښې پېژندګلو

۵۷۴-(۲)[۰] [۱] وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «الْعَهْدُ الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمُ الصَّلَاةُ، [۳] فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] حضرت بريده رضی الله عنه راوي دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل [۲] زمونږ او د منافقانو په مينځ كې چې كوم عهد دي هغه مونځ دي [۳] چا چې مونځ پرېښودو هغه كافر شو. (احمد، ترمذي، نسايي، ابن ماجه)

حل اللغات: ① الْعَهْدُ: أَيِ الْمِيثَاقُ الْمُؤَكَّدُ بِالْإِيمَانِ: مضبوط لوظ چه په ايمان مضبوط شوې دي.

تسهیلات:

قوله: "بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ"

د مونځ په وجه د ظاهری حفاظت ضمانت: يعنی زمونږ او دَمنافقانو په مينځ كښې دَ ځان اومال دَ حفاظت چه كومه معاهده شوې ده چه مونږ دَهغوی ځان اومال سره څه غرض نه كوو. دَ دې بنيادی وجه داده چه هغه خلق په ظاهری توګه باندې دَ ځان خودلودَپاره مونځ كوی په كوم سره چه هغوی دَمسلمانانو په شان كيږی. اوس كه چرې دغه خلقو مونځ پرېخودو كوم چه په ټولو عبادتونو كښې دَټولو نه غوره عبادت دې. نوهغوی او كافران به په ظاهری توګه يوشان شی ځكه چه دَ عقيدې سره منافقان خودَ اول نه كافران وو ليكن دَ مونځ كولودَوجې نه دَهغوی په كفرباندې پرده پرته وه. كله چه ئې مونځ پرېخودو نودكفرنه ئې پرده اوچته شوه.

شارحين حديث دَدې تشريح په رڼا كښې "فقد كفر" ترجمه كوی چه اوس هغوی خپل كفرښكاره كړو. دَدې مضمون تائيد دَدې حديث سره هم كيږی كله چه دَ حضورپاك نه دَمنافقانودَ قتل كولواجازت اوغوښتې شو نوحضورپاك ارشاد اوفرمائيلو چه دَمونځ كونكودَقتل كولونه منع كړې شوې يم.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلوة باب متى يؤمر الغلام بالصلاة (رقم-۴۹۴)
(۲) اخرجه الترمذى كتاب الإيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى ترك الصلاة (رقم-۲۶۲۱) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، باب ما جاء فيمن ترك الصلاة (رقم-۱۰۷۹) والنسائى كتاب الصلاة/باب الحكم فى تارك الصلاة (رقم-۴۶۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

الفصل الثالث

۵۷۵-د مونځ په وجه د ګناهونو معاف کیدل

۵۷۵-()[۱] ۱ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي عَالَجْتُ امْرَأَةً فِي أَقْصَى الْمَدِينَةِ، ۳ وَإِنِّي أَصَبْتُ مِنْهَا مَا دُونَ أَنْ أَمَسَّهَا، ۴ فَأَنَا هَذَا، فَاقْضِ فِيَّ مَا شِئْتَ. ۵ فَقَالَ عُمَرُ: لَقَدْ سَتَرَكَ اللهُ لَوْ سَتَرْتَ عَلَى نَفْسِكَ. ۶ قَالَ: وَلَمْ يَرُدَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِ شَيْئًا.

ترجمه: ۱ عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي ۲ چه يو سړي د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضر شو او عرض يي وكړو يا رسول الله ﷺ د مديني په غاړه زه يوي ښځي سره ترغاړه وتلم ۳ نور څه صحبت وغيره مې ورسره نه دې كړي [يعنى صحبت خومې نه دي كړي ليكن مچي وغيره شوې دي] ۴ ځكه زه حاضر شوې يم څه چې تاسي ﷺ غواړي زما باره كې حكم وفرمايي [يعنى تاسي ﷺ چې زمادپاره كومه سزا تجويز كړي ماته هغه منظوره ده] ۵ حضرت عمر رضي الله عنه (چې هغه وخت مجلس نبوي كې حاضر وو) دي اوريدو سره وفرمايل الله ستا دعيب پرده پوشي كړي وه كه تا هم خپل عيب پټ كړي وې (نو ښه به) وه ۶ عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي حضور ﷺ د الله جل جلاله دحكم په انتظار كې هيڅ جواب ورنه كړو.

حل اللغات: ① عَالَجْتُ: عالج معالج يعالج معالجة لوبې توقي او ښكلولونه كنايه ده. ② أَقْصَى الْمَدِينَةِ: أي: أَسْفَلَهَا: د ښار ښكته طرف. ③ أَصَبْتُ: أي: فَعَلْتُ: كړي مې دی، رسيدلی يم.

۱ فَقَامَ الرَّجُلُ، فَانْطَلَقَ فَأَتْبَعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا فَدَعَاهُ، ۲ وَتَلَا عَلَيْهِ هَذِهِ الْآيَةَ: "﴿وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ ۳ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ﴾. ۴ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: يَا نَبِيَّ اللهِ! هَذَا لَهُ خَاصَّةً؟ ۵" فَقَالَ: بَلْ لِلنَّاسِ كَافَّةً» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ نو هغه سړي پاځيدو او لاړلو بيا حضور ﷺ د يو سړي په ذريعه هغه وروسته راوغوښتو ۲ حضور ﷺ د هغه په مخكې دا آيت ووېلې: وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ، د ورځې اول اوآخر او د شپې په څو ساعتونو كې مونځ كوه ۳ ځكه چې نيكي بدي ختموي او دا نصيحت نصيحت منونكو د پاره دي، ۴ په خلقو كې يو سړي (حضرت عمر رضي الله عنه يا حضرت معاذ رضي الله عنه) عرض اوكړو يا رسول الله ﷺ آيا دا حكم په خاص طور سره د هغه د پاره دي؟ ۵ حضور ﷺ وفرمايل نه

(۱) اخرجه مسلم كتاب التوبة باب قوله تعالى: {إن الحسنات يذهبن السيئات} [هود: ۱۱۴] رقم(۴۲ - (۲۷۶۳) وابوداود كتاب الصلوة باب فى الرجل يصيب من المرأة دون الجماع. فيتوب قبل أن ياخذه الإمام(رقم ۴۴۶۸)

د ټولو خلقو د پاره دا حکم دي. (مسلم)

حل اللغات: زُلَفًا: أَيْ: سَاعَاتٍ: دا د زلفة جمع ده د نیزدې په معنی کښې دې مراد ترینه وختونو اوساعتونه دی. ځکه چه ساعتونه هم یو بل ته نیزدې وی. ⑤ لِلذَّاكِرِينَ: أي لِلْمُتَّعِظِينَ: نصیحت اخستونکو دپاره (قبلونکو دپاره).

تسهیلات:

قوله: "عَالَجْتُ امْرَأَةً"

د عاجلت په مصداق کښې دوه اقوال: ① شارحین لیکلی دی چه دا هم هغه سړې دي چې د چا قصه دَدې باب په رومبی فصل حدیث نمبر(۵۲۲) کښې تیره شوې ده د کوم نوم چه ابوالیسر دي

② ابن حجر رحمه الله وغیره شارحین فرمائی چه دا قصه دَ یو بل سړی ده.

اشکال: که چرې دا دَ بل یوسړی قصه ده او جدا قصه ده نوچه کوم آیت دَ رومبی سړی متعلق لوستلې شوې دې هم هغه آیت دَ دې سړی متعلق هم لوستلې شوې نو دا ځنګه دوه واقعات کیدې شی؟

داشکال جواب: ابن حجر رحمه الله فرمائی کیدې شی دا آیت مکرر نازل شوې وی. دویم جواب محققین علماؤ دا ورکړې دې چه دا ضروری نه ده چه آیت مکرر نازل شوې وی اونه په دې حدیث کښې څه اشاره ده چه آیت دوباره نازل شوې دې. بلکه حضورپاك دَ اول نه نازل شوې آیت ددغه سړی دَ واقعه متعلق تلاوت اوفرمائیلو او دا کیدې شی چه په ډیرو واقعاتو باندې هم یوآیت اولګولې شی.

قوله: "فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ":

د تعدد والعتینو قرینه: دَدې جمله نه معلومیږی چه دا دواړه جدا جدا واقعات دی ځکه چه دلته سوال کونکې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دې او یا حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه دې اوهلته په دې رومبئی قصه کښې دَدې حکم اوفضیلت خصوصیت سوال کونکې هغه سړې پخپله وو کوم چه صاحب واقعه وو.

۵۷۶- دالله تعالی د رضا دپاره د مونځ کولو فضیلت

۵۷۶- (١) [١٢] ① وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، ② «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ زَمَنَ الشِّتَاءِ، ③ وَالْوَرَقُ يَتَهَافَتُ، فَأَخَذَ بِغُصْنَيْنِ مِنْ شَجَرَةٍ. ④ قَالَ: فَجَعَلَ ذٰلِكَ الْوَرَقُ يَتَهَافَتُ. ⑤ قَالَ: فَقَالَ: "يَا أَبَا ذَرٍّ" قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ. ⑥ قَالَ: إِنَّ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ لَيُصَلِّي الصَّلَاةَ يُرِيدُ بِهَا وَجْهَ اللّٰهِ فَتَتَهَافَتُ عَنْهُ ذُنُوبُهُ، ⑦ كَمَا تَهَافَتَ هٰذَا الْوَرَقُ عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ.» رَوَاهُ أَحْمَدُ.

(١) اخرجه احمد فی المسند رقم(۱۷۹/۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [۱] حضرت ابوذر ﷺ راوي دي[۲] چې نبي کریم ﷺ د یخنۍ په موسم کې بهر تشریف راوړو[۳] چې د ونو د پاڼو د پریوتلو وخت وو، حضور ﷺ د یوي ونې دوه څانګې اونیولي [۴] راوي وايي څنګه چې حسب معمول د پاڼو پریوتلو په موسم کې یوه څانګه خوزولو سره زیاتي پاڼي راغورځیږي دغسې حضور ﷺ چې څانګي اونیولي نو د هغې څخه پاڼي پریوتل شروع شو[۵] حضور ﷺ وفرمایل اي ابوذر ما عرض وکړو یا رسول الله ﷺ زه حاضریم[٦] نو حضور ﷺ وفرمایل هر کله چې مؤمن بنده خالصًا لله مونځ کوي نو د هغه ګناه هم داسې رژیږي [۷] څنګه چې د دې ونې څخه پاڼي رژیږي. (احمد)

حل اللغات: ① الشِّتَاءِ:أَيْ:الْبَرْدِ: یخنی، د ژمی موسم، ② يَتَهَافَتُ:دَ باب تفاعل نه تهافت يتهافت يو بل پسې اودَمسلسل پریوتلو په معنی کښې راځی. ③غُصْنَيْنِ:د غُصنٌ تثنیه ده، څانګې او ښاخ ته وائی.

تسهیلات:

دحدیث د بعضې جملو وضاحت: ① "زمن الشتاء" دَ یخنئی اوژمی موسم ته شتاء وائی دَ بعض ونونه علاوه دَ باقی ټولو ونو پاڼې اوچیدو سره په دې موسم کښې رجیږی دَ دغه شان منظر تذکره کړې شوې ده دلته دَ خزان موسم مراد دې.

② "يَتَهَافَتُ" اوکه دَ ونې ښاخ ته حرکت ورکړې شی نو بیاخو دَهغې پاڼړې ډیرې په تیزئی سره پریوځی لهذا په دویمه جمله کښې يتهافت چه کوم ذکر راغلې دې هغه هم دَدغه مقصد دَ ښکاره کولودَپاره دې چه رسول الله ﷺ کله دوه ښاخونه اونیول حرکت ئی ورکړو نو ډیر بې اندازې پاڼړې راپریوتلې

③ "لَبَّيْكَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ" یعنی باربار ستاسو په خدمت کښې حاضر یم

④ "يُرِيْدُ بِهَا وَجْهَ اللّٰهِ" مطلب دا چه مونځ خالص دَالله تعالی دَپاره اوکړی نه دَ څه بل مقصد دَپاره وی اونه دَ ریاکارئی په غرض باندې وی

۵۷۷-په حضور قلب سره د مونځ کولو فضیلت

۵۷۷-()[۱۳][۱] وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]«مَنْ صَلَّى سَجْدَتَيْنِ لَا يَسْهُوْ فِيْهِمَا[۳] غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] زید بن خالد جهني ﷺ راوي دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل[۲] کوم سړي چې دوه رکعاته مونځ (غافل کیدو سره نه بلکه د دې درجې حضورِ قلبي سره) وکړو چې په هغې کې یي سهو ونه کړه[۳] نو الله تعالی ﷻ د هغه تیر ګناهونه بخښې. (احمد)

حل اللغات: ① لَايَسْهُوْ:أَيْ:لَايَغْفَلُ: نه غافل کیږی.

(۱) اخرجه احمد فی المسندرقم(۱۹٤/٥)

تسهيلات:

دحديث د بعضې جملو وضاحت: ① "صَلّٰی سَجْدَتَيْنِ" دې نه دوه ركعته مونځ مراد دې او ركوع اوسجده ونيلوسره مونځ مراد اخستل په قرآن اوحديث كښې بار بار راغلى دى.

② "لَايَسْهُوفِيهِمَا" يعنى په دې دواړو ركعتوكښې مونځ ګذارد مانځه نه غافل نه وى. علامه طيبى رحمه الله فرمائى چه مونځ ګذار په حاضر دماغى او د زړه په حضور سره مونځ كوى يا داسې اوګنړئى چه هغه سړې داسې عبادت كوى لكه چه الله تعالى هغه ته ګورى. [الكاشف: ٢/١٨٢].

قوله: "غُفِرَاللّٰهُ"

صغائرو سره د غفران مقيد كول: يعنى دهغه سړى سابقه ټول صغائرالله تعالى معاف كوى. ملاعلى قارى رحمه الله فرمائى چه علماء كرامو ذنوب صغائرسره مقيدكړى دى سره ددې چه د حديث الفاظ صغائراوكبائرټولوته شامل دى.

د دوو ركعتونو كيفيت: ددوو ركعتوكول ډيرآسان دى ليكن ددې دوو ركعتو دپاره كوم شرط دې چه په زړه كښې د غيرالله خيال بالكل رانه شي دا اسان كارنه دې. وائى چه دا دوه ركعته اصلى كيفيت سره كولوډپاره شاه اسماعيل شهيد رحمه الله دوه سوه ركعتونه اوكړل ليكن داكيفيت پوره نه شو. بيا سيد احمد شهيد رحمه الله هغه خپل خان سره اودرولو او دوه ركعته مونځ ئې اوكړو نوهم په دغه كيفيت سره مونځ اوشو.

٥٧٨-دمانځه دپابندئ فضيلت

٥٧٨-(¹)[١٣][١]وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِوبْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، «عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[٢]أَنَّهُ ذَكَرَ الصَّلَاةَ يَوْمًا فَقَالَ:[٣]" مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا، كَانَتْ لَهُ نُورًا وَبُرْهَانًا وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ،[۴]وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا لَمْ تَكُنْ لَهُ نُورًا وَلَا بُرْهَانًا وَلَا نَجَاةً،[٥]وَكَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ قَارُونَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالدَّارِمِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [١] عبدالله ابن عمرو بن العاص رضي الله عنهما راوي دي [٢] چې يو ورځ نبي كريم ﷺ د لمانځه ذكر وكړو (يعني د لمانځه د فضيلت او اهميت بيانولو اراده يي وكړله) نو وي فرمايل[٣] كوم سړي چې په لمانځه محافظت كوي (يعني هميشه په پابندي سره مونځ كوي) نو د هغه د پاره به دا مونځ د ايمان د نور (د زياتي سبب) او د ايمان د كمال واضح دليل وي او دقيامت په ورځ به د مغفرت ذريعه جوړيږي[۴] اوكوم سړي چې په لمانځه باندې محافظت نه كوي نو د هغه د پاره نه (د ايمان د) نور (د زياتي سبب) جوړيږي او نه د (كمال ايمان) دليل او نه دقيامت په ورځ د مغفرت ذريعه جوړيږي[٥] بلكه داسې سړي به د

(¹) اخرجه احمد في المسندرقم(١٦٩/٢) والدارمي ومن كتاب الرقاق/باب: في المحافظة على الصلاة (رقم-٢٧٦٣)

Maktaba Tul Ishaat.com

قيامت په ورځ د قارون هامان او ابي ابن خلف سره په عذاب کې مبتلا وي، (احمد، دارمي، بيهقي)

حل اللغات: ① بُرْهَانًا: أَيْ دَلِيلًا: دليل اوحجت.

د راوي مختصر تعارف:

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ مختصر حالات: ددوی نوم عبدالله، کنيت ئې ابوعبدالرحمن او د پلار نوم ئې حضرت عمر ﷺ دې او د مور نوم ئې زينب بنت مظعون دې

اسلام قبلول: دخپل پلار سره يوځائې مسلمان شوي دې د پلار سره ئې د مکې نه مدينې ته هجرت کړې وو په بدر او احد کښې ئې ورته د شرکت اجازت نه وو ملاؤ شوې ځکه چه ماشوم وو [1]

غزواتو کښې شرکت: په غزوه خندق، بيعت رضوان، فتح مکه، غزوه حنين، محاصره طائف، حجة الوداع، غزوه تبوک ټول کښې ئې دنبی کريم ﷺ سره شرکت کړې وو د فتنې نه ډير لرې وو د يزيد په لاس ئې بيعت کړې وو او دا ئې فرمائيلی وو که دې بيعت کښې خير وی نو مونږ پرې راضي يو او که په دې کښې شر وی نو مونږ پرې صبر کوو [2] حضرت ابن عمر ﷺ ته به خلقو د علم او عمل درياب وئيل (۲) د دنيا نه کناره کشي: حضرت عثمان ﷺ ورته د قضاء عهده پيش کړله خو دوی د قبلولو نه انکار اوکړو په ملکی انتظاماتو کښې ئې بيخی حصه نه اخستله.

خصوصي صفات: د دوی په ژوند کښې څو خصوصي صفات وو ① د سنت تابعداری ② د الله تعالی ويره ③ د غريبانو سره همدردی ④ سخاوت ⑤ د اختلاف نه پرهيز ⑥ د مشتبهاتو نه اجتناب ⑦

قران سره مينه: د قرآن پاک سره ئې خصوصي تعلق وو په قرآن کښې به ئې ډير سوچ او فکرکولو ددې اندازه ددې نه لګی چه صرف سوة بقره ئې په ۱۴ کاله کښې ياده کړې وه (۳)

حديث سره تعلق: د قرآن نه پس ئې د احاديثو سره مينه وه کله چه به د نبی کريم ﷺ په مجلس کښې موجود نه وو او د دوی په غيرحاضرئ کښې به نبی کريم ﷺ ارشادات فرمائيلی وو نو د نورو خلقو نه به ئې دهغې تپوسونه کول او هغه به ئې يادول (۴)

وفات: د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ په مدنيه منوره کښې د مرګ ډيره تمنا وه اودا به ئې وئيل د کومې زمکې نه چه ما هجرت کړې دې په هغې کښې زه مرګ نه خوښوم (۵) هغوی

---

[1]) طبقات ابن سعد)_

[2]) طبقات ابن سعد تذكرة ابن عمر ﷺ)_(۲) تذكرة الحفاظ (۱۱ \ ۳۵)- (۳)موطا امام مالک) - (۴)اصابة (۱۰۹\٤)_ (۵) طبقات ابن سعد (۱۳۸\٤)_(۶)تهذيب الكمال (۲۰۷)_(۷) رواه مسلم فی الذكرباب استحباب الاستغفار ستكثار منه رقم ٤٨٧٠ وكذا ابو فی الصلاة رقم ١٢٩٤ واحمد مسند الشاميين رقم ۱۷۱۷۳)_

دا وصیت هم کړې وو که زه په مکه کښې مړ شوم نو ما به د حرم نه بهر دفن کوئ زه عاجز شاه فیصل چه په کال ۱۴۳۱ کښې حج ته تلې ووم نو هلته راته الله تعالی د دوی د قبر زیارت هم رانصیب کړل هغه داسې چه زمونږ یو ملګرې وو هغوی د دوی قبر معلوم وو هغوی د ځان سره واخستلو او د دوی قبر ته لاړلو د دوی د قبر نه ګیرچاپیره دیوال تاؤ وو او په مینځ کښې د دوی قبر مبارک وو خوا کښې ورسره یوه زوړ کنډر هم وو کوم چه د خپلې زمانې مضبوط کور ښکاریدلو خو مونږ ته دا معلومه نه شوه چه دا کوم ځائې دې بهر صورت د حج په دې مبارک سفر کښې الله تعالی دې عاجز ته ډیر تاریخی مقامات اوخودل

مرویات: د دوی د روایاتو تعداد ۱۲۳۰ دې په دې کښې په ۸ حدیثونو کښې بخاری او په ۳۱ کښې مسلم منفرد دې (۶)

تسهیلات:

دحدیث د بعضې جملو وضاحت:

① "ذکرالصلوة" یعنی یوه ورځ رسول الله ﷺ د مانځه فضیلت او د دې شرف بیان اوفرمائیلو.

② "مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا" یعنی همیشه والی سره ئې مونځ کولو د هغې ارکان او د هغې واجبات، فرائض سنن او مستحبات او د دې د وختونوئې پوره پوره خیال ساتلو.

③ "كَانَتْ لَهُ نُورًا" یعنی د حشر په میدان کښې به دا مونځ د هغه مونځ ګذار د پاره د هغه وړاندې وړاندې د مشال کار ورکوی.

④ "وَبُرْهَانًا" یعنی د هغه په ایمان باندې به واضحه دلیل جوړیږی.

⑤ "مَعَ قَارُونَ" د حضرت موسیٰ علیه السلام په زمانه کښې یوتباه حال بدبخت نوم دې چه په زمکه کښې ورخښ شوې وو.

⑥ "وَفِرْعَوْنَ" د یوداسې ملعون سړی نوم دې چه د خدائې دعویٰ ئې کړې وه او بیا په دریا نیل کښې غرق کړې شو.

⑦ "وَهَامَانَ" دا د هغه شیطان نوم دې چه د فرعون وزیر او مشیر وو او هم هغه سره غرق شو.

قوله: "وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ"

د ابن بن خلف تعارف: دې بدبخت انسان رسول الله ﷺ په مکه کښې ډیر تنګ کړې وو اوبیا د جنګ د پاره د کافرانو لښکر سره مدینې منورې ته راغلو او د احد په میدان کښې حضور پاک د شهید کولو په نیت سره راوړاندې شو، رسول الله ﷺ هغه په نیزه اووهلو او دا بدبخت مردار شو ځوک چه د انسانیت د ټولونه بدبخت سړې اوګرځولې شو.

د بیلمانځو د پاره سخت وعید: په دې حدیث کښې د مانځه پابندی نه کونکو او سستی

Maktaba Tul Ishaat.com

کونکو دپاره دومره سخت وعید دې چه مذکوره کسان دَ ټولو نه ممتاز دوزخیان دي نودوی سره به دغه سړې هم دوزخ ته ځي. اوکوم مسلمان چه بالکل مونځ نه کوی نودَهغه انجام خو به دَدوی نه هم خراب وی. په دې حدیث کښې دا اشاره هم ده چه کله دَ بادشاهت په نشه کښې سړې مونځ پریږدی کله دَ وزارت اوملازمت دَ وجې نه پریږدی اوکله ئی دَ دولت په نشه کښې پریږدی او کله دَحق سره دَ عداوت دَ وجې نه پریږدی. ددې کسانو ذکر کولوسره دَدې قسم خلقوته سخته تنبیه ورکړې شوې ده اوکوم خلق چه دَ مانځ پابندی کوی په دې حدیث کښې اشاره ده چه هغوی به نبیانو صدیقینوشهداؤ اوصالحینوسره وی.

۵۷۱–د مانځه پریخودل کفرګڼل

۵۷۱–()[۱۵] ① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ شَقِيقٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② كَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَرَوْنَ شَيْئًا مِنَ الْأَعْمَالِ تَرْكُهُ كُفْرٌ غَيْرَ الصَّلَاةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① عبدالله ابن شقیق فرمایي ② چه په ټولو افعالو اواعمالو کې یوازي مونځ یو داسې عمل وو چې د هغې پریښودل به د نبي کریم ﷺ محترمو صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم کفر ګڼلو، (ترمذي)

حل اللغات: ① لَا يَرَوْنَ: أَيْ: لَا يَعْتَقِدُونَ: یَرون کلمه دَ رائې نه ماخوذ ده دې نه مراد عقیده لرل دي یعنی دَ صحابه کرامو دا عقیده وه چه مونځ پریخودونکې کافر کیږی.

تسهیلات:

قوله: "لَا يَرَوْنَ"

د تارک الصلاة په حق کښې مختلف اقوال: ① دَدې قسم احکاماتوذکرتغلیظاً او تشدیداً کړې شوې دې لیکن دا الفاظ په خپل ظاهرپاندې پریخودل زیات بهتردی ځکه چه حکمت هم په دې کښې ګنی دَ شارع علیه السلام مقصد به ختم شی.

② امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چه څوك بنه په اراده اوقصدسره مونځ پریږدی نوهغه مرتد دې هغه قتل کړئی.

③ دَ امام مالك رحمه الله او امام شافعی رحمه الله په نیز هم دَ هغه سړی قتل کول لازم دی. خودا قتل دَ ارتداددَ وجې نه نه دې بلکه دَ زجر په توګه دَ سزا دې.

④ علماؤ لیکلی دی چه که چرې ترك صلوة دَ انکارپه صورت کښې وی نو په دې سره سړې کافرکیږی. اوکه چرې دَمونځ پریخودل دَ خندا توهین او سپکاوی په بنیاد وی نوبیاهم سړې کافرکیږی اوکه څوك دَ سستئی دَ وجې نه مونځ نه کول مباح ګڼړی نوهغه هم کافرکیږی اوکه دَ سستئی دَ وجې نه څوك مونځ پریږدی نوهغه دَ ګناه کبیره مرتکب کیږی.

(۱) اخرجه الترمذي كتاب الإيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى ترك الصلاة (رقم-۲۶۲۲)

⑤ امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه مونځ نه کونکې دَهمیشه دپاره جیل خانه کښې واچونی چه توبه اوکړی او یا هم هلته مړشی.

⑥ بعضې علماؤ فرمائیلی دی چه مونځ نه کونکې دَمسلمانانو په قبرستان کښې مه دفن کوئی. بهرحال دَ اهل سنت والجماعة په نیزمونځ نه کونکې کافرنه دې نوبیا دلته په حدیث شریف کښې په مونځ نه کونکی باندې به دکفرحکم په توګه دَ تغلیظ او تشدید ، زجر اوتوبیخ وی.

⑦ باباسعدی رحمه الله فرمائی مونځ نه کونکی له قرض مه ورکوه ځکه چه کوم سړې دَ الله تعالی قرض نه اداکوی هغه به ستا قرض څه اداکړی.

۵۸۰- د فرض مونځ په پرېښودو د الله د حفاظت نه بهر کېدل

۵۸۰-()[۱۶] وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲]«أَوْصَانِي خَلِيلِي أَنْ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ شَيْئًا، [۳]وَإِنْ قُطِّعْتَ وَحُرِّقْتَ، [۴]وَلَا تَتْرُكْ صَلَاةً مَكْتُوبَةً مُتَعَمِّدًا، [۵]فَمَنْ تَرَكَهَا مُتَعَمِّدًا، فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ، [۶]وَلَا تَشْرَبِ الْخَمْرَ؟ فَإِنَّهَا مِفْتَاحُ كُلِّ شَرٍّ» "رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ

ترجمه: [۱] ابودرداء رضی الله عنه فرمایي[۲] چه زما دوست (نبي کریم صلی الله علیه وسلم) ماته دا وصیت فرمایلي وو چې ته څوك د الله تعالی جل جلاله شریك مه جوړوه[۳] خواه که ته ټوکړي ټوکړي شی او وسوزولي شی[۴] او قصدا فرض مونځ مه پرېږده[۵] ځکه چا چې قصداً مونځ پرېښودو نو د هغه څخه ذمه بري شوه[۶] او هیڅ کله شراب مه څښه ځکه چې دا د هري خرابي کیلي (چابي) ده. (ابن ماجه)

حل اللغات: ① أَوْصَانِي: وصیت هغه تاکیدی اوضروری حکم ته وائی چه یوسړې دَخپل مرګ په وخت دَ خپلو پسمانده ګانو په باره کښې کوی. ② خَلِيلِي: خالص دوست ته وائی مراد ترې رسول الله صلی الله علیه وسلم دي. ③ قُطِّعْتَ: ټکړې کړې شې ته، ④ حُرِّقْتَ: اوسوزولې شې ته، ⑤ مُتَعَمِّدًا: قصداً (یعنی په اوده کیدو او د نسیان د وجې نه نه وی). ⑥ بَرِئَتْ: دمؤنث صیغه ده، معنی ئې ده: بری شوه، خلاصه شوه. ⑦ مِفْتَاحُ: چابی، کیلی

تسهیلات:

دحدیث د بعضې جملو وضاحت: ① "أَنْ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ شَيْئًا،" دَالله تعالی په ذات اوصفات کښې شریك پیدا کولوته شرك وائی.

② "وَإِنْ قُطِّعْتَ" داحکم دَ عزیمت دَ درجې دې یعنی خان ئې مړکړو لیکن دَ شرك کلمه ئې په ژبه ادا نه کړه سره دَدې چه دَ خان بچ کولودپاره صرف په ژبه باندې دکفر کلمه اداکولو اجازت شته کومه چه دَ رخصت درجه ده خوچه په زړه کښې ایمان موجودوی.

(۱) اخرجه ابن ماجة کتاب الطهارة وسننها/باب الصبر علی البلاء (رقم-۴۰۳۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

"الامن اکره وقلبه مطمئن بالایمان"..

قوله: "بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ"

تارک الصلاة ته په کافر وئیلو کښې توجیهات: ① علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه دَدې جمله نه تغلیظًا کفرمراد اخستې شوې دې چه دا سړې کافرشو.

② یا دَ ذمه نه مراد هغه امان دې دَ کوم دَ وجې نه چه دَ یو مسلمان دَځان اومال حفاظت کیږی یعنی دَ مونځ پریخودودَ وجې نه اوس دې سړی ته دَ قتل سزا یا تعزیر سزا ورکولې شی دې وخت کښې امن اوچت شوې دې.

[۱/۱۹] بَابُ الْمَوَاقِيتِ]

دَمونځ دَوختونوبیان

خلاصة الباب:
فيه ستة أحاديث مشتملة على خمس مسائل:
① ذكر أوقات الصلاة الخمسة قولا: ۵.
② ذكر أوقات الصلاة الخمسة قولاً و فعلاً: ۲ .
③ تعليم أوقات الصلاة الخمسة بعمل جبرئيل عليه السلام ۳، ۴.
④ ذكر إمامة جبرئيل :۳. ۴.
⑤ ذكر وقت الظهر بإختلاف الزمان : ۶.

په باقی ابوابو باندې د باب المواقیت د تقدیم وجه: د مونځ وختونه د مونځ د وجوب دپاره اسباب دی.او سبب مقدم وی په مسبب باندې.نوځکه ئې د مونځ د وختونو بیان مقدم کړۀ.مواقیت جمع د میقات ده.میقات هغه زمانه یا مکان دې.چه حد ترې مقررکولې شی.لکه مواقیت صلاة او مواقیت احرام.

دَمواقیت په لغوی معنی کښې اقوال: ① مواقیت دَ میقات جمع ده بعضې اهل لغت وئیلی دی چه خلاف القیاس مواقیت دَ وقت جمع ده اودَ وقت او میقات دواړو هم یو معنی ده په دواړوکښې ترادف یعنی یوشان والې دې. کوم چه "المقدارمن الدهر" یعنی دَ زمانې یو متعین حصې ته وقت وائی.

② بعضې علماء وائی چه وقت مطلق زمانې ته وائی اومیقات دَ زمانې هغه حصې ته وئیلې شی په کوم کښې چه څه کار یا عمل مقررکړې شی اودلته هم دغه مفهوم مراد دې.

دَ میقات اطلاق کله دَمتعین زمانې په ځائی باندې په متعین مکان باندې هم کیږی لکه چه دَ حج احرام تړلودَپاره مخصوص مقام ته میقات وائی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

۵۸۱- د پنځه مونځونو وختونه

۵۸۱-()[۱] عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«وَقْتُ الظُّهْرِ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ، [۳] وَكَانَ ظِلُّ الرَّجُلِ كَطُولِهِ، مَا لَمْ يَحْضُرِ الْعَصْرُ، [۴] وَوَقْتُ الْعَصْرِ مَا لَمْ تَصْفَرَّ الشَّمْسُ. [۵] وَوَقْتُ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ مَا لَمْ يَغِبِ الشَّفَقُ، [۶] وَوَقْتُ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ الْأَوْسَطِ. [۷] وَوَقْتُ صَلَاةِ الصُّبْحِ مِنْ طُلُوعِ الْفَجْرِ مَا لَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ، [۸] فَإِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ فَأَمْسِكْ عَنِ الصَّلَاةِ؟ فَإِنَّهَا تطلع بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] عبدالله ابن عمر رضی الله عنه راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل [۲] د ماسپښين وخت د نمر د زوال ځخه وروسته دي [۳] او د دې آخري وخت تر هغه پورې دي چې د سړي د سايه (سورې) د هغه د طول (اوږدوالي) برابر شي د مازيګر راتلو تر وخته پورې [۴] او د مازيګر وخت ترهغه وخته پورې دي تر څو پورې چې نمر زيړ نه شي [۵] او د ماښام لمانځه وخت تر هغه وخته پورې دي چې شفق غائب نه شي [۶] او د ماسخوتن مونځ تيك تر نيمي شپې پورې دي [۷] او دسحر د لمانځه وخت د طلوع فجر ځخه تر هغه وخته پورې دي تر څو پورې چې نمر را ونه خيژي [۸] او هر کله چې نمر راخيجي نو د لمانځه ځخه منع شه ځکه چې نمر د شيطان د دوو ښکرونوېه مينځ کښې راخيجي، (مسلم)

حل اللغات: ① تَصْفَرَّ: چه زيړ شي. ② الشَّفَقُ: وَهُوَ الْحُمْرَةُ الَّتِي تَلِي الشَّمْسَ بَعْدَ الْغُرُوبِ: د نمر د پريوتلونه پس چه دنمر سره نزدې کوم سوروالې وى هغې ته شفق وائى. ③ قَرْنَي: أَيْ: جَانِبَيْ رَأْسِهِ: قَرْنَي تثنيه ده د قَرْن او قَرْن ښکرته وائى. د سر دواړه اطراف مراد دى.

تسهيلات:

قوله: "وَقْتُ الظُّهْرِ"

د ظهر مصداق: دَ لفظ ظهر ماده اشتقاق ظهوردې داوخت هم دَ ورځې په عين مينځ کښې ښکاره کيږى. دې وخت ته هجيرة هم وئيلى شى ځکه چه دا وخت هاجره يعنى غرمې ته بالکل نيزدې وى.

په امامت جبريل کښې د ماسپښين نه د مونځو شروع کولو کښې حکمت: په حديث شريف دَ دَ فجر دَ وخت دَ بيان په ځائى دَ ماسپښين دَ وخت نه دَ مونځونو دَ وختونو دَ تعين شروع ځکه اوکړې شوه چه ماسپښين هغه رومبې مونځ دې چه دَ ليلة المعراج دَ سحر په جمع سره

(۱) اخرجه مسلم کتاب المساجد ومواضع الصلوة باب أوقات الصلوات الخمس (رقم)- ۱۷۳ - (۶۱۲) وابوداود کتاب الصلاة، باب في المواقيت (رقم-۳۹۶) والنسائى کتاب المواقيت/آخر وقت المغرب (رقم-۵۲۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

اداکړې شوې وو هم په دې وجه دې ته "الصلوة الاولى" وائي. بل کله چه حضرت جبرائیل آمین دَ وختونوبیان اوکړو نو هغه هم دَ ماسپښین نه شروع اوکړه

قوله: "إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ،"

د زوال د پیژندګلو طریقه: دَ نمر سورې چه ترکومې کمیږی نودا ګنړل پکاردی چه نمر اوچتیږی اوکله چه دَدغه سوری کمیدل او زیاتیدل بندشی نو داسې ګنړل پکاردی چه نمر دَ نصف النهار په نقطه باندې ولاړدې اوکله چه دَدې سورې لړ شان په زیاتیدوشی نوګنړل پکاردی چه دَ زوال وخت شروع شوې دې.

مجموعی طور د مونځونو وختونه: په دې خبره باندې هم پوهیدل پکاردی چه په مجموعی توګه باندې دَ مونځونووختونه په درې قسم باندې دی:

① **د مانځه د صحت وختونه:** دې دا هغه وختونه دی که په دې کښې مونځ اوکړې شو نو هغه به صحیح وی اوقضانه دې بلکه په اداکښې به شمیرلې شی او په دې کښې به دَ کراهت شائبه نه وی.

② **د مانځه مستحب وختونه:** اوقات استحباب دی دا دَ صحیح وخت نه هغه حصه ده په کوم کښې چه دَ مونځ اداکول اولی اوبهتردی سره دَدې چه وړاندې روستوکول هم جائزدی.

③ **د مانځه مکروه وختونه:** اوقات کراهت دی په کوم کښې چه مونځ کول مکروه وی. دَدې باب په احادیثوکښې دَ اوقات صحت بیان دې بیادې نه پس صفحه ۹۴ باندې باب النهی کښې دَهغه مکروه اوقاتو بیان دې په کوم کښې چه مونځ کول مکروه کیږی.

د ماسپښین په آخر وخت کښې مذاهب:

دَ ماسپښین وخت: په شروع دَ ماسپښین کښې دَ چاهم اختلاف نشته دَ ټولو ائمه حضراتو په نیز دَ زوال نه دَ ماسپښین وخت شروع کیږی دَ ماسپښین وخت په ختمیدوکښې دَ فقهاؤ اختلاف دې چه دَ ماسپښین وخت ترکومې پورې وی دغه شان دَ مازیګر دَ وخت په شروع کښې هم اختلاف راغلې دې

① امام مالك رحمه الله شافعی رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله او صاحبین یعنی دَ جمهورو مسلك دادې چه سورې دَ اصلی نه علاوه چه کله دَ هرڅیز سورې دَهغې په شان شی نو دَ ماسپښین وخت ختمیږی اودَ مازیګروخت شروع کیږی.

② امام مالك رحمه الله دَ ماسپښین او مازیګر په مینځ کښې دَ لږ شان داسې وخت هم قائل دې کوم چه مشترك وی.

③ دَ امام ابوحنیفه رحمه الله نه دَ ماسپښین آخری وخت متعلق څلو اقوال نقل دی لیکن درې اقوال واضح دی په دې وجه هم هغه بیانولې شی:

۱- دَ دوو مثلين پورې دَ ماسپښين وخت وی او مثل ثالث نه دَ مازيګروخت شروع کيږی دا قول دَ احنافو په نيز مشهور دې سره دَدې چه فتوىٰ په دې باندې نه ده.

ب- دَ امام ابوحنيفه رحمه الله دويم قول دادې چه په مثل اول باندې دَ ماسپښين وخت ختميږی او مازيګرشروع کيږی دا قول دَ جمهورو او صاحبين دَ مسلك موافق دې او فتوىٰ هم په دې قول ده. په درمختار کښې دَ ډيرو زياتو کتابونو په حواله سره دا مسلك راجح ګرځولې شوې دې. فتاوىٰ ظهيريه او خزانة المفتين کښې دَ امام صاحب رحمه الله دې مسلك طرف ته رجوع ثابت کړې شوې ده.

پ- دَامام صاحب رحمه الله نه دريم قول دا نقل دې چه دَماسپښين وخت خو په مثل اول باندې ختميږی ليکن دَ مازيګر وخت دَ دوو مثلين نه پس مثل ثالث نه شروع کيږی په مينځ کښې څه وخت مهمل دې نه دَ مازيګردې اونه دَ ماسپښين دې په دې کښې اصحاب اعذار مونځ کولې شی.

په دې واړه اقوالو کښې تطبيق: حضرت شاه انور شاه صاحب رحمه الله فرمائی چه په دې اقوالوکښې تطبيق دادې چه مثل اول خاص دَ ماسپښين دَپاره دې اومثل ثالث دَ مازيګر دَ پاره خاص دې او مثل ثانی مشترك وخت دې مګر دَ ټولودَپاره نه دې صرف دَ عذر والودَپاره دې.

د اول فريق اول دليل: ① زير بحث عبدالله بن عمرو حديث د اول فريق مستدل دې چه دَ نمر دَ زوال نه دَمثل اول پورې ماسپښين او دَمثل اول نه مازيګرشروع کيږی.

د اول فريق د اول دليل جواب: دَحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دا په مستحب او استحباب باندې محمول دې دَ کوم نه چه دَ احنافو انکارنه دې.

داول فريق دويم دليل: ② دَ جبرائيل عليه السلام امامت د اول فريق مستدل دې په کوم کښې چه تصريح موجود ده چه "حين صار ظل كل شيء مثله" يعنی مثل اول باندې دَ مازيګروخت شروع کيږی.

داول فريق د دويم دليل جواب: علامه نووی رحمه الله دې ته منسوخ وئيلې دې ځکه چه دا حديث بالکل دَ شروع زمانې دې دَ دې نه پس ځومره احاديث داسې دی په کوم کښې چه په دې اوقاتوکښې امتداد او تفصيل راغلې او په رومبی حکم کښې تغيرراغلو هسې هم دَدې حديث په بعض اجزاء باندې جمهور هم عمل نه کوی او په دې کښې تاويل کوی

د دويم فريق دلائل: ① هغه احاديث د دوی مستدل دی په کومو کښې چه دَ ماسپښين وخت يخ کولوتاکيد او ترغيب راغلې دې. چنانچه دَ بخاری شريف روايت دې: عن أبي سعيد (الخدری) قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ابردوا بالظهر فان شدة الحر من فيح جهنم. دغه شان په ترمذی شريف کښې يو روايت دې: عن النبي الله صلى الله عليه وسلم انه قال اذا اشتد الحر فأبردوا بالصلوة فان شدة الحر من فيح جهنم.

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ ابراد دَدې روایتونونه دَ استدلال طرز داسې دې چه په ګرمو ملکونو کښې دَمثل ثانی په وخت ابراد یعنی یخوالې راځی دې نه وړاندې وخت یخ کیدې نه شی نودَ ابراد لفظ لکه چه اعلان دې چه دَ ماسپښین وخت دَ مثلین پورې دې او په مثل اول باندې ختمیږی نه.

③ دَ پخوانو امتونو یعنی په یهودواونصاریٰ باندې دَ امت محمدیه دَ فضیلت والاحدیث دې کوم چه په مشکوة کښې "باب ثواب هذه الامة" کښې صاحب دَ مشکوة نقل کړې دې دَ کوم مضمون اومفهوم چه داسې دې چه یهودو مثلاً دَ سحرنه ترماسپښین پورې کار اوکړو هغوی ته الله تعالی یوقیراط په مزدورئی کښې ورکړو بیا نصاریٰ دَ ماسپښین نه تر مازیګره پورې کاراوکړو هغوی ته الله تعالی یوقیراط ورکړو په دې باندې یهودیان اونصاریٰ غصه شو چه زمونږ کار اووخت زیات وو اومعاوضه کمه ملاؤشوه اودَ دې امت دَ کار وخت کم وو او ثواب زیات ورکړې شو. نو الله تعالی اوفرمائیل ماچه تاسو ته څه درکړی دی ولې په تاسو باندې په هغې کښې ظلم شوې دې؟ هغوی اوونیل چه نه زمونږ حق خو ملاؤ شوې دې لیکن دوی ته زیات ورکړې شو نوالله تعالی اوفرمائیل دا خو زما فضل اوکرم دې په چاباندې چه زه کوم نوکوم به.

اوس په دې واقعه کښې داخبره بالکل واضح ده چه دَ ماسپښین نه ترمازیګره پورې وخت زیات اودَ مازیګرنه تر ماښام پورې وخت کم دې. اودا صرف په هغه صورت کښې کیدې شی چه ماسپښین دَ دوو مثل پورې اوږد اومنلې شی ګنی که په یومثل باندې ماسپښین ختم شی نوبیا دَماسپښین نه ترمازیګره پورې وخت دَهغه وخت نه اوږد نه وی کوم چه دَمازیګرنه ترماښام پورې دې. دا دَ اشارة النص نه بهترین مثال دې په دې شرط چه صورت حال هم دا شان وی.

④ دَحضرت ابوذرغفاری ﷛ هغه روایت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه هغوی دَ حضورپاك سره په سفرکښې یوه قصه پخپله داسې بیان کړې ده:

عن ابی ذر قال کنا مع النبی الله ﷺ فی سفر فاراد المؤذن ان یؤذن فقال له ابردثم اراد ان یؤذن فقال له ابردثم اراد ان یؤذن فقال له ابرد حتی رئینافیئ التلول فقال النبی الله ﷺ ان شدة الحر من فیح جهنم فاذا اشتد الحرفابردوا بالصلوة. [بخاری ج۱ ص۷۷]

په دې حدیث کښې دَ فئ لفظ راغلې دې کوم چه دَ سوری په معنی کښې دې او "التُلول" دَتاء په ضمه سره دتل جمع ده چه دَ غونډئی په معنی کښې دې دَ غونډو سورې ډیر روستو راځی خاص کر په ګرمو ملکونو کښې نودَدې سورې ډیر مشکل وی. دَحضرت ابوذر ﷛ دا وینا چه مونږ دَ ماسپښین مونځ دومره تاخیرسره اوکړو اودَ ابراد تحقق هغه وخت اوشو کله چه مونږ دَ غونډو سورې اولیدلو دا معامله دَ دوو مثلین نه وړاندې ممکن نه ده په دې وجه دادَ امام صاحب ﷫ دَ مشهور قول دپاره واضح دلیل دې.

مفتی به قول: بهرحال دَ احنافو علماء کرام فرمائی چه احتیاط په دې کښې دې چه دَ ماسپښین مونځ په مثل اول کښې اوکړې شی اودَ مازیګر مونځ دَ مثل ثانی نه پس اوکړې شی دې دَپاره چه دَ ټولو ائمه حضراتو په نیز اختلاف ختم شی او دواړه مونځونه بې ویرې په خپل خپل وختونوکښې اداشی. دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په اقوال کښې کوم قول دَ جمهورو موافق دې فتویٰ هم په هغې ده.

د ماسپښین او مازیګر په مینځ کښې د وخت مشترک په وجود کښې مذاهب:

دَ ماسپښین اومازیګردَ وخت متعلق په احادیثوکښې بعض الفاظ داسې راغلی دی دَ کوم نه چه شبه پیداکیږی چه یووخت داسې هم دې چه په ماسپښین اومازیګرکښې مشترک دې او هریومونځ په دې کښې کیږی په دې وجه په دې مسئله کښې دَ فقهاء کرامو اختلاف پیداشوې دې.

① امام مالک رحمه الله اوعبدالله بن مبارک رحمه الله د ماسپښین او مازیګر په مینځ کښې د مشترک وخت قائل دی.چې په دې وخت کښې د ماسپښین مونځ هم جائز دې او د مازیګر مونځ هم.

② امام ابوحنیفه، امام شافعی او امام احمدبن حنبل رحمهم الله په نیزپه وختونوکښې هیڅ داسې یووخت نشته چه په دوو مونځونوکښې مشترک وی. اودَ امام ابوحنیفه رحمه الله نه یو روایت دې چه دَ اصحاب اعذار دَپاره مثل ثانی مشترک وخت دې.

د اول فریق دلیل: حدیث امامت جبرائیل د دوی مستدل دې. په کوم کښې چه دَ دواړو وختونودَپاره دا الفاظ راغلی دی "حین صار ظل کل شیء مثله" او "حین کان ظله مثله" دَدې نه معلومه شوه چه دَاول ورځې دَ ماسپښین مونځ اودَ دویمې ورځې دَ مازیګرمونځ هم په یو وخت کښې اداکړې شو دَ کوم نه چه معلومه شوه چه دَدواړو وخت مشترک دې.

د اول فریق د دلیل دوه جوابونه: ① د "حین کان ظله مثله" مطلب "حین کان قریبًا من مثله" دې یعنی بعینه هم هغه نوخت نه بلکه یومثل سوری ته نیزدې نیزدې وخت مراد دې.

② علامه نووی رحمه الله فرمائی چه حدیث امامت جبرائیل منسوخ دې روستو تفصیل راغلې دې په دې کښې اجمال دې.

د دویم فریق دلیل: زیربحث حدیث د دوی مستدل دې په کوم کښې چه " مالم یحضر العصر" الفاظ موجود دی دَ کوم واضح مطلب چه دادې ترکومې چه دَ مازیګروخت نه راځی دَ ماسپښین وخت موجود وی اوکله چه دَ مازیګروخت راځی نودَماسپښین وخت زر خنمیږی په دې کښې اشتراك نشته دې.

احتیاط: داخبره دَ یادساتلوده چه احناف کومه داخبره کوی چه یومثل یا دوه مثل پورې دَ ماسپښین وخت وی دَدې مطلب دادې چه اصلی سورې اخوا کړې وړاندې کیدونکې

Maktaba Tul Ishaat.com

زیاتی سورې چه کله دَ یو څیز په شان اومساوی شی نودَ ماسپښین وخت داخلیږی.

د مازیګر اول وخت: دَ ماسپښین دَ وخت ختمیدو کښې چه کوم اختلاف ووددَ مازیګردَ وخت په شروع کیدو کښې هم هغه اختلاف دې چه دَ مازیګردَ شروع وخت کوم یودې آیا دَ مثل اول نه شروع کیږی لکه چه دَ جمهورو خیال دې یا دَ مثل ثانی نه پس شروع کیږی لکه چه دَ امام ابوحنیفه رحمه الله رائې ده. ددې تفصیل تیرشوې دې

د مازیګر آخر وخت کښې مذاهب:

① امام اوزاعی رحمه الله فرمائی چه دَ اصفرار الشمس پورې دَ مازیګردَ وخت ختمیدل دی ددې نه پس نه دې

② دَ جمهورو په نیزدَ مازیګروخت دَ نمردَ ډوبیدوپورې دې یعنی دَ اصفرار الشمس نه وړاندې وړاندې مستحب وخت دې اوددې نه پس جائزمع الکراهة وخت دې.

دَ دَمازیګردَ وخت دَ ختمیدو مسئله ده نو په زیربحث حدیث کښې دا لفظ راغلې دې "وقت العصر مالم تصفر الشمس"

د اول فریق دلیل: دَ حدیث ددَغه پورتنئی جملې څخه استدلال کوی چه اصفرار ترکومې پورې نه دې نومازیګردې اواصفرار راتلوسره به دَ مازیګروخت ختم شی.

د اول فریق د دلیل جواب: په دې حدیث کښې مستحب وخت بیان کړې شوې دې.او دا زمونږ هم مذهب دې.چې د مازیګرافضل او مستحب وخت قبل الاصفرار دې.اود اصفرار په وخت کښې مونځ کول مکروه تحریمی دی.

د دویم فریق دلیل: دوی هغه حدیث نه استدلال کړې دې په کوم کښې چه دا الفاظ راغلی دی: "من ادرك ركعة من العصر قبل ان تغرب الشمس فقد ادرك العصر" نوچه کله دَ نمردَ ډوبیدونه وړاندې صرف دَ یورکعت په ملاویدو سره دَ مازیګرمونځ ملاویږی نودَ اصفرار په وخت کښې به په طریقه اولی ملاویږی.

دماښام اول او آخر وخت: "ووقت صلوة المغرب مالم يغب الشفق" دَ نمر دَ ډوبیدونه پس دَ ماښام وخت شروع کیږی. دَ ماښام دَ وخت په شروع کښې دَ چاهم اختلاف نشته دې. دَ ماښام دَ وخت په ختمیدوکښې هم دَ ټولو په دې خبره باندې اتفاق دې چه دَ غروب شفق پورې دَماښام وخت وی.

د شفق په تعریف او تعیین کښې مذاهب:

البته دَ شفق تفسیر اوددې تعیین کښې اختلاف دې دَ دې وجې نه دَ ماښام دَ وخت ختمیدو کښې دَ فقهاء کرامو اختلاف پیداشوې دې.

① دَ فقهاؤ داَختلاف بنیاد دَلفظ شفق مصداق دې. نودَ صاحبینواو جمهور فقهاؤ په نیزدَ نمردَ ډوبیدونه پس په آسمان چه کومه سرخی راځی هم دَ دغه سرخئی نوم شفق دې کله چه

دا سرخی ختمه شی نوډ مابنام وخت ختمیږی.

② امام ابوحنیفه رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله په نیز شفق دَ هغه بیاض اوسپینوالی نوم دې چه دَ سرخئی دَ ختمیدونه پس په آسمان خوریږی ترکومې چه دا بیاض او سپینوالې وی دَ مابنام وخت به باقی وی اودَ دغه سپینوالی دَختمیدونه پس چه کوم تورروالې خوریږی هغه دَ ماسخوتن وخت دې دَ امام صاحب په نیز دا وخت تقریبًا یوه گهنته او لس منټوپورې وی.

ثمره د اختلاف: نتیجه دا راؤوتله چه که چاپه دغه بیاض کښې دَ ماسخوتن مونځ اوکړو نودَ امام صاحب په نیزجائزنه دې دَ جمهورو په نیزجائزدې اوکه چا په دغه بیاض کښې دَ مابنام مونځ اوکړو نودَ جمهورو په نیزبه جائزنه وی اودَ امام صاحب رحمه الله په نیزبه جائزوی.

داول فریق دلائل: ① دَحضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها روایت د دوی مستدل دې دَ کوم الفاظ چه څه داسې دی: قالت کانوا یصلون العتمة فیما بین ان یغیب الشفق الی ثلث اللیل. طرز استدلال داسې دې چه دلته دَ شفق نه مراد سرخی ده څکه چه که دَدې نه بیاض مراد واخستې شی نوصحیح به نه وی څکه شفق ابیض ثلث اللیل پورې پخپله باقی پاتې وی نودَدې په مینځ کښې دَ ماسخوتن مونځ کولو مفهوم په پوهه کښې نه راځی معلومه شوه چه شفق نه مراد احمرة دې نه چه بیاض.

② دَحضرت ابن عمر رضی الله عنهما هغه روایت هم د دوی مستدل دې په کوم کښې چه په صریح توګه دَ شفق تفسیر حمرة سره کړې شوې دې. قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الشفق الحمرة.

③ دَ اهل لغت تصریح هم د دوی مستدل دې. چه شفق نه مراد حمرة دې چنانچه شیخ اصمعی رحمه الله او خلیل بن احمد رحمه الله او فراء رحمه الله تصریح کړې ده چه دَ شفق نه مراد حمرة دې.

د اول فریق د دلائلو جواب: د دویم فریق دلائل د اول فریق دَ روایاتو په مقابله کښې کافی روایات دی اودَ اهل لغت په مقابله کښې لوئی لوئی اصحاب لغت موجود دی لیکن بهرحال دَ احنافو په نیزفتوی دَ جمهورو او صاحبین دَ قول مطابق ده. یادلرئی چه شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې دَدې مسئله چه کوم تحقیق فرمائیلې دې په هغې کښې هغوی دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله امام ابوحنیفه رحمه الله سره ذکرکړې دې.

احتیاط: احتیاط هم په دې کښې دې چه دَمابنام مونځ هم دَ دغه سرخئی په موجودګئی کښې اداکړې شی اوروستوکولې دې نه شی دَ احنافو فتوی هم په دې باندې ده اودَ احنافو اکثرعلماؤ وئیلی دی چه امام ابوحنیفه رحمه الله دَ جمهورو قول طرف ته رجوع کړې ده. (کذافی النهر)

د دویم فریق دلائل: ① په ابوداؤد (ج۱ ص۵۷) کښې روایت دې په کوم کښې چه "حین یسودالافق" الفاظ راغلی دی اودا سواددَهغه بیاض نه پس راځی کوم بیاض چه دَ حمرة نه پس

Maktaba Tul Ishaat.com

راځی معلومه شوه چه ترکومې پورې بیاض دې نودَمابنام وخت موجود دې.
④ دَ ترمذی شریف دَ حدیث هغه ټکړه د دوی مستدل دې په کوم کښې چه الفاظ راغلی دی "وان اول وقت العشاء الآخرة حين يغيب الافق" اودا ښکاره خبره ده چه دَ آسمان غاړې هغه وخت غائب کیږی کله چه دَ شفق بیاض ختمیږی. دَدې قسم نور احادیث هم دی په کوم کښې چه دَ بیاض ختمیدو اوتیارې خوریدو ذکردې دَ کوم نه چه داخبره ثابتیږی چه دَ شفق نه مراد حمرة نه دې بلکه بیاض دې. دَ امام ابوحنیفه رحمه الله
⑤ دَ ائمه لغت تشریح اوتفسیرهم د دوی مستدل دې په کوم کښې چه هغوی تصریح فرمائیلې چه شفق په لغت کښې بیاض ته وئیلی کیږی چنانچه امام لغت شیخ مبرد رحمه الله او شیخ زجاج رحمه الله فرمائی چه دَشفق نه مرادبیاض دې دَدې دَذهاب سره دَ ماسخوتن وخت راځی.

د مابنام د وخت په مضیق او موسع کښې مذاهب:

دَ مابنام وخت "مُضَيَّق" او "مُوَسَّع" کیدو کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې. ① دَامام شافعی رحمه الله او امام مالك رحمه الله په نیز دَ مابنام وخت ډیر تنګ او مضیق دې صرف اودس کول اودرې فرض او دوه سنت کولو په دې کښې ګنجائش دې. دَدې نه پس دَ ماسخوتن وخت شروع کیږی. خوعلامه نووی رحمه الله لیکلی دی چه دَ شوافع فتوی په دې باندې ده چه دَمابنام وخت دَ شفق ډوبیدو پورې دې اوهم دغه دَ امام شافعی رحمه الله قدیم قول دې.
② دَ امام ابوحنیفه رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله او جمهور علماؤ په نیز دَمابنام وخت دَ شفق دَ ډوبیدوپورې موسع دې.

داول فریق دلیل: امام شافعی رحمه الله او امام مالك رحمه الله حدیث امامت جبرائیل نه استدلال کړې دې چه په دې کښې په دواړو ورځو کښې حضرت جبرائیل علیه السلام دَمابنام مونځ هم په یووخت ورکړې دې دکوم نه چه معلومیږی چه په دې وخت کښې دَ وړاندې روستوکیدو څه ګنجائش نشته دې.

د دویم فریق دلائل:

① دَ "مالم يغب الشفق" حدیث د دوی مستدل دې دَ کوم نه چه دَ وسعت اندازه کیږی.
②دغه شان "قبل ان يغيب الشفق" الفاظ کوم چه دَ حضرت بریده رضی الله عنه په روایت کښې دی دَدې نه هم معلومیږی چه په دې وخت کښې شروع اوختمیدل دی او په دې کښې دَ یوحد پورې وسعت دې.

د ماسخوتن پخوانې نوم: دَ اسلام نه وړاندې به دَعربوخلقو ماسخوتن په عتمة سره یادولو اسلام دَدې لفظ حوصله شکنی اوکړه او ماسخوتن ئې متعارف کړو البته عشاء اولی ته مابنام او عشاء آخرته عشاء یعنی ماسخوتن وئیلې شوې دې.

د ماسخوتن آخری وخت کښې مذاهب:

د ماسخوتن اول وخت او دَدې دَ شروع وخت کښې هم هغه اختلاف دې کوم چه دَ ماښام دَ ختمیدو په وخت کښې وو. ① حضرت سفیان ثوری رحمه الله عبدالله بن مبارک رحمه الله او حضرت اسحاق بن راهویه رحمه الله او په یوقول کښې امام شافعی رحمه الله داټول حضرات فرمائی چه دَ ماسخوتن وخت دَ نصف اللیل پورې دې ددې نه پس جائزنه دې.

② جمهورعلماء فرمائی چه دَ ماسخوتن آخری وخت صبح صادق پورې دې

د اختلاف بنیاد: دا اختلاف څه بنیادی اختلاف نه دې لیکن چونکه په احادیثوکښې مختلف الفاظ راغلی دی په دې وجه دَ فقهاؤ اقوال هم مختلف شوې دی.

① بعض احادیثو کښې "الی نصف اللیل" الفاظ دی

② بعض روایت کښې "ثلث اللیل" الفاظ دی

③ دَ طحاوی رحمه الله په بعض روایاتوکښې "وآخره حین یطلع الفجر" الفاظ راغلی دی.

④ بعض روایاتوکښې "الی ان یدخل وقت الاخری" الفاظ ملاویږی دَ کوم دَ وجې نه چه دَ فقهاء اقوال هم مختلف شوی دی.

په ټولو احادیثو کښې د تطبیق صورت: لیکن ټول احادیث مخې ته کولوسره فقهاء کرامو یو اجتماعی مسئله خپله کړې ده او په ټولو احادیثوکښې داسې تطبیق ورکړې دې چه ثلث اللیل پورې دَ ماسخوتن مستحب وخت دې اونصف اللیل پورې جائز وخت بغیردَ څه کراهت نه دې اودَ صحب صادق پورې تاخیرکول جائز مع الکراهت دې.

د صبا په آخری وخت کښې مذاهب:

دَ فجریعنی سحر وخت دَ فجرنه واخله دَ نمر راختلوپورې دې دَدې وخت په شروع اوختمیدوکښې څه قابل ذکر اختلاف نشته دې ① البته امام شافعی رحمه الله طرف ته دا قول منسوب دې چه دَهغوی په نیزدَ فجر وخت دَ اسفار اورڼا خوریدوپورې دې دَ نمر راختلوپورې نه دې.

② دجمهورو په نیز د صبا آخری وخت د نمبر راختل دی.چې نمر راختل شروع شی نو د صبا د مونځ وخت ختم شو.

داول فریق دلیل: "وصلی الفجرفاسفر" څخه د دوی استدلال کوی.

د اول فریق د لیل جواب: دَ دې روایت په رڼاکښې اودَ امت دَ اجماع په رڼاکښې دَ امام شافعی رحمه الله قول ناقابل التفات دې هغه دَ حدیث امامت جبرائیل دَ یوجملې نه دَ اجتهادپه توګه استدلال کړې دې اودَ حدیث امامت جبرائیل ډیر اجزاء تعلق دَ مونځ بالکل دَ شروع دَ وخت سره دې په دې وجه دې روایت ته ډیر زیات شارحینو حدیث منسوخ وئیلې دې. والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com

د دويم فريق دليل: دَ حضرت ابوهريره ﷺ مرفوع حديث د دوی مستدل دي. په کوم کښې چه دا الفاظ دی "من ادرك ركعة من الصبح قبل ان تطلع الشمس فقد ادرك الصبح" [مشكوة: ۶۱]

قوله: "الْأَوْسَطِ"

د اوسط په مصداق کښې دوه اقوال:

① حديث کښې "الاوسط" کوم لفظ راغلې دې دادَ ليل صفت دې مطلب دادې چه شپه کله متوسط وی نه زياته اوږده وی اونه زياته وړه وی دَدغه شان متوسط شپې نصف مراد دې.

② يا لفظ نصف دَ کلمه دَپاره صفت دې او مطلب دادې چه دَ زياتوالی اوکموالی نه بغيرتيك دَ نصف پورې ماسخوتن دې نولکه دادَ يوقسم تاکيد دې.

قوله: "بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ" قرنی تثنيه ده دَ قرن او قرن ښکرته وائی

د مذکوره جملې مفهوم: مطلب دا چه نمر دَ شيطان دَ دوو ښکرو په مينځ کښې راخيژی مراددَ سردواړه طرفه دی دَ حديث دَ دې جملې مطلب دا نه دې چه نمر دَ شيطان دَ دوو ښکرو په مينځ کښې راخيژی بلکه دَدې حديث مطلب دَ نورو احاديث دَ تفصيل مطابق دې چه دَ ابليس العين عبادت خو په انسانانو کښې څوك هم نه کوی ليکن داخبيث غواړی چه دَالله تعالی عبادت سره دَخپل عبادت مشابهت پيدا کړی دَدې مقصد دَپاره داخبيث دَ نمر راختلو په وخت دَ نمر مخې ته داسې اودريږی چه نمر دَ ده په سرباندې تيريږی. بل طرف ته آفتاب پرست او دَ نمر عبادت کونکی کله چه نمر ته مخامخ شی نودَنمر عبادت کوی نوشيطان هم مخې ته وی. دغه شان شيطان په خپل زړه کښې دا خيال کوی چه خلق زما عبادت کوی اوخپل اولاد ته خودل غواړی چه ګورئی خلق څنګه زما عبادت کوی په دې وجه شريعت مسلمانان منع کړل چه طلوع آفتاب او غروب آفتاب او نصف النهار کښې دې څوك عبادت نه کوی.

۵۸۲- د مانځه د وختونو تفصيل

۵۸۲-(¹)[۲] وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «انَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ وَقْتِ الصَّلَاةِ [۳] فَقَالَ لَهُ: صَلِّ مَعَنَا هٰذَيْنِ يَعْنِي الْيَوْمَيْنِ - [۴] فَلَمَّا زَالَتِ الشَّمْسُ أَمَرَ بِلَالًا فَأَذَّنَ، ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الظُّهْرَ [۵] ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ بَيْضَاءُ نَقِيَّةٌ [۶] ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْمَغْرِبَ حِينَ غَابَتِ الشَّمْسُ، [۷] ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْعِشَاءَ حِينَ غَابَ الشَّفَقُ، [۸] ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْفَجْرَ حِينَ طَلَعَ الْفَجْرُ.

ترجمه: [۱] حضرت بريده رضي الله عنه راوي دي [۲] چې يو سړي د رسول الله ﷺ څخه د لمانځه د وخت پوښتنه وکړه (چې د لمونځونو اول او آخر وخت څه دي) ؟ [۳] حضور ﷺ هغه ته

(¹) اخرجه مسلم كتاب المساجد ومواضع الصلوة باب أوقات الصلوات الخمس (رقم) ۱۷۶ - (۶۱۳) والنسائى كتاب المواقيت/ أول وقت المغرب (رقم-۵۱۹)

وفرمایل چې په دې دوو ورځو کې ته زمونږ سره مونځ اوکړه (چې تا ته د لمانځه وختونه دروښایم) [۴] نو کوم وخت چې نمر په زوال شو حضور ﷺ بلال رضی اللہ عنہ ته د اذان کولو حکم وکړو بلال رضی اللہ عنہ اذان وکړو بیا حضور ﷺ هغه ته د تکبیر (اقامت وئیلو) حکم وکړو نو هغه د ماسپښین تکبیر اوویلو (او حضور ﷺ د ماسپښین مونځ ورکړو) [۵] بیا حضور ﷺ د مازیګر د اقامت حکم ورکړو هرکله چې نمر اوچت (بلند) سپین اوصاف وو (نو د مازیګر مونځ یې ورکړو) [۶] بیا د ماښام د اقامت حکم یې ورکړو کله چې نمر ډوب شوې وو (او د ماښام مونځ یې ورکړو) [۷] بیا د ماسخوتن د اقامت حکم یې ورکړو هرکله چې شفق غائب شو او (د ماسخوتن مونځ یې ورکړو) [۸] بیا فجر (سحر) ظاهریدو سره حضور ﷺ د اقامت حکم ورکړو (او مونځ یې ورکړو، لکه چې په اولني ورځ حضور ﷺ ټول لمونځونه په اول وخت کې ورکولو سره وروښودل (چې د لمونځونو اول وخت دا دې)

حل اللغات: ① مُرْتَفِعَةٌ: اوچت (یعنی بلند اوښکاره واضحه وو) ② بَيْضَاءُ: سپین، ③ نَقِيَّةٌ: أَيْ: طَاهِرَةٌ مِنَ الْإِصْفِرَارِ: پاک صفا وو، زیړوالی پکښې نه وو.

[۱] فَلَمَّا أَنْ كَانَ الْيَوْمُ الثَّانِي أَمَرَهُ: "فَأَبْرَدَ بِالظُّهْرِ" [۲] فَأَبْرَدَ بِهَا - فَأَنْعَمَ أَنْ يُبْرِدَ بِهَا - وَصَلَّى الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ - [۳] أَخَّرَهَا فَوْقَ الَّذِي كَانَ، [۴] وَصَلَّى الْمَغْرِبَ قَبْلَ أَنْ يَغِيبَ الشَّفَقُ، [۵] وَصَلَّى الْعِشَاءَ بَعْدَمَا ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ، [۶] وَصَلَّى الْفَجْرَ فَأَسْفَرَ بِهَا. [۷] ثُمَّ قَالَ: أَيْنَ السَّائِلُ عَنْ وَقْتِ الصَّلَاةِ؟ ". [۸] فَقَالَ الرَّجُلُ: أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ. [۹] قَالَ: "وَقْتُ صَلَاتِكُمْ بَيْنَ مَا رَأَيْتُمْ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: [۱] بیا چې دویمه ورځ شوه نو حضور ﷺ بلال رضی اللہ عنہ ته د ماسپښین یخیدو سره د اذان کولو حکم وکړو [۲] او د ښه یخیدو ځخه وروسته یې د ماسپښین مونځ ورکړو او د مازیګر مونځ یې هغه وخت ورکړو چې نمر ښه اوچت وو [۳] لیکن د پروني وخت ځخه تاخیر کولو سره یې مونځ ورکړو [۴] او د ماښام مونځ ئې شفق غائبیدو ځخه مخکې (یعنې د شفق غائبیدو نزدې یې) ورکړو. [۵] او د ماسخوتن مونځ ئې دریمه حصه د شپې تیریدو باندې ورکړو [۶] او د فجر (سحر) مونځ ئې ښه رڼا کیدو باندې ورکړو [۷] او د دې ځخه وروسته یې وفرمایل د لمانځه وختونه معلوموونکې سړی چرته دې؟ [۸] هغه سړي عرض وکړو چې یا رسول الله ﷺ زه حاضر یم [۹] حضور ﷺ ورته وفرمایل ستا د مونځ وختونه د دې وختونو په مینځ کې دي چې تا دې دوو ورځوکې ولیدل، مسلم

حل اللغات: ④ فَأَبْرَدَ: برد یخوالی ته وائي. ⑤ فَأَنْعَمَ: أَيْ: بَالَغَ: دَ ښه یخوالی دَپاره لفظ انعم استعمال کړې شوې دې. ⑥ فَأَسْفَرَ: اى أَسْفَرَ الصُّبْحُ إِذَا أَضَاءَ: د سحر د سپین والی نه مطلب ښه رڼا لګیدل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: "أَنَّ رَجُلًا"

د تعليم الصلاة غوره طريقه: يعنى يوسړى دَ رسول الله ﷺ نه دَ مونځ دَ وختونو متعلق سوال اوکړو چه دَمانځه اول وخت څه ته وائى اودَدې آخر وخت کوم يووى. رسول الله ﷺ مناسب اوګنړل چه دا سړې زبانى توګه باندې دَ پوهه کولو په ځائى په عملى توګه باندې پوهه کول ډير مفيد دى. په دې وجه حضورپاك په ړومبې ورځ مونځونه دَهغې په اول وخت کښې اداکړل په دويمه ورځ ئې بالکل په آخر وخت کښې اداکړل اوبيائى دغه سوال کونکې راؤغوښتلو وئې فرمائيل چه دَدې دواړو وختونو په مينځ کښې ستاسو دَ مونځونووختونه دى.

اشکال: حضورپاك دَ دوو وختونو په مينځمى وخت دَ مونځ وخت ګرځولې دې دَ کوم نه چه معلوميږى چه پخپله دَدې دوو وختونو طرف اول او طرف ثانى دَدواړو مونځونو دَ وختونونه خارج شو حالانکه هغه پخپله هم دَ مونځ په وختونوکښې داخل دى.

داشکال جواب: دَ حديث دَ دې جملې مطلب دادې چه حضورپاك فرمائى په ړومبې ورځ چه ما په کوم دَ شروع وخت کښې مونځ اوکړو او بيا په دويمه ورځ چه ما په کوم آخرى وخت کښې مونځ اوکړو دغه اول او آخر يوځائى کولوسره په مينځ کښې ټول وخت دَ مونځ دې. خلاصه داچه دَ مونځونو دَ وختونو جانبين دَ مونځ دَ وختونونه خارج نه دې بلکه په دې کښې داخل دې.

الْفَصْلُ الثَّانِي

۵۸۳–دجبريل عليه السلام د امامت بيان

۵۸۳–(۱)[۳] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «أَمَّنِي جِبْرِيلُ عِنْدَ الْبَيْتِ مَرَّتَيْنِ،[۳] فَصَلَّى بِيَ الظُّهْرَ حِينَ زَالَتِ الشَّمْسُ،[۴] وَكَانَتْ قَدْرَ الشِّرَاكِ،[۵] وَصَلَّى بِيَ الْعَصْرَ حِينَ صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَهُ،[۶] وَصَلَّى بِيَ الْمَغْرِبَ حِينَ أَفْطَرَ الصَّائِمُ،[۷] وَصَلَّى بِيَ الْعِشَاءَ حِينَ غَابَ الشَّفَقُ،[۸] وَصَلَّى بِيَ الْفَجْرَ حِينَ حَرُمَ الطَّعَامُ وَالشَّرَابُ عَلَى الصَّائِمِ،

ترجمه: [۱] ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې نبي کريم ﷺ فرمايل[۲] جبريل عليه السلام (د لمانځه کيفيت او د لمانځه وختونو ښودلو د پاره) امام جوړيدو سره خانه کعبې ته نزدې ماته دوه خله (دوه ورځې) مونځ راکړي دي[۳] نو ماته يي د ماسپښين مونځ راکړو په اولنې ورځ کوم وخت چې نمر په زوال شو [۴] او سايه (سورې) د تسمې په شان وه[۵] او کوم وخت چې د هر

[۱] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب فى المواقيت(رقم-۳۹۳) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى مواقيت الصلاة عن النبى صلى الله عليه وسلم(رقم-۱۴۹) وابن ماجة كتاب الصلاة أبواب مواقيت الصلاة (رقم-۶۶۸)

شي سایه (سوري) (علاوه د اصلي سایه (سورې) د هغې د هغې برابر شوه نو ما ته يې د مازیګر مونځ راکړو⑥ او کوم وخت چې روژه دار روژه ماتوي (یعني د نمر پټیدو څخه وروسته) نو ماته يې د ماښام مونځ راکړو⑦ او د شفق د غائبیدو په وخت يې ماته د ماسخوتن مونځ راکړو⑧ اوکوم وخت چې د روژه دار د پاره خوراك څښاك حرامیږي (یعني د صبح صادق څخه وروسته) نو ماته يې د سحر مونځ راکړو

① فَلَمَّا كَانَ الْغَدُ، صَلَّى بِيَ الظُّهْرَ حِينَ كَانَ ظِلُّهُ مِثْلَهُ، ② وَصَلَّى بِيَ الْعَصْرَ حِينَ كَانَ ظِلُّهُ مِثْلَيْهِ، ③ وَصَلَّى بِيَ الْمَغْرِبَ حِينَ أَفْطَرَ الصَّائِمُ، ④ وَصَلَّى بِيَ الْعِشَاءَ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ ⑤ وَصَلَّى بِيَ الْفَجْرَ فَأَسْفَرَ "⑥ ثُمَّ الْتَفَتَ إِلَيَّ فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، هَذَا وَقْتُ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِكَ، ⑦ وَالْوَقْتُ مَا بَيْنَ هَذَيْنِ الْوَقْتَيْنِ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① بیا چې دویمه ورځ شوه نو ماته يې د ماسپښین مونځ هغه وخت راکړو چې سایه (سورې) یو مثل ته (نزدې) شوه② او د مازیګر مونځ يې هغه وخت راکړو چې سایه (سورې) دوه مثل شوه③ او د ماښام مونځ يې هغه وخت راکړو کوم وخت چې روژه دار روژه ماتوي④ او د ماسخوتن مونځ يې هغه وخت راکړو چې دریمه حصه د شپې شوې وه⑤ او د سحر مونځ يې هغه وخت راکړو هرکله چې ښه رڼا شوې وه⑥ بیا جبرائیل علیه السلام زما طرف ته متوجه کیدو سره اوویل اې محمد ﷺ دا وخت ستا څخه مخکې د نبیانود لمانځه وخت وو⑦ او دلمانځه وخت د دې دواړو وختونو په مینځ مینځ کې دي، (ابوداؤد، ترمذي).

حل اللغات: ① زَالَتِ: زوال به اوشو. ددې نه مراد فیئ الزوال دي. ② عِنْدَ الْبَيْتِ: دَدې نه بیت الله مراد دې اوداد هجرت نه مخکښې واقعه ده. ③ الشِّرَاكِ: د څپلۍ تسمې ته وائی. ④ الشَّفَقُ: وَهُوَ الْحُمْرَةُ الَّتِي تَلِي الشَّمْسَ بَعْدَ الْغُرُوبِ: د نمبر د پریوتلونه پس چه دنمر سره نزدې کوم سوروالې وی هغې ته شفق وائی.

تسهیلات:

قوله: "قَدْرَ الشِّرَاكِ"

د تشبیه محل: ښکاره خبره داده چه دَ څپلئی تسمې سره دا تشبیه په پلنوالی کښې ورکړې شوې ده په اوږدوالی کښې نه ده.

د څائي او وخت په اعتبار سره د سایه اصلی اختلاف: بیا دَ ځائی اووخت په اعتبارسره اصلی سورې مختلف وی. په بعضې مقاماتوکښ اصلی سورې زیات وی او په بعضې کښې کم وی اوبعضې مقاماتوکښې اصلی سورې بالکل نه وی لکه په مکه مکرمه کښې دَ نورلسم سرطان بالکل اصلی سورې نه وی. [الکاشف: ۱۹۰/۲]

دَ امتونودَ مونځونو وختونه: "هذاوقت الانبیاء"

اشکال: دَ سابقه انبیاء کراموسره دَ مشابهت څه معنی ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com

د اشکال جواب: دا مشابهت دَ متفرق وختونو په اعتبار سره دي. دَ ماسخوتن نه علاوه په غالب توګه باندې دَ هغوی اودَ دې امت په وختونو او مونځونو کښې ډیر یوشان والې وو. دَماسخوتن مونځ دَامت محمدیه خصوصیت دې داهم وئیلی کیدې شی چه پخوانو امتونو هم دَماسخوتن مونځ کړې وو لیکن دَ نفل په توګه ئې کړې او امت محمدیه ئې دَ فرض په توګه باندې ادا کوی نو تشبیه صحیح ده.

مختلفو امتونو سره د مشابهت وجه: شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې دَ مختلف امتونو دَ مونځونو مختلف وختونه ذکرکولو سره مشابهت داسې ذکر کړې دې.

① دَحضرت آدم علیه السلام توبه چه کله دَ سحروخت کښې قبوله شوه نو هغوی دَ شکرانې په توګه دَ سحردوه رکعته مونځ ادا کړو

② دَ ماسپښین وخت چه کله دَ اسماعیل علیه السلام دَ ځان په بدله کښې دګډ قربانی قبوله شوه نو هغوی دَ شکرانې په توګه دَ ماسپښین څلور رکعته مونځ اوکړو.

③ حضرت عزیر علیه السلام چه کله دَ سلو کالونه پس راژوندې کړې شو نو دَ مازیګر وخت وو په دې وجه هغوی دَ شکرانې په توګه دَ مازیګرڅلور رکعته مونځ اوکړو.

④ په حضرت داؤد علیه السلام باندې چه کله دَ امتحان وخت راغلو اوبیا دَهغوی دَ معاف کیدو حکم راغلو نو دَماښام وخت وو هغوی څلور رکعته کول غوښتل لیکن څلورم رکعت ئې اونه کړې شو ځکه چه هغوی دَ زیاتې ژړا په وجه باندې کمزورې شوی وو په دې وجه دَماښام درې رکعته مونځ پاتې شو.

⑤ دَ ټولو نه مخکښې دَماسخوتن مونځ رسول الله ﷺ کړې چه دَ دې امت په خصوصیت کښې یو خصوصیت دې.

قوله: أَمَّنِي جِبْرِيلُ عِنْدَ الْبَيْتِ مَرَّتَيْنِ:

د حدیث څخه د دوؤ مسائلو غلط استنباط: ①په دې کښې داخبره دَ بحث لاندې نه ده چه جبرائیل متنفل وو حضورپاك مفترض وو ځکه چه کله حضرت جبرائیل ته دَ الله تعالی دَ طرف نه دَ مونځ ورکولو حکم ملاؤ شو نو هغوی مفترض جوړشو. دَ "مَا بَيْنَ هٰذَيْنِ الْوَقْتَيْنِ" وغیره جملو تشریح مخکښې شوې ده.

② بل داخبره دَ بحث لاندې نه ده چه جبرائیل مفضول وو هغه دَ حضورپاك څنګه امامت اوکړو ځکه چه دا څه ممنوع کارنه دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

۵۸۴- د جبریل علیه السلام د پنځو مونځونو امامتی

۵۸۴-()[۳] [۱] عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ أَخَّرَ الْعَصْرَ شَيْئًا، [۲] فَقَالَ لَهُ عُرْوَةُ: «أَمَا إِنَّ جِبْرِيلَ قَدْ نَزَلَ فَصَلَّى أَمَامَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [۳] فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: اعْلَمْ مَا تَقُولُ يَا عُرْوَةُ. [۴] فَقَالَ: سَمِعْتُ بَشِيرَ بْنَ أَبِي مَسْعُودٍ يَقُولُ: سَمِعْتُ أَبَا مَسْعُودٍ،

ترجمه: [۱] ابن شهاب راوي رحمه الله دي چې عمر بن عبدالعزيز رحمه الله يو ورځ د مازيگر مونځ (د مختار وخت څخه لږ) تاخير كولو سره وكړو [۲] عروه رحمه الله چې دا وليدل نو هغه اوويل پوه شه چې جبرائيل عليه السلام راغي د حضور صلى الله عليه وسلم په مخكې ودريدو سره په اول وخت كې يې مونځ وركړي وو [۳] عمر بن عبدالعزيز رحمه الله ورته وفرمايل اي عروه لږ سوچ سره خبره كوه چې څه وايي [۴] عروه رحمه الله اوويل ما د ابو مسعود رضي الله عنه د خوي د بشير څخه واوريدل هغه اوويل ما د ابو مسعود رضي الله عنه څخه اوريدلي دي

[۱] يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۲] نَزَلَ جِبْرِيلُ فَأَمَّنِي، فَصَلَّيْتُ مَعَهُ، [۳] ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ، ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ، ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ، ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ" [۴] يَحْسُبُ بِأَصَابِعِهِ خَمْسَ صَلَوَاتٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] هغه فرمايل چې ما د رسول اكرم صلى الله عليه وسلم څخه واوريدل چې هغه فرمايل [۲] چې جبرائيل عليه السلام راغي زما امام جوړ شو او ما د هغه سره مونځ وكړو [۳] بيا ما د هغه سره مونځ وكړو، بيا ما د هغه سره مونځ وكړو ، بيا ما د هغه سره مونځ وكړو، بيا ما د هغه سره مونځ وكړو، بيا ما د هغه سره مونځ وكړو [۴] راوي وايي چې حضور صلى الله عليه وسلم پنځه لمونځونه په گوتو شميرلو سره وښودل. (بخاري ،مسلم)

تسهيلات:

قوله: "أَخَّرَ الْعَصْرَ شَيْئًا"

د مذكوره جملې نه غلط فهم: يعنى مستحب وخت كښې لږشان تاخير اوشو دامطلب نه دي چه دَ مازيگر دَمكروه وخته پورې تاخيراوكړو.

قوله: "فَقَالَ لَهُ عُرْوَةُ"

دحضرت عروه او عمربن عبدالعزيز په مينځ كښې مكالمه: حضرت عروه رحمه الله يودَ لوئى شان والاتابعي دي دي دَحضرت اسماء بنت ابى بكر رضي الله عنهما او زبير رضي الله عنه ځوئى دي. ده غوښتل چه حضرت عمربن عبدالعزيز رحمه الله ته دَ جبرائيل دَ امامت حديث واؤروى په كوم كښې چه دَ مونځونو په اول وخت كښې دَ اداكولو بيان دې. په دې وجه هغوى دَحرف تنبيه "اما" سره

---

(۱) اخرجه البخاري بدء الخلق باب ذكر الملائكة (رقم-۳۲۲۱) ومسلم كتاب بدء الخلق باب أوقات الصلوات الخمس (رقم) ۱۶۶ - (۶۱۰) والنسائي كتاب المواقيت(رقم-۴۹۴) وابن ماجة كتاب الصلاة . أبواب مواقيت الصلاة (رقم-۶۶۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

دکلام شروع اوکړه دي دپاره چه حضرت عمر بن عبدالعزیز په غور سره خبره واورې.

قوله: "اِعْلَمْ مَا تَقُولُ يَا عُرْوَةُ."

د عمر بن عبدالعزیز د قول مطلب: دا صیغه دَ امر ده حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله حضرت عروه رحمه الله ته اوفرمائیل اې عروه ته په سوچ اوفکر سره خبره کوه ته حدیث بیانوې حالانکه ته صحابي نه یئې نودَ سند دَ ذکر کولونه بغیر ته څنګه حدیث بیانوې؟ په دې باندې حضرت عروه رحمه الله دَ حدیث مکمل سند بیانولو سره اوخودل چه زه ښه په سوچ اوفکر او پوهه سره داحدیث بیانولې شم. دَدې سند داسې دې په دې باندې حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله چپ شو.

٥٥٨- د حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه خپلو عاملانو ته خط

٥٥٨-(١)[٥] ① وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّهُ كَتَبَ إِلَى عُمَّالِهِ: ② إِنَّ أَهَمَّ أُمُورِكُمْ عِنْدِي الصَّلَاةُ: ③ مَنْ حَفِظَهَا وَحَافَظَ عَلَيْهَا حَفِظَ دِينَهُ، ④ وَمَنْ ضَيَّعَهَا فَهُوَ لِمَا سِوَاهَا أَضْيَعُ. ⑤ ثُمَّ كَتَبَ: أَنْ صَلُّوا الظُّهْرَ إِنْ كَانَ الْفَيْءُ ذِرَاعًا، إِلَى أَنْ يَكُونَ ظِلُّ أَحَدِكُمْ مِثْلَهُ،

ترجمه: ① د امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په باره کې روایت دې چه هغه خپلو عاملانو (د اسلامي سلطنت حاکمانو) ته خط لیږلې وو ② چې ستاسو په ټولو کارونوکې ډیراهمیت والا کار زما په نیز مونځ کول دي ③ نو چا چې د دې محافظت وکړو (یعني د ارکان اوشرائط سره یې مونځ وکړو) او د دې نګهباني یې وکړه (یعني همیشه یې ادا کولو او د ریاء او نمائش په سبب یې باطل نه کړو) نو لکه چې هغه د خپل دین د بقیه امورو نګهباني او محافظت وکړو ④ او چا چې دا ضائع کړو نو هغه هغه شي لره چې د لمانځه څخه علاوه دي ډیر زیات ضائع کونکي دي ⑤ بیایې دا ولیکل چې د ماسپښین مونځ د یو ګز سایه (سورې) زوال کیدو څخه واخله د یو مثل سایه (سورې) پورې (علاوه د اصلي سایه (سورې) نه کوئ

حل اللغات: ① عُمَّالِهِ: أَيْ: أُمَرَائِهِ: د عَامِل جمع ده. حاکمان ګورنران مراد دی. ② الْفَيْءُ: أَيْ: الظِّلُّ: سورې، سایه، ③ ذِرَاعًا: ګز،

① وَالْعَصْرَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ بَيْضَاءُ نَقِيَّةٌ ② قَدْرَ مَا يَسِيرُ الرَّاكِبُ فَرْسَخَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً قَبْلَ مَغِيبِ الشَّمْسِ، ③ وَالْمَغْرِبَ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ، ④ وَالْعِشَاءَ إِذَا غَابَ الشَّفَقُ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ، ⑤ فَمَنْ نَامَ فَلَا نَامَتْ عَيْنُهُ، فَمَنْ نَامَ فَلَا نَامَتْ عَيْنُهُ، فَمَنْ نَامَ فَلَا نَامَتْ عَيْنُهُ، ⑥ وَالصُّبْحَ وَالنُّجُومُ بَادِيَةٌ مُشْتَبِكَةٌ. رَوَاهُ مَالِكٌ

ترجمه: ① او د مازیګر مونځ داسې وخت کوئ چې نمر لا اوچت اوسپین وي ② (او د نمر په ډوبیدو کې) دومره وخت وي چې یو سور سرې د نمر ډوبیدو څخه مخکې دوه یا درې میله

---

[۱] اخرجه مالک کتاب وقوت الصلاة باب وقوت الصلاة (۴)

قطع كړي شي[۳] او د مانبام مونځ د نمر ډوبيدو څخه وروسته كوئ[۴] او د ماخستن مونځ د شفق غائبيدو د وخت څخه د دريمي حصي د شپي پوري كوئ[۵] او كوم سړي چې «د ماسخوتن څخه مخكي» اوده شي «نو الله دي وكړي» چې د هغه سترګو ته خوب نصيب نشي دري خله يي دا بد دعا وكړله او وي ليكل [۶] چې د سحر مونځ داسي وخت كې كوئ چې ستوري ګنړ بريښيدونكي وي يعنى په تياره كې يي كوئ. «مالك»

حل اللغات: ④ فَرْسَخَيْنِ: د فرسخ تثنيه ده، يو فرسخ د دريو ميلونو برابر وى. ⑤ بَادِيَةٌ: أَيْ: ظَاهِرَةٌ: ښكاره وى، ⑥ مُشْتَبِكَةٌ: أَيْ: مُخْتَلِطَةٌ: ګنړ.

تسهيلات:

دحديث د بعضي جملو وضاحت: ① "الْفَيْءُ ذِرَاعًا" وړاندې خودلې شوى دى چه دَ هرملك دَ سورى نظام جدا جدا دې دَدې دَپاره دَ حضرت عمر ﷺ دا فرمان يوخاص مقام او يوخاص زمانې سره خاص دې.

② "يَسِيرُ الرَّاكِبُ" دلته كلمه دَ "ما" مصدريه ده "فرسخ" درې ميله يو فرسخ وى.

③ "وَالنُّجُومُ بَادِيَةٌ" نجوم دَ نجم جمع ده مراد ستورى دى او دَ باديه نه ظاهر اوواضح كيدل مراد دى مشتبكة هم دَدې تفصيل دې چه ډير ستورى موجود وى.

قوله: "كَتَبَ إِلَى عُمَّالِهِ"

د مونځ په رعايت نه د حقوق العباد په رعايت استدلال: مونځ چونكه دَ دين ستن ده اودَدې دَ بنيادى اركان نه دې اودَ دې اهتمام دَ مسلمانانو دَ خليفه په بنيادى ذمه واروكښې دې په دې وجه حضرت عمر ﷺ دَ سركارى فرمان او تاكيدى حكم په ذريعه دَهغې حق اداكړو چاچه دَ مانځه حق اداكړو يعنى وئى كړلو اودَ هغې فرائض واجبات او سنن اودَ وختونو حفاظت او پابندى اوكړه نوهغه په امور مملكت حقوق الله اوحقوق العباد اونورو احكاماتو هم پابندى كوى ليكن چاچه مونځ ضائع كړويعنى كول ئى پريخودل يادَ دې دَ وختونو خيال ئى اونه ساتلو يادَدې فرائض اوواجبات ئى صحيح ادانه كړل نوهغه سړې امور مملكت او نورعبادات به دَدې نه زيات ضائع كونكې وى لكه چه مونځ دَ مسلمان دَ ايماندارئى او امانت دارئى يوه پيمانه اومعيار دې. شيخ سعدى رحمه الله فرمائى چه بې مونځه ته قرض مه وركوه څكه چه كوم سړې دَالله تعالى قرض نه اداكوى هغه به دَ بنديګانو قرض څه اداكړى. سلطان باهو رحمه الله فرمائى چه بې مونځ دَ مسلمانانو په قبرستان كښې مه ښخه وئى دَ مسلمانانو حكمرانانودَپاره داحديث سبق اوع ۱ برت دې چه حضرت عمر فاروق ﷺ په دومره جلالت شان سره ګورنرانو ته خاص دَ مانځه حكم اودَدې دَ وختونو تفصيل ورليګى او دَ نن صبا دا بې دين حكمرانان دَ مانځه خبره شرم او دَ شرم

Maktaba Tul Ishaat.com

سبب ګڼړی په دې وجه دوی په پوره دنیاکښې ذلیل دی او دَ کافرانو غلامان جوړشوی دی دَ الله تعالی تعریف خونه شی کولې مګر دَ امریکه تعریفو کوی.

قوله: "فَمَنْ نَامَ"

دَماسخوتن د مانځه نه وړاندې د اوده کیدو حکم: په ظاهره دا حکم ماسخوتن سره متعلق دې ځکه چه ماسخوتن دَ خوب وخت دې په روایاتو کښې دَماسخوتن دَمانځه نه وړاندې اوده کیدل منع دی نودلته هم حضرت عمر رضی الله عنه دَماسخوتن دَ مانځه نه وړاندې اوده کیدونکی ته بد دعاکوی.

① ابن حجر رحمه الله فرمائیلی دی چه دَدې حدیث نه معلومه شوه چه دَ ماسخوتن دَ مونځ نه وړاندې اوده کیدل حرام دی.

② دَاحنافو په نیزدا تفصیل دې چه که دَمونځ وخت نه دې داخل شوې نودَدې نه وړاندې اوده کیدل منع نه دی اوکه چرې وخت داخل شوې وی نوکه یومونځ ګذاردَ پاسیدو مکمل انتظام کوی نودَهغه دپاره اوده کیدل جائزدی اوکه دَ پاسیدو څه انتظام نشته اوخوب دومره غالب دې چه دَ مانځه دَ وخت وتلوخطره ده نوبیا خوب جائزنه دې بلکه مکروه دې. (کذافی المرقات)

د ممانعت عموم: بعض شارحینوحضراتو فمن نام نه ترك صلوة او غفلت او نسیان مراد اخستې دې که په خوب سره وی اوکه په بل څه شغل سره وی. [اشعة المعات: ۳۱۰]

۵۸۶- د نبي علیه السلام د ماسپخین د مانځه مقدار

۵۸۶-()[۶] [۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «كَانَ قَدْرُ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ فِي الصَّيْفِ ثَلَاثَةَ أَقْدَامٍ إِلَى خَمْسَةِ أَقْدَامٍ [۳] وَفِي الشِّتَاءِ خَمْسَةَ أَقْدَامٍ إِلَى سَبْعَةِ أَقْدَامٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] ابن مسعود فرمايي [۲] چه د نبي كريم صلی الله علیه وسلم د ماسپښين د لمانځه اندازه په ګرمۍ كې دري قدمونو څخه تر پنځه قدمونو پوري [۳] او په يخنۍ كې د پنځه قدمونو څخه تر اوه قدمونو پوري وه. (ابوداؤد، نسايي)

حل اللغات: ① الصَّيْفِ: ګرمی، د ګرمۍ موسم، ② الشِّتَاءِ: یخنی، د یخنۍ موسم.

تسهيلات:

قوله: "إِلَى خَمْسَةِ أَقْدَامٍ"

د مذکوره جملې مفهوم: په حساب پوهیدونکې دَ ریاضی دانانو په اصطلاح کښې "قدم"

[1] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة باب فى وقت صلاة الظهر(رقم-۴۰۰) والنسائى كتاب المواقيت/آخر وقت الظهر(رقم-۵۰۳)

دَ هرخيـزدَ قـد اوومي حصي تـه ونيلي شي پـه يخنـئي كـښي سوري اوږد وي پـه دې وجـه دَماسپښين وخت كله اووه قدم او كله پنځه قدم په اندازه وي.
خلاصه دا راووتله چه دا سبعة اقدام مطلب پوره مثل دې او ثلاثة اقدام مفهوم تقريبًا نصف مثل دې او خمسة اقدام مطلب تقريبًا دَيومثل دريمه حصه ده.
داخبره باربار ليكلې شوې ده چه دَ سورو دا نظام دَټولو ملكونو او علاقو دَپاره يوشان نه دې بلكه دَ علاقې بدليدو سره دَ سوري مقدار هم بدليږي.

[۲/۲۰]بَابُ تَعْجِيلِ الصَّلَوَاتِ

په عجلت (تلوار) سره دَ مونځ كولو بيان

خلاصة الباب:

فيه خمسة وثلاثون حديثاً مشتملة على ثلاث عشرة مسائل:

① التعجيل بالصلوات الأربعة سوى العشاء: ۱، ۲، ۳، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۳۱.
② التعجيل والتأخير في العشاء بحسب أحوال الناس : ۱، ۲، ۲۳، ۲۴، ۲۵، ۲۸، ۲۹، ۳۰
③ الإبراد بصلاة الظهر في الصيف والتعجيل بها في الشتاء : ۴، ۳۲.
④ مقدارتعجيل العصر: ۵، ۲۷.
⑤ الزجربالتاخير في صلاة العصر إلى الوقت المكروه و فواتها: ۶، ۷، ۸،
⑥ مقدار التعجيل في صلاة المغرب ۹، ۲۲.
⑦ مقدار تعجيل الصلاة في الفجر: ۱۱، ۱۲
⑧ حكم التأخير بصلاة الفجر: ۲۶.
⑨ حكم التأخير بصلاة العصر: ۳۱.
⑩ ترغيب أداء الصلوة في الأوقات المستحبة: ۱۳، ۲۲، ۲۳، ۳۳.
⑪ إدراك الصلاة بإدراك الجزء الأخير: ۱۴، ۱۵.
⑫ حكم فوات الصلوة عن الوقت بالعوارض: ۱۶، ۱۷.
⑬ حكم الصلوة خلف الأمراء السوء وإن اخروها: ۱۳، ۳، ۳۵.

ماقبل باب سره ربط: صاحب مشكوة چه كله دَ مونځونو دَ وجوبي وختونو بيـان اوكړو اودائي اوخودل چه دَهرمونځ دَوخت اوله حصه دكوم ځائي نه ده او آخرى حصه ئي تر كوم ځائي پورې ده. نواوس هغه دَ مونځ دَمستحب وختونو بيان شروع كړو چه دَدې وختونو په كومـه يـوه حصه كښي مونځ كول افضل او مستحب دى. دَدې مقصد دَپاره هغوى باب

Maktaba Tul Ishaat.com

تعجيل الصلوة په عنوان سره قائم کړې دې.

د مستحب وختونو په باره کښې د اماماتو اصول: ① اصولي توګه باندې دَمونځونو په غوره وختونو کښې دَ احنافو او شوافع اختلاف دې. شوافع دَ ماسخوتن دَ مونځ نه علاوه په ټولو مونځونو کښې تعجيل کول او زر اداکول غوره ګرځولي دي

② احناف دَماښام دَ مونځ نه علاوه باقي ټولو مونځونو کښې تاخير غوره ګرځوی. ليکن دَ دې تاخير دا مطلب نه دې چه دَ مکروه وخت پورې تاخير اوکړې شي بلکه دَدې مطلب دا دې چه په مستحب وخت کښې څه تاخير اوکړې شي.

اوس په دې وجه دَ ترتيب په رڼا کښې دَ سحر نه واخله تر ماسخوتن پورې به په ترتيب سره دَ مونځونو دَ مستحب وختونو بيان کوم. دې دَپاره چه لوستونکو حضراتو ته په پوهيدو کښې آساني وی.

د حديث نه د صبا د مونځ په تياره کښې د کولو ثبوت: دَدې مطلب دا شو چه حضور پاك به دَ سحر مونځ په غلس اوتياره کښې شروع کولو ځکه چه حضور پاك دَ شپيتو نه تر سلو آياتونو پورې تلاوت دَ سحر په مونځ کښې کولو او بيا به هم يو ملګری خپل خواکې کس پيژندلو نو معلومه شوه چه په غلس يعنی تياره کښې به ئی کولو. په نورو احاديثو کښې دا مفهوم "والصبح بغلس" الفاظو سره اداکړې شوې دې نو دا دَ غلس حکم شو مګر دَدې نه علاوه په ډيرو احاديثو کښې راغلی دی چه حضور پاك دَسحر په مونځ کښې دَ اسفار حکم ورکړې دې.

د سحر د مانځه په افضل وخت کښې مذاهب:

دَ رواياتو په دې اختلاف سره دَ فقهاء کرامو په مينځ کښې هم دَ سحر دَ مونځ په مستحب وخت کښې اختلاف پيدا شو. سره دَدې چه په دې خبره باندې اتفاق دې چه دَ سحر دَ راختو نه تر دَ نمر دَ راختو پورې ټول وخت دَ سحر دَ مونځ دې.

① امام مالك رحمه الله امام شافعی رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله يعنی دَ جمهورو په نيز دَ سحر مونځ په غلس يعنی تياره کښې کول افضل دی چه شروع هم په تياره کښې وی او ختميدل ئی هم په تياره کښې وی.

② دَ امام ابوحنيفه رحمه الله سفيان ثوری رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله په نيز دَ سحر مونځ په اسفار يعنی رڼا کښې شروع کول او هم په اسفار کښې ختمول غوره دی.

احتياط: ليکن په دې کښې دا خبره ياد ساتل پکار دی که دَ سحر مونځ فاسد شی نو دَ راګرځولو دَپاره په وخت کښې ګنجائش وی. دَ امام محمد رحمه الله نه يو قول نقل دې کوم چه امام طحاوی رحمه الله اخستې دې. دَدې دواړو په نيز شروع په تياره کښې غوره ده خو چه قرأت دومره اوږد کړې شی چه ختميدل په اسفار يعنی رڼا کښې اوشی. دغه شان به دَ غلس او اسفار والا دواړو احاديثو باندې عمل اوشی او په احاديثو کښې به تطبيق اوشی ليکن په

دي مسلك كښې ثقل او لوئي بوج دي.

داول فريق دلائل: ① دَ مشکوة حديث نمبر(۵۸۸) كښې محمد بن عمرو بن الحسن روايت د دوی مستدل دې په کوم كښې چه دا الفاظ راغلي دی "والصبح بغلس" غلس دَ سحر دَ آخری حصې هغه تياره ده چه دَ سحر رڼا سره ملاؤ شوې وی. لهذا په تياره كښې مونځ كول غوره دی. نن صبا په جزيره عرب كښې هم په دې حديث باندې عمل كيږي.

② دَمشکوة شريف حديث نمبر(۵۱۸) دَحضرت عائشه رضي الله عنها روايت د دوی مستدل دې په کوم كښې چه دا الفاظ دی: ((قالت كان رسول الله ليصلى الصبح لتصرف النساء متلفعات بمروطهن مايعرفن من الغلس)) (متفق عليه)

③ دَحضرت ابومسعود انصاری رضي الله عنه روايت د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چه دادی: ((انه ﷺ صلى الصبح لم صلى مرة اخرى فاسفر بها لم كانت صلوته بعد ذلك فى الغلس حتى مات ولم يعد الى ان يسفر)) (رواه ابوداؤد).

يعنی دَ ژوند معمول ئی غلس وو يوځل نيم اسفار كړې بيا كله نه دې كړې. جمهورو دَ رسول الله ﷺ دَژوند هم دَدې معمول اوفعلی رواياتونه استدلال كړې دې اودَ هغه رواياتونه هم استدلال كوی په کوم كښې چه اول وخت كښې دَ مونځ كول غوره ګرځولی دی.

④ دَ مشکوة دَ فصل ثالث دَحضرت عمره روايت هم د دوی مستدل دې. په کوم كښې چه دا الفاظ دی "والصبح والنجوم بادية مشتبكة" يعنی كله چه په آسمان كښې ډير ستوری پرقيږی نوهغه وخت تياره وی معلومه شوه چه په تياره كښې مونځ وركړو.

د اول فريق د دلائلو جوابونه:

حديث قولی ته په فعلی ترجيح: دَ حضورپاك مبارك فعل سره په كثرت سره ثابت دې چه حضورپاك دَ سحر مونځ په غلس كښې وركړې دې ليكن هغه قول فعلی رواياتونه دی اومونږ چه کوم دَ نافع بن خديج روايت "اسفروا بالفجر" راجح ګرځولې دې هغه قولی روايت دې او په قول اوفعل كښې كله مقابله راشی نوترجيح به قول ته وركولې شی ځكه چه په فعل كښې خصوصيات امتيازات وغيره احتمالات نودلته هم دا خصوصيات دی.

د خصوصياتو قرائن: ① مثلاً په غلس كښې حضورپاك ځكه مونځ وركړو چه ټول صحابه كرام تهجد والاوو اودَ سحر نه مخكښې به په جمات كښې موجود وو په دې وجه دَ جمع دَ زياتوالی دَپاره دَ چا دَ انتظار ضرورت نه وو نوچه كله صبح صادق شو جمع اودرولې شوه دې دَپاره چه ستړې ستومانه تهجد كونكی فارغ شی.

② بل دا چه دَ مسجد نبوی په جمات كښې به ښځې شريكيدلې دَ هغوی دَ پردې مسئله وه په دې وجه به په غلس كښې مونځ كيدلو چه دَ ښځو بې پردګی اونه شی.

③ بل چه كومې ښځې په جمع كښې شريكيدلې شاته به ئی په كورونو كښې واړه ماشومان وو

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ هغوی دَپاسیدو او ژړیدو وه په دې وجه به مونځ زر کیدلو چه هغه ښځې زر واپس لاړې شي.
په رمضان کښې د تغلیس په احادیثو عمل: علماء احناف د تغلیس په افضلیت کښې یوه وجه دا هم بیانوی چې په دې کښې تکثیر د جماعت دې او په رمضان کښې د پیشمنی څخه پس خلق ټول راویخ شوی وی. د پیشمني په وجه ئې خیتې ډکې وی او د خوب غلبه پرې وی زیات وخت ویخ پاتې کیدل ورته گران وی نو چې په تغلیس کښې مونځ اوکړې شي د خلقو تعداد به زیات وی. زما په خپل جمات کښې په رمضان کښې هم دا معمول وی چې د سحر د آذان پسې لس منټه پس جماعت قائموو. د دې په وجه د سحر په مانځه کښې په جمات کښې د ښځې ایخودو ځائې نه وی. زما خپلو ورنړو ته دا مشوره ده چې په رمضان کښې د تغلیس په احادیثو عمل کوئ.
د من الغلس په لفظ اعتراض: په "مايعرفن من الغلس" کښې علماء فرمائی چه دَ "من الغلس" لفظ مدرج دې چرته یو راوی ذکر کړې دې ځکه چه په ابن ماجه وغیره ډیرو کتابونو کښې په دې حدیث کښې دا لفظ نشته دې. یادا چه په تنګ ځائی کښې کله ښځې په څادر کښې راغونډې شوی وی نو هغه په اسفار کښې هم نه شی پیژندلې نو دلیل مکمل نه دې. باقی دَ ابو مسعود انصاری روایت ته علماؤ ضعیف وئیلي دې. په کومو روایتونو کښې چه مونځ په اول کښې دَ وخت کولو فضیلتونه دی دَ هغې مونږ هم منو چه مستحب وخت مراد دې. په مستحب وخت کښې مونځ کول غوره او اوچت ځیز دې.
د احایثو په مینځ کښې تطبیق: باقی امام طحاوی او امام محمد رحمه الله دَ بعضې صحابه کرامو دَ معمول نه استدلال کړې دې او دَ ټولو احادیثو دَ رایوځائی کولو کوشش ئې کړې دې ولې په دې باندې عمل کول ډیر گران دی چه درې پاوه وخت پورې دې سرې مونځونه کوی.
د دویم فریق دلائل: ① زیر بحث حدیث دَ حضرت سیار د دوی مستدل دې په کوم کښې چه "حين يعرف الرجل جليسه" الفاظ راغلی دی. طرز دَ استدلال داسې دې چه کوم وخت یو ملګرې بل ملګرې پیژندلې شی خاص کر چه جمات تنګ وی نو هغه وخت ښه رڼرا وی داد اسفار دلیل دې.
② دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه روایت د دوی مستدل دې د کوم الفاظ چه اختصار سره دا دی: «ما رأيت رسول الله ﷺ صلى صلوة بغير وقتها الا بجمع الى ان قال وصلى صلوة الصبح من الغد قبل وقتها» (متفق علیه) یعنی حضور پاك کله یو مونځ دَ هغې دَ مقرر وخت نه مخکښې نه دې اداکړې صرف په مزدلفه کښې حضور پاك دَ مقرر وخت نه مخکښې دَ سحر مونځ ورکړو کوم چه په غلس یعنی تیاره کښې وو دَ دې نه معلومه شوه چه عام عادت ئې دَ غلس نه وو.
③ دَ مشکوة (باب تعجيل الصلوة) دویم فصل کښې دَ رافع بن خدیج رضي الله عنه حدیث نمبر (۶۱۳) د دوی مستدل دې د کوم الفاظ چه دا دی: «اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر» (رواه ترمذی وابوداؤد)

دامام شافعي تاويل: په دې واضح دليل کښې امام شافعي رحمه الله يو تاويل کړې دې کوم چه کتاب الام کښې ذکر دې. هغه تاويل دادې چه دلته په حديث کښې اسفار مراد نه دې بلکه دَاسفروا مطلب دادې چه دَ سحر مونځ بنه يقيني جوړولوسره کوئي چرته داسې نه وي چه دَ سحر دَ راختونه مخکښې ئې اوکړي. لهذا چه کله تاسوته واضحه اندازه اوشي چه دَ صبح صادق وخت شوې دې نو هغه وخت دَ سحر مونځ کوه لکه چه دَدې حديث دَ اسفار سره هډو څه تعلق نشته دې اونه دا دَغلس منافي دې.

د تاويل تضعيفات: ① دا تاويل بالکل بې محل دې ځکه چه دې سره دويمه جمله "فانه اعظم للاجر" موجود ده او اعظم دَ اسم تفضيل نه دې نو مطلب به دا شي چه دَسحر دَ راختو کله يقين شي نو مونځ کوئي ځکه چه دا په اجر او ثواب کښې ډير لوئي دې. او که چرې دَ سحر دَ راختونه مخکښې ئې مونځ اوکړو نو هغه به هم جائز وي ولې په هغې کښې به اجر او ثواب کم ملاويږي. دا مطلب بالکل غلط دې ځکه چه په دې تاويل سره به دَ حديث پوره مفهوم وران شي.

② دا تاويل په دې وجه هم صحيح نه دې چه په دې روايت کښې خودَ اسفروا لفظ دې ليکن په نورو روايتونو کښې "کلما اسفرتم" الفاظ دي هلته خودَ يقين مطلب نه شي اخستې کيدې کوم چه امام شافعي رحمه الله اخستې دې. په يو روايت کښې "کلما اصبحتم بالفجر" دې. په يو روايت کښې "نوروا بالفجر فانه اعظم للاجر" الفاظ دي. يو روايت کښې "حين اسفرت الارض" الفاظ دي. په يو روايت کښې دا الفاظ دي "يا بلال اسفر بالصبح حتى يبصر القوم موقع نبلهم من الاسفار". يعني دَ سحر مونځ دومره روښانه کړه چه که چرته خلق په نښه باندې غشي اوولي نو چه دَغشي دَ ويشتو ځائي ښکاري.

دَدې الفاظو او تفصيلاتو موجودګۍ کښې دَ حضرت امام شافعي رحمه الله تاويل دَ التفات قابل نه دې.

د ماسپښين د مانځه په افضل وخت کښې مذاهب:

دَماسپښين په مستحب وخت کښې دَعلماؤ اختلاف دې. ① دَ شوافع په نيز په ماسپښين کښې تعجيل يعني تادي غوره ده نور څه تفصيل نشته دې.

② دَ احنافو په نيز په دې کښې دا تفصيل دې که چرې موسم سخت ګرم وي ګرمي ډيره وي نو "ابراد في صلوة الظهر" او تاخير مستحب دې او که چرې موسم يخ وي نو بيا تعجيل مستحب دې.

داول فريق اول دليل: ① دَحضرت خباب رضي الله عنه روايت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دا الفاظ دي. ((شکونا الي رسول الله صلى الله عليه وسلم حر الرمضاء فلم يشکنا)) دَدې حديث نه معلومه شوه چه په سخته ګرمئ کښې به مونځ کيدلو. دا په اول وخت کښې دَ ادا کولو او دَ تعجيل دليل دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

داول فریق د اول دلیل جواب: دا روایت دَمکی دور دَمونخونوسره دې اودَمدنی دَ ابراد والاروایتونوسره دا روایت موقوف شوې دې. بل دَ زمکې ګرمیدل دَ مونځ زر کولوعلامت نه دې بلکه په ګرمو ملکونوکښې ترمابنامه پورې زمکه ګرمه وی.

د اول فریق دویم دلیل: ② دَحضرت عائشه دَ هغه روایات هم د دوی مستدل دې په کوم کښې چه په اول وخت دَمونځ اداکولو فضیلت راغلې دې اودَدې ترغیب ورکړې شوې دې.

داول فریق د دویم دلیل جواب: دا تعجیل دَ یخنئی په موسم باندې محمول دې چه یخنئی کښې زر مونځ ورکړې دې کوم چه په پخپله په احادیثوکښې ذکردې.

د اول فریق دریم دلیل: ③ دَ حضرت جابر رضي الله عنه دَدې روایت هم د دوی مستدل دکوم الفاظ چه دادی: ((**كَانَ يصلي الظهر بالهاجرة**)) یعنی رسول الله ﷺ به دَ ماسپښین مونځ په غرمه کښې ورکولو یعنی وختی به ئی کولو.

داول فریق د دریم دلیل جواب: په دې روایت کښې چه کوم لفظ "الهاجرة" راغلې دې نودا اول وخت سره خاص نه دې بلکه هاجره دَ ماسپښین نه واخله ترمابنامه پورې وخت دَپاره ونیلې کیږی.

د دویم فریق دلائل: ① دَبخاری شریف حدیث "ابردوابالظهر" د دوی مستدل دې.

② دَ حضرت ابوذرغفاری رضي الله عنه په قصه کښې چه کوم لفظ راغلې دې "حتی رئینا فی التلول" دَدې نه هم دَ ماسپښین دَ مونځ په تاخیرسره دَ کولو استدلال کوی اودَ دې نه علاوه هم دَ ابراد او تاخیر کافی روایتونه دی.

دَ مازیګر دَمونځ وخت: زیر بحث حدیث کښې ((**وصلى العصر............والشمس حية**)) الفاظ راغلی دی. بعضې روایتونو کښې "**والشمس مرتفعة**" الفاظ راغلی دی. دَدې روایتونونه دَ مازیګردَمونځ په تعجیل سره دکولو اندازه کیږی او دَبعضې روایتونونه معلومیږی چه په مازیګرکښې به تاخیرکیدلو. دَ روایاتودَدې اختلاف دَ وجې نه

د مازیګرد مونځ په افضل وخت کښې مذاهب:

دَمازیګر دَمونځ په مستحب وخت کښې دَ فقهاء کرامو اختلاف پیداشو. ① دریواړه ائمه دَ زمانې تعجیل ته مستحب وائی.

② دَ ائمه احنافو په نیز دَمازیګر په مونځ کښې تاخیرمستحب دې لیکن دومره تاخیرجائز نه دې چه په نمرکښې زیړوالې او بدلون راشی بلکه هم په مستحب وخت دننه کولوکښې لږشان تاخیرمستحب دې.

داول فریق اول دلیل: ① زیربحث حدیث د دوی مستدل دې په کوم کښې چه ذکردی دَ مازیګردَ مونځ نه پس به زمونږ نه یو سړې دَمدینې نه بهر اطرافوکښې خپل کورته تللو او

نمر به تر ډغه وخته پورې تازه یعنی اوچت ولاړ وو معلومه شوه چه دَ مازیګر مونځ به ژر کیدلو.

داول فریق دویم دلیل: ② په مشکوة کښې صفحه نمبر ٦٠ کښې شپږم روایت د دوی مستدل دې چه دَمازیګر دَمونځ نه پس به یو تلونکې عوالی یعنی مانړئی دَ مدینې ته تللو او نمر به تر هغه وخته پورې اوچت وو او بعضې مانړئی دَ مدینې منورې نه څلور میله فاصله باندې دي.

داول فریق د اول دریم دلیل دوه جوابونه: ① دَ مدینې منورې مانړئی په مختلف قسمونو باندې وو. بعضې اته میله فاصله باندې وو بعضې څلور میله او بعضې درې میله فاصله باندې وو او په حدیث کښې تعیین نه دې کړې شوې چه کومه مانړئی مراد دخ. بل دَ تګ کونکې پته هم نشته چه پیدل به تلو که په سورلئی باندې به تلو.

② بل دا هم نه ده معلومه چه ځوان سړې به که بوډا. دغه شان علماء داهم لیکی چه دَ مازیګر نه پس څلور یا اته میله سفر کول دَ سختو عربو دَپاره څه ګران کار نه وو. نن صباهم دَ احنافو دَ مسلك مطابق دَمازیګر دَ مونځ نه پس دومره فاصله په آسانتئی سره تګ کوی او نمر باقی وی.

فتح الملهم کښې علامه شبیراحمد عثمانی ﷫ لیکی په دیوبند کښې یو مدرس وو. دَ زیارت په ورځ چه به کله چهټئی کیدله نودَ احنافو دَ وخت مطابق به ئی دَمازیګر مونځ په جمع سره اداکولو پیدل به منګلور ته تللو اودَ ماښام مونځ به ئی هلته تلوسره کولو. دَ دیوبند نه منګلور ۱۲ میله فاصله باندې دې.

داول فریق دریم دلیل: ③ دَ رافع بن خدیج ﷛ روایت هم د دوی مستدل دې چه دا حدیث مشکوة بَابُ تعجیل الصلوة حدیث نمبر (٦١٥) دې په کوم کښې چه هغه فرمائی مونږ به حضورپاك سره دَمازیګر مونځ کولواودې نه پس به مو اوښ حلالولو سره دَ هغې لس حصې تقسیم کولې بیا به مو غوښه پخوله اوپخه شوې غوښه به مو خوړله او تر دغه وخته پورې به نمر ډوب شوې نه وو. جمهور فرمائی چه دَدې روایتونو نه په واضحه توګه معلومیږی چه دَ مازیګر مونځ به ژر ورکولې شو لهذا تادئی سره کول غوره دی.

داول فریق د اول او دویم دلیل دوه جوابونه: ① عرب دَ اوښانودَ حلالولو او غوښې جوړولو هنرمند وو. که چرې لس هنرمند خلق اوښه حلال کړی غوښه تقسیم کړی او نرمه نرمه غوښه فوری پخه کړی او وئی خوری نودا کار ډیر ژر کیدې شی. دادَ مازیګر دَمونځ په تعجیل سره دَ اداکولو دلیل نه دې بلکه داکار خودَ مازیګر نه پس هم کیدې شی.

② ا دا قسم روایتونه به دَ ګرمئی په موسم باندې حمل کولې شی په هغې کښې وسعت وی.

د دویم فریق دلائل: ① دَحضرت ام سلمه ﵂ روایت د دوی مستدل دې کوم چه مشکوة

Maktaba Tul Ishaat.com

باب تعجيل الصلوة حديث نمبر (۳) دي. د كوم الفاظ چه دا شان دي: «قالت كان رسول الله ﷺ اشد تعجيلا للظهر منكم وانتم اشد تعجيلا للعصر منه» (رواه احمد والترمذي) دَ دې حديث نه معلومه شوه چه دَحضور پاك نه پس خلقو دَمازيګر په مونځ کولو کښې تعجيل شروع کړې وو په کوم باندې چه حضرت ام سلمه رضي الله عنها دَ خفګان اظهار کوي.

۲ دَ علي بن شيبان رضي الله عنه روايت د دوی مستدل دې کوم چه ابوداؤد ج۱ ص۵۹ باندې موجود دې الفاظ دادي: «عن علي بن شيبان قال قدمنا على رسول الله ﷺ المدينة فكان يؤخر العصر ما دامت الشمس بيضاء نقية».

۳ دَحضرت رافع بن خديج رضي الله عنه روايت د دوی مستدل دې کوم چه دارقطني احمد او طبراني نقل کړې دې الفاظ ئې دادي: «عن رافع بن خديج ان رسول الله ﷺ كان يأمرنا بتأخير العصر» (كذا في معارف السنن).

۴ دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه عمل د دوی مستدل دې. عبدالرحمن بن يزيد فرمائي چه هغوی به دَ مازيګر مونځ په تاخيرسره اداکولو (كذا في مصنف ابن ابي شيبة). دَدې ټولو روايتونو نه احنافو داتعليم حاصل کړې دې چه دَ مازيګر مونځ کښې څه اندازه باندې تاخير مستحب دې په دې شرط چه وخت مستحب موجود وي.

د حافظ فضل محمد صاحب رائې: مولانا فضل محمد صاحب په توضيحات کښې ليکلي دي. صحابه کرامو دَ مازيګر دَمونځ نه پس دَ وخت اندازې خودلی دی په کوم سره چه دَ مازيګر تعجيل ګڼرلې شي څه تعين ئې نه دې کړې لهذا که په مستحب وخت کښې څه تاخير اوشي نو دَ احنافو دامذهب ډير مناسب دې اودَ احاديثونه په دې باندې استدلال کولې شي. نن صبا غيرمقلد حضرات اوحجاز مقدس کښې دَ مازيګر مونځ دومره زر کيږي چه دې نه پس خلق کاروبار شروع کوي. حالانکه دَ عصر لغوی معنی نچوړی کول ده نودا وختَ ورځې دَ وخت نچوړی کيدل پکاردی داسې نه چه نيمه ورځ دَ مازيګرنه پس راشي اودَماسپښين نه پس لږ شان وخت پاتې. بهرحال دَ انصاف تقاضا داده چه نه زيات ناوخته کړی اونه زياته تادی اوکړې شي.

قوله: "وَكَانَ يَسْتَحِبُّ أَنْ يُؤَخِّرَ الْعِشَاءَ"

د ماسخوتن د مونځ په افضل وخت کښې مذاهب:

۱ دَامام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نيز دَماسخوتن په مونځ کښې تعجيل غوره دې.

۲ دَ امام ابوحنيفه رحمه الله امام احمد بن حنبل رحمه الله او اسحاق بن راهويه رحمه الله په نيز دَ ماسخوتن مستحب وخت دَ شپې دَ دريمې حصې پورې دې.

د اول فريق دوه دلائل: ۱ دَ نعمان بن بشير روايت د دوی مستدل دې د کوم الفاظ چه

دادی: ((كان رسول الله ﷺ يصليها اي العشاء لسقوط القمر لثالثة)) (مشکوة ص ۶۱) دا حضرات فرمائی چه دَ دریمې شپې سپوږمئی زر غيبيږی معلومه شوه چه زر کول غوره دی.

۲ هغه عام روایات هم د دوی مستدل دی په کومو کښې چه په اول وخت کښې مونځ کولو ته غوره وئیلې شوی دی.

د اول فریق د دلائلو جوابونه: ۱ ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه دَ دویمې شپې سپوږمئی دَ آسمان دَ سرخئی سره غيبيږی لیکن دَ دریمې شپې سپوږمئی دَ ډیر وخت نه پس ډوبیږی نودَ دې حضراتو استدلال مکمل نه دې.

۲ باقی دَ اول وخت دَفضیلت چه څومره هم روایات دی دَهغه ټولو صرف یوجواب دې چه دَ اول وخت نه مراد هغه وخت دې کوم چه افضل اومستحب وخت وی اوهغه هم هغه دې کوم چه مونږ وایو.

د دویم فریق دلائل: زیربحث حدیث د دوی مستدل دې په کوم کښې چه تاخیرته مستحب وئیلې شوې دې اودا واضحه دلیل دې.

۲ په مشکوة ص ۶۱ باندې دَ حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چه دادی: ((لولا ان اشق على امتى لامرتهم ان يؤخروا العشاء الى ثلث الليل)) (رواه احمد و ابوداؤد)

انصافی خبره: دَمونځونودَ مستحب وختونو په تعین کښې چه دکومو فقهاؤ اختلاف دې هغه ټول دَ اولی او غیراولی اختلافات دی په جواز او عدم جواز کښې نه دی. لهذا دا اختلافات دَ جګړو سبب نه دی جوړول پکار. احنافو دَ جمع دَ زیاتولو دَ وجې نه دَماسخوتن مونځ تاخیرسره غوره ګرځولې دې چه په راتلونکی حدیث کښې هم ذکر دی. لهذا په اول وخت کښې دَمونځ کولو فضیلت نه احناف انکارنه کوی.

الْفَصْلُ الْأَوَّلُ

۵۸۷-د نبي علیه السلام د فرض مونځونوادا کولو کیفیت

۵۸۷-(۱)[۱] ۱ عَنْ سَيَّارِ بْنِ سَلَامَةَ، قَالَ: دَخَلْتُ أَنَا وَأَبِي عَلَى أَبِي بَرْزَةَ الْأَسْلَمِيِّ، ۲ فَقَالَ لَهُ أَبِي: «كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الْمَكْتُوبَةَ؟ ۳ فَقَالَ: كَانَ يُصَلِّي الْهَجِيرَ الَّتِي تَدْعُونَهَا الْأُولَى حِينَ تَدْحَضُ الشَّمْسُ، ۴ وَيُصَلِّي الْعَصْرَ ثُمَّ يَرْجِعُ أَحَدُنَا إِلَى رَحْلِهِ فِي أَقْصَى الْمَدِينَةِ وَالشَّمْسُ حَيَّةٌ،

---

[۱] اخرجه البخاری کتاب مواقیت الصلوة باب حک البزاق بالید من المسجد(رقم-۴۰۵) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلوة باب استحباب التبکیر بالصبح فی أول وقتها. وهو التغلیس. وبیان قدر القراءة فیها(رقم) ۲۳۵ - (۶۴۷) وابوداود کتاب الصلاة،باب فی وقت صلاة النبی صلی الله علیه وسلم وکیف کان یصلیها(رقم-۳۹۸) والنسائی کتاب المواقیت.أول وقت الظهر(رقم-۴۹۵) وابن ماجة کتاب الصلاة . باب وقت صلاة الظهر(رقم-۶۷۴) والدارمی کتاب الصلاة /باب قدر القراءة فی الفجر (رقم-۱۳۳۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [۱] سيار بن سلامه رحمه الله فرمايي چه زه او زما پلار (مونږ دواړه) د ابو برزه اسلمي رضي الله عنه په خدمت کې حاضر شو[۲] زما پلار د هغه څخه پوښتنه وکړه چې نبي کريم ﷺ به فرض لمونځونه څنګه (يعني کوم کوم وخت) اداء کول ؟[۳] هغه وفرمايل چه حضور ﷺ به د ماسپښين مونځ چې هغه ته اولني مونځ ويل کيږي، د نمر د زوال کيدو په وخت کولو[۴] د مازيګر مونځ (به يي په داسې وخت) کولو چې که په مونږ کې به څوك د مونځ کولو وروسته د مديني په پاي کې خپل مکان ته ورسيدو نمر به لا روښانه وو (يعني د هغه د متغير کيدو څخه مخکي) واپس راغي

حل اللغات: ① الْهَجِيرَ: اشْتِدَادُ الْحَرِّ فِي نِصْفِ النَّهَارِ: د غرمې په وخت سختې ګرمۍ ته وائي، دې ته هاجر هم وائي. ② تَدْحَضُ: دحض د سورلۍ خوئيدلو او تيندک خوړلو ته وائي. دلته د آسمان د منځ نه د نمر مغرب طرف ته اوړيدل يعني زوال مراد دی. ③ رَحْلِهِ: أَيْ: مَنْزِلِهِ: کور، ④ أَقْصَى الْمَدِينَةِ: أَيْ: أَسْفَلَهَا: د ښار ښکته طرف، ⑤ حَيَّةٌ: أَيْ: صَافِيَةٌ: صفا، روښانه،

[۱] وَنَسِيتُ مَا قَالَ فِي الْمَغْرِبِ، [۲] وَكَانَ يَسْتَحِبُّ أَنْ يُؤَخِّرَ الْعِشَاءَ الَّتِي تَدْعُونَهَا الْعَتَمَةَ، [۳] وَكَانَ يَكْرَهُ النَّوْمَ قَبْلَهَا وَالْحَدِيثَ بَعْدَهَا، [۴] وَكَانَ يَنْفَتِلُ مِنْ صَلَاةِ الْغَدَاةِ [۵] حِينَ يَعْرِفُ الرَّجُلُ جَلِيسَهُ وَيَقْرَأُ بِالسِّتِّينَ إِلَى الْمِائَةِ». [۶] وَفِي رِوَايَةٍ: «وَلَا يُبَالِي بِتَأْخِيرِ الْعِشَاءِ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ، [۷] وَلَا يُحِبُّ النَّوْمَ قَبْلَهَا وَالْحَدِيثَ بَعْدَهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] سيار وايي چه د ماښام د لمانځه په باره کې ابو برزه رضي الله عنه چې څه وئيلي وو هغه زما څخه هير شول[۲] او (ابو برزه رضي الله عنه ويل) د ماسخوتن مونځ چې هغه ته تاسو عتمه وايئ حضور ﷺ به په تاخير سره کول بهتر ګڼلي [۳] او د ماسخوتن د لمانځه څخه مخکې اوده کيدل او د ماسخوتن د لمانځه څخه وروسته دنياوي خبري کول حضور ﷺ مکروه ګڼلې[۴] او د سحر مونځ به يي په داسې وخت کولو [۵] چې هر سړي به خپل په څنګ کې ناست سړي پيژندلو او په لمانځه کې به يي د شپيتو آيتونو څخه تر سلو آيتونو پورې ولوستل، [۶] د يو روايت الفاظ دا دي چې حضور ﷺ به تر دريمې حصي د شپې پورې د ماسخوتن په تاخير کولو کې څه پروا نه کوله [۷] او د ماسخوتن د لمانځه څخه مخکې اوده کيدل او د ماسخوتن د لمانځه څخه وروسته خبري کول به يي نه خوښولي، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① الْعَتَمَةَ: هِيَ الظُّلْمَةُ الَّتِي بَعْدَ غَيْبُوبَةِ الشَّفَقِ: د نمر د غروب کيدو نه پس دهغې د سوروالی نه روسته چه کومه تياره وی هغې ته عتمه وائی. ② يَنْفَتِلُ: أَيْ: يَنْصَرِفُ: راګرځيدلو به (د مونځ نه). ③ الْغَدَاةِ: أَيْ: الصُّبْحِ: سحر، ④ جَلِيسَهُ: خواکښې ناست ملګري.

تسهيلات: قوله: "وَلَا يُحِبُّ النَّوْمَ"

د ماسخوتن د مانځه څخه وړاندې د خوب په حکم کښې دوه اقوال: ① يعنی دَماسخوتن دَمونځ نه مخکښې اوده کيدل ئی ناخوښول ځکه چه دَ مونځ دَ فوت کيدو خطره ده. اکثر

عنماؤ دا مکروه لیکلی دی

② بعضې حضراتو دې ته جائز وئیلی دی. حضرت ابن عمر رضی الله عنهما به دَ ماسخوتن دَ مونځ نه مخکښې اوده کیدلو.

په دواړو قولینو کښې تطبیق: علامه نووی رحمه الله فرمائی که چرته په چاباندې دَ خوب غلبه وی اودَ مونځ دَ فوت کیدو خطره نه وی نو اوده کیدل مکروه نه دی. دَماسخوتن نه پس فضول خبرې کول مکروه دی او علمی او دینی خبرې جائز دی. مخکښې تفصیل تیرشوې دې.

۵۸۸- د نبي علیه السلام د مونځونو اداکولو وختونه

۵۸۸- (¹)[۲] ١ وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ، قَالَ: ٢ «سَأَلْنَا جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ عَنْ صَلَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: ٣ كَانَ يُصَلِّي الظُّهْرَ بِالْهَاجِرَةِ، ٤ وَالْعَصْرَ وَالشَّمْسُ حَيَّةٌ، ٥ وَالْمَغْرِبَ إِذَا وَجَبَتْ، ٦ وَالْعِشَاءَ: إِذَا كَثُرَ النَّاسُ عَجَّلَ، وَإِذَا قَلُّوا أَخَّرَ، ٧ وَالصُّبْحَ بِغَلَسٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ محمد بن عمرو بن الحسن بن علي رضی الله عنه وایي ٢ چې مونږ د جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د لمانځه په باره کې پوښتنه وکړه نو هغه اوویل ٣ رسول الله صلی الله علیه وسلم به د ماسپښین مونځ د نمر زوال کیدو سره کولو ٤ او د مازیګر مونځ به یي په داسې وخت کولو چې نمر به روښانه وو ٥ او د ماښام مونځ به یي د نمر ډوبیدو څخه وروسته کولو ٦ او د ماسخوتن په لمانځه کې چې خلق به زیات راغلل نو زر به یي کولو او که خلق به کم وو نو په تاخیر سره به یي کولو ٧ او د سحر مونځ به یي په تیاره کې کولو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① الْهَاجِرَةِ: أَيْ. شِدَّةِ الْحَرِّ بَعْدَ نِصْفِ النَّهَارِ: د غرمې په وخت سختې ګرمئ ته وائی، دې ته هَجِیر هم وائی. ② حَيَّةٌ: أَيْ: بَاقِيَةٌ عَلَى ضَوْئِهَا: لایه خپل حال روښانه وی، (یعنی رنګ ئې بدل شوې نه وی). ③ عَجَّلَ: جلتی، زر، ④ قَلُّوا: چه لږ به وو (خلق). ⑤ بِغَلَسٍ: ظُلْمَةُ آخِرِ اللَّيْلِ إِذَا اخْتَلَطَتْ بِضَوْءِ الصَّبَاحِ: دغلس نه مراد دشپې د آخر وخت تیاره ده چه دصبا رڼا ورسره شروع شوې وی.

تسهیلات:

قوله: "وَإِذَا قَلُّوا أَخَّرَ"

د تکثیر جماعت اهمیت: دَ حدیث په دې جمله سره یوه ضابطه په پوهه کښې راغلله هغه دا چه دَ جمعې زیاتوالې دَ شریعت په نظر کښې ډیر اهم خیز دې. لهذا دَمونځونو په وختونو کښې دَدې خاص خیال ساتل پکاردی. دَ دې ضابطه سره به دَاحنافو مذهب ته په هرځائی کښې فائده کیږی.

(¹) اخرجه البخاری کتاب مواقیت الصلوة اب وقت العشاء إذا اجتمع الناس أو تأخروا(رقم-۵۶۵) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلوة باب استحباب التبکیر بالصبح فی أول وقتها، وهو التغلیس، وبیان قدر القراءة فیها(رقم) ۲۳۵ - (۶٤۶) وابوداود کتاب الصلاة،باب فی وقت صلاة النبی صلی الله علیه وسلم وکیف کان یصلیها(رقم-۳۹۷) والنسائی کتاب مواقیت باب تعجیل العشاء (رقم۵۲۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

۵۸۹- د ګرمۍ په وجه په کپړه سجدې کول

۵۸۹- (¹)[۳] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، «قَالَ: [۲] إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالظَّهَائِرِ [۳] سَجَدْنَا عَلَى ثِيَابِنَا اتِّقَاءَ الْحَرِّ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَلَفْظُهُ لِلْبُخَارِيِّ.

ترجمه: [۱] انس رضي الله عنه فرمايي [۲] مونږ به چې کله په نبي کريم ﷺ پسې د ماسپښين مونځ کولو [۳] نو د ګرمي څخه د بچ کيدو د پاره به مو په خپلو کپړو باندې سجده کوله. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① الظَّهَائِر: دالفظ دَ ظهيرة جمع ده دادَ غرمي دَپاره يادولې شي ليکن دلته ماسپښين مراد دې. دَ هرې ورځې دَ ماسپښين دَ وجې نه داجمع راوړلې شوې دې. ② اتِّقَاءَ: دپاره د بچ کيدلو (دا مفعول له دې). ③ الْحَرِّ: ګرمي.

تسهيلات: قوله: "سَجَدْنَا عَلَى ثِيَابِنَا"

د ثياب په مصداق کښې مذاهب:

يعنې دَ ګرمئې نه دَ بچ کيدودَپاره چه تندې اونه سوزي مونږ به په خپلو کپړو باندې سجدې کولې.

① امام شافعي رحمه الله فرمائي چه دلته دکپړو نه هغه کپړا مراد ده کومه چه اغوستلې شوې نه وي بلکه جدا کپړا وي ځکه چه دَ اغوستلې شوې کپړې په څه حصه باندې سجده کول جائز نه دي.

② احناف فرمائي چه دَ اغوستې شوې متصل کپړې په څه حصه باندې سجده کول جائز دي او په حديث کښې هم دغه دَ اغوستې شوې کپړې دَ پاسه دَ سجدې کولو خبره کيږي. ځکه چه صحابه کرامو رضي الله عنهم ته دَ اغوستلودَپاره کپړا په مشکل سره ملاويدله لهذا هغوی سره دَ جدا کپړې دَ موجود کيدو تصور نه کيدلو.

۵۹۰- د ګرمۍ د شدت په وخت کښې د ماسپخين مونځ روسته کول

۵۹۰- (²)[۳] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] إِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ

(۱) اخرجه البخارى كتاب مواقيت الصلوة باب: وقت الظهر عند الزوال(رقم-۵۴۲) ومسلم كتاب المساجد ومواضع الصلوة باب استحباب تقديم الظهر فى أول الوقت فى غير شدة الحر(رقم) ۱۹۱ - (۶۲۰) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، باب السجود على الثياب فى الحر والبرد(رقم-۱۰۳۳) والترمذى كتاب السفر /باب ما ذكر من الرخصة فى السجود على الثوب فى الحر والبرد(رقم-۵۸۴) والنسائى كتاب التطبيق /باب السجود على الثياب(رقم-*۱۱۱۶)

(۲) اخرجه البخارى كتاب مواقيت الصلوة باب الإبراد بالظهر فى شدة الحر(رقم- ۵۳۶ و ۵۳۷) ومسلم كتاب المساجد ومواضع الصلوة باب استحباب الإبراد بالظهر فى شدة الحر لمن يمضى إلى جماعة، ويناله الحر فى طريقه(رقم) ۱۸۶ - (۶۱۷) و ۱۸۰ - (۶۱۵) وابوداود كتاب الصلاة،باب فى وقت صلاة الظهر(رقم-۴۰۲) والنسائى كتاب المواقيت،باب تعجيل الظهر فى السف ومالک كتاب وقوت الصلاة ،باب النهى عن الصلاة بالهاجرة (۲۸)ر (رقم--۵۰۰) وابن ماجة كتاب الصلاة ، باب الإبراد بالظهر فى شدة الحر(رقم-۶۷۸) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى تأخير الظهر فى شدة الحر (رقم-۱۵۷) والدارمى كتاب الصلاة /باب الإبراد بالظهر (رقم-۱۲۴۳)

فَأَبْرِدُوا بِالصَّلَاةِ»".

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر كله چې د گرمي شدت وي نو مونځ په يخ وخت كې كوئي

٥٩٠-()[۰] [۱] وَفِي رِوَايَةِ لِلْبُخَارِيِّ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ: «بِالظُّهْرِ، [۲] فَإِنَّ شِدَّةَ الْحَرِّ مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ، [۳] وَاشْتَكَتِ النَّارُ إِلَى رَبِّهَا، فَقَالَتْ: [۴] رَبِّ! أَكَلَ بَعْضِي بَعْضًا، [۵] فَأَذِنَ لَهَا بِنَفَسَيْنِ نَفَسٍ فِي الشِّتَاءِ، وَنَفَسٍ فِي الصَّيْفِ، [٦] أَشَدَّ مَا تَجِدُونَ مِنَ الْحَرِّ، وَأَشَدَّ مَا تَجِدُونَ مِنَ الزَّمْهَرِيرِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او د بخاري په يو حديث كې د ابو سعيد رضي الله عنه څخه منقول دي [۲] چې د ماسپښين مونځ په يخ وخت كې كوي [يعنى د ابوهريره رضي الله عنه په روايت كې خو بالصلوٰة لفظ راغلي دي او د ابوسعيد رضي الله عنه روايت كې بالظهر لفظ راغلي دي او په دي روايت كې دا الفاظ هم دي چې] د گرمي شدت د دوزخ د (توبش) څخه وي [۳] او د دوزخ اور خپل رب ته شكايتًا عرض وكړو چې [۴] اي زما پروردگاره زما بعضي شغلو بعضي وخوړلي [۵] نو الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ هغه ته د دوو ساه اخستلو اجازت وركړو اوس هغه يوه ساه په يخنئ كې اخلي او يوه ساه په گرمي كې [٦] گرمي كې چې كوم وخت تاسو زياته گرمي محسوسوئ او يخني كې چې كوم وخت تاسو زياته يخني محسوسوي (نو د هغې سبب دا وي چې هغه يوه ساه په گرمي كې او يوه ساه په يخنئ كې اخلي) (بخاري، مسلم)

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ: «فَأَشَدُّ مَا تَجِدُونَ مِنَ الْحَرِّ فَمِنْ سَمُومِهَا [۲] وَأَشَدُّ مَا تَجِدُونَ مِنَ الْبَرْدِ فَمِنْ زَمْهَرِيرِهَا».

ترجمه: [۱] او د بخاري د يو روايت الفاظ دا دي هركله چې تاسو د گرمئ شدت محسوسوئ نو د دې سبب د دوزخ گرمه ساه اخستل دي [۲] اوكوم وخت چې تاسو د يخنئ شدت محسوسوي نو د دې سبب د دوزخ يخه ساه اخستل دي.

حل اللغات: ① فَيْحِ: أي: نَفَسِهَا أَوْحَرَارَتِهَا: د دوزخ ساه ته يا گرمائش ته وائى ② نَفَسِ: ساه، ③ الزَّمْهَرِير: أي: الْبَرْدِ: يخوالي، يخنى. ④ سَمُومِهَا: د دوزخ گرمي ساه ته وائى.

تسهيلات:

قوله: "مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ

په نمر باندي د جهنم اثرات: "فيح بهراس او دهوپ ته وائى. په نمركښي دَ جذب كولو قوت اومقناطيسى كشش دې په دې وجه هغه گرمائش خپل طرف ته جذب كولوسره جمع كوى نودَ نمركومه طبقه چه جهنم سره نيزدې ده هغه طبقه دَ جهنم نه گرمائش په زيات مقداركښې جذب كوى اوبيا چه كله داحصه كوموعلاقوته نيزدې وى په هغه علاقوباندې زياته گرمى وى. اودَ نمر كومه طبقه چه دَ جهنم نه زياته لرې وى په هغې كښې گرموالي كم

(۱) اخرجه ابن ماجة باب صفة النار (٤٣١٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

وی بیاچه دا حصه کومو علاقوته نیزدې وی په هغه علاقوکښې يخنی زياته وی. هم دغه وجه ده چه کومې ملکونه خط استواء کښې واقع وی هلته ګرمی زياته وی. دَ نمردَ شغلوچه چرته يوځيزسره ټکراؤ نه کيږی هلته دَ هغې دَ ګرمائش ظهورنه کيږی. لکه چه په فضاګانو کښې دَ ګرمئی احساس نه کيږی اوچرته چه په تنګومقاماتوکښې دَنمرشغلې پريوځی نو هلته دَ ګرمئی ظهورزياتيږی. دَ زمکې نه دَنمر فاصله نهه کروړه ديرش لاکهه ميله خودلې کيږی.

د ګرمۍ او يخنۍ د شدت سبب: بهرحال دَبخاری په روايت کښې دامضمون راغلې دې چه کوم وخت تاسو دَ ګرمئی سختوالې دَنمرپه دهوپ کښې محسوس کوئی نودَدې سبب دَ دوزخ ګرمه سا وی اوکوم وخت چه تاسو دَ يخننی احساس کوئی نوداد دوزخ يخه سا وی.

قوله: "وَاشْتَكَتِ النَّارُ"

په ټول کال کښې د دوزخ دوه ساګانې اخستل: دوزخ دَ الله تعالی په مخکښې دا شکايت اوکړو چه زما بعضې شغلو بعضې اوخوړلې. مطلب داچه دَ اور زياتوالې اودَ هغې ګرمی دومره سخته او تيزه ده چه دا شغلې په يو بل کښې ورګډيدو سره يوبل ختموی. چنانچه پروردګار دوزخ ته دَ دوو ساګانو اخستلو اجازت ورکړو. يوه سا دَ بهر طرف ته راؤځی نودَ دننه ګرمی په دنياکښې خوريږی اوکله چه سا دننه طرف ته ځی نودَ بهردنيا کښې يخنی خوريږی.

اشکال: داخبره په خپل ځائی باندې ثابته شوې ده چه دَ ګرمئی سختی او کمی دَ زمکې حرکت، عرض البلد او دَ نمر دَ وجې نه دی نودلته دا څنګه اووئيلې شو چه دادَ دوزخ دَ بهراس دَ وجې نه ده؟

داشکال جواب: يونظام دَ اسباب ظاهری دې او يونظام اسباب باطنه اوغيرظاهری دې. دَخلقو نظر خو په اسباب ظاهری باندې وی ليکن دَ شريعت نظر اسباب ظاهری سره په اسباب باطنې باندې لګيدلې وی نودلته شريعت دَ نمر هغه پټ علت اوپټ سبب ذکرکړې دې کوم چه دَ دوزخ بهراس او ګرمی ده.

د جهنم د شکايت مطلب: باقی دَ دوزخ شکايت به خپله ژبه دَ حال مطابق وی په کوم انداز سره چه تعبير وی هم هغه به دَ ده ژبه وی. دَ ابراد يعنی يخوالی داحکم په ډيرو احاديثو کښې راغلې دې او صحابه کرامو په دې باندې عمل کړې دې.

د ماسپښين د مانځه دپاره دامام شافعی بهترين قول: امام شافعی رحمه الله فرمائی که يوسړې دَ ډير لرې نه جمات ته راځی او په لاره کښې سخته ګرمی وی نودَ داسې سړی دَ پاره په ابراد کښې مونځ کول اوتاخيرکول جائز دی اوکوم خلق چه په نيزدې جماتونوکښې مونځ کوی نودهغوی دپاره دَ تاخير کولو اجازت نشته دې.[اشعة المعات: ۳۱۳]

امام ترمذی رحمه الله دَ ابراد احاديث اوګرمئی کښې تاخيرسره دَماسپښين مونځ کول افضل او اولی ګرځولی دی.

۵۹۲- د مازيګر د مونځ وخت

۵۹۰-()[۵]① وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ②«كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الْعَصْرَ، وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ حَيَّةٌ③ فَيَذْهَبُ الذَّاهِبُ إِلَى الْعَوَالِي، فَيَأْتِيهِمْ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ④ وَبَعْضُ الْعَوَالِي مِنَ الْمَدِينَةِ عَلَى أَرْبَعَةِ أَمْيَالٍ أَوْ نَحْوِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① انس رضي الله عنه فرمايي② چې نبي کريم ﷺ به د مازيګر مونځ په داسې وخت کې کولو چې نمر به اوچت او ژوندې (يعني روښانه) وو③ او څوک تلونکي به عوالي (دمديني پورته برَه طرفونه) ته تلو نو هغه به عوالي ته او رسيدو او نمر به اوچت وو④ او بعضې عوالي د مديني څخه تقريبًا په څلور ميله فاصله دي، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① الْعَوَالِي: د عَالِيَةٍ جمع ده. د مديني پورته طرف ته کلي مراد دی. ② أَمْيَالٍ: د ميل جمع ده. د مسافت يوخاص مقدار ته وائي. موجوده وخت کښې کلو ميټره مستعمل دی.

تسهيلات:

دحديث د بعضو جملو وضاحت: ① "إِلَى الْعَوَالِي" دا دَ عالية جمع ده. دَمسجد قباء طرف ته دَمديني منورې دَ ښارنه بهرچه کوم اوچت کلی دی هم هغې ته عوالی ونيلی شی. دَمسجد بنوقريظه علاقه هم په عوالی کښې داخله ده.

② "وَبَعْضُ الْعَوَالِي" شيخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې ليکلی دی چه دا کلام دَ يوراوی دَ طرف نه درج دي.

[قال الشيخ فی اللمعات واين قول زهری است که راوی ازانس است. ۳۱۴]

قوله: "أَوْ نَحْوِهِ"

په زيربحث حديث باندې د تعجيل عصر د استدلال تضعيف: په دې کښې دَمذکرضميردَ مقدارطرف ته راګرځی په دې وجه مذکراوړلې شوې دې. دَدې حديث نه بيشکه دا خبره معلومېږی چه دَمازيګرمونځ زر ورکړې شوې دې ليکن دَ دې نه دومره زر کيدل نه معلومېږی کوم چه غيرمقلدين او شوافع حضرات دَ مازيګرپه مونځ کښې کوی. دَهغوی مازيګرخو دَ ورځې په څلورمه حصه باندې وی اودلته په حديث کښې اجمال دې. نه ده معلومه چې عوالی ته تلونکې سړې به پيدل وو يا به په سورلئی باندې وو ياکمزورې وو يا طاقتور ووتيز سړې وو يا سست وو اوداهم معلومه نه ده چه دا سړې به دَ عوالی کوم طرف ته تللو آيا دَ دوو ميلوطرف ته وو يا دَ دريو يا څلورو يا اتو ميلو والاطرف ته وو.

---

(۱) اخرجه البخاری کتاب مواقيت الصلوة باب وقت العصر(رقم-۵۵۰) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلوة باب استحباب التبکير بالعصر(رقم) ۱۹۲ - (۶۲۱) والنسائی کتاب المواقيت، باب تعجيل العصر(رقم-۵۰۷) وابن ماجة کتاب الصلاة . باب وقت صلاة العصر(رقم-۶۸۲) ومالک کتاب وقوت الصلاة . باب وقوت الصلاة رقم-۱۰ و ۱۱

Maktaba Tul Ishaat.com

۵۹۳ – د منافق د مونځ كيفيت

۵۹۳ –(١)[٦] ١ وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ «تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِ: يَجْلِسُ يَرْقُبُ الشَّمْسَ، ٣ حَتَّى إِذَا اصْفَرَّتْ، وَكَانَتْ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ، ٤ قَامَ فَنَقَرَ أَرْبَعًا لَا يَذْكُرُ اللهَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: ١ انس رضي الله عنه راوي دي چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل ٢ دا «د مازيگر مونځ چې په آخر وخت كې كيږي» د منافق مونځ دي چې هغه ناست وي نمر ته گوري ٣ كوم وخت چې نمر زيړ شي او د شيطان د دواړو ښكرونو په مينځ كې (يعني پټيدو ته نزدې) شي ٤ نو په تادي سره پاسي څلور ټونگې ووهي (يعني بغير د طمانيت اوسكون لكه چرگ وغيره چې دانو ته پورته وښكته كيږي يعني ټونگې وهي) اوداللہ جل جلاله ذكر هم هغه په لمانځه كې لږ كوي، (مسلم)

حل اللغات: ① يَرْقُبُ: أَيْ: يَنْتَظِرُ: انتظاركوی. ② فَنَقَرَ: أَيْ: لَقَطَ: دچرگ ټونگې وهلو ته وائی. دلته ترې په جلتۍ سره مونځ كول مراد دی.

تسهيلات:

قوله: "تِلْكَ" دا اشاره ذهنيه ده اودې نه دَ مازيگرهغه مونځ مراد دې په كوم كښې چه دَ مكروه وخت پورې بغيرد څه شرعی عذر نه تاخير كړې شوې وی.

قوله: تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِ:

د منافق په مصداق كښې دوه اقوال: دې نه ياخو حقيقی منافق مراددې نوداَهغه دَمانځه نقشه پيش كړې شوه څكه چه هغه دَالله تعالی دَ رضادَپاره خوئی اداكوی نه صرف دَ خان خودنې دَپاره ئی كوی په دې وجه په دې كښې دَتعديل اركان اومستحب وخت لحاظ نه شی كولې دغه شان په دې كښې دَالله تعالی ذكرډيركم وی.

[اشعة اللمعات: ۳۱۴ ومرقات: ۲/۲۰۰]

نولكه چه دَمنافق مونځ دَ ظاهری اركانو په اعتبارسره هم ناقص وی اودَ باطنی اذكار په لحاظ سره هم ناقص وی. دَ منافقانو باره كښې دَ قرآن پاك اعلان دې ﴿ وَلَا يَذْكُرُونَ اللهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ "فنقرااربعا" ټونگې به وهی مطلب دا چه منافق دَ خان خودنې دَپاره زر زر مونځ كوی او په تيزئی سره په زمكه سجدې لگوی لكه چه دَ چرگ غوندې دانه راټولوی.

② شيخ عبدالحق رحمه الله فرمائی چه دَ منافق نه په دې حديث كښې دَحقيقی منافق په څائی عملی منافق هم مراد اخستې شی. كله چه مراد عملی منافق وی نو بيا دغه سړی دَ منافق په صفت باندې مونځ كونكې گرخولې شی. علامه مظهر رحمه الله فرمائی چه كوم سړی دَ

(١) اخرجه مسلم كتاب المساجد ومواضع الصلوة باب استحباب التبكير بالعصر(رقم) ۱۹۵ - (۶۲۲) وابوداود كتاب الصلاة،باب فی وقت صلاة العصر (رقم-۴۱۳) والنسائی كتاب المواقيت،باب التشديد فی تأخير العصر (رقم-۵۱۱) والترمذی كتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی تعجيل العصر (رقم-۱۶۰)

مازیګر مونځ دَ اصفرار شمس پورې روستو کړو لکه چه هغه خپل ځان منافق ښکاره کړو.
په دې وجه په مسلمانانو باندې لازم دی چه هغوی خپل ځان دَ منافق دَمشابهت نه بچ کړی.
په افغانستان او کویټه کښې مسلمانان په دې حکم کښې ډیره زیاته کوتاهی کوی په علماء باندې لازم دی چه هغوی دَ دې ښه تبلیغ اوکړی.[اشعه المعات: ۳۱۴]
اشکال: په ځلورو رکعتو کښې اته سجدې وی دلته دَ ځلورو سجدو ذکرولې کړې شوې دې؟
داشکال دوه جوابونه: ① چه کله منافق دَ ړومبې سجدې نه په ښه شان سره سرنه دې اوچت کړې نولکه چه یوه سجده ئی اوکړه نو په ځلورو رکعاتو کښې ئی ځلور ټونګې اووهلې یا دادَ سفردَ مونځ خبره وه په کوم کښې چه دوه رکعتونه وی
② دادَهغه وخت خبره وه کوم وخت چه دَمازیګر مونځ هم دوه رکعته وو. ړومبې جواب راجح او واضح دې
د مازیګر د تخصیص وجه: باقی دَ مازیګردَمونځ تخصیص دَدې دَپاره کړې شوې دې چه دامونځ ډیر اهم دې اودا "صلوٰةوسطی" دې دکوم چه ډیرلوئی فضیلت او شان دې. کوم سړې چه په دې کښې کوتاهی کوی هغه ډیرزیات قبیح حرکت کوی اګرچه په نورو مونځونو کښې تادی کول خرابه خبره ده.

۵۹٤ ـــ د قضاء شوی مونځ قضا راوړل

۵۹٤ـــ()[٤] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«الَّذِي تَفُوتُهُ صَلَاةُ الْعَصْرِ، ۳ فَكَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلَهُ وَمَالَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ ابن عمر رضی الله عنه راوي دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل ۲ کوم سړي چې د مازیګر مونځ قضاء کړي ۳ لکه چې د هغه مال او اهل وعیال هر څه لوټ شو، (بخاري، مسلم)
حل اللغات: ① وُتِرَ: أَيْ: سُلِبَ وَأُخِذَ: لوټ کړې شو او واخستلې شو. وتر هلاکت او زبردست نقصان ته وائی. دامادہ دَ ضرب یضرب نه راځی.

تسهیلات:

قوله: "وُتِرَ أَهْلَهُ"
دحدیث مطلب: دَ حدیث مطلب دا شو چه دَ سستئی دَ وجې نه دکوم سړی دَمازیګرمونځ فوت شو نودا دومره لویه حادثه او دومره لوئی مصیبت دې لکه چه دَهغه دَ کور ټول بال بچ

(۱) اخرجه البخاری کتاب مواقیت الصلوة باب مواقیت الصلاة وفضلها (رقم-۵۲۲) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلوة باب التغلیظ فی تفویت صلاة العصر (رقم) ۲۰۰ - (۶۲۶) وابوداود کتاب الصلاة،باب فی وقت صلاة العصر (رقم-۴۱۴) وابن ماجة کتاب وقوت الصلاة ،باب جامع الوقوت (رقم-۲۱) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ باب ما جاء فی السهو عن وقت صلاة العصر(رقم-۱۷۵) والنسائی کتاب الصلاة/باب صلاة العصر فی السفر (رقم-۴۷۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپوره مال تباه شو. نوځنګه چه هريوسړي خپل اهل وعيال او مال اومتاع د دومره لوئی حادثي نه هروخت خپل ځان بچ ساتی هغه له پکاردی چه د مونځ د قضاء کيدونه هم هروخت ويريږی. دلته هم د مازيګر دخاص کيدو وجې نه ددې نور فضيلت دې کني دا حکم د ټولو مونځونو متعلق دې. ځنانچه بعض رواياتو کښې مطلق الفاظ راغلی دی "من ترك صلوة مكتوبة حتى تفوته" يا "من فاته الصلوة فكانما وتراهله" (كذافى اللمعات)

د هلاکت دری مراحل: ددې نه معلومه شوه چه داوعيد دټولو مونځونو باره کښې دې. دا هلاکت په دريو مرحلوکښې کيدې شی

① که د وخت پوره مونځ ئی پريخودو نوداکامل او پوره هلاکت دې

② که چرې په مکروه وخت کښې اوکړو نودا د دويم نمبر هلاکت دې

③ که چرې جمع ئی پريخوده نودا د دريمې درجې هلاکت دې. دريواړو هلاکتونو نه د مونځ پريخودونکې يو نه يو کښې داخل دې. [اشعة المعات: ۳۱۴]

۵۹۵ — د مازيګر مونځ قضاء کولو باندې داعمالو ضائع کيدل

۵۹۵ — (۱)[۸] ۱ وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «مَنْ تَرَكَ صَلَاةَ الْعَصْرِ، فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ بريده رضی الله عنه راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل ۲ کوم سړي چې د مازيګر مونځ پريښودو د (لکه چه) هغه ټول نيك اعمال برباد شو. (بخاري)

حل اللغات: ① حَبِطَ: أَيْ: بَطَلَ: حبط د سمع او نصر دواړو نه راځی دعمل باطل کيدل او ضائع کيدو ته وائی.

تسهيلات:

قوله: "فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ"

د حديث نه د معتزلؤ استدلال: دلته داحکم د تغليظ تشديد او زجر اوتوبيخ دپاره دې. ځکه چه د مسلمان ټول عمل مرتد کيدوسره باطل کيږی په يوکبيره ګناه سره داسې نه کيږی. د اهل سنت هم دغه مسلك دې. اود خوراج اومعتزله په نيز دکبيره ګناه په ارتکاب سره د سړی ټولې نيکئی ضائع کيږی. ددې حديث نه خوارج اومعتزله د خپل مسلك دپاره استدلال هم کړې دې.

د اهل سنت جواب: اهل سنت دا په تغليظ اوتشديد باندې حمل کوی چه د نورو نصوصو سره تعارض نه وی يا د هغه ورځې عملونه مراد دی دکومې ورځې چه د مازيګرمونځ ئی

---

(۱) اخرجه البخاری کتاب مواقيت الصلوة باب من ترک العصر(رقم-۵۵۳) والنسائی کتاب الصلاة/باب من ترک صلاة العصر (رقم-٤٧٤) وابن ماجة کتاب الصلاة ، باب ميقات الصلاة فی الغيم (رقم-٦٩٤)

پريخودې دې او كه چرې مونځ پريخودل دَ انكار او استحقاق دَ وجې نه وى نو دا سړې مرتد شو اودَ هغه ټول اعمال تباه شو. المعات: ۳۱۵ الكاشف: ۲/ ۲۰۰]

۵۹۶ـ د ماښام د مونځ وخت

۵۹۶ ـ (۱)[۹] ۱ وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، قَالَ: ۲ «كُنَّا نُصَلِّي الْمَغْرِبَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ۳ فَيَنْصَرِفُ أَحَدُنَا وَإِنَّهُ لَيُبْصِرُ مَوَاقِعَ نَبْلِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ رافع بن خديج ﷜ فرمايي ۲ چه مونږ به د نبي كريم ﷺ سره د ماښام مونځ (داسي وخت) كولو ۳ چې د لمانځه نه د فارغيدو څخه وروسته به چا د خپل غشي غورځيدو ځاي ليدي شو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① نَبْلَهُ: أَيْ: مَسَاقِطَ سَهْمِهِ: دخپل غشى د غورځيدو ځاى.

تسهيلات:

قوله: لَيُبْصِرُ مواقع نَبْلَهُ

د ماښام د مونځ په اول وخت كښي دكولو افضليت: يعنى دَ ماښام دَ مونځ نه فارغيدو سره كله چه مونږ بهر اووتلو او يو سړى به يو طرف ته چرته غشي ويشتلو نو غشي چه به كوم ځائى ته تلو اولګيدو به هغه ځائى به دَ رڼا دَ وجې نه ښكاريدو. ټول ائمهٔ په دې باندې متفق دى چه دَ ماښام مونځ په اول وخت كښې اداكول مستحب دى. البته دَ احنافو په نيز دَ ماښام وخت "مُوَسَّعْ" دَ شوافع په نيز دَ ماښام وخت "مُضَيَّقْ" دې تفصيل تيرشوې دې. [الكاشف: ۲/ ۲۰۱]

۵۹۷ـ د ماخوستن د مونځ وخت

۵۹۷ ـ (۲)[۱۰] ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ۲ «كَانُوا يُصَلُّونَ الْعَتَمَةَ فِيمَا بَيْنَ أَنْ يَغِيبَ الشَّفَقُ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ الْأَوَّلِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ بي بي عائشه ﵂ فرمايي ۲ چې نبي كريم ﷺ او صحابهٔ كرامو ﷺ به د ماسخوتن مونځ د شفق غائبيدو څخه وروسته دريمې حصې د شپې پورې كولو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① الْعَتَمَةَ: هِيَ الظُّلْمَةُ الَّتِي بَعْدَ غَيْبُوبَةِ الشَّفَقِ: د نمرد غروب كيدو نه پس د هغې د سوروالى نه روسته چه كومه تياره وى هغې ته عتمه وائى.

(۱) اخرجه البخاري كتاب مواقيت الصلوة، باب وقت المغرب (رقم-۵۵۹) ومسلم كتاب المساجد ومواضع الصلوة، باب بيان أن أول وقت المغرب عند غروب الشمس (رقم)- ۲۱۷ - (۶۳۷) وابن ماجة، كتاب الصلاة، باب وقت صلاة المغرب (رقم)- ۶۸۷
(۲) بخاري كتاب الاذان، باب خروج النساء إلى المساجد بالليل والغلس (رقم-۸۶٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات:

قوله: "الْعَتَمَةَ"

اشکال: دَ اسلام نه مخکښې په جاهلیت کښې به ماسخوتن ته عربو عتمه ونیل حضورپاك دَدې لفظ نه منع اوفرمائیله. حضرت عائشه رضي الله عنها کیدې شی دا نوم په دې وجه ذکر کړې دې چه هغې ته تردغه وخته پورې معلومه شوې نه وه چه حضورپاك دَدې نه منع فرمائیلې ده.

په مختلفو روایاتو کښې جمع او تفریق: دَ حدیث مطلب دا شو چه دَ شروع والا سرخی دوبیدوسره دَ ماسخوتن وخت کیږی اودَ شپې دَ دریمې حصې پورې مستحب وخت دې دَنیمې شپې پورې وخت دَ جواز دې اوبیا صبح صادق پورې تاخیرکول سره دَ کراهته جائز دې. [اشعة المعات: ۳۱۵]

۵۹۸ــ د صبا مونځ په تیاره کښې کول

۵۹۸ــ()[۱][۱] وَعَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُصَلِّي الصُّبْحَ،[۳] فَتَنْصَرِفُ النِّسَاءُ مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ،[۴] مَا يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ.» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي[۲] چې نبي کريم ﷺ چې به د سحر د لمانځه څخه فارغه شو[۳] نو کومو ښځو چې به د حضور ﷺ سره مونځ کولو په پړونو (څادرونو) کې به پټې واپس تلې[۴] او د تیارې په وجه به چا د هغوئ شناخت نشو کولې. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① مُتَلَفِّعَاتٌ: تلفع بدن اومخ په څادر وغیره سره رانغښتو په معنی کښې دې. ② مُرُوطِهِنَّ: مروط دَ مرط جمع ده دَ وړنی یا ریښموڅادر ته وائی. ③ الْغَلَسِ: ظُلْمَةُ آخِرِ اللَّيْلِ إِذَا اخْتَلَطَتْ بِضَوْءِ الصَّبَاحِ: دغلس نه مراد دشپې د آخر وخت تیاره ده چه دصبا رڼا ورسره شروع شوې وی.

تسهیلات:

د تعارض اشکال: حضرت ابو برزه رضي الله عنه په روایت کښې راغلی دی حضورپاك چه به کله دَ مانځه نه فارغ شو نوسړی به خپل ملګرې پیژندلو اودلته په حدیث کښې دی چه ښځې به نه شوې پیژندلې داتعارض دې؟

د اشکال جواب: په لمعات کښې دا ورکړې شوې دې چه دَ ابوبرزه رضي الله عنه دَحدیث تعلق نیزدې سره دې چه سړی به خان سره خواکې ناست کس پیژندلو اودَ زیربحث حدیث تعلق دَ لرې سره دې چه دَ لرې نه به ښځې نه شوې پیژندلې، نوهیڅ تعارض نشته دې.

---

(۱) بخاری کتاب مواقیت الصلوة باب خروج النساء إلی المساجد باللیل والغلس(رقم-۸۶۷) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلوة،باب استحباب التبکیر بالصبح فی أول وقتها، وهو التغلیس، وبیان قدر القراءة فیها(رقم) ۲۳۲ - (۶٤۵) وابوداود کتاب الصلاة،باب فی وقت الصبح (رقم-٤۲۳) والنسائی کتاب المواقیت،باب التشدید فی تأخیر العصر (رقم-۵٤۶) وابن ماجة کتاب الصلاة ، باب وقت صلاة الفجر (رقم-۶۶۹) ومالک کتاب وقوت الصلاة . باب وقوت الصلاة رقم-٤) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی التغلیس بالفجر (رقم-۱۵۳) والدارمی کتاب الصلاة /باب التغلیس فی الفجر (رقم-۱۲۵۲)

۵۹۹–د پیشمنۍ او صبا په مونځ کښې فاصله

۵۹۹–( )[۱۲] [۱] وَعَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَزَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ، تَسَحَّرَا، [۳] فَلَمَّا فَرَغَا مِنْ سَحُورِهِمَا قَامَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الصَّلَاةِ، فَصَلَّى. [۴] قُلْنَا لِأَنَسٍ: كَمْ كَانَ بَيْنَ فَرَاغِهِمَا مِنْ سَحُورِهِمَا وَدُخُولِهِمَا فِي الصَّلَاةِ؟ [۵] فَقَالَ: قَدْرُ مَا يَقْرَأُ الرَّجُلُ خَمْسِينَ آيَةً». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] قتاده دانس ښخه روایت کوي [۲] چې نبي کریم ﷺ او زید بن ثابت رضي الله عنه د روژو نیولو د پاره پیشمنې وخوړلې، [۳] د پیشمنې د فراغت ښخه وروسته نبي کریم ﷺ د لمانځه د پاره ودریدلو او مونځ یې وکړو [۴] قتاده رضي الله عنه وایي چې مونږ د حضرت انس رضي الله عنه ښخه پوښتنه وکړه چې د دې دواړو د پیشمنې ښخه د فارغیدو او لمانځه شروع کولو په مینځ کې د څومره وخت وقفه وه ؟ [۵] انس رضي الله عنه وفرمایل چه دومره وخت وقفه وه چې یو سړي پنځوس (متوسط) آیتونه ولوستلې شي. (بخاري)

حل اللغات: ① تَسَحَّرَا: أَيْ: أَكَلَا السَّحُورَ: یعنی د پیشمنی روټۍ ئې اوخوړله.

تسهيلات:

قوله: "خَمْسِينَ آيَةً"

د حدیث نه په تغلیس بالفجر استدلال: یعنی دَ پیشمنی نه فارغیدو سره به چه کله حضورپاك دَ صبح صادق پورې مونځ کولو نودَ درمیانه پنځوسو آیتونو وقفه به کیدله. صاحب مشکوة ددې حدیث نه هم دَ سحر مونځ په تیاره کښې اداکول ثابتوی.

د استدلال جواب: صاحب لمعات فرمائی چه په دې سره غلس یعنی تیاره نه شی ثابتولې ځکه چه دا یوه اندازه ده اودَ آیاتونو دَ لوستلو انداز مختلف کیدې شی. بیا جمات ته تلل اودَ سحر دوه رکعته سنت کول اودَ آیاتونو لنډې او اوږده کیدل داهغه احتمالات دی دکوم په موجودګئی کښې دَ هغه وخت مقدار معلومول ډیر ګران دی. هم دغه وجه ده چه علامه توریشتی رحمه الله لیکلی دی چه دلته دَ وخت کومه اندازه بیان کړې ده په دې باندې دَ عوامو عمل کول جائز نه دی ځکه چه حضورپاك په دینی احکاماتو دَ هیڅ قسم غلطئی نه په امن او محفوظ وو او نور خلق محفوظ نه دی. [أشعة المعات: ۳۱۶]

٦۰۰–په ظالمانو حاکمانو پسې مونځ کولو نه پس هغه مونځ دوباره کول

٦۰۰–( )[۱۳] [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«كَيْفَ أَنْتَ

---

(۱) اخرجه البخاری کتاب مواقیت الصلوة باب وقت الفجر (رقم-۵۷٦)

(۲) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلوة، باب کراهیة تأخیر الصلاة عن وقتها المختار، وما یفعله المأموم إذا أخرها الإمام (رقم) ۲۳۸ - (٦۴۸) و ابوداود کتاب الصلاة، باب إذا أخر الإمام الصلاة عن الوقت (رقم-۴۳۱) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة/باب ما جاء فیما إذا أخروا الصلاة عن وقتها (رقم-۱۲۵٦) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی تعجیل الصلاة إذا أخرها الإمام (رقم-۱۷٦) والنسائی کتاب الإمامة/ باب إعادة الفجر مع الجماعة لمن صلی وحده (رقم-۸۵۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

إِذَا كَانَتْ عَلَيْكَ أُمَرَاءُ يُمِيتُونَ الصَّلَاةَ -۳ أَوْقَالَ: يُؤَخِّرُونَ الصَّلَاةَ عَنْ وَقْتِهَا -؟۴ قُلْتُ: فَمَا تَأْمُرُنِي؟ قَالَ: صَلِّ الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا. ۵ فَإِنْ أَدْرَكْتَهَا مَعَهُمْ، فَصَلِّ، ٦ فَإِنَّهَا لَكَ نَافِلَةٌ.» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ ابوذر ﷺ فرمایي یو ځل نبي کریم ﷺ ماته وفرمایل ۲ اي ابوذره هغه وخت به ته څه کوي چې ستا امراء (حکام) مونځ مړکوي ۳ یا دخپل وخت مختار ځخه په تاخیر کولو سرئ کوي ۴ ما عرض وکړو یا رسول الله ﷺ په داسې وخت کې ته ماته څه حکم راکوي؟ حضور ﷺ وفرمایل هغه وخت ته خپل مونځ په وخت باندې کوه ۵ بیا که د هغوئ سره هم مونځ لاندې کړې نو د هغوئ سره یي هم اوکړه ٦ دا مونځ به ستا دپاره نفل شي. (مسلم)

حل اللغات: ① كَيْفَ أَنْتَ: أَيْ: كَيْفَ الْحَالُ: څه حال به وی ستا، هغه وخت به ته څه کوي. ② يُمِيتُونَ: أَيْ: يُؤَخِّرُونَهَا: د مونځ مړ کولو نه مطلب ددې دخپل وخت نه روسته کول دی.

تسهیلات:

قوله: إِذَا كَانَتْ عَلَيْكَ أُمَرَاءُ:

دتولونه اول د مانځه د ضیاع پیشنګوئی: یعنی په تاسو چه کله داسې حکمرانان مسلط شی اوحاکم وی دَ چاچه به تاسو مخالفت نه شې کولې. شارحین لیکی چه دَدې امراء نه مراد دَ بنوامیه بعض حکمرانان دی اودا ړومبې حکمرانان دی چه دَ مانځه په واجبات سنن تعدیل ارکان او وختونو وغیره کښې سستی شروع کړې وه. (کذا فی اللمعات).

په سفر السعادة کښې لیکلی دی چه دَ تولونه وړاندې کوم خلقو دَ مانځه په قومه اوجلسه کښې سستی شروع کړه هغه دَ بنو امیه حکمرانان وو. دَحضرت ابوذر ﷺ وفات ۳۲ هجری کښې شوې وو.

قوله: ويؤخرون الصلوة :

د حاکمانو مونځونولره روسته کول: یعنی هغه خلق په مونځ کښې تاخیر کوی که چرې تاسو هغوی سره کولو نو دَ مانځه دَ غوره وخت نه به محروم شئی اوکه ځان له ئی کوئی نو دَهغوی دَطرف نه به دَتکلیف رسیدو ویره هم وی اودَ جمع نه دَ محروم پاتې کیدو ویره به هم وی. دادَ رسول الله ﷺ پیشنګوئی وه چه راتلونکې واقعاتوسره متعلق وه دَدې مطلب دانه دې چه ابوذر ﷺ به لازمی توګه باندې هم داسې حکمرانان وینی

قوله: فَمَا تَأْمُرُنِي ؟:

دامیر د مستحب وخت نه د مونځ روستو کولو په صورت کښې د مقتدیانو عمل: حضرت ابوذر ﷺ سره دَ خپل مونځ فکرشو نوتپوس ئی اوکړو چه مونږ ته څه حکم دې؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه خپل مونځ په جدا مستحب وخت کښې کوه اوکه بیا هغوی سره دَ اداکولو

موقع ملاؤ شوه نوهغه مونځ به ستاد َ پاره نفل جوړشی دغه شان به تاته دوَخت فضیلت هم ملاؤشی اودَ جماعت نه به هم نه محروم کیږې. دَدې حدیث نه داخبره معلومه شوه که یوامام مونځ دَمکروه وخت پورې روستوکوی نومقتدیانوله پکاردی چه هغوی دې په غوره وخت کښې خپل مونځ اوکړی.

د احنافو په نیز د حدیث د حکم مصداق: علماء کرام لیکی چه دَ رسول الله ﷺ دَ ارشاد مصداق ماسپښین او ماسخوتن دې. ځکه چه دَ فجر او عصر نه پس نفل کول ممنوع دی. دغه شان دَ مغرب مونځ درې رکعته دی اودرې رکعته نفل جائزنه دی

راجح قول: لیکن شیخ عبدالحق رحمه الله وغیره شارحین فرمائی چه حضورپاك دَ ټولو مونځونو هم دغه حکم ورکړې دې چه اداکوئی ځکه چه په نه اداکولوکښې فتنه اوفساد راؤچتیدو خطره ده لهذا دَ مکروه ارتکاب دَدې نه بهتردې چه څه فتنه راؤچته شی بل دَ مجبورئی په وخت په غیرتسلئی سره کړې شوی سره به دا کراهت هم ختم شی دامفهوم زیات واضح دې اګرچه اجتهادی مسلك په خپل ځائی باندې دې دَ کوم تفصیل چه به وړاندې راځی. [اشعة اللمعات:۳۱۶]

دفرض مونځ نه پس د مابنام د جماعت رالاندې کولو په صورت کښې مذاهب:

① امام شافعی رحمه الله فرمائی که یوسړې په کورکښې دَ څه مجبورئی عذر یا غلط فهمئی نه مونځ اوکړو او جمات ته په راتلوسره هغه ته جمع ملاؤشوه نو په ټولو مونځونوکښې دې شریك شی اوپه مابنام کښې دې دَیورکعت اضافه اوکړی دې دَپاره چه څلوررکعته پوره شی.

② احناف وغیره فقهاء فرمائی چه دا سړې په ماسپښین او ماسخوتن کښې خوشریك کیدې شی مګر په مازیګر سحر او مابنام کښې نه شی شریك کیدې.

داول فریق دلیل: زیربحث حدیث د دوی مستدل دې. ځکه چې په دې کښې مطلقاً مونځ ذکر شوې دې. د یومونځ استثناء په کښې هم نه ده شوې.

د اول فریق د دلیل جواب: امام مالك رحمه الله په موطاکښې دَدې حدیث په ضمن کښې دا جمله نقل کړې ده چه "الاالفجروالمغرب"

د دویم فریق دلیل: ځکه چه دَ عصر اوفجر نه پس دَ مانځه ممانعت په صحیح حدیث کښې موجود دې اوپه مابنام کښې که داسړې درې رکعته کوی نو په شریعت کښې درې رکعته نفل نشته اوکه چرې کم یا زیات کوی نودَامام مخالفت راځی کوم چه جائزنه دی.

قوله: يُمِيتُونَ الصَّلَاةَ-أَوْقَالَ: يُؤَخِّرُونَ

په کلمه د او کښې دوه احتمالات: دلته په حدیث کښې "او" لفظ دَ شك دَپاره دې دَ راوی شك پیداشو چه حضورپاك دَ "یمیتون" لفظ استعمال کړې ووکه "یؤخرون" لفظ وو

Maktaba Tul Ishaat.com

① نود یمیتون د لفظ مطلب به دا شی چه مونځ به بالکل وهی یعنی دَ جوازدَوخت نه به ئی په خارج وخت کښې اداکوی

② اودَ "یؤخرون" دلفظ مطلب به داشی چه په مانځه کښې به تاخیر کوی.

[اشعة اللمعات: ۳۱۶]

۶۰۱ــدمونځ یورکعت رالاندې کولو په صورت کښې د مونځ حکم

۶۰۱ــ()[۱۴] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]«مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصُّبْحِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ، فَقَدْ أَدْرَكَ الصُّبْحَ. [۳]وَمَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الْعَصْرِ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ، فَقَدْ أَدْرَكَ الْعَصْرَ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابوهریره ﷺ راوي دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل[۲] کوم سړي چې د نمر د ختلو څخه مخکې د سحر د لمانځه یو رکعت لاندې کړي نو هغه د سحر مونځ لاندې کړو [۳] او چا چې د نمر د ډوبیدو څخه مخکې د مازیګر د لمانځه یو رکعت لاندې کښې نو هغه د مازیګر مونځ لاندې کې (یعني د هغه مونځ ضائع نه شو نو هغه له پکار دي چې بقیه رکعتونه کولو سره مونځ پوره کړي.) (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① أَدْرَكَ: ادراک موندلو او رالاندې کولو ته وائی.

تسهیلات:

قوله: "فَقَدْ أَدْرَكَ الصُّبْحَ":

د حدیث دوه اجزاء:

① دَدې حدیث شریف دوه جزه دی دَ یوجز تعلق دَ سحرمونځ سره دې

② دَ دویم تعلق دَ مازیګرمونځ سره دې.

د حدیث په مفهوم کښې دوه اقوال: ① که چرې یو سړی دَ سحر اومازیګر دَ مونځونو نه یو یو رکعت لاندې کړو نوهغه پوره مونځ لاندې کړو لکه چه یو رکعت دَ دغه وخت مکمل مونځ دې. په دې مفهوم باندې دَ امت نه چاهم عمل نه دې کړې نو دا مفهوم مراد نه دې.

② که یوسړی ته دَ سحر اومازیګردَ مونځ یو رکعت ملاؤ شو نوهغه ته هغه مونځ ملاؤ شو لهذا دویم رکعت دَ وخت دَ وتلونه پس وکړی مثلاً دَ نمر دَ راختلو په وخت یا ډوبیدلو په وخت کولوسره مکمل کړی. مطلب دادې چه مثلاً یو سړې دَ مازیګر یا سحر دَ مونځ دَپاره په آخری وخت اودریدو اوس هغه یو رکعت پوره کړې وو چه سحر کښې نمر راؤختلو او په

---

[۱] بخاری کتاب مواقیت الصلوة ، باب من أدرک من الفجر رکعة (رقم-۵۷۹) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلوة،باب من أدرک رکعة من الصلاة فقد أدرک تلک الصلاة (رقم) ۱۶۳ - (۶۰۸) وابوداود کتاب الصلاة،باب فی وقت صلاة العصر (رقم-۴۱۲) ومالک کتاب وقوت الصلاة ، باب وقوت الصلاة رقم-۵) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة/باب ما جاء فیمن أدرک من الجمعة رکعة (رقم۱۱۲۲) والترمذی کتاب الجمعة/باب فیمن أدرک من الجمعة رکعة (رقم ۵۲۴)

مازیگر کښې نمر ډوب شو نو دَ دې حدیث په رڼا کښې دواړه مونځونه صحیح شو. هغه سرې دَ نمر دَ راختو او ډوبیدونه پس بل وخت کښې خپل مونځ مکمل کولې شي. اوس په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

د سحر اومازیگرد مانځه د نقض په حکم کښې دوه مذاهب:

① دا حدیث متفق علیه دې بلکه په ټولو صحاح سته کښې دې د دې حدیث په ظاهره کښې مقتضی دا ده چه که د مازیگر د مونځ ترمینځه نمر پریوځي او هم دغه شان د سحر د مونځ دوران کښې نمر راوخیژی نو دواړه مونځونه صحیح کیدل پکار دی، پس د جمهور او ائمه ثلاثه مذهب هم دا دې،

② احناف د مازیگر په مانځه کښې خو د دې قائل دی چه هغه به خو صحیح شي خو د سحر د مونځ په باره کښې وائی چه هغه به صحیح نه وی

په دویم فریق اعتراض: اول فریق په دې وجه په دویم فریق د عمل ببعض الحدیث الزام لګوی چه تاسو په بعض حدیث باندې عمل کوئ او بعض ترک کوئ،

د اعتراض جواب: دا الزام په مونږ باندې هغه وخت صحیح کیدې شي چه هر کله د حدیث مفهوم هم زمونږ په نزد هم هغه وی کوم چه ستاسو په نزد دې، زمونږ په نزد د حدیث هغه مفهوم نه دې "واذلیس فلیس" د جمهورو په نزد خو د ادراک نه مراد ادراک من حیث الفعل دې یعنی مونځ کول مراد دی، او مونږ وایو چه د ادراک نه مراد ادراک من حیث الوقت والوجوب دې یعنی چا چه د یو رکعت په اندازه د مازیگر یا سحر وخت بیا موندلو هغه وجوب صلاة بیا موندلو د هغه په ذمه باندې دا دواړه مونځونه واجب شو،

مثالونه: ① کله چې صبی په داسې وخت کښې بالغ شي

② کافر په داسې وخت کښې اسلام قبول کړی

③ حائض په داسې وخت کښې د حیض نه فارغ کیدو سره طاهر شي چه د یو رکعت په اندازه وخت باقي وی نو په دې ټولو باندې به مونځ واجب وی په خپل خپل وخت کښې دې هغه ادا کړی، د احنافو د طرف نه دا توجیه مشهوره ده کومه چه امام طحاوی رحمه الله اختیار کړې ده.[1]

دویم اعتراض: که څوک د دویم فریق نه تپوس اوکړی چه اخر تاسو دا معنی ولې اخلئ

---

[1] او په کوم روایت کښې چه فقدادرك الصلاة په ځائې فليتم صلاة وارد دې لکه چه د بخاری په یو روایت کښې دی یعنی داسې سړی لره پکار دی چه هغه خپل مونځ پوره کړی نو دا روایت د احنافو د توجیه خلاف دې د دې جواب دا دې چه د دې نه مراد (فلیودها علی وجه التمام) یعنی روستو دې خپل مونځ پوره ادا کړی او که هم دا مراد وی چه هم هغه وخت دې پوره کړی نو بیا به مونږ دا وایو چه دا حدیث د احادیث منع عن الصلاة عند الطلوع خلاف دې په محرم او مبیح کښې چه کله تعارض راشي نو محرم ته ترجیح وی(

حديث لره د هغې په متبادر معنى باندې ولې نه محمول کوئ؛
د اعتراض جواب: دا حديث په خپل متبادر او ظاهرى معنى باندې د چا په نزد هم محمول نه دې ځکه چه د حديث د ظاهر تقاضه دا ده چه کوم سړی د سحر يا مازيګر د مونځ يو رکعت اوکړو او په مينځ کښې نمر راوختلو يا غروب شو نو بس هغه مونځ بيا موندلو وراندې ئې د باقى رکعتونو لوستلو ضرورت نشته، لهذا حديث بالاجماع مؤول شو په دې وجه مونږ د حديث هغه معنى واخستله کومه چه پورته ذکر شوه د دې دپاره چه دا حديث د حديث النهى عن الصلاة عند الطلوع خلاف نه شى او که مونږ هم هغه معنى واخلو کومه چه تاسو اخستلې ده نوپه دې صورت کښې به واقعى عمل ببعض الحديث وى،
په جواب باندې د اعتراض جواب: پس د دې جواب زمونږ د طرف نه اهل اصولو دا ورکړې دې چه قاعده دا ده چه د آيات قرانيه د تعارض په وخت د حديث طرف ته او د احاديثو د تعارض په وخت د قياس طرف ته رجوع کولې شى اوس چونکه دا حديث، د حديث النهى عن الصلاة خلاف دې نو په دې وجه به مونږ د قياس طرف ته رجوع کوو او د قياس تقاضه دا ده چه د مازيګر مونځ خو دې صحيح شى او د سحر دې صحيح نه شى نو مونږ په قياس عمل اوکړو، او قياس دا دې چه د مونځ سبب د وخت وجوب دې خو وخت پوره نه دې بلکه جزء متصل بالتحريمه، او هم دغه شان د قاعدې خبره ده چه څنګه سبب وى هم دغه شان دې مسبب وى، که سبب کامل دې او څه ناقص، اخر وخت يعنى وخت اصفرار ناقص دې نو کوم سړې چه مازيګر لره د هغې په اخرى وخت کښې شروع کړى ظاهره ده چه دلته سبب وجوب ناقص بيا موندلې شو لهذا په هغه سړى باندې مامور به ناقص واجب شو نو په داسې صورت کښې به په اداء ناقص سره برى الذمه شى
د صبا په مونځ کښې د حديث په ظاهر د عمل وجه: د دې په مقابله کښې د فجر وخت کامل دې هلته چه کوم سړى د سحر مونځ په اخر وخت کښې شروع کړو نو کوم وخت چه متصل بالتحريمه دې هغه کامل دې لهذا مامور به د هغه په ذمه کامل واجب شو او ګويا هغه په خپل ځان باندې د ادا کامل التزام اولګولو حال دا چه په مينځ کښې د طلوع شمس د وجې نه په مامور به کښې نقصان پيدا شو، لهذا دا سړې به د دې اداء ناقص په ذريعه برى الذمه نه وى.
په دويم فريق اصولى اعتراض: دلته دا اشکال پيدا کيږى چه د دويم فريق په اصولو کښې دا خبره ده چه نهى فساد منهى عنه لره مستلزم نه ده، **النهى عن الافعال الشرعية يقتضى تقريرها،** لهذا صلاة عندالطلوع چه په کوم باندې نهى راغلې ده هغه ستاسو په نزد فاسد کيدل نه دى پکار، خو په پورته ذکر شوى تقرير او تعبير کښې په تاسو دا اعتراض راځى.
د اعتراض جواب: دويم فريق وائى دا اعتراض په مونږ نه راځى.ځکه چه مونږ دې مونځ ته

فاسد نه وایو بلکه ناقص یا فاسد من حیث الفرض لا مطلقا، پس امام صاحب فرمائی چه د هغه فرض مونځ به نه ادا کیږی نفل مونځ کیدې شی او هم دا رائې د امام ابویوسف رحمه الله ده، البته د امام محمد رحمه الله په نزد مونځ فاسد کیږی کما فی معارف السنن عن البدائع ومبسوط السرخسي، هم دغه شان په ایام منهیه کښې روژه اګر چه زمونږ د دې اصول پیش نظر صحیح کیږی خو که د مطلق نذر روژه په ایام منهیه کښې نیسی نو د هغې نه به نه بری کیږی، او که د ایام منهیه سره ئې نذر معلق وی نو په دې صورت کښې به ئې نذر پوره شی غرض ادا مامور به د التزام مطابق مکلف کیدل پکار دی.

د اول فریق په دویم فریق بیا اعتراض: په پورته ذکر شوی جواب باندې اول فریق دا ونیلې دی چه په حدیث الباب او حدیث النهی عن الصلاة کښې تعارض دې داسې نه ده، حدیث النهی عن الصلاة په نوافل باندې محمول دې او دا حدیث په ادراک فرض باندې، فلا تعارض بین الحدیثین،

د اعتراض جواب: حضرت سهارنپوری په بذل کښې د علامه عینی نه نقل کړی دی چه د لیلة التعریس واقعه چه په هغې کښې د رسول الله ﷺ فرض مونځ قضاء شوې وو په دې موقع باندې رسول الله ﷺ فرض مونځ هم په مکروه وخت کښې نه دې کړې بلکه د هغه ځائې نه تیریدو باندې ئې په ارتفاع شمس نه روستو ئې کړې وو، په روایت کښې راځی (حتی اذا تعالت الشمس الخ) او په یو روایت کښې دی (حتی استقلت الشمس) معلومه شوه چه فرض مونځ هم په اوقات منهیه کښې لوستل ممنوع دی،

د اول فریق په دویم فریق بیا اعتراض: اول فریق وائی چه د دې ځائې نه منتقل کیدو سره وړاندې د مونځ کولو وجه دا نه ده. کومه چه تاسو بیان کړه بلکه د دې علت هغه دې د کوم تصریح چه په حدیث مرفوع کښې ده (ان هذا واد حضر فیه الشیطان)

د اعتراض جواب: په دواړو علتونو کښې تضاد څه دې د یو فعل متعدد مصالح کیدې شی د یو ذکر ستاسو په کلام کښې دې او د یو ذکر د صحابی په کلام کښې.

د تقریر ماخذ: دا ټول تقریر حضرت سهارنپوری په بذل المجهود کښې د علامه عینی د کلام نه نقل کړې دې او په دې باندې حضرت هیڅ اشکال نه دې ظاهر کړې البته حضرت ګنګوهی په الکوکب الدری کښې د احنافو توجیهات نه دی قبول کړی خو د هغې په حاشیه کښې حضرت شیخ د فقهاء احنافو خبرې ته خپل میلان ظاهر فرمائیلې دې، اصل کښې زمونږ فقهاء کرامو تقبل الله مساعیهم د نظر، عقل او قیاس په مدد سره د دې احادیث مختلفه ترمینځه توجیه او تطبیق فرمائیلو سره د عمل بالحدیث محتاط شکل راویستلې دې نه دا چه د قیاس په مقابله کښې ئې یو حدیث ترک کړې دې زمونږ په مسلک کښې د احتیاط کیدل د مذهب جمهور په نسبت ظاهر دې،

Maktaba Tul Ishaat.com

د یو رکعت نه د کم مقدار د ادراک حکم: دلته یو خبره پاتې شوه چه په حدیث کښې دي چه (من ادرك ركعة) نو که چاته دیو رکعت نه کم ملاؤ شي نو د هغه څه حکم دې، نو دا مسئله مختلف فیه ده احناف فرمائي چه د دې نه مراد بعض صلاة دې د پوره رکعت قید نشته، پس که د تکبیر تحریمه په اندازه وخت بیا مومي نو هم معتبر دې په ذمه به ئې واجب شي، د امام شافعي رحمه الله په دې کښې دوه اقوال دي یو دا چه ما دون الرکعة معتبر نه دې او هم د دې قائل دې امام مالک، او د امام شافعي رحمه الله اصح قول د احنافو په شان دې، ګویا دا قید د مالکیانو په نزد احترازی دې او د او د احنافو او شوافعو په نزد د مثال په طور دې.

۶۰۲-د مازیګر او صبا په مانځه کښې یو رکعت را اندې کولو په صورت کښې د مونځ پوره کول

۶۰۲-()[۱۵] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]«إِذَا أَدْرَكَ أَحَدُكُمْ سَجْدَةً مِنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ؛ فَلْيُتِمَّ صَلَاتَهُ. [۳] وَإِذَا أَدْرَكَ سَجْدَةً مِنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ، فَلْيُتِمَّ صَلَاتَهُ» رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه راوي دي [۲] چې نبي کریم ﷺ وفرمایل که په تاسو کې یو سړي د نمر پریوتو څخه مخکې د مازیګر د لمانځه یو رکعت را لاندې کړو نو هغه له مونځ پوره کول پکار دي [۳] او که د نمر ختو څخه مخکې یې د سحر یو رکعت وموندلو نو هغه له پکار دي چې خپل مونځ پوره کړي. (بخاري)

تسهیلات:

قوله: "سَجْدَةً"

د سجدې څخه مراد رکعت: علامه خطابي رحمه الله فرمائي چه دَ سجدې نه مراد صرف هم سجده نه بلکه دَدې نه مراد پوره رکعت دې په کوم کښې چه رکوع او سجده دواړه شوي وي. دَ سجدې اطلاق په یو رکعت باندې ښکه او کړې شو چه سجده دَ رکعت دَ پوره کولو دَپاره لوئی رکن دې یا دا دَ تسمية الكل باسم الجزء دَ قبیل نه دې.

۶۰۳-د مونځ هیریدو په صورت کښې د هغې قضا راوړل

۶۰۳-()[۱۶] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] مَنْ نَسِيَ صَلَاةً، أَوْ نَامَ عَنْهَا، [۳] فَكَفَّارَتُهُ أَنْ يُصَلِّيَهَا إِذَا ذَكَرَهَا». وَفِي رِوَايَةٍ: لَا كَفَّارَةَ لَهَا إِلَّا ذٰلِكَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

(۱) اخرجه البخاری کتاب مواقیت الصلوة باب من أدرک رکعة من العصر قبل الغروب(رقم-۵۵۶) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلوة باب من أدرک رکعة من الصلاة فقد أدرک تلک الصلاة (رقم) ۱۶۳ - (۶۰۸) والنسائی کتاب المواقیت/باب من أدرک رکعتین من العصر (رقم۵۱۷)

(۲) بخاری کتاب مواقیت الصلوة، باب من نسی صلاة فلیصل إذا ذکر، ولا یعید إلا تلک الصلاة(رقم-۵۹۷) وابن ماجة کتاب الصلاة . باب من نام عن الصلاة أو نسیها(رقم-۶۹۶) وابوداود کتاب الصلاة باب فی من نام عن الصلاة، أو نسیها (رقم-٤٤٢) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الرجل ینسی الصلاة (رقم-۱۷۸) والنسائی کتاب المواقیت/ باب فیمن نسی صلاة (رقم-۶۱۳)

ترجمه: [۱] انس رضي الله عنه راوي دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل [۲] د كوم سړي څخه چې مونځ كول هير شي يا د لمانځه په وخت كې (غافله) اوده پاتې شي (او مونځ ترې پاتې شي) [۳] نو د هغې بدل دا دي چې كوم وخت ورته ياد شي نو اودي كړي او د يو روايت الفاظ دا دي چې دغه مونځ د كولو څخه سوا د هغې بل څه بدل نشته. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① فَكَفَّارَتُهُ: مَاتُكَفِّرُ الْخَطِيئَةَ أَيْ: تَسْتُرُهَا وَتَمْحُوهُ: گناهونه رژوی يعنی گناهونه ختموی.

تسهيلات:

قوله: "أَنْ يُصَلِّيَهَا"

د قضاء عمری عدم جواز: يعنی دَ مونځ پاتې كيدو كفاره صرف او صرف دَ هغه مونځ راگرځول دی او فوری كول دی هيڅ يوه حيله اوبهانه په كارنه شی راتلې. دَدې نه معلومه شوه چه دَ قضاء عمری هيڅ اصل نشته دې. اودا يو بدعت دې چه چا راپيدا كړې دې. دَدې نه داهم معلومه شوه چه څنگه دَ روژې پاتې كيدو فديه اداكولې شی دغه شان دَمونځ حكم نه دې دَمونځ دَپاره مالی كفاره نشته دې بلكه هم دغه مونځ راگرځول دی. بعضې علماؤ دَ مونځ دَ فديه خبره هم كړې ده چه دَ روژې نه مونځ افضل دې لهذا دَ هغه ځائی نه ئی دا قياس چلولې دې چه كله دَ روژې فديه شته نودَ مونځ فديه هم كيدل پكاردی. باقی قضاء عمری په دې وجه غلطه ده چه په دې كښې اتحاد مكان هم نشته اتحاد وقت صلوة هم نشته بلكه دَچا فرض مونځ دې اودَ چانفل. (ماخوذ ازتوضيحات)

قوله: "إِذَاذَكَرَهَا"

په اوقات مكروهه كښې د ياد شوی مونځ په ادا كولو كښې مذاهب:

① شوافع حضرات فرمائی چه كوم وخت هم يادشی هم هغه وخت كښې كوئی هم دغه دَدې مونځ اصل وخت دې كه هغه يومكروه وخت وی اوكه روستودَ مازيگرنه وی اويا روستودَ سحرنه وی.

② دَ احنافو ائمه حضرات فرمائی چه په ټولو احاديثوكښې په مكروه وختونوكښې دَمونځ كولو سخته منع راغلې ده لهذا "اذاذكرها" كښې به هم دا ياد ساتل وی چه كله وخت دَمونځ دَپاره صحيح وی اوكه چرې هغه وخت دَ مانځه دَپاره صحيح نه وی نوپه هغې كښې مونځ نه شی كولې بلكه دَ صالح وخت انتظاربه كولې شی

د اول فريق دليل: زيربحث حديث د دوی مستدل دې. ځكه چې په دې كښې مطلقاً د مونځ ادا كولو ذكر دې. د اوقات ممنوعه استثناء په كښې نشته.

د اول فريق د دليل دري جوابونه: (۱) اذاذكرها: په دې كښې اذا د ظرفيت دپاره نه ده بلكه د ان شرطيه په معنی كښې دې كه درته راياد شی نو اوئې كړه يعنی ياد راتلو سره مقيد

Maktaba Tul Ishaat.com

دي. (۲) دويم جواب حضرت گنگوهی رحمه الله ورکړي دي چې په فليصلها کې دوه خبرې دی اداءصلاة د کوم دپاره چې کلام اوکړې شو، دا حديث په بيان د وخت کې ظاهر دي او د نهی عن الصلوة فی الأوقات المكروهة والا روايات نص دی، کله چه په نص او ظاهر کې تعارض راشي نو نص ته ترجيح ورکولې شي. (۳) ستاسو حديث په اباحت باندې دلالت کوی او د نهی والاحاديث محرم دی نو د تعارض په وخت محرم والاحاديثو ته ترجيح ورکولې شي.

د دويم فريق دليل: په "ليلة التعريس" په سحر کښې چه حضورپاك انتظارفرمائيلې وو څکه چه دَنمر راختل او ډوبيدل اودَغرمې وختوونه دَمونځ دَپاره صحيح وختونه نه دی.

د دويم فريق په استدلال اعتراض: اول فريق وائی په دې دريووختونودَ منع کښې نفل کول منع دی. که چرې يو سړې په دې وختونو کښې فرض کول غواړي نوهغه جائز دی

د اعتراض څخه جواب: په مکروه وختونوکښې دَ مونځ کولو چه کوم ممانعت راغلې دې په هغې کښې دَ يومونځ تخصيص نشته دې. لهذا دَدې ممانعت تقاضاداده چه په دې وختونوکښې د نفلونو په شان دَ فرائضودَ اداکولونه هم ځان اوساتلې شي. په ليلة التعريس کښې حضورپاك فرض دَ نمردَ راختونه مؤخرکولوسره کړې وو.

٦٠٤—د خوب په وجه د مونځ قضا کيدو په صورت کښې عدم ګناه

٦٠٣—()[١٧] ① وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«لَيْسَ فِي النَّوْمِ تَفْرِيطٌ، إِنَّمَا التَّفْرِيطُ فِي الْيَقَظَةِ. ③ فَإِذَا نَسِيَ أَحَدُكُمْ صَلَاةً أَوْنَامَ عَنْهَا؛ فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا ④ فَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى قَالَ: "﴿وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي﴾ [طه: ١٤]». رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: ① ابو قتاده ﷺ وايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل ② په اوده کيدو (خوب) کې د لمانځه پاتې کيدل په قصور کې نه شمارل کيږي بلکه قصور خو په ويښه کې وي (چې هغه داسې ولې اوده شو) ③ نو هر کله چې په تاسو کې د چا څخه لمونځ کول هير شي يا د لمانځه په وخت کې غافله اوده شی نو کوم وخت چې ورپه ياد شی نو ودې کړي ④ څکه چې الله تعالی ﷻ فرمايي: وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي، يعني او زما د يادولو په وخت مونځ کوئ. (مسلم)

حل اللغات: ① تَفْرِيطٌ: أَيْ: تَقْصِيرٌ: کوتاهی او نقصان کولو ته وائی

تسهيلات:

قوله: لَيْسَ فِي النَّوْمِ تَفْرِيطٌ،

دمونځ په قضاء کيدو صحابه کرامو ته تسلی: د حديث بارك د اولې جملې نه د نبی کريم ﷺ

(۱) ومسلم ک.ب المساجد ومواضع الصلوة، باب قضاء الصلاة الفائتة، واستحباب تعجيل قضائها (رقم) ۳۱۱ - (۶۸۱) ، وابن ماجة کتاب الصلاة ، باب من نام عن الصلاة أو نسيها (رقم-۶۹۸) وابوداود کتاب الصلاة، باب فی من نام عن الصلاة، أو نسيها (رقم-٤٣٧) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی النوم عن الصلاة (رقم-۱۷۷) والنسائی کتاب المواقيت/ باب فيمن نام عن الصلاة (رقم-۶۱۵)

څه مقصد دی؟ هرکله چې د لیلة التعریس په شپه نبی کریم ﷺ او صحابه کرامو نه مونځ قضاء شو نو صحابهٔ کرام ډیر زیات خفه وو او سخت پریشانه وو. د مونځ په قضاء کیدو ورته نبی کریم ﷺ ددې جملې په ذریعه دا تسلی ورکړه چې ستاسو مونځ خو د خوب په وجه قضا شوی دې، څه په بیداری کښې خو نه دې قضا شوی. د خوب په وجه څه کمی کوتاهی نشته دې. کمی کوتاهی داده چې کله انسان بیدار وی او هغه په لهو لعب کښې او په دنیا وی کارونو کښې مشغول وی او ددې په وجه ترې مونځ قضا شی. ستاسو مونځ خو د خوب په وجه قضاء شوی دې.

قوله: وَأَقِمِ الصَّلاةَ لِذِكْرِي:

په حدیث کښې اشکال: دویمه حصه کښې د وړاندینی حدیث مضمون دې او په دې باندې هم هغه سوال وجواب دی. په دې باندې نبی کریم ﷺ داستشهاد په طور دا آیت مبارک تلاوت کړو چې وَأَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ۝، اشکال دا دې چې شاهد او مشهود له کښې مطابقت نشته دې. استشهاد منطبق نه دی. ځکه چې په حدیث کښې د ذکر نه مراد الصلوة دی. او آیت کریمه کښې د ذکر نه مراد د الله تعالی ذکر دې. یعنی د الله تعالی د ذکر دپاره مونځ قائم کړئ.

د اشکال درې جوابونه: ① اصل کښې قرائتونه دوه دی، یو خو دا مشهور دې او دویم قراءت وَأَقِمِ الصَّلٰوةَ لِلذِّكْرٰى۝، او دا استشهاد ددې قراءت ثانیه په اعتبار سره دې.

② مضاف محذوف دې. اصل داسې دی چې وقت ذکر صلوتی، لام یعنی د وخت دپاره دې، لام وقتیه کښې به اوس هم مطابقت وی. دواړه کښې ذکرنه صلوة مراد دې.

دریم جواب: ذکر الله او ذکر صلوة کښې اتحاد دې، مونځ هم ذکر الله دې او د ذکر الله رایادیدل د دمونځ رایادیدل دی. (خیرالمفاتیح صفحه ۲/۴۸)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۶۰۵-په دریو څیزونو کښې د عدم تاخیر حکم

۶۰۵-(۱)[۱۸] ١ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ٢ «يَا عَلِيُّ! ثَلَاثٌ لَا تُؤَخِّرْهَا: الصَّلَاةُ إِذَا أَتَتْ، ٣ وَالْجِنَازَةُ إِذَا حَضَرَتْ، ٣ وَالْأَيِّمُ إِذَا وَجَدْتَ لَهَا كُفُوًا.» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه: ١ حضرت علي کرم الله وجهه راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل ٢ اي علي (رضی الله عنه) د دريو خبرو په کولو کې تاخير مه کوه ① يو په لمانځه اداء کولو کې هر کله چې يې وخت شي ٣ ② دويم په جنازه کې هر کله چې تياره شي ٣ ③ او دريم د بي خاونده ښځي په

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الوقت الأول من الفضل (رقم-۱۷۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

نکاح کې هر کله چې د هغې کفو (یعني مناسب سړي، سیال) ملا شي. (ترمذي)

حل اللغات: ① الْأَيِّمُ: أَيِ: الْمَرْأَةُ الْعَزَبَةُ وَلَوْ بِكْرًا. الْأَيِّمُ مَنْ لَا زَوْجَ لَهُ: ایم بې خاونده ښځې ته وئیلې شوي دې که هغه پیغله وی اوکه کونډه وی اویا طلاقه شوې وی. ② كُفُوًا: أَيِ الْمِثْلُ: دا دَ کفایت نه دې دَبرابرئ په معنی کښې دې.

تسهیلات:

قوله: الصَّلَاةُ إِذَا أَتَتْ:

د اتت په صیغه کښې دوه اقوال: ① دا صیغه دَاتیان نه ده دَ راتلوپه معنی کښې ده.

② علامه توریشتی رحمه الله فرمائی داصیغه په ټولو نسخوکښې هم داشان ده لیکن په دې کښې تصحیف شوې دې. اصل صیغه دَ همزه دَ مد سره "آنت" ده چه دَ کانت په وزن باندې ده دکوم معنی چه دَ حانث ده یعنی چه کله مونځ رانیزدې شي.

[الکاشف: ۲۰۷/۲ المعات: ۳۱۷]

د مذکوره جملې مطلب: مطلب داچه کله مونځ رانیزدې شی نوبیادې ټول کارونه روستوکړې شی اومونځ دې دَهغې په مستحب وخت کښې اوکړی لکه چه مسلمان ته حکم دې چه هغه دې دَالله تعالی کار په خپل کارباندې مقدم اوساتی اودَدې خلاف دې نه کوی گنی گناهګار به شی.

قوله: وَالْجِنَازَةُ إِذَا حَضَرَتْ:

د جنازې د تلوار حکم: یعنی چه کله جنازه حاضره شی نوبیا دې دَدې دَجنازې مونځ او تدفین کښې بالکل تاخیرنه کوی گنی که دَمړی بدن خراب شی نوځومره رسوائی به وی. علامه طیبی رحمه الله شافعی دَعلامه اشرف قول نقل کړې دې چه دَدې حدیث نه معلومه شوه چه دَ جنازې مونځ په مکره وختونوکښې کول مکروه نه دی. اوکه دَدغه وختونونه مخکښې جنازه راشی نوبیا دغه وختونو پورې روستو کول او کول مکروه دی او هم دغه دَ سجده تلاوت حکم هم دې. دَ مازیګر او سحر نه پس جنازه کول مکروه نه دی او سجده دَتلاوت هم مکروه نه ده.

قوله: وَالْأَيِّمُ إِذَا وَجَدْتَ لَهَا كُفُوًا:

د پیغلې په نکاح کښې تلوار: مطلب دا چه کله ښځه بالغه شی اوپه کفوکښې رشته ملاؤ شی نوبیا دَهغې په نکاح کښې تاخیرنه دی کول پکار گنی په دې سره به دَ بدکارئی او جرمونو دروازې کولاؤ شی او په معاشره کښې به فساد او فتنه خوره شی.

قوله: "كُفُوًا"

په کفاءت کښې ضروری څیزونه: مطلب دا چه ښځه اوسړې په دې صفتونوکښې برابر وی:

① نسب ② اسلام ③ حريت ④ ديانت ⑤ مال ⑥ پيشه.

په نکاح کښې د آسانتيا ترغيب: مسلمانانوله پکار دی چه د هندوانو په رسمونو او رواجونو کښې اخته کيدو سره د هلکانو او جينکو په نکاح کولو کښې تاخير نه کوی د دې ديرې خرابې نتيجې راوتلې شی. اسلام د سړی په ذمه باندې د نکاح د مهر طاقت لازم کړې دې د دې نه علاوه ئې هيڅ يو څيز نه دې لازم کړې او په ښځه باندې هم څه څيز نه دې لازم کړې. نو هيڅ بې هيڅه د رسم او رواج په مصيبتونو کښې اخته کيدو سره د جينکو ژوند سره لوئې کول نه دی پکار. (ماخوذ از توضيحات)

۶۰۶-په اول وخت کښې د مونځ ادا کولو فضيلت

۶۰۶-(¹)[۱۹] ①وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②"«الْوَقْتُ الْأَوَّلُ مِنَ الصَّلَاةِ رِضْوَانُ اللّٰهِ، ③وَالْوَقْتُ الْآخِرُ عَفْوُ اللّٰهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه: ① ابن عمر رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② مونځ په اول وخت کې اداء کول دالله تعالى جل جلاله د رضا موجب دي ③ او په آخر وخت کې اداء کول دهغه دمعافئ سبب دي، (ترمذي)

حل اللغات: ① رِضْوَانُ اللّٰهِ: أَيْ: سَبَبُ رِضَاهِ كَامِلًا: يعنى دالله تعالى د کاملې رضا او خوشحالئ سبب دې. ② عَفْوُ اللّٰهِ: د الله تعالى د معافئ سبب دې.

تسهيلات: قوله: "رِضْوَانُ اللّٰهِ"

په عامو حالاتو کښې د مونځ په اول کښې وخت کښې افضليت: يعنې په اول وخت مختار کښې مونځ کول د الله تعالى خوشحالی حاصلول دی.

د څه مقصد دپاره په مانځه کښې د تاخير عدم کراهت: خوچه په کوموو ختونو کښې تاخير کول د څه خاص مقصد دپاره وی هغه د دې نه مستثنٰی دی ځکه چه د دغه عارضی حالاتو د وجې نه د هغې تاخيروخت مختار دې. مثلاً په ګرمئ کښې ماسپښين کښې د يخوالی په غرض سره تاخير غوره دې په سحر کښې اسفار غوره دې. دغه شان د جمع په غرض سره تاخير غوره دې.

قوله: "وَالْوَقْتُ الْآخِرُ"

د آخری وخت نه مراد: دې نه مراد مکروه وخت دې مثلاً په مازيګر کښې د اصفرار شمس پورې تاخير کول مکروه دی او په ماسخوتن کښې د نيمې شپې نه زيات تاخير کول مکروه دی. ليکن د دې حديث مطلب دانه دې چه په دې تاخيرسره به فرض ادانه شی فرض به اداشی البته کراهت به الله تعالى معاف کړی. [اشعة المعات: ۳۱۸]

(¹) اخرجه الترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الوقت الأول من الفضل (رقم-۱۷۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

۶۰۷-په خپل وخت کښې د مونځ ادا کولو افضليت

۶۰۷-()[۲۰] ۱ وَعَنْ أُمِّ فَرْوَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ۲ «سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟ ۳ قَالَ: "الصَّلَاةُ لِأَوَّلِ وَقْتِهَا"» رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ ۴ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: لَا يُرْوَى الْحَدِيثُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ الْعُمَرِيِّ، ۵ وَهُوَ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ.

ترجمه: ۱ بي بي ام فروه رضي الله عنها راويه ده (روايت کوي) ۲ چې د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې (د ثواب د زيادت په اعتبارسره) کوم عمل افضل دي؟ ۳ وي فرمايل مونځ په اول وخت کې کول، احمد ترمذي ابوداؤد، ۴ او امام ترمذي رحمه الله فرمايي چه دا حديث صرف د عبدالله بن عمر عمري څخه روايت کيږي ۵ او هغه د محدثينو په نيز قوي نه دي

تسهيلات:

قوله: "الصَّلَاةُ لِأَوَّلِ وَقْتِهَا"

په مستحب وخت کښې د مونځ کول: يعنې مستحب اوغوره وخت کښې مونځ کول دټولو عملونونه غوره عمل دي.

د حديث تضعيف: ترمذی دې حديث ته دَ عبدالله بن عمر رضي الله عنه دوجې نه ضعيف وئيلې دې ليکن نورحضرات فرمائی چه دا حديث صحيح دي. کتاب العلم کښې دَ عبدالله بن عمر عمری متعلق تفصيل موجود دي. شيخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې تفصيل کړې دي.[اشعة المعات: ۳۱۸]

۶۰۸-په آخر وخت کښې د مونځ کولو کراهت

۶۰۸-()[۲۱] ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ۲ «مَا صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةً لِوَقْتِهَا الْآخِرِ مَرَّتَيْنِ ۳ حَتَّى قَبَضَهُ اللَّهُ تَعَالَى»: رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه: ۱ بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي ۲ چې نبي کريم ﷺ هيڅ مونځ په آخر وخت کې دوه خله هم نه دي کړي ۳ تر دي چې الله تعالى جل جلاله وفات کړو. (ترمذي)

حل اللغات: ① قَبَضَهُ اللَّهُ تَعَالَى: يعنی الله تعالی د نبی عليه الصلوة السلام روح قبض کړو (يعنی وفات شو).

تسهيلات:

قوله: "لِوَقْتِهَا الْآخِرِ"

په آخر وخت کښې د مونځ کولو حکمت: يعنی حضورپاك به مونځ په اول وخت مختار کښې کولو په مکروه وختونو کښې به ئی نه کولو. صرف دَ جوازدَ بيان دپاره يوځل نيم حضورپاك

---

(۱) وابوداود كتاب الصلاة،باب فی المحافظة علی وقت الصلوات(رقم-۴۲۶)

(۲) اخرجه الترمذی كتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/بباب ما جاء فی الوقت الأول من الفضل (رقم-۱۷۴)

مونځ په آخروخت کښې کړې وو دې دپاره چه دَ مانځه دَ اول وخت او آخروخت تعین اوشي.[اشعة المعات:۳۱۸]

دَ آخروخت نه مراد: شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې لیکی چه دا حدیث اودَ حضرت عائشه رضی الله عنها داکلام هغه تاخیرسره متعلق دې دکوم نه پس چه اصل وخت نه پاتې کیږی ګنی په وخت دَ جواز کښې خوخوځل کړې وو. په تبوك کښې دَ سحریه مونځ کښې تاخیراوشو عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه مونځ ورکړو. دغه شان یوځل صدیق اکبر رضی الله عنه مونځ کول شروع کړې وو روستو بیا حضورپاك تشریف راوړو. دغه شان یوځل هغوی رب العالمین په خوب کښې اولیدلو نو دَماسخوتن په مونځ کښې تاخیراوشو. بل دَ امت دَتعلیم دَپاره او دَ جوازدَ بیانولودَپاره کله کله تاخیرشوی. خلاصه دا چه دلته دَ تاخیرنه مراد دَهغه وخته پورې تاخیرمراد دې دکوم نه پس چه جائز وخت نه پاتې کیږی.[اشعة المعات ۳۱۸]

بهرحال دَمابنام په وخت دَ ټولو فقهاؤ اتفاق دې چه تعجیل یعنی تادی کول غوره دی.

۶۰۹–د مابنام په مانځه کښې د عدم تاخیر حکم

۶۰۹–(۱)[۲۲] ١ وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ «لَا تَزَالُ أُمَّتِي بِخَيْرٍ أَوْقَالَ: عَلَى الْفِطْرَةِ ـ ٣ مَالَمْ يُؤَخِّرُوا الْمَغْرِبَ إِلَى أَنْ تَشْتَبِكَ النُّجُومُ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ

ترجمه: ١ ابو ایوب رضی الله عنه راوي دي چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم وفرمايل ٢ زما د امت خلق به هميشه په خيروي يا وي فرمايل چې په فطرت (يعني د دين اسلام په طريقه) باندې به وي ٣ ترڅو چې د مابنام مونځ دومره وروسته نکړي چې ستوري وځليږي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① الْفِطْرَةِ: أَيْ: السُّنَّةِ الْمُسْتَمِرَّةِ: دفطرت نه ددين اسلام طريقه او جاری سنت مراد دی ② تَشْتَبِكَ: أَيْ: يَظْهَرَ جَمِيعُهَا وَيَخْتَلِطَ بَعْضُهَا بِبَعْضٍ: اشتباك دَ اختلاط په معنی کښې دې يعنی چه ستوری ګنړ شی او رڼا ئې زياته شی.

تسهیلات:

قوله: "تَشْتَبِكَ النُّجُومُ"

صرف د ستورو په ښکاریدو د مابنام په مونځ کښې عدم کراهت: دَدې حدیث نه معلومه شوه چه مابنام کښې صرف دَ ستورو ښکاریدو سره وخت مکروه کیږی نه اوچه کله ستوری زيات شی بیا دَ مابنام وخت نه پاتې کیږی. شیعه شنیعه هغه وخته پورې اذانه کوی ترکومې چه ستوری ښکاره نه شی دغه شان هغوی دَ حدیث هم مخالفت کوی اودَامت محمدیه دَ متفق علیه اعمال نه جدا لار اختیاره وی لکه چه دَهغوی کوشش وی چه په یوشرعی عمل کښې مسلمانانوسره پاتې نه شی. دَالفطرة نه دَ دین اسلام نیغه لار مراد ده.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة باب في وقت المغرب (رقم-۴۱۸) والدارمي كتاب الصلاة /باب كراهية تأخير وقت المغرب (رقم-۱۲۴۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

٦١٠-()[٠] ①وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنِ الْعَبَّاسِ.

ترجمه: ① او دا روايت دارمي د عباس رضي الله عنه څخه نقل کړي دي

٦١١-د ماخوستن په مونځ کښې د تاخير افضليت

٦١١-(١)[٢٣] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُمْ أَنْ يُؤَخِّرُوا الْعِشَاءَ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ أَوْ نِصْفِهِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل② که زما سره د خپل امت د خلقو د تکليف ويره نه وې نو هغوئ ته به مي د (وجوب په طريقه) حکم ورکړي وو چې د ماسخوتن مونځ دريمي حصي د شپي پورې يا د نيمي شپي پورې په تاخير سره کوئ. (احمد، ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات: ① لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ: أَيْ: لَوْلَا كَرَاهَةُ الْمَشَقَّةِ عَلَيْهِمْ: که چرې ماسره د خپل امت د زيات مشقت اوتکليف ويره نه وې.

تسهيلات:

قوله: أَنْ يُؤَخِّرُوا الْعِشَاءَ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ

د نبی علیه السلام په امت باندې شفقت: که چرې ما سره ددې خبرې ويره نه وې چې زما امت به په مشقت کښې اخته شي نو ما به په ګرمۍ کښې د ماخوستن مونځ تر د شپې دريمې حصې پورې د روسته کولو حکم کړې وې.

قوله: أَوْ نِصْفِهِ

د او په کلمه کښې دوه احتمالات: يعنی په يخنۍ کښې به مې مونځ د نيمې پورې دمؤخر کولو حکم ورکړې وې. دلته او د نوع بيان دپاره دې يا شك بيانولولو دپاره.

اشکال: ددې حديث پاك نه خو معلومه شوه چې وجوبی اعتبار سره د ماخوستن مونځ مؤخر کول افضل دی ، بيا يئ لولاولې ذکر کړو؟

د اشکال جواب: دا حکم استحبابی دې وجوبی نه دې، که د مشقت ويره نه وی نو ما به وجوبی حکم ورکړې وې چې دماسختن مونځ مؤخر کړئي. (خيرالتوضيح (۱\۵۰۳)

٦١٢-د ماخوستن مونځ د امت محمدی خصوصيت

٦١٢-(٢)[٢٤] ①وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«أَعْتِمُوا بِهَذِهِ الصَّلَاةِ; ③فَإِنَّكُمْ قَدْ فُضِّلْتُمْ بِهَا عَلَى سَائِرِ الْأُمَمِ ④وَلَمْ تُصَلِّهَا أُمَّةٌ قَبْلَكُمْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

---

(۱) اخرجه ابن ماجة کتاب الصلاة ، باب وقت صلاة المغرب (رقم)- ٦٨٩

(۲) اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی تأخير العشاء الآخرة (رقم-١٦٧) وابن ماجة کتاب الصلاة ، باب وقتصلاةالعشاء (رقم٦٩١)

(۳) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة،باب فی وقت العشاء الآخرة (رقم-٤٢١)

ترجمه: [۱] معاذ بن جبل رضي الله عنه راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل [۲] تاسو دا مونځ (يعني د ماسخوتن لمونځ) په تاخير سره کوئ [۳] ځکه چې تاسو ته په نورو امتونو د دې لمانځه په وجه فضليت درکړل شوې دې [۴] او ستاسو ځخه مخکې هيڅ يو امت دا مونځ نه دې کړې. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① أَعْتِمُوا: د بَابِ إِفْعَال نه د امر صيغه ده. أي: ادْخُلُوهَا فِي الْعَتَمَةِ: "عتمة" تياري ته وائي دلته ياخو صرف تياره مراد ده اويا دَ ثلث الليل نه کنايه ده دَدې حديث نه هم دَ ماسخوتن دَتاخير پته لګي.

تسهيلات:

قوله: فَإِنَّكُمْ قَدْ فُضِّلْتُمْ:

د ماسخوتن د مانځه په تاخير کښې فوائد: دې نه معلومه شوه چه دَ ماسخوتن وخت اودَماسخوتن مونځ صرف دې امت مرحومه ته ورکړې شوې دې. دَدې تفصيل دَ مواقيت په بحث کښې تيرشوې دې.

① په دې تاخيرکښې دَ جمع زياتوالې هم دې دَ انتظار مشقت هم دې

② اودَ ماسخوتن اهتمام هم دې داتول کارونه دَ ثواب دی.

③ کله چه دَ ډير وخت پورې يومسلمان انتظارکوی اوبيامونځ کيږی نودې نه پس به هغه زر دَ اوده کيدو تياری کوی اودَ ماسخوتن دَ فضول ګپ شپ نه به محفوظ وی اووخت به نه ضائع کوی. [اشعة المعات: ۳۱۹.]

۶۱۳- د ماخوستن د مونځ وخت

۶۱۳- (ا)[۲۵] [۱] «وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ- رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [۲] أَنَا أَعْلَمُ بِوَقْتِ هَذِهِ الصَّلَاةِ; صَلَاةِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ: [۳] كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيهَا لِسُقُوطِ الْقَمَرِ لِثَالِثَةٍ.» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] نعمان بن بشير ﷺ فرمايي [۲] ځه زه دا مونځ يعنی د دويم عشاء (ماسخوتن) وخت ښه پيژنم [۳] نبي کريم ﷺ به دا مونځ د دريم تاريخ د سپوږمۍ د پټيدو په وخت کولو. (ابوداؤد، دارمي)

حل اللغات: ① سُقُوطِ الْقَمَرِ: أَيْ: وَقْتَ غُرُوبِهِ: د سپوږمۍ د غروب کيدو په وخت.

تسهيلات: قوله: الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ:

دعشاء وجه تسميه: عشاء ته دَ مغرب دَ وجې نه دويمه عشاء وئيلی شی ځکه چه په مابنام باندې دَ عشاء اولی اطلاق کيږی.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة باب في وقت العشاء الآخرة (رقم-۴۱۹) والترمذی كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ماجاء فی وقت صلاة العشاء الآخرة رقم-۱۶۵) والنسائی كتاب المواقيت/ باب تعجيل العشاء (رقم-۵۲۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: لِسُقُوطِ الْقَمَرِ:

د ماسخوتن په مونځ کښې د تاخیر استحباب: یعنی دَ دریمې شپې سپوږمۍ چه کله ډوبیږي هغه وخت به حضورپاك دَ ماسخوتن مونځ کولو دَدې حدیث نه هم دَ ماسخوتن تاخیر طرف ته اشاره ملاویږي ځکه چه دَ دریمې شپې سپوږمۍ ثلث اللیل په وخت کښې ډوبیږي دَ تجربه نه هم دغه ثابت دی. [اشعة المعات: ۴۱۹]

٦١٤—د سحر د مانځه وخت

٦١٣—(۱)[٢٦] ١ وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ «أَسْفِرُوا بِالْفَجْرِ، فَإِنَّهُ أَعْظَمُ لِلْأَجْرِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ؛ ٣ وَلَيْسَ عِنْدَ النَّسَائِيِّ: فَإِنَّهُ أَعْظَمُ لِلْأَجْرِ.

ترجمه: ١ رافع بن خدیج رضي الله عنه راوي دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل ٢ د سحر مونځ په رڼا کې کوئ ځکه چې په رڼا کې په مونځ کولو سره ډیر زیات ثواب حاصلیږي، ترمذي ابوداؤد دارمي نسایي، ٣ او د نسایي په روایت کې دا الفاظ فانه اعظم للاجر نشته.

حل اللغات: ① أَسْفِرُوا: په رڼا کښې کوئ. ② أَعْظَمُ: ډیر لوئي، ډیر زیات.

تسهیلات: قوله: أَسْفِرُوا بِالْفَجْرِ،

د صلاة الصبح په غلس کښې ادا کولو کښې څلور توجیهات: ① ځینې علماء کرام و ائي چې ددې مطلب دادې چې په تیارهٔ کښې دې مونځ شروع کړې شي ، او طول قرآءة سره دې اسفار کښې ختم کړی چې په دواړو احادیثو کښې تغلیس او اسفار کښې مطابقت راشي ② ځینو وئیلی دی چې دا په سخته تیاره باندې محمول دې. هرکله چې شپه ښه تیاره شي ،او کله چې ښه اسفارشي نو بیا دې سحر مونځ ادا کړی .په داسې شپه چې په هغې کښې تیاره کمیږي نو په هغې تغلیس سره شروع کولې شي .

③ ځینو وئیلی دی چې دا دشپې په اوږدیدو او لنډیدو باندې محمول دی .

④ یخنۍ کښې دې په تیاره کښې شروع کړې شي ، ځکه خلق د خوب پورا کیدو نه پس زر رابیداریږي او په ګرمۍ کښې دې اسفار سره ادا کړې شي ځکه چې خلق د خوب نه پورا کیدو په وجه زر نه شي رابیداریدې، په دې وجې دې په تاخیر سره مونځ شروع کړې شي ، چې زیات نه زیات خلق په مونځ کښې شرکت اوکړی .

⑤ رمضان کښې په غلس په غیر رمضان کښې اسفار باندې محمودل دی.

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الإسفار بالفجر (رقم-١٥٤) وابوداود کتاب الصلاة،باب فی وقت الصبح (رقم-٤٢٤) وابن ماجة کتاب الصلاة ، باب وقت صلاة الفجر (رقم-٦٧٢) والنسائی کتاب المواقیت/ باب الإسفار (رقم-٥٤٨) والدارمی کتاب الصلاة /باب: الإسفار بالفجر (رقم-١٢٥٣)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

۶۱۵-: د مازيګر د مانځه وخت

۶۱۵-(۱)[۲۷] [۱] عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «كُنَّا نُصَلِّي الْعَصْرَ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ تُنْحَرُ الْجَزُورُ [۳] فَتُقْسَمُ عَشْرَ قِسَمٍ، ثُمَّ تُطْبَخُ [۴] فَنَأْكُلُ لَحْمًا نَضِيجًا قَبْلَ مَغِيبِ الشَّمْسِ.» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] رافع ابن خديج رضي الله عنه فرمايي [۲] چې د نبي كريم ﷺ سره د مازيګر مونځ كولو نه پس به مونږ اوښان ذبح كړل [۳] او بيا به هغه په لس حصوكي تقسيم شول د هغه څخه وروسته به پاخه كړې شو [۴] اوبيا به مونږ د نمر پټيدو څخه مخكې پخ كړي غوښه خوړلو نه فارغ شو، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① تُنْحَرُ: ذبح كولى به شو، ② اَلْجَزُوْرُ: جزور اوښ ته وائى كه نر وى كه ښځه. البته دَدې دَپاره صيغه دَ مؤنث استعمالولې شى. ③ تُطْبَخُ: د باب نصرنه، د پخولو په معنى كښې دې. ④ نَضِيجًا: أي: مَشْوِيًّا: وريته كړې شوې.

تسهيلات: قوله: "عَشْرَ قِسَمٍ"

د مذكوره جملې مطلب: دَعام عادت مطابق دَعربوخلق به لس كسان په يواوښ كښې شريكيدل اوبيابه ئې غوښه لس حصو كښې تقسيمول دلته هم دغه مراد دې

د مازيګرد مونځ په اول وخت كښې مذاهب:

① دَدې حديث نه په ظاهره هم دغه معلوميږى چه حضورپاك ﷺ دَمازيګر مونځ اول وخت يعنى دَمثل اول په راتلو باندې اداكولو. دَجمهور اوصاحبينو مسلك هم دا دې او يوقول دَامام ابوحنيفه رحمه الله هم دې چه په مثل اول باندې دَمازيګر وخت شروع كيږى

② دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله مشهور مسلك دادې چه دَمازيګر وخت مثل ثانى نه شروع كيږى تفصيل مخكښې تيرشوې دې او دَ حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه دَدې روايت محمل ئې هم خودلې دې.

۶۱۶-د ماخوستن په مانځه كښې د تاخير فضيلت

۶۱۶-(۲)[۲۸] [۱] «وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] مَكَثْنَا ذَاتَ لَيْلَةٍ نَنْتَظِرُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ. [۳] فَخَرَجَ إِلَيْنَا حِينَ ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ أَوْبَعْدَهُ، [۴] فَلَا نَدْرِي: أَشَيْءٌ شَغَلَهُ فِي أَهْلِهِ أَوْغَيْرُ ذٰلِكَ؟

(۱) بخاري كتاب الشركة باب الشركة فى الطعام والنهد والعروض (رقم-۲۴۸۵) ومسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة باب استحباب التبكير بالعصر(رقم) ۱۹۸ - (۶۲۵)

(۲) اخرجه مسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة باب وقت العشاء وتأخيرها (رقم) ۲۲۰ - (۶۳۹) وابوداود كتاب الصلاة،باب فى وقت العشاء الآخرة (رقم-۴۲۰) والنسائى كتاب المواقيت/آخر وقت العشاء (رقم-۵۳۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: ۱ عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمايي ۲ چه يوه شپه مونږ د ماسخوتن د لمانځه د پاره د نبي كريم ﷺ انتظار كولو ۳ رسول الله ﷺ دريمه حصه د شپې يا دې ځخه هم د زياتي شپي تيريدو ځخه وروسته تشريف راوړو ۴ او مونږ ته معلومه نه ده چې حضور ﷺ د كور په كار كې مشغوله وو (چې د عادت مطابق د وختي مونځ كولو د پاره يې تشريف رانه وړو) يا دې ځخه علاوه (حضور ﷺ ته څه عذر پيښ شوې وو)

حل اللغات: ① مَكَثْنَا: أَيْ: لَبِثْنَا: مونږ وخت تيركړو، ايسارشو.

۱ فَقَالَ حِينَ خَرَجَ: إِنَّكُمْ لَتَنْتَظِرُونَ صَلَاةً ۲ مَا يَنْتَظِرُهَا أَهْلُ دِينٍ غَيْرُكُمْ، ۳ وَلَوْلَا أَنْ يَثْقُلَ عَلَى أُمَّتِي لَصَلَّيْتُ بِهِمْ هَذِهِ السَّاعَةَ ۴ ثُمَّ أَمَرَ الْمُؤَذِّنَ فَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَصَلَّى». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ حضور ﷺ راتلوسره وفرمايل تاسو خلقو د لمانځه انتظار كوئ (او ستاسو د پاره دا مناسب هم وو ځكه چې) ۲ تاسو دداسي لمانځه انتظار كوئ چې ستاسو ځخه سوا هيڅ بل دين والا ددې مونځ انتظار نه دي كړي (يعني دا ستاسو دخصوصياتو څخه دي)، ۳ او كه ماته په خپل امت باندې د بوج كيدو ويره نه وې نو ما به دا مونځ هميشه دا وخت كولې ۴ بيا حضور ﷺ مؤذن ته د (تكبير) حكم وكړو هغه تكبير (اقامت) اووئيلو او حضور ﷺ مونځ وركړو. (مسلم)

حل اللغات: ③ يَثْقُلَ: چه بوج به شي، تكليف به جوړشي.

تسهيلات:

د حديث دبعضې جملو وضاحت: ① "أَشَيْءٌ شَغَلَهُ فِي أَهْلِهِ" ددې تاخيروجه نه په دې حديث كښې شته او نه حضورپاك څه خودلى دى. يوبل حديث مشكوة (ص ۷۱) باندې دې. په هغې كښې دى چه حضورپاك رب تعالى په خوب كښې اوليدلو. [الكاشف: ۲/۲۱۲]

② "أَهْلُ دِينٍ غَيْرُكُمْ" دائى ځكه اوفرمائيل چه دماسخوتن مونځ په يهوديانو او نصارىٰ باندې يا په يوبل امت باندې فرض شوې نه وو.

③ "هَذِهِ السَّاعَةَ" يعنى دَ شپې دريمه حصه يا دَدې نه هم څه زيات روستوپورې دَماسخوتن مونځ روستوكول لازمولې ليكن په دې امت باندې دَ رحمت او شفقت دَ وجې نه دَ شپې دريمې حصې پورې تاخيرلازم نه كړوسره دَدې چه تاخيرغوره دې. دَ رسول الله ﷺ دَ مبارك عمل نه داهم ثابت دى چه كله دَ ماسخوتن په وخت ټول خلق راجمع كيدې نو حضورپاك به مونځ زر كولو اوكله چه به خلق كم وو نو حضورپاك به ناوخته مونځ وركولو.

٦١٧- د نبی علیه السلام د مونځونو کیفیت

٦١٧-()[۲۹] ① وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الصَّلَوَاتِ نَحْوًا مِنْ صَلَاتِكُمْ، ③ وَكَانَ يُؤَخِّرُ الْعَتَمَةَ بَعْدَ صَلَاتِكُمْ شَيْئًا ④ وَكَانَ يُخَفِّفُ الصَّلَاةَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① جابر بن سمره رضي الله عنه خلقو ته وفرمایل ② چې نبي کریم ﷺ به ستاسو لمونځونو ته نږدې (وختونو کې) مونځ کولو ③ خو د ماسخوتن مونځ به یې ستاسو د لمانځه څخه لږ په تاخیر سره کولو ④ او مختصر مونځ به یې کولو. (مسلم)

حل اللغات: ① نَحْوًا: أي: قَرِيبًا: نږدې نږدې، ② الْعَتَمَةَ: أي: العِشَاءُ: ماسخوتن. ③ يُخَفِّفُ: مختصر، لنډ مونځ به ئې کولو.

تسهیلات: قوله: الْعَتَمَةَ:

په حدیث باندې اشکال: عتمه عشاء ته وائی داد اسلام نه وړاندې په جاهلیت کښې دَدې نوم وو رسول الله ﷺ دَدې استعمال منع کړو اوَدَ عشاء نوم ئی مقرر کړو. اوس سوال دادې چه حضرت جابر رضي الله عنه دَ ممانعت نه باوجود لفظ عتمة ولې استعمال کړې دې؟

[اشعة المعات: ۳۲۲]

داشکال جواب: کیدې شی هغوی ته دغه وخته پورې دَ ممانعت حدیث نه وی رسیدلې یا هغوی دَ شهرت دَ وجې اومخاطبینوته آسانه او مشهوره طریقه خودلودَ وجې نه دا لفظ استعمال کړې وی په کوم کښې چه استمرار نه وو بلکه دَ یووخت ضرورت وو. دَدې حدیث نه هم معلومه شوه چه حضورپاك دَ ماسخوتن په مونځ کښې تاخیرخوښ کړې دې.

قوله: يُخَفِّفُ:

د نبی کریم ﷺ په مونځ کښې اختصار کول: یعنی حضورپاك به په مونځونو کښې واړه واړه سورتونه لوستل په کوم سره چه به په مانځه کښې تخفیف کیدلو دَدې تعلق دې سره هم کیدې شی چه رسول الله ﷺ خلقوته لنډمونځ ورکړې وی مگر خپل خان له مونځ ئی ډیر اوږد کړې وی. بل حضورپاك دَ ماښام په مانځه کښې سورت اعراف لوستلې نودَدې وجه داده چه دَ حضورپاك دَ مبارکې ژبې نه چه کوم قراءت راوتلو په هغې کښې به خلقوته کیفیت اوخوند محسوسیدو نوهغه اوږدمونځ به هم لنډ گنړلې شو. اوس امت ته هم دغه تعلیم دې کوم چه دې حدیث کښې ذکردې. بل حدیث کښې خو حضورپاك وجه هم بیان کړې ده چه بعض خلق بوډان گان کیدې شی بعض مریضان او بعض اصحاب حوائج کیدې لهذا دَ تخفیف نه کار واخلئ.

---

(۱) اخرجه مسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب وقت العشاء وتأخيرها (رقم) ۲۲۷ - (۶۴۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

٦١٨ ـ د ماخوستن مونځ نيمې شپې ته د روستو کولو اراده

٦١٨ ـ (١)[٣٠] ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «صَلَّيْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْعَتَمَةِ ③ فَلَمْ يَخْرُجْ حَتَّى مَضَى نَحْوٌ مِنْ شَطْرِ اللَّيْلِ، ④ فَقَالَ: "خُذُوا مَقَاعِدَكُمْ"، فَأَخَذْنَا مَقَاعِدَنَا

ترجمه: ① ابوسعيد خدري رضي الله عنه فرمايي ② چې مونږ يو ورځ د نبي کريم ﷺ سره په جماعت سره د لمانځه کولو د پاره ورغلو ③ (اتفاقًا په هغه ورځ) حضور ﷺ تر نيمې شپې نزدې پورې تشريف رانه وړو ④ د هغې څخه وروسته چې راغې نو مونږ ته يې) ارشاد وفرمايلو چې تاسو خلق خپل خپل ځاي ناست اوسئ نو مونږ دخپلو ځايونو څخه ولاړ نه شو بلکه هلته ناست وو.

حل اللغات: ① خُذُوا مَقَاعِدَكُمْ: أَيْ: الْزَمُوهَا: يعنی په خپل خپل ځاي ناست اوسئ.

① فَقَالَ: إِنَّ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا وَأَخَذُوا مَضَاجِعَهُمْ، ② وَإِنَّكُمْ لَنْ تَزَالُوا فِي صَلَاةٍ مَا انْتَظَرْتُمُ الصَّلَاةَ، ③ وَلَوْلَا ضَعْفُ الضَّعِيفِ وَسَقَمُ السَّقِيمِ، ④ لَأَخَّرْتُ هَذِهِ الصَّلَاةَ إِلَى شَطْرِ اللَّيْلِ.» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه: ① (د دې څخه وروسته) حضور ﷺ وفرمايل نورو خلقو مونځ کولو سره خپلې خپلې بسترې سنبال کړې دي ② او (تاسو ته معلوميدل پکار دي چې) تر څو پورې تاسو د لمانځه په انتظار کې يئ نو ستاسو دا ټول وخت په لمانځه کې شمېرل کيږي (يعني تاسو ته به د دې انتظار په وجه د لمانځه کولو برابر ثواب حاصليږي) ③ او که زما سره د ضعيفانو د کمزورئ او د بيمارانو د بيمارئ خيال نه وې ④ نو ما به هميشه دا مونځ تر نيمې شپې پورې په تاخير سره کولې. (ابوداؤد، نسايي)

حل اللغات: ② مَضَاجِعَهُمْ: أَيْ: مَفَارِشَهُمْ أَوْ مَكَانَهُمْ لِلنَّوْمِ: خپلې بسترې يا خپل دخوب او څملاستلو ځايونه ③ ضَعْفُ: کمزوری، ④ سَقَمُ: بيماری.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا:

د ناس په مصداق کښې دوه اقوال: ① دې نه مسجدنبوی نه علاوه دَنورو محلو مسلمانان مراد دی چاچه په اول وخت کښې دَ ماسخوتن مونځ اداکړو اوده شو.

② يادَ نورو دينونو خلق يهود اونصاریٰ مراد دی چه هغوی دَماښام مونځ اوکړو اوده شو اوتاسوچه دَ کله نه دَ ماسخوتن په انتظار کښې وئی نو اوګنړئی چه تاسو په مانځه کښې مشغول ئی اوتاسو ته به برابر دَ مونځ ثواب ملاويږی اوکه دَ بيمارانو او مجبورو خلقو مجبورئی نه وې نو دَې ثواب دَ ګټلو دَپاره به تاسو په لازمی توګه باندې دَ ماسخوتن دَ تاخير حکم درکولو. [اشعة المعات: ٣٢٢]

(١) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة،باب في وقت العشاء الآخرة (رقم-٤٢٢) وابن ماجة کتاب الصلاة ، باب وقت صلاة العشاء (رقم-٦٩٣) والنسائي باب کتاب المواقيت/آخر وقت العشاء (رقم-٥٣٨)

٦١٩ــ د ماسپخين او مازيګر د مونځونو ادا کولو د پاره مسنون وختونه

٦١٩ــ (١)[٣١] ① وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ: ② «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشَدَّ تَعْجِيلًا لِلظُّهْرِ مِنْكُمْ، ③ وَأَنْتُمْ أَشَدُّ تَعْجِيلًا لِلْعَصْرِ مِنْهُ.» رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ

ترجمه: ① بي بي ام سلمه رضي الله عنها (خلق مخاطب کولو سره) وفرمايل ② چې نبي کريم ﷺ به د ماسپښين مونځ (د ګرمۍ ښخه علاوه په نورو موسمونو کې) ستاسو ښخه ډير زيات زر کولو ③ او تاسو د مازيګر په لمانځه کولو کې د حضور ﷺ ښخه زياته تادي کوئ، (احمد، ترمذي)

حل اللغات: ① تَعْجِيلًا: جلتي کول.

تسهيلات:

دامام ابوحنيفه د قول تائيد: دا حديث په واضحه توګه دَ احنافو دليل دې چه دَ مازيګر مستحب وخت په ښه تاخير سره کيږي دومره زر نه لکه څومره زر چه نن صبا غير مقلدين ګنړي. په سعودي عرب کښې چه دَ ماسپښين نه تر مازيګر پورې کوم وخت وي، دَ مازيګر نه دَ ماښام پورې وخت يا خو دَ دې برابر وي يا دَ ماسپښين وخت کم وي دومره زر دَ مازيګر مونځ چرته کيږي؟

٦٢٠ــ په يخنۍ او ګرمۍ کښې د مونځونو ادا کولو مسنون طريقه

٦٢٠ــ (٢)[٣٢] ① وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ الْحَرُّ أَبْرَدَ بِالصَّلَاةِ، ③ وَإِذَا كَانَ الْبَرْدُ عَجَّلَ» رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضي الله عنه فرمايي ② چې نبي کريم ﷺ به (د ماسپښين) مونځ د ګرمي په موسم کې په يخ وخت کې کولو او د يخنۍ په موسم کې به يې تادي کوله، (نسايي)

حل اللغات: ① الْحَرُّ: ګرمي، د ګرمۍ موسم. ② أَبْرَدَ: په يخ وخت کښې به ئې کولو. ③ عَجَّلَ: جلتي به ئې کوله.

تسهيلات:

قوله: أَبْرَدَ بِالصَّلَاةِ:

په رواياتو کښې تطبيق: دَ ماسپښين په وخت اودې په مونځ کښې چه کوم اختلاف دې او په رواياتو کښې چه کوم تعارض معلوميږي هغه ټول په دې حديث سره ختم شو ځکه چه دلته تعجيل په يخنيانو باندې حمل کړې شوې دې او دَ ماسپښين دَ تاخير تعلق دَ ګرمئ

(١) اخرجه الترمذي كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في تأخير صلاة العصر(رقم-١٦١)
(٢) اخرجه النسائي كتاب المواقيت/باب تعجيل الظهر في البرد (رقم-٤٩٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

موسم سره دي. لهذا دَ تعجيل او تاخير حکم دَ جدا جدا موسمونو دپاره شو لهذا هيڅ تعارض نشته. [اشعة المعات: ۳۲۲]

۶۲۱-په خپل وخت کښې د مونځ کولو تاکید

۶۲۱-(۱)[۳۳] ۱ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«إِنَّهَا سَتَكُونُ عَلَيْكُمْ بَعْدِي أُمَرَاءُ يَشْغَلُهُمْ أَشْيَاءُ عَنِ الصَّلَاةِ لِوَقْتِهَا ۳ حَتَّى يَذْهَبَ وَقْتُهَا، فَصَلُّوا الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا". ۴ فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ أُصَلِّي مَعَهُمْ؟ قَالَ: "نَعَمْ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه: ۱ عباده بن صامت رضی الله عنه راوي دي چې نبي کريم ﷺ ماته وفرمايل ۲ زما څخه وروسته ډير نزدې په تاسو به داسې (خلق) حاکمان شي چې هغوي به د دنيا څيزونه (يعني خواهشات نفساني) وخت (مستحب) باندې د مونځ کولو څخه منع کوي ۳ تر دې چې د لمانځه وخت به وځي (يعني مکروه وخت به راشي) نو ته خپل لمونځونه په وخت کوه (اګر که هم خانله وي) ۴ يو سړي عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ آيا بيا (دوباره) د هغوئ سره هم مونځ وکړم؟ حضور ﷺ وفرمايل هو، د هغوئ سره يې هم اوکړه (چې ثواب هم زيات حاصل کړې او د حکامو د مخالفت په وجه فتنه اوفساد هم پيدا نشي (ابوداؤد ۰۰)

تسهیلات:

قوله: إِنَّهَا سَتَكُونُ عَلَيْكُمْ بَعْدِي أُمَرَاءُ يَشْغَلُهُمْ أَشْيَاءُ عَنِ الصَّلَاةِ لِوَقْتِهَا:

د امراؤ مصداق: دا ضمير قصه ده "امراء" دې نه دَ سنت نبوی نه اخواکيدونکی حکمرانان مراد دی لکه حجاج بن يوسف اودَ بنواميه څه نور حکمرانان وو چه مونځ به ئی دَ هغې دَخپل مختار وخت نه روستو کولو کوم حکمرانان چه مونځ بالکل نه کوی لکه دا نن صبا نودا خلق خو په هيڅ حساب کښې نه دی.

حديث د بعضې جملو وضاحت: ① لِوَقْتِهَا: دې نه مستحب وخت مراد دې.

② "نَعَمْ: يعنی کله چه دَ فتنې اوفساد خطره وی نوخپل مونځ خان له په خپل خائی په مستحب وخت کوه اوظالمانو حکمرانانوسره دَ فتنې دَ لرې کولو او مجبورئی لاندې شامليږه. دَدې حديث تشريح اول شوې ده.

۶۲۲-د فساد خوريدو په وجه په ظالما نو حاکما نو پسې د اقتداء جواز

۶۲۲-(۲)[۳۴] ۱ وَعَنْ قَبِيصَةَ بْنِ وَقَّاصٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "۲ «يَكُونُ عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ مِنْ بَعْدِي يُؤَخِّرُونَ الصَّلَاةَ ۳ فَهِيَ لَكُمْ، وَهِيَ عَلَيْهِمْ، ۴ فَصَلُّوا مَعَهُمْ مَا صَلَّوُا الْقِبْلَةَ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

[1] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب إذا أخر الإمام الصلاة عن الوقت (رقم-۴۳۳)

[2] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب إذا أخر الإمام الصلاة عن الوقت (رقم-۴۳۳)

ترجمه: [۱] قبيصه بن وقاص رضي الله عنه راوي دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل [۲] زما څخه وروسته به په تاسو داسې خلق حاكمان شي چې مونځ به (د مستحب وخت) څخه په تاخير سره كوي [۳] او هغه مونځ به ستاسو د پاره خو فائده مند وي او د هغوئ د پاره به وبال وي [۴] نو تر څو پورې چې هغوي د قبلې (يعني د كعبة الله) طرف ته مونځ كوي تاسو هم د هغوئ سره مونځ كوئ (ابوداود)

تسهيلات:

قوله: فَهِيَ لَكُمْ:

د مذكوره جملې دوه مطلبونه: ① كه چرې تا خپل مونځ په مستحب وخت كښې اوكړو اوبيا دَ فتنې دَ لرې كولو په غرض دغه ظالمانانو حكمرانانوسره هم شريك شوې نودا دويم مونځ به ستا دَ پاره دَ فائدې شي اودَ دې به تاته جدا ثواب ملاوېږي.

② كله چه تا دَ فتنې دَ لرې كولواو فساد دَ ويرې هغوى سره مونځ اوكړو نوستا مواخذه به نه كيږي دَ مجبورئ دَ وجې نه به ته نه شې راګيرولې ليكن دَ دغه ظالمانو حكمرانانو دَپاره به دا مونځ وبال جان وى ځكه چه هغوى دَ څه مجبورئ نه نه بلكه دَسستئ دَ وجې نه قصداً په مكروه وخت كښې كړې دې اودَ دنيا په كارونوكښې مشغول شوى. داخو په تاخيرباندې حكمرانانوته وعيددې او څوك چه بالكل مونځ كوى نه بلكه منى نه نودوى واجب القتل دى. [اشعة المعات: ۳۲۳]

۶۲۳ــ د حضرت عثمان غني رضى الله عنه عبيدالله بن عدى ته مشوره

۶۲۳ــ (۱)[۳۵] [۱] وَعَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ الْخِيَارِ ـ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ـ [۲] أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى عُثْمَانَ وَهُوَ مَحْصُورٌ، [۳] فَقَالَ: إِنَّكَ إِمَامُ عَامَّةٍ، وَنَزَلَ بِكَ مَا تَرَى، [۴] وَيُصَلِّي لَنَا إِمَامُ فِتْنَةٍ، وَنَتَحَرَّجُ [۵] فَقَالَ: الصَّلَاةُ أَحْسَنُ مَا يَعْمَلُ النَّاسُ، فاذا احسن الناس فَأَحْسِنْ مَعَهُمْ، [۶] وَإِذَا أَسَاءُوا فَاجْتَنِبْ إِسَاءَتَهُمْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] د عبيد الله بن عدي بن خيار رضي الله عنه په باره كې منقول دي [۲] چې هغه د حضرت عثمان رضي الله عنه په خدمت كې هغه وخت حاضر شو (كله چې هغه د خپل شهادت څخه مخكې د بغاوت په ورځو كې په خپل كور كې دننه) محصور وو [۳] (نو عبيدالله رضي الله عنه فرمايي چې حضرت عثمان رضي الله عنه ته) ما عرض وكړو چې ته زمونږ د ټولو امام (او امير) يې او په تا چې كوم څه (مصائب او پريشاني) نازلې شوې، دي هغه ته هم وينې [۴] او (زمونږ حال دا دي چې) مونږ ته د فتنې او فساد يو امام مونځ راكوي (چې په هغه پسې مونځ كول زمونږ ګناه ګڼو [۵] (په دې اوريدو سره) حضرت عثمان غني رضي الله عنه وفرمايل مونځ كول د خلقو د ټول

(۱) اخرجه بخاري كتاب الاذان باب إمامة المفتون والمبتدع (رقم-۶۹۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

اعمالو څخه بهتر او افضل عمل دي هرکله چې خلق نیکي کوي نو ته هم د هغوئ سره نیکي کوه⑥ اوکله چه هغوي بدي کوي نو ته د هغوئ د بدي څخه ځان ساته. (بخاري)

حل اللغات: ① مَحْصُورٌ: أَيْ: مَحْبُوسٌ فِي دَارِهِ: په خپل کور کښې بنديوان وو. ② نَتَحَرَّجُ: أَيْ: نَتَحَرَّزُ وَنَجْتَنِبُ: مونږ دا ګناه ګڼړو يعنى مونږ بچ کيږو او ډډه ترې کوو.

تسهيلات:

قوله: "وَهُوَ مَحْصُورٌ"

د مذكوره حديث پس منظر: دَحضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه خلاف دَعبدالله بن سبا په تحريك باندې دَمصر خلق ولاړوو اودَدې خلقو يوه جنګى دسته په مدينه منوره کښې داخل شوې وه. اکثرصحابه ياخودَ دښمن دَ مقابلې دَپاره جهادته تلى وو يا دَحج دَ پاره دَمدينې منورې نه مکې مکرمې ته تلى وو. دغه بلوه کونکو حضرت عثمان رضي الله عنه تقريبًا څلوېښت ورځو پورې دَ هغوى په کور مدينه منوره کښې بند ساتلې وو دکوم په وجه چه هغوى مسجد نبوى ته نه شو راتلې.

په دغه زمانه کښې به دَ بلوه کونکو اوفساديانو امام مونځونه ورکول دَچا نوم چه شارحينو کنانه ابن بشر خودلې دې. دَ حضرت عثمان رضي الله عنه نه دې تپوس کونکى تپوس اوکړو چه دَ فساديانو مشر څوك چه مونځ ورکوى نوآيا هغه پسې مونځ کيږى؟[اشعة لمعات: ۳۱۸]

قوله: "وَنَتَحَرَّجُ"

د نتحرج معنى او د حضرت عثمان صبر: يعنى مونږ هغه پسې شاته مونځ کولو کښې حرج محسوس کوو اوګناه ئې ګڼړو. دَحضرت عثمان رضي الله عنه عدل اوانصاف، حلم اوعلم ته اوګورئى چه په دې سخته پريشانئى اوتکليف کښې هم دَ انتقام دَ وجې نه دَ انصاف نه اخوا کيدو سره خبره اونه کړه بلکه وئى فرمائيل چه ټيك ده داخلق ماپسې لګيدلې دى ليکن مونځ نيك عمل او ښه کار دې اوکله چه يوسړې ښه کارکوى نوتاسو په هغې کښې شريکيږئى که هغه ستاسو سخت دښمن ولې نه وى اوکه يو سړې خراب کارکوى نو په بدئى کښې دَهغه ملګرتيا مه کوئى سره دَدې چه هغه سړې ستاسو خوښ ولې نه وى.

بهرحال په دغه بلوه کښې حضرت عثمان رضي الله عنه ۳۵هجرى ۱۸ذوالحجه شهيد کړې شو. دَ خپل ځان بازى اولګوله مګر دَ جانان ښار دَمدينې منورې احترام ئى دَ خپو لاندې نه کړو. تفصيل انشاء الله دَ تسهيلات آخره کښې راځى.

[۳/۲۱] بَابُ فَضِيلَةِ الصَّلَوَاتِ

د مانځه د فضائلو بيان

خلاصة الباب:

فيه خمسة عشرة حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① فضيلة صلوة الفجر والعصر: ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۱۵.
② فضيلة صلوة الظهر والعشاء : ۵، ۶، ۷.
③ النهي عن بعض تسمية بعض الصلوات بأسماء الجاهلية: ۸.
④ كون صلاتي الفجر والعصر مشهودتان: ۹، ۱۰.
⑤ إطلاق صلاة الوسطى على صلاة العصر: ۲، ۱۱.
⑥ إطلاق صلاة الوسطى على صلاة الظهر: ۱۲، ۱۳.
⑦ إطلاق صلاة الوسطى على صلوة الفجر: ۱۲.

قال الله تعالى ﴿حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى﴾ [سورت بقره: ۲۳۸] وقال الله تعالى ﴿إِنَّ الَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ كِتٰبَ اللّٰهِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً يَّرْجُوْنَ تِجَارَةً لَّنْ تَبُوْرَ﴾

[سورت فاطر: .]

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

۶۲۴–د مانځه د فضائلو بيان

۶۲۳–()[۱] ① عَنْ عُمَارَةَ بْنِ رُوَيْبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: ② «لَنْ يَلِجَ النَّارَ أَحَدٌ صَلَّى قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ، وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا» يَعْنِي الْفَجْرَ وَالْعَصْرَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① عماره بن رويبه رضي الله عنه وايي چه ما د نبي كريم ﷺ څخه اوريدلي دي ② چا چې د نمر راختو او پتيدو څخه مخكې (دوه لمونځونه) يعنى د سحر او مازيګر مونځ وكړلو هغه به هيڅ كله په دوزخ كې نه داخليږي. (مسلم)

حل اللغات: ① لَنْ يَلِجَ: أَيْ: لَنْ يَدْخُلَ: يلجږد ولوجونه دَ دخول په معنى كښې دي. يعنى هيڅرې به داخل نه شي.

تسهيلات:

قوله: لَنْ يَلِجَ النَّارَ أَحَدٌ صَلَّى قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ، وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا:

(۱) اخرجه مسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب فضل صلاتى الصبح والعصر، والمحافظة عليهما (رقم-۲۱۳ - ۶۳۴) والنسائي كتاب الصلاة ،باب فضل صلاة العصر (رقم-۴۷۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

د ولوج النار نه مراد: یعنی دَ عذاب ورکولو په غرض سره به دا سړي په دوزخ کښې نه شي داخلولې ګنی دَ تیریدو په غرض خوداخبره فیصله شوې ده چه ټول انسانان به په دوزخ باندې تیریږی دَ قرآن آیت دې: ﴿ وَإِنْ مِّنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴾ [اشعة المعات:۳۲۳]

قوله: الْفَجْرَ وَالْعَصْرَ:

دَ نمر راختلونه وړاندې چه کوم مونځ کیږی هغه دَ فجر یعنی سحر مونځ دې او دَ نمر ډوبیدونه وړاندې چه کوم مونځ کیږی هغه دَ مازیګر مونځ دې.

اشکال: که نور لوئې ګناهونه کړی وی نو صرف د دې دواړو مونځونو په کولو څنګه د جنت داخلیدو وعده ده. حالانکه داهل سنت والجماعت په نیز خو د کبائرو دپاره توبه ضروری ده.

داشکال جواب: علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه کوم سړې دَ سحردَ مونځ اهتمام کوی حالانکه دَ فجر وخت دَ ډیر زیات آرام وی دغه شان کوم سړې چه دَ مازیګردَ مانځه اهتمام او حفاظت کوی حالانکه دَمازیګروخت دَ ډیر مشغولیت او مصروفیت وی نوښکاره خو هم دغه ده چه کوم خلق دا دوه سخت مونځونه کوی هغه به دَدې نه علاوه مونځونه په طریقه اولی کوی او په هغې کښې به بالکل کوتاهی نه کوی.

په جواب باندې اعتراض: شیخ عبدالحق رحمه الله په دې توجیه باندې اشکال کړې دې که چرې دا اومنلې شی چه دا سړې به دَ نورو مونځونو حفاظت کوی نودَدې څه ضمانت دې چه دا سړې به دَ ترك صلوة نه علاوه بل څه ګناه نه کوی او دوزخ ته به هیڅ کله نه ځی. [الکاشف: ۲/۲۱۵ المرقات: ۲/۳۱۹ اشعة المعات: ۳۲۳.

د اعتراض جواب: شیخ عبدالحق رحمه الله بیا دا جواب ورکړې دې چه په دې حدیث کښې حقیقتًا دَ دغه دوو مونځونو دَ فضیلت اوعظمت بیان دې اودَدې دواړو دَ مقام په بیان کښې مبالغه ده چه دَ دغه دوو مونځونو ډیر لوئی شان دې کوم سړې چه دَدې پابندی کوی الله تعالی به هغه په دوزخ کښې نه داخلوی اودَ هغه نور ګناهونه به په خپل فضل سره معاف کړی. [اشعة المعات: ۳۲۳]

٦٢٥ــد صبا او مازیګر د مانځه اهمیت

٦٢٥ـ (1)[۲] [١] وَعَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] («مَنْ صَلَّى الْبَرْدَيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

(1) بخاری کتاب مواقیت الصلوة باب فضل صلاة الفجر(رقم-٥٧٤) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة،باب فضل صلاتي الصبح والعصر، والمحافظة عليهما (رقم) ٢١٥ - (٦٣٥)

ترجمه: [۱] ابو موسي رضي الله عنه راوي دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړي چې د يخ وخت دواړه لمونځونه (يعنـي د سـحر او مـازيگر مـونځ) كـوي هغـه بـه جنـت تـه ځـي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① اَلْبَرْدَيْنِ: أَيِ: الْغَدْوَةَ وَالْعَشِيَّ لِبَرْدِ الْهَوَاءِ فِيهِمَا: د بردين نه مراد د سحر او د مازيگر مونځونه مراد دی، ځكه چه دې دواړو وختونو كښې هوا يخه وی په نسبت د ماسپخين د وخت.

تسهيلات:

قوله: مَنْ صَلَّى الْبَرْدَيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ:

د بردين په مراد كښې دوه اقوال: ① په قاموس كښې ليكلی دی چه بردان دَ يخ وخت دوه مونځونه يعنی دَ سحر اوماسخوتن ته وائی

② دَ اكثرعلماؤ په نيزدې نه دَ سحر اومازيگرمونځونه مراد دی ځكه چه دواړه مونځونه دَ ورځې په دوو طرفونو كښې هم واقع دی اودَدې په وختونوكښې هواهم يخه چليږی. دَدې نه وړاندې حديث هم دَدې حديث تائيد كوی په كوم كښې چه دَمازيگر اوسحر هم دغه فضيلت بيان كړې شوې دې.[اشعة المعات: ۳۲۴]

دحديثينو مذكورينو په مينځ كښې لږ فرق: دَدې حديث فضيلت اودَدې نه دَوړاندې حديث فضيلت كښې معمولی شان فرق دې ځكه چه دَدې حديث مخې ته دَدې مونځ اداكونكې به جنت ته ځی مگر دائی نه دی خودلی چه دَنورو گناهونو دَ وجې نه به دَ سزا خوړلونه پس ځی يا بغيردَ سزا به ځی. اوس په دې كښې احتمال دې چه دَ سزا خوړلونه پس جنت ته لاړ شی نو په دې باندې "دخل الجنة" صادق راځی ليكن دې نه مخكښې حديث كښې په واضحه توگه باندې خودلې شوی دی چه هغه سړې به اور كښې په يوصورت كښې هم نه داخليږی.

۶۲۶-دصبا اومازيگرپه مانځه كښې د فرشتو بدليدل

۶۲۶-()[۳] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] ((يَتَعَاقَبُونَ فِيكُمْ مَلَائِكَةٌ بِاللَّيْلِ وَمَلَائِكَةٌ بِالنَّهَارِ، [۳] وَيَجْتَمِعُونَ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ، وَصَلَاةِ الْعَصْرِ،

ترجمه: [۱] ابـوهريره رضي الله عنه راوي دي چـې نبـي كـريم ﷺ وفرمايـل [۲] تاسـو تـه (د آسـمان فرشتي شپه او ورځ راځي(چي ستاسو اعمال ليكي او هغه بارگاه الوهيت ته رسوي) [۳] او د سحر او مازيگر مونځ كې ټول جمع كيږي

حل اللغات: ① يَتَعَاقَبُونَ: أَيْ: يَجِيءُ أَحَدٌ عَقِبَ أَحَدٍ: دَباب تفاعل نه دَ تعاقب دَ يويل وراندي روستوتلو راتلوپه معنی كښې دې.

(۱) اخرجه بخاری كتاب مواقيت الصلوة باب فضل صلاة العصر (رقم-۵۵۵) ومسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب فضل صلاتي الصبح والعصر، والمحافظة عليهما (رقم) ۲۱۰ - (۶۳۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

۱ ثُمَّ يَعْرُجُ الَّذِينَ بَاتُوا فِيكُمْ، ۲ فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ - وَهُوَ أَعْلَمُ بِهِمْ: كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِي؟ ۳ فَيَقُولُونَ: تَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ، ۴ وَأَتَيْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او کومي فرښتي چې تاسو سره وي ۲ هغه چې کوم وخت اسمان ته خې نو الله تعالی ﷻ د احوالو پيژندو باوجود دهغوئ څخه (د بنده ګانو د احوالو او اعمالو پوښتنه کوي چې تاسو زما بندګان په کوم حالت کې پريښي دي ؟ ۳ هغوي عرض کوي پرورد ګاره مونږ ستا بندګان په لمانځه کولو کې پريښي وو ۴ او کوم وخت چې مونږ ورته رسيدلي وو نو هغه وخت يي هم مونځ کولو ، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ⑦ يَعْرُجُ: خيجی، بره خی آسمان ته.

تسهيلات:

قوله: "يَتَعَاقَبُونَ"

د مذکوره لفظ لغوی معنی: يعنی دَ فرښتو يوه ډله دَ انسانانو دَاعمالو ليکلو دَپاره چه کله راځی نو بله ډله ليکلې شوې اعمال اوچتولو سره دَ آسمان طرف ته اوړی. په دې تګ راتګ کښې دواړه ډلې دَ مازيګر او سحر په مونځونو کښې يوځائی کيږی په کوم سره چه دَدې دواړو مونځونو فضيلت واضح کيږی.[اشعة المعات: ۳۲۴]

په يتعاقبون کښې نحوی اشکال: دَ جمع صيغه ده او روستو فاعل ملائکه اسم ظاهر دې دَ نحوې دَ قواعدو مطابق دا صيغه دَمفرد کيدل پکاروو داجمع ولې راوړلې شوه؟

داشکال درې جوابونه: ① "يتعاقبون" کښې چه کوم واؤ دې دا دَ راتلونکی فاعل په جمع کيدو باندې دلالت کولو دَپاره دې يعنی دا صرف دَ فاعل علامت دې ضمير فاعل نه دې.

② "يتعاقبون" خبر مقدم دې او "ملائکة" مبتداء مؤخر دې. دَ قرآن کريم آيت ﴿ وَأَسَرُّوا النَّجْوَى الَّذِينَ ظَلَمُوا ﴾ کښې هم دغه شان توجيهات دی.

③ اسم ظاهر چه په ظاهر فاعل معلوميږی هغه په اصل کښې فاعل نه دې بلکه دَ "يتعاقبون" فاعل سره بدل دې.

قوله: "فَيَسْأَلُهُمْ"

په ددو مونځونو کښې د فرشتو بدليدل: په دې حديث کښې حضور پاك خپل امت ته دَدې دوو مونځونو ترغيب ورکوی چه دَدې ښه پابندی کوئی ځکه چه دَ انسان دَ عملونو ليکونکې فرښتو دوه ډلې دی. يوه دَ ورځې دَپاره ده او يوه دَ شپې دَپاره ده. کله چه دَ ورځې والا فرښتې خپله ډيوټی پوره کولو سره واپس آسماته ځی نو دَ آسمان نه دَ شپې ډيوټی کونکې فرښتې دَهغوی نه سوال کوی.

د شپې د فرشتو دَورځې په فرشتو فوقيت: دادَدې خبرې دليل دې چه دَ شپې دَ ډيوټئی والا

فرښتې د ورځې د فرښتونه غوره دی د دې وجه داده چه د عبادت په لحاظ سره د شپې درجه د ورځې نه غوره ده. ځکه چه د شپې سکون وی عبادت د ریاکارئ نه پاك وی اوعبادت د زړه په تسلئ سره کیږی. لهذا د شپې فرښتې د ورځې د فرښتونه غوره دی. په دې وجه الله تعالی د هغوی نه د بندیګانو متعلق سوال کوی. (کذافی المعات)

۶۲۷- د الله تعالی د ذمه داری احترام کول

۶۲۷-(۱)[۴] ① وَعَنْ جُنْدَبٍ الْقَسْرِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ② «مَنْ صَلَّى صَلَاةَ الصُّبْحِ؛ فَهُوَ فِي ذِمَّةِ اللّٰهِ، ③ فَلَا يَطْلُبَنَّكُمُ اللّٰهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ؛ ④ فَإِنَّهُ مَنْ يَطْلُبْهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ يُدْرِكْهُ، ⑤ ثُمَّ يَكُبَّهُ عَلَى وَجْهِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ. ⑥ وَفِي بَعْضِ نُسَخِ (الْمَصَابِيحِ): الْقُشَيْرِيُّ بَدَلَ الْقَسْرِيِّ.

ترجمه: ① جندب قسري رضی الله عنه راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل ② چا چې د سحر مونځ وکړو هغه (په دنيا او آخرت کې) د الله تعالی جل جلاله په عهد او امان کې دي ③ نو داسې دې نه وي چې الله تعالی جل جلاله ستاسو څخه په خپل دې عهد کې څه مواخذه وکړي ④ ځکه د چا څخه چې هغه په عهد وامان کې مواخذه وکړه (پوښتنه يې وکړه) ⑤ نو د هغه نتيجه به دا وي چې هغه نيولو سره د دوزخ په اورکې به يې پړ مخې وغورځوي، مسلم، ⑥ او د مصابيح په بعضې نسخوکې د قسري په ځای قشيري راغلي دي.

حل اللغات: ① ذِمَّةِ اللّٰهِ: أَيْ: فِي عَهْدِهِ وَأَمَانِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ: دې نه د الله تعالی عهد اوامان مراد دې، يعنی په دنيا او آخرت کښې به په امان کښې وی. ② يَكُبَّهُ: پرمخې به ئې اوغورځوی.

تسهيلات:

قوله: فِي ذِمَّةِ اللّٰهِ:

د ذمة الله دوه مطلبونه: ① "ذمة الله" يعنی عهدوامان پخپله د سحر مونځ دې د سحر مونځ کولو سره الله تعالی پخپله په دنيااو آخرت کښې د امن وعده کړې ده لهذا عام مسلمانانو له پکاردی چه هغوی دې د سحر د مانځه زيات اهتمام کوی اود سحرمونځ دې نه قضا کوی دې د پاره چه د الله تعالی کوم وعده ده هغه په ځائې وی او په مونځ قضاکولوسره هغه عهد مات نه شی ځکه د دې په ماتيدو بالندې به الله تعالی رانيول کوی.

② چه کوم سړی د سحر مونځ اوکړو هغه د الله تعالی په حفاظت اود هغه په عهد اوامان کښې راغلو. نو د مسلمانانونه چه کوم سړی دې مونځ ګذار سره بدسلوك اوکړو يا د هغه مال ئې په زور واخستو يا هغه ئې اووهلو يا هغه تنګ کړو يا د هغه غيبت ئې اوکړو او په هغه باندې ظلم اوکړو نودې مطلب دا شو چه دغه سړی د الله تعالی په حفاظت او

(۱) ومسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب فضل صلاة العشاء والصبح فى جماعة (رقم-۲۶۲ - (۶۵۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

عهدوامان کښې خلل واچولو دَ الله تعالى حفاظت ته ئې نقصان اورسولو په دې وجه به الله تعالى يقينًا دغه بدبخت راګيره وي.

٦٢٨–د اذان او د اول صف ثواب

٦٢٨–()[٥][١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] («لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي النِّدَاءِ وَالصَّفِّ الْأَوَّلِ، [٣] ثُمَّ لَمْ يَجِدُوا إِلَّا أَنْ يَسْتَهِمُوا عَلَيْهِ، لَاسْتَهَمُوا؛ [٣] وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي التَّهْجِيرِ، لَاسْتَبَقُوا إِلَيْهِ؛ [٥] وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي الْعَتَمَةِ وَالصُّبْحِ، لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا») . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره ﷺ راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل[٢] که خلقو ته د آذان ويلو او (په لمانځه کې) د اولني صف کښې د ودريدو ثواب معلوم شي[٣] او بې قرعه اندازي هغوئ ته دا حاصل نشي نو هغوي به ضرور قرعه اندازي کوي [يعني که خلق اذان کولو او په اولني صف کې د ودريدو د پاره په خپلو کې په جګړه شي او قرعه اندازي سره وکوري چې د چا نوم راوخي نو دا به هم ضرور وکړي][۴] اوکه د ماسپښين لمانځه د پاره په دوختي راتلو ثواب ورته معلوم شي نو لمانځه ته په منډه راشي [٥] او که د ماسخوتن او سحر د لمانځه فضيلت ورته معلوم شي (نو د طاقت د نه لرلو په حالت کې به هم دي لمونځونو د پاره) د کوناټو په زور يعنى په خرپوسو راخي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① النِّدَاءِ: أَيْ: التَّأْذِينِ وَالْإِقَامَةِ: اذان او اقامت، ② أَنْ يَسْتَهِمُوا: أَيْ: بِأَنْ يَقْتَرِعُوا: يعنى قرعه اندازى او خسنړې به اوباسى، ③ التَّهْجِيرِ: أَيْ: فِي الْمُسَارَعَةِ إِلَى الطَّاعَةِ: دَ هر خيز طرف ته وړاندې کيدو او تادى کولو په معنى کښې دې. ④ لَاسْتَبَقُوا: أَيْ: لَبَادَرُوا: استباق دَ يوبل نه واندې کيدو په معنى کښې دې يعنى که خلقو ته دَ مونځونو دَپاره دَ زر وتلو فضيلت معلوم شي نو دا خلق به دَ يوبل نه وړاندې کيږي. ⑤ الْعَتَمَةِ: ماسخوتن ته عتمه وائى دَ اسلام نه مخکښې دَ ماسخوتن نوم عتمه وو خو اسلام د دې نوم ماسخوتن کيخودو او دَ عتمه په لفظ باندې پابندى اولګوله. کيدې شي چه دا دلته کوم استعمال شوې دې دا دَ حرمت او ممانعت نه مخکښې وى. ⑥ حَبْوًا: أَيْ: زَحْفًا وَهُوَ مَشْيُ الصَّبِيِّ عَلَى أَرْبَعٍ، أَوْ دَبِيبُهُ عَلَى اسْتِهِ: ماشوم چه کله په زنګونو سره راځى لاس اوسينه هم لګوى او راخى دغه تګ راتګ ته "حبوا" وائى.

تسهيلات: قوله: "إِلَّا أَنْ يَسْتَهِمُوا عَلَيْهِ"

د اول صف ثواب حاصلولو دپاره خسنړې اچول: يعنى دَ اول صف فضيلت او دَ اذان ويلو فضيلت که چرې خلقو ته په صحيح توګه معلوم شى او بيا دَ دغه فضيلت دَ

(۱) بخارى كتاب الاذان باب الاستهام فى الأذان (رقم-٦١٥) ومسلم كتاب الصلاة، باب تسوية الصفوف، وإقامتها، وفضل الأول فالأول منها، والازدحام على الصف الأول، والمسابقة إليها، وتقديم أولى الفضل، وتقريبهم من الإمام (رقم) ١٢٩ - (٤٣٧) ومالک کتاب وقوت الصلاة ، باب وقوت الصلاة رقم-۴) والنسائى باب كتاب المواقيت/الرخصة فى أن يقال للعشاء العتمة (رقم-٥٤٠).

حاصلولو دَپاره پچه اچول وی نو په پچه ویستلوسره به خلق دَ دغه ثواب حاصلولو کوشش کوی لکه څنګه چه دَ څه خلقو په اذان کولو باندې جګړه اوشوه نوحضرت سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه دَهغوی په مینځ کښې پچه واچوله.

قوله: "التَّهْجِيرِ"

د تهجیر په معنی کښې درې اقوال:

① بیا دَ ماسپښین دَ مونځ دَپاره زر وتلودَ پاره استعمالیدو.
② بعضې دَجمعې دَپاره زر وتلو مطلب اخستې دې
③ اوبعضو دَهرمونځ دَپاره دَزر وتلومعنی کښې اخستې دې.

۶۲۹-په منافقانو د ماخوستن او صبا د مونځونو سختوالې

۶۲۹-()[۶] ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «لَيْسَ صَلَاةٌ أَثْقَلَ عَلَى الْمُنَافِقِينَ مِنَ الْفَجْرِ وَالْعِشَاءِ، ③ وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِيهِمَا لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② په منافقانو د ماسخوتن او د سحر څخه زیات درونه هیڅ مونځ نشته ③ که هغوي د دې دواړو ثواب وپیژني نو په زمکه په کوناټو راښکولو به ورته راځي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① أَثْقَلَ: درونه، بوج. ② حَبْوًا: أي: زَحْفًا وَهُوَ مَشْيُ الصَّبِيِّ عَلَى أَرْبَعٍ، أَوْ دَبِيبُهُ عَلَى اسْتِهِ: ماشوم چه کله په زنګونوسره راځی لاس اوسینه هم لګوی اوراځی دغه تګ راتګ ته "حبوا" وائی.

تسهیلات: قوله: "أَثْقَلَ"

د صلاتینو په منافقانو د ګرانوالی وجه: دَدین په معامله کښې خوهسې هم منافق غل وی دَهغه په مزاج کښې دَ عبادت باره کښې سستی اوځان دډې ته کول وی. دَماسخوتن او سحردواړه مونځونه په سخت وخت کښې دی کله ګرمئی اوکله یخنئی دَ ماسخوتن دَمونځ انتظارکول وی او دَسحرخوب پریخودوسره وختې پاسیدل وی. په دې وجه دَمنافق دروند طبیعت اودَ ایمانی فتوردَ وجې نه دادواړه مونځونه دَهغه دَپاره ډیر ګران وی. بل سحر اوماسخوتن کښې تیاره وی نومنافق ته دَ پټیدو او ځان دډې ته کولو ښه موقع وی. په دې وجه دامونځونه په منافقانو باندې سخت وی اوهغوی دَ پټیدو کوشش کوی.

په مخلص مسلمان د صلاتینو آسانتیا: دَدې حدیث نه معلومه شوه چه مخلص او ایماندار سړې به په دې دواړو مونځونوکښې ښه تیاروی. دَ دې حدیث نه مونږ ته دا تعلیم ملاؤ شو چه یومخلص مسلمان له دامناسب نه دی چه دَمنافقانو مشابهت اختیارکړی او دَ سحر اوماسخوتن په مونځونوکښې سستی اوکړی.[اشعة المعات: ۳۲۵]

(۱) بخاری کتاب الاذان باب فضل العشاء فی الجماعة (رقم-۶۵۷) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب فضل صلاة الجماعة، وبیان التشدید فی التخلف عنها(رقم) ۲۵۲ - (۶۵۱) وابن ماجة باب صلاة العشاء والفجر فی جماعة (رقم۷۹۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

۶۳۰- په جماعت سره د سحر او ماخوستن مونځ فضيلت

۶۳۰-(۱)[۷] ۱ وَعَنْ عُثْمَانَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ -، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ ((مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ; فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ، ۳ وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِي جَمَاعَةٍ، فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ)). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت عثمان غني رضی الله عنه راوي دي ۲ چه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كوم سړي چې د ماسخوتن مونځ په جماعت سره وكړو نو لكه چې هغه نيمه شپه ودريدو سره مونځ وكړو ۳ او كوم سړي چې د سحر مونځ په جماعت سره وكړو نو لكه چې هغه ټوله شپه ودريدو سره په ولاړه مونځ وكړو. (مسلم)

تسهيلات:

قوله: اللَّيْلَ كُلَّهُ:

د حديث دوه مطلبونه: ① چاچه دَ ماسخوتن مونځ په جمع سره اوكړو نوهغه ته دَ نيمې شپې دَ مانخه ثواب حاصل شو اوچه كله هغه دَ سحرمونځ هم په جمع سره اوكړو نولكه چه هغه دَ باقي شپې هم مونځ اوكړو دغه شان ده ته دَ پوره شپې دَ تهجد دَ مونځ ثواب ملاؤشي دا مطلب زيات واضح دې.

② كوم سړی چې دَ ماسخوتن مونځ په جمع سره اوكړو لكه چه هغه دَ نيمې شپې پورې تهجد اوكړل اوچاچه دَ سحرمونځ په جمع سره اوكړو نولكه چه هغه مكمل پوره شپه تهجداوكړل په دې صورت كښې به دَ ماسخوتن په مانځه باندې دَ سحر دَ مونځ فوقيت او فضيلت ثابت شي.

۶۳۱- د ماښام د مونځ دپاره د مغرب انتخاب

۶۳۱-(۲)[۸] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ (لَا يَغْلِبَنَّكُمُ الْأَعْرَابُ عَلَى اسْمِ صَلَاتِكُمُ الْمَغْرِبِ) ۳ قَالَ: (تَقُولُ الْأَعْرَابُ: هِيَ الْعِشَاءُ)».

ترجمه: ۱ ابن عمر رضی الله عنهما راوي دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل ۲ د صحرا خلق دې د مغرب د لمانځه نوم اخستو كي په تاسو غالب رانشي ۳ راوي وايي چې د صحرا خلق (مغرب يعني ماښام ته) عشاء (ماسخوتن) وايي.

حل اللغات: ① الْأَعْرَابُ: سُكَّانُ الْبَوَادِي: دكلي اوسيدونكو ته وائي، دلته ترې د عربو د باندو خلق مراد دي.

---

(۱) اخرجه مسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب فضل صلاة العشاء والصبح فى جماعة (رقم) ۲۶۰ - (۶۵۶) و ابوداود كتاب الصلاة/باب فى فضل صلاة الجماعة (۵۵۵)

(۲) اخرجه بخارى كتاب مواقيت الصلوة، باب من كره أن يقال للمغرب: العشاء،(رقم ۵۶۳) ومسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب وقت العشاء وتأخيرها (رقم) ۲۲۹ - (۶۴۴)

۶۳۲ – ()[٥] [١] وَقَالَ: («لَا يَغْلِبَنَّكُمُ الْأَعْرَابُ عَلَى اسْمِ صَلَاتِكُمُ الْعِشَاءِ، [٢] فَإِنَّهَا فِي كِتَابِ اللهِ الْعِشَاءُ. [٣] فَإِنَّهَا تُعْتِمُ بِحِلَابِ الْإِبِلِ»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] بيا حضور ﷺ وفرمايل چې د ماسخوتن په نوم اخستو کې دې هم د صحرا خلق په تاسو غالب رانشي [٢] د دې مونځ نوم په کتاب الله کې عشاء (ماسخوتن) دې الکه چې ارشاد دې وَمِنْ بَعْدِ صَلٰوةِ الْعِشَاءِ [٣] او هغه د صحرا خلق به د اوښو د شيدي (پيو) لوشلو په وجه په دې لمانځه کې تاخير کولو نو ځکه ورته عتمه وايي. (مسلم)

حل اللغات: ① لَايَغْلِبَنَّكُمْ: غالب دې رانه شي په تاسو. ② الْأَعْرَابُ: سُكَّانُ الْبَوَادِي: د کلي اوسيدونکي. ③ تُعْتِمُ: دا صيغه دَ باب افعال نه ده اعتام په معنى د دخول في العتمه دې يعنى په تياره کښې داخليدل. دا صيغه معروف اومجهول دواړه شان لوستلې شوې ده. ④ حِلَابِ: لوشل.

تسهيلات:

قوله: لَايَغْلِبَنَّكُمُ الْأَعْرَابُ عَلَى اسْمِ صَلَاتِكُمُ الْمَغْرِبِ:

د اعراب نه مراد: اعراب په کلوکښې اوسيدونکوته وائي دا خلق دَ ښارنه دَ لرې کيدو دَ وجې نه دَعام تهذيب نه ناخبره وى. دلته دَ اعراب نوم هم دَ دغه شاړوالى دَ وجې نه اخستې شوې دې ګنى دَعربوخلقو به هم مابنام ته دَ عشاء نوم اخستلو او عشاء ته به ئى عتمه وئيل.

دغلبې نه مراد: دلته دَ اعراب نه دَ جاهليت کلى وال خلق مراد دى چه شرعى اصطلاح به ئى بدلولوسره دَ مسخ کولو کوشش کولو. په دې وجه حضورپاك صحابه کرام دَ دې نه منع کړل چه تاسو دَ دغه کلى والو په شان مه کيږئى چه خپل شرعى اصطلاحات او شرعى اطلاقات بدلولوسره دَهغوى اطلاقات او اصطلاحات خپل کړئى په کوم سره چه به هغوى په تاسو باندې په ثقافتى او معاشرتى شناختونو کښې غالب راشى تاسو له پکاردى چه په قرآن اوحديث کښې کومو نوم اوکومه اصطلاح متعارف کړې شوې ده هم هغه استعمال کړئى.

د خپل تهذيب او ثقافت د حفاظت لزوم: دَدې حديث نه مونځ ته دا سبق ملاويږى چه په مسلمانانو باندې لازم دى چه هغوى دې خپله ژبه اوکلام دَ شريعت دَ اصطلاح مطابق صحيح کړى اودَ کافرانو او فاجرانو په تقليد کښې دې خپل شرعى او ثقافتى ورثه نه برباده وى. [الکاشف: ۲/۲۲۱]

قوله: فَإِنَّهَا تُعْتِمُ بِحِلَابِ الْإِبِلِ:

(۱) اخرجه بخاری کتاب مواقيت الصلوة، باب من کره أن يقال للمغرب: العشاء، (رقم ۵۶۳) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب وقت العشاء وتأخيرها (رقم) ۲۲۹ - (۶۴۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

په زمانه جاهلیت کښې د عتمه وجه تسمیه: په دې جمله سره حضورپاك دا اوخودل چه کلی والو بـه دَ جاهلیت پـه ورځو کښې عشاء تـه عتمـه ولـې وئیلـه. فرمـائي چـه کلـي والـو بـه دَ اوښو پئي راویستلو کښې ناوخته کولو سره دَ ښه تیارې خوریدو نه پس پئي راویستل دَ هغه وخت تیارې ته هغوی عتمه نوم ورکړو. خلاصه دا چه کله دَ اسلام دور شروع شو او دَ ماښام مونځ ته صلوة المغرب او دَ ماسخوتن مونځ ته صلوة العشاء نوم ورکړې شو نو دَ جاهلیت باقي پاتې کلي وال او پـه اسلام کښې داخلیدونکي مسلمانانو کلي والو ماسخوتن تـه عتمـه وئیـل پـه ځـائي اوسـاتل او څـه نـورو مـسلمانانو هـم ماسخوتن تـه عتمـه وئیـل پـه دې وجـه حضورپاك په سختئي سره منع اوفرمائیل او دَ اهل جاهلیت دَ مشابهت دَ وجې نه ئي دا مکروه اوګرځول.

په څه روایاتو کښې د عتمه د لفظ په استعمال باندې اعتراض: په ډیرو روایتونو کښې ذکر دی چه حضورپاك پخپله او بعض صحابه کرامو لفظ عتمـه استعمال کړې دې داسې ولې شوی؟

دا اعتراض دوه جوابونه: ① چرته چه په احادیثو کښې دا لفظ استعمال شوې دې نو هغـه دَ ممانعت نه په وړاندې زمانه باندې محمول دی

② شیخ عبدالحق رحمه الله فرمائي چه ماسخوتن تـه عتمـه وئیـل مکـروه تنزیهي دی یعنـي خـلاف اولـی دی نوچاچـه دَ ممانعـت نـه پـس دالفـظ اسـتعمال کـړو هغـه خـلاف اولـی کاراوکړو. [اشعة المعات: ۳۲۶، ۳۲۸]

قوله: تُعْتِمُ:

د تعتم په صیغه کښې دوه احتمالات:

① که چرې دَ مجهول صیغه وی نو ضمیر صلوة طرف ته راګرځي او مطلب بـه داشي چه دَ اوښانو پئي لشلو دَ وجې مونځ روستوکول او په تیاره کښې کولې شو

② که دا صیغه دَ معلوم وی نو بیابه ضمیر دَ اعراب طرف تـه راګرځي مطلب بـه داشي چه هغه کلي والو خلقو به دَ اوښانو پئي لشلو دَ وجې نه مونځ مؤخر کولو سره په تیاره کښې کولو.

قوله: رَوَاهُ مُسْلِمٌ

د روایة الباب مسلم ته په نسبت کولو اعتراض: شیخ عبدالحق رحمه الله فرمائي چه دا روایت مطلقًا دَ مسلم روایت کښې شمیرل محل دَ بحث دې ځکه چه دَ دې حدیث رومبې جمله صرف امام بخاري رحمه الله نقل کړې ده په مسلم کښې نشته. او دَ دې دویمه جمله کومه چه "وقال لایغلبن" نه شروع کیږي صرف په مسلم کښې شته بخاري کښې نشته.

۶۳۲-د مازيګر په مونځ د صلاة الوسطى اطلاق

۶۳۲-(۱)[۹] [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ: [۲] «حَبَسُونَا عَنْ صَلَاةِ الْوُسْطَى: صَلَاةِ الْعَصْرِ، [۳] مَلَأَ اللّٰهُ بُيُوتَهُمْ وَقُبُورَهُمْ نَارًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] اوحضرت علي كرم الله وجهه راوي دي چې رسول الله ﷺ د غزوه خندق په ورځ وفرمايل[۲] چې (كافرانو) مونږ د درمياني مونځ يعنى د مازيګر مونځ كولو څخه منع كړي يو[۳] الله جَلَّ جَلَالُهُ دي د دوي كورونه اوقبرونه د اورڅخه ډك كړي. (بخاري،مسلم)

حل اللغات: ① حَبَسُونَا: مونږ مشغوله شوى وو. أيْ: مَنَعَنَا الْكُفَّارُ بِاشْتِغَالِنَا بِحَفْرِ الْخَنْدَقِ: د كافرانو د وجې نه د خندق په كنستلوسره مونږ مشغوله شوى وو. ② صَلَاةِ الْوُسْطَى: مينځنې يعنى درميانه مونځ، ③ مَلَأَ: ډک به کړي.

تسهيلات:

قوله: "صَلَاةِ الْوُسْطَى: صَلَاةِ الْعَصْرِ" قرآن كريم كښې دَمونځونودَ حفاظت سره متعلق يو آيت دي ﴿حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى﴾

دوسطى په مصداق كښې د اختلاف وجه: اوس كـه كلـه اوكتلـې شـي چـه څليـريش ګهنټوكښې پنځه مونځونه فرض دى اوكله چه دوه مونځونه دَ يوطرف تـه اوشميرلې شي اودَ دويم طرف نه هم دوه مونځونه اوشميرلې شي په پنځو مونځونوكښې هرمونځ وسطىٰ يعنى دَ مينځ مونځ جوړيږى. په دې وجه دَدې په تعين اومصداق كښې څه مشكل دې.

د مازيګر د مونځ مؤيد روايات: ديخوا پـه احاديثوكښې چـه اوكتلـې شـى نـودَ حضرت علىؓ په روايت كښې دَ مينځمى مونځ مصداق دَمازيګرمونځ خودلې شوې دې. فصل ثانى كښې دَ ابن مسعود روايت كښې هم دَدې مصداق مازګير ګرځولې شوې دې.

د ماسپښين د مونځ مؤيد روايات: بيا فصل ثالث كښې دَحضرت زيد بن ثابتؓ پـه روايت كښې دليل سره داخودلې شوى دى چـه دَصلوة وسطىٰ مصداق دَماسپښين مونځ دې.[الكاشف: ۲/۲۲۳اشعة المعات: ۳۲۶]

د سحر د مونځ مؤيد روايات: بيـادې نـه پـس دَموطاامـام مالـك رحمه الله روايـت دې چـه دَ صلوة وسطىٰ مصداق دَسحرمونځ دې. دَ روايـاتودَ دې اختـلاف دَ وجې نـه دَ فقهـاؤ پـه نيـز هـم دَ صلوة وسطىٰ په تعين كښې اختلاف دې. كـه لـوئى واړه اقـوال راجمـع كـړې شـى نـو دَ شلـو شميرتـه رسيږى.

(۱) بخارى كتاب التفسيرباب {حافظوا على الصلوات والصلاة الوسطى} [البقرة: ۲۳۸](رقم-۴۵۳۳) ومسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة،باب الدليل لمن قال الصلاة الوسطى هى صلاة العصر (رقم۲۰۵ - (۶۲۷)) وابوداودكتاب الصلاة،باب فى وقت صلاة العصر (رقم-۴۰۹) وابن ماجةكتاب الصلاة . باب المحافظة على صلاة العصر(رقم-۶۸۴) والنسائى كتاب الصلاة ،باب المحافظة على صلاة العصر(رقم-۴۷۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

د صلاة الوسطی د مونځ په مصداق کښې اقوال:

① بعضې فقهاؤ د صلوة الوسطیٰ مصداق د ماسپښين مونځ ګرځولې دې
② بعضو د سحر مونځ مصداق جوړ کړې دې.
③ بعضې د ماز يګر نو بعضو د جمعې مونځ صلوة الوسطیٰ ګرځولې دې.
④ بعضې په کښې د تهجد مونځ د دې مصداق جوړ کړې دې. ليکن مشهور اقوال صرف درې دی.

د صلاة وسطی په مصداق کښې دائمه اربعه مذاهب:

① امام مالک رحمه الله امام شافعی رحمه الله د سحر مونځ صلوة وسطیٰ ګرځولې دې.
② امام ابو حنيفه رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله د ماز يګر مونځ صلوة وسطیٰ ګرځولې دې.
③ د حضرت ابو سعيد خدری او حضرت زيد بن ثابت او حضرت عائشه رضي الله عنهم په نيز د صلوة وسطیٰ مصداق د ماسپښين مونځ دې.

د اول فريق دليل:

① د فصل ثالث په حواله د موطا د حضرت علی او ابن عباس رضي الله عنهم روايت د دوی مستدل دې. په کوم کښې چه په واضحه توګه باندې ذکر دی چه "صلوة الوسطى صلوة الصبح" دې.

د اول فريق د دليل جواب: د دريم فريق دليل مرفوع حديث دې او د اول فريق مستدل آثار صحابه دی کوم چه د مرفوع حديث مقابله نه شی کولې.

د دويم فريق دلائل: حضرت ابو سعيد خدری رضي الله عنه او حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه او يو څو نورو صحابه کرامو په خپل اجتهادی رواياتو باندې خپل مسلك قائم کړې دې کوم چه د مشکاة حديث نمبر (۶۳۶) او حديث نمبر (۶۳۷) کښې دی کوم چه هم د دې حضراتو نه نقل دی.

د دويم فريق د دليل جواب: د دوی مستدل د صحابه کرامو آثار دی کوم چه د مرفوع حديث په مقابله کښې نه شی پيش کولې. دغه صحابه کرامو ته کيدې شی چه د حضور پاك مرفوع حديث نه وی رسيدلې په دې وجه هغوی په اجتهاد کولو سره څو اقوال خپل کړی دی.

د دريم فريق دلائل: ① زير بحث د حضرت علی رضي الله عنه مرفوع حديث د دوی مستدل دې حديث کښې پخپله نبی کريم صلوة الوسطیٰ تفسير د ماز يګر مونځ سره کړې دې (متفق عليه) کوم چه ډير مضبوط دليل دې.

② په فصل ثانی کښې د حضرت ابن مسعود صريح حديث هم د دې حضراتو دليل دې.

د شوافع په نيز راجح قول: علامه نووی رحمه الله فرمائی چه د احاديث صحيحه صريحه تقاضا داده چه صلوة الوسطیٰ نه د ماز يګر مونځ مراد دې او هم دغه مختار دی. علامه ماوردی شافعی رحمه الله فرمائی چه امام شافعی رحمه الله سره د دې چه صلوة وسطیٰ مصداق د

سحر مونځ ګرځولي دي مګر دَهغوی داقول دي چه کله صحيح اوصريح حديث راشي نوهم هغه به زما مذهب وی هم هغه اخلئی اوزما قول کوم چه دَهغې مخالف وی ديوال سره اووهئی. [الکاشف: ۲/۲۲۳ اشعة المعات: ۲/۳۲۶]

دحديث پس منظر: غزوه خندق ته غزوه احزاب هم وائی. داغزوه ۵هجری کښې پيښه شوې وه. په دې غزوه کښې دَمکې نه دَابوسفيان په مشرئی کښې دَټولو قبيلونه دولس زره مشرکان دَمکې نه مدينې منورې باندې حمله کړې وه. دَحضورپاك په حکم سره خندقونه کنستلې شوې وو په دې وجه دې ته جنګ خندق وائی. دَعربو ټولې قبيلې ډلې ډلې رايوځائی شوې وې. په دې وجه دا غزوه دَغزوه احزاب په نوم سره هم مشهوره ده. خندقونوسره خواوشاکښې دَ څوکئی سخت انتظام وو. په دې وجه حضورپاك ته يوه ورځ دَ ماسپښين مازيګر اوماسخوتن دَمونځ فراغت ملاؤ نه شو. په کوم چه حضورپاك دَمازيګردَمونځ فوت کيدو باندې خصوصاًدَ افسوس اظهاراوکړو اودکافرانودَپاره ئې بددعا اوکړه. دَخندق په موقع باندې صحابه کرام درې زره وو. دَ ۲۸ورځو دَمحاصره نه پس کافران شاته شو او اوتختيدل.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۶۳۴–د صلوة وسطی مصداق

۶۳۴–(۱)[۱۰] ۱ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَسَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «صَلَاةُ الْوُسْطَى صَلَاةُ الْعَصْرِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ ابن مسعود رضي الله عنه اوسمره ابن جندب رضي الله عنه راويان دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل ۲ مينځني مونځ (چې په قرآن مجيد کې وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰي مذکور دي) هغه د مازيګر مونځ دي. (ترمذي)

تسهيلات:

د ماقبل اودې حديث تشريح يوه ده.د دې وجې د تکرار ضرورت نشته.

۶۳۵–دسحر د مانځه فضيلت

۶۳۵–(۲)[۱۱] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-: «عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: ۲ ﴿إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا﴾ [الإسراء: ۷۸] ۳ قَالَ: (تَشْهَدُهُ مَلَائِكَةُ اللَّيْلِ وَمَلَائِكَةُ النَّهَارِ)» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

---

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی صلاة الوسطی أنها العصر (رقم-۱۸۲)
(۲) اخرجه الترمذی کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب: ومن سورة بنی إسرائيل (رقم -۳۱۳۵) وابن ماجة کتاب الصلاة ، باب وقت صلاة الفجر (رقم-۶۷۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [١] ابوهريره رضي الله عنه د نبي كريم ﷺ څخه نقل كوي چې حضور ﷺ د الله تعالى جل جلاله د قول [٢] إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا يعنى د سحر مونځ د فرشتو د حاضريدو وخت دي، په تفسير كې فرمايي [٣] چې دسحر په لمانځه كې د ورځي او د شپې فرشتې حاضريږي (يعني جمع كيږي. (ترمذي)

حل اللغات: ① مَشْهُودًا: أي: مَحْضُورًا: حاضريږي ورته.

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

٦٣٦- د ماسپخين په مونځ د صلاة وسطى اطلاق

٦٣٦- ( ) [١٣] [١] عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَعَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَا: [٢] الصَّلَاةُ الْوُسْطَى صَلَاةُ الظُّهْرِ. [٣] رَوَاهُ مَالِكٌ عَنْ زَيْدٍ، وَالتِّرْمِذِيُّ عَنْهُمَا تَعْلِيقًا.

ترجمه: [١] زيد بن ثابت رضي الله عنه او بي بي عائشه رضي الله عنها دواړه فرمايي [٢] چې صلوة وسطي (يعني مينځني لمونځ) د ماسپښين مونځ دي [٣] دا روايت خو امام مالك يوازي د حضرت زيد رضي الله عنه څخه روايت كړي دي او امام ترمذي رحمه الله د دواړو (يعني حضرت زيد رضي الله عنه او بي بي عائشي رضي الله عنها) څخه په طريق تعليق يعنى بلا سند روايت كړي.

تسهيلات:

قوله: الصَّلَاةُ الْوُسْطَى صَلَاةُ الظُّهْرِ

د ماسپخين په مونځ د صلاة وسطى اطلاق: دا حديث د هغه چا مستدل دي چې د هغوى په نيز د صلاة وسطى څخه مراد د ماسپخين مونځ دي. دا قول د زيد بن ثابت رضي الله عنه دي.

٦٣٧- د درمياني مونځ د محافظت تاكيد

٦٣٧- ( ) [١٣] [١] وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ: [٢] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الظُّهْرَ بِالْهَاجِرَةِ، [٣] وَلَمْ يَكُنْ يُصَلِّي صَلَاةً أَشَدَّ عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهَا.

ترجمه: [١] زيد ابن ثابت رضي الله عنه وايي [٢] چه نبي كريم ﷺ به د ماسپښين مونځ د وخته (يعني د نمر د زوال كيدو سره) كولو [٣] او د حضور ﷺ په صحابه و رضي الله عنهم باندې په هغه ټولو لمونځونو كې چې هغوى به كول د ماسپښين د لمانځه څخه زيات سخت بل هيڅ مونځ نه وو.

[١] فَنَزَلَتْ: ﴿حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى﴾ [البقرة: ٢٣٨]. [٢] وَقَالَ إِنَّ قَبْلَهَا صَلَاتَيْنِ، وَبَعْدَهَا صَلَاتَيْنِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

(١) اخرجه مالک كتاب صلاة الجماعة ، باب الصلاة الوسطى (رقم-٢٧) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى صلاة الوسطى أنها العصر(رقم-١٨٢)

(٢) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب فى وقت صلاة العصر (رقم-٤١١)

ترجمه: ۱ نو دا آیت نازل شو حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى، یعنی تاسو د ټولو لمونځونو خصوصاً د درمیاني (مینځني) لمونځ محافظت کوئ، ۲ او زید ابن ثابت رضي الله عنه به فرمایل چې د ماسپښین د لمانځه ځخه مخکې هم دوه لمونځونه ذي او وروسته هم دوه لمونځونه دي. (احمد، ابوداؤد)

حل اللغات: ① الْهَاجِرَةُ: أَيْ. شِدَّةُ الْحَرِّ بَعْدَ نِصْفِ النَّهَارِ: د غرمې په وخت سختې ګرمۍ ته وائی، دې ته مَجِير هم وائی.

تسهیلات:

د صلاة وسطی مصداق: د دې ځخه هم د مازیګر مونځ مراد دې. ځکه چې د هغې ځخه وړاندې هم دوه مونځونه دی یعنی د صبا او د ماسپخین او د هغې نه روسته هم دوه مونځونه دی یعنی د ماښام او د ماخوستن

۶۳۸ــ د صبا په مونځ د صلاة وسطی اطلاق

۶۳۸ ــ ()[۱۴] ۱ وَعَنْ مَالِكٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - ۲ بَلَغَهُ أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ وَعَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ كَانَا يَقُولَانِ: ۳ الصَّلَاةُ الْوُسْطَى صَلَاةُ الصُّبْحِ. رَوَاهُ فِي الْمُوَطَّإِ.

ترجمه: ۱ امام مالك رحمه الله فرمایي ۲ ما ته دا خبره رسیدلي ده چې حضرت علي رضي الله عنه ابن ابي طالب او ابن عباس رضي الله عنه دواړو به ویل ۳ چې د درمیاني لمانځه ځخه مراد د سحر مونځ دي. (مؤطا امام مالك)

۶۳۹ــ ()[۰] ۱ (وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنِ عُمَرَ تَعْلِيقًا).

ترجمه: ۱ او دا روایت امام ترمذي رحمه الله د حضرت ابن عباس رضي الله عنه او حضرت ابن عمر رضي الله عنه ځخه په طریق تعلیق یعنی بلا سند نقل کړي دي.

تسهیلات:

قوله: الصَّلَاةُ الْوُسْطَى صَلَاةُ الصُّبْحِ

د صبا په مانځه باندې د وسطی د اطلاق وجه: د سحر مونځ ته ئې وسطی په دې وجه اووئیل چې په دې کښې د خوب غلبه وی، او مشقت په کښې زیات وی، لیکن دا هم د احتمال په درجه کښې دی ځکه چې د دې باره کښې ځه نص نه دې راغلې. (خیر التوضیح (۱/ ۵۱۴)

(۱) اخرجه مالک کتاب صلاة الجماعة ، باب الصلاة الوسطى (رقم-۲۸) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی صلاة الوسطى أنها العصر(رقم-۱۸۲)
(۲) اخرجه مالک کتاب صلاة الجماعة ، باب الصلاة الوسطى (رقم-۲۸) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی صلاة الوسطى أنها العصر(رقم-۱۸۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

٦٤٠ – د صبا مانځه له تلولکي په لاس کښې د ايمان جنډا

۶۳۰–()[۱۵] [۱] وَعَنْ سَلْمَانَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ -، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۲] «مَنْ غَدَا إِلَى صَلَاةِ الصُّبْحِ غَدَا بِرَايَةِ الْإِيمَانِ، [۳] وَمَنْ غَدَا إِلَى السُّوقِ غَدَا بِرَايَةِ إِبْلِيسَ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] حضرت سلمان رضی الله عنه وايي چه ما د نبي کريم ﷺ څخه اوريدلي دي [۲] چې کوم سړي د سحر د لمانځه د پاره ځي نو لکه چې هغه د ايمان د بيرغ اخستو سره ځي [۳] او کوم سړي چې سحر وختي بازار ته ځي نو لکه چې هغه د شيطان بيرغ اخستي وي اوځي. (ابن ماجه)

حل اللغات: ① غَدَا: أَيْ: ذَهَبَ فِي الْغُدْوَةِ: يعنى دسحر په وخت کښې لاړشي. ② بِرَايَةٍ: أَيْ: بِعَلَمِهِ وَلِوَائِهِ: خاص نښه او جهنډا.

تسهيلات:

قوله: بِرَايَةِ الْإِيمَانِ:

د شيطانى او رحمانى لښکر سره تشبيه: يعنى کوم سړي چه دَ سحر دَ مانځه دَپاره دَ کور نه روانيږي لکه چه هغه دَ ايمان جهنډا اوچتولو سره اوځى اوکوم سړي چه دَ سحرمونځ کولونه بغيربازارته اوځى دي دَپاره چه تجارت اوکړى نوهغه لکه چه دَ شيطان جهنډا اوچتولوسره اوځى. [اشعة المعات:۳۲۸]

د تشبيه تعريف: تمثيل تشبيه الهيئة المركبة بالهيئة المركبة نوم دي يعنى يو طرف ته دَ ډيرو څيزونو مجموعه اده په کوم سره چه يوهيئت اوپس منظر مخې ته راځى. دغه شان بل طرف ته دَ ډيرو څيزونو يوه مجموعه وى دَهغې هم پس منظر دي دَ دغه دواړو پس منظرونو دَ يوبل سره دَتشبيه نوم تمثيل دي.

په زير بحث حديث کښې د تشبيه استعمال: په دې زيربحث حديث کښې هم دغه کيفيت دي چه يوسړي کله دَ سحرمانځه له ځى نوهغه لکه چه جنګى جهنډا اوچته کړي دَخپل ځان په شان علمبردار لښکرسره ملاؤ شودَخپل دښمن فوج دَ مقابله دَپاره داسې روان دي څنګه چه مجاهد دَ خپلو دښمنانو طرف ته دَ جنګ دَپاره اوځى اودَ اسلام په شوکت کښې زياتوالې کوى. بل طرف ته کوم سړي چه دَ مونځ نه بغير په غفلت سره دَبازار طرف ته ځى هغه لکه چه دَ شيطان جهنډا اوچتولوسره دَخپلو ملګرو بازارته رسيدلې دي اودَ شيطان په شوکت کښې زياتوالې کوى. ياد ساتئى کوم سړي چه دَ سحر مونځ کولونه پس بازارته ځى اوحلال رزق ګټى هغه دَدې وعيدنه بهر دي ځکه چه هغه دَ يوجائزکاردَپاره ځى.

(۱) اخرجه ابن ماجة كتاب التجارات/ باب الأسواق ودخولها (رقم-۲۲۳٤) باب الأسواق ودخولها (رقم-۲۲۳٤)

[۴/۲۲] بَابُ الْأَذَانِ

د اذان باب

خلاصة الباب:

فيه ثلاثة عشر حديثاً مشتملة على عشر مسائل:

① الإيتار في الإقامة والتشفيع في الأذان: ۱، ۳.
② الترجيع في الأذان: ۲، ۴، ۵.
③ عدد كلمات الأذان والإقامة: ۴.
④ كيفية الأذان تفصيلاً: ۲، ۵.
⑤ التثويب الشرعي: ۵، ۶، ۱۲.
⑥ الفرق بين الأذان والاقامة في الترسل والتحدر: ۷.
⑦ كون الإقامة هي وظيفة المؤذن: ۸.
⑧ إبتداء مشروعية الأذان: ۱، ۹، ۱۰.
⑨ النداء لإيقاظ النائم: ۱۳.
⑩ جعل الأصبعين في الأذنين عند الأذان: ۱۳.

د اذان د مشروعيت ثبوت د قرآن نه: ① قال الله تعالى ﴿وَإِذَا نَادَيْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا وَّلَعِبًا ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ﴾ [سورة التوبة: ۲]

② وقال الله تعالى ﴿يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا إِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلٰى ذِكْرِ اللهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ﴾ [سورة الجمعة: ۱۰]

دَاذان لغوي معنى: په لغت کښې اذان دَ اعلام او اعلان په معنى کښې دې يعنې خبر ورکول او خبرول. اذان دَ باب تفعيل مصدر دې چه دَفعال په وزن باندې راغلې دې اودَ باب تفعيل نه داسې مصدر راځي لکه "کَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَا کِذَّابًا وسلّم تسليماً وسلاماً".

د اذان اصطلاحي تعريف: او په شرعي اصطلاح کښې "هو اعلام بدخول وقت الصلوة بذكر مخصوص في وقت مخصوص" يعنې مخصوص وختونو کښې يوځو مخصوص الفاظو سره دَمونځ دَوخت په راتلو سره خبر ورکولو نوم اذان دې.

د اذان د شروع په باره کښې دوه قسمه روايات:

①ددې باب داحاديثو نه داخبره واضحه ده.چه دآذان مشروعيت په مدينه منوره کښې شوې دې لکه چه دجمهورو محدثينواو مؤرخينو په دې خبره اتفاق دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

②البته حافظ ابن حجرؒ دطبراني او دابن مردويه په حواله سره بعضې روايات نقل کړي دي.چه دهغې حاصل دادې چه دآذان تعليم په مکه معظمه کښې شوې دې اوچه کله دوئ معراج ته تشريف يوړو نو هلته حضرت جبرئيلؑ دوئ ته اذان اوښودلو.او دوئ ملائکه په آذان کولو ليدلې دي.

د دواړه قسمه رواياتو په مينځ کښې تطبيق: که دا تحقيق اومنلې شي نو علامه سهيلى په روض الانف کښې دا تطبيق کړې دې.چه ليلة الاسراء کښې دوی ته اذان صرف اورولې شوې وو.حکم نه وو کړې شوې او چه کله حضرت عبدالله بن زيدؓ ته دخوب په ذريعه دآذان تعليم ورکړې شو.نو دغه وخت دوئ ته دا کلمات ياد شو.چه کوم ئې ليلة الاسراء کښې دملائکو څخه اوريدلې وو.لکه چه دوئ بلاتامل ارشاد اوکړو.((ان هذه لرؤيا حق)) بهر حال داذان ابتداء په مدينه منوره کښې اوشوله.

د اذان دمشروعيت په کال کښې دوه اقوال: بيااختلاف دې چه دهجرت په کوم کال اذان ښودلې شوې وو.

① حافظ ابن حجرؒ فرمائی چه د اذان دتعليم واقعه په دويم کال د هجرت راپيښه شوې ده.

② دعلامه عينیؒ خيال دې چه سنه ۱ هـ کښې ولکل وجهة دامام بخاریؒ د صنيع نه هم دا معلوميږی چه دآذان مشروعيت دهجرت نه فوراً پس شوې وو.څکه دوی دقرآنی آيت ((يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ)) [1] نه استدلال کړې دې.څکه چه جمعه دهجرت نه فوراً پس فرض شوې وو.

په مکه کښې د اذان عدم مشروعيت: په مکه مکرمه کښې حضورپاك معراج ته لاړو اوپه شپه دَ معراج کښې الله تعالى په مسلمانانو باندې مونځونه فرض کړل. په مکه مکرمه کښې خو په ښکاره دَ اسلام په احکاماتو باندې عمل نه شو کيدې په دې وجه دَ هغه مونځونودَ پاره دَ اذان انتظام اونه کړې شو. چونکه دا ورځې دَمکی دور آخرې ورځې هم وې په دې وجه دَ مدينې منورې طرف ته دَ هجرت په رنړاکښې کيدې شی دَ اذان انتظام اونه کړې شو.

په مدينه کښې د اذان د شروع کولو په مشوره کښې مختلف تجاويز: کله چه حضورپاك دَمدينې منورې طرف ته هجرت اوکړو نودَ هجرت په اول کال حضورپاك صحابه کرامو سره په دې خبره باندې مشوره اوکړه چه دَ مونځونودَ جمع دَ راغوښتلو اودَمسلمانانودَ رايوځائی کولوځه انتظام اوکړې شی نوپه دې موقع باندې څو رائې مخې ته شوې.

[1] سورة جمعه آيت نمبر ۹ مدنی ۱۲_

① چه کله دَ مانځه وخت شی نو په محله کښې به یوه جهنډا اوچتولې شی چه دَهغې په کتو سره به خلق دَ جمع دَ مونځ دَپاره جمات ته راځی دا رائې خوښه نه کړې شوه ځکه چه دا اعلان هر سړی ته رسول ممکن نه وو. هرسړې ته جهنډا خودل څه آسان کار نه وو.

② دَ مانځه په وخت کښې به اور بلولې شی حضورپاك دا رد کړل او وئی فرمائیل چه په دې کښې خومجوسیانو سره مشابهت دې.

③ دَ ښکر او بګل غږولو مشوره ورکړې شوه حضورپاك داهم رد کړه چه داخودَ یهود یانودَعبادت طریقه ده.

④ د جرس اوټلنی غږولو مشوره ورکړې شوه حضورپاك داهم ردکړه چه دا خودَ نصاریٰ دَعبادت طریقه ده. آخر مجلس ختم شو او څه فیصله اونه شوه. په وقتی توګه په دې خبره اتفاق اوشو چه دَمونځ په وخت به یو سړې په زوره چغه وهی وائی به "الصلوٰة جامعة" په دې باندې به خلق مانځه له راځی.

د مشورې مقام: وئیلی شی چه دَدې مشوره حضرت عمر ﷺ ورکړې وه. یادلرئی چه دَهجرت نه پس په اول هجری کښې مسجدنبوی قائم شوې وو اوهم په دې اول هجری کښې دَاذان مشروعیت هم شوې. اذان سره دَدې چه دَ یو لوئی عبادت دَپاره اعلان دې مګر داپخپله هم په شعائراسلام کښې شمیرلې کیږی او په دې کښې په ډیر جامعیت سره دَ اسلام مهمات راجمع کړې شوی دی. دَالله تعالی لوئی اوعظمت په دې کښې درج دې اودَ توحید عظیم درس په دې کښې موجود دې. دکامیابئی او خلاصی دعوت په دې کښې ښکاره دې اودَ آخرت دَ تیارئی پوره انتظام دې سره تړلې دې. په دې شرط چه په اذان کښې دَدې دَ روح پوره خیال اوساتلې شی صرف په رسم دَاذان سره به څه حاصل شی.

دعبدالله بن زید بن عبد ربه رضی الله عنه خوب لیدل: الغرض رسول الله ﷺ سره په دغه مجلس کښې یومخلص صحابی ووَ چانوم چه عبدالله بن زیدبن عبدربه ووهغه سره ډیرزیات فکر ووچه حضورپاك دَخلقو په راجمع کولوپاره کښې ډیرزیات فکرمند دې. اوهغوی ته یوقسم پریشانی اوغم مخې ته وو چخ داځنګه لرې کړې شی. په دې فکرکښې هغه اوده شو. هغه په خوب کښې یوښکلې انسان اولیدلو چه هغه جرس اوچت کړې وو. دَدې صحابی بیان دې چه ماهغه سړی ته اووئیل چه اې دَ خدائی بنده دا جرس خرڅوې نه؟ هغه جواب راکړو چه ته داواخلې نوڅه به کوې؟ ماورته عرض اوکړو دَدې په کړنګولوسره به خلق دَ مانځه دَ پاره راغواړو. هغه وئیل زه تاته دَدې نه ښه اوبهترخیزاونه ښایم؟ماعرض اوکړو خامخااوښایه. هغه وئیل داسې وایه. دې وئیلوسره هغه دَ قبلې طرف ته مخ کړو په غوږونوکښې ګوتې ورکړې اومکمل اذان ئی اوکړو. دَصحابی بیان دې چه زه سحروختی دَحضورپاك خواته راغلم اوټوله قصه مې ورته واؤروله. حضورپاك اوفرمائیل چه انشاء الله

Maktaba Tul Ishaat.com

دا ربښتوني خوب دي ته دا کلمات وئيلوسره بلال رضي الله عنه ته واؤروه دَهغه آواز اوچت دي. هغه به دَدې کلماتو په ذريعه سره اذان وركوي.

دحضرت عمر رضي الله عنه خوب ليدل: حضرت بلال رضي الله عنه چه كله اذان وركړو نوحضرت عمر رضي الله عنه لنگ رابنكلوسره حضور پاك له راغلواو وئي فرمائيل يارسول الله! په الله قسم چه ما په خوب كښې هم دغه كلمې كتلې دی. حضورپاك اوفرمائيل الحمد لله يعنی حضورپاك په دې باندې دَ الله تعالى شكراداكړو. بعضې رواياتوكښې دی چه عبدالله بن زيد رضي الله عنه اوفرمائيل چه ما كله داخوب اوليدلو نو هغه وخت زه نه بالكل اوده شوې ووم اونه بالكل بيدار ووم بلكه دَ پركالی په حالت كښې ووم. په يوروايت كښې هغوی اوفرمائيل كه چرې دَخلقو دَ بدگمانئی ويره نه وې نوما به په ښكاره سره وئيلی وو چه هغه وخت زه بالكل بيدار ووم.

د غيرنبی د خوب حكم: دلته يوه مسئله داده.چه بعضې جاهل صوفياءُ داحديث په خوبونو داولياء حجت كيدو دپاره بطور استدلال راوړې دې ځكه چه دوئ او فرمائيل ((ان هذه لرؤياحق)) خو استدلال بالكل باطل دې.

ځكه داذان مشروعيت ځمونږ دپاره په خوب نه دې بلكه دحضرت نبی كريم ﷺ په تصديق دې او ددې كلماتو په تقريردې چه دوی دبيدارئ په حالت كښې ددې كلماتو حكم اوكړی او داخوب ئې ربښتوني اوگرځولونو كه دوی ددې خوب تصديق او ددې مطابق دعمل كولو حكم ئې نه وې وركړې نو په دې عمل نه كيدو.په هرحال ددوی نه پس ديوخوب دربښتونوالې علم په يقينی طور سره نه شی كيدې دې وجې نه خوب په دين كښې حجت نه دې او په خپله دوی هم دحضرت عبدالله بن زيد دخوب تصديق ځكه اوكړو.چه دوی ته په ليلة الاسراء كښې د ملائكو نه اوريدلې شوې كلمات يادشول.

الْفَصْلُ الْأَوَّلُ

٦٤١ــ د اذان شروع

٦٤١ــ (¹)[١] [١] «عَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] ذَكَرُوا النَّارَ وَالنَّاقُوسَ، فَذَكَرُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى، [٣] فَأُمِرَ بِلَالٌ أَنْ يَشْفَعَ الْأَذَانَ، [٤] وَأَنْ يُوتِرَ الْإِقَامَةَ. [٥] قَالَ إِسْمَاعِيلُ: فَذَكَرْتُهُ لِأَيُّوبَ فَقَالَ: إِلَّا الْإِقَامَةَ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه فرمايي [٢] چه صحابه ؤ رضي الله عنهم (د اذان د مشروعيت ځخه مخكې د لمانځه د وخت د اعلان كولو په سلسله كې) د اور او د ناقوس ذكر اوكړو، نو بعضو د

(¹) اخرجه البخاری كتاب الأذان باب بدء الأذان(رقم-٦٠٣)ومسلم كتاب الصلوة باب الأمر بشفع الأذان وإيتار الإقامة(رقم ٣-(٣٧٨) ابوداود كتاب الصلوة باب في الإقامة (رقم-٥٠٨) وابن ماجة كتاب الأذان. والسنة فيه . باب إفراد الإقامة (رقم-٧٢٩) والترمذی كتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی إفراد الإقامة (رقم-١٩٣)

يهودو اونصارئ ذكر وكړو (چې د هغوئ سره مشابهت راځي) [۳] بيا رسول الله ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه ته حكم وركړو چې د اذان كلمات جفت اووائي (يعني د اذان په شروع كې دي الله اكبر څلور ځله اووائي او باقي كلمات سوا د آخري كلمي لااله الاالله چې يو ځل ويلې شي هغه دې دوه دوه ځله اووائي) [۴] او د تكبير كلمات دې سوا (د الله اكبر څخه) يو يو ځل اووائي [۵] شيخ اسمعيل رحمه الله (چې د دې حديث يو راوي دې او د بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله استاد دې) فرمايي چه ما د دې حديث ذكر ايوب ته (چې د دې حديث راوي دې او هغه حضرت انس رضي الله عنه ليدلي دي) وكړو نو هغه وفرمايل چې لفظ قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوة دوه ځله ويل پكار دي. (يعني د تكبير په اول او آخر كښې د الله اكبر څخه علاوه باقي كلمات يو يو ځل او لفظ د قد قامت الصلاه دوه ځل دې) (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① النَّاقُوسَ: وَهُوَ خَشَبَةٌ طَوِيلَةٌ يَضْرِبُهَا النَّصَارَى بِأُخْرَى أَقْصَرَ مِنْهَا لِإِعْلَامِ وَقْتِ الصَّلَاةِ: د لرګی نه جوړه شوې يوه باجه ده چه نصارا او به دخپل عبادت په وخت كښې د اعلان دپاره استعمالوله. بيګل ورته وائی. ② يَشْفَعَ: أَيْ: يَقُولَ كُلَّ كَلِمَةٍ مَرَّتَيْنِ سِوَى آخِرِهَا: د اذان هره جمله دوه دوه ځله وئيلو ته شفع وائی يعنی مكرر وئيل. ③ يُوتِرَ: أَيْ: وَيَقُولَ كَلِمَاتِ الْإِقَامَةِ مَرَّةً مَرَّةً سِوَى التَّكْبِيرِ فِي أَوَّلِهَا وَآخِرِهَا: د اقامت كلمات يو يو ځل وئيلو ته وتر وائی.

تسهيلات:

قوله: "أَنْ يَشْفَعَ الْأَذَانَ":

د اذان د ۲۹-اتو په تعداد كښې مذاهب:

① د شوافعو په نيز د اذان كلمات نورلس دی. په دې كښې څلورځل "اشهدان لااله الا الله" دې او څلور ځل "اشهدان محمدرسول الله" دې لكه چه په دې كښې اته ځل شهادتين دی. بل په دې كښې څلورځل "الله اكبرالله اكبر" دې اوڅلورځل "حي على الصلوة" او "حي على الفلاح" دې. داټول شپاړلس كلمات دی اودوه ځل په آخره كښې "الله اكبر" دې اوآخره كښې "لااله الاالله" دې داټول نورلس كلمات دی.

دَ شوافع په نيز په اذان كښې چه كومه دَ ترجيع مسئله ده هغه هم دغه ده چه شهادتين څلور څلور ځل وائی يوځل په زوره او يوځل په مزه اوهم دَدې نوم ترجيع دې اوعام شارحين چه دَ فقهاؤ كوم اختلاف نقل كوی نوهغوی هم دغه وائی چه شوافع دَ "ترجيع في الاذان" قائل دی دَدې مطلب هم دغه دې چه دَهغوی په نيزدَ اذان كلمات نورلس دی.

② د مالكيانو په نيز د اذان كلمات اوولس دی. دَ يوقول مطابق اوولس دی او دَ بل قول مطابق ديارلس كلمات دی. اوولس كلمات داسې دی چه په شروع كښې دوه ځل الله اكبر دې او بيا اته ځل شهادتين او څلورځل حيعلتين او دوه ځل تكبيردې اوبيا لااله الاالله دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ امام مالك ﷫ نه دَ اذان دویم قول کوم چه دَ دیارلس کلماتو دې هغه داسې دي چه الله اکبر دوه ځل شهادتین څلور ځل حیعلتین څلور ځل دی او په آخره کښې دوه ځل الله اکبر اوبیا لااله الاالله دې.

③ د احنافو په نیز د اذان کلمات پنځلس دي. څلورځل تکبیرات دی څلورځل شهادتین اوڅلورځل حیعلتین دی اوآخره کښې دوه ځل الله اکبر او بیا لااله الاالله دې.

[اشعة المعات: ۳۲۹الکاشف: ۲۲۸/۲]

نوټ: دَ امام احمدبن حنبل ﷫ په نیزدَ اذان دا ټولې طریقې او ټول قسمونه دَ نبی کریم ﷺ نه ثابت دی. دا اختلاف فی المباح دې. چاچه کوم یواوونیل جائز دې. په موقع اومحل باندې په هریو باندې عمل کیدې شی. بهرحال کلمات اذان او طریقه دَ اذان کښې دَ چه دَ فقهاؤ کوم اختلاف دې دَجواز اوعدم جواز اختلاف نه دې.

داول فریق دلائل: ① د مشکوة باب الاذان کښې دَ اول فصل دویم حدیث د دوی مستدل دې کوم چه د حضرت ابومحذوره ﷛ تفصیلی روایت دې.

② دَ مشکوة باب الاذان فصل ثانی دویم حدیث هم د دوی مستدل دې. دا حدیث هم دَ ابومحذوره ﷛ نه نقل دی.

③ دَ مشکوة باب الاذان فصل ثانی دریم حدیث هم د دوی مستدل دې. دا حدیث هم دَ ابومحذوره ﷛ نه نقل دی.

داول فریق د درې واړه دلائلو مجموعی طور دوه جوابونه: ① علامه ابن قدامه حنبلی ﷫ په المغنی کښې فرمائی. دکوم حاصل چې دا دې حضرت ابومحذوره ﷛ دغه وخت ماشوم وو.اوکافر وو.طائف نه د حضرت نبی کریم ﷺ په واپسئ کښې ددوئ دکلی سره نزدې د مسلمانانو پړاؤ وو.هلته مسلمانانو اذان اوکړو.نو حضرت ابومحذوره ﷛ او دده ملګرو د ټوقو په طور د اذان نقل کولو.حضرت نبی کریم ﷺ دوئ راوبلل او تپوس ئې ترې اوکړو.تاسو کښې اوچت آواز دکوم یو وو.معلومه شوله چه د حضرت ابومحذوره ﷛ وو.دوئ حضرت ابومحذوره ﷛ اوچت اوخوش اواز بیاموندلو نو دده په سرئې لاس راښکلو دده زړه ته ایمان کوز شو.په دې موقع دوئ مشرف په اسلام کړو.او دینه پس ئې ورته داذان تعلیم ورکړو.دې وجې نه دړومبی شهادتینومقصد ده لره مسلمانول وو.او دویم ځل شهادتین دتعلیم داذان په طور وو.بیاچه کله نبی کریم ﷺ دې په مکه معظمه کښې مؤذن مقررکړو.نو ده په خپله په اذان کښې ترجیع شامل کړله.او څلور ځله شهادتین ئې باقی اوساتل.ځکه چه ددې په وجې ده ته د ایمان دولت نصیب شوې وو ددې واقعه دیادساتلو دپاره ده ترجیع باقی اوساتله خو داددوئ خصوصیت وو.عام حکم نه وو.د دې دلیل دادې چه ددې واقعه نه پس هم دوئ دحضرت بلال ﷛ په اذان کښې څه

تغیر اونه کړو.بلکه دا ثابته ده.چه حضرت بلال رضی اللہ عنہ ترآخره پورې بلاترجیع اذان ورکولو.لکه چه دسوید بن عفله رضی اللہ عنہ په روایت کښې تیرشو لکه چې د ابن قدامه دجواب حاصل دا دې.چه ترجیع د ابومحذوره رضی اللہ عنہ خصوصیت وو.

② خو په مجموع روایاتو باندې دغور کولو نه پس دحضرت شاوه ولی الله صاحب رحمہ اللہ توجیه او تحقیق زیات راجح معلومیږی.((ان الاختلاف فی کلمات الاذان کالاختلاف فی احرف القرآن کلها شاف)) یعنی په حقیقت کښې داذان ټولې صیغ دشروع نه منزل من الله تعالی وې.دحضرت بلال رضی اللہ عنہ په اذان کښې ترجیع نه وه.خو دحضرت ابومحذوره رضی اللہ عنہ په آذان کښې وه.ددې خبرې تائید ددې نه هم کیږی.چه دحضرت سعدالقرظ رضی اللہ عنہ موذن قباآذان په ترجیع مشتمل وو.([1])

((فدل علی انه لم یکن مخصوصًا بأبی محذوره)) او دحضرت سعدالقرظ رضی اللہ عنہ خوی به دحضرت عبدالله بن زبیر رضی اللہ عنہ په خلافت کښې بغیر دترجیع آذان ورکولو.([2])

د دویم فریق دلائل: ① په ترمذی کښې دحضرت انس رضی اللہ عنہ روایت د دوی مستدل د.د کوم الفاظ چې دا دی. ((امربلال ان یشفع الاذان ویوتر الاقامة)) دشفع معنی یوه کلمه دوه خله وئیل دی.او تکبیر هم دې کښې داخل دې.

② په ترمذی کښې ((باب ماجاء فی ان الاقامة مثنی مثنی)) کښې دحضرت عبدالله بن زید رضی اللہ عنہ روایت هم ددې مستدل دې ((قال کان اذان رسول الله صلی الله علیه وسلم شفعًا شفعًا فی الاذان والاقامة))

د دویم فریق د دلائل جواب: د دوی دواړه دلائل دهغه صحیح احادیثو مقابله نشی کولی کوموکښې چې صراحةً تکبیر څلور خله دې لکه چه دحضرت ابو محذور رضی اللہ عنہ ، حضرت بلال رضی اللہ عنہ ، حضرت عبدالله بن زید رضی اللہ عنہ ، او دحضرت سعدالقرظ رضی اللہ عنہ آذان په دې روایاتو کښې اذان حرفًا حرفًا مروی دې.او دې ټولو کښې تکبیرڅلور خله راغلې دې.دا روایات ابوداؤد او ابن ماجه وغیره کښې شته په دې وجه د شفع آذان مطلب شهادتین او حیعلتین کښې شفع کول دی.خو چونکه الله اکبر دوه خله په یوه ساه کښې اداء کیږی.د دې وجې دوه تکبیرونه اوڅلورتکبیرونه شفع اوګرځولې شوه.ګویا دې خبرې ته اشاره مقصود ده.چه څلور تکبیرونه په یوساه اداء شی.

د دریم فریق دلائل: ① باب الاذان کښې دویم فصل حدیث د دوی مستدل دې. کوم چه عبدالله بن زید بن عبدربه رضی اللہ عنہ روایت دې چه د تسهیلات شرح مشکوة په ترتیب کښې حدیث نمبر(۶۵۰) دې. په هغه روایت کښې په واضحه الفاظو پنځلس کلماتو ذکربنکاره

([1]) سنن دارقطنی ۱۱/۲۳۶ باب ذکرسعدالقرظ_
([2]) انظرمصنف عبدالرزاق ۱۲/۴۵۹_

Maktaba Tul Ishaat.com

موجود دي. کوم چې دَ اذان دَپاره اصل اوبنیاد هم دي.

④ دَحضرت بلال ﷺ دَټول عمر هغه اذانونه د دوی مستدلات دی چه هغوی دَ نبی کریم په حکم سره دَ حضورپاك او ټولو صحابه کرامو په موجودګئی کښې مدینه منوره کښې کړی دی. په کوم کښې چه دَ ترجیع نوم او نښه پورې نشته دې.

③ دَ حضرت عبدالله ابن ام مکتوم اذانونه هم د دوی مستدلات دی په کومو کښې چه چرته هم ترجیع نشته دې.

④ دَ زیاد بن حارث صدائی ﷺ اذانونه د دوی مستدلات دی په هغې کښې په یوکښې هم د ترجیع نشته حالانکه دا دریواړه حضرات دَ حضورپاك په مخکښې اذانونه ورکول.

⑤ هغه ټول روایاتو هم د دوی مستدلات دی په کومو کښې چه "الاذان مثنی مثنی" الفاظ راغلی دی. ښکاره خبره ده چه کله دوه دوه کلمات دی نودَ څلورو څلورو نفی اوشوه دا یوجزوی دلیل دې چه دَ مدعا یوجزء ثابتوی.

قوله: "وَأَنْ يُوتِرَ الْإِقَامَةَ" اقامت دَ حاضرینو اذان دې په دې کښې دومره آواز اوچتول پکاردی چه په جمات کښې دننه خلق ئی واوری او په جمع کښې شریك دی.

د اقامت د کلماتو په تعداد کښې مذاهب:

دَاذان دکلماتو دَ اختلاف په شان دَاقامت دَ کلماتو په تعداد کښې هم دَ فقهاؤ اختلاف دې.

① دَ امام شافعی رحمه الله اوامام احمد رحمه الله په نیز دَ اقامت په کلماتو کښې ایتاردې یعنی داکلمات جفت نه دی بلکه طاق دی. یعنی "الله أکبر الله أکبر اشهد ان لااله الا الله اشهد ان محمد رسول الله حی علی الصلاة حی علی الفلاح قدقامت الصلوة قدقامت الصلوة الله أکبر الله أکبر لا اله الا الله" داټول یولس کلمات دی.

② دَ امام مالك رحمه الله په نیز "قدقامت الصلوة" هم یوځل دې نوټول لس کلمات شو.

③ احناف فرمائی چه اقامت او اذان کښې هیڅ فرق نشته دې ټول کلمات دَ احنافو په نیز اوولس دی نودَ اقامت په مسئله کښې جمهور یوطرف ته او احناف بل طرف ته دی.

داول فریق دلیل: اول فریق دَاقامت په ایتار او طاق کیدو باندې دَاحادیثو دَدې الفاظونه استدلال کړې دې په کوم کښې چه "ان یوتر الاقامة" الفاظ راغلی دی اوزیر بحث دَحضرت انس حدیث کښې هم دا الفاظ موجود دی.

داول فریق د دلیل دوه جوابونه:

① که دَدې جملې هم دغه مطلب دې کوم چه جمهورو اخستې دې نودا دَ بیان جواز دَپاره دې چه په اقامت کښې ایتارهم جائز دې کله کله داسې هم شوی دی.

② دَاقامت کولو طریقه ئی خودلې ده چه اذان کولوکښې "تَرَسُّل تَمَهُّل" دې چه په مزه مزه

باندي اوونيلي شي او په ولاړه ولاړه ادا کړي شي او هم په دې باندې "ان يشفع الاذان" الفاظ دلالت کوي او په اقامت کښې انحدار او حدر دې چه زر زر يوه يوه کلمه په يوساکښې اوونيلي شي او هم په دې "وان يوتر الاقامة" الفاظ دليل دې. که دَ ونيلو انداز او طريقه خودل مراد نه دی نوبيا شفع خو جفت ته وائي يعني دوه دوه کلمې وی حالانکه جمهور دَ څلورو کلماتو ونيلو قائل دی چه تکبيرات دې څلور وی شهادتين څلور څلور وی نو په شفعه باندې چرته عمل اوشو؟ اوکه چرې دَ "ان يشفع الاذان" نه دَپوره اذان شفعه مراد ده نوآيا په دويم ځل به اذان ورکولې کيږی دې دَپاره چه شفعه متحقق شي؟ معلومه شوه چه "ايتار الالفاظ" مراد نه دی بلکه ايتار صوت مراد دې او "وان يوتر الاقامة" کښې دَ ايتار معنى چرته دا ده چه يويو ځل دې ونيلی شي نوبيا هم دا شان ونيل پکار دی حالانکه جمهور "قدقامت الصلوة" دوه ځل او په اول او آخر کښې تکبير هم دوه دوه ځل ادا کولو فتوىٰ ورکوی. که چرې په ايتار باندې عمل کول دی نوبيا ټول کلمات يويو ځل اداکوئی چه په ټولو اتو کلماتو باندې عمل اوشي.

نو اصل حقيقت دا دې چه په حديث کښې دَ اذن او اقامت دَ ونيلو کيفيت بيان کړې شوې دې. دَ جفت اوطاق خبره نشته دې بلکه دَکلماتو دَ اداکولو کيفيت ئې خودلې دې. دَ "تَرَسُّل وَتَحَدُّر" خبره ئې بيان کړې ده په کوم باندې چه دَ حديث "ان يشفع الاذان" او "ان يوتر الاقامة" الفاظ دليل دې. اوراتلونکې دَحضرت جابر رضی الله عنه حديث نمبر (۳۷) کښې په واضحه توګه حضورپاك حضرت بلال رضی الله عنه ته دَترسل اوتحدر حکم ورکړې دې کوم چه دَدې توجيه تائيد کوی.

د دويم فريق دلائل:

① دَحضرت عبدالله بن زيد انصاری رضی الله عنه صاحب اذان روايت دې په کوم کښې چه "وكذا الاقامة" الفاظ راغلی دی اومشکوة ص ۶۴ باندې موجود دی يعنی دَ اذان په شان اقامت هم دې او "قدقامت الصلوة" دوه ځل کيدل خو په اقامت کښې مسلم دی. لهذا دَ اقامت ټول اوولس کلمات دَحديث نه ثابت شو.

② دَ حضرت ابومحذوره رضی الله عنه روايت هم د دوی مستدل دې کوم چه مشکوة ص ۶۳ باندې موجوددې په کوم کښې چه دا الفاظ راغلی دی "والاقامة سبع عشرة كلمة" دا ډير واضحه دليل دې.

③ دَ حضرت ثوبان رضی الله عنه روايت دې

④ دَحضرت سلمه بن اکوع روايت دې

⑤ دَحضرت علی رضی الله عنه روايت دې.

طريقه داستدلال: دَدې حضراتو په ټولو روايتونوکښې دا الفاظ راغلی دی "الاذان مثنى مثنى

Maktaba Tul Ishaat.com

والاقامة مثنی مثنی" دَ استدلال طرز داسې دې چه کله اقامت دوه دوه ځل دې نو ایتار چرته دې؟

دَ اذان په حکم کښې مذاهب:

① بعضې احنافو لکه ابن الهمام اذان ته واجب وئیلی دی چه پنځه وخته مونځونو دَپاره اذان کول واجب دی.

② دَ جمهورو فقهاؤ راجح مسلك دادې چه دَ پنځووختونو دَ مونځونو دَپاره اذان کول سنت دی. دَ احنافو دَ اکثرو فقهاؤ هم دغه فتویٰ ده. او

د اول فریق دلیل: دې حضراتو دَ امام محمد رحمه الله دَ یوې فتویٰ نه استدلال کړې دې چه امام محمد رحمه الله فرمائی چه کوم قوم اذان پرېږدی په حکومت وخت باندې لازم دی چه دغه خلقو سره جنګ اوکړی. دَدې فتویٰ نه بعضې حضراتو دا مسئله اخذ کړې ده چه اذان واجب دې نوځکه خو دَدې په پرېښودو باندې دَ جهاد اوقتال حکم دې.

د دلیل تضعیف: دا دلیل مکمل نه دې ځکه چه اذان دَسنت کیدوسره سره دَ اسلام دَ شان او شوکت یوه نښانی هم ده اودَ شعائر اسلام نه دې اودَحکومت ذمه واری ده چه هغه دې دَ شعائراسلام حفاظت اوکړی. دا جنګ دَ شعائراسلام دَ حفاظت په بنیاد باندې دې دَ وجوب اذان په بنیاد باندې نه دې.

٦٤٢–داذان کلمات اوطریقه

٦٤٢–()[٢] ① وَعَنْ أَبِي مَحْذُورَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ -، قَالَ: ② «أَلْقَى عَلَيَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التَّأْذِينَ هُوَ بِنَفْسِهِ. ③ فَقَالَ: "قُلِ: اللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ ④ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، ⑤ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابو محذوره رضی الله عنه راوي دي ② چې حضور ﷺ ماته پخپله (بغیر د څه واسطي نه) اذان ښودلي دي ③ حضور ﷺ وفرمایل وایه الله ډیر لوي دي، الله ډیر لوي دي الله ډیر لوي دي الله ډیر لوي دي (څلور ځله) ④ زه ګواهي ورکوم (یعني پوهیږم او بیان کوم) چې د الله څخه سوا بل معبود نشته زه ګواهي ورکوم چې د الله څخه سوا بل معبود نشته ⑤ زه ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د الله رسول دي زه ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د الله رسول دي

① ثُمَّ تَعُودُ فَتَقُولَ: ② أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ ③ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ. ④ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، ⑤ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ. ⑥ اللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ. لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ)». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[1] اخرجه مسلم كتاب الصلوة باب صفة الأذان (رقم) ۶ - (۳۷۹) وابوداود كتاب الصلوة باب كيف الأذان (رقم-۵۰۳) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها باب الاستعاذة في الصلاة (رقم-۸۰۷)

ترجمه: ① بيا يي وفرمايل دوباره اووايه② زه ګواهي ورکوم چې د الله څخه سوا بل معبود نشته، زه ګواهي ورکوم چې د الله څخه سوا بل معبود نشته③ زه ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د الله رسول دي، زه ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د الله رسول دي④ د لمانځه طرف ته راشئ د لمانځه طرف ته راشئ⑤ د فلاح (خلاصي) طرف ته راشئ د فلاح (خلاصي) طرف ته راشئ⑥ الله ډير لوي دي، الله ډير لوي دي، د الله څخه سوا بل معبود نشته. (مسلم)

حل اللغات: ① أَلْقِ: أَيْ: أَمْلِ: يعنى د اذان کلمات ئې اوښودل. ② التَّأْذِيْنَ: اذان کول. ③ تَعُوْدَ: راګرځول به ئې. دوباره کول به ئې، دې ته ترجيع هم وائي.

تسهيلات: قوله: قُلِ: اَللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ.

د الله اکبر وضاحت: دا دَ اسم تفضيل صيغه نه ده بلکه دَ صفت مشبه صيغه ده دکوم ترجمه چه دا ده الله تعالى ډير لوئى دي که چرې اسم تفضيل شى نومعنى به داشى الله تعالى دَ ټولو لويونه لوئى دې په کوم کښې چه دا نقصان دې چه دَ توحيد په موقع باندې الله تعالى سره نور هم لوئى تسليم کړې شو کوم چه دَ وحدانيت نه منافى دى. څلور ځل الله اکبر وئيلو نه دا اشاره مقصود ده چه دَ الله تعالى عظمت او لوئى څلورو واړو طرفو کښې جارى اوسارى دې.

قوله: حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ:

د حي على الفلاح وضاحت: دَ دين اودنيا کاميابى اودَهر مصيبت نه دَ حفاظت نوم "فلاح" دې په دې کښې ټولې ښيګړې راغلې اودَ ټولو بدونه دَ خلاصى ضمانت ورکړې شو دا مسنون اومنقول جمله ده کومه چه نبى کريم ﷺ امت ته خودلې ده. اودَ فرښتې په تعليم سره ملاؤشوې ده.

د روافضو بدعت: دَدې په ځريخودو سره شيعه روافض چه کوم "حى على خير العمل" جمله په اذان کښې وائى هغه دَ ځان نه ده اوبدعت دې. دَ روافض اذان دَ اهل حق دَ اذان نه ډير مختلف دې په کوم کښې چه ګمراهى اونفاق او په امت کښې دَ تفرقه اچولو ډير اعلانات دى.

د حديث نه د ترجيع ثبوت: دَحضرت ابومحذوره ؓ په دې روايت کښې ترجيع فى الاذان ذکر دې کوم چه شوافع او مالکيه اختيار کړې دې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

٦٤٣ـ د اذان او اقامت د کلماتو په شمار کښې اختلاف

٦٤٣ـ (١)[٣] ① عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ② «كَانَ الْأَذَانُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

(١) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب فى الإقامة (رقم-٥١٠) والنسائى كتاب الأذان تثنية الأذان (رقم-٦٢٨) والدارمى كتاب الصلاة /باب الأذان مثنى مثنى، والإقامة مرة (رقم-١٢٢٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

وَسَلَّمَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ، ۳ وَالْإِقَامَةُ مَرَّةً مَرَّةً، غَيْرَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: ۴ قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ.» رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۱ ابن عمر رضي الله عنه راوي دي ۲ چې د رسول ﷺ په زمانه کښې د اذان کلمات دوه دوه خله ۳ او د تکبير کلمات به يو يو خل ويل کيدل البته (په تکبير کښې به) ۴ **قد قامت الصلوة** (بيشکه مونځ تيار دي) مؤذن دوه خله ويل.

(ابوداؤد، نسايي، دارمي)

تسهيلات:

قوله: مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ

د دوه خله ويلو مطلب: ددې نه مراد دادې چې په شروع کښې به ئې الله اکبر څلور خل ويل. او آخر کښې به ئې لا اله الا الله يو خل ويل. ددې دوارو کلماتو نه علاوه باقي کلمات به دوه دوه خل ويل کيدل. څنګه چې په اقامت کښې دقد قامت الصلوة استثناء کړې شوې ده ، هم داشان تکبير يعنى الله اکبر لره مستثنى کول مناسب وو. څکه چې تکبير هم بغير د څه اختلاف نه بغيرپه اول او آخر کښې مکرر دې.

[٦٤٤] د اذان او اقامت د کلماتو تعداد

۶۴۳-(۳) [۳] ۱ وَعَنْ أَبِي مَحْذُورَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-: ۲ «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَّمَهُ الْأَذَانَ تِسْعَ عَشْرَةَ كَلِمَةً، ۳ وَالْإِقَامَةَ سَبْعَ عَشْرَةَ كَلِمَةً». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ ابومحذوره رضي الله عنه راوي دي چې ۲ رسول الله ﷺ هغه ته د اذان نولس کلمات ښودلي وو، ۳ او د تکبير اوولس کلمات. (احمد، ترمذي، ابوداؤد، نسايي، دارمي، ابن ماجه)

حل اللغات: ① تِسْعَ عَشْرَةَ: نورلس، ۱۹. ② سَبْعَ عَشْرَةَ: اوولس، ۱۷.

تسهيلات:

قوله: "سَبْعَ عَشْرَةَ كَلِمَةً"

د حديث نه د احنافو د مذهب تائيد: يعنى دَ اقامت کلمات اوولس دى. داحديث په واضحه توګه دَاحنافو دليل دې. دَ احنافو په نيز دا روايت دَهغه رواياتو دَپاره ناسخ دې په کوم کښې چه دَ اقامت يولس کلماتو ذکردې. دَدې روايت نه دَ شوافع دَمسلك مطابق دَ اذان ۱۹ کلمات ثابتيږي. دَاحنافو په نيزشهادتين کښې تکرارتعليم باندې محمول دې دَ ترجيع دَپاره نه دى.

---

[1] اخرجه الترمذي كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الترجيع في الأذان (رقم-۱۹۲) وابوداود كتاب الصلاة،باب كيف الأذان (رقم-۵۰۲) وابن ماجة كتاب الأذان، والسنة فيه ، باب الترجيع في الأذان (رقم-۷۰۹)

۶۴۵ - په اذان کښې ترجيع

۶۳۵ -(۱)[۵] وَعَنْهُ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! عَلِّمْنِي سُنَّةَ الْأَذَانِ، [۲] قَالَ: فَمَسَحَ مُقَدَّمَ رَأْسِهِ. قَالَ: (تَقُولُ: [۳] اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ، تَرْفَعُ بِهَا صَوْتَكَ. [۴] ثُمَّ تَقُولُ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، تَخْفِضُ بِهَا صَوْتَكَ،

ترجمه: [۱] ابو محذوره رضي الله عنه فرمايي چه ما نبي ﷺ ته عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ ماته د اذان طريقه راوښايه [۲] راوي وايي دي اوريدو سره حضور ﷺ د ابو محذوره رضي الله عنه د سر پرمخکني حصه لاس مبارک وګرځولو بيا يي وفرمايل چه اووايه: اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ (څلور ځله) د دې سره آواز اوچت کړه [۳] بيا اووايه أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ د مخکي څخه دا په ښکته آواز سره اووايه.

[۱] ثُمَّ تَرْفَعُ صَوْتَكَ بِالشَّهَادَةِ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ. [۲] أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ. [۳] حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ. [۴] فَإِنْ كَانَتْ صَلَاةُ الصُّبْحِ، قُلْتَ: الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ، الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ [۵] اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] بيا په اوچت آواز سره د شهادت کلمات اووايه أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ [۲] أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ [۳] حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ [۴] که د سحر د لمانځه د پاره اذان کول غواړي نو دي څخه وروسته دا کلمات اووايه الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ (لمونځ د خوب څخه بهتر دی مونځ د خوب څخه بهتر دی) [۵] اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① تَرْفَعُ: ته اوچت کړه آواز. ② تَخْفِضُ: ښکته کړه آواز.

تسهيلات:

قوله: "تَخْفِضُ بِهَا صَوْتَكَ"

د احنافو د توجيه تضعيف: په دې روايت کښې "تَرْفَعُ" او "تَخْفِضُ" چه کوم الفاظ دی ددې په رڼا کښې د احنافو هغه توجيه صحيح نه معلوميږی چه په شهادتين کښې دتکرار حکم د تعليم دپاره وو ځکه چه داحاديث د هغه توجيه اجازت نه ورکوی.

د عدم ترجيع د رواياتو ترجيح: لهذا د احنافو جواب به هم دغه وی چه نور زيات روايات اود عبدالله بن زيد رضي الله عنه د اذان قصه اود حضرت بلال رضي الله عنه وغيره مؤذنينو ترجيع نه کول

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب كيف الأذان (رقم-۵۰۰) والنسائى كتاب الأذان ،الأذان فى السفر(رقم-۶۳۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

دَدې تولو امورو دَوجې نه احنافو دَ ابومحذوره رضی الله عنه روایت مرجوح او نور روایتونه راجح ګرځولی دی.

قوله: "مُقَدَّمَ رَأْسِهِ"

بعضې روایاتو کښې "رأسی" الفاظ راغلی دی چه دَدې خبرې دلیل دې چه حضورپاك د حضرت ابومحذوره رضی الله عنه په سرباندې لاس مبارك راښکلې وو. هم دغه واضح اوراجح دی. بعضې حضراتودَدې جملې مطلب دا اخستې دې چه حضورپاك په خپل سرمبارك باندې لاس راښکلو دا مطلب واضحه نه دې.

٦٤٦ - د تثویب ممانعت

٦٣٦ - (۲)[۲۱] ① وَعَنْ بِلَالٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«لَا تُثَوِّبَنَّ فِي شَيْءٍ مِنَ الصَّلَوَاتِ إِلَّا فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. ③ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: أَبُو إِسْرَائِيلَ الرَّاوِي لَيْسَ هُوَ بِذَاكَ الْقَوِيِّ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ.

ترجمه: ① حضرت بلال رضی الله عنه وایې چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم ماته وفرمایل ② چې د سحر د لمانځه څخه علاوه په بل لمانځه کښې تثویب مه کوه، ترمذي ابن ماجه، ③ امام ترمذي رحمه الله د دې حدیث راوي ابو اسرائیل د محدثینو په نیز د قوي (یعني د اعتبار وړ) نه دي

حل اللغات: ① لَاتُثَوِّبَنَّ: إِعْلَامٌ مَرَّةً بَعْدَ مَرَّةٍ أُخْرَى: تثویب دَ باب تفعیل نه ده. د یو اعلان نه پس بل اعلان کول.

تسهیلات: قوله: "لَا تُثَوِّبَنَّ"

د تثویب لغوی معنی: لغت کښې تثویب رجوع او واپس کیدلو په معنی کښې دې هم دَدې نه ثیبه ښځه ده هم دَدې نه ثوب او ثواب دې اوهم په دې اعتبارسره بیت الله مثابة للناس فرمائیلې شوې دې. په دې ټولو څیزونوکښې دَ رجوع او واپس کیدلو معنی موجودده.

د تثویب شرعی معنی: دلته په حدیث کښې دَ تثویب نه اعلام پسې اعلام اودَ خبر نه پس خبر او اعلان نه پس اعلان مراد دې.

د تثویب درې اصطلاحی معانی: تثویب په دریو معنوکښې او درې مطلبونو اومقاصدودَپاره ونیلی شی. [اشعة المعات: ۳۳۰]

① اقامت او تکبیرونیلوته تثویب وائی.

② دَ سحرپه اذان کښې "الصلوة خیرمن النوم" ونیلوته هم تثویب وائی.

③ اعلام پس دَ اعلام یعنی دَ اذان کولونه پس دَ اقامت نه مخکښې یوسړې اعلان کوی اوخلق دَمونځ طرف ته دوباره په خپلو الفاظوکښې راغواړی دې ته هم تثویب وائی.

---

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی التثویب فی الفجر (رقم-۱۹۸)

د تثویب د دریمه معنی په حکم کښې دوه اقوال:

د تثویب د عدم جواز قائلین: ① دَحضرت علی رضی الله عنه نه نقل دی اودَهغوی متعلق مشهوره ده چه هغوی په یوجمات کښې یوسړې اولیدلو چه هغه به تثویب کولو یعنی دَ اذان نه پس به ئې دَ مونځ دپاره اعلان کولو. نوحضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل "اخرجوا هذا المبدع من المسجد" [اشعة المعات: ۱/ ۳۳۱]

② دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنه باره کښې نقل دی چه هغوی یوځل په جمات کښې مؤذن په تثویب کولوسره واوریدو نوهغوی دَ جمات نه بهر لاړل او نورو ته ئې هم اوفرمائیل چه دَدې سړی مخکښې مه پاتې کیږئې بهر راوځئې ځکه چه دا بدعتی دې.

③ حضرت امام محمد رحمه الله به هم په دې قسم تثویب سره سخت خفه کیدلو اوفرمائیل به ئې ټول مسلمانان دَمونځ په عبادت کښې یوشان دی. بهرحال دَ سحرپه اذان کښې "الصلوٰة خيرمن النوم" چه کوم تثویب دې دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ زمانې نه جاری دې اوپه وجه دَغفلت او خوب سستی دَدې الفاظو وئیلو ته دَ سنت درجه حاصله ده. بیا خلقو په خپل خپل انداز سره دَدې نه علاوه څه نور اعلانونه هم دَ سحردَ مونځ دپاره شروع کړه ځکه دَ سحروخت دَ خوب غفلت او سستئې وی.

د تثویب دجواز قائلین: ① په آخره کښې قاضی ابویوسف رحمه الله په عامومونځونو کښې قاضیانواوحکامو اوشاغلینودَدین دپاره په خاص توګه دَ اعلام او خبرداری نه پس دَ اذان نه په وجه دَمشغولتیا جائز اوګرځول چه مؤذن وغیره دې لاړشی هغوی ته دې اووائی "ايها الامير الصلوٰة جامعة".

② مګر متاخرینو دَ دغه شاغلینو دَدین دَ خبرداری دپاره دا اعلان ښه اوګرځولو لکه چه په وجه دَ زمانې دَ بدلیدو او په وجه دَ بدلون دَخلقو دَ زمانې په دې حکم کښې بدلون راغلو لکه نن صبا دَ اذان نه پس په دینی مدارسو کښې طالبان په دویم ځل اعلان سره راپاسولې شی. دغه شان خصوصی خبرداری مؤذنینوحضورپاک ته هم ورکړې دې خلفاء راشدینوته ئې هم ورکړې دې دَدې نه انکارنه شی کیدلې.

د تطبیق صورت: لیکن په ښکاره جماتونوکښې دَ اذان نه پس په دویم ځل اعلان په هرحال کښې ناجائز دې. که چرې دَ یوخاص داعیه او خاص سبب دَ وجې نه چرته چا اعلان اوکړو نوهغه بله خبره ده مګر په مستقل توګه دَ اذان نه پس اعلان کول په هرحال کښې بدعت دې په کوم سره چه دَ اذان حیثیت اودَ دې مشروعیت اصل مقصد ته نقصان رسیږی.

Maktaba Tul Ishaat.com

٦٤٧—د اذان او اقامت په مینځ کښې وقفه

٦٣٧—( )[٧] ⑴ وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-، «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِبِلَالٍ: ⑵ (إِذَا أَذَّنْتَ فَتَرَسَّلْ، ⑶ وَإِذَا أَقَمْتَ فَاحْدُرْ، ⑷ وَاجْعَلْ مَا بَيْنَ أَذَانِكَ وَإِقَامَتِكَ قَدْرَ مَا ⑸ يَفْرُغُ الْآكِلُ مِنْ أَكْلِهِ، وَالشَّارِبُ مِنْ شُرْبِهِ، ⑹ وَالْمُعْتَصِرُ إِذَا دَخَلَ لِقَضَاءِ حَاجَتِهِ، ⑺ وَلَا تَقُومُوا حَتَّى تَرَوْنِي»). ⑻ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ: لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الْمُنْعِمِ، وَهُوَ إِسْنَادٌ مَجْهُولٌ.

ترجمه: ⑴ او حضرت جابر رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ حضرت بلال رضی الله عنه ته وفرمايل ⑵ هر کله چې ته اذان کوې نو په قلاره قلاره يې کوه⑶ او هر کله چې تکبير وائې نو زر زر يې وايه⑷ او د اذان او تکبير په مينځ کې دومره وقفه کوه چې خوړونکي د خپل خوراک څخه او څښونکي د خپل څښاک څخه فارغ شي ⑸ او قضايي حاجت ته تلونکي د خپل حاجت څخه فارغ شي⑺ او تر هغه وخته پورې د لمانځه د پاره مه او درېږئ تر څو پورې چې ما (د لمانځه کولو د پاره راتلونکي) ونه وينئ،⑻ دا حديث ترمذي نقل کړي دي او ويلي يې دي چې مونږ دا حديث سوا د عبد المنعم څخه بل چا څخه نه پيژنو او دا يې سند مجهول دي.

حل اللغات: ① فَتَرَسَّلْ: أَيْ: تَمَهَّلْ، وَافْصِلِ الْكَلِمَاتِ بَعْضَهَا مِنْ بَعْضٍ بِسَكْتَةٍ خَفِيفَةٍ: په ولاړه ولاړه سا اخستو سره اذان کولو ته ترسل وائي يعنی په وقف وقف سره وئيل. ② أَقَمْتَ: اقامت کوه، (د جماعت او دريدلو په وخت تکبير وئيلو ته اقامت وائي). ③ فَاحْدُرْ: أَيْ: أَسْرِعْ فِي التَّلَفُّظِ بِهَا وَصِلْ بَيْنَ الْكَلِمَاتِ مِنْ غَيْرِ دَرْجٍ وَدَمْجٍ، وَلَا تَسْكُتْ بَيْنَهَا: تيز تيز تکبير وئيلو ته حدر وائی. ④ الْمُعْتَصِرُ: أَيْ: وَيَفْرُغُ الَّذِي يَحْتَاجُ إِلَى الْغَائِطِ وَيَعْصِرُ بَطْنَهُ وَفَرْجَهُ: قضائي حاجت يعنی ډک او دس ماتونکي.

تسهيلات:

قوله: "فَتَرَسَّلْ"

د ايتار او شفع په مراده معنی کښې د احنافو تائيد: دا حديث په دې خبره باندې واضحه دليل دې چه په اذان او اقامت کښې شفع او ايتار چه کومه معنی احنافو اخستې ده په دې حديث کښې هم دَ دغه طرز تعليم ورکړې شوې دې او هم هغه معنی دَدې احاديثو مطلبونو ته زياته نيزدې ده.

د بعضې خلقو په اذان کښې غلطيانې: دَدې حديث نه دا خبره هم معلومه شوه چه په اذان او اقامت کښې دَ غلطئ نه دَ بچ کيدو کوشش کول پکار دی. ځکه چه په اذان کښې بعضې غلطياني کولو سره دَ ايمان دَ خرابيدو خطره هم کيدې شي

① مثلاً الله اکبر کښې که چرته يوسړې په الف باندې مد کولو سره راکاړی او دغه شان اکبر په ځائې اکبار وائې نو قصداً داسې کولو سره دکفر خطره ده ځکه چه دَ مد په صورت

---

[1] اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب ما جاء في الترسل في الأذان (رقم-١٩٥)

کښې استفهام کيږی چه آيا الله لوئی دې يا نه دې.

④ دغه شان اکبار دَ کبر جمع جوړيږی دکوم معنی چه دَ يوقسم دوړينی راځی. دغه شان دَ اشهد په الف باندې مد کولوسره استفهام معنی پيدا کيږی چه ډيره خطرناکه ده لکه چه مؤذن داسې وائی چه آيا زه ګواهی ورکړم؟

⑤ دغه شان دَ أَنَّ په ځائی باندې آنَا وئيلو دَ خطرې سبب دې.

په اذان کښې د وقف کولو مسنونيت: علماؤ دا هم ليکلی دی چه دَ اذان او اقامت کلمات دَ وقف حالت سره نقل دی دَدې نه دَ يوې کلمې په آخره کښې اعراب ښکاره کول دَ سنت خلاف دی مثلاً حی علی الصلوٰة يا حی علی الفلاحِ په آخری کلمه باندې اعراب نه ظاهرول پکار ځکه چه دادَ وقف په حالت باندې نقل دی دغه شان قدقامت الصلوٰة دَ وقف په حالت کښې دې دَدې په آخره کښې پيښ وئيل غلط دی.

قوله: "قَدْرَمَايَفْرُغُ الْآكِلُ"

د اذان او اقامت په مينځ کښې وقفه: دادَ اذان او اقامت په مينځ کښې دَ وقفې کولودَمقدار بيان دې چه اذان پسې دومره وقفه کول پکاردی چه يوموننځ ګذار که چرته دَ قضاء حاجت ضرورت محسوس کوی نوچه هغه په آسانئی سره پوره کړی يا څوك اوګې شوې وی نودغه وقفه دومره کيدل پکاردی چه هغه دَ خوراك ضرورت پوره کړې شی يا دغه شان بل څه مختصر ضرورت وی نوچه هغه پوره کړې شی. نن صباد ګهړو يومربوط نظام دې بعضې جماتونوکښې نيمه ګهنټه وقفه ورکولې شی بعضوکښې پنځلس مينټه ورکولې شی.

د اذان مشروعيت د وخت د دخول دپاره: دَ پاکستان دمؤذنينو په اذانونوکښې يوه غټه کمزوری داده چه په دې ملك کښې اودغه شان آفغانستان او هندوستان او بنګله ديش کښې اذان دَتعيين وخت دَپاره نه شی کولې بلکه دَتعيين دَمونځ دَپاره کولې شی. که چرې اذان دَوخت دَتعيين دَپاره وې نودَ وخت دَ داخليدو په رومبی مينټ کښې به اذان کيدلو مګر داسې نه کيږی. مثلاً دَ ماسپښين وخت دَ زوال نه پس شروع کيږی نومناسب اومسنون خوا وه چه هم په هغه وخت اذان کيدلو ليکن اذان کله دَوخت دَ داخليدو نه نيمه ګهينټه پس کولې شی خو په سعودی عرب کښې اذان دَ وخت دَ تعيين دَپاره کيږی نودَ وخت بالکل په شروع کښې ورکولې شی کوم چه ډير ښه عمل دې.

قوله: "وَلَاتَقُومُواحَتّٰى تَرَوْنِى"

د نبی کريم ﷺ د حجرې څخه بهر د تشريف راوړلو وخت: يعنی چه کله مؤذن دَتکبيردَپاره اودريږی نوچه تاسو ترکومې پورې ما راتلوسره اونه وينئی دَ هغه وخته پورې کينئی دَ اودريدو کوشش مه کوئی ځکه چه دَوخت نه مخکښې دې اودريدوکښې مشقت هم دې اودَ انتشار اوتشويش سبب هم دې. دَحديث نه داسې معلوميږی چه حضورپاك به دَتکبير

Maktaba Tul Ishaat.com

شروع کیدونه پس دَ حجرې مبارکې نه بهر تشریف راوړلو اوچه کله مؤذن حي على الصلوة ونیل نوحضورپاك به محراب ته رسیدلو. [الکاشف: ۲۴۳/۲ اشعة المعات: ۳۳۱]

د مقتدیانو مانځه دپاره د اودریدو په وخت کښې مذاهب:

په دې کښې اختلاف دې چه مقتدي کوم وخت اُودریږي اوامام کوم وخت تکبیر اووائي.

① دَامام مالك رحمه الله اوجمهورو رائې داده چه په صفونوکښې دَمقتدیانودَپاره هیڅ وخت مقرر نه دې کله چه خلق غواړي اودریږي دې.

② د سوید بن غفله، قیس بن حازم، حماد، سعیدبن مسیب اوحضرت عمر بن عبدالعزیز رحمهم الله قول نقل کړې دې چه کله مؤذن اقامت شروع کړي نو صفونوکښې اودریدل واجب دي چه په صفونوکښې اعتدال راشي. اوکله چه مؤذن اقامت ختم کړي نوامام له تکبیر وئیل پکاردي. (کذا في مصنف ابن ابي شیبه)

③ دَ امام احمد رحمه الله مسلك دادې چه کله مؤذن قدقامت الصلوة اووائي نوامام له تکبیر تحریمه وئیلوسره مونځ شروع کول پکاردي اودَ امام صاحب هم دغه قول دې.

④ دَ جمهور علماؤ په نیزترکومې چه مؤذن دَ اقامت نه فارغ شوې نه وي امام دې مونځ نه شروع کوي هم دغه دَ امام ابوحنیفه رحمه الله یوقول هم دې. فتویٰ هم په دې ده. دَامام شافعي رحمه الله په نیزدادي چه کله مؤذن دَتکبیر وئیلو نه فارغ شي هغه وخت دې مقتدیان قیام اوکړي.

د یوې غلط فهمۍ ازاله: دَ احنافودَ فقهاؤ په کتابونوکښې لیکلي دي چه "حي على الفلاح" په وخت ولاړ اوسئي دَدې مطلب دادې چه که دَ څه مجبورئي دَ وجې نه مخکښې څوك اونه دریدې شونودَ "حي على الفلاح" نه پس دَ کیناستو اجازت نشته دې. فقهاؤ چه کومه مسئله لیکلې ده هغه داده چه دَ کیناستو آخري حد "حي على الصلوة" دې دې نه پس کیناستل جائز نه دي دامطلب نه دې چه دَدې نه مخکښې څوك اونه دریدو نوهغه به د طعن لائق وي شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله دَدې حدیث لاندې لیکي:

"اي لاتقوموا للصلوة بمجرد الاقامة حتى تبصروني اخرج من البيت وفي الفقه يقوم عند حي على الصلاة ويحرم عند قدقامت الصلوة". [اشعة المعات: ۳۳۱]

په دې عبارت کښې هم هغه خبره ده چه دَ "حي على الصلوة" نه پس کیناستل منع دي څکه چه صف نیغول لازم دي. داخبره نه ده چه "حي على الصلوة" دَ الصلوة نه مخکښې کیناستل لازم دي. شیخ عبدالحق رحمه الله اشعة المعات کښې لیکلي دي چه کیدې شي حضورپاك دَ "حي على الصلوة" په وخت دَحجرې نه دَمحراب پورې رسیدلو په دې وجه ئې اوفرمائیل چه زما راتلو او زما دَلیدلو نه مخکښې مه اودریږئ. [اشعة المعات: ۳۳۱/۱]

٦٤٨–د اقامت کولو حقدار

٦٣٨–( )[٨] [١] وَعَنْ زِيَادِبْنِ الْحَارِثِ الصُّدَائِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-، قَالَ: [٢] «أَمَرَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (أَنْ أُذِّنَ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ) فَأَذَّنْتُ. [٣] فَأَرَادَ بِلَالٌ أَنْ يُقِيمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٤] (إِنَّ أَخَا صُدَاءٍ قَدْ أَذَّنَ، وَمَنْ أَذَّنَ فَهُوَ يُقِيمُ)». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] زیاد بن حارث صدائي رضی الله عنه وایي [٢] چې رسول الله ﷺ ما ته د سحر د لمانځه د پاره د اذان کولو حکم وکړو نو ما اذان وکړو [٣] بیا بلال رضی الله عنه تکبیر وئیل وغوښتل نو حضور ﷺ ورته وفرمایل [٤] دي (٢) صدایي ورور اذان کړي دي او څوك چې اذان وکړي هغه لره تکبیر وئیل هم پکاردي. (ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه)

حل اللغات: ① يُقِيمَ: چه اقامت اوکړی، ② أَخَا صُدَاءٍ: دا صحابی دي. ددوی نوم حضرت زیاد بن حارث صدائی رضی الله عنه دي.

تسهیلات:

قوله: "إِنَّ أَخَا صُدَاءٍ"

زیاد بن حارث ته د اخا صدائی وئیلو وجه: حضرت زیاد بن حارث صدائی رضی الله عنه ته په دې حدیث کښې حضورپاك اخا صداء فرمائیلي دي. دې صحابی دي. او دَ یمن او سیدونکي دي. دَهغه دَ قبیلې نوم صداء وو دَ هغې طرف ته منسوب کیدو سره صدائی سره یادیدو. دَعربو دستور دې چه دَ یوې قبیلې دَ سړی کله ذکرکوی نو هغه ته دَ هغه قبیلې رور وائی. هم دَدې قاعدې مطابق حضورپاك دې صحابی ته اخا صداء اوفرمائیل یعنی دَ صداء قبیلې روره. [اشعة المعات: ١/ ٣٣١]

قوله: "فَهُوَ يُقِيمُ" یعنی څوك چه اذان اووائی دَ هغه حق دې چه تکبیر دې هم هغه اووائی.

د مؤذن په استحقاق اقامت کښې مذاهب:

دَ استحقاق تقاضا خوداده چه څوك اذان اوکړی هغه دې اقامت هم اوکړی لیکن که دَمؤذن

(١) اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء أن من أذن فهو یقیم (رقم-١٩٩) وابوداود کتاب الصلاة باب فی الرجل یؤذن ویقیم آخر(رقم-٥١٤) وابن ماجة کتاب الأذان. والسنة فیه باب السنة فی الأذان (رقم-٧١٧)

(٢) اخاء صداء یعني د صدايي د ورور څخه مراد زیاد ابن حارث صدايي دي په عربو کې دا قاعده وه چې کوم سړي به د کومې قبیلې سره تعلق لرلي هغه ته به یې د هغه قبیلې ورور ویلې، د امام شافعي رحمه الله په نزد د دې حدیث مطابق غیر مؤذن له تکبیر کول مکروه دي د امام اعظم رحمه الله په نزد مکروه نه دي څکه چې دا ثابته ده چې اکثر به ابن ام مکتوم رضی الله عنه اذان کولي او بلال رضی الله عنه به تکبیر کولي د امام صاحب رحمه الله په نزد دا حدیث په دې خبره محمول دي که غیر مؤذن تکبیر کول غواړي نو د مؤذن څخه دي اجازت واخلي که مؤذن ته د ځان چا تکبیر ویل خوښ نه وي نو بیا غیر مؤذن ته تکبیر ویل مناسب نه دي،

Maktaba Tul Ishaat.com

نه علاوه بل چا تکبير اووئيلو نو دَهغې شرعي حيثيت څه دې.

① دَ شوافع او حنابله مذهب دا دې چه داسې کول مطلقًا مکروه دی که دَمؤذن اجازت وی او که نه وی. البته اقامت به ئې اوشي واپس راګرځولو ضرورت نشته دې.

② امام مالک رحمه الله فرمائی چه دَغیر مؤذن اقامت مطلقًا جائز دې که مؤذن خوشحال وی او که خوشحال نه وی اجازت ورکړی یا ورنه کړی په هرحالت کښې جائز دې.

③ دَ احنافو ائمه حضرات فرمائی چه که چرې مؤذن په خوشحالئی سره اجازت ورکړی نو بيا جائز بلاکراهت دې او که چرې مؤذن ناخوښه وی او دَهغه اجازت هم نه وی نو بيا دَ غیر اقامت مکروه دې.

داول فریق دلیل: زیربحث د زیاد بن حارث رضي الله عنه روایت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه رسول الله ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه دَ تکبیرونیلو نه منع کړې او وجه ئې دا خودلې ده چه اذان بل چا کړې دې لهذا تکبیر به هم هغه وائی چاچه اذان کړې دې.

د دویم فریق دلیل: دَ حضرت عبدالله بن زید بن عبدربه رضي الله عنه حدیث د دوی مستدل دې چه هغه ته حضور پاک اوفرمائیل چه ته دَ اذان کلمات حضرت بلال رضي الله عنه ته بنایه هغه به اذان کوی. دَحضرت بلال رضي الله عنه د اذان کولو نه پس کله چه دَ اقامت وخت راغلو نو حضور پاک حضرت عبدالله بن زید رضي الله عنه ته اوفرمائیل "فَاَقِمْ اَنْتَ" دلته په غیر مؤذن باندې اقامت کړې شوې دې. معلومه شوه چه جائز دې که مؤذن خوشحال وی او که خفه.

د دریم فریق دلیل: دریم فریق په دواړه قسم احادیثو کښې دَ تطبیق صورت پیدا کړې دې چه که دَمؤذن ناخوښه وی نو بل سړې دې اقامت نه کوی لکه څنګه چه دَ زیاد صدائی رضي الله عنه دَ حدیث معامله ده کیدې شی چه صدائی رور ناخوښه کړې وی په دې وجه حضور پاک اوفرمائیل او عبدالله بن زید رضي الله عنه ته ئې دَ اقامت کولو اجازت ورکړو ځکه چه کیدې شی حضرت بلال رضي الله عنه ته هډو ناخوښه شوې نه وی. دغه شان دَاحنافو دَ مذهب مطابق په ټولو احادیثو کښې تطبیق اوشو.

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

۶۴۹—د اذان د ضرورت احساس

۶۴۹—(¹)[۹] ① عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ② «كَانَ الْمُسْلِمُونَ حِينَ قَدِمُوا الْمَدِينَةَ يَجْتَمِعُونَ ③ فَيَتَحَيَّنُونَ لِلصَّلَاةِ، وَلَيْسَ يُنَادِي بِهَا أَحَدٌ، ④ فَتَكَلَّمُوا يَوْمًا فِي ذَلِكَ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: ⑤ اتَّخِذُوا مِثْلَ نَاقُوسِ

(¹) اخرجه البخاری کتاب الاذان باب بدء الأذان(رقم-۶۰۴) ومسلم کتاب الصلاة . باب بدء الأذان (۱ - (۳۷۷) والنسائی کتاب الصلاة . باب بدء الأذان رقم-(۱ - (۳۷۷) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی بدء الأذان (۱۹۰)

النَّصَارَى. [۶] وَقَالَ بَعْضُهُمْ: قَرْنًا مِثْلَ قَرْنِ الْيَهُودِ. [۷] فَقَالَ عُمَرُ: أَوَلَا تَبْعَثُونَ رَجُلًا يُنَادِي بِالصَّلَاةِ؟ [۸] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (يَا بِلَالُ! قُمْ فَنَادِ بِالصَّلَاةِ)». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابن عمر رضی اللہ عنہ فرمایي [۲] چه مسلمانان چې مدیني منوري ته راغلل نوجمع کیدل به [۳] او د لمانځه د پاره به يې وخت او اندازه معین کوله (څکه چې) څوك د لمانځه د پاره بلونکي نه وو [۴] (یوه ورځ) چې په دي مسئله باندې بحث کیدو نوبعضو اوویل [۵] چې دنصارې پشان ناقوس (نغاره) وهل پکار دي [۶] او بعضو اوویل چې د یهودو په شان (ښکر، تُولي) جوړول پکار دي [۷] د اتول تجویزونه اوریدلو سره حضرت عمر رضی اللہ عنہ وفرمایل یو سړي دي ولي مقرر نه کړي شي چې د لمانځه د پاره خلق رابلي [۸] نو حضور صلی اللہ علیہ وسلم وفرمایل اې بلال پاسه د لمانځه د پاره اعلان کوه. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① فَيَتَحَيَّنُونَ: أَيْ: يُقَدِّرُونَ حِينَ الصَّلَاةِ، وَيُعَيِّنُونَ وَقْتَهَا بِالتَّقْدِيرِ وَالتَّخْمِينِ: یعنی د لمانځه د پاره به يې وخت او اندازه معین کوله. ② نَاقُوسٌ: وَهُوَ خَشَبَةٌ طَوِيلَةٌ يَضْرِبُهَا النَّصَارَى بِأُخْرَى أَقْصَرَ مِنْهَا لِإِعْلَامِ وَقْتِ الصَّلَاةِ: د لرګی نه جوړه شوي یوه باجه ده چه نصاراؤ به دخپل عبادت په وخت کښې د اعلان دپاره استعمالوله، بیګل ورته وائی. ③ قَرْنًا: ښکر.

۶۵۰- د اذان د شروع کیدو پس منظر

۶۵۰-(۱)[۱۰] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ ابْنِ عَبْدِ رَبِّهِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «لَمَّا أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاقُوسِ [۳] يُعْمَلُ؛ لِيُضْرَبَ بِهِ لِلنَّاسِ لِجَمْعِ الصَّلَاةِ، [۴] طَافَ بِي وَأَنَا نَائِمٌ رَجُلٌ يَحْمِلُ نَاقُوسًا فِي يَدِهِ، [۵] فَقُلْتُ: يَا عَبْدَ اللهِ! أَتَبِيعُ النَّاقُوسَ؟ [۶] قَالَ: وَمَا تَصْنَعُ بِهِ؟ قُلْتُ: نَدْعُو بِهِ إِلَى الصَّلَاةِ. [۷] قَالَ: أَفَلَا أَدُلُّكَ عَلَى مَا هُوَ خَيْرٌ مِنْ ذَلِكَ؟ [۸] فَقُلْتُ لَهُ: بَلَى. قَالَ: فَقَالَ: تَقُولُ: اللهُ أَكْبَرُ، إِلَى آخِرِهِ، وَكَذَا الْإِقَامَةُ

ترجمه: [۱] عبدالله ابن زید بن عبدربه رضی اللہ عنہ فرمایي [۲] کوم وخت چې حضور صلی اللہ علیہ وسلم د ناقوس جوړولو حکم وکړلو [۳] چې د لمانځه په جماعت کې د خلقو د حاضرولو د پاره هغه غږولي شی [۴] نو ما خوب کې ولیدل چې یو سړي په خپل لاس کې ناقوس اخستي روان دي [۵] ما هغه سړي ته اوویل اې د الله جل جلالہ بنده ایا دا ناقوس خرخوي ؟ [۶] هغه سړي اوویل ته به په دي څه کوئ ما ورته اوویل مونږ به دا غږولو سره خلق د لمانځه د جماعت د پاره رابلو [۷] هغه اوویل ایا زه تاته د دې څخه بهتر شي در ونه ښایم ؟ [۸] ما ورته اوویل هو ضرور يې راوښایه نو هغه سړي اولویل وایه الله اکبر تر آخره پورې هغه اذان او ښودلو بیا ئې دغسې اقامت هم وښودلو.

حل اللغات: ① لِيُضْرَبَ: چه غږولي به شی.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب كيف الأذان (رقم-٤٩٩) والدارمى كتاب الصلاة /باب: فى بدء الأذان (رقم-١٢٢٤) ابن ماجة كتاب الأذان، والسنة فيه . باب بدء الأذان (رقم-٧٠٦)

Maktaba Tul Ishaat.com

۱ فَلَمَّا أَصْبَحْتُ، أَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا رَأَيْتُ. ۲ فَقَالَ: (إِنَّهَا لَرُؤْيَا حَقٌّ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ، ۳ فَقُمْ مَعَ بِلَالٍ، فَأَلْقِ عَلَيْهِ مَا رَأَيْتَ فَلْيُؤَذِّنْ بِهِ، ۴ فَإِنَّهُ أَنْدَى صَوْتًا مِنْكَ). ۵ فَقُمْتُ مَعَ بِلَالٍ، فَجَعَلْتُ أُلْقِيهِ عَلَيْهِ وَيُؤَذِّنُ بِهِ. ۶ قَالَ فَسَمِعَ بِذٰلِكَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، وَهُوَ فِي بَيْتِهِ، ۷ فَخَرَجَ يَجُرُّ رِدَاءَهُ يَقُولُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! ۸ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَقَدْ رَأَيْتُ مِثْلَ مَا أُرِيَ. ۹ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ)» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ؛ ۱۰ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرِ الْإِقَامَةَ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، لٰكِنَّهُ لَمْ يُصَرِّحْ قِصَّةَ النَّاقُوسِ.

ترجمه: ۱ کوم وخت چې سحر شو نو زه د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شوم او څه چې مې په خوب کښې لیدلي وو بیان مې کړه ۲ حضور ﷺ خوب اوریدو سره وفرمایل ان شاء الله تعالی خوب رشتیا دي (صحیح دي) ۳ اوس ته د بلال رضي الله عنه سره ودریږه هغه ته یې وروښایه اوهغه دي اذان وکړي ۴ ځکه چې هغه ستا څخه د اوچت آواز خاوند دی ۵ نو زه د بلال رضي الله عنه سره ودریدم هغه ته به مې ښودلو او هغه به اذان کولو، ۶ راوي وايي چه حضرت عمر ابن الخطاب رضي الله عنه چې په خپل کور کې د اذان آواز واوریدلو ۷ نو په تادي خپل څادر راښکلو سره د کور څخه بهر راووتلو او دي ویلو سره د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو چې یا رسول الله ﷺ ۸ قسم دي په هغه ذات چې ته ﷺ یې د حق سره رالیږلي یې ما هم داسې خوب لیدلي دي ۹ (دي اوریدو سره) حضور ﷺ وفرمایل الحمد لله ټول تعریفونه الله تعالی جل جلاله لره دي دا حدیث ابوداؤد، دارمي او ابن ماجه نقل کړي دي ۱۰ خو ابن ماجه رحمه الله د تکبیر ذکر نه دي کړي او ترمذي رحمه الله ویلي دي چې دا حدیث صحیح دي لیکن هغه د ناقوس د قصي تصریح نه ده کړي.

حل اللغات: ۲ فَأَلْقِ: أَيْ: أَمْلِ: یعنی ورته نې اوښایه. ۳ أَنْدَى صَوْتًا: أَيْ: أَرْفَعُ صَوْتًا: اوچت آواز والا. ۴ أُلْقِيهِ: أَيْ: أُلَقِّنُهُ لَهُ: ورته مې ښودل. ۵ يَجُرُّ: راښکلو ئې.

تسهيلات:

قوله: إِنَّهَا لَرُؤْيَا حَقٌّ

د عبدالله بن زید بن عبد ربه خوب ته د حق ویلو توجیهات: ۱ نبی کریم ﷺ د هغه کلماتو د قرائنو څخه معلومه کړه چې هغه القاء رحمانی وه شیطانی نه وه ، په دې وجه یې ورته حق اووئیل.

۲ نبی کریم ﷺ دوحی په ذریعه دهغه خوب د حقانیت باره کښې اطلاع ورکړې شوې وه.

۳ د مسلمانانو په دې باندې اجماع کول د حق کیدلو دلیل دې.

۴ نبی کریم ﷺ هغه الفاظ اووم آسمان کښې د معراج په شپه آوریدلی وو. درمختار کښې دی چې د معراج په شپه نبی کریم ﷺ د حضرت جبرائیل علیه السلام نه آذان آوریدلي وو. په دې وجه ئې دهغه خوب ته حق اووئیل.

۶۵۱-د مانخه د پاره بیدارول

۶۵۱-( )[۱۱] [۱] وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ -، قَالَ: [۲] «خَرَجْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ، [۳] فَكَانَ لَا يَمُرُّ بِرَجُلٍ إِلَّا نَادَاهُ بِالصَّلَاةِ، [۴] أَوْ حَرَّكَهُ بِرِجْلِهِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوبکره رضی الله عنه فرمايي [۲] چه زه د رسول الله ﷺ سره د سحر د لمانځه د پاره ووتم [۳] حضور ﷺ چې به د کوم سړي سره تیریدلو نو د لمانځه دپاره به يي هغه ته آواز ورکولو [۴] يا به ئي د هغه پښو ته حرکت ورکولو. (ابوداؤد)

تسهیلات:

قوله: نَادَاهُ بِالصَّلَاةِ:

د مانځه دپاره په لاس سره د راويښولو جواز: يعنى دَ سحردَاذان نه پس به كله دَحضورپاك تيريدل په يوسړى باندې كيدل اوهغه به اوده وو نوحضورپاك به آواز وركولو سره مانځه دَپاره پاسولو اوكله به ئى په خپل مبارك قدم سره هغه اوده سړې خوزولو.

دَدې نه معلومه شوه چه اوده شوى خلق په آواز سره هم او لاس خپه خوزولوسره هم پاسول پكاردى. نن صبا په دينى مدارس كښې الحمد لله په دې سنت باندې عمل كيږى او مقرر شوى استاذان طالبان دَ سحر اوماسپښين په وخت كښې راپاسوى.

داوده سړى د راويښولو غوره طريقه: دَ اوده شوى سړى دَ پاسولودَ تولونه ښه طريقه داده چه هغه دِ خپې دَ غتې ګوتې نه اونيسى وئى خوزه وى يادَ هغه په سر يا تندى باندې لاس كيږدى اوخوزولې شى. ناڅاپى چغه وهلوسره پاسول دَخطرې سبب دې. (توضيحات)

۶۵۲-د صبا په اذان كښې د الصلاة خيرمنَ النوْم اضافه

۶۵۲-( )[۱۲] [۱] وَعَنْ مَالِكٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - [۲] بَلَغَهُ أَنَّ الْمُؤَذِّنَ جَاءَ عُمَرَ يُؤْذِنُهُ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ، [۳] فَوَجَدَهُ نَائِمًا. فَقَالَ: اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ، [۴] فَأَمَرَهُ عُمَرُ أَنْ يَجْعَلَهَا فِي نِدَاءِ الصُّبْحِ. رَوَاهُ فِي الْمُوَطَّإِ.

ترجمه: [۱] د امام مالك رحمه الله په باره کې منقول دي [۲] چې هغه ته دا حديث رسيدلي دي چې مؤذن به حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ته راتلو او د سحر د لمانځهَ د پاره به يي خبر دارولو [۳] (يوه ورځ) مؤذن حضرت عمر رضی الله عنه اوده وليدلو نو هغه اوويل چې اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ مونځ د خوب څخه بهتر دي [۴] نو حضرت عمر رضی الله عنه مؤذن ته حكم وركړو چې دا كلمه دي د سحر په آذان كې شامله كړي، (مؤطا)

تسهیلات:

قوله: فَأَمَرَهُ عُمَرُ أَنْ يَجْعَلَهَا: يعنى حضرت عمر فاروق رضی الله عنه مؤذن ته اوفرمائيل چه دا جمله دَ

[۱] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة باب الاضطجاع بعدها (رقم-۱۲۶۴)
[۲] اخرجه مالک كتاب وقوت الصلاة . باب وقوت الصلاة رقم-۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

سحر په اذان کښې وايه.

د نبی کریم نه د الصلاة خیر من النوم د زیادت ثبوت : د حدیث د ظاهری الفاظو نه داسې معلومیږی چې حضرت عمر رضي الله عنه دا جمله د صبا په اذان کښې شامله کړې ده خو داسې نه ده بلکه وړاندې په حدیث نمبر (۶۳۵) کښې د ابومحذوره رضي الله عنه په روایت کښې واضح الفاظ موجود دی چې حضوراکرم هغه ته اوفرمائیل چه کله د سحر اذان وی نو په هغې کښې "الصلوة خیر من النوم" وايه.

د حضرت عمر په قول کښې درې احتمالات: ① شیخ عبدالحق رحمه الله اشعة المعات کښې فرمائی په دې کښې یو احتمال دې چه د حضورپاك نه پس دا کلمه د سحر په اذان کښې متروك شوې وه نوحضرت عمر رضي الله عنه ورته یاده کړه داد سحر د اذان د پاره وه اوس دا په دې کښې وايه.

② حضرت عمر رضي الله عنه د دغه مؤذن په دې جمله باندې خفګان ښکاره کړو چه دا جمله د سحر په اذان کښې ده هم هلته ئې وايه د چا د پاسولو د پاره [اشعة المعات: ۳۳۳] د اذان نه بهر په یوځائی دامه استعمالوه. د دې نه د حضرت عمر رضي الله عنه د دې سخت موقف پته لګی کوم چه هغوی د اسلام په اصول او ضوابط او قواعد او د احکامو د حفاظت اونګرانئی د پاره اختیار کړې وه.

③ حضرت عمر رضي الله عنه د تاکید او تذکیر په توګه مؤذن ته اوفرمائیل چه دا د سحر په اذان کښې لازمی لوله. (كذا في التعليق الفصيح)

بهرحال د رافضه مرفوضه او شیعه اوړ شنیعه اعتراض بې ځایه دې داکلمه پخپله حضورپاك په اذان کښې شامل کړې ده.

۶۵۳—د اذان د پاره په غوږونو کښې ګوتې ورکول

٦٥٣—(١)[١٣] ① وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَعْدِ بْنِ عَمَّارِ بْنِ سَعْدٍ، مُؤَذِّنِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ② حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِلَالًا ③ أَنْ يَجْعَلَ أُصْبُعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ وَقَالَ: (إِنَّهُ أَرْفَعُ لِصَوْتِكَ)» رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① عبدالرحمن ابن سعد ابن عمار ابن سعد مؤذن د رسول الله صلى الله عليه وسلم وايي ② ماته زما پلار سعد او هغه د خپل پلار عمار ځخه او هغه د سعد د نیکه ځخه چې د هغه نوم هم سعد وو واوریدل چې حضور صلى الله عليه وسلم حضرت بلال رضي الله عنه ته حکم ورکړي وو ③ چې هغه دې د اذان کولو په وخت خپلې دواړه ګوتې په غوږونو کې ورکوي ځکه چې په دې سره آواز ډیر بلند او اوچتیږي. (ابن ماجه)

(١) اخرجه ابن ماجة كتاب الأذان، والسنة فيه، باب السنة في الأذان (رقم-٧١٠)

تسهيلات:

قوله: أُصْبُعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ:

په غوږونو کښې د ګوتو ورکولو فائده: يعنې په دواړو غوږونو کښې دواړه ګوتې ورکولو سره اذان کوئ، په غوږونو کښې د ګوتو ورکولو حکمت پخپله په حديث کښې ذکر دې چه په دې سره د مؤذن آواز اوچت شي دَ دې وجه داده چه کله مؤذن غوږونو کښې ګوتې ورکولو سره آذان کوی نو هغه خپل اواز کم اوری په دې وجه هم هغه دَ دې نه د نور زاتولو دَپاره کوشش کوی دغه شان به يو په زوره آواز سره اذان مخې ته راځي نن صبالاؤډسپيکرې چليږی مګر علماؤ هم دغه فتوی ورکړې ده چه په غوږونو کښې ګوتې کيخودل سنت دی دې دَپاره چه دا سنت ختم نه شي

قوله "حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ أَبِيهِ،"

د حضرت سعد نه مراد: په دې حديث کښې دَحضرت سعد ﷛ نوم راغلې دې داد حضورپاك په زمانه کښې دَ مسجد قباء مؤذن وو. دَحضور پاك په وفات باندې حضرت بلال شام ته لاړو هلته ئې اوسيدل اختيار کړل نودَهغوی په ځائې حضرت سعد ﷛ په مسجد نبوی کښې تول ژوندون کښې اذان ورکولو [الكاشف ۲/۲۳۶]

[۲۳/۵] بَابُ فَضْلِ الْأَذَانِ وَإِجَابَةِ الْمُؤَذِّنِ]

اذان اودَهغې دَ جواب فضيلت

خلاصة الباب:

فيه ستة وعشرون حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① لفضيلة المؤذن : ۱، ۳، ۷، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۲۵.

② لفضيلة الأذان : ۲، ۷، ۲۱.

③ إجابة الأذان والإقامة : ۴، ۵، ۱۷، ۲۰، ۲۲، ۲۳، ۲۴.

④ الذكر بعد الأذان: ۴، ۶، ۸، ۱۶، ۲۶.

⑤ الصلوة والدعاء بين الأذان والإقامة: ۹، ۱۸، ۱۹.

⑥ عدم الأجرة على الأذان : ۱۵.

د اذان اهميت: اذان دَ دين اسلام دَ شعائرنه دې دَ الله تعالى دَ عظمت اودَ هغه دَ نوم دَ عزت اعلان دې. دَ اسلام دَ غلبې نښه ده. دَ توحيد اورسالت او پاکيزه ګواهئ اوچت عنوان دې. هم په دې وجه اذان ورکول اوجاری ساتلو لوئی فضيلت او غټ دَ ثواب کار دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې باب کښې به هغه احاديث ذکر کولې شی په کوم کښې چه دابيان وی چه اذان کول دَ دنيا او آخرت دَعظمتونو او نيك بختو دَحاصلولو ذريعه ده. چرته چه اذان په ښکاره کيږی نو دادَې خبرې نښانی ده چه اسلام ته دبدبه حاصله ده. هم دغه وجه ده چه دَ امام محمد رحمه الله قول دې چه په کومه علاقه کښې مسلمانان بالکيه اذان پريږدی نو دَهغوی خلاف دې دَوخت بادشاه دَ جهاد اعلان اوکړی.

د اذان او اقامت په افضليت کښې غوره تطبيق: راجح قول دادې چه که چرته يوسړی ته پوره يقين وی چه هغه دَ امامت ټول حقوق په ښه شان سره سرته رسولې شی نو دَهغه دَپاره امامت کول غوره دی او کوم سړې چه دَامامت فرائض په ځائی راوړلو نه عاجزوی نو دَهغه دَپاره اذان ورکول غوره دی.

د نبی کريم ﷺ نه د اذان کولو عدم ثبوت: اوس پاتې شو دا سوال چه نبی کريم ﷺ په خپل ژوند کښې چرته اذان کړې دې که نه؟ نو راجح قول دادې چه حضورپاك دَ اذان دعوت ورکړې دې او فضيلت ئی هم بيان کړې دې ليکن حضورپاك پخپله اذان نه دې کړې اوامامت ئی هميشه پخپله کړې دې.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

٦٥٤–د مؤذن مرتبه

٦٥٣ – ()[۱] ① عَنْ مُعَاوِيَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ -، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ② «الْمُؤَذِّنُونَ أَطْوَلُ النَّاسِ أَعْنَاقًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت معاويه رضی الله عنه وايي چه ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي ② چې د قيامت په ورځ به خلقو کې د ټولو څخه زيات د لوړي (دنګي) غاړي والا مؤذن وي. (مسلم)

حل اللغات: ① أَطْوَلُ أَعْنَاقًا: يعنی په ټولوخلقوکښې به دَاذان کونکو ستونه دَ قيامت په ورځ اوچت وی.

تسهيلات:

قوله: أَطْوَلُ النَّاسِ أَعْنَاقًا: دَدې مختلف مطلبونه بيان کړې شوی دی.

د مذکوره جملې په مفهوم کښې څلور اقوال: ① ابن عربی رحمه الله فرمائی دې نه مراد دادې چه داخلق به دَ زيات اعمال او زيات ثواب والاوی.

② دَ قيامت په ورځ به اذان کونکوته لوئی شان حاصل وی دَ اذان په برکت به هغوی لوئی

[۱] اخرجه مسلم كتاب الصلاة. باب فضل الأذان وهرب الشيطان عند سماعه (رقم) ١٤ - (٣٨٧) وابن ماجة كتاب الأذان، والسنة فيه. باب فضل الأذان، وثواب المؤذنين (رقم-٧٢٥)

اعزاز حاصل وی ستونه به ئې اوچت وی جمله هم دَدې اعزازنه کنایه ده خکه چه عزت دار خلق سټ اوچت ساتی.

③ قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه لفظ اعناق دَ عنق جمع نه ده کوم چه دَ سټ په معنی کښې دې بلکه دا اعناق دَباب افعال مصدر دې چه دَ تیز تللو په معنی کښې دې یعنی داخلق به تیزتیز دَ جنت طرف ته په منډه ورځی ږومبې معنی زیاته جامع او واضح ده.

④ دَدې نه مراد دادې چه اذان کونکی به دَ قیامت په ورځ سرداران وی خکه چه په دنیا کښې دَ سردارانو ستونه اوچت وی.

۶۵۵–د اذان څخه د شیطان تښتیدل

۶۵۵–(۲)[۲] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ «إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ أَدْبَرَ الشَّيْطَانُ ٣ لَهُ ضُرَاطٌ حَتَّى لَا يَسْمَعَ التَّأْذِينَ ٤ فَإِذَا قَضَى النِّدَاءَ أَقْبَلَ، ٥ حَتَّى إِذَا ثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ أَدْبَرَ، حَتَّى إِذَا قَضَى التَّثْوِيبَ أَقْبَلَ ٦ حَتَّى يَخْطِرَ بَيْنَ الْمَرْءِ وَنَفْسِهِ ؛ ٧ يَقُولُ: اذْكُرْ كَذَا، اذْكُرْ كَذَا، لِمَا لَمْ يَكُنْ يَذْكُرُ، ٨ حَتَّى يَظَلَّ الرَّجُلُ لَا يَدْرِي كَمْ صَلَّى؟»». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ٢ هر کله چې د لمانځه د پاره اذان کیږي نو شیطان شا کړي ٣ گوزونه (تیزونه) اچولو سره تښتي چې اذان وانه وري ٤ کله چې اذان ختم شی نو واپس راشي ٥ او کوم وخت چې تکبیر وئیلې کیږی نو بیا په شا تښتي چې تکبیر ختم شی نو بیا راوګرځي ٦ چې انسان او د هغه د زړه په مینځ کې وسوسې پیدا کړي ٧ (نو مونځ ګزار ته) وايي چې فلانې شي یاد کړه فلانې خبره یاده کړه ٨ (د غسي د لمانځه شروع کولو څخه مخکې د مال او اولاد حساب وکتاب او خرید وفروخت په سلسله کې) چې کومې خبرې مونځ ګزار ته یادې نه وې هغه ورته رایادوي تر دې چې مونځ ګزار ته بیا دا هم یاد نه پاتې کیږي چې هغه څو رکعاته کړي دي، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① أَدْبَرَ: شا کړی یعنی تختی، ② ضُرَاطٌ: وَهُوَ رِيحٌ مِنْ أَسْفَلِ الْإِنْسَانِ وَغَيْرِهِ: "ضراط وضريط" تیزونو اچولوته وائی. ③ النِّدَاءَ: أَيِ الْأَذَانَ: نداء آواز ته وائی دلته ترې اذان مراد دې. ④ ثُوِّبَ: مِنَ التَّثْوِيبِ: وَهُوَ الْإِعْلَامُ مَرَّةً بَعْدَ أُخْرَى وَالْمُرَادُ بِهِ الْإِقَامَةُ: یوځل نه پس بیا اعلان کول خو دلته ترې دمونځ دپاره تکبیر مراد دي. ⑤ يَخْطِرَ: أَيْ يَحُولَ: حائل کیږی یعنی وسوسې اچوی. ⑥ حَتَّى يَظَلَّ: أَيْ: كَيْ يَصِيرَ: تردې چه شی، چه اوګرځی.

(۱) اخرجه البخاری کتاب الاذان باب فضل التأذین (رقم–۶۰۸) ومسلم کتاب الصلاة ، باب فضل الأذان وهرب الشیطان عند سماعه (رقم) ۱۹ – (۳۸۹) والنسائی کتاب الأذان ،فضل التأذین رقم(۶۷۰) ومالک کتاب الصلاة باب ما جاء فی النداء للصلاة (رقم–۶) وابوداود کتاب الصلاة،باب رفع الصوت بالأذان (رقم–۵۱۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات:

قوله: "لَهُ ضُرَاطٌ"

د ضراط په مفهوم کښې اقوال: ① علامه طیبی رحمه الله فرمائی دې نه مراد ادې چه کله اذان شروع کیږی نوشیطان دَ اذان دَ آواز نه خپل ځان لرې ساتلو ساتی اودَهغې نه دَ غافل جوړیدو کوشش کوی. [الکاشف: ٢٢٨/٢]

دَ شیطان دَدې غفلت تشبیه ئې یوداسې آواز سره ورکړې شوې ده په کوم سره چه غوږونه ډکیږی اودَ هغه آواز نه بغیر هیڅ هم نه اوری. بیا دَنورو سپکاوی دَپاره هم دغه آواز ضراط سره یاد کړې شو لکه چه دا یو تشبیهی کلام دې. بهرحال په احادیثو کښې صریح الفاظ دَ تیزونواچولوراغلې دې نودا کلام په تشبیه او مجازباندې حمل کول لرې خبره ده. ځکه چه حقیقی مراد اخستلو کښې هیڅ عذر نشته دې او شیطان دومره عزت والاهم نه دې چه مونږ دَهغه طرف ته دَ تیزونو اچولو نسبت اونه کړو.

② قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه دا کلام حقیقت دې ځکه چه شیطان هم بدن لری خوری ځکی او تیزونه اچوی. یعنی دَ آذان آوازپه شیطان باندې داسې درونډ وی لکه چه په خرباندې زیات وزن او سامان بارکړې شی نو خرتیزونه اچوی دغه شان شیطان هم په حقیقت کښې تیزونه اچوی اولګئی ځان کښې ورکولوسره تختی. اوداحتمال هم دې چه دې نه مراد دَسخت نفرت اظهارکول وی چه شیطان آواز اوریدوسره په سخت نفرت سره تختی.

اشکال: شیطان دَ تلاوت نه نه تختی دَمونځ نه نه تختی په مانځه کښې دننه شهادتین نه نه تختی، آخرڅه وجه ده چه هغه صرف دَ اذان نه تختی؟

داشکال دوه جوابونه: ① په دې حدیث کښې دَ اذان فضیلت په مونځ باندې جزئی ذکردې په کوم سره چه دَ مونځ کلی فضیلت نه متاثرکیږی. بعضې علماؤ دا فرمائیلی دی چه مؤذن داعی الی الخیر دې او شیطان داعی الی الشر دې. داعی الی الشر دَ داعی الی الخیر دَ اذن نه سوزیدوسره تختی.

② اذان دَ شعائرالله نه دې اوچرته چه اذن په ښکاره سره په مینارو باندې وئیلې کیږی هلته اسلام ته غلبه حاصله وی. شیطان دَ اسلام دا شان اوشوکت اوعظمت اودَدې اوچتوالې او عزت نه شی برداشت کولې په دې وجه تیزونه اچولوسره تختی. معلومه شوه چه دَ جهاد او آزادئی په زمکه باندې اذان کول اودَ غلبه قدرت طاقت عظمت او په سوری کښې دَ اذان کولو شان څه بل رنګه وی او مغلوبیت او مظلومیت او مقهوریت اومسکنت په حالت کښې دَ اذان حیثیت بل شان وی.

٦٥٦- د مؤذن دپاره د هر شي ګواهي ورکول

٦٥٦-(١)[٣] ١ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ «لَا يَسْمَعُ مَدَى صَوْتِ الْمُؤَذِّنِ جِنٌّ وَلَا إِنْسٌ وَلَا شَيْءٌ ٣ إِلَّا شَهِدَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ ابو سعيد خدري رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ د مؤذن انتهايي اواز چې څوك هم اوري که هغه انسان وي که پيرې او که نور څه ٣ هغه ټول به د قيامت په ورځ د مؤذن د (ايمان) ګواهي ورکوي. (بخاري)

حل اللغات: ① مَدَى: أَيْ: غَايَتُهُ وَهُوَ صَوْتٌ مُجَرَّدٌ مِنْ غَيْرِ فَهْمٍ كَلِمَاتِ الْأَذَانِ: مدى مسافت اوفاصلې او بُعد اوانتهاء په معنى كښې دې. يعنى هغه آواز چه آوريدلې كيږى خو د اذان كلمات ئې په پوهه كښې نه راځى.

تسهيلات:

قوله: "مَدَى صَوْتِ الْمُؤَذِّنِ"

په اذان كښې د آواز اوچتولو ترغيب: دې حديث كښې مؤذنينوته دا ترغيب وركړې شوې دې چه دَ چا آواز څومره اوچتيدې شى هغه لـه پكاردى چه دَ آخرى درجې پورې دَ آواز اوچتولو كوشش دې كوى. هم دغه وجه ده چه اذان كونكې په غوږونوكښې ګوتې وركولو سره اذان كوى چه آواز ئې اوچت شى اوهغه ته دَ زيات نه زيات ثواب ملاوشى اوهم دغه وجه ده چه اذان دَجمات نه بهر چرته په اوچته مناره باندې كيږى.

[اشعة المعات: ۳۳۵ والكاشف: ۲۳۹]

٦٥٧- د اذان جواب ورکول

٦٥٧-(٢)[٤] ١ وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ «إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ، ٣ ثُمَّ صَلُّوا عَلَيَّ؛ فَإِنَّهُ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً، صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا، ٤ ثُمَّ سَلُوا اللَّهَ لِيَ الْوَسِيلَةَ؛ ٥ فَإِنَّهَا مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ لَا تَنْبَغِي إِلَّا لِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِ اللَّهِ، ٦ وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا هُوَ، ٧ فَمَنْ سَأَلَ لِيَ الْوَسِيلَةَ حَلَّتْ عَلَيْهِ الشَّفَاعَةُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ عبدالله ابن عمرو ابن عاص رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ هر كله چې تاسو د مؤذن آواز واورئ نو د هغه په جواب كې د هغه الفاظ وائي ٣ بيا د اذان

(١) اخرجه البخارى كتاب الاذان باب رفع الصوت بالنداء (۶۰۹قم-۶۰۹) والنسائى كتاب الأذان .رفع الصوت بالأذان (رقم-۶۴۴) وابن ماجة كتاب الأذان. والسنة فيه . باب فضل الأذان. وثواب المؤذنين (رقم-۷۲۳) ومالک كتاب الصلاة باب ما جاء فى النداء للصلاة (رقم-۴)

(٢) اخرجه مسلم كتاب الصلاة .باب القول مثل قول المؤذن لمن سمعه. ثم يصلى على النبى صلى الله عليه وسلم ثم يسأل له الوسيلة (رقم) ۱۱ - (۳۸۴) وابوداود كتاب الصلاة.باب ما يقول إذا سمع المؤذن (رقم-۵۲۳) والترمذى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم ۳۶۱۴) والنسائى كتاب الأذان .الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم بعد الأذان (۶۷۸قم-۶۷۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه وروسته په ما باندې درود ولیږئ څکه چې کوم سړي په ما باندې یو ځل درود ولیږي نو د هغې په بدله کې الله جَلَّ جَلَالُهُ په هغه لس ځله رحمت نازلوي [۴] بیا په ما درود لیږلو سره زما د پاره الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه دوسیلې دعا کوئ[۵] وسیله د جنت یوه اعلی درجه ده چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په بنده ګانو کې به صرف یو بنده ته حاصلیږي[۶] او زه امید لرم چې هغه خاص بنده به زه یم [۷] نو کوم سړي چې زما د پاره د وسیلې دعا کوي د قیامت په ورځ به د هغه سفارش په ما ضروري وي، (مسلم)

حل اللغات: ① سَلُوا: د سَأَلَ يَسْأَلُ نه د امر صیغه ده، سوال کول، دعا کول یعنی د الله نه اوغواړئ. ② الْوَسِيلَةَ: ددې جمع وَسَائِلِ راځی، هِيَ مَا يُتَوَسَّلُ بِهِ إِلَى الشَّيْءِ وَيُتَقَرَّبُ بِهِ إِلَيْهِ: هرهغه څیز چه په هغې سره الله ته نزدیکت حاصلولې شی.

تسهیلات:

قوله: فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ: یعنی چه څنګه الفاظ مؤذن اداکوی تاسو هم په هغه شان الفاظوسره جواب ورکوئی.

د مؤذن د اجابت دوه قسمونه: ① اجابت مؤذن دوه قسمه دې یواجابت فعلی دې هغه دا چه دَ مؤذن په راغوښتو سره جمات ته لاړشی.

② دویم اجابت قولی دې چه په ژبه سره جواب ورکړی.

د اجابت اذان په حکم کښې مذاهب:

① اهل ظواهر اوبعض احناف اوبعض مالکیه دَدې قائل دی چه هم دَمؤذن دَالفاظو په شان الفاظوسره جواب ورکول واجب دی.

② امام شافعی رَحِمَهُ اللهُ اوامام احمد رَحِمَهُ اللهُ او اکثراحناف دَدې قائل دی چه اجابت قولی مستحب دې واجب نه دې.

داول فریق دلیل: د اول فریق مستدل زیربحث حدیث دې په دې کښې دَامر صیغه ده کومه چه دَ وجوب دَپاره راځی لهذا اجابت قولی واجب دې.

داول فریق د دلیل جواب: امر صیغه په استحباب باندې محمول دې.

د دویم فریق دلیل: دَحضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت د دوی مستدل دې په هغې کښې دی چه حضورپاك دَ یومؤذن اذان واؤریدو نو حضورپاك اوفرمائیل "عَلَى الْفِطْرَةِ" په دې کښې حضورپاك دَ مؤذن دَ الفاظودَ جواب په ځائې په نورو الفاظوسره جواب ورکړې دې معلومه شوه چه واجب نه دی.

د اذان په جوابی کلماتو کښې مذاهب:

① امام شافعی رَحِمَهُ اللهُ اواهل ظواهر فرمائی پوره اذان دَ مؤذن دَ کلماتو په شان جواب کښې

سردوباره کول پکاردی تردې چه دَ حیعلتین په جواب کښې هم هغه کلمات وئیل پکاردی.

② دَا ئمه احناف او حنابله په نیز "حی علی الصلوة، حی علی الفلاح" په جواب کښې حوقله یعنی لاحوله ولاقوة الابالله وئیل پکاردی.

داول فریق دلیل: زیربحث حدیث د دوی مستدل دې. په دې حدیث کښې دَ یولفظ استثناء نشته دې بلکه ټول الفاظ هم هغه شان جواب کښې دَ اداکولوحکم ورکړې شوې دې څنګه چه مؤذن وئیلی دی.

داول فریق د دلیل جواب: دا روایت مجمل دې او احنافو چه دکومو روایتونو نه استدلال کړې دې هغه مفسردی اودَ مجمل اومفسر په تعارض کښې مفسرته ترجیح ورکولې شی بلکه په حقیقت کښې په دې دواړو کښې تعارض کیدې نه شی صرف دَ اجمال اوتفصیل فرق کیږی. اوس دا هم اوګورئی چه دَ اذان دکلمات په جواب کښې چرته چه دَ مؤذن اوسامع په الفاظ کښې فرق راځی هغه دَ حیعلتین الفاظ دی ددې په جواب کښې اوریدونکی "لاحول ولاقوة الابالله" وئیلوسره دَ خپلې عاجزئی اوبې بسئی اظهارکوی اودَالله تعالی نه دَ امداد اونصرت درخواست کوی

د دویم فریق دلائل: ① دَ مشکاة حدیث نمبر(۶۵۸) د دوی مستدل دې په دې کښې حضورپاك دَ "حی علی الصلوة" په جواب کښې "لاحول ولاقوة الابالله" لوستلی دی دغه شان دَحضرت معاویه ﷺ روایت په بخاری کښې دې هغی کښې لاحول ولاقوة الابالله ذکرموجوددې.

② یوعقلی دلیل هم د دوی مستدل دې چه کله مؤذن دَمانځه طرف ته یا دکامیابئی طرف ته خلق رابلی اوخلق هم مؤذن په جواب کښې مونځ اوکامیابئی طرف ته رابلی نودا واضحه توقې اومسخرې دی کوم چه په شریعت کښې جائزنه دی.

دالصلاة خیر من النوم جواب: اودَ سحر په اذان کښې چه کله مؤذن "الصلوة خیرمن النوم" اووائی نو اوریدونکې "صدقت وبررت وبالحق نطقت" سره جواب ورکولوسره دې دَ مؤذن دَ دعوی تصدیق اوکړی اودَهغه ذات او دَهغه دکلمات تعریف اوتوصیف دې اوکړی

قوله: الْوَسِيلَةَ:

د وسیله تعریف: دالفظ اردو فارسی او پښتو کښې یوشان په وسیله او ذریعه باندې وئیلې شی یعنی یو مطلوب ته دَ رسیدودَپاره چه کومې ذرائع استعمالیږی هم هغه وسیله.

د وسیلې لغوی تحقیق: په قاموس کښې لیکلی دی چه وسیله او واسله، بادشاه سره ډیر اوچت مقام اودَ اوچتو درجوحاصلولونوم دې. کله چه سړی ته دَ قرب اومنزلت دامقام ملاؤ شی نوده ته وسیله حاصله شوه اودَ دغه درجې دَ رسیدلوپورې نیك اعمال او دَ اوچتو

Maktaba Tul Ishaat.com

کارنامو ضرورت پیښیږي په دې وجه وسیله په خو اعمالو باندې هم یادولې شي.

په حدیث کښې د وسیله په مفهوم کښې درې اقوال:

① په دې حدیث کښې د وسیله مطلب پخپله حضورپاك بیان فرمائیلې دې چه دا یوځائی او د یومقام نوم دې کوم چه په جنت کښې دې.

② شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې لیکلی دی چه په دې حدیث کښې د کومې وسیله ذکر دې د هغې نه د الله تعالی قرب مراد دې. دلته چه دا کوم فرمائیلې شوی دی چه دا په جنت کښې د یومقام نوم دې د دې مطلب هم دغه قرب دې ځکه چه جنت هم د قرب الهی مقام دې او وسیله هم مقام قرب دې. [اشعة المعات: ۳۳۵.

③ دلته په حدیث کښې د جنت نه وړاندې په میدان محشر کښې د شفاعت کبری د پاره کله حضورپاك مقام قرب ته ځی نوهم دغې ته وسیله وئیلې شوې ده او دغه مقام ته مقام محمود وائی د کوم تذکره چه په قرآن کریم کښې موجود ده. د وسیله دا مفهوم د دې حدیث د پاره د ټولونه زیات موزون دې.

قوله: وَأَرْجُو:

د ارجو وئیلو وجه: د دغه درجې او مقام محمود او وسیله د دې اعلی او ارفع مقام د پاره حضورپاك متعین دې بیا هم حضورپاك د تواضع او انکسارئی په توګه "أرجو" امیدلرم الفاظ فرمائیلی دی. بعض شارحینو "أرجوا" د "اتیقن" په معنی کښې اخستې دې زما یقین دې چه دا درجه به ماته ملاویږي.

۶۵۸ — د اذان د جواب ورکولو طریقه

۶۵۸ — ( ) [۵] [۱] وَعَنْ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «إِذَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، فَقَالَ أَحَدُكُمْ: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، [۳] ثُمَّ قَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، قَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ. [۴] ثُمَّ قَالَ: أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، قَالَ: أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ،

ترجمه: [۱] او حضرت عمر رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] هر کله چې مؤذن الله اکبر الله اکبر اووائي نو په تاسو کې هم هر سړي الله اکبر الله اکبر او وايي [۳] بیا چې مؤذن اشهد ان لااله الاالله اووائي نو په تاسو کې دي هر سړي اشهدان لااله الاالله اووائي [۴] بیا چې مؤذن اشهد ان محمدا رسول الله اووائي نو په تاسو کې هم هر سړي اشهد ان محمدا رسول الله اووائي

[۱] ثُمَّ قَالَ: حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ. [۲] ثُمَّ قَالَ: حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ. [۳] ثُمَّ قَالَ: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، قَالَ: اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ [۴] ثُمَّ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ [۵]

(۱) اخرجه مسلم كتاب الصلاة ، باب القول مثل قول المؤذن لمن سمعه، ثم يصلي على النبي صلى الله عليه وسلم ثم يسأل له الوسيلة (رقم) ۱۱ - (۳۸۵) وابوداود كتاب الصلاة،باب ما يقول إذا سمع المؤذن (رقم-۵۲۷)

مِنْ قَلْبِهِ، دَخَلَ الْجَنَّةَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: [۱] بيا چې مؤذن حي علي الصلوٰة اووائي نو په تاسو کې هم هر سړي لاحول ولاقوة الا بالله اووائي [۲] بيا چې مؤذن حي علي الفلاح اووائي نو په تاسو کې دې هر سړي لاحول ولاقوة الا بالله اووائي [۳] بيا چې مؤذن الله اکبر الله اکبر اووائي نو په تاسو کې هر سړي الله اکبر الله اووائي [۴] بيا چې مؤذن لا اله الا الله اووائي نو په تاسو کې هر سړي لا اله الا الله اووائي [۵] (چا چې د اذان په جواب کښې دا کلمات) د زړه په صدق سره اووئيل نو هغه به جنت کې داخليږي. (مسلم)

تسهيلات:

قوله: اللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ:

په اذان کښې د تکبيراتو تعداد دوه ذکر کولو وجه: دلته تکبير دوه خل وئيلي شوې دي دا د مکمل اذان حکايت نه دې اختصار سره دَاذان د يو څو کلماتو ذکر دې کوم چه دَ اذان دَ باقي کلماتو طرف ته اشاره ده. ګنې تکبيرات خو څلور خل دی.

قوله: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ.

د مذکوره جملې معنی: يعنی د ګناه نه بچ کيدو صرف دالله به مدد او قدرت سره کيږي. او د الله تعالی تابعداری صرف د هغه په مدد او توفيق سره کيږی.

قوله: مِنْ قَلْبِهِ:

د مذکوره کلماتو په وئيلو جنت ته داخليدل: يعنی په صدق او پوخ ايمان سره دا کلمات اووائی نو هغه به خامخا جنت ته ځی که دَهغه ګناهونه موجودوی او الله تعالی معاف کړې هم نه وی نودَ سزا تيرولو نه پس دخول ثانوی په صورت کښې به جنت ته ځی او که چرې دَهغه ګناه نه وی يا الله تعالی معاف کړې وی نو دخول اولی کښې به جنت ته ځی.

۶۵۹—د اذان نه وروسته دعا

۶۵۹—( )[۲] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ: [۳] اللّٰهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ، [۴] آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ، [۵] وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ- [۶] حَلَّتْ لَهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې د اذان اوريدو سره (يعني د اذان ختميدو او د هغې د جواب ورکولو څخه وروسته) دا دعا

(۱) بخاری کتاب الاذان باب الدعاء عند النداء (رقم-۶۱۴) وابوداود کتاب الصلوة باب ما جاء فی الدعاء عند الأذان (رقم-۵۲۹) والنسائی کتاب الأذان ،الدعاء عند الأذان (رقم-۶۸۰) وابن ماجة کتاب الأذان، والسنة فيه . باب ما يقال إذا أذن المؤذن (رقم-۷۲۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

وكړه③ دعا دا ده اللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ، اي الله مالك د دې كامل دعا (اذان) او پروردګار د دې كيدونكي مونځ④ زمونږ سردار محمد رسول الله ﷺ ته وسيله (د جنت د ټولو څخه خاص او اعلې درجه) او بزرګي ور كړې⑤ او هغه ﷺ مقام محمود ته ورسوي چې د هغې ورسره تا وعده كړې ده،⑥ نو د قيامت په ورځ د هغه شفاعت په ما لازم دي، (بخاري)

حل اللغات: ① النِّدَاءَ: أي الأَذَانَ: نداء آواز ته وائي دلته ترې اذان مراد دې. ② الدَّعْوَةِ: اذان ته دعوت اوونيلې شو ځكه چه دا په توحيد باندې مشتمل دې اودَ عبادت طرف ته دعوت هم دې. ③ التَّامَّةِ: أي: الكَامِلَةِ الفَاضِلَةِ: يعنى كامل اوفضيلت والا ځكه چه دا دالله تعالى ذكردې چه په دې سره خلق دهغه عبادت طرف ته رابللې شي. ④ القَائِمَةِ: أي: الدَّائِمَةِ: هميشه (چه نه پكښې څه تبديلي راځي او نه نسخ او ترقيامته پورې به قائم وي). ⑤ آتِ: أي: أَعْطِ: وركړه، ⑥ الوَسِيلَةَ: أي: المَنْزِلَةَ الرَّفِيعَةَ: لويه مرتبه، ⑦ الفَضِيلَةَ: أي: الزِّيَادَةَ: ډير زيات بې انتها، ⑧ وَابْعَثْهُ: أي: أَرْسِلْهُ، وَأَوْصِلْهُ: اوئې ليږه، اوئې رسوه، ⑨ مَقَامًا مَحْمُودًا: أي: مَقَامَ الشَّفَاعَةِ: هغه لوئې مقام چه صفت ئې شوې دې يعنى مقام دشفاعت كبرى.

تسهيلات:

قوله: "اللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ،"

د دعوت تامه نه مراد: شيخ عبد الحق رحمه الله لمعات كښې ليكى چه دَدې دعوت نه مراد دَ توحيد كلمات دى لكه دَ قرآن پاك آيت ﴿لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ﴾ كښې دعوت نه توحيد مراد دې. دې سره دَ "التامة" لفظ لګولوسره اشاره اوكړې شوه چه دَ توحيد كلمه كامل مكمل او دَ بدلون او تنسيخ قابله نه ده. بيا دغه كمال سره "محمد رسول الله" كلمه يوځائې كولوسره په توحيد او رسالت كښې اوچت كمال پيدا شو هم دغه مجموعه دَ دعوة تامة په نوم سره ياد كړې شو. [اشعة المعات: ۳۳۶]

قوله: "وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ"

د مذكوره جملې نه مراد: په دې جمله سره دَ مانځه طرف ته اشاره ده دكوم طرف ته چه دعوت وركولې شي الله تعالى په قرآن كريم كښې دَ مانځه دَپاره ﴿ وَيُقِيمُونَ الصَّلٰوةَ ﴾ الفاظوسره بار بار ارشاد كړې دې اودَ اقامة الصلوة طرفته په دې كلماتوسره اشاره كړې شوې ده.

قوله: "وَالْفَضِيلَةَ،"

دفضيلت په مفهوم كښې دوه اقوال: ① ممكن ده چه دَدې فضيلت نه هم دغه وسيله مراد وى ② ممكن ده په ټول كائنات باندې دَ حضورپاك دَ پاره دَ فضيلت دعا وى

د درجه رفيعه عدم صحت: دلته بعضې خلق "والدرجة الرفيعة" الفاظ زياتوى مګر دغه په

مستند طریقو سره ثابت نه دی په دې وجه دا نه دی ونیل پکار.

قوله: "مَقَامًا مَحْمُودًا"

د مقام محمود نه مراد: دَمقام محمودنه دَ شفاعت کبریٰ هغه مقام مراد دې چرته چه به حضورپاك دَالله تعالی په وړاندې په سجده کیدوسره په عجیبه او حیرانونکی محامدسره دَ الله تعالی تعریف کوی. بیا به الله تعالی اوفرمائی "ارفع رأسك یا محمد سل تعط" رسول الله ﷺ به اوفرمائی چه اې الله حساب کتاب شروع کړه بیابه حساب کتاب شروع شی.

قوله: "حَلَّتْ"

د شفاعت وجوب: بعضې روایاتو کښې دَ وجبت لفظ راغلې دې یعنی دَ دغه سړی دَپاره به زما شفاعت واجب شی. دَ حلت معنی دَ حلال کیدو ده اودَمستحق کیدو ده. "شفاعتی" په قیامت کښې به دَ شفاعت ډیر اوچت مقام وی اوهلته به دَدې دَ قیمت پته لګی. ۱

د شفاعت د اهمیت مثال: یوسړې په یوخانی کښې هیڅ هم نه پیژنی چه څه اوکړی. حیران ولاړدې دَاعمالودَ ضائع کیدو خطره هم ده څوك واقف هم نشته. په انتظارکښې په سخته ګرمئی کښې پریشان ولاړدې چه ناڅاپی یوسړې راځی اودَ قطار نه هغه بهر راویستو سره دَ لاس نه نیسی او جنت طرف ته ئی بوځی او وائی چه دَ محمد عربی ﷺ سړې دې. دَدغه سړی دَپاره دغه وخت کښې دَ شفاعت او سفارش نه زیات بل هیڅ خیزنه شی کیدې لکه دَ بین الاقوامی پرواز په وخت سړې دَ امیګریشن سستیم لاندې خپل کاغذات چیك کولودَپاره پریشان ولاړ وی هرقسم خطرو سره مخ دې چه ناڅاپی دَ انیرپورټ لونی مشر راځی. اودې وینا کولوسره هغه بوځی چه دا زما سړې دې دغه شان هغه مجبوره سړې دَهرقسم مصیبتونونه بهرشی. "اللهم ارزقنا شفاعة نبیك بجاه حبیبك محمد ﷺ" په مختلفو احادیثو کښې دَ اذان نه پس نورو دعاګانو ویلو هم ذکر دې. په راتلونکواحادیثو کښې دَ یوځو دعاګانو بیان راځی.(ماخوذ از توضیحات) (؟)جاری

٦٦٠- په یو قوم باندې د حملې کولو نه وړاندې د اذان انتظار

٦٦٠-()[۷] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ۲ «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُغِيرُ إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ، ۳ وَكَانَ يَسْتَمِعُ الْأَذَانَ، فَإِنْ سَمِعَ أَذَانًا أَمْسَكَ، وَإِلَّا أَغَارَ; ۴ فَسَمِعَ رَجُلًا يَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ. ۵ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (عَلَى الْفِطْرَةِ). ٦ ثُمَّ قَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ۷ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (خَرَجْتَ مِنَ النَّارِ). ۸ فَنَظَرُوا إِلَيْهِ فَإِذَا هُوَ رَاعِي مِعْزًى». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

---

(۱) اخرجه مسلم کتاب الصلاة . باب الإمساك عن الإغارة علی قوم فی دار الکفر. إذا سمع فیهم الأذان (رقم) ۹ - (۳۸۲) وابوداود کتاب الجهاد اب فی دعاء المشرکین (رقم-۲٦۳٤) والترمذی کتاب السیر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی وصیته صلی الله علیه وسلم فی القتال (رقم-۱٦۱۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [۱] حضرت انس رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ (چې به کله لښکر سره سره يو ځاي ته ورتلي نو) سحر (فجر) کيدو باندې به يي (په د شمن) حمله کوله [۳] او (په فجر کيدو باندې به يي) د اذان انتظار کولو د هغه ابادي ځخه (چې په هغه به د حملي اراده وه) که د اذان اواز به راغي نو حضور ﷺ به د حملي کولو ځخه منع شو او که داذان آوازبه رانغلي نو حمله به يي پرې کوله [۴] يو ځل چې حضور ﷺ په دښمن د حملي کولو د پاره روان وو نو په يو مقام باندې حضور ﷺ د يو سړي ځخه الله اکبر الله اکبر ويل واوريدل [۵] حضور ﷺ وفرمايل دا سړي د اسلام (په طريقه) دي (ځکه چې اذان خو مسلمان کوي) [۶] بيا هغه سړي اوويل اشهد ان لا اله الا الله (زه ګواهي ورکوم چې د الله جل جلاله ځخه سوا بل معبود نشته) [۷] حضور ﷺ په دي اوريدو سره وفرمايل چې ته د شرك ځخه منع کيدو سره د دوزخ ځخه ووتلي [۸] صحابه و رضي الله عنهم (ځلور طرفو ته په کتلو سره معلومات اوکړل چې اذان کونکي ځوك دي نو) وي ليدل چې هغه يو بزي (چيلۍ) څرونکي سړي دي. (مسلم)

حل اللغات: ① يُغِيرُ: مِنَ الْإِغَارَةِ: حمله کولو ته وائي. ② أَمْسَكَ: أَيْ: عَنِ الْإِغَارَةِ وَتَرَكَهَا: منع به شو دحملې کولونه. ③ الْفِطْرَةِ: أَيْ: أَنْتَ أَوْهُوَ عَلَى الدِّينِ أَوِالسُّنَّةِ أَوِالْإِسْلَامِ: يعنى چه اذان کونکې ددين اود اسلام په طريقه باندې دي (ځکه چه اذان د مسلمانانو نښه ده. ④ رَاعِي: شپونکې، څرونکې، ⑤ مِعْزًى: دا اسم جنس دې چيلوته وائي.

تسهيلات:

قوله: يُغِيرُإِذَاطَلَعَ الْفَجْرُ:

په دشمن باندې د حملې کولو مسنون طريقه: دَ حضوراکرم ﷺ عادت شريف ووچه کله به نی دَ دښمن خلاف کاروائی کوله نودَ سحر دَ راختلو په وخت کښې به نی کوله دادَ دښمن دَ غفلت وخت دې اودَمسلمان مجاهد دَ چستئی وخت دې بيا په دې وخت کښې حمله کولو کښې دَ رسول الله ﷺ مخې ته به دا حکمت هم ووچه په کوم کلی باندې حمله کيدونکې ده آيا په هغې کښې مسلمانان هم دی که ټول په ټول کافردی که چرته دَ يومسلمان اندازه په کيدله نو بيابه نی کاروائی په احتياط سره کوله يابه ئی بندوله ګنی دَ احتياط ضرورت به نه وو. هم دَدې مقصددَپاره حضورپاك دَ سحر دَ اذان انتظاركولو، په دې حديث کښې هم دَدې ذکردې. اسلامی لښکرته دلته هم دغه تعليم ورکړې شوې دې مګرعامو مسلمانانوته هم وئيلی شوی دی چه هغوی دې په دارالحرب کښې اوستوګنه نه وی ګنی که دَ اسلامی لښکر په مقابله کښې راغلل نو وينه به ئی بې ځايه توئی شی [اشعة المعات: ۳۳۷]

اذان د شعائرالله په فهرس کښې: دَدې حديث نه معلومه شوه چه اذان شعائراسلام نه دې ځکه چه حضور پاك اذان کيدوته دَ اسلام علامت او اذان نه کيدو ته دَ کفرعلامت فرمائيلې دې. هم دغه وجه ده چه دَ فقه په جزئيات کښې دا جزئيه موجود ده که دَ

مسلمانانو څه خلق په یوعلاقه کښې اذان ورکول پرېږدی نو دَوخت په حکومت باندې فرض دی چه دَهغوی خلاف دَ جهاد اعلان اوکړی ځکه چه اذان دَ شعائراسلام نه دې دا جداخبره ده چه اذان سنت دې.

٦٦١-د اذان نه پس مسنون دعا

٦٦١-()[٨] [١] (وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] (مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ الْمُؤَذِّنَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، [٣] وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، [٤] رَضِيتُ بِاللَّهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا - غُفِرَ لَهُ ذَنْبُهُ»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] کوم سړي چې د مؤذن اذان اوریدوسره دا اووائي أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ رَضِيتُ بِاللَّهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، (زه ګواهي ورکوم چې د الله جل جلاله څخه سوا بل معبود نشته او نه د هغه څوك شريك شته [٣] او ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د الله بنده او د هغه رسول دي [٤] او زه د الله تعالی جل جلاله په رب کيدو، د محمد ﷺ په رسول کيدو او د اسلام په دين کيدو باندې راضي يم) نو د هغه (صغيره) ګناه بخښلي شي. (مسلم)

تسهيلات:

قوله: رَضِيتُ بِاللَّهِ رَبًّا:

د اذان نه پس دعا کښې عدم تعيين: دا دعا دَ اذان په ختميدو باندې لوستل زيات مناسب دی دې دپاره چه دَ اذان په دوران کښې دَ اذان دَ کلماتو په جواب کښې خلل رانه شی. دَدې دعالوستلو نه داهم معلومه شوه چه دَاذان مختلف دعاګاني لوستل دَ رسول الله ﷺ سنت دی صرف يوه دعا متعين نه ده.

٦٦٢-د اذان او اقامت په مينځ کښې د نوافلو نوحکم

٦٦٢-()[٩] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] («بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ، بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ)، [٣] ثُمَّ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ (لِمَنْ شَاءَ») مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] عبدالله ابن مغفل رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د هر دوو اذانونو په مينځ کې مونځ دي، دهر دوو اذانونو په مينځ کې مونځ دي [٣] بيا په دريم ځل يې

---

(۱) اخرجه مسلم كتاب الصلاة ، كتاب الصلاة ، باب القول مثل قول المؤذن لمن سمعه، ثم يصلي على النبي صلى الله عليه وسلم ثم يسأل له الوسيلة (رقم) ١٣ - (٣٨٦) والنسائى كتاب الأذان ،الدعاء عند الأذان (رقم-٦٧٩) وابوداودكتاب الصلاة،باب ما يقول إذا سمع المؤذن (رقم-٥٢٥) وابن ماجة كتاب الأذان، والسنة فيه . باب ما يقال إذا أذن المؤذن (رقم-٧٢١) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما يقول إذا أذن المؤذن (رقم-٢١٠)

(۲) اخرجه البخارى كتاب الاذان باب: بين كل أذانين صلاة لمن شاء.(رقم-٦٢٧) ومسلم كتاب صلاة المسافرين وقصرها باب بين كل أذانين صلاة (رقم ٣٠٤ - (٨٣٨)) وابوداود كتاب الصلاة،باب الصلاة قبل المغرب (رقم-١٢٨٣)

Maktaba Tul Ishaat.com

دا وفرمایل چې (دا مونځ) د هغه سړي د پاره دي چې څوک يې کول غواړي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① أَذَانَيْنِ: دَ اذانین نه اذان او اقامت مراد دي. اول اذان الغائبین دي او دویم اذان الحاضرین دي.

تسهیلات:

قوله: "بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ" دَ تکبیر او اذان په مینځ کښې وخت ډیردَ برکت والا دي. دَدعا دَقبلیدو وخت هم دي. په دې وجه حضورپاك بیا بیا ترغیب فرمائیلي دي چه په دې کښې نفل مونځ کوئی.

د مابنام د اذان او مونځ په مینځ کښې د نفلو په حکم کښې مذاهب:

اوس که دغه مونځ نفل وی او که سنت وی باقي مونځونو کښې خواتفاق دي خو دَ مابنام دَ اذان اودَ اقامت په مینځ کښې نفل کولو کښې دَ فقهاء کرامو اختلاف دي.

① دَ امام شافعی رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله دَ یوقول مطابق دَمابنام دَاذان نه پس اودَ مابنام دَمونځ نه مخکښې دوه رکعته نفل کول مستحب دي.

② دَ امام ابوحنیفه رحمه الله او امام مالك رحمه الله په نیز دا رکعتونه په اصل کښې جائز دی لیکن دَ مابنام دَ مونځ دَ تاخیر دَ وجې نه دامکروه لغیره جوړیږی.

③ دَامام شافعی رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله یوقول دادې چه دا نفل صرف مباح دی مستحب هم نه دی. دَامام مالك رحمه الله او امام ابو حنیفه رحمه الله یوقول دَاباحت دي. ابن همام رحمه الله اباحت راجح ګرځولي دي.

داول فریق دلائل: زیر بحث د عبدالله بن مغفل رضي الله عنه حدیث د دوی مستدل دي. چه حضورپاك فرمائیلی چه "**صلوا قبل صلوة المغرب**"

② د مشکوٰة ص: ۱۰٥ باندې دَ حضرت مختار بن فلفل هم د دوی مستدل. په کوم کښې چه دَ دغه رکعتونو ذکر دي.

③ د مشکوٰة ص: ۱۰٥ باندې د حضرت انس رضي الله عنه روایت هم د دوی مستدل دي. په کوم کښې چه دَ دغه رکعتونو دَ کولو واضحه ثبوت موجود دي.

د دویم فریق دلائل: ① دَحضرت بریده اسلمی رضي الله عنه روایت د دوی مستدل دي.د کوم چه دارقطنی په دې الفاظو سره نقل کړي دي. ((**وعن بريدة عن عبدالله بن مغفل المزني قال قال رسول الله ﷺ إن عند كل أذانين ركعتين ما خلا المغرب**)) [زجاجة المصابيح: ۱۹۹/۱]

په دې روایت کښې دَمابنام نه علاوه وختونو کښې دَ دوو اذانونو په مینځ کښې دَ رکعتونو ذکر دي اودَمابنام استثناء ده.

② په زیربحث حدیث کښې دَ "**لمن شاء**" الفاظو نه دوی استدلال کوی په کوم کښې چه دَ

کولو اونه کولو اختیار ورکړې شوې دې. اوس کول نی جائز شو لیکن په دې سره دَ مابنام دَمونځ دَ تاخیر خطره ده په دې وجه دَ نه کولو اختیار هم شته اوبه دې کښې احتیاط هم دې.
③ دَمشکوة ص: ۱۰۵ باندې د مختار بن فلفل ﷺ روایت هم د دوی مستدل دې خکه چه دَهغوی نه کله تپوس اوکړې شو چه آیا حضورپاك دا رکعتونه کړی دی نوهغوی اوفرمائیل "کان یرانا نصلیهما فلم یأمرنا ولم ینهنا" (رواه مسلم) دَدې روایت نه هم اختیار معلومیږی خکه چه پخپله حضورپاك نه دی کړی اونه نی چاته دَ کولو حکم ورکړې دې او نه نی څوك منع کړې دې. په دې کولودَ استحباب باندې یا په جواز باندې عمل کولو کښې دَمابنام دَ مونځ په تاخیر کښې سرې واقع کیدې شی کوم چه مکروه دې. لهذا په احتیاط باندې عمل کولوسره احناف دَ نه کولوحکم ورکوی.
په بعضې صورتونو کښې د دې استحباب: خو که تاخیرنه کیږی نوبیا به دا کراهت لغیره هم نه پاتې کیږی. بهرحال دا دومره لوئی اختلاف نه دې. په کومو ملکونوکښې عوام او ائمه حضرات دَدې دوو رکعتو پابندی کوی نوبیا احنافوله هم پکاردی چه دا رکعتونه دې کوی. لکه په حرمینو شریفینو کښې باقاعده دامابنام د آذان څخه پس دوه نفلو دپاره وخت ورکولې شی نو هلته دا دوه کول پکار دی. دغه شان که په یوځائی کښې دَرمضان مابنام کښې په روژې ماتی کښې وخت لګی نوعوامو له پکاردی چه دَخالی ناستې په ځائی باندې دا دوه رکعته مونځ اوکړی. خکه چه دا اختلاف دَ طرفین نه دَ استحباب په حکم کښې دې نومعامله آسانه شوه. دَبعضې شارحینو خیال دې چه دا حکم اول وو بیا موقوف شو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۶۶۳- د امام او مؤذن دپاره د نبی علیه السلام دعا

۶۶۳-()[۱۰] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «الْإِمَامُ ضَامِنٌ، وَالْمُؤَذِّنُ مُؤْتَمَنٌ: ③ اللَّهُمَّ أَرْشِدِ الْأَئِمَّةَ، وَاغْفِرْ لِلْمُؤَذِّنِينَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، ④ وَالشَّافِعِيُّ، وَفِي أُخْرَى لَهُ بِلَفْظِ "الْمَصَابِيحِ"

ترجمه: ① ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل ② امام ضامن وي او مؤذن امانت دار وي ③ (بیا حضور ﷺ دا دعا وکړله) اي الله امامانو ته هد ایت وکړي (یعني هغوئ ته د نیك علم، صالح عمل او د اصلاح اوتقوي توفیق ورکړي) او مؤذنین (که د هغوئ څخه په اذان ویلو کي څه کمي زیاتي وشي نو هغه) وبخښي، (احمد، ابوداؤد، ترمذي، نسايي) ④، او امام شافعي رحمه الله بل روایت د مصابیح د لفظ پشان نقل کړي دي.

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة،باب ما یجب علی المؤذن من تعاهد الوقت(رقم-۵۱۷) والترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء أن الإمام ضامن، والمؤذن مؤتمن (رقم-۲۰۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

حل اللغات: ① ضَامِنٌ: أَيْ: مُتَكَفِّلٌ: ذمه واردي (چه دمقتديانو دمونځونو به هم د قراءت وغيره د اتمام رعايت ساتي). ② مُؤْتَمَنٌ: أي أَمِينٌ: امانت دار دي (چه دمونځ دوختونو خيال به ساتي چه دخلقو مونځونه او روژې په صحيح وخت اداشي). ③ أَرْشِدْ: هدايت اوكړې (امامانو ته دعلم اوعمل).

تسهيلات:

قوله: "الْإِمَامُ ضَامِنٌ"

د ضامن په مفهوم كښې مذاهب:

① شوافع دَ "ضامن" مفهوم نګران اورعايت كونكې اخستې دي ځكه چه دَهغوى په نيز دَامام مونځ جدا دې اودَ مقتديانو مونځ جدا دې. دَامام حيثيت صرف دَ منتظم مرتب اونګران دې. دَامام مونځ كه فاسدشي نودَ مقتديانو به نه فاسد كيږي.

② دَ احنافو د ذوق مطابق د "ضامن" مفهوم دا دې. چې امام دَخپلو مقتديانودَ مونځونو ذمه وار اوكفيل دې چه دَهغوى مونځونه خراب نه شي. امام دَ قرأت ذمه وار دې دَتعديل اركان ذمه وار دې دَمونځ دَ ركعتونو ذمه وار دې. دَمونځونودَ ركعتونو او اركانو دَ تعداد اودَمونځونو دَافعالو اوحركاتو ذمه واردې. هم دغه وجه ده چې دَ احنافو په نيزدَ امام دَمونځ دَ صحت اوفساد سره دَمقتديانومونځ تړلې دې. كه چرې دَامام مونځ فاسد شو نودَمقتديانو به هم فاسد شي. [اشعة المعات:۳۲۸]

قوله: "وَالْمُؤَذِّنُ مُؤْتَمَنٌ"

دمؤذن د امانتدار كيدو مطلب: دَمؤذن دَ امانت او دَ هغه دَ امانتدار كيدو مطلب دادې چه هغه دَ خلقو دَمونځوبه دَ صحيح وختونو خيال ساتي. خلق روژې ساتي سحراومابنام دواړو وختونو كښې په اذان كونكي باندې يقين وى اودَ هغه دَآواز انتظاركوى. بل مؤذن په چت ختلوسره اذان كوى په كوم كښې دَ خلقو په كورونوكښې دكتلو قوى امكان دې. په دې وجه حضورپاك اوفرمائيل چه مؤذن امانت داردې دې امين جوړكړې شوې دې. دَحديث په آخره كښې دَ امام دَ هدايت دَ هغه دَلارخودنې اودَ اذان كونكى دَ پاره دَ استغفاردعاغوښتلې شوې ده چه دَ دواړو دَاحوالومناسب دعاده.

٦٦٤ – اووه كاله پورې د اذان كولو فضيلت

٦٦٣ – ( )[۱] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «مَنْ أَذَّنَ سَبْعَ سِنِينَ مُحْتَسِبًا؛ [۳] كُتِبَ لَهُ بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ

ترجمه: [۱] ابن عباس ﷺ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړي چې (د

(۱) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى فضل الأذان(رقم-۲۰۶) وابن ماجة كتاب الأذان. والسنة فيه . باب فضل الأذان. وثواب المؤذنين (رقم-۷۲۷)

مزدوري او اجرت (طمعي نه بغير) محض د ثواب حاصلولو د پاره تر اوه کاله پوري اذان وکړي ۳ نو هغه دپاره د دوزخ څخه نجات (خلاصي) ليکل کيږي. (ترمذي، ابوداود، ابن ماجه)

حل اللغات: ① مُحْتَسِبًا: أَيْ: طَالِبًا لِلثَّوَابِ: دثواب اود الله تعالى د رضا نيت ئي وي. ② بَرَاءَةٌ: أَيْ: خَلَاصٌ: دَآزاديدو اوخلاصيدو دَپاره يوه پروانه ورکولې شي هم دغه پروانې ته براءة وئيلې شوې دي.

تسهيلات:

قوله: مَنْ أَذَّنَ سَبْعَ سِنِينَ مُحْتَسِبًا؛ كُتِبَ لَهُ بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ:

داووه کالو په مدت کښې حکمت: دَ اووه کالو دَخدمت دَمودې تعين او اذان کولو باندې دَ اعزاز ورکولو حکمت الله تعالى او دَ هغه رسول ﷺ ته حواله کوو.

قوله: "مُحْتَسِبًا"

د احتساب تعريف: يعنى دَ ثواب په نيت باندې اووه کالو پورې اذان کول چه خالص دَ الله تعالى دَپاره ئې اذان کړى دنياوى اغراض اومقاصد ئې په نظر کښې نه وو. په دې وجه الله تعالى ورته دَ جنت دَ تلو پروانه ورکړه. "احتساب" يعنى دَ ثواب نيت او دَ ثواب په اراده چه کوم کار اوکړې شى هغې ته احتساب وئيلى کيږى. دَدې په مقابله کښې هغه کار کوم چه دثواب په نيت سره اونه کړې شى بلکه په قومى حميت او خپلو خپلوانو په خاطر او په معاشره کښې خپله پوزه اوچتولو په غرض سره يو عمل اوکړې شى نو هغه دَ الله تعالى په نيز قبول نه دې.

٦٦٥ ـ په اذان او اقامت باندې د الله تعالى خوشحاله کيدل

٦٦٥ ـ ( )[۱۳] ۱ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ («يَعْجَبُ رَبُّكَ مِنْ رَاعِي غَنَمٍ فِي رَأْسِ شَظِيَّةٍ لِلْجَبَلِ ۳ يُؤَذِّنُ بِالصَّلَاةِ وَيُصَلِّي، فَيَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ -: ۴ انْظُرُوا إِلَى عَبْدِي هَذَا، يُؤَذِّنُ وَيُقِيمُ الصَّلَاةَ، يَخَافُ مِنِّي، ۵ قَدْ غَفَرْتُ لِعَبْدِي، وَأَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ») . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه: ۱ عقبه ابن عامر رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ ستا رب راضي کيږي د غره په څوکه د بزي (چيلئ) څرونکي څخه ۳ چې لمانځه د پاره اذان کوي او مونځ کوي نو الله بزرګ وبرتر (ملائکو او ارواح مقربينو ته) فرمايي ۴ چه زما د بنده طرف ته وګورئ هغه اذان کوي او (په پابندي سره) مونځ کوي او زما څخه ويريږي ۵ نو ما هم د دې بنده ګناهونه وبخښل او زه به دې جنت کې داخل کړم. (ابوداود، نسايي)

حل اللغات: ① يَعْجَبُ: أَيْ: يَرْضَى: راضی کيږي، خوشحاليږي. ② رَاعِي: شپونکي، ګډي بزي څرونکي، ③ شَظِيَّةٍ: أَيْ: قِطْعَةٍ مِنْ رَأْسِ الْجَبَلِ: د غره سر ته وائي.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة باب الأذان في السفر (رقم-۱۲۰۳) والنسائى كتاب الأذان ،الأذان لمن يصلى وحده (رقم-۶۶۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: يَعْجَبُ رَبُّكَ مِنْ رَاعِي غَنَمٍ:

د ربک په ضمير مخاطب کښې دوه احتماله: ① "ك" سره خطاب دَالله تعالی دَ طرف نه حضورپاك ته وی نو بيابه دا حديث قدسی جوړشي

② که چرې خطاب عوام الناس سره خاص دې نوبيابه حديث قدسی نه وی. شيخ عبدالحق رحمه الله فرمائی اول توجيه زياته واضح ده. [اشعة اللمعات: ۳۲۹]

قوله: "يَخَافُ مِنِّي"

په وحدت او تنهائی کښې د الله تعالی څخه د ويرې فضيلت: يعنی دا ګډبه دَ دنيادَ ټولوعلاقو نه لاس په سر کيدوسره دَټولوخلقونه ځان له دَ غرپه څوکه استوګنه اختيار کړې ده. او بيا مونځ کوی دَ غرپه څوکه باندې دَالله تعالی نوم اوچته وی اوبيا مونځ کوی الله تعالی دَده نه خوشحاليږی اوفرښتوته وائی ګورئی زمابنده ته هغه زمادَ ويرې نه لاذان اوکړو بيائی مونځ اوکړو مادې معاف کړو او په جنت کښې مې داخل کړو.

په حديث کښې د اذان نه مراد: علماء ليکلی دی چه دلته دَ اذان نه اذان اوتکبير دواړه مراددی اوکله چه ځان له سړې داسې کوی نوبيافرښتې هغه سره اودريږی مونځ کوی نودې سړی ته دَ جمع ثواب ملاويږی. ددې حديث نه داتعليم ملاؤشو چه ځان له سړې که چرته په سفر وی يا دَځه کاردَپاره په صحرا کښې وی نوهغه له دَمانځه دَپاره اذان کول پکاردی.

٦٦٦—درې قسمه خلق د مشکوپه ډيرو

٦٦٦—(١)[١٣] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ- رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ ((ثَلَاثَةٌ عَلَى كُثْبَانِ الْمِسْكِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: ٣ عَبْدٌ أَدَّى حَقَّ اللّٰهِ تَعَالَى-، وَحَقَّ مَوْلَاهُ ٤ وَرَجُلٌ أَمَّ قَوْمًا وَهُمْ بِهِ رَاضُونَ، ٥ وَرَجُلٌ يُنَادِي بِالصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ)). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ ابن عمر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل٢ د قيامت په ورځ به درې سړي د مشك په غونډيو وي٣ ① اول هغه غلام چې د الله تعالی جل جلاله حقوق اداء کولو سره د خپل مولی حقوق هم اداء کوي٤ ② او دويم هغه سړي چې خلقو ته مونځ ورکوي او خلق د هغه څخه خوشحاله وي٥ ③ او دريم هغه سړي چې شپه او ورځ (يعني هميشه) پنځه لمونځونو د پاره اذان کوي امام ترمذي دا حديث نقل کړي دي او ويلي يې چې دا حديث غريب دي.

(١) اخرجه الترمذی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی فضل المملوک الصالح(رقم-١٩٨٦)

حل اللغات: ① كُثْبَانٌ: د كَثِيب جمع ده، وَهُوَ مَا ارْتَفَعَ مِنَ الرَّمْلِ كَالتَّلِّ الصَّغِيرِ: دَ شګي جمع کړي شوي ډيرى ته وائى. ② الْمِسْكُ: مشکو ته وائى. ③ أَمَّ: امامت کوى.

تسهيلات:

قوله: "وَهُمْ بِهِ رَاضُونَ"

د قوم نه مراد: يعنى قوم دَخپل پيش امام نه خوشحاله او راضى وى. دَ هغه دَعلم او تقوىٰ دَ وجي نه اودَ هغه دکردار او ګفتار دَ وجي نه اودَ هغه دَ قرأت او خوږ آواز دَ وجي نه اودَ هغه حق وينا کولو او دَانصاف دَ وجي نه ټول دَ هغه نه راضى وى. داخبره يادلرئى چه په دي حديث سره دَ محلي اکثر ديندراه او عقلمند خلقو رضامندى مراد ده . دَهرقسم چالاکوخلقو رضامندئى اعتبارنشته دي. هغوى خو په عام توګه ناراضه وى.

قوله: "وَرَجُلٌ يُنَادِي"

د مستقل مؤذن فضيلت: دَمضارع صيغي سره دي خبري طرف ته اشاره ملاويږى چه دا مؤذن دوام اواستمرارسره اذان ورکوى. (کذافى المعات)

٦٦٧–د مؤذن دپاره د وچ او لوند ګواهى ورکول

٦٦٧–(¹)[١٣] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② («الْمُؤَذِّنُ يُغْفَرُ لَهُ مَدَى صَوْتِهِ، ③ وَيَشْهَدُ لَهُ كُلُّ رَطْبٍ وَيَابِسٍ. ④ وَشَاهِدُ الصَّلَاةِ يُكْتَبُ لَهُ خَمْسٌ وَعِشْرُونَ صَلَاةً، ⑤ وَيُكَفَّرُ عَنْهُ مَا بَيْنَهُمَا»). رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ ⑥ وَرَوَى النَّسَائِيُّ إِلَى قَوْلِهِ: (كُلُّ رَطْبٍ وَيَابِسٍ)، ⑦ وَقَالَ: (وَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ مَنْ صَلَّى)

ترجمه: ① ابوهريره ﷺ راوي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل ② د اذان ورکونکي بخشش د هغه د آواز د انتهاء پوري کيږي ③ هر وچ او لوند شيءدهغه دايمان ګواهي ورکوي، ④ او مونځ ته راتلونکي سړي دپاره د پنځه ويشت لمونځونو ثواب (د هغه په زائد اعمالو کي) ليکل کيږى ⑤ او د لمونځونو په مينځ کي چي کومه ګناه د هغه څخه شوي وي هغه معاف کيږي، احمد ابوداؤد ابن ماجه ⑥ اونسايي دا روايت تر کل رطب ويابس پوري نقل کړي دي او دا الفاظ يي مزيد نقل کړي دي چي وله مثل اجرمن صلى او هغه ته به د مونځ کونکي برابر ثواب حاصليږي)

حل اللغات: ① رَطْبٍ: لوند څيز، ② يَابِسٍ: اوچ څيز. ③ شَاهِدُ الصَّلَاةِ: أَيْ: حَاضِرُهَا: مونځ ته حاضريدونکي (دي نه مراد په جمع کښي شريکيدونکى خلق دى دوى ته دَ جمع په وجه په يومونځ باندي ۲۵ مونځونو ثواب ملاويږى). ④ يُكَفَّرُ: رجيګى، معاف کيږى.

(¹) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب رفع الصوت بالأذان (رقم-٥١٥) وابن ماجة كتاب الأذان، والسنة فيه ، باب فضل الأذان، ولواب المؤذنين (رقم-٧٢٤) والنسائى كتاب الأذان ،رفع الصوت بالأذان (رقم-٦٤٥)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات: قوله: مَدَى صَوْتِهِ:

د ثواب په اعتبار سره د مؤذن د صرف مونځ گذار څخه افضلیت، یعنی ترکوم ځائی پوري چه دَ مؤذن اواز رسیږي دَهغه ځائی پوري چه دَ کائنات څومره څیزونه دي که هغه جمادات وي که نباتات، حیوانات وي کـه جنات اوکه ملائکه اوانسان وي. ټول په ټول بـه دَ قیامت په ورځ دمؤذن دَ ایمان گواهی ورکوي لکه څنګه چه دَدې باب په حدیث نمبر(٦٥٢) کښې تیرشوی دی. [الکاشف: ٢/٢٢٨ اشعة المعات: ٣٣٩]

قوله: وَشَاهِدُ الصَّلَاةِ:

د جماعت د شرکاؤ فضیلت: د شري"وله اجر" یعنی څومره خلق چه په مانځه کښې شریك شـوی مـؤذن تـه بـه دَهریـو برابرثـواب ورکـولې شي څکـه چـه مـؤذن دَدې ټولـو راغوښتلو اوهغوی ته دعوت ورکونکي دي. او "الدال علی الخیرکفاعله" مسلمه قاعـده اوحدیث دي. دَدې حدیث نه معلومه شوه چه دَ ثواب په اعتبارسره مؤذن دَ مونځ گذارونه غوره دي.

٦٦٨ – دامام دپاره د کمزورو او ضعیفو مقتدیا نو خیال ساتل

٦٦٨ –()[١٥] ① وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ: ② «قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، اجْعَلْنِي إِمَامَ قَوْمِي. ③ قَالَ: (أَنْتَ إِمَامُهُمْ، وَاقْتَدِ بِأَضْعَفِهِمْ، ④ وَاتَّخِذْ مُؤَذِّنًا لَا يَأْخُذُ عَلَى أَذَانِهِ أَجْرًا»). رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه: ① عثمان بن ابي عاص رضی الله عنه فرمايي② چې ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړو چې ما د خپل قوم امام مقرر کړې③ حضور ﷺ وفرمايل ته د هغوئ امام يي (يعني ما ته ستا د قوم امام مقرر کړي خو دا ياد ساته چې په لمانځه ورکولو کې) ته په هغوئ کې د ډير زيات ضعيف او ناتوان خيال ساته ④ او داسې مؤذن مقرر کړه چې د اذان کولو مزدوري نه اخلي. (احمد، ابو داود، نسايي)

حل اللغات: ① اقْتَدِ: أيْ: تَابِعْ: تابعداری او اقتداء کوه (د کمزورو خلقو خیال اولحاظ ساته، یعنی مختصر مونځ کوه او ډیره جلتی هم مه کوه).

تسهیلات: قوله: وَاقْتَدِ بِأَضْعَفِهِمْ:

په جماعت کښې د کمزورو خیال ساتل، یعنی مونځ دکمزور او ضعیفانو خلقو لحاظ کولوسره ورکول پکاردی چه نه قراءت دومره اوږدوی چه ضعیف اوکمزوری خلق اونه زغملې شی او نه په ارکان صلوة کښې دومره ثقل وی چه خلق تنګ او پریشانه شی او په جمع سره مونځ کول پریږدی. [الکاشف: ٢/٢٢٩ اشعة المعات: ٣٤٠]

(١) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة، باب أخذ الأجر على التأذين (رقم-٥٣١) وابن ماجة كتاب الأذان، والسنة فيه، باب السنة في الأذان (رقم-٧١٤)

قوله: لَا يَأْخُذُ عَلَى أَذَانِهِ أَجْرًا:

په استيجار على الطاعات كښې مذاهب:

دَدې حديث نه معلوميږي چه مؤذن له په خپل اذان باندې اجرت اخستل جائزنه دی په دې باندې قياس كولوسره امام له په امامت باندې هم اجرت اخستل جائزنه دی بلكه دَدې نه هم وړاندې كيدو سره داسې وئيلی شی چه مطلقًا استيجارعلى الطاعات منع دی استيجار على الطاعات كښې دَ فقهاؤ څه اختلاف دی.

① دَامام مالك رحمه الله او شوافع حضراتو په نيز طاعات باندې اجرت اخستل يا وركول مطلقًا جائزی دی.

② دَ حنابله په نيز طاعات يعنی اذان اقامت، تعليم القرآن او امامت باندې اجرت اخستل جائزنه دی.

③ دَ احنافو دوه طبقې دی يوه طبقه دَ متقدمين ده او يوه دَمتاخرين ده. دَ احنافو په نيز استيجار على الطاعات ناجائزدی. دَ احنافو ماخرين علماء فرمائی چه استيجار على الطاعات په جواز باندې دَمتاخرين علماؤ فتوی خو نه ده البته دَ مجبورئی په وجه دَجواز قائل شوی دی لكه اصل مسئله دَعدم جواز ده او دَ جواز خبره عارضی ده. او دَ يوې مجبورئی نه دا قول كړې شوې دې دې دَپاره چه دَ شعائراسلام تحفظ او كړې شی او دينی مناصب ختم نه شی.

په طاعاتو د اجرت نه اخستلو مفاسد: ځكه چه كله يوسړې امامت خطابت او تدريس او اذان باندې به اجرت نه اخلی نولامحاله هغه خپل ځان دَ شعائردين نه دَ يومنصب دَتحفظ ذمه وار نه شی ګنړلې نوهغه به دَ يوكار پابندی نه كوی. دغه شان به په مزه مزه دَ دين اسلام يويو منصب ختميږی او دَ دين په كارونو كښې به تعطل پيدا كيږی كوم چه دَنن صبا ملحدانو مقصد دې. په دې وجه هغوی په اجرت على الطاعات باندې اعتراض كوی. بل خوا دَ بيت المال نه دَ سلف په زمانه كښې ائمه خطباء ومعلمين ومفتيين ته وظائف ملاويدل دكوم په وجه چه به دې حضراتو دَ دينی مناصب حفاظت كولو

اجرت على الطاعات په قدر د ضرورت: اوس دغه مناصب بچ كول او باقی ساتلو دَپاره په اندازه دَ كفاف معاوضه متاخرينو دَجواز قول كړې دې ځكه چه دا ضرورت دې ليكن "والضرورة تتقدر بقدر الضرورة" كيږی. په دې وجه كه نن صبا يوامام يا مؤذن دَ دين خدمت ته نه ګوری بلكه دنيا ګټل او دنيا جوړول ئی مقصد وی نو دَداسې امام او مؤذن دَپاره نن هم اجرت اخستل ناجائزدی. عقود رسم المفتی كښې ابن عابدين شامی رحمه الله ليكلی دی دكوم خلاصه چه داده دَ شريعت يومنصب بغير دَ اجرت اخستلو باقی نه شی پاتې كيدلې مثلاً

په تراويح كښې په ختم قرآن باندې اجرت اخستل تېوشن كول دا داسې مناصب دي چه دَ شريعت هيڅ يو منصب دَدې دَ ختميدو په وجه نه ختميږي نو په داسې مناصب باندې اجرت نه شي اخستلې. هسې كه اوكتلې شي نو دَ صحابه كرامو په دوركښې مجاهدينو ته په جهادباندې معاوضه وركړې شوې ده. قاضيانو ته په شرعي قضاء باندې تنخواه وركړې شوې ده. خلفاء اوامراء دَ ديني خدماتو پوره كولو باندې تنخواه اخستې ده، دا دلائل دَجواز دَپاره كافي دي.

دَ زير بحث حديث توجيه : بهرحال په وجه دَمجبورئي چه كله معامله دَ جواز پيداشوه نودَزير بحث حديث توجيه به داشي چه دلته دَ اخلاص سره دَ اجرت نه بغير دَ اذان ترغيب طرف ته اشاره كړې شوې ده. دَ اجرت اخستلو وركول مسئله دلته بيانول مقصودنه دي. هم دغه وجه ده په مسلمانانوكښې اوس هم ډيرې علاقې داسې دي دكوم خائي خلق چه پخپله اذان وركوي او اجرت نه اخلي اونه هلته دَاجرت تصور وي لهذا تردې ممكن دي چه په دې حديث باندې عمل كولودَپاره داسې ماحول جوړول پكاردي. خلاصه دا چه په حديث شريف كښې دَ اخلاص چه كوم ترغيب وركړې شوې دې په هغې كښې هيڅ كلام نشته.

٦٦٩-د ماښام اذان اوريدو په وخت كښې مسنون دعا

٦٦٩-()[١٦] ⟨١⟩ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: ⟨٢⟩ «عَلَّمَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَقُولَ عِنْدَ أَذَانِ الْمَغْرِبِ: ⟨٣⟩ (اللَّهُمَّ هَذَا إِقْبَالُ لَيْلِكَ، وَإِدْبَارُ نَهَارِكَ، ⟨٤⟩ وَأَصْوَاتُ دُعَاتِكَ ; فَاغْفِرْ لِي»). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ)

ترجمه: ⟨١⟩ بي بي ام سلمه رضي الله عنها فرمايي ⟨٢⟩ چې رسول الله ﷺ ماته ښودلي وو چې زه دي د ماښام د اذان په وخت دا دعا كوم ⟨٣⟩ اللَّهُمَّ هَذَا إِقْبَالُ لَيْلِكَ وَإِدْبَارُ نَهَارِكَ وَأَصْوَاتُ دُعَاتِكَ فَاغْفِرْ لِي (اي الله دا وخت دي ستا د شپې د راتلو او ستا د ورځ د واپس كيدو ⟨٤⟩ او ستا د يادونكو (يعني د مؤذنينو) د اوازونو نو ته زما مغفرت وكړي يعني ما وبخښې) (ابوداؤد بيهقي.)

حل اللغات: ① إِقْبَالُ: راتلو ته وائي. ② إِدْبَارُ: په شاه كيدو او روسته كيدو ته وائي.

تسهيلات: قوله: اللَّهُمَّ هَذَا:

د اذان نه پس د مختلفو دعاگانو ثبوت : كله چه دَ اذان جواب مكمل شي دې نه پس مناسب ده چه دادعااولوستلې شي او په دې دعاكښې چونكه دَ ورځې اوشپې دَ بدليدو دَ انقلاب طرف ته اشاره ده په دې وجه دَماښام دَاذان نه پس دا لوستل پكاردي. په دې دعاسره داخبره هم واضح شوه چه دَ اذانونو نه پس دَمختلفو دعاگانو ثبوت شته. چونكه دَ

---

(١) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب ما يقول عند أذان المغرب(رقم-٥٣٠) والترمذي كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب دعاء أم سلمة (رقم-٣٥٨٩)

اذان او اقامت په مينځ چه کم وخت دي هغه دَ دعا دَ قبليدو يو بهترين وخت دي په دي وجه په دي کښي دَ مختلفو دعاګانو اهتمام کړي شوي دي.[الکاشف: ۲/۲۵۰]

٦٧٠–د اقامت جواب

٦٧٠–(١)[١٧] ١ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَوْبَعْضِ أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ٢ قَالَ: «إِنَّ بِلَالًا أَخَذَ فِي الْإِقَامَةِ، ٣ فَلَمَّا أَنْ قَالَ: قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ، قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَقَامَهَا اللّٰهُ وَأَدَامَهَا" ». ٣ وَقَالَ فِي سَائِرِ الْإِقَامَةِ كَنَحْوِ حَدِيثِ عُمَرَ فِي الْأَذَانِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه: ١ ابو امامه رضي الله عنه يا دحضور ﷺ يو صحابي فرمايي ٢ چه حضرت بلال رضي الله عنه تکبير شروع کړو ٣ کوم وخت چې هغه قد قامت الصلوة اووائيلو نو حضور ﷺ (د هغه په جواب کي) وفرمايل أَقَامَهَا اللّٰهُ وَأَدَامَهَا يعنى الله تعالى جل جلاله دي مونځ قائم او دائم لري ٣ او د تکبير د بقيه کلماتو جوابات يي هغه شان وفرمايل چې د هغي ذکر د حضرت عمر رضي الله عنه د اذان په حديث کي تير شوي دي

تسهيلات:

قوله: "أَقَامَهَا اللّٰهُ وَأَدَامَهَا":

د قدقامت الصلاة جواب: دغه شان چه کله تکبير کونکي په تکبير کښي "قدقامت الصلوة" وائى نواوريدونکى له پکاردى چه دَدې په جواب کښي "أقامهاالله وأدامها" الفاظ وسره دَ نظام صلوة بقاء او شعائرالله دَ دوام دعااوکړى. دا ا لفاظ دَ ابوامامه رضي الله عنه حديث نمبر (٦٧٠) کښي مذکوردى لهذا داهم مستنددى.

په اهل ظواهرو باندې رد: دې مذ کوره حديث کښي صرف د اقامت د جواب ذکر دي ، چې د اقامت په جواب کښي دا وئيل پکار دي: اقامهاالله وادامها : دا حديث په اهل ظواهرو باندې رد دې چې د اذان او اقامت جواب بعينه ورکول پکار دی. حالانکه دې ځائي کښي د قدقامت الصلوة د جواب ذکر موجود دي.

٦٧١–د اقامت او اذان په مينځ کښي دعا

٦٧١–(٢)[١٨] ١ وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ «لَا يُرَدُّ الدُّعَاءُ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ

ترجمه: ١ انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ د اذان او تکبير په مينځ کښي دعا نه رد کيږی. (ابوداؤد، ترمذي)

(١) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة، باب ما يقول إذا سمع الإقامة (رقم-٥٢٨)

(٢) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة، باب ما جاء فى الدعاء بين الأذان والإقامة (رقم-٥٢١) والترمذى کتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى أن الدعاء لا يرد بين الأذان والإقامة (رقم-٢١٢)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: "لَا يُرَدُّ الدُّعَاءُ":

د اذان او اقامت په مينځ کښې د دعا قبوليت: دَمسلمان دعا خو الله تعالى په خپله مهربانئ او رحمت سره هروخت قبلوى مګر دَ اذان او اقامت چه کوم وخت دې هغه دومره بختور دې او دومره دَ برکت دې چه په دې کښې الله تعالى دَ دعا غوښتونکى دعا نه رد کوى. دَدې حديث نه مسلمانانوته دا تعليم ملاويږى چه مسلمان له پکاردى چه هغوى دې خپل دنياوى او اخروى حاجتونه هم په دې وختونوکښې دَ الله تعالى نه غواړى.

د اذانينو په مينځ کښې د دعا غوښتلو غوره صورت: دَحديث دَ ظاهرى الفاظونه دا معلوميږى چه دعا که دَ اذان دَختميدو په وخت متصل اوغوښتې شى يا دَ څه وخت نه پس اوغوښتې شى په هرصورت کښې به قبليږى مګر اولى او بهتر دادې چه دَ اذان په ختميدو باندې متصل اوغوښتې شى. [اشعة المعات: ۳۴۰]

۶۷۲-د دعا د قبليدو وختونه

۶۷۲ -()[۱۹] ۱ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «ثِنْتَانِ لَا تُرَدَّانِ - أَوْقَلَّمَا تُرَدَّانِ -: ۳ الدُّعَاءُ عِنْدَ النِّدَاءِ ۴ وَعِنْدَ الْبَأْسِ حِينَ يُلْحِمُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا». ۵ وَفِي رِوَايَةٍ: (وَتَحْتَ الْمَطَرِ). رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، ۶ وَالدَّارِمِيُّ; إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ: (وَتَحْتَ الْمَطَرِ)

ترجمه: ۱ سهل ابن سعد رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ دوه دعاوګانې نه رد کيږي يا وي فرمايل کم رد کيږي ۳ ① يوه هغه دعا چې د اذان (څخه وروسته يا د اذان د شروع کيدو) په وخت وغوښتل شي ۴ ② او دويمه هغه دعا چې (د کفارو سره) په جنګ کښې (خپلو کښې قتل وقتال) شروع کيدو په وخت وشي ۵ په يو بل روايت کښې (په جنګ کښې د قتل وقتال په ځاي) دا منقول دي چې دويمه هغه دعا چې په باران کښې (ودريدو سره) وغوښتل شي، ابوداؤد دارمي ۶ خو د دارمي په روايت کښې تحت المطر منقول نه دي.

حل اللغات: ① قَلَّمَا: ډير کم، کم کوز. ② النِّدَاءِ: أَيْ: الْأَذَانِ: اذان ته وائى. ③ الْبَأْسِ: أَيْ: الشِّدَّةِ وَالْمُحَارَبَةِ مَعَ الْكُفَّارِ: کافرانوسره سخت جنګ ته وائى. ④ يُلْحِمُ: أَيْ: يَقْتُلُ: په جنګ کښې د يوبل سره قتل وقتال شروع وى.

تسهيلات:

قوله: أَوْقَلَّمَا تُرَدَّانِ:

د کلمه ,,او,, په حيثيت کښې دوه احتمالات: ① ممکن دى چه دا "او" دَ راوى دَ شك دَپاره

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الجهاد ، باب الدعاء عند اللقاء(رقم-۲۵۴۰)

وی نو په دې صورت کښې راوی ته شك شوې چه لاتردان الفاظ ئې ارشاد فرمائيلی وو يا "فلماتردان" الفاظ وو.

② دا هم ممکن دی چه دا "او" دَتنويع دَپاره وی يعنی دَ دعا دوه انواع ذکر وی.
[اشعة اللمعات: ۳۴۰]

قوله: عِنْدَ النِّدَاءِ:

دې نه اذان مراد دې اودَاذان وخت ئې دَ دعـادَ قبليـدو پـه وختونو کـښې شـمير کړې دې. "وعندالباس" باس سخت جنګ ته وائی مراد ميدان جهاد کښې دَ کافرانو په مقابله کښې سخت جنګ دې داهم دَ دعادَقبليدو وخت دې ځکه چه پوره توجه دَالله تعالی دَ ذات طرف ته وی.

د حديث د بعضې الفاظو وضاحت: ① يلحم: دَباب سمع نه هم راځی چه جنګ ته وائی هم په دې سره دَ رسول الله ﷺ نوم رسول الملاحم مشهوردې. يعنـی دَ سـخت يـالاس پـه لاس جنګونه کونکې رسول. دلته دا صيغه باب افعال او سمع دواړو نه لوستلې شوې ده سره دَدې چه دَسمع نه زياته مستعمل ده.

② وتحت المطر: باران چونکه دَآسمان نه راځی اولکه چه دَالله تعالی دَطرف نه راځی پـه دې وجه په دې کښې برکت اورحمت وی. په دې مبارك وخت کښې هم دعـاقبليږی کـه بـاران پـه ده باندې پريوځی يا صرف وريږی.

۶۷۲–د اذان نه وروسته د دعا قبليدل

٦٧٣–(¹)[۲۰] ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-قَالَ: ② «قَالَ رَجُلٌ: يَارَسُولَ اللهِ إِنَّ الْمُؤَذِّنِينَ يَفْضُلُونَنَا. ③ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (قُلْ كَمَا يَقُولُونَ، ④ فَإِذَا انْتَهَيْتَ فَسَلْ تُعْطَ») . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① عبدالله ابن عمرو رضي الله عنه راوي دي ② چې يو صحابي رضي الله عنه عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ اذان ورکونکي خو په بزرګي کښې زمونږ څخه زياتيږي ③ حضور ﷺ وفرمايل ځنګه چې هغه وايي (ورسره ورسره) ته هم هغسي وايه ④ او کله چې د اذان د جواب څخه فارغه شی نو څه چې دې خوښه وي د الله جل جلاله څخه يي وغواړه در به کړل شي، (ابوداؤد)

حل اللغات: ① يَفْضُلُونَنَا: أي: يَحْصُلُ لَهُمْ فَضْلٌ وَمَزِيَّةٌ عَلَيْنَا فِي الثَّوَابِ: يعنی موذن خلقو اذان ورکولوسره زمونږ نه په ثواب کښې وړانديوالي اوکړو. ② سَلْ: أي: اطْلُبْ مِنَ اللهِ حِينَئِذٍ مَا تُرِيدُ: دالله نه اوغواړه څه چه غواړې. ③ تُعْطَ: أي: يَقْبَلُ اللهُ دُعَاءَكَ وَيُعْطِيكَ سُؤَالَكَ: الله پاک به ستا سوال قبلوی او څه چه غواړې دربه ئې کړی.

(١) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب ما يقول إذا سمع المؤذن (رقم-٥٢٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات: قوله: يَمُطُّلُونَنَا:

د مؤذن د ثواب گټلو طريقه: يعنى مؤذن خلقو اذان وركولوسره زمونږ نه په ثواب كښې وړاندې والې اوكړو آيا مونږ څه داسې عمل كولې شو چه مونږ په ثواب كښې هغوى سره برابرشو. دا د صحابه كرامو رضي الله عنهم دور وو چه په نيكو اعمالو كښې تادى او وړاندې والې كيدلو اود هرملګرى به خيال وو چه زه د نورو ملګرونه په نيكو اعمالوكښې او په ثواب كښې شاته پاتې نه شم لكه چه د نن صبا په دوركښې روپو پيسو اود دنيا ګټلو په حرص كښې منډه لګيدلې ده. هم دې د ثواب شوق منو خلقوته حضورپاك كم خرچ بالانشين والاعمل اوخودلو هغه دا چه كله چه مؤذن اذان وركوى نوتاسو جواب وركونى اوكله چه اذان ختم شى نودعا كونى. په دې كښې به تاسو ته د مؤذن د اذان وركولو د اصل ثواب په شان ثواب ملاويږى. شيخ عبدالحق رحمه الله اشعة اللمعات كښې ليكى كه چرې جواب وركونكې د جواب سره اذان سره دعا هم اولولى نوممكن ده چه د مؤذن نه په يواب كښې زيات شى په دې شرط چه مؤذن دعانه وى لوستلې. [اشعة المعات: ۳۴۱]

د دعا مصداق: ① دعانه كيدې شى هم هغه دعامراد وى كومه چه په حديث نمبر(۶۵۹) كښې ذكر ده او په عوامو كښې مشهوره ده. د دې حديث نه دا هم معلومه شوه چه كوم سړې په اجابت فعلى باندې عمل كولوسره جمات ته راغلې دې نوهغه له هم پكار دى چه د چپ پاتې كيدو په ځائى اجابت قولى كولوسره دا دعا اولولى دې د پاره چه په ثواب كښې شريك شى.

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

٦٧٤— د اذان په آواز اوريدو د شيطان تيښته

٦٧٤ – (١)[٢١] ① عَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ② «إِنَّ الشَّيْطَانَ إِذَا سَمِعَ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ ذَهَبَ ③ حَتَّى يَكُونَ مَكَانَ الرَّوْحَاءِ» . ④ قَالَ الرَّاوِي: وَالرَّوْحَاءُ مِنَ الْمَدِينَةِ: عَلَى سِتَّةٍ وَثَلَاثِينَ مِيلًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چه ما واوريدل چې رسول كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② هر كله چې شيطان د اذان آواز اوري نو تښتي ③ تر دې چې مقام روحا ته ورسي ④ راوي وايي چې روحا د مدينې څخه شپږ ديرش ميله فاصله باندې دي. (مسلم)

حل اللغات: ① النِّدَاءَ: أي الْأَذَانَ: نداء آواز ته وائى دلته ترې اذان مراد دې. ② الرَّوْحَاءِ: روحاء د يوكوهى نوم دې چه د مدينې نه د مكې په طرف د بدر په لار په شارع قديم باندې واقع دې. د مدينې نه ورته ۳۶ كلوميتره فاصله ده.

(۱) اخرجه مسلم كتاب الصلاة ، باب فضل الأذان وهرب الشيطان عند سماعه (رقم) ۱۵ - (۳۸۸)

تسهیلات:

قوله: إِنَّ الشَّيْطَانَ إِذَا سَمِعَ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ:

په شیطان کښې دوه احتمالات: ① ممکن ده چه دې شیطان نه مراد دَټولو شیطانانو مشر شیطان مراد وی چه هغه اذان اوری نو تختي

② ممکن ده چه جنس شیطان مراد وی اول صورت زیات واضح دې.

قوله: حَتَّى يَكُونَ مَكَانَ الرَّوْحَاءِ:

د بیر روحاء موجوده محل وقوع: دَمدینې نه چه یوسرې دَ مکې طرف ته دَ بدر په لار راخي په ۳۶ کلومیتر پاندې دغه کوهي واقع دې. دَ سرك په غاړه باندې په یوه اوږده فاصله دَ "الروحاء" بورډونه لګیدلی دی. بیا په سرك باندې تللوسره په ښی لاس باندې ښکته په یوه لویه ناله کښې صحرائی علاقه کښې دا کوهي واقع دې اوس هم په دې کښې یخې اوبه موجود دی. دې سره نیزدې یو پخوانې جمات دې وائی چه په خپل دور کښې اویاؤ انبیاء کرامو علیهم السلام دلته تشریف راوړې وو نو هم په دې مکان الروحاء کښې حضورپاك شپه تیره کړې وه.

قوله: قَالَ الرَّاوِي:

د راوی نه مراد: دَ راوی نه نافع بن طلحه رحمه الله مراد دې دَچا کنیت چه ابوسفیان دې.

۶۷۵—د حیعلتین په جواب کښې مسنون کلمات

۶۷۵—()[۲۲] ⟨۱⟩ وَعَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ، قَالَ: ⟨۲⟩«إِنِّي لَعِنْدَ مُعَاوِيَةَ، إِذْ أَذَّنَ مُؤَذِّنُهُ، فَقَالَ مُعَاوِيَةُ كَمَا قَالَ مُؤَذِّنُهُ، ⟨۳⟩ حَتَّى إِذَا قَالَ: حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، ⟨۴⟩ فَلَمَّا قَالَ: حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ، قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ. ⟨۵⟩ وَقَالَ بَعْدَ ذَلِكَ مَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ، ⟨۶⟩ ثُمَّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ذَلِكَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ⟨۱⟩ علقمه بن وقاص رضی الله عنه فرمايي ⟨۲⟩ چه زه یوه ورځ د حضرت امیر معاویه رضی الله عنه په خدمت کښې حاضر ووم د هغه مؤذن اذان اوکړو مؤذن چې څنګه ویل معاویه رضی الله عنه هم هغسې د هغه سره سره ویل ⟨۳⟩ مؤذن چې حي علي الصلوٰة اوویل نو معاویه رضی الله عنه لاحول ولاقوة الا بالله اوویل ⟨۴⟩ بیا چې مؤذن حي علي الفلاح اوویل نو معاویه رضی الله عنه اوویل لاحول ولاقوة الا باللہ العلي العظیم ⟨۵⟩ او د دې څخه وروسته چې مؤذن څه ویل معاویه رضی الله عنه هم هغه ویل ⟨۶⟩ بیا فارغیدو سره معاویه رضی الله عنه اوویل ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دغسې اوریدلي دي، (احمد.)

(۱) اخرجه النسائی کتاب الأذان ،القول إذا قال المؤذن: حی علی الصلاة , حی علی الفلاح (رقم-۶۷۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ

په رواياتو کښې د مذکوره کلماتو عدم وجود: علامه طيبي رحمه الله فرمائي چه لاحول ولاقوة الا بالله نه پس دَالعلی العظيم الفاظ په روايتونو کښې نه ملاويږی. علقمه بن وقاص رحمه الله دَ کبار تابعينونه دي. [الکاشف: ۲/۲۵۳]

۶۷۶ – د اذان جواب ورکول سبب د دخول جنت

۶۷۶ –(۱)[۲۳] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ «كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَامَ بِلَالٌ يُنَادِي، ۳ فَلَمَّا سَكَتَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۴ (مَنْ قَالَ مِثْلَ هَذَا يَقِينًا دَخَلَ الْجَنَّةَ)». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ

ترجمه: ۱ ابوهريره رضي الله عنه فرمايي ۲ چې مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ملګري وو چې بلال رضي الله عنه ودريدلو او اذان کول يې شروع کړل ۳ کوم وخت چې هغه د اذان ورکولو څخه وروسته چپ شو نو حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل ۴ کوم سړي چې دارنګه (د اذان په جواب کښې) يقيناً (يعني د زړه په اخلاص سره) اوواني نو هغه به جنت کښې داخليږي. (نسايي)

تسهيلات:

قوله: مَنْ قَالَ هَذَا يَقِينًا دَخَلَ الْجَنَّةَ

د اذان جواب بعينه د اذان په الفاظو سره ورکول: دا حديث د هغه حضراتو دپاره مستدل دي کوم چې دا خبره کوي چې د آذان جواب بعينه هم هغه کلمات دی.

دحديث الباب څخه جوابونه: داحديث پاك د احنافو خلاف دي، ددې حديث پاك جوابونه:

① د بيان دجواز دپاره داسې کول هم جائز دی چې په دوارو احاديثو باندې عمل راشي.

② يا دا حديث منسوخ دې دهغه احاديثو په وجه کومو کښې چې د حيعلتين جواب لاحول ولاقوة الابالله راغلي دي.

۶۷۷ – د شهادتينو جواب د نبی عليه السلام د طرفه

۶۷۷ –(۲)[۲۴] ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: ۲ «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَمِعَ الْمُؤَذِّنَ يَتَشَهَّدُ قَالَ: (وَأَنَا وَأَنَا)». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه: ۱ بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي ۲ چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم به د مؤذن شهادتين ويل اوريدل نو فرمايل به يې او زه هم او زه هم. (ابوداؤد)

---

(۱) اخرجه النسائی کتاب الأذان، ثواب ذلک (رقم-۶۷۴)

(۲) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة، باب ما يقول إذا سمع المؤذن (رقم-۵۲۶)

حل اللغات: ① يَتَشَهَّدُ: چه شهادتين به ني وئيل، «مؤذن به أشهد أن لا إله الا الله او اشهد ان محمد رسول الله وئيل». ② وَأَنَا وَأَنَا: أَيْ: وَأَنَا شَاهِدٌ كَمَا تَشْهَدُ: د مؤذن د شهادت جواب به ني ورکولو او فرمائيل به ني چه: وأنا أشهد أن لا إله الا الله، وأنا أشهد انی رسول الله.

تسهیلات:

قوله: قَالَ: (وَأَنَا وَأَنَا»):

د نبی کریم ﷺ د خپل رسالت گواهی ورکول: یعنی کله چه مؤذن په اذان کښې شهادتين لولی نو حضورپاك به په جواب کښې دوه خل فرمائيل چه زه هم دغه گواهی ورکوم دَتوحيد اورسالت څنګه گواهی چه ته ورکوې زه هم دغه شان گواهی ورکوم. دَدې نه معلومه شوه چه نبی کریم ﷺ هم دَخپل امت په شان په خپل رسالت باندې گواهی ورکولو باندې مکلف وو.

د نبی کریم ﷺ د خپل رسالت د شهادت کلمات: اوس په دې کښې بحث اوتحقيق دې چه آیا حضورپاك دَخپل امت په شان "اشهد ان محمد رسول الله" الفاظ فرمائيل يا "اشهد انی رسول الله" الفاظ به ئی فرمائيل. [اشعة المعات: ۳۴۱]

عام علماء كرام هم دغه ليكی چه حضورپاك به دَخپل امت دَا لفاظو په شان دَ خپل رسالت گواهي وركوله. اوس په حديث نمبر(۶۷۳) کښې حضرت معاويه ﷺ هم دغه فرمائيل چه ماكوم كلمات په جواب کښې وئيلی دی حضوراكرم به هم په دغه شان كلماتو سره جواب وركولو. اوس دَ زيربحث حديث سره په ظاهره تعارض راغلو څكه چه په دې کښې "وأنا أنا" الفاظ دی نوعلماؤ جواب وركړې دې چه حضورپاك كله دا الفاظ لوستلی او كله هغه الفاظ لوستلی دی دَ كوم تذكره چه معاويه ﷺ كړې ده دواړه ثابت دی.

۶۷۸ — د اذان او تکبير ثواب

۶۷۸ — (١) [۲۵] ⓵ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ⓶ ((«مَنْ أَذَّنَ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً ، وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ، ⓷ وَكُتِبَ لَهُ بِتَأْذِينِهِ فِي كُلِّ يَوْمٍ سِتُّونَ حَسَنَةً، ⓸ وَلِكُلِّ إِقَامَةٍ ثَلَاثُونَ حَسَنَةً»). رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ⓵ حضرت ابن عمر ﷺ راوي دي چي رسول کريم ﷺ وفرمايل ⓶ کوم سړي چي تر دولس کاله پوري اذان وکړي د هغه د پاره جنت واجبيږی ⓷ او د هغه د اذان په بدله کښي (د هغه په نامه اعمال کښي) هر ه ورځ (يعني د هر اذان په عوض کښي) شپيته نيکي ⓸ او د هر تکبير په بدله کښي ديرش نيکي ليکل کيږی. (ابن ماجه)

(۱) اخرجه ابن ماجة كتاب الأذان، والسنة فيه ، باب فضل الأذان، وثواب المؤذنين (رقم-۷۲۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

حل اللغات: ① اِثْنَتَیْ عَشْرَةَ: دولس ۱۲، ② سِتُّونَ: شپیته، ۶۰، ③ إِقَامَة: تکبیرونیل، ④ ثَلَاثُونَ: دیرش، ۳۰،

تسهیلات:

قوله: ثَلَاثُونَ حَسَنَةً:

د اذان د ثواب په نسبت د اقامت د ثواب د کمی وجه: اذان کونکی ته په اذان باندې روزانه شپیته زیاتی نیکئی ملاویږی او اقامت او تکبیر ویونکی ته دَدې نصف یعنی دیرش نیکئی ملاویږی اودَ اعداد مقرر کولو راز دَ الله تعالی اودَهغه دَ رسول ﷺ په حواله دې. دَ اذان په نسبت دَاقامت ثواب کیدې شی په دې وجه نیم دې چه په اذان کښې محنت زیات دې او اقامت کښې محنت کم دې. او شایدَ جمهورو په ذوق باندې دَ اقامت په کلماتو کښې ایتار دې په دې وجه په ثواب کښې کمې راغلو. [اشعة المعات: ۳۴۲]

د حدیثینو په مینځ کښې د تعارض اشکال: فصل ثانی حدیث نمبر(۲۳) کښې اووه کاله اذان ورکولو باندې دَ جنت زیرې دې دلته په دولس کاله باندې زیرې دې دا په ظاهره تعارض دې دَ دې څه جواب دې؟

د اشکال دوه جوابونه: ① اووه کاله پورې اذان ورکولو ثواب دَ دوزخ نه دَ خلاصی پروانه ملاویدل دی. کوم چه په جنت کښې دَ داخلیدودَ بشارت نه کنایه ده او دلته په زیر بحث حدیث کښې دَ دغه مؤذن دَ اذان موده دولس کاله ده ځکه چه هغه ته دَ جنت دَ زیری سره سره دَ هرې ورځې شپیته نیکئی زیاتی هم ملاویږی.

② علامه کرمانی رحمه الله دَ ضابطه په توګه جواب ورکړې دې چه کوم ځائی هم په اعداداوحساب کښې الختلاف ښکاره شی نو په هغې کښې به تعارض نه وی ځکه چه عدد اکثردَ عدد اقل منافی نه وی. (کذا في لمعات)

۶۷۹ - دماښام د اذان په وخت کښې د دعا حکم

۶۷۹ - (۱) [۲۶] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: «كُنَّا نُؤْمَرُ بِالدُّعَاءِ عِنْدَ أَذَانِ الْمَغْرِبِ» رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ).

ترجمه: [۱] ابن عمر رضی الله عنه فرمایي چه مونږ ته به د ماښام د اذان کولو په وخت د دعا غوښتلو حکم راکول کیدو. (بیهقي)

تسهیلات: قوله: نُؤْمَرُ:

دحدیث دوه فوائد: یعنی مونږ ته حکم راکولې شی چه مونږ دَماښام دَ اذان په وخت دعا اوغواړو. ① دَ اذان په دوران کښې او پس دَ اذان نه دَدعا دَ قبلیدو وخت دې.

② دې وخت کښې دعا غوښتل که چرې سنت یا واجب نه دی نو کم نه کم دَمستحب په

(۱) اخرجه البیهقی فی الدعوات الکبیر / باب الذکر الدعا اذا سمعا اذان المغرب... رقم الحدیث ۳۱۹

درجه کښې ضرور ده لهذا دَدې اهتمام کول پکاردی.

د اذان نه پس په دعا کښې د لاسونو نه اوچتول: یاد لرئی چه په دې دعا کښې دَ لاسونو اوچتولو معمول نه دَ سلف نه شته او نه دَخلف نه لهذا بغیر دَ لاسونو اوچتولو دې دعا غوښتلې شي. [اشعة المعات: ۳۴۲] علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه شاید داهغه دعا ده دَ کوم ذکرچه په حدیث نمبر(۶۶۹) کښې دې. "یعنی: اللهم هذا اقبال لیلك وإدبار نهارك واصوات دعاتك فاغفرلی"

اشکال: دعا خو دَهر اذان نه پس مستحب ده بیا دَ ماښام دَ تصریح څه ضرورت وو؟

د اشکال جواب: شاید دَ ماښام دَ اذان نه پس دعا دَ نورو اذانونو نه ډیره مؤکد اوزیات قابل اهتمام وی په دې وجه ئې دَدې ذکر اوکړو اوتصریح ئې اوکړه اوچونکه دَ ماښام په وخت دَ ورځې په ختمیدو باندې دَ شپې په راتلو باندې یو لوئی بدلون ښکاره کیږی. کیدې شی چه دَدې دپاره دا وخت دَ ډیر اهتمام قابل وی. بل په ماښام کښې اذان او اقامت بالکل پیوست وی په دې وجه هم دا وخت اهم شو او دَدعا تاکید اوکړې شو.

[۲۴/۶] بَاب (تأخیر الأذان)

دَاذان ورستو والی

خلاصة الباب:

فیه تسعة أحادیث مشتملة علی ست مسائل:

① الأذان فی الصبح الصادق : ۱، ۲.

② سنیة الأذان للجماعة: ۳، ۴.

③ الأذان للقضاء: ۵، ۸.

④ وقت قیام المأمومین للصلاة: ۶

⑤ کراهیة السعي لإدراک الصلوة : ۷.

⑥ تعلق الصیام والصلوة بالأذان: ۹.

بې عنوانه باب: دې باب سره هیڅ عنوان نشته دې په دې وجه دا په تنوین سره لوستلې شي. شیخ عبدالحق رحمه الله دَدې عنوان داسې جوړ کړې دې "باب فی متمات ولواحق الأذان" یعنی مخکینو بابونو سره متعلق دَ یو څو نورو احکامو بیان.

چنانچه په دې باب کښې دَ وخت نه مخکښې دَاذان مسئلې دی او دَ اذان روستو کولو مسئلې هم دی. دَ استحقاق اذان مسئله هم ده او په اذان باندې دَ جماعت طرف ته دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

راتلودكيفيت ذكرهم دي اودَ مؤذن ذمه وارو ذكرهم دي. دا ټول متعلقات دَ اذان نه دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

٦٨٠–د پيشمنئ د وخت اذان

٦٨٠–()[۱] ① عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② ((«إِنَّ بِلَالًا يُنَادِي بِلَيْلٍ، فَكُلُوا وَاشْرَبُوا ③ حَتَّى يُنَادِيَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ»)) . ④ قَالَ: وَكَانَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ رَجُلًا أَعْمَى، ⑤ لَا يُنَادِي حَتَّى يُقَالَ لَهُ: أَصْبَحْتَ أَصْبَحْتَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابن عمر رضي الله عنه راوي دي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ② بلال رضي الله عنه (د سحر اذان خاص) دشپې كوي نو (په رمضان كښې) په پيشنئ كښې خوري اوڅكي ③ تر څو پورې چې تاسو ابن ام مكتوم رضي الله عنه اذان او نه كړي ④ ابن عمر رضي الله عنه فرمايي ابن ام مكتوم رضي الله عنه يو نا بينا سړي وو ⑤ كله چې به هغه ته چا ونه ويل چې تا صبا كړو تا صبا كړو نو هغه به اذان نه كولو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① أَصْبَحْتَ أَصْبَحْتَ: تكرار د تاكيد دپاره دي، أَيْ: دَخَلْتَ أَوْقَارَبْتَ الدُّخُولَ فِي الصَّبَاحِ: يعنى ته په صبا وخت كښې داخل شوې يا دا معنى چه نژدې ده چه ته په صبا وخت كښې داخل شې.

تسهيلات:

قوله: "إِنَّ بِلَالًا يُنَادِي بِلَيْلٍ"

د مذكوره جملې مطلب: يعنى بلال رضي الله عنه دَ شپې په وخت اذان كوى. دَ سحردَ راختونه مخكښې اذان كوى. تاسو خلق دَهغه په اذان سره دَ پيشمنى خوراك مه بندوئى بلكه خوراك خورئى تردې چه عبدالله بن ام مكتوم رضي الله عنه اذان اوشى.

اذان د وخت د داخليدو څخه پس كول: داخبره ټولو ته معلومه ده چه دَ اذان مشروعيت دَ مونځونودَ وختونودَپاره دي. په دې وجه په دې خبره باندې دَ ټولو فقهاؤ اتفاق دي چه دَ سحرنه علاوه په ټولو وختونو كښې مخكښې اذان كول جائز نه دى كه چرې جا اوكړو نوواپس راګرځول لازم دى.

د سحر اذان د وخت څخه وړاندې كولو كښې مذاهب:

خو دَ سحر اذان كښې دَ فقهاؤ اختلاف دې چه آيا دَ سحردَ راختونه مخكښې اذان جائز دې كه نه. ① امام مالك رحمه الله شافعى رحمه الله امام احمدبن حنبل رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله په نيزد

---

(۱) بخاری کتاب الاذانباب أذان الأعمى إذا كان له من يخبره(رقم-٦١٧) ومسلم كتاب الصيام باب بيان أن الدخول فى الصوم يحصل بطلوع الفجر.(رقم) ٣٦ - (١٠٩٢) والنسائى كتاب الأذان ،المؤذنان للمسجد الواحد(رقم-٦٣٧) ومالك فى الموطا كتاب الصلاة باب قدر السحور من النداء(رقم-١٥)

سحر اذان مخکښې دَ سحرنه جائز دی دَ واپس راګرځولو ضرورت نشته دې.

② امام ابوحنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله فرمائی چه دَ نورو وختونو په شان دَ سحر په وخت کښې هم اذان مخکښې دَ سحردَ راختونه جائز نه دې. که څوک چا اوکړو نو واپس به راګرځولې کیږی. دَ ډیرو زیات سلفو هم دغه مذهب دې.

د اول فریق دلیل: زیربحث د حضرت ابن عمر رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه "ان بلالا ینادی بلیل" الفاظ راغلی دی د کوم نه چه معلومیږی چه دَ سحر نه مخکښې به ئی اذان ورکولو.

داول فریق د دلیل جواب: دَ حضرت بلال رضی الله عنه اذان دَ پیشمنی او تهجد دَپاره وو دَ سحردَ پاره نه وو. دَسحردَ پاره په مستقل توګه باندې حضرت ابن ام مکتوم رضی الله عنه اذان ورکولو او هغوی خو نابینا وو نو خلق به راتله ورته به ئی خودل چه "اصبحت اصبحت" یعنی حضرت سحر شو سحر شو تاسو زر اذان اوکړئی نو بیا به هغوی پاسیدل او اذان به ئی کولو.

په مذکوره تاویل دوه قرائن: ① دَ حضرت سمرة بن جندب رضی الله عنه روایت نه په دې باندې دلیل دې چه دَ بلال اذان دَ پیشمنی دَ خوړلودَپاره وو

② بخاری کښې دَ حضرت ابن مسعود رضی الله عنه دَ روایت دا الفاظ دی حضورپاك فرمائیلی: ((لا یمنعن احدکم او احدمنکم اذان بلال من سحوره فانه یؤذن او ینادی بلیل لیرجع قائمکم ولینبه نائمکم)) (بخاری: ۸۷/۱) یعنی دَ بلال اذان دې تاسو دَ پیشمنی دَخوراك نه منع نه کړی ځکه چه هغه دَ شپې مخکښې دَ سحردَ راختونه ځکه اذان ورکوی چه ستاسو تهجد کونکی کورته واپس شی او پیشمنې اوکړی یا اوده شوې راپاسی. هم دغه حدیث واضح دلیل دې چه دَ سحرمونځ اذان دَوخت نه مخکښې کله هم نه دې شوې. کوم اذان چه مخکښې شوې دې هغه به دَ پیشمنی په شان وو.

د دویم فریق دلائل: ① په بیهقی او ابوداؤد کښې دَحضرت ابن عمر رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې دې چه (مخکښې دَسحردَ راختو نه اذان ورکولو باندې) حضورپاك دَحضرت بلال رضی الله عنه نه تپوس اوکړو چه تا داسې ولې اوکړه؟ هغوی جواب ورکړو چه کله زه پاسیدم نو تردغه وخته په خوب کښې ووم نو ما داخیال اوکړو چه صبح صادق شوې دې (نوما اذان اوکړو) په دې باندې حضورپاك اوفرمائیل اوس لاړشه او دَخپل ځان باره کښې دا اعلان اوکړه خبردار بنده اوده شوې وو (اودَ خوب په حالت کښې مې په غلطئی سره اذان ورکړې دې).

② په ابوداؤد شریف کښې دَحضرت بلال رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې هغوی ته رسول اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل "لاتؤذن حتی یستبین لك الفجر هکذا ومدیده عرضا" (رواه ابوداؤد)

③ په ترمذی کښې دَحضرت بلال رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې چه حضرت بلال رضی الله عنه یوه ورځ دَ سحر وخت نه مخکښې ورکړو نو حضورپاك هغه ته حکم ورکړو چه اذان واپس

او کړه.

④ دَحضرت ابن عمر رضي الله عنه روایت د دوی مستدل دې دې "ان بلالا أذن قبل الفجر فغضب رسول الله ﷺ" (زجاجة المصابیح ۱/۲۰۱)

⑤ "والمؤذن مؤتمن" هم د دوی مستدل دې ځکه چه دَوخت نه مخکښې خووخت سره خیانت دې اومؤذن امین وی هغه له داسې نه دی کول پکار.

⑥ دغه شان دَحضرت عمر رضي الله عنه طرف ته منسوب دی چه هغوی خپل غلام ته مخکښې دَ سحردَ راختونه اذان ورکولو باندې دَ دوباره کولو حکم ورکړو.

⑦ ائمه احناف سره عقلی دلیل هم شته. هغه داسې چه لکه څنګه باقی څلورو وختونو په مونځونو کښې دَ چا په نیزدَ وخت نه مخکښې اذان کول معتبر نه دی. دغه شان اذان مخکښې دَسحردَ راختونه کول هم جائز نه دی ځکه چه په ټولو کښې علت مشترك دې اوهغه دا چه دَ اذان مقصد دَ وخت تعیین وی اودَ وخت نه مخکښې اذان کښې تجهیل دَوخت دې تعیین دَ وخت نه دې.

٦٨١ — د پیشمنی آخری وخت

٦٨١ — (۱) [۲] ① وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② (« لَا يَمْنَعَنَّكُمْ مِنْ سُحُورِكُمْ أَذَانُ بِلَالٍ، ③ وَلَا الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيلُ، ④ وَلَكِنِ الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيرُ فِي الْأُفُقِ »). رَوَاهُ مُسْلِمٌ، وَلَفْظُهُ لِلتِّرْمِذِيِّ.

ترجمه: ① حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه وایي چې رسول کریم ﷺ اوفرمایل ② د بلال رضي الله عنه آواز دې تاسو د پیشنمې د خوراک او څښاک څخه منع نه کړي (ځکه چې هغه په شپه کښې اذان کوي) ③ او نه فجر اوږد (یعني صبح کاذب) ④ البته په افق باندې خور فجر (یعني صبح صادق چې ظاهر شي نو خوراک څښاک پریږدي) مسلم، الفاظ د ترمذي دي

حل اللغات: ① الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيلُ: أَيْ: الصُّبْحُ الَّذِي يَصْعَدُ إِلَى السَّمَاءِ: د سحر رڼا چه آسمان طرف ته راوږده شي، دې ته صبا کاذب وائی، دا رڼا راوږده شي خو واپس ختمه شي ځکه ورته صبا کاذب وائی. ② الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيرُ: أَيْ: الْمُنْتَشِرُ الْمُعْتَرِضُ: د صبا کاذب نه پس نوره رڼا رانښکاره کیږی چه هغه د آسمان په کنارو کښې په پلنوالی خوره وی دا اصل صبا دې ځکه ورته صبا صادق هم وائی. ③ الْأُفُقِ: أَيْ: أَطْرَافِ السَّمَاءِ: د آسمان غاړو ته وائی.

---

(۱) اخرجه مسلم باب بیان أن الدخول فی الصوم یحصل بطلوع الفجر.(رقم) ۴۳ - (۱۰۹۴) وابوداود کتاب الصوم باب وقت السحور (رقم ۲۳۴۶) والترمذی کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی بیان الفجر (رقم-۷۰۶)

تسهيلات:

قوله: لَا يَمْنَعَنَّكُمْ مِنْ سُحُورِكُمْ أَذَانُ بِلَالٍ،

د بلال په اذان د روژې نه بندولو وجه: حضرت بلال ﷺ به گمان کولو چې گنی سحر شوي دې نو آذان به يې اوکړو، او دا به د تهجدو آذان وو. په دې وجه نبی کريم ﷺ صحابه کرامو ته اوفرمائيل چې تاسو د حضرت بلال ﷺ په آذان مه دهوکه کيږئ چې گنی دا دسحری آذان دې.بيا چې کله تاسو د ام مکتوم ﷺ آذان واؤرئ نو د خوراك نه لاس اونيسئ. ځکه ام مکتوم نابينا وو. او تر هغه وخته پورې به يې اذان نه کولو تر څو چې به ورته دصحابه کرامو جماعت نه وو وئيلی چې صبا شو اذان اوکړه.

قوله: وَلَا الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيلُ

د فجر تستطيل تعريف: ابن ملك رحمة الله عليه فرمائی چې فجر مستطيل هغه وی کومې کښې چې سپينوالې مشرق نه آسمان طرف ته ځی ، او دې ته فجر کاذب هم وائی . او ددې د تلو نه پس تياره راخوره شی ، بيا دې نه پس مشرق طرف نه يوه مستطريه شان رڼا ظاهره شی ،هغې ته صبح صادق وائی.

٦٨٢—په سفر کښې داذان حکم

٦٨٢—(١)[٣] ١ وَعَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-، قَالَ: ٢ «أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَابْنُ عَمٍّ لِي، فَقَالَ: ٣ (إِذَا سَافَرْتُمَا فَأَذِّنَا وَأَقِيمَا، ٤ وَلْيَؤُمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا»). رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ مالک ابن حويريث رضي الله عنه فرمايي ٢ چه زه او زما د تره زوي (مونږ دواړه) د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو نو رسول الله ﷺ وفرمايل ٣ هر کله چې تاسو په سفر لاړ شی نو د لمانځه دپاره اذان اوتکبير وايئ ٤ او په تاسوکښې چې کوم مشر وي هغه دي امامت کوي. (بخاري)

تسهيلات: قوله: وَلْيَؤُمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا

دحديث مفهوم: مالك بن الحويرث وائی چې زه د خپل د تره زوئې سره د نبی کريم ﷺ په خدمت حاضر شوم. نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې کله تاسو دواړه په سفر کښې يئ نو اذان هم کوئی او اقامت هم ، او په تاسو کښې دې امامت هغه څوك اوکړی څوك چې مشر وی. هم دامضمون هدايه کښې دابن ابی مليکه نه نقل کړې شوې دې. او د لته په مشکوة کښې د مالك بن الحويرث نه نقل کړې شوې دې. صحيح همدا دې.

(١) اخرجه البخاری کتاب الاذان باب من قال: ليؤذن فی السفر مؤذن واحد(رقم-۶۲۸) ومسلم کتاب المساجد و مواضع الصلاة باب من أحق بالإمامة (رقم) ۲۹۲ - (۶۷٤)، وابوداود کتاب الصلاة،باب من أحق بالإمامة (رقم-۵۸۹) والنسائی کتاب الأذان ،اجتزاء المرء بأذان غيره فی الحضر(رقم-۶۳۶)، والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الأذان فی السفر(رقم-۲۰۵) وابن ماجة باب من أحق بالإمامة (رقم-۹۷۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: فَأَذِّنَا وَأَقِيمَا،

اشکال: ددې حدیث نه معلومیږی چې دواړه اذان هم کوئی او دواړه اقامت هم کوئی ، حالانکه اصل کښې داسې نه ده؟

دااشکال دری جوابونه: ① دا د تثنیه تخییر دپاره دی ، مطلب دا دې چې په تاسو دواړو کښې د یو ذمه داری دا ده .داذان اواقامت په خلاف امامت دپاره دا شرط دې چې په تاسو کښې څوك مشر وی هغه دې امامت اوکړی .

② دواړه دې اذان اوکړی ، یو مشاورةً او بل مباشرةً.

③دواړه دې اووائی ، یو د مؤذن په حیثیت سره او بل د اجابت په حثیت سره .

مباشرة اجابة (الراجح هو الاول) یعنې د امامت باره کښې اوفرمائیل چې تاسو کښې څوك مشر وی هغه دې امامت اوکړی .

اشکال: فقهاء کرامو لیکلی دی،چې اول دې اعلم امامت اوکړی بیا اقرأ اوبیا دې أسن، اوپه دې حدیث کښې اول حقدار دامامت مشر گرځولې شوې دې.

دااشکال جواب: چونکه هغوئ دواړه د علم او قراءت لحاظ سره برابر وو ، په دې وجه یې اسن ته ترجیح ورکړه ، او که باقی په ټولو مرجحاتو کښې برابر وی نوترجیح به د عمر اعتبار سره وی. ددې حدیث پاك نه معلومه شوه چې مسافر ته پکار دی چې اذان او اقامت دواړه اوکړی .

۶۸۳—په دوو کسانو کښې مشر امام جوړول

۶۸۳—( )[۳] ⓵ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⓶ («صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي، ⓷ وَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ أَحَدُكُمْ، ⓸ ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمْ أَكْبَرُكُمْ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⓵ ابن حویرث رضی الله عنه راوي دي چه رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ⓶ تاسو چې ما څنګه په لمانځه کولو وینئ دغسې تاسو هم کوئ ⓷ او هر کله چې د لمانځه وخت شی نو په تاسو کښې دې څوک اذان وکړي ⓸ او څوک چې در په کښې مشر (لویې) وي هغه دي امامت درکړي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① أَكْبَرُكُمْ: اى عِلْمًا أَوْ سِنًّا: د مشروالی نه مراد یا زیاتوالې دعلم دې یا د عمر دې.

تسهیلات:

قوله: "كَمَا رَأَيْتُمُونِي"

په هر عمل کښې د سنت تابعداری: یعنی اصل شریعت هغه دې د کوم چه نمونه حضرت

(۱) اخرجه البخاری کتاب الاذان باب الأذان للمسافر، إذا كانوا جماعة، والإقامة، وكذلك بعرفة وجمع، وقول المؤذن: الصلاة في الرحال، في الليلة الباردة أو المطيرة (رقم-۶۳۱)

شارع علیہ السلام پيش کړي دہ. په دې وجه حضور پاك او فرمائيل چه ماته ګورئي زما په شان عمل کوئی زما نمونه خپله کړئی زما په نقش قدم باندې تګ کوئی دَخپل طرف نه دَ عبادتونو نقشې او ترتيب مه ورکوئی.

قوله: "فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ أَحَدُكُمْ"

په اذان کښې د مشر او کشر عدم فرق: يعنی دَ مونځ وخت کښې تاسو نه دې څوك هم چه اذان ورکړی نوکه تاسو په سفرکښې يئی يا په حضرکښې بيا دَامامت دَپاره تاسو نه دې دَټولو نه غوره سړې وړاندې شی اوستاسو امامت دې اوکړی.

دَ اکبر نه مراد: "اَکْبَرُکُمْ" دې نه مراد غوره سړې دې صرف په عمرکښې زيات مراد نه دې. يعنی دَ امامت مستحق به هم هغه سړې وی چه په علم اوفضل کښې دَ ټولو نه وړاندې وی. که چرې په دې کښې دواړه برابر وی نوبيا چه کوم يو په عمرکښې زيات وی هغه به امام جوړيږی اودَ عمر نه هغه عمر مراد دې چه دَاسلام په حالت کښې تيرشوې وی دَجاهليت دَعمر اعتبار نشته دې.

فائده: دَدې کلام نه دامعلوميږی چه په معاشره او محله کښې دَ اذان دَپاره هرسړې مخکښې تلې شی. ليکن دَ امامت دَپاره به دَدې اهل سړې راوستلې شی.

٦٨٤ـ دَ قضا شوی مونځ په جماعت سره قضا راوړل

٦٨٣ـ (١) [٥] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَفَلَ مِنْ غَزْوَةِ خَيْبَرَ، سَارَ لَيْلَةً ③ حَتَّى إِذَا أَدْرَكَهُ الْكَرَى عَرَّسَ، ④ وَقَالَ لِبِلَالٍ: (اكْلَأْ لَنَا اللَّيْلَ. فَصَلَّى بِلَالٌ مَا قُدِّرَ لَهُ ⑤ وَنَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ. ⑥ فَلَمَّا تَقَارَبَ الْفَجْرُ اسْتَنَدَ بِلَالٌ إِلَى رَاحِلَتِهِ مُوَاجِهَ الْفَجْرِ ⑦ فَغَلَبَتْ بِلَالًا عَيْنَاهُ، وَهُوَ مُسْتَنِدٌ إِلَى رَاحِلَتِهِ،

ترجمه: ① ابوهريره رضی الله عنه فرمايي ② چې رسول الله ﷺ چې د غزوه خيبر څخه واپس شو نو توله شپه يي سفر وکړو ③ تر دې چې کوم وخت ورباندې غنودګي (د خوب جوتا) راغله نو حضور ﷺ د آرام کولو د پاره په آخري شپه کښې يو خاي ښکته شو ④ او بلال رضی الله عنه ته يي وفرمايل ته زمونږ خيال ساته (يعني چې سحر شی نو مونږ ويښ کړه) دي فرمايلو سره حضور ﷺ او صحابه رضی الله عنهم اوده شوه نو بلال رضی الله عنه د تهجد مونځ چې څومره کيدي شو وي کړو ⑤ کله چې صبح صادق نزدي شو نو بلال رضی الله عنه د خپلي کجاوي سره تکيه لګولو سره د فجر (مشرق) طرف ته مخ کولو سره کيناستو ⑦ (چې صبح صادق شی نو حضور ﷺ به راويښ کړي) بلال رضی الله عنه کجاوي سره تکيه لګولي ناست وو اتفاقًا هغه ته هم خوب ورغلي.

حل اللغات: ① قَفَلَ: أَيْ: رَجَعَ: چه راواپس شو. دَ ميدان جنګ نه واپس راتلونکی مجاهدينو

(۱) اخرجه المسلم كتاب المساجد و مواضع الصلاة باب قضاء الصلاة الفائتة، واستحباب تعجيل قضائها (رقم) ۳۰۹ - (۶۸۰) وابن ما جة كتاب الصلاة، باب من نام عن الصلاة أو نسيها (رقم-۶۹۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

دَپاره دَ فعل لفظ استعماليږي. ② سَارَ: روان وو، سفر ئې کولو. ③ الْكَرَى: هُوَالنُّعَاسُ أوالنَّوْمُ: کرئ د خوب جوتو ته وائي، يا خوب ته وائي. ④ عَرَّسَ: دا د تعريس نه دې دَ باب تفعيل نه، أيْ: نَزَلَ آخِرَ اللَّيْلِ لِلاِسْتِرَاحَةِ: دَ شپې په آخرى حصه کښې دَ آرام کولو دَپاره ډيره اچولو ته تعريس وائي. ⑤ اكْلَأْ: أيْ: احْفَظْ وَاحْرُسْ: يعنى زمونږ دَ شپې څوکيداري کوه. "اكلأ" دَ باب فتح يفتح نه دَامر صيغه ده دَ يوځيز نګراني او حفاظت او څوکيداري ته کلأ وائي. ⑥ اسْتَنَدَ: تکيه او ډډه ئې لګولې وه. ⑦ رَاحِلَتِهِ: کيجاوه. ⑧ مُوَاجِهَ: أيْ مُتَوَجِّهَ: مخ کړې ئې وو.

[۱] فَلَمْ يَسْتَيْقِظْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَا بِلَالٌ، وَلَا أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِهِ [۲] حَتَّى ضَرَبَتْهُمُ الشَّمْسُ، [۳] فَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ وَسَلَّمَ أَوَّلَهُمْ اسْتِيقَاظًا، فَفَزِعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: [۴] (أَيْ بِلَالُ!). فَقَالَ بِلَالٌ: أَخَذَ بِنَفْسِي الَّذِي أَخَذَ بِنَفْسِكَ. [۵] قَالَ (اقْتَادُوا) فَاقْتَادُوا رَوَاحِلَهُمْ شَيْئًا، [۶] ثُمَّ تَوَضَّأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَمَرَ بِلَالًا فَأَقَامَ الصَّلَاةَ، [۷] فَصَلَّى بِهِمُ الصُّبْحَ. فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ، قَالَ: [۸] (مَنْ نَسِيَ الصَّلَاةَ فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا؛ [۹] فَإِنَّ اللهَ تَعَالَى قَالَ: ﴿وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي﴾ [طه: ۱۴] »). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] (نو د صبح صادق کيدو په وخت) حضور ﷺ، بلال رضی الله عنه او صحابو رضی الله عنهم کښې هيڅوک هم بيداره نه شو [۲] تر دې چې نمر پرې راغې (او دهغې ګرمي ورته ورسيده) [۳] نو د ټولو څخه مخکې د رسول الله ﷺ سترګې وغړيدلې او حضور ﷺ په ويرې سره وفرمايل [۴] بلاله دا څه وشو؟ بلال رضی الله عنه (هم په خوف سره اودريدو) عرض يې اوکړو يا رسول الله ﷺ زه هم هغه شي ونيولم کوم چې تاسو نيولي وئ (يعني خوب) [۵] رسول الله ﷺ وفرمايل د دې ځايه څخه روان شی نو ټول خلق تر لږ لرې پورې خپلې خپلې سورلې روانولو سره لاړل [۶] بيا حضور ﷺ اودس اوکړو او بلال رضی الله عنه ته يې د تکبير وئيلو حکم اوکړو نو هغه د لمانځه د پاره تکبير اوکړو [۷] او حضور ﷺ صحابه وُ رضی الله عنهم ته د سحر مونځ ورکړو کوم وخت چې د لمانځه څخه فارغه شو نو حضور ﷺ وفرمايل [۸] چې کوم سړي نه (د خوب وغيره په بنا) مونځ کول هير شی نو په ياد راتلو سره سم دستي دې مونځ وکړي [۹] ځکه چې الله تعالی جل جلاله فرمايي أَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي يعنی زما د يادولو په وخت مونځ وکړي. (مسلم)

حل اللغات: ⑨ ضَرَبَتْهُمْ: أيْ: أَصَابَتْهُمْ وَوَقَعَ عَلَيْهِمْ حَرُّهَا: نمر پرې راغې او ګرمي پرې اولګيده. ⑩ فَفَزِعَ: نو اويريدو (چه دسحر مونځ رانه قضا شو). ⑪ اقْتَادُوا: أيْ: سُوقُوا رَوَاحِلَكُمْ: خپلې سورلۍ رواني کړئ.

تسهيلات:

قوله: مِنْ غَزْوَةِ خَيْبَرَ:

دحديث پس منظر: غزوه خيبر په کال ۵ هجرى کښې پيښه شوې وه. دَ مدينې منورې دَ

اطرافو نه دَ بنونضیروغیره نه اکثر یهودیان دَ خیبر په علاقو کښې راجمع شوي وو. مدینه منوره چونکه دَ اسلام مرکز جوړشوي وو اودا یهودیان هروخت دَ اسلام دَ مرکز خلاف دَ بهرکافرانو سره رابطه ساتله. دَ عقل ودانش تدبیراو تدبر تقاضا وه چه مرکز اسلام دَدې خطرې نه اودَ یهودودَدغه ناپاکه فتنې نه پاك كړې شي. دَ صلح حدیبیه نه واپس كیدو باندې حضورپاك دَ څه تاخیر كولو نه بغیر په صلح حدیبیه كښې شریك دوه نیم زره صحابه كرامو سره دَ خیبرپه یهودو باندې حمله اوكړه. دَمدینې منورې نه دَخیبرطرف ته په شمال كښې ۹۶ میل فاصله باندې واقع ده. هغه وخت داعلاقه په اووه مضبوطو جنګی قلعه ګانو مشتمل وه. دَ خیبر په زمکه باندې كوزیدو سره نبی الملاحم ﷺ دا تاریخي جملې ارشاد اوفرمائیلې "الله اكبر خربت خیبر الله اكبر خربت خیبر الله اكبر خربت خیبر" تریوې میاشتې پورې اسلامی لښكردَ خیبرمحاصره جاری اوساتله اوبیاټولې قلعه ګانې فتح شوې. دَ كافرانو مشران ۹۲ یهودیان اووژلې شو او ۱۶ دَ اسلام سرفروشو دَ شهادت جام نوش كړو. په وړه علاقه باندې دَ اسلام جهنډا اوچته شوه. حضرت علی رضي الله عنه قلعه قاموص فتح كړه اوباب خیبرئی مات كړو په دې وجه هغوی ته فاتح خیبرلقب ملاؤشو.

قوله: الْكَرَى:

دخوب قسمونه: دَ خوب ډیر قسمونه او درجات دی

① كله چه دَ خوب اثر په سترګو باندې وی هغې ته سنة وائی

② كله چه خفیف غوندې اثر په دماغو باندې وی هغې ته كری وائی

③ كله چه اثر په زړه باندې وی هغې ته نعاس وائی. په دې الفاظو كښې دامعمولی شان فرق كولې شی مګردا الفاظ مترادفه دی ټول دَ خوب په شروع كیدو او پركالی راتلو باندې وییلې شی اوكله چه په بدن باندې دَ خوب مكمل قبضه اوشی هغې ته النوم وائی.

قوله: مُوَاجِهَ الْفَجْرِ:

دمذكوره جملې تركیب: دا جمله دَاستند دَ ضمیرنه حال واقع ده اوموجه دَباب تفعیل نه اسم فاعل صیغه ده چه دَتاوولو په معنی كښې ده. اصل عبارت داسې دې "ای موجه راحلته الی الفجر"

د مذكوره جملې په مطلب كښې دوه اقوال: ① دَدې مطلب دا شوچه حضورپاك سورلی په داسې انداز سره كینوله چه هغې سره ئی ډډه اووهله اوحضورپاك جانب فجر یعنی مشرق طرف ته مخ كولوسره كیناستو.

② شیخ عبدالحق رحمه الله داهم لیكلی دی چه موجه دَمتوجه په معنی كښې اخستلې شی یعنی حضورپاك دَ مشرق طرف ته دَ سحردَ راختلودَ كتلودپاره په خپله سورلئی باندې ډډه وهلوسره متوجه كیدو سره كیناستو. (كذافی اللمعات)

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: اقْتَادُوا:

دا دَ باب افتعال نه دَامر صيغه ده په اصل کښې دا دَ قود نه دې کوم چه دَ جلب نه اونيسى او اوښ وغيره را ښکلو ته وائى لکه څنګه چه سوق دَ شړلو په معنى کښې دې. فاقتادوا دا هم دَدې باب نه دَماضى صيغه ده يعنى ټولو خلقو دَهغه ځائى نه سورلئى واخستې لاړل.

د بيداريدو ځغه روسته سمدستى د مونځ قضاء نه راؤړلو دوه وجوهات: کله چې دَحضورپاك سترګې کولاؤشوې نوحضورپاك زر دَ سحردَ مونځ کولواهتمام اونه کړو؟ بلکه مخې روان شو د دې په حکمت کښې دوه اقوال دى.

① احناف فرمائى چونکه دَ نمردَ راختلو مکروه وخت وو هغه وخت قضاشوې مونځ اداکول مکروه وو. په دې وجه حضورپاك صحابه کرامو ته څه وړاندې دَتللوحکم ورکړودې دَپاره چه مکروه وخت اوځى. دَمسلم شريف روايت کښې دى چه "فسرنا حتى اذا ارتفعت الشمس نزل (ص: ۲۳۹)" دا دَ احنافو تائيد دې.

② شوافع فرمائى: داسې قضاشوې مونځ اداکول دَ سحروخت راختلو په وخت جائزدې. حضورپاك صحابه کرامو ته دَدې وادئى نه دَتللو حکم په دې وجه ورکړو چه په وادئى کښې دَ شيطانانو مسکن او اثر وو. چنانچه بعض رواياتو کښې دې طرف ته اشاره هم موجود ده.

اشکال: دَ احاديثو نه ثابته ده چې د خوب په حالت کښې د نبى کريم صلى الله عليه وسلم سترګې اوده کيږى ليکن زړه نه اوده کيږى بلکه بيدار اوسيږى نودَ زړه دَ بيدار پاتې کيدو نه باوجود څه وجه ده چه حضورپاك ته دَ سحردَ راختلو اودَ صبح صادق دَ کيدلو پته اونه لګيدله اومونځ قضاشو؟

د اشکال جواب: په انسانى بدن کښې دَ هريو اندام جدا جدا کار او ځان ځانله ذمه وارى وى. دَ سحر پيژندګلو کول اودَهغې معلومول دَ زړه وظيفه نه ده بلکه دادَسترګو ذمه وارى اودَدې وظيفه ده. هم دغه وجه ده که يوسړې سترګې بالکل بندې کړى نودَ ويښيدو په حالت کښې هم هغه دَ صبح صادق وغيره مرئى څيزونو پيژندګلونه شى کولې. حالانکه زړه بيداردې او سړې ويښ دې صرف سترګې بندې دى. پخپله حضرت عبدالله ابن ام مکتوم ﷺ په ويښه حالت کښې به دَ صبح صادق پيژندګلونه شوه کولې ځکه چه هغه نابينا وو حالانکه زړه به ئى بيداروو. دلته هم دَ حضورپاك معامله هم داسې وه چه دَ صبح صادق دَ پيژندګلو وظيفه چونکه دَ سترګو وه او سترګې بندې وې نودَ زړه دَ بيداريدو سره حضورپاك په سحرباندې پوهه نه شو او مونځ قضاشو خو چه دَ نمرلګيدوسره دَ حضورپاك بدن متاثر شو نوهله حضورپاك ته دَ سحردَ راختلو او نمر دَ راختلو احساس اوشو.

د مونځ په قضاء کيدو کښې حکمت: دَ حضورپاك مونځ قضاکيدل اودَ وحى يا کشف په ذريعه دَالله تعالى دَطرف نه دَ بيداريدو انتظام نه کول دَ الله تعالى مرضى او حکمت وو

دې دپاره چه دحضورپاك په دې فعل سره امت ته په داسې قسم حالاتوکښې يوه نمونه او مسنون طريقه ملاؤشي. تسهيلات جلداول کښې دَدې مسئلې تفصيل تيرشوې دې هلته اوګورئ.

قوله: فَأَقَامَ الصَّلَاةَ:

د قضاء شوی مونځ دپاره د اذان په کولو کښې مذاهب:

① يعنى حضرت بلال ﷺ ته حضورپاك ﷺ دَتكبيرونيلوحكم ورکړو نوهغوی دَ مانځه دپاره تكبير اوونيل او رسول الله ﷺ قضامونځ په جمع سره اداکړو. دَدې لفظ نه په ظاهره داسې معلوميږی چه دَ قضا مونځ دپاره صرف تكبيرونيل کافي دی دَ اذان کولوضرورت نشته. دَامام شافعي رحمه الله جديد قول هم دغه شان دې ليکن دَ شوافع علماؤ قديم قول اومعتمد مسلك هم دغه دې چه دَ قضا مونځونودپاره اذان كول ضروری دی.

② دَ احنافو مسلك هم دغه دې چه اذان اواقامت دواړه ضروری دی. صاحب دَ هدايه په هدايه کښې ليکلی دی چه رسول الله ﷺ "ليلة التعريس" په سحر دَ سحر قضا مونځ اذان او اقامت سره اداکړې وو. شيخ ابن همام رحمه الله فتح القدير کښې دَ مسلم شريف يو اورد حديث حواله ورکړې ده په کوم کښې چه دَ ليلة التعريس قصه ده په دغه حديث کښې دا الفاظ "ثم اذن بلال بالصلوة فصلى رسول الله ﷺ ركعتين" (مسلم ج۱ص۲۳۹) دَ ابوداؤد په يوروايت کښې دا الفاظ راغلي دی "انه ﷺ امر بلالا بالاذان والاقامة حين نامواعن الصبح وصلوها بعد ارتفاع الشمس" [اشعة اللمعات: ۳۴۴] (كذافي اللمعات)

دَدې تفصيلي احاديثو نه پس به هم دغه وئيلي شی چه دَ زير بحث حديث کوم الفاظ دی "واقام الصلوة" دا مجمل دی تفصيل به نظرانداز کولې نه شی.

مسئله: د صبا د سنت قضاء کيدو د مختلفو صورتونو حکمونه:

① که دَ يوسړی دَ سحرمونځ قضاشی نوهغه به فرض مونځ سره سنت هم کوی په دې شرط چه دَ زوال نه وړاندې قضااوکړی

② که چرې هغه دَ زوال نه پس قضاکوی نوبيادَ سحر سنت نه شی کولې.

③ که دَ يوسړی نه دَ سحرسنت پاتې شی اوفرض ئې اوکړل نواوس به هغه دَ نمرد راختو نه پس دَدې سنتو قضانه شی کولې اودَ ثواب دَ حاصلولودپاره دې هغه دوه ركعته نفل اداکړی دا مسئله آئنده په تفصيل سره راروانه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

٦٨٥-دامام د راوتلو نه وړاندې د اودريدو ممانعت

٦٨٥-()[١] ١ وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ («إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَقُومُوا حَتَّى تَرَوْنِي قَدْ خَرَجْتُ») مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ ابو قتاده رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ هر كله چې د لمانځه د پاره تكبير وشي نو تر څو پورې چې تاسو ما د حجرې څخه وتونكي ونه وينئ د لمانځه د پاره مه درېږئ. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① أُقِيمَتِ: أَيْ: نَادَى الْمُؤَذِّنُ بِالْإِقَامَةِ: يعنى مؤذن اقامت (تكبير) اوكړي.

تسهيلات:

قوله: فَلَا تَقُومُوا حَتَّى تَرَوْنِي قَدْ خَرَجْتُ

اشكال: په ظاهره خو حديث پاك نه معلوميږي چې د نبى كريم ﷺ راتلو نه وړاندې به اقامت كيدو او بيا ددې نه روستو مقتديان اودريدل؟. نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې تاسو تر هغه وخته پورې مه اودرېږئ ترڅوتاسو ماووينئ چې زه د حجره شريف نه راوتلم نو بيا اودرېږئ. اصل مسئله داده چې اقامت دې دامام د راتلو نه پس شروع كړې شى . ددې حديث پاك نه معلوميږي چې د نبى كريم ﷺ راتګ نه وړاندې به اقامت كيدو؟

داشكال جوابونه: ① داسې كول هم جائز دى،او كه متعد به فصل نه وى نو ددې د اعادې كولو هم ضرورت نشته دې. ليكن افضل دادې چې كله امام مسجد ته دننه راشى نو بيا دې تكبير اووئيلې شى. او د نبى كريم ﷺ په شروع كښې دا عمل دبيان دجواز دپاره وو.

② چونكه حضرت بلال رضي الله عنه به هر وخت تيار وو چې كله به نبى كريم ﷺ دحجرې مباركې نه راووتل نو زر به يې تكبير شروع كولو، خو نورو خلقوته دنبى كريم ﷺ د راتلو روستو علم كيدو ، نو دې صحابى چې څنګه اوليدل نو هغه شان يې بيان اوكړو. حقيقت كښې به تكبير اول نه كيدو ، او حضرت بلال رضي الله عنه چې مكبر وو ، د هغوئ اعتبار سره به اول نه كيدو، د عامو خلقو اعتبار سره اول كيدو. بهر حال مسئله داده كه چرې امام ته انتظار كول وى نو په ناسته دې انتظار اوكړى ، په ولاړه دې اونه كړې شى ، او ممكن ده چې په ولاړه وقفه طويله شى نو خلق به مشقت كښې اخته شى . په دې وجه نبى كريم ﷺ خپلو صحابه كرامو ته اوفرمائيل چې زما په انتظار كښې مه اودرېږئ ترڅوچې ما په راتګ اونه وينئ.

---

[1] اخرجه البخارى كتاب الاذان باب: متى يقوم الناس، إذا رأوا الإمام عند الإقامة(رقم-٦٣٧) وابوداود كتاب الصلاة،باب السعى إلى الصلاة(رقم-٥٧٢)ومسلم كتاب المساجدومواضع الصلاة اب متى يقوم الناس للصلاة(رقم)١٥٦ - (٦٠٤) والترمذى كتاب العيدين/باب فى خروج النساء فى العيدين (رقم-٥٣٩) والنسائى كتاب الإمامة/باب قيام الناس إذا رأوا الإمام (رقم-٧٩٠)

په ناسته دامام انتظار کول: هرکله چې امام نه وي نو دهغه انتظار په ناسته پکار دي په ولاړه نه دي پکار ، ددې حديث پاك مدلول هم دادي.

په جماعت کښې د امام په موجودګۍ کښې دمقتديانو دپاره په اودريدو کښې مذاهب:

هرکله چې امام په مسجد کښې موجودی نو مقتديانو لره کله اودريدل پکار دی؟

① مالکيان وائی چې په دې کښې څه تحديد نشته دې چې کله اودريدېږی نو اودريدلې شی.

② د طرفينو طرفته منسوب دی چې کله مکبر حيعلتين ته اورسی نو هغه وخت کښې پکار ده چې مقتديان اودريږی. او کله چې مکبر قدقامت الصلوة ته اورسی نو امام ته پکار دی چې تکبير تحريمه اووائی. ددې جوابات لاندې درج دی.

دطرفينو د قول څخه جوابونه: ① د طرفينو دا قول مؤول دې. مطلب دادې که مقتديانو نه په اودريدو کښې تاخير اوشی کوم مباح تاخير دې نو زيات نه زيات حيعلتين پورې اودريدل پکار دی. ددې نه زيات نه دی پکار. دا د تاخير نه احتراز دې د تقديم څخه نه دې. لکه څنګه چې به دحضرت عمر فاروق ﷺ په زمانه کښې په دې باندې عمل کيدو . باقی پاتې شوه دا خبره چې د طرفينو دا تاويل منقولی دی اوکه جعلی ؟ د درمختار حاشيه چې د طحاوی په نوم مشهوره ده ، په هغې کښې دا وضاحت موجود دې چې دا د تاخير څخه احتراز دې ، تقديم څخه د احتراز نه دې، خو دا نسخه عامه نه ده .

② داشان دا مسئله په متون کښې ليکلې شوې ده ، هلته هم دا ليکلی شوی دی دا د مستحباتو نه دی (باب استحباب نه پس ليکلې شوی دی) او قاعده او ضابطه داده چې کله په يو مستحب باندې عمل سره د سنت مؤکده ترك يا په دې کښې خلل لازم راشی نو داسې مستحب پريښودلې کيږی. او ظاهره ده که مقتديان په حيعلتين باندې اودريږی نو تسوية صفوف به نه وی ، حالانکه تسوية صفوف خو قريب الى الواجب دی.

③ هرکله چې يو مستحب سره يو واجب والا معامله اوشی نو دمستحب ترك به واجب او پريښودل به ضروری وی. او نن موجوده زمانه کښې خو دا يوه طريقه جوړه شوې ده. لهذا ددې ترك ضروری دې. (خير المفتاتيح (۱/ ۸۹ – ۹۰)

۶۸۶ –د مانځه دپاره د منډې وهلو ممانعت

۶۸۲ –(۱) [۷] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② ((إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ، فَلَا تَأْتُوهَا تَسْعَوْنَ، ③ وَأْتُوهَا -تَمْشُونَ وَعَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ. ④ فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا، وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا)).

(۱) اخرجه البخاری کتاب الجمعة باب المشی إلی الجمعة (رقم-۹۰۸) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة باب استحباب إتيان الصلاة بوقار وسکينة، والنهی عن إتيانها سعيا (رقم-۱۵۱ - (۶۰۲)) وابوداود کتاب الصلاة،باب السعی إلی الصلاة (رقم-۵۷۲) و ابن ماجة کتاب المساجد والجماعات ،باب المشی إلی الصلاة(رقم-۷۷۵) و مالک فی الموطا کتاب الصلاة باب ما جاء فی النداء للصلاة (رقم-۴) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/ باب ما جاء فی المشی إلی المسجد (۳۲۷رقم) والنسائی کتاب الإمامة/ باب السعی إلی الصلاة (رقم۸۶۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[۵] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: ((فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا كَانَ يَعْمِدُ إِلَى الصَّلَاةِ فَهُوَ فِي صَلَاةٍ)). [۶] وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّانِي.

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] هر کله چې د لمانځه تکبير وشي نو تاسو په جماعت کې د شامليدو د پاره په منډه مه راځئ[۳] بلکه په وقار او طمانيت سره په خپل تګ راځئ[۴] څومره مونځ چې تاسو د امام سره لاتدي کړي هغه وکړي او کوم چې فوت شي (د امام د سلام ګرځولو څخه وروسته ودريدو سره) هغه پوره کړي، (بخاري، مسلم)[۵] او د مسلم په روايت کې دا الفاظ هم دي څکه چې په تاسو کې څوك د لمانځه اراده کوي نو هغه (حکمًا) په لمانځه کې شامل ګڼلي شي.[۶] او په دي باب کې دويم فصل نشته

حل اللغات: ① تَسْعَوْنَ: لَاتَأْتُوا إِلَى الصَّلَاةِ مُسْرِعِينَ فِي الْمَشْيِ: يعنى په عزت او آرام او عظمت سره په مانځه کښې دَ شامليدو دَپاره راځئي بې طريقي او په منډه لګولوسره دَ مونځ طرف ته مه راځئ ② تَمْشُونَ: أَيْ: بِالسَّكِينَةِ وَالطُّمَأْنِينَةِ: په خپل تګ سره راځئ يعنى په قلار او آرام سره راځئ ③ السَّكِينَةُ: په آرام آرام راځئ (يعنى منډې مه وهئ جلتى مه کوئ).

تسهيلات:

قوله: "فَلَاتَأْتُوهَا تَسْعَوْنَ"

يو ظاهري تعارض: په قرآن پاك کښې آيت (فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ) [سورة البقرة الايه: ۱۴۷] او (وَسَارِعُوٓا إِلٰى مَغْفِرَةٍ) [سورة آل عمران الايه: ۱۳۳] نه معلوميږى چه دَ نيکوطرف ته په منډه تلل مطلوب اومقصود دى بيا په دې حديث کښې دَ نيکئى طرف ته په منډه راتلونه ولې منع کړې شوې ده؟

د تعارض حل: دَ قرآن پاك دَ آياتونو مطلب دادې چه تاسو په وخت باندې دَ نيکودَ حاصلولو تيارى کوئى او ښه ډيرې دا حاصلې کړئى. دَدې آياتونومطلب دانه دې چه په هغه وخت کښې تاسوکوتاهى اوکړئى او بيا په آخروخت کښې په منډو وهلوسره هغه نيکى حاصله کړئى. (کذافى المعات)

دغلتو د منډو وهلو وجوهات: ① اصل حقيقت دادې چه په مانځه کښې دَ شامليدلودَپاره کوم حضرات منډه وهى په هغوى کښې زيات تر دَ ثواب په نيت منډه نه وهى بلکه هغوى څکه منډې وهى چه رکعته تربي لاړشى نوهغه به ځان له محنت کوى او دَ ځان له کولو تکليف به کوى.

② بعضې حضراتو کيدې شى داخيال وى چه رکعت تلوسره به خلق ماته ګورى چه صاحب نه رکعت لاړو. عام خلق هم دَ دغه حياء اوحرص دَ وجې نه منډې وهى ګنى که دَ ثواب

معامله وې نو هغه له دَ کور نه مخکښې تیاری کولو سره راتلل پکار وو. او اوس چه کله هغه راروان دې نو دَ دې حدیث په رڼا کښې هغه په مونځ کښې دې هغه ته ثواب حاصلیږی بیا په منډه وهلو سره دَ شاملیدلو څه مطلب دې؟ او خدائی دې نه کړی که دغه صاحب خپلې جبې او پټکی سره په فرش باندې راپریوتلو نو بیا به څه کیږی او که چرې پرینوځی نو دې سپینو ویښتو او سپینو جامو سره منډه وهل څ،مره بدې لګی دَ دې به څه علاج وی؟

په اطمینان سره د عبادت ادا کول: لنډه دا چه اسلام مونږ ته په عبادت کښې هم وقار بنائی چه یو مذهبی فریضه دَ خندا او مسخرو سبب جوړ نه شی. که څوك دَ تکبیر اولی دَ ثواب حاصلولو دَپاره یا دَ جمعې دَ ثواب حاصلولو په غرض سره تیز تیز قدم سره راځی نو هغه جدا صورت دې دَهغې ګنجائش شته ځکه چه په هغې کښې بې طریقې منډې نشته دې.

قوله: "فَهُوَفِي صَلَاةٍ"

د صلاة په انتظار باندې د صلاة د اطلاق وجه: په صلوة کښې تنوین دَتنکیردَپاره دې یعنی دا سړې په یو قسم مونځ کښې دې او هغه حکمی مونځ دې چه ده ته دَمونځ ثواب حاصلیږی. ځکه چه دې دَ ثواب په نیت سره روان دې سره دَدې چه په حقیقی مونځ کښې تردغه وخته پورې شامل نه دې.

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

۶۸۷—د صحابوٴ نه د خوب په وجه د مونځ قضا کیدل

۶۸۷—()[۸] ۞ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ- رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ: ۞ «عَرَّسَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً بِطَرِيقِ مَكَّةَ، ۞ وَوَكَّلَ بِلَالًا أَنْ يُوقِظَهُمْ لِلصَّلَاةِ، ۞ فَرَقَدَ بِلَالٌ وَرَقَدُوا ۞ حَتَّى اسْتَيْقَظُوا وَقَدْ طَلَعَتْ عَلَيْهِمُ الشَّمْسُ، ۞ فَاسْتَيْقَظَ الْقَوْمُ، وَقَدْ فَزِعُوا، ۞ فَأَمَرَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَرْكَبُوا حَتَّى يَخْرُجُوا مِنْ ذَلِكَ الْوَادِي،

ترجمه: ۞ زید بن اسلم ﷺ فرمایي ۞ چې رسول الله ﷺ د مکې معظمې په لار کې (د آرام کولو د پاره) په آخر شپه کې پړاوُواچولو ۞ او بلال ﷺ ته یې حکم وکړو چې (د سحر د لمانځه د پاره ټول ویښ کړي ۞ (لږ ساعت وروسته د خوب د غلبې په وجه) د بلال ﷺ سترګې هم سره ورغلې او نور ټول خلق هم اوده شوی وو ۞ تردې چه [مخکې خو حضور ﷺ بیدار شو او د هغوی څخه وروسته] ټول خلق رابیدار شو او نمر راختلې وو، ۞ نو قوم راویخ شو (دلمانځه د قضاء کیدو په سبب) ویریدلي وو، ۞ حضور ﷺ خلقو ته حکم وکړو چې سوریدو سره د دې ځای څخه بهر ووځئ:

(۱) اخرجه مالک فی الموطا کتاب وقوت الصلاة ،باب النوم عن الصلاة (رقم-۲۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

۱ وَقَالَ: (إِنَّ هٰذَا وَادٍ بِهِ شَيْطَانٌ). ۲ فَرَكِبُوا حَتّٰى خَرَجُوا مِنْ ذٰلِكَ الْوَادِي، ۳ ثُمَّ أَمَرَهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْزِلُوا، وَأَنْ يَتَوَضَّئُوا، ۴ وَأَمَرَ بِلَالًا أَنْ يُنَادِيَ لِلصَّلَاةِ - أَوْ يُقِيمَ -، ۵ فَصَلّٰى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاسِ، ۶ ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدْ رَأٰى مِنْ فَزَعِهِمْ،

ترجمه: ۱ او وي فرمايل دا يو داسې دره ده چې شيطان پرې مسلط دي ۲ نو ټول سوريدو سره د هغه ځنګل څخه ووتل ۳ (يو ځاي ته په رسيدو سره) رسول الله ﷺ وفرمايل چې دلته ښکته شي او اودس وکړي ۴ او بلال رضي الله عنه ته ئې د لمانځه د پاره د اذان او تکبير وئيلو حکم اوکړو ۵ بيا حضور ﷺ خلقو ته (د سحر) مونځ (قضاء باجماعت) ورکړو ۶ د لمانځه څخه فارغيدو سره خلق يې په ويره کې وليدل.

۱ فَقَالَ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ اللّٰهَ قَبَضَ أَرْوَاحَنَا، ۲ وَلَوْ شَاءَ لَرَدَّهَا إِلَيْنَا فِي حِينٍ غَيْرِ هٰذَا، ۳ فَإِذَا رَقَدَ أَحَدُكُمْ عَنِ الصَّلَاةِ أَوْ نَسِيَهَا، ۴ ثُمَّ فَزِعَ إِلَيْهَا، فَلْيُصَلِّهَا كَمَا كَانَ يُصَلِّيهَا فِي وَقْتِهَا) ۵ ثُمَّ الْتَفَتَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلٰى أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، فَقَالَ: ۶ (إِنَّ الشَّيْطَانَ أَتٰى بِلَالًا وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فَأَضْجَعَهُ، ۷ ثُمَّ لَمْ يَزَلْ يُهَدِّئُهُ كَمَا يُهَدَّأُ الصَّبِيُّ حَتّٰى نَامَ)).

ترجمه: ۱ (نود تسلي ورکولو د پاره يې) وفرمايل اې خلقو الله تعالیٰ جل جلاله (د اوده کيدو په وخت) زمونږ روحونه قبض کړي وو ۲ که هغه غوښتي نو زمونږ روحونه به يې بل وخت (يعني د نمر ختو څخه مخکې) واپس کړي وو ۳ نو په تاسو کې که څوک د لمانځه په وخت کې اوده شي يا مونځ کول ځيني هير شي ۴ او بيا لمانځه ته بيدارسي نو هغه له پکار دي چې هغه مونځ داسې (يعني د اذان او تکبير او جماعت سره او د لمانځه ټول شرائط او ادابو له ملحوظ ساتلو سره) وکړي څنګه چې هغه يې په خپل وخت کولو ۵ بيا حضور ﷺ حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته متوجه کيدو سره وفرمايل ۶ بلال رضي الله عنه ولاړ وو مونځ يې کولو چې شيطان هغه له راغې او هغه يې (په کجاوه باندې) تکيه لګولو باندې مجبوره کړو ۷ او څنګه چې بچي اوده کولو د پاره ټپولي شي شيطان هغه ټپولو تر دې چې په بلال رضي الله عنه باندې خوب غالب شو

۱ ثُمَّ دَعَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ بِلَالًا ۲ فَأَخْبَرَ بِلَالٌ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ الَّذِي أَخْبَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ أَبَا بَكْرٍ ۳ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ اللّٰهِ. رَوَاهُ مَالِكٌ مُرْسَلًا.

ترجمه: ۱ بيا حضور ﷺ بلال رضي الله عنه راوغوښتو ۲ بلال رضي الله عنه راتلو سره حضور ﷺ ته هغه بيان اوکړو څنګه چې حضور ﷺ ابوبکر صديق رضي الله عنه ته بيان کړي وو ۳ ابوبکر صديق رضي الله عنه د بلال رضي الله عنه حال اوريدو سره وفرمايل زه د دې خبرې په پوره يقين سره ګواهي ورکوم چې ته د الله رسول يې دا روايت امام مالک رحمه الله مرسلاً نقل کړي دي.

حل اللغات: ① عَرَّسَ: دا د تَعْرِيس نه دي دَ باب تفعيل نه، أيْ: نَزَلَ آخِرَ اللَّيْلِ لِلِاسْتِرَاحَةِ: دَ شپې په آخرې حصه کښې دَ آرام کولو دَپاره ډيره اچولو ته تعريس وائي. ② وَكَّلَ: أيْ: أمَرَهُ: ذمه واري ئې ورته اوسپارله (يعنى حکم ئې ورته اوکړو)، ③ فَرَقَدَ: اوده شو، ④ فَزِعُوا: اوېريدل (چه دسحر مونځ فوت شو)، ⑤ حِينٍ: وخت، ⑥ اِلْتَفَتَ: متوجه شو، ⑦ يُهْدِئُهُ: دا د الْإِهْدَاءِ نه دي، أيْ: يُسَكِّنُهُ وَيُنَوِّمُهُ: تپولو ئې چه اوده شي.

تسهيلات:

قوله: بِطَرِيقِ مَكَّةَ:

دواقعاتو د تعدد احتمال: داسې معلومېږي چه دا واقعه بله ده او په حديث نمبر (۶۸۴) کښې چه کومه واقعه تيره شوې ده هغه بله ده ځکه چه دلته بطريق مکة لفظ دې اوهلته دَخيبر ذکر دې کوم چه په طريق مدينه کښې واقع دې.

شيخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې ليکی کيدې شي چه واقعې دوه وی ياراوی ته وهم شوې وی او دَ طريق مکه لفظ ئی وئيلی "أن ينادي للصلوة اويقيم"

د کلمه او په حيثيت کښې دوه احتماله: ① دلته دَ "او" لفظ دَ شك دَپاره دې راوی ته شك پيدا شوې چه حضورپاك دَ ينادی لفظ ارشاد فرمائيلې وو يا يقيم لفظ وو يعنی دَ اذان اوکړه حکم ئی ورکړو يا تکبير اووايه حکم ئی ورکړې وو.

② "او" دَ شك دَپاره نه وو بلکه دا دَ واؤ په معنی کښې دې دَ کوم معنی چه جمع کولو ده، يعنی حضورپاك اوفرمائيل چه اذان او اقامت په يوځائی دواړه اوکړه. [اشعة المعات: ۳۴۵] په دې سره دَاحنافو دَمسلك تائيد کيږي.

قوله: وَقَدْ رَأَى مِنْ فَزَعِهِمْ:

صحابۀ ته تسلی ورکول: صحابه کراموته په دې خبره سخته ويره اوشوه چه دَهغوی مونځ ولې قضاشو نودَدغه ويرې ختمولو دَپاره رسول اکرم ﷺ هغوی ته تسلی ورکړه چه دَ الله تعالی يوتکوينی فيصله وه هغه اوکړه که چرې هغه نه غوښتل نوداسې به نه کيدل نوتاسو پريشانه کيږئی مه ځکه چه تاسو ته په قضاشوی مونځونوکښې دَخپل نبی نمونه او سنت طريقه هم حاصله شوه.

قوله: "يُهَدِّئُهُ"

د اهداء لغوی تحقيق: بيا رسول الله ﷺ حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته اصل قصه بيان کړه چه شيطان بلال رضي الله عنه سره څه اوکړل "يهدئه" دلته دا لفظ دَ باب افعال نه دې مونځ چه کله بچې دَ اوده کولو دَپاره په غيږ کښې تپه وی هغې ته اهداء وائی دادَ سکون په معنی کښې هم دې اودا دَ صيغه فتح يفتح نه هم راځی کوم چه دَ سکون او حصاريدو په معنی کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

دي. "اشهد انك رسول الله" رسول الله ﷺ چه کله دَحضرت بلال رضي الله عنه سره دَ شیطان دَ اوده کولو معامله واؤرولـه اوحـضرت بـلال رضي الله عنه دَدي تـصدیق هـم اوکړو نودي وخت کښي دا دَ رسـول الله ﷺ معجزه شوه کومه چه دَ نبوت دَ اثبات دپـاره وی هـم پـه دي بانـدي صـدیق اکبـر رضي الله عنه گواهي ورکړه چه تاسو بیشکه دَالله تعالی په حق سره نبي ئي. دي واقعه ته لیلة التعریس وائي.

۶۸۸ــد مؤذن په غاړه دوه ذمه واریانې

۶۸۸ــ(١)[۹] ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ وَسَلَّمَ: ٢ ((خَصْلَتَانِ مُعَلَّقَتَانِ فِي أَعْنَاقِ الْمُؤَذِّنِينَ لِلْمُسْلِمِينَ: ٣ صِيَامُهُمْ وَصَلَاتُهُمْ)). رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١ ابن عمر رضي الله عنهما راوي دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ د مسلمانانو دوه څیزونه د مؤذنینو پـه غـاړه دي ٣ ① یـو خـو د هغـوئ روژي ② او دویـم د هغـوئ لمونځونـه. (ابـن ماجه.)

حل اللغـات: ① خَصْلَتَانِ: دخصلة تثنیـه ده، دوه خویونـه یعنـی ذمـه واریٔ ② مُعَلَّقَتَـانِ: أَيْ: ثَابِتَتَانِ فِي ذِمَّتِهِمْ: په غاړه کښي د کیدو نه مراد دا چه دهغوی په ذمه لازم دی.

تسهیلات:

قوله: خَصْلَتَانِ مُعَلَّقَتَانِ:

د مذکوره جملي نحوی تحقیق: شیـخ عبـدالحق رحمه الله پـه لمعـات کـښي لیکـی چـه متبـادر دادی چه خصلتان مبتـداء دي اومعلقتان دَدي خبـردي. اودا اعتـراض چـه مبتـدا نکـره څنګـه واقـع شـو نو ما ډیر ځـل لیکلـی دی چـه اصـل دارومـدار پـه فائـده ورکولوبانـدي ده کـه چرې دَمبتداء نه فائده استفاده حاصليږی نو پـه نکـره کیدوکښي څـه حرج نشتـه لکـه چـه رضـی لیکلی دی. (لمعات)

د مؤذن دوه ذمه واریانې: یعنی دَ مـسلمانانو دوه اهـم اماتـونـه او بنیـادی ذمـه وارئـی دی چه دَ مؤذن سټ سره زوړند دی او مؤذن دَدي دَحفاظت ذمه وار دي.

① روژه یـوه ذمـه واری ده ځکـه چـه ټـول مـسلمانان دَ پـیشمنی پـه وخـت هـم دَ مـؤذن پـه اذان باندي یقین کوی اودَهغه په اذان باندي روژه بنده وی اوهم په دي باندي کولاوی.

② مونځ دویمه ذمه واری ده ځکه چه دَ مونځ دَ وخـت دَ راتلـو پتـه دَ اذان نـه لګـی کـه مـؤذن پـه خپـل اذان کـښي وړانـدي روسـتوالي کـوی اوبـې وختـه اذان ورکـوی نوداد عـامو مسلمانانوسره دَهغوی په اعمالوکښي خیانت دي. پـه دي وجـه مـؤذن لـه پکاردی چـه هغـه دي دَ اذان په وختونوکښي ډیر احتیاط کوی. [اشعة المعات: ۲۴۶]

---

(١) کتاب الأذان، والسنة فیه، باب السنة فی الأذان (رقم-۷۱۲)

[۷/۲۴] بَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ

دَ مساجدو او دَ مونځ لودَ ځایو لوبیان

خلاصة الباب:

فيه ستون أحاديث مشتملة على عشرة مسائل:

① الصلوة والدعاء في داخل الكعبة: ۱، ۲.

② فضيلة المساجد الثلاثة. ۳، ۴، ۵۹، ۶۰.

③ فضيلة جزء من المسجد النبوى: ۵.

④ فضيلة مسجد قباء: ۶.

⑤ فضيلة سائر المساجد والصلاة فيها: ۷، ۸، ۱۳، ۴۸.

⑥ فضيلة المشي إلى المساجد والتعلق بها: ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۳۱، ۳۳، ۳۴، ۳۵، ۳۶، ۵۵.

⑦ آداب دخول المسجد والخروج منه والغرض من دخولها: ۱۴، ۱۵، ۳۷، ۳۷، ۳۸، ۳۹، ۴۹، ۵۶.

⑧ البداية بالمسجد وقت القدوم من السفر: ۱۶.

⑨ الأمور الممنوعة في المسجد وللمسجد: ، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۸، ۲۹، ۴۰، ۴۱، ۴۲، ۴۳، ۵۰، ۵۱، ۵۲، ۵۳، ۵۴.

⑩ النهي عن إتخاذ القبور مساجد: ۲۲، ۲۳، ۴۷، ۵۷.

⑪ فضيلة إتخاذ موضع الصلاة في البيوت: ۲۴، ۲۷.

⑫ تعيين موضع القبلة: ۱، ۲۵.

⑬ الأمر بإتخاذ المساجد: ۴۶.

⑭ تعظيم المساجد: ۲۷، ۳۰، ۳۲.

⑮ جواز الصلوة في جميع الأرض: ۴۴، ۴۶، ۵۸، ۶۰.

⑯ المواضع التي لا تجوز فيها الصلوة : ۴۴، ۴۵، ۴۶.

د قرآن نه د جماتونو د عظمت ثبوت: ① الله تعالى فرمائیلی دی. ﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا﴾ [سورت آل عمران الايه: ۹۶] یعنی بیشکه اولني کور په مخ د زمکې چې د عبادت د خلقو دپاره جوړ شوې دې هغه دې کوم چې په مکه کښې دې. اومبارک دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

② الله تعالى فرمانيلي دی. ﴿إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ﴾ [سورة التوبة الايه: ۱۸] يعنی بيشکه آبادوی جماتونه د الله تعالى هغه څوک چې ايمان راوړی په الله تعالى او په ورځ د آخرت باندې،

③ وقال الله تعالى ﴿وَأَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ أَحَدًا﴾ [سورة الجن الايه: ۱۸] يعنی جماتونه د الله تعالى دی نو تاسو د الله تعالى سره (په جماتونوکښې) د بل چا عبادت نه کوئ.

د مسجد لغوی تحقيق: مساجد جمع ده د دې مفرد دې مسجد د جيم کسره سره ونيلو خلاف قياس دی. د قياس مطابق په جيم باندې زبر ونيلو پکاردی. سره د دې چه په اوريدوکښې نه ده راغلې. بهرحال کوم مکان چه د مونځ کولو په غرض سره جوړکړې شی اوعاموخلقوته په هغې کښې د مونځ کولو اجازت ورکړې شی هغه مسجد يعنی جمات وی.

په مخ د زمکې اولنی جمات: د دنيا په تاريخ کښې د ټولو اولنې جمات بيت الله او مسجدالحرام د عبادت د پاره مقررشو اوبيا څلوينښت کاله پس بيت المقدس هم د عبادت د پاره مقررشو.

په اسلامی دنياکښې د هجرت نه پس د ټولو نه مخکښې د مسجد قباء بنياد کيخودې شوې دې اوبيا مسجد نبوی جوړکړې شوې دې. د فضيلت په اعتبارسره د ټولو نه غوره مسجدالحرام دې بيا مسجد نبوی دې او بيابيت المقدس دې او په څلورم نمبر باندې مسجد قباء دې.

قوله: "مواضع الصلوة"

د مواضع نه مراد: يعنی د مونځ د مقاماتونه مراد هغه ځايونه دی په کوم کښې چه مونځ کول مکروه يا غيرمکروه دی. د دې تفصيل راتلونکو احاديثوکښې راځی لکه چه په دې لفظ سره په دې مقاماتو کښې د مونځ کولوطرف ته اشاره ده کوم چه جمات نه دې.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

۶۸۹- د خانه کعبې ته مخامخ مونځ کول

۶۸۹- (۱) [۱] ۱ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ۲ «لَمَّا دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيْتَ، دَعَا فِي نَوَاحِيهِ كُلِّهَا ۳ وَلَمْ يُصَلِّ حَتّٰى خَرَجَ مِنْهُ ۴ فَلَمَّا خَرَجَ رَكَعَ رَكْعَتَيْنِ فِي قُبُلِ الْكَعْبَةِ ۵ وَقَالَ: (هٰذِهِ الْقِبْلَةُ)». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي ۲ چه (د مکې د فتح په ورځ) رسول الله ﷺ چې په بيت الله شريف کې داخل شو نو څلور کنجانو (ګوټونو) ته ورتلو سره دعا يې وکړله ۳ او بغير

[۱] بخاری کتاب الصلوة باب قول الله تعالى: {واتخذوا من مقام إبراهيم مصلى} [البقرة: ۱۲۵] (رقم-۳۹۸)

مونځ کولو بهر راووتلیو[۴] بیا بهر راتلو سره د کعبې شریفې په مخې ته یې دوه رکعاته (نفل) مونځ وکړو[۵] او وې فرمایل دا قبله ده (بخاري)

حل اللغات: ① نَوَاحِيهِ: د ناحية جمع ده، اطرف او ګوټونه (د بيت الله شريف).

تسهیلات:

قوله: "هَذِهِ الْقِبْلَةُ"

د مذکوره جملې مفهوم: رسول الله ﷺ چه کله د مکې د فتحې په موقع باندې د کعبې د دننه نه بهر تشریف راوړو نو د کعبې د دروازې مخامخ حضورپاك دوه رکعته مونځ اوکړو اووئی فرمائیل هم دا قبله ده. د دې ارشاد مطلب دا دې چه اوس به ترقیامته پورې هم بیت الله قبله وی. اوس به داهیڅ کله نه منسوخ کیږی. د دې ارشاد مطلب دانه دې چه د دروازې طرف ته قبله ده اوباقی طرفونه قبله نه دی ځکه چه د بیت الله څلور واړه طرفونه قبله ده. د پاکستان قبله هم دغه طرف ته ده دکوم طرف ته چه حضورپاك ارشاد فرمائیلې دې اوهغه د بیت الله دروازه ده کومه چه مشرق طرف ته واقع ده. [اشعة المعات: ۳۴۴]

د تعارض بین الحدیثین اشکال: په دې کښې اختلاف دې چه حضورپاك په کعبه کښې دننه مونځ کړې که بهر. د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما اوحضرت اسامه بن زید رضی الله عنه د روایت نه معلومیږی چه حضورپاك په کعبه کښې دننه مونځ نه دې کړې. لیکن د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه اوحضرت بلال رضی الله عنه د روایت نه معلومیږی چه حضورپاك په کعبه کښې دننه مونځ کړې دې. (اشعة اللمعات)

دتعارض د لرې کولو درې جوابونه:

① د حضرت اسامه رضی الله عنه په کتلو کښې خلل واقع شوې دې هغه پخپله په دعاکښې مشغول وو اولرې هم وو په دې وجه هغوی رسول الله ﷺ په مونځ کولونه دې لیدلې اوحضرت بلال رضی الله عنه نیزدې هم وو اوحضورپاك ته ئی کتل هم په دې وجه د هغوی روایت راجح دې.

② د کعبې داخلیدل دوه ځل واقع وی یوځل ئی مونځ کړې بل ځل ئی نه دې کړې. د دې تعارض دریم جواب دادې چه حضرت اسامه رضی الله عنه رسول الله ﷺ د تصویرانو د ورانولو په غرض د اوبو راوړلو د پاره بهر لیګلې وو. کیدې شی هم دغه وخت کښې حضورپاك مونځ کړې وی. بهرحال هریو خپله خپله مشاهده بیان کړې ده مګر په دې کښې شك نشته دې چه حضورپاك په کعبه کښې دننه نفل مونځ کړې دې. د حضرت ابن عمر رضی الله عنه حدیث نمبر (۶۹۱) په دې باندې واضحه دلالت کوی.

③ شیخ عبدالحق رحمه الله فرمائی چه د بلال رضی الله عنه والا روایت ته ترجیح ورکړې شوې ده ځکه چه هغه مثبت دې اود ابن عباس رضی الله عنهما روایت منفی دې. اومثبت اومنفی کښې چه کله تعارض راشی نومثبت په منفی باندې مقدم وی ځکه چه اثبات کښې اصل خبرسره څه

Maktaba Tul Ishaat.com

علمي اضافه هم وي لکه څنګه چه دَ فقهې په اصولو کښې ذکر دي.

په کعبه کښې دننه د نفلو جواز: په دې خبره خودَ ټولو فقهاؤ اتفاق دې چه حضور پاک ﷺ په بيت الله کښې دننه نفل مونځ کړې دې او بغير دَ څه اختلاف نه ئې کول جائز دي.

په کعبه کښې دننه د فرض مونځ په جواز کښې مذاهب:

① امام احمد بن حنبل رحمه الله کعبه کښې دننه فرض مونځ کول منع کوي چه دا جائز نه دي. او نفل کول جائز دي.

② اکثر فقهاء فرض او نفل دواړه په کعبه کښې دننه کول جائز ګڼړي.

داول فريق دليل: دَقرآن کريم دا آيت د دوي مستدل دې. ﴿ فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ﴾ [سورت بقره: ۱۴۴] دَ استدلال طرز ئې داسې دې چه دَالله تعالى حکم دادې چه بيت الله ته مخ واړوئي اوکوم سړې چه په کعبه کښې دننه مونځ کوي هغه دَ بيت الله دَ يوې حصې طرف ته متوجه دې او دَ يوې حصې طرف ته دَ هغه شا ده په دې وجه فرض مونځ کول جائز نه دي او په نوافل چونکه وسعت او نرمي ده په دې وجه هغه جائز دي.

ددويم فريق دليل: دَ قرآن کريم دا آيت د دوي مستدل دې. ﴿ اَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّآئِفِيْنَ وَالْعٰكِفِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴾ [سورت بقره: ۱۲۵] دلته په بيت الله کښې دَ مونځ کولو مطلق ذکر دې که هغه فرض وي او که نفل وي هيڅ فرق نشته دې. دغه شان استقبال کولو کښې دَ استيعاب کعبه شرط هم نشته لهذا دَبعضې حصې استقبال کافي دې.

٦٩٠-[٥] ① وَرَوَاهُ مُسْلِمٌ عَنْهُ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ.

ترجمه: ① مسلم دا روايت د ابن عباس رضي الله عنه څخه او هغه د اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه روايت کړې دې.

[٦٩١] په بيت الله کښې دننه د مونځ حکم

٦٩١-(١)[٦] ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، ② «أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ الْكَعْبَةَ هُوَ وَأُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، وَعُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ الْحَجَبِيُّ، وَبِلَالُ بْنُ رَبَاحٍ، ③ فَأَغْلَقَهَا عَلَيْهِ وَمَكَثَ فِيْهَا، ④ فَسَأَلْتُ بِلَالًا حِيْنَ خَرَجَ: مَاذَا صَنَعَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ ⑤ فَقَالَ: جَعَلَ عَمُوْدًا عَنْ يَسَارِهِ، وَعَمُوْدَيْنِ عَنْ يَمِيْنِهِ، وَثَلَاثَةَ أَعْمِدَةٍ وَرَاءَهُ، ⑥ وَكَانَ الْبَيْتُ يَوْمَئِذٍ عَلَى سِتَّةِ أَعْمِدَةٍ، ثُمَّ صَلّٰى». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① عبد الله ابن عمر رضي الله عنه فرمايي ② چې (د مکې د فتح په ورځ) رسول الله ﷺ، اسامه بن زيد رضي الله عنه، عثمان ابن طلحه حجبي رضي الله عنه او بلال ابن رباح رضي الله عنه په خانه

---

(١) بخاري كتاب الصلوة باب الصلاة بين السواري في غير جماعة (رقم-٥٠٥) ومسلم كتاب الصلوة باب استحباب دخول الكعبة للحاج وغيره، والصلاة فيها، والدعاء في نواحيها كلها (رقم) ٣٨٨ - (١٣٢٩) وابوداود كتاب المناسک، باب الصلاة في الكعبة (رقم-٢٠٢٣) والنسائي كتاب الطهارة/باب الصلاة في البيت وقصر الصلاة وتعجيل الخطبة بعرفة (رقم-١٩٣)

کعبه کې دننه داخل شو[۳] او بلال رضي الله عنه يا عثمان رضي الله عنه دننه څخه دروازه بنده کړله [چې د خلقو رش جوړ نشي] رسول الله ﷺ تر لږ وخت پورې دننه (په دعا وغيره کې مشغول) وو[۴] عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمايي چه ما د بلال رضي الله عنه څخه هر کله چې هغه يا (رسول الله ﷺ) د خانهٔ کعبې څخه بهر راغي پوښتنه اوکړه چې رسول الله ﷺ په خانه کعبه کې دننه څه کول[۵] بلال رضي الله عنه اوويل رسول الله ﷺ په ولاړه مونځ وکړو چې يوه ستن يې ګس طرف ته وه، دوه ښي طرف ته وې او درې وروسته وې[۶] په هغه ورځو کې په خانه کعبه کې شپږ ستني وې (او اوس درې ستني دي) (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① فَأَغْلَقَهَا: أَيِ: الْكَعْبَةَ يَعْنِي بَابَهَا: يعنی د کعبې دروازه ئې بنده کړه. ② مَكَثَ: أَيْ: تَوَقَّفَ فِيهَا: لږ پکښې ايسارشو. ③ عَمُودًا: أَعْمِدَةٌ ددې جمع ده، ستن.

تسهيلات:

قوله: "وَعُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ الْحَجَبِيُّ"

د عثمان بن طلحه په عمرة القضاء کښې د کعبې چابيانو ورکولو نه انکار: حجبی دَ حاجب طرف ته منسوب دې څوکيدار او کنجی لرونکی معنی کښې دې. دَ بيت الله کنجانې هغه سړی سره وې. دَ صلح حديبيه نه پس په دويم کال کله چه حضورپاك دَعمرة القضاء دَپاره راغلو اودَ عثمان بن طلحه نه ئی کنجيانې اوغوښتلې دې دَپاره چه بيت الله کښې داخل شي نوهغه سړی بالکل انکاراوکړو. حضورپاك اوفرمائيل عثمان واؤره يووخت به داسې راځي چه کنجيانې به زما په لاس کښې وی اوزه چه ئی چاله ورکول غواړم هغه ته به ئی ورکړم. هغه وئيل هغه وخت به دَ قريشو بدې ورځې وی او قريش به ذليل اوخوار وی. حضورپاك اوفرمائيل نه په هغه ورځ به قريش کامياب وی. نوچه کله مکه مکرمه فتحه شوه نوحضورپاك حضرت علی رضي الله عنه وراوليګلو چه دَ عثمان بن طلحه نه کنجيانې راوړه. عثمان پټ شو اوکنجيانې ئې نه ورکولې.

په فتح مکه کښې د عثمان بن طلحه نه چابيانې اخستل: نوبيا حضرت علی رضي الله عنه دهرکه ورکړه او چابيانې ئی راوړلې حضورپاك ته ئی ورکړې. حضورپاك دَروازه کولاؤ کړه او بيت الله ئی اوونځلو اوبيائی دننه تشريف يوړلوپه دې موقع عثمان بن طلحه هم ورسره وو.

عثمان بن طلحه ته د چابيانو ورکولو حکم: بيا دَ حضرت علی رضي الله عنه خيال پيداشو او دَحضرت عباس رضي الله عنهما هم خيال شو چه دَ کعبې کنجيانې دې هغوی ته ورکړې شی. په دې کښې دَقرآن پاك آيت نازل شو چه ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا﴾ [سورت نساء: ۵۸] په دې باندې حضورپاك عثمان بن طلحه راؤغوښتلو او ورته فرمائيل چه زه دَ الله تعالی په حکم باندې دا کنجيانې تاته درکوم "خذها خالدة تالدة" يعنی هميشه به تاسره وی که څوك ظالم بادشاه تانه واخستلې ګنی څوك به ئی نه اخلی.

Maktaba Tul Ishaat.com

دعثمان بن طلحه اسلام قبلول: عثمان بن طلحه مسلمان شو بيا دهغه وارث نه كيدو وجې نه دَ هغه رور ته دا كنجيانې وركړې شوې. هغه خپل رور شيبه ته كنجيانې وركړې چه ترننه پورې بنوشيبه سره دی.

په موجوده وخت كښې د بيت الله دننه نقشه: دَ بيت الله دَ دروازې نه چه كافى دننه لاړشې مخامخ ديوال نه يو څوګزه فاصله باندې حضورپاك مونځ كړې دې. دَ بخارى په دې روايت كښې دا الفاظ دی چه درې ستنې دَ حضورپاك شاتې وې او يوه ګس طرف ته او دوه ښى طرف ته وې اوهغه وخت بيت الله په شپږو ستنو باندې ولاړ وو. دَ بيت الله چت نن هم دَ لرګونه جوړشوې دې. شيخ عبدالحق ﷫ په لمعات كښې ليكلى دی نن صبا دا ستنې صرف درې پاتې دی. [اشعة المعات: ۳۴۷]

۶۹۲–په مسجد نبوى كښې د مونځ د ثواب زيادت

۶۹۲–()[۳] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② ((«صَلَاةٌ فِي مَسْجِدِي هَذَا خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ صَلَاةٍ فِيمَا سِوَاهُ ③ إِلَّا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ»)). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابوهريره ﵁ راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② زما په دې مسجد (يعنې مسجد نبوي) كې مونځ ادا كول په نورو مسجدونو كې د زرو لمونځونو څخه بهتر دي ③ سوا د مسجد حرام څخه، (بخاري، مسلم.)

حل اللغات: ① مَسْجِدِي هَذَا: أَيْ: مَسْجِدِ الْمَدِينَةِ: يعنی مسجد نبوی ﷺ. ② مَسْجِدَ الْحَرَامَ: بيت الله شريف.

تسهيلات:

قوله: "خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ صَلَاةٍ"

په مسجد حرام كښې د مونځ ثواب: دَ تضعيف ثواب په اعتبارسره مسجدحرام دَ ټولو نه افضل دې په كوم كښې چه يومونځ دَ يولاكه برابردې ليكن دا تضعيف او دوه چنده كيدل دَ ثواب په اعتبارسره دی دَ مونځونو په اعتبارسره نه دی. يعنى تضعيف فى الثواب دې تضعيف فى الاجزاء نه دې لكه چه په عوامو كښې مشهوره ده كه څا يومونځ اوكړو نوهغه ته يولاكه مونځونه حاصل شو. داسې دَ ټولو قضاء مونځونوكفاره اوشوه داغلطه ده. بلكه دلته صرف دَ ثواب دَ دوه چند كيدوخبره كړې شوې ده مونځ خو به هم يو شميرلې كيږی څكه چه هم يونی كړې دې.

(۱) اخرجه البخارى كتاب الجمعة باب فضل الصلاة فى مسجد مكة والمدينة (رقم–۱۱۹۰) ومسلم كتاب الحج باب فضل الصلاة بمسجدى مكة والمدينة (رقم–۵۰۵ – (۱۳۹٤)) وابن ماجة كتاب القبلة باب ما جاء فى مسجد النبى صلى الله عليه وسلم (رقم–۹) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى أى المساجد أفضل (رقم–۳۲۵) والنسائى كتاب المساجد/باب فضل مسجد النبى صلى الله عليه وسلم والصلاة فيه رقم (٦٩٤) ومالك كتاب القبلة باب ما جاء في مسجد النبى صلى الله عليه وسلم (رقم–۹)

په مسجد نبوي کښې د مونځ ثواب: مسجدنبوی کښې یو مونځ دَ زرو مونځونو برابر دې.
او په مسجد اقصٰی کښې یو مونځ دَ پنځوسو زرو برابردې. دَ ابن ماجه بعضې روایتونو کښې راغلی دی چه دَ مسجدنبوی یومونځ دَ پنځوسو زرو برابر دې. (مشکوٰة ص: ۷۲) مګر دا روایت ضعیف دې. بعضې روایاتوکښې راغلی دی چه یومونځ دَ لسو زرو مونځونو برابر دې. ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه دا تضعیف داسې دې چه یوه نیکی دَدې امت دَ لسو برابر ده لهذا زر مونځونه به لس زره شمیرلې کیږی.

د زیادت فی الثواب په مصداق کښې مذاهب:

① شوافع حضرات فرمائی دَ ثواب زیاتیدو داحکم دَ فرضو مونځونوسره خاص دې په سنن او نوافل کښې دا زیاتوالې نشته دې.

② ملاعلی قاری رحمه الله مرقات کښې لیکی چه دا تضعیف او ثواب په ټولو نیکو کارونو کښې دې مونځ سره خاص نه دې. بل دَ علماؤ دا فیصله راجح ګرځولې شوې ده چه دا تضعیف او ثواب دَ حرم دَ زمکې دَپاره عام دې صرف مسجد حرام سره خاص نه دې.

په مسجد نبوی کښې د ثواب په تعداد کښې تعارض: په دې حدیث کښې او دَمشکوٰة شریف ص ۷۲ باندې دَحضرت انس رضي الله عنه روایت دې په دواړوکښې په ظاهره تعارض دې. ځکه چه دلته دَ مسجدنبوی فضیلت یو مونځ دَ زرو برابر خودلې شوې دې اوهلته دَ پنځوسو زرو ذکردې؟

د تعارض جواب: دَوحی په شروع کښې دَ زرو فضیلت وو بیا پنځوس زرو پورې فضیلت زیات شو. دویم جواب دادې چه دا په اعدادکښې تعارض نه دې ځکه چه کم عدد دَ اکثر په ضمن کښې وی دَهغې مخالف نه وی. بعضې علماؤ دَ پنځوسو زرو والا روایت ضعیف ګرځولې دې.

په مسجد نبوی کښې د زیادت فی الثواب په محل کښې مذاهب:

① د علامه تاج الدین سبکی رحمه الله دا رائې ده. چې مسجدنبوی په کومه وخت کښې دَ حضورپاك په زمانه کښې وو دَمونځونو او نیکودا فضیلت هم دغه مسجدسره خاص دې دې نه پس چه دا په جمات کښې کومه اضافه کړې شوې ده دا فضیلت دَ جمات په دغه حصه کښې نه حاصلیږی.

علامه نووی رحمه الله فرمائی چه دَدې فضیلت دَ حاصلولودَپاره مناسب دی چه سړې دې دَ مسجدنبوی په هغه حصوکښې مونځ کوی کومې چه دَ حضورپاك په زمانه کښې موجود وې.

② ابن تیمیه رحمه الله اوعلامه محب طبری رحمه الله په خپل اوږد کلام کښې دا وئیلی دی چه دَ ثواب دَ تضعیف دا فضیلت دَ حضورپاك دَ زمانې دَ جمات دَ حدودو پورې محدود نه دې بلکه په زیاتی شوې حصو کښې به هم دا ثواب ملاویږی.

Maktaba Tul Ishaat.com

د اول فریق دلیل: په زیر بحث حدیث کښې یو لفظ "مسجدی هذا" ذکر دې د کوم نه چه په ظاهره معلومیږي چه دا فضیلت صرف په حصو کښې ملاویږي کومې چې د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې وو.

د دویم فریق دلائل: ① دَ امام مالك رحمه الله نه چه کله تپوس اوکړې شو نوهغوی اوفرمائیل دا تخصیص نه دې ځکه که چرې دا تخصیص دَ حضورپاك دَ زمانې والاجمات سره خاص وې نوخلفاء راشدین رضی الله عنهم به هیڅ کله په جمات کښې توسیع نه قبلوله.

② کتاب تاریخ مدینه کښې لیکلی دی چه کله حضرت عمر رضی الله عنه دَ مسجد نبوی دَ اضافې نه فارغ شو نوهغوی اوفرمائیل چه که مسجد نبوی دَ ذوالحلیفه پورې وسیع کړې شی نوبیا به هم ټول مسجدنبوی وی اودَ رسول الله ﷺ دَ جمات په نوم به یادیږی.

په مکه کښې د ګناه د سزا په تضعیف کښې یو قول: داخبره هم دَ یاد ساتلو ده چه دَ علماؤ یوجماعت دې طرف ته تلې دې چه په مکه کښې څنګه یوه نیکی دَ کیفیت په اعتبارسره تریو لاکهه پورې زیاتیږی دغه شان دَمکې په حرم کښې یوه ګناه تریو لاکهه ګناهونوپورې زیاتیږی. دا قول دَ امام احمدبن حنبل رحمه الله دې او هم دغه قول دَحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما اوحضرت ابن مسعود رضی الله عنه اومجاهد رحمه الله هم دې. بل دا تضعیف دَ راجح قول مطابق دَ حضورپاك زمانې سره خاص نه دې بلکه دَ ټولو زمانودپاره دې.

۶۹۳—درې جماتونوته د سفر کولو حکم

۶۹۳—()[۳] ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② ((لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ إِلَّا إِلَى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ: ③ مَسْجِدِ الْحَرَامِ، وَالْمَسْجِدِ الْأَقْصَى، وَمَسْجِدِي هٰذَا)). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابو سعید خدری رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② د درې مسجدونو څخه علاوه (یو بل ځاي د پاره) تاسو خپلي کجاوي مه تړي (یعني سفر مه کوي) ③ مسجد حرام، مسجد اقصٰي (یعني بیت المقدس) او زما مسجد (یعني مسجدنبوي) (بخاري مسلم.)

حل اللغات: ① لَا تُشَدُّ: شد یشد د نصر ینصرنه دَ تړلوپه معنی کښې دې یعنی مه تړئ، سفر مه کوئ. ② الرِّحَالُ: ددې نه کجاوه مراد ده.

[۱] اخرجه البخاری کتاب الجمعة باب مسجد بیت المقدس (رقم-۱۱۹۷) ومسلم کتاب الحج باب سفر المرأة مع محرم إلی حج وغیره (رقم) ۴۱۵ - (۸۲۷) وابو داود کتاب المناسک .باب فی مال الکعبة (رقم-۲۰۳۲) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی أی المساجد أفضل(رقم-۳۲۶) والنسائی کتاب المساجد/باب ما تشد الرحال إلیه من المساجد رقم (۷۰۰) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة/باب ما جاء فی الصلاة فی مسجد بیت المقدس(رقم-۱۴۰۹)

تسهيلات:

قوله: "لَاتُشَدُّ الرِّحَالُ"

نفی په معنی د نهی: دا پوره جمله دَسفر نه کنایه ده اودَ نفی صیغه دَ نهی په معنی کښې ده.مطلب دا شو چه دَ دریو جماتونونه علاوه دَیوجمات دَپاره کجاوه تړلوسره سفرمه کوئ.

قوله: إِلَّاإِلَى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ

دحدیث په محذوف او په تعیین کښې اختلاف: ① دلته مستثنیٰ مفرغ ده اودَمستثنیٰ مفرغ دَپاره مستثنیٰ منه محذوف ویستل ضروری کیږی.نوحافظ ابن تیمیه رحمه الله دلته مستثنیٰ منه عام منی او وائی چه دلته د مکان یا موضع الفاظ راو ویستلې شی نو عبارت به داسې شی "لاتشدالرحال إلی موضع إلّا إلی ثلاثة مساجد" یعنی دَ دریو جماتونودَ سفرنه علاوه هیڅ قسم سفرکول جائز نه دی. په دې عموم امکنه کښې حافظ ابن تیمیه رحمه الله دَ جماتونونه علاوه مقدس مقامات او ټول مزارونوله تلل ناجائزګرخولی دی. تردې چه هغه دَ روضهٔ رسول دَ زیارت دَ غرض سره مستقل سفرکولوته هم ناجائز وئیلی دی دَهغه مقصد دَ رسول الله ﷺ دَ زیارت نه منع کول نه دی بلکه هغه فرمائی چه په سفرکښې نیت دَمسجد نبوی اوکړې شی اودَدې په ضمن کښې دَ رسول الله ﷺ زیارت اوکړې شی په دې صورت کښې زیارت مستحب دې. دَدې مسئلې په وجه په هغوی باندې ډیرتکالیف او امتحانونه راغله اودَ هغوی شاګرد رشید علامه ابن قیم رحمه الله هم دَدې مصیبتونو ښکار شو. حافظ ابن تیمیه رحمه الله خو ګرفتارشوې هم وو اودَ جیل نه دَهغوی جنازه اوچته شوه . نن صبا دَ سعودی د حکومت هم دغه عقیده ده لیکن په ښکاره خلق نه شی بندولې.

② دَ جمهور امت په نیز دلته مستثنیٰ منه عموم امکنه نه ده بلکه عموم مساجد دی. او تقدیری عبارت داسې دې "لاتشدالرحال الی مسجد الا الی ثلاثة مساجد" یعنی دَدې دریو مساجدونه علاوه دَ یوجمات دَپاره خاص سفرنه دی کول پکار ځکه چه باقی ټول مساجد په فضیلت اوثواب کښې یوشان دی.خلاصه دا راووتله چه په دې حدیث کښې دَ سفرممانعت تعلق صرف مساجدسره دې دَنورو سفرونوسره دابحثونه نه دی. هغه سفرونه دَدې حدیث دَ مفهوم نه خارج دی ځکه چه مستثنیٰ جنس دَ مستثنیٰ منه نه وی نوچه کله استثناء دَ مساجدو ده نومستثنیٰ منه به هم مساجدوی.

په حدیث کښې درې توجیهات: ① حضرت شاه ولی الله رحمه الله خپل مشهور تصنیف حجة الله البالغه کښې په دې حدیث باندې تحقیقی کلام کړې دې. فرمائی چه زما خیال خودادې چه دَ جاهلیت په زمانه کښې به خلقو یوڅومقامات معتبرګنړلوسره دَهغې دَ عظمت دَ وجې نه دَ هغې دَپاره سفرې کولې اوهغه سفربه ئی دَبرکت سبب ګنړلو. ښکاره خبره ده چه داسې

Maktaba Tul Ishaat.com

عقیده لرل یو مقام معتبر گنړلو سره دَهغې دَعظمت دَ وجې نه دَ هغه سفر کول نه یوازې دا چه دَ حقیقت نه ځان ساتل اوذهنی اوفکری کمزوری وه ګنی دَ فتنې اوفساد ذریعه هم وه. په دې وجه په حدیث کښې دَ داسې سفرونو نه منع اوکړې شوه دې دپاره چه شعائرالله سره دَ غیرشعائرالله التباس رانه شی اوسړې دَغیرالله په عبادت کښې پرینوځی. لهذا زما په نیز صحیح خبره داده چه دَ اولیاؤالله مزارونه اودَ هغه حضراتو دَ عبادت مقاماتو طرف، تردې چه دکوه طور طرف ته سفر کول داټولو دې ممانعت کښې برابرم دی چه په خاص توګه دَدې طرف ته سفر کول مناسب نه دی. (حجة البالغه)

دَ شاه ولی اللهؒ دَ تحقیق خلاصه دا راوځی چه په دې حدیث کښې دَ مستثنٰی منه تعلق داَهل عرب وغیره هغه مقامات دی چرته چه دَ پخوانی جاهلیت او دَ اوسنی جاهلیت میلې لګی. هلته دَ شرکیاتو اوبدعاتو ارتکاب کیږی. عرسونه کیږی او په خاص خاص موسمونو کښې دَ خاص خاص مقاماتو طرف ته دَ لرې لرې علاقونه دَ قافلو په شکل کښې سفر کولې شی.

۲ شیخ عبدالحقؒ په لمعات کښې فرمائی په دې حدیث کښې دَ دغه دریو جماتونو شان زیاتول مقصود وی اوعظمت، برکت، فضیلت او مرتبت کښې داجماتونه دَ نورو جماتونو په نسبت دې ته امتیازی شان ورکول مطلوب وی. که چرې یوسړې دَسفر مشقت برداشت کول غواړی نوهغه له پکاردی چه هم دَ دغه دریو جماتونو طرف ته دَ سفر کولو اهتمام دې اوکړی ځکه چه دَدې جماتونو ډیرلوئی شان دې. (لمعات: ۴۲/۳) دَ دې توجیه مقصد اوخلاصه دا شوه چه په د حدیث کښې هم دَدغه دریو جماتونو طرف ته دَ سفر کولوترغیب دې دَ نورو سفرونوسره څه بحث نشته دې.

۳ دَدې دریو جماتونو او مقاماتو نه علاوه دَ یوځائی سفر دَتقرب په توګه اودَ عبادت په توګه جائز نه دی. لکه چه دَ حدیث دَ دې نهی تعلق صرف دَ هغه سفرسره دې کوم چه دَ تقرب او عبادت دَپاره کولې شی. دَدې نه علاوه نور سفرونه په خپل ځائی په درجه دَ جواز کښې دی یا دَ مزارونودَپاره دَ لرې لرې دَ سفر اهتمام سره سفر کول مختلف فیه دې. بعضې علماؤ دا مباح ګرځولی اوبعضو داحرام ګرځولی دی. چنانچه قاضی عیاض مالکی، قاضی حسین او ابومحمد الجوزی معتبر مقامات او دَ نیکانودَ قبرونو زیارتونو طرف ته سفر کول حرام ګرځوی. (کذا فی مجمع البحار)

دَحضرت شاه ولی اللهؒ دَ کلام نه هم عدم جواز معلومیږی او دَ احمد علی لاهوریؒ په کلام کښې هم دَ عدم جواز بیان دې. شاه انورشاه کاشمیریؒ هم فرمائی چه دَ اولیاؤدَ قبرونودَ زیارت دَپاره سفرجائزنه دې. بهرحال چه کله دَ اباحت اوحرمت اختلاف راغلې دې نولامحاله به حرمت ته ترجیح کیږی لکه چه مشهوره قاعده هم دغه ده. حدیث کښې د

مسجد اقصیٰ لفظ راغلې دې اقصیٰ دَ لرې په معنیٰ کښې دې اودا جمات هم دَ مکې مکرمې اومدینې منورې نه ډیر لرې دې په دې وجه ئې ورته اقصیٰ اووئیل دا دَ تسمیې یوه وجه ده.

ریاض الجنة

د نبی کریم ﷺ د روضې دپاره مستقل د سفر په کولو کښې اختلاف: ① حافظ ابن تیمیه رحمه الله دَ حدیث ممانعت عام ساتلې دې اودَ هغوی په نیز دَ روضهٔ رسول دَ پاره په قصد او اراده سره سفرکول جائز نه دی. دَ دې مسئلې دَ وجې نه دَ امت علماؤ دَدې خلاف قلم اوچت کړې دې او ډیر څه ئې لیکلی دی او پخپله دَ شام حاکم هغه په جیل کښې بند کړو.

② دَجمهور امت مسلك دادې چه دَ روضهٔ رسول دَ حاضرئی دَپاره سفرکول دَ اعلیٰ قربات نه دی اودَدې ذکر شوی حدیث دَ ممانعت تعلق دغه خاص زیارت سره نه دې. امام غزالی رحمه الله هم دا اختیار کړی دی هغوی فرمائی چه په حدیث کښې مستثنیٰ منه صرف جماتونه دی.

داول فریق دلیل: شیخ الاسلام حافظ ابن تیمیه رحمه الله دَ خپل موقف دَپاره زیر بحث حدیث نه استدلال کړې دې اولکه څنګه چه مخکښې لیکلې شوی دی چه هغه مستثنیٰ منه عموم امکنه ګرځوی او په عام امکنه کښې روضهٔ رسول هم داخل منی. هغه دَ روضهٔ رسول زیارت ته مستحب وائی لیکن فرمائی چه دَدې دَپاره دې مستقل سفرنه کوی. سفردَ مسجد نبوی په نیت سره کول پکاردی.

د اول فریق د دلیل دوه جوابونه: دَ حافظ ابن تیمیه رحمه الله جلالت شان اوعلمی دبدبه په خپل ځائی مسلم ده. مګر دَ زیربحث حدیث نه زیارت قبر النبی ﷺ په عدم جواز باندې استدلال کول ډیره لرې خبره ده بلکه ابعد بلکه غیراصوب ده ځکه چه په دې حدیث کښې مستثنیٰ مه دَ عام مواضع اوعام امکنه واخستې شی نوبیا به دَ روضهٔ رسول طرف ته سفر ممنوع شی. دغه شان دَ تجارت سفر، دَ علم دَ طلب سفر، دَ جهادسفر او نور سفرونه ټول په ټول منع شی دَ کوم چه څوك هم قائل نه دی. پخپله رسول الله ﷺ دَ خپل پلار قبر له تلې دې اودَ احد دَ شهداؤ په قبرونو باندې مسلسل حاضری کړې ده.

② دَ مسند احمد په حدیث کښې په واضحه توګه باندې مستثنیٰ منه ذکراو خاص ده اوهغه لفظ مسجد دې نوبیا زیر بحث حدیث کښې دَمستثنیٰ منه عام اخستلو څه جواز باقی پاتې کیږی.

د دویم فریق دلائل: ① حضرت امام غزالی رحمه الله دَدې حدیث نه استدلال کړې دې «کنت نهیتکم عن زیارة القبور فزوروها فانها تزهد فی الدنیا وتذکرالآخرة» (ابن ماجه مشکوة ص: ۱۵۴) دَ مشکوة شریف هم په دې صفحه باندې دَ مسلم شریف روایت هم دې دکوم الفاظ چه دادی:

Maktaba Tul Ishaat.com

«عن بریدة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ نهیتکم عن زیارة القبور فزوروها»

② هغه ټول احادیث د دوی مستدلات دی په کومو کښې چه دَ نبی کریم ﷺ دَ وفات نه پس دَ حضورپاك دَ قبردَ زیارت کولو بیان دې لکه «وعن ابن عمر رضي الله عنه مرفوعامن حج فزار قبري بعد موتي کان کمن زارني في حیاتي» (بیهقی مشکوة ص: ۲۴۱). وفاء الوفاء کتاب کښې دَدې قسم ډیر روایات دی.

③ دَ مسند احمد هم دغه شد الرحال والاحدیث دې په کوم کښې چه مستثنی منه ذکر دې چه خاص دې عام نه دې او هغه لفظ مسجد دې الفاظ دادی: «لاینبغی للمطی أن یشد رحله الی مسجد تبتغی فیه الصلوة إلا المسجد الحرام والمسجد الاقصی ومسجدي هذا» (رواه احمد فی مسنده)
«حدثنا هاشم قال حدثنا عبد الحمید قال حدثني شهر (بن حوشب) قال سمعت ابا سعید الخدري ذکر عنده صلوة في الطور قال رسول الله ﷺ لاینبغي للمطي أن یشد رحله إلی مسجد یبتغي فیه الصلوة غیر المسجد الحرام والمسجد الاقصی ومسجدي هذا» (واسناده حسن بحواله التعلیق الفصیح ص: ۱۰۰ نقلا عن عمدة القاری ۶۸۷/۳).

④ ابن حجر عسقلانی رحمه الله فتح الباری شرح بخاری کښې دَ زیارت روضهٔ رسول باره کښې فرمائی "فإنها من أفضل الأعمال وأجل القربات الموصلة إلی ذي الجلال وإن شرعیتها محل اجماع بلا نزاع". یعنی دَ روضهٔ رسول زیارت بهترین اعمالونه دې او الله تعالی ته رسونکې اولویو نیکونه دې. اودَدې په مشروعیت باندې اجماع ده هیڅ جګړه نشته. (۱)

د ابن تیمیه تفرد: بهرحال دَ زیارت قبر النبی ﷺ نه دَمنع کولو قول چه حافظ ابن تیمیه رحمه الله کړې دې دادَ هغه دَتفردات نه یو تفرد دې اوتفردات خودَ علماؤ وی مګر دَ چا تفرد سره دَهغه ټول علم ناقابل اعتماد نه وی. حضرت قاسم الخیرات قاسم نانوتوی رحمه الله په نبی اکرم ﷺ باندې دَ متعارف مرګ راتلو قائل نه وو بلکه دَ یو بل قسم مرګ قائل وو مګر په دغه تفردات سره دَ دې حضراتو علمی مقام په خپل ځائی باندې قائم دې والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب.

[۶۹۳] د نبی علیه السلام منبر په حوض باندې

۶۹۳ - (۲) [۵] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ ۲ مَا بَيْنَ

(۱) (فتح البخاری ۶۶/۴ بحواله اشرف التوضیح) هم دا خبره ارشاد الساری شرح بخاری کښې هم لیکلې شوې ده. المصفی شرح الموطاء کښې لیکی "سنت است زیارت قبر شریف آنحضرت ﷺ بعد از اداء حج باتفاق اهل علم" (المصفی ۳۳۹/۱ بحواله بالا). کوکب الدری په حاشیه کښې شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائي "قلت وکذا حکی الاجماع علیه النووی وابن الهمام وغیرهما" (الکوکب الدری ۳۳۹/۱ بحواله بالا) شاه ولی الله رحمه الله

(۲) اخرجه البخاری کتاب الجمعة باب فضل ما بین القبر والمنبر (رقم-۱۱۹۶) ومسلم کتاب الحج باب فی المدینة حین یترکها أهلها (رقم) ۵۰۲ - (۱۳۹۱) والترمذی کتاب الجمعة باب ما جاء فی فضل المدینة (رقم-۳۹۱۵)

بَيْتِيْ وَمِنْبَرِيْ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ ۳ وَمِنْبَرِيْ عَلٰى حَوْضِيْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: ۱ ابوهريره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ زما د مکان او زما د منبر په مينځ کښې د جنت د باغاتو څخه يو باغ دي ۳ او زما منبر زما د حوض (يعني د حوض کوثر) د پاسه دي، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ۱ رَوْضَةٌ: باغيچه.

تسهيلات:

قوله: "مَابَيْنَ بَيْتِيْ"

د حجرې مبارکې محل وقوع: رسول الله ﷺ دَ خپل دغه کورطرف ته اشاره اوکړه کوم چه دَحضرت عائشه رضی الله عنها دَپاره خاص وو. کوم سرې چه قبلې ته مخ کولوسره اودرېږي نوګورى به نودَ منبر نه ګس طرف ته دَحضرت عائشې رضی الله عنها کوټه ده اوهم په دې مقام باندې دَ حضورپاك وصال اوشو اوهم په دغه ځائى دَ حضورپاك قبر مبارك دې. دَ دغه کور اومنبر په مينځ کښې سپين قالين خورشوې دې هم دغه رياض الجنة دې او هم په دغه ځائى کښې استوانه توبه، اسطوانه عائشه او اسطوانه الحرس وغيره يوڅو مبارکې او تاريخى ستنې دى.

قوله: "وَمِنْبَرِيْ"

په اول کښې د نبى کريم ﷺ دپاره د منبر جوړول:

دَ عربو بادشاهانو سردارانو او بزرګانو کښې رواج وو چه دَهغوى دَ اعلانونو او خطبودَپاره خاص منبر به وو رسول الله ﷺ چه کله مدينې ته هجرت کولوسره تشريف راوړو نو په مسجد نبوى کښې منبرنه وو. حضورپاك به دَ کهجورې يوې تنې سره ډډه لګوله اوخطبه به ئى ارشاد فرمائيله. دَ دغه تنې نوم استن حنانه وو.

دنبى کريم ﷺ دپاره د منبر جوړول: دَ جنګ بدر نه لږشان مخکښې په دويمه هجرى کښې حضورپاك ته يوې انصارى ښځې درخواست پيش کړو زما يوغلام دَ لرګى په کار باندې ښه يوهيږى که چرې تاسو غواړئى نو زه به تاسو له يو منبر تيارکړم. حضورپاك هغې ته اجازت ورکړو دَ هغې ښځې نوم عائشه انصاريه وه دَ هغې دَ غلام نوم باقوم رومى وو. باقوم رومى دَ جهاؤدَ ونې نه (دايوقسم ونه ده دَ کومې نه چه پچئى وغيره هم جوړولې شي) نه يو منبر تيارکړو دکومې چه درې پاؤړئى وې. حضورپاك به په دې باندې خطبه ورکوله بيا دَدې پاؤړئى زياتيدلې دې وخت کښې دَدې تقريبًا اووه پاؤړئى دى او يوه اوچته مناره پورته چت ته نيزدې رسيږى. دَ حضورپاك اصل منبر په يوه حاثه کښې سوزيدلې وو اوس دا منبر هم په هغه مقام باندې دې اودَ لرګى جوړدې. [اشعة المعات:۲۴۸]

Maktaba Tul Ishaat.com

د مسجد نبوي مخصوصې حصې ته د رياض الجنة په وئيلو کښې توجيهات:

① دا مقام به دَ قيامت په ورځ دَ جنت طرف ته منتقل کړې شي حالانکه دا دَزمکې يوه ټکړه ده ليکن دَزمکې او آسمانونو په ماتيدو اودَ قيامت دَ هيبت کښې به داحصه محفوظ وي اوبيابه جنت ته منتقل شي. په دې وجه په دې حديث کښې دادَ جنت دَ باغيچونه يوه باغيچه اوګرځولې شوه. علامه ابن حجر رحمه الله داقول راجح ګرځولې دې اودَ اکثرمحدثينو هم دغه رائې ده. ابن جوزي رحمه الله او ابن فرحون رحمه الله فرمائي چه دَ امام مالك رحمه الله هم دغه رائې ده.[اشعة المعات: ۳۴۸]

② دَمالکيانو يو لوئې فقيه ابوجمرة رحمه الله فرمائيلي دي ممکن ده دَ زمکې داحصه بعينه دَ جنت يوه ټکړه وي چه دَهغه ځائې نه راکوزه شوې ده اودَ قيامت په ورځ به واپس خپل اصلي مقام ته لاړشي.

په رياض الجنة کښې د جنت د خصوصياتو عدم وجود توجيه: کله چه دا حصه دنياته راوړلې شوه نودَدې نه دَ جنت خصوصيات جدا کړې شو يا هغه خصوصيات په پرده اوحجاب کښې اوساتلې شو.

اشکال: که چرې دا روضة الجنة دَ جنت حصه ده نو په دې کښې دَ جنت خصوصيات ولې نشته؟ مثلاً پرق پروق په کښې ولې نشته په کوم سره چه نمر سپوږمئې بې نوره شي اوکوم سرې چه په دې کښې کينې نوچه هغه ته اولګه تنده نه لګي لکه څنګه چه به جنت کښې وي. مطلب دادې چه په دې کښې دَ جنت خصوصيات ولې ښکاره نه دي؟

داشکال جواب: کله چه دا حصه دنياته راوړلې شوه نودَدې نه دَ جنت خصوصيات جدا کړې شو يا هغه خصوصيات په پرده اوحجاب کښې اوساتلې شو.

قوله: عَلٰى حَوْضِي

دمذکوره جملې مطلب: دَدې آسان او بې غباره مطلب دادې چه ميدان محشر کښې به زما منبر زما په حوض باندې وي. دَ حوض نه حوض کوثرمرا دې.

٦٩٥- د خيالى په ورځ مسجد قباء ته د تلو مسنونيت

٦٩٥-(¹)[٦] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ② كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَأْتِي مَسْجِدَ قُبَاءٍ كُلَّ سَبْتٍ مَاشِيًا وَرَاكِبًا، ③ فَيُصَلِّي فِيهِ رَكْعَتَيْنِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي ② چې رسول الله ﷺ به هره هفته پياده يا په سوارلئ مسجد قباء ته تشريف راوړو ③ او هلته به يې دوه رکعاته مونځ کولو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① سَبْتٍ: دخيالى ورځ، يک شنبه.

(¹) اخرجه البخارى كتاب الجمعة باب من أتى مسجد قباء كل سبت (رقم-١١٩٣) ابوداود كتاب المناسك باب فى تحريم المدينة (رقم-٢٠٤٠) والنسائى كتاب المساجد/باب فضل مسجد قباء والصلاة فيه رقم (٦٩٨)

تسهيلات:

قوله: "مَسْجِدَ قُبَاءٍ"

دمسجد قبا تعارف: حضورپاك چه كله دَمكې مكرمې نه مدينې منورې ته هجرت اوكړو نوپه محله عمروبن عوف كښې كوز شوهم دغه ځائې كښې حضورپاك ديارلس يا څوارلس ورځې قيام اوكړو. هم دَدې قيام په دوران كښې حضورپاك دَمسجد قباء بنياد كيخودو. په اسلام كښې فضيلت په اعتبارسره مسجد قباء په څلورم نمبر دې اودَ تعمير په اعتبارسره دَهجرت نه پس دا دَ اسلام رومبې جمات دې چه دَمسجد نبوى نه تقريبًا په درې ميله فاصله باندې دې.

علامه ابن حجرؒ فرمائي چه په صحيح حديث كښې دى چه په دې جمات كښې دَ هفتې په ورځ دوه ركعته مونځ كولوسره دَعمرې ثواب ملاويږى. دَ حضورپاك معمول وو چه دَهفتې په ورځ به حضورپاك دې جمات ته تشريف راوړلو اودوه ركعته مونځ به ئې كولو. اوس هم دَدې امت خلق په دې سنت باندې عمل كوى. پيدل تلل دَ سوريدونه افضل دى.

قوله: "فَيُصَلِّي فِيهِ رَكْعَتَيْنِ"

د تحية المسجد په حكم كښې مذاهب:

① دَ اهل ظواهر په نيزدوه ركعته تحية المسجد واجب دې. ② دَ شوافع په نيزدَ كيناستو نه مخكښې كول دى ورستو ثواب نه ملاويږى دَ احنافو په نيز به ملاويږى.

③ جمهور علماؤ په نيز دانفل دى دَ ثواب كار دې.

۶۹۶ــجماتونه الله تعالى ته خوښ ځايونه

۶۹۶ـ(۱)[۷] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«أَحَبُّ الْبِلَادِ إِلَى اللّٰهِ مَسَاجِدُهَا، ③وَأَبْغَضُ الْبِلَادِ إِلَى اللّٰهِ أَسْوَاقُهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ؓ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د الله جل جلاله په نيز په ټولو ښارونو کې محبوب او خوښ مقامات مسجدونه دي ③ او بدترين او ناخوښه مقامات بازارونه دي، (بخاري، مسلم)

تسهيلات:

قوله: أَحَبُّ الْبِلَادِ

د احب البلاد كيدو وجه: ښكاره خبره ده چه په كومومقاماتوكښې دَالله تعالى عبادت كيږى هغه دَټولومقاماتونه الله تعالى ته محبوب دى او په مساجدكښې چه كوم بنيادى

(۱) اخرجه مسلم كتاب المساجد مواضع باب فضل الجلوس فى مصلاه بعد الصبح. وفضل المساجد(رقم-۲۸۶ - (۶۷۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

عمل كيږي نوهغه خو هم دَالله تعالى عبادت دي. مونځونه تهجد نوافل سنت تلاوت ذكردَ الله تعالى اذانونه اقامتونه او اعتكافونه وغيره ټول عبادات په مسجد كښې كيږي په دې وجه دا الله تعالى ته محبوب دى. [اشعة اللمعات: ۳۲۹]

قوله: وَأَبْغَضُ الْبِلَادِ إِلَى اللهِ أَسْوَاقُهَا

د بازارونو د ابغض البلاد كيدو وجه: اوبازارونه دَالله تعالى دَ نافرمانونه ډك وى. جګړې دروغ خيانت كنځلې دهوكې فراډونه اوشور ژوګ او بې حيايئې په بازارونو كښې وى په دې وجه الله تعالى ته دا مقامات مبغوض دى. دَدې نه معلومه شوه چه جنت ته دَ تلو لار په جمات ده تركومې چه يومسلمان جمات ته نه راځى هغه دَ ماركيټ نه جنت ته نه شى تلې. هم دَدې جماتونودَ ګوټونونه بې شميره انسانان جنت ته تلى دى لهذا دا كمزورى خلق او په جماتونو كښې اوسيدونكى خلق سپك مه ګنړئى او په بازارونو كښې ګرځيدونكو خلقو ته معزز مه وايئې.

اشكال: دَ بازارونونه زيات خو دګناه اډې شراب خانې دَ جوارئى اډې اودَ فحاشئى اډې او سينماګانې وغيره دى هغې ته ولې دَ بازارونونه زيات مبغوض اونه وئيلې شو؟

داشكال دوه جوابونه: ① دا پورتــه دكومـو اډو او بـدو ذكـر اوشـو نودامقامـات خـو هـم دَبازارونو يوه حصه ده دادَ بازارونونه څه جدا ځيزنه دي.

② بازارونه قائم كول او آبادولوحكم دَ شارع دَ طرف نه دې اودَدغه اډو تيـارول دَ شـريعت دَ طرف نه نه دى. نودَحديث مطلب داشو چه شارع دكوموځيزونواجازت وركړې دې په هغې كښې خراب ځايونه بازارونه دى.

٦٩٧ــد جمات جوړولو ثواب

٦٩٧ – (١)[٨] وَعَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢](«مَنْ بَنَى لِلَّهِ مَسْجِدًا، [٣]بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت عثمان رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] كوم سړي چې د الله جل جلاله د پاره مسجد جوړوي[٣] نو الله تعالى جل جلاله د هغه د پاره په جنت كې مكان جوړوي. (بخاري مسلم.)

تسهيلات:

قوله: "مَنْ بَنَى لِلَّهِ"

(١) اخرجه البخاري كتاب الصلوة باب من بنى مسجدا (رقم-٤٥٠) ومسلم كتاب المساجد مواضع باب فضل بناء المساجد والحث عليها (رقم) ٢٤ - (٥٣٣) وابن ماجة كتاب المساجد والجماعات ،باب من بنى لله مسجدا (رقم-٧٣٦) والترمذي كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في فضل بنيان المسجد(رقم-٣١٨) والنسائي كتاب المساجد/باب الفضل في بناء المساجد رقم (٦٨٨)

دجمات جوړولو فضيلت: يعنى دَ الله تعالى دَ رضا او خوشحالئى اودَ دين دَ خورولوپه نيت سره جمات جوړوى نه دا چه دَ رياكارئى په غرض سره يا دَ ځان خودلو اودنياوى اغراضو مقاصدو دَپاره جوړوى. دَدې ثواب نه ملاويږى. بعضې علماؤ ليكلى دى چه كوم سرې دَ مشهورتيا په غرض سره جمات په خپل نوم باندې ساتى دادَ هغه دَ عدم اخلاص دليل دې.[اشعة المعات: ۴۲۹]

قوله: "مَسْجِدًا،"

د مسجد ه تنكير فائده: نكره دَ تقليل دَپاره دې يعنى وړوكې شان جمات دې ولې نه وى داثواب به ملاويږى. يو روايت كښې دى چه دَ مرز دَ ځالې برابر ولې نه وى. په دې كښې داهم ممكن دى چه يوسړې په جمات كښې معمولى شان حصه واچوى پوره جمات جوړنه كړى هغه ته به هم دَ جمات ثواب ملاويږى.

قوله: "فِي الْجَنَّةِ"

د جمات د جوړونكى جنت ته تلل: په جنت كښې اوچت محل ملاويدل ځان له دَ الله تعالى كرام اواحسان دې ليكن دَدې زيرى نه دامعلومه شوه چه داسې سړې به جنت ته ځى. دا يولوئى زيرې دې كه محل ملاويږى اوكه نه ملاويږى هغه روستنى خبره ده جنت خو ملاؤشو.

۶۹۸–صبا بيګاه جمات ته د تلو ثواب

۶۹۸–(١)[۹] ⓵ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⓶ («مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ أَوْرَاحَ، ⓷ أَعَدَّ اللهُ لَهُ نُزُلَهُ مِنَ الْجَنَّةِ كُلَّمَا غَدَا أَوْرَاحَ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⓵ ابوهريره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⓶ كوم كس چې د ورځې په اوله حصه كې يا په آخري حصه كې مسجد ته ځي ⓷ نو الله تعالى جل جلاله په جنت كې د هغه د ميلمستيا سامان تياروي خواه كه هغه په سحر كې لاړشي اوكه مابنام كي،

(بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① غَدَا: أَيْ: ذَهَبَ فِي الْغُدْوَةِ: يعنى دسحر په وخت كښې لاړشى. ② رَاحَ: ذَهَبَ إِلَيْهِ فِي الرَّوَاحِ: د زوال نه پس تلو ته رواح وائى. ③ أَعَدَّ: أَيْ: هَيَّأَ: تياروى، ④ نُزُلَهُ: وَهُوَمَا يُقَدَّمُ إِلَى الضَّيْفِ مِنَ الطَّعَامِ: دميلمه دپاره چه كوم خوراک تيارولې شى هغې ته وائى يعنى ميلمستيا.

---

(۱) اخرجه بخارى كتاب الاذان باب فضل من غدا إلى المسجد ومن راح (رقم-۶۶۲) ومسلم كتاب المساجد مواضع باب المشى إلى الصلاة تمحى به الخطايا، وترفع به الدرجات رقم(۲۸۵ - (۶۶۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

۶۹۹–جمات ته د زیاتو قدمونو اخستلو ثواب

۶۹۹–()[۱۰] [۱] وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «أَعْظَمُ النَّاسِ أَجْرًا فِي الصَّلَاةِ، أَبْعَدُهُمْ فَأَبْعَدُهُمْ مَمْشًى، [۳] وَالَّذِي يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ حَتَّى يُصَلِّيَهَا مَعَ الْإِمَامِ [۴] أَعْظَمُ أَجْرًا مِنَ الَّذِي يُصَلِّي ثُمَّ يَنَامُ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابو موسیٰ رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د لمانځه د ټولو څخه زيات اجر هغه سړي ته رسيږي چې په اعتبار د مسافت (فاصله) د ټولو څخه زيات لرې وي [يعني د کوم سړي کور چې د مسجد څخه څومره لرې وي او هغه د کور څخه روانيدو سره مسجد ته ځي هغه ته هغومره زيات ثواب حاصليږي] [۳] او کوم سړي چې د لمانځه په انتظار کې په مسجد کې دننه (ناست) وي چې د امام سره مونځ وکړي [۴] نو د هغه ثواب د هغه سړي څخه زيات دي چې تنها خپل مونځ او کړي او اوده شي. (بخاري مسلم.)

حل اللغات: ① أَبْعَدُهُمْ: چه لرې وی په مسافت کښې ② مَمْشًى: مصدر ميمی دې، پيدل تلو ته وائی.

تسهيلات:

قوله: "فَأَبْعَدُهُمْ مَمْشًى"

لرې جمات ته د تلو فضيلت: يعنی کوم سړې چه دَ لرې نه جمات ته راځی اوجمعې سره مونځ کوی دغه دَ هغه سړی نه په ثواب کښې زيات دې څوک چه جمات ته نيزدې راځی. ځکه چه دَ هغه اقدام ليکلې کيږی مګر دا ياد لرئی چه که په لاره کښې يو جمات دې اوهغه پريخودوسره بل جمات له ځکه ځی چه فضيلت ئی زيات شی نودا صحيح نه دې. خاص کرچه نيزدې جمات ته نقصان هم کيږی بيا به دا دَګناه کار جوړشی.[اشعة المعات: ۳۹۹]

قوله: "ثُمَّ يَنَامُ"

په جمعې سره د مونځ کولو فضيلت: يعنی يوسړې مثلاً دَماسخوتن مونځ خان له اوکړی اوده شی سره دَدې چه هغه په ډير افضل وخت کښې ادا کړو مګر دَ جمعې انتظارئی اونه کړو او يوسړې هغه دې چاچه تاخيرسره مونځ اوکړو مګر دَ جمعې انتظارئی اوکړو نودَ دغه انتظار او په جمع کښې شامليدو دَ وجې نه دَ ده اجر ډير زيات دې.

۷۰۰–د هر قدم په بدله کښې يوه نيکی

۷۰۰–()[۱۱] [۱] «وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] خَلَتِ الْبِقَاعُ حَوْلَ الْمَسْجِدِ، فَأَرَادَ بَنُو سَلِمَةَ أَنْ يَنْتَقِلُوا قُرْبَ الْمَسْجِدِ، [۳] فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُمْ: [۴] (بَلَغَنِي أَنَّكُمْ تُرِيدُونَ أَنْ تَنْتَقِلُوا قُرْبَ

(۱) اخرجه بخاری کتاب الاذان باب فضل صلاة الفجر فی جماعة (رقم-۶۵۱) ومسلم کتاب المساجد مواضع باب فضل کثرة الخطا إلى المساجد(رقم) ۲۷۷ - (۶۶۲)

(۲) اخرجه مسلم کتاب المساجد مواضع باب فضل کثرة الخطا إلى المساجد(رقم) ۲۸۰ - (۶۶۵)

الْمَسْجِدِ). ۵ قَالُوا: نَعَمْ يَارَسُولَ اللهِ! قَدْ أَرَدْنَا ذٰلِكَ. ۶ فَقَالَ: «يَابَنِي سَلِمَةَ! دِيَارَكُمْ، تُكْتَبْ آثَارُكُمْ، دِيَارَكُمْ، تُكْتَبْ آثَارُكُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: ۱ حضرت جابر رضی الله عنه فرمايي ۲ چه مسجد نبوي ته نزدې ځه کورونه خالي شو نو بني سلمه دا اراده وکړه چې هغوی مسجد ته نزدې راشي ۳ رسول الله ﷺ چې د هغوئ د دې ارادې ځخه خبر شو نو هغوئ ته يې وفرمايل ۴ ماته دا معلومه شوې ده چې تاسو مسجد ته نزدې د منتقل کيدو اراده لرئ ۵ هغوئ عرض وکړو چې هو يا رسول الله ﷺ مونږ دا اراده کړې ده ۶ حضور ﷺ ورته وفرمايل اې بنو سلمه تاسو په خپلو مکانونو کې اوسې ستاسو د قدمونو نبناني نشانات ليکل کيږي تاسو په خپلو مکانونو کې اوسې ستاسو قدمونو نبناني ليکل کيږي يعني د هرقدم په برابر کنبې يواجر ليکل کيږي.(مسلم)

حل اللغات: ① الْبِقَاعُ: بقاع د بقعة جمع ده کولاو ميدان ته وائی دلته مکانات مراد دی. ② آثَارُكُمْ: آثار د أَثَر جمع ده. أي حُصُولُ مَايَدُلُّ عَلَىٰ وُجُودِهِ: اثر هغه ځيز ته وائی چه د يو ځيزېه وجود باندې دلالت کوي.

تسهيلات: قوله: بَنُوسَلِمَةَ:

د بنو سلمه تعارف: دا د انصار يوخاندان دې د دې خلق به د مسجد نبوی نه لرې اوسيدل. کله چه مسجد نبوی سره ځه مکانات د ځه وجې نه خالی شو نو هغوی اراده اوکړه چه جمات ته نيزدې راشی. رسول الله ﷺ ته معلومه شوه نو هغوی ئی منع کړل.

قوله: دِيَارَكُمْ:

په حديث کښې آيت ته اشاره: دا الزموا دپاره مفعول به دې يعنی خپل مکانات لازمی کيرکړئی هم هلته اوسيږئی ځکه چه ستاسو د تګ راتګ قدمونه ليکلې کيږی کوم چه به ستاسو داعمالو په تله کښې شامليږی. لکه چه د دې آيت طرف ته اشاره ده. ﴿وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ﴾ او مونږ ليکو کوم ځه چه هغوی وړاندې ليګلی دی او ځه چه هغوی پسې دی.

۷۰۱–د عرش د سيوری لاندې اووه قسمه خلق

۷۰۱–()[۱۲] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ («سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ: ۳ إِمَامٌ عَادِلٌ، وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ اللهِ، ۴ وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ بِالْمَسْجِدِ إِذَا خَرَجَ مِنْهُ حَتّٰى يَعُودَ إِلَيْهِ،

[۱] بخاری کتاب الاذان باب من جلس فی المسجد ينتظر الصلاة وفضل المساجد (رقم-۶۶۰) ومسلم کتاب الزکاة باب فضل إخفاء الصدقة (رقم) ۹۱ - (۱۰۳۱) ومالک فی الموطا کتاب الشعر باب ما جاء فی المتحابين فی الله (رقم-۱۴) والترمذی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الحب فی الله (رقم-۲۳۹۱) والنسائی کتاب الزينة/باب ذکر النهی عن المشی فی نعل واحدة رقم(۵۳۷۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] اوه كسان داسې دي چې هغوي به الله تعالى جل جلاله په هغه ورځ (يعني د قيامت په ورځ) په خپل سايه (سورې) كې وساتي په كومه ورځ چې د الله تعالى جل جلاله د سايه (سورې) څخه سوا بل سايه (سورې) نه وي[۳] ① انصاف كونكي حاكم ② هغه ځوان چې خپله ځواني د الله تعالى جل جلاله په عبادت كې صرف كړي[۴] ③ هغه سړي چې د مسجد څخه وځي نو تر څو پورې چې په مسجد كې داخل نشي د هغه زړه د مسجد سره لګيدلي وي.

حل اللغات: ① يُظِلُّهُمْ: أَيْ: يُدْخِلُهُمْ: يعنى په سورى (سايه) كښې به ئې داخل كړى. ② نَشَأَ: أَيْ: نَمَا وَتَرَبَّى: ځوانى تيره كړى يعنى لوئې شى. ③ مُعَلَّقٌ: رازوړند وى يعنى تړلې شوې وى، (يعنى زړه ئې هروخت جمات ته متوجه وى مينه او محبت ئې دجمات سره وى).

[۱] وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ، [۲] وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ، [۳] وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ حَسَبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ: إِنِّي أَخَافُ اللهَ، [۴] وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا [۵] حَتَّى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ④ او هغه دوه سړي چې محض د الله جل جلاله د پاره په خپلو كې محبت ساتي كه يو ځاي كيږي نو هم د الله جل جلاله په محبت كې او كه جدا كيږي نو هم د الله جل جلاله په محبت كې (يعنى حاضر او غائب خالص لوجه الله محبت ساتي) [۲] ⑤ هغه سړي چې په تنهايي كښې الله تعالى جل جلاله يادوي او (د الله دويرې څخه) د هغه د ستركو څخه اوښكي جاري شى[۳] ⑥ هغه سړي چې يوې شريف النسب او حسيني ښځې (په خرابي ارادې سره) رابللي وي او هغه (د هغې د خواهش په جواب كې) ويلي وي چې زه د الله تعالى جل جلاله څخه ويريږم (دا كار نشم كولي)[۴] ⑦ هغه سړي چې هغه په داسې طريقه پټه صدقه وركړله [۵] چې د هغه ګس لاس ته هم معلومه نه وي چې ښي لاس څه خرچ كړي دي، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ④ فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ: أَيْ: سَالَتْ وَجَرَتْ دُمُوعُ عَيْنَيْهِ: يعنى دستركو نه ئې اوښكې جارى وى، ⑤ دَعَتْهُ: طلب كوى او راغواړى ئې.

تسهيلات:

قوله: "فِي ظِلِّهِ"

د سورى نه په مراد كښې درې اقوال: ① ظل په اصل كښې سورى ته وائى دلته دَ نمر سورې مراد نه دي بلكه دَ الله تعالى دَ طرف نه دَ عزت، عظمت، رحمت او بزرګئ سورې مراد دي.

② د سورى نه راحت اونعمت مراد دي.

③ دَ عرش سورې ترې مراد دي.

په ميدان حشر کښې د اووه قسمه خلقو په سورئ سره اعزاز: بهرحال مقصد دادې چه داخوش نصيبه اووه قسم خلق به په ميدانِ محشر کښې دَ الله تعالى په رحمت کښې وى او دوى ته به دَ محشردَ هيڅ قسم پريشانو سره مخ کيدل نه وى. دا خصوصى امتيازى شان هغوى ته په دې وجه ملاؤ شو.

① **عادل بادشاه:** مثلاً دَ عادل بادشاه دَ عدالت اثر دَ هغه دَ ذات نه علاوه په ټول مخلوق باندې پريوځى. نودَ الله تعالى دَ مخلوق دَپاره دَ عادل امام عدالت عمومى رحمت دې.

② **ځوان عابد:** ځوان چونکه هغه خپل راؤچت شوى جذبات عين دَ ځوانئى او ليونتوب په زمانه کښې دَ الله تعالى دَ عبادت حق اداکړو په دې وجه هغه ته دا اعزاز ملاؤ شوې دې.

③ **جمات سره زړه لګونکې:** هروخت هم جمات سره محبت اوتعلق ساتى. ښکاره خبره ده چه هغه به دَ جمات خدمت کونکې هم وى اوهروخت به عبادت کونکې هم وى.

④ **دوه مخلص دوستان:** هغه دوه کسان دَ چاپوځائى کيدل او بيليدل چه صرف دَ الله تعالى دَ رضا دَپاره وى. ښکاره خبره ده په دې صورت حال کښې به هغوى دَ الله تعالى تابعدارى هروخت په خيال کښې ساتى لکه چه دَ خداوندقدوس دَ قدوسى هره مراقبه به هروخت هغوى ته حاصله وى.

⑤ **دالله تعالى د ويرې نه ژړا کونکې:** پنځم هغه سړې چه بالکل په خالى مقام کښې دَ الله تعالى په عظمت کښې ډوبيدوسره دَ الله تعالى دَ ويرې نه ښه ژاړى. ښکاره خبره ده چه دا ژړا دَ هرقسم رياکارئى او هرقسم دنياوى اغراضونه پاکه ده په دې وجه هغوى ته دامقام ملاؤ شوې دې.

⑥ **د زنا نه ځان ساتونکې:** هغه سړې چه يوې عامې ښځې نه بلکه ښائسته او دَ اوچت خاندان سره تعلق لرونکې مالداره خپل ځانِ پخپله پيش کړو. اوس دَدې ګناه نه دَ بچ کيدو وجه صرف دَ الله تعالى وېره وه په دې وجه دَ دغه سړى قدردانى اوکړې شوه.

⑦ **دالله دپاره په اخلاص سره خرچ کونکې:** هغه سړې چه دَ الله تعالى په محبت کښې دومره ورډوب دې اودَ رياکارئى نه دومره لرې دې چه دَمال خرچ کولوپه وخت دَ الله تعالى نه علاوه چاته خبر قدرې نه ورکوى بلکه داکوشش کوى چه د دغه واجبى صدقې خبرئى خپل ګس لاس ته هم اونه شى. لنډه دا چه دا صرف اووه سرى نه بلکه اووه قسمه خلق مراد دى.

۷۰۲—په جماعت سره د مونځ کولو ثواب

۷۰۲—()[۱۳] ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي الْجَمَاعَةِ تُضَعَّفُ

(۱) اخرجه البخاري كتاب الصلوة باب فضل صلاة الجماعة وكان الأسود:(رقم-۶۴۷) ومسلم كتاب المساجد مواضع باب فضل صلاة الجماعة وانتظار الصلاة (رقم) ۲۷۲ - (۶۴۹) وابو داود كتاب الصلاة،باب ما جاء فيفضل المشى إلى الصلاة(رقم-۵۵۹) وابن ماجة في الموطا كتاب المساجد والجماعات ،باب المشي إلى الصلاة(رقم-۷۷۴) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في فضل الجماعة (رقم -۲۱۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلَى صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ[۲] وَفِي سُوقِهِ خَمْسًا وَعِشْرِينَ ضِعْفًا ; [۳] وَذَلِكَ أَنَّهُ إِذَا تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ [۵] ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الْمَسْجِدِ لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا الصَّلَاةُ، [۶] لَمْ يَخْطُ خُطْوَةً إِلَّا رُفِعَتْ لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ [۷] وَحُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ ;

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په جماعت سره د سړي مونځ د هغهٔ لمانځه څخه چې په کور کې [۳] (يا تجارت وغيره د مشغوليت په بناء) په بازار کې وشي پنځه ويشت درجې فضيلت لري [۴] او د دې وجه دا ده چې هر کله يو سړي په ښه شان (يعني د ادابو او شرائطو لحاظ ساتلو سره) اودس کوي [۵] (او په بل څه غرض سره نه بلکه) صرف د لمانځه د پاره مسجد ته راځي [۶] نو هغه چې کوم قدم پورته کوي د هغه د هر قدم په عوض کې د هغه په ثواب کې يوه درجه بلنديږي [۷] او يوه ګناه يې کميږي (تر دې چې هغه په مسجد کې داخل شي.)

[۱] فَإِذَا صَلَّى، لَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تُصَلِّي عَلَيْهِ مَا دَامَ فِي مُصَلَّاهُ: [۲] اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ، اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ. [۳] وَلَا يَزَالُ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاةٍ مَا انْتَظَرَ الصَّلَاةَ»). [۴] وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ: («إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ كَانَتِ الصَّلَاةُ تَحْبِسُهُ»). [۵] وَزَادَ فِي دُعَاءِ الْمَلَائِكَةِ: [۶] «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ، اللَّهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ. [۷] مَا لَمْ يُؤْذِ فِيهِ، مَا لَمْ يُحْدِثْ فِيهِ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او تر څو پورې چې هغه مونځ کولو نه پس په خپله مصلی ناست وي فرښتې برابر د هغه د پاره دا دعا کوي [۲] اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ (اې الله دې وبخښې اې الله په ده رحم وکړې) [۳] او تر څو پورې چې په تاسو کې څوك د لمانځه په انتظار کې وي نو هغه هغه وخت په لمانځه کې شامل ګڼل کيږي [۴] او د يو روايت الفاظ دا دي چې هر کله څوك مسجد ته لاړشي او د لمانځه په وجه هلته پاتې شو (نو لکه چې هغه په لمانځه کې دې) [۵] او د فرښتو په دعا کې دا الفاظ زيات دي [۶] اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اللَّهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ، يعنی اې الله دا بنده وبخښې اې الله د ده توبه قبوله کړې [۷] (او دا د هغه وخته پورې کيږي) تر څو پورې چې هغه يو مسلمان ته په خپلې ژبې يا لاس سره تکليف ونه رسوي او په اوداسه وي. (بخاري، مسلم.)

حل اللغات: ① تُضَعَّفُ: أَيْ: تُزَادُ: زياتيږي، ② خُطْوَةً: قدم، وَهِيَ مَا بَيْنَ الْقَدَمَيْنِ: (د دوه قدمونو په مينځ کښې مقدار ته خطوة وائي). ③ حُطَّ: صيغه د مجهول ده، رجيږي، معاف کيږي. ④ تَحْبِسُهُ: ايسار کړې وی ده لره (يعنی دبل مونځ په انتظار کښې ناست وی). ⑤ لَمْ يُؤْذِ: چاته تکليف اونه رسوی (که هرقسم تکليف وی په ژبه وی اوکه په لاس وغيره سره وی). ⑥ لَمْ يُحْدِثْ: چه بې اودسه نه شی.

تسهيلات:

قوله: "خَمْسًا وَعِشْرِينَ ضِعْفًا"

د جمعې مونځ يو په اوويشت درجه: وړاندې باب الجماعت کښې به دَدې قسم احاديث راځی هم هلته به بحث کيږی چه کله پنځه ويش او کله اووه ويش درجې ثواب ولې

ملاویږي. دَدې کمی زیاتی وجه څه ده؟ دلته خوصرف دا خودلې شي چه دَ جمع نه بغیر مونځ کول دَ جمع سره مونځ والا درجه نه شي حاصلولې. ۲۵ یا ۲۷ درجو ثواب صرف په هغه صورت کښې ملاویږي کله چه مونځ په جمع سره وی.

قوله: "فِي مُصَلَّاهُ"

د مصلی د قید فائده: شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې دَدې حدیث لاندې لیکلی دی چه دا دوچند ثواب به هغه وخت ملاویږي چه مونځ گذار دَ مونځ په ځائی باندې کینی اخوا دیخوا لاړنه شي. که چرې مونځ گذار په جمات کښې اخوا دیخوا لاړو بیابه دا ثواب نه ملاویږي. [اشعة المعات: ۳۵۱]

قوله: "مَا لَمْ يُؤْذِ فِيهِ"

د مضاعف ثواب ملاویدو شرط: چې یو انسان یا مونځ گذار ته درد اوتکلیف نه رسونی یعنی په خپل فعل اوخپل قول سره چاته تکلیف اونه رسوی.

قوله: "مَا لَمْ يُحْدِثْ فِيهِ"

په مذکوره جمله کښې دوه احتمالات: ① داجمله وړاندې جملې "مالم یؤذ" څخه بدل واقعې ده یعنی دَ فرښتو دعابه ترهغه وخته پورې وی ترکومې چه مونځ گذار په اودس کښې وی. که چرې په جمات کښې اودس مات شي نو فرښتې دعانه کوی.

② شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې لیکلی دی داصیغه دَ یحدث تحدیث نه په معنی دَ کلام هم کیدې شي یعنی فضیلت دَ هغه وخته پورې دې ترکومې چه مونځ گذار په جمات کښې فضول دنیاوی خبرې شروع نه کړی کوم وخت چه فضول خبرې شروع شي نوفرښتې خپله دعاموقوف کوی. هرمونځ گذار له پکاردی چه په جمات کښې په اودس کښې کینی اوترکومې پورې چه ناست وی دَ دنیاوی خبرونه دې ځان اوساتی. [اشعة المعات: ۳۵۱]

۷۰۳– دَ جمات ته داخلیدو اووتلو دعاګانې

۷۰۳–()[۱۳] ① وَعَنْ أَبِي أُسَيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ② («إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَقُلْ: ③ اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ. ④ وَإِذَا خَرَجَ فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابو اسید رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② هر کله چې په تاسو کې یو سړي په مسجد کې داخلیږي نو هغه له دا دعا کول پکار دي ③ اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ،

(۱) اخرجه مسلم کتاب صلاة المسافر وقصرها باب ما یقول إذا دخل المسجد (رقم) ۶۸ - (۷۱۳) وابن ماجة فی الموطا کتاب المساجد والجماعات ،باب الدعاء عند دخول المسجد(رقم-۷۷۲) والنسائی کتاب المساجد/باب القول عند دخول المسجد وعند الخروج منه (رقم-۷۲۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

(اې الله ته د خپل رحمت دروازې زما د پاره خلاصې کړې)۲ او هر کله چې د مسجد څخه وځي نودا دعا دې کوي اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ (اې الله زه ستا څخه ستا فضل غواړم) (مسلم)

تسهیلات:

قوله: فَلْيَقُلِ: اللّٰهُمَّ:

جمات ته د داخلیدو او وتلو دوه آداب: ① په جمات کښې د داخلیدو په وخت ښې خپه اول داخله کړئ او د جمات نه د وتلو په وخت ګسه خپه وړاندې راوباسئ. داځکه چه جمات سره د بیت الخلاء والا معامله اونه شي ځکه چه بیت الخلاء ته د داخلیدو په وخت د شریعت حکم دې چه اول ګسه خپه وړاندې کړه بیا ښې خپه او د وتلو په وخت اول ښې خپه راوباسئ او ګسه دې نه پس. که یوسړې د دې تعلیم اوتربیت نه خلاف ځي نو هغه په لاشعوری کښې جمات سره د بیت الخلاء والا معامله کوی اوبیت الخلاء سره د جمات والا معامله کوی.

② هر مسلمان له پکار دی چه د الله تعالی په کور کښې قدم ایږدلو سره د خپل ځان د پاره د الله تعالی د رحمت د وسعت دعا اوغواړی اوکله چه د جمات نه بهر قدم کیږدی نو د روحانیاتو نه پوره ډکیدونه پس دې د مادیات او حلال رزق دعا اوغواړی ځکه چه د جمات نه بهر زیات تر هم دنیا سره واسطه کیږی. بعض روایاتو کښې د جمات د داخلیدلو په وخت مذکوره دعا سره د دې الفاظو هم اضافه ده. "بسم الله والسلام علی رسول الله" [اخرجه البخاری: ۱/۴۲۱، ۲/۷۰] که یوسړې دا هم اولولی نو هیڅ مضائقه نشته بلکه ډیر ښه دی.

۷۰۴ـ د تحية المسجد حکم

٧٠٣ – ( )[١٥] ١ وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ٢ ((«إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ، فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ»)). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ ابو قتاده رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ هر کله چې په تاسو کې یو سړې په مسجد کې داخل شي نو هغه ته پکار دي چې د ناستې څخه مخکې دوه رکعاته مونځ وکړي (بخاري، مسلم)

(١) اخرجه البخاری کتاب الصلوة باب إذا دخل أحدکم المسجد فلیرکع رکعتین قبل أن یجلس(رقم-٤٤٤) ومسلم کتاب صلاة المسافر وقصرها باب استحباب تحیة المسجد برکعتین، وکراهة الجلوس قبل صلاتهما، وأنها مشروعة فی جمیع الأوقات(رقم) ٦٩ - (٧١٤) وابوداود کتاب الصلاة،باب ما جاء فی الصلاة عند دخول المسجد(رقم-٤٦٧) ومالک فی الموطا کتاب قصر الصلاة فی السفر . باب انتظار الصلاة والمشی إلیها(رقم-٥٧) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء إذا دخل أحدکم المسجد فلیرکع رکعتین(رقم-٣١٦) والنسائی کتاب المساجد/باب الأمر بالصلاة قبل الجلوس فیه (رقم-٧٣٠) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة/باب من دخل المسجد فلا یجلس حتی یرکع (رقم-١٠١٣)

تسهیلات:

قوله: "فَلْيَرْكَعْ"

د تحیة المسجد په حکم کښې مذاهب:

دا دوه رکعته دَ تحیة المسجد په نوم باندې مشهوردی. که چرې په دې کښې دَ تحیة الوضوء نیت هم اوکړې شی نو دَهغې ثواب به هم انشاء الله حاصل شی. اوس دَدغه دوو رکعتو دَ کولو حیثیث څه دې.

① دَ اهل ظواهر اوشوافع حضراتو په نیزجمات ته داخلیدوسره دوه رکعته مونځ اداکول واجب دی که هغه هروخت وی ثواب به ملاویږی.

② البته شوافع حضرات فرمائی چه دا ثواب به مخکښې دَ کیناستونه حاصلیږی که چرته مونځ گذار په جمات کښې کیناستو نودا ثواب به نه ملاویږی.

③ دَجمهور فقهاؤ په نیز تحیة المسجد دوه رکعته مونځ واجب نه دې بلکه دانفل دی کوم چه مستحب دی.

د اول او دویم فریق دلیل: زیر بحث حدیث د دوی مستدل دې. دوی په دې کښې دَ امر صیغې ته گوری چه دادَ وجوب دَپاره ده.

داول او دریم فریق د دلیل جواب: دَ امردا صیغه دَ وجوب دَپاره نه بلکه په استحباب باندې محمول ده.

په مکروه وخت کښې د تحیة المسجد متبادل عمل: ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات کښې دَدې حدیث لاندې لیکی که جمات ته دَ داخلیدو په وخت سړې بې اودسه وی یا وخت مکروه وی نوڅلور ځل دې "سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اکبرولا حول ولا قوة الا بالله العلی العظیم" اووائی په دې سره به ورته دَ دوو رکعتو ثواب حاصل شی.

۷۰۵ــد سفر نه په راتلوسره د نبی علیه السلام اول جمات ته د داخلیدوعادت

٧٠٥ــ()[١٦] ١ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ٢ (كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ إِلَّا نَهَارًا فِي الضُّحَى، ٣ فَإِذَا قَدِمَ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ، ٤ فَصَلَّى فِيهِ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ جَلَسَ فِيهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ کعب ابن مالك رضی الله عنه فرمایی ٢ چه د رسول الله ﷺ (عادت وو چې) کله به یې د سفرڅخه واپس تشریف راوړلو نو د چاښت په وخت به راتلو ٣ او د ټولو څخه مخکې به یې مسجد ته تشریف وړو ٤ هلته به یې دوه رکعاته وکړل (تر لږ وخت پورې) به ناست وو (بیا به

(١) اخرجه بخاری کتاب الجهاد باب الصلاة إذا قدم من سفر(رقم-٣٠٨٨) ومسلم صلاة المسافر وقصرها باب استحباب الركعتين فی المسجد لمن قدم من سفر أول قدومه (رقم) ٧٤ - (٧١٦) والنسائی كتاب المساجد/باب صلاة الذی يمر علی المسجد رقم (٧٣٢)

Maktaba Tul Ishaat.com

يي كور ته تشريف ورلو (بخاري، مسلم.)

حل اللغات: ① لَايَقْدَمُ: أَيْ: لَايَرْجِعُ: نه به واپس كيدلو (د سفر نه)، ② الضُّحَى: وَهُوَوَقْتُ تَشْرُقُ الشَّمْسُ: دڅاښت وخت يعنى كله چه نمر ښه راوخيژي.

تسهيلات:

قوله: "بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ"

د سفر نه په واپسۍ کښې مسنون عمل: يعنى دَ رسول الله ﷺ عام معمول داوو چه دَخپل سفرنه دَ واپسئ په وخت دَ شپې په ځائى دَ ورځې مدينې منورې ته تشريف راوړلو. اوچه كله به دَ ورځې تشريف راوړو نوحضورپاك به دكور په ځائى څه ساعت دَپاره په مسجد نبوى کښې تشريف كيخودلو.

د سفر نه په واپسۍ کښې اول جمات ته د تلو فائدې: ① په مدينه منوره کښې كومو صحابه كرامو دَ جدائيئ وخت تيركړې وو هغوى ته هم په جمات کښې دَ يوساعت زيارت موقع ملاؤ شى اودَ يو بل دَ احوالو علم به كيدلو.

② په كورونوكښې ښځې او ازواج مطهرات دَ خپل ځان اوخپلو كورونودَ صفائيئ انتظام كولو. په دې حديث کښې دَ امت دَپاره دَ ډير ښه معاشرتي تعليم دې.

③ كه دَ چاشت وخت به وو نودَ چاشت مونځ به ئى كولو يا به ئى دَ تحية المسجد ثواب حاصلولو.

٧٠٦—جمات کښې د ورک شوى څيز د اعلان كولو ممانعت

٧٠٦ —() [١٤] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② ((مَنْ سَمِعَ رَجُلًا يَنْشُدُ ضَالَّةً فِي الْمَسْجِدِ، فَلْيَقُلْ: ③ لَارَدَّهَا اللَّهُ عَلَيْكَ، ④ فَإِنَّ الْمَسَاجِدَ لَمْ تُبْنَ لِهَذَا)). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② كوم سړي چې دا واوري (يا ووينې) چې يو سړي په مسجد كې خپل ورك شوې شي تلاش كوي نو هغه ته پكار دي چې د هغه په جواب كې دا اووائي ③ الله تعالى دي وكړي چې ستا ورك شوې شي درته ملاؤ نشي ④ څكه چې مسجدونه د دې د پاره نه دي جوړ شوي (چې هلته دي د ورك شوې شي تلاش اواعلان وشي) (مسلم.)

حل اللغات: ① يَنْشُدُ: أَيْ: يَطْلُبُهَا بِرَفْعِ الصَّوْتِ: د ورک شوى څيز اعلان كول، يعنى په اوچت آواز سره ئې تلاش كوى (او داسې وائى چه زما نه فلانې څيز ورک شوې دې وغيره)، ② ضَالَّةً: ورک شوې څيز.

[1] اخرجه مسلم كتاب المساجد ومواضع باب النهى عن نشد الضالة فى المسجد وما يقوله من سمع الناشد (رقم) ٧٩ - (٥٦٨) وابوداود كتاب الصلاة، باب فى كراهية إنشاد الضالة فى المسجد (رقم -٤٧٣) وابن ماجة كتاب المساجد والجماعات باب النهى عن إنشاد الضوال فى المساجد(رقم-٧٦٧)

③ لَا رَدَّهَا: واپس دې ملاو نه شي دغه ورک څيز. ④ لَمْ تُبْنَ: تُبن د مجهول صيغه ده، نه دي جوړشوي دا جماتونه ددې دپاره چه خلق دې پکښې خپلو ورک شوو څيزونو وغيره دپاره اعلانونه کوي (بلکه دا جماتونه خو د وعظ او نصيحت اود ذکر اوتلاوت وغيره عباداتو دپاره جوړشوي دي).

تسهيلات:

قوله: لَا رَدَّهَا اللّٰهُ عَلَيْكَ:

د مذکوره جملې وئيلو مختلف صورتونه: ① دَدې حديث په ظاهري الفاظو باندې عمل کولودَپاره که يوسړې داسې بددعااوکړي نودا جائزدي مګر چه دَ زړه نه ئې دَ بددعانيت نه وي ② که چرته يوسړې دا سوچ کوي چه داسې بددعاکولوسره به دَهغه سړي ته او نورو خلقوته عبرت حاصل شي اوهغوي به آئنده په جماتونوکښې داسې اعلانونه نه کوي نوبيا دَزړه نه هم بددعاکولوګنجائش وي.

په جماتونو کښې د اعلاناتو حکم: نن صبا په جماتونوکښې آئمه حضراتو سره دَعوامو اکثر جګړې هم په دې اعلانونوکولوسره پيدا کيږي. دَ ورك شوو ماشومانو اعلانونه دَ جنازو دَ ختنو اعلانونه دَ مړو اعلانونه هم په جماتونوکښې کيږي. بلکه دَ پنجاب په اطرافو کښې اوريدلي شوي دي چه دَ چرګو او چيلو دَ ورکيدو اعلانونه هم کيږي. دا ډيره خرابه خبره ده اودَ جماتونو منتظمينوله پکاردي چه دَاعلانونودَپاره دې دَ جماتونه بهر دَ لاؤډسپيکر انتظام اوکړي. دلته داخبره هم ياد لرئي چه صرف دَ ورك شوو څيزونودَعلانونو خبره نه ده بلکه هرهغه عمل چه دَجمات دَ تعمير دَ مقاصدو منافي وي دَهغې شور په جمات کښې کول جائزنه دي. دَ سلف صالحينو په نيزخو په جمات کښې يوسوال کونکي ته صدقه ورکول هم منع وو. دَحديث شريف آخري جمله "فَاِنَّ الْمَسَاجِدَ لَمْ تُبْنَ لِهٰذَا" هم دَدې عموم طرف ته اشاره کوي. (ماخوذ ازتوضيحات)

[۷۰۷] د بدبوئي داره څيز خوړلو نه پس جمات ته د داخليدو ممانعت

۷۰۷-(۱)[۱۸] وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] ((مَنْ أَكَلَ مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ الْمُنْتِنَةِ، فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا [۳] فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذّٰى مِمَّا يَتَأَذّٰى مِنْهُ الْإِنْسُ)). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت جابر رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې د دې بدبودار بوټي (يعني پياز اوږه وغيره) څخه څه وخوري نو زمونږ مسجد ته دې نږدې هم نه راځي [۳] ځکه چې په کوم (بدبويي) سره انسان ته تکليف رسيږي په هغې سره فرښتو ته هم تکليف رسيږي. (بخاري، مسلم.)

(۱) اخرجه بخاري كتاب الاذان باب ما جاء فى الثوم النى والبصل والكراث (رقم-۸۵۴) ومسلم كتاب المساجد ومواضع باب نهى من أكل ثوما أو بصلا أو كراثا أو نحوها (رقم-۷۲ - (۵۶۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

حل اللغات: ① الْمُنْتِنَةِ: بد بوئی داره وونه، ددې نه مراد هریو بدبویه سبزی وغیره مثلاً پیاز، اوګه، ګندانه وغیره. ② تَتَأَذَّي: په تکلیف کیږي یعنی تکلیف محسوسوي.

تسهیلات: قوله: مَنْ أَكَلَ مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ الْمُنْتِنَةِ:

د بدبوئي داره څيز سره جمات ته د داخليدو ممانعت: مطلب دادې چه څنګه بدبوئی داره څيزسره انسان ته تکلیف کیږی دغه شان فرښتې هم په تکلیف کښې کیږی. په دې وجه مسلمان له پکاردی چه اوګه پیاز خوړلوسره دې جماتونوته نه راضی څکه چه جماتونوته مسلمانانو سره فرښتې هم راځی هغوی ته به تکلیف اورسیږی. په دې حکم کښې هرهغه څيزداخل دې کوم چه بدبوئی داروی که هغه دَ خوراك څښاك څيزونه وی مثلاً ګندنه مولئی نسوار سیګریټ دَ تمباکووالاپان یا نور بدبوئی داره څیزونه ټول په دې حکم کښې شامل دی. بل که دَ چا دَ ترخ نه یا دَخلې یادَ بدن دَ څه زخم نه بدبوئی راځیږی دَهغې هم دغه حکم دې چه داسې خلق دې جمات ته نه راځی. که چرې هغوی نه منع کیږی نوپه حکومت باندې لازم دی چه هغوی دې منع کړی دې دَپاره چه مونځ ګذارو اوفرښتو ته تکلیف نه رسی. دَ بدبوئی داره څیز دَ استعمال نه پس کاږه یا ګړه استعمالول پکاردی چه هغه بدبوئی ختمه شی داعلاج دې.

د اجتماعی مجالسو حکم: دَ جماتونوقید څه احترازی نه دې بلکه علماء لیکی چه داسې خلقوله دَ وعظ مجلسونو او دَ ذکر اذکارمحفلونو اودَ قرآن اوحدیث درسونوته هم تلل نه دی پکار. شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې لیکی دی په عامو مجلسونو مثلاً دعوت ولیمه وغیره ته هم نه دی تلل پکار. [اشعة المعات: ۳۵۲]

قوله: "مَسْجِدَنَا"

د مساجد جمع راوړلو فائده: په دې لفظ سره حضورپاك دَعموم طرف ته اشاره اوفرمائیله چه دا حکم صرف مسجدنبوی سره خاص نه دې بلکه دَمسلمانانودَ ټولو جماتونوهم دغه حکم دې. په دې وجه "مسجدنا" نه علاوه "مساجدنا" الفاظ هم راغلی دی. اوچرته چه دَ مسجدی الفاظ راغلی دی نوهغه دَ نور تشدید او تغلیظ دَ وجې نه دی چه دَ نورو جماتونو په نسبت په مسجد نبوی کښې دَدغه بدبوئی نه سخت احتراز کول پکاردی.

۷۰۸–په جمات کښې د لیاړو توکلو کفاره

۷۰۸ – ()[۱۹] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «الْبُزَاقُ فِي

[۱] اخرجه البخاری کتاب الصلوة باب کفارة البزاق فی المسجد(رقم-۴۱۵) ومسلم باب المساجد ومواضع - باب النهی عن البصاق فی المسجد فی الصلاة وغیرها (رقم-۵۵ - (۵۵۲) ابو داود کتاب الصلاة،باب فی کراهیة البزاق فی المسجد (رقم-۴۷۵) والترمذی کتاب السفر / باب فی کراهیة البزاق فی المسجد (رقم-۵۷۲)

الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ [۳] وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت انس رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په مسجد کې تهوکل ګناه ده [۳] او د هغې کفاره دا ده چې هغه لاري دي په زمکه کې پټې کړي شي. (بخاري، مسلم.)

حل اللغات: ① الْبُزَاقُ: يعنى په جمات کښې توکانړې توکل يو قسم ګناه ده دَدې ګناه کفاره داده چه هغه ختم کړې شي. ② خَطِيئَةٌ: أَيْ: إِثْمٌ: ګناه، ③ دَفْنُهَا: دَ دفن کولو نه مراد ختمول دى يعنى چه په پاکه کپړه وغيره سره دغه توکانړې پاک کړې شي.

تسهيلات: قوله: الْبُزَاقُ فِي الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ، وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا:

د دفن البزاق نه مراد: دا مطلب نه دې چه په جمات کښې توکانړې توکئى او ورخښونى. اوکه چرې دَجمات حصه داسې وى چه په هغې کښې دَ خاورې او شګې ډيرى دى نو په هغې کښې ورخښول ډير مناسب دى مګر قصداً توکانړې توکل مراد نه دى دا تول دَ اضطرار په صورت کښې دى.

د بزاق هم معنى الفاظ: دلته يو څو الفاظوکښې فرق کول ضرورى دى. بزاق او بصاق اوبساق او تفل دَ خلې توکانړو ته وائى خوچه ترکومې پورې په خله کښې وى هغې ته "ريق" وائى.

۷۰۹ — د جمات آداب

۷۰۹ — ( ) [۲۰] [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «عُرِضَتْ عَلَيَّ أَعْمَالُ أُمَّتِي حَسَنُهَا وَسَيِّئُهَا، [۳] فَوَجَدْتُ فِي مَحَاسِنِ أَعْمَالِهَا الْأَذَى يُمَاطُ عَنِ الطَّرِيقِ، [۴] وَوَجَدْتُ فِي مَسَاوِئِ أَعْمَالِهَا النُّخَاعَةَ [۵] تَكُونُ فِي الْمَسْجِدِ لَا تُدْفَنُ»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: [۱] ابو ذر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] زما په مخکې زما د امت ښه او بد اعمال پيش کړي شو [۳] ما د هغوئ په نيک اعمالو کښې خو د لارې څخه تکليف ورکونکي شي لرې کول وموندل [۴] او په بدو اعمالو کې په مسجد کې دننه تهوکل مې وموندل چې هغه پټ کړي شوي نه وي. (مسلم.)

حل اللغات: ① الْأَذَى: تکليف ورکونکې څيز، ② يُمَاطُ: أَيْ: يُزَالُ: چه لرې کړې شى. ③ النُّخَاعَةَ: أَيْ: الْبُزَاقَةُ الَّتِي تَخْرُجُ مِنْ أَصْلِ الْفَمِ: دا دَ بلغم نوم دې چه دَ سينې نه پورته خلې ته راشى هغې ته نخامه هم وائى. النخاع دادَ هغه بلغم نوم دې چه دَدماغونه ښکته خلې ته راشى. بهرحال دا باريک فرق دې مګر دا الفاظ دَ يو بل په ځائى باندې وئيلى شى.

[۱] اخرجه مسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة باب النهى عن البصاق فى المسجد فى الصلاة وغيرها (رقم-۵۷ - (۵۵۳) وابن ماجة باب إماطة الأذى عن الطريق (رقم-۳۶۸۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: عُرِضَتْ عَلَيَّ

د اعمالو د پیش کیدو موقع: د اعمالو پیش کیدل د معراج په شپه اوشو.

۷۱۰–په مانځه کښې د ضرورت په وخت د لیاړو توکلو طریقه

۷۱۰–(۱)[۲۱] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَلَا يَبْصُقْ أَمَامَهُ ③ فَإِنَّمَا يُنَاجِي اللَّهَ مَا دَامَ فِي مُصَلَّاهُ، ④ وَلَا عَنْ يَمِينِهِ، فَإِنَّ عَنْ يَمِينِهِ مَلَكًا ⑤ وَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ فَيَدْفِنُهَا».

ترجمه: ① ابوهریره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② هر کله چې په تاسو کې یو سړي د لمانځه کولو د پاره ودریږي نو هغه ته پکار دي چې خپل مخې ته نه تهوکي ③ ځکه چې تر څو پورې هغه د لمانځه په حالت کې وي نو هغه خپل پروردګار سره مناجات (سرګوشي) کوي ④ او هغه ته د خپل ښي طرف ته هم تهوکل نه دي پکار ځکه چې ښي طرف ته یوه فرشته وي ⑤ هو ګس طرف ته یا د قدمونو لاندې دي تهو کړي او بیا دي هغه په زمکه کې پټ کړي

حل اللغات: ① فَلَا يَبْصُقْ أَمَامَهُ: نه دي توکی، أَيْ: لَا يُسْقِطِ الْبُزَاقَ أَمَامَهُ نَحْوَ الْقِبْلَةِ: یعنی خپلې مخې ته قبلې طرف ته دې نه توکی. ② يُنَاجِي: غوږ کښې خبرو ته وائی، یعنی سرګوشی کوی.

تسهیلات:

قوله: "فَإِنَّمَا يُنَاجِي اللَّهَ"

مونځ او الله تعالی سره مناجات: په دې حدیث کښې دَ مونځ ګذار تشبیه داسې سړی سره ورکړې شوې ده چه دَ خپل واجب الاحترام مالك په مخکښې ولاړ وی او هغه سره غوږ کښې خبرې کوی. په دې حالت او کیفیت کښې هغه سړې دَخپل مالك دَعزت او احترام دَ ټولو آدابو خیال ساتی او دَ هغه طرف ته توکانړې توکل بالکل نه برداشت کوی. دغه شان دَ مونځ ګذار دَپاره هم واجب دی چه کله هغه دَخپل حقیقی مالك په مخکښې مونځ کښې ولاړ وی نو دَ ټولو آدابو خیال دې اوساتی او دَ حضورئی دَ شرائطو پابندی دې کوی. هغه دې دا کوشش کوی چه دَخپل حقیقی مالك په مخکښې دې توکانړې نه توکی خو که په توکلو باندې مجبوره شي نو بیا هغه له پکار دی چه مخامخ دې نه توکی دَ الله تعالی ذات مبارك سره دَدې چه دَ جهتونو او سمتونو دَ قیوداتو نه پاك دې مګر اسلام آداب دَ حضورپاك په طریقو سره مسلمانانو ته اوخودل چه دَ رب ذوالجلال په دربار کښې دَ

(۱) بخاری کتاب الصلوة باب دفن النخامة فی المسجد(رقم-۴۱۶) ومسلم باب النهی عن البصاق فی المسجد فی الصلاة وغیرها (رقم-۵۳ - (۵۵۰) و ابن ماجة باب المصلی یتنخم (رقم-۱۰۲۲)

حاضرئی په وخت صورةً هم څه داسې طريقه اختيار نه کړئی کومه چه دَ الله تعالى دَ اوچت شان منافی وی. [الکاشف: ۲۷۸/۲]

قوله: "عَنْ يَمِينِهِ مَلَكًا"

په ملك کښې دوه احتمالات: ① دَ فرښتې نه کراماً کاتبين مراد دی دَ هغوی احترام هم لازم دې دا غوره دی دَ هغه فرښتې نه کومه چه کَس طرف ته وی اودَ انسان بدی ليکی. دَ ښی طرف فرښته امير دې دَ کَس طرف والا مامور ده په دې وجه ښی طرف ته دَ توکلو نه ئی منع اوفرمائيله.

② دَدې فرښتونه دکراماً کاتبين نه علاوه څه بله فرښته مراد ده چه خاص توګه باندې دَ مونځ په وخت راځی اوښی طرف ته اودرېږی اودَ مونځ ګذار لارخونه اودَ هغه دَپاره دعاکوی. لکه چه دا يوميلمه دې بيا فرښته ده دَهغې احترام په مونځ ګذار باندې واجب دې لهذا دَ دې طرف ته توکل منع دی.

٧١١–(١)[٣٠] ١ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي سَعِيدٍ: (تَحْتَ قَدَمِهِ الْيُسْرَى). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او د ابو سعيد رضي الله عنه په روايت کې دا الفاظ دي چې بلکه د خپل قدم لاندې دې تهوك کړي، (بخاري، مسلم.)

٧١٢–د پيغمبرانو عليهم السلام قبرونو ته د سجدې حرمت

٧١٢–(٢)[٣١] ١ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي لَمْ يَقُمْ مِنْهُ: ٢ ((لَعَنَ اللَّهُ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى; ٣ اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ)). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې سرور کائنات ﷺ په هغه بيماري کې چې د هغه څخه ندي جوړ شوي (يعني په مرض موت کي) وفرمايل ٢ په عيسايانو او يهوديانو دي د الله جل جلاله لعنت وي ٣ هغوئ د خپلو انبياؤ قبرونه سجده ګاه جوړ کړي وو. (بخاري، مسلم.)

حل اللغات: ① لَمْ يَقُمْ: پانه څيدلو (يعنی جوړنه شواوهم په هغې مرض کښې وفات شو).

(١) اخرجه البخاری کتاب الصلوة باب: لیبزق عن يساره، أو تحت قدمه اليسرى (رقم-٤١٤) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة باب النهی عن البصاق فی المسجد فی الصلاة وغيرها (رقم-٥٢ - (٥٤٨) وابوداود کتاب الصلاة، باب فی کراهية البزاق فی المسجد (رقم-٤٨٠) وابن ماجة کتاب المساجد والجماعات، باب کراهية النخامة فی المسجد (رقم-٧٦١) والنسائی کتاب المساجد/باب ذکر نهی النبی صلى الله عليه وسلم عن أن يبصق الرجل بين يديه أو عن يمينه وهو فی صلاته رقم (٧٢٥)

(٢) اخرجه البخاری کتاب الجنائز باب ما يکره من اتخاذ المساجد على القبور (رقم-١٣٣٠) ومسلم کتاب المساجد و مواضع الصلاة باب النهی عن بناء المساجد على القبور واتخاذ الصور فيها والنهی عن اتخاذ القبور مساجد (رقم-١٩ - (٥٢٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات: قوله: "لَعَنَ اللّٰهُ الْيَهُودَ"

دحديث پس منظر: كله چه حضورپاك ته دَ الله تعالى دَ طرف نه دامعلومه شوه چه حضورپاك دَدنيا نه زر تشريف اوړونكي دي نوحضورپاك ته ويره پيدا شوه چه چرته دَامت بعضې خلق دَ حضورپاك دَفوات نه پس قبرمبارك سره هغه معامله اونه كړي كومه معامله چه يهوديانواونصاراؤ دَخپلو پيغمبرانودَ قبرونوسره كړې. په دې وجه حضورپاك خپل امت ته خبردارې وركړو چه يهوديان او نصارىٰ چه په كوموكارونو باندې ملعون ګرځولې شوى دى تاسو دَهغې نه بچ اوسيږئ. [اشعة المعات: ۳۵۳]

د قبر نه قبله جوړولو دوه صورتونه:

علامه توريشتي رحمه الله ليكلى دى چه قبرونه دَ سجدو ځايونه په دوو طريقوسره وى. يو طريقه داده چه ① دَ عبادت په نيت سره قبرونو ته سجده اوكړې شى دا طريقه خو خالص شرك اوكفردې (لكه چه دا نن صبا په بعضې ځايونو كښې عامه ده)

② عبادت خودَ الله تعالى دَپاره وى ليكن دَ سجدې ځائى دَ يونبى قبرجوړ كړى نوداسې عبادت به قبول وى ځكه چه په دې كښې دَ الله تعالى عبادت هم دې اودَ انبياء كرامو او دَ هغوى دَ قبرونو تعظيم هم دې. دا دواړه طريقې غيرمشروع دى اودَ الله تعالى او دَ هغه دَ رسول صلى الله عليه وسلم په نيزناخوښه دى.

دا طريقه هم حرامه ده. ځكه چه سره دَدې چه شرك جلى نه دې ليكن خفى اومعنوى شرك دې.

حضورپاك فرمائى ((اللهم لاتجعل قبري وثنا يعبد اشتد غضب الله على قوم اتخذوا قبور انبياءهم مساجد)).

د قبرپه خوا كښې د تبرك په غرض د عبادت كولو حرمت: علامه توريشتي رحمه الله نوره تشريح كولوسره ليكى دَدې نه معلومه شوه چه دَ يونبى يا ولى دَ قبرطرف ته په توګه دَ تبرك اوتعظيم مونځ كول حرام دى. [اشعة المعات: ۳۵۳]

علامه نووى رحمه الله هم ليكلى دى دَ يوقبرطرف ته يا دَ هغې په خواكې په توګه دَتبرك اوتعظيم مونځ اونه كړې شى ځكه چه دَدې په ممانعت كښې صحيح احاديث موجود دى. او په دې حرمت كښې دَ څه شك شبې ګنجائش نشته دې اوماته نه ده معلومه چه په توګه دَ تعظيم اوتبرك دَ يو ولى يا نبى دَ قبر طرف ته دَمونځ كولوكښې دَچا اختلاف وى.

قبرونو سره خوا كښې جمات كښې د عبادت كولو جواز: علامه توريشتي رحمه الله ليكى كه قبرونوسره خواكې چرته جمات وى يا چرته داسې ځائى وى چه دَمونځ كولو په وخت قبرونه ښكارى نه نو په داسې ځائى كښې دَ مونځ كولو ګنجائش شته. بل په داسې ځائى كښې هم دَ مونځ كولو ګنجائش دې چرته چه دَمخكښې نه دَ انبياء كرامو قبرونه وى مګر روستو بيا دَهغې څه نخښنه وغيره باقى پاتې نه وى لكه چه مشهوره ده په حطيم كښې دَ حضرت اسماعيل عليه السلام قبردې حالانكه خلق هلته مونځ كوى. [اشعة المعات: ۳۵۴]

۷۱۳ـ د اولنو امتونو د ګمراهۍ سبب

۷۱۳ـ ( ) [۲۳] ① وَعَنْ جُنْدَبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ② (« أَلَا وَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوا يَتَّخِذُونَ قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ وَصَالِحِيهِمْ مَسَاجِدَ، ③ أَلَا فَلَا تَتَّخِذُوا الْقُبُورَ مَسَاجِدَ، ④ إِنِّي أَنْهَاكُمْ عَنْ ذٰلِكَ »)، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت جندب رضي الله عنه راوي دي چې سرور کائنات ﷺ وفرمايل ② اګاه شئ ستاسو څخه مخکې (يعني د نورو امتونو) خلقو د خپلو انبياء او اولياؤ قبرونه سجده ګاه جوړ کړي وو ③ نو خبردار تاسو خلق قبرونه سجده ګاه جوړنه کړئ ④ زه تاسو دې څخه منع کوم. (مسلم)

حل اللغات: ① أَلَا: لِلتَّنْبِيهِ: اَلَا د تنبيه دپاره ده يعني خبردار، پوهه شئ.

تسهيلات: نوټ: د دې حديث شرح په حديث نمبر ۷۱۲ کښې اوګورئ.

۷۱۴ـ د سنتو او نوافلو په کورونو کښې د ادا کولو فضيلت

۷۱۴ـ ( ) [۲۴] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② (« اجْعَلُوا فِي بُيُوتِكُمْ مِنْ صَلَاتِكُمْ، ③ وَلَا تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا »)، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما راوي دي چې سرور کائنات ﷺ وفرمايل ② تاسو څه لمونځونه (تهجد او نوافل) په خپلو کورونو کې هم کوئ ③ او کورو نو څخه قبرونه مه جوړوئ. (بخاري، مسلم)

تسهيلات:

قوله: "مِنْ صَلَاتِكُمْ"

په کورونو کښې د نوافلو ادا کولو فضليت: يعنى خپل نوافل او سنت کوم کښې چه جمع نه وی هغه په کورونو کښې کوئی او په دې سره به ستاسو په کورونو کښې برکت راځی او دَ عبادت په وجه به په کورونو کښې دَ هدايت رڼا راځی.

قوله: "وَلَا تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا"

د کورونو نه قبرونو نه جوړولو دوه مطلبونه: ① يعنى کورونه دَ عبادت نه داسې خالی مه

(۱) اخرجه مسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة باب النهى عن بناء المساجد. على القبور واتخاذ الصور فيها والنهى عن اتخاذ القبور مساجد (رقم-۲۳ - (۵۳۲)

(۲) اخرجه البخارى كتاب الصلوة باب كراهية الصلاة فى المقابر(رقم-۴۳۲) ومسلم كتاب صلاة المسافر و قصرها باب استحباب صلاة النافلة فى بيته. وجوازها فى المسجد (رقم) ۲۰۸ - (۷۷۷) وابوداود كتاب الصلاة.باب صلاة الرجل التطوع فى بيته (رقم-۱۰۴۳) والنسائى كتاب قيام الليل وتطوع النهار ,باب الحث على الصلاة فى البيوت والفضل فى ذلك (رقم-۱۵۹۸) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى فضل صلاة التطوع فى البيت (رقم-۴۵۱) والنسائى كتاب قيام الليل وتطوع النهار/باب الحث على الصلاة فى البيوت والفضل فى ذلك رقم (۱۵۹۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

پریږدئی لکه چه قبرونه دعبادت نه خالي وي. بلکه د سنتو او نوافلو یوه حصه په کور کښې هم کوئی. هم دغه وجه ده چه فقهاؤ سنت او نوافل په کور کښې کول غوره ګرځولی دي. دا معنی زیاته واضحه ده.

② دا مطلب هم کیدې شي چه خپل مړی په کورونو کښې مه خښوئی کورونه ادیرې مه جوړوئی دا مطلب بعید دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۷۱۵- د اهل مدیني قبله

۷۱۵-(۱)[۲۵] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ قِبْلَةٌ»، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① حضرت ابوهریره ﷺ راوي دي چې سرور کائنات ﷺ وفرمایل ② د مشرق او مغرب په مینځ کې قبله ده. (ترمذي)

تسهیلات:

قوله: مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ قِبْلَةٌ:

په مدینه منوره کښې د قبلې طرف: ددې حدیث تعلق مدینې منورې سره دې د نورو ملکونو حکم داسې نه دې او په شریعت کښې ډیرې مسئلې دی د کوم چه خصوصي تعلق د یو مکان یا زمان سره وي. نوچه مدینه منوره کوم ځائی واقع ده ددې په شمال طرف کښې شام واقع دې او د جنوب طرف ته مکه واقع ده د مشرق طرف ته خراسان دې او د مغرب طرف ته مغربی علاقې دی. نو ددې حدیث مطلب دا شو چه کوم خلق په مدینه کښې اوسیږی یا د مدینې په اطرافو کښې اوسیږی د هغوی د مونځ د پاره قبله د مشرق او مغرب په مینځ کښې ده یعنی نه مشرق د هغوی قبله ده او نه مغرب د هغوی قبله ده بلکه د دې دواړو په مینځ کښې جنوب د هغوی قبله ده. مشرق او مغرب په اوړی او ژمی کښې بدلیږی لیکن د مینځ په لفظ کښې ډیر وسعت دې. لهذا په هر موسم کښې قبله هم په مینځ کښې وي. [اشعة المعات: ۳۵۴]

۷۱۶- د کرجې په ځائي ځاي د جمات جوړولو حکم

۷۱۶-(۲)[۲۶] ① «وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② خَرَجْنَا وَفْدًا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، فَبَايَعْنَاهُ، وَصَلَّيْنَا مَعَهُ، ③ وَأَخْبَرْنَاهُ أَنَّ بِأَرْضِنَا بِيعَةً لَنَا، ④ فَاسْتَوْهَبْنَاهُ مِنْ فَضْلِ طَهُورِهِ، ⑤ فَدَعَا بِمَاءٍ،

---

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء أن ما بین المشرق والمغرب قبلة (رقم-۳۴۴) وابن ما جة کتاب إقامة الصلاة، باب من دخل المسجد فلا یجلس حتی یرکع (رقم-۱۰۱۳)

(۲) اخرجه النسائی کتاب المساجد/باب اتخاذ البیع مساجد رقم (۷۰۱)

فَتَوَضَّأَ وَتَمَضْمَضَ، ⑥ ثُمَّ صَبَّهُ لَنَا فِي إِدَاوَةٍ.

ترجمه: ① او حضرت طلق ابن علي رضي الله عنه فرمايي ② چه مونږ د يو جماعت په شکل کې د سرور کائنات ﷺ په خدمت کې حاضر شو او مونږ ټولو د حضور ﷺ څخه په اسلام بيعت وکړي او د حضور ﷺ سره مو مونځ وکړو ③ او بيا مونږ دا عرض وکړو چې زمونږ په وطن کې زمونږ يوه ګرجا ده (د هغې سره څه وکړو) ؟ ④ د دې څخه وروسته زمونږ د حضور ﷺ د اودس څخه پاتې شوي اوبه وغوښتلې ⑤ نو حضور ﷺ اوبه راوغوښتلې او اودس يې وکړو او (دې څخه وروسته بقيه اوبو سره) خله يې وينځله ⑥ او هغه د خلې اوبه يې زمونږ په مشکيزه کې واچولې.

حل اللغات: ① وفد: ضرب يضرب نه وفدًا ووفودًا ووفادةً دَ هغه معززجرګې نوم دې چه دَ يوقوم دَ طرف نه دَ يو امير لـه خپلـه معامله اوړلو سره څی دَدې مفرد وافد دې. ② فَبَايَعْنَاهُ: مونږ ورسره بيعت اوکړو په توحيد، رسالت او اطاعت باندې. ③ بِيعَةً: وَهِيَ مَعْبَدُ النَّصَارَى: د نصاراؤ عبادت خانه يعنی ګرجه، ④ کنيسة دَ يهوديانو دَ عبادت ګاه نوم دې ⑤ فَاسْتَوْهَبْنَاهُ: د باب استفعال نه د متکلم صيغه ده، مونږ ترې دهبه په طور اوغوښتلې. ⑥ إِدَاوَةٍ: دَ څرمن هغه لوښی ته وائی په کوم کښې چه اوبه ډکيږی او په سفر کښې ځان سره اوړلې شي. دې ته په اردو کښې چهاګل وائی يعنی ورو کې مشکيزه، ⑦ تَمَضْمَضَ: خوله ئې اووينځله، ⑧ صَبَّهُ: وائې چولې.

① وَأَمَرَنَا، فَقَالَ: (اخْرُجُوا فَإِذَا أَتَيْتُمْ أَرْضَكُمْ ② فَاكْسِرُوا بِيعَتَكُمْ، وَانْضَحُوا مَكَانَهَا بِهَذَا الْمَاءِ، ③ وَاتَّخِذُوهَا مَسْجِدًا) ④ قُلْنَا: إِنَّ الْبَلَدَ بَعِيدٌ، وَالْحَرَّ شَدِيدٌ، وَالْمَاءَ يُنْشَفُ ⑤ فَقَالَ: (مُدُّوهُ مِنَ الْمَاءِ، فَإِنَّهُ لَا يَزِيدُهُ إِلَّا طِيبًا») رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او وي فرمايل لاړ شئ او هر کله چې تاسو خپل ملك ته ورسيږئ ② نو هغه ګرجا ماته (ورانه) د هغې په ځاي دا اوبه وپاشئ (چړکاؤ کړئ) (چې د دين او اسلام انوار او برکات هلته خواره شي) ③ او بيا هلته مسجد جوړ کړئ ④ مونږ عرض وکړو چې زمونږ ښار ډير لرې دې او ګرمي سخته ده نو دا اوبه به (هلته رسيدو سره) وچې شي ⑤ حضور ﷺ وفرمايل په دې کې نورې اوبه واچوئ په دې سره به د دې په پاکيزګئ او برکت کې اضافه وشي. (نسايي)

حل اللغات: ⑦ فَاكْسِرُوا: أَيْ: غَيِّرُوا: ماته ئې کړئ، خرابه ئې کړئ او دهغې محراب قبلې طرف ته راوګرځوئ. ⑧ انْضَحُوا: أَيْ: رُشُّوا: اوشيندئ، چړکاؤ کړئ، ⑨ يُنْشَفُ: داد مجهول صيغه ده دَ اوچيدلو په معنی کښې دې. ⑩ مُدُّوهُ: أَيْ: زِيدُوا: يعنی نورې اوبه پکښې واچوئ نو پاکوالئ او برکت به ئې نورهم زيات شي.

تسهيلات:

قوله: خَرَجْنَا وَفْدًا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حديث پس منظر: په ۹ هجرئ سنة الوفود په نوم سره يادولې شي په مسجد نبوى كښې به دَ دې وافدينو قيام كيدلو. په دې كښې دَ يوې ستن نوم اسطوانة الوفود دې دَ وفد عبدالقيس قصه مشهوره ده. هلته تشريح هم شوې ده.

د تبرک ثبوت: شارحينو حضراتو ليكلى دى چه دَ وفد داخلق اول عيسايان وو بيا چه كله مسلمانان شو نو هغوى خپلې گرجې راغورزول غوښتل دې دَپاره چه دَ دې په خائې دَ مسلمانانو په شان جمات جوړكړى ليكن هغوى غوښتل چه په گرجا كښې دَ غيرالله دَ عبادت اثرات پراته دى دَدې دَ زائل كولودَپاره دا خائې وينځل پكاردى اوبيا په دې خائې باندې دَ رسول الله ﷺ مبارك دَ تبرك اوبه په دې كښې اچول. دَدې مقصددَ پاره هغوى دَ حضورپاك دَ چاراندام نه بچ شوې اوبه اوغوښتلې نوحضورپاك وركړې.

قوله: لَا يَزِيدُهُ إِلَّا طِيبًا:

د مذكوره جملې دوه مطلبونه: ① يعنى داخيال مه كوه چه په دې زياتى اوبوملاوولوسره به دَ اصل بركت والااوبو بركت كم شى بلكه چه كومې نوې اوبه راوړلې شى هغه به دَ اصل اوبوبركت زياتوى. ② چه كومې نوې اوبه دې متبرك اوبو سره ملاوولې شى اصل متبرك اوبه به دَ دې بركت زياتوى. دَدې جملې نه دواړه مطلبونه اخستلې شى.

۷۱۷—په كورونوكښې د جمات جوړولو حكم

۷۱۷—(۱)[۲۷] ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② «أَمَرَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِبِنَاءِ الْمَسْجِدِ فِي الدُّورِ، ③ وَأَنْ يُنَظَّفَ وَيُطَيَّبَ» ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي ② چې سرور كائنات ﷺ په محلو كښې د جماتونو جوړولو حكم كړي دې ③ او دا چې (دا مسجدونه) دې پاک او صاف وساتل شي او په هغې دې كښې خوشبو كيښودل شي. (ابوداؤد، ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات: ① بِبِنَاءِ: د جوړولو، ② الدُّور: د دَار جمع ده، او دار كورته وائي اومحلې ته هم وائي. دلته محله مراد ده. ③ يُنَظَّفَ: چه پاک صفا اوساتلې شي (د بدبوئ او گندگئ وغيره نه).

تسهيلات:

قوله: بِبِنَاءِ الْمَسْجِدِ فِي الدُّورِ

د مسجد په مفهوم كښې دوه احتمالات: ① ملاعلى قارى رحمه الله فرمائى دَدې حديث نه هغه

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب اتخاذ المساجد فى الدور(رقم-٤٥٥) والترمذى كتاب السفر/باب ما ذكر فى تطييب المساجد(رقم-٥٩٤) وابن ماجة كتاب المساجد والجماعات ،باب تطهير المساجد وتطييبها (رقم-٧٥٨)

جماتونه مراد کیدې شي چه په کورونو کښې د مانځه په غرض سره یوځائی مختص کولې شي
② د دې نه محله هم مراد اخستې شي چه په هره محله کښې جدا جدا جمات کیدل پکاردي چه خلقو ته آساني وي او د جمعې ثواب حاصلول آسان شي. مګر دا هغه وخت بهتر ده کله چه نورو جماتونو ته نقصان نه رسیږي. که چرې نقصان رسیږي نو بیا جائز نه دي. ابن ملك رحمه الله هم د دې حدیث نه په کورونو کښې د جماتونو جوړولو مطلب اخستې دې سره د دې چه ملاعلي قاري رحمه الله دا مطلب مرجوح ګرځولې دې

د جماتونو جوړول او قومي فریضه: د جماتونو قیام د مسلمانانو دیني، مذهبي، قومي او ملي بیدارئي علامت دې. د جماتونو قیام د رحمت او برکت سبب دې. په کومه محله کښې چه د اهل حق جمات وي د هغه محلې خلق اهل حق سره تړلي کیږي او چرته چه د اهل باطل جمات وي خلق په باطل باندې راځي. په دې وجه مسلمانانو له د جماتونو جوړولو ډیر خیال ساتل پکاردي. دین اسلام د جهاد په ذریعه په ټوله دنیا کښې خورشوې دې او د علماؤ او جماتونو په ذریعه محفوظ او برقرار راروان دې. په کوم ملك کښې چه د جماتو او علماؤ وجود ختمیږي د خلقو نه دین ختمیږي او هغوی مرتد کیدو سره خوانیږي او بیا هم مرتد کیدو سره مړه کیږي.

د جماتونو جوړولو په باره کښې د حضرت عمر فرمان: حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په خپل دور د خلافت کښې حکم جاري کړې وو چه کومه علاقه فتحه شي د ټولو نه مخکښې هلته جمات جوړوئي لیکن په یو جمات سره بل ته نقصان نه دی رسیدل پکار. یعنی چه مسجد ضرار جوړ نه شي. د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په دور کښې د هغوی په حکم سره څلور زره عام جماتونه او نهه سوه غټ او جامع مسجدونه قائم شو.

په کور کښې د جمات جوړولو فائدې: لیکن حقیقت دا دې چه په کورونو کښې دننه د جماتونو قیام ډیر فائده مند دی.

① د کور خلق هر وخت په هغې کښې مونځ او نور عبادتونه په ځائی راوړلې شي.
② یخنئي او بارانونو او ویرې او خطرې په وخت د کور خلق په هغې کښې جمع کولې شي.
③ ماشومانو ته تعلیم ملاویږي چه مونځ څه څیز دې.
④ د کور خلقو ته شوق پیدا کیږي چه مونږ مسلمانان یو مونږ کره جمات دې په مونږ باندې د دې صفائی لازم ده.
⑤ د کور والو د دې څیزونو احساس سره سره د الله تعالی د طرف نه د جمات په وجه رحمت او برکت جدا حاصلیږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۷۱۸ـ د جماتونو د زیب او زینت حکم

۷۱۸ ـ ()[۲۸] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] ((مَا أُمِرْتُ بِتَشْيِيدِ الْمَسَاجِدِ)) [۳] قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: لَتُزَخْرِفُنَّهَا كَمَا زَخْرَفَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس ﷠ راوي دي چې سرور کائنات ﷺ وفرمایل [۲] ماته د مسجدونو د بلند کولو او ښائسته کولو حکم نه دي شوی [۳] حضرت ابن عباس ﷠ وفرمایل ځنګه چې یهود او نصارئ د خپلو عبادت خانو زینت کوي دغسې به تاسو هم (د خپلو مسجدونو) زینت کوي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① بِتَشْيِيدِ: أَيْ: بِرَفْعِهَا وَإِعْلَاءِ بِنَائِهَا أَوْ تَجْصِيصِهَا: دجماتونو اوچت اوچت او پاخه جوړول. ② لَتُزَخْرِفُنَّهَا: په دې کښې لام تعلیل دنفی د ماقبل دپاره دې ، او زخرف سرو زرو ته وائي خو د هر قسم زینت دپاره استعمالیږي، دلته مراد ښائست او نقش ونګار دي.

تسهیلات:

د جماتونو ښائسته کولو حکم: په حل اللغات کښې اخستې معنی په اعتبار سره مطلب داشو چه ماته دَ اوچت لوړ او عالیشان او مضبوط پلسترشوی جماتونو حکم نه دې شوې. مسجدنبوی دَ حضورپاك په مبارکه زمانه کښې ساده اوکچه وو. دیوالونه دَ خښتو او چت دَ کهجورو دَ ښاخونو نه جوړشوې وو اوستنې یا دکهجورو دَ تنو او یادَ کهجورو دَ لرګو وو. په عهدصدیقی کښې هم دغه حالت وو.

وخت په وخت په مسجد نبوی کښې توسیع: دَ حضرت عمر ﷛ په زمانه کښې مسجدنبوی دوباره تعمیرکړې شوې وو لیکن دا هم هغه شان ساده ساتلې شوې وو ځنګه چه اول وو البته څه توسیع اوشوه. بیا چه دَحضرت عثمان ﷛ په دورخلافت کښې هغوی اوکتل چه دَ خلقو کورونه عالیشان شو او جمات هم په هغه زوړ طرز باندې پاتې دې نو هغوی مسجدنبوی په نوی طرز باندې تعمیرکړو هغوی په جمات کښې توسیع هم اوکړه او ښه ئې ښکلې هم کړو. په دیوالونوکښې منقش کانړی او په چت کښې اعلی قسم لرګی استعمال کړل. متاخرین فقهاؤ هم دَدې په رڼاکښې دا اجازت ورکړې دې چه دَ جمات آبادې هم دغه شان ښائسته کول پکاردی ځنګه چه دَخلقو کورونه وی دې دَپاره چه دَ جماتونو توهین او تحقیراونه شی.

قوله: لَتُزَخْرِفُنَّهَا:

د جماتونو د نقش ونګار حکم: صاحب دَ هدایه وغیره لیکلی دی چه تر کومې دَ جمات دَ مضبوطیا تعلق دې نوهغه جائز دې که دَ چا په ذاتی مالونوسره وی یادَ مسلمانانو په وقف

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة،باب فی بناء المساجد (رقم-۴۴۸) والبخاری باب بنیان المسجد

مالونوسره وی. پاتې شو ښائست اونقش ونګار نوهغه په وقف مال باندې کول جائزنه دی. که یوسړې نقش ونګار کول غواړی نوهغه دَ دغه حد پورې جائز دې چه دا ښائست او نقش ونګا دَ مونځ ګذارو دَغفلت سبب جوړنه شی. که دَمونځ ګذارو دَغفلت او لهولعب سبب جوړیږی نوهغه په ذاتی مال سره جوړول هم ناجائز یعنی مکروه دی.

د حدیث مصداق: دَ حدیث مطلب هم دغه شو چه راتلونکی وخت کښې به داسې خلق پیدا کیږی چه جماتونه به ښائسته کوی او ښکلې کوی به نی اودَهغې په دیوالونو باندې به سره زر لګوی خودا طریقه سنت نبوی نه ده ځکه چه اسلام سادګی ښائی اودَ نقش ونګار په ځائې دَعمل او کردار سبق ورکوی. دَ نن صبا بریلوی حضراتو جماتونه هم په دغه طرز دی اودَ هدایت نه خالی دی ځکه چه هغه دَ شرك اوبدعاتو مراکز جوړشوی دی حالانکه دَ مساجدو دَ پاره دَالله تعالی حکم دادې ﴿وَأَنَّ الْمَسٰجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوْا مَعَ اللّٰهِ أَحَدًا﴾.

۷۱۹–دَ جماتونوپه ښائسته کولوفخرکول

۷۱۹–(۱)[۲۹] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] ((«مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَتَبَاهَى النَّاسُ فِي الْمَسَاجِدِ»)، رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه راوي دي چې سرور کائنات صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] د قيامت د علامو څخه يوه دا هم ده چې خلق به د مسجدونو په باره کښې په يو بل باندې فخر کوي. (ابوداؤد، نسايي، دارمي، ابن ماجه)

حل اللغات: ① أَشْرَاطِ: د شَرَطٍ جمع ده، نښې او علامت ته وائی. ② يَتَبَاهَى: د باب تفاعل نه د مضارع صيغه ده، أي: يَتَفَاخَرُ: په يو بل باندې فخر کول.

تسهیلات:

قوله: يَتَبَاهَى: یعنی دَ قیامت په یوځو علاماتوکښې داهم یودې چه خلق به لوئی لوئی جماتونه جوړه وی اوهغه به ښائسته او ښکلې کوی خلقوته به نی ښائی دَ الله تعالی رضا به مقصودنه وی بلکه دَفخر اومباهات اراده به نی وی اودَ دنیاوالونه به شاباش حاصلول وی.

مسجد تو بنادی شب بھر میں ایماں کی حرارت والوں نے من اپنا پرانا پاپی ہے برسوں میں نمازی بن نہ سکا

۷۲۰–دَ مسجد صفا کول

۷۲۰–(۲)[۳۰] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] ((«عُرِضَتْ عَلَيَّ أُجُوْرُ أُمَّتِيْ [۳] حَتَّى الْقَذَاةُ يُخْرِجُهَا الرَّجُلُ مِنَ الْمَسْجِدِ، [۴] وَعُرِضَتْ عَلَيَّ ذُنُوْبُ أُمَّتِيْ، [۵] فَلَمْ أَرَ ذَنْبًا أَعْظَمَ مِنْ سُوْرَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ، أَوْ

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة، باب فی بناء المساجد (رقم-٤٤٩) والنسائی کتاب المساجد باب المباهاة فی المساجد (رقم-۶۸۹) وابن ماجة کتاب المساجد والجماعات، باب تشیید المساجد (رقم-۷۳۹)

(۲) اخرجه الترمذی باب (رقم-۲۹۱۶) وابوداود کتاب الصلاة، باب فی کنس المسجد (رقم-٤۶۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

آيَةٍ أُوتِيهَا رَجُلٌ ثُمَّ نَسِيَهَا»)، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه، [۱] او حضرت انس رضي الله عنه راوي دي چې سرور کائنات ﷺ وفرمايل [۲] زما د امت ثواب زما په مخکې پيش کړې شو [۳] تر دې چې د هغه خځلو او خاورو ثواب هم (پيش کړې شو) چې يو سړي د مسجد نه (جارو کولو) سره ويستلي وي [۴] او زما په مخکې زما د امت ګناهونه هم پيش کړل شو [۵] په هغه ګناهونو کښې ماته د دې څخه لويه هيڅ ګناه په نظر رانغله چې چاته د قرآن يو سورت يا آيت ياد وي بيا هغه يې هير کړې وي. (ترمذي ،ابوداؤد)

حل اللغات: ① أُجُورُ: أَيْ: ثَوَابُ أَعْمَالِهِمْ: د امت د نيکو عملونو ثوابونه، ② الْقَذَاةُ: هِيَ مَا يَقَعُ فِي الْعَيْنِ مِنْ تُرَابٍ أَوْتِبْنٍ أَوْوَسَخٍ: دَ قذاة جمع قذى ده په سترګه کښې پريوتونکې خاوره، ډکې يا خيرى ته قذاف وائى. ③ أُوتِيهَا: أَيْ: تَعَلَّمَهَا: چه زده ئې کړى، ياد ئې کړى.

تسهيلات:

قوله: حَتَّى الْقَذَاةُ يُخْرِجُهَا الرَّجُلُ مِنَ الْمَسْجِدِ:

دجمات مثال د انسانى سترګې پشان: په دې حديث سره دې طرف ته اشاره کيږى چه دَ جمات مثال دَ انسان دَ سترګې په شان دې لکه څنګه چه دَانسان په سترګه کښې پروتونکې څيزسره تکليف کيږى اوهغه دَ ټولو نه اول دَ هغې دَ لرې کولوکوشش کوى دغه شان دَجمات روح هم دَ ډکو خيرو سره تکليف کيږى. نوچه کوم سړى دغه ډکى دَ جمات نه لرې کړل په هغه باندې به دَ الله تعالى رحمت نازليږى.

قوله: "ثُمَّ نَسِيَهَا"

د قرآن دهيرولو مطلب: يعنى الله تعالى يوسړى ته دَ قرآن عظيم دولت ورکوى اوهغه قرآن حفظ کړو يانى دَ هغې څه حصه ياده کړه بيا دغه سړى دَ دې عظيم دولت ناقدرى اوکړه او غفلت کولوسره دا هيرکړو نودا ډيره لويه ګناه ده. دَ حديث دَ ظاهر نه معلوميږى چه دَ قرآن کريم دَ يادولونه پس هيرشو او اوس ئى په ياد سره نه شي وئيلې. بعضې علماؤ دَدې ګناه تعلق په دې صورت کښې خودلې دې چه کله سړې قرآن داسې هيرکړى چه په مصحف کښې کتلوسره ئى هم نه شي وئيلې.

۷۲۱—جماتولو ته په تياره کښې د تلو فضيلت

۷۲۱—()[۳۱] [۱] وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] (بَشِّرِ الْمَشَّائِينَ فِي الظُّلَمِ إِلَى الْمَسَاجِدِ [۳] بِالنُّورِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ)، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ.

[۱] اخرجه ابوداود کتاب الصلاة،باب ما جاء فى المشى إلى الصلاة فى الظلام (رقم-۵۶۱) والترمذى کتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى فضل العشاء والفجر فى الجماعة (رقم-۲۲۳)

ترجمه: [۱] او حضرت بريده رضي الله عنه راوي دي چې سرور كائنات ﷺ وفرمايل [۲] كوم خلق چې په تيارو كښې د مسجدونو طرف ته ځي هغوئ ته دا زيري ورسوئ [۳] چې د قيامت په ورځ به د دې په سبب هغوئ ته كامله رڼا نصيب كيږي. (ترمذي، ابوداؤد)

حل اللغات: ① الْمَشَّائِينَ: د مَشَّاء جمع ده. وَهُوَكَثِيرُالْمَشْي: ډير ګرځيدلو ته وائي. ② الظُّلَمِ: د ظلمة جمع ده، تياره، ③ النُّورِالتَّامِّ: كامل نور (رڼا).

۷۲۲—()[٠] [۱] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، وَأَنَسٍ.

ترجمه: [۱] او ابن ماجه د دې حديث روايت د حضرت سهل بن سعد او انس رضي الله عنهما نه هم كړي دي.

تسهيلات:

قوله: بَشِّرِالْمَشَّائِينَ فِي الظُّلَمِ

په تياره كښې جمات ته د تلو فضيلت: دا د مشاء جمع ده. دشپې په وخت كښې په تياره كښې چې كوم خلق مونځ دپاره ځي هغوئ دپاره دا مستعمل دي. يعنى كوم خلق چې شپې مونځ دپاره ځي نو د شپې تياره هغوئ لره مانع نه ده .ځيني حضرات وائي چې د شپې په وخت كښې مونځ دپاره تلل او ځان سره څه رڼا اخستل چې د آفتونو او نقصان نه بچ شي. نو ددې اجر به په آخرت كښې ملاويږي. دا نور خاص مؤمنانو دپاره دي .

لقوله تعالى: نورهم يسعى بين ايديهم وبايمانهم:

په پل صراط د مسلمانانو سره د رڼرا بقا: حضرت ابن عباس رضى الله عنه فرمائي چې كله په پل صراط باندې د منافقانو رڼرا ختمه شي نو مؤمنان به وائي ((رَبَّنَآ أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا وَاغْفِرْ لَنَا))

۷۲۳—جمات سره تعلق ساتل د ايمان نښه

۷۲۳—()[۳۲] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] ((إِذَا رَأَيْتُمُ الرَّجُلَ يَتَعَاهَدُ الْمَسْجِدَ، فَاشْهَدُوا لَهُ بِالْإِيمَانِ. [۳] فَإِنَّ اللّٰهَ يَقُولُ: ﴿إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللّٰهِ مَنْ آمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ﴾ [التوبة: ۱۸])). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كله چې مو يو كس د مسجد خدمت كونكي آبادونكي ووينئ نو تاسو د هغه د ايمان ګواهي وركړئ [۳] ځكه چې د الله تعالى جل جلاله ارشاد دي إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللّٰهِ مَنْ آمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

(۱) اخرجه ابن ماجة كتاب المساجد والجماعات ،باب المشى إلى الصلاة(رقم-۷۸۰) و عن انس اخرجه كتاب المساجد والجماعات ،باب المشى إلى الصلاة(رقم-۷۸۱)

(۲) اخرجه الترمذى كتاب الإيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى حرمة الصلاة (رقم-۲۶۱۷)وابن ماجة كتاب المساجد والجماعات باب لزوم المساجد وانتظار الصلاة (رقم-۸۰۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

د الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ مسجدونه هغه سړي آباد وي چا چې په الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ او د قيامت په ورځ ايمان راوړي وي. (ترمذي، ابن ماجه، ابوداؤد)

حل اللغات: ① يَتَعَاهَدُ: أَيْ: يَخْدِمُهُ: تعاهد دَ باب تفاعل نه د خدمت او نګرانۍ په معنى كښې دي.
② يَعْمُرُ: آبادوى جماتونه (يعنى تعمير او انتظام ئې كوى يا ئې په ذكر اوعبادت او درس وغيره سره آباد ساتى).

تسهيلات:

قوله: "يَتَعَاهَدُ الْمَسْجِدَ"

د تعاهد المسجد نه مراد: مطلب دادې چه كله تاسو څوك سړې اووينئى چه هغه دَ الله تعالى دكورجمات نګرانى او خيال ساتى دَهغې حفاظت كوى دَهغې دَمرمت خيال ساتى دَهغې دَ صفائى اوخوشبوئى خيال ساتى په هغې كښې دَ رڼرا انتظام كوى په هغې كښې جارو وهى په هغې كښې كينى او عبادت كوى. دَ الله تعالى په ذكركښې مشغول وى نوتاسو ګواهى وركړئى چه دغه سړې مؤمن اودَ ايمان والادې اودَ الله تعالى اودَ هغه دَ رسول ﷺ تابعدار او فرمانبردار دې. ځكه چه دَ قرآن پاك هم دغه ګواهى ده دَدې برعكس چه كوم سړې جمات سره تعلق نه ساتى دَهغې طرف ته ګورى نه نه مونځ كوى نودَ هغه دَ مؤمن كيدو ګواهى نه شى وركيدې.

۷۲۴—په جماتونوكښې دمانځه دانتظار ثواب

۷۲۴—()[۳۳] ① «وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ مَظْعُونٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! ② أَئْذَنْ لَنَا فِي الِاخْتِصَاءِ؟ ③ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (لَيْسَ مِنَّا مَنْ خَصَى وَلَا اخْتَصَى، ④ إِنَّ خِصَاءَ أُمَّتِي الصِّيَامُ)، ⑤ فَقَالَ: ائْذَنْ لَنَا فِي السِّيَاحَةِ،

ترجمه: ① او د حضرت عثمان ابن مظعون رضي الله عنه په باره كې روايت دي چه هغه عرض وكړو يا رسول الله ﷺ ② ماته د خصي (نامرد) كيدو اجازت راكړه [چې ماته په زنا كې د مبتلا كيدو انديشه پاتې نشي] ③ حضور ﷺ ورته وفرمايل هغه سړي زمونږ څخه نه دي (يعني زمونږ د سنت د لارې څخه لرې شوې دي) چې څوك خصي كړي يا خپله خصي شي ④ بلكه زما امت د پاره خصي كيدل روژه نيول دي (ځكه چې روژه نيولو سره شهوت ځي) ⑤ حضرت عثمان رضي الله عنه عرض وكړو بيا ما ته د سير وسياحت اجازت راكړه

① فَقَالَ: (إِنَّ سِيَاحَةَ أُمَّتِي الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ)، ② فَقَالَ: ائْذَنْ لَنَا فِي التَّرَهُّبِ، ③ فَقَالَ: (إِنَّ تَرَهُّبَ أُمَّتِي الْجُلُوسُ فِي الْمَسَاجِدِ انْتِظَارَ الصَّلَاةِ»، رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: ① حضور ﷺ ورته وفرمايل زما د امت سياحت دا دي چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لار كې

---

[1]) رواه في شرح السنة

جهاد وکړي شی، هغه بیا عرض وکړو بنه نو ما ته د راهب جوړیدو اجازت راکړئ حضور ﷺ ورته وفرمایل زما د امت راهب جوړیدل دا دي چې په مسجدنو کې د لمونځونو په انتظار کې کیني. (شرح السنة)

حل اللغات: ① الإِخْتِصَاءِ: اخصاء نزع الخصيتين يعني خپل خان دَخصی کولو په معنی کښې دی. ② خَصَى: أَيْ: سَلَّ خُصْيَةَ غَيْرِهِ: چه بل څوک خصی کړی هگئ ورله اوتکوی یا نې ترې اوباسی. ③ اخْتَصَى: چه خپل خان خصی کړی. ④ خِصَاءٌ: خصی کیدل. ⑤ السِّيَاحَةِ: مُفَارَقَةُ الْأَمْصَارِ، وَالذَّهَابُ فِي الْأَرْضِ: یوبنار نه بل بنار ته تلل او په ملکونو کښې گرځیدو ته سیاحت وائی. ⑥ التَّرَهُّبِ: په معنی د ویرې او خوف کښې دې، دنیاوی تعلقاتو نه خان ږدې ته کول او په گوټ کښې کیناستلو ته رهبانیت وائی.

تسهیلات:

د راوي مختصر تعارف: حضرت عثمان بن مظعون ؓ جلیل القدر صحابی دې په مکه مکرمه کښې اسلام قبلونکو نه څوارلسم نمبریاندې مسلمان سړې دې حبشه ته ئې هجرت کړې او بیائی دَ مدینې هجرت اوکړو. دَحضورپاك هغوی سره دَزړه مینه وه. دَ مهاجرینو نه رومبې مسلمان دې دَ چا چه په مدینه منوره کښې په کال ۲ هجری کښې انتقال شوې. په جنت البقیع کښې دَتولونه رومبې هم دَهغوی تدفین شوې دَهغوی دَ انتقال نه پس حضورپاك دَهغوی تندې ښکل کړو اودَ حضورپاك اوښکې مبارکې دَهغوی په مخ باندې پریوتلې دَهغوی په قبرباندې یو لوئی کانړې حضورپاك پخپله دَ نښانې په توگه راوړو وئی لګولو او وئی فرمائیل زما خاندان والا به ده سره خښه وئی. "فرضی الله عنه وعن جمیع الصحابة"

قوله: فِي الإِخْتِصَاءِ؟:

نفساني خواهشات اودهغې علاج: دَانسانی شهوت مرکز خصیتین دی. کله چه داختم کړې شی نودَ شهوتونو او خواهشاتو جرړه کټ شی دَدغه صحابی هم دامطلب وو. چه هغه داسې طریقې اختیارکړی په کوم سره چه دَ دنیاوی خوندونو اونفسانی خواهشاتو نه جداشی اودَخپل رب په عبادت او خوشحالولوکښې مشغول شی. په دې وجه دَتولونه اول هغه دَ حضورپاك نه اجازت اوغوښتلو چه هغه دَ خپل سړی کیدوطاقت بالکل ختمول غواړی. رسول الله ﷺ هغه دَدې غیرفطری فعل کولونه منع کړو اودَهغه دَخطراتو او نفسانی خواهشاتوئی آسان علاج اوخودلو. هغه داچه یا ته په کثرت سره روژې ساته څکه چه روژه شهوت قابوکوی اوشیطانی وسوسې او خواهشات لرې کوی اودَالله تعالی سره دَ تعلق ښه جذبات راپیداکوی.

قوله: لَيْسَ مِنَّا مَنْ خَصَى:

د لیس منا په تاویل کښې دوه اقوال: ① دَ رسول الله ﷺ دَ فرمان مطلب دادې چه داسې

Maktaba Tul Ishaat.com

سړي د دې خاص فعل په ارتکاب کښې د مسلمانانو په طریقه نه دې. د حضور اکرم ﷺ په طریقه نه دې د دې مطلب دانه دې چه هغه د اسلام نه خارج شو

② دا کلام اسلوب د حکیم په توګه باندې دې چه کله حضورپاك فرمائیلي چه داسې سړي زمونږ نه نه دې نو هغه به دومره متاثر شي چه کله به هم دې عمل او فعل ته نیزدې نه شي.

دانسانانو د خصی کولو حرمت: د بنی آدم اولاد که هغه ورو کې وی او که لوئی خصی جوړیدل حرام دی. د انسانانو نه علاوه د ځناورو متعلق علامه قرطبی رحمه الله فرمائی "انه ممنوع فی الحیوان الا لمنفعة حاصلة فی ذالك کتطیب اللحم اوقطع ضرعنه" علامه نووی شافعی رحمه الله فرمائی چه حیوان غیر ماکول اللحم خصی کول مطلقًا حرام دی او کوم حیوان چه ماکول اللحم دی په هغې کښې واړه خصی کول جائزدی او لوئی جائزنه دی. (فتح الملهم)

دحیواناتو د خصی کولو مقید اجازت: ائمه احناف حیوان خصی جوړول جائز لیکلی دی لیکن نور تفصیلات نشته. حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهی رحمه الله فتاوی رشیدیه ص ۴۹۱ کښې لیکی خصی کول د تولو بهائم د نفع د پاره د ضرر لرې کولو د وجې نه صحیح دی بغیرد سړی نه چه حرام دی.

قوله: اِئْذَنْ لَنَا فِي السِّيَاحَةِ:

د امت محمدی سیاحت: حضرت عثمان بن مظعون رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه د سیل او تفریح اجازت اوغوښتلو دې د پاره چه په دې مشغله سره د نفسانی خواهشاتو کمې راشی او د مقامی علاقونه لرېوالې راشی.

د دې په جواب کښې حضورپاك اوفرمائیل چه زما د امت سیل او تفریح او سیاحت جهاد فی سبیل الله عمل دې ښکه چه په دې کښې مختلف ملکونو کښې د جهاد د پاره تللو کښې سیل تفریح او سیاحت مقصد هم په اعلی پیمانه باندې پوره کیږی او بې مقصده سفر هم نه بلکه اوچت عبادت دې او اعلی کلمة الله او د اشاعة الدین د تولونه لویه ذریعه هم ده.

جهاد په صحت کښې کردار: په یوحدیث کښې راغلی دی "اغزوا تصحوا" تاسو جهاد کوئی صحت مند به اوسیږئی. دا هم دې طرف ته اشاره ده چه غرونو درو او وادیانو او صحراګانو کښې صحت مند آب وهوا او په بدنی ورزش سره کامل صحت حاصلیږی.

قوله: إِنَّ تَرَهُّبَ أُمَّتِي الْجُلُوسُ فِي الْمَسَاجِدِ انْتِظَارَ الصَّلَاةِ:

په اسلام کښې د رهبانیت ممانعت: اسلام یو همه ګیر مذهب دې هغه خلوت او جلوت دواړو ته حق ورکوی ښکه چه دا دین فطرت دې په دې کښې رهبانیت نشته. دلته د مانځه په انتظار کښې کیناستل رهبانیت ګرځولې شوی دی او په یو بل حدیث کښې جهاد فی سبیل الله ته د دې امت رهبانیت ګرځولې شوې دې.

۷۲۵- د فرشتو خپل مينځ کښې بحث مباحثه

۷۲۵- (۱) [۳۴] ۱ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَائِشٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ (رَأَيْتُ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ فِي أَحْسَنِ صُورَةٍ، ۳ قَالَ: فِيمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلَى، قُلْتُ: أَنْتَ أَعْلَمُ) ۴ قَالَ: فَوَضَعَ كَفَّهُ بَيْنَ كَتِفَيَّ فَوَجَدْتُ بَرْدَهَا بَيْنَ ثَدْيَيَّ، ۵ فَعَلِمْتُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ،

ترجمه: ۱ او حضرت عبد الرحمٰن بن عائش رضی الله عنه راوي دي چې سرور کائنات ﷺ وفرمايل ۲ ما خپل پروردګار بزرګ وبرتر (په خوب کې) په ډير ښه صورت کې وليدلو ۳ الله تعالی جل جلاله زما څخه پوښتنه وکړه چه مقربي فرشتي په کومه معامله کې بحث کوي ؟ ما عرض وکړو پروردګاره ته بهتر پوهيږې ۴ حضور ﷺ فرمايي دي اوريدو سره الله تعالی جل جلاله زما د دواړو اوږو په مينځ کې خپل لاس کيښودلو چې د هغې يخ والي ماته په خپله سينه باندې محسوس شو ۵ (او د هغې په وجه) ما د زمکې او آسمان ټول څيزونه وپيژندل

حل اللغات: ① يَخْتَصِمُ: أَيْ: يَبْحَثُ: جګړه کوی، بحث مباحثه کوی. ② الْمَلَأُ: أَيِ: الْأَشْرَافُ: مقرب، عزت مند، ③ الْأَعْلَى: يَعْنِي: الْمَلَائِكَةَ الْمُقَرَّبِينَ: مقربي فرشتي، سرداراني فرشتې، ④ بَرْدَهَا: أَيْ: رَاحَةَ الْكَفِّ: دلاس يخ والی (يعنی دهغې نرم والي او راحت والاکيدل).

۱ وَتَلَا: ﴿وَكَذٰلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۲ وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ﴾ [الأنعام: ۷۵]» رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ مُرْسَلًا، وَلِلتِّرْمِذِيِّ نَحْوُهُ عَنْهُ.

ترجمه: ۱ بيا حضور ﷺ دا آيت اولوستلو وَكَذٰلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ او د غسې مونږ ابراهيم عليه السلام ته د زمکې او آسمانونو بادشاهي وښودله ۲ چې هغه د پر يقين کونکو خلقو کې شامل شی (دارمي مرسلاً)

او ترمذي هم دا روايت د بعضې الفاظو د اختلاف سره د عبدالرحمٰن ابن عائشه رضی الله عنه

حل اللغات: ⑤ مَلَكُوتَ: بادشاهی او عظمت (يعنی د الله عظمت دهغه الوهيت او ربوبيت مراد دي). ⑥ الْمُوقِنِينَ: د اسم فاعل صيغه ده، يقين لرونکی.

تسهيلات: قوله: رَأَيْتُ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ:

په رؤيت کښې دوه احتمالات: ① ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی که چرې دا کتل دَ خوب واقعه ده چه حضورپاك الله تعالی په خوب کښې اوليدلو نو په دې کښې هيڅ اشکال نشته اودَ طبرانی يوروايت په دې باندې دلالت کوی او ښکاره هم دغه ده چه دادَ خوب واقعه ده.

② که چرې دا دَ بيدارئی واقعه ده لکه چه دَمسنداحمد دَ يوروايت نه معلوميږی نوبيا به

---

(۱) اخرجه الدارمی باب فی رؤية الرب تعالی فی النوم (رقم-)

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې كښې تاويل كيږي او هغه داسې چه مونږ د حديث په ظاهري الفاظو باندې ايمان لرو او ددې په حقيقي ادراك كښې نه پريوځو. الله تعالى چه خپل رسول ﷺ ته څه ښائى مونږ به صرف دا وايو چه كوم دَ الله تعالى شان سره لائق وى مونږ په هغې باندې ايمان راوړو او كيفيات ته نه ځو لكه څنګه چه امام مالك رحمه الله دَ استواء عرش متعلق فرمائيلى "الاستواء معلوم والكيفية مجهولة والسوال عنها بدعة".

قوله: فِي أَحْسَنِ صُورَةٍ:

د احسن صورة تاويل: ددې متعلق هم دَسلف صالحين رائې خپله كول دى يعنى "مايليق بشانه" دا بهتر ده او كه چرې "احسن صورة رأيت" فاعل نه حال وى نو بيا دَ هيڅ تاويل ضرورت نشته يعنى حضورپاك اوفرمائيل چه ما خپل رب اوليدلو او زه په داسې حال كښې ووم چه ښكلې منظر ښكلې طبع او بهترين حالت او صورت كښې ووم.

قوله: فَوَضَعَ كَفَّهُ:

د وضع كف تاويل: په دې لفظ كښې هم بغيردَ تاويل نه داسې وئيلى شى "مايليق بشانه" يعنى چه دَالله تعالى دَ شان سره لائق وى هغه شان الله تعالى دَ رسول الله ﷺ دَ اوږو په مينځ لاس كيخودو چه په دې سره دَ ملا اعلى انكشاف تام راشى. چنانچه دَ فيض ربانى يخوالى حضورپاك په خپل زړه مبارك او سينه منور كښې محسوس كړواو انكشاف تام اوشو.

قوله: فَعَلِمْتُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ:

د حديث نه غلط استدلال: هم دَدغه فيض ربانى دَ انكشاف تام دَ وجې نه ما دَ زمكې او آسمان ټول څيزونه اوپيژندل اودَ عالم بالا دَبحث جواب مى وركړو. داخبره ياد ساتل ضرورى دى چه دا انكشاف تام په دائمى توګه باندې حاصل نه شو دَ كوم نه چه دا مسئله راوويستې شى چه حضورپاك ته دَماكان ومايكون دَ ذرې ذرې عمل حاصل شو داسې عقيده لرلوسره به ډير زيات مشكلات پيداشى اوَ دَ قرآن كريم په سوونو آياتونه به منسوخ كرخولې شى په كوم كښې چه په واضح توګه دَ علم غيب دَنفى بيان دې دَ الله تعالى فرمان دې ﴿ قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ ﴾ [نمل الاية: ٦٥] ﴿ وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ ﴾ [اعراف الاية: ١٨٨]

د حديث په سند باندې كلام: بل دې حديث ته محدثين حضرات مرسل وئيلې دې څكه چه عبدالرحمن بن عائش صحابى نه دې اودا روايت دَ حضورپاك نه نقل كوى اودَ ده نه صرف هم دغه يوروايت نقل دې. "البخارى عبدالرحمن حضرمى له حديث واحد الا انهم يضطربون فيه" (كذافى التعليق الصبيح) "وقال البيهقى قدروى بطرق كلها ضعاف (كذافى التعليق الصبيح) دا روايت په دې سندسره هم دا شان دې ليكن هم دغه روايت حضرت معاذ رضي الله عنه په ډير تفصيل سره نقل كړې دې

کوم چه امام احمد رحمه الله په مسند احمد کښې نقل کړې دې. بل امام ترمذی رحمه الله هم نقل کړې دې او وئیلی دی چه دا حدیث حسن صحیح دې. بیائی اوفرمائیل چه ما دَ امام بخاری رحمه الله نه ددې حدیث باره کښې پوښتنه اوکړه نو هغوی اوفرمائیل چه دا حدیث صحیح دې (کذا فی زجاجة المصابیح ج۱ ص ۲۱۲) خلاصه دا چه دا حدیث صحیح دې مګر دا انکشاف یووختی وو دائمی نه وو دې دپاره چه په قرآن او حدیث کښې تعارض رانه شی.

قوله: وَكَذٰلِكَ نُرِيْ إِبْرَاهِيْمَ مَلَكُوْتَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ:

په ضمیر کښې دوه احتمالات او دهر احتمال مطلب: ① دَدې فعل په ضمیر فاعل کښې دوه احتمال دی که چرې ضمیر دَ لفظ الله طرف ته راجع دې نو دَ دلیل په توګه الله تعالی اوخودل لکه څنګه چه مونږ حضرت ابراهیم علیه السلام ته دَزمکې اوآسمان دَ بادشاهت مشاهده اوکړه دغه شان اې محمد صلی الله علیه وسلم تاته به هم دَ آسمانی عجائبات او احکامات مشاهده کوو.

② که چرې ضمیر فاعل دَ حضور اکرم طرف ته راګرځی نو حضور پاك دَ استشهاد په توګه دا آیت تلاوت کړې. دَعلامه طیبی رحمه الله مطابق دا احتمال ډیر راجح دې.

قوله: وَلِيَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ:

دمذکوره جملې مفهوم: دَدې جمله معطوف علیه محذوف دې. دَ اصل عبارت ترجمه داسې ده چه مونږ حضرت ابراهیم علیه السلام ته دَعالم ربوبیت والوهیت خودلې وې دې دپاره چه هغه ددې په ذریعه زمونږ دَ ذات دَ وجود باره کښې دلیل اونیولې شی او دَ یقین کونکو نه شی.

پیغمبرانو په خوب کښې دلیدل: انبیاء کرام علیهم السلام په خوب کښې لیدل دَ احادیثو نه ثابت دی او دَدې نه انکار کول صرف دَحدیث نه انکار کول دی.

د الله تعالی په خوب کښې لیدل: البته دَ الله تعالی په خوب کښې لیدلو متعلق دَ علماؤ وینا ده چه دا صرف دَ خیال او تسلئی حصول وی څکه چه الله تعالی چالیدلې نه دې چه هغه په خوب کښې اووینی. دَ انبیاء کرامو دَحلیه ذکر په احادیثو کښې موجود دې نو خوب هم په حقیقت باندې محمول دې،

الله تعالی په خوب کښې لیدلو متعلق علامه نووی رحمه الله په شرح مسلم کښې داسې لیکلی دی. "قَالَ الْقَاضِي وَاتَّفَقَ الْعُلَمَاءُ عَلٰى جَوَازِ رُؤْيَةِ اللهِ تَعَالٰى فِي الْمَنَامِ وَصِحَّتِهَا" قاضی عیاض مالکی رحمه الله فرمائی چه دټولو علماؤ په دې باندې اتفاق دې چه په خوب کښې الله تعالی لیدل جائز او صحیح دی. "وَقَالَ ابْنُ الْبَاقِلَّانِيْ رُؤْيَةُ اللهِ تَعَالٰى فِي الْمَنَامِ خَوَاطِرُ فِي الْقَلْبِ وَهِيَ دَلَالَاتٌ لِلرَّائِيْ عَلٰى أُمُوْرٍ كَانَ أَوْ يَكُوْنُ كَسَائِرِ الْمَرْئِيَّاتِ وَاللهُ أَعْلَمُ" (حاشیه نوی بر مسلم ج۲ ص ۲۴۳) یعنی علامه ابن الباقلانی رحمه الله فرمائی چه الله تعالی په خوب کښې لیدل دَ قلبی تخلیات نه یو تخیل او خیال دې په کوم سره چه لیدونکی ته تیرشوی یا راتلونکی امور طرف ته اشاره ملاویږی لکه چه په باقی خوبونو کښې کیږی.

Maktaba Tul Ishaat.com

۷۲۶ - گناهونو لره معاف کونکي اعمال

۷۲۶ - (۱) [۵] ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ، وَزَادَ فِيهِ: ۲ (قَالَ: «يَا مُحَمَّدُ! هَلْ تَدْرِي فِيمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلَى؟ ۳ قُلْتُ: نَعَمْ، فِي الْكَفَّارَاتِ)، ۴ وَالْكَفَّارَاتُ: الْمُكْثُ فِي الْمَسَاجِدِ بَعْدَ الصَّلَوَاتِ، ۵ وَالْمَشْيُ عَلَى الْأَقْدَامِ إِلَى الْجَمَاعَاتِ، ۶ وَإِبْلَاغُ الْوَضُوءِ فِي الْمَكَارِهِ ۷ فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ عَاشَ بِخَيْرٍ، وَمَاتَ بِخَيْرٍ ۸ وَكَانَ مِنْ خَطِيئَتِهِ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ،

ترجمه: ۱ ابن عباس رضي الله عنهما او معاذ ابن جبل رضي الله عنه څخه نقل کړي دي او په هغې کې نې دا الفاظ زائد نقل کړي دي ۲ چې الله تعالی جل جلاله وفرمايل [يعنی حضور ﷺ ته د زمکې او آسمانونو د علم ورکولو څخه وروسته ځيني پوښتنه وکړه] اي محمد (ﷺ) تاته معلومه ده چې مقربين فرشتي په څه معامله کې بحث کوي؟ ۳ حضور ﷺ فرمايي چه ما عرض وکړو هو زه پوهيږم د کفارات (يعني د گناهونو ختمونکو ځيزونو) په باره کې بحث کوي ۴ او هغه کفارات دا دي چې د لمونځونو څخه وروسته په مسجدونو کې (د دويم وخت د لمانځه په انتظار کې يا ذکر و تسبيحاتو د پاره) کيني ۵ او په جماعت سره د لمانځه کولو د پاره پياده لاړ شي ۶ او د سختي په وخت (مثلًا بيمارئ يا په يخنئ کې په اعضاو داودس باندي) د اودس اوبه په ښه شان ورسوي ۷ نو چا چې دا وکړل (يعني مذکوره اعمال يې وکړل) هغه به په خير ژوندي وي او په خير به مري ۸ او د گناهونو څخه به داسې پاك شي لکه چې د هغه مور هغه نن راوړي دي

۱ وَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ! إِذَا صَلَّيْتَ فَقُلْ: ۲ اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ، فِعْلَ الْخَيْرَاتِ، وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ وَحُبَّ الْمَسَاكِينِ ۳ فَإِذَا أَرَدْتَ بِعِبَادِكَ فِتْنَةً فَاقْبِضْنِي إِلَيْكَ غَيْرَ مَفْتُونٍ) ۴ قَالَ: وَالدَّرَجَاتُ: ۵ إِفْشَاءُ السَّلَامِ، وَإِطْعَامُ الطَّعَامِ، ۶ وَالصَّلَاةُ بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ» ۷ وَلَفْظُ هٰذَا الْحَدِيثِ كَمَا فِي الْمَصَابِيحِ لَمْ أَجِدْهُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ إِلَّا فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ).

ترجمه: ۱ او الله تعالی جل جلاله وفرمايل اي محمد (ﷺ) هر کله چې د لمانځه څخه فارغ شې نو دا دعا کوه: ۲ اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ وَحُبَّ الْمَسَاكِينِ فَإِذَا أَرَدْتَ بِعِبَادِكَ فِتْنَةً فَاقْبِضْنِي إِلَيْكَ غَيْرَ مَفْتُونٍ) الله زه ستا څخه سوال کوم د نيکيو کولو او د بدو د پريښودلو او د مسکينانو د دوستئ ۳ او هر کله چې ته په بنده گانو کې د گمراهئ اچولو (يا هغوي ته د سزا ورکولو) اراده وکړي نو ما په فتنه کښې اخته کيدو څخه بغير وفات کړي. ۴ او الله تعالی جل جلاله [د حضور ﷺ په تعليم کې د زياتي د پاره] فرمايي [يا خپله حضور ﷺ فرمايي] چې درجات [يعني هغه اعمال چې که هغې سره د بنده درجات د الله په دربار کې بلنديږي] دا دي ۵ چې هر مسلمان خواه هغه اشنا وي او که نا اشنا هغه ته سلام

---

(۱) اخرجه الترمذي كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة ص (رقم-۳۲۳۵)

اوکړې شي (د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لار کې) په مسکينانو باندې طعام وخوړلي شي ⑥ او د شپې هغه وخت چې خلق اوده وي مونځ وکړې شي ⑦ (صاحب مشکوة) فرمايي چې ما دا حديث د دې الفاظو سره څنګه چې په مصابيح کې د عبدالرحمٰن څخه منقول دې سوا د شرح السنة څخه بل يو کتاب کې نه دې ليدلې.

حل اللغات: ① الْكَفَّارَاتُ: لِأَنَّهَا تُكَفِّرُ مَا قَبْلَهَا مِنَ الذُّنُوبِ: يعنی دغه اعمالو ته ئې کفارات ځکه اووئيل چه دا هم مخکينی، شوی ګناهونه رجوی. ② الْمُكْثُ: أَيْ: اللُّبْثُ: وخت تيرول يعنی ايساريدل او انتظار کول. ③ الْمَشْيُ عَلَى الْأَقْدَامِ: پيدل تلل. ④ إِبْلَاغٌ: په ښه طريقې سره (اودس) کول. ⑤ الْمَكَارِهُ: أَيْ: فِي شِدَّةِ الْبَرْدِ: مکاره مکروه او ناخوښه ته وائی دلته ترې مراد يخنې يا بيمارې کښې اوبو سره اودس کول دی چه دا په انسان بد لګی. ⑥ عَاشَ: ژوندې به اوسی يعنی ژوند به تيروی. ⑦ بِخَيْرٍ: د خير نه مراد د الله تعالی د تابعدارۍ ژوند، دنيکو اعمالو توفيق ملاويدل او حلاله روزی وغيره ملاويدل او په خپل قسمت باندې اطمينان او خوشحاليدل دی. ⑧ فَاتَّبِعْنِي: أَيْ: تَوَفَّنِي: دقبض کولو نه مراد وفات کول دی. ⑨ غَيْرَ مَفْتُونٍ: أَيْ: غَيْرَ ضَالٍّ: چه د ګمراهۍ د فتنې نه بچ يم.

۷۲۷–درې قسمه خلق د الله په ذمه وارۍ کښې

۷۲۷–( )[۳۵] ① وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② («ثَلَاثَةٌ كُلُّهُمْ ضَامِنٌ عَلَى اللَّهِ: ③ رَجُلٌ خَرَجَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللَّهِ ④ حَتَّى يَتَوَفَّاهُ فَيُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، ⑤ أَوْ يَرُدَّهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ وَغَنِيمَةٍ،

ترجمه: ① او حضرت ابو امامه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راوي دې چې سرور کائنات صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل ② درې سړي داسې دي چې د هغوې الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ (د دې خبرې د پاره) ذمه واره دي (چې هغه د دنيا او آخرت د آفاتو اومصيبتونو څخه محفوظ وساتي) ③ يو خو هغه سړې چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لار کې د جهاد د پاره ووځي نو هغه د الله جَلَّ جَلَالُهُ په ذمه واري کې دي ④ چې يا خو به مرګ (شهادت) ورکولو سره جنت ته يې ورسوي ⑤ يا هغه ته ثواب او مال غنيمت ورکولو سره کور ته يې ورسوي (نو اولنې او دويم صورت يعنی د شهادت او په ثواب کې خو هغه ته د دين سعادت حاصليږي او دريم صورت يعنی په مال غنيمت کې د دنيا سعادت او خير حاصليږي)

حل اللغات: ① ضَامِنٌ: أَيْ: حِفْظٍ وَرِعَايَةٍ: حفاظت کونکې او رعايت کونکې. ② نَالَ: أَيْ: مَعَ مَا وَجَدَهُ: يعنی دهغه هرڅه سره کوم ئې چه بياموندل (چه هغه ثواب اومال غنيمت دی).

① وَرَجُلٌ رَاحَ إِلَى الْمَسْجِدِ، فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللَّهِ ② وَرَجُلٌ دَخَلَ بَيْتَهُ بِسَلَامٍ، فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللَّهِ») رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الجهاد، باب فضل الغزو فی البحر (رقم-۲۴۹۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [۱] او دويم هغه سړي دي چې (د لمانځه د پاره) مسجد ته لاړ شي نو الله ﷻ د هغه هم ضامن دي [چې د عبادت د پاره د هغه كوشش او د هغه ثواب ضائع نه كړي] [۲] او دريم هغه سړي دي چې په خپل كور كې سلام كولو سره داخل شي نو هغه هم د الله تعالی ﷻ په ذمه واري كې دي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ⑦ رَاحَ: أَيْ: مَشَى: راح د تلو په معنی كښې دې.

تسهيلات: قوله: ضَامِنٌ عَلَى اللهِ:

په ضامن كښې دوه احتمالات:

① شيخ عبدالحق رحمه الله لمعات كښې ليكي چه "ضامن" دَمضمون په معنی كښې دې لكه چه دا فق دَمدفوق په معنی كښې دې اوعاصم دَمعصوم په معنی كښې دې اود مضمون په مفهوم كښې دَ وجوب او حفاظت معنی پرته ده. مطلب داشوچه په دې دريواړو كښې دَ هريود حفاظت ذمه واری الله تعالی دَخپلې رښتونې وعدې لاندې په خپل خان باندې واجب كړې ده چه دا دريواړه به دَ ضائع كيدو او ضرر اونقصان نه بچ كوی.

② شيخ رحمه الله داهم وائی چه دَ ضامن صيغه دَ نسبت دَپاره هم كيدې شی يعنی "ذوضمان" لكه دَ لابن اوتامر صيغې ذولبن او ذوتمر په معنی كښې دی مطلب هم هغه دې كوم چه پورته بيان شوی دی.

دالله تعالی د درې قسمه خلقو ذمه واری اخستل: په دې حديث كښې درې قسم خلق مراددی درې كسان مراد نه دی بيادَ دريواړو قسمونو نه ړومبی قسم ذمه واری په تفصيل سره بيان كړې شو چه هغه خلق شهيدان شی الله تعالی به هغوی په جنت كښې داخل كړی اويابه هغوی غازيان جوړولوسره مالا ومتاع او اجر اوثواب سره واپس كړی. دَ دويم او دريم قسم خلقو تفصيل په دې وجه بيان نه كړې شو چه دَهغوی حالت اوفضيلت واضح او ښكاره وو اوهغه داچه دَهغوی دَحيثيت مطابق به هغوی ته ثواب وركړې كيدې شی.

قوله: دَخَلَ بَيْتَهُ بِسَلَامٍ:

كورته په سلام سره د داخليدو دوه مطلبه: ① كله چه هغه سړې په كوركښې داخل شی نوكور والاته دَ سنت مطابق سلام اوكړی دَدې په بدله كښې به الله تعالی دَهغوی اودَهغوی دَ كوروالو حفاظت اوكړی او په هغوی باندې به بركتونه نازل كړی.

② كله چه هغه سړې كور كښې داخل شی نودَخلقو صحبت اودَ هغوی تعلق پريخودوسره په سلامتياسره هم په كوركښې پاتې كيدل په خپل خان باندې لازم كوی اودَ كور نه بهر نه اوخی دې دَپاره چه چاته دَهغه نه څه تكليف اونه رسی. دا مطلب لړ شان لرې معلوميږی په لمعات كښې دواړه مفهوم مذكوردی.

۷۲۸—د مانځه د پاره د کوره د وتونکی ثواب د محرم پشان

۷۲۸—(۱)[۳۶] ۱ وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ «مَنْ خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ مُتَطَهِّرًا إِلَى صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ ؛ ۳ فَأَجْرُهُ كَأَجْرِ الحَاجِ الْمُحْرِمِ، ۴ وَمَنْ خَرَجَ إِلَى تَسْبِيحِ الضُّحَى لَا يُنْصِبُهُ إِلَّا إِيَّاهُ ؛ ۵ فَأَجْرُهُ كَأَجْرِ الْمُعْتَمِرِ، ۶ وَصَلَاةٌ عَلَى إِثْرِ صَلَاةٍ لَا لَغْوَ بَيْنَهُمَا كِتَابٌ فِي عِلِّيِّينَ»). رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابو امامه رضي الله عنه راوي دي چې سرور کائنات ﷺ وفرمايل ۲ کوم سړي چې د اودس کولو سره د کور څخه اووځي او د فرض مونځ اداء کولو د پاره مسجد ته لاړ شی ۳ نو هغه ته دومره ثواب حاصليږي څومره چې احرام ترلو سره حج کونکي ته حاصليږي ۴ او کوم سړي چې د څاښت نفل لمانځه د پاره تکليف پورته کولو سره د کور څخه ووځي (يعني بغير د څه غرض او ريا نه محض د څاښت لمونځ د پاره د مونځ کولو په قصد د کور څخه ووځي) ۵ نو د هغه ثواب د عمره کونکي د ثواب برابر دي ۶ او د (يو) لمانځه څخه وروسته (دويم) مونځ کول او د دې دواړو لمونځونو په درمياني وخت کښې لغو او بې هوده خبري نه کول داسې عمل دي چې په عليين کې ليکل کيږي. (احمد، ابوداؤد)

حل اللغات: ۳ مُتَطَهِّرًا: په اودس کښې، ۵ الْمُحْرِمِ: احرام ترونکې يعنی حاجی. ۶ تَسْبِيحِ الضُّحَى: أَيْ: صَلَاةِ الضُّحَى: دساخت مونځ، تسبيح ذکر او اذکار ته وائی دلته تري دساخت مونځ مراد دي، څکه چه: وَكُلُّ صَلَاةٍ تَطَوُّعٍ تَسْبِيحَةٌ: هر نفل مونځ ته تسبيح وائی. ۷ لَا يُنْصِبُهُ: دا د نَصِبَ ماخوذ دي، وَهُوَ الْإِتْعَابُ: ستړی والی او تکليف پورته کولو ته وائی. ۸ الْمُعْتَمِرِ: عمره کونکي، ۹ إِثْرِ: أَيْ: عَقِيبَهُ: روسته، وريسې، ۱۰ لَغْوَ: أَيْ: بِكَلَامِ الدُّنْيَا: عبث يعنی دنياوی خبري، ۱۱ عِلِّيِّينَ: وَهُوَ عَلَمٌ لِلدِّيوَانِ الْخَيْرِ: د نيکو ليکلو رجستر دي.

تسهيلات:

قوله: فَأَجْرُهُ كَأَجْرِ الْمُحْرِمِ

دمتوضی د ثواب د حاجی د ثواب سره تشبيه: يعنی يومسلمان چه په ښه شان سره اودس جوړکړی او دَ فرض مونځ دَپاره جمات ته لاړشی او فرض کوی نودَه ثواب دومره زيات دي لکه دَحاجی دَ حج کولوثواب چه کيږی اوکه هم دغه مونځ ګذار صرف دَ چاشت دَمونځ دَپاره جمات ته ځی نوده ته دَ يوعمرې برابر ثواب ملاويږی. فرض مونځ مشبه دې اوحج مشبه به دي. دغه شان نفل مونځ دَ عمرې دَپاره مشبه دې او عمره مشبه به ده لکه چه فرض مونځ دَحج په شان دې او نفل مونځ دَ عمرې په شان دې او طهارت دَاحرام په شان دي.

د تشبيه په تاويل کښې څلور اقوال: ۱ علامه طيبی رحمه الله په خپله شرح کښې د دې يوتوجيه

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة، باب ما جاء فيفضل المشی إلى الصلاة (رقم-۵۵۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

دا ذکر کړې ده چې د یو عبادت اصل ثواب وی او یو اضافی ثواب وی تشبیه په اصل ثواب کښې وی په اضافی ثواب کښې نه وی.

④ علامه توریشتی رحمه الله فرمائی د دې تشبیه مطلب دا دې چه مشبه یعنی د مونځ ثواب چه کله ډیر چندې "مضاعف" یعنی ډبل کیږی نو هغه د حج د ثواب برابر کیږی کوم چه غیر مضاعف وی یعنی ډبل نه وی.

③ علامه توریشتی رحمه الله دویم جواب دا ورکړې دې چه دا تشبیه په مخصوص ځیز کښې ده په عمومی احوال کښې نه ده مطلب دا چه څنګه د کور نه د مانځه د پاره کله مونځ ګذار اوځی نو د کور د واپس کیدو پورې ده ته ثواب ملاویږی. دغه شان چه کله یو حاجی د کور نه اوځی نو واپس د کور راتلو پورې هغه ته ثواب ملاویږی لکه چه دا صرف په امتداد ثواب کښې تشبیه ده مساوات کښې نه ده.

④ شیخ عبد الحق رحمه الله په لمعات کښې فرمائی "هذا من باب الحاق الناقص بالكامل مبالغة في الترغيب وليس المراد التسوية من كل الوجوه" یعنی په دې تشبیه کښې مکمل مساوات نشته دې صرف په ترغیب کښې تشبیه ده چه فرض مونځ د حج په شان لوئی عبادت دې.

قوله: تَسْبِيحِ الضُّحَى:

نفلو باندې د تسبیح د اطلاق وجه: لفظ تسبیح د نوافل د پاره استعمالیږی د دې د تسمیه وجه داده لکه څنګه چه په فرض مونځ کښې تسبیحات د نوافلو په درجه کښې دی دغه شان د مونځ څخه علاوه په نورو مونځونو کښې د نوافل په درجه کښې دی. په دې وجه دا د تسبیح په نوم سره یاد کړې شو. "الضحی" د چاشت یعنی ساختی مونځ ته صلوة الضحی وائی د دې فضیلت او جواز یا عدم جواز باندې بحث روستو ان شاء الله راځی.

قوله: كِتَابٌ فِي عِلِّيِّينَ:

د علیین په مصداق کښې دوه اقوال: ① د کراماً کاتبین په خاص دفتر کښې به د دې ثواب لیکلې کیږی.

① علامه توریشتی رحمه الله فرمائی چه د ټولونه راجح قول دا دې چه علیین د خیر او برکت د هغه دفتر نوم دې په کوم کښې چه د صالحانو او نیکانو خلقو اعمال درج کیږی.

④ علیین د ټولو نه د بنکلی جنت نوم دې لکه څنګه چه سجیین د ټولونه د خراب دوزخ نوم دې.

④ علیین د اووم آسمان د پاسه د یو مقام نوم دې.

۷۲۹—په جماتونو د ریاض الجنة اطلاق

۷۲۹—(۱)[۳۷] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② (إِذَا مَرَرْتُمْ بِرِيَاضِ الْجَنَّةِ فَارْتَعُوا) ③، قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ! وَمَا رِيَاضُ الْجَنَّةِ؛ قَالَ: (الْمَسَاجِدُ) ④ قِيلَ وَمَا الرَّتْعُ؟ يَا رَسُولَ اللهِ! قَالَ: ⑤ (سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ))، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل ② هر کله چې تاسو د جنت باغونو سره تیریږي نو هلته میوي خوری ③ د حضور ﷺ څخه پوښتنه وشوه یا رسول الله ﷺ په دنیا کښې د جنت باغونه چیرته دي؟ حضور ﷺ وفرمایل مسجدونه (د جنت باغونه دي) ④ بیا څیني پوښتنه وشوه یا رسول الله ﷺ میوه خوړل څه دي (یعني په هغه کې میوي څنګه او خورو)؟ حضور ﷺ وفرمایل ⑤ سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ (په مسجدونو کې د دې کلماتو ورد کول میوه خوړل دي) (ترمذي)

حل اللغات: ① مَرَرْتُمْ: چه تاسو تیریږئ ② رِيَاضِ: روضه باغ ته وائی دې نه مراد جماتونه دی. ③ فَارْتَعُوا: باغونوته تلل اود خو مقاماتو سیل اوتفریح کول او بنکلې میوې دانې حاصلولو اود هغې خوړلوته رتع وائی.

تسهیلات:

قوله: إِذَا مَرَرْتُمْ بِرِيَاضِ الْجَنَّةِ فَارْتَعُوا:

جماتونه د جنت حاصلولو ذریعه: بهرحال په دې حدیث کښې مسلمانانوته ترغیب ورکولې شی چه جماتونو کښې په کثرت سره دالله تعالی ذکرکوئی. څوك چه په دنیا کښې په جماتونو کښې اوسیږی هغه به قیامت کښې په جنت کښې ځائی حاصلوی. وخت مه ضائع کوئی او ښه فائده حاصله کړئی. ځکه چه لږساعت پس به دا موقع د لاس نه اوځی.

۷۳۰—جمات ته د تلو مقصد

۷۳۰—(۲)[۳۸] ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ: ② («مَنْ أَتَى الْمَسْجِدَ لِشَيْءٍ، فَهُوَ حَظُّهُ»)، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل ② کوم سړي چې (د دین یا دنیا) د کوم کار د پاره مسجد ته راشي نو هغه ته به د هغې څخه حصه حاصلیږي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① حَظُّهُ: أي نَصِيبُهُ: حصه.

تسهیلات: قوله: فَهُوَ حَظُّهُ:

دحدیث مفهوم: یعنی کوم سړي چه دکوم مقصد دپاره جمات ته راځی هغه ته به هم هغه مقصد ملاویږی. که د عباداتو ښه اعمالو او ښه مقاصدو دپاره راغلو نود هغې ثواب به

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۵۰۹)
(۲) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة، باب فیفضل القعود فی المسجد (رقم-۴۷۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

ورته ملاویږي او که د ځان خودلو ګرېږ او غلطو مقاصدو د خورولو او دنیاوي اغراض دپاره راغلو نو دهغې نقصان به اوچته وي که جمات هرڅومره مقدس ځائی ولې نه وي د چا يو غلط عمل په دې کښې په نيك عمل سره بدليدې نه شي. داحديث لکه چه "انما الاعمال بالنيات" والاحديث دمضمون حصه ده.

۷۳۱—جمات ته د داخليدو او راوتلو دعا

۷۳۱—(۳۹) [۱] وَعَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ الْحُسَيْنِ، عَنْ جَدَّتِهَا فَاطِمَةَ الْكُبْرَى، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ صَلَّى عَلَى مُحَمَّدٍ وَسَلَّمَ، [۳] وَقَالَ: (رَبِّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي، وَافْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ)، [۴] وَإِذَا خَرَجَ صَلَّى عَلَى مُحَمَّدٍ وَسَلَّمَ، وَقَالَ: [۵] (رَبِّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي، وَافْتَحْ لِي أَبْوَابَ فَضْلِكَ») ، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَابْنُ مَاجَهْ

ترجمه: [۱] بي بي فاطمه بنت حسين د خپلي انا فاطمة الكبرٰي (زهرا) رضي الله عنها څخه روايت كوي [۲] چې حضور ﷺ به چې كله مسجد ته تشريف راوړو نو محمد ﷺ باندې به يې درود او سلام ليږلو يعنى دا الفاظ به يې فرمايل صَلَّى اللهُ عَلَى مُحَمَّدٍ وَسَلَّمَ [۳] يا به يې فرمايل: رَبِّ اغْفِرْ لِيْ ذُنُوْبِيْ وَافْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ، يعنى اي زما پروردګاره زما ګناه وبخښي او زما د پاره د خپل رحمت دروازې خلاصې كړې [۴] او كله به چې د مسجد څخه وتلو دا الفاظ به يې فرمايل صَلَّى اللهُ عَلَى مُحَمَّدٍ وَسَلَّمَ [۵] او فرمايل به يې چه: رَبِّ اغْفِرْ لِيْ ذُنُوْبِيْ وَافْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ فَضْلِكَ يعنى اي زما پروردګاره زما ګناه وبخښي او زما دپاره دخپل فضل دروازې خلاصې كړي دا روايت ترمذي، احمد، ابن ماجه نقل كړي دي

[۱] وَفِي رِوَايَتِهِمَا، قَالَتْ [۲] «إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ، وَكَذَا إِذَا خَرَجَ، قَالَ [۳] (بِسْمِ اللّٰهِ، وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ)، بَدَلَ: صَلَّى عَلَى مُحَمَّدٍ وَسَلَّمَ.» [۴] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ، [۵] وَفَاطِمَةُ بِنْتُ الْحُسَيْنِ لَمْ تُدْرِكْ فَاطِمَةَ الْكُبْرَى. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او د احمد او ابن ماجه په روايت كې دا الفاظ دي چې بي بي فاطمه فرمايي [۲] چې حضور ﷺ چې به كله په مسجد كې داخليدو او دغسې چې كله به بهر راوتلو [۳] نو صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وسَلِّمْ په ځاى به يې دا الفاظ فرمايل بِسْمِ اللهِ وَسَلَامٌ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ، يعنى زه د الله جل جلاله په نوم سره داخليږم او وځم او په رسول الله دې سلامتي وي، [۴] امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې د دې حديث سند متصل نه دي [۵] ځكه چې د حضرت حسين رضي الله عنه لور فاطمه د بي بي فاطمه زهرا رضي الله عنها بنت رسول الله ﷺ زمانه نه ده موندلې او د هغې سره نه ده يو ځاى شوي.

(1) اخرجه الترمذی كتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم /باب ما يقول عند دخوله المسجد (رقم-۳۱٤) وابن ماجة كتاب المساجد والجماعات ،باب الدعاء عند دخول المسجد(رقم-۷۷۱)

تسهیلات:

قوله: "أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ"

جمات ته د داخلیدو جامع دعا: چونکه په جمات کښې داخلیدونکي مسلمان دَ څه دنیاوي اغرض اومقاصدو دَپاره دننه نه خي بلکه صرف دَ عبادت او الله تعالی دَ رضا دَپاره خي. په دي وجه دَدي موقع دَپاره ډیرمناسب دی چه سړي دَ الله تعالی نه دَهغه دَ رحمتونو او برکتونو دَ فیضان سوال اوکړی.

قوله: (رَبِّ اغْفِرْلِي ذُنُوبِي،

جمات نه دوتلو دعا: کله چه سړي دَ جمات نه بهر خي نو په عام توګه بازارونو او دکانونوکښې دَ رزق دَ حاصلولو اوحلالې ګټې کوشش کوی. نو په داسې موقع باندې موزون دی چه سړي دا اووائی "اللهم افتح لي ابواب فضلك" ځکه چه دَ فضل نه دلته حلاله ګټه مراد ده.

قوله: لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ:

د حدیث انقطاع: په دي حدیث کښې دَ جمات داخلیدو او بهر وتو ټول آداب او په جامع انداز سره دَ ټولو دعاګانو بیان کړې شوي دي. اګرچه په دي حدیث کښې انقطاع ده اوحدیث متصل دي ځکه چه دَ حضرت حسین رضی الله عنه لور فاطمه هغه وخت پیدا شوي هم نه وه کوم وخت چه دَ حضرت فاطمة الزهری رضی الله عنها انتقال شوي وو بلکه دَحضرت فاطمة الزهری رضی الله عنها دَ انتقال په وخت خوحضرت امام حسین رضی الله عنه دَ اتو کالو وو.

[۷۲۲] په جمات کښې ناجائز کارونه

۷۳۲ [۳۰] (۱) [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ [۲] نَهَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ عَنْ تَنَاشُدِ الْأَشْعَارِ فِي الْمَسْجِدِ [۳] وَعَنِ الْبَيْعِ وَالْاِشْتِرَاءِ فِيْهِ [۴] وَأَنْ يَتَحَلَّقَ النَّاسُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ قَبْلَ الصَّلَاةِ فِي الْمَسْجِدِ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِي

ترجمه: [۱] عمرو بن شعیب د خپل پلار څخه او هغه د خپل نیکه څخه روایت کوي [۲] چي رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړي ده په مسجد کې د اشعار ویلوڅخه [۳] او د خریدو فروخت کولو (اخستلو اوخرڅولو) څخه [۴] او د جمعي په ورځ د لمانځه څخه مخکې د خلقو حلقه جوړولو سره د ناستي څخه (اګرچه حلقه جوړولو سره ناسته مذاکره دعلم او ذکر و تسبیح د پاره ولي نه وي) (ابوداؤد، ترمذي)

---

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب التَّحَلُّق يَوْمَ الْجمعة قبل الصلاة (رقم-۱۰۷۹) والترمذی كتاب الصَّلَاة عَنْ رَسول الله صَلَّى الله عليه وسلمَ/باب مَا جَاءَ في كَراهيَة البيع وَالشّراء وَإِنشاد الضالة وَالشعر في المَسْجد (رقم-۳۲۲) وابن مَاجة كتَاب المَسَاجد وَالجَمَاعَات، بَاب مَا يكره في المَسَاجد حَدَّثنَا (رقم-۷۴۹) والنسائی كتاب المساجد/باب النَّهي عَن البَيْع وَالشِّرَاء في المَسْجد وَعَن التَّحَلُّق قَبْلَ صَلَاة الجمعة رقم (۷۱۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

حل اللغات ① تَنَاشُدِ الْأَشْعَارِ: اشعار وئیل ② يَتَحَلَّقَ: چه خلق حلقه جوړولو سره کیني

قوله: تَنَاشُدِ الْأَشْعَارِ

په جماتونو کښې د اشعارو وئیلو د ممانعت وجه: اشعار وئیل (ددې نه مراد مذموم اشعار دی کوم کښې چه په یوبل د فخر او لوئي والي یا د وخت پاس کولو او دنفس دخوشحالولو دپاره وي نو دا مذموم دی اوکه دحق تعریف او د باطل رد وي نو دا ممدوح دی جائز دی).

قوله: وَعَنِ الْبَيْعِ وَالِاشْتِرَاءِ فِيْهِ

په جمات کښې د دنیاوی خبرو حرمت: په جمات کښې چې څنګه خرڅول او اخستل منوع او حرامت دی دغه شان په جمات کښې دنیاوي خبرې اوبې مقصده قصې وغیره کول هم حرام دی. فقهاؤ لیکلي دي چې کوم کس د سنتو نه پس اوفرض مونځ ادا کولو نه مخکې په جمات کښې دنیاوي خبرې اوکړي نو د ده سنت ضائع شو بعضې عالمانو لیکلي دي چې دوباره به سنت کوي البته بعضې عالمانودا فرمائیلي دي. چې د سنتو دوباره کول پرې نشته خو کوم ثواب چې وو هغه ختم شواو ضائع شو.

قوله: وَأَنْ يَتَحَلَّقَ النَّاسُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ قَبْلَ الصَّلَاةِ فِي الْمَسْجِدِ.

په جمات کښې د حلقې جوړولو د ممانعت وجوهات: ① په جمات کښې د حلقو جوړولو څخه منع راغلي ده اګرچې د درس او تدریس یا تعلیم او تعلم دپاره وي. څکه چې جمات د مونځونو دپاره جوړشوی دی. نو چې کوم مونځګذار جمات ته راشي. هغوی لره پکاروي چې په اول صف کښې کیني اودغه شان د صفونو د ترتیب خیال اوساتي. اوچې په جمات کښې حلقه جوړه شوې وي نوبیا صفونه نشي برابریدې. البته که مانځه وخت نه وي نو بیا په کښې څه حرج نشته.

② دجمعې مونځ پخپله یو ډیر لوئې عمل دې. ترڅوپورې چې د دې څخه فراغت نه وي شوې نو په بل عمل کښې مشغوله کیدل نه دي پکارڅکه چې دا د جمعې د مونځ په ادا کولو کښې رکاوټ راولي.

③ دخطبې په وخت کښې صرف خطبه اوریدل پکار دی حلقه جوړول د خطبې په استماع کښې مخل ګرځي. خودا دریمه وجه صرف دخطبې سره خاص کیږي. چې د خطبې په دوران کښې حلقه جوړول نه دي پکار خو په یو روایت کښې مطلقاً د حلقې جوړولو څخه منع راغلې ده. په دې صورت کښې صرف د جمعې د ورځې او دخطبې تخصیص نشته بلکه په عامو مونځونو کښې هم حلقه نه دی جوړول پکار.

۷۳۳ – په مسجد کښې سودا کړې وغيره

۷۳۳ – ( ) [۴۱] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② ((إِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَبِيعُ أَوْ يَبْتَاعُ فِي الْمَسْجِدِ، ③ فَقُولُوا: لَا أَرْبَحَ اللّٰهُ تِجَارَتَكَ، ④ وَإِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَنْشُدُ فِيهِ ضَالَّةً، ⑤ فَقُولُوا: لَا رَدَّ اللّٰهُ عَلَيْكَ))، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هر كله چې تاسو يو سړي په مسجد كې په خرڅولو اغستلو ووينئ ③ نو ورته اووايئ: الله دي وكړي چې ستا په سوداګرئ كې درته هيڅ نفع ونه شي ④ او هر كله چې تاسو (په مسجد كې بلند (او اوچت) آواز سره ورك شوې شي لټونكي (تلاش كونكي) ووينئ ⑤ نو اووايئ الله دي وكړي چې ستا شي درته حاصل نه شي. (ترمذي، دارمي)

حل اللغات: ① لَا أَرْبَحَ اللّٰهُ: ګټه او نفع دې درنكړي الله پاک، ② ضَالَّةً: أَيْ: سَاقِطَةً: ورک شوې څيز.

تسهيلات:

د جماتونو د جوړولو مقصد: جماتونه د مونځونو تلاوتونو او د الله تعالى د ذكرونو د پاره جوړ شوي دي. كوم سړي چه په دې كښې دنياوي معاملات او تجارتونه كوي هغه د جمات جوړولو مقاصد او د جماتونو تقدس د خپو لاندې كوي. په دې وجه شريعت په جمات كښې د دې قسم كارونو اجازت نه وركوي او د دې حوصله شكنى كوي. هم په دې سلسله كښې حضور پاک ﷺ د زجر او تشديد دا فرمائيلي چه په جماتونو كښې دا قسم معاملات كونكي سړي ته وايه چه الله تعالى دې ستا په تجارت كښې تا له كاميابي درنه كړي. [المرات: ۲/۴۴۰]

قوله: "لَا أَرْبَحَ اللّٰهُ تِجَارَتَكَ"

د خيرو په مفهوم كښې دوه اقوال: ① علماؤ ليكلي دي چه دا الفاظ په حديث باندې عمل كولو سره صرف په ژبه سره ادا كول پكار دي. مګر په زړه سره د بددعا اراده نه دي كول پكار. او ممكن ده چه حقيقي بددعا مراد وي دې د پاره چه په تجارت كښې د كټې نه كيدو د وجې نه دا سړې راتلونكى وخت كښې جماتونه د دغه دنياوي كارونو نه پاك اوساتي.

۷۳۴ – په جمات كښې د حدودو قائمول

۷۳۴ – ( ) [۴۲] ① وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ، قَالَ: ② ((نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يُسْتَقَادَ فِي الْمَسْجِدِ، ③ وَأَنْ يُنْشَدَ فِيهِ الْأَشْعَارُ، ④ وَأَنْ تُقَامَ فِيهِ الْحُدُودُ)) ⑤ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ فِي (سُنَنِهِ)، وَصَاحِبُ (جَامِعِ الْأُصُولِ)، فِيهِ عَنْ حَكِيمٍ.

(۱) اخرجه الترمذی کتاب البیوع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب النهی عن البیع فی المسجد (رقم-۱۳۲۱)
(۲) اخرجه ابوداود کتاب الحدود/باب فی إقامة الحد فی المسجد (رقم-۴۴۹۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [۱] حکیم بن حزام رضی الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ منع فرمايلي ده په مسجد کې د قصاص اخستو (يعني د قاتل د وينې بيولو) څخه [۳] د اشعارو ويلو څخه [۴] او (زنا کولو او شراب څکلو وغيره) باندې حدود قائمولو څخه، [۵] ابوداؤد او دا روايت صاحب جامع الاصول په خپل کتاب جامع الاصول کې د حکيم څخه (يعني بغير د لفظ ابن حزام) روايت کړي دي.

حل اللغات: ① يُسْتَقَادَ: په استفاد کښې سين اوتاء دَ طلب دَپاره دی. أَيْ: يُطْلَبَ الْقَوَدُ: قود قصاص ته وائی يعنی قصاص اخستل او څوك جمات کښې دَ قصاص په توګه قتل کول منع دی ځکه چه په دې سره به په جمات کښې وينه توئيږی په کوم سره چه دَجمات دَ ناپاك او خرابيدو خطره ده. ② تُقَامَ: قائم کول، نافذ کول. ③ الْحُدُودُ: د حد جمع ده، شرعی سزاګانو ته وائی لکه حد قذف، حد زنا، حد خمر، حد سرقه وغيره.

تسهيلات: قوله: أَنْ يُسْتَقَادَ:

په جماتونو کښې د حدودو د نفاذ ممانعت: دَ حديث مطلب دانه دې چه په زبانی توګه باندې دَ قصاص مطالبه جمات کښې نه دی کول پکار او "ان تقام فيه الحدود" الفاظ په دې باندې دلالت کوی چه په عملی توګه باندې دا افعال په جمات کښې نه دی نافذ کول پکار. بل دا آخری جمله دَ حديث اولې حصې نه پس تعميم بعد التخصيص په توګه ذکر کړې شوې دې. دَ حدودنه مراد ټول حدوددی که هغه حقوق الله سره متعلق وی او که حقوق العباد سره متعلق وی

په جمات کښې د حدودو د نفاذ د ممانعت وجوهات:

① ځکه چه په دې کښې دَ جمات بې حرمتی هم ده

② داخطره هم ده چه دَ حدود په نافذ کولو جمات خراب شی.

په حديث باندې د خلفاء راشدينو عمل: په شرح السنه کښې ليکلی دی چه حضرت عمر رضی الله عنه واجب الحد سړی باره کښې فرمائيلی چه دې دَ جمات نه بهر اوباسئی دغه شان حضرت علی رضی الله عنه وئيلی دی.

قوله: فِيهِ عَنْ حَكِيمٍ:

دحکيم بن حزام تعارف: دَ مشکوة شريف په دې روايت کښې حکيم بن حزام ذکر دې دَ حزام په حاء باندې کسره ده داد حکيم دَ پلارنوم دې. صاحب دَ جامع الاصول صرف حکيم ذکر کړې دې او دَ ابن حزام لفظ ئې نه دې لګولې ممکن ده چه هغه حکيم بل څوك وی سره دَدې چه ښکاره هم دغه دې چه دَحکيم نه هم ابن حزام مراد دې ځکه چه هم دغه صحابی دې. دَدوی نه علاوه حکيم بن معاويه دې دَ کوم په صحابی کيدو کښې چه اختلاف دې. (كذا في المرقات)

د حکیم بن حزام دوه تاریخی عجائبات: امام مسلم رحمه الله صحیح مسلم ج۲ ص۶ باندې لیکلي دي: "قال مسلم بن حجاج ولد حکیم بن حزام في جوف الکعبة وعاش مأة وعشرین سنة" یعنی دغه صحابی ته هغه تاریخی عجوبې حاصلې دي.

① یو دا چه دَ کعبه په مینځ کښې پیدا شوې. معلومه شوه چه مولود کعبه صرف حضرت علی رضي الله عنه نه دې. په هغه زمانه کښې چه به کومې ښځې ته دَبچی پیدا کیدو کښې پریشانی وه نو هغه به دَ کعبه پناه کښې راتلله نو په ولادت کښې به آسانی راتلله. شیعه گان هسې جشن مولود کعبه کوی.

② دَدې صحابی دویمه عجوبه دَهغه عمر شپږ شلې کاله وو دا ډیر اوږد عمر دې دَ کوم ذکرچه دَ تعجب نه خالی نه دې. [اخرجه مسلم: ۲/۶]

۷۳۵-()[۰][١] وَفِي (الْمَصَابِيحِ)، عَنْ جَابِرٍ

ترجمه: [١] او دا روایت په مصابیح کې د جابر رضي الله عنه څخه منقول دي (او دا په اصول کې موجود نه دي.)

۷۳۶- د مانځه په وخت کښې د پیاز او اوږې د خوړلو کراهت

۷۳۶-()[۳۳][١] وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ، عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، [٢] «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نَهَى عَنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ - يَعْنِي الْبَصَلَ وَالثُّومَ - [٣] وَقَالَ: (مَنْ أَكَلَهُمَا فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا)، [۴] وَقَالَ: (إِنْ كُنْتُمْ لَابُدَّ آكِلِيهِمَا، فَأَمِيتُوهُمَا طَبْخًا»)، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] معاویه بن قرة رضي الله عنه د خپل پلار څخه روایت کوي [٢] چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوو بوټو یعنی پیاز او اوږه خوړلو څخه منع کړي ده [٣] او وي فرمایل کوم سړي چې دا خوري هغه دي زمونږ (یعني د مسلمانانو) مسجدونو ته نږدې نه راځي [۴] او وي فرمایل که تاسو د دې خوراك ضروري ګڼي نو په پخولو سره د دې بدبوي لرې کړي (او وي خوري). (ابوداود)

حل اللغات: ① الْبَصَلَ: پیاز، ② وَالثُّومَ: اوږه، ③ فَأَمِيتُوهُمَا: أَيْ: أَزِيلُوا رَائِحَتَهُمَا بِالطَّبْخِ: یعنی پخولو سره ددې بدبوئی ختمه کړئ: ④ لَابُدَّ: أَيْ: لَا فِرَاقَ وَلَا مَحَالَةَ: بَدَّدَ باب تفعیل نه تبدیدًا دَتفریق او جدا کولو په معنی کښې دی، یعنی که ډیر ضروری وی او پریښودې ئې نه شئ: ⑤ طَبْخًا: پخول.

دابن قره مختصر تعارف: معاویه تابعی دې او دَهغه پلار قره رضي الله عنه دې. قاف مضموم او راء مشدده ده. قره بن ایاس بن هلال مزنی صحابی دې.

تسهیلات:

قوله: نَهَى عَنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ - يَعْنِي الْبَصَلَ وَالثُّومَ:

---

(١) اخرجه المصابیح السنة

(٢) اخرجه ابوداود کتاب الأطعمة/باب فی أکل الثوم (رقم-۳۸۲۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

اشکال: په عام عرف کښې شجره ونې ته وائی حالانکه دَ پیاز او اوګې بوټې وی ونه نه وی. کیدې شی

داشکال جواب: شیخ عبدالحق رحمه الله لیکلی دی چه فی الصراح "شجره بر چه ساق دار درخت وبات" یعنی دَ شجرې اطلاق په هر هغه بوټی باندې کیږی چه په پنډئی باندې ولاړ وی که دَ ونې په شکل وی اوکه دَ بوټی په شکل وی لهذا دَ پیاز او اوګې په بوټو باندې دَ شجره اطلاق صحیح شو.

قوله: "هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ"

په اشاره کښې دوه احتمالات: ① په هاتین کښې دې دواړو بوټو طرف ته اشاره ذهنیه ده ② ممکن ده چه دا دواړه بوټی دَخبرو اترو په وخت مجلس کښې موجود وو په دې صورت کښې به دا اشاره حسیه وی.

په پیاز په حکم کښې نور څیزونه: ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی دَ پیاز او اوګې په حکم کښې مولئی اوګندنه هم دی. یعنی هر هغه څیزچې بدبوئې داره وی. هغه د دې په حکم کښې شامل دې.

قوله: -فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا:

په عدم قربت إلی المساجد کښې مبالغه: جمات ته دَ نیزدې کیدو ممانعت دَ مبالغه په توګه دې چه جمات ته دننه تلل خوڅه چه جمات نیزدې کیدل هم منع دی ترکومې چه دَدې دواړو څیزونو بدبوئی موجود وی کله چه بدبوئی په څه شان سره ختمه شی بیا تلل جائزدی

جمات ته د نه نزدې کیدو وجه: دَ ممانعت وجه داده چه په جمات کښې فرښتوته تکلیف رسی، معلومه شوه چه فرښتې هروخت په جمات کښې وی که انسان وی اوکه نه وی. "مسجدنا" اشاره دَ دې ملت دَ هرجمات طرف ته ده په حدیث کښې دې طرف ته هم اشاره ده چه دَدې دواړو څیزونوخوراك هغه وخت منع دې کوم وخت چه سړې جمات ته تلل غواړی. که چرې جمات ته تلل نه وی نو په نورو وختونوکښې دَدې څیزونو خوړل جائزدی.

حدیث د بعضې جملو وضاحت: ① إِنْ كُنْتُمْ لَابُدَّ: لابد په معنی لافراق اولامحالة شو اودَ "لا" خبر محذوف دې یعنی اکلها. اودا جمله دکان اسم اودَدې دَ خبر په مینځ کښې جمله معترضه ده اودَ کان خبر اکلیهما دې.

② فَأَمِيتُوهَا طَبْخًا: امانت نه ازاله رائحه کریهه مراد ده که دَ پخولوسره وی یا په بل څه طریقه باندې وی دَ پخولوذکر استعمال غالب په توګه باندې دې.

۷۳۷- د مقبرې او حمام څخه علاوه ټوله زمکه باندې د مونځ کولو جواز

۷۳۷ -()[۳۳] ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «الْأَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدٌ إِلَّا الْمَقْبَرَةَ وَالْحَمَّامَ»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① ابوسعيد رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د مقبرې او حمام څخه علاوه ټوله زمکه مسجد دي (چې په هر ځاي کې مونځ کيدي شي). (ترمذي، دارمي.)

حل اللغات: ① مَسْجِدٌ: أَيْ: يَجُوزُ السُّجُودُ فِيهَا: مسجد کيدونه مراد دادی چه په زمکه باندې بغير د کراهت نه مونځ کول جائزدی سوا دبعضې ځايونونه چه دهغې استثناء په احاديثو کښې موجود ده. ② الْحَمَّامَ: دا دحميم نه ماخوذ دي، ګرمو اوبو ته وائی، غسل خانه ترې مراد ده.

تسهيلات:

قوله: "الْأَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدٌ"

د ټولې زمکې جمات ګرځولو خصوصيت: دادَ دې امت خصوصيت دې چه په هره پاکه زمکه باندې مونځ کول جائزدی خودَ بنی اسرائيلو مونځ بغيردَ جمات نه په بله زمکه باندې جائزنه وو او په جمات کښې بغيردَ جمع نه جائز نه وو. په دې حديث کښې اوخودلې شو چه بغيردَ کراهت نه دَ زمکې په هره پاکه حصه باندې مونځ کول جائز دی.

[اشعة المعات: ۳۶۲]

قوله: الْمَقْبَرَةَ"

دمقبره د لفظ لغوی تحقيق: په دې لفظ کښې په حرف باء باندې زبر زير او پيش درېواړه حرکتونه ونيلې کيدې شی چرته چه مړی خښيږی دَهغوی دَ قبرونو مقام ته مقبره وائی کوم ته چه قبرستان يعنی اديره ونيلی شی.

په مقبره کښې د مونځ د کراهت وجه: قبرستان کښې مونځ ځکه مکروه دې چه هلته عموماً ګندګی وغيره وی ځکه چه دَ مړو دَ بدنونو خاوره هلته خوره شوې وی. که چرې په يو ايره کښې دا قسم ناپاکی نه وی او دَ قبرونو نه چرته په غاړه پاك ځائی موجود وی نوهلته په مونځ کولو کښې هيڅ حرج نشته. ليکن بعضې علماء دې طرف ته تلی دی چه دَ ظاهرحديث په رڼا کښې په قبرستان کښې مطلقاً مونځ کول مکروه دی اودَ قبرطرف ته مخ کولوسره مونځ کول خوحرام دی. تفصيل حديث نمبر (۷۱۳) کښې اول تيرشوې دي.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب في المواضع التى لا تجوز فيها الصلاة (رقم-۴۹۲) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن الأرض كلها مسجد إلا المقبرة والحمام (رقم-۳۱۷) وابن ماجة كتاب المساجد والجماعات ،باب المواضع التى تكره فيها الصلاة (رقم-۷۴۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: "وَالْحَمَّامِ"

په حمام کښې د مونځ د کراهت دوه وجوهات: ① حمام ته دَ ګرمو اوبودَ وجې نه حمام وائی په دې کښې مونځ ځکه مکروه دې چه په هغې کښې خلق بدن بربندوی.

② په دې حمامونو کښې شیطانانو ډیرې اچولې وی.

۷۳۸– په اووه ځایونو کښې د مونځ کولو کراهت

۷۳۸–(۱)[۳۵] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ② «نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يُصَلَّى فِي سَبْعَةِ مَوَاطِنَ: ③ فِي الْمَزْبَلَةِ، ④ وَالْمَجْزَرَةِ، ⑤ وَالْمَقْبَرَةِ، وَقَارِعَةِ الطَّرِيقِ، وَفِي الْحَمَّامِ، ⑥ وَفِي مَعَاطِنِ الْإِبِلِ، ⑦ وَفَوْقَ ظَهْرِ بَيْتِ اللّٰهِ»، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① ابن عمر رضی الله عنهما فرمایي ② چې رسول الله ﷺ په اوه مقاماتو باندې مونځ کولو ځکه منع فرمایلي ده ③ ① اول چیرته چې ناپاك شي غورځول شوي وي (یعنې ډیران) ④ ② دویم چېرته چې حیوانات ذبح کیږي (یعنې قصاب خانه) ⑤ ③ دریم مقبره ④ څلورم د لار په مینځ کښې ⑤ پنځم په حمام کې ⑥ ⑥ شپږم د اوښانو د تړلو په ځای کې ⑦ ⑦ او اوم د خانهٔ کعبې په چهت. (ترمذي، ابن ماجة)

حل اللغات: ① الْمَزْبَلَة: د ګند غورځولو ځای یعنې ډیران، ② الْمَجْزَرَة: وَهِيَ الْمَوْضِعُ الَّذِي تُنْحَرُ فِيهِ الْإِبِلُ وَتُذْبَحُ الْبَقَرُ وَالشَّاءُ: چرته چه ځاروی ذبح کولې شي یعنې ذبح خانه، قصابخانه، ③ الْمَقْبَرَة: قبرستان، ④ قَارِعَةِ الطَّرِيقِ: قارعه ټکولو اووهلو په معنی کښې دې چونکه دَعام خلقو په تګ راتګ سره عام لاره دَ خپو لاندې کولې اووهلې شي. په دې وجه ارتې عام او درمیانه لارې ته قارعه اوونیلې شو. په دې اعتبارسره دَ الطریق طرف ته دا اضافت دې. ⑤ مَعَاطِنِ الْإِبِلِ: معاطن د عطن یا د معطن جمع ده، وَهُوَ مَبْرَكُ الْإِبِلِ حَوْلَ الْمَاءِ: دا هغه ځائی ته وائی چرته چه اوښ اوبه څکی او آرام کوی اودا هغه مقام ته هم وائی چرته چه دَ شپې په وخت اوښ تړلې شی یعنې د اوښانو غوجل.

تسهیلات:

په مذکوره ځایونو کښې د مانځه د ممانعت په حکم کښې مذاهب:

چرته چه حضورپاك دَمونځ کولونه امت منع کړې دې علماؤ دغه ممانعت په کراهت باندې حمل کړې دې. خود کراهت په نوعیت کښې اختلاف دې.

① دَ بعضې علماؤ په نیز کراهت تنزیهی دې کوم چې اقرب الی الحلال وی. اودَ خلاف اولی په معنی کښې هم مستعمل دې

② دَ بعضو علماؤ په نیزکراهت تحریمی دې مکروه تحریمی اقرب الی الحرام وی. علماؤ

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة ما یصلی إلیه وفیه (رقم-۳۴۶) وابن ماجة کتاب المساجد والجماعات ،باب المواضع التی تکره فیها الصلاة (رقم-۷۴۶)

دا قاعده هم لیکلې ده چه چرته مکروه مطلق راشي نو دَهغې نه مکروه تحریمي مراد وي.

قوله: "وَقَارِعَةِ الطَّرِيقِ"

د لارې په مینځ کښې د مونځ کولو د ممانعت وجوهات: ملاعلي قاري لیکلي دي.

① عامو خلقو دَ تنګ راتګ دَ وجې نه په مونځ کښې خیال او فکر یوشان باقي نه پاتې کیږي.

② عامو خلقو ته په دې سره تکلیف هم کیږي

③ داسې بې محل اودریدو سره به خلق دَمونځ ګذار مخې ته تیریږي نوهغوی به هم ګناهکار کیږي او بې ځایه اودریدونکې دا مونځ ګذار به هم ګناهګاریږي. هم دغه وجه ده چه که څوك مونځ ګذار دَ صحراء دَ لارې په مینځ کښې مونځ کول شروع کړي نو دَ بعضې علماؤ په نیز هلته منع نه دې ځکه چه هلته دَخلقو تګ راتګ نه کیږي. (کذافي المرقات).

④ په مونځ کښې خشوع خضوع او توجه الی الله پکار وي او په لار کښې مونځ کولو کښې دا صفات په مشکله راځي.

قوله: "وَفِي مَعَاطِنِ الْإِبِلِ"

د اوښانو په غوجل کښې د مونځ دکراهت وجه: په دغه ځائی کښې مونځ کول ځکه مکروه دی چه په دې کښې عموماً نجاست وي. که چرې دَ ځائې نماز او مصلې نه بغیرچا داسې ځائی کښې مونځ اوکړو نومونځ ئې فاسد کیږي اوکه چرې ګدئې خوره کړي نو بیا هم مونځ مکروه کیږي ځکه چه په داسې مقام کښې بدبوئی لازمي وي. دا بحث دَ هغه وخت دې چه په غوجل کښې اوښ موجود نه وي اوکه چرې موجود وي نومطلقًا مکروه دې. ځکه چه اوښ یو وحشي ځناور دې ورانیدې شي او په ټوپونو کیدې شي بل هغه دَ آسمان نه متیازې راپریږدي لهذا دَ مونځ ګذار کپړې پاکې پاتې کیدل اودَ ځائی پاك پاتیکیدل ممکن نه دی لکه څنګه چه وړاندې حکم راروان دې.

قوله: "وَفَوْقَ ظَهْرِ بَيْتِ اللّٰهِ"

د خانه کعبې دپاسه د مونځ کولو د کراهت وجه: دَ ظهر لفظ راوړلو سره ئې اشاره اوکړه چه که دَبیت الله نه یوځائی اوچت وي نو هلته مونځ مکروه نه دې لهذا کراهت خاص دې. دَ بیت الله دَ پاسه اودریدوسره اودا کراهت دَ احترام بیت الله او ادب بیت الله دَ وجې نه دې. معلومه شوه دَ بیت الله نه تعمیرات بنکته ساتل دَ شریعت منشا ده. په دې کښې ادب دې "الدین کله ادب" اودَ بیت الله نه دَ عمارتونو اوچت ساتل عرفاً بې ادبي ده.

د نبی کریم ﷺ د نهی د الفاظو په حیثیت کښې مخلور اقوال: ① دَ علماؤ یوه طبقه وائي چه دې لفظ سره مطلقًا فساد او ناجائز کیدو طرف ته اشاره کیږي.

② په نهي کښې فساد طرف ته اشاره نه ده بلکه دَ فسادنه دکمې درجې طرف ته اشاره ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

③ په عبادتونو کښې کله نهي رسول الله راشي هغه دَعدم جواز طرف ته اشاره ده او په معاملات کښې که چرې دا لفظ راشي نودَعدم جواز طرف ته اشاره نه ده.

④ که چرې د نهي متعلق دَ نفس فعل وي لکه دَ اخترونو په ورځ روژه ساتل نودَ عدم جواز طرف ته اشاره ده اوکه چرې نهي دَ نفس فعل سره متعلق نه وي بلکه په څه واسطه سره وي لکه په غصب شوې زمکه باندې مونځ نو په داسې صورت کښې به عدم جواز مراد نه وي بلکه دَدې نه به کمه درجه مراد اخستې شي چه دکراهت درجه ده. ملاعلي قاري رحمه الله مرقات شرح مشکوة کښې دا قسم بحث کړې دې. خلاصه دا چه په احاديثو کښې دَنهي تعلق کله حرام سره وي کله مکروه تحريمي سره وي کله مکروه تنزيهي او خلاف اولی سره وي.

۷۳۹- دَ ګډو او اوښانو په غوجل کښې د مونځ حکم

۷۳۹-(۱)[۳٦] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (②«صَلُّوا فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ، ③وَلَا تُصَلُّوا فِي أَعْطَانِ الْإِبِلِ»)، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د بزو تړلو په ځاي کې مونځ کوئ ③ البته د اوښانو د تړلو په ځاي کې مونځ مه کوئ. (ترمذي)

حل اللغات: ① مَرَابِضِ الْغَنَمِ: دادَ مربض جمع ده، وَهُوَمَأْوَى الْغَنَمِ: دَ چيلو دَ تړلو ځائی ته وائی. ② أَعْطَانِ الْإِبِلِ: أعطان اومعاطن يوڅيز دې، د عطن يا د معطن جمع ده، وَهُوَمَبْرَكُ الْإِبِلِ حَوْلَ الْمَاءِ: دا هغه ځائی ته وائی چرته چه اوښ اوبه څکی او آرام کوی اودا هغه مقام ته هم وائی چرته چه دَ شپې په وخت اوښ تړلې شي يعني د اوښانو غوجل.

تسهيلات:

قوله: وَلَا تُصَلُّوا فِي أَعْطَانِ الْإِبِلِ:

د چيلو او اوښانو په غوجل کښې د مونځ کولو په حکم کښې فرق: ① دَ چيلو او اوښانو دَ تړلو ځائی کښې دَمونځ کولو اونه کولوشرعی حکم کښې په دې وجه فرق دې چه دَ اوښانو باړه په عام توګه نرمه زمکه باندې وي. په کوم کښې چه متيازې خورېږی او جذب کيږی. اودچيلو باړه په سخته زمکه باندې وي په هغې کښې متيازې خورېږی نه څه ځائی پاک پاتې کيږی په کوم کښې چه مونځ کولې شي.

② اوښ ډير زر اودريدوسره متيازې راپريږدی په کوم سره چه دَ مونځ ګذار کپړې او بدن ناپاکه کيدې شي خو په چيلو کښې داسې نه وي.

③ اوښ يو وحشي ښناور دې ډير لوئی هم دې ده سره نيزدې ځائی مونځ کولوسره به

(۱) اخرجه الترمذي كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب ما جاء في الصلاة في مرابض الغنم. وأعطان الإبل (رقم-۳٤۸) وابن ماجة كتاب المساجد والجماعات ،باب الصلاة في أعطان الإبل، ومراح الغنم(رقم-۷٦۸)

تشویش کیږي خشوع او خضوع کښې به فرق راځي. ځکه چه بعضې روایتونوکښې راغلی دی چه اوښ دَ شیطانانو نه دې. په یو روایت کښې دی چه اوښ دَ پیریانودَ ذات نه پیدا شوې دې. دَدې برعکس چیلئی یو مسکین ځناور دې په هغې کښې دَ تشویش او پریشانئی څه خبره نشته دې.

ملاعلي قاري رحمه الله او شیخ عبدالحق رحمه الله دَدې بحث نه پس لیکلی دی چه په دې حدیث کښې دَ ممانعت کوم علت دې هغه دَ نجاست موجود کیدل اودَ هغې نیزدې کیدل دی نو مونږ په هرهغه ځائی کښې کول منع دی چرته چه نجاست وی اوځائی پاک نه وی. په داسې ځائی کښې که چرته جائې نماز هم خورکړې شی بیاهم مونږ منع دې. دَمرابض او معاطن تخصیص په توګه دَ مثال دې مقصود دَ عام ناپاکو اوپاکو ځایونو بیانول دی.

۷۳۰- د قبرونو څخه د جماتونو جوړولو ممانعت

۷۳۰-()[۴۷] ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ۲ «لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- زَائِرَاتِ الْقُبُورِ، ۳ وَالْمُتَّخِذِينَ عَلَيْهَا الْمَسَاجِدَ وَالسُّرُجَ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۱ ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي ۲ چې رسول الله ﷺ لعنت فرمايلي دي د قبرونو زيارت كونكو ښځو باندې ۳ او په قبرونو باندې مسجد جوړونكو (يعني په قبرونو باندې سجده كونكو) اوپه هغي څراغونه (ډيوو) بلونكو باندې. (ابوداود، ترمذي، نسايي.)

حل اللغات: ① زَائِرَاتِ: زائرة زيارت كونكې ښځې ته وائی ② الْقُبُورِ: قبوردَ قبرجمع ده مراد قبرستان یعنی اديره ده ③ الْمُتَّخِذِينَ: جوړونكی، ④ السُّرُجَ: د سراج جمع ده، چراغ او ډيوي ته وائی.

تسهيلات:

قوله: "زَائِرَاتِ الْقُبُورِ"

قبرستان ته د تلو ممانعت اوبیا اجازت: په دې حدیث کښې رسول الله ﷺ په هغه ښځو باندې لعنت وئیلې دې چه قبرستان ته ځی اودَ قبرونو زیارت کوی. حضورپاك ﷺ دَ اسلام په شروع کښې دَ قبرونودَ زیارت نه منع فرمائیلې وه دې دَپاره چه دَدې طرف نه دَ شرك دروازه کولاؤ نه شی. کله چه دَ اسلامی عقائدو پوخوالې راغلو اودَ توحید او شرك دَمواقعو فرق معلوم شونوحضورپاك ﷺ دَ قبرونودَ زیارت اجازت په دې ارشاد سره اوفرمائیلو «كنت نهيتكم عن زيارة القبور فزوروها فانها تذكر الآخرة»

اوس بحث په دې کښې دې چه دَدې عام ممانعت نه پس چه کوم اجازت راغلې دې آیا دا

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الجنائز. باب في زيارة النساء القبور (رقم-۳۲۳۶) والترمذی كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كراهية أن يتخذ على القبر مسجدا (رقم-۳۲۰) والنسائي كتاب الجنائز/التغليظ في اتخاذ السرج على القبور رقم (۲۰۴۳) وابن ماجة باب ما جاء في النهي عن زيارة النساء القبور (رقم-۱۵۷۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

اجازت صرف دَ سړو دَپاره دې که ښځې هم په دې کښې شریك دی.

دزیارة القبور د اجازت په مخاطبینو کښې اختلاف: ① بعضې علماء فرمائی چه دا اجازت دَ سړو او ښځودواړو په حق کښې دی. لهذا اوس چه څنګه دَ سړو دَپاره قبرستان ته تلل جائز دی ښځوله هم په دې عام اجازت کښې تلل صحیح دی.

② بعضو نورو علماؤ فرمائیلی دی چه دَدې اجازت تعلق صرف سړو سره دې. دَ ښځو په حق کښې دَ حدیث سابقه نهی او ممانعت اوس هم په ځائی دې. دَدې وجه داده چه ښځې دَ قبرونو دَ آدابو پابندی نه شی کولې او نه ادب پیژنی. هغوی دَعقیدې دکمزورنی دَ وجې نه قبرونو ته تللو سره شرك اوبدعاتو کښې اخته کیږی په دې وجه دَ هغوی دَپاره قبرونو او مزارونو له تلل مناسب نه دی. زیر بحث حدیث په واضحه توګه دَ دغه علماؤ تائید کوی.

د ښځو دپاره دزیارة القبور د عدم جواز حواله جات: ① په دې سلسله کښې څه نور تفصیل داسې دې چه شاه محمد اسحاق محدث دهلوی رحمه الله تحقیق داشان دې چه دَ صحیح او معتمد قول مطابق دَ ښځودَ قبرونو زیارت کول مکروه تحریمی دی.

② دَ فقهاء احنافو کتاب مستملی کښې لیکی دی چه دَ قبرونو زیارت دَ سړو دَپاره مستحب اودَ ښځودَپاره مکروه دی. یوکتاب مجالس واعظیه کښې ذکردی چه دَ ښځو دَپاره حلال نه دی چه هغوی دې قبرونوله ځی ځکه چه حضورپاك ﷺ قبرونوته تلونکو ښځو باندې لعنت وئیلې دې.

③ "نصاب الاحتساب"کتاب کښې ذکر دی چه دَښځو قبرونوله دَتلوجواز او عدم جواز باره کښې چادَ قاضی ابوزید رحمه الله نه تپوس اوك و نوهغوی جواب ورکړو چه دَدې جواز اوعدم جواز تپوس مه کوه چه په هغوی باندې کوم لعنت وریږی دَ هغې مقدار څومره دې. یادلرئی چه کله ښځې قبر له دَ تلو اراده کوی نودَ الله تعالی اوفرښتو په لعنت کښې راګیریږی اوکله چه هغه قبر له لاړه شی نوهغه شیطانان دَ هرطرف نه راګیره کړی او چه کله قبر ته اورسی نودَ مړی روح په هغې باندې لعنت وائی اوکله چه دَ قبر نه واپس راځی نودَ الله تعالی په لعنت کښې راګیره وی.

④ یوحدیث کښې راغلی دی چه کومه ښځه مقبرې ته ځی نودَ اووه واړو زمکو او اووه واړو آسمانونو فرښتې په هغې باندې لعنت وائی. نوهغه دَ الله تعالی په لعنت کښې دَ قبرستان په لاره تیریږی. اوکومه ښځه چه کور ناسته دَ مړی دَپاره دعاکوی نوالله تعالی هغې ته دَ حج اوعمرې ثواب ورکوی.

⑤ حضرت قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله خپل کتاب مالابدمنه کښې لیکلی دی "که زیارت قبور مرداں را جائز است نہ زناں را" یعنی قبرونوله تلل دَ نارینه دَپاره جائز او دَ زنانه دَپاره جائز نه دی. (بحواله مظاهرحق جدید)

⑨ دَ حضرت سلمان احضرت ابوهریره رضی الله عنه نه یوحدیث نقل دې چه یوځل حضورپاك دَ خپل کور په دروازه کښې ولاړ وو دَ بهرنه فاطمة الزهری رضی الله عنها راغله. حضورپاك دَهغې نه تپوس اوکړو دَ چرته نه راغلې؟ حضرت فاطمه رضی الله عنها جواب ورکړو چه فلانکې ښځه وفات شوې ده دَهغې کورته ورغلې ووم. حضورپاك تپوس اوکړو آیا دَهغې قبر له تلې وې؟ حضرت فاطمه رضی الله عنها فرمائی چه معاذ الله آیا زه هغه کارکولې شم دکوم دَممانعت باره کښې چه ماتاسو نه پخپله اوریدلی دی. حضورپاك اوفرمائیل تا داډیر ښه کار اوکړو چه دَهغې قبرته لاړه نه شوې ځکه چه که ته دَهغې قبر له تللې وې نو تاته به دَ جنت بوئی هم نه ملاویدو.

خلاصه دبحث: دَدې ټولو تصریحاتو او ظاهرد حدیث نه هم داخبره واضحه کیږی چه قبرونوله دَ ښځوتلل منع دی. په دې کښې لوئی مفاسد دی کوم چه ښکاره دی. هلته چراغونه لګوی په کوم کښې چه اسراف هم دې اومجوسو سره مشابهت هم اومړی اور له نیزدې کول هم دی. داخود عامو قبرستانونو خبره ده. نن صباچه کوم مزارونه جوړشوی دی هلته دښځود تګ دَ اسلام دَ اجازت څه چه دَ شریف سړی دَتلو تصور هم نه شی کیدې. الله تعالی دې دَمسلمانانو سرو او ښځو دَ عقیدو حفاظت اوکړی. آمین.

زنانو دپاره د زیارة قبر النبی ﷺ حکم: دلته داخبره ذهن کښې ساتل پکاردی چه دَجمهورو علماؤ په نیز قبرونو له دَتللو داممانعت نه دَ حضورپاك قبر مبارك له تلل او زیارت کول مستثنی دی هغه دَ ټولو دَپاره دَ برکت او ثواب سبب دې.

۳۷- بدترین اوبهترین ځایونه

۳۷- (۱) [۴۸] ۱ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «إِنَّ حَبْرًا مِنَ الْيَهُودِ سَأَلَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، أَيُّ الْبِقَاعِ خَيْرٌ؟ ۳ فَسَكَتَ عَنْهُ، وَقَالَ: (أَسْكُتُ حَتَّى يَجِيءَ جِبْرِيلُ)، ۴ فَسَكَتَ وَجَاءَ جِبْرِيلُ - عَلَيْهِ السَّلَامُ -، فَسَأَلَ ۵ فَقَالَ: مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ. ۶ وَلَكِنْ أَسْأَلُ رَبِّي تَبَارَكَ وَتَعَالَى،

ترجمه: ۱ ابو امامه رضی الله عنه فرمايي ۲ چه یو ورځ یو یهودي عالم د حضور ﷺ څخه پوښتنه اوکړه چې بهتر ځاي کوم یو دي؟ ۳ حضور ﷺ د دي جواب کې چپ شو او وي فرمایل تر څو پورې چې جبرائیل علیه السلام رانشي زه به چپ یم ۴ نو حضور ﷺ چپ وو تر دي چې جبرائیل علیه السلام راغي نو حضور ﷺ ورڅخه د یهودي عالم د سوال جواب پوښتنه وکړله ۵ جبرائیل علیه السلام اوویل د دي په باره کې ستاسو څخه زیات زه هم نه پوهیږم ۶ البته زه به د خپل پروردګار بزرګ وبرتر څخه په دي باره کې پوښتنه وکړم

حل اللغات: ① الْبِقَاعِ: د بقعة جمع ده، د زمکي حصې ته وائی.

[۱] صحیح ابن حبان کتاب الصلوة / باب المساجد... رقم الحدیث ۱۶۲۴

Maktaba Tul Ishaat.com

۱ ثُمَّ قَالَ جِبْرِيلُ: يَا مُحَمَّدُ! إِنِّي دَنَوْتُ مِنَ اللهِ دُنُوًّا مَا دَنَوْتُ مِنْهُ قَطُّ ۲ قَالَ: (وَكَيْفَ كَانَ يَا جِبْرِيلُ؟)، قَالَ: كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ سَبْعُونَ أَلْفَ حِجَابٍ مِنْ نُورٍ ۳ فَقَالَ: شَرُّ الْبِقَاعِ أَسْوَاقُهَا ۴ وَخَيْرُ الْبِقَاعِ مَسَاجِدُهَا»، ۵ رَوَاهُ ابْنُ حِبَّانَ فِي صَحِيحِهِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ.

ترجمه: ۱ بيا جبرائيل عليه السلام (راغي) او وي فرمايل اي محمد ﷺ نن زه الله تعالى جل جلاله ته دومره نزدې شوې ووم چې هيڅ کله دومره نزدې شوې نه يم ۲ حضور ﷺ پوښتنه وکړه اي جبرائيل عليه السلام څومره (فاصله د دواړو په مينځ کې پاتې شوې وه)؟ جبرائيل عليه السلام وفرمايل زما او د الله جل جلاله په مينځ کې اويا زره د نور پردې باقي پاتې شوې وې ۳ او الله تعالى جل جلاله د دې سوال په جواب کې وفرمايل چې بدترين ځايونه بازارونه دي ۴ او بهترين مقامات مسجدونه دي، ۵ دا روايت ابن حبان په خپل صحيح کې د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه نقل کړي دي.

حل اللغات: ۲ دَنَوْتُ: أَيْ: قَرُبْتُ: نزدې شوم زه، ۳ سَبْعُونَ أَلْفَ: اويا زره.

تسهيلات:

قوله: أَيُّ الْبِقَاعِ خَيْرٌ؟ فَسَكَتَ عَنْهُ:

د نبی کريم د رسالت دليل: يعنی دَيهودی عالم دَ سوال په جواب کښې حضورپاك ﷺ خاموش پاتې شو اودَ خپل طرف نه ئې هيڅ جواب ورنه کړو. دادَې خبرې ډيرلوئی دليل دې چه رسول الله ﷺ دَ الله تعالی رښتونې رسول دې اوهغوی دَخپل طرف نه يوه خبره هم نه کوی (وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ۝ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحٰى ۝) ګنی په داسې موقعو باندې خاموش پاتې کيدل ډيره سخته خبره وی خاص کر چه که يو غير مسلم دَاسلام متعلق څه خبرې پوښتنه کوی.

قوله: وَقَالَ: أَسْكُتُ.

د مذکوره دوه مطلبونه: ۱ يعنی رسول الله ﷺ په زړه کښې اوفرمائيل چه دَ جبرائيل دَ راتلوپورې به خاموش يم. "فسکت" نوبس خاموش شو. علامه طيبی رحمه الله دَدې کلام هم دغه مطلب بيان کړې دې. ۲ شيخ عبد الحق رحمه الله دا کلام دَ سائل دَ سوال جواب جوړ کړې دې هغه داسې چه کله حضورپاك خاموش شو نولکه چه يوسائل سوال اوکړو يارسول الله ﷺ تاسو ولې خاموش پاتې شوئی؟ نوحضورپاك لکه چه جواب ورکړو "اسکت" يعنی زه دَدې دَپاره خاموش شوم دې دَپاره چه جبرائيل راشی او وحی راوړی. بعض نسخو کښې "اسکت" دَ امر صيغه سره دې لکه چه حضورپاك خپل خان ته حکم ورکړو چه خاموش اوسيږه او په جواب ورکولو کښې تادی مه کوه تردې چه جبرائيل راشی.

قوله: سَبْعُوْنَ أَلْفَ حِجَابٍ مِنْ نُوْرٍ:

د حجاب من نور په مفهوم کښې درې اقوال: ① دا حجاب او پردې د مخلوق په اعتبار سره دی د الله تعالی جل جلاله په نسبت سره نه دی ځکه چه الله تعالی په پردو کښې راګیر نه دې مخلوق په پردو کښې دې. په مخلوق کښې چه د فرښتو د پاره کومې پردې دی هغه د نور پردې دی. او د انسانانو د پاره چه کومې پردې دی هغه جسمانی او د تیارو پردې دی. د دې مثال داسې دې لکه چه د نمر مخې ته د ړوند په سترګو باندې پرده پرته وی د کوم په وجه چه هغه نمر نه وینی لیکن نمر خو په څه پرده کښې نه دې.

لکه چه شیخ سعدی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی: -

گر نہ بیند بروز شپرہ چشم   چشمۂ آفتاب را چہ گناہ

② شیخ عبدالحق رحمۃ اللہ علیہ لیکی چه د "نور" لفظ سره دې طرف ته اشاره ده چه د فرښتو حجاب نورانی دې او هغه د الله تعالی عظمت او جلال او د الله تعالی صفات تقدس او جمال او د کمال حجاب دې. [اشعة المعات: ۳۶۳] او په انسانانو کښې د بعضو د پاره هم دغه نورانی حجاب وی او د بعض د پاره ظلمانی او نفسانی حجاب وی او د هر قسم حجاب څه انتهاء نشته. دلته د ستر ذکر د تحدید د پاره نه بلکه د تکثیر د پاره دې.

③ بعض شارحینو د دې حجاب تفصیل داسې بیان کړې دې چه د حجاب نه مراد څه حسی یا مادی پرده نه ده ځکه چه په الله تعالی باندې هیڅ یوه پرده محیط کیدې نه شی بلکه حجاب کنایه ده د یو داسې مانع نه د کوم په موجودګئی کښې هیڅ مخلوق الله تعالی نه شی لیدلې. دا نوری حجاب د مادی او حسی حجاب په شان د رؤیت باری تعالی د پاره مانع دې د مثال په توګه د الله تعالی د انواراتو یوه پرده په نمبر باندې پرته ده نو اوس په نمر کښې خومره زور دې یو سړې دې او ګوری از میبنت خو دې او ګوری چه پته اولګی څه کیفیت دې.

قوله: شَرُّ الْبِقَاعِ:

په زیادت في الجواب کښې نکته: سائل صرف د خیرالبقاع متعلق سوال کړې وو لیکن جواب کښې بهترین او بدترین د واړو مقاماتو ذکر اوکړې شو دې د پاره چه د رحمان نظام او شیطان نظام دواړو نشاهدهی اوشی په یو کښې د خیر او په بل کښې د شر اعمال دی. په دې حدیث سره مسلمانانو ته دا تعلیم ملاؤ شو چه کوم سړی ته پخپله مسئله معلومه نه وی نو هغه دې د هغه سړی نه پوښتنه اوکړی چاته چه مسئله ښه معلومه وی او په دې کښې دې شرم نه محسوس کوی. ګورئی دلته حضور پاك مسئله په جبرائیل علیه السلام باندې پریخوده او حضرت جبرائیل علیه السلام مسئله په الله تعالی باندې پریخوده او د هغه ځائی نه جواب راغلو.

قوله: رَوَاهُ:

د حدیث حواله نه ذکر کولو مقام: صاحب مشکوة په مقدمه مشکوة کښې بیان کړې دې

Maktaba Tul Ishaat.com

چه په دې کتاب کښې بعض مقامات ماډ حواله نه بغیر پریخودی دی ځکه چه ماته دَاصل کتاب حواله معلومه نه وه. چاته چه دا حواله ملاؤشی هغه دې اولیکی په دې ځائی کښې بیاض او خالی ځائې پریخودې شوې دې. روستو علماؤ حواله لیکلې ده دلته دَهغه مقاماتونه ړومبې مقام دې نو رواه ابن حبان دې شارحینو دلته دَ بیاض ذکرکړې دې سره دَدې چه په مشکوة کښې دلته بیاض نشته چا کاتب ډك کړې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

۷۴۲- مسجد نبوي ته د تلو مقصد

۷۴۲-()[۲۹]① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ② ((مَنْ جَاءَ مَسْجِدِي هٰذَا لَمْ يَأْتِ إِلَّا لِخَيْرٍ ③ يَتَعَلَّمُهُ أَوْ يُعَلِّمُهُ، فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ، ④ وَمَنْ جَاءَ لِغَيْرِ ذٰلِكَ، فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الرَّجُلِ يَنْظُرُ إِلَى مَتَاعِ غَيْرِهِ)). رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي [شُعَبِ الْإِيمَانِ]

ترجمه: ① ابوهریره رضی الله عنه وایي چه ما د حضور ﷺ څخه اوریدلي دي ② چې کوم سړي زما دي مسجد ته محض د یو نیک کار په غرض سره راشي ③ چې نیك کار زده کړي او وي ښايي (بل ته) نو هغه د الله په لار کې د جهاد کونکي په مرتبه کې دي ④ او کوم سړي چې په دي غرض سره رانشي (یعني څه بد کار مَثَلًا د لهو لعب په نیت راشي) نو هغه د هغه سړي په شان دي چې د نورو اسبابو (ته د حسرت په نظر سره) ګوري. (ابن ماجه، بیهقي.)

حل اللغات: ① مَتَاعِ: مَا يُنْتَفَعُ بِهِ النَّاسُ: اسباب هغې ته وائی کوم نه چه خلق فائده اخلی (یا په دنیا کښې مثلا علم، عمل وغیره او یا په آخرت کښې مثلا لوئې درجات اومرتبې او ثوابونه).

تسهیلات: قوله: مَسْجِدِي هٰذَا:

د مسجد نبوی عدم تخصیص: دا اشاره دَمسجد نبوی طرف ته ده دَ مسجد ذکر دَمثال په توګه دې څه تخصیص مقصود نه دې بلکه دَټولو مساجدوهم دغه حکم دې او په مسجد نبوی کښې داحکم او فضیلت بدرجه اتم واکمل دې اوباقی مساجد دَدې تابع دی.

قوله: يَتَعَلَّمُهُ:

دتعلیم او تعلم دتخصیص وجه: دَتعلیم اوتعلم یعنی دَ خودلو اوزده کولو تخصیص په دې وجه دې چه داعمل اعلی او افضل دې ګنی په دې کښې هیڅ حصرنشته بلکه هرنیك عمل مثلاً مونځ تلاوت اعتکاف اودَالله تعالی ذکر ټولوحکم دغه شان دې چه دَ مجاهد فی سبیل الله ثواب هغه سړی ته ملاویږی سره دَدې چه هغه مجاهد نه جوړیږی لیکن دَمجاهد ثواب هغه ته ملاویږی.

(۱) اخرجه ابن ماجة باب فضل العلماء والحث على طلب العلم(رقم-۲۲۷)

قوله: لِغَيْرِ ذٰلِكَ:

د غیر مصداق: په دې کښې عموم دې یعنی لغیر الخیر مطلقًا نه دَتعلیم اوتعلم دَپاره راغلې دې اوبه دَ ذکرالله دَپاره بلکه دَخیر بنیګړې نه علاوه لوبوتوقو اوعبث ګرځیدو او تماشه کتو په غرض راغلې.

قوله: فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الرَّجُلِ يَنْظُرُ إِلَى مَتَاعِ غَيْرِهِ:

دمتاع غیره دوه مطلبونه: ① دَقیامت په ورځ به دا محروم سړې ثواب ګټونکوته دَ حسرت اوارمان نه په ډك نظرسره ګوری اوافسوس لاسونه به مروړی. اوبغیردَ غم دردنه به ورته هیڅ په لاس نه ورځی. "الان قدندمت ولم ينفع الندم"

② یا دَدې نه افسوس اوتحسر خپیمانتیا اوملامتیا بیانول مقصوددی لکه چه دا محروم سړې دَ خپل دولت نه خوخالی لاس ناست دې مګر دَنورو دولت ته دَ حسرت اوارمان په نظر نه ډیر په حرص سره سترګې په یوخائی اودرولې ګوری اوصرف ورته ګوری په لاس هیڅ هم نه ورځی. لکه چه ډبل غم زغمی نه ئی دَ صبر کولو طاقت شته او نه ئی په زور دَاخستلو طاقت شته.

۷۴۳- په مسجد کښې د نیاوي خبري

۷۴۳- ()[۵۰] [۱] وَعَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلًا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَكُونُ حَدِيثُهُمْ فِي مَسَاجِدِهِمْ فِي أَمْرِ دُنْيَاهُمْ، [۳] فَلَا تُجَالِسُوهُمْ، فَلَيْسَ لِلهِ فِيهِمْ حَاجَةٌ» رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: [۱] د حسن بصري رحمه الله څخه مرسلاً روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] په خلقو به ډیر نزدې یو داسې وخت راشي چې هغوئ به د خپلې دنیا داریٔ خبرې په خپلو مسجدونو کې کوي [۳] نو تاسو د هغوئ سره مه کینئ (اګر که تاسو د هغوئ په خبرو اترو کې شریك نه یئ چې د هغوئ سره شریك ونه ګڼل شي) څکه چې الله تعالی جل جلاله ته د داسې خلقو ضرورت نشته. (بیهقي.)

حل اللغات: ① حَدِيثُهُمْ: أَيْ: كَلَامُهُمْ: خپل مینځ کښې خبرې اترې. ② حَاجَةٌ: حاجت او ضرورت.

تسهیلات:

قوله: يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ:

دقیامت نښه په جماتونو کښې خبرې: دَدې جملې نه اندازه کیږی چه په مساجد کښې داعمل کول دَ قیامت دَ علاماتونه دې او په دې حدیث کښې پیشنګوئی هم شوې ده چه

---

[1]) اخرجه البيهقي في شعب الايمان / باب فضل المشي الا المساجد... رقم الحديث ۲۸۶۲

Maktaba Tul Ishaat.com

داسې زمانه به راځي نو دا نن صباهم دغه زمانه راغلې ده چه دَخلقو عام فضول خبرې په جماتونو کښې کیږي. دنیاوی معاملات او بې فائدې تبصرې تولې په جماتونو کښې کیږي. صوبه سرحد گلگت او کشمیر او ټولو یخو علاقو کښې دا منکرات زیات لیدلې شي. فتح القدیر کښې ابن همام رحمه الله لیکلی دی "الكلام المباح في المسجد مكروه يأكل الحسنات" یعنی مباح خبرې هم په جمات کښې مکروه دی دَ انسان نیکئی خوری. (کله چه دَ حدنه زیاتې شي)

قوله: حَاجَةٌ:

جماتونو کښې خبرې کونکې دالله تعالی د حفاظت نه محرومه: دا جمله دَدې خبرې نه کنایه ده چه الله تعالی دَداسې خلقو نه ویزاره دې او داسې خلق دَالله تعالی دَ رحمت او دَهغه دَ حفاظت نه خارج دی. الله تعالی ته دَ هغوی هیڅ ضرورت نشته سره دَدې چه هغوی دَعبادت دَپاره حاضر شوې وی. دا حدیث په دې خبره باندې دلالت کوی چه په جمات کښې دَدنیاوی کارونو خبرې کول مکروه دی او په دې باندې دیرزیات احادیث دلالت کوی. دَ دنیاوی خبرونه مراد داسې خبرې دی چه عبث بې فائدې او دَ حد نه زیاتې وی. فقهاؤ لیکلی دی که دَ سنتونه پس چا دنیاوی خبرې اوړې نودَ دغه سړی دَ سنتو ثواب ختمیږی که چرې دنیاوی خبرې صرف دَ یوې یا دوو کلمویورې وی زیاتې نه وی نو هغه په دې وعید کښې داخل نه دي.

۳۳ـــ په جمات کښې د خبرو کولو ممانعت

۳۳ـــ()[۵۱][۱] وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] كُنْتُ نَائِمًا فِي الْمَسْجِدِ، فَحَصَبَنِي رَجُلٌ، [۳] فَنَظَرْتُ، فَإِذَا هُوَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، [۴] فَقَالَ: اذْهَبْ فَأْتِنِي بِهَذَيْنِ فَجِئْتُهُ بِهِمَا [۵] فَقَالَ مِمَّنْ أَنْتُمَا - أَوْ مِنْ أَيْنَ أَنْتُمَا -؟ قَالَا: مِنْ أَهْلِ الطَّائِفِ،

ترجمه: [۱] سائب بن یزید فرمایي [۲] چه زه یوه ورځ په مسجد کې اوده ووم یو سړي زه په وړوکي کاڼړي وويشتم [۳] ما چې وکتل نو هغه حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه دي [۴] هغه ماته وفرمایل چې ته ورشه دغه دواړه سړي ماته راوله (چې په مسجد کې په اوچت آواز سره خبرې کوي) [۵] ما هغه راوغوښتل حضرت عمر رضي الله عنه پوښتنه ورځخه وکړه چې تاسو څوك یئ یا دا چې تاسو د کوم ځاي اوسیدونکي یئ؟ هغوئ اوویل مونږ د طائف اوسیدونکي یو.

حل اللغات: ① فَحَصَبَنِي: أَيْ: رَمَانِي بِالْحَصْبَاءِ: یعنی په نړو کاڼړو ئې اوویشتم.

[۱] قَالَ: لَوْ كُنْتُمَا مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ لَأَوْجَعْتُكُمَا; [۲] تَرْفَعَانِ أَصْوَاتَكُمَا فِي مَسْجِدِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -؟ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت عمر رضي الله عنه ورته وفرمایل که تاسو د مديني اوسیدونکي وې نو ما به سزا

---

[۱] اخرجه البخاری کتاب الصلوۃ باب رفع الصوت فی المساجد(رقم-۴۷۰)

درکړي وه [یعني وهلي به مي وئ لیکن تاسو د دې ځاي اوسیدونکي نه یئ او د مسجد د آدابو څخه واقف نه یئ یا دا چې مسافر یئ ځکه د عفو اوشفقت مستحق یئ او دا ډیره د افسوس خبره ده چې]۲ تاسو د رسول الله ﷺ په مسجد کې په زوره په زوره خبري کوي. (بخاري)

حل اللغات: ⑦لَأَوْجَعْتُكُمَا: مابه وهلوسره دواړه بنه زخمي کړي وئ. ⑧تَرْفَعَانِ: تاسو پورته کوئ (خپل آواز).

تسهیلات:

قوله: "مِمَّنْ أَنْتُمَا"

په جمات کښې خبرو کولو باندې د حضرت عمر غصه: راوی ته شك دې چه حضرت عمر رضی الله عنه کومه یوه جمله استعمال کړې وه. "من اهل الطائف" دَ حضرت عمر رضی الله عنه دَ دواړو جملو جواب په دې کلام کښې موجود دې. "لاوجعتكما" یعنی که ته دَ بهرمیلمه نه وې اودَ مسجدنبوی دَ آدابو نه خبر نه وې نومابه وهلوسره بنه زخمی کړې وې. حضرت عمر رضی الله عنه دغه دواړه دَمسافرکیدودَ وجې نه دَ شفقت اورحمت دَ وجې نه معاف کړل او صرف زبانی وعیدئې ورته واورولو.

قوله: "تَرْفَعَانِ أَصْوَاتَكُمَا"

په مسجد نبوی کښې د آواز اوچتولو ممانعت: دا جمله مستانفه ده دَ حضرت عمر رضی الله عنه دَ طرف نه نوې کلام دې. "في المسجد رسول الله ﷺ" حضرت عمر په دې کلام سره دَمسجد نبوی دَ نور شرافت، منزلت، عظمت او رفعت طرف ته اشاره کړې ده. خصوصاً چه هلته حضورپاك آرام فرمادې او حضورپاك پخپله روضه کښې ژوندې دې اودَ الله تعالی فرمان دې ﴿لَا تَرْفَعُوٓا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ﴾ (کذا فی المرقات)[سورة الحجرات: ۲]

په جمات کښې اسلامی درس په اوچت آواز سره ورکولو کښې کراهت: علامه نووی رحمه الله فرمائی "يكره رفع الصوت في المسجد بالعلم وغيره" یعنی که علمی مشغله وی اویا څه بل محفل وی په جمات کښې په اوچت آواز سره خبرې کول مکروه دی. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه "سئل مالك عن رفع الصوت في المسجد بالعلم فقال لا خير فيه بعلم ولا بغيره ولقد ادركت الناس قديما يعيبون ذلك على من يكون بمجلسه وانا اكره ذلك ولا ادري فيه خيرا" (کذافی المرقات)

د ملا علی قاری قول: ملاعلی قاری رحمه الله مرقات کښې لیکی دَ امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب هم دغه دې چه په جمات کښې آواز اوچتول مکروه دی که په ذکرالله سره ولې نه وی. او په جمات کښې درس او تدریس جائز دې په دې شرط چه مونځ گذاروته بدې نه لگی. "اذ مذهبه كراهة رفع الصوت في المسجد ولو بالذكر الخ". (مرقات) بهرحال په جمات کښې په اوچت آواز

Maktaba Tul Ishaat.com

سره خبرې کول مکروه دی سره ددې چه څه علمی مکالمه ولې نه وی هم په حد کښې پاتې کیدل بهتر دی.

۵۷-د مسجد څخه بهر د خبرو دپاره ځائې جوړول

۵۷-()[۵۲] ① وَعَنْ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ② بَنَى عُمَرُ رَحَبَةً فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ تُسَمَّى الْبُطَيْحَاءَ، ③ وَقَالَ: مَنْ كَانَ يُرِيدُ أَنْ يَلْغَطَ، ④ أَوْيُنْشِدَ شِعْرًا أَوْيَرْفَعَ صَوْتَهُ: ⑤ فَلْيَخْرُجْ إِلَى هَذِهِ الرَّحَبَةِ، رَوَاهُ فِي الْمُوَطَّأِ.

ترجمه: ① امام مالك رحمه الله فرمايي ② چې حضرت عمرفاروق رضي الله عنه د مسجد په یوه کونج کې یو طرف ته یوه کوډل (چبوتره) جوړه کړي وه چې د هغې نوم بطیحا وه ③ او خلقو ته یې ویلي وو چې کوم سړي لغو خبري کوي ④ یا اشعار ویل غواړي یا (په څه وجه) په بلند آواز سره خبر ي کول غواړي ⑤ نو هغه ته پکار دي چې هغه (د مسجد څخه ووځي) او دي کوډل ته دې راشي. (مؤطا.)

حل اللغات: ① رَحَبَةٌ: سَاحَتُهُ وَمُتَّسَعُهُ: رحبه عام کولاؤ ځائی او صحرا ته وئیلې شی. ② نَاحِيَةٌ: طرف، ګوټ. ③ الْبُطَيْحَاءَ: دغې رحبه ته به ئې بطیحاء وئیلې. وَلَعَلَّهَا فُرِشَ فِيهَا الْبَطْحَاءُ: بطیحاء به ئې ورته خکه وئیل چه کیدې شی په هغې کښې بطیحاء یعنی واړه واړه کاڼړی خواره کړې شوی وو. ④ يَلْغَطَ: صَوْتٌ وَضَجَّةٌ لَا يُفْهَمُ مَعْنَاهُ: داسې کلام ته وائی دَ کوم آواز چه اوریدې شی مګر دَ هغې مطلب معلوم نه وی. ⑤ يُنْشِدَ: شعر وئیل.

تسهیلات:

قوله: بَنَى عُمَرُ رَحَبَةً فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ تُسَمَّى الْبُطَيْحَاءَ:

په جمات کښې د خبرو نه بچ کیدو دپاره بهر د ځائې انتظام: مسجدنبوی سره یوکولاؤ ځائی ته رحبه وئیلې شوې ده. هسې رحبه عام کولاؤ ځائی او صحرا ته وئیلې شی په دې وجه دا "فی ناحیة المسجد" سره مقید کړې شو. دَ حضرت عمر رضي الله عنه دې ترتیب سره امت ته دا تعلیم ملاویږی کله چه دَ یومنکرنه بچ کیدل ګران وی [الکاشف: ۲/۳۰۸]

نودَهغې متبادل انتظام کول پکاردی. چونکه خلق خبرې کوی اودَمانځه په وخت په جمات کښې دَ خلقو دَ راجمع کیدو دَ وجې نه دَ خبروکولو نوره موقع پیدا کیږی په دې وجه دَدې اصلاح دَپاره حضرت عمر رضي الله عنه متبادل نظام اوکړو. دَ جمات نه بهر ئې یوکولاؤ ځائی جوړ کړو چه هلته دنیاوی خبرې کوئی بیادَ مانځه دَپاره دننه راځئی. نن صبادَ صوبه سرحد په یخو علاقو کښې اکثرجماتونو سره نیزدې مسافرخانې جوړې وی دَدې مقصد هم دغه وی چه په جمات کښې خبرې نه وی اودې سره ډیره فائده شوې ده.

(۱) اخرجه مالک کتاب قصر الصلاة فی السفر. باب جامع الصلاة (رقم-۹۳)

قوله: "أَوْيُنْشِدَ شِعْرًا"

په جمات کښې د اشعارو وئیلو حکم: خپل څه شعر وائی یادَ بل چا هغه اوره وی دواړو ته انشاد شعر وئیلې شی. دَ اشعارنه مراد څه خاص شعر نه دې مطلقًا اشعار مرادې دی. اګرچه حافظ ابن حجر رحمه الله خراب اشعار مراد اخستې دې مګر ملاعلی قاری رحمه الله په دې باندې رد کړې دې. "اویرفع صوته" ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی "ولوبالذکر" یعنی آواز اوچتولوسره په جمات کښې ذکرکول هم مکروه دی.

٧٣٦-قبلې طرف ته د کړنګ غورځولو کراهت

٧٣٦-() [٥٣] ① وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «رَأَى النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نُخَامَةً فِي الْقِبْلَةِ، ③ فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَيْهِ حَتَّى رُئِيَ فِي وَجْهِهِ، ④ فَقَامَ فَحَكَّهَا بِيَدِهِ، فَقَالَ: ⑤ (إِنَّ أَحَدَكُمْ، إِذَا قَامَ فِي الصَّلَاةِ فَإِنَّمَا يُنَاجِي رَبَّهُ، ⑥ وَإِنَّ رَبَّهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ؛

ترجمه: ① انس رضي الله عنه فرمايي ② چې رسول الله ﷺ په مسجد کې د قبلې طرف ته کړنګ پراته وليدل ③ نو ورته ډير ګران شو تر دې چې هغه د ناګوارئ اثر يې په مخ مبارك ظاهر شو ④ نو حضور ﷺ ودريدلو او هغه يي په خپل لاس مبارك سره ګرولو سره وغرځول او وي فرمايل ⑤ هر کله چې په تاسو کې څوك د لمانځه د پاره ودريږي نو هغه دخپل پروردګار سره سرګوشي (پټې خبري) کوي ⑥ او هغه وخت د هغه پروردګار د هغه او د قبلې په مينځ کې وي.

حل اللغات: ① نُخَامَةً: أي: الْبُزَاقَةِ الَّتِي تَخْرُجُ مِنْ أَصْلِ الْفَمِ: دا دَ بلغم نوم دې چه دَ سينې نه پورته خلې ته راشی هغې ته نخامه هم وائی. النخاع دادَ هغه بلغم نوم دې چه دَدماغونه بنکته خلې ته راشی. (کذافی المعات) بهرحال دا باريك فرق دې مګر دا الفاظ دَ يو بل په ځائی باندې وئيلی شی. ② فَشَقَّ: أي: صَعُبَ: ګران شو، تکليف او خفګان ته وائی. ③ فَحَكَّهَا: نو اونې ګرول، پاک ئې کړل ④ يُنَاجِي: سرګوشی کوی، پټې خبرې کوی.

① فَلَا يَبْزُقَنَّ أَحَدُكُمْ قِبَلَ قِبْلَتِهِ، ② وَلَكِنْ عَنْ يَسَارِهِ، أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ) ③ ثُمَّ أَخَذَ طَرَفَ رِدَائِهِ فَبَصَقَ فِيهِ، ④ ثُمَّ رَدَّ بَعْضَهُ عَلَى بَعْضٍ، فَقَالَ: (أَوْ يَفْعَلُ هَكَذَا)»، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① نو هر چالره پکار دي چې د قبلې طرف ته هيڅ ونه تهوکی ② ليکن خپل ګس طرفته يا د قد مونو لاندي دي تهوکي ③ بيا حضور ﷺ د خپل څادر مبارك يو اړخ ونيولو او په هغه کې يې څه او تُوکل ④ او بيا يي کپړه په خپلو کې مرلو سره وفرمايل چې داسې دې کوي. (بخاري).

حل اللغات: ⑤ فَلَا يَبْزُقَنَّ: نو لاړې دې نه تهوکی، ⑥ فَبَصَقَ: أي: بَزَقَ: لاړې ئې پکښې اوتهوکلې.

[1] بخاری کتاب الصلوة باب حک البزاق باليد من المسجد (رقم-٤٠٥)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: "نُخَامَةً"

دنخامه لغوي تحقيق:

① دَ پوزې دننه نه چه کومه ګندګی دَ پوزې په ذریعه بهر راځی هغې ته قنړی وائی
② کله چه هم دغه څیزدَ معدې نه دَ حلق په لاره پورته راځی نوهغې ته بلغم وائی
③ کوم څیزچه په خله کښې دننه پیدا کیدوسره بهر راځی هغې ته لاړې یا توکانړې وائی.
نونخاعه اونخامه دَ بلغم په معنی کښې دې کـه پـه سپیړمو سره لاندې حلق تـه راشـی یا دَ معدې نه پورته حلق ته لاړ شی دَ لاړو خراچکو او قنړو مصداق او فرق واضح دې.

دحديث مصداق: تجربـه ښـائی چـه لاړې او قنـړی اختيـاری څيـزدې اوبلغـم غيراختيـاری کيدو سره راځی اوهم دا په ديوالونو وغيره باندې ورغورزولې شـی. دَ حديث مصداق لکه چه هم بلغم دې.

قوله: "فَحَكَّهَا بِيَدِهِ"

فحكها بيده كښې دوه احتمالات: ① حضوريا خويا پخپله په توګه دَ سيدالقوم خادمهم او په توګه دَ جمات دَ اکرام هغه ګندګی په خپل لاس مبارك سره پاکه کړه. کـه چرې بلغـم اوچ وی یا په لاس کښې څه څیز اخستو سره صفا کړو اوکه چرې لوندوی
② داهم ممکن ده چه حضورپاك چاته حکم ورکړې وی چه صفا کړه مګردا معنـی بعيـد ده.
"يناجي ربه"يا په ژبه سره قرأت کوی یا پـه زبـان حال سره پـه مناجـات کښـې مـشغول دې. هم دغه وجه ده چه مونځ ته دَ مؤمن معراج وئیلې شوې دې.

قوله: بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ

قبلې طرف ته د توکانړی توکلو ممانعت: يعنـی دَ الله تعـالی پـه مخکښې چـه کـوم سـړې دَمانځه دَپاره اودریږی نوهغه دَ قبلې طرف ته مخ کوی خو هغه عبـادت دَ خپـل رب کـوی او رب راضـی کـوی. پـه دې وجـه دَ دغـه بنـده مقـصود دَ هغـې اودَ قبلـې پـه ميـنځ کـښې دې نوداحکم ورکړې شو چه دَ قبلې طرف تـه مـه توکـه دَدې نه دَ رب دَ بې ادبئـی صـورت پيـدا کيږی. لهذا ګس طرف ته توکل کوه یا دَخپې لاندې توکـه پـه دې شـرط چـه مـونځ پـه جمـات کښې نه وی ځکه چه په جمات کښې چرته هم توکل جائز نه دی. دا دَ صـحراء او دَ جمـات نـه بهردَ توکلومسئله ده نو

په جمات کښې د توکانړی توکلو ضرورت پيښيدلو کښې طريقه: دَدې نه دا خبره ثابته شوه چه که چرې په جمات کښې دَ توکلو نوبت راشی نو صرف په خپله کپړا باندې اوتوکـه اوبيا هغه مړلو سره صفا کړه. دَدې ادب او احترام نه دا خبره ثابته شـوه چـه دَ بيـت الله ډيـر زيـات

احترام دي. کله چه په زړګونو ميله لرې د دې طرف ته توکل منع دی نو ورې متيازې يا غټې متيازې کولو کښې خو د چاله اختلاف نه دی کول پکار. بل د بيت الله طرف ته خپې اوږدول او سملاستل هم مناسب نه دی د ادب خلاف دی ځکه چه حضورپاك ټول عمر داسې اوده شوی دی چه کله ئې خپې د بيت الله طرف ته نه دی راغلی. مسلمان د مرګ نه پس هم د قبلې طرف ته مخ کولو سره ښخولې شی د چا خپې د بيت الله طرف ته نه وی.

۷۴۷- قبلې طرف ته د توکلو ممانعت

۷۴۷-( )[۵۴] ⟦۱⟧ وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ خَلَّادٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، - وَهُوَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ -، قَالَ ⟦۲⟧ «إِنَّ رَجُلًا أَمَّ قَوْمًا، ⟦۳⟧ فَبَصَقَ فِي الْقِبْلَةِ، وَرَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَنْظُرُ، ⟦۴⟧ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِقَوْمِهِ حِينَ فَرَغَ: (لَا يُصَلِّي لَكُمْ)،

ترجمه: ⟦۱⟧ سائب ابن خلاد چې د رسول الله ﷺ صحابي دي فرمايي ⟦۲⟧ چه يو سړي جماعت ته د لمونځ ورکولو (امامتي ئې کوله) ⟦۳⟧ او هغه د قبلې طرف ته تهوك کړل (په اتفاقي طور سره) حضور ﷺ هغه طرف ته کتل ⟦۴⟧ کوم وخت چې هغه د لمانځه ځخه فارغ شو نو حضور ﷺ د هغه مقتديانو ته وفرمايل چې (آئنده د پاره دي) دا سړي تاسو ته مونځ نه درکوي

حل اللغات ① أَمَّ: أي: صَلَّى بِهِمْ إِمَامًا: امام جوړشو او مونځ ئې ورکړو. ② فَبَصَقَ: أي: بَزَقَ: لاړې ئې پکښې اوتهوکلې.

⟦۱⟧ فَأَرَادَ بَعْدَ ذَلِكَ أَنْ يُصَلِّيَ لَهُمْ، فَمَنَعُوهُ، ⟦۲⟧ فَأَخْبَرُوهُ بِقَوْلِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، ⟦۳⟧ فَذَكَرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: نَعَمْ، ⟦۴⟧ وَحَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ: (إِنَّكَ قَدْ آذَيْتَ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ»)، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ⟦۱⟧ د دې ځخه وروسته چې هغه سړي هغوئ ته مونځ ورکول وغوښتل نو هغه خلقو هغه د امامت ځخه منع کړو ⟦۲⟧ او هغه ته يې د رسول الله ﷺ ارشاد بيان کړو ⟦۳⟧ هغه سړي د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو او د دې واقعې ذکر يې وکړو حضور ﷺ ورته وفرمايل هو [ما خلقو ته ستا د امام نه جوړلو د پاره ويلي وو] ⟦۴⟧ او راوي وايي (چې زما خيال دي) چې حضور ﷺ هغه سړي ته (د امامت ځخه د منع کولو سبب بيانولو سره دا هم) فرمايلي وو چې تا (دا ممنوع فعل کولو سره) الله ﷻ او د هغه رسول ته تکليف رسولي دي. (ابوداؤد)

حل اللغات ④ حَسِبْتُ: أي: ظَنَنْتُ: زما ګمان دي. ④ آذَيْتَ: تکليف دې اورسولو.

---

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب فى كراهية البزاق فى المسجد (رقم-۴۸۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات:

قوله: رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ:

قبلې طرف ته توکلو باندې دامامت نه معزوله کول: دَدې تصریح ضرورت دَدې دَپاره پیښ شو چه دا صحابی غیر مشهوررو یادَ ده په صحابی کیدوکښې اختلاف وو. "فذکرذلك" یعنی کله چه دَ دغه سړی دَبې ادبئی دَ وجې نه حضورپاك خفه شونوپخپله ئې هغه سره خبره هم اونه کړه. دَهغه مقتدیانو ته ئې اوفرمائیل چه داسړې دې بیا ستاسو امامت نه کوی ځکه چه دا دَامام جوړیدو اهل نه دې. بیاچه کله هغه مونځ ورکولو نوخلقو هغه منع کړو هغه دَ وجې تپوس اوکړو نوهغه خلقو اووئیل چه دَحضورپاك دغه حکم دې. دا سړې حضورپاك له لاړو او تپوس ئې اوکړو تاسو واقعی زه دَ مونځ ورکولونه منع کړې یم حضورپاك ارشاد اوفرمائیلو او ما منع کړې ئې. په دې باندې هغه پوښتنه اوکړه دَدې څه وجه ده نو رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه تا الله تعالی اودَ هغه رسول ته تکلیف رسولې دې دغه شان هغه امام دَ امامت نه فارغ کړې شو.

قوله: وَحَسِبْتُ:

قبلې ته د توکانړو توکلو حرمت: دادَ راوی خلاد بن سائب کلام دې یعنی زماخیال دې چه حضورپاك دَ نعم نه پس دا سخت کلمات هم ارشاد فرمائیلې وو. دَدې سخت وعید نه پس دَ یومسلمان دَپاره مناسب او جائزنه دی چه هغه دې دَقبلې طرف ته توکانړې اوتوکی، په دې حدیث کښې دَ قبلې لفظ دې دَدې نه دَ قبلې طرف ته دیوال مراد دې محراب مراد نه دې ځکه چه دَمحراب ایجادحضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله هغه وخت کړې کله چه دَ مسجد نبوی تعمیرنو اوشو. محراب ته موقف الامام هم وائی ځکه چه په دې کښې امام اودریږی اودادَ ټولونه ښکلې ځائی وی. هم دغه وجه ده چه دَ بادشاه محل ته هم محراب وائی ځکه چه هغه هم ښکلې ځائی وی اوبادشاه ځان له په هغې کښې اوسیږی. محراب ته دَدې دَ پاره محراب وائی چه امام په دې ځائی کښې شیطان سره جنګیږی.

۴۳۸- د بعضې اعمالو په فضیلت کښې د فرښتو مباحثه

۴۳۸-(۱)[۵۵] [۱] وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «احْتَبَسَ عَنَّا رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ذَاتَ غَدَاةٍ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ، [۳] حَتَّى كِدْنَا نَتَرَاءَى عَيْنَ الشَّمْسِ، [۴] فَخَرَجَ سَرِيعًا فَثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ، [۵] فَصَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَتَجَوَّزَ فِي صَلَاتِهِ، [۶] فَلَمَّا سَلَّمَ دَعَا بِصَوْتِهِ، فَقَالَ لَنَا: [۷] (عَلَى مَصَافِّكُمْ كَمَا أَنْتُمْ)،

ترجمه: [۱] معاذ بن جبل رضی الله عنه فرمایې [۲] چې یو ورځ رسول الله ﷺ د سحر لمانځه لره په تشریف راوړلو کې (خلاف عادت دومره) تاخیر وکړي [۳] چې نزدې وه چې نمر راوخیژي [۴]

(۱) اخرجه الترمذی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب: ومن سورة ص (رقم-۳۲۳۵)

بيا رسول الله ﷺ په تيزئ سره تشريف راوړو نو د لمانځه د پاره تكبير اووئيلي ⑤ او حضور ﷺ د صحابه ؤ سره مونځ وكړو (داسي چي) په لمانځه كي يي تخفيف وكړو (يعني واړه واړه سورتونه يي پكي ووېل) ⑥ او د سلام ګرځولو څخه وروسته يي په اوچت آواز سره وفرمايل ⑦ څنګه چي تاسو خلق ناست يئ دغسي په خپل خپل ځاي ناست اوسئ.

حل اللغات: ① احْتُبِسَ: دَ مجهول صيغه ده يعنى منع كړو اودَ معلوم هم ده يعنى پخپله منع شو. ② ذَاتَ غَدَاةٍ: أَيْ يَوْمًا: يعنى يوه ورځ د سحر، ③ كِدْنَا: أَيْ: قَارَبْنَا: نزدي شو مونږ. ④ نَتَرَاءَى: يعنى دومره ناوخته شو چه مونږ كتل چرته نمر خونه دي راختلي. ⑤ ثُوِّبَ: مِنَ التَّثْوِيبِ: وَهُوَ الْإِعْلَامُ مَرَّةً بَعْدَ أُخْرَى وَالْمُرَادُ بِهِ الْإِقَامَةُ: يوځل نه پس بيا اعلان كول خو دلته تري دمونځ دپاره تكبير مراد دي. ⑥ تَجَوَّزَ: أَيْ: خَفَّفَ: يعنى حضورپاك مختصر مونځ وركړو. ⑦ مَصَافِّكُمْ: مصاف مَصَفّ جمع ده، صف ته واني يعني تاسو په خپلو خپلو صفونوكښي په خپل صف كښي كينئ.

> ① ثُمَّ انْفَتَلَ إِلَيْنَا ثُمَّ قَالَ: ② (أَمَا إِنِّي سَأُحَدِّثُكُمْ مَا حَبَسَنِي عَنْكُمُ الْغَدَاةَ: ③ إِنِّي قُمْتُ مِنَ اللَّيْلِ، فَتَوَضَّأْتُ وَصَلَّيْتُ مَا قُدِّرَ لِي، ④ فَنَعَسْتُ فِي صَلَاتِي حَتَّى اسْتَثْقَلْتُ، ⑤ فَإِذَا أَنَا بِرَبِّي تَبَارَكَ وَتَعَالَى فِي أَحْسَنِ صُورَةٍ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ! قُلْتُ لَبَّيْكَ رَبِّ! ، ⑥ قَالَ: فِيمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلَى؟ قُلْتُ: لَا أَدْرِي، قَالَهَا ثَلَاثًا) ⑦ قَالَ: (فَرَأَيْتُهُ وَضَعَ كَفَّهُ بَيْنَ كَتِفَيَّ ⑧ حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَ أَنَامِلِهِ بَيْنَ ثَدْيَيَّ، ⑨ فَتَجَلَّى لِي كُلُّ شَيْءٍ وَعَرَفْتُ،

ترجمه: ① بيا حضور ﷺ زمونږ طرف ته متوجه شو او وي فرمايل ② خبر شئ زه نن د سحر په لمانځه كي تاخير سره د راتلو وجه تاسوته بيانوم ③ (او هغه دا ده چي) زه نن شپه د تهجد د لمانځه د پاره راپورته شوم اودس مي وكړو او څومره چي زما په مقدر كي مونځ وو هغه مي وكړو ④ او په لمانځه كي ماته خوب راغي تر دي چي په ما خوب غالب شو ⑤ (هغه وخت) ناګهانه ما خپل پروردګار بزرګ وبرتر په ښه صورت كي (يعني د ښه صفت سره) وليدلو، الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ ماته وفرمايل اي محمد (ﷺ) ما عرض وكړو اي پروردګاره زه حاضر يم ⑥ الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ وفرمايل تاته معلومه ده چي مقربي فرشتي په كومه خبره كي بحث كوي؟ ما عرض وكړو پروردګاره ماته نه ده معلومه، الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ دري ځله دغسي پوښتنه وكړه (او ما دغسي جواب عرض كولو) ⑦ حضور ﷺ فرمايي چه ما وليدل چي الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ زما د اوږو په مينځ كي خپل لاس مبارك كيښودلو ⑧ تر دي چي ما د الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ د ګوتو يخ والي په خپله سينه كي محسوس كړو ⑨ (د هغي اثر داسي شو چي) زما په مخكي هر شي ظاهر شو او زه په ټولو خبرو پوهه شوم.

حل اللغات: ⑧ انْفَتَلَ: أَيْ: انْصَرَفَ: راوګرځيدو (دمونځ نه). ⑨ فَنَعَسْتُ: دا د نُعَاس نه دي، وَهُوَ النَّوْمُ الْقَلِيلُ: لږشان خوب يا دخوب جوټو ته واني. ⑩ اسْتَثْقَلْتُ: أَيْ: غَلَبَ عَلَيَّ: زه دروند شوم يعنى خوب راباندي غالب شو.

Maktaba Tul Ishaat.com

[۱] الْقَالَ: يَا مُحَمَّدُ! قُلْتُ: لَبَّيْكَ رَبِّ! [۲] قَالَ فِيمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلَى: قُلْتُ: فِي الْكَفَّارَاتِ، [۳] قَالَ: وَمَا هُنَّ؟ قُلْتُ: مَشْيُ الْأَقْدَامِ إِلَى الْجَمَاعَاتِ، [۴] وَالْجُلُوسُ فِي الْمَسْجِدِ بَعْدَ الصَّلَوَاتِ، [۵] وَإِسْبَاغُ الْوُضُوءِ حِينَ الْكَرِيهَاتِ، [٦] قَالَ: ثُمَّ فِيمَ قُلْتُ: فِي الدَّرَجَاتِ، [۷] قَالَ: وَمَا هُنَّ؟ قُلْتُ: إِطْعَامُ الطَّعَامِ، وَلِينُ الْكَلَامِ، [۸] وَالصَّلَاةُ بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ،

ترجمه: [۱] بيا الله تعالى ﷻ وفرمايل اي محمد (ﷺ)، ما عرض وكړو پرودرګاره زه حاضر يم [۲] وي فرمايل اروايه چه مقربي فرشتي په څه خبره کښ بحث کوي؟ ما عرض وكړو د ګناهونو د ختمونكو څيزونو په باره کښ [۳] الله تعالى ﷻ وفرمايل هغه كوم څيزونه دي؟ ما عرض وكړو د جمعې د پاره (مسجدونو ته) راتلل [۴] او د لمانځه كولو نه پس (د دعا وغيره د پاره) په مسجد کښ كيناستل [۵] او د سختي سره (كوم وخت چې د يخنۍ يا د بيماري په وجه اوبه استعمالول تكليف رسونكي وي) په ښه شان اودس كول [٦] الله تعالى ﷻ وفرمايل بل په كوم شي کښ بحث كوي؟ ما عرض وكړو د درجاتو باره کښ [۷] وي فرمايل هغه څه دي؟ ما عرض وكړو په غريبانو او مسكينانو باندې طعام خوړل په نرمه لهجه کښ خبرې كول [۸] اودشپې هغه وخت (يعني د تهجد) مونځ كول هر كله چې خلق اوده وي.

[۱] قَالَ: سَلْ، قَالَ: قُلْتُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ، [۲] وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ، وَحُبَّ الْمَسَاكِينِ [۳] وَأَنْ تَغْفِرَ لِي. وَتَرْحَمَنِي، [۴] وَإِذَا أَرَدْتَ فِتْنَةً فِي قَوْمٍ فَتَوَفَّنِي غَيْرَ مَفْتُونٍ، [۵] وَأَسْأَلُكَ حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ [٦] وَحُبَّ عَمَلٍ يُقَرِّبُنِي إِلَى حُبِّكَ) [۷] فَ قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (إِنَّهَا حَقٌّ فَادْرُسُوهَا ثُمَّ تَعَلَّمُوهَا»)، رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، [۸] وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَسَأَلْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: هَذَا الْحَدِيثُ صَحِيحٌ.

ترجمه: [۱] بيا الله تعالى ﷻ وفرمايل ښه اوس د ځان د پاره چې څه غواړې دعا وكړه نو ما دعا وكړه اي الله زه ستا څخه سوال كوم د نيكيو كولو [۲] او د بدۍ پريښودلو او د مسكينانو د دوستۍ [۳] او د خپل بخښش او ستا د رحمت [۴] او هر كله چې ته يو قوم په ګمراهۍ کښ اچول غواړې نو ما بغير د ګمراهي نه پورته كړې [۵] او زه ستا څخه ستا د محبت (يعني دا چې زه تا دوست ولرم يا ته ما دوست ولرې) او د هغه سړي محبت چې تا سره محبت كوي (يعني دا چې زه هغه دوست ولرم يا هغه ما دوست لري) [٦] او د داسې عمل محبت چې ستا محبت ته مې نزدې كړي (سوال كوم)، [۷] بيا حضور ﷺ (ومونږ ته) وفرمايل دا خوب بالكل رښتيا دي خو تاسو دا ياد اوساتئ او بيا يې خلقو ته وښايئ، احمد، ترمذي [۸] او امام ترمذي فرمايي چه ما د محمد بن اسمٰعيل څخه د دې حديث په باره کښ پوښتنه وكړه نو هغه اوويل دا حديث صحيح دي.

حل اللغات: ⓵ الْمَلَأُ: أَيِ: الْأَشْرَافُ: مقرّب، عزت مند، ⓶ الْأَعْلَى: يَعْنِي: الْمَلَائِكَةَ الْمُقَرَّبِينَ: مقربې فرشتې، سردارانې فرشتې، ⓷ بَرْدَ: أَيِ: رَاحَةَ الْكَفِّ: دلاس يخ والى (يعنى د هغې لذت، نرم والې او

راحت والاکيدل. ⑭ إِسْبَاغُ: أَيْ: إِكْمَالُهُ: کامل طريقې سره اودس کولوته وائي. ⑮ الْكَرِيهَاتِ: أَيْ: فِي شِدَّةِ الْبَرْدِ: مکاره مکروه او ناخوښه ته وائي دلته ترې مراد يخني يا بيماري کښې اوبو سره اودس کول دي چه دا په انسان بد لګي. ⑯ لِينُ الْكَلَامِ: خلقوسره نرمې خبرې کول (د الله درضا دپاره). ⑰ فَادْرُسُوهَا: أَيْ: اقْرَءُوهَا ثُمَّ تَعَلَّمُوهَا: يعنى دا زده کړئ او ښه خان پوهه کړئ اوبيا نورخلق پوهه کړئ. ⑱ "تعلموها" دلته په دې صيغه کښې لام امرمحذوف دې. "اي لتعلموها" يعنى نور خلق پوهه کړه.

تسهيلات:

دحديث واقعه د خوب وه: دَ دې حديث تشريح دې نه مخکښې حديث نمبر (۷۳۵) کښې تيره شوې ده. البته دَهغه ځائې په حديث کښې دا احتمال وو چه دا واقعه په بيدارئى کښې پيښه شوې وه ليکن دلته په دې حديث کښې وضاحت دې چه دا واقعه دَ خوب وه. کله چه واقعه دَ خوب وى نوبيا بريليان په دې روايت سره خپلو غلطو عقيدوته رواج نه شى ورکولې. يوخل دَ بريليانو محمدشفيع اوکاړوى صاحب اووئيل چه زه نن دَ دې حديث معامله حل کوم چه حضورپاك په وتلوکښې ولې ناوخته کړو. بيا ئى اووئيل حضورپاك له الله تعالى راغلې وو حضورپاك دَ مانځه دَپاره تللو اوالله تعالى حضورپاك منع کولو چه دَځا مونځ کولو له روان ئى هغه پخپله تاسره دې. استغفرالله، دَ بيمار سوچ څنګه بيماره تشريح ده.

۷۴۹-جمات ته د داخليدو دعا

۷۴۹-(۱)[۵۶] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ: [۳] (أَعُوذُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ، وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيمِ، [۴] وَسُلْطَانِهِ الْقَدِيمِ، مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ)» [۵] قَالَ [فَإِذَا قَالَ ذَلِكَ] [۶] قَالَ الشَّيْطَانُ: حُفِظَ سَائِرَ الْيَوْمِ»)، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] عبدالله ابن عمرو بن العاص ﷺ فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ چې به په مسجد کې داخليدلو نو دا دعا به يې کوله [۳] أَعُوذُ بِاللهِ الْعَظِيْمِ وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيْمِ وَسُلْطَانِهِ الْقَدِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ يعنى زه د الله پناه غوارم چې عزت والا، بزرګ ذات دې [۴] او د هميشه سلطنت والا دې د شيطان مردود څخه، [۵] حضور ﷺ وفرمايل هر کله چې يو سړي په مسجد کې د داخليدو په وخت دا دعا غواړي [۶] نو شيطان د هغه سړي په باره کې وايي چې دا بنده ټوله ورځ زما د شر څخه محفوظ شو. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① بِوَجْهِهِ: أَيْ: ذَاتِهِ: يعنى په ذات دالله تعالى. ② الْكَرِيمِ: أَيِ الْمُحْسِنِ: احسان کونکې، مهربان. ③ سُلْطَانِهِ الْقَدِيمِ: دهميشه بادشاهت والا.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب فيما يقوله الرجل عند دخوله المسجد (رقم-۴۶۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: حُفِظَ سَائِرَ الْيَوْمِ

د شيطان څخه د حفاظت باوجود گناهونه ولې؟: د دې حديث پاك نه دا معلوميږي چې د دې دعا لوستلو سره انسان ټوله ورځ د شيطان د شر نه محفوظ كيږي ، حالانكه كله كله داسې هم اوشي چې د دې دعا لوستونكې په معصيت او گناه كښې اخته شي .

جوابونه: ① شيطان نه مراد غټ ابليس دې. دهغه نه محفوظ شي . د هغه د كارندگانو نه هيڅ كله نه محفوظ كيږي.

② د شيطان نه په حفاظت كښې شي خو د خرابو عادتونوڅخه نه منع كيږي. څكه چې دغه گناهونه دې د خپل عادت څخه مجبوره كوي ئې.

③ دده په ذهن كښې د ماحول اثر باقي وي. لكه څنګه چې په رمضان مبارك كښې شيطانان قيد وي. او د دې باوجود بيا هم جنګ جګړې كيږي. نو دا د ماحول اثر وي.

د شيطان څخه د حفاظت ضرورت:

دې حديث پاك څخه معلومه شوه چې د الله تعالى صفات وسيله جوړول پكار دى. او هر چا ته پكار دى چې شيطان نه د الله تعالى په ذات سره پناه طلب كړي .هيڅ يوكس هم خپل خان د شيطان د حملې څخه نشي بچ كولې مګر هغه څوک چې الله تعالى ئې حفاظت اوكړي اوګورئ حضرت آدم عليه السلام معصوم وو او جنت هم محفوظ وو ، بيا هم دشيطان چال كامياب شو په دې وجه د شيطان د حفاظت نه ډيره زياته دعا كول پكار دى.

٧٥٠- د نبى عليه السلام د خپل قبر مبارک په باره كښې دعا

٧٥٠-(١)[٥٧] ① وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② (اللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْ قَبْرِي وَثَنًا يُعْبَدُ، ③ اشْتَدَّ غَضَبُ اللّٰهِ عَلَى قَوْمٍ اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ») ، رَوَاهُ مَالِكٌ مُرْسَلًا.

ترجمه: ① عطاء ابن يسار رحمه الله راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② (يعني دا دعا يې وفرمايله) اللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْ قَبْرِي وَثَنًا يُعْبَدُ يعني اې الله زما قبر بت جوړ مه كړې چې خلق د هغې عبادت كول شروع كړي ③ او حضور ﷺ وفرمايل كومو خلقو چې د خپلو انبياؤ قبرونه سجده ګاه جوړ كړل په هغوئ د الله تعالى جل جلاله شديد غضب نازل شو، (مالك،مرسلاً)

حل اللغات: ① وَثَنًا: بُت. ② يُعْبَدُ: دعبادت كولو په معنى كښې دې.

---

(١) اخرجه مالک فى الموطا كتاب قصر الصلاة فى السفر . باب جامع الصلاة (رقم-٨٥)

تسهيلات:

قوله: وَثَنًا يُعْبَدُ:

د نبي كريم ﷺ د دعا قبوليت يعني زما قبر داسې د بت خانې په شان مه جوړه ونې چه خلق دَدې عبادت کول شروع کړي اودَ لرې لرې نه راشي اودلته سجدې کول شروع کړي او طوافونه کوي اودَ شريعت نه خلاف تعظيم شروع کړي. کـه دې حديث تـه اوکتلې شـي نودَحضورپاك ټول ارشادات نن په عملي توګه باندې موجوددي. يوطرف تـه خو دَ قبوريين دومره زور دې چه هغوی دَ سيد الانبياء قبر خو څه دَ چاپيره قبرونو عبادت شروع کړې نودا پيشنګوئي پوره شوه. بل طرف ته الله تعالی دَ رسول اکرم ﷺ دعا داسې قبوله کړه چه نن دَ قبرونو عبادت کونکې هرطرف ته قبرونو کښې په سجدو پراته دي ليکن مجال نشته چه دَ سيد الانبياء دَ قبر مخې ته لږشان ټيټ شي.

قوله: اشْتَدَّ غَضَبُ اللَّهِ:

د سوال مقدر جواب: داجمله لکه دَ سائل په جواب کښې راغلې ده، لکـه چاچـه سـوال کـړې وی يارسول الله ﷺ تاسو دا دعا په دومره اهتمام سره ولې غوارئ. رسـول الله ﷺ جـواب ورکړې په خپـل امـت بانـدې شـفقت اومهربـانـي مقصـود اومطلوب ده څکـه چـه پـه يهـودو اونصارئ باندې کلـه دَالله تعـالی غضـب اوقهـر نـازل شـو نوهغـوی دَ خپلـو نبيـانو قبرونـه دَ سجدو ځايونه جوړکړل.

۱۵۷–په باغونو کښې د مونځ استحباب

۱۵۷–(¹)[۵۸] ۱ وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ ۲ «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَسْتَحِبُّ الصَّلَاةَ فِي الْحِيطَانِ». ۳ قَالَ بَعْضُ رُوَاتِهِ - يَعْنِي الْبَسَاتِينَ -: رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: ۴ هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الْحَسَنِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ، وَالْحَسَنُ ۵ قَدْ ضَعَّفَهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ وَغَيْرُهُ.

ترجمه: ۱ معاذ ابن جبل رضی الله عنه فرمايي ۲ چې رسـول الله ﷺ بـه پـه حيطـان کـې مـونځ کـول خوښول ۳ د دې حديث بعضې راويـانو ويلـې دي چـې د حيطـان څخـه مـراد بسـاتين (يعنـي باغـات) دي. ترمـذي دا روايـت نقـل کولـو نـه پـس ويلـې دي چـې ۴ دا حـديث غريـب دي دا روايت ماسيوا د حسن بن ابي جعفر د سند څخه د بل چا د سند سره منقول نه دي ۵ او هغـه هم يحيي ابن سعيد وغيره ضعيف ګرځولي دي.

حل اللغات: ① الْحِيطَانِ: دا د حائط جمع ده، أَيْ: فِي جَلْبِ الْجُدْرَانِ: د ديـوال يـو طـرف تـه، بعضـې وائی چه حيطان باغ ته وائی. ② الْبَسَاتِينَ: د بستان جمع ده، باغونه.

(¹) اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الصلاة فی الحيطان (رقم-۳۳۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: يَسْتَحِبُّ الصَّلَاةَ فِي الْحِيطَانِ

د حيطان په معنى كښې دوه اقوال: ① ځينې حضراتو د حيطان ترجمه ديوال كړې ده، چې نبى اكرم صلى الله عليه وسلم به ديوال ته نزدې مونځ كولو چې تيريدونكى ته تكليف نه وى. او نه مونځګزار ته څه تكليف وى.

② د حديث راويانو د حيطان ترجمه بساتين كړې ده . ځكه چې په هغه زمانه كښې به خلقو د باغونو د حفاظت دپاره د هغې نه ګر چاپيره ديوال وهلو. نو دې دواړو كښې مطابقت راغلو.

۷۵۲- په مختلف جماتونو كښې د مانځه ثواب

۷۵۲- (¹)[۵۹] [۱] وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] «صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي بَيْتِهِ بِصَلَاةٍ، [۳] وَصَلَاتُهُ فِي مَسْجِدِ الْقَبَائِلِ بِخَمْسٍ وَعِشْرِينَ صَلَاةً، [۴] وَصَلَاتُهُ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي يُجَمَّعُ فِيهِ بِخَمْسِمِائَةِ صَلَاةٍ، [۵] وَصَلَاتُهُ فِي الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى بِخَمْسِينَ أَلْفِ صَلَاةٍ، [٦] وَصَلَاتُهُ فِي مَسْجِدِي بِخَمْسِينَ أَلْفِ صَلَاةٍ، [۷] وَصَلَاتُهُ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ بِمِائَةِ أَلْفِ صَلَاةٍ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] انس ابن مالك رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د سړي مونځ په خپل كوركي د يو لمانځه برابر دي [۳] او د محلي په مسجد كې د هغه مونځ د پنځه ويشت لمونځونو برابر دي [۴] او په هغه مسجد كې چيرته چې جمع كيږي (يعني په جامع مسجد كي) د هغه مونځ د پنځه سوو لمونځونو برابر دي [۵] او په مسجد اقصي (يعني په بيت المقدس كي) د هغه مونځ د پنځوس زرو لمونځونو برابر دي [٦] او زما په مسجد (يعني په مسجد نبوي كي) د هغه مونځ د پنځوس زرو لمونځونو برابر دي [۷] او په مسجد حرام كې د هغه مونځ د يو لاكهه لمونځونو برابر دي. (ابن ماجه)

حل اللغات: ① الْقَبَائِلِ: أَيْ: الْحَيّ: محله، ② يُجَمَّعُ فِيهِ: أَيْ: يُصَلَّى فِيهِ الْجُمُعَةُ: چه د جُمعې مونځ پكښې كيږي. ③ مَسْجِدِي: دې نه مراد مسجد نبوى ﷺ دې.

تسهيلات: قوله: فِي بَيْتِهِ:

د مونځ د ثواب درجات: په دې حديث كښې دَ مونځونو دَ ځان له ځان له درجاتو وضاحت كړې شوې دې. دې دپاره چه دَدې فضيلت اوريدوسره هرسړې په دې عمل اوكړي. چنانچه په دې پركشش او باعث ترغيب حديث كښې رومبې فضيلت دَهغه سړى دې څوك چه په كور كښې مونځ كوى. مونځ خوئى پريخودې نه دې كړې دې مګر ځان له ئى كړې لهذا ده ته دَ يومونځ هم يوثواب ملاويږى دادَيولونه كمه درجه ده.

(¹) اخرجه ابن ماجة كتاب إقامة الصلاة/باب ما جاء في الصلاة في المسجد الجامع (رقم-۱٤۱۳)

قوله: مَسْجِدِ الْقَبَائِلِ: یعنی که دَمحلې په جمات کښې دې مونځ اوکړو نویومونځ دَ پنځه ویشتو مونځونوبرابردې.

قوله: يُجَمَّعُ فِيهِ:

دجامع مسجد مصداق: دې نه هغه جامع مسجدمراددې په کوم کښې چه خلق دَ جمعه او اخترونو مونځونوکولودپاره یوځائې کیږی حضرت عمر رضي الله عنه نهه سوه جامع مسجدونه جوړکړل او څلور زره نې عام جماتونه جوړکړل یعنی کوم سړې چه په جامع مسجد کښې په جمع سره مونځ اداکوی نوهغه ته دَ پنځوسوو مونځونو ثواب ملاویږی او په بیت المقدس او مسجدنبوی کښې که یوسړې مونځ کوی نوهغه ته دَ پنځوسو زرو مونځونو ثواب ملاویږی اوکه یوسړې په یووخت کښې مسجدحرام (بیت الله) کښې مونځ کوی نوهغه ته دَ دې په بدله کښې دَ یولاکهو مونځونو ثواب ملاویږی.

په مسجد نبوی کښې دثواب په تعداد کښې تعارض: دلته دَ مونځونودَ تعداد ترتیب داسې دې بعض روایاتوکښې دَ مسجد نبوی ثواب دَ زرو برابر خودلې شوې دې په دواړو روایتونوکښې په ظاهره کافی تعارض ښکاری

دتعارض حل: مګر دا داسې دفع کولې شی چه په اعداد مکښې تعارض نه وی ځکه چه یوعدد دَ بل عدد نفی نه کوی. دویم جواب دا چه دا فضائل اودرجات زیاتیږی لهذا دا تضاد اوتعارض نه دې. اول هم په دې ابواب کښې دَدې قسم حدیث اودَدې تشریح تیره شوې هم هلته تفصیل اوګورئې.

۷۵۳–قوله زمکه جمات کړځول

۷۵۳–(۱)[۱۰] [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَيُّ مَسْجِدٍ وُضِعَ فِي الْأَرْضِ أَوَّلُ؟ [۳] قَالَ: (الْمَسْجِدُ الْحَرَامُ)، [۴] قَالَ: قُلْتُ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: (ثُمَّ الْمَسْجِدُ الْأَقْصَى)، [۵] قُلْتُ: كَمْ بَيْنَهُمَا؟ قَالَ: (أَرْبَعُونَ عَامًا)؟. [۶] ثُمَّ الْأَرْضُ لَكَ مَسْجِدٌ، فَحَيْثُمَا أَدْرَكَتْكَ الصَّلَاةُ فَصَلِّ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت ابي ذر رضي الله عنه فرمایي [۲] چې ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړو یا رسول الله ﷺ د زمکي په سر د ټولو څخه مخکې کوم مسجد جوړ شوې دې؟ [۳] حضور ﷺ وفرمایل مسجد حرام [۴] ما عرض وکړو بیا د دې څخه وروسته؟ وې فرمایل مسجد اقصي (یعني بیت المقدس) [۵] بیا ما پوښتنه وکړه چې د دې دواړو مسجدونو (د بناء) په مینځ کې څومره زمانه وه؟ حضور ﷺ وفرمایل څلویښت کاله [۶] بیا د دې څخه وروسته یې

(۱) اخرجه البخاری کتاب احادیث الانبیا باب قول الله تعالی: {واتخذ الله إبراهيم خليلا} [النساء: ۱۲۵] (رقم-۳۳۶۶) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة (رقم-۲ - (۵۲۰) وابن ماجة کتاب المساجد والجماعات، باب أی مسجد وضع أول (رقم-۷۵۳) والنسائی کتاب المساجد/باب ذکر أی مسجد وضع أولا رقم (۶۹۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

وفرمايل اوس خو ټوله زمکه ستا د پاره مسجد دي (يعني د دې هره حصه د مسجد حکم لري) چېرته چې د لمانځه وخت په تا راشي هلته مونځ کوه. (بخاري، مسلم.)

حل اللغات: ① وُضِعَ: أَيْ: جُعِلَ مُتَعَبَّدًا: چه دعبادت دپاره مقرر شوې وی. يعنی دَ وضع لفظ دَ عبادت په توګه مقرر کولو دپاره استعمال شوې دې. دَ ظاهری تعميردَ پاره دَ بنا او بنيان الفاظ راځی.

تسهيلات:

قوله: "وُضِعَ فِي الْأَرْضِ أَوَّلُ؟"

د کائنات د تخليق مراحل: وقائع الدهور يوګمنام شان کتاب دې په هغې کښې دَتخليق کائنات سره متعلق ډير څه ليکلی دی. په هغې کښې دا هم ليکلی دی

① چه الله تعالی دَټولو نه مخکښې يوشينه مرغلره پيدا کړه. هغه مرغلرې ته الله تعالی دَ رعب او هيبت په نظرسره اوکتل نوهغه ونيلې شوه او اوبه شوې.

② اوس په کائنات کښې صرف اوبه وې. په قرآن کريم کښې دَدې نقشې طرف ته دا شان اشاره موجود ده. ﴿وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَآءِ﴾ [سورت هود: ۱]

③ بيا الله تعالی په اوبوباندې دَ رعب نظر واچولو نودَ هيبت دَ وجې نه اوبه په خوټکيدو شوې او خوټکيدو خوټکيدو سره اوچې شوې لاندې يوقسم بيخ پاتې شو او پورته ترې نه لوګې اوچت شو هم دَ دغه لوګی نه الله تعالی آسمان جوړکړو. دکوم طرف ته چه په قرآن کريم کښې دا شان اشاره موجود ده. ﴿ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٌ﴾ [سورت حٰم سجده: ۱۱]

④ لاندې چه کوم بيخ پاتې شوې وو هم دَهغې نه الله تعالی زمکه جوړه کړه دَ کوم طرف ته چه په قرآن پاك کښې دا ارشاد موجود دې ﴿وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحٰهَا﴾ [سورت نازعات: ۳۰] دَ کوم ځائی نه چه زمکه خوره کړې شوې وه هم هغه ځائی وسط الدنيا او سرة الدنيا وو اوهم هغه ځائی په ټوله دنيا کښې لکه دَ غونډئی په شان وو

دخانه کعبې د تعمير مختلف مراحل: ① او هم هغه ځائی الله تعالی دَخپل کوردَ پاره خوښ کړو اوهغه ئی حرم مکه اوګرځولو اوهم په دغه ځائی ئی بيت الله قائم کړو. لکه چه دَ ټولو نه مخکښې فرښتو دَ بيت الله بنياد کيخودو اودَ دنيا دَمختلف مقدس غرونونه ئی لوئی لوئی کانړی راوړل اودَ بيت الله په لاندې بنيادونو کښې کيخودل.

② کله چه حضرت آدم عليه السلام دَ جنت نه راکوزکړې شو او دنياته ئی تشريف راوړو نوهغه دَ ځان له کيدونه ويريدلو. بل فرښتوسره يوځائی دَ بيت المعمور دَ طواف نظاره هغوی ته ياديدله نو الله تعالی هغوی ته دَ سرانديپ نه مکې ته دَتلو حکم ورکړو. جبرائيل امين به ورته لار خودنه کوله تردې چه حضرت آدم عليه السلام مکه مکرمه کښې هغه ځائی ته اورسيدو چرته چه فرښتودَ بيت الله بنيادونه کيخودې وو. دَ الله تعالی په حکم سره بيت المعمور دَ

آسمانونو نه لاندې راورلې شو او هم په دغه بنیادونو باندې کېخودې شو. حضرت آدم علیه السلام او فرښتې یوځائې عبادت او طواف کښې مشغول شوې.

③ بیا چه کله طوفان نوح راغلو نو الله تعالی بیت المعمور اووم آسمان ته واپس اوچت کړو او په زمکه باندې دَ بیت الله نشانات او بنیادونه دَ خاور لاندې راغله خښ شو.

④ هم دغه قواعد ښکاره کول او په هغې باندې بیت الله قائم کولو حکم حضرت ابراهیم علیه السلام ته اوشو هغوی حضرت اسماعیل علیه السلام سره یوځائې داکار اوکړو او دَبیت الله تعمیر ئې اوکړو چت ئې نه وو. دَ دروازو ځائې موجود وو مګر دروازې نه وې. دَ یوې دروازې ځائې هم دغه ځائې کښې چرته چه نن صبا ده او دویم ځائې دَدې مقابل رکن یمانی طرف ته وو. بیا تبع بادشاه دروازې اولګولې او بیت الله ته ئې پردې واغوستلې.

⑤ بیا عمالقه دَ بیت الله په تعمیر او تجدید کښې کار اوکړو. بیا قریشو بیت الله دَ نړولو نه پس جوړ کړو په کوم کښې چه حضور پاك هم دَ ۳۵ کالو په عمر کښې حصه واخستله. قریشو په بیت الله کښې ردوبدل اوکړو دَحطیم حصه ئې بهر پریخوده اودَ دوو په ځائې یوه دروازه کېخوده او هغه ئې هم دَ انسان دَ قد برابر دَ زمکې دَپاسه کېخوده.

⑥ بیا عبدالله بن زبیر رضی الله عنه په خپل دور خلافت کښې بیت الله راغوزار کړو اودَ حضور پاك دَ خواهش مطابق ئې جوړ کړو حطیم ئې دننه کړو او دروازې په زمکه جوړې کړې.

⑦ حجاج بن یوسف چه کله غالب راغلو نو هغه بیت الله راغوزار کړو اودَ قریشو په طرز ئې جوړ کړو چه ترننه پورې هم هغه شان دې. هارون الرشید دَ حضرت امام مالك رحمه الله نه اجازت اوغوښتلو چه که اجازت وی نو بیت الله په دې طرز باندې جوړ کړم دکوم چه حضور پاك خواهش کړې وو. حضرت امام مالك رحمه الله فتویٰ ورکړه چه اوس په بیت الله کښې تغیر اوتبدل حرام دې هسې نه چه دا دَ بادشاهانو دَتعمیرفن یوه کهلونا جوړه شی.

⑧ بیا ترك بادشاه سلطان مراد څه تعمیر اومرمت اوکړو مګر بدلون ئې اونه کړو او ترننه پورې هغه شان قائم دې. بیا به دَ قیامت نه مخکښې دَ یوحبشی په لاس بیت الله شهید کیږی اومسلمانان به بې وسه وی. بیا به قیامت سره نیزدې دَ بیت الله حقیقت الله تعالی دَ دنیا نه اوچت کړی اوقیامت به قائم شی. شاه عبدالعزیز رحمه الله په خپل تفسیر کښې دَ بیت الله مرحله وار تعمیر بیان کړې دې دَ سورت بقره په تفسیر کښې اوګورئی.

قوله: "الْمَسْجِدُ الْحَرَامُ"

دمسجد حرام وجه تسمیه: دې ته حرام ځکه وائی چه په دې کښې ښکار حرام دې اوداهم دی چه په دې کښې دَ بعضې حلالو څیزونو ارتکاب حرام دې او داهم چه دا محترم او واجب الاحترام دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: أَرْبَعُونَ عَامًا"

يعنی دَ بيت الله او مسجد اقصیٰ آبادی اوتعمير په مينځ دَ څلويښتو کالو فاصله ده.

د مسجدينو د تعمير په موده کښې تعارض: دکعبة الله جوړونکې حضرت ابراهيم عليه السلام اوبيت المقدس کښې مسجد اقصیٰ جوړونکې حضرت سليمان عليه السلام دې اودَدې دواړو پيغمبرانو په مينځ کښې دَ زرو کالو فاصله ده نودا څنګه ممکن شو چه دَدې دواړو په مينځ کښې دَ څلويښتو کالو فاصله ده؟

د تعارض جواب: علامه طيبی رحمه الله اوعلامه بيضاوی رحمه الله دَدې اشکال دا جواب ورکړې دې چه دَ باقی شارحينودَ جوابونه زيات واضح دې هغه دا چه دلته تعمير اوترقی او عمارتی بنياد کيخودو خبره نشته بلکه دَالله تعالی دَ عبادت دَپاره په توګه دَ عبادت دَ خائی کله چه په مخ دَزمکه بيت الله مقرر شو نودَ هغې نه څلويښت کاله پس بيت المقدس په توګه دَ عبادت دَ خائی مقررشو. په دې جواب باندې دَ حديث لفظ وضع په واضحه توګه دلالت کوی څکه چه دَ وضع لفظ دَ تعمير په خائی دَتقرر دَپاره زيات واضح دې. بل دَ قرآن پاك آيت ﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ﴾ [سورت آل عمران: ۹۶] کښې هم دَ وضع لفظ دې کوم چه دَ عبادت په توګه مقرر کولو دَپاره استعمال شوې دې. دَ ظاهری تعميردَ پاره دَ بنا او بنيان الفاظ راځی.

[۸/۲۵] بَابُ السَّتْرِ

په مانځه کښې دَستر پټولو مسائل

خلاصة الباب:

فيه ثمانية عشر حديثاً مشتملة على ثماني مسائل:

① حكم الصلوة في الثوب الواحد: ۱، ۲، ۳، ۷، ۱۵، ۱۷، ۱۸.

② حكم وضع طرفي الثوب على عاتقيه: ۱، ۲، ۳، ۱۵.

③ الاحترازعن لباس فيه التصاويروالأعلام: ۴، ۵.

④ الاحتراز عن لباس الحرير: ۶.

⑤ النهي عن إسبال الإزار : ۸.

⑥ وجوب تغطية الراس للمراة: ۹، ۱۰.

⑦ النهي عن السدل في الصلاة: ۱۱.

⑧ الصلوة متنعلاً وحافياً: ۱۲، ۱۳،۱۴، ۱۶.

دمانځه دپاره د عورت پټولو ثبوت د قرآن نه: ① الله تعالى فرمانيلي دی. ﴿ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ ﴾ [سورت اعراف]

② دغه شان الله تعالى فرمانيلي دی. ﴿ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ قَدۡ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكُمۡ لِبَاسٗا يُوَٰرِي سَوۡءَٰتِكُمۡ وَرِيشٗاۖ ﴾ [سورت اعراف]

د عورت پټولو شرطيت: دَ مونځ صحيح كيدودَپاره كه يوطرف ته ډير زيات شرائط دی نو په هغې كښې يو شرط "ستر" دې يعنی شرمگاه او مستور اندامونه پټول فرض دی. صاحب مشكوة په دې مذكوره باب كښې هم دَدې سلسلې احاديث راجمع كړی دی اودَدې نه علاوه ئې دَ هغه لباسونوهم ذكركړې دې دَ كومو په اغوستلوسره چه صحابه كرامو رضي الله عنهم مونځونه كړی دی. په دې باب كښې صاحب مشكوة په مجموعی توګه اتلس احاديث ذكركړی دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

۷۵٤-په يوه كپړه كښې د مونځ كولو حكم

٧٥٣-()[۱] ① عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُصَلِّي فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ ③ مُشْتَمِلًا بِهِ، فِي بَيْتِ أُمِّ سَلَمَةَ، ④ وَاضِعًا طَرَفَيْهِ عَلَى عَاتِقَيْهِ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت عمر ابن ابي سلمه رضي الله عنه فرمايي ② چې ما رسول الله ﷺ په يوه كپړه كې په لمانځه كولو ليدلي دي د بي بي ام سلمه رضي الله عنها په مكان كې، حضور ﷺ هغه كپړه د جسم څخه داسې راچاپيره كړي وه ④ چې د هغې دواړه غاړي د حضور ﷺ په اوږو مباركو وي. (بخاري، مسلم.)

حل اللغات: ① مُشْتَمِلًا: أَيْ: بِأَنْ لَفَّهُ بِبَدَنِهِ: يعنی د بدن نه ئې راچاپيره كړې وه. ② وَاضِعًا: اچولې ئې وه. دا جمله مشتملاً دَ ضميرنه حال ده اودَ اشتمال دَ صورت تفصيل او وضاحت دې. ③ عَاتِقَيْهِ: عَاتِق: مَا بَيْنَ الْمَنْكِبِ إِلَى أَصْلِ الْعُنُقِ: د دواړواوږو دمينځ څخه واخله تر د څټ وينبه پوري دې ته عاتق وائی

تسهيلات: قوله: "فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ"

د مانځه دپاره د جامو المستلو درې صورتونه: ① په حالت دَ وسعت او طاقت كښې په مانځه كښې درې كپړې يعنی پرتوګ قميص او پټكې استعمالول مستحب دی.

[۱] اخرجه البخاري كتاب الصلوة باب الصلاة في الثوب الواحد ملتحفا به (رقم-٣٥٦) ومسلم كتاب الصلاة باب الصلاة في ثوب واحد وصفة لبسه (رقم-٢٧٨ - (٥١٧) ومالك كتاب صلاة الجماعة . باب الرخصة في الصلاة في الثوب الواحد(رقم-٢٩) والترمذي كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الصلاة في الثوب الواحد(رقم-٣٣٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

۲ دَ وسعت او طاقت باوجود په داسې کپړو کښې مونځ کول په اتفاق سره مکروه دي چه ثیاب بذله او ثیاب مهنه وي یعنی چه داسې کپړې وي چه دَ شرم سبب وي دکوم په اغوستو سره چه سړې یو دَ عزت والا مجلس ته تلل نه خوښوی لکه پرتوګ او یو بنیان وي. یاګریس او تیلو کښې ککړې شوې کپړې وي یا شلیدلې او زړې کپړې وي.

۳ که چرې دَ وسعت او طاقت حالت نه وي نو دَ ضرورت په وخت په مجبورنۍ په یوه کپړا کښې مونځ کول دَ څه کراهت نه بغیر په اتفاق سره جائز دي. البته دا به کتلې کیږی که چرې هغه یوه کپړا پلنه وي او په هغې کښې څه ګنجائش وي نو بیا دَ اشتمال صورت محمود او خوښ کړې شوې دي.

داشتمال صورت او طریقه: دَ اشتمال صورت او طریقه شیخ عبدالحق رحمه الله [اشعة اللمعات] کښې داسې لیکلې ده چه دَ څادر ګس طرف دَ ګسې اوګې لاندې راښکلو سره په ښې اوګه باندې واچولې شي. بیا دَ څادر ښې طرف دَ ښې اوګې لاندې راښکلو سره په ګسه اوګه باندې واچولې شي اوس دَ څادر دواړه غاړې دَ اوګو شاته لاړې دَ هغه ځائې نه دواړه دَ سینې طرف ته راوړو سره غوټه ورکولو ته اشتمال وائي. اوهم دا په توشح او فلیخالف وغیره نومونو سره یاد کړې شوې دي. غوټه ورکول دَ اشتمال حصه نه ده صرف دَ مضبوطیا دَپاره ده اوکه څادر اوږد وي نو دَ غوټې ورکولو ضرورت نشته دي.

۷۵۵- په اوږود کپړي نه اچولو حکم

۷۵۵-(۱) [۲] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] «لَا يُصَلِّيَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ [۳] لَيْسَ عَلَى عَاتِقَيْهِ مِنْهُ شَيْءٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضي الله عنه راوي دي چې سرور کائنات ﷺ وفرمایل [۲] په تاسو کې دي یو سړي په یوه کپړه کې داسې مونځ نه کوي [۳] چې د هغه کپړي څه حصه د هغه په اوږو نه وي. (بخاري، مسلم)

تسهیلات:

قوله: "لَيْسَ عَلَى عَاتِقَيْهِ"

د سدل د کراهت وجه: باوجود دَدې چه په کپړو کښې ګنجائش شته اوبیاهم دَهغې څه حصه په اوګو باندې وانچولې شي نو په دې صورت کښې به دَ مونځ کولو اجازت نه وي دَمذکوره حدیث دَ ظاهری الفاظو هم دغه مطلب دي په دې کښې علماؤ داحکمت بیان کړې دي که چرې کپړا په اوګو باندې وانچولې شي اوهم هغه کپړا لنګ هم دې یعنی د

(۱) اخرجه البخاری کتاب الصلوٰة /باب: إذا صلى في الثوب الواحد فليجعل على عاتقيه (رقم-۳۵۹) ومسلم کتاب الصلوٰة باب الصلاة في ثوب واحد وصفة لبسه (رقم-۲۷۷(۵۱۶)) وابوداود کتاب الصلاة، باب جماع أثواب ما يصلى فيه (رقم۶۲۶)

ښکته پورته تړلو حصو ډ پاره هم دغه کپړا ده نو په دې صورت کښې د کپړې د غورزېدو خطره ده او ستر ښکاره کېدې شي. بل د رب ذوالجلال په حضور کښې یو قسم بې ادبي هم ده. اوس په حدیث کښې چه کوم ممانعت دې د دغې په حیثیت کښې د فقهاء کرامو معمولی شان اختلاف هم دې. [الکاشف: ۲/۳۱۵]

د سدل في الصلاة په حکم کښې مذاهب:

① د امام احمدبن حنبل رحمه الله اوخه د سلفو علماؤ په نیز که چرې کپړا وی او بیا هم د دغې څه حصه په اوګو باندې وانچولې شی نو په ښکاره اوګو سره مونځ کول جائز نه بلکه مکروه تحریمی دی.

② جمهور فرمائی چه کله ستر پوره پټ وی نو مونځ به کېږی لیکن د اوګو د ښکاره پاتې کېدو د وجې جائز مع الکراهة دې او دا کراهت تنزیهی دې تحریمی نه دې.

د اول فریق دلیل: زیر بحث حدیث د دوی مستدل دې او حدیث ئی په عدم جواز باندې حمل کړې دې.

د دویم فریق دلیل: دویم فریق دا حدیث په عدم جواز باندې نه بلکه خلاف اولی باندې حمل کړې.

طریقه د استدلال: فرمائی چه په دې حدیث کښې د اوګو د پټولو حکم د یو حکمت لاندې دې هغه دا چه که په اوګو باندې کپړا نه وی نو د یو خادر په صورت کښې د ستر ښکاره کېدو خطره ده او که په لاس ئی نیولې وی نو په نامه باندې د لاس کېخودو سنت به فوت شی. بهرحال که کپړا د دې نه هم کمه ده او د استمال صورت نه جوړېږی نو بیا مرئی سره تړل پکار دی او که د دې نه هم کمه ده بیا ښکته ملا سره تړل پکار دی دې د پاره چه ستر پټ شی. حالت غیر ضرورت کښې د سر برېنډ پاتې کېدل د کراهت نه خالی نه دې. خاص کر که فیشن وی او وېښته انګریزی وی نو بیا په دغه کراهت کښې نور سختوالې راځی.

۷۵۶- په یوه کپړه کښې مونځ کول

۷۵۶- (۱) [۳] ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ② «مَنْ صَلَّى فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، ③ فَلْيُخَالِفْ بَيْنَ طَرَفَيْهِ»، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② کوم سړي چې یوازي په یوه کپړه کې مونځ کوي نو هغه ته پکار دي چې د هغه کپړې په دوارو طرفونو کې مخالفت وکړي [یعني د اشتمال چې کوم صورت بیان شوي دي هغه دي اختیار

(۱) اخرجه البخاری کتاب الصلوة باب: إذا صلی فی الثوب الواحد فلیجعل علی عاتقیه (رقم-۳۶۰) وابوداود کتاب الصلاة،باب جماع أثواب ما یصلی فیه (رقم-۶۲۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

کړي چې دکپړې دواړه طرفونه دې په وړوواچوي اوپرځان دې راتاؤکړي. (بخاري)

حل اللغات: ① فَلْيُخَالِفْ: يعنى اشتمال دې اوکړی دکپړې دواړه طرفونه دې په اوږو واچوی او په ځان دې راتاؤکړی.

تسهیلات:قوله: فَلْيُخَالِفْ بَيْنَ طَرَفَيْهِ

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال:

① یعنی یوطرف سره دې خپل ستر پټ کړی او بل طرف دې په اوګه واچوی.

② د ښی طرف حصه دې په ګس طرف او د ګس طرف حصه دې په ښی طرف واچوی.

۷۵۷- په مانځه کښې خیال بل طرف ته ګرځیدل

۷۵۷-()[۳] ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ۲ «صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي خَمِيصَةٍ لَهَا أَعْلَامٌ، ۳ فَنَظَرَ إِلَى أَعْلَامِهَا نَظْرَةً، فَلَمَّا انْصَرَفَ، قَالَ: ۴ (اذْهَبُوا بِخَمِيصَتِي هَذِهِ إِلَى أَبِي جَهْمٍ، ۵ وَأْتُونِي بِأَنْبِجَانِيَّةِ أَبِي جَهْمٍ، ۶ فَإِنَّهَا أَلْهَتْنِي آنِفًا عَنْ صَلَاتِي»)، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ،

ترجمه: ۱ او بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي ۲ چې رسول الله ﷺ په يو داسې څادر کې مونځ کوي چې د هغه غاړې د بل رنګ وې [يا د هغه په غاړو څه کار شوې وو] ۳ حضور ﷺ په هغه شوې کار وليدلو نو د لمانځه څخه فارغيدو سره يې وفرمايل ۴ چې دا څادر ابو جهم ته يو سئ ۵ (او هغه ته حواله کولو سره) د ابوجهم انبجانيه څادر راوړئ ۶ ځکه چې دې څادر زه په لمانځه کې د حضور قلب څخه منع کړم،

۱ وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ، قَالَ: ۲ «كُنْتُ أَنْظُرُ إِلَى عَلَمِهَا ۳ وَأَنَا فِي الصَّلَاةِ فَأَخَافُ أَنْ تَفْتِنَنِي»)

ترجمه: ۱ او د بخاري په يو بل روايت کې دا هم منقول دې چې حضور ﷺ وفرمايل ۲ ما د لمانځه په دوران کې د دې څادر د نقش ونګار طرف ته کتل ۳ او زما سره دا ويره پيدا شوه چې چېرته دا زما مونځ خراب نه کړي.

حل اللغات: ① خَمِيصَةٍ: ثَوْبٌ مِنْ صُوفٍ أَوْخَزٍّ مُعَلَّمَةٌ سَوْدَاءُ: دا يوداسې څادر ته وائی چه د ريښمو يا وړئ نه جوړشوې وی دکوم رنګ چه تور وی او په هغې کښې پټې وی. په عام توګه د يمن ښائسته څادر ته خميصه وئيلی شی. ② أَعْلَامٌ: د څادر رنګدارو غاړو ته وائی يا د څادر په غاړو چه کوم ګلونه وی هغې ته وائی. ③ بِأَنْبِجَانِيَّةِ: كِسَاءٌ لَا عَلَمَ لَهُ: دا داسې څادر ته وائی چه څه نښې پکښې نه وی. وَهُوَ مَنْسُوبٌ إِلَى "مَنْبِجَ" بَلْدَةٌ مَعْرُوفَةٌ بِالشَّامِ: دا منبج طرف ته منسوب دې چه په شام کښې يو ښار دې، ④ أَلْهَتْنِي: أَيْ: شَغَلَتْنِي: مشغوله ئې کړم. ⑤ آنِفًا: أَيْ: فِي هَذِهِ السَّاعَةِ: هم په دې ساعت، هم اُوس.

---

[۱] اخرجه البخاری کتاب الصلوة باب إذا صلی فی ثوب له أعلام ونظر إلى علمها (رقم-۳۷۳) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة باب کراهة الصلاة فی ثوب له أعلام (رقم-۶۲ - (۵۵۶) وابن ماجة کتاب اللباس. باب لباس رسول الله صلی الله علیه وسلم (رقم-۳۵۵۰) ومالک فی الموطا کتاب الصلاة باب النظر فی الصلاة إلى ما یشغلک عنها (رقم-۶۷) والنسائی کتاب القبلة /باب الرخصة فی الصلاة فی خمیصة لها أعلام (رقم) ۷۷۱

تسهيلات:

قوله: "إِلَى أَبِي جَهْمٍ"

دابو جهم تعارف: داد يوصحابی ﷺ نوم دې. ونيلی شی حضورپاك سره دَخميصه دَ قسم دوه څادرونه وو. حضورپاك يو پخپله واچولو او يو ئی ابوجهم ﷺ ته حواله کړو دَ مونځ کولونه پس حضورپاك هغه څادر کوز کړو اوهغه دويم ئی دَ ابوجهم ﷺ نه واپس راؤغوښتلو کوم چه ساده وو. دَ بعضي رواياتونه معلوميږی چه هم ابوجهم ﷺ دا څادري رسول الله ﷺ ته ورکړي وې. حضورپاك دَهغه دَ خاطرساتلودپاره دَ څه وخت دپاره هغه واغوستلو اوبيائی په هغه باندې ساده راؤغوښتلو ځکه چه دَ ګلونو والاسره دَ حضورپاك توجه الى الله کښې فرق راغلې وو.

قوله: أَلْهَتْنِي"

ددنيا په زيب وزينت د پاکو زړونو متاثر کيدل: يعنی زما مخې ته چه کله دَهغې نقش اونګار راغلو نو په هغې سره زما توجه تقسيم شوه اوزما توجه الى الله کښې فرق راغلو. علماؤ ليکلی دی چه دَ دنيا نقش اونګار صفا زړونه هم متاثر کوی. امام بخاری ﷫ دَدې حديث نه استدلال کړې دې په مونځ دَدې قسم خيال راتلل دَ مونځ دپاره مضر نه دې. بهرحال په صفا زړه باندې معمولی شان څيزهم لوئی اثر کوی اودَ تور زړه والاته دَدې څه خبر دې. شيخ عبدالحق ﷫ لمعات کښې ليکی چه دا په حقيقت کښې دَ امت دپاره تعليم وو او حضورپاك امت ته خبرداري ورکړو چه دَدنيا نقش اونګار نه احتياط کوئی ځکه چه داخطرناك څيز دې هريوسړې متاثر کيدې شی.[اشعة المعات: ۳۷۰]

قوله: "أَنْ تَفْتِنَنِي"

د اهل الله دپاره معمولی څيز خطرناک کيدل: چه کله زړه دَ شيشې په شان صفا وی اودَ آئينې په شان روښانه وی نو په هغې باندې دَ معمولی خيری هم اثر وی. کپړا چه څومره سپينه وی په هغې باندې تور داغ هم دومره زيات ښکاری. دَ اهل الله اواهل دل زړونو تعلق دَمع الله دَ وجې هم داسې روښانه وی. دَدې په مقابله کښې هغه ګناهګار اوبدکاره خلق دی دَچا په زړونوباندې چه دَ لوئی نه لوئی ګناه هم اثر نه کوی.

۷۵۸- د مونځ کونکي د مخ څخه تصويرونه ليرې کول

۷۵۸- (¹)[۵] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ [۲] «كَانَ قِرَامٌ لِعَائِشَةَ سَتَرَتْ بِهِ جَانِبَ بَيْتِهَا، [۳] فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - (أَمِيطِي عَنَّا قِرَامَكِ هٰذَا ; [۴] فَإِنَّهُ لَا يَزَالُ تَصَاوِيرُهُ تَعْرِضُ لِي فِي صَلَاتِي») رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

(۱) بخاری کتاب الصلوة باب إن صلى فی ثوب مصلب أو تصاوير. هل تفسد صلاته؟ وما ينهى عن ذلک؟(رقم- ۳۷۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضی الله عنه فرمايي[۲] چې بي بي عائشي رضی الله عنها د خپل مکان په يوه حصه کښې پرده اچولې وه[۳] حضور ﷺ بي بي عائشي رضی الله عنها ته اوويل دا پرده زما د مخې څخه لرې کړه[۴] ځکه چې د دې تصويرونه په لمانځه کې برابر زما مخې ته وي. (بخاري)

حل اللغات: ① قِرَامٌ: وَهُوَ سِتْرٌ رَقِيقٌ فِيهِ نُقُوشٌ: هغه نرئ کپړې ته وائي په کومه کښې چه مختلف رنګونه وي. ② سَتَرَتْ: پرده ئې اچولې وه. ③ أَمِيطِي: أَيْ: أَزِيلِي: دَ اخوا کولو او لرې کولو په معنی کښې دې. ④ تَعْرِضُ: أَيْ: تَظْهَرُ: يعنی راته ښکاری، مخې مخې ته مې کيږي

تسهيلات: قوله: أَمِيطِي عَنَّا قِرَامَكِ

دقرام په معنی کښې دوه اقوال:

① دَ قاف کسرې سره بعضې اهل لغت وائي قرام هرې نرئی پردې ته وائي

② علامه توربشتی رحمه الله فرمائي چه قرام هغه پردې ته وائي په کومه کښې چه ګلونه، نقش اونګار وي. [اشعة المعات: ۳۷۱]

قوله: "تَصَاوِيرُهُ"

د تصويرونو نه مراد: دې دَ ساه والاخناورو تصويرونه مراد نه دی بلکه هم دغه نقش اونګار ته تصويرونه وئيلي شوي دي او ممکن دي چه دَ ساه والاخيز تصويرونه وي. حضرت عائشه رضی الله عنها ته تر دغه وخته پورې دَ ممانعت علم اونه شو کله چه حضورپاک اوفرمائيل نو حضرت عائشه رضی الله عنها اخوا کړل.

۷۵۵-ريښمينه قبا اغوستل

۷۵۵-(۱)[۲] [۱] وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: [۲] «أُهْدِيَ لِرَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَرُّوجُ حَرِيرٍ، [۳] فَلَبِسَهُ ثُمَّ صَلَّى فِيهِ، [۴] ثُمَّ انْصَرَفَ فَنَزَعَهُ نَزْعًا شَدِيدًا كَالْكَارِهِ لَهُ، [۵] ثُمَّ قَالَ: (لَا يَنْبَغِي هَذَا لِلْمُتَّقِينَ)»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه فرمايي[۲] چه د حضور ﷺ په خدمت کې چا يوه ريښمينه قباء د تحفې په طور وليږله[۳] حضور ﷺ هغه واغوسته مونځ يي پکښې وکړو [۴] د لمانځه کولو څخه وروسته حضور ﷺ هغه قباء داسې وغورځوله لکه چې څوک څه شي ډېر بد ګڼي[۵] بيا يي وفرمايل چې دا د متقيانو جامه نده (بخاري مسلم)

حل اللغات ① أُهْدِيَ: تحفه اوليږلې شوه، ② فَرُّوجٌ: هُوَ الْقَبَاءُ الَّذِي شُقَّ مِنْ خَلْفِهِ: هغه قبا ته وئيلی شی دَ کومې ګريوان چه شاته طرف ته وی. ③ كَالْكَارِهِ: په شان د بد ګڼرونکی.

(۱) اخرجه البخاری كتاب الصلوة باب من صلى فی فروج حرير ثم نزعه(رقم-۳۷۵) ومسلم كتاب اللباس والزينة باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء. وخاتم الذهب والحرير على الرجل. وإباحته للنساء. وإباحة العلم ونحوه للرجل مالم يزد على أربع أصابع (رقم) ۲۳(۲۰۷۵) والنسائی كتاب القبلة /باب الصلاة فی الحرير (رقم) ۷۷۰

تسهیلات:

قوله: "أُهْدِيَ"

دحدیث پس منظر: اکیدر شاه دومة الجندل دَ غزوه تبوك په موقع دَصلح نه پس دَ حضورﷺ په خدمت کښې یو ریښمی قبا دَ تحفې په توګه پیش کړې وه یا دَ مصر بادشاه مقوقس هدیه رالیږلې وه حضورﷺ هغه واغوستله او بیائی کوزه کړه ونې غورزوله [اشعة المعات ۱/۳۷۱]

قوله: "لِلْمُتَّقِينَ"

دنبی کریم ﷺ د ریښمو قبا اغستلو کښې درې تاویلات:

① حضورﷺ به هغه قبا هغه وخت اچولې وی کوم وخت چه دَ ریښمو حرمت نه وو راغلې په دې وجه حضورﷺ په هغې کښې مونځ اوکړو او کیدې شی چه هم دغه وخت دَ ریښمو دَ حرمت حکم راغلې وی نو حضورﷺ په ډیره تیزئی سره هغه اوویستله او بیائی اوفرمائیل چه دَ متقی او پرهیزګار دَپاره دا مناسب نه دی.

② کیدې شی دَ څه بل څه مصلحت دَ وجې نه ئی اچولې وی او بیائی ویستلې وی او کیدې شی چه دَامت دَ تعلیم دَپاره ئی اغوستې وی او په عملی توګه باندې ددې نه دَ نفرت اظهار اوکړې شو په کوم سره چه په لیدونکو کښې هم نفرت پیدا شو.

③ دمتقین نه مراد دَ شرك او کفر نه بچ کیدونکی خلق دی یعنی دَ یو مسلمان دَپاره دا مناسب نه دی چه هغه دې ریښم واغوندی.

الْفَصْلُ الثَّانِي

۷۶۰–په یو قمیص کښې د مونځ کولو حکم

٧٦٠–(٧)[١] عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] «قُلْتُ: يَارَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي رَجُلٌ أَصِيدُ، [٣] أَفَأُصَلِّي فِي الْقَمِيصِ الْوَاحِدِ؟ [٤] قَالَ: (نَعَمْ، وَازْرُرْهُ وَلَوْ بِشَوْكَةٍ)»، رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَرَوَى النَّسَائِيُّ نَحْوَهُ.

ترجمه: [١] سلمه بن اکوع رضی الله عنه وایې [٢] چه ما عرض وکړو چې یا رسول الله ﷺ زه یو ښکاری سړې یم [٣] زه په یو کرتا (قمیص) کې مونځ وکړم؟ [٤] حضور ﷺ وفرمایل هو کوه یې لیکن هغه تړه خواه که په ازغی سره ولې نه وي (ابوداؤد، نسایي)

حل اللغات: ① أَصِيدُ: أي: أَصْطَادُ: دَ متکلم صیغه ده یعنی زه یو ښکاری سړې یم اکثر ښکار کوم ② وَازْرُرْهُ: أي: اشْدُدْهُ: تړه ئې. ③ شَوْكَةٍ: ازغې

---

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة. باب فی الرجل یصلی فی قمیص واحد (رقم-۶۳۲) والنسائی کتاب القبلة/باب الصلاة فی قمیص واحد (رقم) ۷۶۵

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات:

قوله: أَفَأُصَلِّي فِي الْقَمِيصِ الْوَاحِدِ؟:

د سلمه بن اکوع د تپوس کولو وجه: چونکه ښکاري خلق اکثر په ښکار پسې منډې وهي او تېه بند سره سرې تیزه منډه نه شي وهلې ځکه چه د لنګ غاړې جاړو سره د ښکاري خپو کښې انخلي په دې وجه دغه وخت ښکاري صرف یو قمیص کښې د ښکار د پاره وتل بیابه د مانځه وخت راتلو هم په دې وجه د مسئله په لحاظ سره حضرت سلمه بن اکوع ﷛ پریشانه شو ځکه چه د قمیص ګریوان کولاؤ وو نو د رکوع او سجدې په حالت کښې به ستر ښکاره کیدو. په دې وجه ئې د حضور پاك نه تپوس اوکړو رسول الله ﷺ په جواب کښې اوفرمائیل چه ته په یو قمیص کښې مونځ کولې شې. که چرې په ګریوان سره د ستر ښکاره کیدو خطره وی نو بټن اولګوه که بټن نه ملاویږی نو د بټن کار د ځنګلی ونې د ازغو نه اخله.

د عورت غلیظه په لیدو سره د مونځ نه فاسد کیدو صورتونه: ① که یو سړې د چت یا ونې د پاسه د دې قسم مونځ ګذار ستر وینی په دې سره هم مونځ نه فاسد کیږی.

② که یو مونځ ګذار په خپل ګریوان کښې پخپله غلیظ ستر وینی نو په دې سره مونځ نه فاسد کیږی. ③ که یو مونځ ګذار په لنګ کښې مونځ کوی اولاندې نه څوك د هغه ستر وینی نو په دې سره هم د هغه په مونځ کښې نقصان نه راځی. ستر ښکاره کیدل هغه وی چه مخامخ وړاندې روستو ښی اوګس طرف ته برابر ښکاری.

۷۶۱- په مانځه کښې د لنګ ښکته ساتلو کراهت

۷۶۱-(١)[٨] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «بَيْنَمَا رَجُلٌ يُصَلِّي مُسْبِلَ إِزَارِهِ، ③ قَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- (اذْهَبْ فَتَوَضَّأْ) ④ فَذَهَبَ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ جَاءَ ⑤ فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! مَا لَكَ أَمَرْتَهُ أَنْ يَتَوَضَّأَ؟ ⑥ قَالَ: إِنَّهُ كَانَ يُصَلِّي وَهُوَ مُسْبِلٌ إِزَارَهُ ⑦ (وَإِنَّ اللَّهَ لَا يَقْبَلُ صَلَاةَ رَجُلٍ مُسْبِلٍ إِزَارَهُ»)، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① ابوهریره ﷛ فرمایي ② چې یو سړي ازار (لنګ) اوېزانده کړي وو او مونځ یې کولو ③ حضور ﷺ دي لیدو سره وفرمایل لاړشه اودس اوکړه ④ هغه سړي لاړلو اودس یې وکړو اودس کولو سره راغې ⑤ یو سړي حضور ﷺ ته عرض وکړو یا رسول الله ﷺ تا هغه سړي ته د اودس کولو د پاره ولې وفرمایل (حالانکه هغه په اودس وو) ؟ ⑥ حضور ﷺ ورته وفرمایل هغه سړي لنګ اوېزاند کړي وو او مونځ یې کولو ⑦ او کښې څوک چې لنګ آوېزانده کونکي وي نو الله تعالی ﷻ د هغه مونځ نه قبلوي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① مُسْبِلَ: هو ارسال الثوب واطالته زیادة علی الحد المشروع تکبرًا واختیالاً: یعنی د نازاو تکبر په توګه شلوار پرتوګ وغیره کپړې د شرعی حد نه ښکته زوړند ولونوم اسبال دې.

(١) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة، باب الإسبال فی الصلاة (رقم-۶۳۸)

تسهيلات:

قوله: مُسْبِلٌ إِزَارَهُ:

د اسبال په معنی کښې عموم: اسبال صرف ازار بندسره خاص نه دې بلکه پرتوګ پاجامه قمیص هره يوه کپړه دَ ګیټونه ښکته زوړندول مکروه تحريمي دی اودا اسبال دې. په لستوڼوکښې دَ لاس په ګوتوباندې دَ لستوڼې راتلل اسبال دې. دَ پټکی شمله که چرې دَ ملانه لاندې لاړه شی نودا هم اسبال دې.

په حدیث شریف کښې دَ ازار ذکرځکه شوې دې چه هغه وخت دَ پرتوګ رواج نه وو. بل په بعض روایاتوکښې دَ اسبال ثوب لفظ راغلي دې او "ثوب" کښې هرقسم کپړه شامل ده اودا اسبال مکروه تحريمي دې په داسې حالت کښې اصل مونځ خوکیږي مګر کامل مونځ نه کیږي اودَ ثواب نه سړې محروم کیږي په دې کښې سخت وعیداو ښه سخت تغلیظ دې.

په مانځه کښې د اسبال الازار په حکم کښې مذاهب:

① پرتوګ دَ ګیټونه ښکته زوړندول دَ احنافو او شوافع په نیز په مانځه کښې هم اوبغیردَ مانځه نه هم مکروه تحريمي دی.

② امام مالک رحمه الله اسبال په مانځه کښې جائز منی لیکن دَمانځه نه بهر په عامو وختونو کښې ناجائز وائی هغه فرمائی چه تکبر غرور اونازنخرې ښکاره کیدل دَ مانځه نه علاوه وختونوکښې کیږي په مانځه کښې نه کیږي. دَ حضرت امام مالک رحمه الله دا قول شاذ دې.

د تکبر نه بغیر هم داسبال الازار حرمت: د لنګ او پرتوګ د ګیټو نه ښکته ساتل که د تکبر نه بغیر هم وی.نودا ګناه ده اوکه څوک دا وائی چې مونږ د تکبر په نیت باندې اسبال الازار نه ساتود دې وجې په کښې ګناه نشته نو دادَ شیطان دهوکه ده چه انسان ته ئی ورکوی. حقیقت دادې چه دا پاجامه ښکته کول هم پخپله متکبرانه وضع ده په دې کښې دَتکبرنه کولوهډو سوال نه پیدا کیږي.

حضوراکرم دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم په جماعت کښې بغیردَ صدیق اکبر رضی الله عنه نه چاته اجازت نه دې ورکړې او صدیق اکبر رضی الله عنه عذر اوکړو چه زه پوره پوره خیال ساتم لیکن دَخیټې غټیدو دَ وجې نه کله کله ازار ښکته خی. حضوراکرم اوفرمائيل چه تاکښې تکبرنشته. دا یقین ورکول صرف صدیق اکبر رضی الله عنه ته حاصل دې دَ امت بل یوکس ته حاصل نه دې.

قوله: اذْهَبْ فَتَوَضَّأْ:

داسبال الازار په وجه د اودس کولو حکمت: دَاسبال مرتکب هغه سړی مونځ که چرې غیرمقبول وی نودا معقوله خبره ده خود اودس کولو حکم خلاف القیاس دې.خو کیدې شی سړی ته دَ اودس دَتازه کولوحکم په دې وجه ورکړې شوې دې چې دَپاره چه هغه پخپله

Maktaba Tul Ishaat.com

سوچ اوکړی چه واقعی هغه د شنیع او قبیح فعل ارتکاب کړي دي د کوم په وجه چه هغه ته داودس ژاګر خولو حکم ورکړې شو او د هغه په دماغو کښې چه هم داخبره راشي چه د حضورپاك په حکم باندې په دې ظاهری پاکوالی سره کیدي باطنی پاکوالي حاصل شي او د هغه باطن د تکبر او عجب په شان د بیمارو نه پاك شي

٤٦٣-بغیر د پړونی د مونځ کولو حکم

٤٦٣-(۱)[۹] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ حَائِضٍ إِلَّا بِخِمَارٍ»). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د بالغي ښځي مونځ بغير د پړوني (يعني د سرپټولو بغير) نه کيږي. (ابوداؤد ترمذي.)

حل اللغات ① بِخِمَارٍ: أَيْ: مَا يُخَمَّرُ بِهِ مِنْ سِتْرِ رَأْسٍ: څه سره چه سر پټولي شي هغې ته خمار وائي يعني لوپټه، پړوني وغيره.

تسهيلات:

قوله: لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ حَائِضٍ إِلَّا بِخِمَارٍ:

د حائض مصداق: دې نه بالغه ښځه مراد ده ځکه چه حيض په نابالغه جينئ باندې نه راځي کله چه ښځه د بلوغ عمر ته اورسيږي نوچه بيا په هغې باندې حيض راشي او که رانه شي حکم هم دغه دې چه بغير د سرپټول د هغې مونځ جائز نه دې شيخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې ليکلي دی چې په سرباندې لوپټه نه کيخودود وجې د سپکاوی په توګه هغه وخت ښځه د حائض په نوم سره ياده کړې شوه ځکه چه حيض يوګندګی ده. (د تعارف او تعريف ځيزنه دې).

د عورت په لحاظ سره د ښځې د سر د ويښتو حکم: د دې حديث نه معلومه شوه چه د ښځې د سرويښته او د هغې سر په ستر کښې داخل دی لهذا که يوه ښځه بغير د سرپټولو په بربنډ سر مونځ کوی نو د هغې مونځ نه کيږي. دغه که ښځه دومره نرئی کپړا استعمالولو سره مونځ کوی په کوم کښې چه ويښته يا د بدن رنګ ښکاری نو د هغې مونځ نه کيږي. البته داحکم د آزادو ښځود پاره د وينځود پاره نه دې ځکه چه د وينځې سر په ستر کښې داخل نه دې. د هغې د زنګونو نه پورته د نامه لاندې حصه د سرو په شان ستر کښې شامله ده. او د هغې خيټه، شا او اړخ هم په ستر کښې داخل دې (د نن صبا آزادې ښځې د وينځو ښځو د حدنه وتلې دی).

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة باب المرأة تصلى بغير خمار (رقم-۶۴۱) وابن ماجة باب إذا حاضت الجارية لم تصل إلا بخمار (رقم-۶۵۵)

۷۶۳- د ښځې دپاره يوازې په پروني کښې د مونځ کولو حکم

۷۶۳-(۱)[۱۰] ۱ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، ۲ «أَنَّهَا سَأَلَتْ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَتُصَلِّي الْمَرْأَةُ فِي دِرْعٍ وَخِمَارٍ لَيْسَ عَلَيْهَا إِزَارٌ؟ ۳ قَالَ: (إِذَا كَانَ الدِّرْعُ سَابِغًا يُغَطِّي ظُهُورَ قَدَمَيْهَا») رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، ۴ وَذَكَرَ جَمَاعَةٌ وَقَفُوهُ عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ.

ترجمه: ۱ او بي بي ام سلمه رضي الله عنها وايي ۲ چه ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه اوکړه چه که د ښځې سره تهبند (لنګ يعني پائجامه وغيره) نه وي او هغه يوازې په پروني او قميص کې مونځ وکړي نو د هغې مونځ کيږي يا نه؟ ۳ حضور ﷺ وفرمايل هو کيږي په شرط د دې چې قميص دومره اوږد وي چې په هغې سره د هغې د پښې مخ حصه پټيږي. ابوداؤد ۴ او ابوداؤد ويلي دي چې يو جماعت دا روايت په ام سلمه رضي الله عنها موقوف کړي دي يعنی هغوئ ويلي دي چې دا د رسول الله ﷺ ارشاد نه دي بلکه پخپله د ام سلمه رضي الله عنها قول دي.

حل اللغات ① دِرْعٍ: أَيْ: قَمِيصٍ: دَ ښځولوئ قميص ته وائي. ② خِمَارٍ: أَيْ: مَا يُخَمَّرُ بِهِ مِنْ سَتْرِ رَأْسٍ: څه سره چه سر پټولي شي هغې ته خمار وائي يعنی لوپټه، پروني وغيره. ③ سَابِغًا: أَيْ: كَامِلًا وَاسِعًا: يعنی چه بدن ورسره ښه پټيږي. ④ يُغَطِّي: چه پټوي، ⑤ ظُهُورَ: د ظهر نه دي، شا ته وائی (دخپو پورته طرف مراد دي).

تسهيلات:

قوله: سَابِغًا:

د ښځې د پښو شاته حصه عورت کيدل: كاملا واسعا يعنی دَ سرپټولو دَپاره لوپټه وی او اوارت قميص وی کوم چه خپو پورې رسيږي. بيا که شلوار او ازار نه هم وی مونځ به کيږي. "ظهور قدميها" دَدې جمله نه معلومه شوه چه دَ ښځې دَ پښو شاته حصه په ستر کښې داخل ده دَ دې پټول په مونځ کښې واجب دی.

۷۶۳- په مانځه کښې د خُلې پټولو کراهت

۷۶۳-(۲)[۱۱] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، ۲ «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نَهَى عَنِ السَّدْلِ فِي الصَّلَاةِ. ۳ وَأَنْ يُغَطِّيَ الرَّجُلُ فَاهُ»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره رضي الله عنه راوي دي ۲ چې حضور ﷺ منع فرمايلي ده په لمانځه کې د سدل (۳) کولو څخه، ۳ اود سړي خُلې لره د پټولو څخه، (ابوداؤد، ترمذي).

---

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب فی كم تصلی المرأة (رقم-۶۴۰) ومالک فی الموطا كتاب صلاة الجماعة ، باب الرخصة فی صلاة المرأة فی الدرع والخمار (رقم-۳۸)

(۲) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب ما جاء فی السدل فی الصلاة (رقم-۶۴۳) والترمذی باب ما جاء فی كراهية السدل في الصلاة (رقم-۳۷۸)

(۳) سدل: په دا شان جامه اغوستلو ته وايي چې دهغه دواړي کناري (غاړي) په اوږو آويزانده وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

حل اللغات: ① السَّدْلِ: في اللغة الارخاء وفي الشرع الارسال بدون المعتاد: یعنی سدل په لغت کښې زوړندولوته وائی او په شریعت کښې غیرمعتاد او دَ عادت نه په خلاف طریقه باندې کپړا زوړندولو ته سدل وائی. ② يُغَطِّيَ: پټول (په کپړه وغیره).

تسهیلات:

قوله: السَّدْلِ"

د سدل لغوی معنی: سدل په لغت کښې زوړندولو ته وائی.

د سدل په تعریف کښې اقوال: ① امام خطابی فرمائی سدل دې ته وائې چې په ځآن باندې جامه راواچوی تردې چې زمکې ته اورسیږی.

② "قال ابوعبید، السدل ارسال الرجل ثوبه من غیران ینضم جانبیه بین یدیه فان ضم فلیس بسدل یعنی چې سرې په خپل ځان باندې کپړه راواچوی.اوبغیر د یوځائې کولو نه ئې پریږدی.

③ حضرت شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه شریعت په لباس کښې دَ ښکلې شکل اختیارولو حکم ورکړې دې چه کتونکی ته بدرنګه نه ښکاری. دَدې نه خلاف کپړا استعمالو سدل دې. لکه چه سدل دادې په حالت دَ مونځ کښې کپړا دَ وضع اصلی خلاف پریخودې شی کومه چه دَ وقار خلاف وی.

④ فتاویٰ قاضی خان په دې خاص طریقه باندې رومال اچول دَ سدل په تعریف کښې داخل کړی دی فرمائی: "هوان یجعل الثوب علی رأسه وعلی عاتقه ویجعل جانبیه امامه علی صدره یعنی سدل دې ت وائی چې په خپل سر باندې کپړه راواچوی.او دهغې دواړو طرفونه مخامخ په سینه باندې رازوړند کړی.

⑤ قال صاحب الهدایة هوان یجعل ثوبه علی رأسه وکتفیه ثم یرسل اطرفه من جوانبه.

⑥ صاحب هدایه چه دَ سدل کوم تعریف کړې دې په هغې باندې علامه ابن همام رحمه الله تبصره کولوسره لیکی چه دا تعریف په هغه رومال باندې هم صادق راځی کوم چه اکثر خلق په اوګوباندې واچوی او زوړندئی ساتی. هغه خلقو له پکاردی چه مونځ کولووخت کښې رومال په زمکه باندې کیږدی مونځ اوکړی.

د سدل د کراهت وجوهات: ① دَ سدل بعضې صورتونو کښې یهودوسره مشابهت راځی او بعضو صورتونوکښې استمال الصماء په سدل کښې داخلیږی اودا ټول منع دی.

② حضوریاك دَدې نه منع فرمائیلې ده.

قوله: "يُغَطِّيَ الرَّجُلُ فَاهُ"

په مانځه کښې د خُلې پټولو کراهت: په مونځ کښې خله پټول هم منع دی. په عربو کښې دَ پټکی استعمال عام وو هغه خلقو دَدې په یو ګوټ په خپله خله باندې اچولو په کوم سره چه

به دَ خلې دا سوره پتېدله. دَدې نه په دې وجه منع اوفرمائیلې شوه چه دې سره نه قرأت صحیح کولې شي اونه سجده په ښه شان سره کیدې شي. اوکه دَ چا دَ خلې نه بدبوئي راځي یا ادرقي ورځي نودَهغه په لاس سره خله پټول جائز بلکه مستحب دي.

٧٦٥- دَ ګمراهانو په مخالفت کښې په مباح شي عمل کول

٧٦٥- ( )[١٣] ١ وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٢ («خَالِفُوا الْيَهُودَ، ٣ فَإِنَّهُمْ لَا يُصَلُّونَ فِي نِعَالِهِمْ وَلَا خِفَافِهِمْ»)، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ او حضرت شداد ابن اوس رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ (چپلي او موزې په پښو کولو سره په لمانځه کې) د يهوديانو مخالفت کوی ٣ ځکه چې هغه خلق چپلي او موزې په پښو کولو سره مونځ نه کوي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① نِعَالِهِمْ: دَ نعل جمع ده څپلۍ، پيزار ته وائي. ② خِفَافِهِمْ: خفاف د خف جمع ده، موزو ته وائي.

تسهيلات:

قوله: فِي نِعَالِهِمْ:

په څپلۍ کښې د مونځ کولو د جواز شرطونه: چپلئ چه کله نوې وی یا صفاوی نو دې سره مونځ کول مباح دی په کومو علاقو کښې چه خلق دا ناجائزګڼړی نوهلته دا اباحت او مؤکد کیږی لیکن څپلئ اچولوسره دَمونځ کولودَپاره څه شرائط هم دي.

① چه څپلئ نرمه وی چه څپه په زمکه لګی که څپلئ داسې سخته وی چه په سجده کښې خپله هم زوړنده وی نوداسې څخپلئ کښې مونځ کول جائزنه دی لکه څنګه چه نن صبا بوټ او پیښاورئ څپلئ دي.

② چه څپلئ موجب تلویث مسجدنه وی دَدې مطلب دادې چه دَ جمات نه ګیرچاپیره علاقه صفاوی شګلن کولاؤ میدان وی په کوم کښې تګ سره چه څپلئ نوره هم صفا کیږی. که جمات سره چاپیره علاقه صفا نه وی سخا نالئی وغیره وی نو په داسې ګنده علاقه کښې استعمال شوې څپلوسره جمات ته راتلل د جماتونود ګنده کیدو سبب دی. لکه څنګه چې دَ حضرات مالکیه په مساجدکښې تلویث صفا ښکاری. بل دَ نن صبا مساجد اوماحول په اول دور او ماحول باندې قیاس کول دَخطرې سبب او قیاس مع الفارق دې.

په څپلو کښې د مونځ کولو وجه: بهرحال په زیر بحث حدیث کښې حضورپاك ﷺ امت ته داتعلیم ورکړې دې چه یهود څپلو سره مونځ کول جائزنه ګڼړی بل هغه خلق موزه هم نه استعمالوی تاسو خلق دَهغوی مخالفت اوکړئی او په مانځه کښې دا دواړه څیزونه

(١) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب الصلاة في النعل (رقم-٦٥٢)

Maktaba Tul Ishaat.com

استعمالوني معلومه شوه چه د ګمراه خلقو په مخالفت کښې يو امر مباح هم ماموربه جوړيږي او د مخالفت په نيت باندې په دغه مباح عمل باندې هم ثواب ملاويږي. د حديث نه دا هم معلومه شوه چرته چه د مخالفت فضا نه وي هلته به دا حکم د ماموربه په درجه کښې نه راځي

په څپلو کښې د مونځ کولو په مفهوم کښې درې اقوال: ① ملاعلی قاري رحمه الله مرقات کښې ليکي د دې حديث مطلب زما په ذهن کښې دا راځي چه يهود څپلوسره مونځ کول جائزنه ګڼړي تاسو د هغوی مخالفت کوئ او څپلوسره مونځ کول جائزاوګڼړئ دا مطلب نه دې چه تاسو دا کار شروع کړئ.

② امام شافعي رحمه الله فرمائي د ادب تقاضا داده چه څپلوسره دې مونځ اونه کړې شي بلکه څپلئي دې کوزې کړې او مونځ دې اوکړي. د دې مطلب هم دغه دې چه زمونږ په زمانه کښې هم دغه ادب دې چه څپلئي کوزولوسره دې مونځ اوکړې شي.

③ د رسول الله ﷺ آخري عمل په دې باندې وو چه هغوی څپلئي کوزولو سره مونځ کړې او هم دغه ادب دې. د نن صبا غيرمقلدين کله څپلو سره د مونځ کولو اعلان کوي. او يوځل ګرين ټاؤن محمدی مسجد کښې هغوی اعلان اوکړوچه نن به د جمعه مبارکې مونځ هم د څپلوسره کوو دا ناپوهي ده چرته د ګرين ټاؤن کراچئي ګنده نالې اوچرته د مدينې پاکه زمکه؟

۷۶۲– په پنړو کښې د مونځ کولو حکم

۷۶۲–( )[۱۳] ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رِضَى اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «بَيْنَمَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُصَلِّي بِأَصْحَابِهِ إِذْ خَلَعَ نَعْلَيْهِ فَوَضَعَهُمَا عَنْ يَسَارِهِ، ③ فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ الْقَوْمُ، أَلْقَوْا نِعَالَهُمْ، ④ فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، قَالَ: ⑤ (مَا حَمَلَكُمْ عَلَى إِلْقَائِكُمْ نِعَالَكُمْ؟)،

ترجمه: ① او حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمايي ② چې يو ځل رسول الله ﷺ خپلو اصحابو ته مونځ ورکولو چې ناڅاپه ئي خپلي چپلي وښكلو سره ګس طرف ته (ليري) كېښودلي ③ خلقو چې دا وليدل نو هغوئ هم خپلي چپلي كېښودلي ④ حضور ﷺ چې د لمانځه څخه فارغ شو نو وي فرمايل ⑤ چې تاسو په چپلو وښکلو باندې څه شي مجبور کړی يئ؟

حل اللغات ① خَلَعَ: أَيْ: نَزَعَ: اوني ويستلي، ② قَضَى: پوره ئي کړو (مونځ)، ③

① قَالُوا: رَأَيْنَاكَ أَلْقَيْتَ نَعْلَكَ، فَأَلْقَيْنَا نِعَالَنَا، ② فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (إِنَّ جِبْرِيلَ أَتَانِي فَأَخْبَرَنِي أَنَّ فِيهِمَا قَذَرًا، ③ إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ، فَلْيَنْظُرْ، ④ فَإِنْ رَأَى فِي نَعْلَيْهِ قَذَرًا، فَلْيَمْسَحْهُ، وَلْيُصَلِّ فِيهِمَا»)، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ.

[۱] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب الصلاة في النعل (رقم–۶۵۰)

ترجمه: ۱ هغوئ عرض وکړو مونږ وليدل چې تا خپلې چپلئ وښکلې دي نو مونږ هم خپلې چپلې وښکلې ۲ حضور ﷺ ورته وفرمايل (ما خو چپلې ځکه وښکلې چې) ما ته جبرائيل عليه السلام راغې او هغه خبر کړم چې زما چپلو ته نجاست لګيدلې دي (ځکه ما چپلې وښکلې) ۳ په تاسو کې چې کوم سړي مسجد ته راشي نو مخکې دي خپلې چپلې (وغيره) وګوري ۴ که په هغه کې څه نجاست لګيدلې معلوم شي نو هغه دي صفا کړي (او هغه په پښو شوې چپلو کې) دې مونځ کوي. (ابوداؤد)

حل اللغات: قَذَرًا: أي خُبْثًا: ګندګي، پليتي، ۳ فَلْيَمْسَحْهُ: اودې مږي يعنى صفا دې کړي.

تسهيلات:

قوله: عَنْ يَسَارِهِ:

په مانځه کښې ګس طرف ته د پيزار کيخودلو حکم: په دې صورت کښې جائزدې کله چه ګس طرف ته څوک مونځ ګذارنه وی ګنې راتلونکی حديث کښې دَدې ممانعت موجود دې. چونکه رسول الله ﷺ امام وو په دې وجه دَحضورپاك په يسار کښې څوك نه وو باقی حضورپاك په مانځه کښې څپلئ ويستې دی نوداعمل قليل دې د مانځه سره منافی نه دې.

قوله: فَأَخْبَرَنِي جِبْرِيلُ:

د حديث مطلب: جبرائيل امين دَ رسول الله ﷺ دَطبعی نظافت او ډيرزيات احتياط دَ وجې نه خبر ورکړو چه په څپلو کښې ګندګی ده. دَدې مطلب دانه دې چه نجاست سره حضورپاك دَ مانځه څه حصه اداکړه.

د حديث نه مستنبط مسائل: ۱ دَنبی کريم ﷺ هريوفعل واجب اتباع دې لکه څنګه چه صحابه کرامو کتلوسره اتباع اوکړه، اوکه يوعمل دَرسول الله ﷺ دَ خصوصيات نه وی نو په هغې کښې اتباع نشته.

۲ څپلئی سره نجاست لګيدلې وی نو مونځ نه کيږی او دَ ګندګئی نه دَ استعمال پيزار صفا ساتل آسان نه دی لهذا پيزار سره مونځ نه کول ضروری دی.

۳ نبی عليه السلام ته عمل غيب نه وو ګنی دَ جبرائيل عليه السلام دَ خودلونه وړاندې به حضورپاك پخپله څپلئی ويستلې وې.

قوله: فَلْيَمْسَحْهُ:

د څپلې نه د ګندګۍ لرې کولو حکم: که چرې ګندګی اوچه شوې وی نو په ګرولوسره به صفاشی اوکه ګندګی لمده وی نو په وينځلوبه صفا کيږی شايددلته طين شارع وو چه هسې هم معاف دی لهذا دَدې بحث چيړلو هډو ضرورت نشته چه رسول الله ﷺ دَ مانځه بعض حصه په تحمل دَ نجاست سره اوکړه نوبيامونځ څنګه صحيح شو؟

Maktaba Tul Ishaat.com

٧٦٧–د بل مونځ ګذار خيال ساتل

٧٦٧–( )[١٣] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ ((إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلَا يَضَعْ نَعْلَيْهِ عَنْ يَمِينِهِ، ٣ وَلَا عَنْ يَسَارِهِ، فَتَكُونَ عَنْ يَمِينِ غَيْرِهِ، ٤ إِلَّا أَنْ لَا يَكُونَ عَنْ يَسَارِهِ أَحَدٌ، وَلْيَضَعْهُمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ)) ٥ وَفِي رِوَايَةٍ: (أَوْ لِيُصَلِّ فِيهِمَا)، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ مَعْنَاهُ.

ترجمه: ١ او ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ هر كله چې په تاسو كې يو سړي لمانځه كولو ته ودريږي نو خپلې چپلۍ دې نه ښي طرف ته ايږدي ٣ او نه ګس طرف ته ځكه چې هغه به د بل سړي ښي طرف وي ٤ خو كه ګس طرف ته څوك نه وي نو هلته دې ايږدي (ګيني) هغه ته پكار دي چې هغه د خپلو دواړو پښو په مينځ كې (يعني د خپل مخې ته د پښو سره دې) كيږدي ٥ او په يو روايت كې دا الفاظ هم دي چې يا (كه چپلې پاكي وي نو د هغه د ويستلو ضرورت نشته بلكه) هغه په پښو كولو سره دې مونځ وكړي. (ابوداؤد، ابن ماجه.)

تسهيلات:

نوټ: د دې حديث تفصيل په حديث نمبر ٧٦٦ كښې تيرشوې دې.

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

٧٦٨–په يوه جامه كښې د مونځ كولو حكم

٧٦٨–( )[١٥] ١ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ٢ ((دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-، فَرَأَيْتُهُ يُصَلِّي عَلَى حَصِيرٍ يَسْجُدُ عَلَيْهِ، ٣ قَالَ: وَرَأَيْتُهُ يُصَلِّي فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ ٤ مُتَوَشِّحًا بِهِ))، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ ابو سعيد خدري رضي الله عنه راوي دي ٢ چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر شوم نو ومې ليدل چې حضور ﷺ په يو بوريا (چټايي) باندې مونځ كوي او په هغې سجده كوي ٣ ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمايي چې ما وليدل چه حضور ﷺ يوه كپړه اغوستي وه ٤ چې د بدن مبارك نه يې راتاؤوه او مونځ يې كولو. (مسلم.)

حل اللغات: ① حَصِير: د كهجورو د پاڼړونه جوړشوې پوزكې ته وائي، ② مُتَوَشِّحًا: أَيْ: وَاضِعًا طَرَفَيْهِ عَلَى عَاتِقَيْهِ: يعنې په په اوږو نې راچولې وه، بدن نې پرې پټ كړې وو.

تسهيلات: **قوله**: عَلَى حَصِيرٍ:

په حصير او خمره كښې فرق: بعض خلق دَدې ترجمه بورئې سره هم كوي په حديث كښې دَ "الخمرة" لفظ راغلي دې هغه هم دغه پوزكې دې البته حصير لوئې وې او الخمرة وړوكې پوزكې وې.

---

(١) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب المصلى إذا خلع نعليه أين يضعهما (رقم-٦٥٤ و ٦٥٥)) وابن ماجة باب ما جاء فى توطين المكان فى المسجد يصلى فيه (رقم-١٤٣٢)

(٢) اخرجه مسلم كتاب الصلوة باب الصلاة فى ثوب واحد وصفة لبسه (رقم-٢٨٤ - (٥١٩)

په قالین وغیره باندې د مونځ کولو صحت: دا حدیث په دې باندې دلالت کوی چه دَ مونځ گذار دَ تندی او زمکې په مینځ کښې که چرې څه څیز راشی نو په هغې باندې مونځ کول جائزدی لکه دلته چه حضورپاك په پوزکی باندې مونځ کړې دې. دَدې نه داخبره هم ثابتیږی چه دَ پوزکی نه علاوه کپړه قالین باندې هم مونځ کول جائزدې سره دَدې چه دَدې دپاره علماؤ سره جدا دلائل هم دی لیکن دَدې خائی اشاره هم دلیل دې.

بغیر حائله په زمکه د مونځ کولو د افضلیت قول: دَحضرات مالکیه یومشر قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه په زمکه باندې دَ څه خورولونه بغیر مونځ کول افضل دی ځکه چه په خالص خاوره باندې سر اوتندې کیخودل دَاوچتې درجې خشوع او خصوع حاصلیږی کوم چه دَ مونځ اصل روح دې اوکه چرې مجبوری وی دَ یخنئی گرمئی نه دَ بچ کیدو ضرورت وی نو بیا پوزکې کپړه وغیره خورول بهتردی.

قاعده: دَبعض حضراتو وینا ده چه کوم څیزونه دَزمکې نه راټوکیدلی وی په هغې باندې مونځ کول جائزدی مګر کوم چه راټوکیدلې نه وی لکه کپړه وغیره نو په هغې باندې مونځ کول بهترنه دی.

۷۶۹- خپې ابله خپې اوپه پڼرو کښې د مونځ کولو حکم

۷۶۹- (۱) [۱۶] [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: [۲] «رَأَيْتُ رَسُولَ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُصَلِّي حَافِيًا وَمُنْتَعِلًا»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] عمرو ابن شعیب د خپل پلار څخه او هغه د خپل نیکه څخه روایت کوي [۲] چې ما رسول الله ﷺ کله په خپې آبله پښو او کله چپلئ په پښو کړې په لمانځه کولو لیدلي دي. (ابوداؤد.)

حل اللغات: ① حَافِيًا: خپې آبلې خپې، ② مُنْتَعِلًا: چه پیزار ئې په خپو کړې وی.

تسهیلات:

نوټ: د دې حدیث تفصیل په حدیث نمبر ۷۶۶ کښې تیرشوې دې.

۷۷۰- یوازې په تهبند (لنګ) کښې د مونځ حکم

۷۷۰- (۲) [۱۷] [۱] وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، قَالَ: [۲] صَلَّى جَابِرٌ فِي إِزَارٍ قَدْ عَقَدَهُ مِنْ قِبَلِ قَفَاهُ، [۳] وَثِيَابُهُ مَوْضُوعَةٌ عَلَى الْمِشْجَبِ، [۴] فَقَالَ لَهُ قَائِلٌ: تُصَلِّي فِي إِزَارٍ وَاحِدٍ؟ [۵] فَقَالَ: إِنَّمَا صَنَعْتُ ذَلِكَ لِيَرَانِي أَحْمَقُ مِثْلُكَ، [۶] وَأَيُّنَا كَانَ لَهُ ثَوْبَانِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-؟ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] محمد ابن منکدر فرمایي [۲] چې حضرت جابر رضي الله عنه تهبند (لنګ) سره چې د خپل

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة، باب الصلاة فی النعل (رقم-۶۵۳)
(۲) بخاری کتاب الصلوة باب عقد الازار علی القفا فی الصلاة (رقم-۳۵۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

څټ طرف ته يې ترلې وو مونځ وكړو ③ حالانكه د هغه كپړې په موړي (ميخ) باندې زوړندې وې ④ هغه ته چا اوويل چې تا يوازې په تهبند (لنګ) كې مونځ كړې دې؟ ⑤ هغه جواب وركړو چه ما دا ئې ځكه وكړل چې ستا په شان احمق (نادان، كم عقل) ما ووينې ⑥ د رسول الله ﷺ په زمانه كې په زمونږ كښې داسې څوك وو چې د هغه سره دوه كپړې وې. (بخاري)

حل اللغات: ① عَقَدَهُ: ترلې ئې وو ② قَفَاهُ: خپل څټ سره، ③ المِشْجَبُ: عِيدَانٌ يُضَمُّ رُءُوسُهَا وَيُفَرَّجُ بَيْنَ قَوَائِمِهَا، وَتُوضَعُ عَلَيْهَا الثِّيَابُ: دا يوداسې څيزدې كوم چه په كورونوكښې لګولې شي. دا درې كوتيز غوندې شئ وي دَدې لاندې كله يوه خپه وي اوكه درې خپې وي. دَدې پورته حصه كښې ډيرې كونټيني جوړې شوې وي كوم سره چه دَ ضرورت مطابق كپړې زوړندولې شي (نن صبا ددې په ځاى هينګر او ديوالګير وي چه په ديوال باندې يوه اوږده تخته لګولې وي اوپه هغې كښې په قطار ډيرې كونډې يا ميخونه وي جامې، توليه وغيره پكښې رازوړندولې شي). ③ أَحْمَقُ: أي الْجَاهِلُ. ناپوهه

تسهيلات:

قوله: "الْمِشْجَبِ".

د جابر رضى الله عنه په يوه جامه كښې د مونځ كولو غرض: حضرت جابر رضي الله عنه دَ شريعت مطهره دَحدودو وسعت ښكاره كولودَپاره داسې اوكړه چه دكپړو په موجودګئ كښې ئې صرف په يوه كپړا كښې مونځ اوكړو. يوتابعى هغه اوليدلو او خيال ئې اوكړو چه دې خلاف سنت عمل كوى نوفورى ئې پرې اعتراض اوكړو. حضرت جابر رضي الله عنه په سختئ سره جواب وركړو چه سنت طريقه ته خلاف سنت ولې ګڼړې؟ته احمق ئې. دَ حضورپاك په زمانه كښې خلقو سره دَ يوې كپړې نه زياتى كپړې چرته وې هم په دغه يوه كښې به ئې مونځ كولو داجائز دى. غرض دا چه حضرت جابر رضي الله عنه دَدغه سړى دَعدم جواز نظريه رد كوى اوكله چه ستر پټ وى نو په يوه كپړا كښې دَمونځ جواز او صحيح كيدل هغه ښائى او په شريعت كښې دَ جواز دَ يوحده تعين كوى.

په يوه جامه كښې د مونځ كولو د افضليت د راثې ترديد: په دې سره دا نه دى ګڼړل پكار چه داسې كول افضل دى. افضل خوهغه دې چه په دريو كپړو كښې مونځ وى لكه څنګه چه راتلونكى دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په روايت كښې وضاحت دې اودَ دوو صحابه كرامو مكالمه ذكرده. دَ جواز، افضل او ادب مقامات جدا جدا دى.

په اهل الله بې ځايه اعتراض كولو نه پرهيز: دَدې حديث نه دا معلومه شوه چه الله والوباندې بې ځايه اعتراض نه دى كول پكار كيدې شى چه دا قابل اعتراض صورت دَهغوى په نيز په يومعقول وجه سره وى.

٧٧- په دوو کپړو کښې د مونځ کولو افضليت

٧٧- (١) [١٨] ① وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «الصَّلَاةُ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ سُنَّةٌ، ③ كُنَّا نَفْعَلُهُ مَعَ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَلَا يُعَابُ عَلَيْنَا، ④ فَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ: إِنَّمَا كَانَ ذَاكَ إِذْ كَانَ فِي الثِّيَابِ قِلَّةٌ، ⑤ فَأَمَّا إِذَا وَسَّعَ اللهُ، فَالصَّلَاةُ فِي الثَّوْبَيْنِ أَزْكَى»، رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه: ① او حضرت ابي ابن كعب رضي الله عنه فرمايي ② چه په يوه كپړه كې مونځ كول سنت دي ③ ځكه چې د حضور ﷺ په زمانه كې به مونږ دغسې مونځ كولو او مونږ ته به هيچا بد نه ويل ④ په دې مسئله كښې ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې دا (يعني په يوه كپړه كې مونځ كول) هغه وخت وو هر كله چې د كپړو قلت (كمې) وو ⑤ اوس چې الله تعالى جل جلاله د كپړو په باره كې وسعت (پيرزونه) كړي ده نو په دوو كپړو كې مونځ كول بهتر دي. (احمد)

حل اللغات: ① سُنَّةٌ: أَيْ: جَائِزٌ بِالسُّنَّةِ: جواز ئې ثابت دې په حديث سره. ② لَا يُعَابُ: أَيْ: وَمَا نَهَانَا: نبى عليه السلام به مونږ باندې پيغور نه ووكړې يعنى مونږ ئې نه يو منع كړى نو دا سنت تقريرى شو او دې سره جواز بالسنة ثابت شو ځكه چه عدم انكار دليل د جواز دې دليل د ندب نه دې ③ قِلَّةٌ: أَيْ: فِي وَقْتِ كَوْنِ الثِّيَابِ قَلِيلَةً: يعنى كله چه كپړې كمې وى. ④ أَزْكَى: أَيْ أَطْهَرُ أَوْ أَفْضَلُ: زيات پاكونكې او افضل (يعنى بدن ئې ورسره پاک صفا او ښائسته ښكارى او مونځ هم ورسره غوره كيږى)

تسهيلات:

دحديث د بعضې جملو وضاحت: ① سُنَّةٌ: يعنى په يوه كپړه كښې مونځ كول جائزدى مونږ به كولو چاهم څه پيغور نه ووكړې حضرت ابى بن كعب رضي الله عنه دَ مانځه دَ جواز خبره كوى، چه كله هم يوه كپړه وى نو په هغې كښې مونځ جائزدې.

② فَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ: رضي الله عنه حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په اول دوركښې دَ كپړودَ تنګوالى طرف ته اشاره اوكړه اوهم دَ دغه تنګوالى دَ وجې نه په يوه كپړه كښې دَ مانځه دَجواز خبره فرمائى.

④ ازكي: يعنى كله چه الله تعالى وسعت وركړى اوكپړې موجود وى نو بيا دَ جواز دَ حدنه وتلوسره دَ افضل په حدباندې راتلل پكاردى اوهغه داچه په دوو كپړوكښې مونځ كول غوره اوپاكيزه دى.

(الحمد لله ! دويم جلد ختم شو)

(١) اخرجه احمد في المسند رقم (١٤١/٥)

Maktaba Tul Ishaat.com

مرقاة المفاتيح

للعلامة الشيخ علي بن سلطان محمد القاري المتوفى سنة ١٠١٤ هـ

شرح

مشكاة المصابيح

للإمام العلامة محمد بن عبد الله الخطيب التبريزي المتوفى سنة ٧٤١ هـ

الأمور المسهلة

للأحقر شاه فيصل خريج وفاق المدارس العربية باكستان

(١) تعريب المتن والشرح
(٢) وضع العناوين المناسبة للعبارات المهمة
(٣) تخريج الأحاديث بالعزو إلى الكتب والأبواب والأرقام
(٤) بيان نهج العلامة الملا علي القاري في مرقات
(٥) ترقيم الأقوال والروايات والتوجيهات والاحتمالات والمذاهب.

دار النشر

فيصل كتب خانه بمدينة بشاور (باكستان)

رقم الجوال: ٠٣٢١،٩٠٩١٨٣٥